سره دحوالواو تخریجه

مُکمّله او مُدلله

فتاوی یوسفیه

مشهوره په

ستاسو جدیدو مسائل او دهغې حل

ځلورم جلد

تالیف

حضرت مولانا محمد یوسف هیانوي رحمه الله

مفتي اعظم پاکستان



تقریظونه

شیخ الحدیث حضرت مولانا

سید شیر علي شاه مدني رحمه الله

سابق شیخ الحدیث دار العلوم حقانیه اکوړه خټک

شیخ الحدیث حضرت مولانا محمد ادریس صاحب مدظله

شیخ الحدیث دار العلوم نعمانیه اتمانزئی

جدید مکتبه رشیدیه

جاده میوند سر چوک مارکیټ مرحوم حاجي حسین گل کابل

0782690850 | 0775681606


بسم الله الرحمن الرحيم

فتاوی یوسفیه

مشهوره په

ستاسو جدید مسائل او دهغی حل

مکمل او مدلل



سره دحوالو او تخریجه

د څلورم جلد اجمالي فهرست

دخطبو متعلق باقي مسئلي، داخترونود مونځ مسائل، دتراویحو مسائل، نفلي مونځونه دسجده تلاوت مسائل، دمانځه متفرق مسائل، اوراد او وظائف، دمړي حکمونه، دانداموانو پیوند کاري، دجنازي مونځ، دقبرونو زیارت، ایصاب ثواب کول، دقرآن کریم فضائل او مسائل، دروژي فضائل او مسائل، د رویت هلال مسائل، داعتکاف مسائل، دتکبیراتو تشریق مسائل

تالیف

حضرت مولانا محمد یوسف لدهیانوی رحمه الله

مفتي اعظم پاکستان

تقریضونه

شیخ الحدیث حضرت مولانا

سید شیر علی شاه مدني رحمه الله

سابق شیخ الحدیث دار العلوم حقانیه اکوړه ختک

شیخ الحدیث حضرت مولانا محمد ادریس صاحب مدظله

شیخ الحدیث دار العلوم نعمانیه اتمانزئی

جدید مکتبه رشیدیه

جاده میوند سر چوک مارکیت مرحوم حاجي حسین گل کابل

0782690850 | 0775681606

بسم الله الرحمن الرحيم

د کتاب نوم : ستاسو جدید مسائل او د هغې حل

مؤلف : حضرت مولانا محمد یوسف لدهیانوی رحمه الله

ترجمه کونکي : دار الترجمه عبدالغني مارکیټ پشاور

جلد : څلورم

صفحات : ۵۸٤

تاریخ : ۲۰۱۷ء

د چاپ زیار : مولانا سید محمد پرواني

جدید مکتبه رشیدیه
جاده میوند سر چوک مارکیت مرحوم حاجي حسین گل کابل
0782690850 | 0775681606

د کتاب تر لاسه کولو ځایونه

پشاور	کندوز	بغلان
اکوړه خټک	غزني	لوګر
کوټه	جلال آباد	خوست
پروان	قندهار	

فهرست

صفحه	مضمون

❖ د خطبې متعلق باقی مسئلې ❖

د جُمعې د خطبې اوریدو نه پرته د جُمعې لمونځ ادا کول ۳۹
د جُمعې د خطبې په دوران کې سنت کول ۳۹
د خطبې دوران کې سنت کول ۴۰
د جُمعې د خطبې دوران کې دوه رکعته کول ۴۰
یوازې د یو صحابي له پاره استثنی وه ۴۰
د جُمعې د خطبې دوران کې نفل او خبرې کول ۴۱
د خطبې په دوران کې تحیة الوضوء یا تحیة المسجد ادا کول ۴۱
د خطبې په مینځنی وقفه کې دعا کول ۴۲
د خطبې دوران کې له اذان نه وروسته دعا کول ۴۲
د جُمعې د خطبې نه مخکې تسمیه په لوړ اواز سره ولې نه لوستل کیږي؟ ۴۲
د جُمعې خطبه د مسنونې طریقې خلاف لوستل ۴۳
د خطبې نه مخکې د امام سلام ویل ۴۳
په خطبه کې د خلفاء راشدینو ذکر ضروري دی ۴۳
د جُمعې د خطبې دوران کې د درود شریف لوستلو حکم ۴۳
د جُمعې د خطبې د اذان نه واخله تر د دوه رکعته فرض کولو پورې دنیاوي خبرې کول ۴۴
د خطبې په دوران کې د رسول الله ﷺ په نوم راتلو باندې درود شریف ولولې که خاموشې پاتې شي؟ ۴۵
د خطبې په دوران کې دعا غوښتل او د دویم اذان جواب ورکول ۴۵
په خطبه کې د خطیب لاسونه تړلو سره دریدل ۴۵
د جُمعې د خطبې د اذان جواب ورکول ۴۶
د جُمعې په ورځ د وعظ په دوران کې د الله پاک ذکر کول او درود شریف لوستل ۴۶
د جُمعې د خطبې په دوران کې خاموشې او د لاوډسپیکر استعمال ۴۶
د جُمعې د خطبې دوران کې آمین ویل صحیح نه دي ۴۸
د خطبې دوران کې سلام کول او جواب ورکول حرام دي ۴۸
د خطبې دوران کې خبرې او د اذان جواب ورکول ۴۸

صفحه	مضمون

د خطبې دوران کې چنده ورکول او اخيستل جائز نه دي ۴۹
د جمعې خطبه يوه ولوستله او لمونځ بل ورکړ ۴۹
په خطبه او لمانځه کې د خلکو رعايت ساتل پکار دي ۴۹
د جمعې لمونځ په دويم ځل کول ۵۰
د جمعې د لمانځه د سنتو نيت به څنګه کوي؟ ۵۰
ايا د جمعې د سنتو له پاره د جمعې تعيين ضروري دی؟ ۵۰
د جمعې نه مخکې څلور رکعته کول څنګه دي؟ ۵۱
د سنت قبل الجمعة ثبوت ۵۱
د جمعې په لمونځ کې اوږد قرأت کول ۵۱
د جمعې په وروستيو سنتو کې وقفه کيدل پکار دي ۵۲
د جمعة الوداع په باره کې ۵۲
که د جمعې په ورځ اختر وي؛ نو د جمعې لمونځ به هم کيږي ۵۳
ايا ښځه په کور کې د جمعې لمونځ کولی شي؟ ۵۵
د ښځو د جمعې او اختر لمونځ ۵۵
ښځه به په کور کې جمعه په جمعې سره ادا کوي او که د ماسپښين لمونځ؟ ۵۵
ايا ښځې د جمعې په لمونځ کې شرکت کولی شي؟ ۵۶
واړه ماشومان مسجد ته راوستل چې د خلکو لمونځ خرابوي ۵۶
ايا د جمعې په ورځ باندې زوال نه وي؟ ۵۶
په لاوډ سپيکر باندې د لمونځ او خطبې شرعي حکم ۵۷
د ښار نه لرې تلونکي باندې د جمعې لمونځ شته ۵۷
د جمعې په ورځ د سهار په لمانځه کې مخصوص سورتونه لوستل ۵۸
د جمعې په لمانځه کې که د امام اودس مات شي: نو څه به کوي ۵۸
﴿ارحم امتي بامتي ابوبکر الخ﴾ حديث په ترمذي کې دی ۵۸
که په خېټه کې درد وي يا د متيازو تقاضا وي؛ نو څه وکړي؟ ۵۹
د جمعې او لمانځه نه وروسته اجتماعي دعا نه کول څنګه دي؟ ۵۹

❖ د اخترونو لمونځ ❖

د اخترونو د لمانځه نيت ۶۰
له عذر پرته په جوماتو کې د اختر لمونځ کول مکروه دي ۶۰
د اختر لمونځ په مسجد کې کول ولې مکروه دي؟ ۶۰

صفحه	مضمون
۲۱	د اختر لمونځ په عیدګاه کې کول غوره دي که په مسجد کې
۲۱	د ښځو له پاره داخترونو لمونځ په کور کې ادا کول
۲۱	د ښځو د اختر له پاره عیدګاه ته تلل
۲۱	د قبولیت ورځ به د کوم ملک د اختر وي؟
۲۲	په رمضان کې د یو ملک نه بل ملک ته تلونکی به کله اختر کوي؟
۲۲	له پاکستان نه سعودي عرب ته تلونکی سړی به په سعودي کې په کومه ورځ اختر کوي؟
۲۲	که د اختر په لمانځه کې د مقتدي نه تکبیرونه لاړ شي؛ نو لمونځ به څنګه پوره کوي؟
۲۳	د اختر په لمانځه کې که له امام نه غلطي وشي؛ نو څه به کوي؟
۲۳	که د اختر تکبیرونه ترې هیر شي؛ نو؟
۲۴	که د اختر په تکبیراتو کې ترې یو تکبیر هیر شي؛ نو د لمانځه حکم
۲۴	چې د اختر لمونځ یو امام وکړي او خطبه بل څوک ورکړي؛ نو څه حکم دی؟
۲۴	له خطبې پرته د اختر دلمانځه حکم
۲۵	د اختر په لمانځه کې خطبه، دعا او غاړه ورکول
۲۵	د اختر د لمانځه نه پاتې کیدونکی سړی به څه کوي؟
۲۵	د لوی اختر په ورځو کې د تکبیرات تشریق حکم
۲۶	تکبیرات تشریق په کومو ورځو کې لوستل کیږي؟
۲۶	ایا د جمعې په ورځ اختر په مسلمانانو بوج وي؟
۲۶	په اختر کې د غیر مسلم سره د اختر مبارکي څنګه ده؟
۲۷	د اختر په ورځ (ماشومانو ته) د پیسو ورکولو رسم

❖ د تراویح لمونځ ❖

صفحه	مضمون
۲۷	د تراویحو شروع له کوم وخت نه وشوه؟
۲۷	د روژې او تراویحو په خپل مینځ کې څه تعلق دی؟
۲۸	ایا له رمضان پرته تراویح د تهجدو لمانځه ته ویل شوي؟
۲۸	کوم کس چې د روژې طاقت نه لري هغه دې هم تراویح وکړي
۲۹	تراویح جمعې سره کول څنګه دي؟
۲۹	د وترو او تراویحو ثبوت
۷۰	اته رکعاته تراویح کول څنګه دي؟
۷۰	د تراویح په سنت رسول کیدو باندې اعتراض غلط دی
۷۳	د شل رکعاته تراویحو ثبوت د صحیح حدیث نه د شلو رکعتو تراویحو د عین سنت کیدو پوره علمي بحث

صفحه	مضمون
۷۳	۱.....تراويح دنبي ﷺ په زمانه کې
۸۵	۲....تراويح دصحابه کرامو رضی الله عنهم
۸۵	او تابعينو رحمهم الله په دورکې
۸۹	۴:....تراويح دڅلورو امامانو په نزد
۹۰	د بحث پای او څوضروري فوائد
۹۰	شل رکعته تراويح سنت مؤکده دي
۹۱	۲:.....د خلفاء راشدينو جاري شو يو سنتو باره کې نبوی وصيت
۹۲	۳:..د څلورو واړو امامانو له مذاهبونه وتل جائزنه دي
۹۲	۴:....په شل رکعاته تراويحو کې حکمت
۹۳	د تراويحو له پاره بل مسجد ته تلل
۹۳	د تراويحو د امام شرطونه څه دي؟
۹۳	د ږيره خريلي امام په اقتداء کې تراويح کول مکروه تحريمي دي
۹۴	د لمونځ پابندي نه کونکي او ږيره خريلي
۹۴	حافظ په اقتداء کې تراويح کول
۹۴	معاوضه مقررونکی حافظ په اقتدا کې تراويح ناجائز دي
۹۴	تراويح ورکونکي حافظ ته هديه اخيستل څنګه دي؟
۹۵	په تراويحو کې تيز رفتارحافظ پسې قرآن اوريدل څنګه دي؟
۹۵	له عذر پرته تراويح په ناسته کول څنګه دي؟
۹۵	په تراويحو کې ذرکوع پورې ځان ته بيله ناسته مکروه کار دی
۹۶	په تراويحو کې د قرات اندازه
۹۶	په دوه دريو شپو کې قرآن پاک ختمول او باقي تراويح پريښودل
۹۷	ايا د اووه ورځو تراويح جائز دي حالانکې صحيح تلفظ پکې نه کيږي
۹۷	د رمضان په يو څو ورځو کې قرآن اوريدووالا د پاتې مياشتې له تراويحو نه فارغيږي
۹۸	د تراويحو په لمانځه کې يو ازې هيرشوي آيتونه دوباره ويل هم جائزدي
۹۸	ايا په تراويحو کې د ترتيب خلاف سورتونه ويلوسره سجده سهو لازميږي؟
۹۸	په تراويحو کې يوځل بسم الله په په لوړ اوازسره ويل ضروري دي
۹۹	په تراويحو کې ,,قل هوالله احد ،، درې ځله ويل څنګه دي؟
۹۹	په تراويحو کې د قرآن پاک د ختم صحيح طريقه څه ده؟
۱۰۰	په تراويحو کې که د مقتدي نه رکوع لاړه شي؛ نو د لمانځه څه حکم دی؟

صفحه	مضمون
۱۰۰	د تراويحو په دويم رکعت کې که ناسته هيره شي
۱۰۰	او څلور رکعته وکړي؛ نو څو تراويح وشوې؟
۱۰۱	د تراويحو په مينځ کې وقفه
۱۰۱	د ماسخوتن فرض لمونځ د تراويحونه وروسته
۱۰۱	ادا کولو په باره کې څه حکم دی؟
۱۰۱	له جمعې پاتې تراويح د وترونه وروسته ادا کړل شي که مخکې؟
۱۰۲	د ماسخوتن د جمعې کولونه پرته د تراويحو په جمع کول صحيح نه دي
۱۰۲	ايا د تراويحو قضا راوړل کيږي؟
۱۰۳	د تراويحو د لمانځه نه مخکې وتر کيږي؟
۱۰۳	په رمضان کې د وترو نه پرته د جمعې اداء کول
۱۰۳	ځانته تراويح کول څنګه دي؟
۱۰۳	په کور کې تراويح کونکی به وتر په ارام وايي که په جهر؟
۱۰۳	د تراويحو لمونځ په لاوډ سپيکرباندې کول
۱۰۴	که څوک په تراويحو کې د امام اواز پوره وانه وري؛نوهم به ورته پوره ثواب ملاويږي
۱۰۴	په تراويحو کې قرآن کتل او لوستل
۱۰۴	په تراويحو کې قرآن پاک په کتلو سره لوستل جائزنه دي
۱۰۵	د تراويحو لمونځ چې څنګه د سړيو په ذمه دی هماغه شان د ښځو په ذمه هم دی
۱۰۵	د تراويحو له پاره د ښځو جومات ته تلل مکروه دي
۱۰۵	د ښځو د تراويح کولو طريقه
۱۰۵	ايا د قرآن حافظه ښځه، د ښځو د تراويحو امامت کولی شي؟
۱۰۶	له رمضان پرته تراويح
۱۰۶	د نفلو په نيت په تراويحو کې شامليدونکی بيا تراويح کولی شي
۱۰۶	د هيريدونکي او دفتحې نه اخيستونکي قاري سره څه وکړي

❖ نفل لمونځونه ❖

صفحه	مضمون
۱۰۷	په نفل او سنت غيرمؤکده کې فرق
۱۰۷	ايا د پنځه وخته لمانځه نه پرته نور لمونځونه هم شته؟
۱۰۸	د اشراق، چاشت ، اوابين او تهجد رکعتونه
۱۰۹	نفلي او سنت لمونځونه جهري کول
۱۰۹	په نوافلو کې د ترتيب خلاف سورتونه لوستل

صفحه	مضمون
۱۰۹	نفلي لمونځ په ناسته کول څنګه دي؟
۱۱۰	ایا سنت او نفل په کور کې کول ضروري دي؟
۱۱۱	د صبح صادق نه وروسته نفل کول مکروه دي
۱۱۱	د سهار لمانځه نه وروسته نفل کول صحیح نه دي
۱۱۲	د سهار د سنتو نه وروسته نفل کول
۱۱۲	په حرم شریف کې هم د سهار او مازدیګر دلمانځه نه وروسته نفل مه کوئ
۱۱۳	ایا په حضور ﷺ باندې تهجد فرض و؟
۱۱۳	د تهجدو لمونځ په کوم عمر کې کول پکار دي؟
۱۱۴	د شپې د اخرې برخې فضلیت او تعین
۱۱۴	د تهجدو صحیح وخت کوم دی؟
۱۱۵	د پیشمني په وخت کې تهجد کول
۱۱۵	د تهجدو په لمانځه کې کوم کوم سورتونه لوستل پکار دي؟
۱۱۶	ایا په تهجدو کې درې ځله سوره اخلاص ویل پکار دي؟
۱۱۶	د تهجدو لمونځ په جمعې سره اداکول صحیح نه دي
۱۱۶	که اخره شپه کې نه راپاڅیدونکی د وترونه مخکې تهجد وکړي
۱۱۷	د تهجد د لمانځه له پاره که دنه پاڅیدو ګمان وي؛ نو څه به کوي؟
۱۱۷	د تهجدو د لمانځه له پاره ویده کیدل یا شب ګیره ضروري ده
۱۱۷	که د ماسخوتن لمانځه سره وتر وکړو
۱۱۷	نو ایا د تهجدو سره یې په دویم ځل وکړو؟
۱۱۸	ایا د ماسپښین، ماښام، او ماسخوتن نفل ضروري دي؟
۱۱۸	د ماښام د لمانځه نه مخکې نفل کول جائز؛ خو اغوره نه دي
۱۱۹	د ماښام نفلونه پریښودل څنګه دي؟
۱۱۹	د ماښام د اذان نه وروسته دوه رکعته نفل کول چې کله لمونځ ولاړ وي
۱۱۹	ایا نفل پریښودل کیدای شي؟
۱۱۹	د نفلو له وجې فرض پریښودل غلط دي
۱۲۰	وتر د تهجدونه مخکې وکړل شي او که وروسته؟
۱۲۰	له وترو وروسته نفل کول بدعت نه دي
۱۲۱	د وترو نه وروسته د دوو رکعتو نفلو شرعي حیثیت
۱۲۲	ایا د وترو نه وروسته نفل په ناسته زیات بهتره دي؟

مضمون	صفحه
نفل لمونځ چې شروع کړي؛ نو ایا د ماتولو نه وروسته فرض کیږي	۱۲۲
نبي کریم صلي الله علیه و سلم به دوه رکعته نفل په ناسته باندې کول	۱۲۲
د وترو نه وروسته نفل ضروري نه دي	۱۲۳
د حاجت لمانځه طریقه............	۱۲۳
صلوة حاجت څنګه وکړل شي؟ او غوره وخت یې کوم دی؟	۱۲۳
ایا صلوة حاجت د خپلو ټولو حاجتونو له پاره کولی شو؟	۱۲۴
صلوة حاجت تر کومه پورې کول پکار دي؟	۱۲۴
د صلوة حاجت رکعتونه کول پریږدئ	۱۲۴
صلواة تسبیح سره د ګناهونو معافي............	۱۲۵
په صلوة تسبیح سره ټول ګناهونه معاف کیږي	۱۲۵
د صلوة تسبیح تسبیح که په یو رکن کې هیر شي؛ نو د لمانځه کولو حکم	۱۲۵
د صلوة تسبیح څه طریقه ده؟	۱۲۲
په صلوة تسبیح کې تسبیح په دویم رکعت کې څنګه ویل کیږي؟	۱۲۲
په تیاره کې تهجد او صلوة تسبیح کول	۱۲۷
د صلوة تسبیح د لمانځه په جمعې سره د اداءکولو شرعي حیثیت	۱۲۷
ایا د صلواة تسبیح څه خاص وخت شته؟	۱۲۷
د صلوة تسبیح جمعه بدعت حسنه نه ده؟	۱۲۷
د صلوة تسبیح جمعه جائزنه ده	۱۲۸
د استخارې حقیقت............	۱۲۹
د اهمو کارونو باره کې استخاره	۱۳۰
د نذر(منښتې) نفل کوم وخت کې ادا کړل شي؟	۱۳۰
د استخارې کولو شرعي طریقه............	۱۳۱
د استخارې کولو طریقه او بل دا چې په استخاره	۱۳۱
کې څه شی په نظر راتلل ضروري دي؟	۱۳۱
د استخارې د لمانځه طریقه.نیت او کوم سورتونه پکې ولوستل شي؟	۱۳۱
استخاره د قرآن او سنت نه ثابته ده............	۱۳۲
د سنت مطابق دې استخاره و شي	۱۳۲
استخاره په دویم څل کول څنګه دي؟	۱۳۳
او بل دا چې د استخارې جواب راتلل ضروري دي؟	۱۳۳

صفحه	مضمون
۱۳۳	د خوب په دوران کې باران ليدل
۱۳۳	ايا د هر عمل نه مخکې استخاره کول ضروري دي؟
۱۳۳	د کاروبار له پاره د استخارې طريقه
۱۳۴	د بيعت کولو استخاره
۱۳۴	په يو وخت کې د ډيرو کارونو له پاره استخاره کول
۱۳۴	ايا د واده له پاره استخاره کول ضروري دي؟
۱۳۵	د واده وغيره له پاره استخاره کول
۱۳۵	ايا د واده له پاره هلک او اينجلۍ دواړو ته استخاره کول پکار دي؟
۱۳۵	د اشراق لمونځ چې کوم ځای د سهار لمونځ وکړل شي؛ هلته ضروري دي
۱۳۶	د شکرانې لمونځ کله اداکول پکار دي؟
۱۳۶	د فرض لمونځونو نه مخکې د ستغفار او شکرانې لمونځ کول
۱۳۶	پنځوس رکعته د شکرانې لمونځ څلور څلور رکعته کولو سره اداکيدای شي
۱۳۷	د ناوې په پړوني (لوپټې) باندې د شکرانې لمونځ اداکول
۱۳۷	د بلاګانو نه د حفاظت او د ګناهونو نه د توبې له پاره کوم لمونځ وکړو؟
۱۳۷	ايا ښځه تحية الوضو کولی شي؟
۱۳۸	تحية الوضو د کوم لمانځه په وخت کې کول پکار دي؟
۱۳۸	که وخت کم وي؛ نو تحية الوضو وکړو يا تحية المسجد؟
۱۳۸	د ماښام د لمانځه نه مخکې تحية المسجد کول
۱۳۹	د تحية المسجد حکم او د اوقاتو تعين
۱۳۹	شب برات کې په جمعه نفل لمونځ جائز نه دی
۱۴۰	د نفل لمانځه جمعه

❖ سجده تلاوت ❖

صفحه	مضمون
۱۴۰	د سجدې تلاوت شرائط
۱۴۱	د تلاوت د سجدې د اداء کولو شرطونه
۱۴۱	د تلاوت د سجدې د اداء کولو طريقه
۱۴۱	د سجدې تلاوت نيت
۱۴۲	د تلاوت د سجدې صحيح طريقه
۱۴۲	په سجده تلاوت کې يوازې يوه سجده وي
۱۴۳	که چاپه لمانځه کې د سجدې ايت ولوست، رکوع او سجده يې وکړه؛ نو سجده تلاوت اداشوه

مضمون	صفحه
ایا سجده تلاوت په سپارې باندې د قبلې له طرف پرته کولی شو؟	۱۴۳
سجده تلاوت ځانته ځانته اداکړو یا د ختم قرآن	۱۴۳
نه وروسته ټولې سجدې یوځای وکړل شي؟	۱۴۳
د تلاوت د سجدې صحیح طریقه	۱۴۴
په یو ځای باندې څوارلس سجدې کول	۱۴۴
د قرآن مجید د تلاوت په وخت سجده کول پکار دي او که نه؟	۱۴۴
د سجدې تلاوت د پاتې کېدو حکم	۱۴۴
د تلاوت د سجدې طریقه	۱۴۵
د کومو سورتونو په اخر کې چې سجدې وي	۱۴۵
د هغه لوستونکی کله سجده وکړي؟	۱۴۵
د زوال په وخت تلاوت جائزدی، خو سجده تلاوت جائزنه ده	۱۴۶
د سهار او مازدیګرد مکروه وخت نه پرته سجده تلاوت جائزده	۱۴۶
د تلاوت او شکر سجده په کوم وخت کې کول پکار دي؟	۱۴۷
د مازدیګر نه وروسته د تلاوت سجده کول	۱۴۷
په کټ کې ناست تلاوت کونکی کله سجده تلاوت وکړي؟	۱۴۷
د تلاوت په دوران کې د سجدې ایت په کم اواز سره لوستل بهتر دي	۱۴۸
د سجدې ایت او د دې ترجمه لوستلو سره یوازې یوځل سجده لازمیږي	۱۴۸
یو د سجدې ایت مې ډیرو ماشومانو ته ولوست؛ نو بیا به هم یوه سجده کول وي؟	۱۴۹
دوه کسان یو د سجدې ایت ولولي؛ نو څو سجدې واجبیږي؟	۱۴۹
د سجدې ایت که دلمونځ نه بهرکس واوري؛ نو سجده دې وکړي	۱۴۹
په لاوډ سپیکر باندې د تلاوت سجده له لاوډ سپیکر، ریډیو او ټیلي ویژن نه	۱۵۰
د سجدې ایت اوریدو باندې سجده تلاوت	۱۵۰
ټیپ ریکارډ او سجده تلاوت	۱۵۰
د سجدې ایت که معلوم نه وي: نو سجده تلاوت نه واجبیږي	۱۵۱
د سجدې ایت اوریدو سره سجده نه کونکی به ګناه ګار وي که لوستونکي؟	۱۵۱
د تلاوت سجده دې تلاوت کونکی په خپله وکړي بل څوک نه	۱۵۲
د سورة السجدة ایت کم اوازسره لوستل پکار دي نِه ټول سورت	۱۵۲
د سورت حج څومره سجدې کول پکاردي؟	۱۵۲
په قرآن مجید کې څومره سجدې دي؟ او څومره واجب دي؟	۱۵۳

صفحه	مضمون
۱۵۳	د تلاوت د سجدې اعلان
۱۵۳	د ژبې د خوزولو نه پرته د تلاوت ثواب ملاویدل
۱۵۳	د لمانځه نه د بهر خلکو له پاره د سجده تلاوت حکم
	❖ د لمانځه متفرق مسائل ❖
۱۵۴	د وظیفې لوستلو له پاره د لمانځه شرط
۱۵۴	په لمانځه کې د ژبې نه چلیدو علاج
۱۵۴	د لمانځه پریښودونکی نعت خوان د احترام حقدار نه دی
۱۵۵	قنوت نازله کله لوستل کیږي؟
۱۵۵	ټي وي خودې لږ ترلږه د لمانځه دوخت احترام کوي
۱۵۶	په ټي وي باندې د جمعې په وخت کې پروګرامونه وړاندې کول
۱۵۶	په ځای د قرعه اندازۍ د استخارې د لمونځ په ذریعه فیصله وکړې
۱۵۷	له ډیرې مجبورۍ نه په فیکټرۍ کې کم نه کم فرض او وتر ضرور کوئ!
۱۵۷	په دفترۍ وخت کې د لمانځه له پاره جومات ته تلل
۱۵۸	په دفتر کې لمونځ څنګه ادا کړو؟
۱۵۸	په دفترۍ وخت کې د لمانځه د اداکولو په بدله کې زیات کار
۱۵۹	هر وخت پټکی پسرول سنت دي
۱۵۹	جمعې کې د شریکیدو له پاره منډې وهل جائز نه دي
۱۵۹	د رکوع او سجدې او د تسبیح صحیح تلفظ زده کړئ
	❖ اوراد او وظائف ❖
۱۶۰	له قرض نه د خلاصي وظیفه
۱۶۰	د نوکرۍ له پاره وظیفه
۱۶۰	د رزق د پراخۍ او د پریشانۍ نه د بچ کیدو وظیفه
۱۶۰	د کاروبار د بندیدو له پاره وظیفه
۱۶۱	په کاروبار کې د ترقۍ او د قرض د واپسۍ طریقه
۱۶۱	سورة فاتحه وایه غوږ پرې دم کړه ان شاء الله صحیح به شي
۱۶۱	د بدتمیز ماشوم له پاره وظیفه
۱۶۲	د ماشوم ناروغۍ او د هغې وظیفه
۱۶۲	درشتې له پاره وظیفه
۱۶۲	د واده له پاره وظیفه

صفحه	مضمون
۱۲۳	د اولاد له پاره وظیفه
۱۲۳	د خاوند او ښځې په مینځ کې د محبت پیدا کولو وظیفه
۱۲۳	د حافظې د قوي کولو وظیفه
۱۲۳	ایت کرسي ویل په سر باندې لاس کیښودل او (یاقوي) یوولس ځله ویل
۱۲۳	د هر لمانځه نه وروسته ښی لاس په سر باندې کیښودل
۱۲۳	او یوولس ځله (یاقوي) او یوولس ځله (یاحافظ) ویل
۱۲۴	د یاداشت له پاره وظیفه
۱۲۴	ګول دایره جوړول او کاني ټکول
۱۲۴	له اوداسه پرته ذکر کول
۱۲۴	د شهدو د مچې د چیچلو دم
۱۲۵	د ساه د تکلیف وظیفه
۱۲۵	د ذهني او مالي پریشاني د لرې کولو وظیفه
۱۲۵	د پریشانیو نه د نجات وظیفه
۱۲۶	د ناروغي لرې کولو وظیفه
۱۲۶	د خاوند د اصلاح اسانه طریقه
۱۲۶	د جینکو د پابندي سره سورة یسین لوستل
۱۲۶	د جادو اثرختمول
۱۲۷	د پریشانیو نه د حفاظت وظیفه
۱۲۷	د بې خوبۍ وظیفه
۱۲۸	په تلو راتلو سره ''حسبنا الله ونعم الوکیل، نِعْمَ الْمَوْلٰی وَنِعْمَ النَّصِیْر،، لوستل
۱۲۸	د آیت کریمه ختمول په څومره وخت کې صحیح دي؟
۱۲۸	د ایت کریمه د ختم په دوران کې د څه ضرورت له وجې پورته کېدل
۱۲۸	د ایت کریمه په ختم کې د ماشومانو شریکت
۱۲۸	د غیرموکده سنتو او نفلونو نه کوونکو په ذکر او اذکار باندې زور کول څنګه دي؟
۱۲۹	ایا په قرآن اوحدیث کې ذکرشویودعاګانو لوستلو کې له چانه اجازه اخیستل ضروري دي؟
۱۲۹	ایا د اعمال قرآني دوظیفو د اجازې اخیستلو ضرورت نه شته؟
۱۲۹	ایا د وظیفو له پاره پناه کېدل ضروري دي؟
۱۲۹	او بل دا چې په وظیفو سره نقصان کیږي

صفحه	مضمون
۱۷۰	ایا د الله تعالی دنومونو د ذکر له پاره له چانه داجازې اخیستلو ضرورت شته ؟
۱۷۰	آیا حصن حصین مستند دی؟
۱۷۰	تې وي نه کتل او تسبیح ویل
۱۷۰	رنګ رنګ دانې لرونکې تسبیح کول
۱۷۱	په تسبیح ذکر کولو باندې اعتراض او د هغه جواب
۱۷۳	په ګرځیدو یا په مجلس کې ذکرکول
۱۷۳	چې ذهن متوجه نه وي څنګه دی؟
۱۷۴	آیا درود ابراهیمي یوازې سړی ویلی شي؟
۱۷۴	او بل دا چې دا په وظیفو کې مانع دی؟
۱۷۵	درود شریف څومره ویل پکار دي؟
۱۷۵	درود شریف کله واجبیږي؟
۱۷۵	د ټولو نه افضل درود کوم یو دی؟
۱۷۵	آیا په څانته د درود شریف دومره ثواب ملاویږي
۱۷۵	څومره چې په جمع باندې په ناستې ویلو سره ؟
۱۷۶	بې اودسه د درود شریف ذکر کول
۱۷۶	د دره د (صلوة تنجینا) حکم
۱۷۶	د ناپاکې په ورځو کې د اسماء حسني تسبیح کول
۱۷۶	تسبیح فاطمه له کومې ګوتې نه شروع کړي؟
۱۷۶	له ماښامه تر ماسخوتنه پورې وخت په مسجد
۱۷۶	کې په تلاوت او تسبیحاتو سره تیره ول
۱۷۷	د(لااله الا الله وحده لاشریک له. اللهم اجرني من النار)
۱۷۷	اونورو د لوستلو فضیلتونه
۱۷۷	د درجو د اوچتوالي له پاره وظیفې
۱۷۸	ایا نبي کریم صلی الله علیه وسلم مظلوم د
۱۷۸	ظالم خلاف بد دعا (ښیرا)نه منع کړی دی؟
۱۷۸	د غیرمسلم او مذهبي پیشې والا نه دعا اخیستل
۱۷۸	ایا دښځو لاندې پرتوګ اغوستونکي دعا قبلیږي؟
۱۷۹	د ښځو پتهونکي په دعا نه قبلیدو باندې اعتراض او د هغه جواب
۱۸۰	د دعا د قبولیت له پاره د وظیفو کول ولې ضروري دي؟

صفحه	مضمون
۱۸۰	دعا ضرور قبلیږي، مایوسه کیدل نه دي پکار
۱۸۱	د الحمد شریف او د تعوذ د لوستلو باوجود
۱۸۱	د احکام الهي خلاف ورزي او د شیطان تسلط ولې وي؟
۱۸۱	د حضور ﷺ له پاره موږ دعا ګانې ولې کوو؟
۱۸۲	د ماثورو دعاګانو اثر ولې نه کیږي؟
۱۸۲	زموږ دعاګانې ولې نه قبلیږي؟
۱۸۴	کله چې د هریو شي وخت مقرردی؛ نو بیا دعاګانې ولې غواړو؟
۱۸۵	د حضور ﷺ د زیارت کولو وظیفه
۱۸۵	ددعا تحفه (دانس رضي الله عنه دعا)

❖ د مړي حکمونه ❖

صفحه	مضمون
۱۹۳	نامحرم د کفن دفن له پاره ولي مقررول صحیح نه دي
۱۹۳	د کوم مړي چې مذهب معلوم نه وي دهغه کفن دفن به څنګه کیږي؟
۱۹۴	که ښځه مړه ومندل شي؛نو د دې د مسلمان کیدو نښه به څه وي
۱۹۴	د مړه پیدا شوي ماشوم کفن دفن
۱۹۵	د مړي په خوا کې د قرآن کریم تلاوت کول
۱۹۵	قریب الموت ته د کلیمې تلقین کول
۱۹۵	د مړي د غسل له پاره په اوبو کې د بیرې پاڼې اچول
۱۹۶	د غسل ورکولو په وخت کې مړی څنګه څملول شي؟
۱۹۶	مړي ته په دویم ځل د غسل ورکولو ضرورت نه شته
۱۹۷	مړي ته د غسل ورکولو په وخت کې دې د زخم نه پټښ لرې کړل شي
۱۹۷	د مړي مصنوعي غاښ ویستل
۱۹۸	د موټر د ټکر (ایکسیډنټ) په صورت کې د مړي غسل
۱۹۸	ایا خاوند ښځې ته او ښځه خاوند ته غسل ورکولی شي؟
۱۹۹	نرښځي (ایجړا) ته به غسل څوک ورکوي؟
۱۹۹	مړي ته دوه ځله د غسل ضرورت نه شته
۱۹۹	غسل ورکونکي ته اجرت ورکول
۲۰۰	مړي ته غسل ورکونکي باندې غسل نه واجبیږي
۲۰۱	مړي سره په لاس لګولو باندې غسل نه واجبیږي
۲۰۲	که د سفر په دوران کې ښځه وفات شي؛نو هغې ته څوک غسل ورکړي؟

مضمون	صفحه
د سړي او ښځې له پاره مسنون کفن	۲۰۲
د کفن له پاره نوې جامه اخيستل ضروري نه ده	۲۰۳
په کفن کې ګنډل شوې جامې استعمالول خلاف سنت دي	۲۰۳
دعام سان کفن تيار ساتلی شئ، خو په دې باندې آيتونه يا مقدس نومونه مه ليکئ	۲۰۴
دکفن جامې ته کولو (راټولولو) سره نه حراميږي	۲۰۵
اب زم زم سره وينځل شوې جامې کفن ورکول جائزدي	۲۰۵
په زم زم سره کفن وينځل او کيښودل، د خپل قبر ځای خاص کول	۲۰۵
مړي ته په کفن کې عهد نامه کيښودل بې ادبي ده	۲۰۵
دوفات شوې ښځې په پښو باندې نکريزې لګول جائزنه دي	۲۰۶
دکفن اغوستلو په وخت کې مړي ته کافورلګول او دخوشبو پونه(چړکاؤ) ورکول جائزدي	۲۰۶
د مړي په باره کې د ښځو توهم پرستي	۲۰۷
د مړي له پاره حيله اسقاط او قدمونو شمارلو رسم	۲۰۸
جنازې ته د اوږې ورکولو مسنونه طريقه	۲۰۹
د جنازې له پاره دريدل بهتردي	۲۰۹
مړي د دفن کولو له پاره په سورلۍ باندې وړل	۲۱۰
خاوند د خپلې ښځې په جنازه کې شريکيدای شي	۲۱۰
خاوند له مرګه وروسته دښځې مخ ليدی شي لاس نه شي لګولی	۲۱۰
په ښځه خاوندکې که څوک مړ شي نو د يو بل مخ ليدی شي او که نه؟	۲۱۲
مړی په کور کې تر کوم وخته کيښودل کيدای شي	۲۱۲
د خلکو د انتظار له پاره مړی کيښودل	۲۱۳
د ناپاکه کس جنازې ته اوږه ورکول	۲۱۳
د ښځې مړي ته هرکس اوږه ورکولی شي	۲۱۳
په قبرستان کې د جنازې کيښودونه مخکې ناسته د ادب خلاف ده	۲۱۳
د مړي د دفن کولو په وخت کې رسومات	۲۱۴
په قبرکې مالوچ يافوم غوړول صحيح نه دي	۲۱۴
په قبرکې قرآن يا کلمه کيښودل جائزنه دي	۲۱۴
د مړي صرف مخ قبلې طرف ته کول کافي نه دي	۲۱۵
دوفات شوې زنانه مخ غيرمحرمه سړيو ته ښودل جائزنه دي	۲۱۵
د قبر د ننه د مړي مخ ښودل ښه نه دي	۲۱۶

مضمون	صفحه
په قبر کې مړی په کوم اړخ کېښودل پکار دي؟	۲۱۶
لحد ته دمړي له کوزولو وروسته دخاورې اچولو طريقه	۲۱۶
بنديدو ته دنږدې شوي قبر خلاصول	۲۱۷
په قبر باندې اذان کول بدعت دي	۲۱۷
په قبر اذان بدعت دی او لږساعت په قبر ايساريدل سنت دي	۲۱۷
کله کله ځمکه دېرګناهګار مړی نه قبلوي	۲۱۸
مړی په ځمکه کنيمتلوسره دفن کول فرض دي	۲۱۸
مړی دریاب ته ویشتل	۲۱۹
په خپل ژوند کې قبرجوړول مباح دي	۲۱۹
قبر پوخ پکاردی یا کچه؟	۲۲۰
د کچه قبر وضاحت	۲۲۱
د قبر ديوالونه هم د مجبوري له وجې پاخه کيدای شي	۲۲۲
د قبر څو احکام	۲۲۳
د وران قبر جوړول	۲۲۳
د قبر د شناخت د پاره کاڼی لګول	۲۲۴
مړي باندې خاوره اچونکي خلک په قبرستان	۲۲۴
کې په کومو شيانو عمل وکړي؟	۲۲۴
په قبرباندې په غلطي سره د پښې کيښودو تلافي څنګه کيدی شي؟	۲۲۵
په قبرونو دپاسه تلوپه ځای د لرې نه فاتحه ولولئ	۲۲۵
په قبرونو تګ او ډډه وهل جائزنه دي	۲۲۵
په قبر دځناورو نه دساتلو له پاره پرده اچول	۲۲۶
مړی امانت خښول جائزنه دي	۲۲۶
مړی پلرنی هدیرې ته وړل شرعاً څنګه دي؟	۲۲۷
د قبر په طرفونو کې د ګناهونو په وجه مړی بل ځای ته منتقل کول	۲۲۸
د مړي بل ځای ته منتقل کولو له پاره تابوت استعمالول	۲۲۸
وفات شوي ماشومان، د شفاعت ذريعه	۲۲۹
آيا په مړي باندې ژړل هغه ته د تکليف سبب جوړيږي؟	۲۳۰
د مړي غم تر څو ورځو پکار دی؟	۲۳۰
دمړي دخپلوانو دغم موده او دخوراک ورکولو رسم	۲۳۰

صفحه	مضمون

د مړي کوروالو ته د يوې ورځې يوې شپې خوراک ورکول مستحب دي ۲۳۱
د مړي په کورکې د نغري بلولو ممانعت ۲۳۱
تعزيت د مړي په کورکې وکړئ او فاتحه ايصال ثواب په خپل کورکې ۲۳۲
کونډې ته په دريمه ورځ باندې نوې لوپټه پسرول ۲۳۲
بزرګان په خانقاه يا مدرسه کې دفن کول د فقهاوو په نزد مکروه دي ۲۳۳

❖ مړي سره متعلق متفرق مسائل ❖

په هرمسلمان په خپل ژوند کې اووه مړيو ته غسل ورکول فرض نه دي ۲۳۴
د غير مسلم د مرګ خبر اوريدو سره(اناالله وانااليه راجعون)ويل ۲۳۴
د مرحوم قرض دې اداشي ګني د عذاب مستحق به وي ۲۳۴
مرحوم که ترکه پرې نږدي: نو وارث د هغه د قرض اداکولو ذمه وارنه دی ۲۳۲
د مړي د مال اوقرض سره څه وکړل شي؟ ۲۳۲
که دمرحوم قرض ورکول کيږي؛نو شرعي وارثانو ته دې اداکړي ۲۳۷
د مرحوم قرض که څوک معاف کړي؛نوجائزدی ۲۳۷
د مرحوم قضا لمونځونه او روژې څنګه اداکړل شي؟ ۲۳۷
د نيا له وفات وروسته او د څلويښتی نه مخکې د لمسي واده کول څنګه دي؟ ۲۳۸
شهيد څوک دی؟ ۲۳۹
ايا دمرګ دسزا مجرم شهيد دی؟ ۲۳۹
په اوبوکې ډوبيدونکی او د دين د علم د حاصلولوپه دوران کې مړکيدونکی به معنوي شهيدوي ۲۳۹
ايا په محرم کې وفات کيدونکي ته به شهيد ويل کيږي؟ ۲۴۰
ددندې(وظيفې) په اداکولوکې مسلمان مقتول به شهيدوي ۲۴۰
د غسل نه وروسته که دمړي له پوزې وينه روانه شي،هغه شهيدنه ګڼل کيږي ۲۴۰
که ښځه په خپل عزت ساتلوکې مړه شي: نوشهيده به وي ۲۴۱
د انساني لاش څيرل او په هغه باندې تجربې کول ناجائز دي ۲۴۱
د پوسټ مارټم شرعي حيثيت ۲۴۱
د لاش شلولو شرعي حکم ۲۴۲
د شپږ مياشتو حمل لرونکې ښځې د مرګ ۲۴۳
نه وروسته اپريشن کولو سره ماشوم راوستل ۲۴۳

مضمون	صفحه
❖ سترګې عطیه کول او د اندامونو پیوندکاري ❖	
د سترګو د عطیه کولو له پاره وصیت کول شرعي ډول باندې څنګه دي؟	۲۴۳
د سترګو عطیه کول ولې ناجائزدي حالانکې انسان په قبرکې خرابیږي؟	۲۴۶
د وینې د عطیې اهتمام کول او مریضانو ته ورکول شرعي طورباندې څنګه دي؟	۲۴۸
دانساني اندامونو پیوندکاري اود وینې مسئله	۲۴۸
مقدمه	۲۵۱
څو اصولي مسائل	۲۵۱
اول: هرحرام شی دانسانیت له پاره مضردی:	۲۵۱
دویم: دانسان تکریم اودهغه دوه طرفونه	۲۵۱
دریم: په علاج کې شرعي اسانتیاوې	۲۵۲
څلورم: داضطرارصحیح درجه څه ده؟	۲۵۲
پنځم: په غیراضطراري حالت کې په علاج کې شرعي سهولتونه	۲۵۳
د وینې مسئله	۲۵۴
دانساني اندامونو مسئله	۲۵۵
د انساني اندامونو حرمت	۲۵۶
❖ د جنازې لمونځ ❖	
د حضور ﷺ د جنازې لمونځ اوتدفین	۲۵۹
څنګه وشو اودخلافت فیصله څنګه وشوه؟	۲۵۹
د حضور ﷺ د جنازې لمونځ چا ورکړی و؟	۲۶۰
د بیلمازه د جنازې لمونځ وشي اوکه نه؟	۲۶۲
د جنازې د لمانځه په وخت د شریکیدو په ځای جدا دریدل	۲۶۳
د بیلمازه د جنازې لمونځ	۲۶۳
د بیلمازه مړي راښکل جائزنه دي او د هغه د جنازې لمونځ هم جائزدی	۲۶۴
د ناواده کړي جنازه جائزده	۲۶۴
د جنازې د لمانځه د جواز له پاره ایمان شرط دی واده نه	۲۶۵
دځان وژونکي د جنازې لمونځ دې د معاشرې ممتازخلک نه اداکوي	۲۶۵
د ځان وژونکي د جنازې لمونځ	۲۶۶
د غیر الله نه د خیر او شر د توقع کونکي د جنازې لمونځ اداء کول	۲۶۶
د مقروض په جنازه کې دحضور ﷺ شرکت او د قرض اداکول	۲۶۶

مضمون	صفحه
د شهید د جنازې لمونځ ولې؟کله چې شهید ژوندی دی؟	۲۲۷
د باغي، ډاکو او د مورپلار د قاتل د جنازې لمونځ نشته	۲۲۷
د مرتد او غیرمسلم د جنازې لمونځ	۲۲۸
د مرتد مړي ته د غسل ورکونکي شرعي حکم	۲۲۸
د قادیاني د جنازې لمونځ اداء کول	۲۲۸
د جنازې په لمانځه کې د کافرانو او بې ایمانه شرکت	۲۲۹
د قادیانانو جنازه جائزنه ده	۲۲۹
د مرزایانو ملحدانه عقائد دا دي	۲۷۲
د قادیانیانو مړی د مسلمانانو په مقبره کې خښول	۲۷۸
او فاتحه، دعا او استغفارکول پرې حرام دي	۲۷۸
قادیاني مړی د مسلمانانو په مقبره کې دفن کول ناجائزدي	۲۷۸
په نوي زیږېدلي ماشوم کې که ساه وي؛ نو د مرګ نه وروسته به د هغه د جنازې لمونځ کیږي	۲۸۷
د حاملې ښځې هم یوه جنازه وي	۲۸۸
که د پنځو شپږو میاشتو ماشوم لږ وخت ژوندی وي او مړشي؛ نو ایا د هغه د جنازې لمونځ کیږي؟	۲۸۸
په جومات کې د ننه جنازه کول مکروه دي	۲۸۸
د ماشوم د دفن کولو نه وروسته معلومه شوه چې هغه د پیدا ینې په وخت ژوندی و؛ نو اوس څه وشي؟	۲۸۹
په مسجد کې د جنازې لمونځ کول	۲۸۹
په مسجد کې د جنازې لمونځ اداء کول	۲۹۰
د جنازې د لمانځه په ځای کې فرض لمونځ کول	۲۹۱
د جنازې د لمانځه له پاره په حطیم کې دریدل	۲۹۱
په حرمین شریفین کې د جنازې لمونځ ولې کیږي؟	۲۹۱
په بازارکې د جنازې لمونځ مکروه دی	۲۹۲
د سهار او مازدیګرنه وروسته د جنازې لمونځ	۲۹۲
د جنازې لمونځ دې د سنتو نه وروسته وکړل شي	۲۹۲
څپلیو سره د جنازې لمونځ کول	۲۹۳
د څپلیو په پښو کولو سره د جنازې د لمانځه اداء کول	۲۹۳
بیړه کې د جنازې لمونځ په تیمم سره جائزدی	۲۹۴

صفحه	مضمون
۲۹۴	له اوداسه پرته د جنازې لمونځ
۲۹۴	د جنازې د لمانځه له پاره یوازې د مشرزوی اجازه ضروري نه ده
۲۹۵	د سید په موجودیت کې د جنازې لمونځ دویم کس هم ورکولی شي
۲۹۵	د جنازې دلمانځه د اداء کولو حقدار څوک دي؟
۲۹۶	دنږدې ولي له اجازې پرته د اداء شوې جنازې حکم
۲۹۶	دچا د جنازې لمونځ چې غیرمسلم وکړ په هغه دوباره لمونځ کول پکاردي
۲۹۷	د جنازې دلمونځ طریقه
۲۹۷	د جنازې د لمونځ نیت څنګه دی؟ که دعا یاده نه وي نو څه وکړو؟
۲۹۷	دعاګانې دادي:
۲۹۸	د جنازې په لمونځ کې دعاګانې سنت دي
۲۹۸	که د وړو او لویانو یو دجنازې لمونځ وشي نو د لویانو دعا لولئ!
۲۹۸	که معلومه نه وي چې جنازه د سړي ده یا د ښځې؛نو دبالغ دعا لولئ!
۲۹۹	د جنازې او اخترونو دلمانځه نیت اورول
۲۹۹	د جنازې په لمونځ کې د دعا شرعي حیثیت
۲۹۹	د جنازې په لمانځه کې رکوع او سجده نشته
۳۰۰	د جنازې په لمونځ کې سوره فاتحه او نور سورتونه ویل څنګه دي؟
۳۰۰	د جنازې د لمونځ دهرتکبیرسره سر د آسمان طرف ته اوچتول
۳۰۰	د جنازې په دوران کې شاملدونکی لمونځ څنګه پوره کړي؟
۳۰۱	که دجنازې په لمونځ کې د مقتدي نه څه تکبیرونه پاتې شي نو څه وکړي؟
۳۰۱	د جنازې د لمونځ په پای کې لاسونه پرېښودل
۳۰۱	د جنازې د لمونځ نه وروسته دعا غوښتل
۳۰۲	د جنازې د لمونځ نه وروسته په قبر لاس اوچتول او دعا کول
۳۰۲	که د مړي دجنازې لمونځ ونه شي نو څه وکړي؟
۳۰۳	د جنازې د کټ سپکېدل د نیکۍ نښه نه ده
۳۰۳	د جنازې سره ټولګې جوړول او په لوړ اواز کلمه طیبه یا کلمه شهادت ویل بدعت دي
۳۰۳	د مړي سره د تللو په وخت په اوچت آواز سره د شهادت کلمه ویل
۳۰۴	ډیرځله د جنازې لمونځ کولو جواز
۳۰۴	له یو وار څخه زیات د جنازې لمونځ اداء کول
۳۰۴	د غائبانه جنازې شرعي حیثیت

صفحه	مضمون
۳۰۵	د غائبانه جنازې لمونځ
۳۰۵	غائبانه جنازه د امام ابو حنيفه رحمة الله عليه او امام مالک رحمة الله عليه په نزد جائزنه ده
۳۰۶	د جنازې په لمونځ کې د ښځو شرکت
۳۰۶	د حضرت حذيفه بن يمان رضى الله عنه او حضرت جابر بن عبد الله رضى الله عنه د مړي واقعه
۳۰۶	د مړي وړلو کټ غير مسلم ته ورکول
۳۰۷	د جنازې د لمونځ په آخري صف کې زيات ثواب
۳۰۷	آيا د جنازې د لمونځ په صفونو کې طاق تعداد ضروري دی؟
۳۰۷	د جنازې لمونځ او مکروه وخت
۳۰۸	د جنازې لمونځ اداء کونکو ته پيسې ورکول
۳۰۸	په مزار باندې احتراماً سجده کول
۳۰۸	قبرستان ته تلل څنګه دي حالانکې ايصال ثواب د کور نه هم کيږي
۳۰۹	د بزرګ په مزار باندې مراقبه کول
۳۰۹	د قبر سر ته دريدل او د خه لوستلو شرعي حيثيت
۳۰۹	د قبرستان سره نژدې په اوچت آواز ګانې غږول
۳۱۰	په قبر باندې اوبه شيندل او شنه لښته خښول
۳۱۰	د قبر په شناخته قرآني آياتونه ليکل

❖ د قبرونو زيارت ❖

صفحه	مضمون
۳۱۱	په قبرستان باندې د څومره لرې نه سلام اچول کيږي؟
۳۱۱	قبرستان ته په کومه ورځ او کوم وخت کې تلل پکار دي؟
۳۱۲	پاخه مزارونه ولې جوړيږي؟
۳۱۲	مزارونو ته تګ جائزدی، خو هلته دې شرک او بدعت نه کوي
۳۱۲	د بزرګانو په مزارونو باندې نذر منل حرام دي
۳۱۳	په مزارونو باندې پيسې ورکول کله جائزدي او کله حرام؟
۳۱۳	په مزارونو راجمع شوې پيسې چېرته خرچ کول پکار دي؟
۳۱۳	د اولياء الله په مزارونو باندې چيلې (وزه) وغيره ورکول حرام دي
۳۱۴	مړی، قبر ته راتلونکی پيژني او د هغه د سلام جواب ورکوي
۳۱۴	قبر باندې لاس اوچتولو سره دعا غوښتل
۳۱۴	قبرستان کې د فاتحې او دُعا طريقه
۳۱۵	په قبرستان کې مسنونې دُعا ګانې

مضمون	صفحه
په قبرستان کې د قرآن کریم تلاوت په کم آواز سره جائزدی په لوړ اوازسره مکروه دی	۳۱۵
قبرستان ته د ښځو تګ صحیح نه دی	۳۱۶
د ښځو قبرستان ته تلل	۳۱۶
ایا د ښځو مزارونو ته ورتګ جائزدی؟	۳۱۷
د ښځو او ماشومانو قبرستان ته تګ، او د بزرګ په نامه نذر کول	۳۱۸
قبرستان وقف وي ذاتي تصرفات پکې جائزنه دي	۳۱۹
قبرستان تر کومه پورې قبرستان پاتې کیږي؟	۳۲۰
د چا په مملوکه ځمکه کې قبر جوړول	۳۲۰
د خوب په وجه د چا په ځمکه کې د جوړکړي مزارخه سره وکړل شي؟	۳۲۱

❖ ایصال ثواب ❖

مضمون	صفحه
ایصال ثواب له پاره دحضور (ﷺ) نه شروع کول پکاردي	۳۲۲
د حضوراکرم ﷺ له پاره دنوافلو ایصال ثواب	۳۲۲
حضور ﷺ له پاره ایصال ثواب او د یو اشکال جواب	۳۲۲
د ایصال ثواب شرعي حیثیت	۳۲۷
په نبي کریم (ﷺ) باندې د درود او سلام طریقه	۳۲۷
او بل دا چې د ایصال ثواب له پاره فاتحه لوستل	۳۲۷
د ایصال ثواب مرحوم ته پته لګیږي او هغه ته د تحفې په ډول ملاویږي	۳۲۹
مسلمان که هرڅومره ګناهګاروي، هغه ته د خیرات نفع رسیږي	۳۲۹
د ورک شوي کس له پاره ایصال ثواب جائزدی	۳۳۰
د مرحومینو له پاره د ایصال ثواب طریقه	۳۳۰
آیا د ثواب ښنلونه وروسته هغه سره څه پاتې کیږي؟	۳۳۴
ایصال ثواب ثابت دی اوښنونکي ته هم ثواب ملاویږي	۳۳۴
د فرض لمونځ ثواب چاته ورکول	۳۳۵
د نفلي اعمالو ثوابونه	۳۳۵
ټول امت ته د ایصال ثواب طریقه	۳۳۶
د ایصال ثواب طریقه، او داچې درود شریف په ملاسته ویل هم جائزدي	۳۳۶
ژوندیو ته هم ایصال ثواب کول جائزدي	۳۳۷
د خښولو نه مخکې ایصال ثواب صحیح دی	۳۳۷
د ایصال ثواب له پاره د څه خاص شي صدقه کول ضروري نه دي	۳۳۸

مضمون	صفحه
دنيا ته د ښودنې له پاره د خوراک ورکولو مړي ته هيڅ ثواب نه رسيږي	۳۳۸
د قرباني په ذريعه ايصال ثواب	۳۳۹
د ايصال ثواب له پاره کښناستل او خوراک ورکول	۳۳۹
آيا چې ترڅو پورې خوراک ونه خوړل شي د مړي خوله خلاصه پاتې وي؟	۳۳۹
ختم کول بدعت دي خو فقيرانو باندې خوراک خوړل د ثواب کار دی	۳۴۰
تلاوت قرآن پاک سره ايصال ثواب کول	۳۴۰
مړي ته د قرآن خواني د ثواب رسولو صحيح طريقه	۳۴۱
د قرآن خواني په دوران کې غلط کارونه او وبال يې	۳۴۲
د چا په مرګ باندې د رشتدارانو قرآن خواني کول	۳۴۳
د عباداتو ايصال ثواب	۳۴۴
په قرآن خواني کې نالوستې سپارې	۳۴۴
لوستل شو يو سپارو سره د کيښودو کفاره	۳۴۴
په دريمه، لسمه، او قرآن خواني کې شرکت کول	۳۴۵
د مړي قبرته ورلو او ايصال ثواب صحيح طريقه	۳۴۵
دنويو او مخکې ټولو ثواب ښنل کيږي	۳۴۶
د پخواني تلاوت ايصال ثواب	۳۴۷
په خپله ثواب حاصلولو له پاره د صدقه جاريه مثالونه	۳۴۷
دوفات شوي د تعزيت له پاره جلسې د صحيحو مقاصدو لاندې جائز دي	۳۴۸
د عذاب قبر د کموالي او د ځنکدن د اساني وظيفه	۳۴۸
په قبرستان کې د ايصال ثواب له پاره د کومو خبرو خيال ساتل پکار دي؟	۳۴۸
که د مور قبر معلوم نه وي نو د مغفرت دعا څنګه وکړم؟	۳۴۹
د کوهي يا سړک ايصال ثواب	۳۴۹
ښځه هم ايصال ثواب کولې شي	۳۵۰
د مرحومينو په قبر باندې د ايصال ثواب د پاره قرآن خواني	۳۵۰
د ايصال ثواب په مجلس کې د قاديانې	۳۵۰
شريکت او د دوی ايصال ثواب صحيح دی؟	۳۵۰

❖ د قرآن کريم عظمت او تلاوت ❖

د وړو ماشومانو له پاره د عمّ پارې ترتيب بدلول جائز دي	۳۵۱
په قرآن مجيد کې د نسخ على الاطلاق انکار کول ګمراهي ده	۳۵۲

صفحه	مضمون
۳۵۲	د قرآن کریم ترټولو اوږد آیت د سورت بقرې (۲۸۲) ایت دی
۳۵۲	په دعا کې قرآني الفاظ بدلول
۳۵۳	د لوح محفوظ نه څه مراد دي؟
۳۵۳	قرآن کریم مجهول لوستل صحیح نه دي
۳۵۴	جامع القرآن څوک دی؟
۳۵۴	د قرآن د تلاوت په دوران کې خبرې کول
۳۵۴	د قرآن پاک د لوستلو طريقه
۳۵۵	دقرآن مجید لوستل فرض دي اوکه سنت
۳۵۵	آیا په قرآن مجید کې په اعراب لګولو سره تحریف وشو؟
۳۵۵	د قرآن مجید اووه منزله څنګه لوستل پکار دي؟
۳۵۵	قرآن مجید ښکلول
۳۵۶	د قرآن مجید ښکلول جائزدي
۳۵۶	د قرآني حروفو ګوتمه موچې په ګوته وي بيت الخلاء ته مه ځئ
۳۵۶	په تخته چاک سره ليکل شوي قرآني اياتونه څنګه وران کړو؟
۳۵۷	زړو مقدسو پاڼو سره څه وکړل شي؟
۳۵۷	په اخبارونو او رسالو کې شائع شويو مقدسو پاڼو سره څه وکړل شي؟
۳۵۹	په اخبارونوکې د قرآني اياتونو اشاعت بې حرمتي ده
۳۵۹	په اخبارونو کې دقران ترجمه چاپ کول
۳۶۰	قرآن مجید د الماری په پورتنۍ برخه کې ږدئ
۳۶۰	قرآن مجید په لاندیني منزل کې کيښودل جائزدي
۳۶۱	قرآن مجید باندې کتابچه کيښودل او ليکل کول سخته بې ادبي ده
۳۶۱	د قرآن پاک په باره کې د ګستاخانه خيال راتلو شرعي حکم
۳۶۱	ټي وي کې د قرآن مجید دتلاوت په وخت هغه طرف ته پښې غځول
۳۶۲	په ژبې سره د قرآن پاک الفاظ اداکول ضروري دي
۳۶۲	په ژبه د ويلو نه پرته د تلاوت ثواب نه وي، خود کتو او تصور ثواب به ورکول کيږي
۳۶۲	آیا د ماسخوتن په لمانځه کې لوستلو سره به دشپې د سورتونو فضيلت حاصل شي؟
۳۶۳	تبارک الذي اوسورت يس په آواز سره لوستل
۳۶۳	د تلاوت له پاره هروخت صحيح دی
۳۶۳	د لمر راختلو په وخت کې تلاوت جائزدی

مضمون	صفحه
د زوال په وخت کې د قرآن پاک تلاوت او ذکر کول جائز دي	۳۶۳
له مازدیگره ترماښامه د تلاوت او تسبیح له پاره بهترین وخت دی	۳۶۴
د قرآن پاک د تلاوت غوره وخت	۳۶۴
قرآني آیتونو والا کتاب ته بې اودسه لاس وروړل	۳۶۵
بې اودسه قرآن شریف لوستل جائز دي خو لاس ورسره لګول جائزنه دي	۳۶۵
د استاذ له ویرې د ناپاکي باوجود د قرآن د لوستلو کفاره	۳۶۶
قرآن مجید بې اودسه مسحه کول	۳۶۶
د ناپاکې په حالت کې د قرآن په لاس کې اخیستلو کفاره	۳۶۶
نابالغه ماشومان بې اودسه قرآن شریف سره لاس لګولی شي	۳۶۷
قرآن مجید دې که مخکې نه وی ویلی اوس یې ویلې شې	۳۶۷
که زړه لګیږي یانه قرآن شریف ویل پکاردي	۳۶۷
قرآن مجید په غلاف کې کیښودل او ډېر وخت نه ویل موجب وبال دی	۳۶۸
د قرآن مجید تلاوت نه کولو والا د دلوی نعمت نه محروم دی	۳۶۸
د سګریټ څکلو سره د قرآن مجید مطالعه کول یا ترجمه لوستل خلاف ادب دي	۳۶۸
د ویده کیدو په وخت کې آیت اکرسی ویلو کې بی ادبي نشته	۳۶۸
تلاوت کونکي ته دې نه څوک سلام کوي اونه دې هغه جواب ورکوي	۳۶۹
د هر تلاوت کونکی له پاره پوهیدل	۳۶۹
ضروري دي چې چېرته ودریږي؟ او چېرته نه؟	۳۶۹
په جومات کې د قران پاک د تلاوت اداب	۳۶۹
که یو کس قرآن پاک لولي نو آیا اوریدل یې ضروري دي؟	۳۶۹
په سورت توبه کې بسم الله الرحمن الرحيم لوستل	۳۷۰
د قرآن شریف په هره کرښه ګوته کیښودل	۳۷۱
او ، ،بسم الله الرحمن الرحيم، ، لوستل	۳۷۱
قرآن کریم ګوته کیښودو سره یا بغیر د ګوتې کیښودو نه ویل	۳۷۱
له پوهې پرته د قرآن پاک اوریدل بهتر دي او که اردو ترجمه لوستل؟	۳۷۱
په اردو تلاوت کول	۳۷۳
د اردو په ترجمې د قرآن مجید ثواب	۳۷۴
یوازې په ترجمه لوستلو د تلاوت ثواب نه ملاویږي	۳۷۴
د قرآن پاک الفاظ په معنی له پوهې پرته لوستل هم عظیم مقصد دی	۳۷۴

مضمون	صفحه
په معنا باندې د پوهېدونه پرته هم د قرآن پاک تلاوت مستقل عبادت دی	۳۷۵
قرآن پاک که موپه پوهه ولوست یا بې پوهې صحیح دی خو له خانه مطلب جوړول غلط دي	۳۷۶
دقرآن پاک ترجمه لوستلونه پس د عالم نه تصدیق کول ضروري دي	۳۷۷
د ترجمې لوستلو نه ولې منع کیږي	۳۷۸
حالانکې په قرآن باندې د چا اجاره داري نشته؟	۳۷۸
په امریکه کې د مسلمانانو له پاره د قرآن پاک په تلاوت د شکونو جواب	۳۸۰
د تفهیم القرآن تفسیر مطالعه کول	۳۹۳
د ډپټي نذیر احمد د ترجمې لوستل څنګه دي؟	۳۹۳
دتدبر القرآن مطالعه څنګه ده؟	۳۹۳
د ګرځیدو په حالت کې د قرآن پاک تلاوت او درود شریف لوستل څنګه دي؟	۳۹۳
د تلاوت په وخت کې د (رسول الله) لفظ په راتلو څه ویل کیږي؟	۳۹۴
ختم قرآن کې دعوت بدعت نه دی	۳۹۴
په ختم قرآن کې شیریني تقسیمول	۳۹۴
ختم قرآن باندې دعوت ورکول جائز دي	۳۹۵
او په تحفه کې څه ورکول هم جائز دي	۳۹۵
په یوه ورځ کې قرآن ختمول	۳۹۵
په رمضان کې قرآن تیز ویل څنګه دي؟	۳۹۶
شبینه قرآن جائزده که ناجائز؟	۳۹۶
په (۲۷) رمضان باندې شبینه کول څنګه دي؟	۳۹۷
د ریډیو دیني پروګرام پرینښودل او ګانې اوریدل	۳۹۷
د ټیپ ریکارډ نه د ګانې اوریدو ګناه ملاویږي	۳۹۷
د تلاوت د اوریدو ثواب ولې نه ملاویږي؟	۳۹۷
د ټیپ ریکارډ د تلاوت ثواب وي	۳۹۸
په کیسټ باندې د تلاوت ثواب نه ملاویږي	۳۹۸
نو بیا د ګانې د آوریدو ګناه ولې ملاویږي؟	۳۹۸
د کیسټ د آواز نه سجده	۳۹۹
د ټیپ ریکارډ نه د تلاوت آوریدل خلاف ادب دي؟	۳۹۹
تلاوت کلام پاک او ګانې په ریډیو یاد کیسټ نه اوریدل	۴۰۰
ایا په ټیپ ریکارډ باندې تلاوت ناجائزدی؟	۴۰۰

مضمون	صفحه
په ټیپ ریکارډ باندې صحیح تلاوت او ترجمه اوریدل موجب برکت دي	۴۰۱
د تلاوت کیسټ اوریدل کافي دي که په خپله هم تلاوت کول پکاردي؟	۴۰۱
د ټیپ ریکارډ د تلاوت ثواب چې نشته نو بیا یې په ګانو باندې ګناه ولې ده؟	۴۰۲
د پي، ائي اے په فلائټ کې د موسیقي پرځای تلاوت اورول پکاردي	۴۰۴
د قرآن په تعلیم باندې اجرت	۴۰۵
د سړي استاذ ښځوته د قرآن مجید د ښودلو عملي تربیت ورکول	۴۰۶
د نامحرمه حافظ نه قرآن کریم څنګه ولوستل شي؟	۴۰۶
مراهقې انجیلۍ ته له پردې پرته سبق ښودل درست نه دي	۴۰۷
په بدځای کې دقرآن خواني هرشریک ګناهګار دی	۴۰۷
د ناجائزه کاروبار له پاره قرآني ایات اویزانول ناجائزدي	۴۰۷
په سینما کې قرآن خواني دسیرت پاک جلسه کول خدای او د هغه رسول سره ټوکې دي	۴۰۸
میوزک او د قرآن تلاوت	۴
د ګناه کار د قرآن د تلاوت نه شروع کول	۴۰۹
دفتري وخت کې د قرآن مجید تلاوت اونفل کول	۴۰۹
قرآن پاک یادولونه پس هیرول لویه ګناه ده	۴۰۹
قرآن مجید حفظ کول پکار دي	۴۱۰
د یادلو نه پس د کوشش باوجود هیریدې نو ګناه نشته	۴۱۰
په حرم کې د قرآن کریم تلاوت کول او شا کړې یې هم وي	۴۱۰
قرآن پاک چې دلاس نه پریوځي نوڅه کول پکاردي	۴۱۱
قبرکې قرآن پاک کیښودل بې ادبي ده	۴۱۱
ډېر تلاوت مبارک دی او د سورتونو موکل کیدوعقیده غلطه ده	۴۱۱
ګجراتي رسم الخط کې دقرآن کریم طباعت جائزنه دی	۴۱۲
مونوګرام کې قرآني آیتونه لیکل جائزنه دي	۴۱۲
د قرآن پاک په خطاطي کې تصویرجوړول حرام دي	۴۱۳
دقرآني آیتونوپه کتابت کې مبهم رسم الخط صحیح نه دی	۴۱۳
د جومات قرآن مجید کورته وړل جائزنه دي	۴۱۴
د مسجدنه دقرآن کریم کور ته وړلو حکم	۴۱۴
د ګټر د ډهکن لاندې اخبار لګول	۴۱۵
د حاجیانو پریښودل شوی قرآن پاک که څان سره	۴۱۵
کیښودل غواړئ نو د هغه قیمت صدقه کړئ	۴۱۵

مضمون	صفحه

❖ د روژې نیولو فضائل ❖

د رمضان اداب ۴۱۷
د رمضان د میاشتې فضیلت ۴۱۷
د روژې فضیلت ۴۱۹
پیشمنې کول ۴۲۰
د نمر پریوتونه پس په افطارکې جلدی کول ۴۲۱
روژه په څه شي ماته کړل شي؟ ۴۲۱
د افطار (روژه ماتي) دُعا ۴۲۲
د رمضان آخري عشره ۴۲۳
لیلة القدر ۴۲۳
د لیلة القدر دعا ۴۲۴
له عذر پرته د رمضان روژه نه نیول ۴۲۴
د رمضان څلور عملونه ۴۲۵
تراویح ۴۲۵
اعتکاف ۴۲۵
روژه ماتی کول ۴۲۶
په رمضان المبارک کې د قرآن پاک دور، جود وسخاوت ۴۲۶
د روژه دار له پاره پرهیز ۴۲۶
د دوو ښځو کیسه ۴۲۸
د روژې درجې ۴۲۸
په روژه کې نقصانونه ۴۳۰
د رمضان المبارک تر ټولو غوره عبادت ۴۳۲
د رمضان المبارک مسنون عبادتونه ۴۳۲
په رمضان المبارک کې د سرکشه شیطانانو قید کیدل ۴۳۲

❖ رویت هلال ❖

په خپله میاشت لیدو سره روژه ونیسو، اختر وکړو ۴۳۳
که په رویت هلال کمیټې اعتماد وکړو ۴۳۳
د رویت هلال کمیټې فیصله ۴۳۳
د رویت هلال مسئله ۴۳۴

مضمون	صفحه
د سپوږمۍ په رويت کې د مطلع فرق	۴۳۴
په دې ضمن کې په دريو اصولو باندې پوهيدل ضروري دي	۴۳۶
د رويت هلال کميټۍ ناوخته د مياشتې ليدو اعلان کول	۴۳۷
د قمري مياشتې په تعين کې رؤيت شرط دی	۴۳۸
ايا رؤيت هلال کميټۍ د سپوږمۍ صحيح فيصله نه شي کولی؟	۴۳۸
ايا په رؤيت هلال کې په فلکياتو باندې اعتماد کيدای شي؟	۴۳۹
په انګلستان کې د اختر لمونځ	۴۶۵
د چاپه نزد چې په شرعي شهادت سره سپوږمۍ	۴۶۶
ثابته شوه هغوی ته د يوې روژې قضا نيول پکار دي	۴۶۶
❖ د روژې نيت ❖	
د روژې نيت کله پکار دی؟	۴۶۶
شرعي نصف النهار نه مخکې د روژې نيت کول پکار دي	۴۶۷
د روژې نيولو او روژه ماتي دعاګانې	۴۶۸
د افطار دعا د کوم حديث نه ثابته ده ؟	۴۶۸
د روژې نيت کوم وخت وشي؟	۴۶۹
د شپې د روژې د نيت کولو نه څه مراد دي؟	۴۶۹
د نفلي روژې نيت	۴۷۰
د پيشمني کولو نه پرته د روژې نيت کول صحيح دي	۴۷۰
د قضا روژې نيت	۴۷۰
د رمضان روژه نيولو نه وروسته مو ماته کړه؛ نو قضا او کفاره به لازم وي	۴۷۱
❖ پيشمنی او روژه ماتی ❖	
پيشمني کې خوراک کول مستحب دي	۴۷۲
او که يې و نه خواره؛ نو بيا هم روژه کيږي	۴۷۲
پيشمنی ناوخته او روژه ماتي کې بيړه کول پکار دي	۴۷۳
که چا د صبح صادق نه وروسته خوراک څښاک وکړ؛ نو روژه و نه شوه	۴۷۴
که پيشمني ته راپورته نه شي: نو څه وکړي؟	۴۷۴
د اوده کيدو نه مخکې يې د روژې نيت وکړ او د صبح صادق نه	۴۷۴
وروسته راپورته شو؛ نو روژه شروع شوه، اوس دده د ماتولو اختيار نه شته	۴۷۴
د شپې د روژې نيت کولو والا پيمشنی وکړي؛ نو هم به د هغه روژه وشي	۴۷۵

مضمون	صفحه
ايا نفلي روژې نيولو له پاره د اذان پورې خوراک کولی شو؟	۴۷۵
د اذان په وخت کې پیشمنی کول	۴۷۵
د پیشمني وخت په سائرن (ټالی) باندې ختمیږي یا په اذان؟	۴۷۵
د سائرن غږیدو په وخت او به څښل	۴۷۶
د پیشمني وخت ختمیدو نه لس منټه وروسته	۴۷۶
خوراک څښاک کولو سره روژه نه کیږي	۴۷۶
د روژه ماتي له پاره نیت شرط نه دی	۴۷۶
پیشمني او روژه ماتي کې د کوم ځای دوخت اعتبار دی	۴۷۷
د ریډیو په اذان روژه ماتی صحیح دی	۴۷۷
په مسجد کې سائرن (ټالی) غږول او په دې سره د روژه ماتی کول	۴۷۸
ایا لمانځه کولو نه وروسته روژه ماتول پکار دي؟	۴۷۸
هوایي جاز کې روژه ماتی دکوم وخت په لحاظ سره کول پکار دي؟	۴۷۸
د هوایي جاز د عملې د پیشمني او روژه ماتي احکام	۴۷۹
❖ کومو وجوهاتو سره روژه ماتول جائزدي؟ او کوموسره نه؟ ❖	
دناروغي د زیاتیدو یا خپل ماشوم د هلاکت ویره وي؛ نوروژه ماتول جائزدي	۴۸۳
که د ناروغي له وجې روژه ونه نیسي؛ نوقضادې راوړي	۴۸۴
که چاروژه دناروغی له وجې ماته کړه نویوازې قضاء ده کفاره نشته	۴۸۴
د بې هوشي په حالت کې که چا او به وڅښلې نو کفاره نشته صرف قضاء ده	۴۸۵
❖ کومو وجوهاتو سره روژه نه نیول جائزدي ❖	
کومو عذرونو سره روژه نه نیول جائزدي	۴۸۶
د کار له وجې د روژې د پریښودو اجازه نشته	۴۸۷
د سخت کار له وجې روژه پریښودل	۴۸۷
د امتحان له وجې روژه پریښودل او په بل باندې نیول	۴۸۸
د امتحان او کمزوري له وجې روژې قضاکول ګناه ده	۴۸۸
آیا د امتحان په وجه روژه ماتول روا دي؟	۴۸۹
په سفر یا ناروغی کې روژه پریښودل	۴۹۰
د لمونځ او د قرآن نه لوستونکې ښځې له پاره فرض روژې نیول څنګه دي؟	۴۹۰
حامله ښځه د خپل بچي د نقصان له ویرې روژه پریښودلی شي	۴۹۱
که د روژې نیولو سره پی کمې راځي یاپې دبندیدو خطره وي نوآیا روژه پریښودل روادي؟	۴۹۱

صفحه	مضمون
۴۹۱	د پيو ورکونکي ښځې روژه قضا کول
۴۹۲	د ښځې د روغى له وجې د خوړل شويو روژو قضا او فديه
۴۹۳	د متيازو ناوغي په روژه کې مانع نه ده
۴۹۳	د مرض دوباره راتلو د ويرې نه د روژې فديه ورکول

❖ رمضان کې د ښځو د خاصو ورځو مسائل ❖

۴۹۴	د حيض په ورځو کې د ښځو روژې نيول جائزنه دي
۴۹۴	دوا خوړلو سره د ناوغى (حيض) ودرو ونکو ښځو روژې نيول
۴۹۵	د روژې په دوران کې که بيماري (ماهواري) شروع شي نو روژه ختمه شوه
۴۹۵	غيررمضان کې د روژو قضا شته د تراويح نشته
۴۹۵	قضا روژې که پرلپسې يا وقفې سره نيول
۴۹۵	که په ټول عمر کې که هم قضاروژې پوره نه شي نو د خپل مال نه دې وصيت وکړي
۴۹۶	که د ناوغى په دوران کې څوک د روژې پوښتنه وکړي خبره په بله اړوئ
۴۹۷	د ښځو ته د کفارې د روژو وخت کې بيماري (حيض) راتلل

❖ کوموشيا نوسره روژه ماتيږي يا مکروه کيږي ❖

۴۹۷	په هيره خوراک کوونکى يا قى کوونکى که قصداً څه وخوري نو يوازې قضا به راوړي
۴۹۸	که په غلطي سره يې روژه ماته کړه نو يوازې قضا واجب ده کفاره نشته
۴۹۸	که حلق ته وينه لاړه نو روژه ماته شوه
۴۹۹	روژه کې په مخصوص ځاى دوايي کيښودو سره روژه ماتيږي
۴۹۹	د لاملبو په وخت کې په خوله کې اوبه تلو سره روژه ماتيږي
۴۹۹	په روژه کې په هيره باندې خوراک څښاک کول
۵۰۰	په روژه کې فرض غسل سره په نوم يا غوږ کې اوبه اچول
۵۰۰	په روژه کې غرغرې کول او په پوزه کې پورته اوبه راښکل منع دي
۵۰۰	د روژې په حالت کې سګريټ يا چلم څښلو سره روژه ماتيږي
۵۰۰	که داسې شى تيرشي چې غذا يا دوا نه وي نو صرف قضا به واجب وي
۵۰۱	د پيشمنى نه مخکې که څه شى په خوله کې کيښودل شو اوويده شو نو د روژې څه حکم دى؟
۵۰۱	د چنې د دانې برابر د غوښې ريشې که په غاښونو کې وينښتې او تيرې شوې نو روژه ماته شوه
۵۰۱	د روژې په حالت کې په اوبو کې کيښاستل او تازه مسواک وهل
۵۰۲	که د چا ښځې ليدو يا ښکلولو سره انزال وشي نو د روژې څه حکم دى؟
۵۰۲	روژه دار که استمنا باليد (جلق) وکړي نو آيا کفاره به وي؟

صفحه	مضمون

❖ کومو څيزونو سره روژه نه ماتيږي ❖

انجکشن سره روژه نه ماتيږي ۵۰۲
روژه دار که په ژبه څه شی وڅاکه او تو يې کړ نو روژه نه ماتيږي ۵۰۳
د خولې نه راوتلي وينه که د لاړونه کمه وي نو روژه نه ماتيږی ۵۰۳
په روژه کې د لاړو تيرولو حکم ۵۰۳
که بلغم خيټې ته لاړشي نو روژه نه ماتيږی ۵۰۳
بې ارادې که د حلق د ننه مچی، دوړه، ګردوغبار وغيره ننوتل نو روژه نه ماتيږي ۵۰۴
پوزه او غوږ کې دوايي اچولو سره روژه ماتيږي ۵۰۴
د روژې په حالت کې په غوږ کې دوايي اچولو سره قضاء لازميږي ۵۰۴
د روژې په حالت کې په خلاصو سترګو او اودس کول ۵۰۵
سترګو کې دوايي اچولو سره روژه ولې نه مياتيږي؟ ۵۰۵
په روژه کې په هيره سره خوراک څښاک کولو سره روژه نه ماتيږي ۵۰۵
که روژه دار په هيره سره کور والی وکړي نو د روژې څه حکم دی ؟ ۵۰۵
په غوښه او رګ کې د انجکشن لګولو حکم ۵۰۶
د روژې په حالت کې انجکشن لګول او د ساه په ذريعه دوايي راښکل ۵۰۶
د روژه دار ګلوکوز (ډراپ) يا انجکشن لګول ۵۰۷
په خپله قي (اولټې) راتلو سره روژه نه ماتيږي ۵۰۷
په لمونځ او روژه کې قې راتلل ۵۰۸
وينه ورکولو سره روژه نه ماتيږي ۵۰۸
وينه وتلو سره روژه نه ماتيږي ۵۰۹
په روژه کې د غاښ نه د وينې وتلو حکم ۵۰۹
که د غاښونو نه وينه راځي نو آيا بيا دې هم روژې نيسي؟ ۵۰۹
غاښ ويستلو سره روژه نه ماتيږي ۵۰۹
رانجه لګولو سره او په آئينه کې کتلو سره روژه نه ماتيږي ۵۱۰
د روژې په صورت کې نوکونه کټ کول ۵۱۰
په سر يا پوره بدن باندې تيل لګولو سره روژه نه ماتيږي ۵۱۰
په احتلام سره روژه نه ماتيږي ۵۱۰
روژه دار په ورځ کې د غسل ضرورت څنګه پوره کړي؟ ۵۱۰
د روژې په حالت کې ټوت پيسټ استعمالول ۵۱۱

صفحه	مضمون

ماشوم سره مينه کولو سره روژه نه ماتيږي ۵۱۱
په روژه کې تروشو اوبو سره اودس کول ۵۱۱
په روژه کې د ترخو اوبو استعمال ۵۱۱
روژه کې اودس کولو کې احتياط کوئ وهم مه کوئ ۵۱۲
زهريله شي خوړولو سره روژه نه ماتيږي ۵۱۲
د ميرګي دورې سره روژه نه ماتيږي ۵۱۲
روژه دار نوکر که په خپل افسرباندې اوبه وڅښي ؛نو د هغه د روژې څه حکم دی؟ ۵۱۲
په رمضان کې روژه نه نيونکي افسر له پاره اوبه وغيره راوړل ۵۱۳
روژه داره ښځه د روځې چاته ډوډۍ پخولی شي؟ ۵۱۴
د روژو او لمونځونو قضاء کونکي آيا آينده نفل وکړي او که قضاء وکړي؟ ۵۱۴
آيا په رمضان کې د شوي خرچ حساب نه کيږي؟ ۵۱۴

❖ د قضا روژو بيان ❖

د بالغيدونه وروسته که روژې پاتې شي نوڅه وکړل شي ؟ ۵۱۵
د څو کلنو قضا روژې څنګه ونيول شي؟ ۵۱۵
قضا روژې که په ذمه وي؛ نو ايا نفلي روژې نيول کيدای شي؟ ۵۱۵
ايا قضا روژې د مشهورونفلي روژو په ورځوکې نيولی شو؟ ۵۱۶
دپاتې شويو روژو قضاء دې راوړي، که نه ۵۱۶
د مرګ په وخت کې دې دفديې وصيت وکړي ۵۱۶
(دحيض دورځو)دروژو قضا شته او د لمانځه نه شته ۵۱۶
دحيض د ورځو د روژو يوازې قضاشته کفاره نه شته ۵۱۷
د(نفاس)د ختمېدو نه وروسته قضاروژې ونيسئ ۵۱۷
د نفلي روژې د ماتولو قضا شته کفاره نه شته ۵۱۷
له عذر پرته نفلي روژې ماتولو کې ګناه شته؟ ۵۱۸
تندرست بنده د قضا روژوفديه نه شي ورکولی ۵۱۸
د بل له طرف نه قضا روژې او لمونځ نه شي ادا کيدای ۵۱۹
د غروب نه مخکې په غلطي روژې ماتولوباندې يوازې قضالازميږي ۵۱۹
په غلطي د وخت نه مخکې روژه ماتولو باندې قضا ده، کفاره نه شته ۵۲۰
د ساه بندي دوايي د روژې په حالت کې ۵۲۱
استعمالولو سره روژه ماتيږي. قضاء لازمه ده ۵۲۱

مضمون	صفحه
د ماشومتوب د ماتې کړې روژې قضاء نه شته، بلهٔ دا چې ترڅو پورې	۵۲۱
د دوه میاشتو د روژو نیولو طاقت وي، فدیه ورکول جائز نه دي	۵۲۱
❖ د قضا روژو فدیه ❖	
کمزوری یا ناروغ کس د روژو فدیه ورکولی شي	۵۲۲
د ډېرې زیاتې ناروغې ښځې د روژو له پاره فدیه ورکول جائز دي	۵۲۲
که د قضا راوړلو طاقت نه لري؛ نو څه وکړي؟	۵۲۳
که چاته قی ورځي، روژو سره څه وکړي؟	۵۲۳
د روژې فدیه څومره، چاته او کله ورکړل شي ؟	۵۲۴
د روژو فدیه خپل اولاد یا لمسیو ته ورکول جائزنه دي	۵۲۴
د مدرسې غریبو طالبانو ته د روژو فدیه ورکړئ	۵۲۵
د قضا روژو فدیه یو مسکین ته په یو وخت ورکول جائزدي	۵۲۵
د مرحومینو د قضا شویو روژو فدیه ورکول ډېر زیات ضروري دي	۵۲۶
بې وزله مریض د روژې فدیه څنګه اداکړي؟	۵۲۸
ایا د مړي له طرف نه د هغه ولي روژه نیولی شي؟	۵۲۸
ایا د وفات شوي له طرف نه د کفارې روژې نیول کېدای شي؟	۵۲۹
ایا د بل چا له طرف نه روژه نیول جائز دي؟	۵۲۹
روژې نیولو سره که د کیس تکلیف پیدا شي؛ نو ایا روژه ماتول روادي ؟	۵۲۹
د ګردو د ناروغ که روژه نه شي نیولی؛ نو څه وکړي؟	۵۳۰
په کټ باندې پرته ښځه د هغې نه پاتې شویو روژو	۵۳۰
سره به څه کیږي څکه چې هغه وفات شوې ده	۵۳۰
که په روژه نیولو سره د ګردې تکلیف زیاتیږي؛ نو ایا پرینسودل یې جائز دي؟	۵۳۱
که د روژې نیولو نه وروسته یې دوایي وخوره؛ نو ایا کفاره به هم وي؟	۵۳۱
له چت نه د ماشوم په غورځیدو سره د مور حالت خطرناك	۵۳۲
شو، هغې روژه ماته کړه؛ نو یوازې قضا واجب ده	۵۳۲
د بلډ پریشر او شوګر مریض که روژې نه شي نیولی؛ نو څه به کوي؟	۵۳۳
❖ د روژې ماتولو کفاره ❖	
د روژې ماتونکي په باره کې د کفارې مسائل	۵۳۴
د رمضان د روژې په ماتولو باندې کفاره ده، له مسئلې ناخبري هیڅ عذر نه دی	۵۳۵
که چا قصدا د رمضان روژه ماته کړه؛ نو قضا او کفاره لازم ده	۵۳۶

صفحه	مضمون
۵۳۶	قصدا خوراک څښاک کولو سره قضا او کفاره دواړه لازمیږي
۵۳۶	درانجوا و تیل لګونکي په دې ګمان چې روژه یې ماته شوه خوراک او څښاک کول
۵۳۷	روژه ماتونکی کس به څومره کفاره اداکوي؟
۵۳۷	روژه کې په کوروالي کفاره لازمیږي
۵۳۸	د روژې په دوران کې که ښځې خاوند صحبت وکړ، نوکفاره په دواړو لازمیږي
۵۳۹	قصداً روژه ماتونکي باندې کفاره لازمیږي
۵۳۹	د ناروغی له وجې که د کفارې روژې په مینځ
۵۳۹	کې پاتې شي نو پوره روژې به بیانیول وي
۵۳۹	ښځه به د کفارې روژې مسلسلې څنګه نیسي؟

❖ نفل او نذر روژې ❖

صفحه	مضمون
۵۴۰	د نفلي روژې نیت یې د شپې نه وکړ، خو د عذرله وجې یې ونه شوه نیولی
۵۴۰	د نذر د روژو شرعي څه حیثیت دی؟
۵۴۱	نفلي روژه ماتولو سره یوازې قضا لازمیږي
۵۴۱	که څوک دنذر روژې نه شي نیولی نوڅه وکړي؟
۵۴۲	د مجبورې له وجې دنذر روژې پرېښودل
۵۴۲	د نذر روژې په بل چا نیول جائزنه دي
۵۴۳	د نذر روژې نه نیول ګناه ده
۵۴۳	د جمعې ورځ د روژې له پاره خاص کول
۵۴۴	آیا د جمعة المبارک روژه نیول یوازې په رمضان کې جائز ده؟
۵۴۴	آیا یواځې د جُمعې په ورځ روژه نیول صحیح دي؟
۵۴۴	خاص دجُمعې په ورځ روژه نیول موجب فضیلت نه دی
۵۴۵	دجُمعة الوداع د روژو ثواب
۵۴۵	آیا دجُمعة الوداع روژه نیولو سره تیرې روژې معاف کیږي؟
۵۴۵	د جمعة الوداع د روژې حکم هم د نورو روژوپه شان دی
۵۴۶	د رجب، شعبان او رمضان د روژو نیولو عهد کول
۵۴۷	د رجب او د شعبان د روژو شرعي حیثیت
۵۴۸	د رمضان د روژو قضاء دنهم لسم محرم د نفلي روژو سره یوځای نیول
۵۴۸	رسول الله ﷺ له وحي پرته د عاشورا روژه ولې ونیوه؟

صفحه	مضمون

❖ داعتکاف مسائل ❖

د اعتکاف مختلف مسائل ۵۵۰
د اعتکاف درې قسمه دی او د نیت الفاظ په ژبې ویل ضروري نه دی ۵۵۳
د آخري عشرې نه پرته اعتکاف مستحب دې ۵۵۳
اعتکاف له پاره هرمسلمان کېناستی شي ۵۵۴
د کوم عمر خلکو له اعتکاف کول پکاردي؟ ۵۵۴
معتکف د تقریر له پاره بل مسجد ته تلل ۵۵۵
که معتکفه ښځه د مجبوري له وجې په نهمه ورځ پاخي: نو قضاء به څنګه راوړي؟ ۵۵۵
د اعتکاف په دوران د ښځو د حیض ورځې شروع کېدل ۵۵۵
واده او ناواده دواړه قسمه ښځې اعتکاف ته کیناستلی شي ۵۵۵
آیا سړی په کور کې اعتکاف ته کیناستلی شي؟ ۵۵۶
د ښځو اعتکاف هم جائزدی ۵۵۶
کوم جومات کې چې د جمعې لمونځ نه کیږي هلته هم اعتکاف جائزدی ۵۵۷
قرآن شریف نه مکمل کولو والا هم اعتکاف کولی شي ۵۵۷
په یوجومات کې چې څومره کسان وغواړي اعتکاف کولی شي ۵۵۷
معتکف په پوره جومات کې کېناستی او څملاستی شي ۵۵۷
د اعتکاف له پاره څادرونه لګول ضروری نه دي ۵۵۸
د اعتکاف په دوران کې خبرې کول ۵۵۹
د اعتکاف په دوران کې مطالعه کول ۵۵۹
د اعتکاف په دوران کې قوالي اوریدل، تلویزون کتل او دفتری کارکول ۵۵۹
مُعتکف د جومات په کونج کې کېناستل ۵۶۰
اویوازې د سُنتي لرې کولو له پاره غسل کول ۵۶۰
آیا په اعتکاف کې غسل کولی شو؟ ۵۶۰
د اعتکاف په دوران کې د علماء کرامو غیبت کول ۵۶۱
آیا د جومات په خاص کونج کې اعتکاف کونکی بل ځای کیناستلی یا څملاستلی شي؟ ۵۶۱
په مسنون اعتکاف کې په مسجد کې دننه حجامت ۵۶۲
د معتکف له پاره د غسل حکم ۵۶۲
له عذر پرته اعتکاف ماتونکی د عظیم دولت نه محروم شو مګرقضا نشته ۵۶۳
د نذر اعتکاف که پوره نه شي نو څه کول پکاردي؟ ۵۶۴

مضمون	صفحه

❖ د روژې متفرق مسائل ❖

په رمضان کې د شپې د جماع د اجازې آیت نازلیدل ۵۶۵
روژه دار دې فضولیات پرېږدي ۵۶۶
په روژه کې ټلویزون کتل ۵۶۷
ایا د ماشومانو روژه نیول ضروري دي؟ ۵۶۸
د مازیګر او ماښام ترمینځه روژه نیول څنګه دي؟ ۵۶۸
د مازیګر نه تر ماښام پورې د روژې نیولو شرعي حیثیت ۵۶۹
د مازیګر او ماښام ترمینځه روژه او د لسم محرم روژه نیول څنګه دي؟ ۵۶۹
پنځه ورځې روژې نیول حرام دي ۵۷۰
ایا امیرغریب اورشته دار باندې د روژه ماتي کولو ثواب برابر دی؟ ۵۷۰
د حضور ﷺ د روژه ماتي معمول ۵۷۰
د تماکو د کاروکونکي د روژې حکم ۵۷۱
د روژه دارپه جومات کې ویده کیدل ۵۷۱
د روژې په حالت کې باربار غُسل کول ۵۷۱
ناپاک کس که پیشمنی وکړي نو آیا روژه به وشي؟ ۵۷۱
د ناپاکي په حالت کې روژه نیول ۵۷۲
د شوال شپږ روژو سره به د رمضان قضاروژې ادانه شي ۵۷۲
ښځې خپلې قضاء روژې په شوال کې نیولی شي ۵۷۳
خو د شوال د روژو ثواب به ورته نه ملاویږي ۵۷۳
داسې علاقه چې شپږ میاشتې ورځ او شپږ میاشتې شپه وي روژه څنګه ونیول شي؟ ۵۷۳
پیشمني نه وروسته ویده کیدل ۵۷۴
د لاوډ سپیکرپه ذریعه د پیشمني او روژه ماتي اطلاع ورکول صحیح دي ۵۷۴
مؤذن دې روژه ماته کړي او اذان دې وکړي ۵۷۴
د عرب ملکونونه په راتلو باندې د دیرشونه زیاتې روژې نیول ۵۷۴
آیا پاکستان والا به هم د سعودی عرب په حساب روژې نیسي؟ ۵۷۵
چې په سعودی عرب کې روژه شروع کړي او اختر په ۵۷۵
کراچئ کې ولمانځي نو آیا زیاته روژه به نیسي؟ ۵۷۵
د رمضان په ختمیدو باندې چې کوم ملک ته ورسیږئ د هغه ځای پیروي کوئ ۵۷۶
د وړوکي اختر خوشحالی ولې لمانځل کیږي؟ ۵۷۶
که روژه ماته شي نو بیا دې هم ټوله ورځ د روژه دارپه شان اوسیږي ۵۷۷
د ناروغ تراویح او روژه ۵۷۷

بسم الله الرحمن الرحيم

❖ د خطبې متعلق باقي مسئلې ❖

د جُمعې د خطبې اوريدو نه پرته د جُمعې لمونځ ادا کول

سوال: د خطبې اوريدو نه مخکې لمونځ نه کيږي او ځينې خلک وايي چې په کوم جومات کې خطبه نه وي، هلته د جُمعې لمونځ نه کيږي اوکه سړی ناوخته جومات ته اورسيږي اوپه بل جومات کې هم د جماعت وخت باقي نه وي په دې صورت کې چې کله جومات ته اورسيږي او هلته جمعه دريدلې وي، هغه خطبه اوريدلې نه ده؛ نو ايا دامام سره د جُمعې لمونځ ادا کولی شي؟ او ايالمونځ يې کيږي اوکه نه؟

جواب: دا خو صحيح ده چې د جُمعې لمونځ د خطبې نه پرته نه کيږي[۱]، خو کوم سړی چې په داسې وخت کې راغی چې خطبه ختمه شوې وه،د هغه لمونځ کيږي،[۲] (اګر چې په ناوخته راتلو باندې د سزا مستحق دی)،بلکې د جُمعې د لمانځه يو يا دواړه رکعتونه پاتې شي او په التحيات کې راتلو سره شريک شو، بيا به هم هغه د جُمعې دوه رکعتونه کوي.[۳]

د جُمعې د خطبې په دوران کې سنت کول

سوال: دلته په سعودي عرب کې د جُمعې په ورځ اکثر خلک د جُمعې د خطبې په دوران کې سنت کوي، ايا دا جائز دي؟ او خطيب حضرات هم ورته څه نه وايي؟

جواب: زموږ په نزد جائز نه دي، [۴] د هغوی په نزد جائز دي.

---

[۱] وشرائط ......المصر والجماعة والخطبة......الخ (فتح القدير ج:۱ص:۴۰۸باب صلاة الجمعة)۔

[۲] ولايشترط كونهم ممن حضر الخطبة كذا فى فتح القدير (عالمگيرى ج:۱ص:۱۴۸الباب السادس عشر)۔

[۳] فى الدرالمختار:ومن ادركهافى التشهد اوسجود سهو على القول به فيها يتمها جمعة ......الخ وفى ردالمحتار:وفيما انه مدرك للجمعة فى هذه الحالة حتى تشترط له النية الجمعة وهى ركعتان (الدرالمختارمع الردالمحتار ج:۲ ص:۱۵۸) ايضاً:من ادرك الامام فى يوم الجمعة فى التشهد اوفيما سواه صلى ماادرك معه وقضى مافاتاه فى قول ابى حنيفة وابى يوسف ......الحجة للقول الاول :قول النبى صلى الله عليه وسلم: ما ادركتم فصلوا ومافاتكم فاقضوا ومعلوم ان المراد مافاتكم من صلاة الامام ......الخ (شرح مختصرالطحاوى ج:۲ص:۱۱۸كتاب الصلاة)۔

[۴] اذاخرج الامام فلاصلاة ولاكلام الى تمامها(شامى ج:۲ص:۱۵۸باب الجمعة مطلب فى شروط وجوب الجمعة)

د خطبې دوران کې سنت کول

سوال: د جُمعې د خطبې دوران کې هيڅ قسمه لمونځ کول صحيح نه دي، خو د يو سړي وينا ده چې د خطبې دوران کې چې کله امام کيني؛ نو هغه وخت که يو سړی د امام د دوباره اودريدو نه مخکې د لمانځه نيت وکړي؛ نو هيڅ باک نه شته؟

جواب: د خطبې دوران کې لمونځ کول صحيح نه دي، که د خطبې د شروع کولو نه يې مخکې نيت تړلی وي؛ نو هغه دې د مختصر قرات سره پوره کړي، د دواړو خطبو دوران کې د امام د کيناستو په وخت نيت تړل صحيح نه دي، په درمختار کې دي:

"اذا خرج الامام فلا صلوة ولا كلام الى تمامها، ولو خرج وهو فى السنة او بعد قيامه لثالثة النفل يتم فى الاصح ويخفف القراة" (شامی طبع جديد جلد:۲ صفحه:۱۵۸)[۱]

د جُمعې د خطبې دوران کې دوه رکعته کول يوازې د يو صحابي له پاره استثنی وه

سوال: چې د جُمعې خطبه شروع وي؛ نو انسان به دوه رکعته کوي او که نه؟

جواب: دا مسئله د امامانو ترمينځه اختلافي ده،د امام صاحب رحمه الله په نزد ناجائز ده[۲]،په دې سلسله کې چې کوم حديث راغلي د امام صاحب په نزد هغه هم د هغه صحابي له پاره خاص و او رسول الله ﷺ د هغه د خاطره خطبه دروله وه.[۳]

---

[۱] اذاخرج الامام فلاصلاة ولاكلام الى تمامها(شامی ج:۲ص:۱۵۸باب الجمعة مطلب فى شروط وجوب الجمعة)

[۲] واذا خرج الامام يوم الجمعة ترک الناس الصلوة والكلام حتى يفرغ من خطبته قال: وهذا عند ابى حنيفة (هداية ج:۱ص:۱۷۱،ايضًا:مختصر الطحاوی ج:۲ص:۱۳۰كتاب الصلاة باب صلاة الجمعة)_

[۳] عن جابر قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم وهويخطب اذا جاء احدكم يوم الجمعة والامام يخطب فليركع ركعتين وليتجوز فيهما ،رواه مسلم (مشكوة ص:۱۲۳باب الخطبة والصلاة) وفى حاشية المشكوة وقوله فليركع ركعتين حملها ......الشافعية على تحية المسجد فانها واجبة عندهم وكذا عند احمد وعند الحنفية لمالم تجب فى غير وقت الخطبة لم تجب فيه بطريق الاولى وهو مذهب مالک وسفيان الثورى وعليه جمهور الصحابة والتابعين كذاقال النووى وتاوله بان المراد اراد ان يخطب بقرينة الاحاديث الدالة على وجوب حرمة الصلوة فى وقت الخطبة وقدثبت فى الصحيحين انه جاء رجل الى النبى صلى الله عليه وسلم وهو يخطب بذاک الرجل الداخل وقيل كانت هذه القصة قبل ان يشرع فى الخطبة وقيل كانت الخطبة بغير الجمعة (مشكوة ص:۱۲۳حاشيه نمبر ۱۱باب الخطبة والصلاة الفصل الاول)_

د جُمعې د خطبې دوران کې نفل او خبرې کول

سوال: اکثر د جُمعې په لمانځه کې ګورو چې امام صاحب خطبه ورکوي اوځینې خلک سنت یا نفل کوي اوځینې په خپل مینځ کې خبرې کوي، څوک هم په ادب سره نه کیني څنګه یې چې خوښه وي پښې خورې کړي او کیني په دې مسئله باندې د احادیثو په رڼا کې جواب راکړئ او د ناستې متعلق هم ولیکئ چې کله امام صاحب خطبه شروع کړي؛ نو چې څنګه مو خوښه وي کینو یا د التحیات شکل کې کینو؟

جواب: د خطبې دوران کې نفل کول حرام دي[1]،سنت موکده که یې د خطبې نه مخکې شروع کړي وي؛ نو د خطبې دوران کې دې پوره کړي او لږ دې مختصرکړي، د خطبې دوران کې هر قسمه خبرې کول هم حرام دي، په حدیث کې دي:"چې چا د جمعې په ورځ د خطبې دوران کې د بل د خاموش کولو له پاره د "خاموش" لفظ هم وویل: هغه لغوه کار وکړ[2]او دا هم ارشاد دی چې:"کوم سړی چې د جُمعې په ورځ یو لغوه کار وکړي، د هغه د جُمعې ثواب ضائع شو."[3]
په ځینې جوماتونو کې د خطبې دوران کې د چندې له پاره جولۍ ګرځول کیږي دا هم ناجائز ده[4]او په دې سره د جُمعې ثواب ضائع کیږي د خطبې دوران کې د ناستې څه خاص طریقه نه ده مقرره، څنګه چې ورته اساني وي، خو پښو خورولو سره کیناستل د ادب خلاف دي، ددې نه ځان ساتل پکار دي[5]او ګونډو درولو سره په هغو باندې سر کیښودل هم صحیح نه دي په دې سره خوب راځي.

د خطبې په دوران کې تحیة الوضوء یا تحیة المسجد ادا کول

سوال: د خطبې په دوران کې تحیة الوضوء یا تحیة المسجد ادا کیږي؟

---

[1] اذا خرج الامام فلا صلاة ولاكلام الى تمامها (شامي ج:٢ص:١٥٨) ،ايضًا:ومن دخل المسجد يوم الجمعة والامام يخطب جلس ولم يركع وذالك لقول الله تعالى :واذا قرى القرآن فاستمعوا له وانصتوا ،فروى انهانزلت فى شان الخطبة ،ومن جهة السنة .....قال (ابن عمر)سمعت النبى صلى الله عليه وسلم يقول: اذا دخل احدكم المسجد والامام على المنبرفلاصلاة له ولاكلام حتى يفرغ الامام(مختصرالطحاوى ج:٢ص:١٣١باب صلاة الجمعة)

[2] عن ابى هريرة رضى الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم اذاقلت لصاحبك يوم الجمعة انصت والامام يخطب فقد لغوت ،متفق عليه (مشكوة ص:١٢٢باب التنظيف والتكبير)_

[3] عن عبدالله بن عمرو رضى الله عنهما قال:قال رسول الله صلى الله عليه وسلم :يحضرالجمعة ثلاثة نفر،فرجل حضرها بلغو فذلك حظه منها......الخ (مشكوة ص:١٢٣باب التنظيف والتكبير)_

[4] ويحرم فى الخطبة مايحرم فى الصلاة حتى لاينبغى ان ياكل اويشرب والامام فى الخطبة كذا فى الخلاصة (عالمگيرى ج:١ص:١٤٧الباب السادس عشرفى صلاة الجمعة)_

[5] اذا شهد الرجل عندالخطبة ان شاء جلس محتبيًا اومتربعًا اوكماتيسر......ويستحب ان يقعد كمايقعدفى الصلاة (عالمگيرى ج:١ص! ١٤٨الباب السادس عشرفى صلاة الجمعة)_

جواب: د خطبې په دوران کې د امام ابوحنيفهؒ په نزد تحية الوضوء يا تحية المسجد اداکول جائز نه دي.[۱]

د خطبې په مينځنی وقفه کې دعا کول

سوال: زمونږ د محلې د امام صاحب وينا ده چې د جُمعې د خطبې په مينځنی وقفه کې په زړه کې پرته د ژبې د خوزولو او پرته د لاس پورته کولو دعا غوښتل جائز دي او د يو لمونځ کونکي وينا ده چې دا جائز نه دي او د علماء کرامو نه مو اوريدلي دي چې دا وخت د دعا د قبوليت وخت دی.

جواب: د جُمعې د خطبو په مينځنی وقفه کې د لاس پورته کولو او ژبې د خوزولو نه پرته په زړه کې دعا غوښتل جائز دي، دا د دعا د قبوليت وخت دی، خو په ژبې سره د دعا کولو اجازه نه شته. [۲]

د خطبې دوران کې له اذان نه وروسته دعا کول

سوال: د جُمعې د خطبې دوران کې له اذان نه وروسته دعا کول پکار دي او که نه؟ او د خطبې دوران کې دعا غوښتل پکار دي او که نه؟

جواب: د امام په منبر باندې د ناستې نه وروسته د ذکر او دعا اجازه نه شته. بلکې خاموش اوسيدل او د خطبې اوريدل واجب دي، له دې وجې دې د جُمعې د اذان جواب ورنه کړل شي، د خطبې دوران کې که دعا وکړل شي د امام په دعا دې په زړه کې امين وويل شي.[۳]

د جُمعې د خطبې نه مخکې تسميه په لوړ اواز سره ولې نه لوستل کيږي؟

سوال: د جمعې خطبه په لوړ اواز بسم الله لوستلو سره ولې شروع نه کيږي؟

---

[۱] واذا خرج الامام يوم الجمعة ترک الناس الصلوة والکلام حتى يفرغ من خطبته قال وهذا عندابى حنيفة (هداية ج:۱ص:۱۷۱) ،ايضًا: ومن جهة السنة....قال (ابن عمر) سمعت النبى صلى الله عليه وسلم يقول: اذا دخل احدکم المسجدوَالامام على المنبرفلاصلاة له ولا کلام حتى يفرغ الامام (شرح مختصرالطحاوى ج:۲ص:۱۳۰،۱۳۱)

[۲] وقال البقالى فى مختصره :واذا شرع فى الدعاء لايجوز للقوم رفع اليدين ولاتامين باللسان جهرًا فان فعلوا ذلک اثموا وقيل اساءوا ولا اثم عليهم ،والصحيح هوالاول وعليه الفتوى (شامى ج:۲ص:۱۵۸باب الجمعة)

[۳] واذا خرج الامام فلا صلاة ولا کلام ......سواء کان کلام الناس اوالتسبيح اوتشميت العاطس ......الخ (عالمگيرى ج:۱ص:۱۴۷) ،قال ابوجعفر:ومن دخل المسجد يوم الجمعة والامام يخطب جلس ولم يرکع وذالک لقول الله تعالى : واذا قرى القرآن فاستمعوا له وانصتوا ،فروى انها نزلت فى شان الخطبة ،ومن جهة السنة ......قال (ابن عمر)سمعت النبى صلى الله عليه وسلم يقول: اذا دخل احدکم المسجد والامام على المنبرفلاصلاة له ولا کلام حتى يفرغ الامام (شرح مختصر الطحاوى ج:۲ص:۱۳۰،۱۳۱باب صلاة الجمعة طبع دارالسراج بيروت)۔

جواب: همدغه شان نقل شوي دي.[۱]

د جُمعې خطبه د مسنونې طريقې خلاف لوستل

سوال: د جُمعې خطبه به د درود او سلام نه پرته وشي او که نه؟ د جواز په صورت کې به په ثواب کې فرق راشي او که نه؟ مثلاً: چې په لومړۍ خطبه کې سورت فيل او په دويم کې سورت قريش ولوستل شي؛ نو د جُمعې خطبه به ادا شي او که نه؟

جواب: د خطبې فرض به ادا شي، خو د سنت خلاف ده او دا ښکاره ده چې کله خطبه د سنت خلاف ده؛ نو په ثواب کې به فرق راځي.

د خطبې نه مخکې د امام سلام ويل

سوال: د خطبې نه مخکې د امام په منبر باندې سلام لوستل نقل دي يا بدعت دي يا د ائمه اربعه په نزد جائز دي؟

جواب: په درمختار کې يې د سلام ترک کول په سنتو کې شمار کړي دي او د امام شافعي رحمه الله قول دی چې کله په منبر کيني؛ نو سلام دې کوي.[۲]

په خطبه کې د خلفاء راشدينو ذکر ضروري دی

سوال: په ځينې جوماتونو کې عالمان (خطيبان) چې د جُمعې په لمانځه کې کومه خطبه ورکوي د هغه په دويمه برخه کې چې د خلفاء راشدينو نومونه ذکر کيږي هغه نه ذکر کوي.

جواب: په خطبه کې د خلفاء راشدينو ذکر د خير کار دی، دا د اهل سنت شعار دی، له دې وجې د خلفاء راشدينو ذکر پريښودل ډير نامناسب دي.[۳]

د جُمعې د خطبې دوران کې د درود شريف لوستلو حکم

سوال: د جُمعې د خطبې دوران کې د رسول الله صلی الله عليه وسلم او د صحابه کرامو رضي الله عنهم مبارک نومونه راځي؛ نو درخواست دادی چې په دې دوران کې په خاموشي سره خطبه واوريدل شي يا درود شريف او (رضي الله عنه) وويل شي؟

---

[۱] الخطبة تشتمل على فرض وسنة فالفرض شيئان الوقت ......والثانى ذكر الله تعالى وكفت تحميدة اوتهليلة اوتسبيحة هذا اذاكان على قصد الخطبة..الخ (عالمگيرى ج:۱ص:۱۴۷،الباب السادس عشر فى صلاة الجمعة)

[۲] ومن السنة ......ترک السلام من خروجه الى دخوله فى الصلاة وقال الشافعى اذا استوى على المنبرسلم ......الخ(درمختارمع ردالمحتار ج:۲ص:۱۵۰باب الجمعة)

[۳] ويندب ذكر الخلفاء الراشدين...الخ (شامى ج:۲ص:۱۴۹با ب الجمعة مطلب فى قول الخطيب ...الخ)

جواب: د خُطبې دوران کې په ژبه باندې درود شریف لوستل جائز نه دي، خاموش اوسیدل پکار دي، چې درسول اللهﷺ ذکر راشي: نو په زړه کې دې پرته د ژبې خوځولو نه درود شریف ولولي[۱]، که په صحابه کرامو رضي الله عنهم باندې هم په زړه کې رضي الله عنه ولولي؛ نو هیڅ باک نه شته، خو په ژبه دې نه وایي.

سوال: د جُمعې د لمانځه نه مخکې چې کومه خطبه په عربي کې لوستل کیږي، د دې په مینځ کې یو ایت داسې هم راځي چې په هغه کې درود شریف لازمي وي، زما د معلوماتو مطابق د خطبې دوران کې هیڅ قسمه تسبیح او لمونځ جائز نه دی؛ نودرود شریف دې هم ونه لوستل شي، ځکه چې په دې آیت کې خطیب په خطبه کې درود ولولي، په لوړاواز کوم چې د ټولو لمونځ کونکو له طرف درود شي، له دې وجې لمونځ کونکو ته د درود لوستلو ضرورت نه شته، خو ما اکثر کتلي دي چې خلک په لوړ اواز سره درود شریف لوستل شروع کړي حال دا چې په خطبه کې د خاموشۍ حکم دی.

جواب: اوریدونکي دې په خپل زړه کې درود شریف لولي، دخطبې دوران کې په لوړ اواز سره درود لوستل جائز نه دي.[۲]

د جُمعې د خطبې د اذان نه واخله تر د دوه رکعته فرض کولو پورې د نیاوي خبرې کول

سوال: په اردو کې د بیان کړي وعظ نه وروسته په عربي کې د خطبې د اذان نه واخله د جُمعې تر دوه رکعته فرض ادا کولو پورې په دې دوران وقفه کې که د مسجد امام د لمانځه د اقامت نه لږ وخت مخکې د دنیاداراي څه خبره وکړي؛ نو ایا هغه د جُمعې په ادا کولو کې د څه قسم شرعي نقطې یا حدود باندې د اوښتلو والاخو نه دی؟ ځکه چې په عربي کې خطبه هم مسلسل د جُمعې د لمانځه یوه برخه ده په دې دوران کې ځینې نور مسائل هم بیانول پکار دي اوکه نه؟ وضاحت وکړئ.

جواب: دجُمعې دخطبې په دوران کې خبرې کول یا په څه قسم عبادت کې مشغولیدل منع دي، خطبه اوریدل واجب دي، خوپه وقفه کې امام څه ضروري شرعي مسئلې بیانولی شي.[۳]

۱]قوله ولا الكلام ......وكذلک اذا ذكر النبی صلی الله عليه وسلم لايجوز ان يصلوا عليه بالجهربل بالقلب وعليه الفتوى (ردالمحتارعلى الدرالمختار ج:۲ ص:۱۵۸ باب الجمعة مطلب فی شروط وجوب الجمعة)۔

۲] ایضاً)۔

۳]ایضاً پورتنۍ حواله، نيز: ويحرم فی الخطبة مايحرم فی الصلاة حتی لا ينبغی ان ياكل اويشرب والامام فی الخطبة (عالمگيری ج:۱ ص:۱۴۷ كتاب الصلاة الباب السادس عشرفی صلاة الجمعة طبع رشيديه)

د خطبې په دوران کې د رسول الله ﷺ په نوم راتلو باندې درود شریف ولولي که خاموشي پاتې شي؟

سوال: د جُمعې د لمانځه په خطبه کې چې کله مولوي صاحب درود شریف لولي: نو د هغه په جواب کې اکثر لمونځ کونکي هم په لوړ اواز سره درود شریف لوستل شروع کړي، حال دا چې خطبه په خاموشي سره اوریدل واجب دي، د خطبې په دوران کې په لوړ اواز سره دورد لوستل کیږي اوکه نه؟ حال داچې درسول اللهﷺ نوم مبارک راشي؛ نو درودشریف لوستل د ثواب او خیراو برکت باعث دی.

جواب: د خطبې په دوران کې د وینا اجازه نه شته، له دې وجې درود شریف په زړه کې لوستل پکار دي، په ژبې سره نه. [1]

د خطبې په دوران کې دعا غوښتل او د دویم اذان جواب ورکول

سوال: ځینې خلک د جُمعې د دواړو خطبو په دوران کې چې کله امام د لومړۍ خطبې نه وروسته د لږ ساعت له پاره کیني، دواړه لاسونه اوچتولو سره دعا غواړي، همدغه شان د امام په منبر باندې د کیناستو نه وروسته د کیدونکي دویم اذان نه وروسته لاسونه اوچتولو سره دعا غواړي، پوښتنه داده چې ایا دا طریقه صحیح ده؟

جواب: د امام په منبر باندې د کیناستو نه وروسته د ذکر او دعا اجازه نه شته، بلکې خاموش اوسیدل او د خطبې اوریدل واجب دي، له دې وجې دې نه د جُمعې د اذان جواب ورکول کیږي او نه دې د خطبې په دوران کې دعا غوښتل کیږي، د امام په دعا باندې دې په زړه کې آمین وایي. [2]

په خطبه کې د خطیب لاسونه تړلو سره دریدل

سوال: د جُمعې د خطبې د ویلو په وخت خطیب داسې لاسونه وتړي، لکه په لمانځه چې ولاړ وي؟ اوریدلي مې دي دا ادب یوازې د الله پاک د دربار (لمانځه) دی.

---

[1] کذالک اذا ذکرالنبی صلی الله علیه وسلم لایجوزان یصلواعلیه بالجهر بل بالقلب (ردالمحتارج:۱ص:۱۵۸)

[2] واذا شرع فی الدعاء لایجوز للقوم رفع الیدین ولاتامین باللسان جهرًا فان فعلوا ذلك اثموا (شامی ج۲ ص۱۵۸) قال ابوجعفر: ومن دخل المسجد یوم الجمعة والامام یخطب لجس ولم یرکع ،وذالک لقول الله تعالی :واذا قری القران فاستمعوا له وانصتوا ،فروی انهانزلت فی شان الخطبة ......اذا دخل احدکم المسجد والامام علی المنبر فلا صلاة له ولا کلام حتی یفرغ الامام، (الحدیث) وایضاً: اتفقوا علی ان من کان قاعداً فی المسجد حتی ابتداء الخطبة لم یرکع کذالک الداخل ،کما لم یختلف الداخل والجالس فی منع الکلام ،والعلة الجامعة بینهما کونه ماموراً باستماع الخطبة فی الحالین (شرح مختصرالطحاوی ج:۲ص:۱۳۱)

جواب: په خطبه کې لاسونه پرېښودو سره دريدل پکار دي.

د جُمعې د خطبې د اذان جواب ورکول

سوال: د جُمعې په لمانځه کې د سنتو نه مخکې يو اذان کيږي او دويم د سنتو نه وروسته، په دواړو
کې د کوم اذان جواب ورکول پکار دي؟

جواب: جمعه کې د خطبې د اذان جواب نه شي ورکول کيداى. [١]

د جُمعې په ورځ د وعظ په دوران کې د الله پاک ذکر کول او درود شريف لوستل

سوال: ايا د جُمعې په لمانځه کې د وعظ په دوران کې د الله پاک ذکر او درود شريف لوستل صحيح دي؟

جواب: د وعظ په دوران کې وعظ طرف ته متوجه کيدل پکار دي، دغه وخت کې څه لوستل صحيح نه دي. [٢]

د جُمعې د خطبې په دوران کې خاموشي او د لاوډسپيکر استعمال

سوال: د جُمعې د خطبې په دوران کې مکمل خاموشي اختيارول او دا چې د سلام د جواب پورې د نه ورکولو احکامات دي، په مسجد کې موجود خلک خو ترڅه حده پورې ددې پابندي کولى شي، خو هر کله چې مولوي صاحب د اذان په لاوډ سپيکر باندې خطبه لولي؛ نو په دې صورت کې په کورونو کې موجود په زرګونو سړي اوښځې، په سړکونو باندې تيريدونکي او په بازارونو کې اخيستونکي اوخرڅونکي خلک، د لمونځ تياري کونکي او په مختلفو کارونو کې مصروف خلک، واضح او صفا طريقې سره د خطبې د اواز اوريدو باوجود دهغه په احترام کې خاموشي نه شي اختيارولى، پوښتنه دا ده چې دغه شان د اذان په لاوډ سپيکر باندې لوستلو سره د هغه د احترام نه کيدو په صورت کې به د دې وبال د چا په سر

---

[١] قال: وينبغى ان لا يجب بلسانه اتفاقًا فى الاذان بين يدى الخطيب...الخ (درمختار ج:٢ص:٣٩٩باب الا ذان)

[٢] واذا شرع فى الدعاء لايجوز للقوم رفع اليدين ولاتامين باللسان جهرًا فان فعلوا ذلك اثموا (شامي ج٢ ص١٥٨) قال ابوجعفر: ومن دخل المسجد يوم الجمعة والامام يخطب جلس ولم يركع ،وذالک لقول الله تعالى :واذا قرى القران فاستمعوا له وانصتوا ،فروى الهانزلت فى شان الخطبة ......اذا دخل احدكم المسجد والامام على المنبر فلا صلاة له ولا كلام حتى يفرغ الامام، (الحديث) وايضاً: اتفقوا على ان من كان قاعداً فى المسجد حتى ابتداء الخطبة لم يركع كذالک الداخل ،كما لم يختلف الداخل والجالس فى منع الكلام ،والعلة الجامعة بينهما كونه ماموراً باستماع الخطبة فى الحالين (شرح مختصرالطحاوى ج:٢ص:١٣١)

وي؟ ایا د مولوي صاحب یا د هغه کسانو چې د هغوی غوږونو ته اواز ورځي او هغوی د احترام کولو نه قاصر وي؟ معلومول دادي چې دغه شان په لاؤډ سپیکر باندې د جُمعې د خطبې د لوستلو څه مقصد دی؟

جواب: مسئله دا ده چې په اول اذان باندې هر قسم کاروبار بندول او د جُمعې د لمانځه له پاره تلل واجبیږي، د جُمعې د لمانځه نه وروسته په کاروبار کې مشغول پاتې کیدل حرام دي[۱] له دې وجې په بازارونو کې د کاروبار کونکو په باره کې تاسو له د پریشانه کیدو ضرورت نه شته، د اذان جمعه اوریدو نه وروسته د جُمعې د لمانځه له پاره نه تلل خپله دومره لویه ګناه ده چې درې جُمعې په داسې کولو باندې په زړه د منافقت مهر لګیږي، چې د توبې نه پرته ترمرګه پورې نه ختمیږي، [۲] داسې خلک که د کاروبار له وجې د جُمعې خطبه نه اوري؛ نو په دې کې قصور د هغوی د نفاق دی، نه د خطبې د اواز.

هر چې د جمعې د تیاري کونکو تعلق دی؛ نو ایا دجمعې تیاري د خطبې شروع کولو نه وروسته کیږي؟ د جُمعې تیاري خو دا ده چې انسان کم نه کم د خطبې د شروع کولو نه مخکې خو په مسجد کې موجود وي، په حدیث کې راځي چې د جُمعې په ورځ باندې ملائکې د مسجد په دروازه باندې کیني او په اول، دویم، دریم او څلورم وخت کې د راتلونکو نومونه په ترتیب باندې لیکي او کله چې امام د خطبې له پاره ووځي؛ نو هغوی خپلې رجسټرې کیږدي او د ذکر (خطبې) په اوریدو مشغولې شي، ګویا د خطبې د شروع کیدو نه وروسته چې کوم خلک راځي، د هغوی د نومونو اندراج په هغه صحیفو کې نه کیږي او د هغوی حاضري نه لګیږي[۳]، له دې وجې د جُمعې د لمانځه تیاري د خطبې پورې موخر کول غلط او بد دي، مګر دا چې د څه خاص عذر له وجې داسې وشي؛ نو معذوري ده.

هر چې د کور د ښځو تعلق دی دهغوی په ذمه دجُمعې لمانځه ته تلل او د خطبې اوریدل فرض

---

[۱]]ویجب السعی وترک البیع بالاذان الاول (عالمگیری ج:۱ص:۱٤۹) ۰ ایضًا:قال :ابوجعفر:واذا زالت الشمس یوم الجمعة جلس الامام علی المنبر ،واذن الموذن بین یدیه وامتنع الناس من الشراء والبیع واخذوا فی السعی الی الجمعة ......الخ ۰قال ابوبکر بن احمد :وذالک لقول الله عزوجل :یایهاالذین امنوا اذا نودی للصلوة من یوم الجمعة فاسعوا الی ذکر الله وذروا البیع ،فانتظمت الآیة المعانی ،الاذان للجمعة ولزوم السعی الیها ،وترک الاشتغال بالبیع (شرح مختصر الطحاوی ج:۲ص:۱۱٤باب صلاة الجمعة)

[۲]]عن ابی الجعدالضمری وکانت له صحبة ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قال: من ترک ثلاث جمع تهاونا بها طبع الله علی قلبه (ابوداود ج:۱ص:۱۵۹باب التشدید فی ترک الجمعة)

[۳]]وعنه (ای ابی هریرة)قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم :اذا کان یوم الجمعة وقفت الملائکة علی باب المسجد یکتبون الاول فالاول ......فاذا خرج الامام طوّوا صحفهم ویسمعون الذکر ۰متفق علیه (مشکوة ج:۱ص:۱۲۲)کتاب الصلاة ،باب التنظیف والتکبیر،الفصل الاول ،طبع قدیمی خانه)

نه دي[۱]، خو که په کورونو کې د خطبې اواز راځي او هغوی د هغه په احترام کې خاموشي اختیار کړي؛ نو د هغوی له پاره هم د سعادت او رحمت سبب دی، په سړکونو باندې تیریدو سره د خلکو په غوږونو کې که د جمعې د خطبې اواز راځي: نو په سړکونو باندې د هغوی چغې سورې وهلو سره تلل د عیب خبره ده، کوم چې د انساني وقار خلاف ده.
خلاصه دا چې تاسو چې څومره امور ذکر کړي دي، په هغو کې یوه خبره هم داسې نه شته چې هغه په لاؤډسپیکر باندې د خطبې ورکولو نه مانع وي، خو که د خطبې اواز د مسجد پورې محدود وي؛ نو غوره ده.

د جُمعې د خطبې دوران کې آمین ویل صحیح نه دي

سوال: دلته د جُمعې په خطبه کې د دویمې خطبې په دوران کې چې کله خطیب صاحب د دعا کلمات وایي؛ نو تقریبا ټول خلک په لاس اوچتولو سره په ورو اواز سره آمین وایي، ایا دا عمل جائز دی؟

جواب: د خطبې دوران کې په ژبه باندې آمین ویل صحیح نه دي په زړه کې دې وایي.[۲]

د خطبې دوران کې سلام کول او جواب ورکول حرام دي

سوال: که په جومات کې امام د جُمعې خطبه لولي او یو سړی راشي سلام وکړي؛ نو په جومات کې ناستو خلکو ته د هغه د سلام جواب ورکول پکار دي؟

جواب: د خطبې دوران کې سلام کول او د هغه جواب ورکول دواړه حرام دي.[۳]

د خطبې دوران کې خبرې او د اذان جواب ورکول

سوال: په شریعت کې د خطبې څه احکام دي؟ او د خطبې د اذان په ژبې سره جواب ورکول جائزدي؟ په تفصیل سره جواب راکړئ!

جواب: د خطبې دوران کې خبرې کول تردې چې ذکر کول هم منع دي. د خطبې د اذان جواب هم په زړه کې ورکول پکاردي په ژبې سره نه.[۴]

۱]لاتجب الجمعة على العبيد والنسوان والمسافرين والمرضى ،كذا فى محيط السرخسى (عالمگیری ج:۱ ص:۱٤٤ كتاب الصلاة ،الباب السادس عشرفى صلاة الجمعة)

۲] واذا شرع فى الدعاء لايجوز للقوم رفع اليدين ولاتامين باللسان جهرًا فان فعلوا ذلک اثموا (شامى ج:۲ص:۱٥۸ باب الجمعة مطلب فى شروط وجوب الجمعة)_

۳] واذا خرج الامام فلا صلوة ولاكلام.....او رد السلام.....الخ (عالمگیری ج:۱ص:۱٤۷ كتاب الصلاة)

٤] قال ابوجعفر:ومن دخل المسجد يوم الجمعة والامام يخطب جلس ولم يركع ،وذالک لقول الله تعالى :واذا قرى القرآن فاستمعوا له وانصتوا فروى انها نزلت فى شان الخطبة ،ومن جهة السنة ......قال (ابن عمر)سمعت النبى صلى الله عليه وسلم يقول: اذا دخل احدكم المسجد والامام على المنبر..[بقيه حاشيه په راروانه صفحه

د خطبې دوران کې چنده ورکول او اخیستل جائز نه دي

سوال: د جُمعې د خطبې دوران کې اسلام په خبرو کولو باندې سخته پابندي لګولې ده، خو په ځینو جوماتونو کې عین د خطبې دوران د لمونځ کونکو نه چنده اخیستل کیږي او صندوقچې په زوره زوره وهلو سره "د جومات چنده" اواز اوچتیږي، چې په دې سره د لمونځ کونکو توجه د لمانځه نه بل خوا شيّ او لمونځ کونکي خلک د چندې په ورکولو کې مصروف شي، ایا دا طریقه صحیح ده؟ ایا د جومات په انتظامیه باندې ګناه شته؟ ایا په چنده ورکونکو باندې به هم ګناه وي کوم چې د خطبې نه توجه واړوي؟

جواب: د جمعې د خطبې دوران کې چې څنګه سلام او کلام جائز نه دی، دغه شان چنده جمع کول هم جائز نه دي انتظامیه، چنده اخیستونکي او چنده ورکونکي ټول ګناهګار دي.[۱]

د جُمعې خطبه یوه ولوستله او لمونځ بل ورکړ

سوال: مخکې ورځو کې زه د لمونځ کولو له پاره لاړم، د جُمعې خطبه او د جُمعې لمونځ بیل بیل مولوي صاحب ورکړ، ایا په داسې طریقه باندې جمعه ورکول صحیح دي؟ د اسلام په رڼا کې ددې جواب راکړئ!

جواب: غوره داده چې کوم سړی خطبه ولولي هماغه لمونځ هم ورکړي. خو که بل چا لمونځ ورکړ؛ نو بیا هم جائز ده.[۲]

په خطبه او لمانځه کې د خلکو رعایت ساتل پکار دي

سوال: څنګه چې ما کتلي دي چې ځینې علماء په لمونځونو کې او په خاص ډول د جُمعې په لمانځه کې اوږد قرات کوي او د لمانځه نه وروسته اوږدې دعا ګانې کوي. ایا دا طریقه غلطه نه ده؟ ځکه چې په جومات کې داسې خلک درېږي چې په هغوی کې د چا ضروري کار وي یا د چا په اندام تکلیف وي، د قرآن او سنت په رڼا کې وضاحت وکړئ!

جواب: خطبه او لمونځ دومره اوږدول نه دي پکار چې خلک تنګ شي[۳] او په وروسته دعا کې خلکوته اختیار دی که شریکیږي او که نه شریکیږي له دې وجې که دچا ضرورت وي؛ نو تللی شي.

...بقیه د تیر مخ]. فلاصلاة له ولاكلام حتى يفرغ الامام (شرح مختصر الطحاوى ج:۲ص:۱۳۰،۱۳۱باب صلاة الجمعة)_

۱] ایضاً_

۲] ولاينبغى ان يصلى غير الخطيب كذا فى الكافى ،واذا حدث الامام بعد الخطبة فاستخلف رجلا ان شهد الخليفة الخطبة جاز والا فلا (عالمگيرى ج:۱ص:۱۴۷كتاب الصلاة ،الباب السادس عشر فى صلاة الجمعة)_

۳]تخفيف الخطبتين بقدر سورة من طوال المفصل ويكره التطويل ......الخ (عالمگيرى ج:۱ص:۱۴۷)_

د جُمعې لمونځ په دویم ځل کول

سوال: یو سړی په څو جوماتونو کې په یوه ورځ د جُمعې لمونځ (دوه رکعته فرض) د مجبوري په حالت کې کولی شي اوکه نه؟ یعنې زید په مسجد طوبی کې دوه رکعته فرض (د جُمعې) کولو نه وروسته په مسجد قباء کې بیا دوه رکعته د جُمعې فرض لمونځ کولی شي اوکه نه؟

جواب: یو لمونځ دوباره کول جائز نه دي، خو د نفلو په نیت باندې په دویم جماعت کې شریکیدلی شي.[1]

د جُمعې د لمانځه د سنتو نیت به څنګه کوي؟

سوال: د جُمعې لمونځ چې د ماسپښین د لمانځه قائم مقام دی په دې کې لومړی د څلور رکعتو سنتو نیت څنګه کیږي؟ په نیت کې به هغه وخت د جُمعې نوم اخیستل کیږي یا د ماسپښین؟ دغه شان د جُمعې د دوه فرضو نه وروسته څلور رکعته سنت او دوه رکعته سنت او دوه رکعته نفل دي، ددې د نیت کولو په وخت د جمعې نوم اخیستل پکار دي اوکه نه؟ ددې د نیت هم صحیح طریقه ولیکئ!

جواب: د جُمعې نه مخکې او وروسته سنتو ته د جُمعې سنت ویل کیږي او د جُمعې د سنتو نیت کیږي، هسې خو سنت د مطلق لمانځه په نیت سره هم ادا کیږي، په دې کې د وخت نوم اخیستل هم ضروري نه دي.[2]

ایا د جُمعې د سنتو له پاره د جُمعې تعیین ضروري دی؟

سوال: د جُمعې د سنتو له پاره د جُمعې تعیین تاسو ضروري لیکلی دی، حال دا چې د فقه په کتابونو کې وضاحت موجود دی چې د سنتو له پاره دمطلق لمانځه نیت کافي دی، تاسو د حوالې وضاحت وکړئ.

جواب: د جُمعې تعیین ما ضروري نه دی لیکلی، سائل پوښتنه کړې وه چې دجُمعې په سنتو کې دجُمعې نیت پکاردی که د ماسپښین؟ ددې په جواب کې مالیکلي و چې "د جُمعې د سنتو نیت وي د ماسپښین د سنتو نیت نه" پاتې شوه دا چې د سنتو د صحت له پاره د نیت تعیین شرط دی اوکه نه؟ دا ځانته مسئله ده د دې جواب دا دی چې" سنت پرته د تعیین نه هم

۱] ویصلی المتنفل خلف المفترض ،لان الحاجة فی حقه الی اصل الصلوة وهو موجود فی حق الامام فیتحقق البناء (هدایة ج:۱ص:۱۲۷ کتاب الصلاة باب الامامة)_

۲] (وکفی مطلق نیة الصلاة) وان لم یقل الله (لنفل وسنة)راتبة (وتراویح)علی المعتمد اذ تعینها بوقوعها وقت الشروع ، وفی الشامیة :(قوله وکفی الخ)ای بان یقصد الصلاة بلاقید نفل اوسنة اوعدد (قوله لنفل) هذا بالاتفاق (قوله وسنة) ولوسنة فجر.....(قوله علی المتعمد)ای من قولین مصححین(ردالمحتارمع الدرالمختار ج:۱ ص:۴۱۷ کتاب الصلاة باب شروط الصلاة مطلب فی حضورالقلب والخشوع ،طبع ایچ ایم سعید کراچی)

ادا کیږي، د نیت تعین د دې له پاره شرط نه دی.[1]

د جُمعې نه مخکې څلور رکعته کول څنګه دي؟

سوال: زه او زما دوست حرم شریف ته د جُمعې د لمانځه له پاره لاړو، چې کله موږ ورسیدو؛ نو جمعه ولاړه و، څلور رکعته سنت کوم چې د جُمعې د دوه رکعتو فرض نه مخکې ادا کیږي په باره کې زما او زما د ملګري ترمینځه تکرار راغی، زه وایم چې دا څلور رکعته سنت به کیږي، زما دوست وایي چې نه به کیږي.

جواب: د ماسپښین او د جمعې نه مخکې څلور رکعته سنت موکده دي که مخکې موقع ملاو نه شي؛ نو وروسته یې کول ضروري دي.[2]

د سنت قبل الجمعة ثبوت

سوال: دې وخت کې زه په دمام کې کار کوم او د جُمعې څلور سنت کوم چې به مخکې په پاکستان کې کېدل، دلته وایي چې مخکې نه کیږي، د زوال وخت وي، دلته په پوښتنه کولو باندې څوک وایي چې وکړه هیڅ باک نه شته، څوک وایي مه یې کوه، په هر حال څه تسلي بخش جواب ملاو نه شو، له دې وجې تاسو د دې حل لیکلو سره راولیږئ چې څه وکړل شي؟

جواب: د رسول الله ﷺ او صحابه کرامو رضي الله عنهم نه قبل الجمعة سنت کول ثابت دي، د دې تفصیل د اعلاء السنن په اووم جلد کې موجود دی.[3]

د جُمعې په لمونځ کې اوږد قرأت کول

سوال: د جُمعې په لمانځه کې ډیر کسان داسې هم راشي چې ناروغ یا معذور وي، د دې نه پرته هم ډیرې مجبوري کیدای شي، د جُمعې په ورځ باندې دلته یو امام صاحب د لمانځه امامت کوي، خو الله پاک ته پته ده چې د کوم پروفیسر مضمون دی چې هغوی دا هم پته نه شته چې د امامت څه اداب دي؟ د قراءت د فن نه بالکل ناخبره کیدو سره سره اوږد قراءت فرمایي او په کوم انداز یې چې لولي؛ نو ماته معلومه نه ده چې زما لمونځ کیږي او که نه کیږي؟ ځکه چې د هغوی غلط لوستل اوږده اوږده سورتونه په غلط انداز باندې د زیر او زبر په غلطیانو

١]ثم ان كانت الصلاة نفلاً يكفيه مطلق النية ،وكذالک اذا كانت سنة فى الصحيح ،هداية ،والتعيين افضل واحوط ......والمعتبرفى النية عمل القلب لانها الارادة السابقة للعمل اللاحق فلا عبرة للذكر باللسان (اللباب فى شرح الكتاب ج:١ص:٧٨باب شروط الصلاة التى تتقدمها ،طبع قديمى ،ايضًا: ردالمحتار ج:١ص:٤١٧باب شروط الصلاة)

٢] بخلاف سنة الظهر وكذا الجمعة انه يتركها ويقتدى ثم ياتى بها فى وقته ......الخ (شامى ج:٢ص:٥٨)_

٣]عن ابى عبدالرحمان السلمى قال:كان عبدالله يامرنا ان نصلى قبل الجمعة اربعًا وبعدها اربعًا (اعلاء السنن ج:٧ص:٧) ، ايضاً تفصيل دپاره اوګورئ:اعلاء السنن ج:٧ص:٧نه ١٥پوري باب النوافل والسنن

سره لوستلو باندې زما ذهن ډیر ګډوډ شي، د جُمعې په لمانځه کې بهر په انګړ کې ګرمي او هغه هم سخته، خلک ولاړ دي او هغوی د اوږدو سورتونو کوشش فرمایي. یوه ورځ خو زما مخکې یو مشر سړی باندې چکر راغی او راپریوت. ایا د داسې امام د پوه کولو څه طریقه شته؟ د حدیث نبوي ﷺ په رڼا کې بیان وفرمایئ چې د جُمعې د لمانځه له پاره څه حکم دی؟ او د غلط قرآن لوستلو څه عذاب دی؟ او ددې څوک ذمه دار دي؟

جواب: قرآن د غلط لوستونکي امامت جائز نه دی،[1] او په لمونځ کې د کمزورو او ناروغانو د رعایت کولو حکم دی، د رسول الله ﷺ واضح ارشاد دی چې کوم سړی امام وي هغه دې لمونځ مختصر کوي، ځکه چې په هغوی کې به څوک ناروغ هم وي، څوک به پکې کمزوري وي، څوک به حاجتمن وي.[2]

د جُمعې په وروستیو سنتو کې وقفه کیدل پکار دي

سوال: د جُمعې د لمانځه نه وروسته ددعا د ختمیدو سره فورا څه خلک په جومات کې سنت لوستل شروع کړي او تلونکو ته د یو منټ وقفه هم نه ورکوي او که څوک څومره بچ کیدو سره بهر ته د تلو کوشش کوي؛ نو په هغه پسې خبرې کوي.

جواب: د جُمعې د لمانځه نه وروسته تلونکو ته مهلت ورکول پکار دی، د چا څه اهم ضرورت وي او د هغه له پاره دریدل ممکن نه وي او په یو مسلمان پسې خبرې کول خو ډیره بده خبره ده، کوم خلک چې داسې کوي هغوی د "نیکي برباد او ګناه لازم" مصداق دي.[3]

د جمعة الوداع په باره کې

سوال: د جمعة الوداع د فضیلت څه وجوهات دي؟ حال دا چې په رمضان المبارک کې خو هرې جُمعې ته په خپل ځان کې یو خصوصیت او فضیلت حاصل دی. مهرباني وکړئ په دې سلسله کې تفصیلي جواب راکړئ چې ددې د اهمیت اندازه وشي.

جواب: په عوامو کې د رمضان المبارک اخري جُمعه ډیره په اهمیت سره مشهوره ده او دې ته جُمعة الوداع ویل کیږي، خو په احادیثو کې د اخري جُمعې څه خصوصي فضیلت نه دی ذکر شوی، بلکې دا وینا به صحیح وي چې د اخري جُمعې یا جمعة الوداع کوم تصور چې په موږ کې رواج دی په احادیثو کې د هغه څه ذکر نه شته دا معلومه نه ده چې د رمضان د اخري

---

[1] اذا ام امی امیا وقارئا فصلاة الجمیع فاسدة عند ابی حنیفة رحمه الله تعالی (عالمگیری ج:۱ص:۵۸)

[2] عن ابی هریرة رضی الله عنه یقول: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم :اذا صلی احدکم للناس فلیتخفف فان فی الناس الضعیف والسقیم وذا الحاجة (مسلم ج:۱ص:۱۸۸باب امر الآئمة بتخفیف الصلاة فی تمام)

[3] عن عبدالله بن عمرو رضی الله عنهما قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم المسلم من سلم المسلمون من لسانه ویده .....الخ (مشکوة ص:۱۲کتاب الایمان الفصل الاول)_

جمعې نوم "اخري جمعه" يا "جمعة الوداع" د کله نه جاري شو؟ او دا نوم ولې کيښودل شو؟
کيداى شي ددې وجه دا وي چې د مشکوة شريف په يوحديث کې راځي چې:"د رمضان المبارک دختميدونه وروسته(يعنې د اختر د ورځې نه) د بل رمضان المبارک پورې جنت ښکلي کول شروع کړل شي".[1]

دا روايت کمزورى دى، خو د دې حديث مطابق ګويا د جنت او اهل جنت نوى کال د وړوکي اختر له ورځې شروع کيږي او په رمضان المبارک باندې ختميږي. له دې وجې ګويا د جنت دتقويم مطابق ګويا رمضان المبارک د کال اخري مياشت ده او دا جُمعه د کال اخري جُمعه ده(والله اعلم)او دا هم ممکنه ده چې د اخري جُمعې نه وروسته د رمضان المبارک په ختميدو کې د هفتې نه د کمو ورځو وقفه پاتې شي، له دې وجې اخري جُمعه ګويا د رمضان د مياشت د جدايي او رخصتيدو علامت دى او هيڅ پته نه لګيږي چې بيا دا مبارک وختونه چا ته نصيب کيږي، د ځينې خلکو عادت دى چې هغوى د اخري جُمعې په خطبه کې د رمضان المبارک جدايي او رخصت ډير په غمژن انداز کې بيانوي، خو فقهاء کرامو د اخري جُمعې په خطبه کې د جدايي او رخصت مضمون بيانولو ته مکروه ويلي دي، مولانا زوار حسين مجددي نقشبندي په خپل کتاب"زبدة الفقه" کې ليکي:

"د رمضان المبارک د اخري جُمعې په خطبه کې د رخصت او جدايي مضمونونه بيانول د رسول الله ﷺ او صحابه کرامو رضي الله عنهم او سلف صالحينو نه ثابت نه دي، اګر چې في نفسه مباح دي، خو ددې بيانول ضروري ګڼل او نه بيانونکي ته بد ويل غلطه خبره ده، نور هم پکې ډير نقصانونه دي، ددې نقصانونو له وجې ددې کلماتو پريښودل لازمي دي چې ددې نقصاناتو اصلاح وشي." (زبدة الفقه:ج:۲ص:۲۰۶)

که د جُمعې په ورځ اختر وي؛ نو د جمعې لمونځ به هم کيږي

سوال: د تير وړوکي اختر په موقع باندې يو مولانا صاحب يو مسئله بيان کړه چې د دوه اخترونو د جمع کيدو په صورت کې (چې جمعه او اختر په يوه ورځ راشي) چې کوم خلک د اختر لمونځ ونکړي په هغوى باندې هيڅ ګناه نه شته، ددې مسئلې د بيانولو نه وروسته عامو

[1] عن ابن عمر رضى الله عنه ان النبى صلى الله عليه وسلم قال: ان الجنة تزخرف رمضان من راس الحول الى حول قابل قال فاذا كان اول يوم من رمضان هبت ريح تحت العرش من ورق الجنة....الخ (مشكوة ص:۱۷۴ الفصل الثالث) وفى المرقاة :ولايبعد ان يجعل راس الحول مما بعد رمضان ولعله اصطلاح اهل الجنان ويناسبه كونه يوم عيد وسرور ودقت زينة وحبور ثم رايت ابن حجر قال لعل المراد هنا بالحول بان تبتدى الملائكة فى تزوينها اول شوال وتستمرالى الاول رمضان ففتح ابوابها.....قال ابن خزيمة فى القلب من جريد بن ايوب يعنى احد رواته شىء قال المنذرى وجرى بن ايوب البجلى واه والله اعلم اقول وللحديث شاهد آخرمن حديث ابن عباس رضى الله عنهما آخرجه ابوالشيخ فى كتاب الثواب والبيهقى ايضًا:قال المنذرى وليس فى اسناده ممن اجمع على ضعفه فاختلاف طرق الحديث يدل على ا نه له اصلاً (مرقاة شرح المشكوة ج:۲ص:۵۰۱)۔

خلکو د دې رعايت نه ښه فائده پورته کړه، يعنې اختر يې ښه په شوق ولمانځه او د جُمعې د لمانځه له پاره رانغلل، خو کوم خلک چې د لمانځه زيات پابند وو، هغوی راغلل. خو هغه وو ځومره؟ د لمونځ کونکو تعداد په شلو کسانو کې محدود پاتې شو، حال دا چې عموما دلته يو لوی رش وي د دې لمونځ کونکو په زړونو کې يو شک پيدا شو چې د هغه د لرې کولو کوشش وشو او تر اوسه پورې چې د کوم عالم نه پوښتنه شوې ده، هغه په دې مسئله باندې رد کړی دی، يوازې دا نه، بلکې ځينې کتابونه هم وکتل شول په هغو کې زياته هم دا رايه په نظر راغله چې په لمانځه کې رخصت نه شي ورکول کيدای او امام ابوحنيفه رحمه الله هم په واضح ډول سره د دې بيان شوې مسئلې خلاف په نظر راځي. هغه د جُمعې او د اختر د لمانځه د فرضيت واجبيت د برقرار ساتلو په حق کې دی.

جواب: د اختر لمونځ واجب دی[۱] او د جُمعې لمونځ فرض عين دی[۲]، يو واجب د فرض عين قائم مقام څنګه کيدای شي؟ بيا د اختر د لمانځه وخت د زوال نه مخکې دی[۳] او جُمعه د زوال نه وروسته فرض کيږي، کوم لمونځ چې دزوال نه مخکې ادا شو هغه د جُمعې قائم مقام څنګه کيدای شي؟[۴] له دې وجې د جمهور امامانو په نزد د جُمعې لمونځ ساقط نه دی، امام ابوحنيفه، امام مالک او امام شافعي رحمهم الله د دې قائل دي، د کومو رواياتو نه چې دا شک راځي چې د اختر په لمانځه سره د جُمعې لمونځ ساقطيږي هغه د ښار والا په باره کې نه ده، بلکې د باندې د خلکو له پاره ده[۵] يعنې د کلي کوم خلک چې د اختر د لمانځه له پاره ښار ته راغلي وي، هغوی که د جُمعې د لمانځه نه مخکې تلل غواړي؛ نو تللی شي (هغوی به کور ته تلو سره د ماسپښين په وخت د ماسپښين لمونځ کوي)، د دې له وجې په ځينو رواياتو کې خو د دې ښکاره وضاحت موجود دی او په ځينو کې اګر چې وضاحت نه شته، خو هغه هم په دې باندې حمل دی، په هرحال د هغه امام صاحب فتوا بالکل غلطه او غير ذمه داره ده د خلکو د جُمعې د پريښودو ګناه به د هغه په سر وي.

۱] وتجب صلاة العيدين على اهل الامصار كماتجب الجمعة (بدائع الصنائع ج:۱ص:۲۷۵ كتاب الصلاة)_

۲] ان الجمعة فريضة محكمة بالكتاب والسنة والاجماع يكفرجاحدها (فتح القدير ج:۱ص:۴۰۷)

۳] وقت صلاة العيدين حين تبيض الشمس الى ان تزول (بدائع الصنائع ص: ۲۷۶ كتاب الصلاة)_

٤] قال: ولاتجزئ الجمعة الا فى وقت الظهر وذالک لان فرض الجمعة لماكان مجملاً فى الكتاب مفتقرًا الى البيان ،ثم لم يرد عن النبى صلى الله عليه وسلم فعلها الا فى وقت الظهر صارفعله لها على هذا الوجه على الوجوب (شرح مختصرالطحاوى ج:۲ص:۱۲۲، ۱۲۳ كتاب الصلاة وقت الجمعة)_

٥]قال: اكثرالفقهاء :تجب الجمعة لعموم الآية والاخبارالدالة على وجوبها ،ولانهما صلاتان واجبتان فلم يسقط احدهما بالاخرى قال ابن عبدالبر سقوط الجمعة بالعيد مهجور وعن على رضى الله عنه ان ذلك فى اهل البادية ومن لاتجب عليه الجمعة (معارف السنن ج۴ ص۴۳۲، ايضاً اعلاء السنن ج۸ ص۷۴. باب اذا اجتمع العيد والجمعة لاتسقط الجمعة به)_

ايا ښځه په کور کې د جُمعې لمونځ کولی شي؟

سوال: که يوه ښځه په خپل کور کې يوازې پاتې کيږي او هغه د جُمعې لمونځ پرته د امام، پرته د خطبې او پرته د لمونځ کونکي نه وکړي؛ نو ايا د هغه لمونځ وشو؟

جواب: د جُمعې د لمانځه له پاره خطبه او جمعه شرط ده[1] او دا دواړه شيان د سړيو پورې خاص دي، له دې وجې ښځه يو ځای کيدو سره هم د جُمعې لمونځ نه شي ادا کولی او ځانته ښځه يې خو په طريقه اولی نه شي لوستلی[2]، دې ښځې ته پکار دي چې په کور کې د ماسپښين لمونځ وکړي، ګني د ماسپښين د لمونځ پريښودو ګناه به د هغوی په سر باندې وي، ځينو ښځو باندې د بزرګي هيضه راشي او د خپلې بزرګي د ښودلو له پاره داسې د شريعت خلاف خبرې ښايي.

د ښځو د جُمعې او اختر لمونځ

سوال: ايا ښځوته د جُمعې او اخترلمونځ کول پکاردي؟ زه داسې جُمعه کوم : اول څلور رکعته فرض قضا کوم چې د تولو نه مخکې زما نه شوي دي، (قضاء لمونځ زه د هر لمانځه نه مخکې ادا کوم) بيا څلور سنت، څلور فرض، دوه رکعته د جُمعې لمونځ، دوه نفل، دا صحيح دي؟

جواب: اختر او جُمعه د ښځو په ذمه نه شته،[3] خو که هغه د اختر او جُمعې په لمانځه کې شريکې شي؛ نو د هغوی د جُمعې او اختر لمونځ به ادا شي[4] څنګه چې تاسو جُمعه کوئ دا غلطه ده، د جُمعې او اختر لمونځ ځانته نه کيږي، تاسو د ماسپښين په شان لمونځ د جُمعې په ورځ هم ادا کوئ.[5]

ښځه به په کور کې جُمعه په جمعې سره ادا کوي او که د ماسپښين لمونځ؟

سوال: ښځه که په مسجد کې د جُمعې لمونځ نه شي ادا کولی؛ نو بيا به ايا په کور کې د

١]ولوجوبها ......شرائط ......المصر والجماعة والخطبة ......الخ (فتح القدير ج:١ص:٤٠٨)_

٢] واحترز بالرجال عن النساء والصبيان فان الجماعة لاتصح بهم وحدهم لعدم صلاحيتهم للامامة فيهابحال بحرعن المحيط (ردالمحتارج:٢ص:١٥١باب الجمعة مطلب فى قول الخطيب ......الخ (ايضاً بدائع الصنائع ج:١ص:٢٦٢)_

٣]ولاتجب الجمعة على المسافرولا ا مراة ......فان حضروا فصلوا مع الناس اجزاهم عن فرض الوقت لانهم تحملوه فصاروا كالمسافراذا صام (هداية ج:١ص:١٦٩باب صلاة الجمعة ايضًا: حلبى كبير ص:٤٧٢فصل فى صلاة الجمعة)

٤] ايضاً_

٥]واحترز بالرجل عن النساء والصبيان فان الجمعة لاتصح بهم وحدهم لعدم صلاحيتهم للامامة فيها بحال ،بحرعن المحيط(ردالمحتارج:٢ص:١٥١باب الجمعة مطلب فى قول الخطيب،ايضًا:بدائع الصنائع ج:١ص:٢٦٢)

جُمعې لمونځ جمعې سره کوي یا که د ماسپښین لمونځ ورته په جمعې سره کول پکار دي یا ځانته لمونځ؟

جواب: ځانته ښځه د جُمعې لمونځ نه شي ادا کولی، هغوی ته د ماسپښین لمونځ ځانته ځانته کول پکار دي.[1]

ایا ښځې د جُمعې په لمونځ کې شرکت کولی شي؟

سوال: ښځې په جومات کې د جُمعې لمونځ امام صاحب سره په جمعې اداکولی شي اوکه نه؟

جواب: د ښځو جوماتونو ته جمعې سره لمونځ کولو له پاره تلل د زمانې د فساد اود فتنې د ویرې له وجې مکروه دي. [2]

واړه ماشومان مسجد ته راوستل چې د خلکو لمونځ خرابوي

سوال: عام ډول سره دا کتل شوي دي چې د جمعې لمونځ کونکي خپل ځان سره د دوه نیم درې کلونو پورې ماشومان او ماشومانې هم مسجد ته راولي، ګویا څه میله یا تماشه کتلو ته راغلي دي، دا ماشومان د مسجد د ادابو او د لمانځه نه قطعي ناخبر وي، لهذا د لمانځه په دوران کې ماشوم د خپلو حرکتونوله وجې د نورو د لمانځه په ادا کولو کې خلل پیدا کوي، پوښتنه داده چې دا واړه ماشومان مسجد ته راوستل پکار دي اوکه نه؟ او که د هغوی له وجې د چا په لمانځه کې کوتاهي یا خامي واقع شي؛ نو د هغه جزا او سزا په چا باندې لازمیږي؟ په ماشوم، که د هغه په راوستونکي او که په لمونځ کونکي باندې؟

جواب: دومره واړه ماشومان مسجد ته راوستل نه دي پکار، د دې نه منع راغلې ده، که د داسې ماشومانوله وجې د خلکو لمونځ خرابیږي؛نوپه راوستونکوباندې به دهغه وبال وي.[3]

ایا د جُمعې په ورځ باندې زوال نه وي؟

سوال: په اول اګست د جُمعې په ورځ په اخبار کې "ستاسو مسائل او د هغو حل" کې یو سوال و چې ایا د جُمعې په ورځ باندې د زوال په وخت سنجده یا قضاء لمونځ ناجائز دی؟ ستاسو جواب و چې: هو! ناجائز دي، تاسو ته په ادب سره عرض دی چې ما په یو کتاب کې لوستلي و چې د جُمعې په ورځ زوال نه وي، وجه یې دا لیکلې وه چې هره ورځ چې د دوزخ اور کله تیزول کیږي؛ نو هغه ته زوال وایي او د جُمعې په ورځ باندې د دوزخ اور نه شي تیزولی، له دې وجې

---

[1] ایضًا_

[2] ویکره حضورهن الجماعة ولوجمعة وعید ووعظ مطلقًاولوعجوزًا لیلاً علی المذهب المفتی به ......الخ (ردالمحتارمع الدرالمختار: ۱ص: ٥٦٦باب الامامة)

[3] روی عبدالرزاق ......عن معاذ بن جبل رضی الله عنه ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قال: جنبوا مساجدکم صبیانکم ومجانینکم وشرائکم..الخ(حلبی کبیرفصل فی احکام المساجدص: ٦١١طبع سهیل اکیدمی)

د جُمعې په ورځ باندې زوال نه وي، د دې خبرې تصحيح وکړئ چې څه ما لوستلي دي هغه صحيح دي او که نه؟ او ايا دا خبره صحيح ده چې د زوال وخت هميشه يو شان نه وي؟ ايا د زوال په وخت يوازې نفل لمونځ ناجائز دی؟ يا که د قرآن تلاوت، سجده تلاوت اود جنازې لمونځ هم ناجائز دی؟

جواب: دا خبره غلطه ده چې د جُمعې په ورځ زوال نه وي، د امام ابوحنيفه رحمه الله په نزد چې څنګه په نورو ورځو کې د نصف النهار په وخت لمونځ جائز نه دی، سجده تلاوت جائز نه ده، همدغه شان د جُمعې په ورځ هم جائز نه دي. [1]

په لاوډ سپيکر باندې د لمونځ او خطبې شرعي حکم

سوال: دلته په ځينو مساجدو کې د جُمعې په خطبه کې د لاوډ سپيکر په استعمالولو باندې په سختې سره پابندي کيږي، بالخصوص د رايونډ په تبليغي مرکز کې چيرته چې په هر لمانځه کې په زرګونو کسان وي او د جُمعې په لمانځه کې خو زما د اندازې مطابق څلور پنځه زره کسان شامليږي او د وړاندې دوه صفونو نه وروسته وروستي صفونو کې نه د خطبې اواز راځي او نه د امام صاحب د تکبيراتو او نه د قراءت. ايا په لاوډ سپيکر باندې خطبه او لمونځ جائز نه دی؟ که واقعي داسې وي؛ نو د ټول ملک علماء کرام چې د دې استعمال کوي کوم شی چې ناجائز دی، د هغه په عدم جواز باندې ټول متفقه فيصله او عمل ولې نه کوي؟ او د دې د ناجائز کيدو څه وجه ده؟ بله دا چې که دا ناجائز وي؛ نو ايا د علماء کرامو فرض نه جوړيږي چې حرمين شرفين (زادهما الله شرفا) علماء کرام هم د دې د عدم جواز قائل کړي کوم چې د لاوډ سپيکر نه هم وړاندې لاړل او د هغوی اواز موږ د حرم شريف نه براه راست اورو.

جواب: په لاوډ سپيکر باندې خطبه او لمونځ دواړه جائز دي، په دې کې هيڅ شبه نه شته، خوځينې اکابرينو ته په دې کې شبهه وه، له دې وجې هغوی په دې کې احتياط کوي[2] د رايونډ د حضراتو به هم غالبا هم دا موقف وي چې په کوم شي کې دځينې حضراتو شبه ده هغه ولې استعمال کړل شي، دا قسم اختلافات ختمول ګران وي، له دې وجې د داسې اختلافاتو د ختمولو په ذکر کې د پريوتلو ضرورت نه شته.

د ښار نه لرې تلونکي باندې د جُمعې لمونځ شته

سوال: يومسلمان لمونځ کونکی که د جمعة المبارک د لمانځه پرواه نه کولو سره چيرته لاړ شي او هلته د جُمعې لمونځ نه کيږي، يعنې ښکار کولو له پاره او هغه ته معلومه هم وي چې

---

[1] ثلاث ساعات لاتجوز فيها المكتوبة ولاصلاة الجنازة ولاسجد التلاوة ......وعند الانتصاف الى ان تزول ......الخ (عالمگيرى ج:۱ص:۵۲كتاب الصلاة الباب الاول فى المواقيت ومايتصل بها)

[2] تفصيل دپاره اوګورئ: آلات جديده ص:۳۴،از حضرت مولانامفتی محمد شفيع رحمة الله عليه_

نن د جُمعې ورځ ده او د جُمعې لمونځ كول دي، بيا هم هغه د جُمعې د لمانځه له پاره ايسار نه شي، يعنې قصدا يې قضاء كړي.

جواب: جمعه پرېښودو سره تلل خو بده خبره ده، خو كه څوك سهار د ښار نه بهر لاړو؛ نو په هغه باندې جُمعه فرض نه ده.[۱]

د جُمعې په ورځ د سهار په لمانځه كې مخصوص سورتونه لوستل

سوال: زموږ امام صاحب هره جُمعه دسهار لمانځه كې سجده تلاوت لولي، په لومړي ركعت كې سجده كوي او د دواړو ركعتونو نه وروسته سلام اړوي، داتركومه حده جائز دى؟

جواب: د جمعې په ورځ (د سهار په لمانځه كې) په اول ركعت كې (سورة الم تنزيل) او په دويم ركعت كې (سورة دهر) لوستل د رسول الله ﷺ معمول مبارك و، له دې وجې سنت دادي، خو كله كله دې نور سورتونه هم ولوستل شي.[۲]

د جُمعې په لمانځه كې كه د امام اودس مات شي؛ نو څه به كوي

سوال: كه د جُمعې په لمانځه كې د امام اودس مات شي؛ نو هغه به څه كوي؟ واضحه دې وي چې د ځينې جاهل لمونځ گزارو نه د امام د وهلو ويره هم وي؟

جواب: څوك دې خليفه كړي او خپله دې د اودس كولو نه وروسته په جمعه كې شامل شي.[۳]

﴿ ارحم امتي بامتي ابوبكر الخ ﴾ حديث په ترمذي كې دى

سوال: اكثر خطباء د جُمعې په خطبه كې يو حديث شريف لولي : ﴿ قَالَ النَّبِيُّ ﷺ : أَرْحَمُ أُمَّتِي بِأُمَّتِي أَبُو بَكْرٍ ، وَأَشَدُّهُمْ فِي أَمرِاللهِ عُمَرُ ، وَأَصْدَقُهُمْ حَيَاءً عُثْمَانُ ، وَأَقْضَاهُمْ عَلِيُّ بْنُ أَبِي طَالِبٍ ﴾ پوښتنه داده چې په همدې حديث كې په دې سند سره ﴿ واقضاهم على ﴾ الفاظ راغلي دي او ايا دا حديث همدغه شان د جُمعې په خطبه كې لوستل كيداى شي؟

جواب: دا حديث ترمذي كې دى او امام ترمذي رحمه الله ورته ﴿ حسن صحيح ﴾ ويلي دي.[۴]

---

[۱] لاتجب الجمعة على المجانين ......والمسافرين والمرضى ......الخ (بدائع الصنائع ج: ۱ص: ۲۵۸ طبع سعيد)

[۲] عن ابى هريرة رضى الله عنه عن النبى صلى الله عليه وسلم انه كان يقرأ فى الفجريوم الجمعة بالم تنزيل وهل اتى (مسلم ج: ۱ص: ۲۸۸ كتاب الجمعة)

[۳] سبق الامام حدث سماوى غيرمانع للبناء ......ولوبعد التشهد ......استخلف ......مالم يجاوز الصفوف لوفى الصحراء ......ومالم يخرج من المسجد......الخ (شامي ج: ۱ص: ۶۰۱ باب الاستخلاف)

[۴] عن انس رضى الله عنه عن النبى صلى الله عليه وسلم قال: ارحم امتى....[بقيه حاشيه په راروانه صفحه

كه په خېټه كې درد وي يا د متيازو تقاضا وي؛ نو څه وكړي؟

سوال: د جُمعې د خطبې په دوران كې كه يو سړي ته د هوا يا د متيازو سخت شدت محسوس شي، اوس كه هغه سړى د قضاء حاجت نه فارغ كيدو سره د اودس كولو پورې وخت ولګوي؛ نو د جُمعې لمونځ ترې كيږي او وروسته به بيا د ماسپښين لمونځ كوي، پوښتنه دا ده چې كه هغه سړى د خېټې هوا، او د متيازو سختى كنټرول كولو سره د جُمعې لمونځ د جماعت سره ادا كړي يا كه د فراغت نه وروسته په سكون سره د ماسپښين لمونځ كول غوره دي؟ بله داچې د متيازو د سخت شدت په وخت لمونځ كول مكروه تنزيهي دي كه مكروه تحريمي؟

جواب: كه د ورو يا غټو بولو سخته تقاضا وي: نو اول د هغه نه فارغ كيدل ضروري دي. وروسته كه جُمعه ملاو نه شي؛ نو د ماسپښين لمونځ دې وكړي، د داسې سختې تقاضې په وخت كې لمونځ مكروه تحريمي دى.[1]

د جمعې او لمانځه نه وروسته اجتماعي دعا نه كول څنګه دي؟

سوال: زمونږ د محلې په مسجد كې د لمانځه نه وروسته امام صاحب اجتماعي دعا نه كوي، نه د جُمعې د لمانځه نه وروسته داسې كوي، په دې حوالې سره بيان كړئ چې د شريعت څه حكم دى؟

جواب: كوم مشائخ چې مونږ ليدلي دي، هغوى به د فرضو نه وروسته مختصر دعا كوله او مفتي كفايت الله رحمه الله په دې باندې (النفائس المرغوبة) نومې رساله هم ليكلې ده، چې بيله هم چاپ شوې وه او د هغوى په كتاب كفايت المفتى كې هم شته ، د هغه كتاب دريم جلد صفحه ۲۷۸ دې وكتل شي.

...بقيه د تير مخ].. بامتى ابوبكر،واشدهم فى امرالله عمر، واصدقهم حياءً عثمان ......رواه احمد والترمذى ،وقال :هذا حديث حسن صحيح ،وروى عن معمرعن قتادة مرسلاً وفيه واقضاهم على(مشكوة ص:٥٦٦باب مناقب العشرة رضى الله عنهم،الفصل الثانى)

[1] وصلاته مع مدافعته الاخبثين اى البول والغائط قال: فى الخزائن سواء كان بعد شروعه اوقبله فان شغله قطعها ان لم يخف فوت الوقت واتمها اثم ......وماذكره من الاثم صرح به فى شرح المنية ،وقال لادائها مع الكراهة التحريمة (ردالمحتارعلى الدرالمختار ج:١ص:٦٤١مطلب فى الخشوع باب مايفسد الصلاة ومايكره فيها طبع سعيد كراچى)، ايضًا: وتكره ......(ومدافعًالاحد لاخبثين)البول والغائط (اوالريح) ولو حدث فيها ،لقوله عليه السلام لايحل لاحد يومن بالله واليوم الآخر ان يصلى وهو حاقن حتى يتخفف (مراقى الفلاح على هامش الطحاوى ص:١٩٧باب يفسد الصلاة فصل فى المكروهات)

❖ د اخترونو لمونځ ❖

د اخترونو دلمانځه نيت

سوال: د اختر دلمانځه نيت څنګه کيږي؟

جواب: د اختر دلمانځه نيت داسې کيږي چې زه دوه رکعته د وړوکي اختر يا لوی اختر واجب لمونځ سره د واړو (ټولو) تکبيرونو (زوايد) ادا کوم.[۱]

له عذر پرته په جومات کې د اختر لمونځ کول مکروه دي

سوال: د اختر لمونځ په جومات کې کول څنګه دي؟

جواب: له عذر پرته د اختر لمونځ په جومات کې کول مکروه دي.[۲]

د اختر لمونځ په مسجد کې کول ولې مکروه دي؟

سوال: ستاسو د کتاب "ستاسو مسائل او د هغو حل" په دويم جلد کې د شايع شوې مسئلې مطابق چا تاسو نه پوښتنه کړې ده، چې د اختر لمونځ په مسجد کې کول څنګه دي؟ تاسو جواب ورکړی دی چې له عذر پرته د اختر لمونځ په مسجد کې کول مکروه دي، زه په دې تفصيل باندې ځان پوهول غواړم چې له څه وجې د اختر لمونځ په مسجد کې کول مکروه دي؟

جواب: مسجد د پنځو لمونځونو له پاره جوړ شوی دی او د رسول الله ﷺ په زمانه کې د اختر او د جنازې د لمونځونو له پاره بيل ځايونه وو، له ضرورت پرته به دا لمونځونه په مسجد کې نه شو کيدلی او ضرورت دادی مثلاً باران وي او يو داسې ځای نه وي چې په هغه کې انسان د اختر لمونځ وکړي، يا بل داسې عذر وي، ددې عذر په بناء باندې د اختر لمونځ کول په مسجد کې صحيح دی، په حرمين شريفين کې دومره مجمع وي چې ددې مجمع بل ځای ته منتقل کول د ناممکن په درجه کې دي، له دې وجې هلته دواړو ځايونو کې د اختر او د جنازې لمونځ په مسجد کې ادا کيږي او دا پوره عذر دی.[۳]

۱] وكيفية صلاتها اى العيدين ان ينوى عند اداء كل منهما صلاة العيد بقلبه ويقول بلسانه اصلى صلاة العيد لله تعالى ......الخ (مراقى الفلاح على هامش الطحطاوى ص:۲۹۰ باب العيدين، ميرمحمد كتب خانه)۔

۲] الخروج الى الجبانة فى صلاة العيد سنة وان كان يسعهم المسجد الجامع على هذا عامة المشائخ وهوالصحيح (عالمگيرى ج:۱ص:۱۵۰،الباب السابع عشرفى صلاة العيدين)۔

] وفيه الخروج الى المصلى فى العيد وان صلاتها فى المسجد لاتكون الاعن ضرورة (فتح البارى ج:۲ص:۵۷۲،كتاب العيدين باب الخروج الى المصلى طبع قديمى كتب خانه)

د اختر لمونځ په عيدګاه کې کول غوره دي که په مسجد کې

سوال: ايا داختر لمونځ په عيدګاه کې کول غوره دي او که په مسجد کې؟ دويمه خبره دا ده چې که د يو سړي کور ته نژدې په مسجد کې د اختر لمونځ په (۲۰۰۲) باندې دی او په عيدګاه کومه چې په زياته فاصله باندې ده، هلته هم په دې وخت کې دی، نو ددې سړي له پاره کوم ځای کې کول افضل دي؟

جواب: د اختر لمونځ په عيدګاه کې کيږي، له څه خاصې مجبوري پرته په مسجد کې د اختر لمونځ کول مکروه دي، تاسو عيدګاه ته ځئ اګر چې هر څومره سفر وي.[1]

د ښځو له پاره داخترونو لمونځ په کور کې ادا کول

سوال: ښځې دوړوکې يالوی اخترلمونځ جمعې سره يا ځانته په کورکې ادا کولی شي اوکه نه؟

جواب: د اختر لمونځ دښځو په ذمه نه شته او د هغوی په جمعې سره يا انفرادي ډول د اختر لمونځ کول صحيح نه دي.[2]

د ښځو د اختر له پاره عيدګاه ته تلل

سوال: ايا ښځې عيدګاه ته داختر له پاره تللی شي؟

جواب: د ښځو تلل مکروه دي.[3]

د قبوليت ورځ به د کوم ملک د اختر وي؟

سوال: مسئله دا ده چې د ځمکې په مخ باندې اخترونه په مختلفو ورځو باندې لمانځل کيږي چې په دې کال اختر په سعودي عرب کې درې ورځې مخکې وشو، له دې وجې تاسو مهرباني وکړئ او دا بيان کړئ چې د قبوليت ورځ به د کوم ملک په اختر باندې وي؟

جواب: په کوم ملک کې چې په کومه ورځ باندې اختر وي ، په هغه ورځ به هلته د هغه برکتونه هم حاصليږي، لکه څنګه چې کوم ځای د سهار وخت وي هلته د هغه بَرکت هم حاصليدای شي او د سهار لمونځ به هم فرض وي.

---

[1] الخروج الى الجبانة في صلاة العيدسنة وان كان يسعهم المسجد الجامع على هذا عامة المشائخ وهو الصحيح (عالمگيرى ج:١ص: ١٥٠ الباب السابع عشرفى صلاة العيدين)

[2] اعلم ان صلوة العيد واجبة على من تجب عليه الجمعة هذا هو الصحيح من المذهب ......الخ (حلبى كبير ص:٥٦٥)

[3] ويكره حضورهن الجماعة ولو جماعة وعيد ووعظ ملطقًا ولوعجوزًا ليلاً على المذهب المفتى به ......الخ (الدرالمختارباب الامامة ج:١ص:٥٦٦)

په رمضان کې د یو ملک نه بل ملک ته تلونکی به کله اختر کوي؟

سوال: بکر دسعودي نه بیرته پاکستان ته راغی، هلته روژه دوه ورځې مخکې قائمه شوه. اوس په داسې حالت کې چې په پاکستان کې به اته ویشت روژې کیږي او د هغه به دیرش روژې شي، اوس به هغه د سعودي مطابق اختر کوي یا د پاکستان مطابق؟ دا هم واضحه کړئ چې بکر د سعودي عرب مطابق روژه ونیوله چې په کومه ورځ هلته اختر و په هغه ورځ اختر کولی شي او که نه؟ هغه روژې کومې چې زیاتې شي هغه به په کوم حساب کې شمیرل کیږي؟

جواب: اختر خو به چې هغه په کوم ملک (مثلا پاکستان) کې موجود دی، د همدې مطابق کوي، خو د هغه روژې پوره شوې دي، له دې وجې چې دلته راتلو سره کومې روژې نیسي هغه به نفلي شمیرل کیږي.[1]

له پاکستان نه سعودي عرب ته تلونکی سړی به په سعودي کې په کومه ورځ اختر کوي؟

سوال: یو سړی د پاکستان نه سعودي عرب ته لاړ، دهغه دوه روژې کمې شوې، اوس به هغه د سعودي د میاشتې مطابق اختر کوي او کومې روژې چې کمې شوې هغه به وروسته نیسي یا خپلې روژې پوره کولو نه وروسته به د سعودي عرب نه دوه ورځې وروسته د پاکستان مطابق اختر کوي؟

جواب: اختر به د سعودي عرب مطابق کوي او کومې روژې چې پاتې شي د هغو به قضاء راوړي.[2]

که د اختر په لمانځه کې د مقتدي نه تکبیرونه لاړ شي؛ نو لمونځ به څنګه پوره کوي؟

۱] ولوصام رائی هلال رمضان واکمل العدة لم یفطر الامع الامام لقوله علیه الصلاة السلام صومکم یوم تصومون وفطرکم یوم تفطرون (رواه الترمذی قال فی البدائع المحققون قالوا لا روایة فی وجوب الصوم علیه وانما الروایة انه یصوم وهو محمول علی الندب احتیاطًا (شامی ج:۲ص:۳۸٤کتاب الصوم ،مبحث فی صوم یوم الشک)_

۲] ایضًا)_

سوال: داختر په لمانځه کې که دمقتدي راتګ ناوخته شي او په داسې صورت کې ترې زايد تکبيرونه لاړشي؛ نومقتدي به زايد تکبيرونه څنګه ادا کوي؟ او که پوره رکعت لاړشي؛ نو څنګه به يې ادا کوي؟

جواب: که امام د تکبيرونو نه فارغ شوی وي، که قرات يې شروع کړی وي او که نه وي. وروسته راتلونکی مقتدي دې د تکبير تحريمه نه وروسته زايد تکبيرونه هم ولولي او که امام صاحب رکوع ته تللی وي او دا ګمان يې وي چې تکبيرونه کولو نه وروسته به د امام سره په رکوع کې شامل شي؛ نو د تکبير تحريمه نه وروسته دې په ولاړه ولاړه باندې درې تکبيرونه ووايي او رکوع ته دې لاړ شي او که دا خيال يې وي چې په دومره وخت کې به امام د رکوع نه اوچت شي؛ نو تکبير تحريمه ويلو نه وروسته دې رکوع ته لاړ شي او په رکوع کې دې د رکوع د تسبيحاتو په ځای له لاس پورته کولو پرته تکبيرات ولولي، او که د هغه تکبيرونه لا نه وو پوره شوي چې امام د رکوع نه سر اوچت کړ؛ نو کله چې امام د سلام اړولو نه وروسته خپل رکعت پوره کړي؛ نو لومړی دې قرات وکړي، بيا دې تکبيرونه ولولي له دې نه وروسته دې د رکوع تکبير ويلو سره رکوع ته لاړ شي.[1]

داختر په لمانځه کې که له امام نه غلطي وشي؛ نو څه به کوي؟

سوال: که د وړوکي يا غټ اختر د لمونځ کولو دوران کې له امام نه څه غلطي وشي؛ نو لمونځ به په دويم ځل کيږي او که سجده سهوه به کوي؟

جواب: که غلطي داسې وي چې په هغه باندې لمونځ نه فاسديږي؛ نو د لمونځ راګرځولو ضرورت نه شته او فقهاء کرامو ليکلي دي چې په اخترونو کې که رش زيات وي؛ نو سجده سهوه دې نه کوي چې په دې سره به په لمانځه کې وراني پيدا شي.[2]

که داختر تکبيرونه ترې هير شي؛ نو؟

سوال: د اخترونو په لمانځه کې که له امام نه شپږ تکبيرونه هير شي او ددې نه کم يا زيات تکبيرونه ولولي او ددې ورته وروسته احساس وشي؛ نو ايا لمونځ ماتول پکار دي يا جاري ساتل پکار دي؟

جواب: د لمانځه په اخر کې دې سجده سهوه وکړل شي په دې شرط چې مقتديانو ته معلومه

١] ولو ادرک المؤتم الامام فی القيام بعد ماکبر کبر فی الحال برای نفسه لانه مسبوق ولوسبق برکعة يقرا ثم يکبرلئلا يتوالی التکبير فلو لم يکبرحتی رکع الامام قبل ان يکبوا المؤتم لايکبرفی القيام ولکن يرکع ويکبرفی الرکوع علی الصحيح (الدرالمختار مع الرد ج:٢ص:١٧٤باب العيدين)۔

٢] ان مشائخنا قالوا لاسجد للسهو فی العيدين والجمعة لئلا يقع الناس فی الفتنة (عالمګيری ج:١ص:١٢٨)

شي چې سجده سهوه شروع ده[1] او که د مجمعې د زياتيدو له وجې نه د وراني ويره وي: نو سجده سهوه دې هم پريښودل شي[2]

که د اختر په تکبيراتو کې ترې يو تکبير هير شي؛ نو د لمانځه حکم

سوال: که د اختر په ورځ د اختر په لمانځه کې د شپږو زياتي تکبيرونو نه يو تکبير هير شي او په اول رکعت کې د درې تکبيرونو په ځاى دوه تکبيرونه ووايي: نو ايا د اختر دا لمونځ به وشي؟ په تفصيل سره وليکئ.

جواب: د اختر شپږ تکبيرونه واجب دي، که هغه هير شي؛ نو سجده سهوه واجبيږي[3]، فقهاء فرمايي چې په جمعه او اخترونو کې چې کله مجمع زياته وي او په سجده سهوه کولو سره د انتشار پيدا کيدو ويره وي؛ نو په دې صورت کې دې سجده سهوه هم پرېښودل شي.[4]

چې د اختر لمونځ يو امام وکړي او خطبه بل څوک ورکړي؛ نو څه حکم دى؟

سوال: يو امام د اختر لمونځ ورکوي، خطبه بل څوک لولي، دا څنګه ده؟

جواب: جائز ده.[5]

له خطبې پرته د اختر د لمانځه حکم

سوال: که يو امام د اختر د لمانځه خطبه لوستل هير کړي يا يې ونه وايي؛ نو ايا د اختر لمونځ به يې وشي؟ که وشي؛ نو د خطبې د پريښودلو څه حکم دى؟

جواب: د اختر خطبه سنت ده، له دې وجې اختر د سنت خلاف شو.[6]

---

[1] ومنها تكبيرات العيدين قال:فى البدائع اذا تركها......فانه يجب عليه السجود..الخ (ايضًا:ج:١ص:١٢٨)

[2] والمختارعند المتاخرين ان لايسجد للسهو فى الجمعة والعيدين لتوهم الزيادة من الجهال كذا فى السراج وغيره بحروليس المراد عدم جوازه بل الاولى تركه كيلا يقع الناس فى فتنة ابوسعود عن العزمية ومثله فى الايضاح لابن كمال (ردالمحتار ج:٢ص:١٥٧باب الجمعة ،مطلب فى شروط وجوب الجمعة)_

[3] ومنها تكبيرات العيدين قال: فى البدائع اذا تركها.......فانه يجب عليه السجود ..الخ(ايضًا:ج:١ص:١٢٨)

[4] ان مشائخنا قالوا لاسجد للسهو فى العيدين والجمعة لئلا يقع الناس فى الفتنة (عالمگيرى ج:١ص:١٢٨) ايضاً:ومنها تكبيرات العيدين قال:فى البدائع اذا تركها.....فانه يجب عليه السجود .الخ(ايضًا:ج:١ص:١٢٨)

[5] وفى القنية واتحاد الخطيب والامام ليس بشرط على المختار هر وفى الذخيرة لوخطب صبى عاقل وصلى بالغ جازلكن الاولى الاتحاد كما فى شرح الآثار(مراقى الفلاح مع حاشية طحطاوى ص:٢٧٦طبع ميرمحمدكتب خانه)

[6] فانها (اى الخطبةُ) سنة بعد الصلاة وتجوز الصلاة بدونها وان خطب قبل الصلاة جاز ويكره (عالمگيرى ج:١ص:١٥٠الباب السابع عشرفى صلاة العيدين)٠وفى المراقى (ص:٢٨٨)فتصح صلاة العيدين بدونها اى الخطبة لكن مع الاشارة لترک السنة)_

دا اختر په لمانځه کې خطبه، دعا او غاړه ورکول

سوال: ایا په اختر کې غاړه ورکولو سره ملاویدل سنت دي؟

جواب: دا سنت نه دي، یوازې د خلکو جوړ شوی رسم دی، دا د دین خبره ګڼل او نه کونکو باندې ملامتیا ویل بدعت دی.[1]

سوال: خطبه د اخترله لمانځه مخکې لوستل کیږي او که لمانځه نه وروسته؟ دعا د لمانځه نه وروسته که خطبې نه وروسته کول پکار دي؟

جواب: د اختر خطبه د لمانځه نه وروسته وي[2] دعا ځینې خلک د لمانځه نه وروسته کوي او ځینې د خطبې نه وروسته د دواړو ګنجائش شته د رسول الله ﷺ صحابه کرامو او د امت د فقهاء کرامو نه په دې باره کې څه نقل نه دي.

دا اختر د لمانځه نه پاتې کیدونکی سړی به څه کوي؟

سوال: که یو سړی د وړوکي اختر یا لوی اختر لمونځ د جمعې سره ونه کړای شي: نو ایا هغه په کور کې دا لمونځ ادا کولی شي؟ یا ددې لمانځه په بدل کې یو سړي ته خوراک وغیره ورکړل شي؛ نو ایا لمونځ به پوره شي او که نه؟

جواب: د اختر دلمانځه قضاء نه شته،[3] نه ددې څه کفاره ادا کیدای شي، یوازې استغفار دې وشي.

د لوی اختر په ورځو کې د تکبیرات تشریق حکم

سوال: تکبیرات تشریق به کله لوستل کیږي؟

جواب: د ذی الحجې په نهم تاریخ د سهارنه تر د دیارلسم تاریخ د مازدیګر پورې د هر لمانځه نه وروسته هر بالغ سړي او ښځې باندې تکبیرات تشریق واجب دي، تکبیر تشریق دادي چې په لږ اوچت (لوړ) اواز سره دا تکبیرونه ولوستل شي: "**الله اکبر، الله اکبر، لا اله الا الله، والله اکبر، الله اکبر، ولله الحمد**".[4]

۱] انه تکره المصافحة بعد اداء الصلاة بکل حال......الخ (شامی ج:٦ص:٣٨١)ایضًا: بانها (البدعة) ما احدث علی خلاف الحق الملتقی عن رسول الله صلی الله علیه وسلم من علم اوعمل اوحال بنوع شبهة واستحسان وجعل دینًاقویمًاوصراط مستقیمًا (ردالمحتارج:۱ص:٥٦٠ کتاب الصلاة)_

۲]اعلم ان الخطبة سنة وتاخیرها الی مابعدالصلاة سنة ایضًا (حاشیه الطحطاوی علی المراقی ص:٢٨٨باب العیدین)

۳]ولایصلیها وحده ان فاتت مع الامام ولوبالافساد اتفاقًا فی الاصح (شامی ج:۲ص:١٧٥)_

٤]وفی الدر:ویجب تکبیرالتشریق فی الاصح......صفته :الله اکبرالله اکبرلا اله الا الله والله اکبر الله اکبرولله الحمد ......عقب کل فرض ......من فجرعرفة وآخره الی عصرالعید....[بقیه حاشیه په راروانه صفحه

تکبیرات تشریق په کومو ورځو کې لوستل کیږي؟

سوال: تکبیرات تشریق چې د عیدالاضحی په ورځو کې لوستل کیږي، د نهم تاریخ نه ترد دیارلسم تاریخ د مازدیګره پورې، مثلاً: په نهم تاریخ باندې هفته ده: نودهفتې دسهار د لمانځه نه واخله ترد چارشنبې د مازدیګره پورې، یعنې د مازدیګر دلمانځه نه وروسته هم تکبیرات تشریق لوستل پکار دي؟

جواب: بالکل! د نهم تاریخ دسهار نه د دیارلسم تاریخ ترمازدیګر پورې تکبیرات تشریق لوستل کیږي.[١]

ایا د جُمعې په ورځ اختر په مسلما نانو بوج وي؟

سوال: د تیرو څو ورځو نه دا مسئله د بحث لاندې ده چې د جُمعې د ورځې اختر په حاکم یا په عوامو باندې ډیر بوج وي؟

جواب: د قرآن اوحدیث او د مشرانو د ارشاداتو نه ددې خیال څه سند نه پیداکیږي، له دې وجې دا خیال غلط او وهم پرستي ده، جُمعه په خپله اختردی اوکه د جُمعې په ورځ اختر هم شي؛ نوګویا په اختر کې اخترشو، الله دې نه کړي چې کله اخترهم دمسلمانانوله پاره درونډ شي.

په اختر کې د غیر مسلم سره د اختر مبارکي څنګه ده؟

سوال: په اختر کې که د یو خاص غیر مسلمې فرقې کسان د اخترمبارکي له پاره زمونږ طرف ته رامخکې شي؛ نو ایا مونږ هغوی سره اخترمبارکي کولای شو؟

جواب: اخترمبارکي د دوستي علامه ده او د الله پاک د دښمنانو سره دوستي حرامه ده؛ ځکه د دښمن دوست هم دښمن وي.[٢]

...بقیه د تیر مخ]..وقالا بوجوبه فورکل فرض مطلقًا ولومنفردًا اومسافرًا اوامراة لانه تبع للمكتوبة ......وعليه الاعتماد ......الخ وفى الشرح :لانه تبع للمكتوبة فيجب على كل من تجب عليه الصلاة المكتوبة بحر (الدرالمختارمع ردالمحتارج:٢ص:١٨٠باب العيدين ،ايضًا عالمگيرى ج:١ ص:١٥٢، البحرالرائق ج:٢ص:١٧٩)_

١] واما وقته فاوله عقيب صلاة الفجرمن يوم عرفة وآخره فى قول ابى يوسف ومحمد رحمهما الله تعالى عقيب صلاة العصرمن آخرايام التشريق ،هكذا فى التبيين والفتوى والعمل فى عامة الامصاروكافة على قولهما (عالمگیری ج:١ص١٥٢،الباب التاسع عشرفى صلاة العيدين)

٢] يايها الذين امنوا لا تتخذوا اليهود والنصرى اولياء بعضهم اولياء بعض ،ومن يتولهم منكم فانه منهم ،ان الله لايهدى القوم الظالمين ،،(المائدة ٥١) يايها الذين امنوا لاتتخذوا عدوى وعدوكم اولياء تلقون اليهم بالمودة وقد كفروا بما جاءكم من الحق ،،(الممتحنة:١)_

د اختر په ورځ (ماشوما نو ته) د پیسو ورکولو رسم

سوال: د اختر په ورځ (ماشومانو ته) د پیسو ورکولو رسم جائز دی او که نه؟ او ایا ورکونکي باندې به څه ګناه نه وي؟

جواب: د اختر په ورځ که پیسې ورکول اسلامي عبادت یا سنت نه ګڼل کیږي اویوازې د خوشالي نه داسې کیږي؛ نو په دې کې هیڅ باک نه شته.

❖ د تراویح لمونځ ❖

د تراویحو شروع له کوم وخت نه وشوه؟

سوال: د تراویحو شروع له کوم وخت نه وشوه؟ ایا دشل رکعته تراویحو لمونځ کول افضل دي؟

جواب: د تراویحو شروع، خود حضور ﷺ نه وشوه، مګر حضور ﷺ له دې ویرې چې چیرته فرض نه شي، د دریو ورځونه زیات له جمعې سره ونه کړلې، صحابه کرامو ﷺ به یوازې یوازې اداکولې، کله دوه دوه او څلور و څلور وکسانو به جمعې سره هم کولې، د حضرت عمر ﷺ په زمانه کې د عامې جمعې رواج شو اوله هغه وخت نه د تراویح شل رکعته راروانې دي او شل رکعته تراویح سنت موکد دي.[1]

د روژې او تراویحو په خپل مینځ کې څه تعلق دی؟

سوال: د روژې او تراویحو په خپل منیځ کې څه تعلق دی؟ ایا د روژې نیولو له پاره ضروري ده چې تراویح وکړل شي؟

جواب: د رمضان المبارک په میاشت کې دورځې عبادت روژه ده او د شپې عبادت (تراویح) او په حدیث شریف کې د دواړو د اداکولو حکم ورکړل شوی دی، ارشاد دی:

جعل الله صیامه فریضة وقیام لیلة تطوعاً.(مشکوة ص:۱۷۳) **ترجمه:** الله تعالی د دې میاشتې مبارکې روژې فرض کړي دي او د شپې قیام یې نفلي عبادت جوړ کړی دی.

١] الاصل فيه ماروى ان النبى صلى الله عليه وسلم خرج ليلة فى شهر رمضان فصلى بهم عشرين ركعة ،واجتمع الناس فى الثانية فخرج فصلى بهم فلماكانت الثالثة كثرالناس فلم يخرج ،وقال عرفت اجتماعكم لكنى خشيت ان يفترض عليهم فكان الناس يصلونها فرادى الى ايام عمربن الخطاب رضى الله عنه ،ثم تقاعدوا عنها فراى ان يجمعهم على امام واحد فجمعهم على ابى بن كعب ،وكان يصلى بهم خمس ترويحات يجلس بين كل ترويحتين فكانت جملتها عشرين ركعة (شرح العناية على هامش فتح القدير ج:١ص:٣٣٤وايضًا الاختيار لتعليل المختار ج:١ص:٦٨،وايضًا الفقه الحنفى وادلته ج:١ص:٢٤٢دزيات تفصيل دپاره :نماز مسنون كلان، تاليف: مولانا عبدالحميد سواتى رحمه الله، اوګورئ!)ـ

ددې له وجې دواړه عبادتونه کول ضروري دي، روژه فرض ده او تراويح سنت مؤکده دي.[1]

ايا له رمضان پرته تراويح د تهجدو لمانځه ته ويل شوي؟

سوال: اياغيررمضان کې تراويح، دتهجدولمانځه ته ويل شوي دي؟ اودا دتهجدولمونځ څورکعته دي؟ دقرآن اوحديث په رڼا کې جواب راکړئ!

جواب: تهجدبيل لمونځ دی، چې په رمضان اوغيررمضان دواړوکې مسنون دی، تراويح يوازې درمضان عبادت دی، تهجداوتراويح ته يو لمونځ نه شي ويل کيدای[2]دتهجدو رکعتونه دڅلورونه تردولسو پورې دي درميانه درجه داتورکعتوده، ددې له وجې اتو رکعتوته ترجيح ورکړل شوې ده[3]لس او دولس رکعتو پورې هم ثبوت شته.

کوم کس چې د روژې طاقت نه لري هغه دې هم تراويح وکړي

سوال: که يوکس دناروغي له وجې درمضان روژې ونه نيسي؛ نوهغه څه وکړي؟ اوداهم وفرمايئ چې د داسې کس ددتروايح به څه کيږي هغه تراويح وکړي اوکه نه؟

جواب: کوم کس چې د ناروغي له وجې دروژونيوطاقت نه لري، هغه ته د روژو نه نيولواجازه ده، د تندرست کيدونه وروسته دې دروژو قضا راوړي[4]اوکه ناروغي داسې وي چې دهغې نه دښه کيدو اميد نه وي، نو دهرې روژې په بدله کې دې دصدقه فطر د مقدار برابر فديه

١] عن ابى سلمة بن عبدالرحمان قال: حدثنى ابى ان رسول الله صلى الله عليه وسلم ذكرشهر رمضان فقال: شهركتب الله عليكم صيامه وسننت لكم قيامه ......الحديث (ابن ماجه ص:٩٤نسائى ج:١ ص:٣٠٨كتاب الصيام ،مسنداحمد ج:١ص:١٩١مستدرک حاکم ج:١ص:٤٤٠)_

٢]تفصيل دپاره اوګورئ: خيرالفتاوى ج:٢ص:٥٧٢الى ٥٧٨)_

٣]اقل التهجد ركعتان واوسطه اربع واكثره ثمان (شامى ج:٢ص:٢٥كتاب الصلاة ،مطلب فى صلوة الليل)، وايضًا وفى رواية :ان صلاته بالليل خمس عشرة ركعة كما قال النووى فى شرح مسلم فاكثره خمس عشرة بركعتى الفجر اهـ وفى آخرى سبع عشرة تردد فيهما المحدثون ،روى ابن المبارک من حديث طاوس مرسلاً :كان يصلى صلى الله عليه وسلم سبع عشرركعة من الليل اهـ آخرجه العراقى فى تخريج احاديث الاحياء وفى التلخيص (ص:١١٦) وفى حواشى المنذرى قيل اكثر ماروى فى صلاته الليل سبع عشرة وهى عدد ركعات اليوم والليلة اه (معارف السنن للعلامة البنورى ج:٤ص:١٣٣) بيان اكثر صلوته بالليل واقل ماثبت طبع المكتبة البنورية كراچى)_

٤]قال تعالى :شهر رمضان الذى فيه القرآن ......فمن شهد منكم الشهر فليصمه ومن كان مريضًا اوعلى سفرفعدة من ايام آخر،يريدالله بكم اليسر ولايريد بكم العسر ،،الآية (البقره :١٨٥) ايضًا: اومريض خاف الزيادة يوم العذر ......الفطر......وقضو لزومًا......الخ (درمختارمع الشامى ج:٢ص:٤٢٢فصل فى العوارض) ايضًا:قال ومن خاف ان تزاد عينه وجعًا اويزاد حمًا شدة الفطر وقضى ،وذالک لقول الله تعالى :ومن كان مريضًااوعلى سفرفعدة من ايام آخر، يقتضى ظاهره اباحة الافطارلكل مريض (شرح مختصر الطحاوى ج٢ ص٤٤٦، طبع دارالسراج بيروت)_

ورکوي[1] اوکه دتراويحو کولوطاقت لري: نوتراويح ضرورکول پکار دي، تراويح مستقل عبادت دی، دانه ده چې څوک روژې نيسي هم هغه دې تراويح کوي.[2]

تراويح جمعې سره کول څنګه دي؟

سوال: تراويح جمعې سره کول څنګه دي؟ که په جومات کې دجمعې سره ونه کړل شي: نوڅه ګناه خوبه نه وي؟

جواب: په رمضان شريف کې په جومات کې په جمعې سره تراويح کول سنت کفايه دي، که يوجومات دتراويح دجمعې نه خالي پاتې شي: نوټول محلې والابه ګناه ګاروي.[3]

دوترواوتراويحوثبوت

سوال: زموږ په کلي کې څه اهل حديث حضرات موجوددي چې هيمشه په لمونځ ګزارو کې دا واويلا کوي چې دوترو اوتراويحو په باره کې دنبی کريم ﷺ په حديث کې چيرته هم دشلو ذکر موجود نه دی، تراويح حضرت عمر رضی الله عنه ايجادکړي دي، موږته دحضور ﷺ په سنت باندې عمل کول ضروري دي، موږ تراوسه پورې شل رکعته تراويح کړي دي، هرکله چې زموږ دادعوه ده چې دصحابه کرامو رضی الله عنهم عمل دنبي ﷺ داحاديثوخلاف نه شي کيدای.

جواب: داهل حديث حضراتوځينې مسئلې عجيبه دي، چې په هغه کې دوی دټول امت مسلمه نه خلاف کړی ، په هغو کې يوه ددريو طلاقو مسئله ده، دحضرت عمر رضی الله عنه نه واخله تر جمهورامت اوائمه اربعه مسلک دی چې په يومجلس کې درې طلاقه به هم درې طلاقه شماريږي[4]خو شيعه ګانو اواهل حديث ته په دې مسئله کې دامت مسلمه سره اختلاف دی،دويمه مسئله دشل رکعته تراويحو ده، دحضرت عمر رضی الله عنه ددورنه واخله ترنن پورې په ټولوجوماتونوکې شل رکعته تراويح کيږي اوټول امامان دکم نه کم په شلو رکعتونو باندې متفق دي، هرکله چې اهل حديثو ته په دې کې اختلاف دی.[5]

١]المريض اذا تحقق الياس من الصحة فعليه الفدية لكل يوم من المرض اه (شامی ج:٢ص:٤٢٧)_

٢] (التراويح سنة موكدة)لان النبى صلى الله عليه وسلم اقامها فى بعض الليالى ،وبين العذر فى ترك المواظبة وهو خشية ان تكتب علينا وواظب عليها الخلفاء الراشدون وجميع المسلمين من زمن عمربن الخطاب الى يومنا هذا ......الخ (الاختيارلتعليل المختار ج:١ص:٦٨كتاب الصلاة باب النوافل)_

٣] قال بعضهم انها سنة على سبيل الكفاية اذا قام بها بعض اهل المحلة فى المسجد بجماعة سقط عن الباقين ولو ترك اهل المسجدكلهم اقامتها فى المسجد بجماعة فقداساوا واثموا(بدائع الصنائع ج:١ص:٢٨٨كتاب الصلاة)

٤](قوله ثلاثة متفرقة) ......وذهب جمهورالصحابة والتابعين ومن بعدهم من ائمة المسلمين الى انه يقع ثلاث (شامية ج:٣ص:٢٣٣كتاب الطلاق ،طبع ايچ ايم سعيد)_

٥] واكثر اهل العلم على ماروى عن على وعمر وغيرهما من اصحاب النبى صلى الله عليه وسلم عشرين ركعة وهو قول سفيان الثورى وابن المبارك والشافعى وقال الشافعى....[بقيه حاشيه په راروانه صفحه

اته رکعاته تراويح کول څنګه دي؟

سوال: اوس هرکله چې درمضان مياشت ده اوپه رمضان کې تراويح هم کيږي، زموږ کورواله وايي چې تراويح دشل رکعته نه کمې نه دي کول پکار، هرکله چې ډيرخلک وايي چې اته رکعته تراويح هم جائزدي او دولس هم جائزدي، اوس تاسووواييئ چې ايا اته رکعته تراويح کول جائزدي اوکه نه؟

جواب: دحضرت عمر رضي الله عنه دزمانې نه واخله تراوسه پورې شل رکعته تراويح را روانې دي اوپه دې مسئله کې دهيڅ امام اومجتهد اختلاف نه شته، ټول دشلوقايل دي، البته اهل حديث حضرات اته کوي، نوکوم کس چې ددې مسلک وي هغه دې اته کوي، مګر د نورو مسلمانانو له پاره اته رکعته کول صحيح نه دي، ګنې دسنت موکده پريښودنکې به شي اودترک سنت عادي ګڼل ګناه ده.[1]

د تراويح په سنت رسول کيدو باندې اعتراض غلط دی

سوال: دتراويح لمونځ دشريعت مطابق درسول الله ﷺ سنت دی، خو ماچې دجسټس (قاضي) قديرالدين احمدصاحب (ريټايرډ) يومضون په عنوان ،،دورحاضراوراجتهاد،، تاريخ (۲-۷-۱۹۸۵)،نوائې وقت کراچي ولوست؛ نوحيران شوم، چې دتراويح دلمانځه شروع تراجتهاد لاندې حضرت عمر رضي الله عنه کړې وه،که داصحيح وي؛ نوتاسو وواييئ چې دتراويح لمونځ درسول الله ﷺ سنت څنګه شو؟

جواب: دتراويح لمونځ ته اجتهادويل دجسټس (قاضي) صاحب غلط اجتهاد دی، دتراويح د لمونځ ترغيب په خپله دحضور ﷺ نه ثابت دي[2] او تراويح په جمعې سره کول هم د حضور ﷺ نه ثابت دي، خو ددې ويرې نه چې چيرته په امت باندې فرض نه شي، حضور ﷺ د جمعې اهتمام ترک کړ اوحضرت عمر رضي الله عنه په زمانه کې ددې ويره پاتې نه وه،ځکه هغه دجمعې سنت

...بقيه د تير مخ].. وهكذا ادركت ببلدنا مكة يصلون عشرين ركعة ......الخ (جامع الترمذى ج:۱ ص:۹۹ باب ماجاء فى قيام شهر رمضان ،طبع رشيديه دهلى)۔

۱] وفى ردالمحتار:لكن فى التلويح ترک السنة المؤكدة قريب من الحرام يستحق حرمان الشفاعة لقوله عليه الصلاة والسلام من ترک سنتى لم ينل شفاعتى اه • وفى التحرير ان تاركها يستوجب التضليل واللوم اه. والمراد ترک بلا عذرعلى سبيل الاصراركما فى شرح التحرير لابن اميرالحاج....الخ (ردالمحتار ج:۱ ص:۱۰٤مطلب فى السنة وتعريفها)

۲]كان رسول الله صلى الله عليه وسلم يرغب فى قيام رمضان من غير ان يامرهم فيه بعزيمة.فيقول:من قام رمضان ايمانًاواحتسابًاغفرله ماتقدم من ذنبه •فتوفى رسول الله صلى الله عليه وسلم والامرعلى ذالک (جامع الاصول ج:۹ص:۴۳۹ بروايت: بخارى، مسلم، ابوداود، ترمذى، نسائى، موطا)۔

جاري کړل.[1]

ددې نه پرته دخلفاء راشدينو رضي الله عنهم داقتداء لازم کيدل د شريعت يومستقل اصل دی اوکه بالفرض دتراويحو لمونځ دحضرت عمر رضي الله عنه په اجتهادسره شوی وی؛ نو ټولوصحابه کرامو په اتفاق سره قبول کړاوخلفاء راشدينوپرې عمل وکړ، ددې نه وروسته دهيڅ يوکس له پاره داجماع صحابه اوسنت خلفاءراشدينو د مخالفت ګنجائش پاتې نه دی، همدغه وجه ده چې داهل حق نه يوکس هم دتراويح دسنت کيدونه منکرنه دی.[2]

دشل رکعاته تراويحو ثبوت د صحيح حديث نه

سوال: دشلو رکعتوتراويح ثبوت دصحيح حديث په حوالې سره وليکئ!

جواب: موطاامام مالک رحمه الله **باب ماجاء في قيام رمضان** ..کې ديزيدبن رومان رحمه الله نه روايت دی: ،،**كان يقومون فى زمان عمر بن الخطاب فى رمضان بثلث وعشرين ركعة**.،،

اوامام بيهقي رحمه الله ،(ج:۲ص۲۹۶)[3] دحضرت سائب بن يزيد صحابي رضي الله عنه نه په صحيح سندسره نقل کړی دی.(نصب الرايه:جلد۲ص ۱۵٤)[4]

ددې حديثونونه ثابته شوه چې دحضرت عمر رضي الله عنه دزمانې نه دشلو رکعتوتراويح معمول راروان دی اودغه نصاب دالله تعالى او دهغه درسول ﷺ په نزدمحبوب اوغوره دی، له

۱] والاصل فيه ماروى ان النبى عليه الصلوة السلام خرج ليلة فى شهر رمضان ،فصلى بهم عشرين ركعة ،واجتمع الناس فى الثانية فخرج فصلى بهم ،فلماكانت الثالثة كثرالناس فلم يخرج ،وقال :عرفت اجتماعكم ،لكنى خشيت ان يفترض عليهم فكان الناس يصلونها فرادى الى ايام عمربن الخطاب رضى الله عنه ،ثم تقاعدوا عنها فراى ان يجمعهم على امام واحد فجمعهم على ابى بن كعب ،وكان يصلى بهم خمس ترويحات يجلس بين كل ترويحتين فكانت جملتها عشرين ركعة (شرح العناية على هامش فتح القدير ج:۱ ص:۳۳٤ وايضًا: الاختيار لتعليل المختارج:۱ص:٦٨)۔

۲] عن العرباض بن سارية رضى الله عنه قال:صلى بنا رسول الله صلى الله علية وسلم ثم اقبل علينابوجهه فقال ......فانه من يعش منكم بعدى فسيرى اختلافًا كثيرًا ،فعليكم بسنتى وسنة الخلفاء الراشدين المهديين تمسكوا بها وعضوا عليها بالنواجذ! واياكم ومحدثات الامور!فان كل محدثة بدعة وكل بدعة ضلالة۔ رواه احمد وابوداود والترمذى وابن ماجة (مشكوة ص:۳۰ باب الاعتصام بالكتاب والسنة)۔

۳] عن السائب بن يزيد قال:كانوا يقومون على عهد عمربن الخطاب رضى الله عنه فى شهر رمضان بعشرين ركعة عن يزيد بن رومان قال كان الناس يقومون فى زمن عمربن خطاب رضى الله عنه فى رمضان بثلاث وعشرين ركعة ويمكن الجمع بين الروايتين فانهم كانوا يقومون باحدى عشرة ثم كانوايقومون بعشرين ويوترون بثلاث ،والله اعلم (سنن بيهقى ج:۲ص:٤٩٦ كتاب الصلاة)۔

٤] رواه البيهقى فى..المعرفة...عن السائب بن يزيد،قال:كنانقوم فى زمن عمربن الخطاب بعشرين ركعة والوتر، انتهى قال النووى فى الخلاصة ،،اسناده صحيح (نصب الراية ج:۲ص:۱۵٤ كتاب الصلاة ،طبع دارالمعرفة)

دې وجې صحابه کرامو رضی الله عنهم خصوصاً خلفاء راشدینو په باره کې دا بدګماني نه شي کیدای چې هغوی ددین په معامله کې په څه داسې خبره متفق کیدای شي چې دالله تعالی اودرسول الله ﷺ د منشاء خلاف وي.

حضرت حکیم الامت شاه ولي الله محدث دهلوي رحمه الله فرمايي:

,, ومعنی اجماع که برزبان علماء دین شنیده باشی این نیست که همه مجتهدین لایشذ فرد در عصر واحد برمسئله اتفاق کنند،زیرا که این صورتي ست غیرواقع بل غیرممکن عادی،بلکه معنی اجماع حکم خلیفه است بچیزي بعدمشاوره ذوی الرای یابه غیرآن ،ونفاذ آن حکم تا انکه شائع شدودر عالم ممکن گشت .**قال النبی ﷺ علیکم بسنتی وسنة الخلفاء الراشدین من بعدی**.الحدیث،،(ازاله الخفاء ص:۲۶)

ترجمه:,, داجماع لفظ به تاسودعالمانوله خولې نه اوریدلی وي، ددې مطلب دانه دی چې په یوه زمانه کې ټول مجتهدین په یوه مسئله اتفاق وکړي اوپه دې شان دهغه نه یوهم بهرنه وي، ځکه چې داصورت نه یوازې چې واقع نه دی، بلکې عادتاهم ممکن نه دی، بلکې داجماع مطلب دادی چې خلیفه اواهل رایه حضرات په مشورې سره یاد مشورې نه پرته دڅه شي حکم وکړي اوهغه نافذکړي، تردې پورې چې هغه مشهورشي اوپه دنیاکې مستحکم شي، دحضور ﷺ ارشاد دی چې لازم ونیسئ زماسنت اوزمانه وروسته دخلفاء راشدینو سنت..

تاسو غوروکړئ چې په شلورکعتوتراویحوکې همدغه معامله راپیښه شوله، چې خلیفه راشدحضرت عمر رضی الله عنه دا اُمت په شلو رکعتو باندې راجمع کړ اومسلمانانودې اهتمام وکړ، تردې پورې چې دشاه صاحب الفاظ کې، ،شایع شده ودرعالم ممکن گشت، ،همدغه وجه ده چې اکابرو عالمانو له شل رکعته تراویحو څخه په ، ،اجماع، ،سره تعبیر کړی دی.

ملک العلماء کاساني رحمه الله فرمایي: ،،**ان عمر رضی الله عنه جمع اصحاب رسول ﷺ فی شهررمضان علی ابی بن کعب رضی الله عنه فصلی بهم فی کل لیلة عشرین رکعة ولم ینکر علیه احدفیکون اجماعامنهم علی ذالک**،،(بدائع الصنائع:ج۱ص۲۸۸،مطبوعه ایچ ایم سعید کراچی)

ترجمه: حضرت عمر رضی الله عنه درسول ﷺ صحابه د روژې په میاشت کې دابی بن کعب رضی الله عنه په اقتدا باندې راجمع کړل اونوموړي به هغوی ته هره شپه شل رکعته تراویح کولې اوددې نه. چاانکارونه کړ؛ نو دهغوی له طرف نه په شلورکعتوتراویح باندې اجماع وشوه.،،

اوموفق ابن قدامة الحنبلي،المغنی (ج:۱ص۸۰۳) کې فرمایي: ،،**وهذا کالاجماع**،،اوهمدغه وجه ده چې ائمه اربعه (امام ابوحنیفه رحمه الله امام مالک رحمه الله ،امام شافعی رحمه الله ،اوامام احمدبن حنبل رحمه الله) په شلو رکعتو تراویح باندې متفق دي، څنګه چې دهغوی دفقهې دکتابونونه واضحه

ده[1]،دائمه اربعه اتفاق په خپله ددې خبرې دليل دی چې کوم مسائل دخلفاء راشدينونه په تواترسره منقول راروان دي اوزما رايه داده چې کوم مسائل دخلفاء راشدينونه مسلسل نقل دي او دهغه وخت نه واخله اوس وخت پورې امت محمديه ﷺ پرې عمل کول ثابت دي، ددې ثبوت ته دځه دليل يابرهان ضرورت نه شته، بلکې ددې متواترنقل اومسلسل عمل دسلو ثبوتونو نه يوثبوت دی، ,,آفتاب آمد دليلِ آفتاب،،

د شلورکعتو تراويحو د عين سنت کيدو پوره علمي بحث

سوال: زمونږ يودوست وايي چې دتراويحو اته رکعته هم سنت دي، ځکه چې په صحيح بخاري کې دي چې دحضرت عايشې رضي الله عنها نه کله پوښتنه وشوه، چې: دحضور ﷺ لمونځ به په رمضان کې څنګه و؟ نو هغې وفرمايل چې: حضور ﷺ به په رمضان اوغيررمضان کې د اتورکعتونه زيات نه کول اوداچې دحضرت جابر رضي الله عنه نه صحيح روايت دی چې حضور ﷺ اته رکعته تراويح اووترادا کړل.

ددې په خلاف چې کوم روايت دشلورکعتودکولونقل کيږي هغه په اتفاق سره ضعيف دی، هغه دادهم وايي چې حضرت عمر رضي الله عنه هم د يوولس رکعتوحکم کړی و، څرنګه چې موطاامام مالک رحمه الله کې دصائب بن يزيد رضي الله عنه نه روايت دی اوددې خلاف دشلو رکعتوچې کوم روايت دی اول خوصحيح نه دی اوکه صحيح هم وي؛ نوکيدای شي چې اول هغوی دشلورکعتودکولوحکم ورکړی وي بياچې کله ورته معلوم شوي و چې حضور ﷺاته رکعته کړي دي؛ نودسنت مطابق داتورکعتودکولوحکم يې ورکړی و، پ هرحال اته رکعته تراويح دحضور ﷺاودخلفاء راشدينو سنت دي، کوم کسان چې شل رکعته کوي هغوی دسنتوخلاف کوي، تاسووفرمايئ چې زمونږ ددوست داخبره ترکوم حده صحيح ده؟

جواب: ستاسو دوست دخپل موقف وضاحت کړی دی اوزه درته دخپل موقف وضاحت کوم، په دې کې کوم يوموقف صحيح دی؟ ددې فيصله په خپله وکړئ ، زه خپل تحريرپه څلوروبرخو تقسيموم:

(۱)....تراويح دنبي ﷺ په زمانه کې. (۲)....تراويح دعمرفاروق رضي الله عنه په زمانه کې.
(۳)....تراويح دصحابه کراماوتابعينوپه دورکې. (۴)....تراويح دڅلوروامامانوپه نزد.

۱:.....تراويح د نبي ﷺ په زمانه کې

حضور ﷺ په ګڼو احاديثو کې دقيام رمضان ترغيب ورکړی دی، دحضرت ابوهريره رضي الله عنه حديث دی:

۱]په آئنده جواب کښې د حضرت شهيدرحمه الله په قلم سره دڅلو امامانومذهب مدلل مفصل طورباندې اوګورئ)۔

،،كان رسول الله صلى الله عليه وسلم يرغب فى قيام رمضان من غيران يأمرهم فيه بعزيمة فيقول: من قام رمضان ايمانا واحتسابا غفرله ما تقدم من ذنبه. فتوفى رسول الله صلى الله عليه وسلم والامرعلى ذلک.ثم كان الامرعلى ذلک فى خلافة ابى بكروصدرًا من خلافة عمر،،۰ (جامع الاصول: ج۹،ص ٤٣٩ بروايت بخارى ومسلم ،ابوداود،ترمذى نسائى ومؤطا)

ترجمه: رسول ﷺ به دقيام رمضان ترغيب وركولو، له دې پرته چې قطعيت سره حكم وكړي اوفرمايل به يې: چاچې ايمان سره اودثواب په نيت سره درمضان قيام وكړ، دهغه تيرګناهونه معاف شول، دامعامله همدغه شان وه چې حضور ﷺ وفات شو، بيادحضرت ابوبكر صديق رضي الله عنه په دوركې همدغه صورت حال و اودحضرت عمر رضي الله عنه دخلافت په شروع كې هم.

اوبه يوبل حديث كې دي: ،،ان الله فرض صيام رمضان وسننت لكم قيامه.فمن صامه وقامه ايمانا واحتسابا خرج من ذنوبه كيوم ولدته امه،، (جامع االاصول:ج۹:ص ٤٤١بروايت نسائى)

ترجمه: بې شكه الله تعالى په تاسوباندې درمضان روژې فرض كړې دي اوماستاسوله پاره دې كې قيام سنت ګرځولى دى؛ نوچاچې دايمان دجذبې اودثواب په نيت سره صيام اوقيام وكړ، هغه به دخپلوګناهونونه داسې ووځي څنګه چې په كومه ورځ دخپلې موردخيټې نه پيداشوى و.

دحضور ﷺ نه دتراويحو لمونځ په جمعې سره اداكول دډيرواحاديثونه ثابت دي مثلا:

۱.....حديث عائشه رضي الله عنها، په كوم كې چې په درې شپوكې دلمونځ كولوذكردى، په لومړۍ شپه كې تردريمې برخې پورې، په دويمه شپه دنيمې شپې پورې، دريمه شپه كې ترسهار پورې، (صحيح بخارى:ج۲،ص ۳۶۹)[1]

۲.....حديث ابي ذر رضي الله عنه، په كوم كې چې د(۲۳)شپې دريمې برخې پورې، ۲۵شپې دنيمې پورې او په ۲۷شپه داول فجرپورې دقيام ذكردى.(جامع الاصول:ج:۶ص:۱۲۰ بروايت ترمذى،ابوداود،نسائى)[2]

۱] ان عائشة اخبرته ان رسول الله صلى الله عليه وسلم خرج ليلة من جوف الليل فصلى فى المسجد وصلى رجال بصلاته فاصبح الناس فتحدثوا فاجتمع اكثر منهم فصلى فصلوا معه فاصبح الناس فتحدثوا فكثراهل المسجد من الليلة الثالثة فخرج رسول الله صلى الله عليه وسلم فصلى فصلوا فلما كانت الليلة الرابعة عجز المسجد عن اهله حتى خرج لصلوة الصبح فلما قضى الفجراقبل على الناس فتشهد ثم قال:امابعد فانه لم يخف على مكانكم ولكنى خشيت ان تفترض عليكم فتعجزوا عنها۰فتوفى رسول الله صلى الله عليه وسلم والامرعلى ذالک (صحيح البخارى ج:۱ص:۲۶۹)ـ

۲] ابوذرالغفار رضى الله عنه قال: صمنامع رسول الله صلى الله عليه وسلم رمضان فلم يقم بناحتى بقى سبع من الشهر،فقام بناحتى ذهب ثلث الليل ،ثم لم يقم بنافى السادسة وقام بنا فى الخامسة حتى ذهب شطرالليل ......ثم لم يقم بناحتى بقى ثلاث ليال من الشهر ،فصلى بنا فى الثالثة ،ودعااهله ونسائـــه فقام بناحتى تخوفناالفلاح ،قلت :ومالفلاح ؟قال السحور (جامع ا لاصول ج:۶ص:۱۲۱،۱۲۰طبع دارالبيان بيروت)ـ

۳..... حديث نعمان بن بشير رضي الله عنه، ددې مضمون بعينه دحديث ابي ذر رضي الله عنه دی. (نسائی: ج۱: ص۲۳۸)[1]

۴.....حديث زيدبن ثابت رضي الله عنه ،په دې کې يوازې ديوې شپې ذکر دی.(جامع الاصول: ج:۶، ص:۱۱۹، بروايت بخاری و مسلم،ابوداود،نسائی.)[2]

۵.....حديث انس رضي الله عنه ،په دې کې هم ديوې شپې ذکردی.(صحيح مسلم:ج ۱ص ۳۵۲)[3]

خوحضور صلی الله علیه وسلم ددې په جمعې سره اداکولوباندې هميش والی ونه فرمايه اوددې ويرې اظهار يې وفرمايلو چې چيرته په تاسوفرض نه شي اوپه خپل ډول سره په کورونوکې دکولوحکم يې وفرمايلو.(حديث زيدبن ثابت رضي الله عنه وغيره)[4]

په رمضان المبارک کې به دحضور صلی الله علیه وسلم مجاهده ډيره زياتېده، په خاص ډول اخري عشره کې خوبې دټولې شپې قيام معمول و، په يو ضعيف روايت کې داهم راغلي دي چې دحضور صلی الله علیه وسلم په لمونځونو کې به اضافه وشوله.(فيض القديرشرح جامع الصغير ج۵،ص ۱۳۲ وفيه عبدالباقی بن قانع،قال الدارقطنی،يخطی کثيرا)[5]

په هيڅ يوصحيح روايت کې دانه راځي چې حضور صلی الله علیه وسلم په رمضان المبارک کې دتراويح دلمونځ جماعت کړی دی، په هغې کې يې څومره رکعتونه وکړل، دحضرت جابر رضي الله عنه نه نقل دي چې يوازې يوه شپه حضور صلی الله علیه وسلم اته رکعته وکړل.(مواردلظمان ص:۲۳۰، قيام الليل مروزی ص:۱۵۷ مکتبه سبحانيه، مجمع الزوائد ج:۳ ص:۱۷۲ بروايت طبرانی وابويعلی)[6]

۱] ابوطلحة قال:سمعت النعمان بن بشيرعلی منبرحمص يقول:قمنامع رسول الله صلی الله عليه وسلم فی شهررمضان ليلة ثلاث وعشرين الی ثلث الليل الاول ،ثم قمنامعه ليلة خمس وعشرين الی نصف الليل ،ثم قمنامعه ليلة سبع وعشرين حتی ظننا ان لا ندرک الفلاح وکانوا يسمونه السحور (نسائی ج:۱ص:۲۳۸باب قيام شهررمضان)۔

۲] زيد بن ثابت رضي الله عنه قال......وقال عبدالاعلی :فی رمضان ،فخرج رسول الله صلی الله عليه وسلم يصلی فيها قال:فتتبع اليه رجال ،وجاووا يصلون بصلاته ،قال:ثم جاووالیلة ،فحضروا (جامع الاصول ج:٦ص:١١٨)۔

۳] عن انس قال:کان رسول الله صلی الله عليه وسلم يصلی فی رمضان فجئت فقمت الی جنبه وجاء رجل فقام ايضًا حتی کنارهطا فلما حس النبی صلی الله عليه وسلم انا خلفه جعل يتجوز فی الصلوة ثم دخل رحله فصلی صلاة لايصليها عندنا (صحيح مسلم ج:۱ص:۳۵۲باب النهی عن الوصال ،طبع قديمی کتب خانه)۔

٤] زيدبن ثابت رضي الله عنه قال......فخرج اليهم رسول الله صلی مالله عليه وسلم مغضبا، فقال لهم :بما زال بکم صنيعکم حتی ظننت انه سيکتب عليکم فعليکم بالصلاة فی بيوتکم (جامع الاصول ج:٦ص:١١٨طبع دارالبيان)۔

٥] کان اذا دخل رمضان تغيرلونه ،وکثرت صلاته ،وابتهل فی الدعاء واشفق لونه (فيض القديرشرح جامع الصغيرج:٥ص:١٣٢حديث نمبر:٦٨١ ٢طبع بيروت)۔

٦] عن جابربن عبدالله رضي الله عنهما قال: صلی بنا .... [بقيه حاشيه په راروانه صفحه

مګرپه دې روایت کې عیسی بن جاریه متفرد دی، چې دا داهل حدیث په نزدضعیف اومجروح دی، دجرح اوتعدیل امام یحیی بن معین رحمه الله دده په باره کې فرمایي لیس بذاک..
یعنې هغه قوی نه دی اودا هم فرمایي،عنده مناکیر،، دهغه سره ډیرمنکر روایتونه دي، امام ابوداود او امام نسایي هغه ته ،،منکرالحدیث،، ویلي دي، امام نسایي هغه متروک ښودلی دی، ساجي اوعقیلي دهغه ذکرپه ضعفاوو کې کړی دی. ابن عدي رحمه الله فرمایي چې دهغه حدیثونه محفوظ نه دي.(تهذیب التهذیب ج:۸ ص ۲۰۷،میزان الاعتدال ج:۳ ص:۳۱۱)[۱]

خلاصه: داده چې داراوي په دې حدیث کې متفرد هم دی اوضعیف هم، ددې له وجې دا روایت منکردی اوبیاپه دې روایت کې یوازې دیوې شپې دواقعې ذکردی، هرکله چې داویره ده چې حضور صلی الله علیه وسلم دې اتو رکعتونو نه مخکې یاوروسته یوازې څومره رکعتونه کړي دي، څنګه چې دحضرت انس رضی الله عنه په روایت کې ذکردي.[۲]

(مجمع الزوائد ج:۳ ص:۱۷۳،بروایت طبرانی ،وقال رجاله رجال الصحیح)

دویم روایت: دمصنف ابن ابي شیبه رحمه الله،(ج:۲ ص ۳۹۴،اوسنن کبری بیهقی،ج:۲ ص:۴۹۲:مجمع الزوائد ج:۳ ص:۱۷۲) کې دحضرت ابن عباس **رضی الله عنهما** دی چې: حضور صلی الله علیه وسلم په رمضان کې شل رکعته او وتر کول،، مګرددې په سندکې ابوشیبه ابراهیم بن عثمان راوي کمزوری دی، ددې له وجې دا روایت دسندپه لحاظ سره صحیح نه دی[۳]مګرڅنګه چې مخکې به معلوم شي چې دحضرت عمر رضی الله عنه په زمانه کې دامت عمل ددې مطابق وشو.

دریم حدیث: دحضرت عایشې صدیقې رضی الله عنها دی، دکوم چې سوال کې حواله ورکړل شوې ده، مګرپه دې کې دتراویحو ذکرنه شته، بلکې دهغه لمونځ ذکردی چې په رمضان اوغیررمضان

...بقیه د تیر مخ]..رسول الله صلی الله علیه وسلم فی شهررمضان ثمانی رکعات واوتر (موارد الظمآن ج:۳ص:۲۲۶طبع بیروت)_

۱] عیسی بن جاریة الانصاری المدنی ....قال ابن ابی خیثمة عن ابن معین لیس بذالک .....وقال الدوری عن ابن معین عنده مناکیر......وقال الآجری عن ابی داود منکرالحدیث ......وذکر الساجی والعقیلی فی الضعفاء وقال ابن عدی احادیثه غیر محفوظة (تهذیب التهذیب لابن حجرج:۸ص:۲۰۸،میزان ج:۳ص:۳۱۱)

۲] عن انس رضی الله عنه: النبی صلی الله علیه وسلم کان یصلی بالیل فی رمضان ،فجاء قوم وصلی ،وکان یخفف ،ثم یدخل بیته فیصلی ،ثم یخرج فیخفف (مجمع الزوائد ج:۳ ص:۳۰۴باب قیام رمضان ،طبع دارالمعرفة بیروت)_

۳]عن ابن عباس رضی الله عنهما قال: کان النبی صلی الله علیه وسلم یصلی فی شهررمضان فی غیرجماعة بعشرین رکعة والوتر ،تفرد به ابوشیبة ابراهیم بن عثمان العبسی الکوفی وهوضعیف (سنن البیهقی واللفظ له ج:۲ ص:۴۹۶باب ماروی فی عدد رکعات القیام فی شهر رمضان ،ایضًا:مصنف ابن ابی شیبة ج:۲ص:۳۹۴مجمع الزوائد ج:۳ص:۳۰۴)_

کې همیشه کول کیږي[1] ددې له وجې دتراویحو درکعتونوپه تعین کې ددې نه هم مددنه ملاویږي.

حضرت شوکاني رحمه الله نیل الاوطارکې لیکي:

,,والحاصل ان الذی دلت علیه احادیث الباب ومایشا بهها هومشروعیة القیام فی رمضان والصلوٰة فیه جماعة وفرادی فقصر الصلوة المسماة بالتراویح علی عدد معین وتخصیصها بقراءة مخصوصة ولم یرد به سنة،، (نیل الاطار:ج ٤ص ٦٤).

ترجمه: حاصل داچې ددې باب حدیثونه اوددې په شان حدیثونه چې په کومه خبره دلالت کوي هغه داده چې په رمضان کې قیام کول اوباجماعت یایوازې کول مشروع دي؛ نوتراویح په څه خاص عددسره منحصرکول اوپه دې کې خاص مقداردتلاوتِ مقررول داسې خبره ده چې په سنت کې نه ده راغلي،،

۲.....دحضور ﷺ اوحضرت ابوبکرصدیق رضي الله عنه په زمانه کې د تراویحو باقاعده دجمعې اهتمام نه و، بلکې خلکوبه یوازې یادوړو، وړوتولګو په شکل کې اداکولې، دټولونه مخکې حضرت عمر رضي الله عنه دوی په یوامام باندې راجمع کړل.(صحیح بخاری ج۱:ص ۲۶۹،باب فضل من قام رمضان)[2]

اودا دخلافت فاروقي رضي الله عنه ددویم کال (۱۴هجري) واقعه ده.(تاریخ الخلفاء ص ۱۲۱،تاریخ ابن اثیر ج:۱ ص ۱۸۹)[3]

دحضرت عمر رضي الله عنه په زمانه کې به څومره رکعتونه کیدل؟ ددې ذکردحضرت سائب بن یزید صحابي رضي الله عنه په حدیث کې دي، حضرت سائب رضي الله عنه نه داحدیث درې شاګردان نقل کوي:

۱: حارث بن عبدالرحمان بن ابي ذباب. ۲: یزیدبن خصیفه.

۳: محمد بن یوسف، ددې درې واړو د روایت تفصیل په لاندې ډول دی:

(۱) دحارث بن عبدالرحمن روایت علامه عیني رحمه الله په شرح بخاری کې دحافظ عبدالبرپه حوالې سره نقل کوي:

,,قال ابن عبدالبر: وروی الحارث بن عبدالرحمان بن ابی ذباب عن السائب بن یزید قال: کان

۱]عن ابی سلمة بن عبدالرحمن انه سال عائشة کیف کانت صلوة رسول الله صلی الله علیه وسلم فی رمضان؟ فقالت: ما کان یزید فی رمضان ولا فی غیره علی ا حدی عشرة رکعة یصلی اربعاً فلا تسال عن حسنهن وطولهن، ثم یصلی اربعاً ماتسال عن حسنهن وطولهن ،ثم یصلی ثلاثا ......الخ(بخاری ج:۱ص:۲۶۹باب فضل من قام رمضان)_

۲] عن عبدالرحمن بن عبدالقاری انه قال:خرجت مع عمربن الخطاب لیلة فی رمضان الی المسجد فاذا الناس اوزاع متفرقون یصلی الرجل لنفسه ویصلی الرجل فیصلی بصلاته الرهط ،فقال عمر:انی اری لوجمعت هولاء علی قاری واحدلکان امثل،ثم عزم فجمعهم علی ابی بن کعب (بخاری ج:۱ص:۲۶۹باب فضل من قام رمضان)

۳] ففی سنة اربع عشرة ......وفیها جمع الناس علی صلاة التراویح (تاریخ الخلفاء ص:۱۰۴،فصل فی خلافته رضی الله عنه)_

القيام على عهد عمر بثلث وعشرين ركعة.قال ابن عبد البر: هذا محمول على ان الثلث للوتر(عمدة القاری ج:۱۱ ص:۱۲۷)

ترجمه: ابن عبدالبر وايي چې حارث بن عبدالرحمان بن ابی ذباب دحضرت سائب بن يزيد رضی الله عنه نه نقل کړي دي چې: دحضرت عمر رضی الله عنه په زمانه کې به (۲۳)رکعته تراويح کيدلې.
ابن عبدالبر وايي چې په دې کې شل رکعته تراويح اودرې رکعته دوترو و.

۲.....دحضرت سائب دويم راوي يزيدبن خصيفه درې شاګردان دي: ابن ابي ذئب، محمدبن جعفراوامام مالک اودادرې واړه په اتفاق سره شل رکعته روايت کوي.

الف.....ابن ابی ذئب روايت امام بيهقي رحمه الله په سنن کبری دلاندينې سندسره مروي دی:

اخبرنا ابوعبدالله الحسين بن محمدالحسين بن فنجويه الدينوری بالدامغان، ثنا احمدبن محمدبن اسحاق السنی، انبانا عبدالله بن محمدبن عبدالعزيز البغوی، ثنا علی بن الجعد انبأنا ابن ابی ذئب عن يزيد بن خصيفة عن السائب بن يزيدقال:کانوا يقومون على عهدعمربن الخطاب رضی الله عنه فی شهر رمضان بعشرين رکعة،قال:وکانوا يقرءون بالمئين،وکانوا يتوکون على عصيهم فی عهدعثمان بن عفان رضی الله عنه من شدة القيام،،(سنن کبری:ج:۲ ص:۴۹۶)

(يعني ابن ابي ذئب ،يزيدبن خصيفه نه اوهغه دحضرت سائب رضی الله عنه نه روايت کوي چې دحضرت عمر رضی الله عنه په دورکې په رمضان کې خلکوشل رکعته کول اودحضرت عثمان رضی الله عنه په دور کې دشدت قيام له دوجې به يې په امساګانوباندې تکيه لګوله، ددې سندته امام نووي رحمه الله، امام عراقي رحمه الله اوحافظ سيوطي رحمه الله صحيح ويلې دي.
(اثارالسنن ص:۵۲۱ طبع مکتبه امداديه ملتان تحفة الاحوذی ج:۲ ص:۷۵)

ب.... دمحمدبن جعفرروايت دامام بيهقي رحمه الله په دويم کتاب معرفة السنن والا ثارکې د لاندينې سندسره مروي دی:

اخبرنا ابوطاهرالفقيه،ثنا ابوعثمان البصری،ثنا ابواحمد محمدبن عبدالوهاب، ثنا خالد بن مخلد، ثنا محمدبن جعفر حدثنی يزيدبن خصيفة عن السائب بن يزيدقال: کنا نقوم فی زمن عمر بن الخطاب بعشرين رکعة والوتر،،(نصب الراية:ج:۲ص:۱۵۴)

(يعني محمدبن جعفر، يزيدبن خصيفه نه اوهغه دسائب بن يزيد رضی الله عنه نه روايت کوي چې: موږ خلکوبه دحضرت عمر رضی الله عنه په زمانه کې شل رکعته او وترکول.،،

ددې سندته امام نووي رحمه الله په خلاصه کې، علامه سبکي رحمه الله په شرح منهاج کې اوعلامه علي قاري رحمه الله په شرح موطاکې صحيح ويلې دي.(آثارالسنن:ج:۲ص:۵۴،تحفة الاحوذی ج:۲ ص:۷۵)[1]

۱] واستدل لهم ايضاًبماروی البيهقی فی سننه عن السائب بن يزيد ....[بقيه حاشيه په راروانه صفحه

ج:... دیزیدبن خصیفه نه دامام مالک رحمه الله روایت حافظ رحمه الله په فتح الباري کې اوعلامه شوکاني رحمه الله په نیل الاوطار کې ذکرکړی دی.

حافظ رحمه الله لیکي: ،،وروی مالک من طریق یزیدبن خصیفة عن السائب بن یزید عشرین رکعة،، (فتح الباری ج: ٤ ص:٢۵٣ مطبوعه لاهور)

ترجمه: اوامام مالک رحمه الله نه یزیدبن خصیفه په طریق سره حضرت سائب بن یزید شل رکعته نقل کړي دي.

اوعلامه شوکاني رحمه الله لیکي: **وفی الموطا من طریق یزیدبن خصیفة عن السائب بن یزیدانها عشرین رکعة**،،(نیل اولاطار ج٣ ص:۵٣،مطبوعه عثمانیه ،مصر١٣۵٧ ھ)

مالک عن یزیدبن خصیفه عن السائب بن یزید،، سندبعینه په صحیح بخاري(ج:١ص:٣١٢) باندې موجودی، خودا روایت ماته دموطاپه موجوده نسخه کې ملاونه شو، ممکن ده چې دموطاپه څه نسخه دحافظ له نظرنه تیرشوي وي، یاپه غیرموطاکې وي اودعلامه شوکاني: **وفی الموطا**،، ویل دسهوې له وجې سره وي **فلیفتش**،،

٣:.....دحضرت سائب دریم شاګردمحمدبن یوسف په روایت کې دهغه دشاګردانوپه مینځ کې اختلاف شوی دی:

الف.....دامام مالک رحمه الله وغیره روایت دی چې حضرت عمر رضی الله عنه ابی اوتمیم داري ته دیولسو رکعتو کولو حکم ورکړی و، څنګه چې په موطاامام مالک رحمه الله کې دي.(موطا امام مالک ص:٩٨ مطبوعه نورمحمد کراچی)[1]

ب..... ابن اسحاق دهغوی نه ددیارلسوروایت کوي(فتح الباری ج:٤ ص:٢۵٤)[2]

ج :...اوداودبن قیس اودنورحضرات دهغوی نه دیویشتورکعتونقل کوي.(مصنف عبدالرزاق ج:٤ ص:٤٦٠)[3]

...بقیه د تیر مخ].. قال:کنانقوم فی زمان عمربن الخطاب بعشرین رکعة والوتر وصح اسناده السبکی فی شرح المنهاج وعلی القاری فی شرح الموطا (تحفة الأحوذی ج: ٢ص:٧۵ واللفظ للتحفة ،وایضًافی آثارالسنن ج:٢ص:۵٤طبع حقانیه ملتان)ـ

١] مالک عن محمد بن یوسف عن السائب ابن یزید انه قال:امرعمر بن الخطاب ابی بن کعب وتمیم االداری ان یقوماللناس باحدی عشرة رکعة (موطاامام مالک ص:٩٨طبع نورمحمد کتب خانه)ـ

٢٠] واخرج من طریقً محمد بن اسحاق حدثنی محمدبن یوسف عن جده السائب بن یزیدقال:کنانصلی زمن عمرفی رمضان ثلاث عشرة (فتح الباری ج:٤ص:٢۵٤طبع دارنشرالکتب الاسلامیة لاهور)ـ

٣] عبدالرزاق عن داود بن قیس وغیره عن محمد بن یوسف عن السائب بن یزید :ان عمر جمع الناس فی رمضان علی ابی بن کعب وعلی تمیمی الداری ،علی احدی وعشرین رکعة ،یقرون بالمئین وینصرفون عند فروع الفجر (باب قیام رمضان ،مصنف عبدالرزاق ج:٤ص:٢٦٠،طبع مکتبة رشیدیه کوئته)ـ

ددې تفصيل نه معلومه شوه چې دحضرت سائب دوه شاګردان اويزيدبن خصيفه اود يزيد درې شاګردان په دې متفق دي چې حضرت عمر رضی الله عنه په شلورکعتوباندې خلک راجمع کړي وو، هرکله چې دمحمدبن يوسف روايت مضطرب (شکي) دی، ځينې په دې کې يولس نقل کوي اوځينې ديارلس اوځينې يويشت داصول حديث په قاعدې سره مضطرب حديث دليل نه دی، لهٰذا دحضرت سائب رضی الله عنه حديث هماغه دی کوم چې حارث اويزيدبن خصيفه رضی الله عنه نقل کړی دی اوکه دمحمدبن يوسف مضطرب اومشکوک حديث په څه درجه کې قابل لحاظ وګڼل شي؛ نود دواړو ترمينځه د مطابقت هماغه صورت متعين دی کوم چې امام بيهقي رحمه الله ذکرکړی دی، په يولسو څو ورځې عمل وبيا استقرارپه شلوباندې وشو، امام بيهقي رحمه الله ددې دواړو روايتونودذکرکولونه وروسته ليکي:

،،ويمكن الجمع بين الروا يتين،فانهم كانوا يقومون باحدى عشرة ثم كانوا يقومون بعشرين ويوترون بثلث،،(سنن کبری ج۲ ص:۴۹۶)

ترجمه: په دواړوروايتونوکې مطابقت ممکن دی، ځکه چې هغو خلکواول يولس کول، ددې نه وروسته شل رکعته تراويح اودرې وتريې کول.

دامام بيهقي رحمه الله داقول چې په عهدفاروقي رضی الله عنه کې دصحابه کرامو اخري عمل.په کوم باندې چې استقرار وشو.شل رکعاته تراويح و، په دې باندې ګڼ شميرشواهدموجوددي:

اول.....امام مالک رحمه الله چې دمحمدبن يوسف نه ديولسوروايت نقل کوي په خپله دهغه خپل مسلک شل ياشپږديرش رکعته تراويح و، څنګه چې په څلورم بحث کې به راشي، ددې نه واضحه ده چې دا روايت په خپله دامام مالک په نزدهم مختاراو غوره نه دی.

دويم.....ابن اسحاق چې دمحمدبن يوسف نه ديارلس روايتونه نقل کوي هغه هم دشلوروايت ته اثبت (زيات قوي) وايي علامه شوکاني رحمه الله دشلوواله روايت لاندې دهغوی قول نقل کړی دی:

،،قال ابن اسحاق وهذا اثبت ما سمعت فى ذلك،، (شوكانى:نيل الاوطار:ج:۳ص:۵۳)

ترجمه: ابن اسحاق وايي چې: دتراويح درکعتونودتعدادپه باره کې چې ماڅه واوريدل په هغو دټولونه زيات ثابت همدغه تعداد دی.

دريم..... اوداچې دمحمدبن يوسف ديولسوواله روايت په تايدکې بل څه روايت موجودنه دی، هرکله چې دحضرت سائب بن يزيد رضی الله عنه دشلوواله روايت په تايدکې نورهم روايتونه موجوددي، لکه چې اول ديزيد بن رومان روايت دی:

،،كان الناس يقومون فى زمان عمربن الخطاب رضی الله عنه فى رمضان بثلاث وعشرون ركعة،،(موطا امام مالک رحمه الله،ص:۹۸ مطبوعه نورمحمدکراچی،سنن کبری ج:۲ ص:۴۹۶،قيام اليل ص:۹۱ طبع جديد ص:۱۵۷)

ترجمه: خلکو دحضرت عمر رضی الله عنه په زمانه کې (۲۳) رکعته کول،(شل تراويح اودرې وتر)،،

دا روایت دسند په لحاظ سره ډیرزیات قوي دی، مګرمرسل دی، ځکه چې یزیدبن رومان دحضرت عمر رضي الله عنه زمانه نه وه موندلې، البته حدیث مرسل (کله چې ثقه اولائق اعتبارسندسره مروي وي) امام مالک رحمه الله، امام ابوحنیفه رحمه الله، امام محمد رحمه الله اودجمهورو عالمانو په نزد مطلقا حجت دی، البته دامام شافعي رحمه الله په نزدباندې حدیث مرسل دحجت کیدودلیل له پاره داشرط دی چې دهغه تایدپه بل څه مسندیامرسل سره شوي وي، دیزیدبن رومان دزیربحث روایت تایدپه نوروګڼو روایاتوکې موجود دی، له دې وجې په اتفاق اهل علم حجت دی.

دابحث خوپه عام مراسیل بابونوکې و، دموطادمراسیلو په باره کې داهل حدیث فیصله داده چې هغه ټول صحیح دي.

امام الهندشاه ولي الله محدث دهلوي رحمه الله په حجة الله البالغه کې لیکي:

قال الشافعی اصح الکتب بعد کتاب الله موطا مالک واتفق اهل الحدیث علی ان جمیع مافیه صحیح علی رای مالک ومن وافقه واما علی رأی غیره فلیس فیه مرسل ولامنقطع الاقداتصل السند به من طریق آخری جرم انها صحیحة من هذا الوجه وقدصنف فی زمان مالک موطات کثیرة فی تخریج احادیثه ووصل منقطعه مثل کتاب ابن ابی ذئب وابن عیینة والثوری ومعمر.(حجة الله البالغه ج:۱ ص:۱۳۳ مطبوعه منیریه)

ترجمه: امام شافعي رحمه الله وایي چې کتاب الله نه وروسته اصح الکتب موطا امام مالک دی اواهل حدیثو په دې باندې اتفاق دی، چې په دې کې څومره روایتونه دي هغه ټول دامام مالک اودهغه دموافقینو په رایه صحیح دي اودنورو په رایه په دې کې مرسل اومنقطع روایت داسې نه شته چې په نوروطریقوسره دهغه سندمتصل نه وي؛ نوپه دې لحاظ سره هغه ټول په ټوله صحیح دي اودامام مالک په زمانه کې دموطادحدیثونودتخریج له پاره اوددې منقطع دمتصل ثابتولوله پاره ډیرې موطاګانې تصنیف شوې، لکه دابن ابی ذئب، ابن عیینه، ثوري اومعمرکتابونه.،،

اوبیاپه شلورکعتوباندې اصلي استدلال، خودحضرت سائب بن یزید رضي الله عنه دروایت نه دی، دکوم دصحیح کیدوتصریح چې تیره شوې ده اودیزیدبن رومان روایت بطورتایدبیان شوی دی.

۲.....دیحیی بن سعیدانصاري روایت دی چې:

،،ان عمربن الخطاب امررجلا ان یصلی بهم عشرین رکعة،،.(مصنف ابن ابی شیبه ج:۲ ص:۳۹۳)

ترجمه: حضرت عمر رضي الله عنه یوکس ته حکم ورکړ چې هغه دې خلکوته شل رکعته ورکوي.

دا روایت هم دسند په لحاظ سره قوي، مګرمرسل دی.

۳.....دعبدالعزیزبن رفیع روایت دی: **کان ابی بن کعب یصلی بالناس فی رمضان بالمدینة عشرین رکعة ویوتر بثلث**.(مصنف ابن شیبه ج:۲ ص:۳۹۳)

ترجمه: حضرت ابي بن کعب رضی اللہ عنہ به خلکوته په مدینه کې په رمضان کې شل رکعته تراویح اودرې وتر کول،،

۴.....د محمدبن کعب قرظي روایت دی چې: **کان الناس یصلون فی زمان عمربن الخطاب فی رمضان عشرین رکعة یطیلون فیها القراءة ویوترون بثلث**.(قیام اللیل ص:۹۱،طبع جدید ص:۱۵۷)

ترجمه: خلکوبه د حضرت عمر رضی اللہ عنہ په زمانه کې په رمضان کې شل رکعة کول او په هغه کې به یې اوږد قرات کولو اودرې وتربه یې کول،

داروایت مرسل دی او په قیام اللیل کې د دې سند نه دی ذکرشوی.

۵.....په کنزالعمال کې په خپله د حضرت ابي بن کعب رضی اللہ عنہ نه نقل دي چې:

ان عمربن الخطاب امره ان یصلی باللیل فی رمضان فقال: ان الناس یصومون النهار ولایحسنون ان یقراوا فلوقرات علیهم باللیل: فقال: یاامیر المومنین، هذاشئ لم یکن ،فقال: قدعلمت ولکنه حسن، فصلی بهم عشرین رکعة،،(کنزالعمال طبع جدیدبیروت ج:۸ ص:۴۰۹ حدیث :۲۳۴۷۱)

ترجمه: حضرت عمر رضی اللہ عنہ هغه ته حکم وکړ چې هغه دې په رمضان کې خلکوته دشپې لمونځ ورکوي ، حضرت عمر رضی اللہ عنہ وفرمایل چې: خلک د ورځې روژه نیسي، مګرپه ښې طریقې په لوستلو باندې نه پوهیږي؛ نوکاش،تادشپې دوی ته قرآن اورولی، ابي بن کعب ورته عرض وکړ: یا امیرالمومنین! دا یو داسې شی دی چې مخکې نه دی شوی، ویې فرمایل: داخوماته معلومه ده، خودابنه شی دی، ابي رضی اللہ عنہ خلکوته شل رکعته ورکول،...

څلورم:.....دپورتنوروایاتوپه رڼاکې اهل علم ددې قایل دي چې حضرت عمر رضی اللہ عنہ خلک په شلو رکعتو باندې راجمع کړل اوحضرات صحابه کرام رضوان الله اجمعین دهغه موافقت وکړ، ځکه چې داداجماع په شان و، دلته دیوڅواکابروارشادات ذکرکیږي:

امام ترمذي رحمہ اللہ لیکي: **واختلف اهل العلم فی قیام رمضان فرای بعضهم ان یصلی احدی واربعین رکعة مع الوتروهوقول اهل المدینة والعمل علی هذا عندهم بالمدینة واکثراهل العلم علی ماروی عن علی وعمروغیرهما من اصحاب النبی صلی الله علیه وسلم عشرین رکعة وهوقول سفیان الثوری وابن المبارک والشافعی،وقال الشافعی: وهکذا ادرکت ببلدنا بمکة یصلون عشرین رکعةً**،،(سنن ترمذی ج:۱ ص:۹۹)

ترجمه:.....په تراویحو کې داهل علم اختلاف دی، ځیني له وترو سره د یوڅلویښتوقایل دي، داهل مدینه همدغه قول دی اودهغوی په مدینه طیبه کې په دې همدغه شان عمل دی اواکثراهل علم د شلو رکعتوقایل دي، چې حضرت علي رضی اللہ عنہ ،حضرت عمر رضی اللہ عنہ اونورصحابه کرام رضی اللہ عنہم نه مروي دي، سفیان ثوري رحمہ اللہ ،عبدالله بن مبارک رحمہ اللہ اودشافعي رحمہ اللہ همدغه قول

دی، امام شافعي رحمة الله فرمايي چې ما په خپل ښار مکه کې خلک په شلورکعتوکولو باندې ليدلي دي،،
۲.....علامه زرقاني مالکي رحمة الله شرح موطاکې دابوالوليدسليمان بن خلف القرطبي الباجي المالکي (متوفی ۴۹۴هـ) نه نقل کوي: **قال الباجي: فامرهم اولا بتطويل القراءة لانه افضل. ثم ضعف الناس فامرهم بثلث وعشرين فخفف من طول القراءة واستدرک بعض الفضيلة بزيادة الرکعات.،**(شرح زرقانی علی الموطا ج:۱ ص:۲۳۹)
ترجمه: باجي رحمة الله وايي چې: حضرت عمر رضي الله عنه اول هغوی ته د اوږدو رکعتونو حکم ورکړی و اوهغه افضل دی، بيايې دخلکوکمزوري محسوس کړه؛ نود(۲۳)رکعتوحکم يې ورکړ، په اوږد قرأت کمي اوپه رکعتونوکې اضافه وکړله اودفضيلت تلافي يې وکړه.
،،قال الباجي: وکان الامر على ذلک الى يوم الحرة فثقل عليهم القيام فنقضوا من القراءة وزادوا الرکعات فجعلت ستا وثلاثين غير الشفع والوتر.،،(زرقانی شرح موطا ج:۱ ص:۲۳۹)
ترجمه: باجي رحمة الله فرمايي چې: يوم حره پورې دشلورکعتو دستور و، بيا په هغوی ولاړه ګرانه شوه؛ نوپه قرات يې کمي وکړ اوپه رکعتونو کې يې نوره اضافه وکړله اودوترونه پرته (۳۲)رکعته شول،،
۳.....علامه زرقاني رحمة الله داخبره دحافظ ابن عبدالبر رحمة الله (۳۶۸هـ، ۴۶۳هـ) ابومروان عبدالملک بن حبيب القرطبي المالکي رحمة الله (متوفي ۲۳۷هـ) نه نقل کړې ده.(زرقانی شرح موطا ج:۱ ص:۲۳۹)
۴.....حافظ موفق الدين ابن قدامه المقدسي الحنبلي رحمة الله (متوفي ۶۲۰هـ) په المغنی کې ليکي: ،،**ولنا ان عمر رضي الله عنه لما جمع الناس على ابي بن کعب کان يصلي لهم عشرين رکعة.**
ترجمه: زموږ دليل دادی چې حضرت عمر رضي الله عنه خلک په ابي بن کعب رضي الله عنه باندې راجمع کړل او نوموړي به هغوی ته شل رکعته کول،،
ددې سلسلې روايات او دا چې دحضرت علي رضي الله عنه داثر ذکرکولونه وروسته ليکي:
وهذا کالاجماع.،، **ترجمه:** اوداد صحابه داجماع په شان ده،،
بيا د مدينې والا په (۳۶)باندې دعمل په ذکرکې ليکي: **ثم لو ثبت ان اهل المدينة کلهم فعلوه لکان ما فعله عمر واجمع عليه الصحابة في عصره اولى بالاتباع.**
قال بعض اهل العلم انما فعل هذا اهل المدينة لانهم ارادوا مساواة اهل مکة، فان اهل مکة يطوفون سبعا بين کل ترويحتين فجعل اهل المدينة مکان کل سبع اربع رکعات، وما کان عليه اصحاب رسول الله صلى الله عليه وسلم اولى واحق.،،(ابن قدامه، المغنی مع الشرح الکبير ج:۱ ص:۷۹۹)

بیا که ثابته شي چې دمدینې ټولو خلکو (۳۶) رکعته کول؛ نو بیاهم چې کوم کار حضرت عمر رضي الله عنه وکړ او په کوم چې دهغه په دورکې صحابه رضوان الله اجمعین اجماع وکړله دهغوی پیروي کول به اولی وي.

ځینې اهل علم وویل چې: داهل مدینې مقصد په عمل کې د اهل مکې برابري کول و، ځکه چې اهل مکه به ددوترویحو په مینځ کې طواف کاو، اهل مدینه دطواف په ځای ددووترویحو مینځ کې څلور رکعتونه مقرر کړل، په هرحال درسول الله صلی الله علیه وسلم دصحابه وو چې کوم معمول و هماغه اولی او برحق دی،،

۵..... امام محي الدین نووي رحمه الله (متوفي ۶۷۷ هـ) په شرح مهذب کې لیکي: ،،**واحتج اصحابنا بمارواه البیهقی وغیره بالاسنادالصحیح عن السائب بن یزید الصحابی رضي الله عنه قال کانوا یقومون علی عهدعمربن الخطاب رضي الله عنه فی شهر رمضان بعشرین رکعة. الحدیث** (المجموع شرح مهذب ج: ٤ ص: ۳۲)

ترجمه:..... زموږ اصحابو ددې نه دلیل نیولی دی چې امام بیهقي رحمه الله او نورو حضراتو دسائب بن یزید صحابي رضي الله عنه نه په صحیح سندسره روایت کړی دی چې خلکو به دحضرت عمر رضي الله عنه په زمانه کې رمضان المبارک کې شل رکعته کول،،

مخکې دیزیدبن رومان رضي الله عنه دروایت ذکرکوي او دامام بیهقي رحمه الله تطبیق یې ذکرکړی دی او دحضرت علي رضي الله عنه اثر یې ذکرکړی دی او داهل مدینه په فعل باندې هماغه توجیه کړې ده چې ابن قدامه رضي الله عنه په عبارت کې تیره شوې ده.

۶..... علامه شهاب الدین احمدبن محمدقسطلاني شافعي رحمه الله (متوفي ۹۳۳ هـ) شرح بخاري کې لیکي: **وجمع البیهقی بینهما بانهم کانوا یقومون باحدی عشرة ثم قاموا بعشرین واوتروا بثلث وقدعدوا ماوقع فی زمن عمر رضي الله عنه کالاجماع**.،، (ارشادالساری ج: ۳ ص: ٤۲۶)

ترجمه: اوامام بیهقي رحمه الله دادواړه روایتونه داسې راجمع کړل چې هغه اول یولس کول او بیا یې شل تراویح اودرې وتر شروع کړل اودحضرت عمر رضي الله عنه په زمانه کې چې کوم دمعمول جاري شو هغه عالمانو په شان داجماع حساب کړ.

۷..... علامه شیخ منصوربن یونس بهوتي حنبلي (متوفي ۱۰۴۶ هـ) په کشف القناع عن متن الاقناع،، کې لیکي: ،،**وهی عشرون رکعة لماروی مالک عن یزیدبن رومان قال: کان الناس یقومون فی زمن عمر فی رمضان بثلث وعشرین رکعة...وهذا فی مظنة الشهرة بحضرة الصحابة فکان اجماعا**.،

(کشف القناع عن متن الاقناع ج: ۱ ص: ۳۹۲)

ترجمه: تراویح شل رکعته دي، امام مالک رحمه الله دیزید بن رومان رحمه الله نه نقل کړي دي چې خلکو دحضرت عمر رضي الله عنه په زمانه کې په رمضان کې (۲۳) رکعته کول....

او حضرت عمر رضی اللہ عنہ د صحابه وو په موجودګي کې د شلو حکم ورکول د عام شهرت موقع وه، د دې له وجې دا اجماع شوه..،
۸:.....مسند الهند شاه ولي الله محدث دهلوي رحمہ اللہ په حجة الله البالغه کې ليکي:
وزادت الصحابة ومن بعدهم فى قيام رمضان ثلثة اشياء: الاجماع له فى مساجدهم. وذلك لانه يفيد التيسير على خاصتهم وعامتهم، واداؤه فى اول الليل مع القول بان صلاة آخر الليل مشهودة وهى افضل كمانبه عمر رضی اللہ عنہ لهذا التيسير الذى اشرنا اليه، وعدده عشرون ركعة..،(حجة الله البالغه ج:۲ ص:۱۸) **ترجمه**:او صحابه کرام رضی اللہ عنہم او د هغوی نه وروسته حضراتو په قيام رمضان کې د درې شيانو اضافه وکړه:
۱:.....د تراويحو له پاره په جوماتونو کې را جمع کيدل، ځکه چې د دې سره عام او خاص ته آساني حاصليږي.
۲:...په اوله شپه کې اداکول، سره له دې چې په اخره شپه کې د فرشتو حاضري کيږي او هغه افضل دی، څنګه چې حضرت عمر رضی اللہ عنہ په دې باندې خبرداری وفرمايلو، مګر په اوله شپه کې اختيارول هم د دې اساني له پاره و، د کومې طرف ته چې موږ اشاره وکړه.
۳:.....د شلو رکعتو تعداد.

۲.....تراويح د صحابه کرامو رضی الله عنهم او تابعينو رحمهم الله په دور کې

د حضرت عمر رضی اللہ عنہ په زمانه کې د شلو رکعتو تراويح معمول شروع شو؛ نو وروسته هم د کم از کم شلو معمول و، د ځينو صحابه وو رضی اللہ عنہم او تابعينو نه د زياتو روايات خونقل دي؛ خو د چانه هم د اتو روايت نشته.
۱:.......د حضرت سائب رضی اللہ عنہ روايت پورته تيرشوی دی، چې په هغه کې هغوی د حضرت عمر رضی اللہ عنہ په زمانه کې د شلو د معمول ذکر کولو سره په همدې باره کې عهد عثماني رضی اللہ عنہ ذکر کړی دی.
۲:......د حضرت ابن مسعود رضی اللہ عنہ وفات د حضرت عثمان د زمانې په آخره کې وشو، هغوی به هم شل رکعاته کول.(قيام الليل ص:۹۱ طبع جديد ص:۱۵۷) [1]
۳.....**عن ابى عبدالرحمان السلمى عن على رضی اللہ عنہ انه دعا القراء فى رمضان فامر منهم رجلا يصلى بالناس عشرين ركعة وكان على يوتربهم..،** (سنن كبرى بيهقى ج:۲ ص:۴۹۶)
ترجمه:ابوعبدالرحمان سلمي وايي چې: حضرت علي رضی اللہ عنہ په رمضان کې قاريان راوغوښتل، په هغوی کې يوکس ته يې حکم وکړ چې شل رکعته وکړي، او وتر به حضرت علي رضی اللہ عنہ په خپله ورکول..،

۱] قال الاعمش كان عبدالله بن مسعود رضى الله عنه يصلى عشرين ركعة ويوتر بثلاث..الخ (قيام الليل ص:۹۱)

په دې سندکې په حمادبن شعيب باندې محدثينوکلام کړی دی،خوددې کڼې شميرګواهان موجوددي.
دابوعبدالرحمان سلمي داراويت شيخ الاسلام حافظ ابن تيميه رحمه الله په منهاج السنة کې ذکرکړی دی اوددې نه يې داستدلال کړی دی چې حضرت علي رضي الله عنه دحضرت عمر رضي الله عنه جاری شوې تراويح په خپل دورخلافت کې باقی وساتلې.(منهاج السنة ج:٤ ص:٢٢٤)[1]

حافظ ذهبی رحمه الله په ,,**المنتقى مختصرمنهاج السنة**(المنتقى ص:٥٤٢) کې دحافظ ابن تيميه رحمه الله دا استدلال له ردکولوپرته ذکرکړی دی، ددې نه واضحه ده چې ددوی دواړوپه نزد دحضرت علي رضي الله عنه په دورخلافت کې دشلورکعتوتراويحومعمول جاري و.

۴:...... **عن عمروبن قيس عن ابى الحسناء ان علياامررجلا يصلى بهم فى رمضان عشرين ركعة**(مصنف ابن ابى شيبه ج:٢ ص:٣٩٣)

ترجمه:عمروبن قيس،دابوالحسناء نه نقل کوي چې حضرت علي رضي الله عنه يوسړي ته حکم وکړچې خلکوته په رمضان کې شل رکعته ورکړي.،

۵:......**عن ابى سعدالبقال عن ابى الحسناء ان علي بن ابى طالب رضي الله عنه امررجلا ان يصلى بالناس خمس ترويحات عشرين ركعة وفى هذا الاسنادضعف**.،(سنن كبرى بيهقى ج:٢ ص:٤٩٥)

ترجمه:ابوسعدالبقال،دابوالحسناء نه نقل کوي چې حضرت علي رضي الله عنه يوکس ته حکم وکړ چې خلکوته پنځه ترويحې يعنې شل رکعته ورکړي،امام بيهقی رحمه الله فرمايي چې:ددې په سندکې ضعف دی.

علامه ابن الترکماني رحمه الله، الجواهرالنقي کې ليکي چې:ظاهره خو داده چې ددې دسند ضُعف دابوسعد بقال له وجې دی چې متکلم فيه راوي دی، خو دابن ابی شيبه روايت کوم چې پورته ذکر شو ددې متابع موجوددی،چې هغه سره دضعف تلافي کيږي.(ذيل سنن کبری ج:٢ ص:٤٩٥)

۶:......**عن شتيربن شكل وكان من اصحاب على رضي الله عنه انه كان يومهم فى شهررمضان بعشرين ركعة ويوتر بثلث**.،(سنن كبرى ج:٢ ص:٤٩٦،قيام الليل ص:٩١ طبع جديد ص:١٥٧)[2]

ترجمه: شتير بن شکل،چې دحضرت علي رضي الله عنه دصحابه وو څخه و،په رمضان کې خلکوته شل

١] وعن ابى عبدالرحمن السلمى ان عليًا دعا القراء فى رمضان فامر رجلاً منهم يصلى بالناس عشرين ركعة (منهاج السنة ج:٣ص:٢٢٤،طبع المكتبة السلفية لاهور) وفيه ايضًا:ان هذا لوكان فبيحًامنهيًا عنه لكان على ابطله لما صارامير المومنين وهو بالكوفة فلماكان جاريًا فى ذالک مجرى عمر دل على استحباب ذالک۔

٢] قلت :الاظهر ان ضعفه من جهة ابى سعد سعيدبن المرزبان البقال فانه متكلم فيه فان كان كذالک فقد تابعه عليه غيره قال ابن شيبة فى المصنف ثنا وكيع عن الحسن بن صالح عن عمرو بن قيس عن ابى الحسناء ان علياًامررجلاً يصلى بهم فى رمضان عشرين ركعة (ذيل سنن الكبرى ج:٢ص:٤٩٥طبع دارالكتب العلمية)۔

رکعته تراويح اودرې وتره لوستل.،،

امام بيهقي رحمه الله دا اثرنقل کړی دی، وفی ذلک قوة.،اوپه دې کې قوت دی،اوبيادې په تايدکې هغوی دعبدالرحمان سلمي ذکرکړی دی،چې پورته تيرشوی دی.[۱]

۷:.....عن ابی الخصيب قال:کان يومنا سويدبن غفلة فی رمضان فيصلی خمس ترويحات عشرين رکعة.،(سنن کبری ج:۲ ص:۴۹۶)

ترجمه:ابوالخصيب وايي چې :سويدبن غفله موږ ته په رمضان کې لمونځ کولو ، پنځه ترويحې(شل رکعتونه) به يې کول.،،

''قال النيموی: واسناده حسن.،،(آثارالسنن ج:۲ ص:۵۵طبع هند)

ترجمه:علامه نيموي فرمايي چې: ددې سند صحيح دی.،،

حضرت سويدبن غفله رضي الله عنه له کبارو تابعينوڅخه ګڼل کيږي. هغوی دجاهليت زمانه بيا موندله، او دحضور صلی الله عليه وسلم په ژوندکې يې ايمان راوړ،خو دحضور صلی الله عليه وسلم زيارت يې ونکړ،ځکه چې مدينې طيبې ته په هغه ورځ راورسيده په کومه ورځ چې دحضور صلی الله عليه وسلم تدفين وشو، ددې وجې نه دصحابيت په شرف مشرف نه شو،وروسته يې په کوفه کې استوګنه اختيارکړه، دحضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه او د حضرت علي رضي الله عنه په خاصو صحابه ووکې وو،په (۸۰)هجري کې ديو سل ديرشو کالو په عمر وفات شو.(تقريب التهذيب ج:۱ ص:۳٤۱)[۲]

۸:.....عن الحارث انه کان يؤم الناس فی رمضان بالليل بعشرين رکعة ويوتر بثلث ويقنت قبل الرکوع.، (مصنف ابن ابی شيبه ج:۲ ص:۳۹۳) ترجمه: حارث، په رمضان کې خلکوته شل تراويح اودرې وتر کول،اودرکوع نه مخکې به يې قنوت لوستو.،،

۹:.....قيام الليل په باره کې د عبدالرحمان بن ابی بکره دسعيدبن حسن اوعمران العبدي نه نقل کړی دی چې هغوی به شل شپې شل رکعته تراويح کولې اوپه آخري عشره کې به يې يوه ترويحه اضافه کوله. (قيام الليل ص:۹۲ طبع جديد۱۵۸)

حارث، عبدالرحمان بن ابی بکره(متوفی ۹۷ هـ) اوسعيدبن الحسن (متوفی ۱۰۸ هـ) درې واړه دحضرت علي رضي الله عنه شاګردان وو.

۱] وفی ذالک قوة لماخبرنا......عن ابی عبدالرحمن السلمی عن علی رضی الله عنه قال:دعا القراء فی رمضان فامرمنهم رجلا يصلی بالناس عشرين رکعة قال وکان علی رضی الله عنه يوترهم وروی ذالک من وجه آخر عن علی (سنن بيهقی ج:۲ص:٤۹٦ طبع دارالکتب العلمية بيروت)۔

۲] سويد بن غفلة بفتح المعجمة والفاء ابوامية الجعفی مخضرم من کبارالتابعين قدم المدينة يوم دفن النبی صلی الله عليه وسلم وکان مسلمًافی حياته ثم نزل الکوفة ومات سنة ثمانين ،وله مائة وثلاثون سنة (تقريب التهذيب ج:۱ص:۳٤۱رقم :٦۰۳طبع بيروت)۔

۱۰:......ابوالبختري به هم شل تراويح اودرې وترخلکوته کول.(مصنف ابن ابی شیبه ج:۲ ص:۳۹۳)[۱]

۱۱:......علي بن ربيعه به،چې دحضرت علي رضی الله عنه په اصحابوکې و. شل تراويح اودرې وتر کول.،(مصنف ابن ابی شیبه ج:۲ ص:۳۹۳)[۲]

۱۲:......ابن ابی مليکه(متوفی ۱۱۷ هـ) به هم شل رکعته تراويح کولې. (مصنف ابن ابن شیبه ج:۲ ص:۳۹۳)[۳]

۱۳:......حضرت عطا(متوفی ۱۱۴هـ) فرمايي چې:ماخلک له وترو سره په دريويشت رکعته کولو ب بیاموندل.(مصنف ابی ابن شیبه ج:۲ ص:۳۹۳)[۴]

۱۴:......په موطاامام مالک رحمه الله کې دعبدالرحمان بن هرمزالاعرج (متوفی۱۱۷هـ) روايت دی چې ماخلک په داسې حالت کې بیاموندل چې هغوی به په رمضان کې په کافرانوباندې لعنت کولواوقار یبه په اتورکعتونوکې سوره بقره ختموله،اوکه په دولسورکعتونوکې به يې سوره بقره ختموله نوخلکوبه داسې ګڼل چې ده په قرات کې کمی کړی دی.(موطاامام مالک ص:۹۹)[۵]

ددې روايت نه مقصودخوپه تراويحوکې دقرات اوږدوالی دی،خو دروايت دمضمون نه معلومیږي چې يوازې په اتو رکعتونو به اکتفانه کيده.

خلاصه داده چې دکله نه حضرت عمر رضی الله عنه دتراويحودباقاعده جماعت شروع وکړه، هميشه به شل يادې نه زياتې تراويح کيدې،البته ايام حره(۶۳هـ) سره خواوشا دمدينې والودهرې ترويحې په مينځ کې دڅلوررکعتونواضافه وکړه ،ددې وجې نه هغوی به سره د وترو يوڅلويښت رکعتونه کول،اوځينو نوروتابعينوبه هم په آخري عشره کې اضافه کوله،په هرحال صحابه رضوان الله اجمعين، او تابعينوپه دورکې داتوررکعتونودکمزوري نه کمزوری ثبوت هم نه ملاويږي،له دې وجې چې کوموحضراتو داويلي دي چې دحضرت عمر رضی الله عنه په زمانه کې په شلورکعتونوباندې دصحابه کرامو رضی الله عنهم اجماع شوې وه. دهغوی داويناحقيقت ده،ځکه چې حضرات سلف ددې په دې تعدادباندې داضافې خوقائل وو،مګربه دې کې دکمي قول هيچانه

۱] عن ابی البختری :انه کان يصلی خمس ترويحات فی رمضان ،ويوتربثلاث (المصنف لابن ابی شيبة ج:۵ ص:۲۲٤،حديث نمبر:۷۷٦۸طبع المجلس العلمی بيروت)۔

۲] ان علی بن ربيعة کان يصلی بهم فی رمضان خمس ترويحات ،ويوتر بثلاث (المصنف لابن ابی شيبة ج:۵ص:۲۲٤،حديث نمبر:۷۷۷۲طبع المجلس العلمی بيروت)۔

۳] وکيع عن نافع بن عمرقال:کان ابن ابی مليکة يصلی بنافی رمضان عشرين رکعة (المصنف لابن ابی شيبة ج:۵ص:۲۲۳،۲۲٤حديث نمبر:۷۷٦۵طبع المجلس العلمی بيروت)۔

٤] ابن نميرعن عبدالملک عن عطاء قال:ادرکت الناس وهم يصلون ثلاثاوعشرين رکعة بالوتر (المصنف لابن ابی شيبة ج:۵ص:۲۲٤حديث نمبر:۷۷۷۰طبع المجلس العلمی بيروت)۔

۵] مالک عن داودبن الحصين انه سمع الاعرج يقول:ماادرکت الناس الا وهم يلعنون الکفرة فی رمضان قال وکان القاری يقرأ بسورة البقرة فی ثمان رکعات فاذا قام بها فی اثنتی عشررکعة رای الناس انه قدخفف (موطا امام مالک ص:۹۹طبع نورمحمد کتب خانه کراچی)۔

نقل نه دی، له دې وجې نه داوېنا صحيح ده چې په دې خبره دسلف اجماع وه چې دتراويحو دکم نه کم تعداد شل رکعته دی.

٤:.....تراويح دڅلوروامامانوپه نزد

دامام ابوحنيفهؒ،امام شافعيؒ اوامام احمدبن حنبلؒ په نزد تراويح شل رکعته دي، دامام مالکؒ نه په دې سلسله کې دوه روايتونه نقل دي، يودشلواوبل دشپږ ديرشو، خو دمالکي مذهب په متونو کې دشلوروايت اختيار شوی دی، دفقه حنفي دحوالې ورکولوضرورت نشته،دنورو مذاهبو دمستندو کتابونوحوالې وړاندې کيږي:

فقه مالکي:

قاضی ابوالوليدابن رشدمالکي(متوفی ۵۹۵ هـ) په (بداية المجتهد)کې ليکي: ،،**واختلفوا فی المختار من عدد الرکعات التی يقوم بها الناس فی رمضان فاختار مالک فی احد قوليه وابو حنيفه والشافعی واحمد وداود القيام بعشرين رکعة سوی الوتر،وذکر ابن القاسم عن مالک انه کان يستحسن ستا وثلاثين رکعة والوتر ثلاث**.،،(بداية المجتهد ج:۱ ص:۱۵۶ مکتبه علميه لاهور)

ترجمه:په رمضان کې څومره رکعتونه کول غوره دي؟

په دې کې دعالمانواختلاف دی،امام مالکؒ په يوقول کې اوامام ابوحنيفهؒ، شافعيؒ اواحمدؒ د وترونه پرته شل رکعتونه اختيارکړي دي اوابن قاسمؒ دامام مالکؒ نه نقل کړي دي چې هغوی به درې وتر اوشپږ ديرش رکعته تراويح خوښولې.،،

دمختصرخليل شارح علامه شيخ احمد الدردير المالکي (متوفی ۱۲۰۱ هـ)ليکي:

وهی (ثلاث وعشرون) رکعة بالشفع والوتر کما کان عليه العمل (ای عمل الصحابة والتابعين، الدسوقي).(ثم جعلت) فی زمن عمر بن عبدالعزيزؒ (ستا وثلاثين) بغير الشفع والوتر لکن الذی جری عليه العمل سلفا وخلفا الاول.،،(شرح الکبيرالدرديرمع حاشية الدسوقی ج:۱ ص:۳۱۵)

ترجمه:اوتراويح، له وترو سره (۲۳)رکعته دي،څنګه چې ددې مطابق (دصحابه وو اوتابعينو)عمل و، بيادحضرت عمربن عبدالعزيزؒ په زمانه کې له وتروپرته شپږ ديرش رکعته شوي،خو په کوم تعداد باندې چې دسلف اوخلف عمل هميشه جاري و، هغه اول قول دی،(شل تراويح اودرې وتر)

فقه شافعي:

امام محي الدين نوويؒ(متوفی ۶۷۶ هـ) په المجموع شرح مهذب کې ليکي:

(فرع)فی مذاهب العلماء فی عدد رکعات التراويح مذهبنا انها عشرون رکعة بعشر تسليمات

غیرالوتروذالک خمس ترویحات الترویحة اربع رکعات بتسلیمتین هذا مذهبنا وبه قال ابوحنیفه و اصحابه واحمد وداؤد وغیرهم ولنقله القاضی عیاض عن جمهورالعلماء وحکی ان الاسودبن یزید رضی الله عنه کان یقوم باربعین رکعة یوتر بسبع وقال مالک التراویح تسع ترویحات وهی ستة وثلاثون رکعة غیرالوتر..،(مجموع شرح مهذب ج:٤ ص:٣٢)

ترجمه: د تراویحو د رکعتونو د تعداد په باره کې د علماوو مذاهب ، زمونږ مذهب دا دی چې تراویح شل رکعته دي، د لسو سلامونو سره له وترو پرته، دا پنځه ترویحې شوې، یوه ترویحه د څلورو رکعتونو د دوو سلامونو سره، امام ابوحنیفه او د هغه اصحاب، امام احمد او امام داود وغیره هم د دې قائل دي او قاضی عیاض رحمه الله دا د جمهور عالمانو نه نقل کړی دی ،نقل شوي دي چې اسود بن یزید به یوڅلوېښت تراویح او اووه وتر کول، او امام مالک فرمایي چې تراویح نهه ترویحې دي او دا دوترونه پرته شپږ دېرش رکعتونه شول.،،

فقه حنبلي:

حافظ ابن قدامة المقدسي الحنبلی(متوفی ٦٢٠ هـ) په المغني کې لیکي:

والمختارعندابی عبدالله رحمه الله فیها عشرون رکعة وبهذا قال الثوری، ابوحنیفة والشافعی، وقال مالک ستة وثلاثون..،(مغنی ابن قدامه ج:١ ص:٧٩٩، ٧٩٨ مع الشرح الکبیر)

ترجمه: امام احمد رحمه الله په نزد باندې په تراویح کې شل رکعتونه غوره دي، امام ثوري رحمه الله، او ابوحنیفه رحمه الله هم د دې قایل دي او امام مالک رحمه الله د شپږ دېرشو قائل دی.،،

د بحث پای او څو ضروري فوائد

د اختتام په ډول څو فوائد وړاندې کول غواړم چې د شلو رکعتو تراویحو اهمیت مونږ په ذهن کې کېښني:

شل رکعته تراویح سنت مؤکده دي

١ ... د حضرت عمر رضی الله عنه د اکابرو صحابه وو په موجودګي کې شل تراویح جاري کول، د صحابه کرامو به دې باندې نکیرنه کول او د صحابه کرامو د وخت نه واخله تر او سه پورې د مشرق نه ترمغرب پورې شل رکعته مسلسل په عمل کې پاتې کیدل، د دې امر دلیل دی، چې دا د الله تعالی په خوښ دین کې داخل دی. لقوله تعالی: ولیمکنن لهم دینهم الذی ارتضی لهم..،(الله تعالی به د خلفاء راشدینو له پاره د هغوی دین ته قرار او تمکین ورښېي، چې الله تعالی د هغوی له پاره خوښ کړی دی).

په الاختیار شرح المختار کې دي ``روی اسد بن عمرو عن ابی یوسف قال: سئلت اباحنیفة رحمه الله

عن التراويح وما فعله عمر رضي الله عنه، فقال: التراويح سنة موكدة ولم يتخرصه عمر من تلقاء نفسه ولم يكن فيه مبتدعا ولم يامر به الاعن اصل لديه وعهد من رسول الله صلى الله عليه وسلم ولقد سن عمر هذا وجمع الناس على ابي بن كعب فصلاها جماعة والصحابة متوافرون منهم عثمان وعلي وابن مسعود والعباس وابنه وطلحة والزبير ومعاذ وابي وغيرهم من المهاجرين والانصار رضي الله عنهم اجمعين وما رد عليه واحد منهم بل ساعدوه ووافقوه وامروا بذلك.،

(الاختيار لتعليل المختار ج:۲ ص:۶۸ الشيخ الامام ابی الفضل مجدالدین عبدالله بن محمود الموصلی الحنفی، متوفی ۶۸۳ ھ)

ترجمه: اسدبن عمرو، امام ابويوسف نه روايت کوي چې: ما دامام ابوحنيفه رحمه الله څخه د تراويحو اود حضرت عمر رضي الله عنه دفعل په باره کې سوال وکړ، نوهغوی وفرمايل چې: تراويح سنت موکده دي، اوحضرت عمر رضي الله عنه دادخپل طرف نه شروع کړې نه دي اونه دڅه قسم بدعت پيداکولو واله و. هغوی چې کوم حکم ورکړ، هغه دڅه اصل په بنيادباندې و، چې دهغوی سره موجود و، اودرسول الله صلی الله علیه وسلم په عهدباندې مبني و، حضرت عمر رضي الله عنه داسنت جاري کړل اوخلک يې په ابی بن کعب رضي الله عنه باندې راجمع کړل، هغوی دتراويحوجمعه وکړه، په هغه وخت کې صحابه کرام په ګڼ شميرکې موجودوو، حضرت عثمان، علي، ابن مسعود، عباس، ابن عباس، طلحه، زبير، معاذ، ابی اود نورمهاجرين اوانصار رضي الله عنهم ټول موجودوو، خويوهم داردنه کړ، بلکې ټولودحضرت عمر رضي الله عنه موافقت وکړاودده حکم يې ورکړ.

۲:.....د خلفاء راشدينو جاري شويو سنتو باره کې نبوی وصيت

پورته معلوم شوي دي چې تراويح ددريوخلفاء راشدينو سنت دي، اودخلفاء راشدينو دسنتو په باره کې دحضور صلی الله علیه وسلم ارشادمبارک دی:

،،انه من يعش منكم بعدي فسيرى اختلافا كثيرا فعليكم بسنتي وسنة الخلفاء الراشدين المهديين تمسكوا بها وعضوا عليها بالنواجذ، واياكم ومحدثات الامور فان كل محدثة بدعة وكل بدعة ضلالة.،، (رواه احمد، ابوداود والترمذی وابن ماجه مشکوٰة ص:۳۰)

ترجمه: کوم کس چې په تاسوکې زمانه پس ژوندی پاتې شي، هغه به ډيراختلاف ويني، زماسنت اوزمادخلفاء راشدينومهديينو سنت لازم او ټينګ ونيسئ، اوپه غابښونوسره يې مضبوط ونيسئ، اودنوې نوې خبرونه ځانونه وساتئ، اوهره نوې خبره بدعت دی اوهربدعت ګمراهي ده.،،

ددې حديث پاک نه دخلفاء راشدينو دسنتودپيروي تاکيد معلوميږي اوداچې مخالفت بدعت اوګمراهي ده.

۳:..د څلورو واړو امامانو له مذاهبونه وتل جائز نه دي

پورته معلوم شوي دي چې څلورواړه امامان دکم ازکم شلو تراويحو قائل دي دڅلورو واړو امامانو د مذاهبو اتباع سواداعظم دی، او د څلورو واړو امامانو د مذاهبونه وتل دسواد اعظم نه وتل دي، مسندالهند شاه ولی الله محدث دهلوي رحمه الله ,,عقدالجيد،، کې ليکي.

قال رسول الله ﷺ:اتبعوا السوادالاعظم ،ولما اندرست المذاهب الحقة الا هذا الاربعة كان اتباعها اتباعا للسوادلاعظم ،والخروج عنها خرجا عن السوادالاعظم.،،(رواه ابن ماجه حديث انس رضی الله عنه،كما فی مشكواة ص:۳۰،وتمامه:فانه شذشذ فی النار،،عقدالجيد ص:۳۷ مطبوعه تركيه)

ترجمه:درسول الله ﷺارشادمبارک دی چې:دسواداعظم پيروي کوئ، اوکله چې ددې څلورواړومذاهبونه پرته نورمذاهب مکمل ختم شوي دي :نوددې اتباع به دسواداعظم اتباع وي،اوددې نه خارجيدل به دسواداعظم نه خارجيدل وي.،،

٤:....په شل رکعاته تراويحو کې حکمت

حکماء امت دخپل خپل ذوق مطابق د شلو تراويحو حکمتونه هم بيان کړي دي،دلته د دريو بزګانو ارشادات نقل کيږي.

۱:....البحرالرائق کې شيخ ابراهيم الحلبي الحنفي(متوفی ۹۵۲ هـ) نه نقل شوي دي.

،،وذكرالعلامة الحلبی ان الحكمة فی كونها عشرين ان السنن شرعت مكملات للواجبات وهی عشرون بالوتر فكانت التراويح كذلک لتقع المساوات بين المكمل والمكمل انتهی.،،(البحرالرائق ج:۲ ص:۷۲) **ترجمه**:علامه حلبي رحمه الله ذکرکړي دي چې دتراويحودشل رکعتونوکيدو حکمت دادی چې سنت د فرائضو او واجباتو دتکميل له پاره مشروع شوي دي اوپنځه فرض لمونځونه له وترو سره شل رکعته دي، لهذا تراويح هم شل رکعته شول چې دمکمل اومکمل ترمينځه مساوات راشي.،،

۲:....علامه منصوربن حنبلي رحمه الله(متوفی ۱۰۴۲ هـ) په (کشف القناع) کې ليکي: **والسرفيه ان الراتبه عشر فضوعفت فی رمضان لانه وقت جد.،،** (كشف القناع عن متن الاقناع ج:۱ ص:۳۹۲)

ترجمه:اود شلو تراويحو حکمت دادی چې سنت موکده لس دي،نو په رمضان کې دا دوچند شول، ځکه چې هغه دمحنت اومشقت وخت دی.،،

۳:....حکيم الامت شاه ولي الله محدث دهلوي رحمه الله دا امرذکرکوي چې صحابه کرامو رضی الله عنهم تراويح شل رکعته وګرځولې اوپه حکمت کې يې دابيان فرمايي:

وذلک انهم رأوا النبی صلی الله عليه وسلم شرع للمحسنين احدی عشر ركعة فی جميع السنة فحكموا أنه لا ينبغی أن يكون حظ السلم فی رمضان عندقصده الاقتحام فی لجة التشبه

بالملکوت اقل من ضعفها. ، ،(حجة الله البالغه ج:۲ ص:۱۸)

ترجمه: اوداله دې وجې نه چې هغوی وکتل چې نبي کریم ﷺ د محسنینو له پاره د(صلوة اللیل)یولس رکعتونه دټول کال له پاره مشروع کړي دي؛نو دهغوی فیصله دا وشوه چې په رمضان المبارک کې کله مسلمان په تشبه بالملکوت په دریاب کې د غوپې وهلواراده لري؛ نوددې برخه دټول کال درکعتونونه ددوچنده نه کمیدل پکارنه دي. ، ،

د تراویحو له پاره بل مسجد ته تلل

سوال: دخپلې محلې جومات پرېښودل اوبل جومات ته د تراویحو له پاره تلل څنګه دي؟

جواب: که په خپله محله کې دقرآن مجید ختم نه وي، یاامام قرآن مجید غلط لولي؛ نوهغه د تراویحو له پاره دخپلې محلې جومات پرېښودی شي اوبل ځای ته تلل جائزدي.[۱]

د تراویحو د امام شرطونه څه دي؟

سوال: دتراویحو له پاره دڅه قسم حافظ کیدل ضروري دي؟

جواب: دتراویحودامامت له پاره هما غه شرطونه دي چې دعامو لمونځونو دامامت له پاره دي، ددې وجې نه دحافظ متبع سنت کیدل ضروری دي، ږیره خریلی یاکمونکی دې دتراویح امام جوړنه کړل شي، همدغه شان په معاوضه اخیستونکي امام پسې تراویح کول جائزنه دي، ددې په ځای أ)لَمْ تَرَ كَيْفَ) سره کول بهتردي.[۲]

د ږیره خریلي امام په اقتداء کې تراویح کول مکروه تحریمي دي

سوال: ږیره خریلي حافظ پسې لمونځ که فرض وي یا تراویح دهغه څه حکم دی؟ځکه چې نن سبا په تراویحوکې عام طورسره لیدل شوي دي چې ډیرحافظان دوړې ږیرې یا له ږیرې پرته تراویح ورکوي،که هغوی ته وویل شي چې تاږیره ولې نه ده ساتلې؟ نوهغوی وایي چې دږیرې څه خاص اهمیت نشته،که اهمیت یې وای؛ نوپه سعودي عرب کې وړې وړې ږیرې دي ،مصرهم مسلمان ملک دی(۹۵)پنځه نوي فیصدخلک ږیرې خریي یاوړې کوي ،صحیح جواب راکړئ!

جواب: ږیره ساتل واجب دي،خریل یاکټ کول(هرکله چې دیوموټې نه کمه وي)په اتفاق سره حرام دي[۳]اودداسې کس په اقتداء کې لمونځ که څه هم تراویح وي کول مکروه تحریمي

۱] واذا کان امام المسجد حیة لایختم فله ان یترک الی غیره (البحرالرائق ج:۲ص:۷٤باب الوتروالنفل)۔

۲] ویکره امامة عبد .....وفاسق (وفی الشامیة)اماالفاسق فقدعللوکراهة تقدیمه بأنه لایهتم لامردینه ،وبان فی تقدیمه للامامة تعظیمه وقدوجب علیهم اهانته شرعًا..الخ (ردالمحتارعلی الدرالمختارج:۱ص۵٦۰ باب الامامة)

۳]ولذا یحرم علی الرجل قطع لحیته...الخ(درمختار مع الشامي ج:٦ص:٤۰۷..[بقیه حاشیه په راروانه صفحه

دي،[۱] ګناه که عامه شي؛ نوهغه نه ثواب کيږي، هماغه ګناه وي،ځکه دسعوديانو يا مصريانو حواله ورکول غلطه ده.

دلمونځ پابندي نه کونکي اوږيره خريلي حافظ په اقتداء کې تراويح کول

سوال: يوحافظ قرآن ټول کال په پابندي سره لمونځ نه کوي،مګرکله چې درمضان مياشت راشي نوپه يوجومات کې ختم قرآن اوروي،سوال دادی چې دداسې قسم حافظ پسې دتراويح لمونځ کولوپه باره کې دشريعت څه حکم دی؟نورداچې ديوموټي دننه ږيره خريلي حافظ يعنی ديوموټی نه ئې چې ږيره کمه وي؛ نودداسې قسم حافظ پسې دتراويح لمونځ کول جائزدي اوکه نه ؟

جواب: داسې حافظ دتراويح امام جوړول جائزنه دي، ددې په ځای په الم ترکيف سره تراويح کول بهتردي، معاوضه مقررونکي حافظ په اقتداء کې هم تراويح ناجائزدی.[۲]

معاوضه مقررونکی حافظ په اقتدا کې تراويح ناجائزدي

سوال: اکثرحافظان صاحبان دچاچې دخوراک څښاک څه ذريعه نه وي،هغوی باقاعده معاوضه مقرروي اوبيا د تراويحو لمونځ کولوله پاره تياريږي، آيا په داسې صورت کې چې څه کار روزګار يې نه وي، قرآن مجيد د آمدني ذريعه جوړول جائزدي ؟

جواب: اجرت اخيستوسره تراويح کول جائزنه دي،اودداسې حافظ پسې تراويح مکروه تحريمي دي ددې په ځای په (الم ترکيف) سره کول بهتردي.[۳]

تراويح ورکونکي حافظ ته هديه اخيستل څنګه دي؟

سوال: داخوموږ ته معلومه ده چې دقرآن پاک په اورولوباندې اجرت اخيستل ناجائزدي،خو که څوک حافظ په تراويح کې قرآن پاک واوروي اوڅه اجرت وانخلي،مګرمقتديان په خپلې خوښې سره هغه ته څه روپۍ يا جامه وغيره ورکړي؛ نو آيا دا دهغه له پاره جائزدي اوکه نه؟

...بقيه د تير مخ].. كتاب الحظروالاباحة وايضًا واما الاخذ منها وهى دون ذلک كمايفعله بعض المغاربة ومخنثة الرجال فلم يبحه احد واخذ كلها فعل يهود الهند ومجوس الاعاجم (الدرالمختارمع الشامى ج:۲ ص:۴۱۸ باب مايفسدالصوم ومالايفسده مطلب فى الاخذمن اللحية) وايضًا: خلق كردن لحيه حرام است وگذاشتن آن بقدرقبضه واجب است (اشعة اللمعات شرح مشكوة ج:۱ص:۲۲۸)

۱]ويكره امامة عبد......وفاسق وفى الشامية :اماالفاسق فقدعللوا كراهة تقديمه بانه لايهتم لامردينه ،بان فى تقديمه للامامة تعظيمه وقدوجب عليهم اهانته شرعًا (ردالمحتارعلى الدرالمختارج:۱ص:۵۶۰باب الامامة)_

۲] ايضاً)_

۳] وان القرأة لشى من الدنيالاتجوز وان الاخذ والمعطى آثمان ،لان ذلک يشبه الاستئجارعلى القرأة ونفس الاستئجارعليها لايجوزفكذاماشبه...ولاضرورة فى جوازالاستئجارعلى التلاوة..الخ(فتاوى شامى ج:۲ص: ۷۳)

جواب: په کومه علاقه کې چې حافظانوته داجرت ورکولورواج وي، هلته داهدیه هم اجرت ګڼل کیږي[1]،که هیڅ ورنه کړای شي؛ نو خلک په دې بدګڼي، ددې وجې نه تراویح کونکي نه هدیه اخیستل هم پکارنه دي.

په تراویحوکې تیز رفتارحافظ پسې قرآن اوریدل څنګه دي؟

سوال: دسورة مزمل دیو آیت په ذریعه تاکید شوی دی چې قرآن په مزه مزه لولئ،ددې برعکس په تراویحوکې دقرآن حافظان په دومره رواني سره لولي چې الفاظ په پوهه کې نه راځي اوکه هغوی داسې ونه کړي؛ نوپوره قرآن په مقرر شوي وخت کې ختمولی نه شي،پلاراوزوې دواړه حافظان دي،زوی دپلارنه ډیرزیات په رواني سره لولي،چې دهغه په وجه پلارته خلکود ``حافظ ریل،، اوزوی ته ``حافظ انجن،،لقب ورکړی دی،اواوس هغوی هم په دې نوم سره پیژندل کیږي،آیا په تراویحوکې داشان لوستل جائزدي؟

جواب: دتراویحولمونځ دعام لمونځ په نسبت لږ تیزکول معمول دی،[2]مګرداسې تیزکول چې الفاظ په صحیح طورسره ادانه شي او اوریدونکي له ،یعلمون،اوتعلمون، پرته په هیڅ پوه نه شي حرام دي. دداسې حافظ په ځای په (الم ترکیف) سره تراویح لوستل زیات بهتردي[3]

له عذرپرته تراویح په ناسته کول څنګه دي؟

سوال: دنورونفلوپه شان تراویح هم په ناسته کولی شو؟

جواب: تراویح له عذر پرته په ناسته کول پکارنه دي اوداستحباب خلاف ده،اوثواب به هم درته نیم ملاویږي.[4]

په تراویحوکې درکوع پورې ځان ته بیله ناسته مکروه کاردی

سوال: په تراویحوکې کله چې حافظ نیت وتړي اوقرات کوي اکثرلمونځ کونکي هسې شاتهٔ ناست وي یاګرځي راګرځي اوحافظ چې څنګه رکوع ته ښکته کیږي؛ نوخلک زرزرنیتونه وتړي اوپه لمونځ کې شامل شي، دا حرکت ترکومې پورې صحیح دی؟

۱]المعروف عرفًاکالمشروط شرطًا (شرح المجلة لسليم رستم باز ،ص:۳۷،المادّة: ۴۳طبع کوئته)ـ

۲]وفی الدر:یقرأ فی الفرض بالترسل حرفًا حرفًا ،وفی التراویح بین بین وفی الشامیة (قوله بین بین)ای بان تکون بین الترسل والاسراع ......الخ (درمختارمع الشامی ج:۱ص:۵۴۱فصل فی القرأة طبع سعید)ـ

۳] وشروط الامامة للرجال الاصحاء ستة اشياء :الاسلام ......والقرأة والسلامة من الاعذار کالرعاف الفافاة والتمتمة واللثغ ......الخ (شامی ،باب الامامة ج:۱ص:۵۵۰) وایضًا:ویکره الاسراع فی القرأة ......الخ (عالمګیری ج:۱ص:۱۱۷کتاب الصلاة فصل فی التراویح طبع رشیدیه)ـ

۴] اتفقوا علی ان اداء التراویح قاعدًا لایستحب بغیرعذر واختلفوا فی الجواز ،قال بعضهم یجوز وهوالصحیح الا ان ثوابه یکون علی النصف من صلاة القائم...الخ(عالمګیری ج:۱ص:۱۱۸کتاب الصلاة فصل فی التراویح)

جواب: په تراويحو کې يوځل پوره قرآن مجيد اوريدل ضروري اوسنت موکده دی[1] کوم کسان چې امام سره نه شامليږي، دهغوی هغومره برخه په قرآن کې فوت شي، ځکه د آخلک نه يوازې يوثواب نه محروم پاتې شي، بلکې دډيرزيات مکروه فعل ارتکاب هم کوي، ځکه چې دهغوی دا فعل دقرآن کريم نه دمخ ګرځولوپه شان دی.[2]

په تراويحوکې د قرات اندازه

سوال: په تراويحو کې څومره قرآن لوستل پکاردي؟

جواب: په تراويح کې کم نه کم يوځل قرآن پاک ختمول سنت دي، لهذا دومره لوستل پکاردي چې د(۲۹) رمضان پورې ټول قرآن پاک ختم شي.[3]

په دوه دريو شپو کې قرآن پاک ختمول او باقي تراويح پريښودل

سوال: زمائينې دوستان داسې دي چې په رمضان کې په يوه شپه کې ياپه دوه درې شپو کې پوره قرآن پاک په تراويحو کې واوروي اوبيا په باقي رمضان کې تراويح نه کوي، آيا داسې کول صحيح دي؟دويم داچې ماځه کسان ليدلي دي چې هغوی پوره قرآن پاک په يوه شپه کې واوروي اوبه باقي شپو کې دامام سره فرض لمونځ وکړي او تراويح ځانته زرزر وکړي، آيا دا صحيح دي.؟

جواب: تراويح کول يومستقل سنت دي اوبه تراويح کې پوره قرآن پاک اوريدل بيل سنت دي، کوم کس چې په دې کې دکوم سنت پريښودونکی شي، هغه به ګناه ګاروي.[4]

۱]السنة فى التراويح انما هوالختم مرة فلايترک لکسل القوم کذافى الکاف (عالمګيرى ج:۱ص:۱۱۷فصل فى التراويح)

۲] وفى البحر عن الخانية يکره للمقتدى ان يقعد فى التراويح فاذا اراد الامام ان يرکع يقوم لان فيه اظهارالتکاسل فى الصلاة والتشبه بالمنافقين ،قال تعالى :واذا قاموا الى الصلاة قاموا کسالى ......الخ (شامى ج:۲ص:۴۸کتاب الصلوة) مبحث صلاة التراويح ،طبع سعيد ،البحر الرائق ج:۲ص:۷۵کتاب الصلاة)_

۳] وصرح فى الهداية بان اکثر المشائخ على ان السنة فيها الختم ،وفى مختارات النوازل انه يقرأ فى کل رکعة عشرآيات وهو الصحيح لان السنة فيها الختم لان جميع عدد الرکعات فى جميع الشهرستمائة رکعة وجميع آيات القرآن ستة آلاف (البحر الرائق ج:۲ص:۷۴ايضًا:حلبى کبير ص:۴۰۶) (وايضًا:) وحکى ان المشائخ رحمهم الله تعالى جعلوالقرآن على خمس مائة واربعين رکوعًا واعلموا ذلک فى المصاحف حتى يحصل الختم فى ليلة السابع والعشرين ......الخ (عالمګيرى ج:۱ص:۱۱۸)(وايضًا) ومافى الخلاصة من انه يقرأ فى کل رکعة عشرآيات حتى يحصل الختم فى ليلة السابع والعشرين ونحوه ......الخ (شامى ج:۲ص:۴۶)(وايضا) والجمهور على ان السنة الختم مرة فلايترک لکسل القوم ويختم فى ليلة السابع والعشرين لکثرة الاخبار انهاليلة القدر......الخ (البحر الرائق ج:۲ص:۷۴)_

۴] لوحصل الختم ليلة التاسع عشراوالحادى والعشرين لاتترک التراويح فى بقية الشهر لانهاسنّة کذا فى الجوهرة النيرة الاصح انه يکره له الترک کذا فى السراج الوهاج....[بقيه حاشيه په راروانه صفحه

ايا د اووه ورځو تراويح جائز دي حالانكې صحيح تلفظ پكې نه كيږي

سوال: ايا د پنځو ورځو يا د اوو ورځو تراويحو كې ختم د اسلام د ابتداء نه رائج دى يا مونږ د خپل سهولت له پاره اسلامي انداز د خپلې خوښې سره جوړى كړى دى؟ حالانكې تلفظ او صحيح اداېګي ډيره ضروري ده، دلته دا پته نه لګيږي چې امام څه وايي، بس چې قرآن په پنځو ورځو كې پوره كړي.

جواب: د تراويحو لمونځ په پوره رمضان المبارك كې سنت موكده دى [1] په تراويحو كې پوره قرآن كريم اورول مستقل سنت دي [2] كوم حضرات چې پنځو يا اوو ورځو كې قرآن اوروي، هغوى د تراويحو د لمونځ نه نه فارغيږي، بلكې پوره رمضان تراويح دده په ذمه باندې دي، [3] په تراويحو كې د قرآن د اوريدلو له پاره شرط دادى چې داسې صفا ولوستل شي چې يو يو لفظ باندې پوهيدل وشي، كوم خلک يې چې دومره تيز لولي چې هيڅ پته نه لګيږي چې دى څه لولي، هغوى ډيره غلطي كوي، د دوى لوستل او نه لوستل دواړه برابر دي، بلكې داسې لوستل د ثواب په ځاى ګناه ده. [4]

د رمضان په يو څو ورځو كې قرآن اوريدو والا د پاتې مياشتې له تراويحو نه فارغيږي

سوال: اسلام د لمونځونو او د نورو معمولاتو له پاره يو نظام متعين كړى دى او د وخت او د اداېګي له پاره يې يوسستم دى، بيا داچې په هرځاى كې كه هغه سړک وي، كوڅه وي اوپه هر ځاى كې په پنځو يا په اوو ورځو كې پوره قرآن د ټولې مياشتې كار راغونډ كړه او په خپله دوكاندارې كې لګيا شه؛ ځكه رمضان د لوټ مياشت ده. ما د خپل ژوند په ديرشو كلونو كې په هندوستان كې داسې نظام نه دى ليدلى.

جواب: دلمونځ، روژې،زكات، حج، قرباني اوداسې نورو... ټولو عبادتونو وختونه او شرطونه اسلام مقرر كړي دي، ما پورته ليكلي دي چې د تراويحو لمونځ په پوره رمضان المبارک كې سنت موكد دى، هغه په درې يا پنځو يا په اوو ورځو كې نه اداء كيږي، البته د

...بقيه د تير مخ]... (عالمگيرى ج:۱ص:۱۱۸كتاب الصلاة فصل فى التراويح)۔

[1] ونفس التراويح سنة على الاعيان عندنا كماروى الحسن عن ابى حنيفة رحمه الله تعالى (عالمگيرى ج:۱ ص:۱۱٦كتاب الصلاة ،الباب التاسع فى النوافل فصل فى التراويح طبع رشيديه)

[2] السنة فى التراويح انما هو الختم مرة فلايترک لكسل القوم (عالمگيرى ج:۱ص:۱۱۷)

[3] لوحصل ختم ليلة التاسع عشراوالحادى والعشرين لاتترک التراويح فى بقية الشهر لانها سنة كذا فى الجوهرة النيرة الاصح انه يكره الترک كذا فى السراج الوهاج (عالمگيرى ج:۱ص:۱۲۱طبع رشيديه)

[4] ويكره الاسراع فى القرأة وفى اداء الاركان (عالمگيرى ج:۱ص:۱۱۷)فصل فى التراويح)

قرآن کریم د پوره اوریدلو سنت اداء کیږي په دې شرط چې صحیح او صفا ولوستل شي، کوم خلک چې په پنځو یا په اوو ورځو کې د قرآن کریم سره د پوره میاشتې له پاره ځان فارغوي؛ نو هغوی غلطي کوي، کوم حافظان چې په پنځو یا اوو ورځو کې قرآن کریم اوروي په دوی باندې دا لازم دي چې دوی په دې مسئله باندې پوه کړي چې تاسو خلک د پوره رمضان د تراویح نه نه یی فارغ شوي، بلکې د رمضان د هرې شپې تراویح دستاسو په ذمه باندې لازم دي.[1]

د تراویحو په لمانځه کې یوازې هیر شوي آیتونه دوباره ویل هم جائز دي

سوال: دتراویحو په تلاوت کې که حافظ صاحب مخکې لاړشي او وروسته ورته پته ولګیږي چې په مینځ کې څه ایتونه پاتې شول؛ نو ایا په داسې صورت کې ټول تلاوت شوی کلام پاک په دویم ځل ووایي اوکه پاتې شوي یا غلط لوستل شوي ایتونه په دویم ځل ووایي؟

جواب: پوره واپس ویل افضل دي اویوازې دهغومره ایتونو ویل هم جائز دي.[2]

ایا په تراویحو کې د ترتیب خلاف سورتونه ویلو سره سجده سهو لازمیږي؟

سوال: په تراویح کې دالم ترکیف نه واخله ترقل اعوذ برب الناس پورې لوستل کیږي، ایا دادې سلسله وار په هررکعت کې ولوستل شي؟ اوکه هیره سره مخکې وروسته شي؛ نو ایاسجده سهوه لازمیږي اوکه نه؟

جواب: په لمانځه کې قصداسورتونه خلاف ترتیب ویل مکروه دي، مګردې سره سجده سهوه نه لازمیږي اوکه په هیرې یې خلاف ترتیب ولولي؛ نوهیڅ کراهت نه شته.[3]

په تراویحو کې یوځل بسم الله په په لوړ اوازسره ویل ضروري دي

سوال: ځینې حافظان په قرآن کریم کې یوځل (بسم الله الرحمن الرحيم) په لوړ اوازسره لولي، که په پټه وویل شي؛ نوڅه نقصان دی ؟

جواب: په تراویحو کې دیوسورت په شروع کې یوځل (بسم الله الرحمن الرحيم) آیت په لوړ آواز سره هم لوستل پکاردي، ځکه چې دا دقرآن پاک یومستقل آیت دی اوکه داپه لوړ اوازسره ونه

---

[1] لوحصل الختم ......لاتترک التراویح فی بقیة الشهر لانها سنة کذا فی الجوهرة النیرة الاصح انه یکره له الترک کذا فی السراج الوهاج (عالمگیری ج:۱ص:۱۱۸،الباب التاسع فی النوافل فصل فی التراویح)

[2] واذا غلط فی القرأة فی التراویح فترک سورة او آیة وقرأ مابعدها فالمستحب له ان یقرأ المتروکة ثم المقروءة لیکون علی الترتیب کذا فی فتاوی قاضیخان (عالمگیری ج:۱ص:۱۱۸ ایضًافی حلبی کبیر ص:۴۰۷)۔

[3] وفی الدر:ویکره الفصل بسورة قصیرة وان یقرأ منکوسًا.....ثم ذکریتم وفی الشامیة (قوله ثم ذکریتم) افاده ان التنکیس اوالفصل بالقصیرة انمایکره اذاکان عن قصدفلوسهوًا فلاکمافی شرح المنیة (الدرالمختارمع الشامی ج:۱ص:۵۴۶،۵۴۷ باب صفة الصلاة مطلب الاستماع للقرآن فرض کفایة)۔

لوستل شو؛ نو د مقتديانو د قرآن پاک اوريدل به پوره نه شي.[۱]

په تراويحو کې «قل هوالله احد» درې ځله ويل څنګه دي؟

سوال: د تراويح په دوران کې يا په شبينه تلات کلام پاک کې «قل هوالله» سورت درې ځله ويل پکار دي؟

جواب: په تراويح کې درې ځله «قل هوالله احد» ويل جائز دي، مګر بهترنه دي، هسې نه چې دالازمي سنت جوړ کړل شي.[۲]

په تراويحو کې د قرآن پاک د ختم صحيح طريقه څه ده؟

سوال: په تراوحو کې چې کله د قرآن پاک ختم کيږي؛ نو ځينې حافظان صاحبان په اخري دوو رکعتونو کې درې ځله سوره اخلاص، يوځل سوره فلق او سورة الناس او په دويم رکعت کې دالبقرې لومړنۍ رکوع لولي او ځينې حافظان سوره اخلاص يوازې يوځل لولي او په آخري رکعت کې د سورة بقرې لومړۍ رکوع او په دويم رکعت کې د سوره الصافات اخري ايتونه لولي، په تراويحو کې د قرآن پاک د ختمولو صحيح طريقه څه ده؟

جواب: قرآن پاک په سورة والناس باندې ختم شي، لهذا که يو حافظ سوره الناس په اخري رکعت کې ولولي او سوره بقره شروع نه کړي؛ نو دا صحيح ده، خو چې کوم حافظان د سورة الناس نه وروسته په شلم رکعت کې سوره بقره شروع کړي، يا په نولسم رکعت کې سوره بقرة او په شلم رکعت کې د سوره الصافات دعائيه اياتونه لولي؛ نو که دا طريقه لازمي نه ګڼي؛ نو داسې د قرآن په ختم کولو کې هيڅ نقصان نه شته، بلکې د سورة الناس نه وروسته د سورة بقرې په شروع کولو کې د دې خبرې طرف ته يوه لطيف اشاره موجود ده چې په تلاوت کې تسلسل پکار دی او په حديث شريف کې د دې تعريف راغې چې بنده په خپله قرآن پاک ختم کړي او بيا دې دوباره شروع کړي د دې له وجې دا بهتره ده چې يو قرآن پاک ختمولو نه وروسته فورا دې دويم قرآن شروع کړل شي، البته که دا طريقه لازم وګڼل شي؛ نو بيا صحيح نه ده.[۳]

۱] وذلک ان مذهب الجمهور انها من القرآن لتواترها فی محلها......الخ (شامی ج:۱ص:۴۹۱وایضًا فی البحر الرائق ج:۱ص:۳۳۰باب صفة الصلاة طبع دارالکتب العلمية)۔

۲] قرأة قل هوالله احدثلاث مرات عندختم القرآن لم يستحسنها بعض المشايخ ،وقال الفقيه ابوالليث هذا شيء استحسنه اهل القرآن وائمة الامصارفلاباس به......الخ (حلبی کبير ص:۴۹۶طبع سهيل اکيدمی)۔

۳] وفی الولوالجية من يختم القرآن فی الصلوة اذافرغ من المعوذتين فی الرکعة الاولی يرکع ثم يقوم فی الرکعة الثانية ويقرأ بفاتحة الکتاب وشیء من سورة البقرة لان النبی صلی الله عليه وسلم قال: خيرالناس الحال المرتحل ای الخاتم المفتتح(حلبی کبيرص:۴۹۴تتمات فيمايکره من القرآن فی الصلاة ،طبع سهيل اکيدمی)

په تراويحو کې که د مقتدي نه رکوع لاړه شي؛ نو د لمانځه څه حکم دی؟

سوال: په تراويحو کې امام صاحب وويل چې په دويم رکعت کې سجده ده، خو په دويم رکعت کې امام صاحب د څه مصلحت د لاندې دسجدې آيت تلاوت کولو نه مخکې رکوع وکړه، هرکله چې څه مقتديان په کونجونو(کوټونو)اوشاته طرف ته وو، هغوی ددويم رکعت دسجدې له وجې په سجده پريوتل، خو امام صاحب ،،سمع الله الحمد،،وويل، اوهغوی حيرانه اوپريشانه ودريدل، امام صاحب ،،الله اکبر،،وويل اوسجدې ته لاړ اوباقي لمونځ يې اداکړ، يعنې د امام صاحب لمونځ خودرست وهرکله چې دمقتديانونه رکوع پاتې شوه اودهغوی داامام دسلام سره سلام واړولو،ايادمقتدي لمونځ صحيح شو؟اوکه نه وي؛ نوپه داسې صورت کې مقتدي ته څه کول پکاردي؟

جواب: مقتديانوته پکار و چې هغوی خپله رکوع کړې وای اودامام صاحب سره شامل شوي وای، په هرحال رکوع په لمانځه کې فرض ده، کله چې هغه پاتې شوه؛ نولمونځ ونه شو، دې کسانوته پکاره ده چې دخپلودوورکعتونوقضا راوړي.[۱]

د تراويحو په دويم رکعت کې که ناسته هيره شي او څلوررکعته وکړي؛ نو څو تراويح وشوې؟

سوال: ددوو رکعتوسنت تراويحو نيت يې وکړاوحافظ صاحب لمونځ شروع کړ اوپه دويم رکعت کې په (التحيات) باندې کې نه ناست، دريم اوڅلورم رکعت يې وکړل اوبيايې تشهدنه وروسته سلام وګرځاو، دتراويحو دلمونځ څلوررکعتونه وشول،يادوه سنتونه اودوه نفل ياڅلورواړه نفل شول؟

جواب: دصحيح قول مطابق په دې صورت کې دتراويحودوه رکعتونه وشول.

،، فلوصلى الامام اربعاً بتسليمة ولم يقعد فى الثانية فاظهر الروايتين عن ابى حنيفة وابى يوسف عدم الفساد ثم اختلفوا هل تنوب عن تسليمة اوتسليمتين؟ قال ابو الليث تنوب عن تسليمتين ،وقال ابوجعفر وابن الفضل تنوب عن واحدة وهوالصحيح،كذافى الظهيرية والخانية وفى المجتبى وعليه الفتوى.،، (البحرالرائق ج:۲ ص:۷۲)

۱] (قوله ومتابعته لامامه فى الفروض)اى بان ياتى بمامعه اوبعده ،حتى لو ركع امامه ورفع فركع هوبعد ،صح بخلاف ما لوركع قبل امامه ورفع ثم ركع امامه ولم يركع ثانيًا مع امامه اوبعده بطلت صلوته ......الخ(شامى ج:۱ص:۴۵۰ كتاب الصلاة مطلب الخروج بصنعه طبع ايچ ايم سعيد)_

د تراویحو په مینځ کې وقفه

سوال: دتراویح په دوران کې څومره وقفه کول پکاردي؟

جواب: تراویح په لمانځه کې دهرڅلوررکعتونو وروسته دومره ساعت پورې کېناستل په څومره ساعت کې چې څلوررکعتونه لوستل شوي وومستحب دي، خوکه په دومره ساعت ناستې سره خلک تنګیږي؛ نووقفه کمیدای هم شي.[۱]

د ماسخوتن فرض لمونځ د تراویحونه وروسته اداکولو په باره کې څه حکم دی؟

سوال: یوصاحب دماسخوتن په وخت کې جومات ته داخل شو، دماسخوتن لمونځ شوی و اوتراویح شروع وې، داصاحب په تراویحو کې شامل شو اودتراویح نه وروسته یې فرض لمونځ وکړ، ایا داسې لمونځ وشواوکه نه؟له پوښتنې وروسته معلومه شوه چې داسې یې قصدانه دي کړي، بلکې دناپوهي له وجې شوي دي.

جواب: کوم کس چې داسې وخت کې راشي چې دماسخوتن لمونځ شوی وي، په هغه لازم دي چې اول دماسخوتن فرض لمونځ اوسنت موکده اداکړي، له هغه وروسته دې په تراویحو کې شامل شي، ددې صاحب د تراویحو لمونځ ونه شو، دتراویح لمونځ دماسخوتن دلمونځ تابع دی[۲]، ددې مثال داسې دی چې وروستني سنتونه څوک مخکې وکړي اود هغه واپس ګرځول ضروري دي، خودتراویحو قضانه شته.[۳]

له جمعې پاتې تراویح د وترونه وروسته اداکړل شي که مخکې؟

سوال: موږ که تراویحو ته ناوخته وروسیږو؛ نواول مو دماسخوتن لمونځ وکړ اوبیادامام سره په تراویحو کې شامل شو اوکومې تراویح چې زموږ پاتې شي هغه دوترونه مخکې کول پکاردي اوکه وروسته؟ اوکه باقي تراویح ونه کړو؛ نوڅه ګناه خوبه نه وي؟

جواب: وترجمعې سره مخکې وکړئ وروسته باقي پاتې تراویح وکړئ.[۴]

۱] (واماالاستراحة)في اثناء التراويح (فيجلس بين كل ترويحتين مقدار ترويحة) اى بين كل اربع ركعات ......وهذا الانتظار مستحب ....الخ (حلبی کبیر ص:٤٠٤طبع سهيل اكيدمى لاهور)۔

۲]ووقته اى وقت التراويح ......وقال القاضى الامام ابوعلى النسفى الصحيح ان وقتها (بعد العشاء) لاتجوز قبلها ....الخ(حلبی کبیرص:٤٠٣،طبع سهيل اكيدمى لاهور)۔

۳] واذا فاتت التراويح لاتقضى بجماعة والاصح انها لاتقضى اصلا.......الخ (البحر الرائق ج:۲ص:۷۳ باب الوتر والنوافل ،طبع دارالمعرفة بيروت وايضا فى الدرمع الشامى ج:۲ص:٤٤مبحث صلوة التراويح)۔

٤] فلو فاته بعضها (اى التراويح)وقام الامام الى الوتر اوتر معه ثم صلى مافاته (درمختار ج:۲ص:٤٤)۔

د ماسخوتن د جمعې کولو نه پرته د تراويحو په جمع کول صحيح نه دي

سوال: که په يوجومات کې د ماسخوتن لمونځ جمعې سره نه وي شوی؛ نو هلته تراويح جمعې سره کول څنګه دي؟

جواب: که دماسخوتن لمونځ دجمعې سره ادا شوی نه وي؛ نو تراويح دې هم دجمعې سره و نه کړل شي، ځکه چې تراويح دماسخوتن دلمونه تابع دي[۱] البته که څه کسان دماسخوتن لمونځ دجمعې سره وکړي اوورسره تراويح هم کوي اويو کس وروسته راشي اوخپل د ماسخوتن لمونځ ځانته وکړي؛ نودتراويحو په لمانځه کې شامليداى شي.[۲]

ايا دتراويحو قضا راوړل کيږي؟

سوال: په جازکې زمونږ ډيوټې دشپې داتونه ددولسوپورې وي، په دغه وخت کې زمونږ نه اکثرخلک دماسخوتن لمونځ قضااداکوي، ايا دغه وخت مونږ دماخسوتن لمونځ وکړو يا قضاتراويح هم کولی شو؟

جواب: دماسخوتن دلمانځه وخت دصبح صادق پورې وي،که ته دډيوټې نه مخکې د ماسخوتن لمونځ نه شې کولی؛ نوچې دډيوټې نه فارغ شئ اودماخسوتن لمونځ وکړې؛ نو اداکيږي، ځکه چې دماسخوتن لمونځ تادخپل وخت دننه اداکړ[۳] اود تراويحو وخت هم د ماسخوتن دلمانځه نه واخله تردصبح صادق نه لږ شان مخکې پورې دی، ددې له وجې کله چې تاسو خلک دماسخوتن لمونځ وکړئ؛ نوتراويح هم کوئ، په دغه وخت کې تراويحو هم نه قضا کيږي، بلکې اداکيږي[۴]که يوکس د صبح صادق نه مخکې تراويح ونکړي؛ نودهغه تراويح قضا شولې، اوس ددې قضا نه شي راوړی، ځکه چې دتراويحو قضانه شته.[۵]

۱]ولوتركوا الجماعة فى الفرض ليس لهم ان يصلوا التراويح جماعة لانها تبع للجماعة ......الخ (البحر الرائق ج:۲ص:۷۵باب الوتروالنوافل ،وايضًا فى الدرالمختار مع الشامى ج:۱ص:۴۸)_

۲] امالوصليت بجماعة الفرض وكان رجل قدصلى الفرض وحده فله ان يصليها مع ذلک الامام لان جماعتهم مشروعة فله الدخول فيها معهم لعدم المحذور....الخ (شامى ج:۲ص:۴۸وايضًا فى البحرالرائق ج:۲ص:۷۵)

۳]واما آخر وقت العشاء فحين يطلع الفجرالصادق ......الخ (البدائع الصنائع ج:۱ص:۱۲۴وايضًا فى الدر مع الشامى ج:۱ص:۳۶۱مطلب فى الصلوة الوسطى)_

۴]وقال عامتهم وقتها مابعد العشاء الى طلوع الفجرفلاتجوزقبل العشاء لانها تبع للعشاء ......الخ (البدائع الصنائع ج:۱ص:۲۸۸وايضًا درمختارمع الشامى ج:۲ص:۴۴ باب الوتروالنوافل ،مبحث صلاة التراويح)_

۵] والصحيح انها لاتقضى ،لانهاليست باكدمن سنة المغرب والعشاء وتلک لاتقضى وكذلک هذه (البدائع الصنائع ج:۱ص:۲۹۰،وايضًادرمختارمع الشامى ج:۲ص:۴۴باب الوتروالنوافل ،مبحث صلاة التراويح)_

د تراویحو د لمانځه نه مخکې وتر کیږي؟

سوال: له تراویحو مخکې وتر اداکول څنګه دي؟

جواب: وترله تراویحو وروسته اداکول غوره دي؛ خوکه مخکې اداکړل شي بیاهم سهي کیږي.[۱]

په رمضان کې د وترو نه پرته د جمعې اداء کول

سوال که موږ په بیړه یو؛ نوتراویحو نه وروسته وترپرله جمعې پرته کولی شو؟دې سره خوبه په باقي لمونځ څه اثرنه پریوځي اوکه وترپه جمعې سره کول لازمي دي ؟

جواب: : په رمضان المبارک کې وتردجمعې سره اداکول افضل دي او یوازې کول یې هم جائزدي[۲]

ځانته تراویح کول څنګه دي؟

سوال: که یوانسان تراویح دجمعې سره ونه کړای شي؛ نو آیا ځانته یې کولی شي؟

جواب: که دڅه عُذرله وجې تراویح دجمعې سره ادا نه شي؛ نوځانته دې وکړي، هیڅ نقصان نشته.[۳]

په کورکې تراویح کونکی به وتر په ارام وایي که په جهر؟

سوال: ایا په کورکې یوازې تراویح کونکی اووتربه په جهرسره لولي؟

جواب: دواړه قسمه جائزدي په مزه هم اوپه جهرسره هم.[۴]

د تراویحو لمونځ په لاوډ سپیکربا ندې کول

سوال: په لاوډسپیکرباندې دمجبوري له وجې چې کوم.دتراویحولمونځ کیږي، هغه کې څه کراهت شته؟

جواب: دضرورت له وجې خوپکې هیڅ کراهت نه شته، خودضرورت شی دضرورت په اندازه

۱] ثم یوتر هم ......والاصح ان وقتها بعدالعشاء الی آخر اللیل قبل الوتر وبعده ......الخ (الجوهرة النیرة ج:۱ص:۱۰۰وایضًا درمختارمع الشامی ج:۲ص:٤٤باب الوتر والنوافل ،مبحث صلاة التراویح)۔

۲] واماف رمضان فهی بجماعة افضل من ادائها فی منزله ......الخ (الجوهرة النیرة ج:۱ص:۱۰۰وایضًا فی الدرمع الشامی ج:۲ص٤٩وایضًافی الاختیارج:۱ص:٦٩)

۳]امالوتخلف عنها رجل من افرادالناس وصلي فی بیته فقدترك الفضیلة..الخ(شامی ج۲ص۴۵،مبحث صلاة التراویح)

٤] وفی اللیل یتخیر اعتبارا بالفرض فی حق المنفردوهذا لانه مکمل له فیکون تبعاله (هدایة ج:۱ ص:۱۱٦کتاب الصلوة باب صفة الصلاة وایضًا فی الدر مع الشامی ج:۱ص:۵۳۳وایضًا فی فتح القدیر ج:۱ص:۲۳۰)۔

اختياريږي، لهذاد لاوډ سپيکراواز ترجومات پورې محدودپاتې کيدل پکاردي، په تراويحو کې پورتنی سپيکرونه خلاصول چې د هغه له وجې د ټولې محلې ارام بربادشي جائزنه دي.[۱]

که څوک په تراويحو کې دامام اواز پوره وانه وري؛ نوهم به ورته پوره ثواب ملاويږي

سوال: که په تراويحو کې مخلوق زيات وي اود وروستيو صفونووالا قرآن پاک وانه وري؛ نو ايا هم هغه ثواب به ورته ملاويږي کوم چې اوريدونکي ته ملاويږي؟

جواب: هو! هغه ته به هم پوره ثواب ملاويږي.

په تراويحو کې قرآن کتل او لوستل

سوال: ايا تراويحو کې قرآن ته کتل او لوستل جائز دي؟

جواب: په تراويح کې قرآن مجيد ته کتل او لوستل صحيح نه دي، که چيرې چا داسې وکړل؛ نو لمونځ به يې فاسد شي.[۲]

په تراويحو کې قرآن پاک په کتلوسره لوستل جائز نه دي

سوال: ماقرآن پاک حفظ کړی دی اوهرکال په رمضان کې په تراويح کې داوريدلو اهتمام هم کوم، خو چې کومه ښځه زماقرآن پاک اوري هغه حافظه نه ده اوقرآن پاک يې په لاس کې نيولی وي او اوري يې، يانابالغه حافظ هلک دسامع په ډول مقررولوسره دا اهتمام کيدای شي؟ په دواړو صورتونوکې جائز صورت کوم يو دی؟

جواب: په لاس کې قرآن پاک نيولوسره اوريدل غلط دي[۳] اودښځې له پاره څوک نابالغ سامع جوړول هم جائزنه دي.[۴]

۱] قال فی الدر:ويجهرالامام وجوبًابحسب الجماعة فان زاد عليه اساء،وفی الشامية تحت قوله زاد عليه اساء ،وفی الزاهدی عن ابی جعفرلو زاد علی الحاجة فهو افضل الا اذا اجهد نفسه او آذی غيره قهستانی (شامی ج:۱ ص:۵۳۲ فصل فی القراة)۔

۲] ولوقرأ المصلی من المصحف فصلوته فاسدة ......الخ (البدائع الصنائع ج:۱ص:۲۳٦)

۳]ولوقرأ المصلی من المصحف فصلوته فاسدة ......الخ (البدائع الصنائع ج:۱ص:۲۳٦)۔

٤] ولايصح اقتداء الرجل بالمراة وفی الشرح:اما غير البالغ فان كان ذكرًا تصح امامته لمثله من ذكرًا وانثی وخنثی،ويصح اقتداءبالذكر مطلقًا فقط،وان كان انثی تصح امامتها لمثله فقط(شامی ج:۱ص:۵۷۷باب الامامة)

د تراویحو لمونځ چې څنګه د سړیو په ذمه دی هماغه شان د ښځو په ذمه هم دی

سوال: ایا د تراویحو لمونځ د ښځوله پاره ضروري دی؟کومې ښځې چې په دې کې کوتاهي کوي د هغوی څه حکم دی ؟

جواب: تراویح سنت دي او د تراویح لمونځ چې څنګه د سړیو په ذمه دی، هما غه شان د ښځو په ذمه هم دی، مګر اکثر ښځې په دې کې کوتاهي کوي او ترې غافله وي، دا ډیره بده خبره ده.[۱]

د تراویحو له پاره د ښځو جومات ته تلل مکروه دي

سوال: د ښځوله پاره په جومات کې د تراویحو انتظام کول څنګه دي؟ ایا هغوی یې په کور کې نه شي کولی ؟

جواب: په ځینو جوماتونو کې د ښځوله پاره هم د تراویح انتظام موجود وي، مګر د امام ابوحنیفه رحمه الله په نزد باندې د ښځو جوماتِ ته تلل مکروه دي، د هغوی په خپل کور کې لمونځ کول په جومات کې د قرآن پاک د اوریدو په نسبت زیات افضل دي.[۲]

د ښځو د تراویح کولو طریقه

سوال: د ښځو د تراویح کولو صحیح طریقه څه ده؟ هغوی په تراویح کې څنګه قرآن پاک ختم کړي؟

جواب: که حافظ محرم وي؛ نو دهغه نه دې په کور کې قرآن پاک اوري او که نامحرم وي؛ نو د پردې له شانه اوري او په کور کې د حافظ انتظام و نه شي؛ نو (الم ترکیف) سره تراویح کوي![۳]

ایا د قرآن حافظه ښځه، د ښځو د تراویحو امامت کولی شي؟

سوال: که ښځه حافظه وي نو ایا هغه تراویح ورکولی شي؟ او د ښځو د تراویح کولو څه طریقه ده؟

جواب: د ښځو جمعه مکروه تحریمي ده او که یې وکړي؛ نو امام دې وړاندې نه دریږي، لکه

۱] (التراویح سنة موكدة) لمو اظبة الخلفاء الراشدين (للرجال والنساء) اجماعًا......الخ (درمختارمع الشامی ج:۲ص:۴۳باب الوتر والنوافل مبحث صلاة التراويح طبع ايچ ايم سعيد)۔

۲] (ولايحضرن الجماعات) لقوله صلى الله عليه وسلم :صلاة المراة فى بيتها افضل من صلاتها فى حجرتها، وصلاتها فى مخدعها افضل من صلاتها فى بيتها ،فالافضل لها ما كان استرلها، لافرق بين الفرائض وغيرها كالتراويح (حاشيه الطحطاوى على مراقى الفلاح ص:۱۶۶فصل فى بيان الاحق بالامامة وايضًافى الشامية ج:۱ص:۵۶۶)۔

۳] ایضًا)۔

ځنګه چې د امام مصلی جدا وي، بلکې په صف کې دې لره شان مخکې ودرېږي[۱] او ښځه که تراويح اوروي؛ نو د هيڅ يو سړي له پاره (که څه هم محرم وي) په دې لمانځه کې شامليدل جائز نه دي.[۲]

له رمضان پرته تراويح

سوال: د رمضان په مياشت کې د مجبوري له وجې روژې نيول پاتې شي او بيا چې کله دا روژې نيول کيږي؛ نو ايا په هغه کې د تراويحو لمونځ هم اداکيږي او که نه؟

جواب: تراويح يوازې په رمضان کې کيږي.[۳]

د نفلو په نيت په تراويحو کې شامليدو نکی بيا تراويح کولی شي

سوال: يو قاري صاحب د مسجد امام صاحب پسې په رمضان المبارک کې د تراويح د نفل په نيت سره وکړې او د دې نه وروسته يې په خپله هم تراويح وکړې، ايا دا طريقه صحيح ده؟

جواب: د قاري صاحب عمل صحيح و.[۴]

د هيريدو نکي او د فتحې نه اخيستو نکي قاري سره څه وکړي

سوال: زموږ په مسجد کې چې کوم امام صاحب دی هغه عالم دين هم دی او حافظ او قاري هم دی کله چې هغه دې مسجد ته د تراويح د کولو له پاره راتلو؛ نو ډير به سهوه کيده ، دوی دا تاويل وکړ چې ما مخکې د يو څو کسانو امامت کولو او دلته د لمونځګذارو تعداد ډير زيات دی له دې وجې (شايد چې د سام(اثر) له وجې) هيريږي، خواوس څه کم لس کاله يې د تراويح د کولو وشو او سهوه يې د هغې په نسبت زياتيږي.که چيرې څوک بل حافظ (د ده مقرر کولو سامع نه پرته) فتحه ورکړي؛ نو نه يې قبله وي انتظاميه د شکايت باوجود خپل ځان له دې وجې مجبوره ګڼي چې :

۱- مکان يې د اوسيدو له پاره ورکړی دی چې هغه د مسجد ملکيت دی.

۲- د شمالي علاقې سره تعلق لري، هغوی خپلې حلقې ته وسعت ورکړی دی، کم نه کوم بل ځای کې د جنګ نه پرته د مکان خالي کولو خطره لازمي محسوسوي، په دې حالاتو کې مقتدي

۱]ويكره تحريمًا جماعة النساء ولو التراويح ......فان فعلن تقف الامام وسطهن ......الخ (التنوير مع شرحه ج:۱ص:۵۶۵،عالمگيری ج:۱ص:۸۵ حاشيه الطحطاوی علی مراقی الفلاح ص:۳۰۴)۔

۲] ولايجوز اقتداء رجل بامراة هكذا فی الهداية (عالمگيری ج:۱ص:۸۵الباب الخامس فی الامامة)۔

۳] التراويح سنة موكدة وينبغی ان يجمع الناس فی كل ليلة من شهر رمضان بعدالعشاء (الاختيار لتعليل المختار ج:۱ص:۶۹كتاب الصلاة ،باب النوافل ،فصل فی التراويح ،طبع دارالمعرفة بيروت)۔

۴] لاباس لغير الامام ان يصلی فی مسجدين لانه اقتداء المتطوع بمن يصلی السنة وانه جائز كما لوصلی المكتوبة ثم ادرک الجماعة ودخل فيها ......الخ (بدائع ج:۱ص:۲۹۰فصل واما بيان سننها ای التراويح)

څه وکړي؟ او په دې مسجد کې پاس په منزل باندې دويم حافظ صاحب (کله کم عمره حافظ هم) تراويح ورکوي، خو کمزوري خلکو ته پاس ختل هم مشکل دي، ايا اوس هغه خلک د الم ترکيف سره خپلې تراويح جدا پوره کولی شي؟

جواب: که چيرې قاري صاحب ډير زيات غلطيږي او د شاته نه فتحه هم نه اخلي؛ نو دده په ځای بل کس مقرر ول پکار دي [1] د خلکو د قرآن نه اوريدل د افسوس خبره ده. خوقاري صاحب شاته که د اودريدلوبرداشت نه وي؛ نو خپلې تراويح دې وکړي، بهتره داده چې د دوی له پاره د جدا جمعې انتظام وکړل شي.

❖ نفل لمونځونه ❖

په نفل اوسنت غيرمؤکده کې فرق

سوال: په نفل اوسنت غيرمؤکده لمانځه کې څه فرق دی؟ هرکله چې ددواړوله پاره داويل کيږي چې که وکړل شي؛ نوثواب دی، که ونه کړل شي؛ نوڅه ګناه نه شته.

جواب: سنت غيرموکده اونفل نژدې نژدې دي اودې کې زيات فرق نه شته، البته دافرق په کې دی چې سنن غيرموکده منقول دي ځکه چې ددې درجه بطورخاص مستحب ده او نور نوافل منقول نه دي ددې له وجې ددې درجه دعام نفلي عبادت په شان ده. [2]

ايا د پنځه وخته لمانځه نه پرته نورلمونځونه هم شته؟

سوال: په قرآن پاک کې يوازې دپنځولمونځونو ويل شوي دي يازيات هم کيدلی شي؟

جواب: دپنځووختونولمونځونه خوپه هرمسلمان نارينه اوښځې باندې فرض دي [3] ددې نه پرته نفلي لمونځونه دي، هغه موچې څومره خوښه وي کوئ يې، دځينوخاصولمونځونوثواب

---

[1] لا ينبغى ان يقدموا فى التراويح الخوشخوان ولكن يقدموا الدرستخوان ......الخ (عالمگيرى ج:۱ص:۱۱۸ الباب التاسع فى النوافل) ويكره الاسراع فى القرأة وفى اداء الاركان (ايضاً ج:۱ص:۱۱۸فصل واماشرائط الاركان كتاب الصلاة)

[2] اقول فلا فرق بين النفل وسنن الزوائد من حيث الحكم لانه لايكره ترك كل منهما......فالنفل ما ورد به دليل ندب عمومًا اوخصوصًا ولم يواظب عليه النبى صلى الله عليه وسلم ولذا كان دون سنة الزوائد كما صرح به فى التنقيح (فتاوى الشامية ج:۱ص:۱۰۳مطلب فى السنة وتعريفها)۔

[3] عن عبادة بن الصامت رضى الله عنه قال:قال رسول الله صلى الله عليه وسلم :خمس صلوات افتراضهن الله تعالى، من احسن وضوءهن وصلاهن لوقتهن واتم ركوعهن وخشوعهن كان له على الله عهد ان يغفرله ،ومن لم يفعل فليس له على الله عهد ان شاء غفرله وان شاء عذبه،رواه احمد وابوداود وروى مالك والنسائى نحوه (مشكوة ص:۵۸الفصل الثانى،كتاب الصلاة)۔

هم حضور ﷺ فرمايلي دي، مثلاً: د تهجد لمونځ[۱]، اشراق[۲]، چاشت[۳]، اوابين[۴]، د استخارې لمونځ[۵]، د حاجت لمونځ[۶] او داسې نور...

د اشراق، چاشت، اوابين او تهجد رکعتونه

سوال: په نفلي لمونځونو مثلاً: اشراق، چاشت، اوابين او تهجدو کې د کم نه کم او د زيات نه زيات څومره رکعتونه کيدلی شي؟

جواب: په نوافلو کې څه پابندي نه شته، څومره رکعتونه موچې خوښه وي کوئ يې، په حديث شريف کې د دې لمونځونو رکعتونه په لاندې ډول نقل شوي دي:

اشراق: څلور رکعتونه.[۷] **چاشت:** اته رکعتونه.[۸]

اوابين: شپږ رکعتونه[۹]. **تهجد:** دولس رکعتونه.[۱]

۱]عن ابی ا مامة رضی الله عنه قال:قال رسول الله صلی الله علیه وسلم :علیکم بقیام اللیل فانه داب الصالحین قبلکم وهوقربة لکم الی ربکم ومکفرة للسیأت ومنهاة عن الاثم ٠رواه الترمذی (مشکوة ص:۱۰۹ الفصل الثانی باب التحریض علی القیام)۔

۲]عن معاذ بن انس الجهنی رضی الله عنه قال:قال رسول الله صلی الله علیه وسلم :من قعد فی مصلاه حین ینصرف من صلوة الصبح حتی یسبح رکعتی الضحی لایقول الا الخیر غفرله خطایاه وان کانت اکثرمن زبدالبحر ٠رواه ابوداود (مشکوة ص:۱۱۶ الفصل الثانی باب صلوة الضحی)۔

۳]عن ام هانی رضی الله عنها قالت:ان النبی صلی الله علیه وسلم دخل بیتها یوم فتح مکة فاغتسل وصلی ثمانی رکعات فلم ار صلوة قط اخف منها غیر انه یتم الرکوع والسجود ٠قالت فی روایة آخری :ذلک ضحی ٠متفق علیه (مشکوة ص:۱۱۵،الفصل الاول باب صلوة الضحی)۔

٤]عن ابی هریرة رضی الله عنه قال:قال رسول الله صلی الله علیه وسلم من صلی بعدالمغرب ست رکعات لم یتکلم فیما بینهن بسوء عدلن له بعبادة ثنی عشرة سنة ٠رواه الترمذی(مشکوة ص:۱۰٤ الفصل الثانی باب السنن)

۵]عن جابررضی الله عنه قال:کان رسول الله صلی الله علیه وسلم یعلمنا الاستخارة فی الامورکما یعلمنا السورة من القرآن ،یقول اذاهم احدکم بالامرفلیرکع رکعتین من غیر الفریضة ثم لیقل :اللهم انی استخیرک بعلمک واستقدرک بقدرتک ......الخ (مشکوة ص:۱۱۶ الفصل الاول باب التطوع)۔

٦]عن عبدالله بن ابی اوفی رضی الله عنه قال:قال رسول الله صلی الله علیه وسلم من کان له حاجة الی الله اوالی احدمن بنی آدم فلیتوضا فلیحسن الوضوء ثم لیصل رکعتین ثم لیثن علی الله تعالی ولیصل علی النبی صلی الله علیه وسلم ......الخ (مشکوة ص:۱۱۷ الفصل الثانی باب التطوع)۔

۷] عن معاذة قالت:سالت عائشة کم کان رسول الله صلی الله علیه وسلم یصلی صلوة الضحی ؟ قالت:اربع رکعات ویزیدماشاء الله ٠رواه مسلم (مشکوة ص:۱۱۵ باب صلوة الضحی الفصل الاول)۔

۸]عن ام هانی رضی الله عنها قالت:ان النبی صلی الله علیه وسلم دخل بیتها یوم فتح مکة فاغتسل وصلی ثمانی رکعات فلم ار صلوة قط اخف منها غیر انه یتم الرکوع والسجود ٠قالت فی روایة آخری :ذلک ضحی ٠متفق علیه (مشکوة ص:۱۱۵،الفصل الاول باب صلوة الضحی)۔

۹]ایضًا اوګورئ تیره شوی حاشیه (عن ابی هریرة رضی الله عنه قال: ....[بقیه حاشیه په راروانه صفحه

نفلي او سنت لمونځونه جهري کول

سوال: نفلي اوسنت لمونځونه جهر کولی شو، یا په دواړو کې یو هم نه؟ که نفلي لمونځونه یاسنت جهروکړل شي؛ نو ایاسجده سهوه به لازمه وي؟

جواب: دشپې په سنتواونوافلوکې اختیارشته چې خپله خوښه په مزه لولئ اوکه په جهرسره. ددې له وجې دشپې په سنتواونوافلوباندې په جهر سره لوستلوسره سجده سهوه نه لازمیږي. دورځې سنت او نوافل په جهرسره کول صحیح نه دي، بلکې په مزه ویل واجب دي[۲] که په هیره درې یاددریونه زیات ایتونه یې ولوستل؛ نوسجده سهوه به لازمه وي اوکه نه؟ په دې کې اختلاف دی، دقواعدو تقاضا داده چې سجده سهوه واجبیدل پکاردي اوهمدغه داحتیاط تقاضاده.[۳]

په نوافلوکې د ترتیب خلاف سورتونه لوستل

سوال: په نوافلو کې که څوک د ترتیب عثماني نه خلاف سورتونه ولولي؛ نو څه پرواه خو به نه وي؟ او ایا په سنت مؤکده کې همدغه حکم جائز دی اوکه نه؟

جواب: پرته دقصدنه که چیرې داسې وشي؛ نوهیڅ گناه نه شته،قصدا داسې کول مکروه دي.[۴]

نفلي لمونځ په ناسته کول څنګه دي؟

سوال: زه نفلي لمونځ اکثرپه ناسته کوم اوزه تاسوته رښتیا وایم چې زه لمونځ ډیرکم کوم، خو کله چې یې کوم؛ نوددې سره نفل ضرورکوم، ګزارش دادی چې مابه نفل په ولاړه هماغه شان

...بقیه د تیر مخ].. قال رسول الله صلی الله علیه وسلم من صلی بعدالمغرب ست رکعات ....الخ رواه الترمذی (مشکوة ص:۱۰٤ الفصل الثانی باب السنن)۔

۱] وفی روایة :ان صلوته باللیل خمس عشرة رکعة....وفی آخری سبع عشرة ......کان یصلی صلی الله علیه وسلم سبع عشرة رکعة من اللیل ......الخ(معارف السنن ج:٤ص:۱۳۳بیان اکثرصلاته باللیل واقل ماثبت)ایضًا ان ابن عباس رضی الله عنهما اخبره انه بات عند میمونة وهی خالته ....ثم قام رسول الله صلی الله علیه وسلم الی شن معلقة فتوضا فاحسن الوضوء...ثم صلی رکعتین ثم رکعتین ثم رکعتین ثم رکعتین ثم رکعتین ثم رکعتین ثم اوترثم اضطجع حتی جآءه الموذن فقام فصلی رکعتین ثم خرج فصلی الصبح (صحیح البخاری ج:۱ص:۱۳۵باب ماجآء فی الوتر)۔

۲]فان کان متنفلاً ان کان فی النهار یخافت وان کان فی اللیل یخیر بین الجهر والمخافة والجهر افضل......الخ (خلاصة الفتاوی ج:۱ص:۹٤کتاب الصلاة طبع رشیدیه کوئته)۔

۳] قال فی الفتح فحیث کانت المخافة واجبة علی المنفرد ینبغی ان یجب بترکها السجود اه ،فتامل (شامی ج:اص:۵۳۳کتاب الصلاة فصل القراة)۔

٤]ویکره ان یقرأ فی الثانیة سورة فوق التی قراها فی الاولی لان فیه ترک الترتیب الذی اجمع علیه الصحابة هذااذاکان قصدًا واماسهوًا فلا(حلبی کبیرص:٤٤٤تتمات فیمایکره من القرآن فی الصلاة ومالایذکر.....الخ

کول څنګه چې فرض اوسنت کيږي، خوزماترورراونيا وويل چې نفل هميشه په ناسته کيږي اواکثرخلکوويل چې نفل په ناسته کيږي، زما تسلي ونه شوه، تاسو راته دا ووايئ چې نفل څنګه کيږي؟

جواب: ستانيااوترورغلط وايي،داخلکودځان نه جوړکړي دي، چې په ټولولمونځونوکې هغوی پوره لمونځ په ولاړه کوي مګرنفل په ناسته کوي، دنفلونه ناسته دکولواجازه ضرور شته، خوپه ناسته دنفلو کولوثواب نيم ملاويږي، ددې له وجې نفل په ولاړه کول افضل دي[1] د پنځه وخته لمونځ پابندي هرمسلمان ته کول پکاردي، په دې کې کوتاهي کول په دنيااواخرت کې دالله تعالی دغضب اولعنت موجب دی.[2]

ايا سنت اونفل په کورکې کول ضروري دي؟

سوال: زموږ مشر ورور،اوس اوس دسعودي عرب نه راغلی دی، هغه موږ ته تاکيدکوي چې يوازې فرض لمونځ په جومات کې اداکوئ او باقي ټول سنت اونوافل په کورکې اداکوئ، ځکه چې دنبي کريم ﷺ فرمان مبارک دی چې دخپلوکورونونه هديرې مه جوړوئ او په خپلو کورونو کې لمونځونه کوئ،، لهذاموږ خلکودحضور ﷺ دافرمان مبارک دخپل مشرورورنه واوريده؛ نوموږ هم په هغه عمل کوو، دکوم چې موږ ته حکم راکړل شوی دی، تاسوراته دا وليکئ چې سنت اونفل په کورکې کول لازمي دي؟

جواب: دا ،،حديث شريف،،دکوم حواله چې ستاورور ورکړې ده صحيح دی، ددې حديث له وجې سنت اونفل په کورکې کول افضل دي،[3]خوشرط دادی چې دکورماحول پرسکون وي اوبنده په کورکې په اطمينان سره سنت اونفل اداکړای شي، خوکه دکورماحول پرسکون نه وي، لکه څنګه چې په عام ډول سره زموږ په کورونوکې ليدل کيږي؛ نودسنتو په جومات کې اداکول بهتردي.[4]

۱]ويتنفل مع قدرته على القيام قاعدًا ......وفيه اجرغير النبى صلى الله عليه وسلم على النصف الابعذر ،درمختاروفى الشامى ويويده حديث البخارى من صلى قائمًا فهو افضل ،ومن صلى قاعدًا فله نصف اجرقائم...الخ (درمختارمع الشامى ج:۱ص:۳۶،۳۷باب الوتر والنوافل ،مبحث المسائل الستة عشرية)_

۲] وفى حديث معاذ اوصانى رسول الله صلى الله عليه وسلم ولاتتركن صلوة مكتوبة متعمدًا فان من ترك صلوة مكتوبة متعمدًافقد برئت منه ذمة الله (مسنداحمد ج:۵ص:۲۳۸)_

۳]عن ابن عمررضى الله عنهما قال:قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : اجعلوا فى بيوتكم من صلوتكم ولاتتخذوها قبورًا ،متفق عليه (مشكوة ص:۶۹الفصل الاول باب المساجد ومواضع الصلاة)_

٤] والافضل فى النفل غير التراويح المنزل الا لخوف شغل عنها ،والاصح افضلية ما كان اخشع واخلص (درمختار) وفى الشامى تحت قوله والافضل فى النفل...الخ...وحيث كان هذا افضل يراعى ما لم يلزمه منه خوف شغل عنها لو ذهب لبيته ،اوكان فى بيته مايشغل باله ويقلل....[بقيه حاشيه په راروانه صفحه

د صبح صادق نه وروسته نفل کول مکروه دي

سوال: يو بزرګ ماته د صبح صادق د لمانځه په وخت د دوو رکعتو نفلو کولو له پاره ويلي دي، هغه زه ددووکلونو راهيسې کوم، د سهار د سنتو نه مخکې يې کوم، يو بل بزرګ وفرمايل چې د تهجدو د لمونځ نه وروسته د سهار د سنتو نه مخکې سجده هم حرامه ده، صحيح مسئله کومه ده؟

جواب: د صبح صادق نه وروسته د سهار د سنتو نه پرته نور نفلونه مکروه دي، د سنتو نه مخکې هم او وروسته هم [۱] او کوم صاحب چې دا ويلي دي چې د تهجدو نه وروسته او د سهار د سنتو نه مخکې سجده هم حرامه ده دا مسئله بلکل غلطه ده، د سهار د سنتو نه مخکې د تلاوت سجده کيږي او د قضاء لمونځونه هم کيږي[۲] البته د صبح صادق نه وروسته د سهار دسنتو نه پرته نفل جائز نه دي. [۳]

دسهار لمانځه نه وروسته نفل کول صحيح نه دي

سوال: زما معمول داو چې د فرض د اداء کولو نه وروسته دوه رکعته نفل به مې کول، يو څو ورځې مخکې ماپه يو کتاب کې لوستلي و چې دسهارد لمانځه نه وروسته نفل نه دي کول پکار، ايا دا صحيح دي؟

جواب: د سهار دلمانځه نه وروسته د لمر ختلو نه وروسته (د اشراق تر وخته) پورې او مازديګر د لمانځه نه د لمر تر پريوتلو پورې نفل لمونځ جائز نه دی. [۴]

...بقيه د تير مخ]... خشوعه ،فيصليها حينئذ فى المسجد ،لان اعتبارالخشوع ارجح (درمختارمع الشامى ج:۲ ص:۲۲باب الوتروالنوافل ،مطلب فى الكلام على حديث النهى عن النذر)۔

[۱] ويكره ان يتنفل بعد طلوع الفجر باكثرمن ركعتى الفجر،لانه عليه السلام لم يزد عليهما مع حرصه على الصلوة (هداية ج:۱ص:۸۶باب المواقيت) ايضًا: وقتان لايصلى فيهما نفل ويصلى فيهما الفرض بعدالعصر حتى تغرب الشمس وبعد الفجرحتى تطلع الشمس......عن النبى صلى الله عليه وسلم لايتحرى احدكم فيصلى عندطلوع الشمس ولاعندغروبها فانها تطلع بين قرنى شيطان (شرح مختصرالطحاوى ج:۱ص:۵۲۸)۔

[۲] تسعة اوقات يكره فيها النفل ومافى معناها لا الفرائض هكذا فى النهاية والكفاية فيجوزقضاء الفائتة وصلاة الجنازة وسجدة التلاوة كذا فى فتاوى قاضيخان منها مابعدطلوع الفجركذافى النهاية والكفاية (عالمگيرى ج:۱ص:۵۲الفصل الثالث فى بيان الاوقات التى لاتجوزفيها الصلاة وتكره فيها)

[۳] وكذاالحكم من كراهة نفل وواجب لغيره لا فرض وواجب لعينه بعدطلوع فجرسوى سنته لشغل الوقت به تقديرا (درمختارمع الشامى ج:۱ص:۳۷۵كتاب الصلاة ومطلب يشترط العلم بدخول الوقت)

[۴] تسعة اوقات يكره فيها النوافل ...... منها مابعدصلاة الفجر قبل طلوع الشمس ...... ومنها مابعد صلاة العصر قبل التغير ......الخ (عالمگيرى ج:۱ص:۵۳كتاب الصلاة الباب الاول فى المواقيت ومايتصل بها)

د سهار د سنتو نه وروسته نفل کول

سوال: د سهار د اذان نه وروسته د سهار د سنتو نه پرته يو بل لمونځ کولی شو؟ مثلاً د قضايي لمونځ ، صلوة حاجت ،دوه رکعته نفل تحية المسجد يا دوه رکعته نفل تحية الوضوء ؟ په دې وخت کې ددې ټولو لمونځونو د کولو څه حکم دی؟ او که يو سړی په دې مذکوره لمونځونو کې يو لمونځ وکړي؛ نو ددې به څه حکم وي؟

جواب: صبح صادق نه وروسته د سهار د سنتونه پرته بل لمونځ جائزنه دی [۱] نه صلاة حاجت، نه تحية الوضوء، نه تحية المسجد او نه نور نفل، کد چيرې چا وکړل؛ نو بد يې وکړل. د الله تعالى نه دې معافي وغواړي، په دې وخت کې قضاء لمونځ کول جائز دي، خو په کور کې يې په پټه کوه د خلکو په مخکې قضاء لمونځ کول جائز نه دي.[۲]

په حرم شريف کې هم د سهار او مازديګر د لمانځه نه وروسته نفل مه کوئ

سوال: په خانه کعبه کې هروخت نفل اداکيږي اوکه نه؟ يعنې کله چې موږ عمرې کوو؛ نوځه خلک وايي چې دمازديګردلمانځه نه وروسته نفل نه شي کيدلی؛ نو اياموږ په مقام ابراهيم باندې دوه رکعته نفل دمازديګرنه وروسته ادانه کړو؟

جواب: په ډيراحاديثوکې دسهاراومازديګرنه وروسته دنوافلونه ممانعت راغلی دی، دامام ابوحنيفه رحمه الله په نزدباندې ددې احاديثوله وجې په حرم شريف کې هم د سهار او مازديګر د لمانځه نه وروسته نوافل جائزنه دي، کوم کس چې په دې وختونوکې طواف کوي هغه دوه رکعته دطواف لمونځ دلمر دراختلونه اوپريوتلونه وروسته اداکول پکاردي.[۳]

---

[۱] تسعة اوقات يكره فيها النوافل ......فيجوزفيها قضاء الفائتة منها مابعد طلوع الفجرقبل صلاة الفجر ......يكره فيه التطوع باكثر من سنة الفجر ...الخ (عالمگيرى ج۱ ص۵۲) ايضاً فصل: وقتان يصلى فيهما الفرض دون النفل واما بعد العصر وبعد الفجر فانما ينهى فيهما عن النوافل والنذوروصلوة الطواف ويجوز فيهما فعل الفرض وذالک لماروى ابوسعيدالخدرى ومعاذبن عفراء وابن عمر ،وابوهريرة رضى الله عنهم :ان النبى صلى الله عليه وسلم نهى عن صلوتين بعدالصبح وبعدالفجروفى حديث ابن مسعودفى سوال عمرو بن عنبسة رضى الله عنهماالنبى صلى الله عليه وسلم عن الاوقات :ان الصلاة بالليل مقبولة مشهودةحتى تصلى الفجر،ثم اجتنب الصلوة حتى ترتفع الشمس وقال ابن عباس رضى الله عنهما حدثنى رجال مرضيون ،وارضاهم عمررضى الله عنه ان رسول الله صلى الله عليه وسلم نهى عن الصلوة بعد الفجر حتى تطلع الشمس وبعدالعصرحتى تغرب (شرح مختصرالطحاوى ج:۱ ص:۵۳۶،۵۳۷ كتاب الصلاة)

[۲] وينبغى ان لا يطلع غيره على قضائه لان التاخير معصية فلايظهرها......الخ (شامى ج:۲ص:۷۷)

[۳] وفى التنوير (وكره نفل وكل ماكان واجبًا لغيره كمنذور وركعتى طواف) وفى الشامية تحت قوله وركعتى طواف ظاهره ولوكان الطواف فى ذلک الوقت المكروه لم اره صريحًاويدل عليه مااخرجه الطحاوى فى شرح الآثارعن معاذبن عفراء انه طاف بعدالعصر اوبعدصلاة الصبح ولم يصل ....[بقيه حاشيه په راروانه صفحه

ایا په حضور ﷺ باندې تهجد فرض و؟

سوال: ما ماشومانوته دقرآن پاک تعلیم ورکاو، چې ناڅاپه دلمانځه په باره کې یومولانا ماشومانو ته دپوهولوپه اندازکې وویل چې: په عام مسلمانانو باندې پنځه لمونځونه فرض دي اوپه حضور ﷺ باندې شپږ لمونځونه فرض و اود تهجدو لمونځ یې په حضور ﷺ باندې فرض وباله، لهذاددې په باره کې په تفصیل سره جواب راکړئ، ستاسو به ډیره مهرباني وي.

جواب: په حضور ﷺباندې دتهجدو لمونځ فرض و اوکه نه، په دې باره کې دوه قولونه دي اوداختلاف وجه هم داده چې داسلام په شروع کې کله چې پنځه وخته لمونځونه فرض شوي نه وو، هغه وخت دتهجدولمونځ په ټولوباندې فرض و، وروسته دامت په حق کې فرضیت ختم شو، خو دحضور ﷺ په حق کې دافرضیت ختم شو اوکه نه؟ په دې کې اختلاف دی، علامه قاضي ثناء الله پاني پتي دې ته ترجیح ورکړه چې دحضور ﷺ په حق کې هم فرضیت باقي پاتې نه شو، ددې باوجودبه حضور ﷺ ددې پابندي کوله اوپه سفراوحضر دواړوکې ترې تهجد پاتې شوي نه و.[۱]

د تهجدو لمونځ په کوم عمرکې کول پکاردي؟

سوال: زما سوال دادی چې ایا تهجد یوازې بوډاګان کوي؟ اود تهجدو نفلو اوداسې نورو... قضاکول نه دي پکار؟ زما عمرد(۴۵) کالونه زیات دی زه کله تهجد کوم اوکله نه؟

جواب: دتهجدوکولو له پاره دعمرهیڅ تخصیص نه شته،الله تعالی چې توفیق ورکړي؛ نوهرمسلمان ته کول پکاردي، دخپل طرف نه خودا اهتمام کول پکاردي چې تهجدکله هم پاتې نه شي، خو که کله ونه شو؛نوبیاهم څه ګناه نه شته هو! که ښه په پوهې سره دبې همتې له وجې یې پریږدي دې سره بې برکتي راځي.[۲]

...بقیه د تیر مخ]..فسئل عن ذلک فقال :نهی رسول الله صلی الله علیه وسلم من صلاة بعدالصبح حتی تطلع الشمس وعن صلاة بعدالعصرحتی تغرب الشمس ،،ثم رایته مصرحًا به فی الحلیة وشرح اللباب (الدرالمختارمع الردالمحتار ج:۱ ص:۳۷۵ مطلب یشترط العلم بدخول الوقت)۔

۱] وقالت طائفة :کان فرضًا علیه فلاتفیدمواظبته علیه السنة فی حقنالکن صرح مافی مسلم وغیر ه عن عائشة انه کان فریضة ثم نسخ، هذاخلاصة ماذکره ،ومفاده اعتمادالسنة فی حقنالانه صلی الله علیه وسلم واظب علیه بعدنسخ الفریضة ،ولذاقال فی الحلیة: والاشبه انه سنة (درمختارمع الشامی ج:۲ص:۲۴مطلب فی صلاة اللیل ،وایضًاالجامع لاحکام القرآن (القرطبی) ج:۱۹ص:۵۴طبع مصر،تفسیرمظهری ج:۱۰ ص:۱۱۶تحت آیة :فاقروا ماتیسرمن القرآن سورة المزمل)۔

۲] من المندوبات صلاة اللیل حثت السنة الشریفة علیها کثیرًا وافادت ان لفاعلها اجرًا کبیرًا ...... وروی ابن خزیمة مرفوعًا علیکم بقیام اللیل فانه داب الصالحین قبلکم وقربة الی ربکم ومکفرة للسیئات ومنهاة عن الاثم ۰وروی الطبرانی مرفوعًا:لابد من صلاة بلیل ولوحلب شاة ......الخ....[بقیه حاشیه په راروانه صفحه

دشپې د اخرې برخې فضلیت او تعین

سوال: ما په کتابونو کې لوستلي دي چې کله د شپې یوه برخه باقي پاتې شي: نو الله تعالی د اسمانونو نه دنیا ته راکوځیږي او کومه دعا چې وشي؛ نو هغه قبلیږي، (چې یوه دریمه برخه پاتې وي) ددې نه څو بجې مراد دي ؟ یعني درې بجې یا دوه بجې؟ صحیح وخت کوم یودی؟ او بل دا چې اودس وشي او دوه رکعته نفل وکړل شي او بیا دعا غوښتل پکار دي یا څه بله طریقه وي؟ مهرباني وکړئ دخپل کالم (تحریر) په راتلونکي اشاعت کې جواب ضرور راکړئ. په انتظار به یم، ډیره شکریه.

جواب: دلمر د پریوتلو نه وروسته تر صبح صادقه پورې وخت دې په دریوو برخو تقسیم کړل شي؛ نو اخري برخه مراد ده، مثلاً: نن سبا د ماښام نه تر صبح صادقه پورې تقریبا ۹ ګنټې شپه وي او پاو باندې یوې بجې پورې دوه برخې تیریږي او د پاو باندې یوې نه تر صبح صادقه پورې وخت دی، چې د هغه فضیلت په حدیث کې بیان شوی دی[1] په دې وخت کې اودس کول او د څلورو نه تر دولسو رکعتونو پورې څومره چې الله تعالي توفیق درکړي د تهجدو لمونځ کول پکار دي[2] ددې نه وروسته چې څومره دعا غوښتل کیدای شي ودې غوښتل شي.

د تهجدو صحیح وخت کوم دی؟

سوال: په تهجدو کې اته، لس یا دولس رکعتونه درسول کریمﷺنه ثابت دي. خودځینو بزرګانو اوشیخانو په باره کې لیکل شوي دي چې هغوی به ټوله شپه نفلونه کول، ایا دانفلونه په تهجدو کې شماریږي؟دتهجدوصحیح تعداد څو رکعته دی اوددې صحیح وخت کوم دی؟

جواب: دویده کیدونه وروسته چې راپاسئ او دشپې کوم لمونځ وکړل شي هغه ته تهجد

...بقیه د تیر مخ].. (البحر الرائق ج:۲ص:۵٦) وفی الشامی :انه یکره ترک تهجداعتاده بلاعذر......الخ (درمختارمع الشامی ج:۲ص:۲۵باب الوتر والنوافل ،مطلب فی صلاۃ اللیل)_

[1] عن ابی هریرۃ رضی الله عنه قال:قال رسول الله صلی الله علیه وسلم :ینزل ربنا تبارک وتعالی کل لیلة الی السماء الدنیاحین یبقی ثلث اللیل الآخر یقول :من یدعونی فاستجیب له! من یسالنی فاعطیه ! من یستغفرنی فاغفرله ! متفق علیه (مشکوۃ ص:۱۰۹الفصل الاول باب التحریض علی قیام اللیل)

[2] ایضاً پورتنئ حواله_ ایضاً: وفی روایة :ان صلوته باللیل خمس عشرۃ رکعة ......وفی آخری سبع عشرۃ ......کان یصلی صلی الله علیه وسلم سبع عشرۃ رکعة من اللیل ......الخ(معارف السنن ج:٤ص:۱۳۳بیان اکثر صلاته باللیل واقل ماثبت)ایضًا ان ابن عباس رضی الله عنهما اخبره انه بات عند میمونة وهی خالته ......ثم قام رسول الله صلی الله علیه وسلم الی شن معلقة فتوضا فاحسن الوضوء ......ثم صلی رکعتین ثم رکعتین ثم رکعتین ثم رکعتین ثم رکعتین ثم اوترثم اضطجع حتی جآءه الموذن فقام فصلی رکعتین ثم خرج فصلی الصبح (صحیح البخاری ج:۱ص:۱۳۵باب ماجآء فی الوتر)_

وايي[۱] رکعتونه که څه هم زيات وي اوکه کم، دحضور ﷺ نه د څلورونه واخله تر دولسوپورې رکعتونه نقل دي[۲] اوکه بنده ټوله شپه نه ويده کيږي ، ټوله شپه په عبادت کې مشغول وي: نوهيڅ نقصان په کې نه شته، هغه ته به دقيام ليل اوتهجدوثواب ملاويږي. مګر دا د عاموخلکودوس خبره نه ده، ددې له وجې دکومو بزرګانونه چې ټوله شپه ويښ پاتې کيدل اوپه عبادت کې مشغولتيانقل ده، په هغوی خودې اعتراض ونکړل شي اوپه خپل خپل عادت دخپل همت او استطاعت مطابق وساتل شي.[۳]

د پيشمني په وخت کې تهجد کول

سوال: زمادتهجدودلمونځ کولوشوق دی او زه اکثردوه بجې راپاڅيږم او دا لمونځ کوم . درمضان په مياشت کې دالمونځ کيږي اوکه نه؟ (دصبح صادق داذان نه مخکې).

جواب: دصبح صادق نه مخکې دتهجدو وخت دی؛ نوکه صبح صادق شوی نه وي؛ نودپيشمني په وخت کې تهجد کولی شئ.[۴]

د تهجدوپه لمانځه کې کوم کوم سورتونه لوستل پکاردي؟

سوال: دتهجدويه لمانځه کې څه لوستل کيږي؟څوک وايي چې په دوو رکعتونوکې (۱۲)قل ويل پکاردي ،تاسوراته ددې صحيح طريقه وښايئ!

۱]وايدبمافی معجم الطبرانی من حديث الحجاج بن عمرو رضی الله عنه قال: يحسب احدكم اذاقام من الليل يصلی حتی يصبح انه قد تهجد انما التهجد المرا يصلی الصلاة بعد رقدة....الخ (ردالمحتارج:۲ص:۲٤مطلب فی صلوته الليل)

۲] وفی رواية :ان صلوته بالليل خمس عشرة ركعة ......وفی آخری سبع عشرة ......كان يصلی صلی الله عليه وسلم سبع عشرة ركعة من الليل ......الخ(معارف السنن ج:٤ص:۱۳۳بيان اكثرصلاته بالليل واقل ماثبت)ايضًا ان ابن عباس اخبره انه بات عند ميمونة وهی خالته ......ثم قام رسول الله صلی الله عليه وسلم الی شن معلقة فتوضا فاحسن الوضوء ......ثم صلی ركعتين ثم ركعتين ثم ركعتين ثم ركعتين ثم ركعتين ثم اوترثم اضطجع حتی جآءه المؤذن فقام فصلی ركعتين ثم خرج فصلی الصبح (صحيح البخاری ج:۱ص:۱۳۵باب ماجآء فی الوتر)_

۳] واقل ماينبغی ان ينتفل بالليل ثمان ركعات كذافی الجوهرة وفضلها لايحصرقال تعالی :فلاتعلم نفس مااخفی لهم من قرة اعين٠وفی صحيح مسلم قال رسول الله صلی الله عليه وسلم :عليكم بصلاة الليل فانه داب الصالحين قبلكم وقربة الی ربكم ومكفرة للسيات ومنهاة عن الاثم (طحطاوی علی مراقی الفلاح ص:۲۱۷ فصل فی تحية المسجد، وايضًا: درمختارمع شامی ج:۲ص:۲٦،۲۵عالمگيری ج:۱ص:۵۹ امدادالفتاوی ج:۱ص:۳۰۹ابن ماجة ص:۹۷)

٤] عن عائشة رضی الله عنها قالت:كان النبی صلی الله عليه وسلم يصلی فيمابين ان يفرغ من صلوة العشاء الی الفجراحدی عشرركعة يسلم من كل ركعتين...الخ (مشكوة ص:۱۰۵الفصل الاول ،باب صلوة الليل)

جواب: کوم سورتونه چې درته یادوي هغه لولئ ،شریعت کوم سورتونه مقرر کړي نه دي.[۱]

ایا په تهجدو کې درې ځله سوره اخلاص ویل پکار دي؟

سوال: دتهجدو په لمانځه کې څور کعتونه وي، په هر رکعت کې دُرې ځله سوره اخلاص ویل لازمي وي؟

جواب: د تهجدو په لمانځه کې دڅلورونه واخله تر دولسو پورې رکعتونه وي، ددې داداکولو څه خاص طریقه نه شته، دعامو نفلو په شان اداکیږي، په هر رکعت کې درې ځله سوره اخلاص ویل جائزدي مگرلازم نه دي، دکوموخلکو په ذمه چې قضالمونځونه وي هغوی ته مشوره ورکوم چې هغوی دې دتهجدو په وخت کې هم دنوافلو په ځای خپل قضا لمونځونه کوي،دوی ته به ان شاءالله د تهجدو ثواب هم ملاویږي اود سرنه به یې فرض هم کوزشي.[۲]

د تهجدو لمونځ په جمعې سره اداکول صحیح نه دي

سوال: مسئله داده چې زه په یوجومات کې یم، په تیررمضان کې ددریوورځوله پاره په اعتکاف کې کیناستم، دجماعت په وینابه باندې به مونږ ټوله شپه ویښ پاتې کیدو اوعبادت به موکولو، د تهجدو په وخت کې دې خلکو دتهجدو لمونځ په جمعې سره کولو،ایا دا جائزدي، چې دتهجدو لمونځ دې په جمعې سره وکړل شي؟ ما ترې پوښتنه وکړه؛نوهغوی وویل چې داسې خونبي کریم ﷺ هم کړي دي، هرکله چې ماخوچیرته هم اوریدلي نه دي چې دتهجدو لمونځ په جمعې سره کیږي.

جواب: دامام ابوحنیفه رحمه الله په نزدباندې دنوافلو جمعه (هرکله چې مقتدیان د دوو دریونه زیات وي) مکروه ده، ځکه چې دتهجدو په لمانځه کې جمعه صحیح نه ده، حضور ﷺ دتراویح جمعه کړې وه او دتهجدو دلمونځ باجماعت اداکولو معمول یې نه و.[۳]

که اخره شپه کې نه راپاڅیدو نکی د وترو نه مخکې تهجد وکړي

سوال: یوصاحب وایي چې تهجد دنیمې شپې نه پرته دماسخوتن د لمانځه نه وروسته هم کیږي ،لږ داخوراته ووایئ چې داخبره څومره حد پورې صحیح ده؟

۱] ویکره ان یوقت شیئًامن القرآن بشیء من الصلوة ......الخ (عالمگیری ج:۱ص:۴۹وایضًا هدایة ج: ۱ ص: ۱۰۰وایضًا درمختارمع الشامی ج:۱ص:۵۴۴)_

۲] وفی الحجة والاشتغال اولی واهم من النوافل الا السنن المعروفة وصلوة الضحیٰ وصلوة التسبیح والصلوات التی رویت فی الاخبارفیها سورمعدودة واذکارمعهودة فتلک بنیة النفل وغیرهابنیة القضاء (عالمگیری ج:۱ ص:۱۲۵، کتاب الصلاة ،الباب الحادی عشرفی قضاء الفوائت)_

۳] واعلم ان النفل بالجماعة علی سبیل التداعی مکروه علی ماتقدم ماعدا التراویح ......الخ (حلبی کبیرص:۴۳۲ ،تتمات من النوافل ،ایضًا:عالمگیری ج:۱ص:۸۳وایضًادرمختارمع الشامی ج:۲ص:۴۹،۴۸)_

جواب: کوم کس چې په اخره شپه کې نه شي راپورته کیدای، هغه دې د وترونه مخکې څلور رکعتونه دتهجدو په نیت سره کوي ان شاء الله هغه ته به ثواب ملاویږي[۱] اګرچې په اخره شپه کې د راپورته کیدو ثواب ډیرزیات دی، ددې هم کوشش کول پکاردي.[۲]

د تهجد د لمانځه له پاره که د نه پاڅیدو ګمان وي؛ نو څه به کوي؟

سوال: یو سړي ته ګمان وشو چې هغه د شپې د تهجدو له پاره نه شي پاڅیدلی؛ نو هغه بیا د ماسخوتن او د ویده کیدو نه مخکې د تهجدو لمونځ کولی شي؟

جواب: هو، کولی یې شي، خوهمیشه دشپې په اخرکې دپاڅیدو په نیت ویده کیدل پکاردي.[۳]

د تهجدو د لمانځه له پاره ویده کیدل یا شب ګیره ضروري ده

سوال: ایا د تهجدو د لمانځه له پاره د ماسخوتن لمانځه نه وروسته ویده کیدل یا شب ګیره ضروري ده؟

جواب: تهجدپه اصل کې دیته وایي چې دخوب نه وروسته وکړل شي[۴] خو دچا چې د پاڅیدو یقین نه وي، هغه دې د ماسخوتن نه وروسته وکړي. ان شاء الله ده ته به ثواب ملاو شي.

که د ماسخوتن لمانځه سره وتر وکړو نو ایا د تهجدو سره یې په دویم ځل وکړو؟

سوال: دوتر لمانځه ته دشپې اخري لمونځ هم ویل کیږي، که چا د ماسخوتن دلمانځه نه وروسته وتر وکړل اودشپې دتهجدو په وخت کې راپاڅیده؛ نو ایا هغه ته تهجدکول پکاردي یا وتر دوباره کول پکاردي؟

جواب: که وتریې مخکې وکړل؛ نودتهجدو په وخت کې دی دوباره وترنه کوي، یوازې تهجددې وکړي.[۵]

۱]وما كان بعد صلاة العشاء فهو من الليل وهذا يفيد ان هذه السنة تحصل بالتنفل بعد صلاة العشاء قبل النوم اه (شامی مطلب فی صلاة الليل ج:۲ص:۲٤)۔

۲] عن ابی هريرة رضی الله عنه (مرفوعًا) وافضل الصلاة بعدالفريضة صلاة الليل (ترمذی ج:۱ص:۹۰)۔

۳] وماكان بعدصلاة العشاء فهو من الليل ،،وهذا يفيد ان هذه السنة تحصل بالنفل بعدصلاة العشاء قبل النوم......الخ (شامی ج:۲ص:۲٤مطلب فی صلاة الليل)

٤] وقدذكر القاضی حسين من الشافعية انه فی الاصطلاح التطوع بعدالنوم وايدبمافی معجم الطبرانی من حديث الحجاج بن عمرو رضی الله عنه قال:يحسب احدكم اذاقام من الليل يصلی حتی يصبح انه قدتهجد انما التهجد المرء يصلی الصلاة بعد رقدة ......اقول الظاهر ان حديث الطبرانی الاول بيان لكون وقته بعد صلاة العشاء ......الخ (شامی ج:۲ص:۲٤مطلب فی صلاة الليل)

۵] وفی مراقی الفلاح :اذا صلی الوتر قبل النوم ثم تهجد لايعيد الوتر....[بقيه حاشيه په راروانه صفحه

ایا د ماسپښین، ماښام، او ماسخوتن نفل ضروري دي؟

سوال: ایا ماسپښین، ماښام او ماسخوتن نه وروسته نفل په دې لمونځونو کې شامل دي؟ ایا ددې نفلونو پرته به دا لمونځونه وشي؟ که یوکس دا نفلونه ددې لمونځونو لازمي برخه وګڼي او ددې نفلونه نه پرته خپل لمونځ نیم ګړی وګڼي، ایا دا په بدعت کې شامل دی؟

جواب: د ماسپښین نه مخکې څلور رکعتونه او د ماسپښین نه وروسته دوه رکعتونه او د ماښام او ماسخوتن نه وروسته دوه رکعتونه خوسنت موکده دي دا پرېښودل پکارنه دي[۱] او د ماخسوتن نه وروسته دوترور رکعتونه واجب دي ددې هم د پرېښودو اجازه نه شته[۲]، باقي رکعتونه د نفلو دي که ویې کړي؛ نو لوی ثواب دی او که یې ونه کړي؛ نو هیڅ نقصان نه شته، دا ضروري ګڼل صحیح نه دي.[۳]

د ماښام د لمانځه نه مخکې نفل کول جائز؛ خو اغوره نه دي

سوال: زموږ په حنفي مذهب کې د ماز دیګر نه وروسته او د ماښام د لمانځه نه مخکې نفل کول جائز دي او که نه؟ ځکه چې دلته په سعودي عرب کې د ماښام د اذان کیدو نه وروسته دوه رکعته نفل کیږي د قرآن او سنت په رڼا کې راته واضحه کړئ.

جواب: د ماښام د لمونځ د فوري اداکولو حکم دی، ددې له وجې د حنفي مذهب په نزد د ماښام د لمونځ نه مخکې نفل کول مناسب نه دي، ګویا جائز دي ددې له وجې په خپله خومه کوه مګر کوم حضرات یې چې کوي هغوی مه منع کوه.[۴]

...بقیه د تیر مخ].. لقوله تعالی صلی الله علیه وسلم لا وتران فی لیلة (حاشیه الطحطاوی علی مراقی الفلاح ص: ۲۱۱ فصل فی بیان النوافل)۔

۱]السنة رکعتان قبل الفجر واربع قبل الظهر ورکعتان بعدالمغرب واربع قبل العشاء ......الخ (هدایة ج:۱ص:۱۴۶) وایضًا :وسنن موکدًا اربع قبل الظهر واربع قبل الجمعة واربع بعدها بتسلیمة......ورکعتان قبل الصبح وبعدالظهر والمغرب والعشاء ......الخ (الدرالمختارمع الردج:۲ص:۱۲، ۱۳باب الوتر والنوافل)۔

۲]عن ابی حنیفة رحمه الله فی الوتر ثلاث روایات......وفی روایة واجب وهی آخراقواله وهوالصحیح کذا فی محیط السرخسی (عالمګیری ج:۱ص:۱۱۰وایضًا فی الدرالمختارمع الشامی ج:۱ص:۳، ۴)۔

۳] والنفل ومنه المندوب یثاب فاعله ولایسیئ تارکه .....الخ (شامی ج:۱ص:۱۰۳مطلب فی السنة وتعریفها)

۴] عن منصورعن ابیه قال:ماصلی ابوبکرولاعمرولاعثمان الرکعتین قبل المغرب (کنزالعمال ج:۸ص:۵۰باب المغرب ومایتعلق به، طبع بیروت)،وایضًاعن ابن عمر قال:مارایت احدًا یصلیهما علی عهدالنبی صلی الله علیه وسلم وعن الخلفاء الاربعة وجماعة من الصحابة انهم کانوا لایصلونهما (فتح الباری ج:۲ص:۱۰۸باب کم بین الاذان والاقامة ،وایضًا فی الدرالمختارمع الشامی ج:۱ص:۳۶۹وایضًا اعلاء السنن ج:۲ص:۵۸)۔

د ماښام نفلونه پريښودل څنګه دي؟

سوال: دماښام په لمانځه کې دفرضونه وروسته اوددووسنتونه وروسته دوه رکعته نفل کول ضروري دي؟ اوکه څوک يې ونه کړي ګناه ګار خو به نه وي؟

جواب: دنفلومعنی داده چې ددې په کولوثواب شته اوپه پريښودوکې يې څه ګناه نه شته.[۱]

د ماښام د اذان نه وروسته دوه رکعته نفل کول چې کله لمونځ ولاړوي

سوال: که چيرې زه د مسلم شريف او د ابوداود شريف د حديث په رڼا کې د ماښام د اذان نه فورا وروسته دوه رکعته نفل لمونځ وکړم، حالانکې زما نه پرته ټول مقتديان د امام پسې وروسته په جمعې کې شامل وي، کله چې زه (د نفل لمونځ د کولو نه وروسته) د جمعې د يو رکعت کيدو نه وروسته شامليږم، نو ايا زما دا عمل جائز دی؟

جواب: که چيرې جمعه ولاړه وي؛ نو د ماښام د اذان نه وروسته نفل کول جائز نه دي.[۲]

ايا نفل پريښودل کيدای شي؟

سوال: ځينې خلک ما ليدلي دي چې د ماسخوتن د فرض لمانځه نه وروسته سنت کوي او د نفلو د اداء کيدو نه پرته وتر اداء کول شروع کوي او څوک څوک خو د سنتو او د وترو نه وروسته نوافل پريږدي، داسې کول تر کومه پورې صحيح دي؟

جواب: د نفلو تعريف هم دادی چې څوک غواړي؛ نو ودې کړي او چې څوک غواړي؛ نو نه دې کوي.[۳]

د نفلو له وجې فرض پريښودل غلط دي

سوال: موږ خلک دلته په جده کې اوسيږو، زموږ داوسيدوپه کمره کې ځينې ملګري د ماسخوتن لمونځ اکثرقضاکړي، دهغوی استدلال دادی چې اوولس (۱۷) رکعتونه څوک کوي؟ دهغوی په ذهنونو کې داخبره ناسته ده چې له (۱۷) رکعتونو پرته لمونځ نه کيږي، موږ هغوی ته زرخله وويل چې (۹) رکعته کوه، (۴) فرض، (۲) سنت، او (۳) وتر، خوهغوی يې نه مني،

۱] نافلة وهو فی اللغة الزيادة وفی الشرع العبادة التی ليست بفرض ولاواجب...الخ حلبی کبيرج:۱ ص:۳۸۳) والنفل فی اللغة الزيادة وفی الشريعة زيادة عبادة شرعت لنالا علينا (شامی ج:۲ص:۳باب الوتروالنفل)۔

۲] لقيام الاجماع عليه کونه سنة وکرهواالتنفل قبلها لان فعل المباح والمستحب اذا افضی الی الاخلال بالسنة يکون مکروهًا ......الخ (علاء السنن ج:۲ص:۵۸طبع ادارة القرآن)

۳] نافلة وهو فی اللغة الزيادة وفی الشرع العبادة التی ليست بفرض ولا واجب ......الخ حلبی کبيرج:۱ ص:۳۸۳)والنفل فی اللغة الزيادة وفی الشريعة زيادة عبادة شرعت لنالا علينا (شامی ج:۲ص:۳باب الوتروالنفل)

داوولسو رکعتونه کول هغوی ته بوج محسوسیږي د دې له وجې ټول لمونځ پریږدي، مهرباني وکړئ او د دې وضاحت وکړئ چې واقعي د (۱۷) رکعتونونه پرته د ماسخوتن لمونځ نه کیږي؟ ایا د ماسخوتن پوره (۱۷) رکعتونه کول ضروري دي؟ ایا یوازې (۹) رکعته، یعنې (۴) فرض، (۲) سنت او (۳) وتر واجب کولو سره به د ماسخوتن لمونځ مکمل نه شي؟

جواب: د ماسخوتن په لمانځه کې خو رکعتونه هم دومره دي څومره چې تاسو لیکلي دي، یعنې (۴) فرض، (۲) سنت، (۳) وتر واجب، ټول (۹) رکعتونه، که د ماسخوتن نه مخکې سنت وکړي؛ نو لوی ثواب دی او که یې ونه کړي؛ نو هیڅ نقصان نه شته او د وترونه مخکې دوه څلور رکعتونه د تهجد په نیت سره هم وکړي؛ نو ښه ده، خو نفلونه داسې ضروري ګڼل چې د هغو له وجې سره فرض لمونځونه هم پریښودل شي ډېره غلطه خبره ده.

وتر د تهجد و نه مخکې وکړل شي او که وروسته؟

سوال: که وتر د ماسخوتن د لمانځه نه وروسته ونه کړل شي، بلکې د تهجد و سره وکړل شي په دې صورت کې اول درې رکعته وتر وکړل شي او وروسته د تهجد رکعتونه، یا اول تهجد وکړل شي او وروسته درې رکعته وتر؟ نور دا چې که د تهجد و رکعتونه کله څلور، کله اته، کله دولس وکړل شي؛ نو څه نقصان خو په کې نه شته؟

جواب: که د پاڅیدو باوري وي؛ نو وتر د تهجد د لمونځ نه وروسته کول غوره دي، که د صبح صادق نه مخکې په وخت کې دومره ګنجائش وي چې د نفلونه وروسته وتر وکړل شي؛ نو اول دې د تهجد و نفل وکړي او د دې نه وروسته دې وتر و وکړي[1] او که څینې ورځ ناوخته راپورته شي او داویره وي چې که په نفلونو کې مشغول شوم؛ نو چیرته وتر رانه قضا نه شي؛ نو په داسې صورت کې دې اول دوتر و درې رکعتونه وکړي او که په صبح صادق کې څه وخت باقي پاتې وي؛ نو نفل دې هم وکړي، د تهجد و د لمانځه یو عادت مقرر ول پکار دي چې دومره رکعتونه به کوم، بیا که دوخت له وجې کمی زیاتی وشي؛ نو هیڅ نقصان نه شته.

له وترو وروسته نفل کول بدعت نه دي

سوال: ایا د وترو کولو نه وروسته نفل کولی شوا وکه نه؟ زید وایي چې د وترونه وروسته نفل کول بدعت دي، ایا د زید دا وینا صحیح ده او که غلطه؟

جواب: د وترونه وروسته په ناسته دوه رکعته نفل کول په صحیح احادیثو کې موجود دي،

---

[1] وتاخير الوتر الى آخر الليل لواثق بالانتباه والا قبل النوم ......الخ (درمختار مع تنوير الابصار، كتاب الصلاة ج:١ص:٣٦٩، طبع ايچ ايم سعيد)، وايضًا ويستحب تاخيره الى آخر الليل ......الخ (هندية ج:١ص:١١١ كتاب الصلاة الباب الثامن فى صلاة الوتر طبع رشيديه كوئته)۔

ځکه دې ته بدعت ويل مشکل دي[۱] خو که دوترونه وروسته نفل کول وغواړئ؛ نوهغه هم په ولاړه کول افضل دي.[۲]

د وترو نه وروسته د دوو رکعتو نفلو شرعي حيثيت

سوال: زه د ستاسو حضراتو نه داپوښتنه کول غواړم چې د ستاسو مسائل او دهغو حل په دويم جلد (۳۳۶) صفحه باندې د وترو نه وروسته دوه رکعته نفلو د کولو په باره کې دا عبارت ليکل شوی دی: اودنبي کريم صلي الله عليه وسلم څخه د وترو نه وروسته دوه رکعته ثابت دي، خوعام معمول يې د وترو نه وروسته د نفلو نه و، له دې وجې چې که څوک د وترو نه وروسته نفل کوي؛ نو دی دې منع نه کړل شي، خو عام خلک دې دا نفل په ناستې باندې وکړي، دا غلطه ده دا نفل هم په ولاړه باندې کول پکار دي،، ددې کرښې دا عبارت چې په ناسته باندې نفل کولو ته يې غلط ويلې دي، ايا په شريعت کې ددې نفلونو په ولاړه باندې د کولو څه خاص حکم شته؟ ځکه چې نفل لمونځ خو په ناسته باندې هم کيږي،خو ثواب به نيم ملاويږي، يا داسې کول مکروه دي؟ يا له سر نه به لمونځ فاسديږي؟ تاسو په جواب کې ليکلي و چې: په دې عبارت کې واقعي غلطي ده، ددې اصلاح به په نظر ثاني کې وکړل شي ،، اميد دی چې تاسو حضراتو به نظر ثاني کړې وي،لهذا فيصله شوې جواب وفرمائې

جواب: ما چې کوم ويلي و ددې مطلب دا ووچې د عامو نفلو په شان دا نفل هم اداء کيږي، د خلکو د طرز عمل نه دا ثابتيږي چې هغوی دا نفل په ناسته باندې کول ضروري ګڼي،دا غلطه ده په ناسته باندې کول ضروري مه ګڼی،بيا که غواړې؛ نو په ناسته دې وکړي او که غواړې؛ نو په ولاړه دې وکړي او دا مسئله هم په ذهن کې کينوئ چې په ناسته به نيم ثواب ملاويږي.[۳]

۱] عن ام سلمة رضی الله عنها ان النبی صلی الله عليه وسلم كان يصلی بعد الوتر ركعتين،وقدروی نحوهذا عن ابی امامة وعائشة وغير واحدمن اصحاب النبی صلی الله عليه وسلم ((سنن الترمذی ج:۱ص:۱۰۸، وايضًا رواية عائشة مرفوعًابسندصحيح (بخاری ج:۱ص:۱۵۵ابن ماجة ص:۸۳ طحاوی ج:۱ص:۲۰۲وايضًا رواية ثوبان مرفوعًابسندحسن (دارمی ج:۱ ص:۳۱۲ طحاوی ج:۱ص:۲۰۲دارقطنی ج:۲ص:۳۶) وايضًارواية ابی امامة مرفوعًابسندحسن (طحاوی ج:۱ص:۲۰۲مسنداحمدج:۵ص:۲۶۰)

۲] ويتنفل مع قدرته علی القيام قاعدًا......وفيه اجر غيرالنبی صلی الله عليه وسلم علی النصف الابعذر ۰وفی الشامی ويويده حديث البخاری من صلی قائمًافهوافضل ومن صلی قاعدًافله نصف اجرالقائم .....الخ(درمختارمع الشامی ج:۲ص:۳۶،۳۷،باب الوتروالنوافل ،مبحث المسائل الستة عشرية)۔

۳]ويتنفل مع قدرته علی القيام قاعدًا ......وفيه اجرغير النبی صلی الله عليه وسلم علی النصف الابعذر ۰درمختار وفی الشامی ويويده حديث البخاری من صلی قائمًا فهو افضل ،ومن صلی قاعدًا فله نصف اجرقائم...الخ (درمختار مع الشامی ج:۱ص:۳۶،۳۷باب الوتر والنوافل ،مبحث المسائل الستة عشرية)۔

ایا د وترو نه وروسته نفل په ناسته زیات بهتره دي؟

سوال: دنفل لمانځه په ولاړه کولو زیات او په ناسته کولو سره لږ ثواب ملاویږي، یو مولوي صاحب وایي چې د وترو نه وروسته دوه رکعته نفل دې د ولاړې په نسبت باندې په ناسته باندې کولو سره زیات ثواب ملاویږي، ځکه چې نبي کریم صلي الله علیه وسلم دا دوه نفلونه د تهجد په وخت همیشه په ناسته باندې کړي دي، ددې دواړو نفلونوپه باره کې تاسو وفرمایي چې دا په ناسته باندې بهتره دي اوکه په ولاړه ؟

جواب: ثواب خو به ددې نفلونو په ناسته باندې نیم ملاویږي [۱] نبي کریم صلي الله علیه وسلم دا نفلونه هیمشه له پاره په ناسته نه دي کړي او بیا دا چې د تهجد په لمانځه کې به د نبي علیه السلام قیام طویل و، له دې وجې به یې نفل کله کله په ناسته کول.

نفل لمونځ چې شروع کړي؛ نوایا د ماتولو نه وروسته فرض کیږي

سوال: اوریدلي مې دي چې په ناستې سره په نفل کولو باندې نیم ثواب ملاویږي، حالانکې قیام فرض دی، مسئله دا ده چې که په ناسته یې نیت وتاړه او په مینځ کې یې له څه وجې لمونځ مات کړ، اوس دا لازم شو، دې لازم ته موږ فرض ویلی شو اوکه نه؟ که چیرې فرض وي: نو اوس په ناسته باندې اعاده وکړي اوکه په ولاړه؟

جواب: په ولاړه باندې دې وکړي، دې ته فرض ویل صحیح نه دي، خونفل لمونځ په شروع سره واجبیږي. [۲]

نبي کریم صلي الله علیه وسلم به دوه رکعته نفل په ناسته باندې کول

سوال: ټول نوافل کوم چې په هر لمانځه کې کیږي په ولاړه باندې کیږي، خو د وترو نه وروسته دوه رکعته نفل حضور صلي الله علیه وسلم اکثر کړي دي، هغه هم په ناسته، ایادا صحیح ده؟

جواب: نفل په ناسته باندې جائز دي، دوترو نه وروسته د نبي کریم صلي الله علیه وسلم نه په ناسته باندې نفل منقول دي، خوداسې کله کله شوي دي، همیشه معمول یې نه و. [۳]

---

[۱] ويجوزالتطوع قاعدًا بغيرعذر......الخ(حلبی کبیرج:۱ص:۲۷۰)وایضًا:اكثرالصحابة ومن بعدهم من اهل العلم على تركها ۱ه۰والمحققون من اكابرنا على ان اتيانها قيامًاافضل ۱ه (اعلاءالسنن ج:٦ص:۱۰۹)۰ایضًاقلت :الصواب ان هاتين الركعتين فعلهماصلى الله عليه وسلم بعدالوتر جالساً لبيان جوازالصلوة بعدالوتروبيان جوازالنفل جالسًاولم يواظب على ذالک بل فعله مرة اومرتين اومرات قليلة (شرح الكامل للنووى على مسلم ج:۱ص:۲۵۴)

[۲] ولزم نفل شرع فيه....الخ اى لزم المضى فيه حتى اذا افسده لزم قضاءه ......الخ (شامی ج:۱ص:۲۹)

[۳]وقد ثبت انه عليه الصلوة السلام شفع بعدالوتر روى الترمذى عن ....[بقيه حاشيه په راروانه صفحه

د وترو نه وروسته نفل ضروري نه دي

سوال: ايا د تهجد لمانځه نه وروسته د وترو لمونځ اود وترو نه وروسته نفل کول ضروري دي او يوازې وتر کافي دي؟

جواب: د وترو نه وروسته نفل ضروري نه وي. [۱]

د حاجت لمانځه طريقه

سوال: د حاجت لمانځه څه طريقه ده؟

جواب: حضور ﷺ دصلوة الحاجت داطريقه ښودلې ده چې بنده په ښه طريقې سره اودس وکړي اوددې نه وروسته دوه رکعته نفل وکړي د لمانځه نه فارغ شي؛ نودالله تعالى حمداوثناء دې وکړي په رسول الله ﷺ دې درودشريف ولېږي، دمسلمانانوله پاره دې دمغفرت دعا وکړي اود ډېرو توبو او استغفارنه وروسته دې دادعاولولي ,,لااله الاالله الحليم الكريم سبحان الله رب العرش العظيم الحمدلله رب العالمين،اسالک موجبات رحمتک ومنجيات امرک وعزائم مغفرتک والغنيمة من كل بروالسلامة من كل اثم لا تدع لى ذنبا الاغفرته ولا هما الافرجته ولا حاجة هى لک رضا الاقضيتهايا ارحم الراحمين.،، [۲]

ددې نه وروسته دې دخپل حاجت له پاره ښه په منت زارۍ سره دعاوکړي که صحيح شرطونوسره يې دعاوکړه؛ نوان شاءالله ضروربه قبليږي

صلوة حاجت څنګه وکړل شي؟ او غوره وخت يې کوم دی؟

سوال: دصلوة حاجت دکولو څه طريقه ده؟ څومره رکعتونه دي؟ او د کولو افضل وخت کوم يودی؟

جواب: د صلوة حاجت دوه رکعته دي، دوه رکعته وکړه او د الله تعالي حمد او ثناء وکړه بيا درود شريف ووايه، بيا د ټولو مسلمانانو د ښېنلو له پاره دعا وغواړه او بيا د خپل حاجت له

...بقيه د تير مخ]. ام سلمة انه عليه السلام كان يصلى بعدالوتر ركعتين وزاد ابن ماجة خفيفتين وهوجالس (حلبى كبيرج:١ص:٤٢٤) ، ايضًا:هذا الحديث اخذ بظاهره الاوزاعى واحمدفيماحكاه القاضى عنهما فاباحا ركعتين بعدالوترجالسًا،وقال احمد:لا افعله ولا امنعه من قوله ، قال :وانكره مالک،قلت :الصواب ان هاتين الركعتين فعلهماصلى الله تعالى عليه وسلم بعدالوترجالساً لبيان جوازالصلوة بعدالوتر وبيان جوازالنفل جالسًا، ولم يواظب على ذالک بل فعله مرة اومرتين اومرات قليلة اه (شرح الكامل للنووى على الصحيح المسلم ج:١ص:٢٥٤ كتاب صلوة المسافرين وقصرها باب صلوة الليل وعددركعات النبى صلى الله عليه وسلم)

۱] والنفل فى اللغة:الزيادة ،وفى الشريعة :زيادة عبادة شرعت لنالاعلينا (شامى ج:٢ص:٣،باب الوتروالنوافل)

٢] ترمذى ج:١ص:١٠٨ ماجاء فى صلاة الحاجة ،طبع قديمى كتب خانه)_

پاره دعا وغواړه، یوه دعا په حدیث کې راغلې، هغه دې په فضائل نماز کې وکتل شي.[1]

ایا صلوٰة حاجت د خپلو ټولو حاجتونو له پاره کولی شو؟

سوال: یو کال مخکې زه د خپلې مور د طبیعت د خرابیدو له وجې پریشانه شوم او ما د الله تعالی په حضور کې دوه رکعته صلوٰة حاجت وکړ، بیا به ما مسلسل همیشه کول، خواوس صورت حال دادی چې اوس زه د الله تعالی نه د خپل ټول حاجتونو له پاره دعا غواړم، ایا دا صحیح دي؟

جواب: د الله تعالي نه خپل ټول حاجتونه غوښتل پکار دي، ددې د نه صحیح کیدو شک ولې راغی؟![2]

صلوٰة حاجت تر کومه پورې کول پکار دي؟

سوال: ایا د حاجت رکعتونه تر هغه وخته پورې کول پکار دي تر څو پورې چې حاجت نه وي پوره شوی؟

جواب: هو! تر څو پورې چې حاجت نه وي پوره شوی مسلسل غوښتل پکار دي او که د غوښتلو له پاره صلوٰة حاجت هم کوی؛ نو نورٌ علی نور به وي.[3]

د صلوٰة حاجت رکعتونه کول پریږدئ

سوال: که چیرې زما سره وخت نه وي او ماته د پوره حاجت لمونځ کول مشکل وي، په داسې صورت کې ماته د حاجت لمونځ کول ډیر زیات مشکل وي، که چیرې زه د دې حاجت لمونځ کول پریږدم او یوازې د یو حاجت له پاره یې د حاجت په موقع باندې وکړم؛ نو څه ګناه خو به

---

[1] عن عبدالله بن ابی اوفی رضی الله عنه قال:قال رسول الله صلی الله علیه وسلم :من کانت له الی الله حاجة او الی احد من بنی آدم فلیتوضاولیحسن الوضوء ثم لیصل رکعتین ثم لیثن علی الله تعالی ولیصل علی النبی صلی الله علیه وسلم ثم لیقل لا اله الا الله الحلیم الکریم ،سبحان الله رب العرش العظیم ،الحمدلله رب العالمین ،اسالک موجبات رحمتک ،وعزائم مغفرتک ،والغنیمة من کل بروالسلامة من کل اثم ،لاتدع لی ذنباالا غفرته ،ولاهما الا فرجته ولاحاجة هی لک رضًا الا قضیتها یاأرحم الرحمین (جامع ترمذی ج:۱ص:٦٣باب ماجاء فی صلاة الحاجة ،طبع رشیدیه ساهیوال ،ایضًا:فتاوی شامی ج:۲ص:۲۸۰،ایضًا:فضائل نمازص:۱٤فضائل اعمال ص:۳۰۲)

[2] واذا سَأَلَکَ عِبَادِی عَنِی فَاِنِی قَرِیْبٌ أُجِیْبُ دَعْوَةَ الداع اذا دعان فلیستجیبوا لی ولیومنوا بی لعلهم یرشدون (البقرة :۱۸٦) (ومن المندوبات صلاة الحاجة ......قال مشایخنا:صلیناهذه الصلوة فقضیت حوائجنامذکورفی الملتقط ......الخ(شامی ج:۲ص:۲۸،باب الوتروالنوافل ،مطلب فی صلاة الحاجة)

[3] ومن المندوبات صلاة الحاجة ......قال:مشایخنا:صلیناهذه الصلاة فقضیت حوائجنامذکورفی الملتقط والتجنیس ......الخ (شامی ج:۲ص:۲۸ باب الوتروالنفل ،مطلب فی صلاة الحاجة)

نه ملاویږي؟ځکه چې د حاجت رکعتونه اوس زما په ترتیب کې شامل شوي دي او ایا الله تعالي به زما ددې رکعتونو په پرېښودو سره په ما باندې رحم او کرم کوي، اوس زما والده هم تقریبا صحیح شوې ده.

جواب: نماز حاجت نفلي لمونځ دی که چیری یو سړی یې همیشه کوي او خپل معمول یې جوړ کړي؛ نو ډیر ښه ده، په نه کولو سره یې څه ګناه نه شته. [۱]

صلواة تسبیح سره د ګناهونو معافي

سوال: صلوة تسبیح سره مخکیني وروستني،لوی واړه، نوي، زاړه، قصدا یا خطاسره ټول ګناهونومعاف کیږي، ایا داحدیث صحیح دی؟

جواب: ځینې محدثین دې ته صحیح وایي اوځینې ضعیف. [۲]

په صلوة تسبیح سره ټول ګناهونه معاف کیږي

سوال: په کتاب کې یې د صلوة تسبیح په باره کې لیکلي دي چې ددې په کولو سره ټول ګناهونه معاف کیږي،ددې تصدیق هم وکړئ!

جواب: دصلوة تسبیح په باره کې ذکر شوي روایاتو په باره کې اګر چې کلام شوی دی، خو في نفسه دا روایات د قبلولو لائق دي او د پخوا زمانې نه صلوة تسبیح د اکابرینو په معمول کې شامل دی؛ له دې وجې دا ضرور کول پکار دي. [۳]

د صلوة تسبیح تسبیح که په یو رکن کې هیر شي؛ نو د لمانځه کولو حکم

سوال: ایا که چیرې یو سړی په صلوة تسبیح کې چې کوم خاص تسبیح لوستل کیږي د لمانځه په وخت کې ددې تعداد هیر شي یا په سجده کې د سبحان ربی الاعلی په ځای هغه تسبیح لوستل شروع کړي، یعنې په لسو کې یو ځل هم پوره ونه وایي؛ نو پته به ولګیږي چې سبحان ربی الاعلی ووایي او بیا وروسته پوره لمونځ اداء کړي؟

۱] ومن المندوبات صلاة الحاجة ......قال:مشايخنا:صليناهذه الصلاة فقضيت حوائجنامذكورفى الملتقط والتجنيس ......الخ (شامي ج:۲ص:۲۸ باب الوتروالنفل ،مطلب فى صلاة الحاجة)

۲] والحديث فى صلوة التسبيح مختلف فيه قيل ضعيف وقيل انه حسن وهوالمختارعن جمهورالمحدثين ......الخ(حاشيه عرف الشذى على الترمذى ج:۱ص:۱۰۹)۰وايضًا وبالجملة لم يذهب احدمن قدماء المحدثين الى وضعه وبطلانه وانماذهب جمهرهم الى التصحيح او التحسن ولوكان ضعيفًا لكفى حجة فى باب الفضائل ......الخ (معارف السنن شرح ترمذى ج:٤ص:۲۸۵)۔

۳] (واربع صلاة التسبيح)يفعلهافى كل وقت لا كراهة فيه او فى كل يوم اوليلة مرة والا ففى كل اسبوع اوجمعة اوشهراو العمر،وحديثهاحسن لكثرة طرقة ،ووهم من زعم وضعه وفيها ثواب لا يتناهى ......الخ (شامي ج:۲ص:۲۷)

جواب: لمونځ يې کيږي، دا تسبيح که چيرې په يو رکن کې هير شي؛ نو په دويم کې دې پوره کړي مثلا: په رکوع کې هير شي؛ نو په سجده کې دې شل ځله ووايي.[1]

د صلوة تسبيح څه طريقه ده؟

سوال: په مختلفو کتابونو کې د صلوة تسبيح د اداء کولو مختلفې طريقې دي، خو لږ شان فرق لري، سړي چې کومه طريقه هم خپله کړي؛ نو په دې سره لمونځ اداء کيږي، حالانکې زه دا ګڼم چې يوازې دا مخصوص تسبيح (۳۰۰) ځله مکمل کول پکار دي.

جواب: ته ښه پوهيږې د صلوة تسبيح دوه طريقې يې ليکلې دي او دواړه صحيح دي.[2]

په صلوة تسبيح کې تسبيح په دويم رکعت کې څنګه ويل کيږي؟

سوال: په صلوة تسبيح کې دا مخصوص تسبيح په دويم رکعت کې د التحيات نه وروسته وويل شي او که مخکې؟ او الله اکبر ويلو او د پاڅيدو نه پرته الله اکبر ووايي لکه څنګه چې په اول رکعت کې دالله اکبر نه پرته پاڅيدل وي؟

جواب: ددې تسبيح د ويلو نه وروسته التحيات ووايه او اول او دويم رکعت کې د تسبيح ويلو نه وروسته له تکبير پرته پاڅه.[3]

---

[1] قال الملاعلي فى شرح المشكوة :مفهومه انه ان سها ونقص عددًا من محل معين ياتى به فى محل آخرتكملة للعددالمطلوب ......الخ (شامى ج:۲ص:۲۷باب الوتروالنوافل ،مطلب فى صلاة التسبيح)

[2] الكيفية هى التى رواها الترمذى فى جامعه عن عبدالله بن المبارك احداصحاب ابى حنيفة الذى شاركه فى العلم والزهد والورع وعليهااقتصرفى القنية وقال انهاالمختارمن الروايتين......الخ (شامى ج:۲ص:۲۷طبع سعيد) • طريقه اول: عن ابى رافع قال:قال رسول الله صلى الله عليه وسلم للعباس :ياعم !الا اصلك الا احبوك ،الا انفعك؟ قال: بلى يارسول الله !قال ياعم !صل اربع ركعات تقرأ فى كل ركعة بفاتحة الكتاب وسورة ،فاذا انقضت القرأة فقل:الله اكبر والحمدلله وسبحان الله خمس عشرة مرة قبل ان تركع ،ثم اركع فقلها عشرًا ،ثم ارفع راسك فقلهاعشرًا،ثم اسجد فقلها عشرًا ،ثم ارفع راسك فقلهاعشرًا ،ثم اسجدفقلهاعشرًا،ثم ارفع راسك فقلهاعشرًا قبل ان تقوم فذالك خمس وسبعون فى كل ركعة ،وهى ثلاث مائة فى اربع ركعات ......الخ (جامع ترمذى ج:۱ص:٦٣باب ماجاء فى صلوة التسبيح) (طريقه دوم: حدثنا احمد بن عبدة الضبىناابووهب قال:سالت عبدالله بن المبارك عن الصلوة التى يسبح فيها قال:يكبرثم يقول سبحانک اللهم وبحمدک ......ثم يقول خمس عشرة مرة سبحان الله والحمدلله ولا اله الا الله والله اكبر،ثم يتعوذ ويقرأ بسم الله الرحمن الرحيم وفاتحة الكتاب وسورة ،ثم يقول عشرمرات سبحان الله والحمدلله،ثم يركع فيقلهاعشرًا ،ثم يرفع راسه فيقولها عشرًا،ثم يسجدفيقولهاعشرًا،ثم يرفع راسه ويقولهاعشرًا،ثم يسجدالثانية فيقولها عشرًايصلى اربع ركعات على هذا،فذالک خمس وسبعون تسبيحة فى كل ركعة ......الخ (جامع الترمذى ج:۱ص:٦٤،باب ماجاء فى صلوة التسبيح)

[3] وفى الجلسة بينها عشرًا عشرًا بعدتسبيح الركوع والسجود...الخ (شامى ج:۲ص:۲۷باب الوتر والنوافل)

په تیاره کې تهجد او صلوة تسبیح کول

سوال: د شپې په کمره کې له څه رڼا پرته هریو لمونځ چې وي یعنې تهجد، یا صلوة تسبیح اوداسې نور... اداء کیږي او که څراغ لګول لازمي دي؟ ځکه چې زه دا لمونځ په پټه باندې اداء کول غواړم، له دې وجې په کمره کې رڼا وغیره نه بلوم.

جواب: رڼا کول ضروري نه دي، که قبلې ته دې مخ صحیح وي: نو په تیاره کې یې هم کولی شې.[1]

د صلوة تسبیح د لمانځه په جمعې سره د اداء کولو شرعي حیثیت

سوال: زموږ د محلې په مسجد کې د هرې پانشنبې (زیارت) په ورځ د ماسخوتن د لمانځه نه وروسته باقاعده د اقامت سره په جهرا صلوة تسبیح کیږي، داسې کول د فقه حنفي په اعتبار سره څنګه دي؟ او د دې امام پسې لمونځ کول څنګه دي؟

جواب: د صلوة تسبیح لمونځ په جمعې سره کول بدعت او مکروه دی، دې امام ته دې وویل شي چې آینده د دې نه توبه وباسي او لمونځ دده پسې جائز دی که نه؛ نو مکروه تحریمي دی.[2]

ایا د صلواة تسبیح څه خاص وخت شته؟

سوال: دصلوة تسبیح له پاره څه مقرره ورځ یا وخت شته؟

جواب: دصلوة تسبیح له پاره څه ورځ یا وخت مقررنه دی، که توفیق وي؛ نو همیشه یې کوئ، ګني چې په کومه ورځ درته موقعه ملاوشي کوئ یې اود مکروه وختونونه پرته دشپې ورځې چې کله وغواړئ کوئ، البته دزوال نه وروسته افضل دی، یا بیا دشپې، په خاص ډول دتهجدو په وخت کې.[3]

د صلوة تسبیح جمعه بدعت حسنه نه ده؟

سوال: دډیر تحقیق نه وروسته هم راته دا پته ونه لګیده چې صلوة تسبیح کله په جمعه هم

---

[1] لایجوز لاحد اداء فریضة ولا نافلة ......الا متوجها الی القبلة ......الخ (عالمگیری ج:۱ص:۶۳)

[2] التطوع بالجماعة اذاکان علی سبیل التداعی یکره ......الخ (عالمگیری ج:۱ص:۸۳) ، ایضًا:واعلم ان النفل بالجماعة علی سبیل التداعی مکروه علی ماتقدم ماعدا التراویح (حلبی کبیرص:۴۳۲ ایضًا:فتاوی شامی ج:۲ص:۴۹)

[3] واربع صلوة التسبیح یفعلها فی کل وقت لا کراهة فیه اوفی کل یوم اولیلة مرة والا فی کل اسبوع اوجمعة اوشهر اوالعمر وحدیثهما حسن لکثرة طرقه ووهم من زعم وصنعه وفیها ثواب لایتناهی ..الخ (شامی ج۲ ص۲۷) وقال الملاعلی فی شرح مشکوة مفهومه انه ان سها ونقص عددا من محل معین یاتی به فی محل آخر تکملة للعدد المطلوب....الخ (شامی ج۲ ص۲۹ باب الوتر والنوافل مطلب فی صلوة التسبیح.....وقال المعلی: یصلیهاقبل الظهر......الخ (شامی مطلب فی صلوة التسبیح ج:۲ص:۲۷)ـ

شوی دي، ايا دانفل لمونځ په جمعې سره هم کيږي او که دافعل ، ،بدعت حسنه، ،شميرلوسره دا جائز ګرځېدلی شي؟

جواب: دحنفيه په نزدباندې دنفلوجمعه مکروه ده،هرکله چې مقتديان ددريونه زيات وي،همدغه حکم دصلواة تسبيح هم دی، ددې جمعه بدعت حسنه نه ،بلکې بدعت سيئه ده.[۱]

د صلوٰة تسبيح جمعه جائز نه ده

سوال: دصلوٰة تسبيح په باره کې راته ارشادوفرمايئ،چې په جمعې سره يې کول جائزدي اوکه غلط؟ زه اوزماډيرزيات پاکستاني ملګري دترکي ملګرو سره تقريبادپنځوکلونوراهيسې په کيمپ کې په جمعه اداکوو، دهمدې کال (۱۵) شعبان دشب برات په شپه زمونږ يوملګري صوفي صاحب اعتراض وکړچې: دنبي کريم ﷺ څخه صلوٰة تسبيح په جمعه ثابت نه دي اونه دحضور ﷺ ددې په باره کې فرمان شته چې په جمعه يې اداکړئ: نوبيامونږ ته هم په جمعه اداکول پکارنه دي، بلکې يوازې يوازې يې کول پکاردي، ،باجماعت کولوزمونږ مقصديوازې دا وي چې کوم ان پړه ملګري ترتيب وار (۷۵)ځله تسبيح ويلی نه شي هغوی هم اداکړل شي.

جواب: شريعت چې عبادت په کوم اندازکې مشروع کړی دی، هغه په هغې طريقې سره اداکول مطلوب دي، شريعت پنځه وخته لمونځ او دجُمعې او اخترونولمونځ په جمعه اداکولوحکم ورکړی دی، خو نوافل يې انفرادي عبادت ګرځولی دی، ددې له وجې نفلي لمونځ (که څه هم صلوٰة تسبيح وي يابل څه) په جمعه اداکول دشريعت دمنشا نه خلاف دي،له دې وجې فقهاوو حضراتو دنفل جمعه (چې مقتديان په کې د دوو نه زيات وي) مکروه ليکلي دي اوپه خاصو شپوکې اجتماعي لمونځ اداکول يې بدعت ګرځولي دي[۲]،ددې له وجې صلوة التسبيح په جمعې سره اداکول صحيح نه دي اوتاسوچې کوم مصلحت ليکلی دی هغه دالتفات لائق نه دی، دچاچې دصلوٰة تسبيح دکولوشوق وي، هغوی ته ددې کلماتو يادول اوپه ترتيب سره زده کول څه ګران دي؟

۱] ولا يصلى الوترولا التطوع بجماعة خارج رمضان اى يكره ذلک على سبيل التداعى بان يقتدى اربعة بواحدة كمافى الدرر (قوله على السبيل التداعى)هو ان يدعو بعضهم بعضا كمافى المغرب وفسره الوافى بالكثرة وهو لازم معناه قوله اربعة بواحدة امااقتداء واحدبواحداواثنين بواحدفلايكره وثلاثة بواحدفيه خلاف بحرعن الكافى (ردالمحتارعلى درالمختار ج:۲ص:۴۹ مطلب فى كراهة الاقتداء فى النفل على سبيل التداعى)۔

۲]وبعدذلک فالصلوٰة خيرموضوع مالم يلزم منهاارتكاب كراهة ،واعلم ان النفل بالجماعة على سبيل التداعى مكروه ......فعلم ان كلا من صلاة الرغائب......بالجماعة بدعة مكروهة (حلبى كبيرص:۴۳۲ طبع لاهور)

د استخارې حقیقت

سوال: حدیث شریف کې دي چې استخاره کول د مومن خوش بختي ده او نه کول بدبختي ده او د استخارې طریقه یې داښودلې ده چې انسان دې دوه رکعته نفل لمونځ وکړي او بیا دې د استخارې دعا وکړي، زما سوال دادی چې د نفل کولو او دعا غوښتلو نه وروسته دې انسان دخپل مقصدله پاره روان شي دکوم له پاره یې چې استخاره کړې وي؟ مثلاً یو کس یو کورا خیستل غواړي، ایا هغه د استخارې نه وروسته دکور باره کې خبره وکړي یادا چې د الله تعالی له طرف نه ورته د استخارې دجواب څه اشاره ورته په خوب کې ملاوشي، یا زړه کې یې داسې خیال پیداشي؛ نو د هغې نه وروسته د کورا خیستلو له پاره ووځي، ډیر عالمان وایي چې کوم کار یا مقصد وي، هغه له پاره دې انسان درې یا اووه ورځې استخاره وکړي، دغه دوران کې خو یا به هغه خوب ووینې ، یا به یې الله تعالی زړه کې داسې خیال پیدا کړي چې دا کار وکړه یا یې مه کوه، خو که چیرې داسې وي؛ نو بیا د خوب وغیره ذکر په حدیث کې ولې نه شته؟ ماته دیو جماعت یو سړي وویل چې خوب وغیره هیڅ نه راځي، وروسته ته دخپل مقصدله پاره استخاره وکړه او بیا د هغه مقصد له پاره روان شه، که د الله تعالی خوښه وي؛ نو هغه مقصد به تا ته سمدستي حاصل شي، ګني څه داسې بندبه په کې واچوي چې ته به پوه شې، چې الله تعالی ته هم دا منظور ده چې دا کار ونه شي، په هرحال تاسو بیان کړئ، مهرباني.

جواب: د استخارې حقیقت د الله تعالی نه خیر غوښتل او خپله معامله د الله تعالی ته حواله کول دي، یعنې که چیرې دا بهتر وي؛ نو الله تعالی دې وکړي، که نه وي؛ نو ختم دې کړي، د استخارې نه وروسته خوب لیدل ضروري نه دي، بلکې زړه کې خیال پیدا کیدل کافي دي، د استخارې نه وروسته چې د زړه کوم طرف ته رغبت وي، هغه اختیارول پکار دي، الله دې نه کړي که چیرې د کار کولو نه وروسته داسې محسوس شي چې داښه ونه شو؛ نو داسې وګڼئ چې د الله تعالی په علم کې هم دی کې ښه والی دی ځکه چې ځینې شیان په ښکاره باندې په نظر ښه ښکاري، خو په حقیقت کې هغه زموږ له پاره ښه نه وي او ځینې بدښکاري، خو هم هغه کې زموږ له پاره ښه والی وي.

غرض دا چې د استخارې حقیقت د الله تعالی په فیصلو باندې مکمل توکل او رضامندي ښکاره کول دي.[1]

۱] وعن جابر قال: كان رسول الله صلى الله عليه وسلم يعلمنا الاستخارة اى طلب تيسر الخير فى الامرين من الفعل او الترك من الخير وهو ضد الشرفى الامور اى التى نريد الاقدام عليها مباحة كانت او عبادة ......ويمضى بعد الاستخارة لما ينشرح له صدره انشراحاً خالياً عن هوى النفس فان لم ينشرح لشيء فالذى يظهرانه يكرر الصلاة حتى يظهرله الخير قيل الى سبع مرات (مرقاة شرح مشكوة ج:۲ص:۱۸۷،باب التطوع)۔

د اهمو کارونو باره کې استخاره

سوال: د ژوند د ټولو اهمو کارونونه مخکې ايا استخاره کول واجب دي؟

جواب: استخاره واجب نه ده، البته اهمو کارونوباره کې استخاره کول مستحب دي، حديث کې دي: **عن سعدقال: قال رسول الله ﷺ: من سعادة ابن آدم رضاه بماقضى الله له. ومن شقاوة ابن آدم تركه استخارة الله ومن شقاوة ابن آدم سخطه بما قضى الله له.** (مشكوة ص۴۵۳)

ترجمه: دابن ادم له نيکبختي نه دادي چې نومورى په هغه څه خوښ شي دکوم باره کې چې الله تعالى دهغه له پاره فيصله کړې وي اودابن ادم بدبختي دې کې ده چې هغه دالله تعالى دقدر او قضا په فيصلې باندې خفه وي.(مشكوة ص ۴۵۳ بروايت مسنداحمدوترمذى)

يوبل حديث کې دي: **من سعادة ابن آدم استخارته الى الله ومن شقاوة ابن آدم تركه استخارة الله.**(مستدرک حاكم ج۱ ص ۵۱۸)

ترجمه: دالله تعالى نه استخاره کول دابن ادم له پاره نيکبختي ده اودالله تعالى نه استخاره پرېښودل بدبختي ده.

د نذر(منښتې) نفل کوم وخت کې اداکړل شي؟

سوال: ماويلي و چې اې الله تعالى! که زه په امتحان کې کامياب شوم؛ نو(۱۰۰)رکعته نفل به اداکوم،زهٔ کامياب شوم، تاسوراته ووايئ چې ددې (۱۰۰)رکعتونفلوله پاره څه وخت شته ياچې کله مې خوښه وي اداېې کړم؟

جواب: کله چې موخوښه وي اداکولى يې شئ په شرط ددې چې مکروه وخت نه وي اود سهار او مازديګرنه وروسته يې هم نه شئ کولى. [۱]

۱] قال ابوجعفر:ولايصلى احدعندطلوع الشمس ،وعندالزوال ،وعندالغروب قال احمد:ثلاثة اوقات لا يصلى فيهانفل ولافرض :عندطلوع الشمس ،وعندالزوال وعندالغروب ...... ووقتان لايصلى فيهمانفل،ويصلى فيهما الفرض بعدالعصرحتى تغرب الشمس،وبعدالفجرحتى تطلع الشمس، فاما الصلاة فى الاوقات الثلاثة فالاصل :ماروى عن النبى صلى الله عليه وسلم فى الآثارالمتواترة نهى عن الصلاة فى هذه الاوقات الثلاثة منهاحديث ابن عمررضى الله عنهماعن النبى صلى الله عليه وسلم :لايتحرى احدكم فيصلى عندطلوع الشمس . ولاعندغروبها،فانهاتطلع بين قرنى شيطان (شرح مختصرالطحاوى ج:۱ص:۵۲۸كتاب الصلاة) ٠وفيه ايضًا:وامابعدالعصر،بعدالفجرفانمانهى فيهماعن النوافل والنذور......وذالک لماروى ابوسعيدالخدرى ٠ومعاذبن عفراء،وابن عمر،وابوهريرة رضى الله عنهم ان النبى صلى الله عليه وسلم نهى عن صلاتين بعدالصبح وبعدالعصر...... قال ابن عباس رضى الله عنهما......ان رسول الله صلى الله عليه وسلم نهى عن الصلوة بعدالفجرحتى تطلع الشمس وبعدالعصرحتى تغرب (شرح مختصرالطحاوى ج:۱ص:۵۳۶،۵۳۷)_

د استخارې کولو شرعي طريقه

سوال: د استخارې کولو صحيح طريقه څه ده؟ او د اسلام په نزد د استخارې څه طريقه ده؟

جواب: دوه رکعته لمونځ کولو سره دې داستخارې دعا وويل شي، په حديث شريف کې د استخارې کولو ترغيب ورکړل شوی دی د استخارې نه وروسته الله تعالی په کار کې بهتروالی پيدا کوي[1]

د استخارې کولو طريقه او بل دا چې په استخاره کې څه شی په نظر راتلل ضروري دي؟

سوال: ما ته د استخارې په باره کې لاندې معلومات پکار دي

۱- د استخارې کولو له پاره د اجازې ضرورت شته او که نه؟

۲- د يو مقصد له پاره څو ځله استخاره کول پکار دي؟

۳- ايا په استخاره کې د څه شي په نظر راتلل ضروري دي او که نه؟

جواب: د استخارې له پاره له چانه اجازه غوښتل ضروري نه دي، د کوم کار له پاره چې اراده وي، دوه رکعته لمونځ کول او د استخارې دعا کول پکار دي، درې ورځې اوو ورځې يا ددې نه زياته استخاره کيږي، په استخارې کې په خوب کې د يوشي راتلل ضروري نه دي، بلکې چې استخاره وکړئ او د کوم کار نه چې دې زړه مطمئن شي؛ نو هغه کول پکار دي[2]

د استخارې د لمانځه طريقه، نيت او کوم سورتونه پکې ولوستل شي؟

سوال: داستخارې د لمانځه طريقه کومه ده؟ ددې نيت څنګه کول پکار دي؟ او د لمونځ په دوران کې کوم کوم اياتونه لوستل پکار دي؟ او د تهجد د لمونځ کولو څه طريقه ده؟ او په دې کې کوم کوم اياتونه لوستل پکار دي؟

جواب: د استخارې لمونځ دوه رکعته نفل دی، ددې نه وروسته حمد او ثناء او استغفار کيږي او د استخارې دعا ويل کيږي، هغه مشهوره دعا ده، په يو کتاب (مثلاً: بهشتي زيور) کې دې وکتل شي[3] دتهجد دلمانځه له پاره څه خاص طريقه نه شته(۱۲، ۱۰، ۸، ۶، ۴) څومره رکعتونه چې کولی شي ودې کړي او په دې کې چې کوم صورتونه ده ته ياد وي؛ نو هغه دې induction ووايي.

---

[1] تفصيل اوحوالودپاره مخکنۍ صفحه اوګورئ!

[2] تفصيل دپاره اوګورئ ص: ۲۱۹ داستخارې حقيقت،،

[3] داستخارې دمونځ طريقه داده چې دوه رکعته نفل اوکړي، ددې نه پس ښه دزړۀ په اخلاص سره دادعا اووائي: اللهم انی استخيرک بعلمک واستقدرک بقدرتک واسالک...[بقيه حاشيه په راروانه صفحه

استخاره د قرآن او سنت نه ثابته ده

سوال: استخاره څه شی دی؟ ایا چیرته ددې عمل بنیاد د قرآني احکامو یا د رسول الله صلي الله علیه وسلم د سنتو نه ثابته ده؟ یا ددې څه بل مذهبي او عملي منطق موجود دی؟

جواب: د استخارې معنا ده: دالله تعالی سره په څه معامله کې مشوره کول، ددې تعلیم نبي کریم صلي الله علیه وسلم فرمایلی دی چې کله چاته څه اهمه معامله راپېښه شي؛ نو دوه رکعته لمونځ دې وکړي، دالله تعالی حمد او ثناء او د درود شریف نه وروسته دې دا دعا ووایي(د استخارې دعا مشهوره ده)[1]

د سنت مطابق دې استخاره وشي

سوال: په اسلام کې د هر قسم کار د شروع کولو په سلسله کې چې استخاره کیږي، درې، پنځه،اووه ورځو پورې ، زما سوال دا دی چې که چیرې په استخاره کې څه محسوس نه شي (لکه چې یو شی په نظر راځي یا یو شی وښودل شي)؛ نو بیا هغه کار وکړل شي؟ څنګه فیصله وکړل شي؟

جواب: د سنتو مطابق دې استخاره و شي (په بهشتي زیور کې ددې طریقه لیکل شوې ده) او بیا کوم طرف ته چې د زړه رجحان وي؛ نو هغه کار دې وکړل شي، ان شاء الله په دې کې به دهغه له پاره خیر او برکت وي، په استخاره کې د یو شي په نظر راتلل ضروري نه دي، د فیصلې له پاره یو طرف ته رجحان کافي دی، سل فیصده اطمینان ضروري نه دی.[2]

...بقیه د تیر مخ].. من فضلک العظیم فانک تقدرولا اقدر،وتعلم ولا اعلم ،وانت علام الغیوب ،اللهم ان کنت تعلم ان هذاالامرخیرلی فی دینی ومعاشی وعاقبة امری ،فاقدره ویسره لی ثم بارک لی فیه ،وان کنت تعلم ان هذا الامرشرلی فی دینی ومعاشی وعاقبة امری فاصرفه عنی واصرفنی عنه ، واقدرلی الخیرکان ثم ارضنی به،،اوکله چ هذا الامر،، ته راورسي په کوم چې لکیرجوړشوې دې ددې دلوستلو په وخت کې به دهغه کارخیال راولي دکوم دپاره چې استخارکولی شی، ددې نه پس په صفا بستره باندې دقبلې طرفته مخ کړې په اوداسه به ویده شي په دې وخت چې کوم خیال په مضبوطتیاراشی هم هغه به بهتردی هم هغه کول پکاردي (جنتي کالی ،حصه دوم ص:۱۳۵ ،استخارې دلمونځ بیان)

[1] عن جابربن عبدالله قال:کان رسول الله صلی الله علیه وسلم یعلمنا الاستخارة فی الامورکلها کما یعلمنا السورة من القرآن الکریم ،یقول :اذاهم احدکم بالامرفلیرکع رکعتین من غیرالفریضة ثم لیقل :اللهم انی استخیرک بعلمک واستقدرک بقدرتک ،واسالک من فضلک العظیم،فانک تقدرولا اقدر،وتعلم ولا اعلم، و انت علام الغیوب،اللهم ان کنت تعلم ان هذاالامرخیرلی فی دینی ومعاشی وعاقبة امری،اوقال:فی عاجل امری وآجله فیسره لی ثم بارک لی فیه عنه واقدرلی الخیرحیث کان ثم ارضنی به ،قال ویسمی حاجته (جامع ترمذی واللفظ له،ج:۱ص:۶۳باب ماجاء فی الاستخارة،ایضًا:فتاوی شامی ج:۲ص۲۶مطلب فی رکعتی الاستخارة)

[2] واذا استخارمضی لماینشرح له صوره وینبغی ان یکررهاسبع مرات..[بقیهٔ حاشیه په راروانه صفحه

استخاره په دويم ځل کول څنګه دي؟

او بل دا چې د استخارې جواب راتلل ضروري دي؟

سوال: د استخارې د نتيجې په صورت کې د جواب د نه راتللو يا د يو جواب د نه راتللو په صورت کې، ايا دى په دويم ځل کولى شي؟؛ نو ايا يو سړي ته په دويم ځل درخواست کولى شي يا بل چاته رجوع کول پکار دي؟

جواب: د استخارې جواب راتلل ضروري نه دي، بلکې د استخارې نه وروسته چې کوم طرف ته د زړه رجحان وي، هغه وکړل شي، درې ورځې، اووه ورځې، څلويښت ورځې هم اکابرينو استخاره کړې ده.[1]

د خوب په دوران کې باران ليدل

سوال: زما د خور رشته د تره په کور کې راغلې وه، اول د خفګان له وجې زړه مطمئن نه و، له دې وجې مور استخاره وکړه، په خوب کې ډير زيات باران راغى د يو عالم نه مې پوښتنه وکړه؛ نو معلومه شوه چې باران د خوشالي اظهار دى، ايا دا خبره صحيح ده؟

جواب: هو! صحيح ده.

ايا د هر عمل نه مخکې استخاره کول ضروري دي؟

سوال: ايا د هر عمل نه مخکې استخاره کول ضروري دي؟ يا د يو عمل له وجې د زړه د شک له وجې د اطمينان د نه کيدو په صورت کې استخاره کول څنګه دي؟

جواب: پورته مې ليکلي دي چې د اهم کار له پاره استخاره کيږي او استخاره په بل چا باندې نه کيږي، بلکې په خپله د استخارې حکم دى.[2]

د کاروبار له پاره د استخارې طريقه

سوال: زه چې په کومې کارخانې کې ملازمت کوم هغه خلک ملاوټ کوي، زه غواړم چې څه

...بقيه د تير مخ]... لماروى ابن السنى عن انس قال:قال رسول الله صلى الله عليه وسلم :يانس !اذا هممت بامر فاستخرربک فيه سبع مرات، ثم انظرالى الذى سبق الى قلبک فان الخيرفيه (حلبى كبيرص:۴۳ تتمات من النوافل ،طبع سهيل اكيدمى لاهور)

[1] وينبغى ان يكررهاسبعًالماروى ابن السنى يانس!اذاهممت بامرفاستخرربک فيه سبع مرات ثم انظرالى الذى سبق الى قلبک فان الخيرفيه (شامى ج:۲ص:۲۷باب الوتروالنوافل ،مطلب فى صلاة التسبيح)

[2] عن جابربن عبدالله رضى الله عنه قال:كان رسول الله صلى الله عليه وسلم يعلمناالاستخارة فى الامر كلها كما يعلمناالسورة من القرآن يقول:اذاهم احدكم بالامرفليركع ركعتين من غيرالفريضة ثم ليقل:اللهم انى استخيرک..الخ(جامع ترمذى ج:۱ص:۶۲باب ماجاءفى الاستخارة،ايضًا:ردالمحتارج:۲ص:۲۶باب الوتروالنوافل)

لږ ډیر رقم د کارخانې نه ملاوشي او په دې سره خپل کاروبار وکړم، ایازه داسې استخاره کولی شم چې کوم یو کاروبار وکړم؟ چې هغه زما او زما د اولاد له پاره حلال رزق او خیر او برکت والاوي؟

جواب: استخاره کول پکار دي چې زه فلانکی کاروبار وکړم او که نه. [۱]

د بیعت کولو استخاره

سوال: ایا د یو پیر صاحب نه د بیعت کولو له پاره هم استخاره کیږي؟

جواب: د یو بزرګ نه د بیعت کولو له پاره هم استخاره کول پکار دي. [۲]

په یو وخت کې د ډیرو کارونو له پاره استخاره کول

سوال: ایا د استخارې لمونځ یوازې د یو کار له پاره کیږي؟ که چیرې په یو وخت کې ډیرو امور لاحق وي؛ نودتیولو له پاره یوازې یو ځل نفل کول او د استخارې په دوران کې په مقررو ځایونو باندې د ډیرو کارونو په باره کې خیال کیږي؟

جواب: د ډیرو کارونو تصورهم کیږي.

ایا د واده له پاره استخاره کول ضروري دي؟

سوال: نن سبا د واده په معامله کې خلکو ته چې کله د انکارله پاره بانه نه ملاویږي؛ نو دا وایي چې مور استخاره کړې وه چې په هغه کې پته لګیدلې ده چې دا واده صحیح نه ثابتیږي او له دې وجې انکار کیږي، ایا دا صحیح ده؟ زه دا پوښتنه کول غواړم چې د واده په معامله کې استخاره ضروري ده؟ استخاره څنګه کول پکار دي؟ په خپله کول پکار دي یا د بل په ذریعې سره کول پکار دي او د استخارې د کولو صحیح طریقه څه ده؟

جواب: د استخارې کولو طریقه صحیح ده او د واده په معامله کې استخاره کول ضرور پکار ده ددې طریقه په بهشتي زیور کې لیکل شوې ده، ددې مطابق دې عمل وکړل شي. [۳]

---

[۱] قال الشيخ اسماعيل وفي شرح الشرعة من هم بامروكان لايدرى عاقبته ولايعرف ان الخيرفي تركه او الاقدام عليه فقدامره رسول الله صلى الله عليه وسلم ان يركع ركعتين......فاذافرغ اللهم ......الخ(منحة الخالق على البحرالرائق ج:٢ص:٥٦ كتاب الصلاة، بيروت)

[۲] ایضاً حواله بالا_

[۳]دجنتی کالی عبارت دادې: مسئله ۲:داستخارې دمونځ طریقه داده چې رومبې دوه رکعته نفل لمونځ اوکړې ددینه پس ښه دزړه داخلاص نه دادعااوئې:اللهم انى استخيرک بعلمک واستقدرک بقدرتک واسالک من فضلک العظيم فانک تقدرولا اقدر،وتعلم ولا اعلم ،وانت علام الغيوب ،اللهم ان کنت تعلم ان هٰذا الامر خيرلى فى دينى ومعاشى وعاقبة امرى فاقدره ويسره لى ،ثم بارک لى فيه ،وان کنت تعلم ان هٰذا الامر شرلى فى دينى ومعاشى وعاقبة امرى فاصرفه عنى ..[بقيه حاشيه په راروانه صفحه

د واده وغيره له پاره استخاره کول

سوال: د هرکار نه مخکې د يو بزرګ نه استخاره کيږي يا په خپله دې وکړل شي، مثلاً د واده له پاره يا د مکان، پلاټ د اخيستو له پاره، په تجارت کې د لين دين يا د ملازمت له پاره ځينې خلک مې ليدلي دي چې فال کوي، ځينې خلک په سړک باندې طوطي کينوي، ايا فال نيول د شريعت په لحاظ سره صحيح دي؟ او که نه؟ جواب راکړئ او مونږ مشکور کړئ.

جواب: د سنت طريقې مطابق استخاره مسنون ده، په حديث شريف کې ددې ترغيب راغلی دی[۱] او فال نيول ناجائز دي.[۲]

ايا د واده له پاره هلک او اينجلۍ دواړو ته استخاره کول پکار دي؟

سوال: که چيرې د يو واده په باره کې استخاره کول وي؛ نو هلک والا او اينجلۍ والا کې يوازې يو کس ته استخاره کول پکار دي يا دواړه دې جدا جدا استخاره وکړي؟ او په دواړو صورتونو کې هو کولو سره رشته کيږي؟

جواب: هلک والا دې هم وکړي او اينجلۍ والا دې هم وکړي.[۳]

د اشراق لمونځ چې کوم ځای د سهار لمونځ وکړل شي؛ هلته ضروري دي

سوال: د سهار لمونځ يې په يو مسجد کې وکړ او بيا د څه کار له پاره د مسجد نه بهر وتل وشول، د اشراق لمونځ په بل مسجد کې يا په کور کې کيږي او که په دغه مسجد کې به ناست وي؟

جواب: که چيرې د يو ضرورت له پاره تلل وي؛ نو په بل ځای کې هم اشراق کيږي، که په کور کې يې کوي يا په بل مسجد کې، خو په حديث شريف کې راغلي دي چې څوك د سهار لمونځ

...بقيه د تير مخ].. واصرفني عنه ،واقدرلي الخيرحيث كان ثم ارضني به،،اوكله چې .....هذا الامر،، ته اورسې په كوم چې لكيرا ښكلې شوې دي ددې دوويلوپه وخت به هغه كار په خيال كښې راولي دكوم دپاره چې استخاره كوې ددينه پس به په پاكه بستره باندې قبلې طرفته مخ كولو سره څملې په اودس كښې به اوده شي دغه وخت چې څه خبره په زړه كښې په مضبوطتياسره راشي هم هغه بهتره ده هغه كول پكاردي (جنتي كالي حصه دوم ص۱۳۵ ، داستخارې دمونځ بيان)

[۱] عن جابررضى الله عنه قال:كان رسول الله صلى الله عليه وسلم يعلمنا الاستخارة فى الاموركما يعلمنا السورة من القرآن ،يقول اذاهم احدكم بالامرفليركع ركعتين من غير الفريضة ثم ليقل :اللهم انى استخيرك بعلمك واستقدرك بقدرتك....الخ (سنن ترمذى ج:۱ ص۶۲باب ما جاء فى الاستخارة، ايضاً ردالمحتارج۲ ص۲۶ باب الوتر والنوافل)

[۲] عن ابى هريرة رضى الله عنه قال:قال رسول الله صلى الله عليه وسلم :لاعدوى ولاطيرة ولاهامة ولاصفر.....الخ (مشكوة ص: ۳۹۱،باب الفال والطيرة ،الفصل الاول)

[۳] اوگورئ پورتنې حاشيه يعنې دجنتي كالى عبارت دادې: مسئله ۲.....الخ.

په جوماعت سره وکړي او بيا په خپل ځای باندې ناست وي تردې پورې چې د اشراق وخت راشي او بيا پاڅي دوه يا څلور رکعته د اشراق لمونځ وکړي؛ نو ده ته به د يو حج او د يوې عمرې ثواب ملاويږي [۱]

د شکرانې لمونځ کله اداکول پکاردي؟

سوال: دشکرانې دلمونځ له پاره څه مقرروخت شته اوکه نه؟اوداچې ددې تعدادڅومره وي؟، دوه رکعته که څلور؟،

جواب: نه وخت مقرردی اونه تعداد،خو په مکروه وخت کې نه دی پکار[۲]او تعداد د دوو رکعتونه کم پکارنه دی.[۳]

د فرض لمونځونو نه مخکې دستغفاراوشکرانې لمونځ کول

سوال: دسهار، ماسپښين اومازديګرنه مخکې دوه رکعته داستغفاراودوه رکعته دشکرانې لمونځ کول جائزدي اوکه وروسته؟

جواب: دالمونځونه دماسپښين اومازديګرنه مخکې کولوکې، خو هيڅ مشکل نه شته،خو دسهارنه مخکې اودصبح صادق نه وروسته پرته دسهارددووسنتونونه نفلونه کول صحيح نه دي.[۴]

پنځوس رکعته د شکرانې لمونځ څلورڅلوررکعته کولو سره اداکيدای شي

سوال: دشکرانې پنځوس رکعته نفل لمونځ اداکول دي؛ نو اياد دوو، دووبه ځای څلور څلور رکعته نفل لمونځ اداکيدای شي؟

---

[۱] من صلى الفجرفي جماعة ثم يذكرالله تعالى حتى تطلع الشمس ،ثم صلى ركعتين كانت له كاجرحجة وعمرة تامة تامة تامة (كنزالعمال ج:۷ص:۸۰۸ايضًا:مشكوة ص:۸۹باب الذكربعدالصلاة)

[۲] وكذاالحكم من كراهة نفل وواجب لغيره ....بعدطلوع فجرسوى سنته لشغل الوقت به (التنوير وشرحه ج:۱ص:۳۷۵) ،ايضًا:فصل (وقتان يصلى فيهما الفرض دون النفل اما بعدالعصر وبعد الفجر فانما ينبغي فيهما عن النوافل والنذور وصلوة الطواف ويجوز فيهما فعل الفرض،وذالک لماروى ابوسعيد الخدرى، ومعاذبن عفراء،وابن عمروابوهريرة رضى الله عنهم ان النبى صلى الله عليه وسلم نهى عن صلاتين بعد الصبح وبعدالعصر......وقال ابن عباس رضى الله عنهما:حدثنى رجال مرضيون ،وارضاهم عمر رضى الله عنه ان رسول الله صلى الله عليه وسلم نهى عن الصلاة بعدالفجر حتى تطلع الشمس، وبعد العصرحتى تغرب (شرح مختصرالطحاوى للامام ابوبكرالجصاص الرازى ج:۱ص:۵۳۶،۵۳۷)۔

[۳] څکه چې د دؤو رکعتو نه دکم تعداد لمونځ جائزنه دی. وفى الدرالمختار:وسجدة الشكر:مستحبة به يفتى (قوله به يفتى)هو قولهما واماعند الامام ......وقيل شكرًا تامًالان تمامه بصلاة ركعتين كمافعل عليه الصلوة والسلام يوم الفتح (درمختارمع الردالمحتار،مطلب فى سجدة الشكر ج:۲ص:۱۱۹)۔

[۴] ايضاً تيره شوى حاشيه اوګورئ: (وكذاالحكم من كراهة نفل وواجب لغيره .....الخ)۔

جواب: کولی یې شئ.[۱]

د ناوې په پړونې(لوپټې) باندې د شکرانې لمونځ اداکول

سوال: نن سبا یورسم دی چې کله واده وشي؛ نواکثرخلک وايي چې دواده په لومړۍ شپه کوم دوه رکعته نفلي لمونځ چې هلک اداکوي، ایاهغه دناوې په لوپټه باندې جائزدی؟چې کوم سرې سره یې نکاح شوې وي، یعنې زوم، دناوې په لوپټې باندې لمونځ کولی شي اوکه نه؟

جواب: په لوپټه باندې لمونځ کول یوازې یورسم دی، دشکرانې لمونځ د عام معمول مطابق هم ل کیدای شي.[۲]

د بلاګانو نه د حفاظت اود ګناهونونه د توبې له پاره کوم لمونځ وکړو؟

سوال: ایازه په دې نیت سره نفل کولی شم چې الله تعالی مایا زماکور والا دهرقسم بلا، دهر قسم ناروغۍ نه په امن کې وساتي؟ یازه دخپل امتحان دکامیابي له پاره یا د خپلو ګناهونو دبښنې له پاره نفلونه اداکولی شم؟

جواب: که څه کاردرپیښ وي په هغه کې داساني له پاره شریعت ``صلواة حاجت،،ښودلی دی[۳] اوکه څه ګناه ترې وشي؛ نودهغه نه دتوبې له پاره،،صلواة التوبه،،فرمایلی دی او دا نفلي لمونځونه دي.[۴]

ایا ښځه تحیة الوضو کولی شي؟

سوال: که ښځه دپنځه وخته لمونځ پابنده وي؛ نو اياهغه په پنځو لمونځونو کې تحیة الوضو کولی شي؟او ایا د مازدیګراو د سهار دلمونځ نه مخکې تحیة الوضوکولی شي؟

جواب: دماسپښین ،مازدیګراوماخسوتن نه مخکې کیدلی شي، د صبح صادق نه وروسته د نماز فجر پورې یوازې دسهارسنت کیږي، نورنفلونه صحیح نه دي[۵]په سنتونوکې دتحیة الوضونیت کولوسره هغه هم اداشي[۶]اودماښام نه مخکې کول ښه نه دي ،ځکه چې دې سره دماښام په لمانځه کې تاخیر کیږي، ځکه دې د ماښام دلمانځه نه مخکې تحیة الوضو لمونځ

۱] قوله والافضل فیهمااى فى صلوة اللیل والنهار الرباع ......الخ (شامى ج:۲ص:۱۱باب الوتروالنوافل)

۲] تیره شوى حاشیه اوګورئ: (وکذاالحکم من کراهة نفل وواجب لغیره ......الخ)۔

۳]تفصیل دپاره اوګوره :جامع ترمذى ج:ص:۱۰۸،باب ماجاء فى صلاة الحاجة ،طبع قدیمى کتب خانه)۔

٤] اوګورئ : جامع الترمذى ج۱ ص۹۲، باب ماجاء فى الصلاة عند التوبة، طبع قدیمى کتب خانه)۔

٥] تیره شوى حاشیه اوګورئ: (وکذاالحکم من کراهة نفل وواجب لغیره ......الخ)۔

٦]قال فى النهر:وینوب عنها کل صلاة صلاها عندالدخول فرضًاکانت اوسنة......الخ (شامى مطلب فى تحیة المسجدج:۲ص:۱۸)۔

ونه کړل شي[۱]، په هرحال په دې مسئله کې دسرېيو اوښځو له پاره يوشان حکم دى.

تحية الوضود کوم لمانځه په وخت کې کول پکاردي؟

سوال: تحية الوضودکوم لمانځه په وخت کې کول پکاردي؟مادلمانځه په کتاب کې لوستلي دي چې کوم وخت کې نفل لمونځ کول مکروه وي هغه وخت يې کول پکارنه دي، مګرماته بياهم داپته نه لګيږي چې کوم وخت کې تحية الوضووکړم اوکوم وخت کې يې ونه کړم؟

جواب: په پنځو وختونوکې دنفلو دکولو اجازه نه شته،دسهارنه مخکې او وروسته، د مازديګر نه وروسته، دلمر د راختلو او غورځيدوپه وخت کې اونصف النهارپه وخت کې، ددې وختونونه پرته چې کله هم تاسواودس وکړئ؛ نوتحية الوضوکولى شئ.[۲]

که وخت کم وي؛ نوتحية الوضووکړو يا تحية المسجد؟

سوال: که يوکس جومات ته ځي اوپه جمعه کيدوکې دوه درې منټه باقي وي؛ نو اياهغه تحية الوضو وکړي ياتحية المسجد؟

جواب: ددواړونيت دې وکړي[۳]اوکه په وخت کې ګنجائش وي؛ نود دواړو جداجداکول مستحب دي.

د ماښام د لمانځه نه مخکې تحية المسجد کول

سوال: دحرم اومسجدنبوي ﷺ نه پرته په ټول سعودي عرب کې د ماښام داذان نه لس منټه وروسته لمونځ اداکيږي اوپه دې وخت کې راتلونکي دتحية المسجددوه رکعته نفل اداکوي، موږ حنفيه دوه رکعته تحية المسجد د ماښام داذان وروسته اداکولى شواوکه نه؟ځيني حنفيه وايي چې دلمر د پريوتونه وروسته تاسونفل اداکولى شئ.

جواب: داامام ابوحنيفه رحمه الله په نزدباندې دلمرپريوتونه وروسته اودماښام د فرض اداکولونه

۱]وتعجيل مغرب مطلقًاوتاخيره قدرركعتين يكره تنزيهًا......الخ(درمختارمع الشامى ج:۱ص:۳۶۹ و ايضًا تسعة اوقات يكره فيهاالنوافل ومافى معناهالا الفرائض ......منها مابعدغروب الشمس قبل صلوة المغرب ......الخ(هندية ج:۱ص:۵۳كتاب الصلاة ،الباب الاول)_

۲] تسعة اوقات يكره فيها النوافل وما فى معناها لا الفرائض.... منها ما بعد طلوع الفجر قبل صلاة الفجر كذا فى النهاية والكفاية ....ومنها مابعد الفجر قبل طلوع الشمس، قبل صلاة الفجركذا فى النهاية والكفاية......... ومنها مابعدصلاة الفجرقبل طلوع الشمس هكذافى النهاية والكفاية ......ومنها مابعد صلاة العصرقبل التغير.....ومنهامابعدغروب الشمس قبل صلاة المغرب ......الخ(فتاوى عالمگيرى ج:۱ص:۵۲كتاب الصلاة ،الباب الاول الفصل الثالث)_

۳]قال فى النهر:وينوب عنها كل صلاة صلاها عندالدخول فرضًاكانت اوسنة......الخ (شامى مطلب فى تحية المسجدج:۲ص:۱۸)_

مخکې نفلونو لوستل ددې له وجې مکروه دی چې دې سره د مابنام په لمونځ کې تاخیر کیږي، ګنې بذات خود په دې کې هیڅ کراهت نه شته[۱] ستاسو دلته د مابنام د لمانځه نه مخکې د نفلو معمول دی او په جمعه کې تاخیر کیږي ددې له وجې په تحیة المسجد کولو کې څه حرج نه شته.

د تحیة المسجد حکم او د اوقاتو تعین

سوال: په حدیث شریف کې دي چې کله تاسو مسجد ته ولاړ شي؛ نو هلته دوه رکعته اداء کوئ، ایا دا دوه رکعتونه په مسجد کې د هر لمونځ سره ضروري دي یا په یو نوي مسجد کې د لمونځ یا د چا د روح د ایصال ثواب له پاره لاړ شي؛ نو بیا به یې هم کوي.

جواب: سړی چې یو مسجد ته لاړ شي؛ نو دوه رکعته د تحیة المسجد په ارادې سره کول پکار دي، خوشرط دادی چې لمونځ هم مثلاً: د مازدیګر نه وروسته د غروب نه مخکې نفل کول صحیح نه دي، دا رنګې د سهار د لمانځه نه وروسته د اشراق نه مخکې نفل کول صحیح نه دي او د نصف النهار په وخت کې نفل کول ممنوع دي، الغرض دا دی وکتل شي چې په داسې وخت کې کول جائز دي او که نه؟[۲]

شب برات کې په جمعه نفل لمونځ جائز نه دی

سوال: په تیرشوي شب برات کې په یوجوماتو کې د مابنام د لمانځه نه وروسته شپږ رکعته لمونځ، دوه دوه رکعته نفل لمونځ په ترتیب باجماعت اداکړل شول او په اخره کې د سوره یاسین تلاوت وکړای شو، بیا اوږده اجتماعي دعا وغوښتل شوه، بیاتقریباً دریې بجې د تهجد نفل هم په جمعه اداکړل شو، دڅه کسانو په اعتراض کولو باندې امام صاحب هم ددې نفلو یا د باجماعت په حمایت کې د جمعې په تقریرکې وفرمایل چې دا دحدیث شریف نه ثابت دي او د مشکوة شریف په فلانی فلانی صفحه کې ددې حواله ده، عرض مې داو چې ددې شب برات دنفلونو د اصل حقیقت په باره کې مو خبرکړئ چې که دا دڅان اداکړی شوي وي؛ نوچې د آینده له پاره منع کړل شي او که نه وي؛ نوچې بیا د آینده هرشب برات باندې دا معمول جوړ کړل شي او ددې د دا ایګې اهتمام وشي.

۱] ایضاً تیره شوی حاشیه (وتعجیل مغرب مطلقًاوتاخیره قدرركعتین یکره تنزیهًا......الخ) اوګوری۔

۲](ویسن تحیة المسجدوهی رکعتان)وفی الشامیة:بحرعن الحلیة ثم قال وقدحکی الاجماع علی سنیتهاغیران اصحابنایکرهونها فی الاوقات المکروهة ......الخ(شامی ج:۲ص:۱۸)، مسالة:الاوقات المنهی عن الصلاة فیها: قال ابوجعفرولایصلی احدعندطلوع الشمس ،وعندالزوال ،وعندالغروب...... فالاصل ماروی عن النبی صلی الله علیه وسلم.... لا یتحری احدکم فیصلی عند طلوع الشمس، ولا عند غروبها، فانها تطلع بین قرنی شیطان، وحدیث عقبة بن عامررضی الله عنه: نهانارسول الله صلی الله علیه وسلم ان نصلی فی ثلاث ساعات وان نقبرفیهن موتانا:عندطلوع الشمس ،وعندالزوال ،وعندالغروب (شرح مختصرالطحاوی ج:۱ص:۵۲۷،۵۲۸)

جواب: په شب برات کې اجتماعي نفلونه اداکول بدعت دي[1] امام صاحب چې دمشکوة شریف کومه حواله ورکړې ده هغه دهغوی غلط فهمي ده په مشکوة شریف کې هیڅ داسې روایت نه شته چې په هغه کې په شب برات کې دباجماعت نفل اداکولوحکم ورکړل شوی وي.

د نفل لمانځه جمعه

سوال: که چیرې په مسجد کې په رمضان المبارک کې د تراویحو نه وروسته په داسې طریقې سره د نفلو جمعه وکړل شي چې حافظ بدلیږي او د مقتدیانو تعداد پنځه شپږ وي او پرته د لاوډ سپیکر نه پوره قرآن واورول شي؛ نو ایا دا طریقه به جائزه وي؟

جواب: نفل لمونځ په جمعې سره اداء کول چې مقتدیان درې یا د دې نه زیات وي د احنافو په نزد مکروه دي[2] عام ډول داسې کیدای شي چې کومو حافظانو ته د تراویحو نه وروسته قرآن اورول وي هغوي دې دومره رکعتونه د تراویحو پریږدي،که چیرې امام تراویح ورکوي او مقتدي نفل کونکي وي؛ نوپرته د کراهت نه جائز دي[3] والله اعلم!

❖ سجده تلاوت ❖

د سجدې تلاوت شرائط

سوال: ایا دسجدې تلاوت له پاره دهغو ټولوشرطونوپوره کول ضروري دي چې دلمانځه دسجدې له پاره دي (پاک ځای، دکعبې طرف ته مخ کول اوداسې نور....)؟

جواب: هو! دلمونځ شرائط دتلاوت دسجدې له پاره ضروري دي.[4]

---

[1]]ویکره الاقتداء فی صلوة رغائب وبراءة وقدر......الخ وفی الشامية :قوله وبراءة هی ليلة النصف من شعبان ......الخ(ردالمحتارعلی الدرالمختارج:۲ص:٤٩باب الوتروالنوافل)_

[2]] وقيده فی الكافی بان يكون علی سبيل التداعی امالواقتدی واحدة اواثنان بواحدلايكره واذا اقتدی ثلاثة بواحداختلفوا فيه وان اقتدی اربعة بواحدة كره اتفاقًا(البحرالرائق ج:۲ص:۷۵)

[3]] وكره ان يوم فی التراويح مرتين فی ليلة واحدة وعليه الفتوی لان السنة لاتتكررفی الوقت الواحد فتقع الثانية نفلاً مضمرات ،بخلاف مالوصلاهاماموماًمرتين لايكره كما لوام فيها (حاشيه الطحاوی علی مراقی الفلاح ص:٢٢٤ فصل فی التراويح)،ايضًا:امام يصلی التراويح فی مسجدين فی كل مسجدعلی الكمال لايجوزكذافی محيط السرخسی والفتوی علی ذالک كذافی المضمرات والمقتدی اذا صلاهافی مسجدين لاباس به (عالمگيری ج:۱ص:۱۱٦حلبی كبير ص:٤٠٨،ردالمحتارج:۲ص:٤٦)

[4]] فكل ماهو شرط جوازالصلاة من طهارة الحدث وهی الوضوء والغسل......فهوشرط جواز السجدة ،لانهاجزء من اجزاء الصلاة ......الخ(البدائع الصنائع ج:۱ص:۱۸٦) ايضًا:وشرط لصحتها ان تكون شرائط الصلوة موجودة فی المساجدالطهارة من الحدث والخبث وسترالعورة واستقبال القبلة ......الخ(مراقی الفلاح ص:۲۷۱)_

د تلاوت د سجدې د اداء کولو شرطونه

سوال: د جمعې په ورځ په محله کې د ختم القرآن په موقع باندې زما نظر په یو سړي باندې پریوت، ما ویل که دی د ماز دیګر لمونځ کوي او ما دا وکتله چې کیدای شي چې ده ته د قبلې طرف نه وي معلوم، ځکه چې هغه د قبلې مخالف (مشرق) طرف ته سجده کوله، ما نژدې ناستو خلکو ته دده د قبلې طرف ته د نه کیدو له پاره توجه ورکړه، هغه لمونځ نه کاو، بلکې د تلاوت سجده یې کوله، په خپله هم په تلوارې سره ودرید چې ما خو تلاوت سجده کوله او دا خو چې کوم طرف ته وکړل شي؛ نو صحیح وي او د قبلې تعین او د قبلې ته د نه مخ کولو سره هم اداء کیږي، دده سره یو سړي هم دده تاید وکړ چې هو د تلاوت سجده هر طرف ته جائز ده او که قبلې طرف ته یې مخ نه هم وي؛ نو اداء کیږي، تاسو ووایئ چې صحیح مسئله څه ده؟

جواب: د تلاوت د سجدې د جواز له پاره هماغه شرطونه دي کوم چې د لمانځه له پاره شرط وي یعنې د بدن پاکیدل، د جامو پاکیدل، د ستر پټول، قبلې ته مخ کول، قبلې ته د مخ کولو نه پرته د تلاوت سجده نه اداء کیږي.[۱]

د تلاوت د سجدې د اداء کولو طریقه

سوال: په قرآن مجید کې (۱۴) سجدې دي، ددې د اداء کولو څه طریقه ده؟

جواب: کله چې د سجدې ایت ولوستل شي، که اودس یې وي؛ نو په هغه وخت کې دې فورا سجده وکړي، په دې شرط چې وخت مکروه نه وي او که چیرې اودس یې نه وي؛ نو اودس دې وکړي او سجده دې وکړي[۲] د سجدې طریقه داده چې په اودس کې دې قبلې طرف ته مخ کړي او تکبیر دې ووایي او سجدې ته دې لاړ شي او په تکبیر ویلو سره دې سجدې ته لاړشي؛ نو سجده یې اداء شوه[۳]

د سجدې تلاوت نیت

سوال: د قرآن مجید د تلاوت سره د تلاوت د سجدې څه نیت دی؟

---

[۱] فاذا قرأ آیة السجدة ......فانه یجب علیه ان یسجدبشرائط الصلاة الا التحریمة سجدة بین تکبیرتین مستجبتین ......الخ (حلبی کبیرج:۱ص:۴۹۸)،لایجوزلاحداداء فریضة ولانافلة ولاسجدة تلاوة ولاصلاة جنازة الامتوجهاًالی القبلة (عالمگیری ج:۱ص:۶۳) ایضاً پورتنۍ حواله۔

[۲] وفی المراقی :وغیرهاتجب موسعًاولکن کره تاخیره السجودعن وقت التلاوة فی الاصح اذالم یکن مکروهًا وفی الحاشیه الطحطاوی :ای اذا لم یکن وقت التلاوة وقتامکروهًا (حاشیه الطحطاوی مع المراقی ص:۳۶۱)

[۳] فاذاارادالسجودکبرولایرفع یدیه وسجدثم کبرورفع راسه ولاتشهدعلیه ولاسلام (عالمگیری ج:۱ص:۱۳۵،کتاب الصلاة ،الباب الثالث عشرفی سجودالتلاوة)

جواب: دا نیت دی چې زه د تلاوت سجده اداء کوم.[۱]

د تلاوت د سجدې صحیح طریقه

سوال: ډیرځله مې خلک په مختلف طریقوسره په سجده تلاوت اداکولو سره لیدلي دي، مهرباني وکړئ اود سجده تلاوت صحیح طریقه راته ولیکئ؛

جواب: ،الله اکبر، ،ویلوسره دې سجدې ته لاړشي اوپه سجده کې دې درې ځله، ،سبحان ربي الاعلی، ، ووایي ، الله اکبردې ووایي اود سجدې نه دې راپورته شي، بس دغه دتلاوت سجده ده[۲] په ولاړه الله اکبر ویل اوسجدې ته تلل غوره دي اوکه په ناسته وکړل شي؛ نوبیاهم جائزده.[۳]

په سجده تلاوت کې یوازې یوه سجده وي

سوال: په سجده تلاوت کې دوه سجدې وي اوکه یوه؟

جواب: دیوایت په تلاوت سره یوه سجده واجبیږي،خو په مجلس بدلولوسره که څه هم هغه ایت په دویم ځل ولوستل شي؛ نودهغه سجده به بیاواجب شي.[۴]

په سجده تلاوت کې نیت نه تړل کیږي، بلکې دسجدې دنیت نه وروسته دې،الله اکبر،ویلوسره سجدې ته لاړشي اوالله اکبرویلوسره پورته شي، دسلام ګرځولوضرورت نه شته، په ناسته سجده تلاوت کول جائزدي اوپه ولاړه سجده تلاوت ته تلل غوره دي.[۵]

---

[۱] ثم ارادالسجود ینویهابقلبه ویقول بلسانه اسجدلله تعالی سجدة التلاوة الله اکبر (عالمگیری ج:۱ص:۱۳۵)

۲] فاذا اراد السجود کبر ولایرفع یدیه وسجدثم کبرورفع راسه ولاتشهدعلیه ولاسلام کذافی الهدایة ویقول فی سجوده سبحان ربی الاعلی ثلاثا...الخ (هندیة ج:۱ص:۱۳۵کتاب الصلاة ،الباب الثالث عشرفی سجود التلاوة ، طبع رشیدیه)،وفی البحرالرائق (ج:۲ص:۲۲۳،طبع رشیدیه)وکیفیته ان یسجدبشرائط الصلاة بین تکبیرتین بلارفع ید وتشهدوتسلیم...والمرادبالتکبیرتین تکبیرة الوضع وتکبیرالرفع وکل منهما سنة کما صححه فی البدائع لحدیث ابی داود)

۳] ومایستحب لادائهاان یقوم فیسجد لان الخرور سقوط من القیام والقرآن ورد به وهومروی عن عائشة رضی الله عنهاوان لم یفعل لم یضره (البحرالرائق ج:۲ص:۱۳۷)_

٤] ولوکررها فی مجلسین تکررت وفی مجلس واحد لاتتکربل کفته واحدة (الدرالمختارمع الردج:۲ص:۱۱٤، باب سجودالتلاوة)_

٥] ومایستحب لادائهاان یقوم فیسجد لان الخرور سقوط من القیام والقرآن ورد به وهومروی عن عائشة رضی الله عنهاوان لم یفعل لم یضره (البحرالرائق ج:۲ص:۱۳۷) وایضاًوفی السراج الوهاج ثم اذا اراد السجود ینویها بقلبه ویقول بلسانه اسجدلله سجدة التلاوة الله اکبر......الخ(البحرالرائق ج:۲ص:۱۳۷، وایضاًفی الهندیة ج:۱ص:۱۳۵)

که چا په لمانځه کې د سجدې ایت ولوست، رکوع او سجده یې وکړه؛ نو سجده تلاوت اداشوه

سوال: که چاپه لمانځه کې د سجدې ایت ولوست اوپه فورا رکوع ته لاړ اوپه رکوع کې یې دسجدې ایت نیت ونه کړاوبیایې دلمونځ سجده وکړه؛ نو ایاسجده تلاوت هم په دې سجده کې اداشوه اوکه نه؟

جواب: په دې صورت کې سجده اداشوه.[1]

ایا سجده تلاوت په سپارې باندې د قبلې له طرف پرته کولی شو؟

سوال: دقرآن پاک سجده تلاوت ایا په هغه وخت کې کول پکاردي کوم وخت کې چې دسجدې ایت ولوستل شي، یابیاوروسته یې هم کولی شو؟ او ایا په سپارې باندې سجده کولی شو،هرکله چې مخامخ قبله نه وي؟ ځینې خلک داسې کوي چې دقرآن پاک دلوستلونه وروسته وايي چې یو انسان څوارلس سجدې وکړي، ایا داصحیح ده اوکه نه؟

جواب: سجده تلاوت فورا کول افضل دي، خو ضروري نه ده وروسته هم کیدای شي اوکه قرآن کریم ختم کړي اوټولې سجدې وکړي؛ نوهم صحیح ده، مګردومره تاخیرښه نه دی[2] هیڅ خبرنه شته چې دقرآن دختمولونه مخکې مرګ راشي اوسجدې کومې چې واجب دي دهغه په ذمه پاتې شي ،په سپارې باندې سجده نه کیږي، مخ په قبله په ځمکه باندې سجده کول پکاردي، دسپارې دپاسه سجده کول دقرآن کریم بې ادبي ده.

سجده تلاوت ځانته ځانته اداکړو یا د ختم قرآن نه وروسته ټولې سجدې یوځای وکړل شي؟

سوال: هره دتلاوت سجده دسجدې دایت لوستلوپه هغه وخت کې کول مسنون دي یاپه ختم قرآن باندې ټولې سجدې دتلاوت اداکړل شي ؟کوم یوه طریقه غوره ده؟

جواب: دقرآن کریم ټولې سجدې رایوځای کول خلاف سنت دي، په تلاوت کې چې کومه

۱] قوله نعم لوركع وسجدلهاای للصلاة فوراًناب ای سجودالمقتدی عن سجودالتلاوة بلانية تبعالسجوكامامه ......الخ (شامی ج:۲ ص:۱۱۲)وايضاًفی البحر:واماان ركع اوسجد صلبية فانه ينوب عنهااذاكان على الفور......الخ (ج:۲ص:۱۳۳)۔

۲]وفی التجنيس وهل يكره تاخيرها عن وقت القرأة؟ ذكرفی بعض المواضع انه اذ قرأها فی الصلاة فتاخيرها مكروه وان قرأها خارج الصلاة لايكره تاخيرها وذكرالطحاوی ان تاخيرهامكروه مطلقاًوهوالاصح وهی كراهة تنزيهية فی غيرالصلاتية،لانهالوكانت تحريمية لكان وجوبها على الفوروليس كذالک(البحرالرائق ج:۲ص:۱۲۹)

سجده راشي؛ نو حتی الوسع هغه دې زرترزره د اداکولو کوشش وکړل شي، بیا هم که په یوځای سجدې وکړل شي؛ نو ادا به شي.[1]

د تلاوت د سجدې صحیح طریقه

سوال: په قرآن مجید کې چې کوم ځای سجده راشي؛ نو د اداء کولو صحیح طریقه یې کومه ده؟

جواب: په اودس سره به الله اکبر ووایې او سجدې ته به لاړ شې او د الله اکبر ویلو سره به پورته شې، بس سجده اداء شوه.[2]

په یو ځای باندې څوارلس سجدې کول

سوال: د تلاوت د سجدې طریقه بیان کړئ، په یو ځای څوارلس سجدې کیدای شي؟

جواب: هره سجده یوازې کول پکار دي[3] د څوارلسو سجدو جمع کول ښه نه دي.

د قرآن مجید د تلاوت په وخت سجده کول پکار دي او که نه؟

سوال: د قرآن مجید د لوستلو په وخت د تلاوت سجده کول پکار دي او که نه؟

جواب: په هغه وخت یې هم اداء کولی شئ او بیا وروسته یې هم اداء کولی شئ.[4]

د سجدې تلاوت د پاتې کیدو حکم

سوال: په قرآن مجید کې چې کومې سجدې راځي، هغه بالکل داسې کیږي لکه څنګه چې په لمونځ کې سجده کیږي؟ ماته مخکې معلومه نه وه، له دې وجې ما چې څومره سپارې لوستلې دي یا په قرآن خوانۍ ته تللی یم، کله مې هم سجده نه ده کړې، مهرباني وکړئ چې اوس هغه سجدې د هغې د تعداد ماته هم پته نه شته اوس څه وکړم؟ او د تلاوت سجدې په

١] وفى التجنيس وهل يكره تاخيرها عن وقت القرأة؟ ذكرفى بعض المواضع انه اذ قرأها فى الصلاة فتاخيرهامكروه وان قرأها خارج الصلاة لايكره تاخيرها وذكرالطحاوى ان تاخيرهامكروه مطلقاوهوالاصح وهى كراهة تنزيهية فى غيرالصلاتية ،لانهالوكانت تحريمية لكان وجوبها على الفورولیس كذالک (البحرالرائق ج:٢ص:١٢٩) وايضًافى الهندية ج:١ص:١٣٥)ـ

٢] فاذا ارادالسجودكبرولايرفع يديه وسجدثم كبرورفع راسه ولاتشهدعليه ولاسلام كذافى الهداية ويقول فى سجوده سبحان ربى الاعلى ثلاثا......الخ (هندية ج:١ص:١٣٥كتاب الصلاة ،الباب الثالث عشرفى سجود التلاوة ، طبع رشيديه) ٠وفى البحرالرائق (ج:٢ص:٢٢٣،طبع رشيديه)وكيفيته ان يسجدبشرائط الصلاة بين تكبيرتين بلارفع يد وتشهدوتسليم...والمرادبالتكبيرتين تكبيرة الوضع وتكبيرالرفع وكل منهماسنة كماصححه فى البدائع لحديث ابى داود.

٣] ولوكان عليه سجدات متعدده فعليه ان يسجدعددهاوليس عليه ان يعين ان هذه السجدة لآية كذاوهذه لآية كذا(حلبى كبيرج:١ص:٥٠١،ايضًا:حاشيه الطحاوى على المراقى ص:٢٦١)

٤] واداهاليس على الفورحتى لواداهافى اى وقت كان يكون موديًالاقاضيًا (عالمگيرى ج:١ص:١٣٥)

لمونځ کې د سجدو په شان دي یا څه بله طریقه ده؟

جواب: سوچ وکړه اندازه وکړه چې څومره سجدې ستا په ذمه باندې وي هغه اداء کړه.[۱]

د تلاوت د سجدې طریقه

سوال: ما نذر (منښته) کړې وه، چې یو قرآن کریم به ختموم، پوښتنه دا کول پکار دي چې په قرآن کریم کې چې کوم ځای د سجدې ایت راځي په دغه وخت کې سجده لازمیږي یا چې کله پوره قرآن مجید ختم شي او سجدې وکړل شي؛ نو ګناه خو به نه وي؟ او دا هم ووایئ چې سجده څنګه کول دي؟ بالکل داسې لکه څنګه چې د لمونځ سجده وي او په سجده کې سبحان ربی الاعلی ویل لازمي دي؟

جواب: د تلاوت سجده که چیرې د تلاوت سره اداء کړل شي؛ نو بهتره به وي په یو مجلس باندې چې کله تلاوت ختم کړل شي دغه وخت سجده کوه، په یو ځای باندې ټوارلس سجدې کول هم جائز دي، خوبهترنه دي، د سجده تلاوت طریقه داده چې الله اکبر به ووایئ او سجدې ته لاړشئ او په سجده کې به سبحان ربی الاعلی ووایئ، کم نه کم درې ځله، بیا به تکبیر ووایئ او بیا به ودریږي، بس سجده اداء شوه.[۲]

د کومو سورتونو په اخر کې چې سجدې وي د هغه لوستونکی کله سجده وکړي؟

سوال: دکوموسورتونوپه اخر کې چې سجدې وي که هغه په لمانځه کې وویل شي؛نوسجده څنګه وکړل شي؟ ایادرې سجدې وکړي یادوه سجدې، یعنې دلمانځه ددووسجدونه وروسته دتلاوت سجده به هم اداشي؟

جواب: دسجدې واله ایت باندې دې تلاوت ختم کړي اورکوع ته دې لاړشي اوپه رکوع کې دسجده تلاوت نیت کیدای شي اودرکوع نه وروسته دلمانځه په سجده کې دتلاوت سجده هم اداکیږي په دې صورت کې دمستقلې سجدې تلاوت کولوضرورت نه شته[۳]اوکه سجده

---

[۱] واداهالیس علی الفورحتی لواداهافی ای وقت کان یکون مودیًالاقاضیًا (عالمګیری ج:۱ص:۱۳۵)

[۲] وفی الغیاثیة واداءها لیس علی الفورحتی لواداهافی ای وقت کان یکون مودیًا لا قاضیًاکذافی التتارخانیة (عالمګیری ج:۱ص:۱۳۵) ۰فاذااراد السجودکبرولایرفع یدیه وسجدثم کبرورفع راسه ولاتشهدعلیه ولاسلام ویقول فی سجوده سبحان ربی الاعلی ثلاثًاولاینقص عن الثلاث کما فی المکتوبة ......الخ (عالمګیری ج:۱ ص:۱۳۵) (ایضًا :وفی المراقی :وغیرهاتجب موسعًاولکن کره تاخیر السجودعن وقت التلاوة فی الاصح اذالم یکن مکروهًا:ای اذالم یکن وقت التلاوة مکروهًابان کان احداوقات الثلاثة (حاشیه الطحطاوی علی مراقی الفلاح ص:۲٦۱باب سجودالتلاوة،ایضًافی البدائع ج:۱ص:۱۸۰فصل واماسبب وجوب السجدة طبع سعید)

۳]قوله نعم لورکع وسجدلهاای للصلاة فورًاناب ای سجودالمقتدی ..[بقیه حاشیه په راروانه صفحه

تلاوت واله ایت نه وروسته هم دنورو ایتونو تلاوت کول وي؛ نواول دې سجده تلاوت وکړي بیا دې راپورته شي او تلاوت دې وکړي.[۱]

د زوال په وخت تلاوت جائزدی، خوسجده تلاوت جائز نه ده

سوال: ایا د ورځې دولس بجې دقرآن مجید تلاوت کیدای شي؟

جواب: دتیکندې غرمې په وخت کې هرکله چې لمربالکل په سرباندې وي، لمونځ اوسجده تلاوت منع ده[۲]، مګر دقرآن مجید تلاوت جائزدی.

د سهاراو مازدیګرد مکروه وخت نه پرته سجده تلاوت جائزده

سوال: دتلاوت سجده دمازدیګردلمانځه نه وروسته دمابنام پورې یا دسهاردلمانځه نه وروسته جائزده اوکه نه؟ یعنې په دې دواړو وختونوکې سجده اداکیدای شي اوکه نه؟ موږ داهل سنت عالمانومنع کړي یو، موږ په خپله هم داهل سنت سره وابسته یو، موږ دوه په خپل مینځ کې دوستان هم یو، ماهغه دسجدې نه مِنع کړ، خوهغه ستاسوحواله راکړه.

جواب: دفقه حنفي مطابق دسهاردلمانځه نه وروسته اودمازدیګردلمانځه نه وروسته سجده تلاوت جائز ده[۳] البته دلمردراختونه واخله درڼا تر سپینیدو پورې اودلمردپریوتونه واخله د رڼا تر زیړیدو پورې، په دې حالت کې سجده تلاوت هم منع ده.[۴]

...بقیه د تیر مخ].. عن سجود التلاوة بلانیة تبعا لسجود امامه ......الخ (شامی ج:۲ ص:۱۱۲)وایضًا فی البحر:واماان رکع اوسجد صلبیة فانه ینوب عنهااذاکان علی الفور......الخ (ج:۲ص:۱۳۳) و ایضًا:وتودی برکوع صلاة اذاکان الرکوع علی الفورمن قرأة آیة ......ان نواه ای کون الرکوع لسجودالتلاوة علی الراجح ......الخ (التنویروشرحه ج:۲ص:۱۱۱،۱۱۲)۔

۱] وان کانت عند ختم السورة فینبغی ان یقرا آیات من سورة آخری ثم یرکع...الخ (البدائع الصنائع ج۱، ص۱۸۸)۔

۲]ثلاث ساعات لاتجوز فیها المکتوبة ولاصلوة الجنازة ولاسجدة التلاوة :اذاطلعت الشمس حتی ترتفع ،وعندالانتصاف الی ان تزول ،عند احمرارها الی ان تغیب......الخ (هندیة ج:۱ص:۵۲)۔

۳]تسعة اوقات یکره فیها النوافل ومافی معناها لا الفرائض ......فیجوزفیها قضاء الفائتة وصلاة الجنازة وسجدة التلاوة ......منهامابعدصلاة الفجرقبل طلوع الشمس ......ومنهامابعدصلوة العصرقبل مغیب الشمس ......الخ (هندیة ج:۱ ص:۵۲،۵۳کتاب الصلاة الباب الاول فی المواقیت ومایتصل بها)۔

٤] ثلاث ساعات لاتجوزفیها المکتوبة ولاصلوة الجنازة ولاسجدة التلاوة :اذا طلعت الشمس حتی ترتفع ،وعندالانتصاف الی ان تزول ،وعنداحمرارهاالی ان تغیب ......الخ (هندیة ج:۱ص:۵۲،کتاب الصلاة الباب الاول فی المواقیت ومایتصل بها،طبع رشیدیه) (ویکره ان یسجدشکرًا بعدالصلاة فی الوقت الذی یکره فیه النفل ولایکره فی غیره (عالمگیری ج:۱ص:۱۳۶،الباب الثالث عشرفی سجودالتلاوة)، ایضًا:وسجدة الشکرمستحبة به یفتی لکنهاتکره بعدالصلاة لان الجهلة یعتقدونهاسنة اوواجبة وکل مباح یودی الیه فمکروه (درمختار ج:۲ ص: ۱۱۹، ۱۲۱)کتاب الصلاة مطلب فی سجدة الشکر،طبع ایچ ایم سعید)۔

د تلاوت او شکر سجده په کوم وخت کې کول پکار دي؟

سوال: دسجده تلاوت او د سجده شکر اوداسې نورو... وضاحت وکړئ دا په کوم وخت کې کول پکار دي ؟ اکثر خلک وايي چې د سهار د لمانځه نه تر ماسپښين پورې يوه سجده هم نه کيږي، دا رنګه د مازديګر د لمانځه نه وروسته يوه سجده هم نه کيږي تر څو پورې چې د ماښام لمونځ ونه کړل شي، مهرباني وکړئ جواب په وضاحت سره راکړئ!

جواب: درې وختونه مکروه دي: د طلوع وخت د لمر تر اوچتيدو پورې، د غروب وخت او ددې نه مخکې پنځلس شل منټه، د ماسپښين وخت، په دې دريو وختونو کې د تلاوت سجده ممنوع ده، په باقي ټولو وختونو کې جائز ده، د شکر سجده هم ددې دريو وختونو نه پرته جائزه ده، خود خلکو په مخکې دې نه کيږي.[1]

د مازديګر نه وروسته د تلاوت سجده کول

سوال: که چيرې موږ د مازديګر نه وروسته د قرآن کريم تلاوت کوو او په دې دوران کې د سجدې ايت راشي؛ نو ايا د تلاوت سجده په دې وخت کې اداء کول پکار دي يا په بل وخت کې اداء کيدلی شي؟

جواب: د مازديګر نه وروسته د تلاوت سجده جائز ده.[2]

په کټ کې ناست تلاوت کونکی کله سجده تلاوت وکړي؟

سوال: که په کټ کې ناست يو اوقرآن پاک تلاوت کوواوپه دې دوران کې ايت سجده هم په تلاوت کې راځي، لهذا ددې له پاره سجده کول فوري ضروري ده يادتلاوت نه وروسته (څومره قرآن پاک چې وويل شي) سجده وکړل شي، صحيح طريقه راته تحرير کړئ!

جواب: فوري کول غوره دي اودتلاوت دختمولونه وروسته کول هم جائز دي[3] که کټ سخت

---

[1] ثلاث ساعات لاتجوزفيها المكتوبة ولاصلوة الجنازة ولاسجدة التلاوة :اذا طلعت الشمس حتى ترتفع ،وعندالانتصاف الى ان تزول ،وعنداحمرارهاالى ان تغيب ......الخ (هندية ج:۱ص:۵۲،كتاب الصلاة الباب الاول فى المواقيت ومايتصل بها،طبع رشيديه) (ويكره ان يسجدشكرًا بعدالصلاة فى الوقت الذى يكره فيه النفل ولايكره فى غيره (عالمگيرى ج:۱ص:۱۳۶،الباب الثالث عشرفى سجودالتلاوة)، ايضًا:وسجدة الشكرمستحبة به يفتى لكنهاتكره بعدالصلاة لان الجهلة يعتقدونهاسنة اوواجبة وكل مباح يودى اليه فمكروه (درمختار ج:۲ ص: ۱۱۹، ۱۲۱)كتاب الصلاة مطلب فى سجدة الشكر،طبع ايچ ايم سعيد)

[2] (تسع اوقات يكره فيها النوافل ومافى معناهالا الفرائض ...... فيجوز فيها قضاء الفائتة وصلاة الجنازة وسجدة التلاوة ......منهامابعدصلاة العصرقبل التغير (عالمگيرى ج:۱ص: ۵۳ كتاب الصلاة الباب الاول)

[3] وفى المراقى :وغيرها تجب موسعًا ولكن كره تاخيره السجودعن وقت التلاوة فى الاصح اذالم يكن مكروهًا.....الخ وفى حاشية الطحطاوى :اى اذا لم يكن وقت التلاوة....[بقيه حاشيه په راروانه صفحه....

وي او په هغه کې تندی نه خښيږي او په هغه باندې صفاجامه هم خوره شوې وي؛ نو په کټ کې سجده کيدلی شي، ګڼي نه.[۱]

د تلاوت په دوران کې دسجدې ايت په کم اواز سره لوستل بهتر دي

دقرآن پاک دتلاوت د کولو په دوران کې چې په کومه رکوع کې سجده راشي؛ نو هغه په زړه کې ويل جائز دي، يا په لوړ اواز سره ولولي؟ وايي چې که څوک دسجدې واله ايت واوري؛ نو په هغه هم سجده واجب ده او که سجده ونه کړي؛ نو ددې څه کفاره ده؟او سجدې کولو طريقه څه ده؟په تفصيل سره راته ووايئ؟

جواب: دسجدې ايت لوستلو سره، په ويونکي او اوريدونکي دواړو باندې سجده واجبيږي[۲] ددې له وجې دبل کس په وړاندې دسجدې ايت په کم اوازسره لولئ، چې د هغه په ذمه سجده واجب نه شي[۳] دکوم کس په ذمه چې سجده تلاوت واجب وه او هغه ونه کړه، نو ددې کفاره هم داده چې سجده وکړي، دتلاوت دسجدې کولو طريقه داده چې تکبير ويلو سره دې سجدې ته لاړ شي، په سجده کې درې ځله ،،سبحان ربی الاعلی،، ووايي او تکبير ويلو سره دې راپورته شي، بس دا سجده تلاوت وشوه.[۴]

دسجدې ايت او ددې ترجمه لوستلو سره يوازې يو ځل سجده لازميږي

سوال: زه قرآن شريف دترجمې سره وايم او داسې وايم چې اول څومره ويل وي هغه زه ووايم او بيا د هغه نه وروسته د هغه ترجمه؛ نو آيا ماته په قرآن مجيد کې چې کومه سجده راځي هغه به دوه ځله کول وي؟

جواب: نه! سجده درباندې يوازې يو ځل واجبيږي، آيت سجده که په يو مجلس کې هر څو ځله وويل شي؛ نو سجده هم يوه واجبيږي[۵] او دقرآن کريم الفاظ ويلو سره سجده واجبيږي ددې ترجمه ويلو سره سجده نه واجبيږي.[۱]

...بقيه د تير مخ].. وقتًا مكروهًا ......الخ (حاشيه الطحطاوى على مراقى الفلاح ص:۲٦۱باب سجودالتلاوة ، وايضًافى الهندية ج:۱ص:۱۳۵،وايضًافى البدائع ج:۱ص:۱۸۰)۔

۱] ولوسجد......ان استقرت جبهته وانفه ويجدحجمه يجوز وان لم تستقرلا......الخ (هندية ج:۱ص:۷۰)۔

۲]فسبب وجوبها احدشيئين التلاوة او السماع ......الخ (البدائع الصنائع ج:۱ص:۱۸۰،وايضًا هندية ج:۱ص:۱۳۲)۔

۳]ولوقرأ آية السجدة وعنده ناس ......ينبغى ان يخفض قرأتها لانه لوجهر بهاالصارموجبًاعليهم شيئًا ربما يتكاسلون عن ادائه فيقعون فى المعصية (البحرالرائق ج:۲ص:۱۳۸،باب سجودالتلاوة)۔

٤] فاذا ارادالسجودكبرولايرفع يديه سجدثم كبرورفع راسه ولاتشهدعليه ولاسلام كذافى الهداية ويقول فى سجوده ثلاثاسبحان ربى الاعلى ......الخ (هندية ج:۱ص:۱۳۵،وايضًا فى البحرج:۲ص:۱۳۷)۔

٥] حتى ان من تلا آية واحدة مرارًافى مجلس واحدة تكفيه سجدة واحدة (البدائع الصنائع ج:۱ص:۱۸۱)۔

يو دسجدې ايت مې ډيرو ماشوما نوته ولوست؛ نو بيا به هم يوه سجده کول وي؟

سوال: يواستاد څو هلکانوته په يوځاى دسجدې ايت جدا جدا ښايي؛ نو معلم ته به هم يوه سجده کول وي يا چې څومره هلکان وي هماغومره سجدې به کوي؟ يعنې معلم په يوځاى ناست وي اوهلکان نمبر په نمبرلوستلو له پاره راځي.

جواب: داستادپه ويلوسره به هم يوه سجده واجبيږي، په شرط ددې چې په يومجلس کې وي[۲]، خواستاد چې دماشومانونه څومره ايت سجده واوري هماغومره سجدې به پرې واجبيږي.[۳]

دوه کسان يو دسجدې ايت ولولي؛ نوڅو سجدې واجبيږي؟

سوال: که دسجدې ايت استادوښايي، شاګرد يې ولولي؛ نو اياهريوبه يوه يوه سجده کوي اوکه دوه؟هرکله چې ايت سجده دواړه ولوسته هم اوواوريدله هم؟

جواب: په دواړودوه سجدې واجب شوې، يوه په خپله دويلو،دويمه داوريدلو.[۴]

دسجدې ايت که دلمونځ نه بهرکس واوري؛ نوسجده دې وکړي

سوال: په تراويحو کې دسجدې ايت هم راځي؛ نوظاهره ده چې څوک دلمونځ نه بهروي، هغه به يې هم اوري، ايا په هغه باندې هم سجده واجب ده؟

جواب: هو! نه هغه به هم سجده واجبيږي.[۵]

په لاوډ سپيکرباندې دتلاوت سجده

سوال: که يوکس په لاوډسپيکرباندې دقرآن پاک تلاوت واوريده او په هغه کې سجده راشي؛ نوپه هغه اوريدونکي باندې سجده واجب ده اوکه نه؟او سجده نه کونکى کس ګناهګاريږي اوکه نه؟

۱] فتاوى قاضي خان کى دى :ولوتلى بالفارسية تجب وعلى من سمعها السجدة فهم السامع اولم يفهم ...... الخ (فتاوى قاضي خان على هامش الهندية ج:۱ص:۱۵۶ فتاوى هندية ص:۱۳۳،اذا قراء آية السجدة بالفارسية ......الخ)_

۲]ومن كررتلاوة سجدة واحدة فى مجلس واحداجزاته سجدة واحدة......الخ (هداية ج:۱ص:۱۴۴)_

۳] قال الاصل ان التلاوة سبب بالاجماع لان سجدة تضاف اليهاوتتكرربتكررها......الخ (فتح القديرج:۱ص:۳۱۹)_

۴] والسجدة واجبة فى هذه المواضع على التالى والسامع.....الخ (هندية ج:۱ص:۱۳۲)؛فسبب وجوبها احد الشيئين ،التلاوة او السماع (البدائع الصنائع ج:۱ص:۱۸۰)_

۵] ولوسمعهامن الامام اجنبى ليس معهم فى الصلاة ولم يدخل معهم فى الصلاة لزمه السجودوكذافى الجوهرة النيرة وهوالصحيح كذافى الهداية (هندية ج:۱ص:۱۳۳كتاب الصلاة ،الباب الثالث عشرفى سجودالتلاوة)_

جواب: چې کوم کس ته معلوم شي چې دا ایت سجدې دی په هغه سجده واجب ده او ترک واجب ګناه ده.[1]

له لاوډ سپیکر، ریډیو او ټیلي ویژن نه دسجدې ایت اوریدو باندې سجده تلاوت

سوال: په عام ډول تراویح لاوډ سپیکر سره کیږي، دسجدې کوم ایتونو چې تلاوت کیږي دهغه اواز بهرته هم ځي، که څوک بهرپه کورکې دسجدې ایات واوري؛ نوپه هغه باندې سجده واجبیږي اوکه نه؟همدغه شان دختم په ورځ په ریډیواوټیلي ویژن باندې براه راست دسعودي عرب نه تراویح اوریدل کیږي اوهم ښودل کیږي اوخلک په ډیرشوق سره (خاصکر ښځې) دا اوري، هرکله چې په اخري سپاره کې دوه سجدې دي؛ نو ایاعوام چې کله هغه د سجدې ایتونه واوري؛ نوپه هغوی هم سجده واجبیږي اوکه نه؟ حالانکې دخلکو اکثریت یې یوازې په ذوق اوشوق سره ګوري، په عملي ډول سره نه، یعنې اکثرخلک یوازې واوري او وګوري، سجده اوداسې نور... نه اداکوي؟

جواب: دکوموخلکوترغوږو پورې چې دایت سجده تلاوت ورشي، که څه هم هغوی د اوریدو اراده کړې وه اوکه یې نه وه کړې، په هغوی ټولوباندې سجده واجبیږي[2]په شرط ددې چې هغوی ته معلومه شي چې ایت سجده تلاوت شوی دی[3](که دڅه تراویح ریکارډنګ په دویم ځل په ریډیو یاټیلي ویژن باندې براډ کاسټ کړل شي؛ نوسجده تلاوت نه واجبیږي)[4] خو که ښځې په خپلو خاصو ورځو کې واوري؛ نوسجده پرې نه واجبیږي.[5]

ټیپ ریکارډ اوسجده تلاوت

سوال: ایا په ټیپ ریکارډ باندې ایت سجدې اوریدوسره سجده واجبیږي؟

جواب: دې سره سجده نه واجبیږي.[6]

۱] ولوتليت بالعربية تجب على كل من سمعها ولم يفهمها من العجم اذا اخبرها اجماعًا (حلبي كبيرص:۵۰۱)_

۲]والسجدة واجبة فى هذه المواضع على التالى والسامع سواء قصدسماع القرآن اولم يقصدكذافى الهداية (هندية ج:۱ص:۱۳۲كتاب الصلاة ،الباب الثالث عشرفى سجودالتلاوة)_

۳]ولوقرأ بالعربية يلزمه مطلقًا لكن يعذربالتاخيرمالم يعلم (هندية ج:۱ص:۱۳۳الباب الثالث عشرفى سجودالتلاوة)_

٤] ولاتجب اذاسمعها من الطائراوالصدى لاتجب لانه محاكاة وليس بقراءة (حلبي كبيرص:۵۰۰)،تفصيل دپاره اوګورئ:آلات جديده ،تاليف مفتى محمدشفيع رحمه الله ،ص:۱۶۵طبع ادارة المعارف كراچي)_

۵] حتى لاتجب على الكافر......والحائض والنفساء قرأو اوسمعوا لان هولاء ليسوامن اهل وجوب الصلاة عليهم (البدائع الصنائع ج:۱ص:۱۸۶،فصل فى بيان من تجب عليه السجدة)_

٦] اوګورئ تیره شوی حاشیه (ولاتجب اذاسمعها من الطائراوالصدى لاتجب....الخ) وايضًا البدائع الصنائع ج:۱ص:۱۸۶ فصل وامابيان من تجب عليه السجدة، طبع سعيد،....[بقيه حاشيه په راروانه صفحه....

د سجدې ایت که معلوم نه وي؛ نو سجده تلاوت نه واجبیږي

سوال: د قرآن پاک په مختلفو ایاتونو په تلاوت سره سجده لازمیږي، ما اوریدلي دي چې لوستونکو او اوریدونکو باندې سجده فرض ده، زما مسئله دا ده چې نن سبا ریډیو، ټي وي، تر دې پورې چې په مسجدونو کې هم اکثر ټیپ ریکارډ باندې د قرآن پاک کیسټ لګول کیږي چې هغه د لوډ سپیکر په ذریعې سره په لوړ اواز سره غږیږي، ماتول قرآن پاک نه دی ویلی؛ نو له دې وجې ما ته دا پته نه شته چې په کومو ایتونو باندې سجده فرض ده؟ که چیرې د مذکوره ذرایعو په ذریعې سره هغه د سجدې ایاتونه واورول شي او د بې علمۍ له وجې زه سجده ونه کړم؛ نو ایا ګناه به وي او که نه؟

جواب: د کیسټ په اواز سره د تلاوت سجده نه واجبیږي، په ریډیو باندې هم که چیرې کیسټ لګیدلې وي؛ نو ددې به همدغه حکم وي[1] او که چیرې براه راست تلاوت کیږي؛ نو کومو خلکو ته چې معلوم وي چې دا د سجدې ایت دی؛ نو په هغوی باندې سجده واجبه ده اوچاته چې نه وي معلومه؛ نو هغوی دمعذور په حکم کې دي.

دسجدې ایت اوریدوسره سجده نه کونکی به ګناه ګاروي که لوستونکي؟

سوال: دسجدې دایت له وجې په تلاوت کونکي اوټولواوریدونکوباندې سجده واجبیږي، خوچاته چې دسجدې په باره کې پته نه وي اوتلاوت کونکي ورته وویل؛ نو ایاهغه اوریدونکی به ګناه ګاروي؟

جواب: کوموخلکوته چې معلومه نه ده چې ایت سجده تلاوت شو اوتلاوت کونکي یابل چاهغوی ته ونه ویل؛ نوهغوی ګناهګارنه دي اوکوموخلکوته چې معلومه شوه چې دایت سجده تلاوت شو او ددې باوجود یې سجده ونکړه، هغوی به ګناهګاروي اوپه داسې صورت کې به تلاوت کونکی هم ګناهګاروي، هغه ته پکارو چې ایت سجده تلاوت یې په کم اوازسره کولی.[2]

سوال: اوداهم که آیت سجده په خاموشي سره وویل شي؛ نوجائزده؟

...بقیه د تیر مخ]..تفصیل دپاه اوګورئ:دآلات جدیده شرعی احکام ص:۱۶۵ طبع ادارة المعارف کراچی)

[1] وګورئ تیره شوی حاشیه (ولاتجب اذاسمعها من الطائراوالصدی لاتجب....الخ) وایضًا البدائع الصنائع ج:۱ ص:۱۸٦ فصل وامابیان من تجب علیه السجدة، طبع سعید، تفصیل دپاه اوګورئ:دآلات جدیده شرعی احکام ص:۱۶۵ طبع ادارة المعارف کراچی)۔

[2] ویستحب للتالی اخفانهااذالم یکن السامع متهیئاللسجودوان کان متهیئایستحب جهرها......الخ (حلبی کبیرص:۵۰۱ القراءة خارج الصلوة طبع سهیل اکیدمی)۔

جواب: که بنده ځانته تلاوت کوي هغه ته هم ايت سجده په کم اوازسره لوستل پکاردي،[۱] خوکه په لمانځه کې مثلاتراويحو کې لولي؛ نوپه کم اوازسره لوستلوله وجې به اوريدونکي دايت داوريدونه محروم پاتې شي ددې له وجې په لوړاوازسره لوستل پکاردي.

دتلاوت سجده دې تلاوت کوونکی په خپله وکړي بل څوک نه

سوال: قرا ن خواني کيږي چې کله چې ټول قرآن پاک ختم شي؛ نويوه ښځه دهغوی ټولو سجدې (چې ۱۴دي) اداکړي، تاسووضاحت وکړئ چې کوم ځای کې سجدې راغلې دي څه وکړل شي؟ يا جدا ټولې سجدې اداکړل شي؟اياڅه قيد ياپابندي، خونه شته؟

جواب: دقرآن کريم سجدې په يوځای کول هم جائزدي[۲].مګرچاچې ايت سجده تلاوت کړی وي دهماغه په اداکولوسره به سجده اداکيږي، بل څوک دهغه په ځای سجده نه شي کولی، تاسوچې ليکلي دي چې يوه ښځه دهغو ټولوسجدې اداکړي داغلطه ده، دتلاوت کونکوبه ذمه سجده تلاوت واجبه ده.[۳]

د سورة السجدة ايت کم اوازسره لوستل پکاردي نه ټول سورت

سوال: په قرآن کريم کې يوسورت سجده دی، ددې څه حکم دی؟ايا داټول سورت په زړه کې ولولو؟

جواب: په دې سورت کې چې کوم دسجدې ايت راځي هغه دنوروپه نسبت په کم اوازسره لولئ، دټول سورت په زړه کې دويلوضرورت نه شته.[۴]

د سورت حج څومره سجدې کول پکاردي؟

سوال: دقرآن کريم په سورت حج کې دوه ځايه سجده تلاوت راځي، په دې سجدوکې دويمې سجدې سره شافعي ليکل شوی دی، ايامونږ حنفي عقيده لرونکو ته هم په دې ايت سجده باندې سجده کول لازم دي اوکه نه؟

جواب: دحنفيه په نزدپه سورت حج کې دويمه سجده، سجده تلاوت نه ده، ځکه چې په دې ايت کې درکوع اوسجدې،دواړوحکم ورکړل شوی دی، ددې له وجې په دې ايت کې ګويا دلمونځ کولوحکم ورکړل شوی دی.[۵]

۱]ايضاً)_

۲]فاماخارج الصلاة فانها تجب على سبيل التراخى دون الفورعندعامة اهل الاصول لان دلائل الوجوب مطلقة عن تعيين الوقت (البدائع الصنائع ج:۱ص:۱۸۰كتاب الصلاة ،وامابيان كيفية وجوبها)_

۳] والحاصل ان الوجوب انمايكون باحدالامرين اما بالتلاوة اوبالسماع...الخ (خلاصة الفتاوى ج:١ ص:١٨٤)

٤] ولاباس بان يخفى آية السجدة اذاكان بقربة قوم يسمعون ولايسجدون (فتاوى سراجية ص:١٤)_

٥] وقال عبدالله بن عباس وعبدالله بن عمررضى الله عنهم: سجدة التلاوة....[بقيه حاشيه په راروانه صفحه..

په قرآن مجید کې څومره سجدې دي؟ او څومره واجب دي؟

سوال: په قرآن مجید کې (۱۴) سجدې دي، زه ستاسو نه دا معلومول غواړم چې په دې څوارلسو سجدو کې څو واجب دي؟ څو فرض دي؟ او څو سنت دي؟

جواب: دامام ابوحنیفه رحمه الله په نزد څوار لس ټولې واجب دي.[1]

د تلاوت د سجدې اعلان

سوال: په تراویح کې د سجدې د ایت اعلان کیږي چې په فلانکي آیت کې سجده ده، ددې شرعاً څه حکم دی؟ حالانکې ځینې مقتدیان واپس کیدونکي وي چې اعلان وکړل شي؟

جواب: د تلاوت د سجدې د اعلان ضرورت نه شته، خوکه چیرې مقتدیانو ته شک وي؛ نو اعلان دې وکړل شي.

د ژبې د خوزولو نه پرته د تلاوت ثواب ملاویدل

سوال: عامې ښځې مالیدلې دي چې د قرآن پاک د لوستلو نه پرته یوازې ګوري، یعنې په زړه کې یې وایې لکه څنګه چې موږ د اخبار یا د کتاب مطالعه کوو، ایا په دې صورت کې هم ثواب دومره ملاویږي څومره چې قرآن په ژبې سره لوستل کیږي او ایا داسې تلاوت کول جائز دي او که نه؟

جواب: تر څو پورې چې په ژبې سره تلفظ ونه کړل شي؛ نو د تلاوت ثواب به نه ملاویږي.

د لمانځه نه د بهر خلکو له پاره د سجده تلاوت حکم

سوال: په مکه مکرمه او په مدینه طیبه کې لمونځ لکه سهار، ماښام او ماخسوتن په بېړه کیږي او د لوډسپیکر بندوبست هم ماشاء الله ډیر وسیع وي، اکثر امام صاحب هغه سورت چې سجده پکې راځي لولي، څومره کسان چې لمونځ کوي ددې په یونیم چنده باندې د اودس انتظار او په بازارونو کې موجود وي، هغوی د سجدې ایاتونه اوري هیڅ‌ته پته نه وي اوځینو ته، خو بلکل پته نه وي، ایا د احمد بن حنبل رحمه الله په نزد سجده تلاوت لازمه نه ده؟ که چیرې وکړي؛ نو دا اواز دې هلته اورسوي، ددې له پاره چې خلک ددې ګناه نه بچ شي.

...بقيه د تير مخ]... فى الحج هى الاولى ،والثانية سجدة الصلاة ......وهذا لان السجدة متى قرنت بالركوع كانت عبارة عن سجدة الصلاة كمافى قوله تعالى :فاسجدى واركعى ......الخ (البدائع الصنائع ج:١ص:١٩٣، وامابيان مواضع السجدة فى القرآن ،طبع سعيد)۔

[1] فاذا قرأ آية السجدة وهى فى اربعة عشرموضعًا......فكان الثابت الوجوب ......الخ (حلبى كبيرج:١ص:٤٩٨ القراءة خارج الصلاة ،طبع سهيل اكيدمى لاهور،ايضًا:بدائع ج:١ص:١٩٣،وامابيان مواضع السجدة)

جواب: د حنبلي مذهب په نزد د تلاوت سجده سنت مؤکده ده، واجب نه ده او زمونږ په نزد واجب ده، خو یو سړی چې هغه پوهیږي د سجدې ایت ولوستل شو داسې خلک که چیرې په دې رکعت کې د امام سره شریک شي چې په کوم کې د سجدې ایت ولوستل شو؛ نو ددوی سجده اداء کیږي برابره خبره ده که د امام د سجدې کولو نه مخکې شریک وي او که وروسته او که چیرې په دې رکعت کې شریک نه وي؛ نو دی دې خپله سجده بیا جدا وکړي.[1]

❖ د لمانځه متفرق مسائل ❖

د وظیفې لوستلو له پاره د لمانځه شرط

سوال: دا راته ووایئ که مونږ څه وظیفه شروع کړو چې دکومې له پاره پنځه وخته لمونځ ضروري وي، خو له څه وجې لمونځ قضاشي؛ نو ایامونږ وظیفه جاري ساتلی شو اوکه نه؟

جواب: کله چې لمونځ دوظیفې له پاره شرط وی؛ نو هغه وظیفه دلمانځه نه پرته بې کاره ده.[2]

په لمانځه کې د ژبې نه چلیدو علاج

سوال: زه الحمد لله دلمانځه پابندي کوم، خویوه لویه پریشاني راسره ده، چې کله لمونځ کوم؛ نوژبه مې نه چلیږي اویویوایت څوځله وایم اوداسې راته محسوسیږي چې ژبه کې مې تتوالی دی، خو په عامو خبرواتروکې راته داشی نه محسوسیږي، مهرباني وکړئ اوددې راته څه وظیفه وښایئ ستاسو به ډیره مهرباني وي.

جواب: ددې له پاره دوظیفې ضرورت نه شته، بس دا وکړئ چې کوم ایت مویوځل ووایه هغه دویم ځل مه وایئ، که څه هم تاسویوڅوسیکنډه ودریږئ، ان شاء الله یوڅوورځې وروسته به موداپریشاني ختمه شي اوکه تاسو دغه شان ویل جاري وساتل؛ نوداناروغي به موپخه شي.

د لمانځه پریښودونکی نعت خوان داحترام حقدارنه دی

سوال: ایاد تارک الصلوة نعت خوان احترام کول صحیح دي؟

جواب: داسې کس داحترام قابل نه دی[3] اوداسې کس نعت خواني کول هم دنعت توهین دی.

---

[1] ومن سمعها من مصل واقتدى به قبل ان يسجد ا لمصلى لهاسجدالمصلى معه وان اقتدى بعدماسجدلها فان كان اقتداءه فى الركعة التى تلاهافيهاسقطت عنه ......ولولم يدرک معه تلک الركعة اولم يقتدلاتسقط فلا بدمن سجوده لها (حلبى كبيرص:٥٠١ القراءة خارج الصلاة)

[2] المعلق بالشرط معدوم قبل الشرط (قواعدالفقه ص:١٢٦ طبع صدف پبلشرز)_

[3] هي (اى الصلاة فرض عين على كل مكلف بالاجماع ...... وتاركهاعمداًمجانة اى تكاسلاً فاسق (درمختارج:١ص:٣٥٢ كتاب الصلاة،طبع سعيد) (قوله وفاسق) من الفسق....[بقيه حاشيه په راروانه صفحه

قنوت نازله کله لوستل کیږي؟

سوال: په اخبارونو کې مې ولوستل چې ممتازعلماء کرامو اپیل کړی دی چې دسهاریه لمانځه کې ددعایې قنوت اهتمام کوئ، مهرباني وکړئ او داراته ووایئ چې دعایې قنوت په فرض لمانځه کې ووایو اوکه په سنت لمانځه؟ ایا داقنوت دماسخوتن لمانځه والا دی؟

جواب: کله چې په مسلمانانوباندې څه لوی افت نازل وي مثلاً: دکافران په پنجه کې گرفتار شي، یاپه اسلامي ملک باندې کافران حمله وکړي؛ نودسهاردلمانځه په جمعه کې په دویم رکعت درکوع نه وروسته، ،امام دې، ، قنوت نازله ووایي اومقتدیان دې امین پرې وایي. په سنتونو کې یایوازې اداکیدونکو لمونځونوکې قنوت نازله نه ویل کیږي اودوتروپه دریم رکعت کې چې کوم دعا قنوت ویل کیږي هغه جداده.[1]

تپي وي خودې لږ.ترلږه د لما نځه دوخت احترام کوي

سوال: مولاناصاحب! دتپي وي فضول نشریاتومسلمانان اوخاص کر زموږ نسل دتباهی په موږ باندې درولی دی، دکوم ځای نه وتل که ناممکن نه دي؛ نوگران ضروري دي اویه دې بس نه دی، بلکې هغه پروگرامونه په داسې موقعه نشرکوي کوم چې عین دلمونځه وخت وي د ایمان دکمزوري له وجې دلمانځه په شان اهم عبادت هم پریږدي، د مسلمان کارخودادی چې په خپله دبدي نه بچ شي اودنورودبدي نه بچ کولومحنت اوکوشش وکړي، ایا داخلک دلمانځه په وخت کې دپروگرام وخت کم یازیات کولی نه شي؟

جواب: اول خوهم تپي وي دقوم دصحت له پاره، ،تپي بي، ، او ام الخبائث دی،کوم چې شیطان دالله تعالی د مخلوق دگمراه کولوله پاره ایجادکړی دی، بیاددې نشریات لغواوفضول دي، چې سراسر دگناه نه ډک او وبال دي، بیادلمونځونوپه وختونوکې دگندگي خورول ډیره سنگینه گناه ده، الله تعالی دې موږ دخپل قهراوغضب نه وساتي، دتپي وي مشرانوته پکاردي چې هغوی که ددې گندگي نه دمسلمانانو معاشره (جامعه) بچ کولی نه شي؛ نوکم نه کم دلمونځه دوختونواحترام خودې کوي.[2]

...بقیه د تیر مخ]..وهو الخروج عن الاستقامة ولعل المراد به من یرتکب الکبائر کشارب الخمر وآکل الربا ونحو ذالک ،کذا فی البرجندی والمعراج قال اصحابنالاینبغی ان یقتدی بالفاسق ....واماالفاسق فقدعللو کراهة تقدیمه بانه لایهتم لامر دینه وبان فی تقدیمه للامامة تعظیمه وقد وجب علیهم اهانته شرعًا (ج:۱ص:۵۶۰)۔

۱] وقال الحافظ ابوجعفرالطحاوی :انما لایقنت عندنا فی صلوة الفجرمن غیر بلیة فان وقعت فتنة اوبلیة فلاباس به،فعله رسول الله صلی الله علیه وسلم ......وظاهرتقییدهم بالامام انه لایقنت المنفرد......والذی یظهر لی ان المقتدی یتابع امامه الا اذا جهرفیومن وانه یقنت بعدالرکوع لاقبله ......الخ (حاشیه ردالمحتار ج:۲ ص:۱۱باب الوتروالنوافل ،وایضًافی البحر الرائق ج:۳ص:۴۷باب الوتر)۔

۲] .....ان الذین یحبون ان تشیع الفاحشة فی الذین امنوا لهم عذاب الیم ....[بقیه حاشیه په راروانه صفحه.

په تې وي باندې د جمعې په وخت کې پروګرامونه وړاندې کول

سوال: نن سبا په تي وي باندې دجمعې کوم نشريات چې سهار وي په هغه کې عين هم هغه وخت ډرامه شروع کيږي کله چې جمعه شروع شي، چې دهغې له وجې ډېرد تي وي شوقيانو اوجمعه لوستونکو لمونځونه قضاشي، راته ووايئ چې داګناه دچاپه سرده.؟

جواب: دجمعې لمونځ قضاکونکوباندې به هم دا وبال پريوځي[۱] اوتي وي واله باندې هم، معلوم نه ده چې ايا داخلک مسلمانان نه دي چې خلکوته دجمعې دلمانځه نه دمنع کيدوسبب جوړيږي؟[۲]

په ځای د قرعه اندازي د استخارې د لمونځ په ذريعه فيصله وکړي

سوال: زماعادت دی چې کله هم څه فيصله ونه کړای شم اوډېرزيات پريشانه شم اوبه هيڅ پوه نه شم چې څه فيصله وکړم؟ نوزه دوه رکعته لمونځ وکړم اودقرعه اندازي دوه شيان وليکم اوکيږدم اوبيادالله تعالى نه سوال وکړم او اوچت يې کړم او نيت وکړم چې دالله تعالى دحکم نه پرته يوه پاڼه هم خوزيدای نه شي، کومه قرعه چې زما په لاس کې راځي ددې په فيصله باندې به هغه کارکوم، يابيادالله تعالى په دربارکې ډېرپه ژړافرياد سره دعاغواړم چې خدايه پاکه! قرآن پاک ستاکلام دی اوپه دې کې دهرقسمه مثالونه اوحالات موجوددي، ستاپه مبارک نوم سره زه داسپړم په دې صفحه باندې چې کومه فيصله زمادپريشاني مطابق وي ماته وښايه چې زه هماغه شان وکړم اوستادخوښې اوخوشالۍ مطابق وي، بيادالله تعالى نوم واخلم اوقرآن پاک خلاص کړم اوپه هغه صفحه باندې مسئلې مطابق چې کوم حال راته ملاوشي هغه دخدای رايه ګڼم اودهغه مطابق عمل کوم، آيا په په پورتنودواړو صورتونو کې دکفراوشرک څه خطره خونه شته؟جواب ضروررراکړئ، چې زه بيا آينده داسم کوم، اکثرچې کله ډېرد پريشانۍ واله مسئله

...بقيه د تير مخ]..فى الدنيا والاخرة والله يعلم وانتم لاتعلمون (النور:۱۹)_

۱]عن ابن مسعودرضى الله عنه ان النبى صلى الله عليه وسلم قال لقوم يتخلفون عن الجمعة :لقدهمت ان آمر رجلاً يصلى بالناس ثم احرق على رجال يتخلفون عن الجمعة بيوتهم ،رواه مسلم ،عن ابن عباس رضى الله عنهما ان النبى صلى الله عليه وسلم قال:من ترک الجمعة من غيرضرورة ،کتب منافقًا فى کتاب لايمحى ولايبدل ،وفى بعض الرويات ثلاثا ،رواه الشافعى (مشكوة ج:۱ص:۱۲۱کتاب الصلاة ،باب وجوبها)_

۲] ان الاعانة على المعصية حرام مطلقًا بنص القرآن اعنى قوله تعالى :ولاتعاونواعلى الاثم والعدوان ،وقوله تعالى :فلن اكون ظهيرًا للمجرمين ،ولكن الاعانة حقيقة هى ماقامت المعصية بعين فعل المعين ولا يتحقق الا بنية الاعانة اوالتصريح بهااوتعينهافى استعمال هذا الشئ بحيث لايحتمل غيرالمعصية ،ومالم تقم المعصية بعينه لم يكن من الاعانة حقيقة بل من التسبب ......ثم السبب ان كان سببًا محركا وداعيا الى المعصية فالتسبب فيه حرام كالاعانة على المعصية بنص القرآن كقوله تعالى :ولاتسبوا الذين يدعون من دون الله (تفصيل الكلام فى مسئلة الاعانة على الحرام ص:۱۵،جواهر الفقه ج:۲ص:۴۵۳)_

وي او زما په پوه کې فيصله نه راځي؛ نو زه داسې وکړم او فيصله پرې کوم.

جواب: کفر او شرک خو نه دی، بلکې يو فضول حرکت دی، دې يوې طريقې سره فال ويستل کېږي، له کوم نه چې منع شوې ده او د الله تعالی طرف ته منسوب کول، دا د فساد عقيده ده[۱] الله تعالی چې د حضور ﷺ په ذريعه کوم تعليم ورکړی دی هغه دا دی چې کله څه اهم کار موږ په سروي؛ نو دوه رکعته لمونځ وکړئ او د استخارې دعا وکړئ بيا چې موږ په کوم طرف ته مايل وي هغه صورت اختيار وئ، ان شاء الله په دې کې به خير وي.[۲]

له ډيرې مجبورۍ نه په فيکټرۍ کې کم نه کم فرض او وتر ضرور کوئ!

سوال: نن د امريکې نه زما ديو دوست خط راغلی دی، چې ديوېشتو کلنو راهيسې هلته اوسيږي، اوس هغه لمونځ کول شروع کړي دي، هغه چې په کومه فيکټرۍ کې کارکوي په هغه کې په درې شفټه کې کار کيږي، يوه هفته دورځې، يوه هفته ماښام او يوه هفته د شپې، د ډيوټۍ په وخت کې زه پوره لمونځ نه شم کولی، هغه دسهار په لمونځ کې دوه سنتونه او دوه فرض، د ماسپښين څلور فرض دوه سنت، د مازديګر څلور فرض، د ماښام درې فرض او دوه سنت او د ماخوستن څلور فرض، دوه سنت او درې وتر کوي، هغه ليکلي دي چې له کوم عالم نه پوښتنه وکړه چې ايا دا صحيح دی؟

جواب: ستا دوست چې څومره رکعتونه ليکلي دي هغه صحيح دي، البته د ماسپښين د څلور فرضونه مخکې دې څلور رکعته سنت هم کوي.[۳]

په دفتري وخت کې د لمانځه له پاره جومات ته تلل

سوال: زيد اکثر د ماسپښين لمونځ د جمعې سره اداکوي، هر کله چې جومات د دفتر نه يو ميل ليرې دی، زيد جومات ته پيدل ځي او د جمعې سره لمونځ اداکولونه وروسته پيدل واپس راځي، ايا د زيد دا طريقه صحيح ده؟

جواب: که د دفتر له طرف نه ورته د دې اجازه وي؛ نو دومره ليرې تلل صحيح دي، ګني هم په

۱] (قوله والکهانة) ......ومنهم انه يعرف الامور بمقدمات يستدل بها علی مرافقها من کلام من يساله او حاله اوفعله ......الخ (فتاوی شامی ج:۱ ص:۴۵، طبع ايچ ايم سعيد)۔

۲] (قوله ومنها رکعتا الاستخارة) عن جابر بن عبدالله رضی الله عنهما قال: کان رسول الله صلی الله عليه وسلم يعلمنا الاستخارة فی الامور کلها کما يعلمنا السورة من القرآن يقول اذا هم احدکم بالامر فليرکع رکعتين من غير الفريضة ثم ليقل اللهم استخيرک بعلمک ......الخ (فتاوی شامی ج:۲ ص:۲۶ مطلب فی رکعتی الاستخارة)۔

۳] (وسن) مؤکدا (اربع قبل الظهر) (قوله وسن مؤکدا) ای استنانا مؤکدا بمعنی انه طلب طلبا مؤکدا زيادة علی بقية النوافل ولهذا کانت السنة المؤکدة قريبة من الواجب فی لحوق الاثم کما فی البحر ويستوجب تارکها التضليل واللوم کما فی التحرير. (الدرالمختار مع الشامی ج۲ ص۱۲، باب الوتر والنوافل)۔

دفترکې دې دجمعې لمونځ اهتمام وکړل شي.[۱]

په دفترکې لمونځ څنګه اداکړو؟

سوال: موږ دپورټ قاسم په شاړه علاقه کې دکے ایس سي په دفتر کې کارکوو اوزموږ ډیوټي څليرويشت ګنټې وي، هلته نژدې جومات نه شته اونه داذان اواز راځي، څه موده مخکې په دفترکې دننه څو کسانودجومات په شان يوځای جوړکړی و، چيرته چې به هغوی لمونځونه کول، موږ ټول چې تعدادمو تقريباًاته دی ماشاء الله په پابندي سره لمونځونه کوو، خوموږ خلک ځانته ځانته لمونځونه کوو اوپرته داذان ويلولمونځونه کوو، يعنې کله چې دلمانځه وخت شي دهغه وخت نه واخله دوخت دختميدوپورې په وقفې وقفې سره اوکله کله په يوځای خپل خپل لمونځونه اداکوو جمعه ددې له وجې نه اداکوو چې موږ خلک په علم کې ډيرزيات کم يواوچا شرعي ړيره هم ساتلې نه ده، خو داخبره ضرورده چې لمونځ په جمعې سره اداکولی شو، اوس مسئله داده چې ايا پرته داذان کولو لمونځ کول جائزدي، هرکله چې داذان اواز هم نه تر غوږو کيږي، ايا په داسې صورت کې يواځې يواځې خپل خپل لمونځ وشي، هرکله چې دکولو ځای هم يووي؟ دا وضاحت هم وکړئ چې که جمعه ضروري وي؛ نوشرعي ږيرې واله ياپرته دږيرې واله حضراتوپه اقتداء کې لمونځ کېدلی شي؟

جواب: اذان اواقامت دلمانځه سنت دي[۲]دږيره خريلي په اقتداء کې لمونځ مکروه دی[۳]خو ديواځې کولونه بهتردی، تاسوحضرات داذان اواقامت اوجماعت سره لمونځ اداکوئ[۴]څه به ښه وي چې په تاسوکې څوک دتوفيق واله ږيره هم وساتي، بلکې ټوله ساتل پکاردي چې لمونځ مو مکروه نه شي.[۵]

په دفتري وخت کې د لمانځه د اداکولوپه بدله کې زيات کار

سوال: که موږ دچانوکران يو اودلمانځه په وختونوکې دلمانځه له پاره ځو؛ نو ايا موږ ته ددې

۱] واذا استاجر رجلاً يوماً يعمل كذا فعليه ان يعمل ذلك العمل الى تمام المدة ولا يشتغل بشيئ آخر سوى المكتوبة....الخ (شامى ج۶ ص۷۰، مطلب ليس للاجير الخاص ان يصل النافلة، طبع ايچ ايم سعيد)_

۲]ثم هما (الاذان والاقامة) سنة للصلوات الخمس ....الخ (حلبى كبير، فصل فى السنن ص۳۷۲)_

۳]ويكره امامة عبد واعرابى وفاسق....الخ، وفى الشامية: واما الفاسق فقد عللوا كراهة تقديمه بانه لا يهتم لامر دينه وبان فى تقديمه للامامة تعظيمه وقد وجب عليهم اهانته شرعاً....الخ (ردالمحتار، باب الامامة ج۱ ص۵۵۹، ۵۶۰)_

٤]فان امكن الصلاة خلف غيرهم فهو افضل والا فالاقتداء اولى من الانفراد (شامى، باب الامامة ج۱ ص۵۵۹)_

٥] اوګورئ تيره شوی حاشيه (ويكره امامة عبد واعرابى وفاسق....الخ) وايضاً: والسنة فيها القبضة ولذا يحرم على الرجل قطع لحيته....الخ، (درمختار، كتاب الحظر والاباحة، فصل فى البيع ج۶ ص۴۰۷)_

وختونو په بدله کې زيات کارکول پکار دي؟

جواب: لمونځ فرض دی، ددومره وخت په بدله کې دزيات کارکولو ضرورت نه شته،که په دفتري وخت کې په ايمانداری سره کار وکړل شي؛ نوهم ډیره ده.[۱]

هر وخت پټکی پسرول سنت دي

سوال: پټکی اوتوپی پسرول څنګه دي؟ فرض ، واجب، سنت موکده، یامستحب اوکله پسرول دي، يوازې دلمانځه له پاره، یاټوله ورځ (څليرويشت ګنټې)؟ یايوازې په بازارونوکې، يعنې کله چې دکورنه بهريو، هغه وخت کې؟

جواب: پټکی پسرول سنت مستحبه دي اودايوازې دلمانځه سره خاص نه دی، بلکې يومستقل سنت دی اوهميشه سنت دی.[۲]

جمعې کې د شريکيدو له پاره منډې وهل جائز نه دي

سوال: کله چې جمعه ولاړه وي؛ نوډيرخلک په منډه راځي اوپه جمعه کې شامل شي، تاسوراته ووايئ چې په جومات کې منډې وهل څنګه دي؟

جواب: په حديث کې ددې نه منع راغلې ده.[۳]

د رکوع اوسجدې اود تسبيح صحيح تلفظ زده کړئ

سوال: زموږ ځای کې يوصاحب وايي چې په رکوع اوسجده کې په سبحان ربی الاعلی او سبحان ربی العظيم ويلوکې به د ،،ی،، استعمال نه کوئ، دقرآن اوحديث په رڼا کې جواب راکړئ، چې آيا داطريقه صحيح ده اوکه نه؟

جواب: غلطه ده، دچاعربي دان تلفظ وي زده يې کړئ او، وايئ يې.[۴]

۱] واذا استاجر رجلاً يوماً يعمل كذا فعليه ان يعمل ذلك العمل الى تمام المدة ولا يشتغل بشئ آخر سوى المكتوبة.....الخ (شامی ج۶ ص۷۰، مطلب ليس للاجير الخاص ان يصل النافلة، طبع ايچ ايم سعيد)۔

۲] عن جابر رضی الله عنه قال: دخل النبی صلی الله عليه وسلم مكة يوم الفتح وعليه عمامة سوداء، وعن ابن عمر رضی الله عنهما قال: كان النبی صلی الله عليه وسلم اذا اعتم سدل عمامته من كتفيه، قال نافع: وكان ابن عمر يسدل عمامته بين كتفيه. (ترمذی ج۱ ص۳۰۴، باب ماجاء فی العمامة السوداء)۔

۳] عن ابی هريرة رضی الله عنه قال:قال رسول الله صلی الله عليه وسلم :اذاقيمت الصلاة فلاتاتوهاوانتم تسعون واتوها تمشون وعليكم السكينة......الخ (ابن ماجة ص:۵۶باب المشى الى الصلاة)۔

٤] السنة فی تسبيح الركوع سبحان ربی العظيم (شامی ج:۱ص:٤٩٤قبل مطلب فی اطالة الركوع)، ويقول فی سجوده سبحان ربی ا لاعلى ثلاثا (عالمگيری ج:۱ص:۷۵،كتاب الصلاة ،الباب الرابع)۔

❖ اوراد او وظائف ❖

له قرض نه دخلاصي وظيفه

سوال: په ماباندې درې لکه روپۍ قرضه ده، تاسو راته دلو ستلو له پاره څه وښايئ!

جواب: دسورة الشورى (دپنځه ويشتمې سپارې) ددويمې ركوع اخرى ايت ,,الله لطيف بعباده،، اخره پورې اتيا ځله دسهارنه وروسته لولئ،كه ډيره كټ كوئ يابيې وړه كوئ؛ نوددې نه توبه وكړئ. والسلام!

د نوكرۍ له پاره وظيفه

سوال: مولانا صاحب! مادولسيم پاس كړى دى، نوكرى راته نه پيدا كيږي، څه وظيفه راته وښايئ!

جواب: دهرجمعې لمونځ تكبيرسره په پابندي كوئ اودلمانځه نه وروسته درې ځله سورة فاتحه او درې ځله ايت كرسي لوستلونه وروسته دعاكوئ. والسلام!

د رزق د پراخۍ اود پريشانۍ نه د بچ كيدو وظيفه

سوال: يوه بله وظيفه وليكئ چې په هغه كې د دين او د دنيا خيرخواهي وي، قرضې ختمې شي، تنګي لرې شي، رزق پراخه وي او بركت زيات شي او دنياوي مسئلې ختمې شي، كافي پريشاني ده، د وظيفو وخت او تعداد ضرور وليكئ. شكريه!

جواب: ټول كور والا پنځه وخته لمونځ كوئ او د شپې سورة واقعه تلاوت كوئ، د ماسخوتن نه وروسته ټيلي ويژن مه لګوئ!

د كاروبار د بنديدو له پاره وظيفه

سوال: بنده تراوسه پورې د مسايلو ښكار دى، ورځ په ورځ حالت غورځيږي، د الله شكر دى چې زما كورنۍ ديندارة ده، زموږ يو دكان دى، يونيم كال مخكې زموږ كاروبار بالكل صحيح و، په دغه وخت زما والد صاحب حج ته تللى و، دده د راتللو نه وروسته زموږ كار ودريده، په دكان كې په خپل مينځ كې بې اتفاقي،د كاريګرانو سره جنګونه يو معمول جوړ شو، دعاملانو نه پته ولګيده چې د دكان بنديدل په تور جادو سره شوي دي، ددې د ختميدو له پاره ډيرو ځايونو ته تللى يم، خود هيڅ سره ددې حل نه شته، زړه مې خودكشي كول غواړي، قرآني علمياتو واله ددې تور جادو حل نه شي راويستلى، ايا زما له پاره، اوس د غير مسلمو نه امداد اخيستل جواز لري؟ په شريعت كې دا شى تر كومه پورې جائز دى.

جواب: تا دومره اوږد خط ليکلی دی چې زه به ددې څه جواب درکړم؟ زه خو عامل نه يم چې ددې توړ به وکړم، خو دا وايم چې د الله تعالى د ذات نه اميد ساته. هغه ماتونکی دی. د ماښام د لمانځه نه وروسته د کور ټول کسان په يو ځای درې سوه ديارلس ځله د قرآن کريم آخري دوه سورتونه معوذتين لولئ او د الله تعالى په بارګاه کې ددې مصيبت د ختميدو دعا ګانې کوئ. که چيرې خودکشي دې وکړه؛ نو جهنم ته به ځې، سړي ته پکار دي چې کوم حالات هم راپيښ شي، په الله تعالى باندې توکل ولري او د هغه په بارګاه عالي کې دعا کوي. والسلام!

په کاروبار کې د ترقي او د قرض د واپسي طريقه

سوال: زما يو وړوکی دکان دی، په دې سره د وخت ګذاره کيږي. خوددې دکان نه کافي خلکو په قرض باندې سامان وړی دي او ددوی نه د پيسو د واپس کولو زما هيڅ اميد نه شته. چې د هغه له وجې زما دکان په ځای ولاړ دی، لهذا مهرباني وکړئ بنده ته يوه وظيفه وښائئ چې په هغه سره پيسې واپس ملاوشي او په کاروبار کې ترقي هم وي.

جواب: د تکبير تحريمې اهتمام کوه، د لمانځه نه وروسته سورة فاتحه، آيت کرسي، آيت "**شهد الله**"، (آل عمران: ۱۸) او آيت: **قل اللهم ملک الملک** نه تر **بغير حساب** (آل عمران: ۲۶، ۲۷) پورې وايه او دعا وکړه، الله تعالى به دې پريشاني ختمې کړي. والله اعلم!

سورة فاتحه وايه غوږ پرې دم کړه ان شاء الله صحيح به شي

سوال: ماته په اوريدلو کې پريشاني وي، خصوصا د ښي غوږ نه خو په کراره خبره له سره اوريدلی هم نه شم او ګس غوږ بلکل صحيح دی، ماته داسې محسوسيږي چې دا پريشاني به ورځ په ورځ زياتيږي، زموږ په خاندان کې دا کوږ والی خانداني ناروغي ده، ما په دوو ځايونو کې علاج هم کړی دی، خو څه خاص شفا ونه شوه، زما په ذهن کې دا خبره هم ده چې دا خانداني ناروغي ده دا څنګه ختميدلی شي؟ خو بيا خيال راغی چې کوم الله دا پيدا کړی دی: نو ختمول دده د اختيار نه څه بهر خو نه دي؟ ما د الله تعالى نه د خپل نااميده خيال توبه وکړه او اوس په ډير اميد سره يم چې ان شاء الله دا ناروغي به لرې شي، تاسو که چيرې څه دعا ښودلی شئ؛ نو ډيره مهرباني به مووي.

جواب: سورة فاتحه وايه او دعا وکړه، په حديث شريف کې دي چې که چيرې (اول او اخر درود شريف، درې درې ځله او په مينځ کې) دا دعا وايه او دم يې کړه؛ نو الله تعالى به شفا در کړي.

د بدتميز ماشوم له پاره وظيفه

سوال: زما ماشوم چې د هغه عمر لس نيم کاله دی، ډيرغوسناک دی، چې هغهٔ انتهايي د بدتميزۍ خبرې کوي، چې د هغه له وجې ځينې وخت د نورو خلکو په مخکې زه سخت

شرمیږم، څه داسې وظیفه راولیږئ چې د هغه له وجې هغه بدتمیزي پریږدي او په سبق ویلو شروع وکړي.

جواب: د ماشومانو بدتمیزي عموما د والدینو ګناهونه وي،د الله تعالی سره خپله معامله درسته کړئ او درې ځله سورة فاتحې باندې اوبه دم کړئ اوماشوم باندې یې وڅښئ.

د ماشوم ناروغي او د هغې وظیفه

سوال: خواست دی چې زما دلمسي نوم محمدعمرخان دی، اکثره ناروغ وي، دمورو پلار یې خیال دی چې کیدای شي نوم یې صحیح نه وي،که چیرې داسې وي: نو چې نوم یې بدل کړو؟

جواب: نوم صحیح دی، دبدلولو ضرورت نه شته، سورة فاتحه اووه ځله،ایت کرسي او څلور واړه (چارقل) سورتونه درې درې ځله لوستلونه وروسته هغه باندې دموئ.

درشتې له پاره وظیفه

سوال: زه یوه کونډه ښځه یم، زما یوه لورده چې د ډیر وخت کوششونو باوجود د هغې رشته نه کیږي، زما خواهش دی چې د هغې رشته چیرته په دین داراونیک خاندان کې وشي، تاسو راته څه وظیفه وښایئ، زما زوی په دبۍ کې نوکري کوي، مخکې یې کارصحیح و، خو اوس له څه وخت راهیسې حالات صحیح نه دي، زموږ کورته څوک تعویذ هم راغورځوي، دهغه نه وروسته پریشاني راځي.

جواب: دزړه نه دعاکوم، دماسخوتن دلمانځه نه مخکې او وروسته یوولس ځله درود شریف اومینځ کې یوولس سوه ځله (یالطیف) لوستلونه وروسته دزړه داخلاص نه دعاکوئ، الله تعالی به ستاسو تکلیف اسان کړي.

د واده له پاره وظیفه

سوال: ما د والد صاحب د تربیت او رهنمایۍ له وجې په ټولو بچیو باندې قرآن مجید حفظ کړی دی، د یو نه پرته چې هغه ګونګی او کوڼ دی ،ماشومه مې هم حافظه ده، ایم اې اسلامیات یې هم کړي دي، شرعي پرده هم کوي، زموږ کوښښ دی چې ددې رشته د داسې خلکو سره وشي چې هغوی پرده خوښوي خصوصا دعا وکړئ او په سلسله کې که یوه وظیفه د لوستلو له پاره راکړئ: نو مهرباني به وي.

جواب: الله تعالې دې د بچۍ له پاره ښه مزیداره رشته درکړي، د ماسخوتن د لمانځه نه وروسته اول او اخر یوولس یوولس ځله درود شریف او په مینځ کې (یا لطیف) دعا وکړئ او ماشومه دې هم وایي، ددې مور دې هم او تاسو هم یې وایئ.

د اولاد له پاره وظیفه

سوال: زما د واده لس کاله وشول، خواولاد مې نه دی شوی، د ډاکټرانو نه مې کافي علاج کړی دی، خوتر اوسه پورې شفا نه ده نصیب شوې، ډاکټرانو ویلې دي چې کمزوري په ما کې ده، تاسو مهرباني وکړئ ما ته داسې کلمې یا وظیفه وښایئ چې د هغه زه ذکر جاري وساتم ددې له پاره چې الله تعالي ماته کامله شفا راکړي، د کلمو د ویلو طریقه او وخت هم وښایئ!

جواب: څلویښت دانې لونګ واخله د سورة نور ایت نمبر (۴۰) چې د (**اوکظلمات**) نه شروع کیږي او (**فمالهم من نور**) باندې ختمیږي وایه، کله چې ښځه د ماهواري (میاشتنۍ ناروغۍ) نه فارغه شي؛ نو د شپې یو لونګ خولې ته واچوه او ویې خوره، وریسې اوبه مه څښه پی در پی تر څلویښت ورځو پورې پرته د څه ناغې نه وخوره او په دې دوران کې چې خاوند ښځه کله ملاوشي، که الله تعالی ته منظوره وي؛ نو اولاد به یې وشي.

د خاوند او ښځې په مینځ کې د محبت پیدا کولو وظیفه

سوال: دخاوند اوښځې په مینځ کې د محبت پیدا کولو یوه وظیفه ولیکئ! مهرباني به مووي.

جواب: دماسخوتن د لمانځه نه وروسته یوولس دانې تور مرچ را واخله، مخکې وروسته یوولس یوولس ځله درود شریف او په مینځ کې یوولس ځله تسبیح، یالطیف یا ودود ووایه او د دواړو د خاوند او ښځې په مینځ کې دې د محبت خیال وساتل شي، کله چې ټول ووایې؛ نو دا تور مرچ دې دم کړي او په تیز اور کې دې واچوي او دواړه دې د محبت له پاره دې دعا وکړي، کم نه کم تر څلویښتو ورځو پورې دې دا عمل وکړي، الله تعالی به خپل فضل وکړي.

د حافظې د قوي کولو وظیفه

سوال: د حافظې د قوي کولوله پاره یوه اسانه وظیفه ولیکئ!

جواب: د هرلمانځه نه وروسته په سر باندې لاس ږده لس ځله یا قوي یا عزیز وایه.

ایت کرسي ویل په سر باندې لاس کیښودل او (یاقوي) یوولس ځله ویل

سوال: د ایت کرسي د لوستلو نه وروسته خلک په سر باندې لاس ږدي او یوولس ځله یا قوي وایي ددې څه فایده ده؟ او یا قوي دې وویل شي یا څه نور څه دې وویل شي؟

جواب: د حافظې د قوت له پاره لوستل کیږي.

د هر لمانځه نه وروسته ښی لاس په سر باندې کیښودل او یوولس ځله (یاقوي) او یوولس ځله (یاحافظ) ویل

سوال: د هر لمانځه نه وروسته ښی لاس په سر باندې ږدم یوولس ځله (یاقوي) او یوولس ځله

(یاحافظ) په حافظې کې د اضافې له پاره وایم، دا ما ته یو شیخ نه دي ویلي، د یو ملګري نه مې اوریدلي دي او دا عمل مې شروع کړی دی، ایادا صحیح دی؟

جواب: د ستا دا عمل صحیح دی کوه یې!

د یاداشت له پاره وظیفه

سوال: زه طالب علم یم، سوالات په ډیر مشکل سره راته یادیږي او ډیر زر هیریږي . څه حل راته وښایئ!

جواب: سورة فاتحه اووه ځله ووایه او په سینه باندې دم اچوه!

ګول دایره جوړول او کاني ټکول

سوال: ځینې خلک څه وایي او په ګول دایره کې کیني او وایي چې اوس موږه ګیره اچولې ده او بیا کاني ټکوي اوګوتې ګرځوي او وایي چې اوس تر کومې پورې چې موږ په دې دایره کې موجود یو؛ نو ترهغې پورې هیڅ مصیبت نه راځي، داسې کول څنګه دي؟ زما په نیمګړي خیال کې دا صحیح نه دي.

جواب: آیت کرسي اوداسې نور... لوستل او څلورو طرفونو ته چپ کول کافي دي، د کاني ټکولو یا ګوتې ګرځولو هیڅ ضرورت نه شته.

له اوداسه پرته ذکر کول

سوال: زما دا معمول دی چې د شپې د ویده کیدو نه مخکې د شپې ذکرونه، سورت فاتحه، څلور قل(چارقل)، درود شریف او ځینې نور تسبیحات وایم بیا ویده کیږم، خودا ذکرونه چې یوازې خوله ووینځم؛ نو وایم یې، (له اوداسه پرته) ایا زما دا عمل صحیح دی؟ یا ددې ذکرونو له پاره اودس ضروري دی، حالانکې دا خویوازې په ژبې سره وایم او بل دا چې، ایا ددې ذکرونو د لوستلو د پاره اودس کول ضروري دي؟

جواب: له اوداسه پرته ذکر کول جائز دي، خو که اودس وي: نو بیا غوره دی.[1]

د شهدو د مچۍ د چیچلو دم

سوال: زموږ کورکې که چیرې څوک د شهدو مچۍ وخوړل؛ نو زموږ مور به پرې سورة الناس دم کړي. خو سورة الناس ویلو کې به یې د ناس نه ,,س,, جدا کړاو یوازې ,, نا,, به یې لوستل. څه ورځې مخکې ما هم د غه شان سورة ولوست:نو بیا مې سوچ وکړ چې ایا دا د قرآن مجید

---

[1] (ولایکره النظر الیه) ای القرآن (لجنب وحائض ونفسا) ان الجنابة لاتحل العین کمالاتکره (ادعیة) ای تحریمًا والا فالوضوء لمطلق الذکر مندوب وترکه خلاف الاولی (ردالمحتارج:۱ص:۱۷٤)

تحريف خونه دی؟ تاسو زمارا هنمايي وکړئ.

جواب: که چيرې (نا) لفظ دايت سره ملاو نه وي. بلکې پوره آيت لوستلو نه وروسته دالفظ وويل شي؛ نو هيڅ بده خبره په کې نه معلوميږي.

د ساه د تکليف وظيفه

سوال: زما ورورته ډاکټران وايي چې ستاتبه ډيره شوې ده، دساه د تکليف له وجې يو ډاکټرورته د پوزې اپريشن هم وکړ، اکثريې په ناسته ناسته باندې دماغ بې هوشه شي. څه اسانه عمل راته وښايئ!

جواب: السلام عليکم! دې نا کاره ته عمليات اوداسې نور... خونه ورځي، خو دعاکوم. سورة فاتحې ته په حديث کې شفاويل شوي دي، يوځلويښت ځله يې اوبوباندې دم کړئ او هغه باندې يې وڅښئ، داممکن ده چې دالله تعالى دکلام دبرکت له وجې ورته شفا حاصله شي

د ذهني او مالي پريشاني د لرې کولو وظيفه

سوال: زموږ په کور کې د تير شويو دوه نيمو کلونو نه ډيره پريشاني ده، والد صاحب په بينک کې ملازم و، د ريټائر کيدو نه وروسته يې د پراپرټي د اخيستلو او خرڅولو کار شروع کړ، خو هيڅ فايده هم ونه شوه، زه په نيوه کې په حيثيت د آفيسر منتخب شوم، چې په هغه کې زما ډير شوق هم و، د ټريننگ په وخت کې زما زړه په ملازمت کې نه لګيده او ما سروس پريښود، بيا مې د چارټرډاکاونټينټ ټسټ ورکړ، خو د دوباره امتحان د ورکولو باوجود فيل شوم، زه نه پوهيږم چې داسې ناڅاپه حالات څنګه پيدا شول؟ د کور د خلکو خو دا حال دی چې په اکثر وختونو کې په معمولي خبرو باندې نااتفاقي او په خبره خبره باندې جګړه راځي، ډيره ذهني او مالي پريشاني ده، ددې حالاتو په بنا باندې د خپل مستقبل په باره کې ډير پريشانه يم، په دې حوالې سره څه عمل يا وظيفه وښايئ!

جواب: تاسو د ماښام نه وروسته سورة قريش (۴۱) ځله او دماسخوتن نه وروسته سورة واقعه او د سهار نه سورة بقره يو ځل وايئ او دعا کوئ، الله تعالى به فضل وکړي.

د پريشانيو نه د نجات وظيفه

سوال: په امتحان کې د ناکامي خطره ده، زړه مې خود کشي کول غواړي، ددې پريشانيو حل راته ذکر کړئ!

جواب: پريشاني سړي ته راځي او په دې باندې الله تعالي د انسانانو درجې اوچتوي له دې وجې د جهان نه د رخصت کيدو خيال ازادانه نه دی، بچکانه دی، تاسو د سورة برائت اخري دوه ايتونه د سهاراودماښام نه وروسته يوولس دولس ځله وايئ، زه به ستاسو له پاره د زړه نه

دعا غوارم چې الله تعالی دستاسو ټولې پریشانۍ ختمې کړي په دواړو جهانونو کې راحت او سکون درته نصیب کړي

د ناروغۍ لرې کولو وظیفه

سوال: زما والده صاحبه تقریبا د یو کال نه وخت په وخت ناروغیږي، د ډیرو ډاکټرانو نه یې علاج وکړ د یو خو ورځو د پسو تیریدو نه وروسته بیا هغه حالت وي، اکثر چکر یې راځي، خینې ډاکټران وایې چې ددې بلډپریشر دی او خینې وایي چې بلډپریشر یې نه شته، ایکسرې مو هم وکړې هغه هم صحیح دي، له دې وجې څه اسانه او مضبوطه وظیفه وښایئ؟

جواب: د پنځه وخته لمونځونو نه وروسته په اوبو باندې سورة فاتحه درې خله، درود شریف درې خله وایه او دم یې کړه او یو گوټ (غړپ) اوبه ورکوه

د خاوند د اصلاح اسانه طریقه

سوال: زما خاوند په ډیر زیات غلط حرکاتو کې مبتلاء دی، د شپې ناوخته راځي، زیات وخت دوستانو سره تیروي، چیرته چې هم ځي: نو وایي نه، د شرابو او د زناګانو په شان په ګناه کبیره کې مبتلاء دی، زه دده د حرکاتو نه ډیر پریشانه یم، زما دوه بچي هم دي، ما دی ډیر پوه کړ، د خپل مور پلار کره ترې لاړمه، خو په ده باندې دیوې خبرې اثر هم ونه شو، یو داسې وظیفه راته وښایئ چې دی په صحیح لاره راشي

جواب: تاسو چې کوم حالات لیکلی دي، په دې سره راته ډیرتکلیف وشو، په اصل کې موږ خلکو ته د مرګ نه وروسته د ژوند علم نه شته او کله چې علم وشي: نو موږ به ژاړو، چوو به، خوهیڅ به نه کیږي، زه تاته نصیحت کوم چې ستا خپل قبر ته تلل دي او د ستا د خاوند خپل قبر ته، ته چې څومره هم کولی شي؛ نو د مینې او محبت سره اوسیږه او د الله تعالی نه دعا غواړه چې الله تعالی ده ته دبدو عادتونو نه نجات ورکړي

د جینکو د پابندي سره سورة یسین لوستل

سوال: زه پنځه وخته لمونځونه په پابندي سره کوم، سورة یسین ما ته په یادو یاد دی له دې وجې زه د درود شریف او د یسین شریف یو خاص تعداد روزانه لولم او دعا کوم چې الله تعالی دا قبول کړي، مسئله په اصل کې دا ده چې د خینې خلکو وینا ده چې دا شان د جینکو له پاره روزانه د هیڅ شي لوستل صحیح نه دي

جواب: د جینکو له پاره روزانه لوستل هیڅ ممانعت نه شته، د یو عمل پابندي کول ښه خبره ده

د جادو اثر ختمول

سوال: زه تقریبا دنهه لس کلونو راهیسې تجارت کوم، خو د برزیات کوشش او محنت

باوجود حالات ورځ په ورځ خرابيږي، تردې چې حالات دې ته رسيدلي دي چې د کورخرچې او د ماشومانو فيس اداکول راته هم مشکل دي، شک مې دی چې چاپه ماباندې جادونه وي کړي، د ځينې خلکو خيال دی چې ماباندې حسب البحرنومې جادوشوی دی، دې باره کې تاسوزمارهنمايي وکړئ!

جواب: ستاپه پريشاني باندې زړه ډيرخفه شو، دعاکوم چې الله تعالى ستا پريشانى ختمې کړي يوښه عالم ته يې وښايئ؛ نوښه به وي، زه خودې عمليات باندې نه پوهيږم. يوعمل درته ښايم هغه وکړئ، ان شاء الله تعالى به مومددوکړي، دماښام ياماسخوتن نه وروسته د کورټول ځنه ، راجمع شئ اودرې سوه ديارلس ځله اخري درې سورتونه (معوذتين) لوستلونه وروسته دعاکوئ او کور کې تې وي وغيره مه لګوئ، دعاکوم چې ستاسوټول مشکلات الله تعالى په خپل رحمت باندې اسان کړي.

د پريشانيو نه د حفاظت وظيفه

سوال: زمونږ ژوندپه عذاب کې تيرشو، پلارمونشيي و اود غلطو ښځو په چکرکې به اوسيده، مورموددې غم له وجې مړه شوه، يو اميدمو وچې واده مې وشو؛نواوس به حالات صحيح شي، خو خاوندمې هم نشيي وخت، مونږ څلورخويندې يو، خويوه هم خوشاله نه ده، يوه طلاقه شوې ده، ديوې عمرکيدوباوجودواده نه دی شوی، زماخاوندروزانه دشرابوپه نشه کې وي، طلاق پورې خبره رسيدلې ده، دڅلورمې هم داحال دی، څه وظيفه راته وښايئ اودعاهم وکړئ!

جواب: تاسوچې کوم حالات ليکلي دي، هغې باندې مې زړه ډيرزيات خفه شو، الله تعالى دې ستاسو پريشانى ختمې کړي، د دنيا ژوند دخوشاليونه دی، بلکې داخرت ژوند د خوشاليو دی، الله تعالى دې تاسوته نصيب کړي، چې هرڅنګه حالات وي، صبراوشکرسره وخت تيرول پکاردي، پنځه وخته دلمانځه پابندي کوئ اودهرلمونځ نه وروسته سورة فاتحه اووه ځله لوستلوسره دالله تعالى نه دعاکوئ، دا ټولونه ښه وظيفه ده خپلوبچيوته ددين تعليم ورکړئ،که چيرې تې وي وغيره وي؛ نوهغه دکورنه بهرکړئ اوخپل خاوندماته راوليږئ، زه به هغه ته څه ښه مشوره ورکړم.

د بې خوبۍ وظيفه

سوال: زه دبې خوبۍ له وجې ډيرزيات پريشان يم، يوصاحب ماته ددرودتاج اوسورت توبه اخري دوه ايتونوپه اوبوباندې ددم کولو اوڅښلوويلي و، ماته دمخکې څه ارام ملاوشوی دی، خوڅه خلک وايي چې درود تاج نه دي لوستل پکار، ايا داصحيح دی؟

جواب: سورة ياسين لولئ اواوبوباندې دم کولونه وروسته څښئ، الله تعالى به درته شفاء درکړي.

په تلوراتلو سره ``حسبنا الله ونعمَ الْوَكِيل، نِعْمَ الْمَوْلي وَنِعْمَ النَّصِيْر ،، لوستل

سوال: زه اکثر د تلو راتلو په وخت کې حسبنا الله ونعم الوكيل،نعم المولي ونعم النصير وايم، ايا دا صحيح دي؟ځکه چې زما د ځينې دوستانو وينا ده چې د چا نه د اجازې د غوښتلو نه پرته داسې څه ذکر کول نه دي پکار، ځکه چې ددې تسبيحاتو خپل خاص اثرات وي چې هغه پرته داجازې نه د لوستلو په صورت کې د نقصان سبب جوړيږي، ددې دوستانو دا مشوره تر کومې پورې صحيح ده؟ اميد دی چې په تفصيل سره به يې وليکئ.

جواب: ستا دوستان غلط وايي.

د آيت کريمه ختمول په څومره وخت کې صحيح دي؟

سوال: د اسلامي فقهې په اعتبار سره وفرمايئ چې يو تاکلي ايت کريمه يونيم لك ځله لوستل په يوه ورځ کې ډير خلک کينول او ختمول غوره دي، يا په پنځو شپږو ورځو کې يوازې ختميږي؟

جواب: په څومره وخت کې چې ممکنه وي کول يې صحيح دي.

د ايت کريمه د ختم په دوران کې د څه ضرورت له وجې پورته کيدل

سوال: زموږ په خاندان کې اکثر د ايت کريمه ختم کيږي چې په هغو کې اکثر ښځې شرکت کوي، د ختم په دوران کې نه هغه د څه ضرورت له پاره پاځي او نه خبرې کوي، ايا د آيت کريمه د ختم په دوران کې د څه ضرورت له پاره پاڅيدل او بهر تلل جواز لري؟ او ايا شريک کسان په خپل مابين کې خبرې کولی شي؟ ايا په دې سره د ايت کريمه په ختم کې څه فرق راځي؟

جواب: جائز دي او د ارام کولو په غرض د لږ وخت له پاره بهر تللی شي، د ضرورت خبرې هم کولی شي.

د ايت کريمه په ختم کې د ماشومانو شريکت

سوال: کومو ماشومانو ته چې د ايت کريمه او درود شريف لوستل ورځي او پاک هم وي، نو هغوی ورسره په ختم کې کيناستلی شي او که نه؟

جواب: که چيرې يې هغوی صحيح لوستلی شي؛ نو د دوی ژبه خو معصومه ده، ډيره ښه خبره ده.

د غير موکده سنتو او نفلونو نه کوونکو په ذکر او اذکار با ندې زور کول څنګه دي؟

سوال: اکثر کتل شوي دي چې ځينې خلک د ذکر، دعاګانو او وظيفو ډير اهتمام کوي او

حالانکې غیر مؤکده سنت، نفل، صلوة اوابین، چاشت، د مابنام نفل او د ماسپښین د نفلو اهتمام دومره نه کوي، ایا ددوی دا عمل صحیح دی؟

جواب: که چیرې فرض اداء کوي او د الله تعالی ذکر هم کوي؛ نو تاته د دوی په دې عمل باندې خوشالیدل پکار دي، الله تعالی دې دوی ته د نفلونو د اداء کولو نور هم توفیق ورکړي.

ایا په قرآن او حدیث کې ذکر شویو دعاګانو لوستلو کې له چا نه اجازه اخیستل ضروري دي؟

سوال: په قرآن او حدیث کې چې کومې دعاګانې او ذکرونه دي او د کومو په لوستلو باندې چې حضور پاک رسول الله صلی الله علیه وسلم تاکید فرمایلی دی، ددې د لوستلو اجازه ضروري ده؟ که چیرې وي؛ نو له چانه اخیستل پکار دي؟

جواب: ددې مسنونه ذکرونو او منقوله دعاګانو له پاره خصوصي اجازه اخیستل ضروري نه دي، هر مسلمان ته ددې اجازه شته، خو که چیرې د شیخ او د مرشد په حکم باندې و کړل شي؛ نو برکت به زیات وي، نورې وظیفې او عملیات چې د یو خاص مقصدله پاره کیږي هغه د چا د اجازې او د رهنمایې نه پرته نه کیږي، که نه؛ نو ځینې وخت نقصان ترې جوړیږي.

ایا د اعمال قرآني دوظیفو د اجازې اخیستلو ضرورت نه شته؟

سوال: ځینې وخت انسان ته د خپل یوې ناروغې یا د څه حاجت د حاصلولو له پاره د تعویذ ضرورت وي؛ نو هغه د حضرت مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله کتاب ،، اعمال قرآني،، کې چې وګوري؛ نو دخپل ځان له پاره په خپله تعویذ لیکلی شي؟ یا د یو بزرګ نه به اجازه ضروري وي؟

جواب: داسې خو د (اعمال قرآني) دوظیفو حضرت مؤلف (رحمه الله) د طرف نه اجازه ده،خو وظیفې د چا د مشورې نه پرته کول پکارنه دي.

ایا د وظیفو له پاره پناه کیدل ضروري دي؟ او بل دا چې په وظیفو سره نقصان کیږي

سوال: د وظیفو د لوستلو متعلق څه حکم دی؟ ایا د چا پناه کیدل ضروري دي؟ د زیاتو وظیفو په لوستلو سره د نقصان احتمال شته؟ حالانکې هر وخت د الله تعالی تعریف کولی شي.

جواب: د کومو دعاګانو او وظیفو چې په قرآن کریم کې تعلیم ورکړل شوی دی، دا یوازې د الله تعالی د رضا له پاره لوستل کیږي؛ نو د هیڅ نقصان احتمال نه شته او که چیرې د خاص مقصد له پاره ورد او وظیفه کول وي؛ نو ددې له پاره د چانه اجازه اخیستل پکار دي.

ایا د الله تعالی د نومونو د ذکر له پاره له چا نه د اجازې اخیستلو ضرورت شته؟

سوال: ایا د الله تعالی د نومونو په څه خاص تعداد کې په مقررو وختونو کې د لوستلو د یو بزرګ یا د پیر نه اجازه ضروري ده؟ ځکه چې ډیر خلک وایي چې د الله تعالی نوم یا ایت کریمه ډیر جلالي وي، دد ې وظیفه یا مسلسل ذکر پرته د اجازې نه نه دي کول پکار. ایا دا صحیح دی؟

جواب: بهتره دا ده چې د یو بزرګ نه اجازه واخیستل شي، ځکه چې که سړی یې د خپل طرف نه وایي؛ نو ده ته به دا احساس نه کیږي چې ما ته څومره ویل پکار دي او څومره نه دي ویل پکار.

آیا حصن حصین مستند دی؟

سوال: د (۲۲)جون د اقرء په صفحې باندې یو کس سوال کړی دی چې ،،حصن حصین،، مستند کتاب دی او که نه؟ خو تاسو ددې جواب نه دی ورکړی، مهرباني وکړئ تاسو دا ووایئ چې دا کتاب مستند دی او که نه؟

جواب: په حصن حصین کې ټولې دعا ګانې په حوالې سره نقل شوې دي، اګر چې ځینې روایات کمزوري هم دي.

ټي وي ته کتل او تسبیح ویل

سوال: زه ټي وي ته د کتلو په دوران کې په تسبیح باندې درود یا نورې مبارکې کلیمې وایم. په دې سره څه ګناه خو به نه وي؟ که چیرې په داسې کولو سره څه ګناه وي؛نو ددې کفاره به څه وي؟

جواب: د ټي وي کتل ګناه کبیره ده او دا ملعون شی دی، یو طرف ته په ژبې سره پاکې کلیمې لوستل او بل طرف ته دې ملعون شي کتل د ګناه کبیرې پرته نور څه دي؟

رنګ رنګ دانې لرونکې تسبیح کول

سوال: په یو تار کې مختلف قسمه رنګونو والا دانې اچولو سره چې کومې تسبیح جوړیږي او په دې باندې کلیمه یا درود او داسې نور.... ذکر کیږي، ځینې خلک وایي چې دا د هنداوانو د (مالا) نقل دی، سوال دادی چې ایا د الله تعالی د ذکر له پاره په قرون اولی کې داسې تسبیح استعمالیدې؟ که چیرې نه؛ نو دې ته بدعت ویل کیږي او که نه؟

جواب: د الله تعالي د ذکر د شمیرلو خو په بیشمیره حدیثونو کې یادونه راغلې ده[1]

---

[1] وعن عکرمة عن ابن عباس قال:جاء الفقراء الی رسول الله صلی الله علیه وسلم فقالوا.....فاذا صلیتهم فقولوا سبحان الله ثلاثًا وثلاثین مرة ،والحمدلله ثلاثًا وثلاثین مرة والله اکبر...[بقیه حاشیه په راروانه صفحه...

که چیرې دا حدیثونه جمع کړم؛ نو یوه ښه رساله به ترې جوړه شي، اوس که د شمیر له پاره یو طریقه اختیاره کړل شي، (مثلاً هډوکي کیښودل شي یا تسبیح جوړې شي) نو دا به د مطلوب شرعي د پوره کولو له پاره یوه ذریعه جوړه شي او د مطلوب شرعي ذریعو ته بدعت نه شي ویل کیدای، مثلاً: د بیت الله شریف سفر کول مطلوب شرعي دی او د اوښ نه واخله تر هوایي جازه پورې ټولې سورلۍ ددې ذریعه ده ددې سورلو استعمالولو ته بدعت نه شي ویل کیدای.
احادیث نبویه (علی صاحبها الصلوة والتسلیمات) زده کول او ښودل هم مطلوب شرعي دي او د حدیثو کتابونه چې کوم لیکل شوي دي یا لیکل کیږي دا ددې مطلوب شرعي ذریعه ده. کله به چا نه وي اوریدلي چې کتابونه لیکل بدعت دي، دغه شان دې تسبیح هم وګڼل شي. دا تسبیح هم د الله تعالی د ذکر - چې مطلوب شرعي دی- یوه ذریعه ده، ددې د بدعت کیدو څه سوال دی؟ په عربي کې تسبیح ته ،،مذکرة،، (یادونکې) ویل کیږي دا چې په لاس کې وي؛ نو ژبه به هم په ذکر باندې لمده وي، ګني په غفلت کې به وي.
که چیرې یوازې ددې مصلحت له پاره تسبیح وساتې چې د دې په ذریعې سره د حدیث نبوي تعمیل کیږي؛ نو بیا خو دې ته بدعت نه شي ویل کېدای ؛څکه چې هر څوک پوهیږي چې د واجب مقدمه هم واجب وي او د حرامو مقدمه حرامه وي، د مستحب مقدمه مستحبه وي.د هندوانو د (مالا) نقل شبه له دې وجې غلطه ده چې په ټول ژوند کې د دې وسوسه هم نه دا راغلې چې د تسبیح تخیل د هندوانو نه اخیستل شوی دی، څکه چې په خپله زمونږ په شریعت کې د ذکر الهي د خاص خاص مقدارونو ذکر دی، (نعوذ بالله) څوک به دا وایي چې دا مقدارونه هم د هندوانو نه اخیستل شوي دي.
تاته دا خیال ولې نه دی راغلی چې هندوانو د مالا تصور د مسلمانانو نه اخیستی دی! په مسلمانانو کې تسبیح خو د پخوا زمانې نه راغلې دي،لکه څنګه چې د جنید بغدادي رحمه الله نه منقول دي چې دده نه پوښتنه وشوه چې تا ته خو د معیت الله او د په ذکر الهي باندې دوام نصیب شوی دی اوس د تسبیح څه ضرورت دی؟ ویې فرمایل چې د کوم ملګري په معیت سره د لارې سفر شوی دی اوس دده سره تعلق ختمول بې وفایي ده.

په تسبیح ذکر کولو باندې اعتراض او د هغه جواب

سوال: تاسو په (۲۴) تاریخ په روزنامه جنګ کې په اسلامي صفحه باندې د نجمه رفیق د

...بقیه د تیر مخ].. ثلاثًا وثلاثین مرة ،ولا اله الا الله عشرمرات ......الخ (ترمذی ج:۱ ص:۵۵باب ماجاء فی التسبیح ادبارالصلاة) ایضاً: عن صفیة رضی الله عنها قالت: دخل علی رسول الله صلی الله علیه وسلم وبین یدی اربعة آلاف نواة اسبح بهن، فقال: یا بنت حیي! اما هذا؟ قلت: اسبح بهنّ! قال: سحت منذ قمت علی راسك اكثر من هذا، قلت: علمنی یا رسول الله! قال: قولی: سبحان الله عدد ما خلق من شي، هذا حدیث صحیح الاسناد ولم یخرجاه. (مستدرك حاكم ج۱ ص۵۴۷)۔

سوال په جواب کې په تلو راتلو سره تسبيح کولو جائز بلکې ډيره ښه خبره ليکلې ده، دلته زما مقصود ستا په علم کې څه قسم شک او شبه کول نه دي، بلاشبه ستاسو علم وسيع دی، خوتر څو پورې چې زما د معلوماتو تعلق دی هغه دا چې د تسبيح دانې لوستل د حضور اکرم صلي الله عليه وسلم په سنتو کې داخل نه و، او نه ديته ذکر الله ويل کيدای شي، د ذکر الله عملي معنا ددينه بلکل مختلفه ده، دا يو شرعي بدعت دی چې نن سبا زمونږه په ژوند کې د فيشن په شکل کې داخل شوی دی.

جواب: تسبيح په خپله مقصود نه دي، بلکې د ذکر د شمير له پاره يوه ذريعه ده، په ډيرو حديثونو کې دا مضمون ذکر شوی دی چې فلانکی ذکر او فلانکی کليمې سل ځله چې وويل شي؛نو دا اجر به ملاويږي[1] د حديث د طالبانو نه دا حديث پټ نه دی او ظاهره ده چې ددې تعداد د شميرلو له پاره به يوه نه يوه ذريعه ضرور اختيار يږي، که هغه په ګوتو سره شميرل وي، يا په کاڼو سره، يا په دانو سره او کومه ذريعه چې هم اختيار کړل شي؛ نو هغه په هر حال ددې شرعي مقصد د حاصلولو لپاره ذريعه وي او کوم شی چې د مطلوب شرعي ذريعه وي ديته بدعت نه شي ويل کيدای، بلکې د فرضو له پاره داسې ذريعه اختيارول فرض دي، او د واجبو له پاره داسې ذريعه اختيارول واجب دي، دغه شان د مستحبو له پاره داسې ذريعه اختيارول مستحب دي.

تاسو ته پته ده چې حج ته د تللو له پاره بحري، بري او فضائي دريواړه لارې اختياريږي، خو که چيرې په يوه زمانه کې ددې لارو نه دوه لارې بندې شي، يوه آزاده وي ؛نو د دې اختيارول به فرض وي، او که چيرې درې واړه لارې آزادې وي: نو په ديکې به يوه اختيارول فرض وي، دغه شان چې د تسبيحاتو او د ذکرونو شمير په شريعت کې مطلوب دي او ددې د حصول ذريعه تسبيح هم دي، نو ديته بدعت نه شي ويل کيدای.

۲- د ډيرو حديثونو نه ثابت دي چې په کاڼو او په دانو باندې شمير نبي کريم صلي الله عليه وسلم کړی دی اوددينه يې منع نه ده کړې لکه څنګه چې:

(الف) سنن ابي داؤد [2] (ج: ۱ ص: ۲۱۰ **باب التسبيح بالحصي**) او مستدرک حاکم (ج: ۱ ص: ۵۴۸) کې د حضرت سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه نه روايت دی چې: نبي اکرم (صلی الله عليه وسلم) د يوې ښځې خواته لاړ چې دهغې مخې ته د کجورو زړي (هډوکي) يا کاڼي

---

[1] وعن عكرمة عن ابن عباس قال: جاء الفقراء الى رسول الله صلى الله عليه وسلم فقالوا....... فاذا صليتم فقولوا سبحان الله ثلاثاً وثلاثين مرة، والحمد لله ثلاثاً وثلاثين مرة، والله اكبر ثلاثاً وثلاثين مرة، ولا اله الا الله عشر مرات...الخ (ترمذی ج۱ ص۵۵ باب ماجاء فی التسبيح ادبار الصلاة)_

[2] عن عائشة بنت سعدبن ابى وقاص عن ابيها انه دخل مع رسول الله صلى عليه وسلم على امراة وبين يديها نوى او حصى تسبح به فقال :اخبرک بماهوايسرعليک من هذا او افضل؟فقال:سبحان الله عددماخلق فى السماء ......الخ سنن ابى داود ج:۱ص:۲۱۰باب التسبيح بالحصى ،طبع ايچ ايم سعيد)

پراته وو چې په هغو يې تسبيح ويل، نبي کريم صلي الله عليه وسلم وفرمايل چې زه تاسو ته داسې شی وښايم چې هغه ددينه زيات آسان او افضل وي؟

(ب): ترمذي شريف او مستدرک حاکم (ج:۱ص: ۵۴۷) د حضرت صفيه (رضي الله عنها) نه روايت کوي چې نبي عليه السلام زما خواته تشريف راوړ، زما مخې ته څلور زره زړي (هډوکي) وو چې په هغو ما تسبيح وئيله، نبي کريم(صلي الله عليه وسلم) وفرمايل چې دا څه دي؟ عرض مې وکړ چې په دې باندې زه تسبيح وايم! هغه وفريل:زه چې تاسره د کوم وخت نه ولاړ يم نو ما ستانه ډير تسبيح کړی دی، ماعرض وکړ چې: يا رسول الله! ماته يې هم وښايئ، ويې فرمايل چې داسې وايه!(سبحان الله عدد ماخلق من شيء)[1]

د اول حديث لاندې د(عون المعبود)مصنف ليکي:

د نبي کريم (صلى الله عليه وسلم) په زړو(هډوکو) نکير نه کول د تسبيح د جائز کيدو له پاره صحيح اصل دی؛ ځکه چې تسبيح هم د هډوکو پشان دي: ځکه چې د شمير کولو له پاره په دې باندې هيڅ فرق نه پريوځي چې هډوکي دې په تار کې يو ځای کړي وي يا بغير د يوځای کولو نه وي، او کوم خلک چې دا بدعت ګڼي دهغوی قول د اعتبار وړنه دی.[2]

۳- تسبيح په يو بل لحاظ سره هم د ذکر الهي يوه ذريعه ده هغه دا چې تسبيح دې په لاس کې وي ؛نو په ژبه به خود به خود ذکر جاري وي او تسبيح چې نه وي نو سړي ته ذکر نه ياديږي. په دې وجه تسبيح ته (مذکرة) (يادونکې)ويل کيږي او په دې وجه صوفيان ديته د شيطان کوړه وايي چې ددې په ذريعې سره شيطان دفع کيږي او سړي ته په ذکر کولو کې په غافل کيدو کې نه کاميابيږي، بس چې کله په ذکر الهي کې د مشغول اوسيدل مطلوب دي او د تسبيح په لاس کې کيدل ددې مشغولي ذريعه ده ؛نو ديته بدعت ويل غلط دي، بلکې د ذکر الهي د کيدو په وجه که ديته مستحب وويل شي ؛نولږ به نه وي

په ګرځيدو يا په مجلس کې ذکرکول چې ذهن متوجه نه وي څنګه دی؟

سوال: زماعادت دی چې زه اکثرداکوشش کوم چې د(لااله الاالله) ذکروکړم، داسې وي چې زه په يومجلس کې ناست يم اوزړه کی ورد کوم،دغه شان کالج ته تلوراتلووخت کې ياکلاس

---

[1] عن صفية رضى الله عنهاقالت:دخل على رسول الله صلى الله عليه وسلم وبين يدى اربعة آلاف نواة اسبح بهن فقال:يابنت حيى ! ماهذا؟قلت اسبح بهن !قال :سبحت مندقمت على راسک اکثرمن هذا، قلت: علمنى يارسول الله !قال : قولى :سبحان الله عددماخلق من شيء هذا حديث صحيح الاسناد ولم يخرجاه (مستدرک حاکم ج:۱ص:۴۷)

[2] (نوى) جمع نواة وهى عظم التمر(اوحصى)شک من الراوى (تسبح) اى المراة (به) اى بماذکرمن النوى او الحصى وهذا اصل صحيح لتجويزالسبحة بتقريره صلى الله عليه وسلم فانه فى معناها اذ لا فرق بين المنظومة والمنثورة فيمايعد به ولا يعتدبقول من عدهابدعة (عون المعبودج:۱ص:۵۵۵،۵۵۶طبع نشرالسنة ملتان)

کې د ناستې وخت کې، یا خلکو سره د خبرو کولو وخت کې هم ذکر کوم. یعنې دې کې خشوع اوخضوع شامل نه وي او اکثرمې خیال بل طرف ته وي. آیا داسې کول صحیح دي او که د ذکر بې ادبي ده؟ یو عالم داسې هم فرمایي چې یوازې د (لااله الاالله) ورد کول صحیح نه دي. بلکې نهه لس ځله د (لااله الاالله) نه پس کم ازکم یو ځل محمدرسول الله (ﷺ) ویل ضروري دي. اوصرف داذکرمه کوئ بلکې جداجدا یعنې سبحان الله. الحمدالله. الله اکبروغیره د ټولو ورد کوئ! اوزماپه خیال کې دا پابندي کول لازم نه دي. بلکې احادیثو کې کثرت سره د کلیمې طیبې ترغیب راغلی دی اوچېرته هم دانه دي ویل شوي چې صرف دا ذکر منع دې. دې باره کې هم زما رهنمایي وکړئ!

جواب: د کلیمې شریفې ذکرپه خوله اوزړه باندې کول مقصد اومحمود دي[1]. اوددې په مینځ کې ضروري خبرې کول د ادب خلاف نه دي. خشوع اوخضوع که چیرې نصیب شي؛ نو سبحان الله، که نه. صرف ذکر کول هم دفائدې نه خالي نه دي چې ددې په برکت به ان شاء الله خشوع هم نصیب شی. په مینځ مینځ کې محمدرسول الله ﷺ ضرورویل پکاردی. اوکه نور ذکرونه هم وخت په وخت باندې وکړل شي؛ نو ډیره ښه خبره ده. که نه. کوم ذکرسره چې دزړه مناسبت وشي، هم هغه فائده ورکونکی دی، ان شاء الله هم ددې په وجه به کشتی پارشي

آیا درود ابراهیمي یوازې سړی ویلی شي؟

اوبل دا چې دا په وظیفو کې مانع دی؟

سوال: ماته د درود ابراهیمي په باره کې ووایئ :ځکه چې زه د ډیر وخت نه په پابندي سره وایم ؛خو اوس ما آوریدلي دي چې دا صرف سړي ویلی شي او د ښځو له پاره د دې سخت ممانعت دی، ددې لوستل په نورو وظیفو کې مانع هم دی. مولانا صاحب! ماته تفصیلاً د درود ابراهیمي فضیلت او د آدابو په باره کې معلومات راکړئ!

جواب: د لمونځ په آخري قعده کې (التحیات) نه وروسته چې کوم درود ویل کیږي هغه ته درود ابراهیمي ویل کیږي دا د درود په ټولو صیغو کې افضل دی. تاته چا غلط ویلي دي چې د ښځو له پاره ددې د لوستلو ممانعت دی، او دا هم غلطه ده چې دا په نورو وظیفو کې د ممانعت سبب دی.

---

[1]]عن عبدالله بن بسران رجلاً قال:یارسول الله! ان شرائع الاسلام قدکثرت علی فاخبرنی بشیء اتشبث به قال:لایزال لسانک رطبًامن ذکرالله، وعن ابی سعیدالخدری ان رسول الله صلی الله علیه وسلم سئل ای العباد افضل درجة عندالله یوم القیامة ؟قال:الذاکرین الله کثیرًا.الخ(ترمذی ج:۲ص:۱۷۳،باب ماجاء فی فضل الذکر)

درود شریف څومره ویل پکار دي؟

سوال: زه د هر لمانځه نه وروسته د درود شریف یو تسبیح وایم. آیا درود شریف زیات زیات لوستل کیدای شي؟

جواب: د خپل صحت، قوت او د فرصت لحاظ ساتلو سره سره څومره زیات چې لوستل کیږي، د سعادت او د برکت موجب دی.

درود شریف کله واجبیږي؟

سوال: ما لوستلي دي چې د حضور (صلي الله علیه وسلم) نوم مبارک د ویلو او د آوریدلو سره درود شریف ویل پکار دي، سوال دادی چې د ویلو او د آوریدلو په وخت د نبي (علیه السلام) نوم مبارک د یو نه ډیر ځله که ذکر شوي وي؛ نو د هر نوم مبارک نه وروسته درود شریف ویل پکار دي یا یوځل درود شریف وویل شي نو بهتره به وي؟ او په داسې کولو سره ګناه خو به نه وي؟

جواب: کله چې د نبي (علیه السلام) نوم مبارک په یو مجلس کې اول ځل راشي: نو په ټول مجلس والو باندې درود شریف ویل واجب دي، صلي الله علیه وسلم، او کله چې مکرر راشي نو هر ځل درود شریف ویل واجب نه، بلکې مستحب دي.[1]

د ټولو نه افضل درود کوم یو دی؟

سوال: د ټولو نه افضل درود کوم یو دی چې افضل هم وي او مختصر هم وي؟ مثلاً زه د لمانځه له درود شریف (هغه درود شریف چې د التحیات نه وروسته په لمانځه کې ویل کیږي) نه پرته د لاندیني درود شریف زیات ذکر کوم:

اللهم صل علی سیدنا محمد وعلی آل سیدنا محمد وبارك وسلم».

جواب: د ټولو نه افضل خو د لمانځه درود شریف دی، کوم الفاظ چې تا لیکلي دي دا هم ډیر ښه دي، د مختصر کیدو په وجه ددې ذکر آسان دی.

آیا په ځانته د درود شریف دومره ثواب ملاویږي څومره چې په جمع باندې په ناستې ویلو سره؟

سوال: آیا په یواځې والي باندې په خضوع او خشوع سره د درود شریف د ذکر کولو سره دومره ثواب ملاویږي څومره چې په دائره کې دخلکو سره په ناسته کې د درود شریف په ختم باندې ملاویږي؟

---

[1] وحاصله ان الوجوب یتداخل فی المجلس فیکتفی بمرة للحرج کمافی السجود الا انه یندب تکرار الصلوة فی المجلس الواحد(ردالمحتار ج۱ ص:۵۱۶ باب صفة الصلاة مطلب فی وجوب الصلاة علیه کلماذکرعلیه الصلاة والسلام)

جواب: په یواځې والي باندې د ویلو سره زیات ثواب ملاویږي؛ ځکه چې په دې کې د ریا کاري ویره نه وي.

بې اودسه د درود شریف ذکر کول

سوال: له اوداسه پرته درود شریف ویل څنګه دي؟ یو سړی بې اودسه په لاره روان وي او په خله باندې د درود شریف ذکر کوي دده دا کار د نیولو لائق خو نه دی؟

جواب: درود شریف په اوداسه ویل افضل دي او له اوداسه پرته جائز دي.

د درود (صلوٰة تنجینا) حکم

سوال: ما لوستلي و چې د (صلوٰة تنجینا) زر ځله لوستلو سره الله تعالي هر مشکل آسانه کوي یا په کوم مشکل کې چې وویل شي؛نو مراد به پوره شي، آیا زه د هر یو نیک حاجت له پاره بیا بیا لوستلی شم؟یعنې تر څو پورې چې هغه پوره شوی نه وي؟

جواب: ما ته دا معلومه نه ده ؛خو په هرحال دا درود ښه دی او د الله تعالي له پاره څه ګرانه ده چې الله تعالي د دې درود شریف په برکت سره مشکلات آسان کړي.

د ناپاکۍ په ورځو کې د اسماء حسني تسبیح کول

سوال: آیا د اسماء حسني تسبیح د ناپاکي(حیض) په ورځو کې کول روا دي؟

جواب: هیڅ ګناه نشته. د ناپاکۍ (حیض) په ورځو کې د قرآن کریم تلاوت ممنوع دی، کوم بل ذکر ممنوع نه دی.

تسبیح فاطمه له کومې ګوتې نه شروع کړي؟

سوال: تسبیح فاطمه د لوستلوپه وخت د شهادت د ګوتې نه شروع کړو یا غټې ګوتې نه شروع کړو.

جواب: د کومې نه چې غواړې نو شروع کړه!

له ماښامه تر ماسخوتنه پورې وخت په مسجد کې په تلاوت او تسبیحاتو سره تیره ول

سوال: موږه یو څو ملګري عموماً روزانه د ماښام نه تر ماسخوتنه پورې په مسجد کې کینو، په دې مختصر وخت کې کله مونږ انفرادي تلاوت او تسبیحات کوو. کله د روژې، لمونځ او د طهارت مسئلې زده کوو او ښایو. کله د مستندو عالمانو صاحبانو نه کتابونه وغیره وایو او آورو، په موږه کې ملازمت والا او تاجران هم دي، زمونږ یو ازینی مقصد په دې قیام کې دا

وي چې د روپو او پیسو د ګټلو نه نجات حاصل کړو او دا مختصر وخت د الله او د رسول په ذکر کې تیر کړو، ځینې حضرات وايي چې دا بدعت او د سنتو خلاف دی.
جواب: په دې کې درې عملونه ذکر شوي دي:
١- د ماښام نه تر ماسخوتنه پورې وخت په مسجد کې تیرول، او دا ترټولو ښه عبادت دی.
٢- انفرادي اعمال تلاوت او تسبیحات، ددې عبادت کیدل واضح دي.
٣- د دین مسئلې زده کول او ښودل او علمي مذاکره کول. دا هم بهترین عبادت دی، الغرض د ستاسو دا معمول شرعاً مامور به مستحب دی، دیته بدعت ویل غلط دي.

د(لااله الا الله وحده لاشریک له ، اللهم اجرنی من النار)

او نورو د لوستلو فضیلتونه

سوال: یو ځای په کتاب کې ما ولوستل چې ((اللهم اصبحت اشهدک)) چې کوم سړی په ورځ کې وايي؛ نو د ورځې ګناهونه یې معاف کیږي او که په شپه کې یې وايي؛ نو د شپې ګناهونه یې معاف کیږي، دغه شان (لااله الا الله وحده لا شریک له) په لوستلو سره لس ګناهونه ختمیږي او د لسو نیکو اضافه کیږي، دغه شان د سهار په وخت کې د سهار د لمانځه نه وروسته او د ماښام په وخت کې د ماښام د لمانځه نه وروسته ((**اللهم اجرني من النار**)) اووه یا یوولس ځله ولولي؛ نو که چیرې په دغه ورځ وفات شو؛ نو د جهنم نه به ازاد شي، دا درې واړه خبرې تر کومې پورې صحیح دي.
جواب: دریواړه خبرې صحیح دي[1] والله اعلم !

د درجو د اوچتوالي له پاره وظیفې

سوال: سوال دادی چې دحضور ﷺ حدیث مبارک دی، چې کوم کس دجُمعې په ورځ دمازدیګر دلمانځه نه وروسته په هغه ځای کیني او اتیاځله درودشریف ولولي، دهغه به داتیاکلنو ګناهونه معاف شي او جنت کې به یې اتیادرجې اوچتې شي، سوال دادی چې دچاعمر اتیا کاله نه وي؛نو د هغه به داتیاکالو ګناهونه څنګه معاف کیږي؟
جواب: که چیرې اتیاکاله یې عمروي؛ نودهغومره کلنو ګناهونه به یې معاف شي،که نه هغومره درجې به یې اوچتې شي.

---

[1] اللهم انی اصبحت اشهدک ،،(ابوداود) ،لا اله الا الله وحده لاشریک له ......الخ (مشکوٰة ص:٢١٠ باب مایقول عندالصباح والمساء) ، اللهم اجرنی من ا لنار،،(ابوداود)

سوال: استغفار، درودشریف، دعاګانې، دریمه کلیمه دټولونه زیات ثواب دکوم شي په لوستلو کې دی؟

جواب: کلیمه شریفه دټولونه غوره ده (دریمه کلیمه دې کې داخل ده)[1] دویمه مرتبه باندې درودشریف دی،اوپه دریمه مرتبه باندې استغفار دی. خوزموږ په شان خلک کوم چې ګناهونو کې مبتلادي هغوی له پاره استغفارافضل دي چې دظاهري اوباطني ګناهونونه پاک اودرودشریف اوکلیمه ولوستل شي.

ایا نبي کریم صلی الله علیه وسلم مظلوم د ظالم خلاف بد دعا (ښیرا) نه منع کړی دی؟

سوال: ما یو ځای کې لوستلي و چې حضور صلی الله علیه وسلم د ظالم له پاره د بد دعايي (ښیرا) نه مظلوم منع کړی و،د حقیقت نه مو خبرکړئ!

جواب: ماته دا حدیث یاد نه دی، البته په یو حدیث کې ذکر شوي دي چې: حضرت عائشې (رضي الله عنها) یو سړي ته بد دعا کوله، حضور صلی الله علیه وسلم وفرمایلو چې ته د هغه بوج ولې سپکوې؟[2]

د غیرمسلم او مذهبي پیشي والا نه دعا اخیستل

سوال: ایا مسلمان د یو بل مذهب والا عالم یا مذهبي پیشوا څخه غوښتنه کولی شي چې هغه دده له پاره یا دده د ګناهونو د مغفرت له پاره د الله تعالی نه دعا وغواړي؟

جواب: غیر مذهبه یا مذهبي پیشوا خو په خپله په عذاب کې مبتلا دي، ده ته دا ویل چې زما له پاره دعا وکړئ چې الله تعالي ما د عذاب نه بچ کړي، دا بلکل فضول خبره ده.

ایا دښنګرو لاندې پرتوګ اغوستونکي دعا قبلیږي؟

سوال: که چیرې یو سړی دښنګرو (ګیټو) نه لاندې پرتوګ اغوندي او بیا په دغه حالت کې دعا هم کوي؛ نو شرعا ددې سړي دعا قبلیږي اوکه نه؟

۱] قال رسول الله صلی الله علیه وسلم :افضل الذکر لا اله الا الله ،وافضل الدعاء الحمدلله (ترمذی ج:۲ ص:۱۷۶ ،باب الدعوات)_

۲] عن عائشة قالت :سرق لها تدعو علیه فقال لهارسول الله صلی الله علیه وسلم :لاتسبخی عنه .وفی الحاشیه :قوله لاتسبخی عنه ......ای لاتخففی اثم السرقة عنه اوالعقوبة بدعائک علیه ، زاد احمدای الامام دعیه بذنبه وکانه صلی الله علیه وسلم رآهاوهی فی الغضب فاشارالی ان مقتضی الغضب تتمیم العقوبة له والدعاء علیه یخفف العقوبة عنه فاللایق بذالک ترک الدعاء ومراده صلی الله علیه وسلم ان تترک الدعاء الا ان تتم له العقوبة (سنن ابی داودج:۲ص:۳۱۶ کتاب الادب ،باب فیمن دعاعلی من ظلمه)

جواب: په خپله دې سوچ وکړي چې په عين هغه وخت کې چې کله سړی د الله تعالی نافرماني کوي دده دعا به څه قبوله شي؟[1]

د ښنګرو پټو نکي په دعا نه قبليدو باندې اعتراض او د هغه جواب

سوال: دويمه مسئله د دعا سره متعلقه ده، چې په هغه کې سايل سوال کړی دی چې که چيرې يو سړی د ګيټو نه لاندې پايجامه يا پرتوګ واچولو او بيا په دغه حالت کې دعا هم ګوي: نو شرعا ايا دده دعا به قبوله شي او که نه؟ جواب ورکړل شو چې په خپله دې سوچ وکړي چې په عين دغه حالت کې چې کله سړی د الله تعالي نافرماني هم کوي دده دعا به قبوله شي؟ جناب والا! څه خيال دی؟ يو ډيره خريلی سړی او د منافق نه پرته مشرک، کافر، زنديق او په خپله د شيطان په هغه وخت کې دعا چې کله هغه د نافرماني په عروج باندې و او د الله تعالی نه يې دعا وکړه او خپل ژوند يې تر قيامته پورې قبوليت يې حاصل کړ، مولانا تهانوي رحمه الله، ډاکټر عبدالحي رحمه الله او مولانا روم رحمه الله، ټول ستاسو په نظر کې دي او د دوی تعليمات ستاسو مخې ته دي، ايا دعا هم رد کيږي؟ بس ددې درجې مختلفې دي، څه فورا او څه په اخرت کې.

ستاسو په خدمت کې عرض دی چې ته ما پيژنې هم او زه يو علمي جواب غواړم يوازې خوله بندولو والا يا عوام الناس چپ کولو والا جواب ما ته نه دی پکار، الله تعالی دې وکړي چې تاسو په خيريت سره يئ، په دعاګانو کې مو ياد ساتئ، اميد دی چې زما لهجه به په تاسو بده ونه لګيږي.

جواب: تاسو جناب د حضرت تهانوي رحمه الله، حضرت عارفي رحمه الله او د حضرت رومي رحمه الله حواله چې کومه نقل کړې ده، هغه په سر او سترګو باندې، خو زه تا ته د صحيح مسلم حديث اوروم...... ''د حضرت ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی چې ويې فرمايل رسول الله صلي الله عليه وسلم: بې شکه الله تعالی پاک (طيب) دی نه قبلوي مګر پاک شی او بې شکه الله تعالی ايمان والاوو ته هم ددې خبرې حکم کوي چې د کومې يې رسولانو ته کړی دی او ارشاد يې وفرمايلو چې: اې ايمان والاوو! موږ چې تاسو ته کوم رزق درکړی دی ددې د پاکيزه شيانو نه خوری، بيا نبي عليه السلام د يو سړي ذکر وکړ چې هغه (د حج له پاره) اوږد سفر کوي، ويښته ببر، بدن يې په دوړو سره ګنده وي او هغه د اسمان طرف ته لاس خواره کړي الله تعالي ته اې ربه اې ربه وايې او رابلي يې، حالانکې دده خوراک حرام، دده څښاک حرام، دده لباس حرام، او دده غذاء حرامه، اوس دده دعا به څنګه قبوله شي؟[2]

---

[1] وعن ابن عمر ان النبى صلى الله عليه وسلم قال:لاينظرالله يوم القيامة الى من جر ازاره بطرًا، متفق عليه (مشكوة ص:۳۷۳کتاب اللباس الفصل الاول).

[2] عن ابى هريرة قال:قال رسول الله صلى الله عليه وسلم :ياايها الناس ....[بقيه حاشيه په راروانه صفحه...

د حديث شريف په اخري فقرې کې ستاسو د سوال جواب دی چې د داسې نافرمان دعا به څنګه قبليږي؟ د ګيټو نه ښکته پاجامه ساتل تکبري ده[۱] او تکبري د ټولو باطني ګناهونو نه بدترينه ګناه ده چې هغې ته ام الکبائر ويل شوي دي او ام الخبائث ورته ويل شوي دي کوم سړي چې عين د دعا په حالت کې د ام الکبائر مرتکب وي؛ نو تاسو ووايئ چې دده دعا به څنګه قبوله شي؟

پاتې شو ددې اکابرينو رحمه الله حواله؛ نو په دې پوه شه چې د دعا د قبليدو دوه معناوې دي يو د مطلوبه شی ملاويدل دي، ددې اکابرو د حوالو نه دغه مراد دی اودويم په دعا باندې د الله تعالى د رضامندي مرتکب کيدل او د الله تعالى د دعا کولو په بنده باندې خوشاليدل. په حديث شريف کې ددې قبوليت نفي شوې ده او زما په فقرې کې هم دغه مراد دی، عين د دعا په حالت کې هم چې کوم سړی د الله تعالى نافرماني کوي کبيره ګناه دی (بلکه ام الکبائر) مرتکب وي، ددې په دعا باندې به دالله تعالى د رضامندي څه مرتکب شي؟ اميد دی چې مزاج به مو په عافيت سره وي.

د دعا د قبوليت له پاره د وظيفو کول ولې ضروري دي؟

سوال: مورې د الله پاک نه په ساده الفاظو کې دعا غواړو او خپل مقصد وړاندې کوو له څه وجې دعا نه قبليږي، که چيرې يو بوزرګ وايي (يا ډير کتابونه هم ملاويږي) چې د هر لمانځه نه وروسته يا د سهار د لمونځ نه وروسته (اوداسې نور...) چې دا ايت دومره ځله په پابندي سره لوله. ددې نه وروسته مقصد هم پوره کيږي؛ نو داسې ولې دي؟ د دعا ګانو قبلولو والاخو يوازې الله تعالى دی، نو دا فرق ولې دی؟ چې وظيفه ووايئ؛ نو بيا به کاميابي وي اوکه نه؟

جواب: دعا دهر چا قبليږي، خوشرط دا دی چې د حضور قلب سره وي اوځينې وظيفې چې کومې د دعا د قبوليت له پاره ښودل کيږي ددې حيثيت د يوې وسيلې وي، هره ورځ چې د مسلسل کومه دعا وکړل شي؛نو هغه قبليدوته زياته نږدې وي له دې وجې هيڅ اشکال نه شته.

دعا ضرور قبليږي، مايوسه کيدل نه دي پکار

سوال: محترمه! د دعا دقبوليت له پاره کوم يو عمل الله تعالى ته قبول دی چې په هغه سره دعا زر قبليږي؟ له دې وجې دعا کيږي او قبليږي نه؛ نو بيا انسان د مايوسي ښکار شي او

...بقيه د تير مخ]..ان الله طيب لايقبل الاطيبًا،وان الله امرالمومنين بما امرالمرسلين ،فقال:ياايهاالرسل كلوا من الطيبات واعملوا صالحًا ،انى بماتعملون عليم .قال ياايها الناس كلوا من طيبات مارزقناكم ، قال :وذكر الرجل يطيل السفراشعث اغبريمد يده الى السماء يارب ! يارب ! ومطعمه حرام ومشربه وملبسه حرام وغذى بالحرام فانى يستجاب لذالک .(سنن الترمذى ج:۲ص:۱۲۳،باب ومن سورة البقرة طبع دهلى)

[۱] وعن ابن عمر ان النبى صلى الله عليه وسلم قال:لاينظر الله يوم ا لقيمة الى من جر ازاره بطرًا ، متفق عليه (مشكوة ص:۳۷۳كتاب اللباس ،الفصل الاول)

ځينې وخت په يقين کې کمزوري راځي.

جواب: دعا د الله تعالي په بارګاه کې خپله عاجزي او بندګي د وړاندې کولو له پاره وي او د الله تعالى وعده ده چې تاسو دعا کوئ، زه به يې قبلوم، له دې وجې دعا خو په هر حال کې قبلېږي، البته د قبوليت صورتونه مختلف دي:

۱- کوم شی چې د الله په حکمت کې بهتر وي: نو هغه شی ورکوي.

۲- کله د دې نه بهتر شی ورکوي.

۳- کله دا دعاګانې دده د آخرت ذخيره جوړولی شي.

په هر حال يقين ساتل پکار دي چې دعا به ضرور قبلېږي، مايوسه کېدل نه دي پکار.

د الحمد شريف او د تعوذ د لوستلو باوجود د احکام الهي خلاف ورزي او د شيطان تسلط ولې وي؟

سوال: موږ په هر لمانځه کې الحمد شريف وايو، چې دا د الله تعالى نه خاص دعا ده او د دې نه وروسته د الله تعالى د احکامو خلاف ورزي هم کوو، دويم دا چې شيطان ته کلاو چتې ملاوشوې ده چې هغه خلکو ته دوکه کوي، دويم طرف ته موږ په هر لمانځه کې اعوذ وايو د دې نه باوجود شيطان مو دوکه کوي اعوذ بالله چې وايو، موږ د الله تعالى نه پناه غواړو، کله چې د الله تعالى نه پناه حاصله شي؛ نو بيا شيطان يې څنګه دوکه کوي؟ يعنې يوازې د شيطان غلبه وي داسې ولې دي؟

جواب: اول خو د زړه د توجه له پاره دعا کول پکار دي هغه موږ نه کوو، دد دې نه پرته چې الله تعالى کومو بندګانو له پناه ورکړې، دد دې مطلب دا نه دی چې شيطان ددوی د دوکه کولو کوشش هم نه کوي، هغه کوشش کوي، خو الله تعالى دد دې بندګانو حفاظت کوي او کله چې د نفس او د شيطان د شرارت نه د دوی نه غلطي کېږي؛ نو فورا الله تعالي ته رجوع کوي او توبه او استغفار کوي چې په هغه سره د دوی ګناهونه معاف کېږي، دا هم د پناه يو صورت دی چې په دوی باندې د شيطان هر وخت تسلط نه وي، بلکې د توبې او د استغفار په برکت سره د دوی درجې نږدې او اوچتې کېږي.

د حضور ﷺ له پاره موږ دعا ګانې ولې کوو؟

سوال: حضور ﷺ دامت دعاګانو ته محتاج نه دی، که چېرې دا صحيح وي؛ نو د حضور ﷺ له پاره دعاګانې ولې غوښتل کېږي؟

جواب: دوه وجوهات دي، يوه دا چې حضور ﷺ محتاج نه دی، موږ محتاج يو او د حضور ﷺ له پاره د غوښتلو حکم ورکول زموږ د احتياج له وجې دی، چې د حضور ﷺ د برکت

له وجې دالله تعالی رحمت زموږطرف ته متوجه شي او زموږحضور ﷺ سره په تعلق اومحبت کې اضافه نصیب شي، خلاصه داده چې دا زموږ دمحبت تقاضاه ده..... دویمه وجه داده چې حضور ﷺ دالله تعالی دنزدیکت او اوچتو درجو باندې فائزدی، خوهروخت په هغه درجو کې اضافه کیږي اودأمت مخلصان چې څومره دعاګانې او درود سلام حضور ﷺ باندې کوي هغومره به درجوکې اضافه کیږي اودحضور ﷺ درجې اودالله تعالی درضا نور به دامت طرف ته هم راځي.[۱]

د ماثورو دعاګانو اثر ولې نه کیږي؟

سوال: مختلفو حدیثونوکې دځینودعاګانوپه لوستلوباندې دمال اوجان دحفاظت وعده فرمایل شوې ده، یادخواهش دپوره کیدو خوشخبري اوداسې نور... دې باره کې دیوکس داسوچ دی چې دمسلمان کیدو له وجې دازموږایمان دی چې دحضور ﷺ یوه خبره هم غلطه نه شي کیدای، بل طرف ته موږ اکثروینو چې موږدنقل شوي حدیث دعا کوو، خودهغه حدیث مقصدراته نه حاصلیږي، ددې له وجې په حقیقت کې دعملونواویقین کمښت وي. ایا داخبره صحیح ده؟

جواب: دحضور ﷺ خبره حق ده[۲]، خواکثرزموږ په دعاګانوکې چې په لوستلوکې څنګه استحضارپکاروي هغه نه وي[۳] اوکله کله زموږ بد عملونه ددې مقصدپه حاصلولوکې خنډوي[۴]، ددې مثال داسې دی چې ډاکټران دیوې دوایي خاصیت بیانوي اودهغې باربار تجربه شوې وي، خوکله کله دهغې دوا اثرنه ښکاره کیږي: نوددې دا وجه نه وي چې دې دوایي کې اثرنه وي، بلکې ددې داوجه وي چې څه وجه ددې په اثرکې خنډجوړیږي.

زموږدعاګانې ولې نه قبلیږي؟

سوال: له تاسونه دیوې خبرې پوښتنه کول غواړم. هغه داچې زموږ دعاګانې ولې نه قبلیږي؟ ځینې خلک نه قرآن لولي اونه دحقوق العباد خیال ساتي. خوبیاهم هغوی ته هیڅ

۱] دزیات تفصیل اوحوالو دپاره اوګورئ:تیر شوی عنوان....``ایصال ثواب،، سره د مسائلو او حوالو)۔

۲]ومایننطق عن الهوى ان هو الا وحي يوحى ،، (النجم: ٤)۔

۳]عن ابی هریرة رضی الله عنه قال:قال رسول الله صلی الله علیه وسلم :ادعوا الله وانتم موقنون بالاجابة، واعلموا ان الله لایستجیب دعاء من قلب غافل لاه٠ رواه الترمذی (مشکوة ص:۱۵۹،کتاب الداعوات، الفصل الثانی)۔

٤]عن حذیفة بن الیمان رضی الله عنه عن النبی صلی الله علیه وسلم قال:والذی نفسی بیده لتامرن بالمعروف ولتنهون عن المنکر،اولیوشکن الله ان یبعث علیهم عذابًا منه فتدعونه فلا یستجیب لکم (ترمذی ج:۲ص:۳۹)۔

پریشاني، غم یاناروغي نه وي، بلکې خوشاله وي اوهغه قسمه خوشالي اودنیاداري کې مبتلاوي او ځینې خلک د لمانځه اوقرآن پابندوي اومختلف قسمه پریشانوکې مبتلاوي، له ناروغي نه خلاصیږي، داسې لیدو سره ډیر افسوس راشي،اخرداسې ولې دي؟ الله تعالی دهغوی ولې نه اوري؟ او ددې له وجې دخودکشي خیال راځي.

جواب: دلته په یوڅوخبروباندې ځان پوهول پکاردي:

لومړی داچې دیوکس په ښکاره باندې دعاقبلیدل، دهغه دالله تعالی په نزدباندې دقبلیدو دلیل نه دی او دچا دعا نه قبلیدل دهغه دمردودکیدونښه نه ده. بلکې اکثرمعامله الټه وي. چې یوکس دالله تعالی په نزدباندې قبول وي، خودهغه دعاګانې په ظاهره باندې نه قبلیږي اوبل کس دالله تعالی ته نزد باندې ناخوښه وي، خودهغه دعاسمدستي قبوله شي. دشیخ تاج الدین بن عطاءالله اسکندري رحمه الله کتاب کې مې حدیث لوستلی دی. دهغه مفهوم داسې دی چې یوکس دعاله پاره لاس پورته کوي. الله تعالی فرښتوته فرمایي چې دده کار سمدستي وکړئ، ځکه چې دده لاس پورته کول زماخوښ نه دي اویوکس دعاکوي: نوالله تعالی فرښتوته فرمایي چې دده کارکولوکې صبر وکړئ، ځکه چې دده زمامخکې لاس پورته کول اومنت کول زماخوښ دي.

دویم داچې یوکس ته دعاکولوتوفیق ملاویدل ډیرغټ نعمت دی،کوم کس چې دالله تعالی مخکې لاس پورته کړي هغه ته دا بدګماني چیرې هم نه دي کول پکارچې دهغه به دعاقبوله شي اوکه نه؟ بلکې یقین ساتل پکاردي، چې الله تعالی به یې دخپل رحمت له وجې ضرورقبلوي د ابوداود ، ترمذي،ابن ماجه اومستدرک حاکم په حدیث کې دي چې الله تعالی ډیرزیات دکرم او حیا مالک دی. کله چې بندګان دهغه په پاک دربارکې لاس پورته کوي: نوهغه ته شرم ورځي او هغوی خالي لاس نه واپس کوي.[1]

دریم داچې زموږکوتاهي اوغلط فهمي ده چې کوم شی موږ دالله تعالی نه غواړو،که چیرې هماغه شی ملاوشي؛ نوموږداګڼو چې زموږدعاقبوله شوه اوکه چیرې هغه غوښتل شوی شی راته ملاونه شي؛ نوموږ دا ګڼوچې زموږ دعاقبوله نه شوه، حالانکې ددعا د قبلیدو یوازې دا یوشکل نه دی. دمسند احمد یوحدیث کې دي چې حضور صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چې کله هم مسلمان بنده دعاکوي؛ نوالله تعالی دخپل برکت له وجې دهغه په دعاکې د دریو شیانونه یوشی ضرور ورکوي، یاخوچې هغه څه غوښتي وي هماغه ورته ورکړي، یادهغه دعا د اخرت له پاره ذخیره کړي یادهغه ددعاله وجې دهغه کس نه څه مصیبت لرې کړي.(مشکوة)[2]

۱] حدثني ابوعثمان رضی الله عنه قال:قال رسول الله صلی الله علیه و سلم :ان ربکم حی کریم یستحی من عبده اذا رفع یدیه الیه ان یردهماصفراً (ابوداود ج:۱ص:۲۱۶باب الدعاء طبع ایچ ایم سعید)۔

۲] عن ابی سعیدالخدری رضی الله عنه النبی صلی الله علیه وسلم....[بقیه حاشیه په راروانه صفحه....

غرض دا چې ضرور قبليږي، خو د قبوليت شکلونه بيل بيل دي. له دې وجې په بنده فرض دي، چې د الله تعالى نه هر وخت غواړي او پوره اطمينان وساتي چې الله تعالى به دهغه په حق کې ښه فيصله فرمايي. د دعاګانو د نه قبليدو له وجې زړه تنګول نه دي پکار او د الله تعالى نه خفه کيدو له وجې د خود کشي خيالات ذهن ته راوستل د انسان کم ظرفي ده.
حديث شريف کې دي چې د بنده دعا ضرور قبليږي، خو دې شرط باندې چې هغه د بيړې نه کار وانه خلي، عرض وشو چې د بيړې کولو څه مطلب دی؟ حضور ﷺ وفرمايل چې: بيړه کول دا دي چې انسان دا سوچ وکړي چې ما ډيرې زياتې دعاګانې وکړې خو قبولې نه شوې او دعا کول پريږدي.[1]

کله چې د هريو شي وخت مقرر دی؛ نو بيا دعاګانې ولې غواړو؟

سوال: ما اوريدلي دي او په دې خبره باندې مې يقين هم دی چې د هر يو شي وخت مقرر دی. مثلاً: دواده، مرګ، پيدايښ او داسې نورو...؛ نو بيا موږ دعاګانې ولې غواړو؟ مثلاً: ځينې جينکۍ د ودونو له پاره وظيفې کوي: نو د دې څه فايده؟ ځکه چې الله تعالى د واده له پاره کوم وخت مقرر کړی وي، واده خو به هم هغه وخت باندې کيږي. ايا زموږ وظيفې لوستلو او دعاګانو کولو له وجې به هغه مخکې وشي؟ زموږ دعاګانو غوښتلو سره به ايا الله تعالى تقدير بدل کړي؟

جواب: الله تعالى دنيا دارالاسباب جوړه کړې ده او دعا هم اسبابونه يو سبب دی او اسباب د تقدير مخالف نه دي، بلکې د تقدير ماتحت دي[2] ګورئ! کله چې موږ ناروغان شو: نو موږ علاج کوو، دا علاج کول هم د تقدير له وجې وي، که چيرې د الله تعالى خوښه وي: نو د علاج له وجې به موږ ته شفا ملاوشي او که چيرې منظور نه وي: نو نه به کيږي، همدغه حال د دعاګانو هم ګڼل پکار دي چې دا هم د تقدير ماتحت دی، که چيرې الله تعالى ته منظور وي:

...بقيه د تير مخ]... قال:مامن مسلم يدعو بدعوة ليس فيها اثمٌ ولاقطيعة رحم الا اعطاه الله بهااحدى ثلاث ،امااان يعجل له دعوته ،وامااان يدخرهاله فى الآخرة ،وامااان يصرف عنه من السوء مثلها قالوا:اذا انكثر كثر،قال :الله اكثر، رواه احمد (مشكوة ص:١٩٦كتاب الدعوات)_

١] قال رسول الله صلى الله عليه وسلم :يستجاب للعبدمالم يدع باثم اوقطيعة رحم مالم يستعجل ،وقيل :يارسول الله !مالاستعجال ؟قال:يقول :قددعوت ،وقددعوت فلم اريستجاب لى ، فيستحسر عندذالک ويدع الدعاء (مشكوة ص:١٩٤كتاب الدعوات)_

٢]عن سلمان الفارسى رضى الله عنه قال:قال رسول الله صلى الله عليه وسلم :لايردالقضاء الا الدعاء ولايزيدفى العمرالا البر(رواه الترمذى) عن ابن عمرقال :قال رسول الله صلى الله عليه وسلم :ان الدعاء ينفع ممانزل وممالم ينزل ،فعليكم عبادالله بالدعاء رواه الترمذى (مشكوة ص:١٩٥،كتاب الدعوات ،الفصل الثانى)، ايضًا:ان من القضاء ردالبلاء بالدعاء فالدعاء سبب لردالبلاء (احياء العلوم ج:١ص:٣٢٨،كتاب الاذكاروالدعوات ،الباب الخامس......الخ)_

نوغوښتل شوی شی به راته ملاوشي، که منظوره نه وي: نونه به ملاوېږي او داهم یادساتل پکاردي چې دعادخپل احتیاج اوبندګي داظهارله پاره ده، له دې وجې انسان ته ښه کار (عاجزي اظهاراوبندګي) کول پکاردي، دالله تعالی کارونه هم هغه ته پرېښودل پکاردي.

حافظ وظیفه تودعا گفتن است وبس — دربند آن مباش که نه شنید یا شنید

د حضور ﷺ د زیارت کولو وظیفه

سوال: زه دحضور ﷺ زیارت کول غواړم، مهرباني وکړئ دلوستلوڅه داسې عمل راته وښایئ چې موږته په خوب کې یابیداري کې دحضور ﷺ زیارت نصیب شي، زماډېرزیات شوق دی،څه داسې عمل راته وښایئ چې موږ بې اساني سره وکړو اوزما په شان چې نورکوم خلک ددې خواهش لري هغوی یې وکړي.

جواب: دحضور ﷺ زیارت په خوب کې کېدل ډېرغټ سعادت دی، دا عاجزانسان، خود حضرت حاجي امدادالله مهاجرمکي رحمه الله دذوق عاشق دی، دهغه په خدمت کې چاعرض وکړ، چې حضرت! دعاوکړئ چې په خوب کې راته دحضور ﷺ زیارت وشي، ویې وفرمایل! وروره !ستاغټه حوصله ده چې دحضور ﷺ زیارت غواړې، موږخوځان ددې لائق هم نه ګڼوچې خوب کې د روضې مبارکې زیارت وکړو.

په هرحال اکابرین فرمايي چې دوه شیان په زیارت کولوکې مددګاردي، یوپه هریوشي کې دسنت اتباع کول، دویم درودشریف ډېرزیات لوستل.

ددعا تحفه (دانس رضی الله عنه دعا)

سوال: نن سباڅنګه چې تاسوته پته ده، ملکي حالات ډېرزیات خراب دي، هرطرف ته هنګامي دي، دچاعزت اومال اوداسې نور... محفوظ نه دي، له دې وجې راته دعاوښایئ، موږاورېدلي دي چې حضور ﷺ داسې یوه دعا حضرت انس رضی الله عنه ته ښودلې وه،که چیرې هغه راته وښایئ: نو ستاسومهرباني به وي.

جواب: ستاسودخواهش له وجې هغه دعالیکم،کومه چې حضور ﷺ خپل خاص خادم حضرت انس رضی الله عنه ته ښودلې وه، ددې دبرکت له وجې هغه دهرقسمه ظلمونواوفتنونه محفوظ و، دا دعا علامه سیوطي رحمه الله په (جمع الجوامع) کې نقل کړې ده او شیخ عبدالحق محدث دهلوي رحمه الله ددې شرح په فارسي ژبه کې لیکلې ده اودهغې نوم یې ,,استیناس انوارالقبس فی شرح دعاانس،، تجویزکړی دی. دلته موږ د انس رضی الله عنه دعااودفارسي شرح په پښتو ترجمه کې وړاندې کوو، عالمان اوطالبان،داسلام مبلغین اوټول مسلمانان دې داسهار اوماښام لولي،ان شاء الله هغوی ته به هیڅ تکلیف نه رسیږي..... دعاداده:

بسم الله على نفسي وديني، بسم الله على اهلي ومالي وولدي، بسم الله على مااعطاني الله، الله ربي لااشرک به شيئا، الله اكبر، الله اكبر، الله اكبر، واعزواجل واعظم مماأخاف واحذر عزجارک وجل ثناؤک ولااله غيرک، اللهم اني اعوذبک من شرنفسي ومن شركل شيطان مريد، ومن شركل جبار عنيد، فان تولوا فقل حسبي الله لااله الا هوعليه توكلت وهورب العرش العظيم، ان ولي الله الذي نزل الكتب وهويتولى الصلحين.

((دا دحضرت انس بن مالک رضي الله عنه دعاده، چې دحضور ﷺ خاص خادم و، لس كاله يې دحضور ﷺ په خدمت كې تيركړي وو اوحضور ﷺ ورته دهغه دمورپه عرض كولوباندې ددين اودنياله پاره خاص ډول دعا كړې وه او الله تعالى دحضور ﷺ ددعا دبركت له وجې دهغه په عمرمال اواولادكې ډيرزيات بركت اچولى و؛ نودهغه عمردسلو كلونونه زيات و اودصلبي اولاد تعداد يې سلوته رسيدلى و، هغو كې درې اوياسرې اوپاتې ښځې وې، دهغه باغ په كال كې دوه ځله ميوه كوله. دادنيابركتونه وو (كوم چې ورته دحضور ﷺ ددعاله وجې حاصل شوي وو، د اخرت د بركاتو اندازه يې څوک كولى شي))

شيخ جلال الدين سيوطي رحمه الله دحديثويوجليل القدرحافظ دى، هغه په (جمع الجوامع) كې نقل كړي دي چې ابوالشيخ رحمه الله په (كتاب الثواب) او ابن عساكر رحمه الله په خپل تاريخ كې داواقعه نقل كړې ده، چې يوه ورځ حضرت انس رضي الله عنه دحجاج بن يوسف ثقفي سره ناست و، حجاج حكم وكړچې ده ته دې څلورسوه مختلف اسونه وښودل شي، دحكم تعميل وشو، حجاج حضرت انس رضي الله عنه ته وويل: چې وفرمايئ (۱) خپل اقا(حضور ﷺ) سره هم تاسو چيرته داسې ښه اسونه اود نازاونعمت سامان ليدلى و، ويې فرمايل چې په الله تعالى مې دې قسم وي چې ماحضور ﷺ سره له دې نه ډيرزيات ښه شيان ليدلي دي اوما دحضور ﷺ نه اوريدلي دي، حضور ﷺ به فرمايل: كوم اسونه چې خلک ساتي، هغه درې قسمه دي:

(۱): يوسړى اس په دې نيت باندې ساتي چې په دې باندې به دالله تعالى په لاركې جهادكوم اودبهادري دادبه حاصلوم، دهغه اس متيازې، سوټې، غوښه، هډوكي اووينه به دقيامت په ورځ باندې دهغه د اعمالوپه تله كې تلل كيږي.

(۲): دويم كس اس دې نيت باندې ساتي چې دضرورت په وخت كې به پرې سورلى كوم اودپيدل ګرځيدو د زحمت نه به بچ شم (دى نه دثواب مستحق اونه دعذاب).

---

۱) دصحت په وجه باندې دافقره دحجاج دغرورنښه ده.دهغه په حالاتوباندې غوركولونه معلوميږي چې دمالدارئ اودولت دنشې په وجه باندې هغه دخود پسندئ په مرض كښې مبتلاشوې وو.دحضور ﷺ په اصحابوباندې خپل فضيلت خودلوپاره بعضې غلط كارونه به دهغه نه كيدل.دافقره هم ددې سلسله يوه فقره ده.مترجم

(۳): دریم هغه کس دی کوم چې اسونه یوازې دشهرت اونوم کولوله پاره ساتي، چې خلک وګوري چې فلانکي سره دومره ښائسته اسونه دي، دداسې کس ځای دوزخ دی.

اې حجاج! ستااسونه هم دې کې شامل دي، حجاج دې خبرې اوریدوسره غوسه شو اوغوسه یې ډیره سخته شوه او ویې ویل اې انسه! کوم خدمت چې تا دحضور ﷺ کړی دی که چیرې دهغه لحاظ نه وای..... اوکه چیرې ماته امیرالمومنین عبدالمالک بن مروان ستاپه سفارش اورعایت له پاره خط نه وای لیکلی؛ نوپته نه شته چې نن به تاسره څه کیدل؟ حضرت انس رضی الله عنه وفرمایل، په الله مې دې قسم وي ته ماته هیڅ نه شې ویلی اونه تاکې دومره همت شته چې ته ماته په بدنظرسره وګورې. ما د حضور ﷺ نه یوڅو داسې کلیمې زده کړې دي، چې زه همیشه دهغو په پناه کې یم اوهغو کلیمو له وجې ماته نه دبادشاه دبادشاهت نه اونه دشیطان دشرنه څه ویره شته، حجاج دې کیلمو دهیبت له وجې بې خوده اومبهوت شو، یوڅه وخت وروسته یې سرپورته کړ اوویې ویل اې ابوحمزه! هغه کلیمې ماته هم وښایه. ویې فرمایل چې تاته به یې بالکل نه ښیم. په الله تعالی مې دې قسم وي ته دهغو اهل نه یې.

کله چې دحضرت انس رضی الله عنه دوفات وخت راغی. ابان چې دحضرت انس رضی الله عنه خادم و. حاضرشو او اواز یې وکړ. حضرت وفرمایل څه غواړې؟ عرض یې وکړ. هغه کلیمې زده کول غواړم کومې چې حجاج ستاسونه زده کول غوښتل. خوتاسوهغه ته ونه ښودلې، ویې فرمایل اوتاته یې ښیم، ته دهغو اهل یې، مادحضور ﷺ لس کاله خدمت وکړ اودحضور ﷺ ونـ ـت داسې وخت کې وشوچې هغه زمانه راضي و. دغه شان تازمالس کاله خدمت وکړ اوزه دنیانه داسې حالت کې رخصتیږم. چې زه ستانه راضي یم. سهار اومابنام داکلیمې لوله.الله تعالی به دې د هرقسمه افتونو او مصیبتونو نه محفوظ ساتي هغه کلیمې دادي:

(**بسم الله علی نفسی ودینی**) یعنې حفاظت غواړم اوپناه غواړم دالله تعالی په نوم دخپل نفس اودین، کیدای شي چې دبسم الله نه مراد پوره بسم الله الرحمن الرحیم وي، چې دهغې په لومړی جز باندې صبر شوی وي، څنګه چې وویل شي چې څه لولې؟اوجواب وشي چې الحمدالله لولم. مراد پوره سورت وي، حفاظت کې دنفس تخصیص اودین له دې وجې فرمایلي دي چې دهرکمال حاصلولودبنیاداصل نفس اودین دی، بیانفس یې مقدم فرمایلی دی، ځکه چې نفس ددنیااودیني هرکمال حاصلو! .ه پاره موقوف علیه دی، له دې وجې نفس هلاکت ته اچول حرام اودخپل طاقت مطابق ددې حفاظت واجب دی، شرعي مسائلوکې لیکل شوي دي که چیرې مړی دچامړی کې ونښلي (چې دهغې له وجې تکلیف وي) اوهلته اوبه موجودې نه وي چې دهغو په ذریعه باندې اینښتې مړی کښته کړل شي(اونه دهغې دکښته کولوڅه صورت وي)؛ نوداسې وخت کې دشرابوګوټ کول چې هغه قطعي حرام دي. دهغه له پاره حلال دي، بلکې واجب به وي، چې نفس کوم چې دژوند دحقیقت حاصلولو

ذریعه ده باقي پاتې شي. د جبر او ظلم په وخت کې د کفر کلیمه په خوله باندې راوستل خودې شرط سره چې په زړه کې د ایمان نه مطمئین وي، هم د غه شان دی. یعنې که چیرې د مجبوري په حالت کې د ځان بچ کولو له پاره څه نامناسب الفاظ وویل شي او زړه یې په ایمان باندې قائم وي؛ نو د نفس او دین له پاره اجازه شته او که چیرې څوک همت دار په عزیمت باندې عمل وکړي او ځان قربان کړي او د کفر کلیمه په خوله باندې رانه ولي: نو ډیر ښه او اعلی کار دی. دلته د دې مسئلې د پوره تفصیل موقع نه شته. له دې وجې یې د فقې په کتابونو کې وګورئ. یا عالم ته رجوع وکړئ!

«بسم الله علی اهلی ومالی وولدی» د نفس او دین د حفاظت نه وروسته کورنۍ. مال او دولت یاد شوي دي، ځکه چې دا شیان هم د نفس او د دین د حفاظت له پاره ذریعه او مددګار دي او دې باندې بسم الله جدا ذکر شوې ده. هغې بسم الله باندې چې مخکې ذکر شوې ده کفایت کولو سره یې نه دي ویلي چې ,,بسم الله علی نفسی ودینی واهلی ومالی وولدی،، عبارت کې دا طریقه اختیارول د اصحاب بلاغت په نزد باندې دې طرف ته اشاره کوي چې مخکې ذکر شوې او وروسته ذکر شویو دواړه حالتونه مقصد دي او د دواړو قصد او اهتمام یو شان دی. اهل او آل دواړو الفاظ د یو معنا دي، کله د تابع او زوی په معنا کې استعمالیږي او کله د اولاد په معنا کې. دلته د اولاد ذکر وروسته موجود دی. له دې وجې لومړۍ معنا مناسبه ده. دا یادساتل پکار دي چې کله د مال او اسبابو ذکر د تعریف او خوبي په موقع باندې اداشي: نو هلته ترې مراد حلال مال وي، کوم چې د اخرت له پاره وسیله وي او د هغه جمع کول د سعادت او د کمال ذریعه ده. باقي ټول د ګناه او عذاب ذریعه ده او ولد معنا اولاد ده، که مذکروي او که مؤنث او د اولاد وجود هم د قوت د اسبابو له پاره دی. کوم چې د دین او دولت له پاره مددګار وي. یو هلک که چیرې نیک او رشید وي؛ نو د دنیا او د اخرت د سعادت ذریعه وي... حدیث کې دي چې د انسان د نیانه د رخصت کیدو نه وروسته درې شیان پاتې شي:

(۱): د دین علم. کوم چې د هغه اهل خلکو ته ښودل شوی وي او کوم چې علمي سلسله د جناب رسول الله ﷺ په پناه کې قائم ساتي.

(۲): صدقه جاریه. چې هغه کې د الله تعالی د بندګانو نفع وي او د مړ شوي نه وروسته تر قیامت پورې جاري وي، مبارک دی هغه کس چې د هغه له مرګ نه وروسته پل، کوهی، جومات یا میلمستون (مهمانخانه) پاتې شي.

(۳): نیک زوی کوم چې د هغه له وفات نه وروسته د ایمان د عاسره هغه یادساتي، چې د خپل پلار د ګناهونو معافي او د هغه د درجاتو د لوړوالي ذریعه جوړه شي.

حدیث کې د دې دریو واړو شیانو ذکر هم د دې ترتیب سره ذکر شوی دی. د دې ذکر شوي ترتیب کې دې طرف ته اشاره ده چې علم، مال او اولاد، په دې باب کې فضیلت لري، ځکه د صالح

زوی وجود اخري زمانه کې ډیرکم وي اوځینې روایتونوکې دزوی ذکردمال نه مخکې دی. بې شکه اولاد ،دمال نه خوږ اومحبوب وي، دهغه حفاظت اوخیال ساتل هم ډیرمقدم وي.

(بسم الله علی ماأعطانی الله) دالله تعالی په نوم سره پناه غواړم دالله تعالی په هرهغه نعمت باندې کوم چې ماته الله تعالی نصیب کړی دی. کله چې دیوځونعمتونو چې ددنیا اواخرت دنعمتونو اصل مداردی، ذکر وکړ. له هغه نه وروسته عام لفظ ذکرشوی دی. چې اصل و فرع او واړه غټ ټول نعمتونه په کې شامل دي. حقیقت کې دالله تعالی نعمتونه شمیرل د امکان نه بهردي. فرمایلي دي وان تعدو نعمة الله لاتحصوها.ان الانسان لظلوم کفار. دمبالغې صیغې سره فرمایلي دي. (یعنې بې شکه انسان ډیرغټ ظالم اوناشکره دی. غټ ظالم له دې وجې چې دخالق اومالک دنعمتونو شکر اداکولوپه ځای دهغه نوروطرفونوته نسبت کوي. بل ځای کې دي: ان الله لغفور رحیم. فرمایي. که دخالق (الله تعالی) مغفرت اورحمت نه وای؛ نوددې ناسپاسي له وجې به په انسان باندې کارتنګ شوی و، دالله تعالی رحمت اومغفرت په خپله یونعمت دی. بلکې اصل نعمت دی. ددې په مقابله کې باقي هرڅه بې کاره دي.... په حدیث کې دي چې دالله تعالی درحمت نه پرته به څوک جنت ته نه داخلیږي، ددې نعمت شکراداکول پکاردي، بیکاره ناسته نه ده پکار، سیدالعالمین ﷺ به دتهجدپه لمانځه کې دومره قیام کاو چې قدمونو مبارکو باندې به یې ورم راغی اوله هغونه به وینه شروع شوه، عرض وشو. یارسول الله ﷺ ایاستاسو مخکني او وروستي ټول ګناهونه نه دي معاف. پخپله دجل مجده ارشاد دی لیغفرلک الله ماتقدم من ذنبک وماتاخر بیادومره تکلیف اومشقت دڅه له پاره کوئ؟ ویې فرمایل: چې الله تعالی زه ښنلی یم اودهغه ښنه کول ډیرغټ نعمت دی،که چیرې ددې نعمت شکرادانه کړم؛ نوشکرکونکی بنده به څنګه جوړیږم. دغورکولومقام دی چې سیداولین واخرین چې عالم اوعالمین دهغه له وجې دي. کله دامشقت برداشت کوي اوبندګي کې مشغول دی؛ نونوروته به ضرورت ولې نه وي؟

(الله ربي لااشرک به شیئا) الله تعالی زماپروردګاردی، زه به هغه سره څوک نه شریکوم، انسان باندې چې کوم مصیبتونه اوحادثې راځي دهغو شدت اومحنت ختمولوکې ددې کلیمو فضیلت او خاصیت په احادیثوکې ډیرزیات بیان شوي دي اوددې حقیقت دالله تعالی دتوحید دکارونو مشاهده کول دي. چې څه وشي. هرڅه دهغه وړاندې ګاه ته تلونه او د خفي شرک نه بچ شي. خپل پروردګارسره ښه ګمان ساتئ.کله چې انسان دهغه واحد لاشریک ذات په تربیت کې دی؛ نوچې کومه معامله دهغه دطرف نه وشي،دانسان صلاح اوفلاح به هم هغه کې وي، خودادهغه کس له پاره دی کوم چې هروخت دهغه دلطف اوکرم طرف ته متوجه اوغوښتونکی وي اوخپل ټول کارونه یې هغه ته حواله کړي وي اودولایت

نورعکس دهغه په تندي باندې وي او الله تعالی دخپل خاص لطف سره دهغه دکارونو متولي وي، ګني مذهب هم دادی چې اصلح په الله تعالی باندې واجب نه ده. هغه چې څه غواړي ودې کړي، دچاهيڅ طاقت نه شته چې دهغه خلاف څه وکړي.

يادونه: دکومې دعا باره کې شريعت راغلی دی چې ددې په لوستلوباندې داجزاده. ددې صحيح مطلب دادی چې هغه حال په خپل ځان کې پيداکړل شي اودې معنا سره متصف شي. ګني د اندامونو خالي حرکت اويوازې ژبه باندې دکليماتو لوستل کافي نه دي. خوداچې دشارع له طرف نه تصريح وشي چې داخاصيت يوازې په نفس اودالفاظوکې دی؛ نوهغه وخت کې به هغه اثرخاص ډول ددې لفظ وي اومعنا باندې دپوهيدوضرورت به نه وي.

خوددې باوجود بې کاره ناسته نه ده پکاراوعمل ددې حال په حاصليدوباندې موقوف ساتل نه دي پکار. دالله تعالی فضل ډير زيات دی اوالله تعالی دبندګانو دعا قبلوي. د شرطونو او قدرونوچې څومره هم قدروساتل شي هغه به په هرحال محدودوي. خودالله تعالی فضل اوکرم دحساب نه بهردی،کوم شي چې پوره حاصل نه شي. هغه بالکل پريښودل کيدلی نه شي،الله تعالی دې توفيق راکړي؛ نوداخلاص او ريا په باره کې د حضرت شيخ شهاب الدين سهروردي رحمة الله نه سوال وشو چې څه کول پکاردي؟ که چيرې موږ عمل وکړو: نو ريا په کې ښکاري،که اونه کړونوبې کاري ده. ويې فرمايل عمل کوئ اودريانه استغفارکوئ، بې کاره ناسته مصلحت نه دی، عمل که چيرې جاري وساتل شي؛ نودعمل دنورانيت له وجې به په زړه کې اخلاص هم پيداشي... ان شاء الله!

﴿الله اکبر،الله اکبر،الله اکبرواعزواجل واعظم ممااخاف واحذر﴾ الله تعالی لوی اوغالب دی، دهرهغه شي نه چې زه ويريږم اوويره ساتم. ځينې روايتونوکې د﴿اجل﴾ نه وروسته اعظم هم ذکرشوی دی، کبريايي، عزت، عظمت اوجلال يوشان معنا لري، که چيرې د کبريا تعلق ذات سره، دعزت کارونوسره، دعظمت نومونوسره اودجلالت صفاتوسره اعتبار کړل شي؛ نوهيڅ بعد نه شته، نفس جبلي ډول بې يقيني، خودترسي اواساني خوښونکی دی، خاص ډول چې معامله دځان نه غالب سره وي. لکه بادشاه اوجبار. له دې وجې په دې کليمې کې دالله تعالی عظمت اوکبريايي استحضار سره ﴿چې دهغه نه لازمي ډول دنوراويقين شغله وځي﴾ هغه زړه ور جوړکړي.

چې اواې نفسه! مه ويريږه، ستا پروردګاردښمن نه اوچت او غالب دی، دښمن که چيرې مضبوط دی؛ نوساتونکی دهغه نه زيات مضبوط دی؛ نودخپل الله تعالی نه ويريږه، چې ټول ستانه ويريږي. ربښتيادی چې څوک دالله تعالی نه ويريږي. دهغه نه هريوشی ويريږي دې کليمې کې دی خبرې باندې هم تنبيه ده چې معامله کله دغالب سره وي: نوباطن به دالله تعالی کبريايي سره معمورکولی شي، چې دبل هيبت اودعظمت په زړه کې ګنجائش

پاتې نه شي او دالله تعالى دعظمت په غلبه کې د نور قهر او جبر ختم شي.

«عزجارک» غالب دی ستاگاونډی او ستا پناه اخيستونکی، کله چې دالله تعالى دکبريايي او دهغه عظمت وليدل شو، غيبت نه د حضورمقام نصيب شو او دخطاب شرف حاصل شو، دالله تعالى د گاونډيتوب توجه، دجناب په لطف کې التجا او دهغه لمن مضبوطې سره نيولوله وجې حاصليږي. کوم کس چې دجناب په عزت کې التجاء کوي هغه چيرې هم مغلوب او مقهورنه شي کيدلی.

«وجل ثناؤک» ستا ثنا لويه ده، ستا دکمال صفتونه او دنه ختميدونکي قدرت ژوروالی څوک موندلی شي؟ کمزور طاقتور جوړکړې او طاقتور کمزوری جوړکړې، چاته چې غواړې عزت ورکړې او څوک چې غواړې ذليل يې کړې، دا ستا شان دی.

«ولااله غيرک» او ستانه پرته څوک ذعبادت لائق نه شته. «اللهم انی اعوذبک من شرنفسی» دهرقسمه شراوقباحت وجه اوبې يقيني اونااعتباري وجه نفس دی له دې وجې دالله تعالى پناه واخيستل شوه، دهغه شرنه کوم چې انسان ته پيښيده، ټول دهغه دنفس طرف ته دي، حضور ﷺ به دعا فرمايله «رب لاتکلنی الی نفسی طرفة عین ولااقل من ذلک» اې پروردګاره! ماديوې لمحې له پاره هم خپل نفس ته حواله نه کړې، بلکې هروخت مې په خودکې ساته او دخپل عظمت په مشاهده کې مې مشغول ساته، چې دلږوخت له پاره غيرو خلکوته ماباندې دغلبې او تصرف موقع ملاونه شي.

«ومن شرکل شيطان مريد، ومن شرکل جبارعنيد» او زه ستا پناه اخلم دهرشيطان مردود له شرنه او دهرکبرکونکي شيطان له شرنه کوم چې دحق په لارکې خنډوي، دعناد معنا دصحيح لارې نه جداکيدل او دحق پيژندلو باوجود دهغه مخالف کيدل، دشر دکار تدبير او د دوکه کولو او گمراه کولو سلطنت شيطان ته حواله کړل شوی دی، بالکل همدغه حال دهغه جبار او قهارقسمه خلکو دی، کوم چې په مخلوق باندې مسلط شوي دي، له دې وجې دهغوی دشرنه پناه غوښتل هم شامل دي او دشيطانانو دوه قسمونه دي، لومړی جناتي شيطانان په کومو کې چې ابليس او دهغه اولادشامل دي، دويم انسي شيطان. دا ظالمان او دهغوی ملګري دي، په لومړۍ فقره کې دلومړي ته او دويمه کې ددويم طرف ته اشاره شوې ده او دوهم قوت کوم چې دانسان په فطرت کې داخل دی او هغه ته شيطان عالم انفس ويل کيږي، دا دشيطان عالم افاق نمونه ده چې په عقل او شعور باندې اثرلري او کوم عقل چې دنور او يقين باندې منور او صفا وي هغې باندې اثرنه شي قائمولی، حکم: ,,ان عبادی ليس لک عليهم سلطان،، وروسته دا قوت معدوم ته دموجود په شکل کې او باطل دحق په شکل کې د ښودلو جوګه کړې دی، ددې نه استعاذه ضروري ده، سوا دالله تعالى دويرې دختميدونه بل

دختميدو هيڅ صورت نه شته، داهم حقيقت کې دنفس دشرنه استعاذې دختمولو طريقه ده.
څنګه چې لومړۍ فقره کې بيان شوی دی.

(فَإِن تَوَلَّوْا فَقُلْ حَسْبِيَ اللَّهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَهُوَ رَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ) دادقرآن مجيد يوايت دی چې په دې کې الله تعالی نبي کريم ﷺ ته حکم کوي ورته فرمايي چې .. که کافران مخ واړوي حق طرف ته متوجه نه شي اوددې دقبلولونه ډډه وکړي؛ نو اې محمد (ﷺ)! اې محبوب! اې زما محبوب اومعصوم! تاسو ووايئ ,,حسبي الله،، الله زما له پاره کافي دی ,,لا اله الا هو،، دهغه نه پرته څوک معبود نه شته ,,عليه توکلت،، ماخپل ټول کاروبار هغه (الله) ته سپارلی دی، هغه مې خپل کارساز جوړکړی ,,وهورب العرش العظيم،، اوهغه د لوی عرش مالک دی چې دهغه نه لوی او لوړ په عالم اجسام کې څوک مخلوق نه دی پيدا کړل شوی.

سياق دکلام د جابرانو اوقاهرانو دفع کولو اودهغوی د ويرې اوخوف لرې کولو کې وو اوددې اصل او ماده ده دعظمت او قهرخداوندي مشاهده کول له دې وجې طرز دکلام د خبرداري په طرزباندې واړل شو اوخبره په عظمت باندې ختمه شوه. که اصحاب حفظ او دعوت ورکونکي دعرش الهي د احاطې مراقبه سره دملاحظې نه وکړي؛ نوپه حفظ او صيانت کې به زيات دخل کونکي وي.

لکه چې قطب د زمانې شيخ ابوالحسن شاذلي رحمه الله په حزب البحرکې (چې دحضرت خاتم الانبياء ﷺ نه يې حاصل کړې ده اود حفاظت باره کې ډيرمجرب ثابت شوی دی) فرمايي:
,,ستر العرش مسبول علينا وعين الله ناظرة الينا وبحول الله لايقدر احد علينا، والله من ورائهم محيط،، يعنې پرده دعرش په موږ رازوړنده شوې ده اود الله تعالی د رحمت اوعظمت نظر زموږ نګراني کوي بيابه دالله تعالی په قدرت سره په موږ دچا قدرت نه وي. دهغه قوت ټولو لره راګيرونکی دی چې ددې قدرت د احاطې نه بهرته د وتلو لار ناممکن ده.

فائده:... شاذليه مشائخو (قدس الله اسرارهم) مريدانوته ددې دعا لوستلو وصيت کړی دی، يعنې ,,حسبي الله لا اله الاهو عليه توکلت وهو رب العرش العظيم،، او ددوی ارشاد دی که چاپوازې هم دا وظيفه اختيارکړې وي؛ نودابه دهغه له پاره د ټولو وظائفونه کافي شي. ددوی دا ارشاد هم دی چې که ددې دعا په لوستلو کې پوهه اود زړه حاضري نه وي بياهم اثرکونکې اومقبوله ده، ددې تعداد لس لس ځله دسهار اومابنام لمانځه نه وروسته دی، که اووه اووه ځله ولوستل شي؛ نوبياهم کافي ده، بلکې دا د روايت صحت ته نزدې ده، ددې خلاصه داده چې خپل ځان متوجه کړي او اخلاص وکړي، ددې نه پرته دالله تعالی دعظمت مشاهده کول اود غيرالله نه بيزاري کول اود تدبير اختيارولونه فارغ کيدل. الله تعالی دې

خپل خاص فضل سره مونږ هم د دې صحيح طريقې توفيق رانصيب کړي او په دې مودې ثابت قدم وساتي.

په ځينې رواياتو کې دا کليمه هم په مذکوره دعا (يعنې په دعا انس رضي الله عنه) کې ذکرده:.. ان ولى الله الذى نزل الكتب وهو يتولى الصالحين..

د دې ترجمه داده ..بې شکه زما د ټولو کارونو دوست او متولي الله تعالى دى. هغه داسې کتاب نازل کړى چې په هغه کې د دنيا او اخرت د ټولو کارونو تدبيردى. يعنې قرآن مجيد او هم هغه د خلکو د ټول کارونه پوره کوي او د هغوى دوستي کوي. اې الله خپل رحمت سره مونږ په نيکو خلکو کې شامل کړې، آمين!..

❖ د مړي حکمونه ❖

نامحرم د کفن دفن له پاره ولي مقررول صحيح نه دي

سوال: سوال دادى چې يوې ښځې د ځنکدن په وخت کې خپلې مشرې خورته وصيت وکړ چې زماله مرګ نه وروسته دې زما دولي وارث په حيثيت سره ستاخاوند زما د کفن دفن انتظام وکړي د مرحومې د وصيت مطابق د هغې اوښي په دې عمل وکړ. خو د دې وصيت په خپلو خپلوان کې ډيرچرچه ده، چې ديو خوشال خاونداوښه تکړه ځوانانو زامنو او حقيقي ورڼو او بزرګانو په موجودګي کې د مرحومې د خپل خورد خاوند وارث او ولي مقررول شرعا جائزکيداى شي او که نه؟ او که اينده له پاره داسې قسم صورتحال راپيښ شي؛ نو د شريعت مطابق څنګه عمل کول پکار دي؟ چې ټول مسلمانان د دې مسئلې نه خبراو په څه مصيبت کې راګيرنه شي او د دين او ايمان د سلامتيا سره اخرت خيرشي، مسئله د محرم او نامحرم ده، مهرباني وکړئ په دې باره کې چې کوم حکم د الله او د هغه د رسول ﷺ دى، د هغه نه په موتفصيل سره خبر کړئ!

جواب: ديوې ښځې ولي د هغې زامن او او وروڼه دي[1] اوښى ولي او وارث نه دى، له دې وجې د هغې ولي مقررول غلط دي، البته که هغه نيک او دين دار او شرعي مسائيلونه خبروي: نو دا وصيت کول چې هغه دې د کفن دفن نګراني وکړي، صحيح دي.

د کوم مړي چې مذهب معلوم نه وي د هغه کفن دفن به څنګه کيږي؟

سوال: که چا په لاره کې يو مړى وموند (سړى يا ښځه)، او د مړي د مذهب په باره معلومه نه ده؛ نو يو مسلمان هغه څنګه دفن کړي؟

---

[1] واقرب الاولياء الى المراة الابن ثم ابن الابن وان سفل ثم الاب ......ثم الاخ لاب وام ......الخ (عالمگيرى ج:۱ص:۲۸۳،الباب الرابع فى الاولياء ،كتاب النكاح ،طبع رشيديه كوئته)۔

جواب: که په اسلامي ملک کې وي؛ نوهغه به مسلمان ګڼل کيږي، که دهغه دکفر څه نښه نه وي، لهذادهغه کفن به داسلام مطابق وي اوکه دهغه دکفرڅه ښکاره نښه موجوده وي (مثلادښځې په تندي باندې ټکی ده، چې دهغې دهندوکيدوعلامت دی؛ نوهغه به غيرمسلمه ګڼل کيږي.[۱]

که ښځه مړه ومندل شي؛ نو دې د مسلمان کيدو نښه به څه وي

سوال: يوه مسلمانه ښځه که مړه ومندل شي؛ نو د دې ښځې د مسلمان کيدو به څه نښه وي؟

جواب: په کومه علاقه کې چې ښځه مړه موندل شوې وي که چيرې دا د مسلمانانو علاقه وي؛ نو دا ښځه به مسلمانه وي او که چيرې د غير مسلمو علاقه وي؛ نو دا ښځه به غير مسلمه ګڼل کيږي، البته که چيرې څه بله نښه د غير مسلم کيدو ښکاره وي؛ نو په دې باندې به عمل کيږي.[۲]

د مړه پيدا شوي ماشوم کفن دفن

سوال: زمادیودوست کره دميرمنې دخيټې نه يوماشوم مړپيداشو، مونږ اوريدلي دي چې ده ته غسل وغيره ورکول نه دي پکار اودې په يوه سپينه کپړه کې ونغښتل شي اودفن دې کړل شي زما يودوست دجومات دپيش امام نه پوښتنه وکړه چې چيرته يې دفن کول پکاردي؟ مولوي صاحب ورته وويل چې داماشوم دې دقبرستان نه بهردفن کړل شي، د شريعت له مخې تاسوته درخواست دی چې په دې معامله کې تاسوزمونږ رهنمايي وکړئ!

ماشوم ته غسل ورکول پکاردی اوکه نه؟ دماشوم نوم کيښودل ضروري دي اوکه نه؟

ماشوم دقبرستان دننه دفن کړل شي يابهرپه بل ځای کې؟

جواب: کوم ماشوم چې مړپيداَشي، هغه ته په غسل ورکولوکې اوپه نوم کيښودوکې اختلاف دی، په هدايه کې يې دې ته مختارويلي دي چې ده ته دې غسل ورکړل شي اونوم دې پرې

۱] (فروع) لولم يدرامسلم ام كافرولاعلامة فان فى دارناغسل وصلى عليه والا لا(قوله فان فى دارنا......الخ) افادبذكرالتفصيل فى المكان بعدانتفاء العلامة ان العلامة مقدمة وعند فقدها يعتبرالمكان فى الصحيح لانه يحصله به غلبة الظن كمافى النهرعن البدائع وفيها ان علامة المسلمين اربعة الختان والخضاب ولبس الثواب وحلق العانة (ردالمحتارمع الدرالمختارج:۲ص:۲۰۰،باب صلاة الجنازة)،ومن لايدرى انه مسلم اوكافرفان كان عليه سيما المسلمين اوفى بقاع دارالاسلام يغسل والا فلا (فتاوى عالمگيرى ج:۱ص:۱۵۹،كتاب الصلاة ،الباب الحادى والعشرون فى الجنائز)

۲] ان كان للمسلمين علامة يعرفون بهايميزبينهم وان لم تكن علامة ان كانت الغلبة للمسلمين يصلى على الكل ...... وان كانت الغلبة للمشركين فانه لايصلى على الكل ......الخ (عالمگيرية ج:۱ص:۱۵۹،الباب الحادى والعشرون فى الجنائز،كتاب الصلاة)

کېنبودل شي، البته دده جنازه نه شته، بلکې په کپړه کې دې ونغښتل شي او په قبرستان کې دې خښ کړل شي، د قبرستان نه بهر دفن کول غلط دي.[۱]

د مړي په خوا کې د قرآن کريم تلاوت کول

سوال: که يو کس وفات شو او دهغه مړی چې ترخوپورې په کورکې موجودوي؛ نو په هغه ځای کې د قرآن کريم تلاوت کول پکار دی او که نه؟

جواب: مړی چې په کومه کمره کې وي، دهغې په ځای دې په بله کمره کې تلاوت وکړل شي، البته دغسل ورکولونه وروسته دمړي په خوا کې په تلاوت کولوکې هيڅ مضائقه نه شته.[۲]

قريب الموت ته د کليمې تلقين کول

سوال: د قريب الموت مريض ته دوارثانو له لوري د کليمې طيبې د ويلو تلقين کول يا په خپله په اواز سره ويل څنګه دي؟

جواب: مړ کيدونکي ته د کليمې شريفې د تلقين حکم کولو دي او د تلقين مطلب دادی چې دده سره په دومره تيز اواز سره کيلمه شريفه ولوستل شي چې هغه يې واوري ددې له پاره چې ده ته هم د کليمې د لوستلو ترغيب وي، خو په خپله به ده ته د کليمې د ويلو له پاره نه ويل کيږي.[۳]

د مړي د غسل له پاره په اوبوکې د بيرې پاڼې اچول

سوال: اکثرخلک ليدل کيږي چې مړي ته دغسل ورکولوپه وخت کې په اوبوکې دبيرې پاڼې اچوي، ددې شرعی حيثيت څه دی؟ضرورموخبر کړئ!

جواب: دبيرې پاڼې اچول دسنت نه ثابت دي.[۴]

۱] ومن لم يستهل ادرج فى خرقة كرامة لبنى آدم ولم يصل عليه لم روينا ويغسل فى غيرظاهرمن الرواية لانه نفس من وجه وهوالمختار (هداية ج:۱ص:۱۸۱باب الجنائز،وايضًا فى درالمختارمع ردالمحتار ج:۲ص:۲۲۸)۔

۲] وعبارة الزيلعى وغيره تكره القراءة عنده حتى يغسل......الخ (درمختارمع الشامى ج:۲ص:۱۹۳)،وايضًا فى العالمگيرية ج:۱ص:۱۵۷ويكره قراءة القرآن عنده حتى يغسل كذافى التبيين ۰الباب الحادى والعشرون ،كتاب الصلاة)

۳] ولقن الشهادتين وصورة التلقين ان يقال عنده فى حالة النزع قبل الغرغرة جهرًا اشهدان لا اله الا الله واشهد ان محمدًارسول الله ،ولايقال له :قل !(عالمگيرى ج:۱ص:۱۵۷،الباب الحادى والعشرون فى الجنائز،كتاب الصلاة)

٤] عن عبدالله بن عباس رضى الله عنهما قال:ان رجلا كان مع رسول الله صلى الله عليه وسلم فوقصته ناقته وهو محرم فمات ،فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم :اغسلوه بماء وسدر، الحديث (مشكوة المصابيح ،باب غسل الميت وتكفينه ج:۱ص:۱٤۳نسائى ج:۱ص:۲۶۶وايضًا....[بقيه حاشيه په راروانه صفحه....

د غسل ورکولو په وخت کې مړی څنګه څملول شي؟

سوال: تیرو ورځوکې زید وفات شو، دهغه خپلوانو مړي ته دغسل ورکولو نه مخکې او وروسته دهغه مخ او سر لمرخاته طرف ته کړل اوپښې یې مغرب (قبلې)طرفته کړې، دهغوی حضراتو دوینامطابق چې هغوی په هغه وخت کې ویل چې داعمل ددې وجې نه کیږي چې دمړي مخ دقبلې ته طرف وي، دهغوی داعمل ترکوم حد پورې جائزدی؟اوایادمرګ نه وروسته دمړي سردمشرق طرف ته اوپښې دمغرب طرف ته کول پکاردي؟

جواب: دغسل له پاره دمړي په تخته باندې دکېښودودوه صورتونه لیکل شوي دي، یوخو دا چې دقبلې طرف ته پښو کولوسره څملول، دویم داچې دقبلې طرف ته مخ کول څنګه چې په قبرکې څملول کیږي، په دواړوکې چې دځای دسهولت مطابق کوم صورت هم اختیارکړل شي، هغه جائزدی، مګرزیات بهتردویم صورت دی.[۱]

مړي ته په دویم ځل د غسل ورکولو ضرورت نه شته

سوال: مړی دغسل ورکولونه وروسته ترځومره وخت پورې په کورساتل کیدای شي، هرکله چې دهغه خپل خپلوان زر رارسیدی نه شي؟ که مړي ته غسل ورکړل شي اویوه شپه په کورکې ایسارشي؛ نو ایا په دویمه ورځ دهغه دجنازې دلمونځ نه مخکې هغه ته دوهم ځل غسل ورکول لازم دي؟ ایاخاوند دخپلې ښځې جنازې ته اوږه ورکولی شي اولحدته یې کوزولی شي؟هرکله چې دځه خلکوخیال ددې برعکس دی.

جواب: په شریعت کې دمړي دزرترزره ددفن کولوحکم دی،دخپلوانوپه انتظارکې ټوله شپه ایسارول بده خبره ده.[۲]

....بقیه د تیر مخ] ..فی العالمگیری ج:۱ص:۱۵۸وایضًا فی الدرالمختارمع الشامی ج:۲ص:۱۹۶)۔

۱] وکیفیة الوضع عندبعض اصحابنا الوضع طولاً کمافی حالة المرض اذا اراد الصلاة بایماء ومنهم من اختارالوضع کمایوضع فی القبروالاصح یوضع کماتیسرکذافی الظهیریة (عالمگیری ،کتاب الصلاة ،الباب الحادی والعشرون فی الجنائز،الفصل الثانی فی الغسل ج:۱ص:۱۵۸،وایضًا بدائع ج:۱ص:۳۰۰وایضًا فی الدرمع الردج:۲ص:۱۹۵)۔

۲] عن عبدالله بن عمر رضی الله عنهما: اذا مات احدکم فلا تحبسوه واسراعو به الی قبره ......الخ (مشکوة ج:۱ص:۱۴۹)، (وفی المرقاة) فلا تحبسوه ای لا توخروا دفنه من غیر عذر قال ابن الهمام یستحب الاسراع بتجهیزه کله من حین یموت (واسرعو به الی قبره)هو تاکید واشارة الی سنة الاسراع فی الجنازة (مرقاة ج:۲ص:۳۸۱، باب دفن المیت ،طبع بمبئ) ؛وایضًا ویستحب ان یسرع فی جهازه لماروی عن رسول الله صلی الله علیه وسلم انه قال:عجلوا بموتاکم فان یک خیرًا قدمتموه الیه وان یک شرًا فبعداً لاهل النار،ندب النبی صلی الله علیه وسلم الی التعجیل ونبه علی المعنی –(البدائع الصنائع ج:۱ص:۲۹۹فصل واماصلاة الجنازة طبع ایچ ایم سعید) واذا یتیقن موته یعجل بتجهیزه....[بقیه حاشیه په راروانه صفحه....

۲:.....یو ځل غسل ورکولو نه وروسته د دویم ځل غسل ضرورت نه شته.[۱]
۳:.....د خاوند د خپلې ښځې جنازې ته اوږه ورکول جائز دي.[۲]
۴:.....که د ښځې محرم موجود وي؛ نو هغوی ته په لحد کې کوزول پکار دي او که محرم موجود نه وي یا کافي نه وي؛ نو لحد په کوزولو کې د خاوند په شریکیدو کې څه نقصان نه شته.[۳]

مړي ته د غسل ورکولو په وخت کې دې د زخم نه پټۍ لرې کړل شي

سوال: یو کس زخمي و، په زخم باندې پټۍ تړل شوې وه، بیا په دې حالت کې هغه وفات شو، اوس به د هغه ته د غسل ورکولو په وخت کې هغه پټۍ لرې کیږي، یا به په هماغه حالت کې به غسل ورکولو نه وروسته دفن کیږي؟

جواب: د غسل ورکولو په وخت کې دې د زخم نه پټۍ لرې کړل شي.[۴]

د مړي مصنوعي غاښ ویستل

سوال: مسئله داده چې ما یو څو غاښونه ویستلي دي او اوس زه فکس (مصنوعي) غاښونه لګول غواړم که چیرې د سرو زرو غاښ ولګوم؛ نو غسل به کیږي او که نه؟ او ایا لمونځ به اداء کیږي او که نه؟ او بل دا چې د مړي نه د سرو زرو غاښونه ویستل پکار دي یا له هغه سره دفن کول پکار دي، (یا څه نور مصنوعي غاښونه وي)؟

جواب: که چیرې نور غاښونه خرابیګي؛ نو د سرو زرو غاښ لګول جائز دي[۵] او د دې سره

...بقیه د تیر مخ]... اکرامًا له لمافی الحدیث وعجلوا به فانه لاینبغی لجیفة مسلم ان تحبس بین ظهرانی اهله (مراقی الفلاح علی هامش الطحطاوی ص:۳۰۹،باب احکام الجنائز ،طبع میرمحمدکتب خانه) ویبادرالی تجهیزه ولایوخر......الخ (عالمگیری ج:۱ص:۱۸۷وایضًا فی الدرمع الردج:۲ص:۱۹۳)۔

۱] ولایعیدغسله ولا وضوءه (عالمگیری ج:۱ص:۱۵۸،کتاب الصلاة ،الباب الحادی والعشرون فی الجنائز،وایضًافی الدرمع الردج:۲ص:۱۹۷،وایضًابدائع ج:۱ص:۳۰۱)۔

۲] سن فی حمل الجنازة اربعة من الرجال...الخ (هندیة ج:۱ص:۱۶۲کتاب الصلاة ،الباب الحادی والعشرون)

۳] وذوالرحم المحرم اولی بادخال المراة من غیرهم کذافی الجوهرة النیرة وکذا ذوالرحم غیرالمحرم اولی من الاجنبی فان لم یکن فلاباس للاجانب وضعها کذافی البحرالرائق (هندیة ج:۱ص:۱۶۶کتاب الصلاة الجنائز)

٤] ویجردالمیت اذا ارید غسله وهذا مذهبنا کذافی الظهیریة (هندیة ج:۱ص:۱۵۸)،واما کیفیة الغسل فنقول یجرد المیت اذا ارید غسله عندنا......ان المقصود من الغسل هو التطهیرومعنی التطهیرلایحصل بالغسل وعلیه الثواب لتنجس الثوب بالغسالات التی تنجست بما علیه من النجاسات الحقیقیة وتعذر عصره –(البدائع الصنائع ج:۱ص:۳۰۰ فصل واما بیان کیفیة الغسل ماجازلعذر بطل بزواله ،شرح المجلة لرستم بازاللبنانی ج:۱ص:۳۰،المادّة ۲۳، المقالة الثانیة ،طبع مکتبة حبیبیه کوئته)۔

۵] وفی التتارخانیه وعلی هذا الاختلاف اذا جدع انفه او اذنه اوسقط سنه فاراد ان یتخذ سنًا آخرًا فعند الامام یتخذ ذلک من الفضة فقط وعندمحمدمن الذهب ایضًا (شامی ج:٦ص:۳٦۲مأجاز لعذربطل بزواله (شرح المجلة ج:۱ص:۳۰المادة :۲۳،المقالة الثانیة)

(چې کله ددې ویستل ممکن نه وي) غسل او اودس کول صحیح دي، د مړي مصنوعي غاښونه که چیرې ویستل کیږي؛ نو ویستل یې پکار دي.

د موټر د ټکر (ایکسیډنټ) په صورت کې د مړي غسل

سوال: زموږ په علاقه (روهړي) کې یو ټرک د خر ګاډي سره وجنګیده، چې په نتیجه کې یې ګاډي والا وفات شو کله چې دده لاش کور ته ورسیده؛ نو د هغه ځای د مسجد امام هغه د غسل نه پرته دفن کړ، د جنګیدو له وجې د مړي د جسم نه وینه وتله او کافي زخمونه جوړ شو او دده جسم په وینو کې لړلی و، ددې ټولې ګنده ګي سره په ده باندې جنازه وکړه او دفن یې کړ، ویې ویل دا د جنګي شهیدانو په حکم کې دی او په دې صورت کې دده جنازه وشوه؟ که چیرې نه وي شوې؛ نو اوس څه کول پکار دي؟

جواب: ده ته غسل ورکول ضروري و او د غسل نه پرته دده جنازه صحیح نه وه، خو اوس هیڅ نه کیږي داسې سړی په جنګ کې د شهید شوي په حکم کې نه دی.[1]

ایا خاوند ښځې ته او ښځه خاوند ته غسل ورکولی شي؟

سوال: مړي ته غسل څوک ورکولی شي؟ ښځه خاوندته یا خاوندښځې ته غسل ورکولی شي؟

جواب: ښځه خاوند ته غسل ورکولی شي، خو خاوند ښځې ته غسل نه شي ورکولی،[2] سړی

---

[1] لومات حتف انفه اوتردى من موضع او احتراق بالنار اوماتت تحت هدم اوغرق لايكون شهيدًا اى فى حكم الدنيا والا فقدشهد رسول الله صلى الله عليه وسلم للغريق وللحريق والمبطون والغريب بانهم شهداء فينالون ثواب الشهداء (البحرالرائق باب الشهيدج:۲ص:۱۹۶)۰وعامة مشايخناقالوا:ان بالموت يتنجس الميت لمافيه من الدم المسفوح كمايتجنس سائر الحيوانات ......الا انه اذا غسل يحكم بطهارته كرامة له (البدائع الصنائع ج:۱ص:۲۹۹،فصل والكلام فى الغسل)،الصلاة على الجنازة فرض كفاية ......وشرطها اسلام الميت وطهارته مادام الغسل ممكنًا وان لم يمكن بان يدفن قبل الغسل ولم يمكن اخراجه الابالنبش تجوز الصلاة على قبره للضرورة (الفتاوى الهندية ص:۱۶۳،الفصل الخامس فى الصلاة على الميت ،كتاب الصلاة ،باب الجنائز)، ولوصلى عليه بلاغسل ودفن واهيل عليه التراب تعاد لفساد الاولى ،وقيل تنقلب الاولى صحيحه لتحقق العجز فلاتعاد (حلبى كبير ص:۵۸۳،طبع سهيل اكيدمى لاهور)

[2] ويغسل الرجال الرجال والنساء النساء ولا يغسل احدهما الآخر ......ويجوز للمراة ان تغسل زوجها اذا لم يحدث بعدموته مايوجب البينونة ......واما هوفلا يغسلها عندنا كذافى السراج الوهاج ......اذا كان للمراة محرم يتيممها باليد واما الاجنبى فبخرقة على يده ......ويغض بصره عن ذراعيها وكذا الرجل فى امراته الا فى غض البصر......الخ (الفتاوى الهندية ج:۱ص:۱۶۰باب الجنائز،الفصل الثانى فى الغسل)۰والمراة تغسل زوجها ......بخلافه اى الرجل فانه لايغسل زوجته لانقطاع النكاح ،واذا لم توجد امراة لتغسيلها يتيممها اى زوجها بخلاف الاجنبى اى فانه يلف يده بخرقة ويتيممها مع كف بصره عن ذراعيها (مراقى الفلاح مع حاشيه الطحطاوى ص:۳۱۳باب الاحكام الجنائز،طبع ميرمحمدكتب خانه)

سړي ته غسل ورکولی شي او ښځه ښځې ته، که چیرې سړي ته غسل ورکونکي څوک سړی نه وي، یا ښځې ته غسل ورکونکي څوک ښځه نه وي؛ نو تیمم دې ورکړل شي.[1]

نرښځي (ایجړا) ته به غسل څوک ورکوي؟

سوال: زموږ په علاقه کې نرښځي (ایجړا) له ډیر وخت نه اوسیږي، مړ شوی خو لا نه دی، خو که چیرې مړ شي؛ نوده ته به سړی غسل ورکوي او که ښځه؟ او ایا دده دجنازې لمونځ به کیږي؟

جواب: ده ته به غسل نه ورکول کیږي که چیرې دده څوک محرم وي؛ نو ده ته دې تیمم ورکړل شي او که چیرې محرم نه وي؛ نو اجنبي سړی دې لاس ته کپړه واچوي او تیمم دې ورکړي، دا تیمم به د غسل قائم مقام وي او د جنازې لمونځ دې پرې وکړل شي.[2]

مړي ته دوه ځله د غسل ضرورت نه شته

سوال: زما د ترور لور دبچي له پیدا کېدو وروسته وفات شوه او اوس یې درې کاله تیر شوي دي، د مرګ نه یوه ورځ مخکې یې ماته ویلي و چې کله زه وفات شم؛ نو ما ته دې دوه ځله غسل راکړل شي، په دویمه ورځ وفات شو، زما غسل ورکونکو ښځو ته دا خبره بلکل هیره شوه اوس زه دا معلومول غواړم چې ما ته به ددې څه ګناه وي او که نه؟ دویمه خبره دا ده چې دې د دوو ځلو د غسل ولې ویلي و؟ او بل دا چې مړي ته د دوو ځلو غسل څه د وجې نه ورکول کیږي او که نه؟ موږ خو یوازې دا اوریدلي دي چې که ډیرې ناپاکې هم وي؛ نو یوازې یو ځل به غسل ورکول کیږي، جواب راکړی او زموږ شک او پریشاني ختمه کړئ!

جواب: د دوه ځله غسل ضرورت نه و، دیو ځل غسل د ټولو ناپاکو له پاره کافي دی، دې مرحومې به د چانه داسې اوریدلي وي، دې ته د مسئلې علم نه و.[3]

غسل ورکونکي ته اجرت ورکول

سوال: مړي ته چې کوم کس غسل ورکوي، هغه د بهر سړی وي په وارثانو کې نه وي؛ نو ایا

---

[1] لومات امراة مع الرجال تیمموها كعكسه بخرقة ،وان وجد ذو رحم محرم تیمم بلا خرقة (نورالایضاح مع مراقی الفلاح ،كتاب الصلاة ،باب احكام الجنائزص:۵۷۲) ،ایضًا: ماتت بين رجال اوهو بين نساء يتيممه المحرم فان لم يكن فالاجنبي بخرقة (الدرالمختار،باب الجنائز ج:۲ص:۲۰۱،طبع ایچ ایم سعيد كراچی)

[2] جردعن ثيابه ان لم يكن خنثى ......والا بان كان خنثى يتيمم وقيل يغسل فى ثيابه ......الخ (حاشيه الطحطاوى على مراقى الفلاح ص:۳۱۰ باب احكام الجنائز وايضًا عالمگيرى ج:۱ص:۱۶۰الباب الحادى والعشرون فى الجنائز)

[3] وماخرج منه غسله فقط تنظيفًا ولم يعد غسله ولا وضوءه ......الخ (مراقى الفلاح على هامش الطحطاوى ص: ۳۱۱باب احكام الجنائز ،ايضًا :فتاوى عالمگيرى ص:۱۵۸ ،الباب الحادى والعشرون فى الجنائز ،الفصل الثانى)

ده ته به څه ورکول کيږي او که نه؟ زموږ د کلي د رواج مطابق صابون او خوشبو او د مړي کپړې يا نوې کپړې غسل ورکونکي ته ورکول کيږي.

جواب: مړي ته بايد خپل وارثان غسل ورکړي، خو که هغوی اجرت ورکړي او په چا باندې غسل ورکړي؛ نو جائز ده.[۱]

مړي ته غسل ورکونکي باندې غسل نه واجبيږي

سوال: يو کس چې ځان ته دجماعت المسلمين ممبروايي هغه يو کس مړي ته دغسل ورکولو ددېله وجې منع کړچې دغسل ورکولو وروسته به په هغه باندې غسل واجبيږي اوپرته دغسل نه هغه د جنازې لمونځ نه شي کولی، دپوښتنې مطلب موداد ی چې ايامړي ته غسل ورکونکي کس باندې په خپله هم غسل کول واجبيږي او که نه؟

جواب: کوم کس چې مړي ته غسل ورکړي، په هغه غسل واجب نه دی، خو مستحب ده چې غسل وکړي اودا دڅلورو واړو امامانو (امام ابوحنيفه رحمه الله، امام مالک رحمه الله، امام شافعی رحمه الله او امام احمد بن حنبل رحمه الله اجماعي مسئله ده.)[۲]

په ځينو روايا توکې راځي، چې کوم کس مړي ته غسل ورکړي هغه دې غسل وکړي او کوم کس چې جنازه اوچته کړي هغه دې اودس وکړي (مشکواة ص:۵۵)[۳] مګر اول خو اکابرو محدثينو دا روايات کمزوری ګرځولی دی، امام ترمذي رحمه الله دامام بخاري رحمه الله نه نقل کړي دي چې امام احمدبن حنبل رحمه الله اوامام علي بن المديني رحمه الله فرمايي چې په دې باب کې هيڅ شی صحيح نه شته اوداامام بخاري رحمه الله استادمحمدبن يحيی الذهلي رحمه الله فرمايي چې په دې مسئله کې دڅه حديث علم نه شته چې ثابت شي.(شرح مهذب ج:۵ ص:۱۸۵)[۴]

۱] واما مايستحب للغاسل فالاولى ان يكون اقرب الناس الى الميت فان لم يعلم الغسل فاهل الامانة والورع (البحر الرائق ج:۲ص:۳۶باب الجنائز طبع رشيديه) •ويستحب ان يكون اقرب الناس الى الميت فان لم يعلم الغسل فاهل الامانة والورع كذافى الزاهدى (عالمگيرى ج:۱ص:۱۵۹،وايضًا درمختارج:۲ص:۲۰۲)، والافضل ان يغسل الميت مجانا وان ابتغى الغاسل الاجر فان كان هناك غيره يجوز اخذ الاجر....الخ (فتاوى عالمگيرى ج۱ ص۱۶۰ الباب الحادى والعشرون ،الفصل الثانى فى الغسل ،وايضًا فى البحر: ج:۲ص:۳۰۴)

۲] قال الخطابى لا اعلم احدًا اوجب الغسل من غسل الميت ......قال ابن المنذر فى الاشراف رحمه الله قال ابن عمروابن عباس والحسن البصرى والنخعى والشافعى واحمدواسحاق وابوثور واصحاب الراى لا غسل عليه (المجموع شرح المهذب ج:۵ ص:۱۸۵، ۱۸۶ ،باب غسل الميت طبع دارالفكر بيروت)_

۳] عن ابى هريرة رضى الله عنه قال:قال رسول الله صلى الله عليه وسلم :من غسل ميتًا فليغتسل•رواه ابن ماجه وزاد احمد والترمذى وابوداود:وممن حمله فليتوضاء (مشكوة ج:۱ص:۵۵باب الغسل المسنون ،كتاب الطهارة)

٤] حديث ابى هريرة رضى الله عنه هذا رواه ابوداؤد وغيره وبسط البيهقى رحمه الله القول فى ذكر طرقه وقال الصحيح انه موقوف على ابى هريرة قال:وقال الترمذى عن البخارى قال ان احمد بن حنبل وعلى بن المدينى قالا لايصح فى الباب شيء وكذا قال محمد بن يحيى الذهلى....[بقيه حاشيه په راروانه صفحه....

له دې نه پرته هغه روايت په کوم کې چې دغسل حکم ورکړل شوی دی هغه په استحباب باندې محمول دي، څنګه چې په جنازه اوچتونکي باندې اودس نه لازميږي همدغه شان مړي ته غسل ورکونکي باندې غسل نه واجبيږي، بلکې دواړه حکمونه به په استحباب باندې محمول وي، لکه چې امام خطابي رحمه الله په (معالم السنن) کې ليکي: ماته په فقهاوو کې هيڅ يو داسې کس معلوم نه دی چې دمړي دغسل له وجې غسل واجب ګرځوي اونه راته داسې کس معلوم دی چې دجنازې اوچتولوله وجې اودس واجب ګرځونکي وي اوداسې معلوميږي چې داحکم داستحباب له پاره دی، بطور استحباب غسل ددې وجې نه کيدای شي چې دمړي په بدن باندې نجاست وي اوهغې دداروسره دبدن دناپاکه کيدوويره وي، ددې له وجې دغسل حکم ورکړل شوی دی چې که چيرته ګنده څاڅکي پرې پريوتې وي چې هغه صفاشي.[1] (مختصرسنن ابی داودللمنذری مع معالم السنن ج:٤ ص:٣٠٥)

مړي سره په لاس لګولو باندې غسل نه واجبيږي

سوال: عرض دادی چې موږ ته يومسئله راپيښه ده. هغه داچې دمړي په لاس لګولوسره غسل واجبيږي اوکه نه؟ موږ ته که دامعلومات حاصل شي چې نورفقهاووددې مسئلې په باره کې څه ليکلي دي؛ نوموږ ته به ډيراطمينان حاصل شي؟ اميد دی چې تاسودبه دفقه حنفي، شافعي، مالکي اوحنبلی نه موږ ته ددې مسئلې حل وښايئ!

جواب: ترڅوپورې چې ماته معلومات شته مړي سره په لاس لګولوباندې دهيچاپه نزدهم غسل نه واجبيږي، په يوحديث کې دي چې: چاچې مړي ته غسل ورکړ، هغه دې غسل وکړي اوڅوک چې مړی اوچت کړ هغه دې اودس وکړي. ، ددې په سند کې محدثينوته شک دی[2] او فقهاوو داپه استحباب محمول کړی دی، امام ابوسليمان خطابي رحمه الله په (معالم السنن) کې ليکي: ماته

...بقيه د تير مخ]. شيخ ا لبخاری لا اعلم فيه حديثاثابتًا (شرح المهذب ج:٥ص:١٨٥،باب غسل الميت طبع دارالفکر)۔

١] قلت لا اعلم احدًا من الفقهاء يوجب الاغتسال من غسل الميت ولا الوضوء من حمله ويشبه ان يکون الامر فی ذلک علی الاستحباب ،وقديحتمل ان يکون المعنی فيه :ان غاسل الميت لايکاد يامن ان يصيبه نضح من رشاش الغسول ، وربماکان علی بدن الميت لنجاسة فاذا اصابه نضحه وهو لايعلم مکانه کان عليه غسل جميع البدن ،ليکون الماء قداتی علی المواضع الذی اصابه النجس من بدنه ......الخ (مختصرسنن ابی داود للمنذری مع معالم السنن ج:٤ص:٣٠٥باب فی الغسل من غسل الميت ٠طبع المکتبة الاثرية ،باکستان)٠وفی المرقاة المفاتيح :٠فليغتسل) لا زالة الرائحة الکريهة التی حصلت له منه ،والامرللاستحباب وعليه الاکثرللخبرالصحيح ليس عليکم فی ميتکم غسل اذا غسلتموه (رواه ابن ماجه قال ابوداود وهذا منسوخ سمعت احمد بن حنبل سئل عن غسل الميت قال يجزئه الوضوء کذافی التصحيح ......وعلی کل فالامرهنا للندب اتفاقًا (مرقاة المفاتيح ج:١ص:٣٧١طبع اصح المطابع بمبئ)۔

٢] تيرې شوی څلور واړه حاشيې اوګورئ)۔

هیڅ یو داسې فقیه معلوم نه دی چې مړي ته په غسل ورکولو باندې او دمړي په اوچتولو باندې دغسل او اودس دواجبیدو حکم ورکوي، په هرحال دمړي بدن ته په لاس لګولو سره غسل یا اودس نه واجبیږي یوازې لاس وینځل کافي دي.[۱]

که د سفر په دوران کې ښځه وفات شي؛ نو هغې ته څوک غسل ورکړي؟

سوال: موږ درې کسان په سفر کې وو اوزموږ سفر په ریګستان کې و اوزماسره زما یو ډیر ګران ملګری هم و، دهغه ښځه وفات شوه، اوس تاسوراته ووایئ هغې ته څوک غسل ورکړي؟

جواب: ښځې ته سړی اوسړیوته ښځې غسل نه شي ورکولی[۲]، که خدای مکړه داسې صورتحال راپیښ شي اوښځې ته دغسل ورکولو له پاره څوک ښځه نه وي، یاسړي ته دغسل ورکولو له پاره څوک سړی موجودنه وي؛ نوهغه ته دې تیمم ورکړل شي اوکه دښځې څوک محرم سړی یادسړي څوک محرمه ښځه موجوده وي؛ نوهغه دې تیمم ورکړي اوکه محرم نه وي؛ نواجنبي دې دخپل لاس نه کپړه تاوکړي اوتیمم دې ورکړي، په ذکرشوې مسئله کې دې خاوند دلاس نه کپړه تاوکړي او تیمم دې ورکړي[۳]، ددې مسئلې پوره تفصیل دې دچاعالم نه وپوښتل شي.

د سړي اوښځې له پاره مسنون کفن

سوال: دکفن دفن له پاره لکه څنګه چې نن سباعام رواج دې ۲۲ګزه استعمالیږي، ایا په شرعي ډول داپابندي ضروري ده اوکه نه ده؛ نوصحیح طریقه څه ده؟

جواب: دسړي له پاره مسنون کفن دادی:

(۱) لوی څادرپاوکم درې ګزه اوږد اودپاوباندې یوګزنه واخله تریونیم ګزپورې پلن.

(۲) وړوکی څادر، دوه نیم ګزه اوږد، دپاوباندې یوګزنه واخله تریونیم ګزپورې پلن.

(۳) کفني یا کُرته (قیمص) دوه نیم ګزه اوږد او یو ګزپلن، دښځې دکفن له پاره دوه کپړې

۱] قلت لا اعلم احدا من الفقهاء یوجب الاغتسال من غسل المیت ولا الوضوء من حمله (مختصرسنن ابی داود للمنذری مع معالم السنن ج:٤ص:٣٠٥)۔

۲]واماالغاسل فمن شرطه ان یحل له النظر الی المغسول فلایغسل الرجل المراة ولا المراة الرجل ......الخ (البحرالرائق ج:۲ص:۱۸۸کتاب الجنائز،طبع دارالمعرفة،بیروت،وایضًا فی الشامی ج:۲ص:۱۹۸طبع سعید)۔

۳]واذا ماتت المراة فی السفربین الرجال یتیممها ذو رحم محرم منهما وان لم یکن لف الاجنبی علی یده خرقة ثم یتیممها وکذا اذا مات رجل بین النساء یتیممه رحم محرم منه اوزوجته او امته بغیر ثوب وغیرهن بثوب ...... ولایغسل الرجل زوجته ......الخ (البحر ا لرائق ج:۲ص:۱۸۸)، ماتت بین رجال او هو بین نساء تیممه المحرم ،فان لم یکن فالاجنبی بخرقة (درمختار،کتاب الصلاة ،باب الجنائز ج:۲ص:۲۱۰،دزیات تفصیل دپاره اوګورئ :بدائع الصنائع ،کتاب الصلاة ،باب الجنائزص:۳۰٤نه تر۳۰٦ پورې، فصل واما بیان الکلام فیمن یغسل)۔

زياتې وي.[۱] (۱) سينه بند دوه ګزه اوږد اوېو ګزپلن.[۲]
(۲) لوپټه يونيم ګزاوږده اوتقريبايو ګزپلنه، دلامبولوله پاره تهبند اودستانې ددې نه پرته وي.

د کفن له پاره نوې جامه اخيستل ضروري نه ده

سوال: که څوک له مخکې نه دکفن له پاره جامه واخلي؛ نو اياهغه ته به هرکال دکفن له پاره نوې جامه په دويم ځل اخيستل وي؟ اکثرخلک همدغه وايي چې دکفن جامه يوازې ديوکال له پاره کارامدوي ددې شرعي حيثيت څه دی؟

جواب: ددې هيڅ شرعي حيثيت نه شته،دکفن له پاره نوې جامه اخيستل هم ضروري نه دي په وينځل شوې څادرونوکې هم کفن ورکول صحيح دي.[۳]

په کفن کې ګنډل شوې جامې استعمالول خلاف سنت دي

سوال: کله چې يوه ښځه ياسړی وفات شي، دهغه له پاره ګنډل شوې جامې چې هغه په خپل ژوندکې اغوستې، په کورکې موجودې وي اوددې باوجودپيسې خرچ کولی شي اودکفن اخيستی اوګنډلی شي، ايا په پاجامه قميص ياپرتوړ کې کفن کيدای نه شی؟

جواب: په کفن کې ګنډل شوې جامې نه استعماليږي، ګنډل شوې جامې په کفن کې استعمالول خلاف سنت دي.[۴]

۱] عن ابن عباس رضى الله عنهما قال: كفن رسول الله صلى الله عليه وسلم فى ثلاثه اثواب نجرانية :الحلة ثوبان:وقميصه الذى مات فيه (سنن ابى داود ،كتاب الجنائز، باب فى الكفن ج:٢ص:٩٣طبع امدادية ملتان) قوله وكفنه سنة ازار وقميص ولفافة لحديث البخارى كفن رسول الله صلى الله عليه وسلم فى ثلاثة اثواب سحولية (البحر الرائق كتاب الصلاة باب الجنائز،ج:٢ص:١٨٩،طبع دارالمعرفة بيروت ،وايضًا عالمگيرى، آلفصل الثالث فى التكفين،الباب الحادى والعشرون ج:١ص:١٦٠طبع رشيديه،درمختارج:٢ص٢٠٢طبع سعيد)

٢] عن رجل من بنى عروة بن مسعود يقال له داؤد وقدولدته ام حبيبة بنت ابى سفيان زوج النبى صلى الله عليه وسلم ان ليلى بنت قانف الثقفية قالت :كنت فيمن غسل ام كلثوم ابنة رسول الله صلى الله عليه وسلم عند وفاتها ،فكان اول ماعطانا رسول الله صلى الله عليه وسلم الحقاء، ثم الدرع، ثم الخمار، ثم الملحفة، ثم ادرجت بعد فى ثوب آخر ورسول الله (ص) جالس عندالباب ومعه كفنها يناولنا ها ثوبًاثوبًا (سنن ابى داود،كتاب الجنائز،باب فى كفن المراة ج:٢ص:٩٤طبع امدادية ملتان) (قوله وكفنها سنة درع وازار ولفافة وخمار)وخرقة تربط بها ثديا ها لحديث ام عطية ان النبى صلى الله عليه وسلم اعطى اللواتى غسلن ابنته خمسة اثواب(البحرالرائق ج:٢ص:١٩٠كتاب الجنائزطبع دارالمعرفة بيروت،وايضًادرمختارج:٢ص:٢٠٣كتاب الجنائز)

٣] وفى المجتبى :والجديدوالخلق فيه سواء بعد ان يكون نظيفًا من الوسخ والحدث ......الخ (البحرالرائق ج:٢ص:١٨٩،كتاب الجنائز ،طبع دارالمعرفة ،وايضًا فى الهندية ج:١ص:١٦١فصل فى التكفين ،طبع رشيديه)

٤] (وكفنه سنة ازار وقميص ولفافة) لحديث البخارى ..... والا زار واللفافة من القرن الى القدم والقرن هنا بمعنى الشعرواللفافة هى الرداء طولاً ......والقميص من المنكب الى القدم بلاد حاريص لانها تفعل فى قميص الحى ليتسع اسفله للمشى وبلاجيب ولاكمين ولايكف اطرافه ......الخ...[بقيه حاشيه په راروانه صفحه....

دعام سان کفن تيارساتلی شئ، خو په دې

باندې آيتونه يا مقدس نومونه مه ليکئ

سوال: ايايومسلمان په ژوندکې دځان له پاره کفن اخيستی شي؟اوپه هغې باندې قرآني ايتونه يامقدس نومونه ليکلی شي؟ اوکفن دښه نه ښه واخلم يايوازې دلتهې؟ کفن دخپل ځان له پاره، دمور پلارله پاره، ورونوخويندو له پاره اخيستلی شم اوکه نه؟

جواب: ۱: کفن تيارساتل صحيح دي.[۱]

۲..... په کفن باندې ايتونه يامقدس نومونه ليکل صحيح نه دي، دې سره دايات مقدسه اوياکونومونوبې حرمتي به وشي.[۲]

۳:....مړ شوی کس چې به څنګه جامې دجمعې په ورځ اوپه اخترونوکې اغوستې اوښځې چې په دپلارکورته دتګ له پاره کومه جامې استعمالولې دهغې معياردجامې کفن استعمالول پکاردي[۳] مګرحکم دادی چې مړی دسپين رنګ په کفن کې دفن کړل شي[۴] ددې له وجې په عام ډول دسپين رنګ لتهې کفن استعماليږي.

...بقيه د تير مخ]..(البحرالرائق ج:۲ص:۱۸۹کتاب الجنائز،طبع دارالمعرفة ،بيروت ،ردالمحتاركتاب الصلاة ،باب الجنائزج:۲ص:۲۰۲طبع سعيد)_

۱] عن سهل ان امراة جائت النبی صلی الله عليه وسلم ببردة منسوحة فيها حاشيتها تدرون ما البردة قالوا الشملة قال نعم قالت نسجتها بيدی فجئت لاكسوكها فاخذها النبی صلی الله عليه وسلم محتاجًااليها فخرج الينا وانها ازارة فحسنها فلان فقال اكسنيها مااحسنها فقال القوم :مااحسنت لبسها النبی صلی الله عليه وسلم محتاجًااليها ثم سالته وعلمت انه لا يرده قال:انی والله ماسالته لا لبسه وانما سالته لتكون كفنی ،قال سهل :فكانت كفنه (صحيح البخاری ،كتاب الجنائز،باب من استعدالكفن فی زمن النبی صلی الله عليه وسلم فلم ينكرعليه ،ج:۱ص:۱۷۰طبع قديمی ،ابن ماجه ص:۲۵٤طبع قديمی)۰والذی ينبغی ان لايكره تهيئه نحو الكفن ......الخ (قوله والذی ينبغی الخ)كذاقاله فی شرح المنية ،وقال لان الحاجة اليه متحققة غالبًا (درمختارمع ردالمحتارج:۲ص:۲٤٤باب الجنائز،كتاب الصلاة)_

۲] وقد افتی ابن الصلاح بانه لايجوزان يكتب علی الكفن يس والكهف ونحوهما خوفًا من صديد الميت ......وقدمنا قبيل باب المياه عن الفتح انه تكره كتابة القرآن واسماء الله تعالی علی الدراهم والمحاريب والجدران ومايفرش وماذالک الا لاحترامه وخشية وطئه نحوه ممافيه اهانة فالمنع هنا اولی مالم يثبت عن المجتهد اوينقل فيه حديث ثابت (شامی ج:۲ص:۲٤٦،۲٤۷،باب الجنائز)_

۳]ويكفن بكفن مثله وهوان ينظر الی مثل ثيابه فی الحياة لخروج العيدين وفی المراة ينظر الی ماتلبس اذا خرجت الی زيارة ابويها كذافی الزاهدی (هندية ج:۱ص:۱٦۱كتاب الصلاة فی الشامية ج:۲ص:۲۰۲طبع سعيد)

٤]واحب الاكفان الثياب البيض هكذا فی النهاية (هندية ج:۱ص:۱٦۱كتاب الصلاة ،الباب الحادی والعشرون ،فصل فی التكفين وايضافی البخاری ،باب الثياب البيض فی الكفن ،ج:۱ص:۱٦۹)_

دكفن جامې ته كولو (راټولولو) سره نه حراميږي

سوال: داخبره تركومه حده پورې صحيح ده چې مړي ته كوم كفن اغوستل كيږي كه هغه داخيستلونه وروسته راټول كړل شي؛ نودادمړي له پاره حرام شي.

جواب: دابالكل مهمل خبره ده.

اب زم زم سره وينځل شوې جامې كفن وركول جائزدي

سوال: د اب زمزم په اوبوسره وينځل شوې جامې كفن وركول جائزدي اوكه نه؟

جواب: اب زمزم سره وينځل شوې جامې كفن وركول جائزدي، البته دغه شان اب زمزم سره دكفن وينځل دبزرګانونه ثابت نه دي.غالبا دبركت دحاصلولوله پاره په خلكوكې ددې رواج شو.[1]

په زم زم سره كفن وينځل او كيښودل، د خپل قبر ځاى خاص كول

سوال: كه يو سړى د ځوانۍ په حالت كې د خپل ځان له پاره او د خپلې ښځې له پاره د مكې معظمې نه كفن واخيست او دې ته يې د زم زم په اوبو باندې غسل وركړ او كې يې ښوده؛ نو ايا دې ته بدعت ويل كيږي؟ او كه د مرګ نه مخكې دخپل ځان له پاره قبر اوكني او تيار يې كړ او خپلو متعلقينو ته يې خبر وركړ چې له وفات نه وروسته ما په دې ځاى كې ښخ كړئ؛ نو ايا دا فعل بدعت دى؟

جواب: دواړه خبرې جائز دي، بدعت نه دى، خو د ذاتي ملكيت په ځاى كې دې جوړ كړې د وقف ځاى منع كول صحيح نه دي؟[2]

مړي ته په كفن كې عهد نامه كيښودل بې ادبي ده

سوال: دمړي په كفن كې عهدنامه اچول كيږي، وايي چې ددې په بركت سره بخشش كيږي، ايا داصحيح ده؟

---

[1] ويحفرقبرًا لنفسه وقيل يكره والذى ينبغى ان لايكره تهيئة نحو الكفن بخلاف القبر وفى شرحه :لاباس به وفى التتارخانية :لاباس به ويوجرعليه ،هكذا عمل عمربن عبدالعزيزوالربيع بن خيثم وغيرهما ،قوله والذى ينبغى ......الخ،كذاقاله فى شرح المنية ،وقال:لان الحاجة اليه متحققة غالبًا بخلاف القبرلقوله تعالى وماتدرى نفس باى ارض تموت (شامى ج:۲ص:۲٤٤باب الجنائز ، كتاب الصلاة ،طبع سعيد)۔

[2] ويحفرقبرًا لنفسه وقيل يكره والذى ينبغى ان لايكره تهيئة نحو الكفن بخلاف القبر وفى شرحه :لاباس به وفى التتارخانية :لاباس به ويوجرعليه ،هكذا عمل عمربن عبدالعزيزوالربيع بن خيثم وغيرهما ،قوله والذى ينبغى ......الخ،كذاقاله فى شرح المنية ،وقال:لان الحاجة اليه متحققة غالبًا بخلاف القبرلقوله تعالى وماتدرى نفس باى ارض تموت (شامى ج:۲ص:۲٤٤باب الجنائز ، كتاب الصلاة ،طبع سعيد)

جواب: عهدنامه په قبرکې کيښودل بې ادبي ده، کيښودل پکارنه دي، په درمختارکې دي چې: که دمړي په تندی باندې ياپه پټکي باندې ياپه کفن باندې ، ،عهدنامه، ،وليکل شوه؛ نو اميد دی چې الله تعالى به د دې مړي ښښنه وکړي،، خو علامه شامي رحمه الله د دې پُرزور ترديد کړی دی.[۱]

دوفات شوې ښځې په پښو باندې نکريزې لګول جائز نه دي

سوال: زماموروفات شوه؛ نومايوه دمړولامبولوواله ښځه راوسته، هغې په ماباندې نکريزې راوغوښتل، دموردلامبولونه وروسته مې د مورپه دواړوپښويعنې ددواړوپښوپه تلوباندې يې نکريزې ولګول، زمونږ کوروالوخودېره منع کړله، خوهغې ښځې راته مسئلې مسائل ښودل. مختصر داچې زه دامعلومول غواړم چې کفن کړل شوی لاش (ښځه) ته په پښوباندې نکريزې لګولو ذکرچيرته راغلی دی اوکه نه؟

جواب: هغې غلطي وکړه، مړي ته نکريزې لګول پکارنه و.[۲]

د کفن اغوستلوپه وخت کې مړي ته کافور لګول او د خوشبوپونه (چړکاؤ) ورکول جائزدي

سوال: څنګه چې نن سبا په مونږ مسلمانانوکې رواج دی چې که د مړي په خوا کې ګربتۍ اولوبان لوږې کيږي، همدغه شان په قبرونو باندې ګربتۍ اوموم بتۍ لګوو، حالانکې زما د معلوماتو مطابق حضورﷺ فرمايلي دي چې داوورسره مړو ته تکليف ملاويږي څه احکام دي؟اوداچې مړيوته څنګه خوشبوولګول شي؟ دکلونوهاراچولوسره ياخوشبوپرې اچولوسره؟

جواب: ۱: مړي ته د کفن اغوستلونه مخکې دلوبانولوګې ورکول مسنون دی.[۳]

۱] کتب على جبهة الميت اوعمامته اوكفنه عهدنامه يرجى ان يغفرالله للميت ،درمختار:وفى الشامية :وقدافتى ابن الصلاح بانه لايجوز ان يكتب على الكفن يس والكهف ونحوهما خوفًا من صديد الميت.......وقدقدمنا قبيل باب المياه عن الفتح انه تكره كتابة القرآن واسماء الله تعالى على دراهم والمحاريب والجدران وما يفرش وما ذالك الا لاحترامه وخشية وطئه ونحوه ممافيه اهانة فالمانع بالاولى مالم يثبت عن المجتهد اوينقل فيه حديث ثابت فتامل(ردالمحتارعلى الدرالمختار ج:۲ص۲٤٦مطلب فيما يكتب على كفن الميت) الاستفسار:قدتعارف فى بلادنااهم يلقون على قبر الصلحاء ثوبًا مكتوبًا فيه سورة الاخلاص هل فيه باس؟ الاستبشار:هواستهانة بالقرآن ،لان هذا الثوب انما يلقى تعظيمًا للميت،ويصير هذا الثوب مستعملاًمبتذلاً وابتذال كتاب الله من اسباب عذاب الله (فتاوى لكهنوى ص۴۰۳)

۲] قال فى القنية :اما التزين بعدموتها لايجوز......الخ (البحرالرائق ج:۲ص:۱۸۷)۔

۳] قوله وتجمر الاكفان اولا وترا لانه عليه السلام امرباجماراكفان امراته والمرادبه التطيب قبل ان يدرج فيهاالميت ......الخ (البحر الرائق ج:۲ص:۱۹۱ كتاب الصلاة باب الجنائز طبع دارالمعرفة بيروت)۔

۲:...د مړي په سرکې، ږيره او په پوره بدن باندې خوشبو لګول او د سجدې په ځايونو (تندی، پوزه، دواړو لاسونو، دواړو ګونډو او دواړو پښو) باندې کافور لګول مستحب دي.[۱]

۳:...په مړي يا په قبرباندې ګلونه اچول او په قبرونو باندې ګرېتۍ بلول غلط دي.[۲]

د مړي په باره کې د ښځو توهم پرستي

سوال: دا ويل کيږي چې د مړي خوځول او اخوا ديخوا کول سهي نه دي، ځکه چې دې سره مړي ته سخت تکليف ورکول کيږي که په هغه کې ساه وای؛ نوټول به يې شلولي و، زمامحترم بزرګه! په نواب شاه کې داسې يوکار وشو، يوه اينجلۍ وفات شوه، پته نه شته چې غسل يې ورکړ؛ نورايې وسته، دکفن اغوستلونه وروسته هغه اينجلۍ څوک چې وفات شوې وه، غسل ورکونکې دهغې په سترګوکې کاجل ولګول، زمامحترمه! په نواب شاه کې يوغسل واله نه، بلکې په نواب شاه کې چې څومره داسې ښځې دي هغوی ټولې دارسم کوي، کاجل په ګوتې سره لګول، هسې داترکومه حده پورې صحيح ده؟

که دچاپه کورکې څوک ماشوم، هلک يااينجلۍ، ښځه سړی، بډه يا بوډا يا د ډير عمر واله څوک چې هم وفات شي؛ نوښځې پرهيزکوي، چې زموږ پرهيز ياتعويذ دی، داسې ښځې د مړي کورته نه ځي، حتی چې دهغوی د لسو يا دولسو کلنو اينجليو هم پرهيزوي او ترڅ دې پورې چې د مړي د کور مخې ته به هم نه تيريږي، خدای دې نه کړي دوی پورې د مړي څه روح وې ننخلي، دا پرهيز څلوېښت يا ددې نه زياتې ورځې هم چليږي، دا پرهيز دهغوی دخپلو سکه خپلوانو يعنې وريرونو، خوريونو، ياد براردئ وغيره نورو عزيزانو خپلوانو ګوانډيانو پورې چليږي.

۱] قوله وجعل الحنوط على راسه ولحيته لا ن التطيب سنة ......والكافورعلى مساجده زيادة فى تكرمتها وصيانة للميت عن سرعة الفساد وهى موضع سجوده ....الخ (البحرالرائق ج:۲ص:۱۸۷باب الجنائز) ٠وكذافى الفتاوى العالمگيرية ،كتاب الصلاة الفصل الثالث فى التكفين ،الباب الحادى والعشرون فى الجنائزج:۱ص:۱۶۱)۔

۲] وذكرابن الحاج فى المدخل ،انه ينبغى ان يجتنب ما احدثه بعضهم من انهم ياتون بماء الورد فيجعلونه على الميت فى قبره وان ذالک لم يرو عن السلف رضى الله عنهم فهوبدعة قال ويكفيه من الطيب ماعمل له وهو فى البيت فنحن متبعون لامبتدعون فحيث وقف سلفنا وقفنا (حاشيه الطحطاوى على مراقى الفلاح ،فصل فى حملها ودفنها ص:۳۳۳ طبع ميرمحمد كتب خانه) ٠ واعلم ان النذر الذى يقع للاموات من اكثرالعوام وما يوخذ من الدراهم والشمع والزيت ونحوها الى ضرائح الاولياء الكرام تقربًا اليهم فهو بالاجماع باطل وحرام ......وقدابتلى الناس بذلک لاسيما فى هذه الاعصار وقدبسطه العلامة قاسم فى شرح درالبحار (درمختار،قبيل باب الاعتكاف ج:۲ص:۴۳۹ طبع ايچ ايم سعيد)، تفصيل دپاره اوګورئ:اختلاف امت اورصراط مستقيم ص:۶۹نه تر۷۴ پورې)۔

جواب: دا هم توهم پرستي ده، چې مړی د خپل ځای نه اخوا دیخوانه کړل شي، مړي ته کاجل یا رانجه لګول منع دي[1] ځینې ښځې چې د مړي کورته نه ځي همدغه شان دزچګي واله کورنه پرهیزکوي داد غلطو خلکوخوره شوې ګمراهي ده، هغوی دوی ته داسې تعویذونه ورکوي چې هغوی ټول عمرددوی دچکرنه ونه وځي

د مړي له پاره حیله اسقاط او قدمونو شمارلو رسم

سوال: زموږ په کلي کې چې کله څوک وفات شي؛ نو اول چې کله دجنازې کټ پورته کوي: نو مولوي صاحب قدمونه شماري، پته نه شته چې داخبره صحیح ده اوکه نه؟ بیادجنازې لمونځ کولونه وروسته مولویان صاحبان یوه دایره جوړه کړي اوکیني په لاس کې قرآن پاک واخلي اودې ته هغوی دحیلې نوم وایي، خدای مکړه که چا دخپل مړ شوي حضرت حیله ونکړه؛ نومولویان صاحبان دټولونه مخکې فتوا لګوي،وګوره، پرته دحیلې نه یې خښ کړ، ددې ښښنه نه کیږي، ایا داحیله په اسلام کې جائزده، همدغه شان قرآن پاک دځان سره اوړل، ایا دقرآن پاک بې حرمتي نه ده؟

جواب: مستحب داده چې بنده دجنازې کټ ترڅلوېښتوقدمونوپورې اوچت کړي، اول په ښي اوږه باندې دمخکني طرف نه لس قدمه دې واخلي، بیاپه ګسه اوږه باندې دې لس قدمه دوروسته نه دې واخلي، په ګسه اوږه دې دمخکې طرف نه لس قدمه، بیاپه ګسه اوږه د وروسته طرف نه دې لس قدمه واخلي[2]. ظاهره ده چې هرکس دې خپل قدمونه په خپله وشماري، دمولوي صاحب دخلکو قدمونه شمارل بې معنا ده اوخپل قدمونه دې وشماري.

ترخوپورې چې داسقاط دحیلې تعلق دی په کوم شکل کې چې نن سباحیله رائج ده دا خالص بدعت دی اوډیرزیات قبیح بدعت[3]،....اوددې بدعت له پاره دقرآن کریم استعمالول بې شکه د قرآن کریم بې حرمتي ده.

١]ایضًا)۔

٢]واما نفس السنة فهى ان ناخذ بقوائهما الاربع على طريق التعاقب بان تحمل من كل جانب عشرخطوات ...... فيحمله على عاتقه الايمن ثم الموخرالايمن على عاتقه ثم المقدم الايسرعلى عاتقه الايسر ثم الموخر الايسرعلى عاتقه الايسر.....الخ (فتاوى عالمگيرى ،كتاب الصلاة ،الباب الحادى والعشرون فى الجنائز،الفصل الرابع فى حمل الجنائز ج:١ص:١٦٢)،وينبغى ان يحمل من كل جانب عشرخطوات لماروى فى الحديث من حمل جنازة اربعين خطوة كفرت اربعين كبيرة (البدائع الصنائع ،فصل والكلام فى حمله على الجنائز،ج:١ص:٣٠٩ البحرج:٣ص:٣٣٨)۔

٣]عن عائشة رضى الله عنها قالت :قال النبى صلى الله عليه وسلم :من احدث فى امرنا هذا ماليس منه فهو رد (صحيح بخارى ،كتاب الصلح ج:١ص:٣٧٠طبع قديمى) ٠وعرفها(اى البدعة) الشمنى بانها ما احدث على خلاف الحق المتلقى عن رسول الله صلى الله عليه وسلم من علم اوعمل اوحال بنوع شبهة واستحسان ،وجعل دينًا قويمًا وصراطًا مستقيمًا (ردالمحتارباب الامامة مطلب البدعة خمسة اقسام ج:١ص:٥٦٠)۔

جنازې ته د اوږې ورکولو مسنونه طریقه

سوال: کله چې دیوکس جنازه دهغه دکورنه پورته کیږي؛ نو اکثر لیدل کیږي چې خلک جنازې ته اوږه ورکوي اوبیاڅه مخصوص قدمونوتلونه وروسته هغه بدل کړي اوکافي لیرې پورې داعمل جاري وي، دې عمل ته داخلک ،،ده قدم،،وایي ددې عمل (ده قدم) اصل حقیقت څه دی؟ لږ په تفصیل سره مو پوه کړئ، ځکه چې زه دکومې علاقې اوسیدونکی یم، هلته سل په سل خلک داسې کوي.

جواب: دمړي جنازې ته اوږه ورکول مسنون دي اوپه ځینواحادیثوکې جنازې ته د څلورو واړو طرفونه د اوږې ورکولوفضیلت هم راغلی دی.

دطبراني په (معجم اوسط) کې په ضعیف سند سره دحضرت انس بن مالک رضي الله عنه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

من حمل جوانب السریر الاربع کفر الله عنه اربعین کبیرة،، (مجمع الزوائد ج:۳ ص:۲۶)

ترجمه: کوم کس چې دجنازې دکټ څلورو واړوپښنوته اوږه ورکړه الله تعالی به دا د څلویښتو لویو ګناهونو کفاره جوړه کړي.

امام سیوطي رحمه الله په (الجامع الصغیر)جلد۳ صفحه: ۱۷۰ کې دابن عساکر رحمه الله په روایت سره دحضرت واثله رضي الله عنه داحدیث نقل کړی دی.

دامت فقهاوو جنازې ته داوږې ورکولوسنت طریقه دا لیکلې ده چې لومړیو لسوقدمونوپورې دې ښي طرف ته مخکینوپښنوته اوږه ورکړي، بیالس قدمه دې هم ددې طرف روستنیوپښنوته اوږه ورکړي، بیالس قدمه ګس(چپ) طرف ته مخکینوپښنوته، بیالس قدمه ګس طرف ته روستنو پښنو ته، که پرته دتکلیف ورکولوبه دې طریقه باندې عمل وشي؛ نوبهترده.[۱]

د جنازې له پاره دریدل بهتردي

سوال: .کله چې زمونږ په خواکې جنازه تیریږي اومونږ ناست یو؛نوبه احترام کې دریدل پکار دي اوکه نه؟ځکه چې ځینې کسان په دکانونوکې ناست وي؛ نوودریږي اوځینې نه دریږي؟

جواب: دریدل بهتردي.[۲]

۱] تیره شوی حاشیه (واما نفس السنة فهی ان ناخذ بقوائهما الاربع.....الخ) اوګورئ!)_

۲] ولایقوم للجنازة الا ان یریدان یشهدها کذافی الایضاح (هندیة کتاب الصلاة الباب الحادی والعشرون فی الجنائز،الفصل الرابع فی حمل الجنازة)،ولایقوم احدللجنازة اذا مرت به الا اذا اراد ان یتبعها ،وعلیه الجمهور ،وما ورد فی الاحادیث الصحیحة من القیام لها منسوخ بماروی عن علی رضی الله عنه قال کان: رسول الله صلی الله علیه وسلم امرنا بالقیام فی الجنازة ثم جلس بعدذلک وامرنابالجلوس ، رواه ابوداود ......الخ (حلبی کبیر فصل فی الجنازة ص:۵۹۳)_

مړی د دفن کولو له پاره په سورلۍ باندې وړل

سوال: مړی د دفن کولو له پاره په سورلۍ باندې وړل پکار دي او که پلې (پیدل)؟

جواب: که قبرستان لرې وي؛ نو بیا په سورلۍ باندې د وړلو هیڅ باك نشته دی.[1]

خاوند د خپلې ښځې په جنازه کې شریکیدای شي

سوال: په ځینو خلکو کې داخبره مشهوره ده چې کله ښځه وفات شي: نو خاوند نه خو د خپلې ښځې مخ ته کتی شي او نه هغې ته لاس لګولی شي، تر دې پورې چې د جنازې کټ ته اوږه هم نه ورکوي او نه دې د جنازې په لمونځ کې شریکیږي، په قبر کې هم خاوند خپله ښځه نه شي کوزولی ،او س تاسو راته معلومات راکړئ چې داخبرې تر کومه حده پورې صحیح دي؟تسو ووایئ چې د ښځې د مرګ نه وروسته آیا خاوند غیر محرم ګرځي؟

جواب: د ښځې د مرګ نه پس خاوند د هغې مخ لیدی شي لاس ورسره نه شي لګولی،[2] جنازې ته اوږه ورکولی شي، د جنازې په لمونځ کې شریکیدای شي، او د ښځې لحد کې د کوزولو له پاره د هغې محرم رشته دار پکار دی، که هغوی نه وي، نو نور خلك دې ښکته کړي، په دوی کې خاوند هم شریکیدای شي[3] دا صحیح ده چې د ښځې د مرګ سره د دنیاوي احکامو په اعتبار سره د ښځې خاوند رشته ختمه شي، او د خاوند په حیثیت سره په یو لحاظ سره هغه اجنبي شي.[4]

خاوند له مرګه وروسته د ښځې مخ لیدی شي لاس نه شي لګولی

سوال: تاسو د یو صاحب د سوال په جواب کې فرمایلي دي چې د خاوند د خپلې ښځې مخ ته کتل جائز دي او د هغې بدن ته لاس لګول جائز نه دي.، تاسو ته درخواست دی چې د قرآن پاك نه څه حواله یا دلیل راکړئ، ځکه چې زما په علم کې خو دا حقیقت دی چې حضرت علي رضي الله عنه له وفات نه وروسته حضرت فاطمه رضي الله عنها ته په خپله غسل ورکړی و او همدغه شان د حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه له وفات وروسته د هغه بي بي محترمې هغوی ته غسل ورکړی و ، د دې وجې

---

[1] اما اذاکان عذربان کان المحل بعيدًا يشق حمل الرجال له اولم يكن الحامل الا واحد فحمله على ظهره فلا كراهة اذن (حاشيه الطحطاوى على مراقى الفلاح كتاب الجنائزص: ۳۳۱)

[2] ويمنع زوجها من غسلها ومسها لا من النظر اليها على الاصح (درمختارمع الشامى ،كتاب الصلاة باب صلاة الجنازة ج:۲ص: ۱۹۸طبع ايچ ايم سعيد)_

[3] وذى الرحم المحرم اولى بادخال المراة من غيرهم وكذا ذوالرحم غير المحرم اولى من الاجنبى ،هندية ج:۱ص:۱٦٦،كتاب الصلاة الباب الحادى والعشرون فى الجنائز ،الفصل السادس)_

[4] بخلاف ما اذا ماتت المراة حيث لا يغلسها الزوج لان هناک انتهى ملک النكاح لا نعدام المحل فصارالزوج اجنبيًا......الخ (البدائع الصنائع ج:۱ص:۳۰٤طبع ايچ ايم سعيد)، وامابيان الكلام فيمن يغسل (وايضًا ردالمحتاركتاب الصلاة ،باب الجنائزج:۲ص:۱۹۸طبع ايچ ايم سعيد)_

نه داخبره خوضروریاثبوت اوشرعي دلیل ته رسیږي چې دوفات نه پس دخاوند ښځې یادښځې دخاوندمخ ته کتل ورسره لاس لګول وغیره نه صرف جائزدي، بلکې غسل ورکول افضل هم دي، صحابه کراموخوبه جائز، بلکې بهترین اوافضل افعال اواعمال سرته رسول، په موږ عاموسلمانانو کې چې کومې خبرې مشهورې دي چې دوفات نه پس نکاح ختمه شي .کتل اولاس لګول ورته منع دي او داسې نور، دا ټولې خبرې غلطې اودکم علمۍ له وجې دي، که زماخبرې غلطې وي؛ نومهرباني وکړئ اوځه شرعي دلیل راته پیش کړئ!

جواب: دښځې دوفات سره نکاح ختمه شي، همدغه وجه ده چې دهغې دخورسره نکاح کولی شي. ددې وجې نه دخاوند له پاره دښځې له مرګ نه وروسته هغې ته لاس لګول اوغسل ورکول جائزنه دي[۱] اود خاوند په مرګ باندې دنکاح اثردعدت پورې باقي وي ،ځکه ښځې ته د خاوندله وفات وروسته هغه سره لاس لګول اوغسل ورکول صحیح دي، حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه ته دهغوی دمیرمنې په غسل ورکولوکې خوهیڅ شک نشته[۲] خو دحضرت علي رضی الله عنه واقعه کې شک دی، اول خوپه دې سلسله کې درې روایات مروي دي:یوداچې حضرت علي رضی الله عنه غسل ورکړی و ،دویم داچې حضرت اسماء بن عمیس رضی الله عنها اوحضرت علي رضی الله عنه غسل ورکړی و[۳] او دریم داچې حضرت فاطمې رضی الله عنها دوفات نه مخکې غسل وکړ ،نوې جامې

۱]ولنا روی عن ابن عباس رضي الله عنهما ان رسول الله صلی الله علیه وسلم سئل عن امراة تموت بین رجال فقال یتیمم بالصعید ولم یفصل بین ان یکون فیهم زوجها اولایکون ،ولان النکاح ارتفع بموتها فلا یبقی حل المس والنظرکمالو طلقهاقبل الدخول ودلالة الوصف انهاصارت محرمة علی التابیدوالحرمة علی التابیدتنافی النکاح ابتداء وبقاء ولهذا جاز للزوج ان یتزوج باختها واربع سواها واذا زال النکاح صارت اجنبیة فبطل حل المس والنظر بخلاف ما اذا مات الزوج لان هناک ملک النکاح قائم ......الخ (البدائع الصنائع ،فصل ومابیان الکلام فیمن یغسل ج:۱ص:۳۰۵)_

۲]اما المراة فتغسل زوجها ......وروی ان ابابکر الصدیق رضی الله عنه اوصی الی امراته اسماء بنت عمیس ان تغسله بعدوفاته ......ولان اباحة الغسل مستفادة بالنکاح فتبقی مابقی النکاح بعدالموت باق الی وقت انقطاع العدة بخلاف ما اذا ماتت المراة حیث لا یغلسها الزوج لان هناک انتهی ملک النکاح لانعدام المحل فصارالزوج اجنبیًا فلایحل له غسلها (بدائع الصنائع فصل وامابیان الکلام فیمن یغسل ج:۱ص:۳۰٤طبع ایچ ایم سعید،وایضًا فی البحر ج:۲ص:۱۸۸کتاب الصلاة ،باب الجنائز ،طبع دارالمعرفة بیروت)_

۳]قلنا هذا محمول علی بقاء الزوجیة لقوله علیه السلام کل سبب ونسب ینقطع بالموت الا سببی ونسبی مع ان بعض الصحابة انکرعلیه شرح المجمع للعینی (قوله قولنا......الخ) قال فی شرح المجمع لمصنفه فاطمة رضی الله عنها غسلتها ام ایمن ......ولئن ثبت الروایة فهو مختص به الا ان ابن مسعود رضی الله عنه لما اعترض علیه بذلک اجابه بقوله :اماعلمت ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قال: ان فاطمة زوجتک فی الدنیا والاخرة فادعاه الخصوصیة دلیل علی ان المذهب عندهم عدم الجواز (فتاوی شامی ،باب صلاة الجنازة ج:۲ ص:۱۹۸)، وروی البیهقی وابو الفرج عن فاطمة رضی الله عنها قالت لاسماء بنت عمیس :یااسمآء ! اذا مت فاغسلینی انت وعلی فغسلها قال ابوالفرج فی اسناده عبدالله بن نافع....[بقیه حاشیه په راروانه صفحه....

يې واغوستې اوويې فرمايل چې زه رخصتيږم،ماغسل هم کړی دی اوکفن مې هم اغوستی دی،دمرګ نه پس دې زماجامې ونه وېستل شي ، ،دايې وويل اومخ په قبله څملاسته اوروح ترې پرواز وکړ،دهغې دوصيت مطابق غسل ورنکړل شو؛ کله چې روايات په دې سلسله کې متعارض وي؛ نوپه دې واقعه باندې څه شرعي مسئلې له پاره بنيادجوړول به هم صحيح نه وي اوکه دحضرت علي رضي الله عنه د غسل ورکولوروايت صحيح ومنل شي:نوزيات نه زيات داويلی شوچې دادحضرت فاطمې رضي الله عنها اوحضرت علي رضي الله عنه خصوصيت و،دې سره عام حکم نه ثابتيږي،له دې وجې نه صحيح مسئله هماغه ده چې ماليکلې ده،چې دښځې له وفات نه وروسته خاوند دهغې مخ ليدی شي، مګرلاس ورسره نه شی لګولی.[1]

په ښځه خاوندکې که څوک مړ شي نو د يو بل مخ ليدی شي او که نه؟

سوال: د ځينې خلکو نه مې آوريدلي دي چې په ښځه او خاوند کې يو کس مړشي :نو خاوند د خپلې مړې ښځې مخ نه شي ليدلی،او دا رنګه ښځه د خپل مړ خاوند مخ هم نه شي ليدلی، اوس که چيرې ښځه د خپل مړ خاوند او خاوند د خپلې مړې ښځې د آخري ديدار د پاره يو بل ته ګوري؛ نو په اسلا م کې به دا څه قسمه ګناه وي؟

جواب: دواړه د يو بل مخ ليدلی شي، ښځه خپل مړ خاوند ته لاس هم لګولی شي، خاوند مرحومې ښځې ته لاس نه شي لګولی.[2]

مړی په کورکې تر کوم وخته کېښودل کيدای شي

سوال: چې کله مرګ وشي؛ نو مړی تر کوم وخته پورې کېښودل کيدای شي؟

جواب: له وفات نه وروسته چې څومره ممکن وي، زر تر زره يې تجهيز ، تکفين او تدفين کول پکار دي[3].

...بقيه د تير مخ].. قال يحيى ليس بشيء وقال النسائي متروك ورووا احاديث آخرليس فيها مايعتمدعليه (حلبي كبير فصل في الجنائزص:٦٠٤طبع سهيل اكيدمى)_

١] عن ام سلمة رضى الله عنها قالت: اشتكت فاطمة شكواها الذى قبضت فيه فكنت امرضها فاصبحت يومًا كامثل مارايتها ،وخرج على لبعض حاجته فقالت :ياامه ! اسكبى لى غسلاً فاغتسلت كاحسن مارايتها تغتسل ،ثم قالت:ياامه ! اغطنى ثيابى الجدد فاعطيتها ،فلبستها ،ثم قالت :ياامه إقدمى لى فراشى وسط البيت ففعلت واضطجعت ،فاستقلبت القبلة وجعلت يدها تحت خدها ثم قالت : ياامه !انه مقبوضة الان وقد تطهرت فلايكشفنى احد فقبضت مكانها..انتهى، واعلم ان الحديث ذكره ابن الجوزى فى الموضوعات ......هذا مما لاينسب الى على وفاطمة بل يتزهون عن مثل هذا –(نصب الراية لاحاديث الهداية ،كتاب الصلاة ،باب الجنائزج:٢ص:٢٥٠،٢٥١طبع موسسة الريان المكتبة الملكية)_

٢] ويمنع زوجها من غسلها ومسها لا من النظر اليهاعلى الاصح ...وهى لاتمنع من ذلك...الخ، وفى الشرح ولعل وجهه ان النظر اخف من المس فجاز لشبهة الاختلاف (شامى ج:٢ص:١٩٨باب الجنائز،كتاب الصلاة)

٣] ويستحب ايضًا ان يسارع الى قضاء دينه ابرائه منه ويبادر الى تجهيزه....[بقيه حاشيه په راروانه صفحه..

د خلکو د انتظار له پاره مړی کېښودل

سوال: د څه خلکو د انتظار له پاره مړی کېښودل څنګه دي؟

جواب: د لرې رشتدارو د انتظار د پاره مړی ډېرې ګنتې کېښودل او پرېښودل ډېره بده خبره ده.[۱]

د ناپاکه کس جنازې ته اوږه ورکول

سوال: کله چې جنازه پورته کیږي؛ نو ډېر خلک جنازې ته اوږه ورکوي، که څوک د ناپاکي (جنابت) په حالت کې جنازې ته اوږه ورکړي؛ نو څه به کیږي؟ که د دغه کس زړه پاک وي او کپړې یې ناپاکه وي نو هغه په دې حالت کې جنازې ته اوږه ورکولی شي او که نه؟

جواب: د ناپاکه (جنب) کس له لوري جنازې ته اوږه ورکول مکروه دي، د زړه سره جامې او بدن هم پاکول پکار دي، د کوم کس چې د خپل بدن او جامو پاکو ساتلو اهتمام نه وي؛ نو د زړه د پاک ساتلو به خاورې اهتمام وکړای شي.

د ښځې مړي ته هر کس اوږه ورکولی شي

سوال: ایا د ښځې جنازې ته هر کس اوږه ورکولی شي او که یوازې محرم سړي اوږه ورکولی شي؟

جواب: قبر ته خوښې یوازې محرمو سړیو ته ښکته کول پکار دي، (که محرم نه وي یا کافي نه وي؛ نو غیر محرم هم شاملیدای شي)[۲] خو د اوږې ورکولو تولو ته اجازت دی.[۳]

په قبرستان کې د جنازې کېښودو نه مخکې ناسته د ادب خلاف ده

سوال: په قبرستان کې د جنازې په ځمکه باندې د کېښودو نه مخکې د کسانو ناسته څنګه ده؟

جواب: د ادب خلاف ده، د جنازې د کېښودو نه وروسته ناسته پکار ده.[۴]

...بقیه د تیر مخ].. ولایوخر (عالمگیری ج:۱ص:۱۵۷)

[۱] وکره تاخیر صلاته ودفنه لیصلی علیه جمع عظیم بعد صلاة الجمعة الا اذا خیف فوتها بسبب دفنه (الدرالمختارمع الردج:۲ص:۲۳۲)، والافضل ان یجعل بتجهیزه کله من حین یموت .....وفی القنیة ولو جهزالمیت صبیحة یوم الجمعة یکره تاخیرالصلاة ودفنه لیصلی علیه الجمع العظیم....الخ(البحرالرائق ج:۲ص:۱۹۱باب الجنائز)

[۲] وذو الرحم المحرم اولی بادخال المراة من غیرهم کذافی الجوهرة النیرة وکذا ذوالرحم غیر المحرم اولی من الاجنبی فان لم یکن فلا بأس للاجانب وضعها کذافی البحرالرائق (هندیة ج:۱ص:۱۶۶کتاب الصلاة)۔

[۳] سن فی حمل الجنازة اربعة من الرجال ......الخ (هندیة ج:۱ص:۱۶۲کتاب الصلاة ،الباب الحادی والعشرون فی الجنائز)،وایضاً یکره الناس ان یمنعوا حمل جنازة المراة لزوجها ......الخ(خلاصة الفتاوی ج:۱ص:۲۲۵)

د مړي د دفن کولو په وخت کې رسومات

سوال: کله چې قبر ته مړی ښکته کيږي؛ نو د قبر په ديوالونو باندې او په مړي باندې د ګلابو عرق او نورې خوشبويي شيندي، په مړي باندې، ،عهد نامه، ،وغيره ږدي، د کورنه د مړي د و تو په وخت کې د مړي له پاره توښه (باقاعده خوراک وغيره) وړي، او په قبر باندې ګلونه او خوشبوئي ني استعمالوي ايا دې شيانو سره مړي ته څه فائده حاصليږي؟ شرعي حيثيت سره يې بيان کړئ؟

جواب: دا ټول رسمونه غلط دي او د دې هيڅ شرعي سند نشته.[۱]

په قبر کې مالوچ يا فوم غوړول صحيح نه دي

سوال: آيا په قبر کې څه شی غوړ ول مثلا: مالوچ، فوم وا و داسې نور... جائز دي؟

جواب: په قبر کې هيڅ شی غوړ ول درست نه دي.[۲]

په قبر کې قرآن يا کلمه کيښودل جائز نه دي

سوال: آيا د مړي سره په قبر کې قرآن مجيد، يا د قرآن مجيد څه حصه يا څه دعا يا کلمه طيبه کيښودل جائز دي او که نه؟ د قرآن، حديث، فقه حنفي، او سلف صالحينو د عمل په رڼا کې په تفصيل سره را ته جواب را کړئ ډيره مهرباني به مو وي.

جواب: په قبر کې د مړي سره قرآن کريم يا د قران کريم څه حصه دفن کول ناجائز دي، ځکه چې مړی په قبر کې پړسيږي او خرابيږي، د قرآن کريم په داسې ځای کې کيښودل بې ادبي ده، همدغه حکم د نورو مقدسو کلماتو هم دی، سلف صالحينو په دې عمل نه دی کړی.[۳]

...بقيه د تير مخ].. (هندية ج:۱ص:۱۶۲)، وايضاً ويكره لمتبعى الجنازة ان يقعد واقبل وضع الجنازة لانهم اتباع الجنازة والتبع لايقعد قبل قعود والاصل ولانهم انما حضروا تعظيمًا للميت وليس من التعظيم الجلوس قبل الوضع (البدائع الصنائع فصل والكلام فى حمله على الجنازة ج:۱ص:۳۱۰)۔

۱] كتب على جبهة الميت اوعمامته اوكفنه عهدنامه ......وقدافتى ابن الصلاح بانه لايجوزان يكتب على الكفن يس والكهف ونحوهماخوفًا من صديدالميت......تكره كتابة القرآن ......ونحوه ممافيه اهانة فالمنع بالاولى مالم يثبت عن المجتهد اوينقبل فيه حديث ثابت فتامل (ردالمحتارمع الدرالمختار،مطلب فيمايكتب على الكفن ج:۲ ص:۲٤٦)، وذكرابن الحاج فى المدخل انه ينبغى ان يجتنب ماا حدثه بعضهم من انهم ياتون بماء الورد فيجعلونه على الميت فى قبره وان ذلك لم يروعن السلف رضى الله عنهم فهو بدعة قال ويكفيه من الطيب ماعمل له وهو فى البيت فنحن متبعون لامبتدعون فحيث وقف سلفنا وقفنا (حاشيه الطحطاوى على مراقى الفلاح فصل فى حملها ص:۳۳۳طبع ميرمحمدكتب خانه)،وكذالک مايفعله اكثرالناس من وضع مافيه رطوبة من الرياحين والبقول ونحوهماعلى القبورليس بشىء (عمدة القارى ،كتاب الوضوء ج:۳ص:۱۲۰،طبع منيرية)

۲] ويكره ان يوضع تحت الميت فى القبر مضربة اومخدع اوحصيرة اونحو ذلک اه ......الخ(شامى ج:۲ص:۲۳٤)۔

۳] اوګورئ تيره شوی حاشيه (كتب على جبهة الميت اوعمامته اوكفنه عهدنامه .....الخ)۔

د مړي صرف مخ قبلې طرف ته کول کافي نه دي

سوال: زموږ ديوخپلوان موروفات شوه. دمرحومې وړوکى زوى اهل حديث دى،هغه قبرستان ته لاړاوقبرته ښکته شواومورېې په ډډه څملوه اوشاته يې ورته کاڼي کيښودل،دتدفين نه وروسته خبره وشوه؛ نوهلک وويل چې خداى دې ماته معافي وکړي ددې نه مخکې ماخپل مرحوم وروروستوني ستغ څملولى و اومخ مې ورته قبلې ته کړى و،خو داخل مې صحيح طريقه اختيار کړه،واضحه دې وي چې باقي ټول خلک اهل سنت والجماعت دي، داسې اوريدوسره هغه هلک موږ ټولوته وويل چې موږ ته په خپل جماعت کې هم داسې ويل شوي و، مولانا صاحب! تاسو راته ووايئ چې مړى په ډډه باندې څملول جائزو؟چې مخ يې دقبلې طرف ته و،اوکه اوس څملول شوى وي؛ نوپه دې غلطي باندې دوباره څه کيداى شي؟

جواب: مړى په قبرکې مخ په قبله څملول پکاردي، ستوني ستغ څملول اويوازې مخ قبلې طرف ته کول يې کافي نه دي، دامسئله يوازې داهل حديث نه ده،دفقه حنفي همدغه مسئله ده، خومړى پسې شاته کاڼو لګولوپه ځاى دې دخاورې پشتني سره سهاره ورکړل شي،چې دمړي مخ قبلې طرف ته شي.[۱]

دوفات شوې زنانه مخ غيرمحرمه سړيوته ښودل جائز نه دي

سوال: داخبره ترکومې پورې صحيح ده چې که دوفات شوې زنانه مخ دهغې کور والو چا غيرمحرمه سړي ته اوښود؛نوددې ګناه به هم په وفات شوې زنانه ته ملاوېږي.؟

جواب: غيرمحرمه سړيو ته د مړې شوې زنانه مخ ښودل جائزنه دي[۲]اوګناه به دمخ ښودونکو کيږي اوکه وفات شوې زنانه په ژوندکې په دې باندې راضي وه؛ نوهغه به هم ګناه ګاره وي،ګني نه[۳]،ښځوته وصيت کول پکاردي چې دهغوى دوفات نه وروسته دې دهغوى مخ نامحرمو ته ونه ښودل شي.[۴]

۱] قوله ووجه الى القبلة بذلک امررسول الله صلى الله عليه وسلم ويكون على شقه الايمن ......الخ (البحرالرائق ج:۲ص:۲۰۸كتاب الجنائز)، وايضًاويوضع فى القبرعلى جنبه الايمن مستقبل القبلة ......الخ (هندية ج:۱ص:۱۶۶)_

۲]وقدرويت انها (اى فاطمة الزهراء بنت رسول الله صلى الله عليه وسلم) اغتسلت لما حضرها الموت وتكفنت وامرت عليًا ان لايكشفها اذا توفيت ......الخ (اسدالغابة فى معرفة الصحابة رقم ۷۱۷۵،مناقب فاطمة بنت رسول الله صلى الله عليه وسلم)_

۳]والحاصل ان الميت اذا كان له تسبب فى هذه المعصية فالعذاب على حقيقة ويعذب يفعل نفسه حيث تسبب فى ذلک لابفعل غيره ......الخ (حاشيه الطحطاوى على المراقى الفلاح ،باب احكام الجنائز،ص: ۳۰۹طبع ميرمحمدكتب خانه)_

٤] ايضا تيره شوى حاشيه(وقدرويت انها (اى فاطمة الزهراء بنت رسول الله صلى الله عليه وسلم) اغتسلت..الخ)

د قبر د ننه د مړي مخ ښودل ښه نه دي

سوال: نن سبا اکثر داسې ليدل شوي دي چې کله مړی په قبر کې کيښودل شي؛ نو قبرته د ننه يو کس لاړشي او د مړي د مخ نه کفن لرې کړي، د قبر چارچاپيره ولاړ خلک د مړي آخري ديدار کوي، او د دې نه پس د مړي مخ پټ کړل شي، ايا قبرته د ننه کولو نه پس يا په قبرستان کې د مړي مخ خلکو ته ښودل جائز دي؟ی

جواب: په قبر کې د کيښودو نه وروسته د مړي مخ ښودنه ښه نه ده، کله ناکله په مخ باندې د برزخ اثرات ښکاره کيږي په داسې صورت کې د مرحوم په باره کې خلکو ته د بد ګماني موقع ملاوشي.[۱]

په قبر کې مړی په کوم اړخ کيښودل پکار دي؟

سوال: ما يو ځای لوستلي و چې مړی کله په قبر کې کيښودل کيږي؛ نو له ښي اړخ څخه، ددې وضاحت باندې پوهيدل غواړم چې مړی په ښي اړخ باندې کولو سره کيږي او که يوازې دده مخ به قبلې طرف ته کيږي او مړی به نيغ څملولی شي؟ که مړی په ښي اړخ باندې کول وي ؛نو هغه تينګيږي څنګه؟

جواب: په اړخ باندې سملول پکار دي لږه شان تکيه به د ملا طرف ته ورکړل شي، نيغ څملول او يوازې مخ قبلې طرف ته کول د سنت خلاف دي[۲]

لحد ته د مړي له کوزولو وروسته د خاورې اچولو طريقه

سوال: مسئله داده چې کله مړې دفن کيږي؛ نو چې څنګه په عام طورسره کيږي چې مړی په لحد کې د څملولو او لحد د پټولو نه پس په جنازې کې راغلي ټول خلق درې درې موټې خاوره اچوي او ددې نه وروسته پرې خاوره اچول کيږي، مهرباني وکړئ او تاسو موږ ته د خاورې د اچولو داهميت په باره کې وفرمايې!

جواب: د خاورې درې موټې اچول مستحب دي ، دلومړي موټې اچولو سره ذې، ،منها خلقنكم،، اووائي، دوېم موټې سره دې، ،وفيها نعيدكم،، او دريم موټې سره ، ،ومنها نخرجكم

۱] وينبغي للغاسل ولمن حضر اذا راى مايجب الميت ستره ان يستره ولايحدث به لانه غيبة ،وكذا اذاكان عيبًا حادثًا بعدالموت كسواد وجه ونحوه مالم يكن مشهورًا ببدعة فلاباس بذكره تحذيرًا من بدعته (ردالمحتار باب صلاة الجنازة ج:۲ص:۲۰۲طبع ايچ ايم سعيد،حلبي كبير ص:۵۸۰طبع سهيل اكيدمی)۔

۲] ويوضع في القبر على جنبه الايمن مستقبل القبلة (عالمگيری ج:۱ص:۱۶۶:كتاب الصلاة آلباب الحادی و العشرون فی الجنائز)ويوضع على شقه الايمن متوجها الى القبلة(بدائع الصنائع ج:۱ص:۳۱۹(فصل) واماسنة الدفن)

تَارَةً أُخْرٰى.. ولولي، كه دا عمل ونه كړل شي؛ نو هم څه ګناه نه شته.[1]

بنديدو ته د نژدې شوي قبر خلاصول

سوال: يو مړى د جنازې د لمونځ نه وروسته دفن كيږي،اوس يوازې تختې كينښودل شوې دي او خاوره اچولو والا چې د مړي يو رشتدار وروسته راغې اصرار يې كاو چې ما ته د مړي مخ وښايئ، ده ته تختې لرې كيږي او مخ ورته ښودل كيږي آيا دا عمل درست دى؟

جواب: قبر د بنديدو نه وروسته خلاصول بدكار دى، خداى دې نه كړي كه چيرې نامناسبه حالت ويني؛ نو خلک به واپس وتښتي.[2]

په قبر باندې اذان كول بدعت دي

سوال: قبركې د مړي د دفن كولو نه پس اذان كول جائز دي او كه ناجائز؟چونكې په ريډيو چې كوم سوال اوجواب كيږي په هغه كې يو مولوى صاحب ويلي دي چې جائز دى.

جواب: علامه شامي په باب الاذان او كتاب الجنائز كې نقل كړي دي چې په قبر اذان كول بدعت دى.[3]

په قبر اذان بدعت دى او لږ ساعت په قبر ايساريدل سنت دي

سوال: آيا د مړي د دفن كولو نه وروسته په قبرباندې اذان كول جائز دي؟ او د اذان نه وروسته په قبرباندې ايساريدل او د مړي له پاره استغفار لوستل جائز دي؟

جواب: په قبرباندې اذان كول بدعت او د سلف صالحينو نه ثابت نه دى[4] البته د دفن كولو نه وروسته لږ ساعت پورې په قبر ايساريدل او د مړي له پاره دعا او استغفار كول د سنت نه ثابت

١] وفى الهندية :ويستحب لمن شهد دفن الميت ان يحثو فى قبره ثلاث حثيات من التراب بيديه جميعًا ويكون من قبل راس الميت ويقول فى الحثية الاولى: منها خلقناكم ،وفى الثانية وفيها نعيدكم ،وفى الثالثة :ومنها نخرجكم تارة آخرى،كذا فى الجوهرة النيرة(الهندية ج:ص:١٦٦كتاب الصلاة وايضًافى الشامية ج:٢ص:٢٣٧كتاب الجنائز)

٢] ولاينبغى اخراج الميت من القبربعدمادفن (عالمگيرى ج:١ص:١٦٧) ايضاً: وينبغى للغاسل ولمن حضراذا راى مايحب الميت ستره ان يستره ولايحدث به لانه غيبة ،وكذا اذاكان عيبًا حادثًا بعدالموت كسواد وجه ونحوه مالم يكن مشهورًا ببدعة فلاباس بذكره تحذيرًا من بدعته (ردالمحتار باب صلاة الجنازة ج:٢ص:٢٠٢طبع ايچ ايم سعيد،حلبى كبير ص:٥٨٠طبع سهيل اكيدمى)۔

٣] لايسن الاذان عند ادخال الميت فى قبره كماهو المعتاد الآن وقدصرح ابن حجرفى فتاويه بانه بدعة ......الخ (شامى ،مطلب فى دفن الميت ج:٢ص:٢٣٥وايضًا فتاوى شامى مطلب فى المواضع التى يندب لها الاذان ......الخ (ج:١ص:٣٨٥طبع ايچ ايم سعيد)۔

٤] تيره شوى حواله)۔

دي.[۱]

کله کله ځمکه ډیر ګناهګار مړی نه قبلوي

سوال: داخبره دټول (لانډهی) په خلکوکې عامه شوې ده چې د ګیدړ کالونۍ په قبرستان کې یو مړی دفن کړل شو، کله چې دهغه ددفن کولو نه وروسته خلکو یوڅو قدمه راواخیستل نو هغه مړی به دځمکې نه راوتلی واو دوباره به په ځمکه باندې پروت و، کافی ځله دهغهٔ جنازه وشوه اودفن شو، مګرهرځل کوموخلکو به مړی دفن کولوناکامه شول، په آخره کې مولوی صاحب وویل چې دی دې په ځمکه باندې واچول شي اوخاوره دې پرې واچول شي او په همدې باندې عمل وشو، تاسو نه دا پوښتنه کول غواړم چې آخرداسې ولې کیږی؟څه خلک وایي چې ډیر ګناهګارو.

جواب: غالباپه څه ښکاره ګناه کې په مبتلاو، دحضور ﷺ په زمانه کې هم ددې شان ګڼ واقعات پیښ شوي وو، چې یومړی څوځله دفن کړل شو، مګرځمکې به واپس راوښکلو (نعوذبالله من ذالک) په دې باندې حضور ﷺ فرمایلي وچې: ځمکه خوددې هم زیات ګناه ګار خلک قبلوي، مګرالله تعالی تاسوته عبرت درکول غواړي.[۲] ، ددې واقعاتوتفصیل ماهنامه ''بینات،، بابت ربیع الثاني (۱۴۱۰) کې له حوالې سره درج کړل شوی دی.

مړی په ځمکه کنیستلوسره دفن کول فرض دي

سوال: زموږ په محله کې یوصاحب وفات شو، دهغه مړی د سوسایټۍ په قبرستان کې دفن شو، بلکې خښنول به دلته صحیح نه وي، ځکه چې قبردځمکه کنیستلوسره نه وجوړ شوی، بلکې دځمکې دپاسه چاردیواري جوړه شوې وه چې په هغې کې هغه مړې کیښودل شواودپاسه پرې دسیمټوتختې څلورواړه طرفوته کیښودلې شوې اوپه خاورې سره لیووکړې شو، ظاهره ده چې کله باران وشي نوخاوره به ترې وبهیږي اوداوواتوکالوماشوم دغه تختې په آسانۍ سره لرې کولی شوي، دا قسم ډیرقبرونه دمسجد رحمانیه په ګوټ کې دي، تاسوراته ووایئ چې آیا مړی داسې دفن کیدای شي اونه؟هرکله چې په قرآن پاک کې په ځمکه کې دننه دخښنولوراغلي دي.

۱] قوله وجلوس ساعة بعددفنه.....الخ (لما فی سنن ابی داود کان النبی صلی الله علیه وسلم اذافرغ من دفن المیت وقف علی قبره وقال استغفروا لاخیکم واسالوا الله له التثبیت فانه الان یسئل (فتاوی شامی ج:۲ص:۲۳۷)۔

۲] عن عمران بن حصین رضی الله عنه قال:بعثنارسول الله صلی الله علیه وسلم فی سریة فحمل رجل من المسلمین علی رجل من المشرکین فذکر الحدیث وزاد فیه :فنبذته الارض فاخبرالنبی صلی الله علیه وسلم وقال:ان الارض لتقبل من هو اشرمنه ولکن الله احب ان یریکم تعظیم حرمة لا اله الا الله (سنن ابن ماجه ،ابواب الفتن ص:۲۸۱طبع نورمحمد) دزیات تفصیل دپاره اوګورئ :دلائل النبوة للبیهقی ،باب ماظهر علی من ارتد عن الاسلام ج:۷ص:۱۲۶نه تر۱۲۸پورې)۔

جواب: علامه شامي رحمه الله د درمختار په حاشیه کې لیکي: ،،په دې باندې اجماع ده چې که د مړي دفن کول ممکن وي؛ نو دفن کول يې فرض دي، ددې مطلب دادی چې که مړی په ځمکه باندې کیښودل شي اوبیا دپاسه د قبرشکل جوړکړل شي؛ نو کافي نه ده او فرض به ادا نه شي. (ردالمحتار ج:۲ ص:۳۲۲)[1]

مړی دریاب ته ویشتل

سوال: په جاپان کې مړي د دفن کولو په ځای سوځول کیږي، د جاپاني مسلمانانو د دفن کولو له پاره د قبرستان د حاصلیدو رقم موجود وي، عموماً د مرګ نه پس د چندې د جمع کولو ضرورت نه راځي، مړی وطن ته په لیږلو باندې هم د ډیر رقم ضرورت وي چې ډیر خلک هغه نه شي برداشت کولې په دې ملک کې دفن کول قانوناً منع دي،او په یو څو ځایونو کې هلته اجازت دی، هلته هم خلک مخالفت کوي آیا په داسې صورت کې په قبرستان کې دفن کول واجب دي اویا فرض دي ؟ په دې ملک کې (۹۹) فیصده دمړیو سوځولو رواج دی، ددې له پاره خاص ځایونه دي، مسلمان مړي نه شي سوځولی؛ نو آیا مړي دریاب ته ویشتلی شي اوکه نه؟

جواب: مسلمان مړی سوځولی خو نه شي، البته دده د تجهیز او د تکفین نه پس که د دفن کولو ځای ملاو نه شي، نو دریاب ته ویشتل یې صحیح دي. [2]

په خپل ژوند کې قبرجوړول مباح دي

سوال: جنګ کې تاسو فتوی ورکړې ده چې په ژوند کې انسان دځان له پاره قبرتیارولی شي.

حالانکې داد ((وماتدري نفس بأي ارض تموت)) خلاف ده او فتاوی دارالعلوم دیوبند کې مکروه لیکل شوې ده اوپه تفسیرمدارک کې هم دنظرنه مې تیرشوي دي لهذا سره د حوالې څه وضاحت وکړئ!

جواب: فتاوی دارالعلوم دیوبند کې خودا لیکل شوي دي: ،، مخکې په کفن او قبر تیارولو کې څه حرج اوګناه نشته ،، (ج:۵ ص:۴۰۶)

اوپه کفایت المفتي کې لیکل شوي دي: ،،په خپل ژوند کې قبر تیارول مباح دي ،، (ج:۴ ص:۳۸)

علامه شامي رحمه الله د تاتارخانیه په حوالې سره نقل کړي دي چې دخپل ځان له پاره په قبر

---

[1] شروع فی مسائل الدفن —وهو فرض کفایة ان امکن اجماعًا......ومفاده انه لایجزی دفنه علی وجه الارض ببناء علیه ......الخ (ردالمحتار: ۲ص:۲۳۳باب صلاة الجنازة)۔

[2] مات فی سفینة غسل وکفن وصلی علیه والقی فی البحر ان لم یکن قریبًا من البر ،وفی الشرح :قوله والقی فی البحر ،قال فی الفتح وعن احمد یثقل لیرسب وعن الشافعیة کذالک ان کان قریبًا من دارالحرب والا شدبین لوحین لیقذفه البحرفیدفن (الدرالمختارمع الرد ج:۲ص:۲۳۵باب صلاة الجنائزدفن المیت) -

تیارولو کې هیڅ مضائقه نشته اوپه دې باندې به اجرملاویږي، حضرت عمربن عبدالعزیز رحمه الله، ربیع بن خیثم رحمه الله او نورو حضراتوهم دغه شان کړي وو.[۱] (شامی ج:۲ ص:۲٤٤ مطبوعه مصر جدید)

په فتاوی عالمګیري کې داهم دتاتارخانیه نه نقل شوي دي. (ج:۱ص:۱۶۶)[۲]

ترکومې پورې چې ددې آیت شریف تعلق دی په دې کې دقطعي علم نفی نه ده شوې، په زرګونوکارونه دي چې دهغې په باره کې موږ ته قطعي علم نه وی چې ددې آخري انجام به څه وي؟ ددې باوجودهم دظاهری حالاتومطابق موږ دغه کارونه کوو، هم دغه صورت دلته هم ګڼل پکاردي.

قبر پوخ پکاردی یا کچه؟

سوال: خلک په شوق کې عموماً قبرونه په سمیټوښائسته جوړوي، څینې خلک وایي چې پوخ قبرمنع دی، تاسوراته ووایئ چې ایاپوخ اوښائسته قبرجوړول جائزنه دي؟

جواب: په حدیث کې دپوخ قبردجوړولوممانعت راغلی دی، دحضرت جابر رضی الله عنه نه روایت دی چې: حضور صلی الله علیه وسلم دقبرونو د پخولو نه، په دې باندې دلیکلونه اوددې دپاسه تیریدونه منع وفرمایله.(ترمذی مشکواة ص:۱٤۸)[۳]

حضرت علي رضی الله عنه فرمایي چې: حضور صلی الله علیه وسلم زه په دې مهم(کار) ولیږلم چې کوم بت ووینم هغه مات کړم اوکوم اوچت قبرچې اووینم هغه هوار کړم.(صحیح مسلم مشکواة)[۴]

قاسم بن محمد(دام المومنین حضرت عائشه رضی الله عنها وراره دی) فرمایي چې: زه دحضرت عائشه رضی الله عنها په خدمت کې حاضرشوم، او هغوی ته مې درخواست وکړچې: مورجانې! ماته د حضور صلی الله علیه وسلم د ستاسوددواړو رفیقانو رضی الله عنهما دقبرونو مبارکو دیدار راکړه، هغوی زما په درخواست باندې درې قبرونه وښودل چې اوچت نه و اونه بالکل دځمکې برابروو، (چې دقبرنشان نه وي) اوپه هغو باندې د بطحا سره واړه واړه کاڼي پراته وو.(ابوداود، مشکواة ص:۱٤۹)[۵]

۱] وفی التتارخانیة :لاباس به ویوجر علیه کذا عمل عمربن عبدالعزیز والربیع بن خیثم وغیرهما (ردالمحتارعلی الدرالمختارج:۲ص:۲٤٤باب صلاة الجنازة ،مطلب فی اهداء ثواب القرأة للنبی صلی الله علیه وسلم)۔

۲] من حفرقبراً لنفسه فلاباس به ویوجرعلیه کذافی التتارخانیة (هندیة ج:۱ص:۱٦٦کتاب الصلاة)۔

۳] وعن جابر رضی الله عنه قال: نهی رسول الله صلی الله علیه وسلم ان یجصص القبر وان یبنی علیه وان یقعد علیه –(مشکوة باب دفن المیت ص:۱٤۸طبع قدیمی کتب خانه)۔

٤] عن ابی الهیاج الاسدی قال:قال لی علی: الا ابعثک علی ما بعثنی علیه رسول الله صلی الله علیه وسلم ان لا تدع تمثالاً الا طمسته ولا قبرًا مشرفًاالا سویته، رواه مسلم (مشکوة ص:۱٤۸باب دفن المیت)۔

٥] وعن القاسم بن محمد قال:دخلت علی عائشة فقلت :یا اماه ! اکشفی لی عن قبرالنبی صلی الله علیه وسلم وصاحبیه فکشفت لی عن ثلاثة قبور لا مشرفة ولا لاطئة ....[بقیه حاشیه په راروانه صفحه....

ددې حديث نه معلوميږي چې دحضور ﷺ اودحضرت ابوبكر رضی الله عنه اوحضرت عمر رضی الله عنه قبرونه هم په روضه اقدس كې پاخه نه دي.

دلته داهم يادساتل پكاردي چې دامت فقهاوو د ضرورت په وخت دكچه قبرونو د ليولو اجازه وركړې ده[۱]اوكه ضرورت وي نو دنوم دتختي(شناختي) اجازه هم شته،چې هغې سره دقبرپته ولګيږي، مګرقبرونه پاخه جوړول،اوپه هغو باندې دالانونه جوړول،اوپه قبرونوباندې دقرآن كريم آيتونه يادمړي په تعريف كې دشعرونو ليكلو اجازه نشته. په اصل كې قبرونه دزينت شی نه دې،بلكې دعبرت شی دی،په شرح صدور كې حافظ سيوطي رحمه الله ليكلي دي چې نبي (صلی الله عليه وسلم) په قبرستان باندې تيريدو؛نوهغوی ته كشف وشو چې قبرستان والاوو ته عذاب وركول كيږي، څه موده پس بياپه هغه قبرستان باندې تيريدو؛نومعلومه شوه چې عذاب لرې شوی دی، نبي (صلی الله عليه وسلم) دالله تعالی دعذاب دلرې كولوسبب معلوم كړ،نوارشادورته وشوچې اول ددوی قبرونه تازه وو،اوس زاړۀ شوي دي اوماته شرم راځي چې داسې خلكوته عذاب وركړم دچادقبرونونښې چې ورانې شوې وي.[۲]

دكچه قبروضاحت

سوال: تاسوديوسوال په جواب كې فرمايلي دي چې قبركچه پكار دی،په ليدوكې راځي چې اكثرقبرونه دڅلوروواړوطرفونونه پاخه وي، البته پورتنی مينځ يې كچه وي،مهرباني وكړئ اودكچه قبر وضاحت وكړئ،ځكه چې په ظاهري اواندروني كيفيت باندې مشتمل وي ۲.ايادقبردننه ځمكه (فرش) اود څلورو واړوطرفونو ديوالونه كچه وي،ياپورتنی سطح دسميټوبلاكونوسره بنده كړل شي اوپورته پرې خاوره واچول شي؟ياڅه نورڅه؟

...بقيه د تير مخ]..مطبوحة ببطحاء العرصة الحمراء ،رواه ابوداود (مشكوة ص:۱٤۹)_

۱]وقال فی الشرح :وقداعتاد اهل مصر وضع الاحجار حفظًا للقبور عن الاندراس والنبش ولاباس به، وفی الدر: ولا يجصص ولايطين ولايرفع عليه بناء وقيل لاباس به وهوالمختار،وفی النوازل لاباس بتطيينه وفی التجنيس والمزيد لاباس بتطيين القبور (حاشيه الطحطاوی مع المراقی ص:۳۳۵،وايضًا فی ردالمحتار ج:۲ص:۲۳۷)، وفی الهندية :واذا آخربت القبورفلا باس بتطيينها ......الخ.....وان احتيج الی الكتابة حتی لايذهب الاثرولايمتهن فلاباس به فاما الكتابة بغير عذر فلا حتی انه يكره كتابة شیء عليه من القرآن او الشعر اواطراء مدح ونحو ذلک ،حلية ملخصًا ......الخ (فتاوی شامی ص:۲۳۸)_

۲] حدثنا عبدالصمد ابن معقل عن وهب بن منبه قال:مر ارمياء النبی صلی الله عليه وسلم بقبوريعذب اهلها فلماان كان بعدسنة مربهافاذا العذاب قدسكن عنها فقال:قدوس قدوس مررت بهذه القبور عام اول واهلها يعذبون ومررت بی هذه السنة وقدسكن العذاب عنهافاذا النداء من السماء :ياارمياء !تمزقت اكفانهم وتمعطت شعورهم ودرست قبورهم فنظرت اليهم فرحمتهم وهكذا افعل باهل القبورالدراسات والاكفان المتمزقات والشعورالمتمعطات (شرح الصدور ص:۳۱۳،۳۱٤طبع دارالكتب العلمية بيروت)_

جواب: قبر د ننه نه اوبهرنه کچه پکاردی، داصورت چې قبر د څلورو واړو طرفونونه پوخ کړل شي اوپه پورتنۍ سطح باندې څه لږ شان ننبه کچه پریښودل شي داهم صحیح نه ده.[۱]

۲. د قبرچت هم کچه پکاردی، خو که ځمکه نرمه وي چې دسیمټو دبلاک نه بغیرچت نه تینګیدی شي (څنګه چې په کراچئ کې هم دغه شان صورت حال دی)نو دمجبوري له وجې داصورت جائزدی.[۲]

د قبر دیوالونه هم د مجبوري له وجې پاخه کیدای شي

سوال: دقبراحاطه پخول څنګه دي؟ او داهم راته ووایئ چې په قبرباندې دنوم تخته(شناخته) لګولی شویانه؟

جواب: که قبربغیرددي نه نه تینګیږي؛ نودیوالونه پاخه کیدای شي[۳]. مګرقبرپوخ جوړول ګناه ده[۴]. دشناخت له پاره تختی(شناخته) لګول جائزدي، مګرشرط دادی چې آیتونه او مقدس کلمات پرې ونه لیکل شي، چې دهغې بې حرمتي ونه شي.[۵]

۱] (قال) ویسنهم القبرولایربة لحدیث النخعی قال: حدثنی من رای قبررسول الله صلی الله علیه سلم وابی بکروعمررضی الله عنهمامسنمة علیها فلق من مدربیض ولان التربیع فی الابنیة للاحکام ویختارللقبور ماهو ابعد من احکام الابنیة وعلی قول الروافض السنة التربیع فی القبور ولا تجصص لماروی ان النبی صلی الله علیه وسلم نهی عن تجصیص القبوروتربیعها ولان التجصیص فی الابنیة اما للزینة اولا حکام البناء (المبسوط السرخسی ج:۲ص:۶۲باب غسل المیت)۔

۲] وصفة اللحدان یحضر القبربتمامه ثم یحفرفی جانب القبلة منه حفیرة فیوضع فیه المیت کذافی المحیط ویجعل ذالک کالبیت المسقف کذافی البحر الرائق فان کانت الارض رخوة فلاباس بالشق کذافی فتاوی قاضی خان وصفة الشق ان تحفرحفیرة کالنهروسط القبرویبنی جانباه باللبن اوغیره ویوضع المیت فیه ویسقف کذافی معراج الدرایة (هندیة ج:۱ ص:۱۶۶کتاب الصلاة الباب الحادی والعشرو ن فی الجنائز،وایضًا فی البحر الرائق ج:۲ص:۲۰۹باب الجنائز)۔

۳] فی مبسوط للسرخسی :وانما اختاروا الشق فی دیارنا لتعذر اللحد فان الارض فیها رخاوة فاذا الحد انها علیه فلهذا استعملوا الشق......لاباس باستعمال اللبن ویکره الاجر لانه انما استعمل فی الابنیة للزینة اولاحکام البناء والقبر موضع البلی فلایستعمل فیه الآجر وکان الشیخ الامام ابوبکر محمد بن الفضل رحمه الله تعالی یقول:لاباس به فی دیارنا لرخاوة الارض وکان یجوزاستعمال رفوف الخشب واتخاذ التابوت للمیت حتی قالوا لو اتخذوا تابوتًا من حدیدلم اربه باسًا فی هذه الدیار......الخ (المبسوط للسرخسی ج:۲ص:۶۲باب الجنائز)۔

۴] عن جابررضی الله عنه قال:نهی رسول الله صلی الله علیه وسلم ان یجصص القبروان یبنی علیه وان یقعد علیه (مشکوة ص:۱۴۸باب دفن المیت طبع قدیمی)۔

۵] وان احتیج الی الکتابة حتی لایذهب الاثرولایمتهن فلاباس به فاما الکتابة بغیر عذرفلا اهـ، حتی انه یکره کتابة شیء علیه من القرآن او الشعر ......الخ (شامی ج:۲ص:۲۳۸باب صلاة الجنازة)۔

د قبر څو احکام

سوال: په اسلام کې قبر څنګه جوړیږي پوخ اوکه کچه؟د قرآن او حدیث په رڼا کې جواب را کړئ مهرباني به مووی.

جواب: اسلام چې د قبر په باره کې کوم تعلیم ورکړی دی د هغه خلاصه داده:

(۱) قبر دې کشاده او ژور وکنستل شي (کم از کم د بنده د سینې پورې چې وي)[۱]

(۲) قبر دې زیات اوچت نه شي او نه دې بالکل د ځمکې سره برابر وي، بلکې تقریبا یوه لویشت دې د ځمکې نه اوچت وي.[۲]

(۳) قبر دې پوخ نه کړل شي، او نه دې پرې څه د الان جوړیږي، بلکې قبر کچه پکار دی. په خپله د حضور ﷺ په روضه مبارک کې د شیخینو رضی الله عنهما قبرونه مبارک هم کچه دي، البته پرې د خاورې لیوول جائز دي.[۳]

(۴) د قبر دې داسې تعظیم و نه شي چې د عبادت شک پرې وشي، مثلا: سجده کول، د هغه طرف ته لمونځ کول، د هغه چاپیره طواف کول، د هغه طرف تړلی دریدل او داسې نور...[۴] او نه دې د قبر بې حرمتي وشي مثلا: د هغه د پاسه تیریدل، هغه ته ډډه وهل، په هغه باندې متیازې پاخانه وغیره کول، په هغه باندې ګندګي ورغوځول او په هغې باندې توکل وغیره.[۵]

د وران قبر جوړول

سوال: زما د والد محترم وفات (۳۱) دسمبر (۱۹۹۲ء) کې شوی و، تقریباً دوه میاشتې

۱] ومقدار عمق القبرقدر نصف قامة وذكره فى الروضة وفى الذخيرة الى صدرالرجل او وسط القامة فان زادوافهو افضل وان عمقوا القبرمقدار قامة فهو احسن فعلم بهذا ان الاولى نصف القامة والا على القامة ومابينهما .....الخ (حلبى كبير ص:۵۹۶فصل فى الجنائز،وايضًا فى الشامية ج:۲ص:۲۳۴باب صلاة الجنازة)

۲] ورفع قبره من الارض نحوشبر......الخ (حلبى كبير ص:۵۹۵وايضًافى الشامية ج:۲ص:۲۳۷)_

۳] قوله ولا يجصص لحديث جابرنهى رسول الله صلى الله عليه وسلم ان يجصص القبر وان يقعد عليه وان يبنى عليه ......وقال فى الفتاوى اليوم اعتاد والسفط ولاباس بالتطيين ......الخ (البحرالرائق ج:۲ص:۲۰۹وايضًا فى الشامى ج:۲ص:۲۳۷والبدائع الصنائع ج:۱ص:۳۲۰فصل واماسنة الدفن)_

۴]سجده كردن بسوئى قبورانبياء واوالياء وطواف كردن ودعا ازآن ها خواستن ونذربرائى آن ها قبول كردن حرام است ،بلكه چيزها ازان بكفرميرساندپيغمبرصلى الله عليه وسلم برآن ها لعنت گفته وازان منع فرمودند گفته كه قبرمرابت نه كنند (مالابدمنه ص:۸۸،ارشادالطالبين ص:۱۸وايضًا فتاوى عالمگيرى ج:۵ص:۳۵۱ كتاب الكراهية ،الباب السادس عشرفى زيارة القبور)_

۵] وكره ابو حنيفة (رح) ان يوطا على قبر ويجلس عليه اوينام عليه اتقضى عليه حاجته من بول اوغائط لماروى عن النبى صلى الله عليه وسلم انه نهى عن الجلس على القبور ......الخ (البدائع الصنائع ج:۱ص:۳۲۰ (فصل) واما سنة الدفن ،وايضًا فى الشامى ج:۲ص:۲۴۵باب صلاة الجنازة ،وفى البحرالرائق ج:۲ص:۲۰۹)_

وروسته (۲۷) فروري (۱۹۹۳ء) کې د باران په وجه قبر غرق شو، کله چې هلته لاړم نو ګورکن او یو کس وکتل چې د والد مرحوم لاش بلکل داسې پروت و لکه چې نن دفن شوی وي، داسې کول څه ظاهره وي؟ او دویمه خبره دا چې اوس د قبر سره څه وکړو؟

جواب: دمړي د بدن محفوظ کیدل (ان شاء الله) ښه علامه ده، د شهیدانو بدن محفوظ وي او د الله تعالي څه نور نیک بندګان هم د دوی سره ملحق دي، [1] وران شوی قبر دوباره جوړول پکار دي [2]

د قبر د شناخت د پاره کانې لګول

سوال: زمادددوست پلاروفات شوی دی، هغه وایي چې په قبربانديې داسې کانې چې پر ې لیکل شوی وي لګولی شواو که نه؟

جواب: دشناخت له پاره کانې لګول جائزدي، مګرپه هغه دې آیتونه وغیره نه لیکل کیږي. دشناخت له پاره دې پرې نوم ولیکل شي. [3]

مړي باندې خاوره اچونکي خلک په قبرستان کې په کوموشیانو عمل وکړي؟

سوال: مړي سره خلک دخاورې اچولوله پاره ځي، مګردخلکواکثریت څپلې پښوکړې وي اوپه قبربانديې خاوره اچوي اودفاتحې ختمیدو نه بغیرلاړشي اویوطرف ته کښېني ایاددې خلکوداحرکت جائزدی اوکه نه؟ پوره په تفصیل سره راته جواب راکړئ چې خاوره اچونکوته په قبرستان کې په کومو خبرو باندې عمل کول پکاردي؟

---

[1] واخرج مالک عن عبدالرحمن بن صعصعة انه بلغه ان عمروبن الجموح، وعبدالله بن عمرو الانصاريين كانا قدحفرا السيل قبرهما، وكان قبرهمامايلى السيل، وكانا قبرواحد، وهما ممن استشهديوم احد فحفراليغيرا من مكانهما، فوجدالم يتغيرا كانهما ماتا بالامس، وكان احدهما قد جرح فوضع يده على جرحه فدفن وهو كذالک فامطيت يده عن جرحه، ثم ارسلت فرجعت كما كانت وكان بين احد وبين يوم حفر عنهما ست واربعون سنة ٠اخرج البيهقى فى الدلائل من وجه آخر وزاد بعد قوله : فامطيت يده عن جرحه فانبعث الدم فردت الى مكانهما، فرد الدم ...... واخرج الطبرانى عن ابن عمرو قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم :المؤذن المحتسب كالشهيد المتشحط فى ذمه، واذا مات لم يدوده فى قبره .....واخرج ابن منده عن جابربن عبدالله قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم :اذا مات حامل القرآن اوحى الله الى الارض ان لاتاكل لحمه، فتقول الارض : اى رب! كيف آكل لحمه وكلامک فى جوفه ؟ قال ابن منده : وفى الباب عن ابى هريرة وعبدالله بن مسعود، واخرج المروزى عن قتاده قال:بلغنى ان الارض لاتسلط على جسدالذى لم يعمل خطيئةً (شرح الصدور ص:۳۱٦نه تر۳۱۸پورى، باب نتن الميت وبلاء جسده الانبياء ومن الحق بهم، طبع بيروت)

[2] واذا خرجت القبور فلاباس بتطيينها كذافى التتارخانية وهو الاصح وعليه الفتوى (عالمگيرى ج:۱ص:۱٦٦)

[3] وان احتيج الى الكتابة حتى لا يذهب الاثر ولايمتهن فلابأس به فاما الكتابة بغيرعذرفلا ١٥٠حتى انه يكره كتابة شيء عليه من القرآن ......الخ (شامى ج:۲ص:۲۳۸باب صلاة الجنازة)_

جواب: په عالمګیري کې دي چې په قبرستان کې د څپلیو سره ګرځیدل جائز دي[۱] بیا هم ادب دادی چې څپلۍ وباسي او دا هم لیکل شوي دي چې د مړي د دفن کیدو نه وروسته د واپسي له پاره د چانه د اجازې اخیستو ضرورت نشته[۲] کوم حضرات چې د دفن کولو په وخت کې موجود وو، هغوی دې د تدفین نه وروسته څه لږ ساعت له پاره هلته ایسار شي او د مړی له پاره دې دعاګانې او استغفار کې مشغول وي. او د مړی له پاره دې د منکر نکیر په سوال او جواب کې د ثابت قدمۍ دعا وکړي.[۳]

په قبر باندې په غلطي سره د پښې کیښودو تلافي څنګه کیدی شي؟

سوال: یوځل مې په غلطي سره په قبر باندې پښه کیښودې وه، نو د دې تلافي څنګه ممکن ده؟ اوریدلې مې دي چې د دې سزا ډیره زیاته سخته وي.

جواب: استغفار کول او خدای ته توبه کول پکار دي.[۴]

په قبرونو د پاسه تلو په ځای د لرې نه فاتحه ولولئ

سوال: په قبرستانونو کې قبرونه اکثر نژدې نژدې وي او یو مخصوص قبرته د رسیدو له پاره په قبرونو باندې تګ ناګزیر دی، نو په داسې حالت کې څه وکړل شي؟

جواب: په قبرونو باندې د پاسه تګ جائز نه دی، که بچ بچاو سره هغه قبر پورې تګ کیدای شي نو لاړ شئ، ګنې د لرې نه فاتحه ولولئ او د قبرونو د پاسه تګ نه پرهیز وکړئ.[۵]

په قبرونو تکیه او ډډه وهل جائز نه دي

۱] والمشی فی المقابربنعلین لایکره عندنا (عالمګیری ج:۱ص:۱۶۷ کتاب الصلآة ،الباب الحادی والعشرون فی الجنائز،الفصل السادس)، فی شرعة الاسلام من السنة ان لایتطأ القبورفی نعلیه ویستحب ان یمشی علی القبورحافیا ویدعو الله لهم (حاشیة طحطاوی علی المراقی، فصل فی زیارة القبورص:۳۴۰ طبع میرمحمد)۔

۲] وبعدالدفن یسعه الرجوع بغیراذنهم کذافی المحیط (عالمګیری ج:۱ص:۱۶۵ کتاب الصلاة)۔

۳] ویستحب اذا دفن المیت ان یجلسواساعة عند القبر بعدالفراغ بقدرماینحرجزور ویقسم لحمها یتلون القرآن ویدعون للمیت کذافی الجوهرة النیرة (هندیة ج:۱ص:۱۶۶ وایضاًفی الشامیة ج:۲ ص:۲۳۷)۔

۴] وعن عائشة رضی الله عنهاقالت: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم :ان العبد اذا اعترف ثم تاب ،تاب الله علیه ، متفق علیه (مشکوة المصابیح ج:۱ص:۲۰۳ باب الاستغفار و التوبة ،الفصل الاول)۔

۵] ویکره الجلوس علی القبرووطوه ......وفی خزانة الفتاوی وعن ابی حنیفة (رح) لایوطا القبرالا لضرورة ویزارمن بعد......الخ (شامی ص:۲۴۵ باب صلاة الجنازة)۔

سوال: ځینې خلک د تګ راتګ له پاره په قبرستانونو کې خپلې لارې جوړې کړې او ددې دوجې نه کله کله د هغوی پښې د قبرونو د پاسه هم راشي او کله د قبرېته هم نه لګیږي، ما خلکوته وویل چې دا ښه خبره نه ده.چې تاسو د قبرونو د پاسه تیرېږئ، او د قبرونو بې حرمتي کوئ، مګر په دې خلکو هیڅ اثر نه کیږي آیا په داسې طریقې سره په قبرستان کې د ښځو سړیو تګ راتګ جائز دی؟

جواب: په حدیث کې د قبرونو د پاسه تګ، په هغو د ناستې، او تکیه لګولو ممانعت راغلی دی. ددې وجې نه دا کارونه جائز نه دي.[۱]

په قبر د ځناورو نه د ساتلو له پاره پرده اچول

سوال: د چا چې د موټر ټکر (ایکسیډنټ) شوی دی، مونږ هغه د خپل پلار نیکه په کلي کې دفن کړی دی، خو هلته د ځنګل په وجه ځناور یا بیزې، میښې وغیره په قبرستان کې په قبر باندې کیني، یا د دوي د ګرځیدو په وجه قبر کیني یا قبر ته نقصان رسوي، مونږ غواړو چې په قبر باندې څادر (پرده) وغوړ وو، چې په دې سره به د قبر بې قدري نه کیږي، هسې دده عمر خو (۱۳) کاله او (۷) میاشتې دې او ډیر نیک او ښه ماشوم و.

جواب: قبرونه خو د ختمولو د پاره دي چې کله سړی نه پاتې کیږي نو قبر کله پاتې کیدای شي؟ په قبر دې پرده نه غوړول کیږي.[۲]

مړی امانت ښخول جائز نه دي

سوال: زما ډیر وخت نه دا خواهش و، چې د یوې اهمې قومې مسئلې په باره کې تاسو ته رجوع وکړم، څنګه چې به تاسو ته هم معلومه وي چې زمونږ عظیم شوی رهبراو رهنما چوهدري (رحمت علي) مرحوم باني تحریک پاکستان چا چې مونږ ته د تقسیم برصغیر اصول وښودل، او ددې سلطنت خداداد ته یې د، پاکستان، نامه ورکړه، بطور امانت د انګریزانو په وطن د کیمبرج په قبرستان کې دفن دی، د هغه یو معتقد عیسایي پروفیسر (مسټرویلبورن) هغه د خپلې عقیدې مطابق دفن کړی و، د هغه د وفات په (۳) فروري باندې دیرش کاله پوره شول، او ریدلي مودی چې (جمال الدین افغاني) هم خپل یو هم وطن څلویښت کاله پس په خپل

---

[۱] وعن جابررضی الله عنه قال:نهی رسول الله صلی الله علیه وسلم ان یجصص القبروان یبنی علیه وان یقعد علیه.رواه مسلم. وایضًاعن جابررضی الله عنه قال:نهی رسول الله صلی الله علیه وسلم ان یجصص القبورران یکتب علیها وان توطا۰رواه الترمذی –(مشکوٰة المصابیح ج:۱ص:۱۴۹،۱۴۸باب دفن المیت الفصل الثانی)

[۲] فی الاحکام عن الحجة :تکره الستورعلی القبور (شامی ج:۲ص:۲۳۸باب صلاة الجنائز)۰ویکره عندالقبرما لم یعهد من السنة والمعهودمنهالیس الازیارته والدعاء عنده قائمًا کذافی البحرالرائق (عالمګیری ج:۱ص:۱۶۶) لاتجصصوا القبور ولاتبنواعلیها......لان ذلک من باب الزینة ولاحاجة بالمیت الیها ولانه تضییع المال بلافائدة فکان مکروهًا (بدائع الصنائع ج:۱ص:۳۲ (فصل)واما سنة الدفن)

پلرني وطن کې دفن کړی و، اوس ستاسونه تپوس دادی چې که موجوده حکومت یادچوهدري رحمت علی میموریل ټرسټ د چوهدري دلاش پاکستان ته دراوړلوبندوبست وکړي؛ نو دهغوی آخري رسومات ددين اسلام مطابق څنګه به اداکیږي؟ اونورداچې مړی دڅومره وخت پورې امانت دفن کیدای شي؟

جواب: مړی دامانت په طورددفن کولوهیڅ معنا نشته اوددفن کولونه پس مړی واپس راویستل درست نه دي، عالمګیریه کې له تبیین څخه نقل شوي دي چې که غلطي سره دمړي مخ دقبلې په ځای په بل طرف ته کړل شو، یاهغه په کس طرف باندې څملول شو. یادهغه سردپښوطرف ته اوپښې دسرطرف شوې، نودخاورې اچولونه پس دهغه دوباره راویستل جائزنه دي او که لاتراوسه پورې پرې خاوره اچول شوې نه وه اودیوازې دلحدخښتې لګول شوې وې؛ نوخښتې دې لرې کړل شي اودسنت مطابق دې بدل کړل شي.(ج:۱ ص:۱۶۷)[۱]

مړی پلرنی هدیرې ته وړل شرعاً څنګه دي؟

سوال: یو سړی په کراچۍ یا حیدر آباد کې مړ شي، ددې په ځای چې مړي ته غسل ورکړي او کفن او جنازې نه فارغ شي او مړې د مسلمانانو قبرستان کې دفن کړل شي. ځینې خلک زمونږه مسلمانانو ورونو یو رسم قائم کړی دی چې مړی به خپل پلرني کلي یا ښار ته ضرور وړل کیږي، که رشتدار د ده د لرې لرې سفر ډیر خرچونه برداشت کولی شي اوکه نه؟ قرض وغیره راواخلي او مړی د هوایي جهاز یا د موټر په ذریعه وړي، ګڼي؛ نو د پوزې د کټ کیدو خطره محسوسوي، د قرآن او د حدیث په رڼا کې وضاحت وکړئ آیا دا ضروري ده چې که مړي وصیت کړی وي او که نه، د کراچۍ نه د پاکستان د نورو کونجونو نه پلرني کلي (ښار) په سونو یا زرګونو میله لرې وړل جائز دي؟ آیا مرحوم په هغه ځای کې چې په کوم ځای کې یې ساه ورکړې ده، د نورو مسلمانانو قبرستان کې چې هغه په هر ځای کې موجود وي، مړی د دومره مالي او جاني تکلیفونو نه وروسته هلته صرف په دې خیال دفن کول چې د مرحوم نور رشتداران او پلرنی قبرستان هلته دی، صحیح دي؟

جواب: شرعي حکم دادی چې څوک په کوم ښار کې وفات شي؛ نوهغه دې دغه ښار په قبرستان کې دفن شي، د هغه ځای نه بل ځای ته منتقل کول مکروه تحریمي دي،[۲] د کوم رواج چې

۱] ولووضع الميت لغيرالقبلة اوعلى شقة الايسراوجعل راسه موضع رجليه واهيل عليه التراب لم ينبش ولوسوى عليه اللبن ولم يهل عليه التراب نزع اللبن وروعى السنة كذافى التبيين (هندية ج:۱ص:۱۶۷ كتاب الصلاة ،الباب الحادى والعشرون) ،وفى الشامية :واما نقله (اى الميت) بعددفنه فلامطلقاقال فى الفتح :واتفقت كلمة المشايخ فى امراة دفن ابنها وهى غائبة فى غير بلدها فلم تصبر واردت نقله على انه لايسعها ذلك (فتاوى شامي ج:۲ص:۲۳۹)۔

۲] قال فى البزازية :نقل الميت من بلدالى بلدقبل الدفن لايكره ....[بقيه حاشيه په راروانه صفحه....

تاسو ذکر کړی دی، هغه په یو څو وجو ناجائز دی او د پرېښودلو لائق دی:
اول: مړی دده پلرني کلي یا ښار ته منتقل کول ضروري ګڼل ګویا د خپل طرف نه د نوي شریعت جوړول دي.
دویم: د یو ناجائز شي له پاره قرضه اخیستل او بې ځایه مصارف برداشت کول حرام کار دی.
دریم: او دې ناجائزه شي نه د پوزې او د عزت مسئله جوړول دحرامو له پاسه حرام دي.
څلورم: په دې منتقل کولو کې ځینې وخت ډیرې ډیرې ورځې لګیږي چې په هغه سره د لاش بې حرمتي کیږي او د مسلمانانو لاشونه داسې ذلیله او خوارول هم حرام دي.
ددې وجو په بنا باندې مړی د یو ښار نه بل ښار ته د منتقل کولو رواج ډیر غلط او د اصلاح لائق دی.

د قبر په طرفونو کې د ګناهونو په وجه مړی بل ځای ته منتقل کول

سوال: د کوم قبر په طرفونو کې چې ګناهونه شروع شي؛ نو مړی بل ځای ته منتقل کولی شي، آیا دا ټیک دی؟

جواب: د مړي منتقل کول جائز نه دي، ګناهونه بندول پکار دي[۱]

د مړي بل ځای ته منتقل کولو له پاره تابوت استعمالول

سوال: ایامړی بل ځای ته منتقل کېدای شي؟ اوکه وړل کیدای شي نودتابوت رواج سهي دی؟ اودتابوت جسماني اوساخت څنګه پکاردی؟ اکثرچې تابوت لیدوسره ماته دامشکل راپیښیږي چې کله زه د کراچۍ تابوتونه وینم چې دهغې اوچت والی په مشکله سره دوه (۲)فټه وي.

جواب: دلته دوه مسئلې جداجدادي،یوه مسئله دمړي بل ځای ته وړل،ددې حکم دادی چې ځینې حضراتودابالکل جائزګرځولی دی،او ځینې فرمایي چې کم ازکم د(۴۸) میله پورې وړل خوصحیح دي، ددې نه زیات مسافت باندې منتقل کول مکروه دي.[۲]

...بقیه د تیر مخ]..وبعده یحرم ٠قال السرخسی :وقبله یکره ایضًاالا قدر میلٍ اومیلین (شامی ج:٦ص:٤٢٨ فصل فی البیع)٠قوله ولاباس بنقله قبل دفنه ،قیل مطلقًا وقیل الی مادون مدة السفر،وقیده محمدبقدرمیل ا ومیلین ،لان مقابرالبلد ربما بلغت هذه المسافة فیکره زاد،قال فی النهر عن عقد الفرائد:وهو الظاهر (شامی ج:۲ص:۲۳۹باب صلاة الجنازة)

[۱] ولاینبغی اخراج المیت من القبربعدمادفن (عالمگیری ج:۱ص:۱٦۷کتاب الصلاة الباب الحادی والعشرون فی الجنائز)،قال فی ردالمحتار:واما نقله بعد دفنه فلا مطلقاقال فی الفتح واتفقت کلمة الشیخ فی امراة دفن ابنها وهی غآئبة فی غیربلدها فلم تصبر واردت نقله علی انه لایسعها ذالک (شامی ج:۲ص:۲۳۹باب صلاة الجنازة)

[۲] (قوله ولاباس بنقله قبل دفنه) قیل مطلقًا ،وقیل الی مادون مدة السفر.....فیکره فیمازاد......الخ (الفتاوی الشامیة ج:۲ص:۲۳۹باب صلاة الجنازة)_

دامسئله خودځښولونه مخکې دمنتقل کولوده،خو یوځای کې ددفن کولونه پس د مړي بل ځای ته منتقل کول قطعي ناجائزدي.[۱]

پاتې شوه دتابوت مسئله،نوبه درمختار کې لیکل شوي دي چې که ځمکه نرمه وي: نوبه تابوت کې دفن کول جائزدي، ګنې مکروه دي[۲] دتابوت اوچت والی دومره پکاردی چې بنده پکې کېناستی شي،نن سباچې کوم رواج دی چې مړي دلرې لرې ملکونو نه راوړل کیږي اوځو ځو ورځو پورې لاش خرابیږي،دارسم په ډیر وجوهاتوسره قبیح دی.[۳]

وفات شوي ماشومان، د شفاعت ذریعه

سوال: زما د زوی درې میاشتې شوې دي چې وفات شوی دی، د هغې ورځې نه واخله تر ننه پورې ما ته آرام نشته،شپه او ورځ ما ته دماشوم یاد بې آرامي راکوي، تر ننه پورې راته سکون نشته، ماته دا ووایه چې زما دماشوم زوی زما له پاره د څه اجر او ثواب مستحق جوړیږي؟ ما ته زما کور والا د هیرولو د پاره ډیرې خبرې کوي،ځینې خلک ووایي چې دا ماشوم د مورو پلار له پاره د جنت د لارو نښانه وي، حالانکې زما خیال دی چې هر څوک که هغه سړی وي یا ښځه د خپل خپل عمل جواب ورکونکي به وي، الله تعالي دې هیچاته هم د اولاد جدایي نه ورکوي، ما ته ووایئ چې ماته به صبر څنګه راځي او زه د دې د پاره څه وکړم؟ آیا دا خبره صحیح ده چې مرحوم ماشوم د والدینو له پاره د رحمت باعث وي؟

جواب: الله تعالی دې تاسوته ددغه ماشوم نعم البدل درکړی، د مسلمان مورپلار ماشوم بچې چې مړشي؛ نو دهغوی د شفاعت او بښنې ذریعه جوړیږي، په دې شرط چې د بې صبرۍ څه خبره د خولې نه ونه باسي، بلکې د صبر اوشکر نه کارواخلي، ان شاء الله ستاسو ماشوم به ستاسو له پاره د مغفرت ذریعه جوړیږي.[۴]

۱] قوله ولاباس بنقله قبل دفنه قبل مطلقًا وقیل الی مادون مدة السفروقیده محمدبقدرمیل اومیلین لان مقابرالبلاد ربمابلغت هذه المسافة فیکره فیمازاد ......وامانقله بعددفنه فلامطلقًا (شامی ج:۲ص:۲۳۹باب صلاة الجنازة ،دفن المیت وایضًافی الهندیة ج:۱ص:۱۶۷طبع رشیدیه)۔

۲]قوله ولاباس باتخاذ التابوت ......الخ،ای یرخص ذلک عندالحاجة والا کره......الخ (شامی ج:۲ ص:۲۳٤ ،وایضًافی الهندیة ج:۱ص:۱۶۶طبع رشیدیه)۔

۳] عن ابی هریرة رضی الله عنه قال:قال رسول الله صلی الله علیه وسلم :اسرعوا بالجنازة فان تک صالحة فخیرتقدمونها الیه وان تک سوی ذلک فشرتضعونه عن رقابکم۔ متفق علیه (مشکوة المصابیح ج:۱ ص:۱٤٤باب المشی بالجنازة والصلاة علیهاوایضًافی البدائع ج:۱ص:۲۹۹،واما صلاة الجنازة طبع سعید)

٤] عن ابی هریرة رضی الله عنه قال:قال رسول الله صلی الله علیه وسلم لنسوة من الانصار:لایموت لاحد لکن ثلاثة من الولد فتحتسبه الا دخلت الجنة فقالت امراة منهن :اواثنان یارسول الله ؟قال:اواثنان (مشکوة باب البکاء علی المیت ص:۱۵۰)۔وعن ابی موسٰی الاشعری رضی الله عنه قال :قال رسول الله صلی الله علیه وسلم :اذامات ولدالعبدقال الله تعالی للملائکة :قبضتم ولدعبدی؟....[بقیه حاشیه په راروانه صفحه....

آیا په مړي باندې ژړل هغه ته د تکلیف سبب جوړیږي؟

سوال: ویل کیږي چې د مرګ نه وروسته په مړي باندې ژړل د مړي د تکلیف سبب جوړیږي، زه دا پوښتنه کول غواړم چې تکلیف سره د مړي څه تعلق دی؟ او هرکله چې روح د بدن نه ووت؛ نو روح چې لطیف شی دی د ژړا د تکلیف احساس ولې او څنګه ورته کیږی؟ ځکه چې ژړل یوقسم وزن دی، آیا دا وزن روح محسوسولی شي؟ یا ددې ژړا تکلیف د غوښې او څرمنې بې ساه بدن ته کیږي؟ حالانکې روح اوجسم یو صورت یعنې د لازم او ملزوم کیدو په صورت کې تکلیف محسوسوي، د مرګ نه وروسته نه، ځکه چې د مرګ نه پس روح او بدن د یو بل نه جدا کیږي؟

جواب: د مرګ نه وروسته د روح اوبدن داتعلق نه پاتې کیږي،خو یو خاص قسم بل تعلق د دواړو سره قایمیږي چې په هغه سره مړي ته د برزخ واقعات اودعذاب او د ثواب احساس کیږي[۱] او د دې تعلق نوم برزخي ژوندون دی چې هغه د دنیا د ژوند نه مختلف دی، خلاصه دا ده چې په قبر کې مړی یوازې جماد نه دی، بلکې دیوخاص نوعیت ژوند لري په دې وخت کې هم ده ته ژوند حاضلیږي چې په وجه یې ده ته ثواب او عذاب اود خوند او درد احساس د برزخ د شان مطابق کیږي.

د مړي غم تر څو ورځو پکار دی؟

سوال: د مړي وارثانو ته څو ورځې غم کول پکار دي؟

جواب: درې ورځې.[۲]

د مړي د خپلوانو د غم موده اود خوراک ورکولو رسم

سوال: ځینې خلک وایي چې د مړي کوروالو ته غم (ویر) کول پکار دي او په کور کې دې خوراک نه پخیږي، بلکې په برداري کې د دې خوراک تقسیم کړل شي، د دې شرعي حکم څه دی؟

جواب: د مړي کونډې نه پرته باقي کوروالوته د دریوورځوپورې د غم کولواجازت دی او په کونډه باندې د عدت د ختمیدوپورې غم کول واجب دي[۳] د مړي والا په کور کې دروټۍ پخولو

...بقیه دتیرمخ]فیقولون :نعم افیقول :قبضتم ثمرة فواده؟فیقولون :نعم فیقول:ماذا قال عبدی؟فیقولون:حمدک واسترجع ،فیقول الله :ابنوا لعبدی بیتًا فی الجنة وسموه بیت الحمد ،رواه احمد والترمذی (مشکوة ص:۱۵۱)

۱] واعلم ان اهل الحق اتفقوا علی ان الله تعالی یخلق فی المیت نوع حیوة فی القبرمایتالم او یتلذذ (شرح فقه اکبرص:۱۲۲طبع مجتبائی دهلی)

۲] ولاباس لاهل المصیبة ان یجلسوا فی البیت اوفی مسجد ثلاثة ایام والناس یاتونهم ویعزونهم (عالمگیری ج:۱ص:۱٦۷کتاب الصلاة الباب الحادی والعشرون فی الجنائزالفصل السادس)

۳]وفی روایة زینب بنت ابی سلمة رضی الله عنها ......سمعت ....[بقیه حاشیه په راروانه صفحه....

ممانعت نشته، مګرچونکې هغه خلق به دغم دوجې نه دروټي انتظام نه شي کولای، له دې وجې نه دمړي د کوروالـه نژدې عزیزانواوګاونډیانودطرف نه ددوووختوخوراک ورلیږل مستحب دي، [۱] په برادري والوکې روټي تقسیمول محض ریا اود ښودنې رسم دی اوناجائزه دی. [۲]

د مړي کوروالوته د یوې ورځې یوې شپې خوراک ورکول مستحب دي

سوال: په کوم کورکې چې مړی وشي، هغوی ته څوورځوپورې نور ګاونډیان خوراک ورکړي؟داواجب دي که مستحب؟

جواب: دمړي کوروالوته دیوې ورځې یوې شپې خوراک ورکول مستحب دي. [۳]

د مړي په کورکې د نغري بلولو مما نعت

سوال: دامشهوره ده چې په کوم کورکې څوک مړشي، هلته تردرې ورځوپورې نغری بلیدل پکارنه دي،اواکثرداسې کیږي چې رشته دارو غیره درې ورځې یاکم وبیش هلته روټي وروړي،ددې په باره کې ستاسوڅه رایه ده؟په دې باندې که دیوصحابي واقعه ملاوشي؛ نوډیره به ښه وي.

جواب: په کوم کورکې چې مړی وشي، هلته د اخلي پخلی څه ممانعت نه شته،خوچونکې دمړي کوروالا به دغم له وجې دخوراک دپخولوڅه اهتمام نه کوي، ځکه خپلو خپلوانو او ګاونډیانو ته حکم دی چې هغوی کره دې ډوډۍ رسوي،اوپه هغوی دې دخوړلوکوشش کوي،دخپل تره زوی جعفر طیار ﷺ دشهادت په موقعه باندې حضور ﷺ خپل کوروالوته حکم کړی و اوداحکم بطور استحباب و،که دمړي کوروالا داخلي پخلي څه انتظام وکړي؛ نوهیڅ ګناه نه ده،اونه څه دشرم یاعیب خبره ده. [۴]

...بقیه د تیر مخ]..رسو ل الله صلی الله علیه وسلم یقول:لایحل لامراة تومن بالله والیوم الاخران تحد علی میت فوق ثلاث لیال الا علی زوج اربعة اشهروعشرا......الحدیث(ترمذی شریف ج:۱ص:۱۴۳وایضًا فی الهندیة ج:۱ص:۱۶۷کتاب الصلاة الباب الحادی والعشرون)۔

۱]قوله وباتخاذ الطعام لهم قال فی الفتح :ویستحب لجیران اهل المیت والاقرباء الاباعد تهیئة طعام لهم یشبعهم یومهم ولیلتهم لقوله صلی الله علیه وسلم :اصنعوا لآل جعفرطعاما،فقدجاءهم مایشغلهم......الخ (شامی ج:۲ص:۲۴۰)۔

۲] ویکره اتخاذ الضیافة من الطعام من اهل المیت لانه شرع فی السرور لافی الشرور وهی بدعة مستقبحة ......الخ (ردالمحتار علی الدرالمختار ج:۲ص:۲۴۰ مطلب فی کراهة الضیافة من اهل المیت)۔

۳] ایضاً قوله وباتخاذ الطعام لهم قال فی الفتح :ویستحب لجیران اهل المیت والاقرباء......الخ (شامی ج:۲ص:۲۴۰)۔

۴] قال فی الفتح :ویستحب لجیران اهل المیت والاقرباء الاباعد تهیئة طعام....[بقیه حاشیه په راروانه صفحه.

تعزيت د مړي په کورکې وکړئ او فاتحه ايصال ثواب په خپل کورکې

سوال: زموږ په کلي کې ځينې خلک دمړي کيدوپه صورت کې هلته دفاتحې کولوپه غرض نه ځي،چې هلته فاتحه کول بدعت دي،موږ دامام صاحب نه پوښتنه وکړه، نوهغه وفرمايل چې: په کوم کورکې مړی وشي هلته يوازې درې ورځو پورې تعزيت له پاره تګ پکاردی،خو زموږ په ځای کې اکثرخلک پوره يوه هفته دفاتحې له پاره ناست وي، تاسوراته ووايئ چې دابدعت دی يادثواب کار؟چې دواړه فريقه په نيغه لارباندې راشي.

جواب: تعزيت سنت دی، مطلب يې دمړي کوروالو ته تسلي ورکول،دفاتحې لوستلو له پاره دمړي کورته دتلوضرورت نشته،د تعزيت له پاره تلل پکاردي،فاتحه اوايصال ثواب په خپل کور کې هم کولی شئ، کوم کس چې يوځل تعزيت وکړي دهغه په دويم ځل دتعزيت له پاره تلل سنت نه دي، تردريوورځوپورې دافسوس حکم دی، دلرې ځايونوکسان ددې نه پس هم افسوس کولی شي دفاتحې په غرض کېيناستل خلاف سنت دي.[۱]

کونډې ته په دريمه ورځ باندې نوې لوپټه پسرول

سوال: زموږ طرف ته رواج دی چې کله څوک وفات شي؛ نودهغه کونډې ته دهغه خپل خپلوان ددريمې په ورځ نوې لوپټه پسروي، دغه شان دکونډې سره سپينې لوپټې ډيرې زياتې راشي،که دنوې سپينې لوپټې په ځای څه نغدې پيسې دمددله پاره ورکړي؛ نوپه دې کې څه نقصان خونشته؟اوبيادخاوندپه وفات باندې څلورمياشتې لس ورځې غم کول اوښځې ته دډول او سنګار نه ممانعت دی،ددې وجې په نوې لوپټه پسرولو کې څه رازېټ دی؟په دې کې دذکر کړې شوې مسئلې خلاف ورزی خونه کيږي؟وضاحت راته وکړئ!

جواب: کونډې ته ددريمې په ورځ نوې لوپټه پسرولوکوم رسم چې تاسو ليکلې دی داغلط

...بقيه د تير مخ].. هم يشبعهم يومهم وليلتهم لقوله صلى الله عليه وسلم: اصنعوا لآل جعفر طعاماً، فقد جاءهم مايشغلهم. الترمذى (ردالمحتارمع الدر المختارمطلب فى الثواب على المصيبة، ص:۲۴۰وايضاًفتح القدير،بآب صلوة الجنازة قبيل باب الشهيدج:۲ص:۱۴۲)_

۱] التعزية لصاحب المصيبة حسن كذافى الظهيرية وروى الحسن بن زياد اذا عزى اهل الميت مرة فلاينبغى ان يعزيه مرة اخرى كذافى المضرات ووقتها من حين يموت الى ثلاثة ايام ويكره بعدها الا ان يكون المعزى او المعزى اليه غائبًا فلا باس بها......الخ (هندية ج:۱ ص:۱۶۷طبع رشيديه ،وايضًا فى الشامى ج: ۲ ص: ۲۴۰، ۲۴۱مطلب فى كراهة الضيافة)_

اوشریعت خلاف دی[۱]، د کونډې عدت څلور میاشتې او لس ورځې دی[۲]، اوپه دې دوران کې کونډې ته د نویو جامو اغوستلو اجازت نشته.[۳] معلومه نه ده چې ددې رسم جاري کولو مقصدبه څه وي؟ کیدای شي چې په نوروقومونوکې دارسم دمسلمانانو نه راغلی وي، مقصدترې دکونډې خدمت کول وي،په هرحال دارسم خلاف شرع دی،اودا پرېښودل پکاردي، دکونډې خدمت اومدد له پاره که نغده پیسه ورکړل شي نوپه دې کې هیڅ نقصان نشته،خو داهم رسم جوړول پکارنه دي.

بزرګان په خانقاه یا مدرسه کې دفن کول د فقهاوو په نزد مکروه دي

سوال: بزرګان عام طورسره دعام قبرستان په ځای په خانقاه یامدرسه کې دفن کول(هرکله چې تاریخ صفاوايي چې په اسلافو دصدۍ یا نیمه صدۍ تیریدونه وروسته دبزرګانومقبرې دشرک اوبدعت اډې جوړې شوې دي) څنګه دي؟

جواب: بزرګان او مشائخ په جوماتونو او د مدرسو په احاطو کې دفن کولو ته فقهاء کرامو مکروه لیکلي دي.[۴]

۱]عن عائشة رضی الله عنهاقالت :قال النبی صلی الله علیه وسلم :من احدث فی امرناهذا مالیس منه فهو رد (الصحیح البخاری ،کتاب الصلح ج:۱ص:۳۷۰)۔

۲]وعدة المتوفی عنها زوجهااربعة اشهر وعشرًا ، سواء دخل بها اولم یدخل بها اذا کانت حرة لقول الله تعالی :والذین یتوفون منکم ویذرون ازواجًا یتربصن بانفسهن اربعة اشهروعشرًا (شرح مختصرالطحاوی ج:۵ص:۲۳۹کتاب الطلاق باب العدد والاستبراء) (ایضًا:وعدة الوفاة علی الحرة اربعة اشهروعشرًا......الخ (قاضی خان علی هامش الهندیة ج:۱ص:۵۵۰باب العدة)۔

۳]وتجتنب المعتدة کل زینة نحو الکحل والحناء والخضاب والدهن والتحلی والتطیب ولبس المطیب والمصبوع بالمعصفر والزعفران ......الخ (قاضی خان علی هامش الهندیة ج:۱ص:۵۵٤)۔

٤] ولا یدفن صغیر ولاکبیر فی البیت الذی مات فیه فان ذلک خاص بالانبیاء بل ینقل الی مقابرالمسلمین اه ومقتضاه انه لا یدفن فی مدفن خاص کما یفعله من یبنی المدرسة ونحوها ویبنی له بقربها مدفنافتامل (شامی کتاب الصلاة باب الجنائز،مطلب فی دفن المیت،ج:۲ص:۲۳۵طبع ایچ ایم سعید)۔

❖ مړي سره متعلق متفرق مسائل ❖

په هرمسلمان په خپل ژوند کې اووه مړيوته غسل ورکول فرض نه دي

سوال: عام طورسره دامشهوره ده چې په هرمسلمان باندې په خپل ژوند کې اووه مړي لمبول فرض دي؟دقرآن اوحديث په رڼاکې ددې مسئلې وضاحت وفرمايئ چې داخبره ترکومې پورې صحيح ده؟

جواب: مړي ته غسل ورکول فرض کفايي دي،که څه کسان داکاروکړي، دټولودطرف نه به دافرض اداشي، دهرمسلمان په ذمه فرض نه دي.[1]

دغير مسلم د مرګ خبر اوريدو سره (انالله وانااليه راجعون) ويل

سوال: کله چې موږ ديومسلمان دمرګ خبراورو؛نوداوريدونه پس (انالله واناااليه راجعون) وايو خو که دبل مذهب يادغيرمسلم دمرګ خبرواورو؛نوددې په باره کې څه حکم دی؟

جواب: هغه وخت کې هم خپل مرګ رايادکړئ اوداايت دې ولوستل شي.

د مرحوم قرض دې اداشي ګني د عذاب مستحق به وي

سوال: که دمرحوم په ذمه داسې قرضې وي، چې دهغه وارثانوته معلومې نه وي اوقرض ورکونکي ونه وايي؛ نوپه دې سلسله کې څه حکم دی؟

جواب: کوم کس چې قرض واخلي اومړشي دهغه معامله ډيره شديده ده، الله تعالی دې هر مسلمان بچ کړي،حضور ﷺ به دداسې کس جنازه نه کوله،دچاپه ذمه به چې قرض و، وروسته چې بياکله فتوحات وشول؛ نوحضور ﷺ به دمړي قرضه په خپله ذمه اخيسته.[2]

په يوحديث شريف کې دی چې دمومن روح دهغه دقرض سره اويزان وي، ترڅوپورې چې دهغۀ قرضه ادانه کړل شي.(ترمذی،ابن ماجه)[3]

---

[1] غسل الميت حق واجب على الاحياء بالسنة واجماع الامة كذافى النهاية ولكن اذا قام به البعض سقط عن الباقين كذا فى الكافى (هندية ج:١ص:١٥٨كتاب الصلاة ،الباب الحادى والعشرون فى الجنائز ،الفصل الثانى فى الغسل طبع رشيديه كوئته)۔

[2] عن ابى هريرة رضى الله عنه ان رسول الله صلى الله عليه وسلم كان يوتى بالرجال المتوفى عليه الدين فيقول:هل ترك لدينه من قضاء ؟ فان حدث انه ترك وفاء صلى عليه والا قال للمسلمين صلوا على صاحبكم ،فلما فتح الله عليه الفتوح قام فقال:انا اولى بالمومنين من انفسهم ....الحديث (ترمذى شريف ج:١ص:٢٠٥باب ماجاء فى المديون)

[3] عن ابى هريرة رضى الله عنه عن النبى صلى الله عليه وسلم انه قال:....[بقيه حاشيه په راروانه صفحه...

په یو حدیث کې دي چې حضور ﷺ د سهار لمونځه نه وروسته وفرمایل چې: ایا دلته د فلانی قبیلې خلک شته؟ کورئ ستاسو کس دجنت په دروازه باندې ایسار دی، دهغه قرض له وجې چې دهغه په ذمه دی، اوس که ستاسو زړهٔ غواړی نو دهغهٔ فدیه (قرضه) اداکړئ او هغه خلاص کړئ او که زړهٔ مو غواړي نو هغه د الله تعالى عذاب ته حواله کړئ. (طبرانی، بیهقی)[۱]

یو صحابی فرمایي چې زمونږ پلار وفات شو، درې سوه درهمه دهغوی ترکه وه، وروسته د هغه اهل عیال هم وو، او دهغه په ذمه قرض هم و، ما دهغه په اهل عیال باندې دخرچ کولو اراده وکړه؛ نو رسول الله ﷺ وفرمایل: ستا پلار په قرضه کې نیول شوی دی، دهغه قرضه اداکړه! (مسنداحمد)[۲]

دمسلمان بنده په ذمه خواول قرض پکارنه دی، او که د مجبوري نه یې قرض واخیست ؛نو دخپل وس مطابق یې دزرنه زر اداکیدل پکاردي، خدای مکړه که په داسې حالت کې مرګ راغی نودا خودغرضه وارثان به یې خدای ته پته ده چې اداهم کړي او که نه؟ که په ژوند باندې د قرض د ادا کیدو امکان نه وي؛ نو وصیت کول فرض دي، چې دهغه په ذمه دومره د فلاني قرضه ده، هغه دې اداکړل شي[۳]، او که دوصیت نه بغیر مړ شو او کور والو ته څه پته نشته، نو ګناهګاربه هم وي او وبه هم نیول شي، اوس به نه دهغه قرضه اداکیږي اونه به خلاصیږي. (نعوذبالله).

او که الله تعالى په خپل رحمت سره څه صورت پیداکړي؛ نو دهغه کرم دی.

ددې تقریر خلاصه داده چې تاسو کوم صورت لیکلی دی؛ نو یو مسلمان ته پکاردي چې داسې صورت بیخې راپیښ نه شي او که بالفرض داسې صورتحال راپیښ شي؛ نو عام اعلان دې وکړل شي چې ددې مړی په ذمه که دچا قرض وي؛ نو زمونږ نه دې وصول کړي، حضرت جابر رضی الله عنه فرمایي چې: دحضور ﷺ په وفات باندې حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه اعلان وکړچې دکوم کس دحضور ﷺ په ذمه قرض وي یا حضور ﷺ دچا سره څه وعده کړې وه هغه دې زمونږ خوا ته

...بقیه د تیر مخ].. نفس المومن معلقة بدینه حتی یقضی عنه (ترمذی ،باب ماجاء ان نفس المومن معلقة بدینه ج:۱ص:۲۰۶طبع قدیمی کتب خانه)۔

[۱] عن سمرة رضي الله عنه من هاهنا من رهط فلان ان صاحبكم قد احتبس عن الجنة بدين كان عليه فاما ان تفدوه من عذاب الله واما ان تسلموه (كنزالعمال ج:٦ص:٢٣٥،حديث نمبر:١٥٥٠٤طبع موسسة الرسالة)

[۲] عن سعدبن الاطول قال:مات اخى وترك ثلاث ماة .. وترك ولدًا صغارًا فاردت ان انفق عليهم فقال لى رسول الله صلى الله عليه وسلم :ان اخاك محبوس بدينه فاذهب فاقض عنه ......الخ (مسنداحمد ج:٤ص:١٣٦طبع المكتب الاسلامى بيروت)۔

[۳] والوصية اربعة اقسام ،واجبة كالوصية بردالودائع والديون المجهولة ...... وفى المواهب تجب على مديون بما عليه لله تعالى اوللعباد (ردالمحتارج:٦ص:٦٤٨كتاب الوصايا،طبع ايچ ايم سعيد)۔

راشي[۱] مګر وارث د څه ثبوت شرعي نه پرته د قرضې اداکولو پابند نه دی[۲] دا مسئله هم یاد ساتل پکار دي چې د مړي قرضه به د هغه د ټول مال نه اداکیږي، که څه هم د هغه د وارثانو له پاره یو پیسه هم پاتې نه شي.[۳]

مرحوم که ترکه پرې نږدي؛ نو وارث د هغه د قرض اداکولو ذمه وار نه دی

سوال: کله چې څوک وفات شي او هغه څه مال پریږدي، هغه به د هغه رشته دار، عزیز ورور او داسې نور... دیو حد مطابق تقسیم کړي، داخو سمه خبره ده، دې نه علاوه یو بل کس وفات شي په چا چې د خلکو بې حسابه قرض دی، هرکله چې د هغه زوی هم نشته، باقي خلک دي، مثلاً: بنځه، لونه، سکه ورونه، میرني ورونه او داسې نور....، هغه قرض چې په دنیا کې پریښودو او لاړلو، د هغه رشته دار و ته شرعاً څه حکم دی؟ هرکله چې د متعلقه کس په وراثت کې د څلور ګزه جونپړې نه پرته هیڅ نشته، رشته دار او ورونه وغیره هم غریبان دي او د قرض د اداکولو قابل نه دي؛ نو قرض به څنګه اداکیږي؟

جواب: کله چې مرحوم څه ترکه پرې نښودله؛ نو د وارثانو په ذمه د هغه قرض اداکول لازم نه دي.[۴]

د مړي د مال او قرض سره څه وکړل شي؟

سوال: زما د ورور واده په (۱۹) ستمبر (۱۹۸۰) کې وشو او دوه میاشتې وروسته (۲۸) نومبر باندې هغه وفات شو، زما ورور د مرګ نه مخکې (۱۴) تولې ګانه (زیورات) چې جوړه کړې وه، د هغه څه پیسې باقي پاتې وې، زما ورور د دوو میاشتو وعده کړې وه، خو هغه د پیسو ادا کولو نه مخکې وفات شو، تاسو راته د قرآن او سنت په رڼا کې جواب راکړئ، چې رقم به د هلک مور وپلار اداکوي یا د هلک جوړ شوي زیوراتو نه به هغه رقم اداکیږي؟

۱] لماقبض رسول الله صلى الله عليه وسلم قال ابوبكر لماجاءه مال من البحرين :من كا نت له على النبى عدة ياتينى ،قال فجاء جابربن عبدالله الانصارى فقال:ان النبى وعدنى اذا اتاه مال البحرين ان يعطينى هكذا هكذا هكذا،واشاربكفيه فقال ابوبكر:خذا فاخذبكفيه فعده خمسمائة درهم فاعطاه اياه والفا،ثم جاء ناس كان وعدهم رسول الله صلى الله عليه وسلم فاخذكل انسان ماكان وعده ثم قسم مابقى من المال فاصاب كل انسان منهم عشرة دارهم (الطبقات الكبرى لابن سعدج:۲ص:۳۱۷طبع بيروت)_

۲]قوله ويقدم دين الصحة وهوماكان ثابتا بالبينة مطلقااوبالاقرارفى حال الصحة ......الخ(شامى ج:۶ص:۷۶۰)_

۳] يبداء من تركة الميت بتجهيزه ودفنه ثم قضا ديونه ثم تنفيذ وصاياه ،والباقى لوارثه (فتاوى بزازية على الهندية ،كتاب الفرائض ج:۶ص:۴۴۷)،وايضًا يبدامن تركة الميت الخالية عن تعلق حق الغير بعينها كالرهن ....ثم تقدم ديونه التى لها مطالب من جهة العباد......الخ (درمختارج:۶ص:۷۶۰كتاب الفرائض ،طبع سعيد)

۴] احكام ميت ص:۱۶۰او۱۶۳،تاليف :داكترعبدالحى عارفى رحمه الله)_

جواب: که ستاد ورور مرحوم په ذمه قرض دی، کوم زیورات چې هغه جوړ کړي و، هغه دې خرڅ شي او قرض اداکول ضروري دي[1] دمورو پلار په ذمه نه دي، هغه زیورات چې له چاسره وي هغه به دقرض نه اداکولو په صورت کې ګناهګار وي، دمړي په مال باندې ناجائزه قبضه کول سنګینه خبره ده.

که دمرحوم قرض ورکول کیږي؛ نوشرعي وارثا نو ته دې اداکړي

سوال: مولاناصاحب! مادیودوست نه لس روپۍ قرض اخیستې وې او له هغه سره مې وعده کړې وه چې دوه ورځې وروسته به داپیسې واپس کړم، خوافسوس چې دپیسو واپس کولونه مخکې زما دوست ددې فاني دنیانه رخصت شو، دا راته ووایئ چې اوس زه څه وکړم؟ هغه لس روپۍ اوس زه چاته ورکړم؟

جواب: د مړي چې کوم قرض د خلکو په ذمه وي هغه دهغه په میراث کې شامل دی او د کومو خلکو په ذمه چې قرض وي په هغوی فرض دي چې د مړي شرعي وارثانوته قرض اداکړي اوکه دچا څوک وارث موجودنه وي یا معلوم نه وي؛ نو د مړي له طرفه دې هغومره روپۍ صدقه کړي.[2]

د مرحوم قرض که څوک معاف کړي؛ نوجائزدی

سوال: مرحوم ته یو د ووکسانوپیسې ورکړې دي، دبهترین دوست کیدو له وجې هغوی هغه پیسې نه اخلي اوس څه وکړل شي؟

جواب: که هغوی یې معاف کړي؛ نوسهي ده.[3]

د مرحوم قضا لمونځونه او روژې څنګه اداکړل شي؟

سوال: زمامحترمه مورد معراج په شپه باندې وفات شوه، الله تعالی دې هغې ته په جنت الفردوس کې ځای ورکړي امین، اوس زه د هغې قضا لمونځونه اداکول غواړم، بلکې نن سبا اداکوم، خود مختلفو خلکو مختلفوخبرو زه په شک کې اچولی یم، مثلاخلک وایي چې هرکس دخپل عمل په خپله ذمه واردی، لهذادمړشوي کس قضا لمونځونه نه شي کیدای، خو

۱] ثم تقدم دیونه التی لها مطالب من جهة العباد ویقدم دین الصحة علی دین المرض..الخ (درمختار ج:٦ص:٧٦٠)

۲] علیه دیون ومظالم جهل اربابها وایس من علیه ذالک من معرفتهم فعلیه التصدق بقدرها من ماله وان استغرقت جمیع ماله هذا مذهب اصحابنا......ومتی فعل ذالک سقط عنه المطالبة من اصحاب الدیون ـوف الشامیة :وان لم یجد المدیون ولا وارثه صاحب الدین ولا وارثه فتصدق المدیون او وارثه عن صاحب الدین بری فی الاخرة (ردالمحتارعلی الدرالمختار،کتاب اللقطة ج:٤ص:٢٨٣)۔

۳] الدین الصحیح وهوالدین الثابت بحیث لا یسقط الا بالاداء او الابراء کدین القرض ودین المهرودین الاستهلاک وامثالها (کشاف اصطلاحات الفنون ج:١ص:٥٠٢طبع سهیل اکیدمی لاهور)۔

ځينې خلک وايي چې هرکله دمړي د ګناهونوبوج کمولو له پاره دقرآن کريم ختم لوستلوسره ورته وربښل کيدای شي دمړي دقرض بوج کمولوله پاره دهغه قرض خلاصيدای شي؛ نو اخر بيا قضالمونځونه ولې نه شي اداکيدای، تاسوزماددې د دوه سوالونو زر ترزره جواب راکړئ!

۱: ايازه دخپلې مورمحترمې قضالمونځونه اداکولی شم.

۲: دقضالمانځه داداکولوصحيح طريقه څه ده؟

جواب: فرض لمونځ اوروژه يوکس دبل له طرف نه نه شي اداکولی [۱] البته دلمونځ روژې فديه د مرحوم له طرف نه دهغه وارثان اداکولی شي، نوکه ته دخپلې مورله طرف نه قضاشوي لمونځونه اداکول غواړې؛ نو ددې طريقه داده چې که تاسره ګنجائش وي؛ نودهغو لمونځونه حساب وکړه او دهر لمانځه فديه دصدقه فطربرابر ورکړه،دوترو سره به دهرې ورځې شپږ فديې شي، [۲] هسې تاسو دنفلونو ايصال ثواب هم مورته وربښلی شئ! [۳]

دنيا له وفات وروسته او دځلويښتی نه مخکې د لمسي واده کول څنګه دي؟

سوال: زما د يو خپلوان دلور د واده نيته چې يوکال مخکې مقررشوې وه چې دواده دتاريخ نه لس ورځې وړاندې دهغه بوډۍ موروفات شوه، ددريمې اولسمې نه وروسته هغه دخپلې لوربه مقرر شوې ورځ باندې نکاح او رخصتي وکړه، چې دهغې له وجې دهغه خپلوان په هغه باندې بدوايي چې تاواده کولوسره دشريعت خلاف ورزي کړې ده، په دې ته ګناهګارشولې.

جواب: شرعا سوګ (غم) درې ورځې وي اوله دې نه وروسته سوګ کول شرعامنع دي (البته هغه ښځه دچاچې خاوندوفات شوی وي هغه به ځلور مياشتې لس ورځې سوګ کوي) [۴] ستا رشته دار په مقرره تاريخ باندې د خپلې ماشوم نکاح وکړه، بالکل سهي يې وکړل، کوم

۱]ولايصح ان يصوم الولى ولاغيره عن الميت ولايصح ان يصلى احدعنه لقوله صلى الله عليه وسلم :لايصوم احد عن احدولايصلى احدعن احدولكن يطعم عنه......الخ (مراقى الفلاح على هامش الطحطاوى ،فصل فى اسقاط الصلاة والصوم ص:۲۳۸)،قوله فلانيابة فيهااصلاً لان المقصود من العبادة البدنية اتعاب البدن وقهر النفس الامارة بالسوء ولايحصل بفعل النائب ......الخ (شامى ج:۱ص:۳۵۵ مطلب فيمايصيرالكافربه مسلمان من الافعال)_

۲]اذامات وعليه فوائت فدفع الوارث عن الميت لكل صلاة نصف صاع من بر اوقيمته لكل مسكين اومسكين واحد عن كل الفوائت يجوز......الخ (فتاوى سراجيه ص:۱۷)_

۳] الاصل فى هذا الباب ان الانسان له ان يجعل ثواب عمله لغيره صلاة كان اوصومًا او صدقة ......الخ (هندية ج:۱ص:۲۵۷،وايضًا فى الشامى ج:۲ص:۵۹۵،مطلب فى اهداء ثواب الاعمال للغير)_

۴] ووقتها من حين يموت الى ثلاثة ايام ويكره بعدها ......الخ (هندية ج:۱ص:۱۶۷)،وايضًا فى رواية زينب بنت ابى سلمة رضى الله عنها......سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول:لايحل لامرأة تومن بالله واليوم الاخر ان تحد على ميت فوق ثلاث ليال الا على زوج اربعة اشهروعشرًا......الحديث (ترمذى ج:۱ص:۱۴۳باب ماجاء فى عدة المتوفى عنها زوجها)_

خلک چې هغه ته ګناهګار وايي دا د هغوی ناداني او جهالت دی.

شهيد څوک دی؟

سوال: د تير تحريک (نظام مصطفی ﷺ) په دوران کې چې کوم کسان د پوليسو له لاسه په ګوليو لګيدلي وو او له دې دنيا نه رخصت شوي وو هغوی ته شهيدان ويل کيږي، بل طرف که د پولسو او ډاکوانو تر مينځه مقابله وي او په هغوکې څوک ووژل شي او نور کوم چې قتل کوي په هغو کې قاتل هم مسلمان وي او مقتول هم، مهرباني وکړئ او دا راته ووايئ چې مسلمان ته کله شهيد ويل کيږي؟ يوازې د غير مسلم له لاسه قتل کيدونکي ته، يا د چا مسلمان له لاسه هم؟ اميدلرم چې تسلي بخش جواب به راکړئ!

جواب: د دنياوي احکامو په لحاظ سره شهيد هغه دی:

الف:......څوک چې کافرانو، يا باغيانو يا ډاکوانو قتل کړی وي.

ب:......يا هغه د مسلمانانو او کافرانو تر مينځه د جنګ په دوران کې مقتول و موندل شي.

ج:......يا چا مسلمان په ظلم او قصد قتل کړی وي.

دا اصول په جزياتو باندې په خپله منطبق کړئ.[1]

ايا د مرګ د سزا مجرم شهيد دی؟

سوال: ايا يو کس د چا په باره کې چې عدالت د پانسي يا د مرګ د سزا فيصله ورکړي، د پانسي کيدو نه وروسته به ورته شهيد ويل کيږي؟

جواب: .....داسې مجرم ته شهيد نه ويل کيږي.[2]

په اوبو کې ډوبيدونکی او د دين د علم د حاصلولو په دوران کې مړ کيدونکی به معنوي شهيد وي

سوال: ايا په اوبو کې ډوبيدونکی شهيد دی؟

جواب: هو! خو په ده به د دنياوي شهيد احکام نه جاري کيږي، معنوي شهيد دی.[3]

۱] وهوفى الشرع من قتله اهل الحرب والبغى وقطاع الطرق او وجد فى معركة وبه جرح ......اوقتله مسلم ظلمًا......الخ (هندية ج:۱ص:۱۶۷،۱۶۸كتاب الصلاة ،الفصل السابع ،وايضًافى الدرمع الردج:۲ ص:۲۴۸،۲۴۹)_

۲] قتل ظلمًا بغيرحق،......الخ،وفى الشرح :ويقوله ظلمًا لما ياتى من انه لوقتل بحداوقصاص مثلاً لايكون شهيدًا (الدرالمختارمع ردالمحتارج:۲ص:۲۴۸)،ايضًا:وكل من صار مقتولاً بمعنى غيرمضاف الى العدو لايكون شهيدًاكذافى المحيط (هندية ج:۱ص:۱۶۹،كتاب الصلاة ،الباب الحادى والعشرون فى الجنائز،الفصل السابع فى الشهيد)_

۳] لو.....حرق اوغرق او هدم لم يكن شهيدًا فى حكم الدنياوان كان شهيد الاخرة.....الخ (شامى ج:۲ ص:۲۴۸باب الشهيد،وايضًافى البدائع الصنائع ج:۱ ص:۳۲۰)_

سوال: ....ایاحصول علم، چې په کې په کالج کې ورکړل کیدونکي (این سي سي) فوجي ټریننګ هم شامل دی له پاره تلونکی که دحصول علم په دروان کې وفات شي؛ نو ایاهغه شهیددی؟

جواب: دیني علم یاددیني علم دحاصلولوپه دوران کې وفات کیدونکی معنوي شهیددی.[1]

ایا په محرم کې وفات کیدونکي ته به شهید ویل کیږي؟

سوال: اکثر مو اوریدلي دي چې دمحرم الحرام په میاشت کې دوفات کیدونکي درجه د شهید د درجې برابر وي په ځانګړي ډول دمحرم په نهم اولسم تاریخ باندې دوفات کیدونکي، ایا داخبره صحیح ده؟

جواب: په محرم کې وفات کیدونکی به هلته شهیدوي کله چې یې مرګ دشهادت وي یوازې په دې میاشت کې وفات کیدل شهادت نه دی.

دد ندې(وظیفې) په اداکولوکې مسلمان مقتول به شهیدوي

سوال: ایا د پولیس یوکس که دجرائم پیشه کسانوسره په مقابله کې، یادحکومت نه باغیانو خلکو سره چې سرکاري اونجي املاک ته نقصان رسوي یادحکومت افسران مثلاً: دمملکت سربراه، یاد وزیرانو وغیره حفاظت کولوکې اوخپله ډیوټي فرض ګڼل اودحمله کونکوسره په مقابله کې مړشي؛ نو ایاهغه به شهیدوي؟ اوکه شهید تصورکړل شي؛ نوڅنګه؟ اوکه نه وي نه ولې؟ دقرآن اوحدیث په رڼا کې وضاحت وکړئ!

جواب: اصول دادي چې کوم مسلمان په ظلم سره قتل شي، هغه شهیددی، داصولومطابق د پولیس سپاهي که په خپله وظیفه اداکولو کې مړشي (په دې شرط چې مسلمان وي)؛ نو یقینا شهیدبه وي.[2]

د غسل نه وروسته که دمړي له پوزې وینه روا نه شي، هغه شهید نه ګڼل کیږي

سوال: دغسل نه وروسته ترقبرستانه پورې په اوړلوکې که دپوزې نه دومره وینه وبهیږي چې دډولۍ نه وبهیږي اوځمکې پورې راشي؛ نو ایا دادشهاد ت نښه ده؟ نورداچې په اسلام کې دشهید ویل کیدو څه نښانه ده؟

۱] ......ومن مات وهو یطلب العلم ......الخ•وفی الشرح: بان کان له اشتغالاً به تالیفا اوتدریسًا اوحضورًا فیما یظهر، ولو کل یوم درسًاولیس المراد الانهماک (ردالمحتارمع الدرالمختار،باب الشهید،مطلب فی تعداد الشهداء ج:۲ص:۲۵۲طبع ایچ ایم سعید)_

۲] قال فی التنویر:باب الشهید هو کل مکلف مسلم طاهر......قتل ظلمًابغیرحق ......الخ (درمختارج:۲ ص:۲٤۷باب الشهید)

جواب: شهيد خو هغه ته ويل کيږي کوم چې کافرانو قتل کړی وي يا چامسلمان په ظلم سره قتل کړی وي[1]، دپوزې نه وينه بهيدو سره شهيد نه جوړيږي.[2]

که ښځه په خپل عزت ساتلو کې مړه شي: نو شهيده به وي

سوال: که يوه ښځه دخپل عزت ساتلو له پاره خپل ځان قربان کړي: نو ايا دابه خودکشي وي؟ او هغې ته به ددې خبرې په اخرت کې سزاملاويږي او که نه؟

جواب: که دخپل عزت بچ کولو له پاره مړه شي: نو شهيده به وي.[3]

دانساني لاش څيرل او په هغه باندې تجربې کول ناجائز دي

سوال: نن سباچې کوم ډاکټران جوړيږي مختلف قسم تجربې کوي، په کوم کې چې پوسټ مارټم هم شامل دی، په کوم کې چې دانساني اندامونو بې حرمتي کيږي داترکومې پورې صحيح ده؟په قرون اولی کې ددې هيڅ ثبوت نه ملاويږي، دځينوحضراتو وينا ده چې د مسلمان په لاش باندې تجربې نه شي کيدای اودغيرمسلم په لاش باندې کيدای شي. داترکومه پورې صحيح ده؟

جواب: دهيڅ انساني لاش بې حرمتي جائزنه ده نه دمسلمان اونه د غيرمسلم.[4]

د پوسټ مارټم شرعي حيثيت

سوال: نن سبا چې کوم خلک په ګولی وويشتل شي او قتل شي ددې مړي په هسپتال کې پوسټ مارټم کيږي چې د هغه نه دا معلوميږي چې په جسم باندې څومره ګولی لګېدلی دي؟ کوم کوم ځای باندې لګېدلي دي؟ د پوسټ مارټم دا طريقه وي: مړی بربنډ کړي او په ميز باندې يې کيږدي، بيا ډاکټر راځي او د ده معاينه کوي، د ښځې او د سړي دواړو په دې طريقې سره پوسټ مارټم کيږي. ايا په شريعت کې پوسټ مارټم جائز دی؟ حالانکې د مړي وارثان منع کوي چې موږ پوسټ مارټم نه کوو يو ظلم په فائرنګ کې قتل او بيا بل ظلم د قتل وروسته د پوسټ مارټم په ذريعې سره کولی شي، ددې شرعي حکم څه دی؟

۱]ايضًا)_

۲] قوله كخروج الدم اى ان كان الدم يخرج من مخارقه ينظران كان مرضعًايخرج منه الدم من غير آفة فى الباطن كالانف ......لم يكن شهيداً وان المرء قد يبتلى بالرعاف ......الخ (شامى ،باب الشهيد ج:۲ ص:۲٤۹،وايضًاف الهندية ج:۱ص:۱٦۹، كتاب الصلاة الباب الحادى والعشرون ،الفصل السابع فى الشهيد)

۳] ومن ماتت صابرة على الغيرة لها اجر شهيد (شامى ج:۲ص:۲٥۲مطلب فى تعدادالشهداء)_

٤] امدادالفتاوى ج:۱ص:٥۰۸، ٥۰۹وايضًا:وحرمته الانتفاع باجزاء الآدمى لكرامته لئلا يتجاسر الناس على من كرمه الله بابتــذال اجزانه ......الخ (شرح العناية على الهداية برحاشية فتح القديرج:۱ص:٦٥)_

جواب: د پوسټ مارټم کومه طریقه چې تاسو ذکر کړې ده دا په ښکاره ډول ظلم دی[1] او دا په فحاشي کې شمیرل کیږي[2] او کله چې یو سړی مړشي او دده د قاتل هم پته نه لګیږي، نو ددې لاش د بې حرمتي څه فایده؟ لاش دې وارثانو ته حواله شي او که چیرې لاش بې وارثه وي، نو دده تدفین دې و شي، په هر حال بربنډه پورسټ مارټم د حد نه زیات تکلیف والا دی خصوصاً چې کله د سړیو او د ښځو یو شان پورسټ مارټم وشي، دا د یو څو قباحتونو مجموعه ده، حکومت ته پکار دي چې دا د قانون په زور باندې بند کړي.

د لاش شلولو شرعي حکم

سوال: ایا د سائنسي تحقیق له پاره د اسلامي شریعت په نزد باندې د مړو شلول جائز دي؟ ایا ددې له وجې د مړیو د بې حرمتي ویره خونه وي او په مړیو کې ښځې او سړي دواړه شامل وي او مړی بالکل بربنډوي او شلونکو کې ښځې او سړي دواړه شامل وي، که چیرې بې حرمتي ده، نو ددې سزا څه ده؟ او ایا جینکوله پاره داسې تعلیم حاصلول جائز دي؟ او بیا د سړیو په موجودګي کې دا کار کول جائز دي، ګني سزایې څه ده؟

جواب: د مړي شلول په شرعي ډول حرام دي[3] خاص ډول د مخالف جنس د مړي بې حرمتي کول نور هم سخت جرم دی او بیا د جینکو په مخکې نور هم بد کار دی[4] حکومت ته ددې د منع کولو مطالبه کول پکار دي او تر څو پورې چې داسې نه وي، نو دا ناجائز ګڼلو سره استغفار کول پکار دي.

---

[1] وعن عائشة رضی الله عنها ان رسو ل الله صلی الله علیه وسلم قال: کسرعظم المیت ککسره حیًا، رواه مالک وابوداود وابن ماجه (مشکوة ص:۱٤۹، باب دفن المیت، الفصل الثانی)

[2] وتسترعورته بخرقة من السرة الی الرکبة کذافی محیط السرخسی .صورة استنجائه ان یلف الغاسل علی یدیه خرقة ویغسل السواة لان مس العورة حرام کالنظر الیهاکذافی الجوهرة النیرة (عالمگیری ج:۱ص: ۱۵۸)۰وقال فی ردالمحتار: لقوله علیه الصلاة والسلام لعلی: لاتنظرالی فخذ حی ولامیت، لان ماکان عورة لایسقط بالموت ولذا لایجوز مسه، حتی لوماتت بین رجال اجانب یتیممها رجل بخرقة ولایمسها......الخ (شامی ج:۲ص:۱۹۵، القراءة عند المیت)

[3] عن عائشة رضی الله عنها قالت: ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قال: کسرعظم المیت ککسره حیًا (رواه مالک، ابوداؤد وابن ماجه ص: ۲۲۰)۰عن عمروبن حزم قال: رآنی النبی صلی الله علیه وسلم متکئًاعلی قبر فقال: لاتوذصاحب هذا القبر، او: لاتوذه ۰رواه احمد (مشکوة ص:۱٤۹)۰قال ابن عابدین :لان المیت یتاذی بمایتاذی به الحی (ردالمحتارج:۲ص:۱۹٦مطلب فی القراءة عندالمیت)_

[4] قال فی شرح المنیة: ان الثانی هو الماخوذ به لقوله علیه الصلوة والسلام لعلی: ..... لاتنظر الی فخذ حی ولامیت، لان ماکان عورة لایسقط بالموت ولذا لایجوزمسه، حتی لو ماتت بین رجال اجانب تیممها رجل بخرقة ولایمسها......الخ۰وفی الشرنبلالیة :وهذا شامل للمراة والرجل لان عورة المراة للمراة کالرجل للرجل (ردالمحتارج:۲ص:۱۹۵)_

د شپږ میاشتو حمل لرونکې ښځې د مرګ نه وروسته اپریشن کولو سره ماشوم راویستل

سوال: د اسلامي عقیدې مطابق د (۱۲۰) ورځونه وروسته د موریه خیټه کې ماشوم ژوندی ګڼل کیږي، په (۱۲۰) ورځوکې د موریه خیټه کې موجود ماشوم کې ساه راشي او د میډیکل د تهیوري (نظریه) مطابق هم په ۱۲۰ ورځوکې ماشوم کې ساه پیداشي. اوس مسئله داده که چیرې د څه ناروغي له وجې یادزړه دوره راتلو له وجې حمل لرونکې ښځه د شپږ میاشتو حمل سره وفات شي او د ماشوم پیدایښ په نهه میاشتوکې کیږي. اوس که چیرې ماشوم د اپریشن په ذریعه د مړې شوې موردخیټې نه راویستل شي؛ نوکیدای شي چې هغه بچ شي، خوکه چیرې د مورخیټه کې پریښودل شي اومړه شوې ښځه خښه شي؛ نوساه لرونکي ماشوم به هم ژوندی خښ شي، اوس دې صورت کې که چیرې ښځه د شپږ میاشتو حمل سره مړه شي: نو د هغه ماشوم به څه کیږي کوم چې د موریه خیټه کې ژوندی و؟

جواب: که چیرې د دې یقین وي چې ماشوم ژوندی دی اوداچې که چیرې د اپریشن په ذریعه باندې راوویستل شي؛ نو د هغه د ژوندی پاتې کیدو امکان وي؛ نو د اپریشن په ذریعه باندې ماشوم راویستل صحیح دي.[1]

❖ سترګې عطیه کول او د اندامونو پیوندکاري ❖

د سترګو د عطیه کولو له پاره وصیت کول شرعي ډول باندې څنګه دي؟

سوال: د غم ځپلو خلکو خدمت کول ډیرغټ ثواب دی، ایااسلام کې داجائزدي چې یو سړی د مرګ نه مخکې وصیت وکړي چې د مرګ نه وروسته دې زما سترګې چیرته ړانده سړي ته ورکړل شي؟

جواب: لږ وخت مخکې مولانامحمد شفیع رحمه الله اومولانامحمد یوسف بنوري رحمه الله د عالمانو یو بورډ مقررکړی و، د غو عالمانو د دې مسئلې په مختلف اړخونو باندې غوراوفکر کولونه وروسته دا اخري فیصله وکړه چې داسې وصیت جائز نه دی او دا پوره کول هم جائز نه دي. دافیصله دانسان د اندامونو د پیوندکاري نوم سره چاپ شوې ده.

۱] ولی فتاوی ابی اللیث رحمه الله تعالی فی امراة حامل ماتت وعلم ان مافی بطنها حی فانه یشق بطنها من الشق الایسروکذلک اذاکان اکبررایهم انه حی یشق بطنها کذافی المحیط وحکی انه فعل ذلک باذن ابی حنیفة فعاش الولد،کذافی السراجیة (عالمگیری ج:۵ص: ۳۶۰،الباب الحادی والعشرون فیمایسع من جراحات ......الخ،طبع مکتبة رشیدیه)۔

کیدای شي دا وویل شي چې داخو دغم ځپلوانسانانو خدمت دی، دې کې د ګناه څه خبره ده؟ زه داسې قسمه دلیل وړاندې کونکوته خواست کول غواړم چې که چیرې تاسو په رښتیاباندې دادانسانیت خدمت اودثواب کارګڼئ؛ نودې له پاره دمرګ انتظارولې کوئ؟ بسم الله؛ رامخکې شئ اوخپلې دواړه سترګې ورکولو سره دانسانیت خدمت وکړئ اوثواب حاصل کړئ. که دواړه نه شئ ورکولی؛ نوکم نه کم یوه سترګه ورکړئ. دانسانیت خدمت به هم وشي اودمساوات غوښتنې به هم پوره شي.

کیدای شي ددې جواب کې دا وویل شي چې ژوندي ته خودسترګوپه خپله ضرورت وي اومرګ نه وروسته سترګې بې کاره شي؛ نودابل چاته وقف کول پکاردي.

همدا هغه اصل نکته ده، چې دهغې له وجې دسترګو دعطیه کولوجواز وړاندې کیږي اوداډیردثواب کارګڼل کیږي، خوغور کولونه وروسته به معلومه شي چې دانکته داسلامي ذهن پیداوارنه دی، بلکې دحیات بعدالموت (دمرګ نه وروسته ژوند) نه انکارکول دي.

داسلام عقیده ده چې دمرګ نه وروسته دانسان دژوندسلسله نه ختمیږي، بلکې دژوندیوه مرحله پوره کولونه وروسته دویمه مرحله شروع شي، دمرګ نه وروسته هم انسان ژوندی دی، خودهغه دژونداثر دې دنیاباندې نه ښکاره کیږي، دژونددریمه مرحله به دحشرنه وروسته شروع کیږي اوهغه به دائمي وي.

کله چې داخبره ومنل شوه چې له مرګ نه وروسته هم دژوند سلسله شروع ده، خوددې شکل اوصورت بدل شي؛ نواوس دې باندې غورکول پکاردي چې ایاانسان ته دکتلوضرورت یوازې هم دې ژوند کې دی؟ ایادمرګ نه وروسته ژوندکې کتلوله پاره هغه ته دسترګو ضرورت نه شته؟ معمولي عقل لرونکی او سوچ کونکی کس به ددې جواب داورکوي که چیرې له مرګ نه وروسته په هرقسمه صورت کې ژوند وي؛ نوڅنګه چې دژوند نورو کارونو او شیانو ضرورت وي دغه شان به دنظرهم ضرورت وي.

کله چې داخبره هم ومنل شوه چې کوم کس دسترګودعطیه کولو وصیت کوي دهغه باره کې په دوه خبروکې یوخبره کیدای شي، یاداچې له مرګ نه وروسته هغه ژوندباندې ایمان نه لري یاداچې هغه دایثاراوقرباني په ډول خپل نظربل چاته ورکول اوپخپله د بینایي نه محرومیدل خوښوي، خودیومسلمان باره کې داتصورهم نه شي کیدای چې هغه له مرګ نه وروسته دژوندقایل نه وي،که چیرې یومسلمان دسترګودعطیه کولووصیت کوي؛ نوددې مطلب هم داکیدای شي چې هغه دانسانیت دخدمت له پاره په خپله خوښه باندې ړندیدل غواړي، بې شکه داډیره غټه قرباني ده، خومونږ به هغه ته داضرور وایو چې هغه دهمیشه له پاره په خپله خوښه باندې ړندیدل غواړي؛ نوددې یوڅوورځو ژوندکې هم داقرباني وکړئ اودقرباني له پاره دمرګ انتظارمه کوئ.

زموږ د دې تحقیق نه معلومه شوه چې: (١) د سترګو عطیه کولو په مسئله کې د اسلام خیال د مرګ نه مخکې او وروسته حالت د واړه یو شان دی.

(٢) ژوند کې انسان ته په خپل وجود او اندامونو باندې اختیار حاصل وي، خو د دې باوجود خپل اندام ختمول نه قانونا صحیح دي نه شرعا او نه اخلاقا، د غه شان له مرګ نه وروسته د خپل اندام د ختمولو وصیت کول هم شرعي ډول صحیح نه دي او اخلاقي ډول باندې هم، د ضرورت مطابق د مسئلې وضاحت شوی دی، خو بیا به هم مناسب وي چې دې موقع باندې د حضور ﷺ یو څو ارشادات نقل کړل شي. **عن عائشه رضي الله عنها قالت ان رسول الله ﷺ قال: کسر عظم المیت ککسره حیاً.** (رواه مالک ص ٢٢٠، ابوداؤد ص ٤٥٨ ابن ماجه ١١٧)

حضرت عایشې رضي الله عنها نه روایت دی چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي، د مړي هډوکي ماتول، د هغه په ژوند کې د هډوکو ماتولو په شان دي.

عن عمرو بن حزم قال: رآنی النبی ﷺ متکئاً علی قبر. فقال: لاتوذ صاحب هذا القبر اولاتوذه. (رواه احمد، مسند احمد مشکاة ص ١٤٩)

عمرو بن حزم رضي الله عنه فرمايي چې نبي کريم ﷺ زه وليدلم چې ما قبر ته ډډه وهلې وه؛ نو حضور ﷺ وفرمایل چې: قبر والا ته تکلیف مه رسوه. **عن ابن مسعود اذی المومن فی موته کاذاه فی حیاته.** (ابن ابی شیبه حاشیه مشکاة ص ١٤٩)

حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه روایت دی چې مومن ته له مرګ نه وروسته تکلیف ورکول داسې دي لکه هغه ته په ژوند کې تکلیف ورکول.

حدیث کې د یو صحابي رضي الله عنه هم اوږده کیسه راغې چې هغه هجرت کولو سره د حضور ﷺ خدمت کې حاضر شو، په یو جهاد کې د هغه لاس زخمي شو، د درد تکلیف نه برداشت کیدوله و چې هغه خپل لاس ځان نه کټ کړ او د هغه له وجې هغه مړ شو، د هغه یو ملګري هغه یو څو ورځې وروسته خوب کې ولید چې جنت کې ګرځي، خو د هغه لاس په جامه کې تړل شوی دی، لکه چې زخمي وي هغه ترې پوښتنه وکړه؛ نو ورته یې وویل چې د حضور ﷺ په خدمت کې د حاضریدو له وجې زه وبښل شوم او د لاس باره کې الله تعالی وفرمایل چې کوم تا پخپله خراب کړی دی هغه به زه نه صحیح کوم[1]

١] عن جابران الطفيل بن عمرو الدوسى لماهاجرالنبى صلى الله عليه وسلم الى المدينة هاجر اليه وهاجر معه رجل من قومه فمرض فجزع فاخذ مشاقص له فقطع بها براجمه فشخبت يداه حتى مات فرآه الطفيل بن عمرو فى منامه وهيئته حسنة ورآه مغطيًا يديه فقال له :ماصنع بک بک ؟فقال:غفرله بهجرتى الى نبيه صلى الله عليه وسلم فقال:مالى اراک مغطيًايديک ؟قال:قيل لى:لن نصلح منک ماافسدت .فقصهاالطفيل على رسول الله صلى الله عليه وسلم فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم :اللهم وليديه فاغفر ،رواه مسلم (مشکوة ص: ٣٠٠ کتاب القصاص)۔

له دې احاديثونه ښکاري چې دمړي يواندام کټ کول داسې دي لکه چې دهغه په ژوندکې کټ کړل شي اوداهم معلومه شوه چې انسان کوم اندام کټ کړی وي، يادهغه دکټ کولووصيت يې کړی وي هغه دمرګ نه وروسته هماغه شان وي، دانه چې دهغې په ځای ورته نوراندامونه ورکړل شي، ددې نه دځينې حضراتواستدلال ختم شي چې کوم کس دخپلوسترګودعطيه کولووصيت وکړي الله تعالى به هغه ته نورې سترګې عطيه کړي.

بې شکه الله تعالى ته قدرت حاصل دی چې هغه ورته نوې سترګې ورکړي، خوددې جواب کې داهم ويل کيږي چې الله تعالى تاسوته هم نوې سترګې درکولی شي؛ نوتاسودې (کولی شي) باندې اعتمادکولوسره خپلې سترګې يوړوندته عطيه کړئ اوالله تعالى هغه ړوندته نظرورکولی شي؛ نوبياهغه ته دسترګودعطيه کولووصيت ولې کوئ؟

خلاصه داچې کوم کس له مرګ نه وروسته هم ژوندمني، دهغه له پاره د سترګو دعطيه کولووصيت صحيح نه دی اوکوم کس چې دحيات بعدالموت نه منکروي، هغه سره دې باره کې خبرې کول فضول دي.

دسترګوعطيه کول ولې ناجائزدي حالانکې انسان په قبرکې خرابيږي؟

سوال: دسترګودعطيه کولوباره کې چې تاسوکوم خيال ښکاره کړی دی. هغه باندې پوره مطمئن يم، خويوڅوخبرې ذهن کې شک پيداکوي، جواب راکولوسره دشکريه اداکولوموقع راکړئ. زموږ دمسلمانانودا عقيده ده چې قبرته تلونه يوکال وروسته دانسان ټول وجودختم شي يعنې ځمکه کې چې کومې مادې وي هغه دانسان بدن هغې سره يوځای شي اويوازې د انسان روح وي کوم چې دالله تعالى سره وي اوقبرکې هيڅ هم پاتې نه شي اود مسلمانانو دا د يرې يوخاص حدوي له هغه نه وروسته هغه اديره ختمه شي اودهغه له پاره نورقبرونه جوړيږي، له دې وجې که چيرې له مرګ نه وروسته که چيرې سترګې يوژوندي کس ته ورکړل شي؛ نودې کې څه بده خبره ده؟ ځکه چې کله الله تعالى ځمکه کې خاورې شوي انسان ته بل ژوندورکوي او ايا د سترګونه به يې محروم ساتي؟ (نعوذبالله)

جواب: هو! قانون هم دادی چې کوم شی په خپل اختيار پخپله ضائع کړل شي هغه به واپس نه ورکول کيږي اوکه الله تعالى دچا ګناه معاف کړي يادګناه سزاورکولوسره هغه شی ورکړي، دې کې دچااعتراض کيدای شي؟ خوموږدالله تعالى دقانون پابنديو، دې جرات سره خپلې سترګې ويستل چې الله تعالى به نورې راکړي، کم عقلي ده اوداخيال غلط دی چې قبرکې د انسان بدن بالکل ختم شي. بدن خاورې شي اودخاورودې ذروسره (که هغه هرطرف ته والوځي) دروح تعلق باقي وي، دهغه له وجې برزخ کې (يعنې دمحشردورځې نه مخکې) دعذاب اوراحت سلسله شروع وي.[1]

[1] واعلم ان اهل الحق اتفقوا على ان الله تعالى يخلق في الميت نوع حياة ....[بقيه حاشيه په راروانه صفحه.

سوال: خواست دی چې هرانسان اوهغه ژوند دالله تعالی امانت دی. دمړشوي بدن سترګه د مړي له پاره بیکاره ده، هغه دالله تعالی امانت دبل ژوندي سترګوته منتقل کړي. داژوندی انسان هم دالله تعالی امانت دی؛ نو یوامانت بل امانت ته ورکړل شو اوددې عمل له وجې هغه ژوندی انسان دالله تعالی جوړ شوي نعمتونه ووینې اودالله تعالی شکراداکړي، په ظاهره خوداډیرنیک کاردی اوکله چې دا انسان مړشي؛ نوداسترګه به هم واپس خښنه شي اوله چانه چې داسترګه قرض اخیستل شوې وه هغه ته به واپس ملاوشي. دویمه خبره داده چې کله دا سترګه اجازې سره اخیستل شوې وه، ځکه چې انسان دهمدردي له وجې اجازه ورکړي: نو ددې له وجې به امانت هم امانت وي، دعالمانوپه فیصله باندې خپله تسلي غواړم.

جواب: دې باره کې خوصحیح فیصله عالمان کولی شي او مورږته دهغوی په فیصله باندې اعتمادکول پکاردي، سترګه که چیرې دالله تعالی امانت دی؛ نومونږته دې امانت کې دتصرف کولواختیارهم دالله تعالی په حکم باندې ملاویدای شي. بحث دادی چې ایاددې تصرف حق شریعت ورکړی دی؟ دامت دعالمانوخیال دادی چې ددې تصرف حق شریعت نه دی ورکړی.

سوال: محترم! تاسودسترګوعطیه ناجائزلیکلي ده،یوڅوورځې مخکې په روزنامه "نوائے وقت،،کې یومفتي صاحب دډیرو دلیلونوسره جائزګرځولي دي چې دعلاج له پاره دحرامو شیانو استعمال هم جائزدی اوهسې هم.

درد دل کے واسطے پیدا کیا انسان کو
ورنہ طاعت کے لئے کچھ کم نہ تھی کروبیاں

مطابق په زړګونواو لکونو رندوته نظرملاوشي: نوداسلام د انسانیت دخدمت نه منع کول نه دي پکار.

جواب: ضروري نه ده چې هرهیوه مسئله کې دې نورحضرات ماسره متفق وي ,,درددل کے واسطے پیدا کیاانسان کو،، څه شرعي قاعده نه ده اوددې ویلوجرات زه نه شم کولی چې اسلام د فلانکي شي نه ولې منع کوي اوفلانکي نه، نه، عقل حاکم ګڼل داهلسنت دعقیدې خلاف دي[1] اسلام دانساني داندامونودمنتقل کولواجازه نه ده ورکړې.

...بقیه د تیر مخ]..فی القبرقدرمایتالم اویتلذذ (شرح فقه اکبر،ضغطة القبرص:۱۰۱)،فیعذب اللحم متصلاً بالروح والروح متصلاً بالجسد وان کان خارجا عنه (ابوالمعین علی هامش شرح العقائد، عذاب القبر ص:۷۲)، ان عذاب القبرهو عذاب البرزخ ،فکل من مات وهو مستحق العذاب ناله نصیبه منه قبر اولم یقبر فلو اکلته السباع اواحرق حتی صار رماداً ونسف فی الهواء اوصلب اوغرق فی البحروصل الی روحه وبدنه من العذاب مایصل الی القبور (کتاب الروح ،المسئلة السادسة ص:۸۱طبع دارالکتب العلمیة بیروت)۔

[1] ومنها ان القول بالرای والعقل المجرد فی الفقه والشریعة بدعة ....[بقیه حاشیه په راروانه صفحه....

د ويني د عطيې اهتمام کول او مريضانو ته ورکول شرعي طور بانديې څنګه دي؟

سوال: موږ په داود ميډيکل کالج کې د ډاکټري تعليم حاصلوو او چونکې د دريم او څلورم کال نه زموږ تعلق د مريضانو دخيال ساتلو سره وي، هغه کې موږ خلکو محسوس کړل چې ډير مريضان د غريبي په وجه باندې خپل علاج صحيح طريقې سره نه شي کولی.اونه دواياني اخيستلې شي، په دې وجه باندې موږ يوامدادي جماعت "پيشنټ ويلفيئرايسوسي ايشن.. (دمريضانو امدادي جماعت) په نوم باندې جوړکړ، دې کې موږ دمختلفو خلکونه چنده اخيستو سره دواياني اخلو او بيا يې پخپله مريضانوته ورکوو اوس زموږ دې جماعت په خپل کالج کې "بلډبنک، ،جوړول هم شروع کړي دي، دې کې به موږ وينه جمع کوو او مرګ ته نژدې مريضانوته به يې ورکوو،ددې طريقه به داسې وي چې موږ به دمريض ديورشته دارنه وينه واخلو او هغه به خپل بنک کې کيږدو او دهغه دمريض دنمبر وينه به هغوی ته ورکړو، ايا دغه شان دمريضانوله پاره وينه جمع کول او بيا مريضانوته ورکول دشريعت مطابق صحيح دي اوکه نه او موږ ته به ددې ثواب ملاويږي؟

جواب: داضطرار په حالت کې دمريض بچ کولوله پاره هغه ته وينه ورکول جائزدي او دهمدې ضرورت له وجې وينه ورکول اوددې اخيستل اوخرخول جائزدي اودانسانيت خدمت کله چې دحد جواز کې دننه وي؛ نوبنکاره خبره ده چې ډيرد ثواب کاردی.[1]

دانساني اندامونو پيوندکاري اود وينې مسئله

سوال: مولاناصاحب! نن سبا د انساني اندامونو پيوند کاري سلسله روانه ده، ايا داجائزده؟ نويو تحقيقاتو اوسائنسي ايجاداتوزموږ له پاره ديوچيلنج شکل اختيارکړی دی، ځينې خلک ددې تحقيقاتو نه نفع اوچتولوته عقل مندي اوپه دې سلسله کې دغيرشرعي تحقيقاتونه دبچ کيدو والا حضراتوته تنګ نظره وايي، همدغه شان دوينې ورکولومسئله ده، تاسوپه دې سلسله کې زموږ رهنمايي وکړئ!

...بقيه د تير مخ]..وضلالة فاولى ان يكون ذلک فى علم التوحيدوالصفات بدعة وضلالة ،فقدقال فخر الاسلام على البزدوى فى اصول الفقه انه لم يردفى الشرع دليل على ان العقل موجب ولا يجوزان يكون موجبًا وعلة بدون الشرع اذا لعلل موضوعات الشرع وليس الى العباد ذلک لانه يترع اى يسوق الى الشركة فمن جعله موجبًا بلادليل شرعا فقدجاوزحد العباد وتعدى عن حدالشرع على وجه العناد (شرح فقه الاكبرص:۷،۸طبع مجتبائى)_

۱] الضرورات تبيح المحظورات اى ان الاشياء الممنوعة تعامل كالاشياء المباحة وقت الضرورة (شرح المجلة ص:۲۹)

جواب: په دې سلسله کې اوس اوس دحضرت مفتي صاحب (مدفيضهم) تازه تاليف (انساني اعضاءپيوندکاري) په نامې سره شائع شوی دی، په کوم کې چې د دې مسئلې په باره کې د ګڼ شميرعالمانو(چې نومونه يې حضرت مفتي صاحب په تمهيدکې ذکرکړي دي) دهغوی متفقه تحقيق دکتاب، سنت اودفقه اسلامي دلائلوپه رڼاکې درج شوي دي، د دې مختصرشان خلاصه پيش کوم دتفصيل له پاره دې اصل کتاب وکتل شي.

تمهيد: زيرنظرمسئله دانساني وينې اوانسانی اندامونودتبادلې معامله، په دې زمانه کې يوه عامه معامله ده اودفقې په کتابونوکې ددې په باره کې هيڅ منصوص نه شته، کله چې ددې په باره کې دپاکستان اوبهرملکونونه په ګڼ شميرکې سوالونه راغلل؛ نوما(مفتي صاحب) د اکابرو دسنت مطابق دامناسب وګڼل چې دانفرادي رايې په ځای دماهرو عالمانويوه ډله دې په دې باندې غور، فکر. بحث وتمحيص نه وروسته څه رايه متعين کړي، ددې له پاره يوه سوال نامه جوړه کړل شوه اودفقهې اوفتوا مراکزو، پاکستان کې: کراچی، ملتان، پشاور وغيره اوبه انډيا کې ديوبند، سهارنپور، دهلي وغيره ته وليږل شوه، داکثروحضراتوجوابونه ملاوشول؛ نوپه هغې باندې هم اجتماعي سوچ اوفکرکول مناسب و، مګرملک ګير وسائل هم اسان نه و او ددې له پاره چې دومره وخت اواوږدفرصت ضرورت و دهغه ملاويدل هم ګران و، ددې له وجې دحکم.. ،مالايدرک کله لايترک کله،، داصورت مواختيارکړ، چې يوازې دکراچی داهل فتوا عالمان راجمع کړواوپه دې باندې غوروکړي،دا اجتماع چې کومې نتيجې ته ورسيږي هغه منضبط کړواوملک دننه اوبيرون ملک ارباب فتوا ته وليږل شي اوبياپرې دهغوی آراء اوفتوا حاصلې کړل شي چې دادماهرين اهل فتوا اجتماعي فتوا شي، په دې اجتماع کې لاندې حضراتو شرکت وکړ اوپه مختلفوتاريخونوکې په پنځو نشستونو کې دبهرنه راغلي جوابونه اوددې مسئلې په هراړخ باندې غور وشو اوددې معاملې په باره کې د څلورو واړو مذهبونوکتابونه مخې ته کيښودل شو، دامجلس درايې په اتفاق سره دې نتيجې ته ورسيد کوم چې په آينده صفحاتوکې سره د دلائلو ليکل کيږي، دمجلس دشرکاوو نومونه دادي:

دارالعلوم کراچی نه

۱: محمدشفيع خادم دارالعلوم کراچی. ۲: مولانا محمدصابرصاحب نائب مفتي.
۳: مولانا سليم الله صاحب مدرس دارالعلوم. ۴: مولاناسبحان محمودصاحب دارالعلوم کراچی.
۵: مولانا محمدعاشق الهی صاحب دارالعلوم کراچی.
۶: مولانامحمدرفيع صاحب دارالعلوم کراچی. ۷: مولانامحمدتقي صاحب دارالعلوم کراچی.

مدرسه عربيه اسلاميه نيوټاون کراچی نه

۸: حضرت مولانا محمديوسف صاحب بنوري شيخ الحديث ومهتمم مدرسه.

۹: مولانا محمد ولي حسن صاحب مفتي مدرسه عربيه اسلاميه نيوټاون کراچی.
۱۰: مولانا محمد ادريس صاحب مدرس مدرسه عربيه اسلاميه

اشرف المدارس نه

۱۱: مولانا مفتي رشيد احمد صاحب مفتي و مهتمم مدرسه.

د بهر نه هغه حضرات د چا تحقيقيي فتواوې چې موصول شوې د هغوی نوموونه دادي:

۱: حضرت مولانا مفتي مهدی حسن صاحب مفتی دارالعلوم ديوبند.
۲: حضرت مولانا مفتي محمد عبدالله صاحب مفتي خيرالمدارس ملتان.
۳: مولانا عبدالستار صاحب مفتي خيرالمدارس ملتان.
۴: مولانا محمد اسحاق صاحب نائب مفتي خيرالمدارس ملتان.
۵: مولانا جميل احمد صاحب تهانوي مفتي جامعه اشرفيه لاهور.
۶: مولانا مفتي محمود صاحب مفتی مدرسه قاسم العلوم ملتان.
۷: مولانا عبداللطيف صاحب معين مفتي مدرسه قاسم العلوم ملتان.

دې مجلس دوينې اواندامونو دمسائلونه علاوه هم ددې په شان په نورو عام مسائلو باندې دبحث کولونه وروسته فيصله وشوه اوالحمدلله تراوسه پورې ډيراهم مسائل په زيربحث مجلس کې دراپې ترحدپورې مقررشوې اومنضبط شوې دي، په کوموکې چې لاندينې مسائل شامل دي:

۱: دژندبيمه.
۲: پراويډنټ فنډ په سود باندې اوددې په فنډ په رقم باندې دزکات مسئله.
۳: دبلاسود بينکاري مفصل نظام.
۴: ديهوداونصاری ذبيحه اودهغې غوښې داخيستلو مسئله.
۵: دمشيني ذبيحې مسئله.

تردې وخت پورې چې دوينې اواندامونو زيربحث مسئلې په باره کې څومره جوابونه دبيرون ملک حضراتو نه وصول شوي دي ياارکان مجلس پرې خپل تحقيق ليکلی دی، په هغو ټولو باندې دغور کولونه وروسته مجلس په دې نتيجه باندې ورسيد، کوم چې په دې پاڼوکې پيش کيږي، دهريو جدا جدا ليکلوسره تکرارهم راځي، ځای هم ډيرنيسي، ددې وجې نه دبحث او تمحيص نه وروسته چې فيصله شول هغه ټول په يوترتيب سره وليکل شول اودلائل اوحوالې د عوامو د سهولت له پاره جدا جدا کړل شوې دي (والله المستعان)

مقدمه

څو اصولي مسائل

دمسائلودتفصيل نه مخکښې په څواصولوخبروباندې پوهيدل ضروري دي،چې راتلونکو مسائلوباندې پوهيدوکې سهولت وي.

اول: هر حرام شی دا نسانیت له پاره مضردی:

الله تعالی چې کوم کوم شيان دبندګانوله پاره حرام ګرځولي دي، که څه هم هغه په ظاهره هر څومره ګټور په نظرراځي، خو په حقيقت کې هغه دانسان اودانسانيت له پاره مضردي اود ګټې په ځای دتاوان اړخ پرې غالب دی،دانقصان کله بدني وي اوکله روحاني ، بياکله خو دومره واضحه وي چې هرعام اوخاص يې پيژني اوکله کم وي، کوموباندې ډاکټراوطبيب پوهيدای شي اوکله دومره کم وي چې نه خودافلاطون اوارسطوعقل دهغه ځای پورې رسيدی شي اونه دڅه جديدالې په ذريعه دهغه دريافت کيدای شي،بلکې په حاسه د وحي اوفراست د نبوت سره ليدل کيدای اوپيژندل کيدای شي.(انی اعلم من الله مالاتعلمون)[1]

دويم: دانسان تکريم اودهغه دوه طرفونه

الله تعالی په خپل مخلوق کې انسان ته ظاهري او معنوي شرف او امتياز ورکړی دی ، هغه په شکل او صورت کې د ټولو نه حسين او په علم او ادراک کې په ټولو باندې فائق شوی دی او دده ته د کائنات مخدوم او مکرم جوړ شوي دي، د دې تکريم او شرف يو اړخ دا دی چې تمام کائنات دده په خدمت باندې مامور دی، ډير شيان دده دخوراک او دوا له پاره حلال شوي دي[2] اوپه اضطراري حالت کې دحرامو شيانوداستعمال اجازه هم ورکړل شوې ده[3] اودويم اړخ داچې د انسان اندامونه دغذا اودوا له پاره ممنوع او ددې اخيستل اوخرڅول ناجائزګرځول شوي دي.[4]

---

[1] سورة ۱۲ يوسف :۹۶)_

[2]]وسخرلكم الليل والنهاروالشمس والقمر (سورة ۱۶ النحل :۱۲)وهوالذی سخرالبحرلتاكلوا منه لحماطريًا (سورة ۱۶ النحل :۱٤۰)وسخرلكم الفلک لتجری فی البحر (سورة ۱۴ ابراهيم :۳۲) وسخرلكم مافی السموات ومافی الارض جميعًا (الجاثية:۱۳)_

[3]]فمن اضطرغيرباغ ولاعادفلا اثم عليه (البقرة : ۱۷۳)_

[4]] ولانه يحرم الانتفاع بشعرالآدمی وسائراجزائه لكرامته بل يدفن شعره وظفره وسائراجزائه (امام نووی رحمه الله،شرح مسلم ج:۲ص:۲۰٤باب تحريم فعل الواصلة والمستوصلة والواشمة والمستوشمة والنامصة والمتنمصة......الخ)

دریم: په علاج کې شرعي اسانتیاوې

داسلام په نظر کې دانسان جان په حقیقت کې دالله تعالی امانت دی، چې ضائع کول یې انتهايي سنګین جرم دی، ددې دحفاظت له پاره لوی لوی سامان تیار شوی دی او د کوم داستعمال چې حکم ورکړل شوی دی او داسې تدابیر او علاج معالجه ضروري ګرځول شوې ده د کومې سره چې دمریض جان بچ شي، دمریض دسهولت له پاره لمونځ، روژه، غسل، طهارت، وغیره احکام جدا وضع شوي دي، ددې نه زیات به نور څه وي چې په اضطراري حالت کې د سر دبچ کولو له پاره کلمه کفرویلو (چې اسلام په نظر کې بدترین جرم دی) اجازه ورکړل شوې ده.[۱] همدغه شان کوم کس چې دلوږې له وجې مري؛ نو دهغه له پاره دسر دبچ کیدو په خاطر خنزیر او مرداره هم مباح، بلکې ضروري ګرځول شوي دي.[۲]

څلورم: داضطرار صحیح درجه څه ده؟

ناواقفه حضرات هر معمولي حاجت ته د ،،داضطراري حالت،، نوم ورکوي. ددې له پاره ضروري ده چې ددې وضاحت وشي.

علامه حموي رحمه الله په ،،شرح اشباه،، کې لیکي چې: دلته پنځه درجې دي، ضرورت (اضطرار) حاجت، منفعت، زینت او فضول.

اضطرار:.... دادی چې دمنع شوي شي داستعمال نه پرته دسر دبچ کیدو هیڅ صورت نه وي، همدغه هغه اضطراري صورت دی په کوم کې چې خاص شرطونو سره دحرام شي استعمال مباح ګرځي.

حاجت: .... دادی چې دممنوعه شي نه استعمالولو سره دهلاکت ویره نه شته، خو مشقت او تکلیف به ډیر زیات وي، په دې حالت کې لمونځ، روژه، طهارت وغیره داحکامو سهولتونه خو به وي، مګر حرام شیان به مباح نه ګرځي.

منفعت:.... دادی چې دیوشي داستعمال سره بدن ته تقویت او فائده رسیږي او دنه کولو سره یې نه د هلاکت ویره وي او نه شدید تکلیف، په دې حالت کې نه دڅه حرام شي استعمال جائز دی او نه د روژې ماتولو اجازه شته، که څه حلال شي سره دانفع حاصلیدای شي؛ نو او دې کړي، ګني صبر دې وکړي.

زینت: .... دادی چې دې سره بدن ته هم څه تقویت نه وي یوازې تفریح طبع وي، ظاهره ده چې ددې له پاره دڅه ناجائزه شي دجواز ګنجائش له کومې کیدای شي؟

۱]وان اکره (علی الکفر) بالله تعالی اوسب النبی صلی الله علیه وسلم مجمع ،وقدوری (بقطع اوقتل رخص له ان یظهرما امربه)علی لسانه ویوری (وقلبه مطمئن بالایمان) (الدرالمختار ج:٦ص:١٣٤، کتاب الاکراه)-

۲] فمن اضطر غیر باغ ولاعاد فلااثم علیه (البقرة :١٧٣)_ .

فضول: ..... دا د تفریح نه هم مخکې دی چې مقصد ترې یوازې هوس راني وي.[۱]

زمونږ بحث د اضطرار د حالت په باره کې دی، د دې له وجې په دې باندې ښه پوهیدل پکار دي چې په اضطراري حالت کې د یو حرام شي د استعمالولو د رې شرطونه دي.

الف: د مریض حالت په ربنتیا داسې وي چې د حرام شي د استعمال نه کولو سره یې د سرخطره وي.

ب: دا خطره یوازې وهمي نه وي، بلکې یو معتمد حکیم یا ډاکټر د وینا مطابق یقیني وي او د حلال شي سره د دې علاج ممکن نه وي.

ج: د دې حرام شي سره د سربچ کیدل هم د چا قابل اعتماد حکیم یا ډاکټر په رایه کې عادتا یقیني وي.

د دې شرطونو سره د حرام شي استعمالول مباح شي، مګر بیا به هم څه صورتونه د دې نه مستثنی وي، مثلا د یو کس د سربچ کولو له پاره د بل کس وژل جائز نه دي، ځکه چې د دواړو سریو شان محترم دی.[۲]

پنځم: په غیر اضطراري حالت کې په علاج کې شرعي سهولتونه

که اضطراري حالت نه وي (د کوم له وجې چې د سرخطره وي) مګر د ناروغي او مرض د زیات والي له وجې مریض ته ډیر تکلیف دی، (همدغه حالت پورته په حاجت سره تعبیر شوی دی)؛ نو په دې صورت کې د حرام او نجس دوا استعمالول جائز دی او که نه؟ د دې حکم په قرآن او حدیث کې په وضاحت سره نه دی ذکر شوی، د دې له وجې د امت د فقهاوو په دې کې اختلاف دی، د ځینو حضراتو په نزد جائز نه دی او جمهور فقهاء د پورته ذکر شویو شرطونو سره د دې اجازه ورکوي، یعنې د چا معتمد ډاکټر یا حکیم د رایې مطابق د دې نه پرته بل علاج نه وي او د دې حرام شي سره د شفاء حاصلولو مکمل یقین وي.[۳]

۱] قوله ما ابیح للضرورة فی الفتح القدیرههنا خمسة مرات ضرورة ،وحاجة ،ومنفعة ،وزینة وفضول فالضرورة بلوغه حدا ان لم یتناول الممنوع هلک اذا قارب وهذا یبیح تناول الحرام والحاجة کالجائع الذی لولم یجدمایاکله لم یهلک غیرانه یکون فی جهدومشقة وهذا لایبیح الحرام ویبیح الفطرفی الصوم والمنفعة کالذی یشتهی خبز البر ولحم الغنم والطعام الدسم والزینة کالمشتهی بحلوی والسکر والفضول التوسع بأکل الحرام والشبهة......الخ (الاشباه والنظائرمع حاشیة الحموی ج:۱ص:۱۱۹طبع ادارة القرآن)۔

۲] قالوا لو اکره علی قتل غیره بقتل لایرخص له فان قتله اثم لان مفسدة نفسه اخف من مفسدة قتل غیره (الاشباه والنظائر ج:۱ص:۱۱۹،القاعدة الخامسة الضرریزال)۔

۳] ولم یبیح الارضاع بعدمدته لانه جزء آدمی والانتفاع به لغیرضرورة حرام علی الصحیح شرح الوهبانیة -وفی البحر:لا یجوز التداوی بالمحرم فی ظاهر المذهب ،اصله بول الماکول کمامر،الدرالمختار۔وفی الشرح : (قوله وفی عبارته)وعلی هذا ای الفرع المذکور لایجوز الانتفاع به للتداوی -قال فی الفتح :واهل الطب یثبتون للبن البنت ای الذی نزل بسبب بنت مرضعة نفعا لوجع العین ،واختلف المشایخ فیه ،قیل لایجوز،وقیل یجوز اذاعلم انه یزول به الرمد۔ولایخفی ان حقیقة العلم متعذرة ،فالمراد اذا غلب علی الظن والا فهو معنی المنع اه۔ولایخفی ان التداوی بالمحرم لایجوز فی ظاهر المذهب اصله ....[بقیه حاشیه په راروانه صفحه....

ددې مقدماتو په رڼا کې اوس د دواړو زیربحث مسئلو حکم لیکل کیږي.

د وینې مسئله

سوال: دیوانسان وینه دبل انسان بدن ته داخلول جائزدي اوکه نه؟

جواب: وینه، دانسان برخه ده، کله چې دبدن نه وویستل شي: نونجسه هم ده دانسان دجزیه حیثیت سره ددې مثال به دښځې دپیوپه شان وي، دکوم استعمال چې دعلاج له پاره فقهاوو (رحمهم الله) جائزلیکلی دی.(عالمگیری ج:٤ ص:١١٢ طبع مصر)[1] وینه هم که په دې باندې قیاس شي؛ نودابه دقیاس نه بعیدنه وي، البته ددې دنجاست پیش نظرددې به هم هغه حکم وي چې دحرام اونجس شیانو د استعمال پورته په مقدمه کې ذکر شوی دی یعنې:

۱: کله چې مریض داضطرارپه حالت کې وي اودماهروډاکټرپه نظرکې دوینې ورکولو نه پرته دسر بچ کیدو هیڅ لارنه وي؛ نووینه ورکول جائزدي.

۲: کله چې دماهرډاکټرپه نظرکې دوینې ورکولو ،،حاجت،، وي یعنې دمریض دهلاکت ویره نه وي، خودهغه په رایه دوینې ورکولونه پرته دصحت مندکیدو هیڅ امکان نه وي؛ نوبیاهم وینه ورکول جائزدي.

۳: کله چې دوینې نه ورکولوپه صورت کې دماهرډاکټرپه نزد دمرض اوږدوالي ویره وي؛ نوپه داسې صورت کې هم دوینې گنجائش شته، مگراجتناب بهتردی،

کما فی الهندیة: وان قال الطبیب یتعجل شفائک فیه وجهان..(ج:۵ ص:۳۳۵)

۴: کله چې وینې ورکولوسره-یوازې منفعت یازینت مقصود وي، یعنې دهلاکت یامرض دطوالت ویره نه وي، بلکې محض طاقت زیاتول اوپه حسن کې اضافه کول ترې مقصدوي؛ نوپه داسې صورت کې وینه هیڅ کله ورکول پکارنه دي.

دویم سوال: ایاچامریض ته وینه ورکولوله پاره ددې داخیستلوخرڅولواوقیمت اخیستل هم جائزدي؟

جواب: دوینې خرڅول جائزنه دي، خوپه کوموحالاتوکې اوپه کوموشرطونوسره چې اول نمبر کې مریض ته وینه ورکول جائز وگرځول شي په دې حالت کې که چاته پرته دقیمت نه وینه ملاونه شي؛ نوقیمت ورکولوسره وینه حاصلول دصاحب ضرورت له پاره جائزدي، مگردوینې ورکونکي له پاره ددې قیمت اخیستل جائزنه دي.

...بقیه د تیر مخ]..بول مایوکل لحمه فانه لایشرب اصلا اه .... قوله بآلمحرم ای المحرم استعماله طاهراًکان او نجسًا ،قوله کما مرای قبیل فصل فی البئرحیث قال: فرع اختلف فی التداوی بالمحرم، وظاهرالمذهب المنع کما فی ارضاع البحرلکن نقل المصنف ثمة وهناعن الحاوی :وقیل یرخص اذاعلم فیه الشفاء ولم یعلم دواء آخر کما خص الخمرللعطشان وعلیه الفتوی.اه (ردالمحتارمع الدرالمختارج:۳ ص:۲۱۱باب الرضاع)۔

[1] ایضا پورتنۍ حواله)۔

دریم سوال: دکافروینه دمسلمان په بدن کې داخلول جائزدي اوکه نه؟

جواب: په نفس جوازکې هیڅ فرق نه شته، خو څنګه چې ظاهره ده چې دکافریافاسق فاجر انسان په وینه کې کوم خبیث اثرات وي: نودهغې دمنتقل کیدواوپه اخلاق باندې د اثر انداز کیدو قوي خطره ده، ددې له وجې دامت نېکان دفاسقې ښځې پې ورکول هم ناخوښه کړي دي، ددې له وجې دکافر فاسق فاجرانسان دوینې نه دځېل وس ترحدپورې اجتناب کول ضروري دي.

څلورم سوال: دښځې اوخاوندپه خپل مینځ کې دوینې دتبادلې څه حکم دی؟

جواب: که دښځې خاوندوینه یوبل ته ورکړل شي: نوشرعا په نکاح باندې څه اثرنه پریوځي او نکاح هماغه شان قائمه وي. والله اعلم!

دانساني اندامونومسئله

سوال: دیوناروغ یامعذوره انسان دعلاج له پاره دبل ژوندي یامړه انسان اعضاء (بندونه) لګول څنګه دي؟

جواب: تردې وخت پورې ډاکټرانوهم دژوندي انسان داندامونواستعمال چیرته تجویزکړی نه دی ددې له وجې په دې باندې دنوربحث ضرورت نه شته، بحث طلب مسئله هغه ده چې نن سباپه هسپتالونو کې راپیښیږي اودکوم له پاره چې اپیلونه کیږي هغه داچې کوم انسان ددنیانه روان دی که څه هم دکوم عارض په سبب یاپه څه جرم کې دقتل کیدو له وجې . ددې اجازه دې واخیستل شي چې دمرګ نه وروسته دې دهغه فلانی اندام واخیستل شي اوبل انسان ته دې ولګول شي.

په ظاهره خوپه دې کې هرطرف ته فائده ده، ځکه چې دمړکیدونکي تمام اندامونه فنا کیدونکي دي، که په دې کې یواندام دیوژوندي کس په څه کارباندې راشي اودهغه دمصیبت علاج جوړشي؛ نوپه دې کې څه نقصان دی؟ داداسې معامله ده چې دعامو خلکو نظریوازې ددې په مفیدو اړخونوباندې پریوځي اوددې هغه مهلک نتیجې یې دنظرنه پټې وي دڅه لږ شان ذکرچې په شروع کې شوې ده (په اصل کتاب کې ددې په مضرو اړخونوباندې په تفصیل سره بحث شوی دی ، تلخیص کې هغه برخه حذف شوې ده)

مګرشریعت اسلام له پاره،کوم چې دانسان اودانسانیت دظاهري اومعنوي اصلاح اوفلاح ضامن دی، ددې دمضراومهلک نتیجونه یوازې نظرکول اومحض دظاهري فائدوله وجې سره ددې اجازه ورکول ممکن نه دي،شریعت اسلام نه یوازې دژوندي انسان د کار آمد اندامونو، بلکې قطع شوې بیکاره اندامونواواجزاء استعمالول هم حرام ګرځولی دی اود مړانسان یواندام کټ کولوته یې هم ناجائزه ویلي دي اوپه دې سلسله کې دچارضامندي او

اجازه هم دده د اندامونو داستعمال اجازه نه ورکوي اوپه دې سلسله کې دمسلمان او کافر دواړو له پاره يوشان حکم دی، ځکه چې دادانسانيت حق دی چې په ټولوکې برابردي. تکريم انسانيت ته شريعت اسلام هغه حق ورکړی دی چې هيڅ وخت کې، په هيڅ حالت کې. دهيڅ يو انسان اعضاء اواجزاء حاصلولو بيخي طمع ونه ساتي اودغه شان دامخدوم کائنات اوددء اندامونه دعام استعمال دشيانو نه بالاتر پاتې شي.کوم چې کټ کولوسره. ياخوراک او دوايانوله پاره اوپه نورومفاداتوکې استعماليدای شي، په دې باندې ځلورواړه امامان اوپوره امت متفق دی[1] اونه يوازې شريعت اسلام، بلکې شرائع سابقه اوتقريباً هرمذهب اوملت کې دغه قانون دی،والله اعلم

دانساني اندامونو حرمت

سوال: زه د(ايم بي بي ايس) اخري کال طالبعلمه يم، زه ستاسومشورې په جنګ اخبارکې لولم، دې وخت کې هم زه ديوې مسئلې سره حاضره شوې يم، په دې وخت کې زماډيوټي د سول هسپتال په وارډS.I.U.T (سنده انسټيټيوټ آف يورولوجی اينډ ټرانسپلانزيشن)کې لګيدلې ده، اوس اوس څه لږ موده مخکې په پاکستان کې په اول ځل ، cadaver kidney transplantation (د مړي وجودنه ګرده ويستل او ژوندي کس ته لګول) شوي دي. s.i.u.t کې هم دا کارشوی دی اونن سباپه کې هم ددې نوعيت بل اپريشن کيدونکی دی، دا دواړه ګردې چې مړه کس له وجودنه ويستل شوې دي دبهرملک نه راليږل شوې دي.
اوس مسئله داده چې د وارډکوم ايډمنسټريشن ده هغه موږ سټوډنټس سره په دې باندې خبرې اترې کول غواړي چې که ايا موږ نه يوکس داسې ووايي چې زموږ له مرګ نه وروسته زموږ دبدن يو اندام ديومړکيدونکي کس دسربچ کولوله پاره ورکړو؛ نوزموږ به څه ردعمل وي؟ دهغه وينا ده، چې څه خلک په اسلامي نقطه نظرسره داخبره غلطه ګڼي؛ نوسعودي عرب هم يواسلامي ملک دی، هلته داوو يا اتوکلونو راهيسې دکيډرټرانسپلانټ کيږي، زمادځه دوستانودا وينا ده چې په حديث شريف کې راغلي دي چې ديوانسان سربچ کول دټول انسانيت سربچ کول دي؛ نوکه ددې له پاره موږ donorcard ډک کړو؛ نو زموږ له مرګ نه وروسته زموږ دبدن يواندام وويستل شي؛ نوپه دې کې هيڅ نقصان نه شته.
زمايه دې باره کې خپل خيال دادی چې داسې کول دمړي بې حرمتي ده اودا په اسلام کې جائزنه دي، اوس زما تاسوته دا درخواست دی چې تاسو دقرآن اوسنت په رڼاکې وفرمايئ

---

[1]]وقدفصله اصحابناقالوا ان وصلت شعرها بشعر آدمی فهو حرام بلاخلاف سواء کان شعررجل او امراة وسواء المحرم والزوج وغيرها بلاخلاف لعموم الاحاديث ولانه يحرم الانتفاع بشعرالآدمی وسائراجزائه لكرامته بل يدفن شعره وظفره وسائراجزائه(شرح مسلم ج:۲ص:۲۰٤باب تحريم الواصلة والمستوصلة والواشمة والمستوشمة والنامصةالخ)

چې ستاسو په دې باره کې څه خيال دی؟ لطفا خپل دليلونه سره له ثبوت راکړئ چې ماته ستاسوموقف نوروته رسولواوپوهولوکې اساني وي.

جواب: په دې مسئله کې ستاسوموقف صحيح دی اوستاسودملګروموقف غلط دی، په دې سلسله کې څوخبرې په ذهن کې وساتئ:

۱: ستاسودتحريرنه پته لګيږي چې که يوکس له مرګ نه مخکې داسې وصيت وکړي چې دهغه دبدن نه دې اندامونه وويستل شي اودضرورت مندو په بدن کې دې ولګول شي؛ نوبيا خو دهغه دبدن نه اندامونه ويستل کيدای شي،ګني نه، ګويادا اصول تسليم شوي دي چې دمړکس داجازې نه پرته دهغه دبدن اندامونه استعماليدای نه شي.

۲: اوس کوم کسان څوک چې دڅه دين يامذهب قائل نه دي يادين اومذهب قائل دي، خو دهغوی خيال دادی چې دمذهب زموږ دژوند دهرجائزاوناجائزسره کارنه شته، دداسې خلکو له پاره پورته ذکر شوې اجازت نامې له پاره دمذهب نه داجازت اخيستلوهيڅ ضرورت نه شته، خو ديومسلمان په حيثيت به موږ دې ته کتل وي چې ايازموږ دين اومذهب ددې اجازه ورکوي اوکه نه؟ که دمذهب له طرف نه اجازه وي؛ نوذکر شوی وصيت به جائزوي، ګني دغسې وصيت به غلط لغواوباطل وي.

۳: دا اصول مقررشول؛ نواوس دې ته کتل دي چې ايا الله تعالى انسان ته ددې اندامونو او وجود مالک جوړکړی دی؟ بنده که لږ شان غورهم وکړي؛ نوورته پته به ولګيږي چې دانسان وجود او دهغه اندامونه دهغه ملکيت نه دي.

بلکې داټول سرکاري مشينري ده،کومه چې داستعمال له پاره دې خلکوته ورکړل شوې ده، اوداسرکاري شي ګڼلوسره ددې حفاظت اونګراني هم دده په ذمه لګول شوې ده، لهذاده ته ددې اندامونودتلف کولواجازه نه شته، نه ورته دخرڅولواجازه شته[1]، همدغه وجه ده چې ده ته د خودکشي اجازه نه شته، بلکې ورته فرمايل شوي دي چې کوم کس خودکشي وکړي دقيامت تر ورځې پورې به په دغه عذاب کې راګيروي[2]، کله چې انسان دخپل وجود

۱]مضطر لم يجدميتة وخاف الهلاک فقال له رجل :اقطع يدی وکلها اوقال:اقطع منی قطعة وکلها لايسعه ان يفعل ذالک ولايصح امره به کما لايسع للمضطر ان يقطع قطعة من نفسه فياکل ،کذا فی فتاوی قاضی خان (عالمګيری ج:۵ص:۳۳۸،الباب الحادی عشر فی الکراهة فی الاکل ومايتصل به)_

۲]عن ابی هريرة رضی الله عنه قال:قال رسول الله صلی الله عليه وسلم :من تردی من جبل فقتل نفسه فهو فی نارجهنم يتردی فيها خالدًا مخلدًا فيهاابدا، ومن تحسی سما فقتل نفسه فی يده يتحساه فی نارجهنم خالدًا مخلدًا فيها ابدًا ،ومن قتل نفسه بحديدة فحديدته فی يده يتوجّأ بهافی بطنه فی نارجهنم خالدًا مخلدًا فيها ابدًا — متفق

مالک نه دی؛ نو اندامونه خرڅولی هم نه شي او نه يې هبه کولی شي او نه د دې وصيت کولی شي او که داسې وصيت وکړي؛ نو دا وصيت به د غير ملک کيدوله وجې باطليږي.[۱]

۴: د دې پرته د احترام انسانيت هم دغه غوښتنه ده چې د ده اندامونه د دې د خرڅ مال يا د استعمال شی جوړ نه شي، د اندامونو د هبه کولو وصيت کول د احترام آدميت خلاف دي.

۵: په عام ډول دا ګڼل کيږي چې د مرګ نه وروسته بنده بې حسه شي، دا خيال هم صحيح نه دی، هغه يوازې زموږ د دنيا د مشاهدې په اعتبار سره بې حسه په نظر راځي، ګني د بل ژوند په اعتبار سره په هغه کې احساس موجود دی، د دې له وجې د مړي د بدن ټکرې ټکرې کول جائز نه دي او د دې سره مړي ته هم دغه شان تکليف ملاويږي څنګه چې ژوندي انسان ته ملاويږي، د حضور ﷺ ارشاد مبارک مطابق يعني: د مړي هډوکي ماتول هغه شان دي، لکه د ژوندي هډوکي ماتول، ،(مشكوة باب دفن الميت .فصل دوم آخرى حديث نبر ۱۷۱٤)[۲]

۶: خلک په خپل ژوندکې نه د سترګو عطيه ورکوي او نه د ګردو، ځکه چې هغوی ته پته ده چې په دې ژوندکې هغوی ته په خپله د دې اندامونو ضرورت دی، خو له مرګ نه وروسته ډيره فياضي سره د دې وصيت کوي، د دې سبب دادی چې ژوند خو ژوند ګڼي، خو له مرګ نه وروسته په ژوند يې ايمان نه شته، داسې ګڼي چې له مرګ نه وروسته به اندامونه سخا او خاورې شي، په خاورو کې به خاورې شي او د دې اندامونو ضرورت به هيڅ راپيښيږي نه، هم دغه عقيده د کفار مکه هم وه او هم دغه عقيده د نن د کافرانو هم ده، کوم مسلمانان چې داسې وصيت کوي، د همدې کافرانو د عقيدې مطابق له مرګ نه وروسته په ژوند باندې ايمان نه لري.

غرض دا چې:

د انساني اندامونو پيوند کاري جائز نه ده او د دې اندامونو د هبه کولو وصيت باطل دی.

عليه ٠ وعنه قال:قال رسول ا لله صلى الله عليه وسلم :الذى يخنق نفسه يخنقها فى النار ،والذى يطعنها يطعنها فى النار ٠رواه البخارى (مشكوة ص:۲۹۹ كتاب القصاص ،طبع قديمى كتب خانه)_

۱] ومن شرائط الوصية ان يكون الرجل مالكًا وكون الشىء قابلاً للتمليك (البحرالرائق ج:۸ ص:۴۰۳ ردالمحتار ج:٦ص:٦٤٩ كتاب الوصايا،طبع ايچ ايم سعيد)_

۲] عن عائشة رضى الله عنها ان رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: كسرعظم الميت ككسره حيًا ٠رواه مالك وابوداود وابن ماجة)_

❖ د جنازې لمونځ ❖

د حضور ﷺ د جنازې لمونځ او تدفين څنګه وشو او د خلافت فيصله څنګه وشوه؟

سوال: د نبي اکرم ﷺ له وفات نه وروسته د هغه مبارک جنازه چا وکړه؟ او د حضور ﷺ تدفين او په غسل کې کوموکومو حضراتو برخه واخيسته؟ او د حضور ﷺ نه وروسته د خلافت په منصب باندې څوک مقرر شوا وايا دا فيصله په اتفاق سره شوې وه؟

جواب: ۳۰ صفر (اخري چارشنبه) باندې د حضور ﷺ د مرض الوفات ابتداء وشوه[۱] په (۸) ربيع الاول باندې د زيارت په ورځ په ممبر باندې تشريف فرماشو او ارشاد يې وفرمايه، چې په هغه کې يې د ډيرو امورو په باره کې تاکيد او نصيحت وفرمايه[۲]، په (۹) ربيع الاول د جمعې په شپه مرض شدت اختيار کړ او درې ځله بې هوشه شو، د دې له وجې يې جومات ته لاړ نه او درې ځله يې وفرمايل چې: ابوبکر ته ووايئ چې خلکوته لمونځ ورکړي، دا لمونځ حضرت ابوبکر رضي الله عنه ورکړ او باقي درې ورځې هم هغه امامت وکړ، ګويا د حضور ﷺ په ژوند مبارک کې حضرت ابوبکر رضي الله عنه د اوولسو لمونځونو امامت وکړ، د کوم وسلسله چې د ماخستن د لمانځه نه شروع شوه او په (۱۲) ربيع الاول د دوشنبې په ورځ د سهار په لمانځه باندې ختمه شوه[۳].

د ناروغي په ورځو کې يوه ورځ د حضرت عائشه صديقه رضي الله عنها په کور کې (چې بيا وروسته

۱] فصل فى حوادث السنة الحادية عشرة من الهجرة ..... وفيها مرض رسول الله صلى الله عليه وسلم فى آخر الاربعاء من صفر، وكان ذلک اليوم ثلثين من شهر صفر المذكور ..... وكانت مدة مرضه صلى الله عليه وسلم ثلاثة عشر يوماً على القول المشهور الذى عليه الاكثرون (بذل القوة فى حوادث سنى النبوة ص:۲۹۶ طبع جامعة السند حيدرآباد پاكستان)

۲] وفيها مرض رسول الله صلى الله عليه وسلم فى آخرالاربعاء من صفروكان ذالک اليوم الثلاثين من شهر صفرالمذكور......وفيهافى ايام ذالک المرض خرج الى المنبر فخطب عليه قاعدًا لعذر المرض واخبر فيها بامور كثيرة تحتاج اليه امته وكانت تلک الخطبة يوم الخميس الثامن من شهر ربيع الاول....الخ. (بذل القوة فى حوادث سنى النبوة ص:۲۹۶نه تر۲۹۸پورى فصل فى حوادث السنة الحادية عشرة من الهجرة)

۳] فيها لمااشتدعليه صلى الله عليه وسلم المرض ليلة الجمعة التى هى التاسعة من شهر ربيع الاول فاغمى عليه صلى الله عليه وسلم ثلاث مرات ،ولم يستطع الخروج الى صلاة العشاء ،قال ثلاث مرا ت :مروا ابابكرفليصل بالناس !فصلى ابوبكررضى الله تعالى عنه مقام النبى صلى الله عليه وسلم تلک العشاء ثم لم يزل يصلى بهم الصلوة الخمس فى تلک الايام الثلاثة الباقية ،حتى كانت صلوة ابى بكر رضى الله عنه التى صلاها بهم فى حياته صلى الله عليه وسلم سبع عشرة صلوة مبداها صلاة العشاء من ليلة الجمعة ومنتهاها صلوة الفجرمن يوم الاثنين الثانى عشرمن شهر ربيع الاول (بذل القوة ص:۳۰۰)

د حضور ﷺ اخري ارام ګاه هم جوړ شوه) اکابرو صحابه کرامو ته یې نصیحت وفرمایلو:
((له وفات نه وروسته ماته غسل راکړئ اوکفن راته واغوندوئ اوزما کټ زما دقبرپه خوا کې (چې په همدې کور کې به وي) کیږدئ اود لږ ساعت له پاره بهر ووځئ، زما جنازه به اول جبرائیل ﷺ وکړي، بیا میکائیل ﷺ، بیا اسرافیل ﷺ، بیا عزرائیل ﷺ، د هریو سره به د فرښتو عظیم لښکرونه وي، بیا زما داهل بیت سړي، بیا ښځې، له امام نه پرته (ځانته ځانته) بیا تاسو خلک ډلې ډلې راشئ او ځانته ځانته لمونځ وکړئ))
دهمدې مطابق عمل وشو، اول ملائیکو د حضور ﷺ جنازه وکړه، بیا د اهل بیت سړیو، بیا ښځو، بیا مهاجرینو، بیا انصارو، بیا ښځو، بیا ماشومانو، ټولو ځانته ځانته لمونځ وکړ او هیڅ یو کس امام نه و[۱].
حضور ﷺ ته غسل حضرت علي (کرم الله وجهه) ورکړ، حضرت عباس اودهغه زامنو فضل او قثم رضي الله عنهم دهغه مدد کولو، نور داچې د حضور ﷺ دوه ازاد شوي غلامان: حضرت اسامه بن زید او حضرت شقران رضي الله عنهما هم په غسل کې شریک وو، حضور ﷺ ته درې سخولي (دسخول جوړ کړې شوې) جامو کې کفن ورکړل شو[۲].
د حضور ﷺ د وفات په ورځ (۱۲ ربیع الاول) په سقیفه بني ساعده کې د حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه په لاس باندې دخلافت بیعت وشو، اول اول دخلافت په مسئله باندې مختلفې رایې وړاندې شوې، خو د معمولي بحث نه وروسته بالاخر د حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه په انتخاب باندې اتفاق وشو او تمام اهل حل وعقد دهغه په لاس باندې بیعت وکړ[۳].

د حضور ﷺ د جنازې لمونځ چا ورکړی و؟

سوال: د حضور ﷺ د جنازې لمونځ شوی و او که نه؟ او د حضور ﷺ د جنازې لمونځ چا ورکړی و؟ مهرباني وکړئ او جواب راکړئ، ځکه چې نن سبا دا مسئله زموږ ترمینځه د لوی بحث وجه

۱] وفيها في ايام مرضه صلى الله عليه وسلم وكونه صلى الله عليه وسلم في بيت عائشة رضى الله عنها اوصى لاصحابه فقال: اذا انا مت فاغسلوني وكفنوني واجعلوني على سريرى هذا على شفير قبرى في بيتي هذا ثم آخرجوا عني ساعة فاول من يصلى على جبريل، ثم ميكائيل، ثم اسرافيل، ثم ملك الموت، كل واحد منهم بجنوده، ثم يصلى على رجال اهل بيتي، ثم نسائهم، ثم ادخلوا انتم فوجًا فوجًا فصلوا على. فوقع كماقال صلى الله عليه وسلم فصلى عليه صلى الله عليه وسلم اولاً الملائكة عليهم السلام ثم رجال اهل بيته، ثم نساءهم ثم رجال المهاجرين، ثم الانصار، ثم النساء، ثم الغلمان فصلوا كلهم افذاذا منفردين لايومهم احد (بذل القوة ص: ۲۹۹، فصل في حوادث السنة الحادية عشرة من الهجرة)

۲] وفيها وقع انه لما توفى صلى الله عليه وسلم غسله على وحضر معه العباس وابناه الفضل وقثم ومولیا رسول الله صلى الله عليه وسلم ورضى الله عنهما اسامة وشقران ......رضى الله عنهم وكفن في ثلاثة اثواب بيض سخولية (بذل القوة ص: ۳۰۳ فصل في حوادث السنة الحادية عشرة من الهجرة، طبع حيدرآباد)۔

۳] البداية النهاية ج: ۵ ص: ۲۲۳ تا ۲۷۰، طبع دارالفكر، بيروت)

جوړه شوې ده.

جواب: دحضور ﷺ دجنازې لمونځ دعام دستور په شان دجمعې سره نه وه شوې اونه څوک امام جوړ شوی و، ابن اسحاق رحمه الله اوداسې نور... داهل سیرنه نقل کړي دي چې تجهيز او تکفين نه وروسته دحضور ﷺ جنازه مبارکه په حجره شريفه کې کيښودل شوه، اول سړي راغلل او ډلې ډلې لمونځ یې وکړ، بیا ښځو، بیاماشومانو[۱]۔

حضرت حکيم الامت اشرف علي تهانوي رحمه الله په نشرالطيب کې ليکي:

اوپه ابن ماجه کې دحضرت ابن عباس رضي الله عنهما نه روايت دی چې: دحضور ﷺ جنازه تیاریدونه وروسته کيښودل شوه، اول سړي راغلل په ډلې ډلې یې لمونځ وکړ، بيا ښځې راغلې، بیاماشومان راغلل اوپه دې لمانځه کې څوک امام نه شو. (نشرالطيب ص:۲٤٤مطبوعه تاج کمپنی)

علامه سهيلي رحمه الله په ,,الروض الانف،، (ج:۲ص:۳۷۷مطبوعه ملتان) کې ليکي: ,, دا د حضور ﷺ خصوصيت و اوداسې د حضور ﷺ په حکم باندې شوي و اوداېن مسعود رضي الله عنه نه روايت دی چې حضور ﷺ ددې وصيت فرمايلی و[۲]،،

علامه سهيلي رحمه الله داروايت دطبراني اوبزارپه حوالې سره، حافظ نورالدين هيثمي رحمه الله (مجمع الزوائد) (ج:۹ص:۲۵) کې د (بزاراوطبراني)[۳] په حوالې سره اوحضرت تهانوي رحمه الله (نشرالطيب) کې د واحدي رحمه الله په حواله سره داروايت نقل کړی دی اوددې الفاظ دادي:

,, موږ عرض وکړ: يارسول الله! په تاسوباندې به جنازه څوک کوي؟ ويې فرمايل کله چې دغسل او کفن نه فارغ شئ؛ نوزما جنازه دقبرسره خواکې کيږدئ اولرې شئ، اول به ملائيکې د جنازې لمونځ کوي، بیاتاسوډلې ډلې راځئ اولمونځ کوئ، اول دې اهل بيت سړي لمونځ

۱]وقال محمد بن اسحاق لما مات رسول الله صلى الله عليه وسلم ادخل الرجال فصلوا عليه،بغير امام ارسالاً حتى فرغوا ثم ادخل النساء فصلين عليه ثم دخل الصبيان فصلوا عليه ... لم يؤمهم على رسول الله صلى الله عليه وسلم احد ، وقال الواقدى لما ادرج رسول الله صلى الله عليه وسلم فى اكفانه وضع على سريره ثم وضع عى شفير حفرته ثم كان الناس يدخلون عليه رفقاء لا يؤمهم عليه احد (البدايه والنهايه ج:۵،ص: ۲٦۵ كيفية الصلوة عليه صلى الله عليه وسلم وايضاً فى الروض ج:۲،ص: ۳۷۷)

۲] وذكر ابن اسحاق وغيره ان المسلمين صلوا عليه افذاذاً لا يؤمهم احد، كلما جاءت طائفة صلت عليه وهذا خصوص به صلى الله عليه وسلم ولا يكون هذا الفعل الا عن توقيف وكذلک روى انه اوصى بذلک ذكره الطبرى مسند .... وقد رواه البزار ايضاً عن طريق مرة عن ابن مسعود .....الخ (الروض الانف ج:۲، ص:۳۷۷ كيف صلى على جنازته عليه السلام طبع ملتان)

۳]د مجمع الزوائد عبارت دا دی : فقلنا : فمن يصلى عليک منا ؟ فبكينا وبكى وقال ..... اذا غسلتمونى و وضعتمونى على سريرى فى بيتى هذا على شفير قبرى فاخرجوا عنى ساعة فان اول من يصلى على خليلى وجليسى جبريل ..... ثم الملائكة صلى الله عليه وسلم ، ثم ادخلوا علىّ فوجاً فوجاً فصلوا على وسلموا تسليماً ...... وليبدا بالصلوة على رجال اهل بيتى ثم انتم بعد .... رواه البزار .... ورواه الطبرانى فى الاوسط بنحوه (مجمع الزوائد ج:۸،ص: ٤۲۷ باب فى وداعه صلى الله عليه وسلم ، طبع دارالكتب العلمية بيروت)

وکړي بیا دهغوی ښځې بیا تاسو خلک.،،
په سیرة المصطفی ﷺ کې دطبقات ابن سعد په حوالې سره د حضراتو ابوبکر او عمر رضی الله عنهما دیوې ډلې سره دلمونځ کول نقل دي.[1]

د بیلمازه د جنازې لمونځ وشي اوکه نه ؟

سوال: یو مولانا صاحب په خپل تقریر کې وویل چې: حضور ﷺ کله هم دبیلمازه جنازې نه وه کړې، تردې پورې چې یولک نهه ویشت زره صحابه کرامو رضی الله عنهم هم کله دچابیلمازه جنازه خوبیرېږده دهغه د لاس اوبه هم نه وې څښلې اوحضرت غوث الاعظم عبدالقادر جیلاني رحمة الله علیه کله هم دبیلمازه جنازه نه کوله، تاسوته مو عرض دادی چې تاسوهم ددوی پیروکار یئ تاسوټول مولانا صاحبان دبیلمازه دجنازې کولونه په یوځای بائیکاټ ولې نه کوئ؟ که تاسوداسې وکړئ؛ نوڅوک به هم بیلمازه پاتې نه شي.

جواب: دحضور ﷺ په زمانه کې به هیڅوک بیلمازه نه و، په هغه زمانه کې به خوبې ایمانه منافقانو هم خلکوته دښودنې له پاره لمونځونه کول، حضرت پیران پیردحضرت امام احمدبن حنبل رحمة الله علیه مقلدو اودامام احمدبن حنبل رحمة الله علیه په مذهب کې دتارک الصلوة په باره کې دوه روایتونه دي، یوداچې کوم کس پرته دشرعي عذرنه درې لمونځونه محض دسستې له وجې پرېږدي؛ نوهغه کافراومرتد دی اودخپل دارتداد له وجې واجب القتل دی، دقتلیدونه وروسته دې نه هغه ته غسل ورکړل شي اونه دې هغه دمسلمانانو په قبرستان کې دفن شي. ممکنه ده چې حضرت پیران پیر رحمة الله علیه هم په دې قول باندې عمل کولو، دویم روایت دادی چې هغه مسلمان دی، خو دسزا په ډول به قتل شي اودقتل کیدونه وروسته به دهغه جنازه هم اداکیږي اوهغه به دمسلمانانو په قبرستان کې دفن کیږي، امام ابن قدامه په ،،المغنی،، کې په دې مسئله باندې په تفصیل سره لیکلي دي، اهل علم رجوع وفرمایي.[2] (المغنی مع الشرح الکبیر ج:۲ ص:۲۹۸-۳۰۱)
دامام مالک رحمة الله علیه اوامام شافعي رحمة الله علیه مذهب هماغه دی چې پورته دامام احمد رحمة الله علیه په دویم روایت کې ذکر شو، چې تارک الصلوة کافرنه دی، مګر دهغه سزا قتل دی اودقتل نه وروسته به دهغه

۱] البدایة والنهایة ج:۵ص:۲٦۵،طبع دارالفکربیروت)_

۲] وان ترکها تهاونًا اوکسلاً دعی الی فعلها وقیل له :ان صلیت والا قتلناک ،فان صلی والا وجب قتله، ولایقتل حتی یحبس ثلاثًاویضیق علیه فیها.،ویدعی فی وقت کل صلاة الی فعلها ویخوف بالقتل ،فان صلی والا قتل بالسیف وبهذا قال مالک وحماد بن زید ووکیع والشافعی ......والثانیة لایجب قتله حتی یترک ثلاث صلوات ویضیق وقت الرابعة عن فعلها ......فروی انه یقتل لکفره کالمرتد فلایغسل ولایکفن ولایدفن بین المسلمین ......والروایة الثانیة یقتل حدا مع الحکم باسلامه کالزانی مع المحصن وهذا اختیار ابی عبدالله بن بطة وانکرقول من قال انه یکفر.....وهذا قول اکثرالفقهاء وقول ابی حنیفة ومالک والشافعی ......الخ (المغنی والشرح الکبیرج:۲ص:۲۹۹، ۳۰۰)

جنازه هم کیږي او د مسلمانانو په قبرستان کې به دفن کیږي (شرح مهذب ج:۳ص:۱۳)[۱]

د امام ابوحنیفه رحمه الله په نزد تارک الصلوة دې قید شي او هغه دې ووهل شي تردې پورې چې په دې حالت کې هغه مړشي[۲]، له مرګ نه وروسته به د هغه جنازه هم کیږي[۳] د دې تفصیل نه معلومه شوه چې د بیلمازه سزا ډیره سخته ده، خو د هغه جنازه جائز ده، الله تعالی دې ټول مسلمانان د ترک الصلوة له ګناه نه بچ کړي.

د جنازې د لمانځه په وخت د شریکیدو په ځای جدا دریدل

سوال: زیاتر دا په نظر راځي چې خلک د یوې جنازې سره راځي او کله چې د جنازې لمونځ اداء کیږي؛ نو زیات تعداد جدا یو طرف ته دریږي، څومره د تکلیف او د افسوس خبره ده چې کوم خپلوان د دې دنیا نه، خصت شوي دي د هغوی اخري لمونځ هم موږ نه شو اداء کولی، حالانکې د کور نه خو د دې مقصد له پاره راغلي و او بیا د لمانځه نه مخ اړوي، د لمونځ نه داسې قسم نفرت کونکو له پاره په قرآن او سنت کې څه احکامات دي؟

جواب: دا وینا خو شاید چې صحیح نه وي چې د دوی د لمونځ نه نفرت دی،البته دا وینا صحیح ده چې له دوی سره د لمانځه اهتمام نه شته، پنځه وخته لمونځ فرض عین دی[۴] او د جنازې لمونځ فرض کفایه دی[۵] کوم خلک چې فرض عین نه شي اداء کولی د دوی نه د فرض کفایه د اداء کولو څه شکایت دی؟

د بیلمازه د جنازې لمونځ

سوال: په یو کلي کې یوانسان مړشو، هغه ډیر بیلمازه و، د هغه کلي امام وویل چې زه د ده جنازه نه کوم، د دې جګړې له وجې د کلي خلکو دویم مولوي صاحب راوست، هغه فتوا ورکړه

۱] ومن وجبت علیه الصلاة وامتنع من فعلها ......وان ترکها وهو معتقد لوجوبها وجب علیه القتل ...... (فرع) اذا قتل فالصحیح انه یغسل ویصلی علیه ویدفن فی مقابرالمسلمین (شرح المهذب ج:۳ص:۱۳، ۱۵)

۲]وتارکها عمدًا مجانة یحبس حتی یصلی (درمختار) وفی الشامیة:ویحبس حتی یموت اویتوب ......الخ (ردالمحتارمع الدرالمختار ج:۱ص:۳۵۲،۳۵۳کتاب الصلاة)۔

۳]فکل مسلم مات بعدالولادة یصلی علیه صغیرًا کان اوکبیرًا ،ذکرًا کان او انثی ......لقول النبی صلی الله علیه وسلم :صلوا علی کل بروفاجر......الخ (البدائع الصنائع ج:۱ص:۳۱۱) ۰ایضًا:عن عبدالله بن عمر قال:قال رسول الله صلی الله علیه وسلم :صلوا علی من قال لا اله الا الله ولان ذالک اجماع المسلمین فاننا لا نعلم فی عصرمن الاعصار ا حدًا من تارکی الصلاة ترک تغسیله والصلاة علیه ودفنه فی مقابرالمسلمین (المغنی والشرح الکبیر ج:۲ص:۳۰۱)۔

۴] والفرض نوعان:فرض عین وفرض کفایة ،وفرض العین نوعان :احدهما الصلوات المعهودة فی کل یوم ولیلة والثانی صلاة الجمعة ......الخ (بدائع الصنائع ج:۱ص:۸۹کتاب الصلاة)

۵] انها فرض کفایة اذا قام به البعض یسقط عن الباقین..الخ (بدائع ج:۱ص:۳۱۱صلاة الجنازة ،طبع سعید)

چې دبیلمازه جنازه کیدای شي، لهذا دغه دویم مولوي صاحب دجنازې لمونځ وکړ، مهرباني وکړئ اوموږ ته دقرآن اوسنت په رڼا کې ووایئ چې دبیلمازه جنازه جائزده اوکه نه؟

جواب: بیلمازه که دالله تعالی اودرسول ﷺ دحکم نه منکرنه و؛ نو دهغه دجنازې لمونځ کول پکاردي، دکلي مولوي صاحب که دخلکو دعبرت له پاره دهغه جنازه ونه کړه؛ نو هغه هم غلط وکړ اوکه هغه داوایي چې دده جنازه صحیح نه ده؛ نودابه غلطه خبره وه.[۱]

د بیلمازه مړي راښکل جائز نه دي او د هغه د جنازې لمونځ هم جائز دی

سوال: زموږ په محله کې یوصاحب اوسیده، هغه وفات شو، هغه چاپه لمونځ کولوباندې نه و لیدلی، ددې له وجې خلکو دهغه مړی څلویښت قدمه راښکلواوبیاېې خښ کړ، زه ډیرحیران شوم اودیو بزرګ نه مې پوښتنه وکړه چې داسې یې ولې وکړل؟ هغه راته جواب راکړ، چې که یوکس په خپل ټول عمرکې یولمونځ هم ونکړي؛ نودهغه له پاره حکم دی چې دهغه مړی دې څلویښت قدمه پورې راښکل کیږي؟

جواب: لمونځ نه کول کبیره ګناه ده اوپه قرآن کریم او حدیث کې د بیلمازه له پاره سخت الفاظ راغلي دي، خوکه یوکس دلمانځه نه منکرنه وي؛ نودهغه دمړي بې حرمتي جائزنه ده[۲] اودهغه جنازه به هم کیږي[۳] البته که هغه دلمانځه دفرضیت قائل نه و؛ نوهغه مرتددی اودهغه جنازه جائزنه ده.[۴]

د ناواده کړي جنازه جائزده

سوال: دډیرو خلکونه مې اوریدلي دي چې که سړی ددویشتوکلونونه زیات شي او واده ونه کړي او ناواده کړئ مړشي؛ نودهغه جنازه نه دي کول پکار، ایادا دقرآن اوحدیث په رڼا صحیح ده؟ که چاتعلیم حاصلولواو واده کول ونه غواړي؛ نودهغه په باره کې تحریر وفرمایئ!

جواب: تاغلط اوریدلي دي، دناواده کړي جنازه هم ضروري اوفرض ده، څنګه چې دواده

۱] تیره شوی حاشیه(فکل مسلم مات بعدالولادة یصلی علیه صغیرًاکان اوکبیرًا ذکرًا کان...الخ) اوګورئ!)

۲]عن عائشة ان رسول الله صلى الله عليه وسلم قال:كسرعظم الميت ككسره حيًا،يعني فى الاثم ،كمافى رواية قال الطيبي اشارة الى انه لا يهان ميتا كمالايهاحيًا قال ابن الملک والى ان الميت يتالم ......وقداخرج ابن ابى شيبة عن ابن مسعود قال:اذى المومن فى موته كاذاه فى حياته (مرقاة شرح مشكوة ج:٢ص:٣٨٠)۔

۳] الصلاة على الميت ثابتة بمفهوم القرآن قال الله تعالى :ولاتصل على احد منهم مات ابدًا ،والنهى عن الصلاة على المنافقين يشعربثبوتها على المسلمين الموافقين وثابتة بالسنة ايضًاقال عليه السلام :صلوا على من قال لا اله الا الله ولا خلاف ذالک وهى فرض على الكفاية ويسقط فرضها بالواحد......الخ (الجوهرة النيرة ج:١ص:١٠٧)۔

٤] واما المرتد فيلقى فى حفرة كالكلب ......الخ (درمختارمع الشامى ج:٢ص:٢٣٠)۔

کړي ده[1] خو نکاح د عفت محافظه ده.

د جنازې د لمانځه د جواز له پاره ایمان شرط دی واده نه

سوال: که یو سړی واده ونه کړي او مړ شي؛ نو د هغه جنازه جائز نه ده، همدغه شان که یوه ښځه واده ونه کړي یا د هغې رشته رانه شي او واده نه شي؛ نو ایا د هغې جنازه جائز ده؟ نن سبا جینکۍ ډیرې دي او ډیر جینکو عمرونه زیات شي، خو د هغوی رشته نه راځي او په دې حالت کې هغوی وفات شي.

جواب: دا غلطه ده چې که یو سړی واده ونه کړي او مړ شي؛ نو د هغه جنازه جائز نه ده، ځکه چې د جنازې د جائز کیدو له پاره د مړي مسلمان کیدل شرط دي واده کیدل شرط نه دي.[2]

د ځان وژونکي د جنازې لمونځ دې د معاشرې ممتاز خلک نه اداکوي

سوال: یو کس خودکشي وکړه، د جنازې په وخت کې په حاضرینو کې اختلاف پیدا شو، په دې باندې د نژدې دوو مولویانو صاحبانو نه پوښتنه و شوه؛ نو معلومه شوه چې دیوې خاص ډلې خلک یعنې مفتي، عالم، دین دار وغیره نه جنازه ورکولی شي او نه جنازه کولی شي، او س کوم فریق چې په جنازه کې شریک و، هغوی غیر شامل فریق ته وایي چې تاسو خلک د ثواب نه محروم پاتې شوئ او دویم فریق اولني ته وایي چې تاسو ګناه کړې ده، مهرباني وکړئ او تاسو د دواړو ډلو شرعي حیثیت نه موږ ګاه کړئ!

جواب: خودکشي ډیر لوی جرم دی، د دې له وجې فقها کرامو لیکلي دي چې مقتدا او ممتاز خلک دې د ده جنازه نه کوي، چې خلک د دې کار نه نفرت وکړي[3] عوام دې وکړي[4] البته په کونکو باندې هیڅ ګناه نه شته او نه په ترک کونکو باندې، د دې له وجې د دواړو ډلو په یو بل باندې طعن او الزام قطعي غلط دی.

۱] تیره شوی حاشیه (الصلاة علىَ الميت ثابتة بمفهوم القرآن قال الله تعالى :ولاتصل...الخ)۔

۲] تیره شوی حاشیه (الصلاة على الميت ثابتة بمفهوم القرآن قال الله تعالى :ولاتصل...الخ) و ایضاً وشرطها اسلام الميت......الخ (هندية ج:۱ص:۱۶۲)۔

۳]ولايصلى على البغاة وقطاع الطريق عندنا وقال الشافعي يصلى لانهم مسلمون ......فدخلوا تحت قول النبى صلى الله عليه وسلم :صلوا على كل بر وفاجر. ولنا ما روى عن على انه لم يغسل اهل نهر وان ولم يصل ،فقيل له :اكفارهم؟فقال:لا ! ولكن هم اخواننا بغوا علينا،اشار الى ترک الغسل والصلاة عليهم اهانة لهم ليكون زجرًا لغيرهم وكان ذالک بمحضر من الصحابة رضى الله عنهم ولم ينكرعليه احد فيكون اجماعًا وهو نظيرالمصلوب ترک على خشبة اهانة له وزجرًا لغيره (بدائع الصنائع ج:۱ص:۳۱۲،والكلام فى صلاة الجنازة فى مواضع ،طبع سعيد)۔

٤]من قتل نفسه ولو عمدًا يغسل ويصلى عليه به يفتى وان كان اعظم وزراً من قاتل غيره......الخ (درمختارمع الشامى ج:۲ص:۲۱۱)۔

د ځان وژونکي د جنازې لمونځ

سوال: که یو سړي د زهرو ګولۍ وخوړه، یعنې خودکشي یې وکړه او مړشو؛ نو دده د جنازې د کولو له پاره یو عام سړي ته وویل شي یا د مسجد خطیب یا امام ته، په دې کې کوم یو سړی بهتره دی چې د جنازې لمونځ پرې وکړي؟ او داسې جنازه کول پکار ده او که نه؟

جواب: دځان وژونکي په جنازه کې اختلاف دی، صحیح داده چې دده د جنازې لمونځ دې وکړل شي اوبهتره داده چې عام خلک یې ادا کړي، معززه خلک دې نه اداء کوي.[۱]

د غیر الله نه د خیر او شر د توقع کونکي د جنازې لمونځ اداء کول

سوال: یو سړی چې په ظاهرکې مسلمان وي او د شرک پشان عمل هم کوي، یعنې د غیر الله نه د خیر او د شر توقع ساتي داسې سړی که مړ شي نو دده د جنازې لمونځ اداء کول او دده له پاره د مغفرت دعا کول جائز دي او که نه؟

جواب: د ایماني کمزورۍ په وجه د غیر الله نه د خیر توقع ساتل او دده د شر نه ویریدل دا عامه خبره ده په دې وجه یوازې د دې وجې نه د یو مسلمان د جنازې لمونځ پریښودل نه دي پکار، الله تعالی دې ګناه ورته معاف کړي.[۲]

د مقروض په جنازه کې د حضور ﷺ شرکت او د قرض اداکول

سوال: ما په رحمة اللعالمین،، دویم جلد ص: ۴۲۱ کې لوستلي دي چې کوم مسلمان باندې قرض پاتې شي او وفات شي، زه به دهغهٔ قرض اداکوم، کوم مسلمان چې ورثه پریږدي او وفات شي دهغه وارثان به یې سنبالوي.

جواب: داحدیث چې تاسود ،،رحمت للعالمین،، په حوالې سره نقل کړی دی صحیح دی، حضور ﷺ به دمقروض جنازه نه کوله، بلکې نوروته به یې د کولوحکم ورکاو، کله چې الله تعالی وسعت ورکړ؛ نو حضور ﷺ به دمقروض قرض په خپله ذمه اخیست او جنازه به یې کوله.[۳]

---

[۱] من قتل نفسه ولو عمدًا يغسل ويصلى به يفتى ......الخ (الدرالمختارمع الردج:۲ص:۲۱۱)، ومن قتل نفسه عمدًا يصلى عليه عند ابى حنيفة ومحمد رحمهماالله وهو الاصح كذافى التبيين (عالمگيرى ج:۱ص:۱۶۳)

[۲] فالدليل على فرضيتها ما روى عن النبى صلى الله عليه وسلم انه قال:صلوا على كل بر وفاجر (بدائع الصنائع ج:۱ص:۳۱۱كتاب الصلاة ،والكلام فى صلاة الجنازة ،طبع سعيد)

[۳] عن ابى هريرة رضى الله عنه ان رسول الله صلى الله عليه وسلم كان يوتى بالرجل المتوفى عليه الدين فيقول :هل ترك لدينه من قضاء ؟ فان حدث انه ترك وفاء صلى عليه والا قال للمسلمين:صلوا على صاحبكم ،فلمافتح الله عليه الفتوح قام فقال:انا اولى بالمومنين من انفسهم فمن توفى من المومنين وترك دينًافعلى قضاءه ومن ترك مالا فهو لورثته ،وايضًا:ان النبى صلى الله عليه وسلم اتى برجل ليصل عليه فقال النبى صلى الله عليه وسلم :صلوا على صاحبكم فان عليه دينًا قال ....[بقيه حاشيه په راروانه صفحه....

د شهيد د جنازې لمونځ ولې؟ کله چې شهيد ژوندی دی؟

سوال: په قرآن کريم کې د الله تعالی ارشاد دی چې: مومن که د الله تعالی په لاره کې ووژل شي نو هغوی ته مړشوی مه وايئ، بلکې هغه ژوندی دی، د دې حقيقت نه دا سوال پيدا کيږي چې چونکې شهيد ژوندی دی، نو بيا د شهيد د جنازې لمونځ ولې کيږي؟ د جنازې لمونځ خو د مړو کيږي؟

جواب: ستاد سوال جواب مخکې په همدې آيت کې موجود دی. هغوی ژوندي دي مګر (تاسو د هغوی د ژوند) شعور نه لرئ!

د دې آيت نه معلومه شوه چې قرآن کريم د شهيدانو د کوم ژوند ذکر فرمايلی دی، هغه د دوی دنياوي ژوند نه دی، بلکې بل قسم ژوند دی، کوم ته چې برزخي ژوند وايي او کوم چې زموږ د شعور او فهم نه اوچت دی، د دنيا ژوند ترې مراد نه دی، چونکې هغه حضرات و دنياوي ژوند پوره کړاو د دنيا نه رخصت شوي دي، د دې وجې نه موږ د هغوی د جنازې په لمونځ او د هغوی په تدفين مکلف يو او د هغوی وراثت تقسيميدای شي او د هغوی کونډې د عدت نه وروسته دويمه نکاح کولی شي.[1]

د باغي، ډاکو او د مورپلار د قاتل د جنازې لمونځ نشته

سوال: قاتل که د سزا په طور سره قتل کړل شي يا ورته پانسي ورکړل شي؟ د هغه د جنازې د لمونځ په باره کې څه حکم دی؟ که د مورپلار قاتل وي؛ نو په دې صورت کې څه حکم دی؟ د فاسق، فاجر او زناکار په مرګ باندې د جنازې د لمونځ په باره کې څه حکم دی؟

جواب: د جنازې لمونځ د هرګناه ګار مسلمان له پاره دی، خو که باغي او ډاکو په مقابله کې مړه کړل شي؛ نو د هغوی جنازه دې نه کيږي، نه دې هغوی ته غسل ورکول کيږي، [2] همدغه شان چا چې په خپل مورپلار کې څوک قتل کړی وي، هغه دې په قصاص کې قتل کړل شي؛ نو د هغه جنازه به هم نه کيږي او که په خپل مرګ مړشي؛ نو د هغه جنازه به کيږي؛ خو بيا هم قابل احترام خلک دې د هغه په جنازه کې شرکت نه کوي.

...بقيه د تير مخ].. ابوقتادة: هوعلي! فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم: بالوفاء فقال: بالوفاء فصلى عليه (ترمذی شريف ج:۱ص:۲۰۵)ـ

۱] فقداخبر الله تعالى فيها عن الشهداء انهم احياء فى الجنة يرزقون ولامحالة انهم ماتوا وان اجسادهم فى التراب وارواحهم حية كارواح سائرالمومنين (قرطبی ج:٤ص:۱۷۲)، وايضاً فى البدائع: فامافى حق احكام الدنيا فالشهيد ميت يقسم ماله وتنكح امراته بعدانقضاء العدة......الخ (البدائع الصنائع ج:۱ص:۳۲۵حكم الشهادة فى الدنيا)

۲]وهى فرض على كل مسلم مات خلا اربعة بغاة طريق فلايغسلوا ولايصلى عليهم (درمختار ج:۲ص:۲۱۰،كتاب الصلاة ،باب صلاة الجنازة)ـ

د مرتد او غیرمسلم د جنازې لمونځ

سوال: یو سړی د معلوماتو باوجود د یو مرتد د جنازې په لمانځه کې شریکیږي او دی د مسلمانانو په قبرستان کې دفن کوي، دده له پاره دمغفرت دعا ګانې کوي،آیا داسې کونکي مسلمانان پاتې کیږي او که نه؟

جواب: د یو مرتد د جنازې لمونځ کول جائز نه دي،[۱] نه هغه د مسلمانانو په قبرستان کې دفن کول جائز دي،[۲] د قرآن کریم د صریح نص[۳] نه پس کوم سړی چې د یو مرتد جنازه جائز ګڼي، دده ایمان ځي[۴] او نکاح یې هم ماته شوه، په ده باندې د ایمان د تجدید نه پس دوباره نکاح لازمه ده[۵]

د مرتد مړي ته دغسل ورکونکي شرعي حکم

سوال: کوم مسلمان چې د مرتد مړي ته غسل ورکړ، د معلوماتو باوجود، ددې ټولو په باره کې چې کوم شرعي حکم دی هغه ولیکئ، او بل دا چې ددوی د نکاح څه حکم دی، ماتیږي او که نه؟

جواب: مرتد ته غسل ورکول هم جائز نه دي کوم سړی چې دا جائز ګڼي دده هماغه حکم دی کوم چې پورته لیکل شوی دی.[۶]

د قادیاني د جنازې لمونځ اداء کول

سوال: آیا د قادیاني د جنازې لمونځ اداء کول جائز دي؟

جواب: قادیاني غیر مسلم دي، د دوی جنازه جائز نه ده،[۷] کومو خلکو چې د قادیانانو

---

[۱] الصلاة على الجنازة فرض كفاية .... وشرطها اسلام الميت......الخ (عالمگيرى ج:۱ص:۱٦۲)

[۲] واما لو كان مرتدًا يلقيه فى حفرة كالكلب ......الخ (حلبى كبير ج:۱ص:٦۰۳)۰وفى الاشباه والنظائر:واذا مات اوقتل على ردته لم يدفن فى مقابرالمسلمين ولا اهل ملة وانما يلقى فى حفرة كالكلب ......الخ (الاشباه والنظائرج:۱ص:۲۹۱كتاب السير،باب الردة)

[۳] ولاتصل على احدمنهم مات ابدًا ولاتقم على قبره انهم كفروا بالله ورسوله وماتواوهم فسقون (التوبة :۸٤)

[٤] من اعتقد الحرام حلالاً اوعلى القلب يكفر......وفيمااذاكان حرامًالعينه انمايكفراذاكانت الحرمة ثابتة بدليل مقطوع به (عالمگيرى ج:۲ص۲۷۲،الباب التاسع فى احكام المرتدين)

[٥] مايكون كفرًا اتفاقًايبطل العمل والنكاح ......ومافيه خلاف يومربالاستغفار والتوبة وتجديد النكاح (الدرالمختار مع الرد ج:٤ص:۲٤۷،باب المرتد)

[٦] واما لو كان مرتدًا يلقيه فى حفرة كالكلب دفعًا لاذى جيفته عن الناس من غيرغسل ولاتكفين ......الخ (حلبى كبيرج:۱ ص:٦۰۳فصل فى الجنائز،طبع سهيل أكيدمى لاهور)

[۷] قال الله تعالى :ولاتصل على احدمنهم مات ابدًا ولاتقم على قبره....[بقيه حاشيه په راروانه صفحه....

جنازه اداءکړې ده،هغوی دې الله تعالی ته توبه وباسي او آئنده دې د ګناه نه کولو وعده وکړي.

د جنازې په لمانځه کې د کافرانو او بې ايمانه شرکت

سوال: د جنازې په لمونځ کې که چيرې بې دينه خلک يا غير مذهبه خلک شامل شول لکه: مرزائيان، پرويزيان او داسې نور... نو څه فرق خو نه غورځيږي؟

جواب: د کافرانو او د بې ايمانه په جنازه کې شرکت درحمت موجب نه دی بلکه د لعنت موجب دی.[1]

د قاديانانو جنازه جائز نه ده

سوال: موضع داته ضلع مانسهره (چې دويمه ربوه ده) کې يوکس مرزا ډاکټر محمدسعيدپه مرګ باندې د داته مسلمانانوديومسلمان امام په امامت کې دقادياني دجنازې لمونځ وکړ، ددې نه پس قاديانانو دمسمی مذکور جنازه وکړه،شرعاداامام مذکوره اوعامو مسلمانانو متعلق څه حکم دی؟

دمسلمانانوجينکی دقاديانانوپه کورونوکې دښځوپه حيثيت سره اوسيږي اود مسلمانانو والدين دې قاديانانوسره دزوم و خسرپه شان تعلقات دې ايادشريعت محمدي ﷺ په رڼاکې ددوی پيداکيدونکي اولادبه حلالي وي اوکه ولدالحرام به ورته ويل کيږي؟

دعامومسلمانانودقاديانانوسره دکافرانوپه شان تعلقات نه دي،بلکې دمسلمانانوپه شان تعلقات دي،دهغوی سره کېنې پاځي، خوراک څښاک اوپه غم وخوشالي کې سره شريکيږي او کله چې ديوبل سره ملاويږي؛نوالسلام عليکم، ،ويلوسره ملاويږي،په غم ښادي کې ډوډۍ ورکوي،په فاتحه کې سره شريکيږي،دشريعت محمدي ﷺ په رڼا کې دوی مسلمانان دي اوکه نه؟

جواب: ....دجواب نه مخکې څه اموردتهميد په ډول ذکرکوم:

اول:....کوم کس چې کفريه عقائد لري اوخپل ځان داسلام طرف ته منسوبوي اوپه نصوص شرعيه کې غلط تاويلونه پيش کوي اوخپلوغلطوعقيدوته داسلام نوم ورکوي دوی ته ,,زنديق، ،ويل کيږي. علامه شامي په ، ،باب المرتد ، ، کې ليکلي دي:

...بقيه د تير مخ]. انهم كفروا بالله ورسوله وماتوا وهم فسقون (التوبة :۸٤) الصلاة على الجنازة فرض كفاية ......وشرطها اسلام الميت ......الخ (عالمگيرى ج:۱ص:۱٦۲)۰وفى اشباه والنظائرج:۱ص:۲۹۱ والمرتداقبح كفرًامن الكافرالاصلى

[1] لان هذه الصلاة شرعت للدعاء والشفاعة للميت (بدائع الصنائع ج:۱ص:۳۱۷) ايضًا:ومانهى الله عزوجل عن الصلاة على المنافقين والقيام على قبورهم للاستغفارلهم ،كان هذا الصنيع من اكبرالقربات فى حق المومنين فشرع ذالک وفى فعله الاجرالجزيل (تفسيرابن كثيرج:۳ص:٤۲۷،طبع رشيديه كوئته)

,,فان الزنديق يموه كفره ويروج عقيدته الفاسدة ويخرجها في الصورة الصحيحة وهذا معنى ابطال الكفر،،(شامي ج:٤ ص٢٤٣ طبع جديد)

ترجمه: چونکې زنديق په خپل کفرباندې طمع کوي اوخپلو فاسدو عقيدوته رواج ورکول غواړي اوهغه په ظاهره په صحصح صورت کې دخلکوپه وړاندې پيش کوي اوهمدغه دکفر دپټولو معنا ده.

اوامام الهندشاه ولي الله محدث دهلوي رحمه الله په (مسوى شرح عربي موطا) کې ليکي:

بيان ذالک ان المخالف للدين الحق ان لم يعترف به ولم يذعن له لاظاهرا ولا باطنا فهو کافروان اعترف بلسانه وقلبه على الکفر فهوالمنافق،وان اعترف به ظاهرا لکنه يفسر بعض ما ثبت من الدين ضرورة بخلاف مافسره الصحابة والتابعون واجتمعت عليه الامة فهو الزنديق..،(ص:١٣٠ مطبوعه رحيميه دهلی) **ترجمه:** ددې تشريح داده چې کوم کس دحق دين مخالف دی،که هغه ددين اسلام دسره اقرارنه کوي

اونه دين اسلام مني، نه په ظاهري طور سره اونه په باطني طورسره،هغه ته کافرويل کيږي، اوکه په ژبې سره ددين اقرارکوي،خو ددين دځينوقطعياتوداسې تاويلونه کوي چې صحابه کرامو،تابعينواواجماع امت نه خلاف وي؛ نوداسې کس ته، ،زنديق، ،ويل کيږي.

وړاندې دصحيح اوغلط تاويل فرق بيانولوکې شاه صاحب رحمه الله ليکلي:

,,ثم التاويل تاويلان:تاويل لايخالف قاطعا من الکتاب والسنة واتفاق الامة،وتاويل يصادم ماثبت بقاطع فذالک الزندقة،،(ص:١٣٠)

ترجمه: بياتاويل دوه قسمه دی:يوهغه تاويل دی چې دکتاب اوسنت اواجماع امت نه ثابت شوې څه قطعي مسئلې خلاف نه وي اودويم تاويل هغه دی چې دداسې مسئلې خلاف وي چې دقطعي دليل نه ثابته وي، داسې تاويل، ،زندقه، ،دی.

او وړاندې دزنديقه تاويلونومثالونه ذکرکوي او ليکي:

,,اوقال ان النبي صلى الله عليه وسلم خاتم النبوة ولکن معنى هذاالکلام انه لايجوز ان يسمى بعده احد بالنبي واما معنى النبوة وهوکان الانسان مبعوثا من الله تعالى الى الخلق مفترض الطاعة معصوما من الذنوب ومن البقاء على الخطا فيمايرى فهوموجودفي الامة بعدفهوالزنديق.(مسوى ج:٢ ص:١٣٠ مطبوع رحيميه دهلی)

ترجمه:ياڅوک داسې ووايي چې نبي کريم صلى الله عليه وسلم بې شکه خاتم النبيين دی،خو ددې مطلب دادی چې دحضور صلى الله عليه وسلم نه وروسته به دچانوم نبي نه کيښودل کيږي، دنبوت مفهوم يعنې دیوانسان دالله تعالى دطرف نه دمخلوق طرف ته مبعوث کيدل،دهغه اطاعت فرض کيدل،اودهغه

ګناهونو او خطاباندې قائم پاتې کيدونه معصوم کيدل، د حضور ﷺ نه وروسته هم په امت کې موجود دی؛ نو داکس ,,زنديق،، دی

خلاصه دا چې کوم کس خپل کفريه عقائد د اسلام په رنګ کې پيش کوي د اسلام د قطعي متواترو عقائدو خلاف د قرآن او سنت تاويلونه کوي، داسې کس ته ,,زنديق،، ويل کيږي

دويم:...دا چې زنديق د مرتد په حکم کې دی، بلکې په يو اعتبار سره زنديق د مرتد نه هم بدتر دی، ځکه که مرتد توبه وکړي او اسلام ته دوباره داخل شي؛ نو د هغه توبه په اتفاق سره قابل قبول ده، خو د زنديق توبه قبليدو يا نه قبليدو کې اختلاف دی، لکه چې په درمختار کې دي

,,(و) كذا لكافر بسبب (الزندقة) لاتوبة له وجعله في الفتح ظاهر المذهب لكن في حظر الخانية الفتوى على انه (اذا اخذ) الساحر او الزنديق المعروف الداعي (قبل توبته) ثم تاب لم تقبل توبته ويقتل ولو اخذ بعدها قبلت،، (شامي ج:٤ ص:٢٤١ طبع جديد)

ترجمه: او همدغه شان کوم کس چې د زندقيت له وجې کافر شي، د هغه توبه قابل قبول نه ده، او په فتح القدير کې دې ته ظاهر مذهب ويل شوی دی، خو په فتاوی قاضي خان کې کتاب الحظر کې دي، چې فتوا په دې باندې ده، کله چې جادوګر او زنديق چې معروف او داعی وي د توبې نه مخکې ګرفتار شي او بيا د ګرفتاريدو نه وروسته توبه وباسي؛ نو د هغوی توبه قبوله نه ده، بلکې هغوی به قتليږي او که د ګرفتاري نه مخکې يې توبه کړې وه؛ نو توبه به يې قبليږي.

بحرالرائق کې دي: **,,لاتقبل توبة الزنديق في ظاهر المذهب وهو من لايتدين بدين....وفي الخانية قالوا ان جاء الزنديق قبل ان يوخذ فاقر انه زنديق فتاب عن ذالك تقبل توبته وان اخذ ثم تاب لم تقبل توبته ويقتل،،** (ج:٥ ص:١٣۶ دارالمعروفه بيروت)

ترجمه: ظاهر مذهب کې د زنديق توبه قابل قبول نه ده او زنديق هغه کس دی چې د دين قائل نه وي او په فتاوی قاضی خان کې دي چې که زنديق د ګرفتاريدو نه مخکې په خپله راشي او اقرار وکړي چې هغه زنديق دی، په هغه دې توبه وکړي؛ نو د هغهٔ توبه قابل قبول ده او که ګرفتار شو او بيا يې توبه وکړه؛ نو د هغه توبه به نه قبليږي؛ بلکې هغه به قتل کيږي

دريم:...د قاديانانو زنديق کيدل بالکل واضح دي، ځکه چې د هغوی عقائد د اسلامي عقائدو قطعا خلاف دي او د هغوی د قرآن او سنت په نصوص کې غلط تاويلونه کوي او جاهلانو ته دا باور ورکوي چې په خپله خو هغوی ښه پاخه او رښتوني مسلمانان دي او د هغوی نه علاوه ټول امت ګمراه او کافر او بې ايمان دی، څنګه چې د قاديانانو د دويم مشر انجهاني مرزا محمود ليکلي چې: ,,پرون چې کوم مسلمانان د مسيح موعود (مرزا) په بيعت کې شامل نه شو، که څه هم هغوی د مسيح موعود نوم هم اوريدلی نه وي، هغوی کافران دي او د اسلام د دائرې نه خارج دي (ائينه صداقت ص:٣٥)

د مرزايا نو ملحدانه عقائد دا دي:

۱:......داسلام قطعي عقيده ده چې نبي كريمﷺ خاتم النبيين دى، دحضورﷺنه پس هيڅوک په منصب نبوت باندې فائزکيدى نه شي،ددې په خلاف قاديانان نه يوازې داسلام ددې قطعي عقيدې نه منكردي، بلكې (نعوذبالله) هغوى مرزاغلام احمدقادياني دنبوت نه بغيراسلام مرده تصوركوي. لكه دغلام مرزا احمدويناده چې:

، ،زمونږ مذهب خودادى چې په كوم دين كې دنبوت سلسله نه وي؛ هغه مرده دى، ديهودانو، عيسايانواوهندوانومذهب ته چې مونږ مرده وايو؛نوځكه چې په دې كې اوس څوک نبي نه راځي، كه داسلام همدغه حال وي؛ نومونږ هم قصه پرېاتې شو،له څه وجې نه ده ته مونږ د نورو دينونونه اوچت وايو،اخرڅه نه څه امتياز خوپكاردى، ...په مونږ باندې دڅوكالوراهيسې وحي نازليږي اودالله تعالى څومره نشاناتوددې دصدق گواهي وركړې ده.نوځكه زه نبي يم،دامرحق په پيژندگلوكې دهيڅ قسمه اخفاء ساتل پكارنه دي. ، ، (ملفوظات مرزاجلد:۱۰ص:۱۲۷ طبع شده ربوه)

۲:......داسلام قطعي عقيده ده چې دنبوت دوحي دروازه دحضورﷺ نه پس بنده شوې ده اوكوم كس چې دحضورﷺنه پس دنبوت دوحي دعوى وكړي هغه داسلام ددائرې نه خارج دى،خو قاديانان د مرزا احمدخان په جوړكړى شوې وحې باندې ايمان لري اوهغه د قرآن كريم په شان مني، دقرآن كريم دنومونونه يونوم ،،تذكره،، دى، قاديانانودغلام مرزا احمد،،وحې،،ته ديوكتاب په شكل مرتب كړى دى اودهغه نامه يې ، ،تذكره، ،كيښودې ده، داگويا قادياني قرآن دى....نعوذبالله....

او دا قادياني وحې څه معمولي قسم والا الهام نه دى، كوم چې اولياء الله ته كيږي بلكې دهغوى په نزدباندې داوحي دقرآن كريم همځنگ ده،په خپله وگورئ!

۱:......اوزه چې څنگه دقرآن كريم په آيتونوباندې ايمان لرم همدغه شان ديوې ذرې دفرق نه بغيردالله تعالى په دې ښكاره وحې باندې ايمان راوړم چې ماته شوې ده.(ايک غلطی کاازاله ص:۶ طبع شده ربوه)

۲:......زماپه خپل وحې باندې ايمان دى څنگه چې په تورات اوانجيل اوقرآن كريم باندې.(اربعين ص:۱۱۲ طبع شده ربوه)

۳:......زه په خداى قسم خورم او وايم چې زه په دې الهامات باندې هغسې ايمان راوړم څنگه چې په قرآن شريف باندې،اودالله تعالى په نوروكتابونوباندې،اوځنگه چې زه قرآن كريم په يقيني اوقطعي طورسره دالله تعالى كلام گڼم هماغه شان داكلام كوم چې په ماباندې نازليږي دالله تعالى د كلام يقين پرې كوم.(حقيقة الوحى ص:۲۲۰ طبع شده ربوه)

۴:......داسلام عقيده ده چې دحضورﷺنه پس دمعجزې ښودنې دعوې كول كفردي،ځكه چې

معجزه ښودل يوازې دنبي خصوصيت دى، کوم کس چې دمعجزې ښودنې دعوى وکړي هغه دنبوت مدعي کيدوپه وجه باندې کافردى

په شرح فقه اکبرکې علامه ملاعلي قاري رحمه الله ليکي: ,,التحدی فرع دعوی النبوة ودعوی النبوة بعدنبيناصلی الله عليه وسلم کفر بالاجماع.،،(ص:۲۰۲)

ترجمه: دمعجزې ښودنې دعوى ددعوى نبوت فرع ده،اودنبوت دعوى زموږ دنبي کريم ﷺنه پس بالاجماع کفردی.،،

ددې برعکس قاديانان،دمرزاغلام احمددوحي سره سره دهغه په معجزاتوباندې هم ايمان لري.اودحضور ﷺمعجزات (نعوذبالله) قيصې ګرځوي اودحضور ﷺ په دې صورت کې نبي منلوته تياردي چې کله مرزا غلام احمدقادياني هم نبي ومنل شي،ګني دهغوی په نزدباندې نه خوحضور ﷺنبي دی اونه دين اسلام دين دی،مرزاغلام احمدليکي:

,,هغه دين،دين نه دی اونه هغه نبي،نبي دی دچامتابعت سره چې انسان الله تعالی ته دومره نږدې نه شي چې مکافات الهي سره مشرف شي،هغه دين لعنتي اوقابل نفرت دی چې داښيي چې صرف يوڅونقل شويو خبرو(اسلامي شريعت چې دحضور ﷺنه منقول دی ناقل)دانساني ترقياتو انحصاردی،اودالله تعالی وحي مخکې نه ، بلکې وروسته پاتې شوې ده، پس داسې دين ته په نسبت ددې چې رحماني ووېل شي دشيطاني ويلوزيات مستحق دی.،، (روحانی خزائن ج:۲۱ ص:۳۰۶ ضميمه براهين احمديه حصه پنجم ص:۱۳۹)

داڅومره لغوه اوباطله عقيده ده چې داسې خيال وکړل شي چې دحضور ﷺ نه پس دوحې دروازه دهميشه له پاره بنده شوه اوآينده ترقيامته پورې ددې هيڅ اميدنشته،يوازې دقيصو پسې روان يئ، داسې مذهب هم څه مذهب کيدای شي چې په هغه کې براه راست دالله تعالی هيڅ پته نه لګيږي...زه په الله تعالی باندې قسم خورم چې په دې زمانه کې زما نه زيات بيزار به دداسې مذهب نه بل څوک نه وي،زه دداسې مذهب نوم شيطاني مذهب ږدم رحماني نه.،،

(روحانی خزائن، ج:۲۱ ص:۳۵٤ ضميمه براهين احمديه حصه پنجم ص ۱۸۳)

,,که په رښتيارانه تپوس کوئ چې زموږ په قرآن کريم باندې اوپه رسول کريم ﷺباندې هم ددې (مرزا) په ذريعه ايمان حاصل شوی دی،موږ دقرآن کريم دالله تعالی دکلام کيدوپه وجه باندې يقين کوو چې ددې په وجه (دمرزا) نبوت ثابتيږي،موږ دمحمد ﷺپه نبوت باندې ددې وجې نه ايمان راوړ چې ددې دوجې نه د (مرزا) دنبوت ثبوت ملاويږي،نادان په موږ باندې اعتراض کوي چې موږ مسيح موعود(مرزا) نبي منو،اوولې دهغه په کلام باندې دالله تعالی دکلام يقين کوو، هغه ته پته نشته چې په قرآن کريم باندې يقين موږ ته دهغه کلام دوجې نه شوی دی چې دمحمد ﷺپه نبوت باندې يقين ددې (مرزا) دنبوت نه ملاويږي.

(دمرزابشيرالدين تقرير،،الفضل،،قاديان جلد:۳ مورخه ۱۱جولائی ۱۹۲۵)

دمرزاصاحب دپورتنودواړه عبارتونونه واضحه ده چې که په مرزا صاحب باندې دوحي الهي نزول ونه منل شي اومرزاغلام احمد نبي ونه منل شي؛نودحضرت محمد ﷺ نبوت هم ددوی په نزد باندې...نعوذبالله...باطل دی اودین اسلام صرف دقیصو افسانو مجموعه ده،مرزاصاحب داسې اسلام ته لعنتي،شیطاني اوقابل نفرت ګرځولوسره ددې نه دبې زارۍ اظهارکوي. بلکې دټولودهریانو نه زیات دخپل ځان ددهري کیدواعلان کوي،مسلمانانوته دعبرت دنظرسره ورته کتل پکاردي، ایاددې نه زیات څه کفراوالحاداوزندقیت کیدای شي چې حضور ﷺ ته اودین اسلام ته دومره په مړه خیټه کنځل وکړل شي.؟

۴:.....دمسلمانانوعقیده ده چې نبی کریم ﷺ ,,محمدرسول الله،، دی، خو مرزاغلام احمد قادیاني په اشتهار ''این غلطي کاازاله،، کې دخپل الهام په بنیادباندې دادعوی کړې ده چې هغه په خپله ,,محمدرسول الله،،دی...نعوذبالله...چونکې قادیانیان دمرزاغلام احمدپه ''وحي،، باندې قطعي ایمان لري، ددې وجې نه هغوی ,,محمدرسول الله،،مني،اوکوم کس چې مرزا ,,محمدرسول الله،، ونه مني هغه کافرګڼي.

۵:.....دقرآن کریم اواحادیث متواتره په وجه دمسلمانانوعقیده ده چې حضرت عیسی علیه السلام ژوندی آسمانونوته پورته شوی اوهغه به قیامت ته نژدې راکوزیږي اودجال به قتلوي[۱]،خو د مرزایانو عقیده ده چې مرزاغلام احمدقادیاني عیسی دی اوپه قرآن اوحدیث کې دحضرت عیسی علیه السلام دنازلیدوچې کوم خبر ورکړل شوی و،دهغه نه مراد،مرزاغلام احمدقادیاني دی. د قادیانانو دغه شان بیشمیره زندیقانه عقائددي.په کوموچې دامت عالمانو بې شمیره کتابونه لیکلي دي،ددې وجې نه د مرزایانو کافر اومرتداوملحداوزندیق کیدل دریاورځې په شان واضح دي.

څلورم:.....دجنازې لمونځ یوازې دمسلمانانو کیږي، دهیڅ یو غیرمسلم جنازه جائزنه ده،په قرآن کریم کې دي:

,,ولاتصل علی احدمنهم مات ابدا ولاتقم علی قبره انهم کفروا بالله ورسوله وماتوا وهم فاسقون،،(التوبه:۸۳)

ترجمه: اوپه دوی کښې څوک مړشي؛ نوددوی جنازې باندې هیڅ کله لمونځ مه کوه اونه ددفن کیدو له پاره ددوی په قبرباندې دریږه،ځکه چې دوی الله تعالی اودهغه په رسول کفرکړی

۱]عن ابی هریرة رضی الله عنه قال:قال رسول الله صلی الله علیه وسلم :والذی نفسی بیده! لیوشکن ان ینزل فیکم ابن مریم حکمًا عدلاً فیکسرالصلیب ویقتل الخنزیر ویضع الجزیة ویفیض المال حتی لایقبله احدحتی تکون السجدة الواحدة خیرًا من الدنیا ومافیها ،ثم یقول ابوهریرة :فاقروا ان شئتم :وان من اهل الکتب الا لیومنن به قبل موته ......الآیة ،متفق علیه (مشکوة الفصل الاول ،باب نزول عیسی علیه السلام)،تفصیل دپاره اوګورئ: التصریح بماتواترفی نزول المسیح طبع دارالعلوم کراچی)۔

دی،اوهم د کفرپه حالت کې مړه شوي دي . .

اودامت ټول فقهاء په دې باندې متفق دي چې دجنازې دجائز کيدوله پاره شرط دی چې مسلمان وي،دغيرمسلم جنازه بالاجماع جائزنه ده،نه دهغه له پاره دمغفرت ددعااجازه شته،اونه هغوی دمسلمانانوپه قبرستان کې دفن کول جائزدي.

ددې تمهيدنه وروسته اوس په ترتيب سره دسوالونوجوابونه ليکم.

د اولني سوال جواب:....کوموسلمانانوچې دمرزايي مرتدجنازه کړې ده، که هغوی دهغه د عقائدونه ناخبره وو؛نوهغوی بدوکړل،په دې باندې هغوی ته استغفارکول پکاردي:ځکه چې دمرزايي مرتدجنازه کولو سره هغوی ديوناجائزه کارارتکاب کړی دی.

اوکه هغوی ته معلومه وه چې داکس مرزاغلام احمدقادياني نبي مني،دهغه په وحې باندې ايمان لري،اودحضرت عيسیٰ عليه السلام د نازليدونه منکردی ،ددې معلوماتوباوجودهغوی دی مسلمان وګڼلو اومسلمان ګڼلوسره يې دهغه جنازه وکړه ،هغه ټول کسان کوم چې په جنازه کې شريک وو،هغوی ته دخپل ايمان اونکاح تجديد کول پکاردي،ځکه چې ديومرتدعقائدولره اسلام ګڼل کفردی[۱]،ددې وجې نه ددوی ايمان هم لاړ،اونکاح يې هم باطله شوه[۲]،په دوی کې که يوکس حج کړی و ؛نوپه هغه باندې دويم ځل حج کول لازم دي.[۳]

دلته داذکرکول هم ضروري دي چې دقاديانانوپه نزد د مسلمانانوجنازه جائزنه ده،تردې پورې چې دقاديانانوپه نزد مسلمانانودماشوم بچي جنازه هم جائزنه ده،لکه چې دقاديانانودويم خليفه مرزامحمودپه خپل کتاب، ،انوارخلافت، ،کې ليکي:

يو سوال بل پاتې کيږي چې غيراحمدي (مسلمان) خو دحضرت مسيح موعود(غلام احمد قادياني) نه منکرشول،ددې وجې نه دهغوی جنازه کول پکارنه دي،خو که دچاغيراحمدي ماشوم بچی مړشي؛ نودهغه جنازه دې ولې ونه شي، هغه خودمسيح موعود منکرنه دی؟

زه ددې سوال کونکي نه پوښتنه کوم چې که داخبره صحيح ده نو بيا د هندوانو او عيسائيانو د ماشومانوجنازه ولې نه کيږي؟ څومره خلک دی چې ددوی جنازه کوي؟ اصل خبره داده چې کوم د مورپلارمذهب وي شريعت هماغه مذهب دبچي هم ګرځوي،د غيراحمدي

۱]وفي المحيط من رضي بكفرنفسه فقدكفراى اجماعًا وبكفر غيره اختلف المشائخ وذكر شيخ الاسلام ان الرضا بكفرغيره انما يكون كفرًا اذاكان يستجيزه ويستحسنه (شرح فقه اكبرص:۲۲۱طبع دهلی)•وفي ردالمحتار:قوله من هزل بلفظ كفر...... وكذا مخالفة او انكارما اجمع عليه بعدالعلم به لان ذلك دليل على ان التصديق مفقود (ردالمحتارعلى الدرالمختارج:٤ص:۲۲۲باب المرتد،طبع ايچ ايم سعيد)۔

۲]وفي شرح الوهبانية للشرنبلالي :مايكون كفرًا اتفاقًا يبطل العمل والنكاح واولاده اولاد الزناومافيه خلاف يومربالاستغفاروالتوبة وتجديدالنكاح (الدرالمختارمع ردالمحتارج:٤ص:۲٤۷)۔

۳] من ارتدثم اسلم وقدحج مرة فعليه ان يحجج ثانيًا (خلاصة الفتاوى ،كتاب الفاظ الكفر ج:٤ص:۳۸۳طبع كوئته ردالمحتار،باب المرتدج:٤ص:۲۵۲)۔

بچي غیراحمدی شو، ددې وجې نه دهغه جنازه کول پکارنه دي،زه بیاوایم چې ماشوم ګناه ګارنه وي دهغه دجنازې ضرورت څه دی؟دماشوم جنازه خودعا وي دهغه د پسماندګانو له پاره اودهغۀ پسماندګان زموږ څخه نه دي،بلکې غیراحمدیان دي.له دې وجې دماشوم جنازه هم پکارنه ده..(انوارخلافت ص:۹۳)

اخبار،،الفضل،،مورخه ۲۳اکتوبر۱۹۲۲کې دمرزا محمود یوه فتوا شائع شوه چې:

,,څنګه چې دعیسایي ماشوم جنازه نه شي کیدای اګرچې هغه معصوم وي، همدغه شان د یو غیراحمدي ماشوم جنازه هم نه شي کیدای.،

دخپل مذهب پیروي کې چوهدري ظفرالله خان دقائداعظم جنازه ونه کړه او په منیرانکوائري عدالت کې چې کله دهغه نه پوښتنه وشوه؛نوهغه وویل:

''دجنازې د لمونځ امام مولانا شبیراحمد عثماني احمدیان کافر، مرتد، او واجب القتل ګرځولي دي،له دې وجې نه مادهغه په جنازه کې دشرکت فیصله ونه کړی شوه دکومې امامت چې مولانا کاو.(رپورت تحقیقاتی عدالت پنجاب ص:۲۱۲)

خو دعدالت نه بهرچې کله دهغه نه ددې خبرې پوښتنه وشوه چې تادقائداعظم جنازه ولې ونکړه؟ نوهغه جواب ورکړ: ,,تاسو ماد کافر حکومت مسلمان وزیروګڼئ یادمسلمان حکومت کافر نوکر،، (زمیندار،،لاهور ۸فروری ۱۹۵۰)

اوچې کله په اخبارونوکې دچوهدري ظفرالله خان ددې ضد او انکار شهرت وشو؛ نو د جماعت احمدیه ربوه ددطرف نه ددې داجواب ورکړل شو:

''جناب چوهدري ظفرالله خان باندې یودا اعتراض کیږي چې دوی دقائداعظم جنازه ولې ونکړه، تولې دنیاته پته ده چې قائداعظم احمدي نه و،لهذاجماعت احمدیه دیوکس دهغه جنازه نه کول څه قابل اعتراض خبره نه ده،،(ټریکټ احراري علماء کی راست ګوئی کانمبر، ناشرمهتمم نشرواشاعت انجمن احمدیه ربوه ضلع جنګ)

دقادیانانواخبار،،الفضل،،ددې په جواب کې لیکلي دي:

آیا داحقیقت نه دی چې ابوطالب هم دقائداعظم په شان دمسلمانانوډیرلوی محسن و،خو مسلمانانونه دهغه جنازه وکړه اونه رسول الله صلی الله علیه وسلم.(الفضل،،ربوه ۲۸اکتوبر۱۹۵۲)

څومره دشرم خبره ده چې قادیانان دمسلمانان دهندوانو، عیسایانوپه شان کافرګڼي اوددوی دلوی نه لوی بنده جنازه نه کوي اونه ددوی دبې ګنا ماشومانو،ایادیومسلمان له پاره داجائزدي چې هغه دقادیاني مرتدجنازه وکړي؟ایادهغه غیرت دابرداشت کولی شي؟

د دویم سوال جواب:.....کله چې معلومه شوه چې قادیاني کافراو مرتددی؛ نوددې نه داهم واضح کیږي چې دهیڅ یوې مسلمانې انجیلی نکاح د مرزایي مرتدسره نه کیږي[1] اوداسلام

۱]ولایصلح ان ینکح مرتداومرتدة احدالناس مطلقًا (الدر المختارمع الردالمحتار ج:۳ص:۲۰۰)۔

په رڼاکې داخالص زناده او که چامسلمان دلاعلمي اوبې خبري په وجه چامرزايي ته خپله لور واده کړې وي؛نودهغه فرض دی چې معلوميدونه پس دخپلې ګناه نه توبه وباسي اوانجيلی دې دقاديانانودقبضې نه راخلاصه کړي.

واضحه دې وي چې دمرزايانوپه نزددمسلمانانوهماغه حيثيت دی چې زموږ په نزد د يهوديانو او عيسايانودی، د مرزايانو په نزدمسلمانانې جينکۍ اخيستل جائزدي خو مسلمانانو ته ورکول جائزنه دي،دمرزامحمودفتوا ده:

,,کوم کس چې خپله لورر غيراحمدي ته ورکوي زماپه نزد هغه احمدي نه دی.،،

سوال: ....کوم نکاح خوان چې داسې نکاح وکړی دهغه په باره کې څه حکم دی؟

جواب: دداسې نکاح خوان په باره کې به موږ هماغه فتوا ورکووچې دهغه چا په په اړه ورکول کيدای شي چاچې ديوې مسلمانې جينۍ نکاح ديوعيسايي ياهندوهلک سره کړې وي.

سوال: .....آيا داسې کس چاچې دغيراحمدي سره دجينۍ رشته کړې وي هغه نوراحمديان په واده کې رابللی شي؟

جواب:...په داسې واده کې شريکيدل جائزنه دي.،، (اخبارالفضل،،قاديان ۲۳مۍء ۱۹۲۱)

څنګه چې دمرزامحمودپه نزدباندې هغه کس دمرزايي جماعت نه خارج دی چې يومسلمان هلک ته خپله لورواده کړي،همدغه شان هغه مسلمان هم ددائره اسلام نه خارج دی چې دقاديانانو دعقايدونه خبريدونه وروسته چامرتدمرزايي ته خپله لورورکول جائز وګڼي اوڅنګه چې دمرزامحمودپه نزدباندې ديوې مرزائي انجيلۍ دچامسلمان هلک سره نکاح کول داسې دي لکه څنګه چې دعيسايي ياهندوسره،همدغه شان موږ وايوچې مرزايي مرتدزوم جوړول داسې دي لکه چې هندو،سيک،چوړی يې خپل زوم جوړکړی وي.

د دريم سوال جواب: يومسلمان ته دمرزايي مرتدينوسره دمسلمانانوپه شان سلوک کول حرام دي،دهغوی سره ناسته پاسته،خوراک څښاک، دهغوی په واده ،مړي کې شريکيدل، قطعي حرام دي،کوم کسان چې په دې معامله کې درواداری، نه کاراخلي هغوی ته د مرزايانوسره ددې قسمه تعلقات ختمول پکاردي،قاديانان دخدای اودرسول ﷺ دښمنان دي اودخدای اودهغه درسول دښمنانوسره دوستانه تعلقات ساتل ديومومن کارنه شي کيدی.

په قرآن کريم کې دي: ،،لاتجدقوما يومنون بالله واليوم الاخريوآدون من حادالله ورسوله، ولوکانوا ابآءهم اوابنآءهم اواخوانهم اوعشيرتهم اولئک کتب فی قلوبهم الايمان وايدهم بروح منه، ويدخلهم جنت تجری من تحتها الانهر خلدين فيها، رضی الله عنهم ورضوا عنه ،اولئک حزب الله ،الاان حزب الله هم المفلحون.،،(المجادله:۲۲)

ترجمه: کوم خلک چې په الله تعالی اوقيامت يه ورځ باندې(پوره پوره)ايمان لري،تاسوبه هغوی

نه وينئ چې هغوی داسې کسانو سره دوستي وساتي چې دالله تعالی او دهغه درسول خلاف دي، که څه هم هغوی ددوی پلرونه، زامن، ورونه، اويا ددی له قوم څخه وي اوددې خلکو په زړونوکې الله تعالی ايمان ځښ کړی دی او دهغوی زړونوته يې په خپل فيض سره قوت ورکړی دی. (دفيض نه مراد نور دی) اوهغوی به په داسې باغونوکې داخلوي چې دهغو لاندې به نهرونه جاري وي په هغه کې به هميشه اوسيږي، الله تعالی به دهغوی نه راضي وي اوهغو ی به دالله تعالی نه راضي وي، دا خلک دالله تعالی ډله ده، اوبنه واورئ، چې دالله تعالی ډله فلاح (کاميابي) موندونکې ده. (ترجمه: حضرت تهانوی)

په آخره کې داعرض کول هم ضروري دي چې دپاکستان په قانون (آئين) کې قاديانان غيرمسلم اقليت ګرځول شوي دي، خو قاديانانو تراوسه پورې نه خودافيصله منلې ده اونه هغوی په پاکستان کې دغيرمسلم شهري (ذمي) په حيثيت سره داوسيدو معاهده کړې ده. له دې وجې ددوی حيثيت دذميانوپه شان نه دی. بلکې دمحاربو کافرانوپه شان دی، او د محاربينو سره دهيڅ قسم تعلق ساتل شرعاً جائزنه دي.[۱]

د قاديانيانو مړی د مسلمانانو په مقبره کې ښخول او فاتحه، دعا او استغفار کول پرې حرام دي

سوال: قادياني مړې دمسلمانانوپه مقبره کې ښخول، اودهغوی سره دمسلمانوتلل، فاتحه کول، کورته ورتګ اوغم کول، دهمدردي اظهارکول، اودايصال ثواب له پاره په قرآن خواني کې شرکت کول څنګه دي؟

جواب: قادياني کافر، مرتداوزنديق دی، دهغه په دفن کې شرکت کول، دهغه فاتحه لوستل، او دهغه له پاره دعاواستغفارکول حرام دي. مسلمانانوته له دوی سره مکمل قطع تعلق پکاردی.[۲]

قادياني مړی د مسلمانانو په مقبره کې دفن کول ناجائزدي

سوال: تاسوعالمان څه فرمايئ په دې سلسله کې چې کله قاديانان مړی دمسلمانانوپه مقبره

۱] يعلم مماهناحكم الدروز والتيامنة ...... ويتكلمون فى جناب نبينا صلى الله عليه وسلم كلمات فظيعة ......ونقل عن علماء المذاهب الاربعة انه لايحل اقرارهم فى ديارالاسلام بجزية ولاغيرها ولاتحل مناكحتهم ولا ذبائحهم وفيهم فتوى الخيرية ايضافراجعها —والحاصل انهم يصدق عليهم اسم الزنديق والمنافق والملحد......الخ (ردالمحتار ج:٤ص:٢٤٤باب المرتد، طبع ايچ ايم سعيد)_

۲] ولاتصل على احدمنهم مات ابدًا ولاتقم على قبره (التوبة :٨٤) •وفى التفسير: والمراد من الصلاة المنتهى عنها صلاة الميت المعروفة وهى متضمنة للدعاء والاستغفاروالا ستشفاع ......الخ (تفسيرروح المعانى ج:١٠ ص:١٥٥، طبع داراحياء التراث العربى، بيروت)_

کې دفن کوي اوبیا د مسلمانانوله طرف نه مطالبه کیږي چې دی د ې وویستل شي؛نو آیا دقادیانیانو د مسلمانانو په مقبره کې دفن کول جائزنه دي؟او د دې مسلمانانو د دې طرزعمل څه جوازدی؟

جواب: قادیانې غیرمسلم اوزندیق دی،او په دوی باندې د مرتدینو احکام جاري کیږي، دغیرمسلم جنازه هم جائزنه ده،چنانچې په قرآن کریم کې د دې صفا ممانعت موجود دی.

دالله تعالی ارشاد دی: ''**ولاتصل على احدمنهم مات ابدا ولاتقم على قبره انهم كفروا بالله ورسوله وماتوا وهم فاسقون.**''(التوبه: ۸٤)

ترجمه: اوکه په دوی کې څوک مړه شي په هغه لمونځ مه کوه اومه دریږه د دوی په قبر باندې، هغوی منکر شول دالله تعالی او دهغه د رسول نه اونافرمانه مړشول.(ترجمه حضرت شیخ الهند)

همدغه شان څوک غیرمسلم د مسلمانانو په قبرستان کې دفن کول جائزنه دي،څنګه چې د آیت کریمه دالفاظو،،**ولاتقم على قبره**،،نه معلومیږي،چنانچې اسلامی تاریخ ګواه دی چې د مسلمانانو اوغیرمسلمو قبرستانونه همیشه جداجداوي، دیومسلمان د اسلامي حقونونه یو حق داهم دی چې هغه دې د مسلمانانو په قبرستان کې دفن کړل شي. علامه سعدالدین مسعود بن عمربن عبدالله التفتازاني(المتوفی ۷۹۱هجری)،شرح المقاصد،،کې دایمان د تعریف مختلف اقوال نقل کولوکې لیکي چې که ایمان د زړه اوژبې د تصدیق کولونوم وي؛ نو اقرار به دایمان رکن وي اوایمان به تصدیق مع الاقرار ته ویل کیږي،

خو که ایمان یوازې د تصدیق قلبي نوم وي: ''**فان الاقرار حينئذ شرط لاجراء الاحكام عليه فى الدنيا من الصلاة عليه وخلفه، والدفن فى مقابر المسلمين والمطالبة بالعشوروالزكاوات ولحوذلك.**(شرح المقاصدج:۲ ص:۲٤۸ مطبوعه دارالمعارف النعمانيه لاهور)

ترجمه: نو اقرارپه دې صورت کې،په دې کس باندې په دنیاکې داسلام یاحکاموجاري کیدو له پاره به شرط وي، یعنې د هغه د جنازې لمونځ،هغه پسې شاته لمونځ کول،هغه د مسلمانانو په قبرستان کې دفن کول،اودهغهٔ نه دعشراوزکات مطالبه کول او د دغه شان نورکارونه.،،

د دې نه معلومه شوه چې یوکس د مسلمانانو په قبرستان کې دفن کول هم د اسلامي حقوقونو څخه دی، چې یوازې د مسلمان سره خاص دي اوداچې څنګه دیوغیرمسلم په اقتداء کې لمونځ جائزنه دی، د هغه د جنازې لمونځ جائزنه دی اوله هغه څخه دعشراوزکات مطالبه درست نه ده، همدغه شان یو غیر مسلم مړي ته د مسلمانانو په قبرستان کې ځای ورکول هم جائزنه دي اوداچې دامسئله د ټول امت مسلمه متفق علیه اومسلمه مسئله ده ،په دې کې دهیڅچا هیڅ اختلاف نشته، دڅلورو واړومذهبونو دمستندوکتابونونه د دې مسئلې تصریحات نقل کیږي،والله الموفق!

فقه حنفي:

.شيخ زين الدين ابن نجيم المصري(المتوفي ۹۷۰هـ) ,,الاشباه والنظائر،،دفن اول ددوهمه قاعدې لاندې ليکي: ،،قال الحاكم في الكافي من كتاب التحري:

واذا اختلط موتى المسلمين وموتى الكفار فمن كانت عليه علامة المسلمين صلى عليه ومن كانت عليه علامة الكفار ترك. فان لم تكن عليهم علامة والمسلمون اكثر غسلوا وكفنوا وصلى عليهم وينوون بالصلاة والدعا للمسلمين دون الكفار، ويدفنون في مقابر المسلمين، وان كان الفريقان سواء اوكانت الكفار اكثر لم يصل عليهم، ويغسلون ويكفنون ديدفنون في مقابر المشركين.،، (الاشباه والنظائر ج:۱ ص:۱۵۲ مطبوعه ادارة القرآن والعلوم الاسلاميه كراچى)

ترجمه: امام حاكم، ،الكافي،،په كتاب التحري كې فرمايي: اوكله چې مسلمان اوكافرمړي ګډوډ شي،نوپه كومومړوچې دمسلمانانو نښه وي دهغوی دجنازې لمونځ به کيږي اوپه چاچې دکفارو نښه وي دهغوی جنازه به نه کيږي اوکه په هغوی څه شناختي علامت نه وي؛ نوکه د مسلمانانوتعداد زيات وي؛ نوټولوته به غسل اوکفن ورکړل شي اوجنازه به يې وکړل شي او نيت به دا وکړل شي چې مونږ يوازې دمسلمانانوجنازه کوو،اودهغوی له پاره دعا کوو، او هغوی به دمسلمانانوپه قبرستان کې دفن کړل شي اوکه دواړه فريقه برابروي يا د کافرانو اکثريت وي نودهغوی دجنازې لمونځ به نه کيږي هغوی ته به غسل اوکفن ورکړل شي او د غيرمسلموپه قبرستان کې به دفن کړل شي.،،

داهم وګورئ: **نفع المفتي والسائل**،،مولاناعبدالحی لکهنوي (المتوفي ۱۳۰۴ هجري) اوآخر کتاب الجنائز..

د پورتنۍ مسئلې نه معلومه شوه چې که کافران اومسلمان مړي سره ګډوډ شي او د مسلمانانو شناخت کيږي؛ نوکه دواړه فريقه برابروو، يادکافرانومړواکثريت وي؛ نوپه داسې صورت کې به دمسلمانانومړي هم داشتباه په وجې سره دمسلمانانوپه قبرستان کې دفن کول جائزنه وي، له همدې نه دامعلوميږي چې کوم مړی قطعي طورسره غيرمسلم وي، مرتد او قادياني وي،نودهغه مړی دمسلمانانوپه قبرستان کې دفن کول په درجه اولی جائزنه دي، اوهيڅ صورت کې به هغوی دمسلمانانوپه مقبره کې نه دفن کيږي.

نورداچې د ،،**الاشباه والنظائر**،،**فن ثاني، كتاب السير، باب الردة**، لاندې ليکل شوي دي:

،،واذا مات اوقتل على ردته لم يدفن في مقابر المسلمين ولااهل ملة وانما يلقى في حفرة كالكلب

،،(الاشباه الظائرج:۱ ص:۲۹۱ مطبوعه ادراة القرآن والعلوم الاسلاميه كراچى)

ترجمه: اوکله چې مرتدمړشي يادارتدادپه حالت کې قتل کړل شي؛ نونه خودې هغه د

مسلمانانو په قبرستان کې خښ کړل شي اونه دبل ملت په قبرستان کې،بلکې هغه دې لکه دسپي په شان په کنده کې واچول شي.،،

پورتنۍ جزئيه تقريباً په ټولو فقهي کتابونوکې په کتاب الجنائزاوکتاب السير،باب المرتدکې ذکرشوې ده، مثلاً په درمختارکې دي: ،،**اماالمرتد فيلقى فى حفرة كالكلب**،،

ترجمه: مرتددې لکه دسپي په شان په کنده کې وغورځول شي ،،

علامه محمدامين بن عابدين شامي رحمه الله ددې لاندې ليکلي دي ،،**ولايغسل ولايكفن ولايدفع الى من انتقل الى دينهم بحر عن الفتح**،،(ردالمحتار،ج:۲ ص:۲۳۰ مطبوعه کراچی)

ترجمه: نه دې غسل ورکول کيږي،نه دې کفن ورکول کيږي اونه دې هغو خلکوته حواله کيږي دچامذهب چې دې مرتداختيارکړی وي.،،

قاديانيان چونکې زنديق اومرتددي، له دې وجې که دچا عزيزقادياني مرتدشي؛ نونه دې هغه ته غسل ورکول کيږي اونه دې کفن،نه دې هغه مرزايانوته حواله کيږي، بلکې کنده دې وکنستل شي اولکه دسپي په شان دې په کې واچول شي،هغه نه يوازې دمسلمانانوپه قبرستان کې خښول ناجائزدي، بلکې دبل مذهب اوملت په قبرستان يامرګهټ مثلاً: د يهودانو په قبرستان کې اودنصرانيانوپه قبرستان کې خښول هم جائزنه دي.

فقه مالکي

قاضى ابوبكرمحمدبن عبدالله المالكي الاشبيلي المعروف بابن العربي(المتوفى ۵۴۳ هجري) دسوره اعراف دآيت :۱۷۲ دلاندې دمتاولينوپه کفرباندې خبروکولودقدريه په باره کې ليکي:**اختلف علماء المالكية فى تكفيرهم على قولين،فالصريح من اقوال مالك تكفيرهم**.،

ترجمه:مالکي عالمانو کې ددوی په تکفيرباندې دوه قولونه دي، دامام مالک رحمه الله دقول نه صفاطورسره ثابته دي چې هغوی کافردي.

مخکې دويم قول (عدم تکفير)دتضعيف کولونه وروسته دامام مالک رحمه الله په قول باندې تفريع کولوکې ليکي:

،،**فلاينا كحوا ولايصلى عليهم فان خيف عليهم الضيعة دفنوا كما يدفن الكلب.فان قيل: واين يدفنون؟ قلنا:لايوذى بجوارهم مسلم**.،(احكام القرآن لابن العربى جلد:دوم صفحات مسلسل:۸۰۲ بيروت)

ترجمه: نه دې دوی سره خپلوي کيږي اونه دې ددوی دجنازې لمونځ کيږي اوکه ددوی دلاش دضائع کيدو ويره وي؛ نودسپي په شان دې په کنده کې واچول شي

که داسوال وکړل شي چې دی چېرته خښ کړل شي؟نوزموږ جواب دادی چې هيڅ يو مسلمان ته دې دده په ګاونډيتوب سره تکليف نه ورکول کيږي(دی دې دمسلمانانوپه قبرستان کې خښ نه کړل شي.)

فقه شافعي

الشيخ الامام جمال الدين ابواسحاق ابراهيم بن علي بن يوسف الشيرازي الشافعي رحمه الله (متوفى ۴۷۶ هجرى) او امام محي الدين يحيى بن شرف النووي رحمه الله (المتوفى ۶۷۶ هجرى) ليكي:

،،قال المصنف رحمه الله ولا يدفن كافر فى مقبرة المسلمين ولا مسلم فى مقبرة الكفار.

الشرح: اتفق اصحابنا رحمهم الله على انه لا يدفن مسلم فى مقبرة كفار، ولا كافر فى مقبرة مسلمين، ولوماتت ذمية حامل بمسلم ومات جنينها فى جوفها ففيه اوجه (الصحيح) انها تدفن بين مقابر المسلمين والكفار، ويكون ظهرها الى القبلة لان وجه الجنين الى ظهر امه هكذا قطع به ابن الصباغ والشاشي وصاحب البيان وغيرهم وهوالمشهور،، (شرح مهذب ج:۵ ص:۲۸۵ مطبوع بيروت) **ترجمه:** مصنف رحمه الله فرمايي: اودمسلمانانو په مقبره كې دې هيڅ يو كافر دفن نه كړل شي اونه دې يو مسلمان د كافرو په مقبره كې دفن كړل شي.

شرح: په دې مسئله كې زموږ داصحابو (شافعيه وو) اتفاق دى چې يو مسلمان دكافرانو په مقبره كې او څوك كافر دمسلمانانو په مقبره كې نه دفن كيږي او كه څوك ذمي ښځه مړه شي چې د خپل مسلمان خاوندنه حامله وه، اودهغې دخيټې ماشوم هم مړشي؛ نو په دې كې څووجې دي، صحيح داده چې هغه دې دمسلمانانو او كافرانو دمقبرو په مينځ كې ځانته دفن كړل شي، اودشا دقبلې طرف ته كيږي ځكه چې دخيټې دماشوم مخ دمورد ملا طرف ته وي ابن الصباغ، شاشي، صاحب البيان اونورحضراتوهم داقول جزما اختيار كړى دى. اوهمدغه زموږ دمذهب مشهورقول دى،،

فقه حنبلي

الشيخ الامام موفق الدين ابومحمد عبدالله بن احمد بن محمد بن قدامة المقدسي الحنبلي رحمه الله (المتوفى ۶۲۰ هجرى) (المغني) كې او امام شمس الدين ابوالفرج عبدالرحمن بن محمد بن احمد بن قدامه المقدسي الحنبلي رحمه الله (المتوفى ۶۸۲ هجرى) په (الشرح الكبير) كې ليكي:

مسألة: قال: وان ماتت نصرانية وهى حاملة من مسلم دفنت بين مقبرة المسلمين ومقبرة النصارى، اختارهذا احمد، لانها كافرة لاتدفن فى مقبرة المسلمين فيتأذوا بعذابها، ولافى مقبرة الكفار لان ولدها مسلم فيتأذى بعذابهم، وتدفن منفردة، مع انه روى عن واثلة بن الاسقع مثل هذا القول، وروى عن عمر انها تدفن فى مقابر المسلمين، قال ابن المنذر: لايثبت. ذلك قال اصحابنا ويجعل ظهرها الى القبلة على جانبها الايسر ليكون وجه الجنين الى القبلة على جانبه الايمن، لان وجه الجنين الى ظهرها. (المغنى مع الشرح الكبير ج:۲ ص:۴۲۳ مطبوع بيروت ۱۴۰۳ هـ)،

,,او که نصراني ښځه چې د خپل مسلمان خاوندنه حامله وه، مړه شي، نو هغه به (نه خو د مسلمانانو په قبرستان کې دفن کېږي اونه د نصاراوو په قبرستان کې) بلکې د مسلمانانو دقبرستان اود نصارى دقبرستان په مينځ کې به څانته دفن کړل شي، امام احمد دا له دې وجې اختيار کړې دى، چې هغه ښځه خو کافره ده، هغه به د مسلمانانو په قبرستان کې نه دفن کېږي، چې دهغې عذاب سره مسلمانانو مړو ته تکليف ونه رسيږي اونه به هغه دکافرانو په مقبره کې دفن کېږي ؛ځکه چې دهغې په خېټه کې مسلمان ماشوم دى، هغه ته به دکافرانو دعذاب نه تکليف وي، ددې وجې نه به داجدا دفن شي، ددې سره دحضرت واثله بن الاسقع رضي الله عنه نه هم ددې قول په شان مروي دى اودحضرت عمر رضي الله عنه نه چې کوم مروي دى چې داسې ښځه به د مسلمانانو په قبرستان کې دفن کېږي ابن المنذر وايي چې داروايت دحضرت عمر رضي الله عنه نه ثابت نه دى، زمونږ اصحابو ويلي دي چې دانصراني ښځه به په ګس (چپ) طرف باندې څملولې شي اوشادې قبلې طرف ته کړل شي، چې دماشوم مخ دقبلې طرف ته وي اوهغه دې په ښي اړخ باندې وي؛ ځکه چې په خېټه کې دماشوم مخ دښځې دشاطرف ته وي،،

د پورتنيو تصريحاتونه معلومه شوه چې دا داسلامي شريعت متفق عليه اومسلمه مسئله ده، چې هيڅ يوغيرمسلم دمسلمانانو په قبرستان کې نه شي دفن کيداى، داسلامي شريعت دامسئله دومره صفا اوواضحه ده چې مرزاغلام احمدقادياني هم په خپلوتحريرونو کې ددې حواله ورکړې ده. د دروغو د نبوت دمدعيانو په باره کې مرزاليکلي دي:

,,حافظ صاحب يادساته، چې کوم څه په (قطع الوتين) رساله کې ددروغومدعيان نبوت په نسبت سره بې سروپاى خبرې ليکل شوې دي چې حکايتونه دهغه وخت پورې يوه ذره هم د اعتبار قابل نه دي ترڅوپورې چې داثابته نه وي چې دروغژنو خلکوپه خپله دعوى باندې اصرارکړى دى اوتوبه يې ونه کړه اواصرارځنګه ثابتيداى شي ترڅوپورې چې ددې زمانې د څه تحريرپه ذريعه سره داامرثابت نه شي چې هغه خلک هم ددې دروغوپه دعوى نبوت باندې مړه شول او دهغوى هغه وخت کې هيڅ يومولوي جنازه ونه کړه اونه دمسلمانانوپه قبرستان کې دفن کړل شو. (تخفة الندوة ص:۷ روحاني خزائن ج:۱۹ ص:۹۵ مطبوعه لندن)

په همدې رساله کې مخکې ليکل شوي دي: ,,بيادحافظ صاحب په خدمت کې لنډه خبره داده چې زمادتوبې کولوله پاره به صرف دومره کافي نه وي چې که بالفرض والمحال څه الهامي کتاب دنبوت دمدعي راووځي، کوم چې هغه دقرآن شريف په شان (ځنګه چې زمادعوى ده) دخداى داسې وحې ورته وايي چې دکوم په صفت کې هيڅ شک نشته، ځنګه چې زه وايم اوبيا دا ثابت شي چې که هغه بغيردتوبې نه مړشي اومسلمانانو هغه په خپل قبرستان کې خښ نه کړ. (تخفة الندوة ص:۱۲ روحاني خزائن ج:۱۹ ص۹۹-۱۰۰مطبوعه لندن)

دمرزاغلام احمدقادياني ددې دواړوعبارتونونه درې خبرې واضحه شوې:

لومړۍ: داچې ددروغومدعي نبوت کافراومرتد دى، همدغه شان دهغه منونکي هم کافر او

مرتد دي او هغوی د هيڅ اسلامي سلوک حقدار نه دي.

دويمه: داچې د کافرو مرتد د جنازې لمونځ نه وي، او نه هغه د مسلمانانو په قبرستان کې دفن کيږي.

دريمه: داچې مرزا غلام احمد قادياني د نبوت دعوی کوي او خپل شيطانی ،،وحې،، (نعوذ بالله) د قرآن کريم په شان ګڼي.

که د تير شوي دور د دروغو مدعيان نبوت د دې مستحق وي چې هغوی په اسلامی رورولی کې شامل نه کړل شي؛ نو مرزا غلام احمد قادياني د چا د نبوت دعوی چې لمريه شان ښکاره ده، د هغه د منونکوله پاره هم د غه حکم دی چې نه د ې د هغوی د جنازې لمونځ وکړل شي او نه دې هغوی د مسلمانانو په قبرستان کې دفن کيدو ته پريښودل شي.

پاتې شوه داخبره که قادياني په پټه باندې خپل مړی د مسلمانانو په مقبره کې ښخ کړي نو د هغه څه وکړل شي؟

د دې جواب دادی چې پته لګيدو نه وروسته د هغه راويستل واجب دي، د دې څو وجې دي:

اول:.....داچې د مسلمانانو قبرستان د مسلمانانو د دفن کولو له پاره وقف دی، د چا غير مسلم په دې کې دفن کول ،،غصب ،،دی او کوم مړی چې د غصب په ځمکه کې ښخ کړل شي؛ نو د هغه راويستل لازم دي، ځنګه چې د فقهې په کتابونو کې د دې وضاحت موجود دی[1] ځکه چې د کافر او مرتد لاش هر کله چې په غير محل کې ښخ شوی وي د احترام لائق نه دی، لکه چې امام بخاري رحمه الله د صحيح بخاري په کتاب الصلواة کې باب جوړ کړي دې: **باب هل ينبش قبور مشركي الجاهلية** .....الخ،، او د دې لاندې يې داحديث نقل کړی دی چې د مسجد نبوي له پاره کومه ځمکه واخيستل شوه په هغې کې د کافرانو قبرونه وو.

,,فأمر النبي صلی الله عيله وسلم بقبور المشركين فنبشت،،

(الصحيح بخاری ج:۱ ص:۶۱ مطبوعه حاجی نورمحمداصح المطالع)

ترجمه: حضور ﷺ د مشرکانو د قبرونو د ويستلو حکم وکړ، نو هغه وويستل شو.

حافظ ابن حجر رحمه الله د امام بخاري رحمه الله د دې باب په شرح کې ليکي:

,,ای دون غيرها من قبور الانبياء واتباعهم لما فی ذالک من اهانة لهم بخلاف المشركين فانهم لا حرمة لهم،، (فتح الباری ج:۱ ص:٥٢٤ مطبوعه دارالنشر لاهور)

ترجمه: د مشرکانو قبرونه به د بيخه ويستل کيږي، د انبياء کرامو او د هغوی د متبعينو قبرونه

---

[1] اذا دفن الميت فی ارض غيره بغيرمالكها فالمالک بالخيار ان شاء امر باخراج الميت وان شاء سوی الارض وزرع فيها كذافی التجنيس (عالمگيری ج:۱ص:۱۶۷،طبع رشيديه كوئته)۔ اذا دفن فی ارض مغصوبة اوكفن فی ثوب مغصوب ولم يرض صاحبه الا بنقله عن ملكه اونزع ثوبه جازان يخرج منه باتفاق (مراقی الفلاح شرح نورالايضاح مع حاشية طحطاوی ص:۳۳۷،فی حملها ودفنها ،طبع ميرمحمدكتب خانه)۔

نه،ځکه چې په دې کې اهانت دی، دمشرکينو په خلاف،ځکه دهغوی هيڅ حرمت نشته.

حافظ بدرالدين عيني رحمه الله (المتوفی ۸۵۵هجری)ددې حديث لاندې ليکي:،،**(فان قلت) کيف يجوز اخراجهم من قبورهم والقبر مختص بمن دفن فيه فقد حازه فلايجوز بيعه ولانقله عنه...**

(قلت)تلک القبورالتی امرالنبی صلی الله عيله وسلم بنبشها لم تکن املاکا لمن دفن فيها بل لعلها غصبت،فلذلک باعها ملاکها،وعلی تقدير التسليم انها خبست فليس بلازم.انما الازم تحبيس المسلمين لاالکفار،ولهذا قالت الفقهاء اذا دفن المسلم فی ارض مغصوبة يجوزاخراجه فضلاعن المشرک،،(عمدة القاری ج:۲ ص:۳۵۹ طبع دارالطباعة العامره)

ترجمه:که دا وويل شي چې دکافرانواومشرکانومړي ددوی دمقبرونه راوويستل څنګه جائز کيدای شي؟ هرکله چې قبر د مدفون سره مختص وي،ځکه نه ددې ځای خرڅول جائزدي اونه دمړي دهغه ځای نه منتقل کول جائزدي.

ددې جواب دادی چې داقبرونه دکومودراويستلوحکم چې نبي کريم ﷺ وکړغالبا ددفن کيدونکونه و،بلکې هغه ځای غصب شوی و،ځکه مالکانوهغه خرڅ کړ. اوکه دا فرض کړل شي چې داځای ددغه مړوله پاره خاص شوی و،نو بياهم دالازمه نه ده؛ ځکه چې د مسلمانانو په قبرونوکې ساتل لازم دي دکافرانونه،په همدې وجه فقهاوويلي دي چې هرکله مسلمان په غصب شوې ځمکه کې دفن شوی وي ،دهغه راويستل جائزدي ؛نوبياخوبه کافراومشرک خامخاراويستل کيږي.،،

کوم قبرستان چې دمسلمانانوله پاره وقف وي په هغه کې څوک قادياني خښول دهغه ځای غصب دی؛ځکه چې وقف کونکي دادمسلمانانوله پاره وقف کړی دی،څوک کافرمرتدپه دې کې خښول په وقف شوي ځای کې تصرف دی اوپه وقف کې دناجائزه تصرف داجازت ورکولواختيارهيڅوک نه لري ، بلکې داناجائزه تصرف په هرحال کې ختمول ضروري دي،له دې وجې کوم قادياني چې دمسلمانانوپه قبرستان کې دفن شوی وي، دهغه راويستلو سره ددې غصب ازاله کول ضروري دي اوکه مسلمانان په دې تصرف بې جااوغاصبانه حرکت باندې خاموش پاتې شي اوددې غصب دازالې کوششونه ونه کړي؛ نوټول به ګناه ګاروي اوددې مثال به بالکل داسې وي چې کوم ځای دجومات له پاره وقف وي اوپه هغه کې دګرجې يا مندر جوړولو اجازت ورکړل شي ياهغه ځای باندې غيرمسلم قبضه وکړي اوخپلې عبادت خانې پکې جوړې کړي؛نو ددې ناجائزه تصرف اوغاصبانه قبضې ازاله کول به په مسلمانانو باندې فرض وي،همدغه شان دمسلمانانوپه قبرستان کې کوم چې دمسلمانانوله پاره وقف دی ،که غيرمسلم قادياني ناجائز تصرف اوغاصبانه قبضه وکړي؛ نودهغه ازاله به واجب وي.

دویمه وجه داده چې څوک کافر د مسلمانانو په قبرستان کې خښول د مسلمانانو مړوله پاره دتکلیف سبب دی[۱] ځکه چې کافر ته په خپل قبر کې عذاب ورکول کیږي او د هغه قبر محل لعنت او غضب دی، د هغه عذاب سره به مسلمانانو مړوته تکلیف وي، د دې وجې نه یو کافر د مسلمانانو په مقبره کې دفن کول جائز نه دي او که دفن شوی وي، نو د مسلمانانو له تکلیف څخه د ساتلو له پاره د هغه راویستل ضروري دي، د هغه دلاش حرمت نشته، بلکې د مسلمانانو مړیو لحاظ ضروري دی.

امام ابوداود رحمه الله په (کتاب الجهاد، باب النهی عن قتل من اعتصم بالسجود) کې د حضور ﷺ ارشاد نقل کړی دی: ,,انا بری من کل مسلم یقیم بین اظهر المشرکین .قالوا: یارسول الله ﷺ لم؟ قال: لاترایا نارهما.،، (ابوداود ج:۱ ص:۳۵٦ مبطبوعه ایچ ایم سعید کراچی)

ترجمه: زه بري یم د هر هغه مسلمان څخه چې د کافرانو ترمینځه اوسیږي. صحابه وو عرض وکړ یارسول الله! داولې؟ وېې فرمایل: د دواړو اور یوبل ته په نظر راتلل پکار نه دي.،،

او امام ابوداود رحمه الله په اخر کتاب الجهاد، باب فی الاقامة بارض الشرک، کې دا حدیث نقل کړی دی: ,,من جامع المشرک وسکن معه فانه مثله.،، (ابوداود ج:۲ ص:۲۹ ایچ ایم سعید کراچی)

ترجمه: کوم کس چې د مشرک سره سکونت اختیار کړي هغه به هم د هغه په شان وي.،،

هر کله چې د دنیا په عارضي ژوند کې د کافر او مسلمان په یوځای اوسیدل خوښ نه شو؛ نو د قبره په اوږد ژوند کې به دا اجتماع څنګه خوښیدای شي؟

دریمه وجه داده چې د مسلمانانو د قبرستان د زیارت او د هغوی له پاره د دعا او استغفار حکم دی[۲] او د هیڅ یو کافر له پاره دعا، استغفار او ایصال ثواب جائز نه دي[۳] د دې له وجې لازمه ده چې هیڅ دیو کافر قبر هم د مسلمانانو په قبرستان کې پرینښودل شي، د دڅه له وجې چې زائرین دوکه نه شي او هغوی د کافرانو مړیو په قبرونو باندې ودریږي او دعا او استغفار شروع نه کړي.

د مرزا غلام احمد په ملفوظاتو کې د یو بزرګ واقعه داسې ذکر شوې ده:

---

۱ [ویکره ان یدخل الکافر قبر احد من قرابته من المومنین ،لانه الموضع الذی فیه الکافر تنزل فیه السخطة واللعنة فیتزه قبر المسلم عن ذلک (البدائع الصنائع ج:۱ ص:۳۱۹ صلاة الجنازة ،سنة الدفن طبع سعید)۔

۲ [عن بریدة قال :کان رسول الله صلی الله علیه وسلم یعلمهم اذا خرجوا الی المقابر السلام علیکم اهل الدیار من المومنین والمسلمین وانا ان شاء الله بکم لاحقون ،نسال الله لنا ولکم العافیة .رواه مسلم (مشکوة الفصل الاول بابه زیارة القبور ص:۱۵۴ ،طبع قدیمی کتب خانه)۔

۳ [ولاتصل علی احد منهم مات ابدًا ولاتقم علی قبره (التوبة :۸۴) وفی التفسیر :امر الله تعالی ورسوله صلی الله علیه وسلم ان یبرا من المنافقین ،وان لایصلی علی احد منهم اذا مات وان لایقوم علی قبره لیستغفر له اویدعوله ،لانهم کفروا بالله ورسوله وماتوا علیه ،وهذا حکم عام فی کل من عرف نفاقه (تفسیر ابن کثیر ج:۳ ص:۴۲۵ طبع کوئته)۔

,,یو بزرګ په یو ښارکې د یرزیات ناروغ شو اودمرګ ترحالت پورې هلته ورسیده؛ نو خپلو ملګرو ته یې وصیت وکړ چې ما دیهودانو په قبرستان کې دفن کړئ، دوستان یې حیران شول چې دا خو عابد او زاهد انسان دی، دیهودانو په قبرستان کې دخښیدو خواهش ولې کوي؟ کیدای شي چې دې وخت کې دده حواس صحیح نه وي، هغوی ترې بیاپوښتنه وکړه چې دا تاسو څه فرمایئ؟ بزرګ ورته وویل چې تاسو زما په خبره مه حیرانه کیږئ ، زه په هوش او حواسو کې خبره کوم اواصل واقعه داده چې د دیریشوکلونو راهیسې زه دادعاکوم چې ما ته دې مرګ په طوس ښارکې راشي، که زه نن دلته مړشم؛ نوچې دکوم کس د دیرشو کلونو دعا قبوله نه شي هغه مسلمان نه دی، زه نه غواړم چې په داسې صورت کې دمسلمانانو په قبرستان کې خښ شم چې اهل اسلام ته دوکه ورکړم اوخلک ما مسلمان وګڼي او راځي اوزما په قبرباندې فاتحه ولولي،، (ملفوظات غلام احمدقادیانی ج:۷ص:۳۹۶مطبوعه لندن)

فقهاوودکافراومسلم فرق کولوکې دومره رعایت کړی دی چې که د یو غیرمسلم مکان دمسلمانانو په محله کې وي؛ نو په هغه باندې ښنه ضروري ده چې دا دغیر مسلم مکان دی چې هلته مسلمان ونه درېږي اودعا اوسلام ونه کړي، څنګه چې په« کتاب السیرباب احکام اهل الذمة» کې فقهاوو ددې وضاحت کړی دی.[1]

خلاصه داده چې هیڅ یوغیرمسلم خصوصاقادیاني مرتد دمسلمانانو په مقبره کې دفن کول هیڅ کله جائزنه دي اوکه دفن شوی وی؛نودهغه ویستل اودمسلمانانوقبرستان دهغه مردارنه پاکول ضروري دي.

په نوي زېږېدلي ماشوم کې که ساه وي؛ نو د مرګ نه وروسته به د هغه د جنازې لمونځ کیږي

سوال: زموږ په کلي کې چې کله ماشوم پیداشي، اواز وکړي یا وژاړي، دژوندنښې په کې ښکاره شي، داذان مهلت ورته پیدا نه شي اوهغه ماشوم ددووڅلوروساه ګانونه وروسته وفات شي، د کلیوال ددې ماشوم ددې له وجې چې ددې ماشوم په غوږکې اذان نه دی شوی دهغه ماشوم جنازه نه کوي اونه دماشوم مړی د مسلمانانو په مقبره کې دفن کوي، دمقبرې دديوال نه بهر دفن کوي، که ستاسو په خیال کې دجنازې لمونځ کول ضروري وي؛ نو په داسې صورت کې دجنازې دومره وخت دلمانځه نه کولو څه کفاره ده؟

جواب: کوم ماشوم کې چې دپیدا ښت په وخت کې دژوندنښې ښکاره شي دهغه جنازه ضروري ده، که څه هم هغه درې منټه وروسته وفات شوی وي[2] دداسې ماشومانوجنازه ددې له وجې

---

[1] ویاخذ الذمی بالتمیزعنا فی المرکب والملبس....وتجعل علی دورهم علامة (الاشباه والنظائرج:۲ص:۱۷۷)

[2] [قوله ومن استهل صلی علیه والا لا ......وفی الشرع ان یکون منه....[بقیه حاشیه په راروانه صفحه....

نه کول چې دده په غوږکې اذان نه دی شوی دجهالت خبره ده اود ناواقفي له وجې داسې څومره جنازې نه دي شوي ،په هغه دې توبه او استغفاروکړل شي همدغه يې کفاره ده.

د حاملې ښځې هم يوه جنازه وي

سوال: زمونږ په کلي کې يوه ښځه وفات شوه، دهغې په خيټه کې ماشوم و، زمونږ امام صاحب دهغې جنازه وکړه، اوس ډير خلک وايي چې ددې دوه جنازې کول پکار و، دليل وايي چې فرض کړئ يوه حامله ښځه قتل شي؛ نوپه هغه باندې ددوو قتلونو الزام دی.

جواب: کوم خلک چې وايي دوه جنازې کول پکاروې، هغوی غلط وايي جنازه به يوه کيږي[۱] اود دوومړيوجنازه په يوځای هم کيږي[۲]هرکله چې ماشوم دمورپه خيټه کې مړشو دهغه جنازه نه شته.[۳]

که د پنځوشپږو مياشتو ماشوم لږ وخت ژوندی وي او مړ شي؛ نوايا دهغه د جنازې لمونځ کيږي؟

سوال: که ديوې ښځې دپنځوشپږو مياشتودوران کې مړماشوم پيداشي، يادپيداکيدونه وروسته په دنيا کې دوه څلورساه ګانې اخيستونه وروسته وفات شي؛ نوپه دواړه صورتونوکې دغسل، کفن اود جنازې په باره کې راته ووايئ؟

جواب: کوم ماشوم چې دپيداکيدونه وروسته وفات شي، يوڅومنټه ژوندی وي، هغه ته دې غسل ورکړل شي اودهغه جنازه دې هم و شي، ، خوکوم ماشوم چې مړپيداشي دهغه جنازه نه شته هغه ته دې غسل ورکړل شي اوپه جامه کې دې ونغښتل شي اوبرته له جنازې دې دفن شي، مګرپه هغه نوم کيښودل ضروري دي.[۴]

په جوماتونو کې د ننه جنازه کول مکروه دي

سوال: دلته اکثرليدل کيږي چې جنازه په محراب کې دننه کيښودل شي اودمحراب په سر باندې امام صاحب ودريږي او مقتديان په جومات کې په صفونوکې ودريږي، وروسته بيا

...بقيه د تير مخ]..يدل على حياته من رفع الصوت اوحركة عضو ......حكمه الصلاة عليه ويلزمه ان يغسل ......الخ (البحرالرائق ج:۲ص:۲۰۲ كتاب الجنائز)

۱]ولأيصلى على ميت الا مرة واحدة ......الخ (هندية ج:۱ص:۱۶۳،الباب الحادى والعشرون فى الجنائز)۔

۲]قوله:وان جمع جازاى بان صلى على الكل صلاة واحدة .....الخ (شامى ج:۲ص:۲۱۹باب صلاة الجنازة)

۳] ومن ولدفمات يغسل ويصلى عليه ويرث ويورث ويسمى ان استهل ......(والا) يستهل غسل وسمى ......ولم يصل عليه ،.....الخ (درمختارمع الشامى ج:۲ص:۲۲۷،مطلب مهم ،باب صلاة الجنازة)۔

۴] ايضًا)۔

د جنازې لمونځ و شي، ایا دا طریقه صحیح ده؟ او عذر دا وړاندې کوي چې د ځای د کمې له وجې داسې کیږي.

جواب: په جومات کې د جنازې د لمانځه درې صورتونه دي او د احنافو رحمه الله علیهم په نزد درې واړه علی الترتیب مکروه دي:

(۱): دا چې جنازه په جومات کې وي او امام او مقتدیان هم په جومات کې وي.

(۲): دا چې جنازه بهر وي او امام او مقتدیان دواړه په جومات کې وي.

(۳): دا چې جنازه امام او څه مقتدیان د جومات نه بهر وي او څه مقتدیان جومات کې دننه وي[1] که د څه عذر له وجې یې په جومات کې جنازه وکړ: نو جائز ده[2]

د ماشوم د دفن کولو نه وروسته معلومه شوه چې هغه د پیدایښت په وخت ژوندی و؛ نو اوس څه وشي؟

سوال: یو کال مخکې زما زوی مړشو. یعني له پیدا کیدو لس منټه وروسته، خو موږ ته په هسپتال کې دا معلومات وشو چې هغه مړ پیدا شوی دی له دې وجې موږ هغه د جنازې د لمانځه او غسل نه پرته په قبرستان کې دفن کړ، کله موږ وروسته د هسپتال رپورټ ولوست؛ نو په دې کې یې د ماشوم په باره کې دا لیکلي و چې د پیدا کیدو لس منټه وروسته مړ شوی و او حالانکې موږ د ماشوم نوم هم نه و ایښی، آیا په دې صورت کې به موږ ګناهګار یو، حالانکې موږ د بې علمي له وجې د جنازې لمونځ نه و کړی او نه مو دده نوم ایښی و؟

جواب: د بې علمي له وجې داسې وشول له دې وجې ګناه لازمه نه شوه او اوس خو د جنازې د لمونځ په باره کې هیڅ صورت نه کیږي[3] البته د ماشوم نوم اوس هم کیښودلی شئ.[4]

په مسجد کې د جنازې لمونځ کول

سوال: عرض دا دی چې زموږ په جامع مسجد کې د جنازې لمونځ اداء کیږي، د محراب مخې ته ګیرلی کې مړی او د امام نه پرته ټول لمونځ کونکي په مسجد کې د جنازې لمونځ

---

[1] وكرهت تحريمًا فى مسجدجماعة هو اى الميت فيه وحده اومع القوم واختلف فى الخارجة عن المسجدوحده اومع بعض القوم والمختار الكراهة مطلقًا ، درمختاروفى الشامية:قوله مطلقًااى فى جميع الصور المتقدمة كمافى الفتح عن الخلاصة(درمختارمع الشامى ج:٢ص:٢٢٥مطلب فى كراهة صلاة الجنازة وايضًافى الهندية ج:١ص:١٦٥)

[2] تتمه انما تكره فى المسجدبلاعذر،فان كان فلا (ردالمحتارج:٢ص:٢٢٦ مطلب مهم)_

[3] ولودفن الميت قبل ا لصلاة اوقبل الغسل فانه يصلى على قبره الى ثلاثة ايام والصحيح ان هذا ليس بتقدير لازم بل يصلى عليه مالم يعلم انه قدتمزق كذافى السراجية(عالمگيرى ج١ص:١٦٥،الباب الحادى والعشرون فى الجنائز)

[4] ومن استهل بعدالولادة سمى وغسل وصلى عليه (عالمگيرى ج:١ص:١٥٩،الباب الحادى والعشرون)

کوي، ګزارش دادی چې د فقه حنفي په رڼا کې د دې شرعي حیثیت څه دی؟

جواب: که د مسجد نه پرته د جنازې ځای موجود وي (مثلا د مسجد سره نژدې میدان)؛ نو په مسجد کې د جنازې لمونځ اداء کول مکروه دي [1] او که چیرې ځای نه وي؛ نو د مجبورۍ نه جائز دی. [2]

په مسجد کې د جنازې لمونځ اداء کول

سوال: د پاکستان د جوړیدو نه مخکې به د جنازې لمونځ د مسجد د صحن د حدودو سره پیوست ځای چې عام ډول د شپلیو دویستلو له پاره وي، که چیرې خلک کم وو نوهلته به کیده اوکه حاضرین به زیات وو؛ نو د مسجد نه به بهر لمونځ کیده، په اول کې په پاکستان کې هم دا طریقه وه، د وخت سره سره یې دوی ته وسیع النظري وایي یا لبرالزم Liberalism په دې طریقې سره تبدیلي راغله، دځینې مسجدونو د امامانو د مصلې مخې ته په دیوال کې به یې یوه مختصره کړکی کوله چې هغه په مشکله سره ۱×۱ فټ جوړیده، جنازه به یې بهر کیښوده او امام به د خپلې مصلې نه لمونځ اداء کاو، اوس په ځینې مسجدونو کې دروازې هم جوړې شوې دي په ځینې مسجدونو کې به امام او دوه درې سړي بهر دریدل او باقي لمونځ کوونکي به په خپل ځای باندې لمونځ اداء کاوو، هغه امام چې هغه یو وخت بهر د لمونځ له پاره مسئله بیانوي یوازې دا وجه بیانوي چې بهر تیلې والاوړ دي، دننه لمونځ اداء کوي، زما مراد ددې تفصیل نه دادی چې اسلامي فقه (واضح دې وي دا ټول امامان د دیوبند نه استفاده کوي) په دې مسئله کې څه لاره ښایي؟ که چیرې په مسجد کې امام د خپلې مصلی نه یا درې سړي د امام سره بهر ووځي او باقي لمونځ کوونکي په خپل ځای کې په لمونځ کې شامل وي، که په دې کې د کراهت یا د منع حکم نه وي؛ نو بهتره دا ده چې ددې وضاحت د ټولو امامانو صاحبانو نه وشي.

جواب: مسئله داده چې د جنازې لمونځ په مسجد کې مکروه دي، مګر دا چې د څه عذر په بنا په بهر اداء کول مشکل وي؛ نو بیا په مسجد کې د جنازې د اداء کولو یو څو صورتونه دي:

(۱): مړی، امام او مقتدیان په مسجد کې.

(۲): مړی بهر وي او امام او مقتدیان په مسجد کې وي.

---

[1] واختلف فی الخارجة عن المسجد وحده اومع بعض القوم والمختارالکراهة مطلقًا (الدرالمختارمع الردج:۲ ص:۲۲۵باب صلاة الجنازة،مطلب فی کراهة صلاة الجنازة فی المسجد)

[2] انما تکره فی المسجدبلاعذر، فان کان فلا، ومن الاعذار المطرفی الخانیة ......وانظرهل یقال ان من العذرماجرت به العادة فی بلادنامن الصلاة علیها فی المسجدلتعذرغیره اوتعسره بسبب اندراس المواضع التی کانت یصلی علیها فیها......واذا ضاق الامراتسع ......واذا کان ماذکرناعذرًافلاکراهة اصلاً (شامی ج:۲ص:۲۲۶،۲۲۷باب صلاة الجنازة مطلب مهم)

(۳): مړی، امام او څه مقتدیان بهر وي او باقي خلک په مسجد کې وي.
دا ټول صورتونه مکروه دي، البته اولني او دويم صورت نه په دريم صورت کې زيات کراهت دی [۱] که چیرې صورت حال دا وي بهر د جنازې لمونځ اداء کول ممکن يا ډير مشکل وي؛ نو په مسجد کې اداء کول د مجبوري له وجې جائز دي. [۲]

د جنازې د لمانځه په ځای کې فرض لمونځ کول

سوال: ایا دا خبره صحیح ده چې کوم ځای کې د جنازې لمونځ کیږي هلته فرض لمونځ نه شي کيدای؟

جواب: دا خو صحيح نه ده چې کوم ځای کې د جنازې لمونځ کيږي، هلته فرض لمونځ نه شي کيدای، البته مسئله ددې برعکس ده چې کوم جومات د پنځه وخته لمانځه له پاره جوړ شوي وي، هلته پرته د څه عذر نه د جنازې لمونځ کول مکروه دي. [۳]

د جنازې د لمانځه له پاره په حطيم کې دريدل

سوال: په حرم شريف کې تقريبا روزانه د جنازې لمونځ کيږي، اکثر خلک په حطيم کې دريږي او د جنازې لمونځ کوي، هرکله چې امام مقام ابراهيم سره ولاړ وي: نو ايا په حطيم کې د جنازې لمونځ ادا کيږي او که نه؟

جواب: متقدمينو نه خو دا مسئله منقول نه ده، البته علامه شامي رحمه الله ديو رومي عالم خبره نقل کړې ده چې هغه دا صحيح نه ګڼله او علامه شامي ليکي چې هغه په خپله دا صحيح ګڼي. (ج:۲ ص:۲۵۶ طبع جديد) [۴] تر څو چې ماته پته ده په عامو لمونځونو کې هم او د جنازې په لمانځه کې هم څوک په حطيم کې دريدو ته نه پريښودل کيږي.

په حرمين شريفين کې د جنازې لمونځ ولې کيږي؟

سوال: په نوې ګڼه کې تاسو فرمايلي دي چې په کوم ځای کې پنځه وخته لمونځ کيږي، هلته

---

[۱] ويكره تحريمًا وقيل تنــزيهًا في مسجدجماعة هواى الميت فيه وحده اومع القوم واختلف فى الخارجة عن المسجد وحده اومع بعض القوم والمختارالكراهة مطلقًا (ألدرالمختارمع الردج:۲ص :۲۲۵باب صلاة الجنازة)

[۲] انماتكره فى السجدبلاعذرفان كان فلا (شامى ج:۲ص:۲۲۶باب صلاة الجنازة مطلب مهم)

[۳] وكرهت تحريمًافى مسجد جماعة ٠ درمختاروفى الشامية قوله فى مسجد جماعة اى المسجدالجامع ومسجدالمحلة ......الخ(شامى ج:۲ص:۲۲۵باب صلاة الجنازة مطلب فى كراهية صلاة الجنازة فى المسجد)_

[۴] وهو مالوكان المقتدى فيها والامام خارجها ،والظاهر الصحة ان لم يمنع منها مانع من التقدم على الامام عند اتحادالجهة....قلت :ولما حججت سنة ثلاث وثلاثين ومائتين والف اجتمعت فى منى سقى الله عهدها مع بعض الفاضل الروم من قضاة المدينة المنورة فسالنى عن هذه المسئلة فقلت له ماتقدم فقال :لايصح الاقتداء لان المتقدى يكون اقوى حالاً من الامام لكونه داخلها والامام خارجها(شامى ج:۲ص:۲۵۵،باب الصلاة فى الكعبة ،طبع ايچ ايم سعيد)

دجنازې لمونځ مکروه دی، هرکله چې په کعبه شریفه، مسجدنبوي اونوروجوماتونوکې په هم هاغه ځای کې دجنازې لمونځ کیږي؛ نو ایاهغوی ته کول پکاردي؟

جواب: دعذراومجبوري حالت مستثنی دی، په حرمین شریفین کې دومره لوی ځای ته دومره لویه مجمع په سهولت سره نه منتقل کیدل پوره عذردی.[۱]

په بازارکې د جنازې لمونځ مکروه دی

سوال: زموږ په بازارکې اکثردجنازې لمونځ کیږي، چې دهغه له وجې ټریفک والا هم دریږي اود خلکو تګ راتګ بندشي، کله چې ورسره نژدې روډباندې ددې له پاره ځای هم جوړشوی دی، خو بیاهم دلته جنازه کیږي؛ نو ایا داطریقه صحیح ده؟

جواب: له څه عذرنه پرته په بازاراو لاره کې دجنازې لمونځ کول مکروه دي.[۲]

د سهاراو مازدیګر نه وروسته د جنازې لمونځ

سوال: دامام ابوحنیفه رحمه الله په مسلک باندې تلونکوله پاره دسهاردلمانځه نه وروسته ترڅو پورې چې لمر را ونه خیژي اودمازدیګردفرض لمانځه وروسته ترڅوپورې چې دماښام فرض لمونځ ونه شي هیڅ لمونځ کول پکار نه دي اواکثرځل کله چې الله تعالی په خپل فضل اوکرم سره د حرمینو شریفینوزیارت راته نصیب کوي؛ نواکثرداواقعه راپیښیږي، دسهار دفرض لمانځه وروسته، یعني دسلام ګرځولوپسې جنازه شروع شوه؛ نوپه داسې حالت کې موږ ته څه کول پکار دي؟ او همدغه شان د مازدیګردلمانځه وروسته کیږي؛ نوپه داسې حالت کې موږ ته څه کول پکاردي؟دجنازې لمونځ وکړو اوکه نه؟

جواب: دسهاراومازدیګرنه وروسته نوافل جائزنه دي (په دې کې دوګانه طواف هم شامل دی) مګر دجنازې لمونځ، سجده تلاوت اود قضا لمونځونواجازه شته. له دې وجې دجنازې لمونځ ضرورکول پکاردي.[۳]

د جنازې لمونځ دې دسنتو نه وروسته وکړل شي

سوال: زموږ دعلاقې په جوماتو کې دڅو ورځو راهیسې داسې کیږي چې هریولمانځه په دوران کې که چیرته جنازه راشي؛ نودجوماتو امام صاحب دفرضو نه فورا وروسته دجنازې

۱] واذاکان ماذکرناه عذرًا فلاکراهةَ اصلاً والله تعالی اعلم (شامی ج:۲ص:۲۲۷،باب صلاة الجنازة ،مطلب مهم ،وایضًا فی الهندیة ج:۱ص:۱۶۵،الباب الحادی والعشرون فی الجنائز)۔

۲] وتکره ایضًافی الشارع (شامی ج:۲ص:۲۲۵،باب صلاة الجنازة ،وایضًافی الهندیة ج:۱ص:۱۶۵)۔

۳] تسعة اوقات یکره فیها النوافل ومافی معناها لا الفرائض ...... فیجوزفیها قضاء الفائتة وصلاة الجنازة وسجدة التلاوة....منها مابعدصلاة الفجرقبل طلوع الشمس.....ومنها مابعد صلاة العصرقبل التغیر......الخ (هندیة ج:۱ص:۵۲،۵۳،الباب الاول فی المواقیت ومایتصل بها ،وایضًافی الشامی ج:۱ص:۳۷۵)۔

لمونځ وکړي، هرکله چې په نورو جوماتونوکې اوزموږ په جومات کې به دپوره لمونځ نه وروسته د جنازې لمونځ کيده، مګر اوس دځوورځوراهيسې زموږ په جومات کې دفرض لمانځه نه وروسته دجنازې لمونځ وشي اودغه شان ډيرلمونځ ګزارقبرستان پورې په جنازې کې دشرکت کولونه پاتې شي، تاسوته دادرخواست دی چې دقرآن اوسنت په رڼاکې دفرض لمانځه نه فورا وروسته دجنازې داداکولوپه باره کې څه حکم دی؟

جواب: اصل مسئله خوهمدغه ده چې دفرض لمانځه نه وروسته دې جنازه وشي بيادې سنت وشي، مګرپه درمختارکې دبحرنه منقول دي چې فتوا په دې باندې ده چې جنازه دې دسنتونه وروسته وشي.[۱]

څپليو سره دجنازې لمونځ کول

سوال: دجنازې په لمانځه کې ددريدوپه وخت څپلې څپلې وباسواوکه نه؟ ليدل شوي دي چې خلک څپلې وباسي اودهغو له پاسه ودريږي، داعمل څنګه دی؟ اومهرباني وکړئ اوداراته ووايئ چې پښې ابله پښې صحيح دي يا دڅپليوسره يادڅپلوله پاسه دريدل؟

جواب: څپلې که پاکې وي: نوپه هغو باندې دريدل اودجنازې لمونځ کول صحيح دي اوکه پاکې نه وي؛ نونه خودهغو سره دجنازې لمونځ کولی شئ اونه په هغو پښې کيښودوسره د جنازې لمونځ کول صحيح دی اوکه له پورته صفاوي، مګرله لاندې صفانه وي؛[۲] نوپه هغو باندې پښې کيږدئ! ځکه که وچه (صفا)وي؛ نوپښې ابله دريدل صحيح دي.

د څپليو په پښو کولو سره د جنازې د لمانځه اداء کول

سوال: د جنازې په لمانځه کې چې کله لمونځ اداء کيږي نو عام طور باندې جنازه د مسجد نه بهرپه کچه ځای باندې کيښودل کيږي، او ځينې خلک د پيذار سره او ځينې خلق د څپليو سره دجنازې په لمونځ کې شرکت کوي، آيا دپيذار او څپليو اچولوسره د جنازې لمونځ اداء کيږي؟

جواب: که چيرې پيذار او څپلې پاکې وي: نو د دې په اچولو سره د جنازې لمونځ اداء کول صحيح دي او ګني نو جائز نه دي.[۳]

۱] لکن فی البحرقبيل الاذان عن الحلبی الفتوی علی تاخير الجنازة عن السنة ......الخ (درمختارمع الشامی ج:۲ص:۱۶۷،باب العيدين)_

۲]ولو افترش نعليه وقام عليها جازفلايضرنجاسة ماتحتها لکن لابدمن طهارة نعليه ممايلی الرجل لاممايلی الارض ......الخ (طحطاوی علی مراقی الفلاح ص:۳۱۹،باب احکام الجنائز،فصل الصلاة عليه)_

۳]وکل مايعتبرشرطا لصحة سائر الصلوات من الطهارة الحقيقية والحکمية ......يعتبرلصحة صلاة الجنازة (عالمگيری ج:۱ص:۱٦٤،الباب الحادی والعشرون فی الجنائز)،وصلاته فيهماافضل ای فی النعل والخف الطاهرين افضل مخالفة لليهود ،تاتارخانية (شامی ج:۱ص:٦٥٧،مطلب فی احکام المسجد)_

بیره کې د جنازې لمونځ په تیمم سره جائز دی

سوال: که دجنازې لمونځ بالکل تیار وي اوانسان پاک وي، نو له اوداسه پرته به دجنازې لمونځ وشي؟ اوکه داودس له پاره کېني نود جنازې لمونځ به ترې شوی وي؟په داسې صورت کې به ایا دجنازې لمونځ وشي؟ اوکه نه کیږي؛ نوپه داسې صورت کې څه کول پکاردي؟

جواب: که داویره وی چې که اودس ته کېنم دجنازې لمونځ به رانه فوت شي؛ نوپه داسې صورت کې تیمم وکړئ اودجنازې په لمونځ کې شریک شئ[۱]،خودا تیمم به یوازې دجنازې د لمانځه له پاره وي،نورلمونځونه په دې تیمم سره کول جائزنه،بلکې اودس کول به ضروري وي.[۲]

له اوداسه پرته د جنازې لمونځ

سوال: تیرو ورځوکې زموږ په کالج کې غائبانه نمازجنازه وکړل شوه،هغه داسې چې دکالج دبس نه دکوزیدوسره څه طالبعلمانو وویل چې غائبانه دجنازې لمونځ کیږي،په دې کې شرکت کوو، موږ په دغه وخت کې بې اودسه وو،بلکې ټول طالبعلمان بې اودسه وو، خو داودس سهولت نه کیدوپه وجه چې هسې نه چې ملګري مودخپل ځان نه جدا وګڼي دمجبوري نه موږ دجنازې په لمانځه کې شرکت وکړ،دجنازې په دې لمونځ کې په ګڼ شمیر کې هندوان طالب علمان هم شامل وو،تاسوراته دا ووایئ چې آیا داغائبانه دجنازې لمونځ وشو؟ اوزموږ دبې اودسه شرکت کفاره څه ده؟

جواب: دحنفیانو په نزدباندې خوغائبانه دجنازې لمونځ کیږي هم نه،[۳] که تاسوپه دې کې شرکت کولو؛ نوتیمم به موکړی و اوبیاکې شریک شوي به وئ،دطهارت نه پرته دجنازې لمونځ جائزنه دی،[۴] ددې کفاره اوس څه کیدای شي؟سوادادې نه چې دالله تعالی نه معافي وغواړئ،په دې پوه نه شوم چې هندوان هلکان په دې کې ولې شامل شول؟

د جنازې دلمانځه له پاره یوازې دمشرزوی اجازه ضروري نه ده

سوال: اکثرمولویان دجنازې کولونه مخکې پوښتنه وکړي چې دمړي مشرزوی څوک دی؟زمایه نظر دمشرزوی دشریعت په لحاظ سره څه اهمیت نه شته،مولویانوصاحبانوته

۱]وکل مایعتبرشرطًا لصحة سائر الصلوات من الطهارة الحقیقیة والحکمیة ......یعتبرلصحة صلاة الجنازة (عالمگیری ج:۱ص:۱٦٤،الباب الحادی والعشرون فی الجنائز)۰وصلاته فیهماافضل ای فی النعل والخف الطاهرین افضل مخالفة للیهود ۰تاتارخانیة (شامی ج:۱ص:٦٥٧،مطلب فی احکام المسجد)_

۲] قوله وجازلخوف فوت صلاة الجنازة ای ولوکان الماء قریبًا (شامی ج:۱ص:۲٤۱،باب التیمم)_

۳] اماالتیمم لخوف فوت الجنازة ای ولوکان الماءقریبًا (شامی ج:۱ص:۲٤۲باب التیمم)_

٤] وشرطهاایضًاحضوره ووضعه وکونه هو او اکثره امام المصلی وکونه للقبلة فلا تصح علی غائب ....الخ (درمختارمع الشامی ج:۲ص:۲۰۸،باب صلاة الجنازة،مطلب هل یسقط فرض الکفایة بفعل الصبی؟)

دمړي دوارث په باره کې پوښتنه کول پکاردي او وارث وروږهم کیدای شي.دوست هم،آیا په دې سلسله کې دمشر زوی شرط ضروري دی؟ ایا دمشرزوی شرط شرعي دی؟

جواب: دجنازې له پاره دولې نه اجازه اخیستل کیږي اوچونکې(دپلارنه وروسته) زوی دټولونه مقدم دی اوپه هلکانوکې دټولونه زیات حق دمشرزوی وي، له دې وجې دهغه نه اجازه اخیستل مقصود وي[۱]، هسې خوله اجازې پرته هم جنازه اداکیږي [۲]

د سیدپه موجودیت کې د جنازې لمونځ دویم کس هم ورکولی شي

سوال: زمونږ په ځای کې جنازه وشوه،هلته خلکوامام صاحب ته وویل چې سید موجودنه دی، ددې وجې نه دجنازې لمونځ مه کوه،ایا دسیدپه غیرموجودیت کې دجنازې لمونځ اداکیدای نه شي؟دقرآن پاک په رڼاکې جواب راکړئ!

جواب: دجنازې کولوله ټولونه زیات حقدار دمړي ولی وي،دهغه نه وروسته دمحلې امام[۳]،په هرحال دسیدپه غیرموجودیت کې دجنازې لمونځ صحیح دی،اوداخیال بالکل غلط دی چې ترڅوپورې سید موجودنه وي دویم کس جنازه نه شي کولی،بلکې دسیدپه موجودیت کې هم دویم کس دجنازې لمونځ کولی شي [۴]

د جنازې دلمانځه د اداء کولو حقدار څوک دي؟

سوال: د جنازې د لمانځه د اداء کولو کوم حضرات حقدار دي؟

جواب: د مړي ولي زیات حقدار دی، په دې شرط چې د جنازې د لمونځ د اداء کولو اهل وي، دا رنګه دمحلې دامام حق دی او د یو نیک متقي نه د جنازې د لمونځ د کولو اهتمام کول پکار دي[۵]

۱]اماالشروط التی ترجع الی المصلی فهی شروط بقیة الصلوات من الطهارة الحقیقة بدناوثوبا ......الخ (شامی ج:۲ص:۲۰۷باب صلاة الجنازة مطلب فی صلاة الجنازة)_

۲] قوله والاولیاءعلی الترتیب ...... والاب افضل ولذا یقوم الاسن عند الاستواء کما فی اخوین شقیقین ......الخ (فتح القدیر ج:۱ص:۴۵۷،باب صلاة الجنازة)_

۳]فان صلی غیرالولی اوالسلطان اعاد الولی ......ثم هو لیس بمنحصرعلی السلطان بل کل من کان مقدما علی الولی فی ترتیب الامامة فی صلاة الجنازة علی ماذکرنا فصلی هولا یعیدالولی ثانیا......الخ (شرح العنایة علی الهدایة فی فتح القدیرج:۱ص:۴۵۸)_

۴] قوله ثم الولی ای ولی المیت الذکر البالغ العاقل....قال فی شرح المنیة :الاصل ان الحق فی الصلاة للولی،ولذا قدم علی الجمیع......الخ (شامی ج:۲ص:۲۲۰،باب صلاة الجنازة ،مطلب تعظیم اولی الامرواجب) (۴) اما شروط وجوبها فهی شروط بقیة الصلوات من القدرة والعقل والبلوغ والاسلام..الخ (شامی ج:۲ص:۲۰۷)

۵] ثم امام الحی المراد به امام مسجدمحلته لکن بشرط ان یکون افضل....[بقیه حاشیه په راروانه صفحه....

د نږدې ولي له اجازې پرته د اداء شوې جنازې حکم

سوال: که يو سړی د خپل وطن نه بهر د الله تعالى په حکم سره وفات شي او هلته د مړي د برابر درجې په وليانو کې د يو کس په موجوديت او اجازې د جنازې لمونځ اداء شوی وي او بيا وطن ته راوړل شي؛ نو دده به دوباره د جنازې لمونځ اداء کيږي اوکه نه؟

جواب: دمړي چې په کوم ځای کې انتقال وشي هلته يې دفن کول پکار دي [1] که د زيات نږدې ولي نه پرته مسلمانانو دده د جنازې لمونځ اداء کړ (ځکه چې نږدې ولي موجود نه و) نو فرض اداء شو، بيا هم نږدې ولي د جنازې لمونځ اداء کولی شي او دده سره په جنازه کې نور خلک هم شريکيدلای شي.[2]

دچا د جنازې لمونځ چې غيرمسلم وکړ په هغه دوباره لمونځ کول پکاردي

سوال: نوی کراچی سيکټر-۵ ډي کې دغيرمسلم ډلې جومات دی، فلاح دارين، دهغه دپيش امام تعلق ديو ديندارجماعت سره دی، چې چن بشويشورمني، خو دانه ظاهروي، خلک دوکه وخوري، کله چې هغوی ته پته ولګيږي؛ نوبياپښيمانه وي، تردې پورې چې يوصاحب وفات شو، چې دسني عقيدې والا و، دهغه دجنازې لمونځ ددې جومات امام صاحب وکړ، تاسوراته ووايئ چې دسني عقيدې والا دجنازې لمونځ قادياني کولی شي؟اوکه نه يې شي کولی؛نوددويم ځلي لمونځ به څه طريقه وي؟

جواب: ددين دارانجمن دخلکوتعلق دقاديانانوديوشاخ سره دی، له دې وجې نه داخلک مسلمانان نهي، دا امام صاحب دې فورا لرې کړل شي، غيرمسلم دمسلمان جنازه نه شي کولی، که چاغيرمسلم د مسلمان جنازه وکړه؛ نودوباره دجنازې لمونځ کول فرض دي اوکه بغير دجنازې نه دفن کړل شو؛نوټول مسلمانان به ګناهګاروي.[3]

...بقيه د تير مخ].. من الولى والا فالولى اولى منه ......الخ (مراقى الفلاح ج:۱ص:۳۲۳،باب احكام الجنائز، فصل السلطان احق بصلاته ،طبع ميرمحمد)

[1] ويستحب فى القتيل والميت دفنه فى المكان الذى مات فى مقابراولئک القوم ......الخ (عالمگيرى ج:۱ص:۱۶۷،الباب الحادى والعشرون فى الجنائز)

[2] فان صلى غيرالولى اوالسلطان اعادالولى ان شاء كذافى الهداية (ايضًا ج:۱ص:۱٦٤،الباب الحادى والعشرون)

[3] ثم امام الحى المراد به امام مسجد محلته لكن بشرط ان يكون افضل من الولى والا فالولى اولى منه ..... الخ (مراقى الفلاح ج:۱ص:۳۲۳،طبع سعيد)۔

د جنازې دلمونځ طريقه

سوال: دجنازې دلمونځ طريقه څه ده؟

جواب: دجنازې په لمونځ کې څلورتکبيرونه وي،دلومړي تکبيرنه وروسته ثناء، ددويم نه وروسته درود شريف، د دريم نه وروسته دمړي له پاره دعا اود څلورم نه وروسته سلام.[۱]

د جنازې د لمونځ نيت څنګه دی؟ که دعا ياده نه وي نوڅه وکړو؟

سوال: .که دجنازې دلمونځ دعاياده نه وي؛ نوڅه لوستل پکاردي؟ او نيت څنګه وکړل شي؟

جواب: دجنازې په لمونځ کې دجنازې نيت کيږي،[۲]دلومړي تکبيرنه وروسته ثناء وايو،ددويم تکبيرنه وروسته دلمونځ والا درودشريف وايو،ددريم تکبيرنه وروسته دمړي له پاره دعاوايواودڅلورم تکبيرنه وروسته سلام ګرځوو[۳].که دعاياده نه وي نويادول يې پکاردي،کومه چې لاندې ليکل شوې ده،ترڅوپورې چې دعاياده نه وي ,,**اللهم اغفرلنا وللمومنين والمومنات**،،لولئ ياخاموش دريږئ.[۴]

دُعاګانې دادي:

دبالغ مړي له پاره دعا:

((اللهم اغفرلحينا وميتنا وشاهدنا وغائبنا وصغيرنا وكبيرنا وذكرنا وانثانا، اللهم من احييته منا فاحيه على الاسلام ومن توفيته منا فتوفه على الايمان))[۵]

د نابالغه ماشوم له پاره دعا:

((اللهم اجعله لنا فرطا واجعله لنا اجرا وذخرا واجعله لنا شافعا ومشفعا))[۶]

۱] وهى اربع تكبيرات يرفع يديه فى الاولى فقط ويثنى بعدها ويصلى على النبى صلى الله عليه وسلم بعد الثانية ويدعوا بعدالثالثة ويسلم بلا دعاء بعدالرابعة....تنويرالابصارمع الدر ج:۲ص:۲۱۲باب صلاة الجنازة)

۲]ولو تفكر الامام بالقلب انه يودى صلاة الجنازة يصح ولو قال المقتدى اقتديت بالامام يجوز (هندية ج:۱ ص:۱٦٤،الباب الحادى والعشرون فى الجنائز)ـ

۳] ايضاً تيره شوى حاشيه (وهى اربع تكبيرات يرفع يديه فى الاولى فقط.....الخ) اوګورئ!)ـ

٤] ثم افاد ان من لم يحسن الدعاء بالماثوريقول: اللهم اغفرلنا ولوالدينا وله وللمومنين والمومنات (شامى ج:۲ص:۲۱۲،باب صلاة الجنازة ،مطلب هل يسقط فرض الكفاية بفعل الصبى؟)ـ

۵] مشكوة المصابيح ص:۱٤٦،باب المشى بالجنازة ،ايضًا:شامى ج۲ص:۲۱۲،هندية ج:۱ص:۱٦٤)ـ

٦] ايضاً)ـ

د نا بالغې ماشومې له پاره:

((اللهم اجعلها لنا فرطا واجعلها لنا اجرا وذخرا واجعلها لنا شافعة ومشفعة)) [۱]

د جنازې په لمونځ کې دعاګانې سنت دي

سوال: ایا د جنازې په لمونځ کې دعا لوستل ضروري دي او که نه؟

جواب: د جنازې په لمونځ کې څلور تکبیرونه فرض دي او دعاګانې سنت دي،[۲] که چا ته دعاګانې یادې نه وي؛ نو یوازې تکبیرونو ویلو سره به هم فرض اداشي،خو د جنازې د لمونځ دعاګانې زده کول پکار دي، ځکه چې د دې نه پرته به مړی د شفاعت نه محروم پاتې کیږي اولمونځ به هم خلاف سنت وي.

که د ورو او لویانو یو د جنازې لمونځ وشي نو د لویانو دعا لولئ !

سوال: ...په حرمین شریفین کې د ماشومانو او لویانو د جنازې لمونځ په یو ځای کیږي په داسې صورت کې به کومه دعا اداکیږي؟

جواب: اجتماعي جنازه کې به هماغه دعا لولو چې د لویانو د جنازې په لمونځ کې لوستل کیږي،په دې کې به د ماشوم له پاره هم دعا شامله شي.[۳]

که معلومه نه وي چې جنازه د سړي ده یا د ښځې؛ نو د بالغ دعا لولئ !

سوال: د جنازې د لمونځ جمعه ولاړه ده،او یو کس وروسته راځي او په جنازه کې شاملیږي، تراوسه پورې هغه ته معلومه نه ده چې جنازه د چا کیږي؟ آیا مړی سړی دی یا ښځه او که ماشوم څوک دی؟ په داسې صورت کې هغه څه نیت وکړي او څه ووایي؟

جواب: د سړي او ښځې د جنازې دعا یوه ده،البته د ماشوم او ماشومې له پاره د دعا الفاظ جدا جدا دي، بیا هم که د ماشوم په جنازه کې د بالغ سړي یا ښځې والا دعا ولوستل شي؛ نو صحیح ده،ځکه چې که وروسته راتلونکي ته پته نه وي نو هغه دې د مطلق جنازې نیت وکړي او د بالغانو دعا دې ولولي.[۴]

۱] ایضاً۔

۲]ورکنها شیئان التکبیرات الاربع ......وسننها ثلاث، التحمید والثناء والدعاء فیها......الخ (درمختارمع الشامی ج:۲ص:۲۰۹باب صلاة الجنازة)۔

۳] ثم یکبر آخری ویدعوا للمیت وجمیع المسلمین ولیس فیها دعاء موقت وعن رسول الله صلی الله علیه وسلم انه کان یقول:اللهم اغفر لحینا.....وهذا اذاکان یحسن ذلک فان کان لایحسن یاتی بای دعاء شاء.....الخ(هندیة ج:۱ص:۱٦٤)۔

٤] ایضاً۔

د جنازې او اخترونو دلمانځه نيت اوروول

سوال: زموږ په علاقه کې د جنازې د لمونځ نه مخکې او د اخترونو د لمونځونه نه مخکې په اوچت آواز سره دنيت اورولو رواج دی،چونکې ځينې شريکان ددې لمونځونو د اداء کولو د بنيادي شرطونو او فرضونو نه هم نا اشنا وي، ددې باوجود دا شان د نيت اورول بدعت خو نه دي؟

جواب: نيت اورول يوازې يو رواج دی، ځکه چې خلک د جهالت له وجې نا خبره دي، په دې وجه کوشش کوي چې دوي ته صحيح نيت وښودل شي، که نه، نيت خو صرف دومره کافي دی چې دجنازې لمونځ اداء کوم [۱]

د جنازې په لمونځ کې د دعا شرعي حيثيت

سوال: هسې خو د جنازې د لمونځ دعا د بالغ سړي او ښځې له پاره جدا او د نابالغه هلک او جينې د پاره جدا وي، مسئله دا ده چې جنازه خو ظاهره ده چې امام به يې اداء کوي، خو په دې صورت کې عرض دادی چې مقتدي ته هم د امام نه پرته ثناء او درود ابراهيمي لوستل پکار دي اوکه يوازې لکه په فرض لمونځونوکې مقتدي ته يوازې د ثناء لوستلو حکم دی، د ځينې ملايانو حضراتو نه مې پوښتنه وکړه، خو څه تسلي والا جواب ملاو نه شو د هر يو مختلفه رايه ده، که چيرې مقتدي د ثناء او د درود نه پرته د جنازې لمونځ وکړي؛ نو د جنازې لمونځ به وشي اوکه نه؟ په هر حال ددې مسئلې متعلق تفصيل د قرآن او د سنت په رڼا کې بيان کړئ!

جواب: د جنازې تکبيرونه خو فرض دي، باقي دعاګانې سنت دي د امام د پاره هم او د مقتديانو له پاره هم. [۲]

د جنازې په لمانځه کې رکوع اوسجده نشته

سوال: دجنازې په لمونځ کې څلورتکبيرونه څنګه لوستلې کيږي؟ يعنې رکوع سجده وغيره کيږي اوکه نه؟ دويم داچې مادنهم جماعت(ټولګي) په اسلامياتو کې لوستلي ووچې دا څلور تکبيرونه د څلورو رکعتونو قائم مقام وي.

جواب: دجنازې په لمونځ کې اذان،اقامت ،رکوع اوسجده نشته،بس لومړي تکبيرويلوسره نيت وتړل شي،ثناء ويلونه وروسته دويم تکبير وويل شي، درود شريف ويلونه وروسته دريم تکبير وويل شي او بيا دمړي له پاره دعاوکړل شي اودڅلورم تکبيرنه وروسته سلام وګرځول

---

[۱] ولوتفکرالامام بالقلب انه يودی صلاة الجنازة يصح ولو قال المقتدی اقتديت بالامام يجوزکذافی المضمرات (عالمگيری ج:۱ص:۱٦٤،کتاب الصلاة ،الباب الحادی والعشرون فی الجنائز)

[۲] وصلاة الجنازة اربع تکبيرات ولو ترک واحدة منها لم تجزصلاته هکذا فی الکافی (عالمگيری ج:۱ص:۱٦٤)

شي[۱]دا څلور تکبیرونه ګویا د څلورو رکعتونو قائم مقام ګڼل کیږي.[۲]

د جنازې په لمونځ کې سوره فاتحه او نور سورتونه ویل څنګه دي؟

سوال: زه په یوه جنازه شریک شوم، کله چې مې نیت وتړلو؛ نو امام د جنازې لمونځ په زوره سره شروع کړ، چې په هغې کې یې سورتونه تلاوت کول، مثلا: سوره فاتحه، سوره اخلاص، درودشریف او داسې نور، د سلام ګرځولونه وروسته مقتدیانو دیوبل سره بحث شروع کړ، مهرباني وکړئ او د قرآن او سنت په رڼاکې د دې جواب راکړئ!

جواب: دجنازې په لمونځ کې دلومړي تکبیرنه وروسته دسوره فاتحې امام شافعي رحمه الله او امام احمد رحمه الله قائل دي، امام مالک رحمه الله او امام ابوحنیفه رحمه الله قائل نه دي، که بطور حمد او ثناء وویل شي نو څه حرج پکې نشته،[۳]دسوره اخلاص په ویلو څلوروواړو امامانوکې څوک هم قائل نه دي، همدغه راز په اوچت آوازسره دجنازې دلمانځه هم په څلوروواړو امامانوکې څوک قائل نه دي.[۴]

د جنازې د لمونځ دهر تکبیرسره سر د آسمان طرف ته اوچتول

سوال: ایا دجنازې په لمونځ کې د هر تکبیرسره سر آسمان طرف ته اوچتول پکار دي؟

جواب: نه! جي.

د جنازې په دوران کې شامیلدونکی لمونځ څنګه پوره کړي؟

سوال: دجنازې لمونځ کیږي، که څوک په دویم یا دریم تکبیرکې راورسیږي؛ نو اوس به هغه څه لولي؟ اوکوم تکبیرونه چې پاتې دي هغه به څنګه اداکوي؟ اوکه هغه ته پته نه وی چې څومره تکبیرونه شوي دي؛ نو بیا به څه لولي؟

جواب: داسې کس ته پکار دي چې دامام دراتلونکي تکبیرانتظار وکړي، چې کله بل تکبیر وشي نوهله دې په لمونځ کې شریک شي او څومره تکبیرونه چې دهغه پاتې شوي دي دامام دسلام ګرځولونه وروسته اود جنازې داوچتولونه مخکې یوازې هغومره تکبیرونه ووایي

۱]وهی اربع تکبیرات کل تکبیرة قائمة مقام رکعة یرفع یدیه فی الاولی فقط......ویثنی بعدها ویصل علی النبی صلی الله علیه وسلم کمافی التشهدبعدالثانیة ......ویدعوبعدالثالثة ......ویسلم بلادعاء الرابعة (درمختارج:۲ص:۲۱۲،۲۱۳)۔

۲] قوله وعین الشافعی الفاتحة وبه قال احمد.....مذهبناقول عمر وابنه وعلی وابی هریرة وبه قال مالک کمافی شرح المنیة (درمختارج:۲ص:۲۱۳،باب صلاة الجنازة)۔

۳]ولوقراء الفاتحة بنیة الدعاء فلاباس به ......الخ (هندیة ج:۱ص:۱۶٤،کتاب الصلاة ،باب الجنائز)۔

٤] ویخافت فی الکل الافی التکبیر کذافی التبیین ولایقرأ فیهاالقرآن ......الخ (هندیة ج:۱ص:۱٦٤،وایضا فی البدائع الصنائع ج:۱ص:۳۱۳صلاة الجنازة طبع سعید)۔

اوسلام دې وګرځوي، کله چې دامام سره شامل شي نوچې کومه دعا او ثناء ويلی شي ودې وايي دهغه لمونځ به وشي.[۱]

که دجنازې په لمونځ کې د مقتدي نه څه تکبيرونه پاتې شي نوڅه وکړي؟

سوال: څنګه چې دجمعې په لمانځه کې يورکعت پاتې شي، هغه دامام دسلام ګرځولونه وروسته پوره کووهمدغه شان که دجنازې په لمونځ کې تکبيردوه پاتې شي، نوهغه به څنګه اداکوو؟

جواب: داکس دې دامام دسلام دګرځولونه وروسته اودجنازې اوچتولونه مخکې خپل پاتې شوې تکبيرونه ووايي اوسلام دې وګرځوي.هغه ته په دې تکبيرونوکې دڅه ويلوضرورت نشته،يوازې تکبيرونه دې پوره کړي اوسلام دې وګرځوي.[۲]

د جنازې د لمونځ په پای کې لاسونه پريښودل

سوال: دجنازې په لمونځ کې دڅلورم تکبيرنه وروسته لاسونه پريښودل پکاردي ياکله چې ښي طرف ته سلام وګرځول شي؛ نوښی لاس پريږدواوکله چې چپ طرفته سلام وګرځول شي؛ نوکس(چپ) لاس پريږدو؟

جواب: د واړه طريقې صحيح دي.

د جنازې د لمونځ نه وروسته دعا غوښتل

سوال: دجنازې لمونځ کولونه وروسته فوراً دعاغوښتل جائزدي؟

جواب: جنازه په خپله دعاده،ددې نه وروسته دعاکول دسنت نه ثابت نه ده، له دې وجې داسنت ګڼل اويايې دسنتو په شان اهتمام کول صحيح نه دي.[۳]

۱] واذا جاء رجل وقدكبرالامام التكبيرة الاولى ولم يكن حاضرًا انتظره حتى يكبرالثانية ويكبرمعه فاذا فرغ الامام كبرالمسبوق التكبيرة التى فاتت قبل ان ترفع الجنازة ......وكذا ان جاء وقد كبرالامام تكبيرتين اوثلاثا ......ثم يكبرثلاثًا قبل ان ترفع الجنازة متتابعا لا دعاء فيها ......الخ (هندية ج:١ص:١٦٤،١٦٥،كتاب الصلاة ،الباب الحادى والعشرون فى الجنائز،وايضًا درمختارمع الشامى ج:٢ص:٢١٦،باب صلاة الجنازة)_

۲] ايضًا ،اوګورئ:بدائع الصنائع ج:١ص:٣١٤)_

۳] عن عائشة رضى الله عنهاقالت:قال رسول الله صلى الله عليه وسلم :من احدث فى امرناهذا ماليس منه فهو رد (صحيح البخارى ج:١ص:٣٧١،كتاب الصلح)،وفى المرقاة :من احدث اى جدد وابتدع واظهر واخترع فى امرنا هذا اى فى دين الاسلام ......فهو رد اى مردود عليه ......قال القاضى :المعنى من احدث فى الاسلام رايالم يكن له من الكتاب اوا لسنة سند ظاهر اوخفى ،ملفوظ اومستنبط فهو مردود عليه ،قيل فى وصف الامربهذا اشارة الى امرالاسلام كمل وانتهى ،وشاع وظهر ظهور المحسوس بحيث لايخفى على كل ذى بصر وبصيرة فمن حاول الزيادة فقدحاول امراغيرمرضى لانه من قصور...[بقيه حاشيه په راروانه صفحه....

د جنازې د لمونځ نه وروسته په قبر لاس اوچتول او دعا کول

سوال: دجنازې دلمونځ نه وروسته لاس اوچتول اودعاکول،دقبرپه وړاندې لاس اوچتول او دعا کول، دقبرسر اوپښنوطرف ته ددعا لوستلو په وخت کې دشهادت ګوته اوچته ساتل ضروري دي اوکه نه؟ ايا ددې فضيلت دحديث نه ثابت دی؟

جواب: دجنازې نه وروسته لاس اوچتولوسره دعاکول بدعت دي[1]په قبر باندې دعا جائزده[2] دقبر سرطرف ته دسوره بقرې ابتدايي آيتونه او دپښنوطرف ته دسوره بقرې آخرې آيتونه لوستل هم جائز دي[3]په قبرباندې ګوته کېښودل ثابت نه دي.

که د مړي دجنازې لمونځ ونه شي نوڅه وکړي؟

سوال: (۱۹۴۷)کې دانډيا نه پاکستان ته هجرت کولوپه وخت کې په لاره کې دوزيرابادپه مقام باندې زماموروفات شوه،هغه وخت کې حالات داسې وو چې لوږوتندو وهلي ووا وبې کوره وو،ددې نه علاوه خطره هم وه،په مونږ کې ددين ناواقفي هم وه،ددې اسبابو له وجې نه مونږ له جنازې پرته يوازې څلوروکسانو مې والده محترمه دفن کړه،اوس هرکله چې الله تعالی دعلم دين نه واقفيت راکړ؛ نو سوچ کوم چې مورې دجنازې لمونځ ونکړ،ددې دحل له پاره اوس مونږ ته څه کول پکاردي؟

جواب: دمړي دجنازې لمونځ فرض کفايه دی،ددې فرض نه اداکولوپه وجه ټول خلک ګناهګارشواوس ددعااواستغفارنه پرته ددې هيڅ تدارک نه شي کيدای.[4]

يادونه:....که چاته دجنازې دعاګانې يادې نه وي نواودس دې وکړي، جنازې ته دې مخامخ د

...بقيه د تيرمخ]..فهمه رآه ناقصًا (مرقاة المفاتيح ،كتاب الايمان ،باب الاعتصام بالكتاب والسنة ،الفصل الاول ج:١ص:١٧٧،١٧٨)٠وليس فى ظاهر المذهب بعد التكبيرة الرابعة دعاء سوى السلام...... الخ (البدائع الصنائع ج:١ص:٣١٣طبع ايچ ايم سعيد)_

١]ايضًا)_

٢]عن عثمان بن غفان رضى الله عنه قال:كان النبى صلى الله عليه وسلم اذا فرغ من دفن الميت وقف عليه فقال: استغفروا لاخيكم واسالوا له بالتثبيت، فانه الآن يسئل (سنن ابى داود ج:٢ص:١٠٣،كتاب الجنائز،وهكذا فى الدر المختار ج:٢ص:٢٣٧باب صلاة الجنازة)٠والدعاء عنده قائمًا كذافى البحر (هندية ج:١ص:١٦٦،كتاب الصلاة ،باب الجنائز)

٣]وعن عبدالله بن عمر قال:سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول :اذامات احدكم فلا تحبسوه واسرعوا به الى قبره ،وليقرا عندراسه فاتحة البقرة وعند رجليه بخاتمة البقرة ٠رواه البيهقى فى شعب الايمان (مشكوة ج:١ص:١٤٩باب البكاء على الميت ،طبع قديمى)_

٤] الصلاة على الجنازة فرض كفاية اذاقام به البعض ......سقط عن الباقين واذا ترك الكل اثموا هكذا فى التتارخانية (هندية ج:١ص:١٦٢كتاب الصلاة ،الباب الحادى والعشرون فى الجنائز)_

جنازې د لمانځه نیت وتړي، تکبیرونه دې ووایي او سلام دې وګرځوي؛ نو هم فرض به اداشي.[1]

د جنازې د کټ سپکیدل د نیکۍ نښه نه ده

سوال: اوریدلي مو دي چې انسان مړشي، که د هغه جنازه سپکه (بې وزنه) وي؛ نو هغه به نیکو کار وي او د چا جنازه چې درنه وي، هغه به ګناهګار وي، آیا دا صحیح ده؟

جواب: دا خیال غلط دی.

د جنازې سره ټولګۍ جوړول او په لوړ آواز کلمه طیبه یا کلمه شهادت ویل بدعت دي

سوال: ځینې خلک د جنازې سره ټولګي ټولګي جوړ کړي او په اوچت آواز کلمه طیبه وایي او ځینې ددې مخالفت کوي، تاسو راته دا او وایئ چې کوم یو صحیح دی؟ زه به دزړه له کومې ستاسو شکر ګزار یمه.

جواب: فتاوی عالمګیري کې دي:

,,وعلی متبعی الجنازة الصمت ویکره لهم رفع الصوت بالذکر وقراءة القرآن کذا فی شرح الطحاوی فان اراد ان یذکر الله یذکر فی نفسه کذا فی فتاوی قاضی خان.،،(ج:۱ص:۱۶۲)

ترجمه: د جنازې سره په تلونکو باندې خاموش پاتې کیدل لازم دي او په اوچت آواز سره ذکر کول او د قرآن مجید تلاوت کول مکروه دي (شرح طحاوي) او که څوک د الله تعالی ذکر کول غواړي؛ نو په زړهٔ کې دې کوي.

ددې روایت نه معلومه شوه چې تا د ټولګي جوړولو سره د کلمې طیبې د لوستلو د کوم رواج ذکر کړی دی، هغه مکروه او بدعت دی او کوم کسان چې مخالفت کوي هغوی صحیح کوي، البته کلمه طیبه په په کم آواز سره ویل پکار دي.

د مړي سره د تللو په وخت په اوچت آواز سره د شهادت کلمه ویل

سوال: د مړي سره د تللو په وخت یو صاحب بیا بیا په اوچت آواز سره د شهادت کلمه وایي، آیا دا کار د حضور اقدس (صلي الله علیه وسلم) او د صحابه کرامو (رضي الله عنهم) نه ثابت دی؟

جواب: د نبي کریم (صلي الله علیه وسلم) او خلفاء راشدینو (رضي الله عنهم) په زمانه کې ددې رواج نه و، حضراتو فقهاوو د جنازې سره د تللو په وخت په اوچت آواز سره د ذکر کولو ته

---

[1] ثم یکبر آخری ویدعوا للمیت وجمیع المسلمین ولیس فیها دعاء موقت وعن رسول الله صلی الله علیه وسلم انه کان یقول:اللهم اغفر لحینا......وهذا اذاکان یحسن ذلک فان کان لایحسن یاتی بای دعاء شاء......الخ(هندیة ج:۱ص:۱٦٤)۔

بدعت ویلي دي.[۱]

ډیر ځله د جنازې لمونځ کولو جواز

سوال: تاسو او علمائي کرام او مفتیان دشرع متین په دې باره کې څه فرمایئ چې دمړی دجنازې لمونځ یوځل کول پکاردی یازیات ځله؟ ځکه چې دبعضو خلقوویناده چې یوځل پکارده.هرکله چې دعلماء کرامو جنازې درې ځله شوی دی؟

جواب: که دمړی ولی جنازه کړې وی نودجنازې لمونځ په دویم نه شی کیدې اوکه هغه نه وی کړې نوهغه دویم باره کولی شی.اوپه هغه دویم جماعت کې نورکسان هم چاچې دجنازې لمونځ کړې نه ووشریکیدې شی.[۲]

له یو وار څخه زیات د جنازې لمونځ اداء کول

سوال: په یوه علاقه کې دا رواج جوړ شوی دی چې د یو مړي د جنازې لمونځ دوه درې ځله اداءکیږي او د خاص لوي سړي د جنازې په لمونځ کې یو څو کسان پاتې کیږي نو چا چې د جنازې لمونځ نه دی اداء کړې هغوی یې دوباره اداء کوي، آیا دا طریقه صحیح ده اوکه نه؟

جواب: د حضرت امام ابو حنیفه رحمه الله په نزد د جنازې په لمونځ کې تکرار جائزنه دی، چې د مړي د جنازې لمونځ یو ځل اداء شي؛ نو دوباره نه اداء کیږي، خو که چیرې د مړي وارثانو لمونځ نه وي کړې او اجنبي خلکو د جنازې لمونځ اداء کړی وي: نو وارثان دوباره د جنازې لمونځ اداء کولی شي.[۳]

د غائبانه جنازې شرعي حیثیت

سوال: دغائبانه جنازې په اسلام کې څه حیثیت دی؟ آیا حضور پاک صلي الله علیه وسلم ددې تاکید فرمایلی دی؟

جواب: غائبانه جنازه د امام شافعي (رحمه الله) اود امام احمد (رحمه الله) په نزد جائز ده، او د

---

[۱] ویکره رفع الصوت فیها بالذکر وقراء ة القرآن ذکر فی فتاوی العصرانها کراهة تحریم ......الخ (حلبی کبیر ج:۱ص:۵۹٤)،وعلی متبعی الجنازة الصمت ویکره لهم رفع الصوت بالذکر وقراءة القرآن کذافی شرح الطحاوی فان ارادان یذکر الله یذکره فی نفسه کذافی فتاوی قاضیخان (عالمگیری ج:۱ص:۱٦۲،طبع رشیدیة کوئته)

۲] وان صلی علیه الولی لم یجز لاحد ان یصلی بعد........فان صلی غیر الولی او السلطان اعاد الولی ان شاء کذا فی الهدایة (هندیة ج۱ ص۱۶۴، وایضاً فی الشامیة ج۲ ص۲۲۲، طبع سعید کراچی)۔

[۳] ولایصلی علی میت الا مرة واحدة والتنفل بصلاة الجنازة غیر مشروع کذافی الایضاح......فان صلی غیر الولی او السلطان اعاد الولی ان شاء کذافی الهدایة (عالمگیری ج:۱ص:۱٦٤،۱٦۳طبع رشیدیة کوئته)

امام ابو حنیفه رحمه الله او د امام مالک رحمه الله په نزد جائزه نه ده.[1]

دغائبانه جنازې لمونځ

سوال: څوورځې مخکې،بلکې تراوسه پورې دګڼ شمیرخلکو غائبانه دجنازې لمونځ ادا کیږي، او تردې پورې چې په مدینه منوره اومکه مکرمه کې هم دملک دیوې لویې هستۍ دجنازې لمونځ غائبانه ادا کړل شو،تاسونه دپوښتنې مقصدمې دادی چې په حنفي مسلک کې ایا دغائبانه جنازې لمونځ صحیح دی؟ اوکه نه دی؛ نوپه کوم مسلک کې صحیح دی؟ اودمدینې منورې اومکې مکرمې امام صاحب دکوم مسلک سره تعلق ساتي؟ ځکه چې زمونږ دعلاقې دمسجدامام چې یوسندیافته او جیدعالم دی اودخپلومسایلوتصحیح مونږهم دهغه په ښودلې شوې طریقې سره کوو،هغوی د احادیثو د کتابونو نه دلائل ورکړل او ویې فرمایل چې غائبانه نمازجنازه داحنافوپه نزدباندې صحیح نه ده.

جواب: غائبانه نمازجنازه دامام ابوحینفه رحمه الله اوامام مالک رحمه الله په نزد باندې جائزنه ده، البته امام شافعي رحمه الله اوامام احمدبن حنبل رحمه الله په نزدجائزده، دحرمینوشریفینوامامان دامام احمد مقلدین دي، له دې وجې نه دخپل مسلک مطابق دهغوی غائبانه نمازجنازه صحیح ده [2]

غائبانه جنازه د امام ابوحنیفه رحمه الله او امام مالک رحمه الله په نزد جائز نه ده

سوال: آیا د یوکس غائبانه جنازه کیدای شي؟ځکه چې په ,,پندره روزه تعمیر حیات،، (لکهنو) کې دمولاناطارق ندوي رحمه الله نه سوال وشو،هغوی جواب ورکړچې:داحنافوپه نزد جائزنه ده، ددې برعکس,,معارف الحدیث،،جلدهفتم کې مولانامحمد منظورنعماني رحمه الله لیکي چې: کله دحبشې بادشاه (نجاشي) وفات شو، حضور صلی الله علیه وسلم ته دوحې په ذریعه ددې اطلاع وشوله، حضور صلی الله علیه وسلم صحابه کرامو (رضوان الله عنهم اجمعین)ته ددې اطلاع ورکړه،اوپه مدینه منوره کې دهغه غائبانه نمازجنازه وکړه،ددواړومسایلووضاحت وکړئ!

جواب: دامام مالک اوامام ابوحنیفه رحمه الله په نزدباندې غائبانه جنازه جائزنه ده،څنګه چې مولانا طارق ندوي رحمه الله لیکلي دي، دنجاشي غائبانه جنازه حضور صلی الله علیه وسلم کړې وه،دادنجاشي خصوصیت ګڼل کیږي،ګني دغائبانه جنازې عام معمول نشته،امام شافعي رحمه الله د نجاشي د قیصې له وجې ددې دجوازقائل دی،دامام احمد رحمه الله په مذهب کې دوه روایتونه دي،یو د جواز،اودویم دمنع.[3]

---

[1] رای الحنفیة والمالکیة :عدم جواز الصلاة علی الغائب ورای الشافعیة والحنابلة :جواز الصلاة علی المیت الغائب عن البلد (الفقة الاسلامی وادلته ج:۲ص:۵۰٤طبع دارالفکر بیروت)

[2] وعلی هذا قال اصحابنا لایصلی علی میت غائب وقال الشافعی یصلی علیه ......الخ (البدائع الصنائع ج:۱ص:۳۱۲،کتاب الصلاة ،صلاة الجنازة ،طبع سعید ،وایضاً فی الدرالمختارمع الشامی ج:۲ص:۲۰۹)_

[3] وان صلی علیه الولی لم یجز لاحد ان یصلی بعد.....فان صلی غیر الولی...[بقیه حاشیه په راروانه صفحه

د جنازې په لمونځ کې د ښځو شرکت

سوال: ایاښځه دجنازې په لمانځه کې شرکت کولی شي؟ یعنې د جماعت نه شاته ښځې دریدای شي؟

جواب: جنازه سړیو ته کول پکار دي ښځوته نه[۱]، البته که هغوی دجماعت شاته ودریږي نو لمونځ به دهغوی هم وشي.[۲]

دحضرت حذیفه بن یمان رضی الله عنه او حضرت جابر بن عبد الله رضی الله عنه دمړي واقعه

سوال: آوریدلي مې دي چې په عراق کې ددې پېړۍ(صدۍ) په دویمه او دریمه برخه کې دوه اصحاب رسول حضرت حذیفه بن یمان رضي الله عنه او حضرت جابر بن عبد الله رضي الله عنه لاشونه راویستل شوي وو او د دوی د جنازې لمونځ دوباره اداء کړل شو او د دوی لاشونه یې د دوي د لومړنیو مزاراتو نه منتقل کړل او د حضرت سلمان فارسي رضي الله عنه مزار سره نژدې یې دفن کړل، آیا دا صحیح دي؟

جواب: دا واقعه زموږه د هوش نه مخکې ده آوریدلي مو دي چې په دغه وخت ډیر خلک مسلمانان شوي هم وو.

د مړي وړلو کټ غیر مسلم ته ورکول

سوال: څه وایي علماء دین ددې مسئلې په باره کې چې د جنازې وړلو یو کټ دی، چې د ضرورت په وخت یې محلې والا استعمالوي، سوال دادی چې زمونږه په علاقه کې غیر مسلم هم دي؛ نو آیا د مسلمانانو د دې جنازې د اوچتولو د پاره کټ د غیر مسلم د استعمال د پاره ورکول جائز دي اوکه نه؟ یو ځل په غلطۍ سره امام صاحب د لاعلمې په وجه د غیر مسلمو د استعمال د پاره کټ ورکړی و، په دې سره څه فرق خو نه غورځیږي؟

...بقیه د تیر مخ].. او السلطان اعاد الولی ان شاء کذا فی الهدایة (هندیة ج۱ ص۱۶۴، وایضاً فی الشامیة ج۲ ص۲۲۲، طبع سعید کراچی) وایضًا فلا تصح علی غائب ......وصلوة النبی صلی الله علیه وسلم علی النجاشی لغویة اوخصوصیة ......الخ (درمختارمع الشامی ،باب صلاة الجنائزج:۲ص:۱۹۲) وعلی هذا قال اصحابنا لایصلی علی میت غائب.....الخ (البدائع الصنائع ج:۱ص:۳۱۲،کتاب الصلاة ،صلاة الجنازة ،طبع سعید ،وایضافی الدرالمختارمع الشامی ج:۲ص:۲۰۹)۔

۱]ولاحق للنساء فی الصلاة علی المیت (هندیة ج:۱ص:۱۶۳طبع رشیدیة کوئته)۔

۲] الصلاة علی الجنازة فرض کفایة اذاقام به البعض واحدًا کان اوجماعة ذکرًا کان او انثی سقط عن الباقین (عالمگیری ج:۱ص:۱۶۳،کتاب الصلاة ،الباب الحادی والعشرون فی الجنائز)۔

جواب: د مسجد د نوروشیانو په شان د مړي دا کټ هم د مسجد له پاره وقف دی او د دې مصرف صرف او صرف د مسلمانانو مړي دي، لکه څنګه چې مسجد د مسلمانانو له پاره دی همدغه شان د متعلقه شیانو مصرف هم مسلمانان دي، د دینه علاوه د وقف کولو والانیت هم دا وي چې دا به مسلمانان استعمالوي، په دې وجه دغیر مسلمو د استعمال له پاره د جنازې کټ ورکول جائز نه دي، د لاعلمي په وجه چې کوم څه شوې دي په دې باندې هیڅ مؤاخذه نشته ، البته آینده به دې باندې په سختې سره عمل کیږي او د یو غیر مسلم مړي له پاره دې کټ ور نه کړل شي.[۱]

د جنازې د لمونځ په آخري صف کې زیات ثواب

سوال: آیا د جنازې د لمونځ په آخري صف کې د لمونځ د اداء کولو ثواب زیات وي ؟

جواب: هو ! د عام لمونځونو نه پرته د جنازې د لمونځ آخري صف افضل وي[۲]

آیا د جنازې د لمونځ په صفونو کې طاق تعداد ضروري دی ؟

سوال: د جنازې په لمونځ کې څومره صفونه پکار وي؟ که صفونه د طاق کیدو په ځای جفت شي؛ نو څه فرق خوبه نه وي؟

جواب: د جنازې صفونه درې، پنځه، اووه یعنې طاق پکار دي.[۳]

د جنازې لمونځ او مکروه وخت

سوال: لکه د دولسو بجو په وخت کې یا په نورو مکروه وختونو کې سجده کول جائز نه دي نو دغه وخت کې د جنازې لمونځ اداء کول هم پکار نه دي؛ ځکه چې د جنازې په لمونځ کې خو سجده نشته ، دا مسئله په یو څو ورځو کې راپیښه شوې ده چې کله زمونږه یو کلیوال دلته وفات شوی و ، دا مسئله مې په دغه وخت کې واوریدله، چا ویل چې جنازه زر اداء کړئ بیا وروسته د جنازې لمونځ نه اداء کیږي.

جواب: د لمر د ختلو په وخت، د ماسپښین په وخت او د نمر د پریوتلو په وخت، په دې دریو وختونو کې که هغه اداء لمونځ وي یا قضاء جائز نه دی، د جنازې لمونځ هم چونکې حکماً لمونځ دی ، په دې وجه هغه هم جائز نه دی،هو البته که چیرې جنازه د دې دریو

---

[۱] شرط الواقف كنص الشارع فى المفهوم والدلالة ووجوب العمل (الدرالمختار مع الرد ،كتاب الوقف ج:٤ص:٤٣٣،٤٣٤طبع ايچ ايم سعيدكراچى) (٤) وفى القنية :افضل صفوف الرجال فى الجنازة آخرها وفى غيرها اولها (حلبى كبير ج:١ص:٥٨٨)

[۲] وفى القنية: افضل صفوف الرجال فى الجنازة آخرها وفى غيرها اوّلها. (حلبى كبير ج:١، ص٥٨٨)

[۳] ويستحب ان يصفوا ثلاثة صفوف حتى لوكانوا سبعة يتقدم احدهم للامامة ويقف وراء ثلاثة وراهم اثنان ثم واحدذكره فى المحيط (حلبى كبير ج:١ص:٥٨٨فصل فى الجنائز،طبع سهيل اكيدمى لاهور)

وختونو نه په يو وخت کې تياره شوې وي؛ نو بغير د کراهت نه جائز بلکې افضله ده او ورستو والي يې مکروه دی.[1]

د جنازې لمونځ اداء کونکو ته پيسېورکول

سوال: کوم سړی چې د جنازې لمونځ اداء کړي آيا ده ته څه شی ورکول جائز دي که نه؟

زمونږه تر لسو ورځو پورې د ورکولو رواج دی.

جواب: د جنازې د لمونځ اجرت اخيستل او ورکول جائز نه دي[2]

په مزار باندې احتراماً سجده کول

سوال: جناب که د يو مسلمان په زړه کې يقين کامل وي چې الله يو دی او دده سره څوک شريک نشته هغه واحد دی،وحده لاشريک دی،د يو مسلمان په مزار باندې احتراماً سجده کوي، آيا دا سجده جائز ده او که نه؟

جواب: زمونږه په شريعت کې غير الله ته سجده کول جائز نه دي،آيا د نبي کريم (صلى الله عليه وسلم) نه مقدس څوک کيدای شي؟ خو نبي کريم صلي الله عليه وسلم د صحابه کرامو رضي الله عنهم د اصرار باوجود خپل ځان ته يا خپل قبر ته د سجدې کولو اجازت نه دی ورکړی، کوم مسلمان چې په الله او د هغه په رسول باندې ايمان ساتي ده لره دا معلومول پکار دي چې الله او د هغه رسول غير الله ته سجده کول حرام کړي دي.[3]

قبرستان ته تلل څنګه دي حالانکې ايصال ثواب د کور نه هم کيږي

سوال: قبرستان ته تلل څنګه دي؟ حالانکه په کور کې په ناسته هم ايصال ثواب کيږي؟

جواب: د قبرونو د حالت نه عبرت حاصلول، دوي ته سلام کول،د دوی له پاره د عاء او استغفار غوښتل او دوي ته د تلاوت وغيره په ذريعې سره نفع رسولو په غرض سره د قبرستان د زيارت

---

[1] ثلاث ساعات لاتجوزفيها المكتوبة ولا صلاة الجنازة ولاسجدة التلاوة :اذا طلعت الشمس حتى ترتفع وعند الانتصاف الى ان تزول ،وعند احمرارها الى ان تغيب ......وهذا اذا وجب صلاة الجنازة وسجدة التلاوة فى وقت مباح واخرتا الى هذا الوقت ......اما لو وجبتا فى هذا الوقت واديتافيه جاز......وفى صلاة الجنازة التاخيرمكروه (عالمگيرى ج:١ص:٥٢كتاب الصلاة)

[2] الاصل ان كل طاعة يختص بها المسلم لايجوزالاستنجاء عندنا...... ولان القربة متى حصلت وقعت على العامل ،ولهذا تتعين اهليته فلايجوزله اخذ الاجرة من غيره كما فى الصوم والصلاة هداية (شامى ج:٦ص:٥٥)

[3] عن جندب رضى الله عنه قال:سمعت عن النبى صلى الله عليه وسلم يقول :الا وان من كان قبلكم كانوا يتخذون قبور انبياء هم وصالحيهم مساجد،الا فلا تتخذوا القبور مساجدانى انها كم عن ذلك ،رواه مسلم (مشكوة ص:٦٩)عن عائشة ان رسول الله صلى الله عليه وسلم قال فى مرضه الذى لم يقيم منه :لعن الله اليهود والنصارى !اتخذوا قبور انبيائهم مساجد ،متفق عليه (مشكوة ص:٦٩باب المساجدومواضع الصلاة)

حکم دی او مستحب دی، لیکن شرط دادی چې هلته تللی شي، چې هیڅ کار د شریعت خلاف و نه کړي.[۱]

د بزرګ په مزار باندې مراقبه کول

سوال: د یو بزرګ په مزار ته تلل او د مراقبې کولو شرعي حیثیت څه دی؟

جواب: د شریعت مطابق که چیرې په مزار باندې حاضري وکړي او دعا وکړي نو جائز دي[۲]

د قبر سر ته دریدل او د څه لوستلو شرعي حیثیت

سوال: ځینې حضرات د مړي د دفن کولو نه پس د قبر سر طرف ته په قبر باندې ګوته ایږدي او څه وایي ددې عمل څه حیثیت دی؟

جواب: حضرت عبد الله بن عمر رضي الله عنه روایت کې دي چې د قبر سر ته د سورة بقرې ابتدایي آیاتونه او پښو طرف ته د سورة بقرې آخري آیاتونه لوستل کیږي.[۳]

د قبرستان سره نژدې په اوچت آواز ګانې غږول

سوال: د قبرستان او مړو د احترام په باره کې څه حکم دی؟ ځینې خلک چې د هغوي کور بلکل د قبرستان سره ملحق وي په اوچت آواز سره ګانې (سندرې) غږوي، ددې څه حکم دی؟

جواب: د قبرستان احترام کول پکار دي او کوم خلک چې د قبرستان سره نژدې د ګانو د

---

[۱] قوله وبزيارة القبور اى لاباس بها بل تندب كما فى البحر عن المجتبى.....وتزارفى كل اسبوع كما فى مختارات النوازل ،قال فى شرح لباب المناسک الا ان الافضل يوم الجمعة والسبت والاثنين والخميس، فقد قال محمدبن واسع الموتى يعلمون بزوارهم يوم الجمعة ويوما قبله ويومابعده فتحصل ان يوم الجمعة افضل ....قلت استفيدمنه ندب الزيارة القبور وان بعد محلها......الخ (شامى ج:۲ص:۲۴۲،مطلب فى زيارة القبور)

[۲] قوله وبزيارة القبوراى لاباس بهابل تندب كما فى البحرعن المجتبى ...... وهل تندب الرحلة لها كمااعتيدمن الرحلة الى زيارة خليل الرحمن واهله واولاده وزيارة السيدالبدوى وغيره من الاكابرالكرام؟ لم ارمن صرح به من ائمتنا ......واما الاولياء فانهم متفاوتون فى القرب من الله تعالى ،ونفع الزائرين بحسب معارفهم واسرارهم ،قال ابن حجر فى فتاويه :ولاتترک لمايحصل عندها من منكرات ومفاسدكاختلاط الرجال بالنساء وغيرذلک لان القربات لاتترک لمثل ذلک بل على الانسان فعلها وانكارالبدع بل وازالتها ان امكن (شامى ج:۲ص:۲۴۲مطلب فى زيارة القبور)

[۳] وكان ابن عمريستحب ان يقرأ على القبربعد الدفن اول سورة البقرة وخاتمتها (ردالمحتارمطلب فى دفن الميت ج:۲ص:۲۳۷) ،فقدثبت انه عليه الصلاة والسلام قرأ اول سورة البقرة عند راس ميت وآخرها عند رجليه (شامى ج:۲ص:۲۴۲،طبع ايچ ايم سعيد)

غږولو کار کوي په دوي باندې ډیر لوی وبال دی.[۱]

په قبر باندې اوبه شیندل او شنه لښته خښول

سوال: کله چې مونږ مشران قبر ته لاړ شو نو آیا اوبه پرې شیندلی شو؟ او شنه لښته چې د قبرستان نه بهر ملاویږي اخیستلی او په قبر لګولی شو؟ لکه څنګه چې حضور اکرم (صلی الله علیه وسلم) په یو قبر باندې لګولې وه؟

جواب: جائز دي خود حضور (صلی الله علیه وسلم) شنه لښته کیښودل د ډیرو اهل علمو په نزد د نبي اکرم صلی الله علیه وسلم خصوصیت و، بیا هم د سنتو د اتباع مطابق که چیرې څوک لښته خښه کړي نو هیڅ باك نشته.[۲]

د قبر په شناخته قرآني آیاتونه لیکل

سوال: هفته (۲۲) جمادي الثاني (۱۴۱۰ھ) په مطابق د (۲۰) جنوري (۱۹۹۹ء) په قبرستان کې الله تعالي یوه عجیبه واقعه وښودله چې هغه مې اوکتله نو زړه مې وریږیده او د الله تعالي ویره مې په زړه کې راغله، او هغه داسې چې په یو قبر باندې آیت کرسي لیکل شوې وه، یو سپی راغی او په دې تخته باندې یې بول وکړل. چې داسې مې اولیدل نو ډیر افسوس مې راغی او په زړه کې مې راغلل چې تاسو ته دخط په ذریعه ولیکم او د جنګ په اخبار کې ددې جواب راشي چې ټولو مسلمانانو ته معلومه شي چې آیا داسې تختې وغیره لګول درست دي او که نه؟

جواب: د قبرستان په تختو باندې قرآني آیاتونه لیکل جائز نه دي دا د قرآن کریم بې حرمتي ده.[۳]

---

[۱] استماع صوت الملاهی کضرب قصب ونحوه حرام لقوله علیه السلام استماع الملاهی معصیة والجلوس علیها فسق والتلذذبها کفر (ردالمحتار، کتاب الحظروالاباحة ج:۲ص:۳۴۹طبع سعید)

[۲] ان التخفیف ......ببرکة یده الشریفة صلی الله علیه وسلم او دعائه لهما ولایقاس علیه غیره ......ویوخذ من ذلک ومن الحدیث ندب وضع ذلک للاتباع (حاشیة ردالمحتار، مطلب فی وضع الجرید ج:۲ص.۲۴۵)

[۳] ویکره ان یبنی علی القبراویقعد......اویعلم بعلامة من کتابة ونحوه (عالمگیری ج:۱ص:۱۶۶)، فاما الکتابة بغیر عذر فلا اه ،حتی انه یکره کتابة شیءعلیه من القرآن اوالشعر اواطراء مدح له ونحوذلک ......الخ (ردالمحتارعلی الدرالمختارج:۲ص:۲۳۸طبع سعید)

❖ د قبرونو زيارت ❖

په قبرستان باندې د څومره لرې نه سلام اچول کيږي؟

سوال: قبرستان ته تلو سره، يا ورسره نژدې تيريدو کې ,,السلام عليکم يااهل القبور،، ويل پکار دي، پوښتنه داده چې په بس، ټرين، ياڅه بل څه سورلۍ په دوران کې که قبرستان يامزار په نظر راشي نو ,,السلام عليکم يااهل القبور،، يا ,,السلام عليکم ياصاحب مزار،، ويل پکاردي اوکه نه؟

جواب: که خواکې ورسره تيريږئ؛نو ,,السلام عليکم يااهل القبور،، ويل پکاردي.[۱]

قبرستان ته په کومه ورځ او کوم وخت کې تلل پکاردي؟

سوال: قبرستان ته د تګ له پاره د تلولو نه بهترين وخت او ورځ کومه ده؟

جواب: قطعي طورسره د څه خاص وخت او ورځې تعليم نه دی ورکړل شوی.تاسوچې کله وغواړئ نو تلی شئ،هلته د تلو اصلي مقصد عبرت حاصلول او د مرګ او آخرت يادول دي،خو په ځينو رواياتو کې شب برات کې د حضورﷺ د مدينې قبرستان(بقيع)ته تشريف وړل او هغوی له پاره د مغفرت دعا غوښتل راغلي دي، ځينو حضراتو په دې رواياتو باندې کلام کړی دی او دې ته يې ضعيف ويلي دي[۲] په يو مرسل روايت کې دي چې چا د خپل مور او پلار يا په هغوی کې د يو کس د قبر د جمعې په شپه زيارت وکړ،د هغه ښښنه به وشي او هغه به د خپل مور او پلار سره د حسن سلوک والا وليکل شي.(مشکوٰة ازشعب الايمان بيهقی)[۳]

فی الجمله له دې رواياتونه په مبارکه ورځ قبرستان ته د تلو اهتمام معلوميږي،علامه شاميؒ ليکي: هره هفته دې د قبرونو زيارت وکړل شي څنګه چې په ,,مختارالنوازل،، کې

۱] عن ابن عباس رضی الله عنهما قال:مرالنبی صلی الله علیه وسلم بقبور بالمدینة فاقبل علیهم بوجهه فقال:السلام علیکم يااهل القبور......الحديث (مشکوة باب زيارة القبورص:۱۵٤)_

۲]عن عائشة رضی الله عنها قالت:فقدت رسول الله صلی الله علیه وسلم ليلة فاذاهو بالبقيع فقال:اکنت تخافين ان يحيف الله عليک ورسوله ؟قلت:يارسول الله!انی ظننت انک اتيت بعض نسائک ،فقال:ان الله تعالی ينزل ليلة النصف من شعبان الی السماء الدنيافيغفر لاکثرمن عدد شعرغنم کلب ،رواه الترمذی وابن ماجه وزاد رزين :ممن استحق النار ،وقال الترمذی :سمعت محمداً يعنی البخاری يضعف هذا الحديث (مشکوة ص:۱۱۵باب قيام شهررمضان) ،دزيات تفصيل دپاره اوګورئ: اصلاحی مواعظ ج:۲ص:۲۱۷ از حضرت مولانا محمد يوسف لدهيانوی)_

۳] عن محمد بن النعمان يرفع الحديث الی النبی صلی الله علیه وسلم قال:من زارقبر ابويه اواحدهما فی کل جمعة غفرله وکتب برا (رواه البيهقی فی شعب الايمان مرسلاً (مشکوة ص:۱۵٤باب زيارة القبور)_

دي اوپه ,,شرح لباب المناسک،، کې ليکل شوي دي چې د جُمعې، هفتې، او پير (دوشنبې) او جمعرات (پانشنبې) ورځ افضله ده او محمد بن واسع رحمه الله فرمايي چې دجمعې په ورځ، يوه ورځ مخکې، اويوه ورځ وروسته مړي خپل زايرين پېژني، ددې نه معلومه شوه چې دجمعې ورځ افضله ده،، [۱](ردالمحتار ج:۲ ص:۲۴۲)

پاخهٔ مزارونه ولې جوړيږي؟

سوال: په حديث شريف کې دي چې بهترين قبرهغه يې چې نشان يې نه وي اوکچه (خام) وي، بياپه ټول پاکستان اوهندوستان کې دومره مزارونه ولې دي؟کوم چې خلک دعبادت ترحده پورې ښکلوي اوسوالونه پرې کوي؟

جواب: د بزرګانو قبرونه يا خو عقيدتمندو يا بادشاهانو پاخه کړي دي،يا دکاندارانو منجورانو، او ددې خلکو کارخه شرعي دليل نه دی.

مزارونوته تګ جائزدی، خوهلته دې شرک او بدعت نه کوي

سوال: آيا مزارونو ته تګ جائزدی؟ کوم خلک چې ځي؛ نوشرک خونه کوي؟

جواب: دقبرونوزيارت له پاره تګ مستحب دی[۲] ددې له وجې داولياو مزارونوته تګ شرک نه دې ؛خوهلته تګ نه وروسته شرک اوبدعت کول سخته ګناه ده.[۳]

د بزرګانوپه مزارونوباندې نذرمنل حرام دي

سوال: ډيرځايونوکې دبزرګانومزارونه جوړيږي.(اونن سباخو ځينې نقلي هم جوړيږي)اوپه هغو باندې هرکال عرس هم کيږي، غلافونه پرې خوريږي هلته سوالونه کيږي، داترکومه حده پورې صيحح دي.؟

جواب: داټولې خبرې بالکل حرام اوناجائزه دي،ددې ضروري تفصيل دې زماپه رساله ,,اختلاف امت اورصراط مستقيم،،کې وکتل شي.[۴]

۱]وتزارفی کل اسبوع کمافی مختارات النوازل قال فی شرح لباب المناسک الا ان الافضل يوم الجمعة والسبت والاثنين والخميس فقد قال محمد بن واسع :الموتی يعلمون بزوارهم يوم الجمعة ويومًا قبله ويومًا بعده فتحصل ان يوم الجمعة افضل اه (ردالمحتار ج:۲ص:۲۴۲)_

۲]قوله بزيارة القبور ای لاباس بها بل تندب کما فی البحر عن المجتبی (ردالمحتارعلی الدرالمختار ج:۲ ص:۲۴۲) مطلب فی زيارة القبور،طبع سعيد) ٠دزيات تفصيل دپاره اوګورئ دص:۳۹۹حاشيه نمبر۳،۲)

۳] ان الشرک لظلم عظيم ٠الآية ٠وايضًا ويکره عند القبرمالم يعهد من السنة والمعهود منها ليس الا زيارته ......الخ (هندية ج:۱ص:۱۶۶)_

۴] دتفصيل دپاره اوګورئ ``اختلاف امت اوصراط مستقيم،، صفحه ۶۳نه تر۷۸پورې طبع مکتبة لدهيانوی)_

په مزارونو باندې پیسې ورکول کله جائز دي او کله حرام؟

سوال: زه چې په کومه لاره باندې موټر چلوم، په هغه لاره کې یو مزار راځي، خلک ماته پیسې راکوي چې په مزار باندې ورکړه، په مزار باندې پیسې ورکول څنګه دي؟

جواب: په مزار باندې چې کومې پیسې ورکول کیږي، که دهغې مقصد په فقیران او مسکینانو باندې صدقه کول وی نوجائز ده او که دمزار نذرانه ترې مقصود وي؛ نوناجائزه او حرام دي.[۱]

په مزارونو راجمع شوې پیسې چېرته خرچ کول پکاردي؟

سوال: په مزارونو یا قبرونو باندې چې کومې پیسې راجمع کیږي دا څنګه دي؟(راجمع کول یې څنګه دي)که ناجائزه وي؛ نوچې داول نه کومې جمع دی هغه چېرته خرچ کړل شي؟

جواب: داولیاءالله په مزارونو باندې چې کومې چړهاوې چړهاویږي هغه,,ما اهل به لغیر الله،، کې دداخلیدو په وجه حرام دي[۲] اوددې مصرف دحرام مال مصرف دی، یعنې دثواب له نیت پرته دې دغه مال چا دزکات مستحق ته ورکړل شي.[۳]

د اولیاءالله په مزارونو باندې چیلی(وزه) وغیره ورکول حرام دي

سوال: کوم خلک چې داولیاء الله په مزارونو باندې چیلی وغیره ورکوي آیا دا جائز دي؟ حالانکې دهغوی نیت دخیرات وي، دهغوی په خواوشا کې مسکینان هم موجود دي.

جواب: داولیاءالله په مزارونو باندې چې کوم چیلی دنذراونیاز په طور سره ورکول کیږي، هغه قطعا حرام او ناجائزه دي او دهغې خوراک دهیچا له پاره جائزنه دی[۴] تردې پورې چې مالک دخپل فعل نه توبه وباسي اوچیلی بېرته واخلي او کوم چیلی چې دهغه ځای دغریبانانو له پاره رالیږل کیږي، هغه د هغو دغریبانو له پاره حلال دی.[۵]

۱] واعلم ان النذر الذی یقع اللاموات من اکثرالعوام ومایوخذ من الدراهم والشمع والزیت ونحوها الی ضرائح الاولیاء الکرام تقربا لهم فهو بالاجماع باطل وحرام مالم یقصدوا صرفها لفقراء الانام وقد ابتلی الناس بذالک ولا سیمافی هذه الاعصار ......الخ (درمختار ج:۲ص:۴۴۰،۴۳۹قبیل باب الاعتکاف ،طبع سعید)۔

۲]قوله باطل وحرام لوجوه منها انه نذر لمخلوق والنذر للمخلوق لایجوز لانه عبادة والعبادة لاتکون لمخلوق ......الخ (ردالمحتار ج:۲ص:۴۳۹مطلب فی النذر الذی یقع للاموات من اکثرالعوام)۔

۳] لان سبیل الکسب الخبیث التصدق ......الخ (شامی فصل فی البیع ج:۶ص:۳۸۵)،ایضًا ویتصدق بها بلانیة الثواب انما ینوی به براة الذمة (قواعدالفقه ص:۱۱۵)۔

٤] اوګورئ تیره شوی حاشیه (واعلم ان النذر الذی یقع للاموات من اکثر العوام....الخ) او وریسی حاشیه (قوله باطل وحرام لوجوه منها انه نذر لمخلوق....الخ)۔

٥] وذکر الشیخ انما هو محل لصرف النذر لمستحقیه القاطنین برباطه اومسجده فیجوزبهذا الاعتبارولایجوزان یصرف ذلک لغنی ولاشریف منصب اوذی نسب اوعلم مالم....[بقیه حاشیه په راروانه صفحه....

مړی، قبرته راتلونکی پیژني او دهغه دسلام جواب ورکوي

سوال: په قبردچاعزیز مثلاً مورپلار،رور، خور،یا اولادته ورشي نو آیادهغه کس روح داکس درشتې سره پیژني؟ په هغوی کې دلیدو ،خبرواو اوریدوقوت وي؟

جواب: دحافظ سیوطي رحمه الله نه,, په شرح الصدور، ،کې ددې مسئلې په باره کښ شمیرروایات نقل دي چې مړی هغه کسان چې ددوی قبرونوته ورشي ویني اوپیژني اوددوی دسلام جواب ورکوي،[۱] په یوحدیث کې ارشاددې چې کوم کس چې دخپل مومن وروړقبرته ورشي چې هغه په دنیاکې پیژنداه، ورشي اوسلام وکړي نوهغه دی پیژني اوهغه ته جواب ورکوي، داحدیث په ,,شرح الصدور، ،کې دحافظ ابن عبدالبرد,,استذکار، ،او,,تمهید، ،په حوالې سره نقل شوی دی اولیکلي یې دي چې محدث عبدالحق داصحیح ګرځولی دی.(ص:۸۸)[۲]

قبربا ندې لاس اوچتولوسره دعاغوښتل

سوال: په قبرستان کې یاپه یوقبربانډې په اوچت لاس سره دعا غوښتل څنګه دي؟

جواب: په فتاوی عالمګیري(ج:۵ ص: ۳۵۰)کې لیکل شوي دي چې که څوک په قبربانډې که دعا غواړي؛ نوقبرطرف دې شاکړي اوقبلې طرف ته مخ کړي اودعادې اوغواړی.[۳]

قبرستان کې د فاتحې او دُعا طریقه

سوال: په قبرستان کې فاتحه لوستل کیږي،په دې فاتحه نومې دعا کې څه لوستل کیږي؟ (یعني څه دعاغوښتل پکاردي)

جواب: قبرستان ته چې ورشئ نواول خوهغوی ته سلام کول پکاردي،دهغه الفاظ په حدیث

• ...بقیه د تیر مخ].. یکن فقیرًا......الخ (ردالمحتارعلی الدرالمختار ج:۲ص:۴۳۹)_

۱] عن عائشة رضی الله عنها قالت:قال رسول الله صلی الله علیه وسلم :مامن رجل یزورعن قبراخیه ویجلس عنده الا استانس ورد علیه حتی یقوم ،واخرج ایضًا والبیهقی فی الشعب، عن ابی هریرة رضی الله عنه قال:اذا مرالرجل بقبریعرفه فسلم علیه رد علیه السلا م وعرفه ،واذا مربقبرلایعرفه فسلم علیه ،ردعلیه السلام ......واخرج ابن ابی الدنیا فی القبور،والصابونی فی المائتین ،عن ابی هریرة رضی الله عنه عن النبی صلی الله علیه وسلم قال:مامن عبدیمرعلی قبررجل یعرفه فی الدنیا،فیسلم علیه الا عرفه ورد علیه السلام (شرح الصدور ص:۲۰۲،باب زیارة القبوروعلم الموتی بزوارهم ،طبع دارالکتب العلمیة)_

۲] واخرج ابن عبدالبرفی الاستذکاروالتمهیدعن ابن عباس رضی الله عنهما قال:قال رسول الله صلی الله علیه وسلم مامن احد یمربقبراخیه المومن کان یعرفه فی الدنیا فیسلم علیه الا عرفه ورد علیه السلام ،صحه عبدالحق (شرح الصدورص:۲۰۲،طبع دارالکتب العلمیة بیروت)_

۳] فاذا بلغ المقبرة یخلع نعلیه ثم یقف مستدبرالقبلة مستقبلاً لوجه المیت ویقول:السلام علیکم یااهل القبور!......واذا اراد الدعاء یقوم مستقبل القبلة کذافی خزانة الفتاوی (عالمگیری ج:۵ص:۳۵۰)_

کې داراغلي دي.,,السلام علیکم یااهل الدیارمن المومنین والمسلمین وانا ان شاء الله بکم للاحقون، نسال الله لناولکم العافیة،،[1] اوبیاچې څومره ممکنه وي دهغوی له پاره دې دعا او استغفار وکړي او د قرآن مجید لوستلو نه پس دې ثواب هغوی ته وبښي،په ځینې روایاتو کې دسوره یاسین، سوره تبارک الذی، سوره فاتحه،سوره زلزال،سوره التکاثر،اوسوره اخلاص اودایت کرسي فضیلت هم راغلی دی[2]په فتاوی عالمګیري کې دي چې دقبرطرف ته مخ او د قبلې طرف ته دې شا کړي

اوکله چې ددعااراده وکړي؛ نودقبرطرف ته دې شااوقبلې طرف ته دې مخ کړي.[3]

په قبرستان کې مسنونې دُعا ګانې

سوال: کومې مسنونې اوبهترې دعاګانې دي چې په قبرستان کې لوستل پکاردي؟

جواب: دټولونه مخکې په قبرستان کې اهل قبوروته سلام کول پکاردي،ددې مختلف الفاظ په احادیثوکې راغلي دي،دهغو نه دې یوقسم الفاظ ووایي،اوکه هغه ورته یادنه وي؛ نو ,السلام علیکم دې ووایي،ددې نه وروسته دې دهغوی له پاره دعااواستغفاروکړي اوچې څومره ممکنه وي دقرآن کریم دتلاوت ثواب دې هغوی ته ورسوي، په احادیثوکې په خصوصیت سره دځه سورتونو ذکر راغلی دی مثلاً سوره فاتحه،ایت کرسی،سوره یاسین، سوره تکاثر،سوره کافرون، سوره اخلاص، سوره فلق،سوره ناساو داسې نور....[4]

په قبرستان کې دقرآن کریم تلاوت په کم آوازسره جائزدی په لوړاوازسره مکروه دی

سوال: یومولوي صاحب فرمایل چې قرآن مجیدپه قبرستان کې لوستل پکارنه دي،ځکه چې دعذاب والاآیتونوسره په مړي باندې عذاب نازلیږي، بلکې مخصوصې دعاګانو سره دهغو آیتونوچې دِسنت نبوي ﷺنه ثابت دي، لوستل پکاردي.

جواب: په قبرباندې په اوچت آوازسره قرآن کریم ویل مکروه دي،کم آوازسره یې لوستلی شئ![5]

۱] مشکوة المصابیح ،باب زیارة القبورص:۱۵٤)۔

۲]ثم یدعوا قائمًاطویلا وان جلس یجلس بعیدًا اوقریبًابحسب مرتبته فی حال حیاته.... وفی شرح اللباب ویقرأ من القرآن ماتیسر له من الفاتحة واول البقرة الی المفلحون وآیة الکرسی وآمن الرسول وسورة یس وتبارک (الملک) وسورة التکاثروالاخلاص اثنی عشرمرة......الخ (شامی ج:۲ص:۲٤۲،۲٤۳مطلب فی زیارة القبور)

۳] ثم یقف مستدبر القبلة مستقبلاً لوجه المیت ...... واذا اراد الدعا ء یقوم مستقبل القبلة کذافی خزانة الفتاوی (هندیة ج:۵ص:۳۵۰،کتاب الکراهیة ،الباب السادس عشرفی زیارة القبور)۔

٤] ایضاً تیره شوی حاشیه (ثم یدعوا قائمًا طویلا وان جلس یجلس بعیدًا اوقریبًا بحسب...الخ)۔

۵] انما یکره قراءة القرآن فی المقبرة جهرًاامالمخافة فلاباس بها (هندیة ج:۵ص:۳۵۰کتاب الکراهة)۔

قبرستان ته د ښځو تګ صحيح نه دی

سوال: ۱.....آیا قبرستان ته د ښځو تګ منع دی؟
۲...او که تلی شي نو آیا د خاص وخت تعین پکار دی؟
۳...قبرستان ته تلونه پس د ښځو یا سړیوله پاره قرآن کریم ویل یا نوافل کول منع دي او که دلمونځ وخت شي او وخت لږ وي څنګه چې د ماښام وخت وي؛ نو آیا لمونځ قضا کول پکار دي یا هم هلته کول پکار دي؟

جواب: د ښځو قبرستان ته تګ کې اختلاف دی،صحیح داده چې پیغلو ښځو ته هیڅ کله هم قبرستان ته تلل پکار نه دي،او که بوډۍ ګانې لاړې شي او هلته څه خلاف شرع کار ونکړي؛ نو ګنجائش شته.[۱]
۲...د خاص وخت هیڅ تعین نشته،د پردې اهتمام کول او د نامحرمو سره د اختلاط نه ساتل ضروري دي.[۲]
۳...د صحیح قول مطابق په قبرستان کې تلاوت کول جائز دي؛ مګر په اوچت آواز سره دې نه لولي[۳] په قبرستان کې د لمونځ کولو نه په حدیث کې ممانعت راغلی دی[۴] له دې وجې نه په قبرستان کې نفل کول جائزنه دي او که چېرته د فرض لمونځ کولو ضرورت راپېښ شي؛ نو د قبرستان نه دې یو طرف ته چې قبر د لمونځ کونکی مخې ته نه وي،لمونځ وکړي.[۵]

د ښځو قبرستان ته تلل

سوال: اکثر خلک دا خبره په یقین سره بیانوي چې ښځې قبر ته نه شي تللی، ګناه ده، تاسو وایئ چې دا خبره تر کومې پورې صحیح ده؟ آیا د ښځو قبر ته تلل ګناه ده؟

۱] واما النساء اذا اردن زيارة القبور ان كان ذلك لتجديدالحزن والبكاء والندب كما جرت به عادتهن فلاتجوزلهن الزيارة وعليه يحمل الحديث الصحيح لعن الله زائرت القبور وان كانت للاعتبار والترحم والتبرك بزيارة قبور الصالحين من غير مايخالف الشرع فلا باس به اذا كن عجائز وكره ذلك للشابات كحضورهن في المساجد للجماعات ...الخ (مراقى الفلاح شرح نورالايضاح ص:۳۴۰ فصل فى زيارة القبور ،وايضًا فى الشامى ج:۲ص:۲۴۲ طبع سعيد)
۲] ايضًا_
۳] قراءة القرآن فى المقابر اذا اخفى ولم يجهر لاتكره ولاباس بها.......الخ (هندية ج:۵ص:۳۵۰ كتاب الكراهية)
۴] عن ابى سعيدقال:قال رسول الله صلى الله عليه وسلم :الارض كلها مسجد الاالمقبرة والحمام ،رواه ابوداود،والترمذى والدارمى (مشكوة ص:۷۱)،وعن جندب قال سمعت النبى صلى الله عليه وسلم يقول:الا وان من كان قبلكم كانوا يتخذون قبور انبياء هم وصالحيهم مساجد،الا فلا تتخذوا القبور مساجد انى انهاكم عن ذلك ،رواه مسلم (مشكوة ص:۶۸)_
۵] لاتكره الصلاة فى جهة قبر الا اذا كان بين يديه...الخ (شامى ج:۱ص:۶۵۴،مطلب فى بيان السنة والمستحب)

جواب: په حدیث کې دي چې د الله تعالي لعنت دې وي په هغو ښځو باندې کومې چې د قبر د زیارت له پاره ځي[1] ځینې حضرات د دې حدیث په بنا باندې د ښځو قبرستان ته تلل حرام ګڼي، د ځینو په نزد مکروه دي، د ځینو په نزد د ښځو تلل هم جائز دي،په دې شرط چې د شریعت خلاف کار نه کوي، صحیح دا ده چې د ځوانو جینکو تلل مطلقاً ممنوع دي، او بوډۍ ښځې که چیرې په پرده کې لاړې شي او هلته د شریعت خلاف کار ونه کړي؛ نو د دوی د پاره جائز دي، دا ټول تفصیل علامه شامي رحمه الله ذکر کړی دی.[2]

ایا د ښځو مزارونو ته ورتګ جائزدی؟

سوال: ایادښځوقبرستان ته،مزارونوته تلل یامحفل سماع(قوالي) منعقد کولومذهب چېرته اجازت ورکړی دی؟که داجائزوي نوتاسوېې دقرآن اوحدیث په رڼاکې ثابت کړئ،ماسره ویره ده چې تاسودا داختلافي مسئله ګڼلوسره ځان ترې خلاص نه کړئ.

جواب: مسئله اتفاقي وي که اختلافي،خو دجناب په موږ دومره اعتماد هم نشته،چې موږ به درته صحیح مسئله اوښایویابه یې ګول کړو،نوبیاتاسودسوال رالیږلو زحمت ولې وکړ؟

تاسوته پکاروو چې دد ې مسئلې پوښتنه موديوداسې عالم نه کړې وی چې په هغه باندې موکم ازکم دومره اعتمادخووی چې هغه به مسئله نه ګول کوي،بلکې دالله تعالی اودهغه درسول ﷺ ددطرف نه چې پرې دشریعت دترجماني کومه ذمه واري راځي هغه به دخپلې پوهې مطابق پوره کوي.

زماروره!شرعي مسائل نه خودعیاشي له پاره دي اونه یوازې دچیرچاړله پاره،داخودعمل کولوله پاره او دخپل عمل داصلاح له پاره دي،لهذامسئله کم ازکم دداسې کس نه معلومه کړئ چې ستاسوپه نظر کې صحیح عالم دین وي اودهغه په زړه کې دخدای دومره ویره هم وي چې دخپل ځان یا د خلکو د خواهشاتودرعایت کولوسره دشریعت په مسائلوکې هیڅ قسمه دځان نه کمی زیاتی نه کوي.

اوس ستاسومسئله هم عرض کوم ګڼي تاسوبه وایئ چې ګوره حان یې رانه خلاص کړ.

دښځوقبرستان ته تګ واقعي اختلافي مسئله ده اکثراهل علم یې خویاحرام یامکروه

---

[1] عن ابی هریرة ان رسول الله صلی الله علیه وسلم لعن زوارت القبور،رواه احمد والترمذی وابن ماجة ،وقال الترمذی ،هذا حدیث حسن صحیح ،وقال :قد رای بعض اهل العلم ان هذا کان قبل ان یرخص النبی صلی الله علیه وسلم فی زیارة القبور فلما رخص دخل رخصته الرجال والنساء وقال بعضهم انما کره زیارة القبور للنساء لقلة صبرهن وکثرة جزعهن تم کلامه (مشکوة ص:۱۵٤،باب زیارة القبور)

[2] ان کان ذلک لتجدیدالحزن والبکاء والندب علی ماجرت به عادتهن فلا تجوز وعلیه حمل حدیث (لعن الله زائرات القبور) وان کان للاعتباروالترحم من غیر بکاء والتبرک بزیارة قبورالصالحین فلاباس اذاکن عجائزویکره ،اذاکن شواب (حاشیه ردالمحتار،مطلب فی زیارة القبور ج:۲ص:۲٤۲)

تحریمي ورته وایي او څه حضرات ددې اجازت ورکوي، دا اختلاف داسې راپیدا شوچې په یوه زمانه کې قبرونوته تګ د هرچاله پاره منع و. سړیوته هم او ښځوته هم، بیا وروسته حضور ﷺ ددې اجازت ورکړاو ویې فرمایل: دقبرونو زیارت کوئ، هغوی آخرت وریادوي.[1]

کوم حضرات چې د ښځو قبرونوته ورتګ جائز ګڼي د هغوی وینا ده چې دا کوم اجازت حضور ﷺ ورکړې دې کې ښځې او سړي دواړه شامل دي.

اوکوم حضرات چې یې ناجائزه ګڼي د هغوی استدلال دادی چې حضور ﷺ په داسې ښځو باندې لعنت فرمایلی دی چې دقبرونو زیارت له پاره لاړې شي، لهذا قبرونوته تګ به دهغوی له پاره ممنوع او موجب لعنت وي.

داحضرات داهم فرمایي چې ښځې یو خو شرعي مسائلو نه کمې خبرې وي، دویمه په هغوی صبر، حوصله او ضبط کم وی، ددې وجې نه دهغوی په حق کې غالبه اندیښنه هم داده چې دوی به هلته ژړاانګولا کوي یاڅه بدعت به راپیداکړي، کیدای شي چې ددې ویرې نه حضور ﷺ ددوی قبرونوته ورتګ موجب لعنت ګرځولی وي، اوداختلاف هم په هغه صورت کې دی چې ښځې قبرونو ته ورشي او څه دبدعت کارونکړي، ګنې دچاپه نزدهم اجازت نشته، نن سباچې ښځې دبزرګانو مزارونوته ورشي اوڅه کوي دهغو په لیدوسره مویقین راځي چې حضور ﷺ مزارونوته ورتلونکو ښځو باندې لعنت ولې فرمایل دی.[2]

د ښځو او ماشومانو قبرستان ته تګ، او دبزرګ په نامه نذرکول

سوال: دښځو او ماشومانو قبرونوته تګ جائزدی او که نه؟ بل داچې دقبروالا په نوم باندې نذر منل لکه چیلی ورکول اوپرې څه څادرخورول او داسې نور...؟

جواب: داهل قبورله پاره نذرمنل بالاجماع باطل او حرام دي، په درمختار کې دي:

،،پوهیدل پکاردي چې اکثرد عوامو د طرف نه دمړوپه نامه چې کوم نذر منل کیږي او د اولیاءالله کرامو په مزارونو باندې روپۍ، پیسې، شیریني، تیل وغیره اچول کیږي دهغوی دقرب له پاره منل کیږي دابالاجماع حرام اوباطل دي، یاداچې نذردالله تعالی له پاره وي اودهغه په فقیرانو باندې خرچ کولوراده اوکړل شي، خلک خاصکر په دې زمانه کې په کثرت سره په دې کې

۱] عن ابن مسعود رضی الله عنه ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قال:نهیتکم عن زیارة القبورفزوروها فانها تزهد فی الدنیاوتذکر الآخرة،رواه ابن ماجة (مشکوة ص:۱۵٤،باب زیارة القبور،طبع قدیمی)۔

۲] ان کان ذلک لتجدیدالحزن والبکاء والندب علی ماجرت به عادتهن فلا تجوز وعلیه حمل حدیث (لعن الله زائرات القبور) وان کان للاعتباروالترحم من غیر بکاء والتبرک بزیارة قبورالصالحین فلاباس اذاکن عجائزویکره اذاکن شواب (حاشیه ردالمحتار،مطلب فی زیارة القبور ج:۲ص:۲٤۲) عن ابن مسعود رضی الله عنهما ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قال:نهیتکم عن زیارة القبورفزوروها فانها تزهد فی الدنیاوتذکر الآخرة،رواه ابن ماجة (مشکوة ص:۱۵٤،باب زیارة القبور،طبع قدیمی)۔

مبتلا دي. دامسئله علامه قاسم په ,,دررالبحار،، کې په ډېر تفصيل سره ليکلې ده،،[1]

علامه شامي رحمه الله ددې په شرح کې ليکي: ,,دداسې نذر دناجائزه اوحرام کيدو څو وجوهات دي:

اول داچې داندر دمخلوق له پاره کيږي اودمخلوق په نامه باندې نذرمنل جائزنه دي:ځکه چې نذرعبادت دی اودغيرالله عبادت نه کيږي.

دويم داچې دچاپه نامه نذر منل شوی ده، هغه مړی دی اومړی دهيڅ شي مالک نه وي

دريم داچې که دنذر کونکي داخيال وي چې دالله تعالى نه سوادامړه شوي بزرګان هم په تکويني امورو کې تصرف لري نوداعقيده غلطه ده،،(ردالمحتارقبيل باب الاعتکاف ج:۲ص:۴۳۹؛ اوداهم اوګوري البحررائق ج:۲ ص:۳۲۰)[2]

دوړوماشومانوقبرستان ته بوتلل خوبې هوده خبره ده، پاتې شوه دښځوقبرستان ته دتلو مسئله،په دې کې دعلماوو اختلاف دی د ځينو په نزد باندې د ښځو قبرستان ته تلل حرام دي ځکه چې د حضور صلى الله عليه وسلم ارشاددی:

,, دالله تعالى لعنت دې وي، په هغو ښځوباندې چې په کثرت سره دقبرونوزيارت ته ځي،،(رواه احمدوالترمذی وابن ماجه ،مشکوة،ص:۱۵۴)[3]

دځينوحضراتوپه نزدباندې مکروه دي،اودځينوپه نزد باندې جائزدی، په دې شرط چې هلته جزع اوفزع نه کوي،اودڅه غيرشرعي امر ارتکاب ونه کړي،ګنی حرام دي،په دې زمانه کې د ښځوهلته تګ دفسادنه خالي نه دی،اکثربې پردې ورځي،اوبيا هلته غيرشرعي حرکتونه کوي. نذرونه کوي،چړهاوي ورکوي،ددې وجې نه صحيح دادی چې څنګه نن سبادښځوهلته دورتګ رواج دی، ددې دهيچاپه نزدباندې اجازت نشته،بلکه بالاجماع حرام دی.

قبرستان وقف وي ذاتي تصرفات پکې جائزنه دي

سوال: که يوکس ته مسلمان ويل کيږي اودمسلمانانوپه قبرستان کې قبرونه مسماروي اوپه هغه باندې کورونونه اوکارخاني جوړې کړي،اوپه هغوکې اوسيدل اختيارکړي چې دقبرستان

۱] واعلم ان النذر الذی يقع للاموات من اکثر العوام وما يوخذ من الدارهم والشمع والزيت ونحوهما الى ضرائح الاولياء الکرام تقربًا اليهم فهو بالاجماع باطل وحرام مالم يقصد وا صرفها لفقراء الانام وقد ابتلى الناس بذلک ولا سيما فی هذه الاعصار وقدبسطه العلامة قاسم فی شرح دررالبحار (الدرالمختار ج:۲ص:۴۳۹،قبيل باب الاعتکاف)

۲] قوله باطل وحرام لوجوه :منها انه نذر لمخلوق والنذر للمخلوق لايجوز لانه عبادة والعبادة لا تکون لمخلوق، ومنها ان المنذورله ميت والميت لايملک،ومنهاانه ظن ان الميت يتصرف فی الامور دون الله تعالى واعتقاده ذلک کفر)

۳] عن ابی هريرة رضی الله عنه قال:ان رسول الله صلى الله عليه وسلم لعن زوارات القبور(مشکوة ص:۱۵۴)

داحترام د پامالي سبب جوړشي، دهغه په دې عمل باندې دشریعت قانون څه حدقائموي؟ او دهغه د دې عمل تذکره به په کوم انداز کې کیږي؟

جواب: دمسلمانانو قبرستان وقف وي. او په وقف کې داقسمه تصرفات چې په سوال کې ذکر شوي دي جائزنه دي[1]. البته که دچا په ذاتي ځمکه کې قبرونه وي؛ نو هغه هوارېدای شي.[2]

قبرستان ترکومه پورې قبرستان پاتې کیږي؟

سوال: قبرستان ترکومه پورې قبرستان پاتې کیږي؟ په ځینې ملکونو کې د یو څو کلونو نه وروسته بلډوزر چلوي او په دې باندې آبادي کوي، په شریعت کې ددې کار ترکومه پورې ګنجائش شته؟

جواب: قبرونه چې زاړه شي نو د دې د وړانولو اجازه شته [3] خو د شخصي او ذاتي اغراضو له پاره ددې ځای استعمالول جائز نه دي؛ ځکه چې هغه صرف د مړو د تدفین پاره وقف شوې ده [4] هو! که د چا ذاتي ځای وي نو زاړه قبرونه وړانول او کرونده پرې کول هم صحیح کیږي [5] لیکن قبرستان چې وقف وي دې لره اخستل (او استعمالول) په هیڅ حالت کې هم صحیح نه دي.

د چا په مملوکه ځمکه کې قبر جوړول

سوال: زما ورور وفات شوی دی یوه میاشت وشوه مونږه په کلي کې دده قبر د یو رشتدار په ځمکه چې د قبرستان سره ده جوړ کړ، اول د والدې قبر هم دلته کې دی، هغه سړی موجود نه و، دده د زوی نه مو اجازه واخیسته، بیا په زړه کې مې خیال و چې د ماما زوی دی څه به وائیي قبر تیار شو نو هغه سړې چې راغې نو ده شور وکړ چې زما په ځای کې مو قبر ولې وکنست؟ ځکه چې دغه وخت د جنازې وخت شوی و، دومره وخت نه و چې بل قبر وکنستل

---

[1] مقبرة قديمة لمحلة لم يبق فيها آثار المقبرة هل يباح لاهل المحلة الانتفاع بها؟قال ابونصر رحمه الله تعالى :لايباح ......الخ (قاضی خان برهامش هندية ج:۳ص:۳۱۴) ،وايضًا اذا صح الوقف لم يجز بيعه ولا تمليكه ......الخ، هداية ج:۲ص:٦٤٠،كتاب الوقف طبع مكتبة شركت علميه)۔

[2] ولوبلى الميت وصارترابا جاز......زرعه والبناء عليه كذافى التبيين ......اذا دفن الميت فى ارض غيره بغير اذن مالكها فالمالک بالخيار......الخ (هندية ،باب الجنائز ج:۱ص:۱٦۷،طبع رشيدية)۔

[3] كماجاز زرعه والبناء عليه اذا بلى وصارترابًا (الدرالمختار ،مطلب فى دفن الميت ج:۲ص:۲۳۸)

[4] الوقف ......ولايباع ولا يوهب ولايورث (عالمگيرى ج:۲ص:۳۵۰)

[5] اذا دفن الميت فى ارض غيره بغير اذن مالكها بالخياران شاء امر باخراج الميت وان شاء سوى الارض وزرع فيها (عالمگيرى ج:۱ص:۱٦۷،كتاب الصلاة ،الباب الحادى والعشرون ،الفصل السادس)

شي، د یو څو خلکو په وینا باندې هغه چپ شو مونږه جنازه اوکړه او مړی مو قبر ته حواله کړ اوس ما ته بیا بیا خیال راځي چې که چیرې دا سړی د زړه نه راضي نه شو؛ نو شاید چې زما ورور ته به عذاب وي، جناب! تاسو ته درخواست دادی چې ما ته ددې حل بیان کړئ چې زه څه وکړم؟ هغه څنګه راضي کړم؟ یا د ځای پیسې ورکړم. دا به ستاسو مهرباني وي.

جواب: که د چا په مملوکه ځمکه کې قبرستان جوړ کړل شي نو دده حق جوړېږي چې ځمکه هموار کړي او دا ځمکه استعمال کړي د مړي د ویستلو ضرورت نشته او نه د مړي وارثانو ته د مړي د ویستلو اجازت شته اونه په دې ځمکه کې د تصرف کولو د منع کولو اجازت شته.[1]

د خوب په وجه دچا په ځمکه کې د جوړکړي مزار څه سره وکړل شي؟

سوال: .مولاناصاحب!زمونږ دکلي نه تقریبا یومیل لرې په یوېټي کې یوپیرصاحب رابنکاره شوی دی، هغه داسې چې یوې ښځې خوب ولیده چې پیرصاحب وایي چې په فلاني ځای کې زما مزار جوړ کړئ. خلکومزارجوړکړ،نن مونږ په خپلوسترګوسره وینوچې په دې مزارباندې روزانه (۲۰۰)نه زیات کسان دعاغوښتلوته راځي،دکوم مالک چې داځمکه ده هغه ډیرزیات تنګ دی اووایي چې زمادځمکې نه داجعلي مزارلرې کړئ،لیکن هغوی نه مني،تاسووایئ چې ددې څه حل دی؟

جواب: دیوې ښځې په ویناباندې مزارجوړول بې عقلي ده،دځمکې مالک ته پکاردي چې هغه دا هوار کړي اوخلق هلته دراتلونه منع کړي.[2]

---

[1] اذا دفن المیت فی ارض غیره بغیراذن مالکها ،فالمالک بالخیار ان شاء امرباخراج المیت وان شاء سوى الارض وزرع فیها......ولاینبغی اخراج المیت من القبربعد ما دفن الا اذا کانت الارض مغصوبة او اخذت بشفعة. (عالمگیری ج۱ ص۱۶۷) ولا یخرج منه بعد اهالة التراب الا لحق آدمی ان تکون الارض مغصوبة او اخذت بشفعة ویخیرالمالک بین اخراجه ومساواته بالارض....الخ (الدرالمختارج:۲ص:۲۳۸باب صلاة الجنازة)

[2] لایجوز لاحد ان یتصرف فی ملک غیره بلااذنه (شرح المجلة ،المادة :۹۶،ص:۶۱) (ایضًااذا دفن المیت فی ارض غیره بغیر اذن مالکها فالمالک بالخیار ان شاء امرباخراج المیت وان شاء سوى الارض وزرع فیها کذافی التجنیس (عالمگیری ،الفصل السادس فی ا لقبروالدفن والنقل من مکان الی آخر ج:۱ص:۱۶۷)۔

❖ ایصال ثواب ❖

ایصال ثواب له پاره د حضور (ﷺ) نه شروع کول پکاردي

سوال: زه د ذکر کولو نه مخکې یوځل سوره فاتحه، درې ځله قل هوالله شریف، اول او اخر کې درود شریف لولم او داسې دعا کوم: یاالله! ددې ثواب زما مخدوم او مکرم حضرت...دامت برکاتهم نه واخله تر حضرت محمد ﷺ پورې زما دسلسلې دټولو مشائخو کرامو پورې ورسوې، او دهغوی دفیوضاو برکاتونه موږ ته هم حصه رانصیب کړې.

جواب: د حضرت شیخ نورالله مرقده دسلسلې مطابق یولس ځله درود شریف او دیارلس ځله قل هوالله شریف ویل (او ددې سره که سوره فاتحه هم وویل شي؛ نو ډیره ښه ده) ایصال ثواب دې وکړل شي او شروع دې د حضور ﷺ د نوم مبارک څخه وکړل شي باقي سهي ده.[۱]

د حضور اکرم ﷺ له پاره د نوافلو ایصال ثواب

سوال: ما د حضور ﷺ د ایصال ثواب له پاره روزانه د سوره یاسین شریف تلاوت کولو، او س دڅه مودې راهیسې داعمل د دور کعتو نفلو په ذریعه اداکوم، آیا داسې کولو سره د ذات پاک ﷺ په احترام کې څه کوتاهي خو نه کوم؟

جواب: هیڅ نقصان پکې نشته، د حضور ﷺ له پاره د بدني او مالي عباداتو په ذریعه دایصال ثواب اهتمام کول د محبت خبره ده.[۲]

حضور ﷺ له پاره ایصال ثواب او د یو اشکال جواب

سوال: تاسو مفتیان صاحبان ددې لاندې مسئلې په باره کې څه فرمایئ چې مسلمانان د حضور ﷺ په خدمت کې ایصال ثواب کوي، زموږ دایصال ثواب نه حضور ﷺ ته څه فایده رسیږي؟ هرکله چې حضور ﷺ د دواړو جهانونو سردار دی او د جنت اعلی ترین مقام د حضور ﷺ له پاره یقیني دی.

درود او سلام دالله تعالی په حکم سره لیږو، کمافي النص، د یوځیل عزیز دایصال ثواب کولو وجه معقوله ده، دهغه دبښنې له پاره اورفع درجات له پاره؛ نو د نبي کریم ﷺ په سلسله کې دایصال ثواب کولو په حقیقت باندې رڼا واچوئ او د قرآن او سنت په رڼا صحیح جواب راکړئ

۱] قلت :وقول علمائنا له ان يجعل ثواب عمله لغيره يدخل فيه النبى صلى الله عليه وسلم فانه احق بذالک حيث انقذنا من الضلالة...الخ (شامى ج:۲ص:۲۴۴،مطلب فى اهداء ثواب القرأة للنبى صلى الله عليه وسلم)

۲] وفى البحر من صام اوصلى اوتصدق وجعل ثوابه لغيره من الاموات والاحياء جازويصل ثوابها اليهم عند اهل السنة والجماعة كذافى البدائع (شامى ج:۲ص:۲۴۳،مطلب فى القراءة للميت واهداء ثوابها له)۔

ستاسو احسان مندبه یو.

جواب: دامت له طرف نه دحضور ﷺ له پاره ایصال ثواب نصوص سره ثابت دی، دایصال ثواب یوصورت دحضور ﷺ ددرجاتودترقي دعاا ودمقام وسیلې درخواست دی.

دصحیح مسلم په حدیث کې دي:

،،اذا سمعتم الموذن فقولوا مثل مايقول،ثم صلوا علیّ فانه من يصلی علی صلوة صلی الله علیه وسلم بهاعشرا ثم سلوالله لی الوسيلة فانهامنزلة فی الجنة لاينبغي الاالعبدمن عبادالله وارجوان اكون اناهو،فمن سال لی الوسيلة حلت عليه الشفاعة،،(مشکوة ص:٦٤)

ترجمه: کله چې تاسو دموذن اواز واورئ؛ نودهغه داذان په شان جواب ورکوئ، بیاپه ماباندې درود ووایئ، ځکه چې څوک په ماباندې یوځل درودر ووایي الله تعالی ددې په بدله کې په هغه باندې لس رحمتونه نازلوي، بیازماله پاره دالله تعالی نه د،،وسیلې،، درخواست کوئ، داپه جنت کې یوه مرتبه ده، چې دالله تعالی په بندګانوکې یوازې دیوبنده شایان شان ده اوزه امیدساتم چې هغه بنده به زه یم؛ نوکوم کس چې زماله پاره دوسیلې درخواست وکړ، هغه ته به زماشفاعت نصیب کیږي.

اوپه صحیح بخاری کې دي: **،،من قال حين سمع النداء،اللهم رب هذه الدعوة التامة والصلواة القائمة ات محمدن الوسيلة والفضيلة وابعثه مقاما محمودن الذی وعدته، حلت له شفاعتی يوم القيامة،،**(مشکوٰة ص:٦٥)

ترجمه: کوم کس چې اذان واوري اودا دعا وکړي: اې الله! کوم چې ددې کامل دعوت مالک دی او د قایمیدونکې لمونځ، ورکړه محمد ﷺ ته وسیله اوفضیلت اوودروې هغه په مقام محمود ندې، دکوم چې تاسووعده کړې ده، دقیامت په ورځ به هغه ته زماشفاعت نصیب شي.

حضرت عمرفاروق رضی الله عنه دعمرې له پاره تلو، داجازې د اخیستو له پاره دحضور ﷺ په خدمت کې حاضرشو؛ نو حضور ﷺ ورته په رخصتي کې وفرمایل : **،،لاتنسنا ياأخی من دعائك،وفی رواية:اشركنا ياأخی فی دعائك،،**(ابوداود ج:١ ص:٢١٠ ترمذی ج:٢ ص:١٩٥)

ترجمه: ورورجانه! موږ په خپلودعاګانو کې مه هیروه اوپه یوروایت کې دي چې ورورجانه! په دعاکې موږ هم شریکوه.،،

ددې احادیثونه معلومه شوه چې څنګه په ژوندمبارک کې حضور ﷺ ته دعامطلوب وه، همدغه شان دوفات نه وروسته هم حضور ﷺ ته دعامطلوب ده.

دایصال ثواب یوصورت داهم دی چې دحضور ﷺ له طرف نه دې قرباني وکړل شي په حدیث کې دي چې حضور ﷺ حضرت علي رضی الله عنه ته ددې حکم فرمایلی و:

,,عن حنش قال رايت عليا رضي الله عنه يضحي بكبشين، قلت له: ماهذا؟ فقال: ان رسول الله صلى الله عليه وسلم اوصاني ان اضحي عنه، فانا اضحي عنه،،(ابوداود، باب الاضحية عن الميت ج:٢ ص:٢٩)

ترجمه: حنش وايي چې ماحضرت علي رضي الله عنه وليده، چې ددوو ګډانو قرباني يې کوله، ماورته عرض وکړ: داڅه دي؟ ويې فرمايل چې: رسول الله صلى الله عليه وسلم ماته وصيت کړی و چې زه دهغه صلى الله عليه وسلم له طرف نه قرباني کوم؛ نوزه دهغه صلى الله عليه وسلم له طرف نه قرباني کوم،،

,,وفي رواية: امرني رسول الله صلى الله عيله وسلم ان اضحي عنه فانا اضحي عنه ابدا،،(مسنداحمد ج:١ ص:١٠٧)

وفي رواية: فلاادعه ابدا.(ايضاً ج:١ ص:١٤٩)

ترجمه: په يوروايت کې دي چې: رسول الله صلى الله عليه وسلم ماته حکم کړی و چې زه دهغه صلى الله عليه وسلم له طرف نه قرباني کوم؛ نواوس زه دهغه صلى الله عليه وسلم له طرف نه هميشه قرباني کوم،،

ترجمه: په يوروايت کې دي چې زه داکله هم نه پرېږدم،،

ددې نه پرته دژوندیو له طرف نه مړیو ته هدیه وړاندې کولویوصورت ایصال ثواب دی او دچا محبوب اومعظم شخصیت په خدمت کې دهدیې وړاندې کولوغرض دانه وي چې دې هدیې سره به دهغه غریبي ختمه شي، یوډیرلوی امیراوکبیرکس ته دهغه دخپلوانوله طرف نه هدیه وړاندې کول یوعام معمول دی اوهیڅ یوبې وقوف په ذهن کې به هم داخبره نه راځي چې زموږ دحقیرې هدیې سره به دهغه په مال اودولت کې اضافه وشي، بلکې یوازې دمحبت دزیاتوالي له پاره هدیه وړاندې کیږي، همدغه شان د نبی کریم صلى الله عليه وسلم په بارګاه عالیه کې د ګناهګارو امتیانو له طرف نه دایصال ثواب په ذریعه هدیه وړاندې کول دوړاندې کونکوله طرف نه دتعلق اومحبت داظهاریوه ذریعه ده، چې دهغې سره دجانبینو په محبت کې اضافه کیږي اوددې ګټه په خپله ثواب لېږونکي ته رسیږي اود حضور صلى الله عليه وسلم درجات قرب کې هم دې سره اضافه کیږي.

علامه ابن عابدین شامي رحمه الله په ,,ردالمحتار،،کې باب الشهید نه مخکې په دې مسئله باندې مختصرې خبرې کړې دي، دفایدې دحاصلولوله پاره هغه دلته نقل کوم:

,,ذکرابن حجررحمه الله في الفتاوى الفقهية ان الحافظ ابن تيمية زعم منع اهداء ثواب القراءة للنبي صلى الله عليه وسلم لان جنابه الرفيع لايجرا عليه الابماأذن فيه وهوالصلوة عليه وسوال الوسيلة له.

قال: وبالغ السبكى رحمه الله وغيره في الردعليه بان مثل ذلک لايحتاج لاذن خاص الاترى ان ابن عمر رضى الله عنهما كان يعتمرعنه صلى الله عليه وسلم عمراً بعد موته من غيروصية وحج ابن

الموفق وهوفى طبقة الجنيد رحمه الله سبعين حجة وختم ابن السراج عنه صلى الله عليه وسلم اكثر من عشرة الاف ختمة وضحى عنه مثل ذلك.اه.

قلت:رايت نحوذلك بخط مفتى الحنفية الشهاب احمدبن الشلبى شيخ صاحب البحر نقلا عن شرح الطيبة للنويرى و من جملة مانقله ان ابن عقيل من الحنابلة قال:يستحب اهداء له صلى الله عليه وسلم.

قلت:وقول علمائنا له ان يجعل ثواب عمله لغيره.يدخل فيه النبى صلى الله عيله وسلم فانه احق بذلك حيث انقذنا من الضلالة ففى ذلك نوع شكرواسدا جميل له والكامل قابل لزيادة الكمال وما استدل به بعض المانعين من انه تحصيل الحاصل لان جميع اعمال امته فى ميزانه يجاب عنه بانه لامانع من ذلك فان الله تعالى اخبرنا بانه صلى عليه ثم امرنا بالصلوة عليه بان نقول اللهم صلى على محمد،والله اعلم.(شامى ج:۲ ص:٢٤٤ طبع مصر)[1]

ترجمه: ابن حجر(مکي شافعي رحمه الله) په فتاوی فقهيه کې ذکرکړي دي چې دحافظ ابن تيميه رحمه الله خيال دی چې حضور صلی الله علیه وسلم ته دتلاوت ثواب هديه کول منع دي، ځکه چې دحضور صلی الله علیه وسلم په بارګاه عاليه يوازې ددې جرات کيدای شي دکوم چې حکم شوی دی اوهغه په حضور صلی الله علیه وسلم باندې صلوة اوسلام ليږل او هغه ((صلی الله عليه وسلم)) له پاره دوسيلې دعاکول دي.

ابن حجر رحمه الله وايي چې: امام سبکي رحمه الله په امام ابن تيميه رحمه الله باندې ښه ډير ردکړی دی، چې داسې شی دخاص اجازې محتاج نه وي چې ابن عمر رضي الله عنهما، دحضور صلی الله علیه وسلم له وفات نه وروسته د حضور صلی الله علیه وسلم له طرف نه عمرې کولې، هرکله چې حضور صلی الله علیه وسلم ددې وصيت هم نه و کړی، ابن الموفق چې دجنيدهم طبقه دی، دحضور صلی الله علیه وسلم له طرف نه اوياحجونه وکړل، ابن السراج د حضور صلی الله علیه وسلم له طرف نه لس زره ختمه وکړل اوحضور صلی الله علیه وسلم له طرف نه يې هم دومره قرباني کړې وې.

زه وايم چې ماهم دا قسمه خبره داحنافو دمفتي شيخ شهاب الدين احمدبن الشلبي، چې دصاحب بحرالرائق استاد دی په تحرير کې ليدلې ده، کومه چې موصوف دعلامه نويري رحمه الله د ,,شرح الطيبه،،نه نقل کړې ده، په هغه کې موصوف دانقل کړې ده چې په حنابله کې دابن عقيل رحمه الله قول دی چې دحضور صلی الله علیه وسلم په خدمت کې هديه ثواب مستحب دی.

زه وايم چې زموږ دعلماوو قول دی چې: بنده ته پکاردي چې هغه دخپل عمل ثواب نورو ته وبښي،، په دې کې حضور صلی الله علیه وسلم هم داخل دی اوحضور صلی الله علیه وسلم ددې دټولونه زيات حق دار دی؛ ځکه چې حضور صلی الله علیه وسلم موږ ته دګمراهي نه نجات راکړی دی، دحضور صلی الله علیه وسلم په خدمت کې ثواب هديه کول ديوقسم شکريه اودحضور صلی الله علیه وسلم داحساناتواعتراف دی اوحضور صلی الله علیه وسلم اګرچې په هر اعتبار

[1] وايضًا طبع ايچ ايم سعيدکراچی ،مطلب فى اهداء ثواب القراءة للنبى صلى الله عليه وسلم)۔

سره کامل دی مګر زیادت د کمال قابل وي او کومونه منونکو چې استدلال کړی دی چې دا تحصیل حاصل دی ځکه چې دامت تمام اعمال په خپله دحضور ﷺ په نامه اعمال کې درج کیږي. ددې جواب داکیدای شي چې د شی په ایصال ثواب کې مانع نه دی، الله تعالی په خپله موږ ته خبرراکړی دی چې الله تعالی په خپل محبوب باندې رحمتونه نازلوي، ددې باوجود موږ ته حکم دی چې موږ دحضور ﷺ له پاره درحمت طلب کولوله پاره ,,**اللهم صلی علی محمد**،، وایو.

سوال: زه دقرآن کریم تلاوت اوصدقه خیرات کوم اودحضور ﷺ نه وروسته اکابروعلماء کراموته ثواب وربښم، خو د څوورځو راهیسې یوخیال مې زړه ته راځي چې دهغه له وجې ډیرزیات پریشانه یم، خیال دادی چې موږ هغو هستیانوته ثواب وربښوپه چاچې الله تعالی په خپله درود او سلام ورلاندې کوي، یعنې په حضور ﷺ باندې .توبه توبه، معاذالله، موږ دومره لوی یوچې یوڅو ایتونه ولولو اودهغه ثواب حضور ﷺ اوصحابه ﷺ پورې رسوو، داخوپه پوهه کې دنه راتلوواله خبره ده؟

جواب: دایصال ثواب یوصورت خودادی چې بل محتاج وګڼل شي اوهغه ته ثواب وروبښل شي داصورت خو دحضور ﷺ اونوروداالله تعالی دمقبولو بندګانوپه حق کې نه پیدا کیږي او په دې کې ستاسودشک همدغه منشاده، دویم صورت دادی چې ددې بزرګانوپه موږ باندې بې شمیره احسانات دي اوداحسان شناسي تقاضا هم داده چې موږ دهغوی په خدمت کې هدیه وړاندې کړو، ظاهره ده چې ددې بزرګانوپه خدمت کې دایصال ثواب اود درجاتو دترقي نه پرته څه هدیه وړاندې کیدای شي؟ نوزموږ ایصال ثواب ددې له وجې نه دی چې: معاذالله!... دا حضرات زموږ دایصال ثواب محتاج دي، بلکې داالله تعالی په موږ باندې احسان دی چې دایصال ثواب په ذریعه زموږ له پاره ددې بزرګانو په خدمت کې هدیه وړاندې کولودروازه یې راته خلاصه کړه، چې دهغه له وجې زموږ داحسان شناسي حق هم اداکیږي اوددې بزرګانوسره زموږ په محبت اومینه کې اضافه هم کیږي اودې سره ددې بزرګانوپه درجاتوکې نوره ترقي هم کیږي اوددې په برکت سره زموږ دګناهونوکفاره هم کیږي اوموږ ته داالله تعالی دعنایت نه بې شمیره برخه هم ملاویږي، ددې مثال داسې وګڼئ چې په یوغریب مزدورباندې دبادشاه بې شمیره احسانات وي اوهغه دخپل محبت دغوښتنې له وجې څه هدیه بادشاه ته وړاندې کول وغواړي اوبادشاه ازراه مراحم خسروانه دهغه هدیه قبوله کړي اودهغه له وجې نورانعامات هم ورکړي، دلته به هیچاته داشک نه وي چې ددې فقیردرویش هدیه وړاندې کول دبادشاه دضرورت له وجې نه دي، نه!بلکې داپه خپله دهغه مسکین ضرورت دی.

د ایصال ثواب شرعي حیثیت

سوال: ایا د اسلام مطابق ایصال ثواب صحیح دی؟

جواب: په اسلام کې د ایصال ثواب کولو حکم دی او مړي ته دا د تحفې (ډالۍ) په شکل کې ملاویږي، د یوې خاصې ورځې د تعیین نه پرته څه نیک عمل یا د صدقې او د خیرات په نیت کولی شي.[1]

په نبي کریم (ﷺ) باندې د درود او سلام طریقه او بل دا چې د ایصال ثواب له پاره فاتحه لوستل

سوال: د جمعې په ورځ (۲۶)جولائي (۱۹۹۱ء) د اقرأ په مضمون کې د درود شریف ثمرات او برکاتو باندې دقمر سلطان عابد علي مضمون مې وکوت، مضمون ډېر مدلل دی او ډېر په محنت سره لیکل شوی دی، هغه د قرآن کریم آیت نمبر (۵۵) سورة احزاب نمبر (۳۳) ذکر کړی و، چې د هغه معنا داده: ((الله تعالی او ټولې فرښتې په نبي کریم (ﷺ) باندې صلوة او سلام لیږي او اې مسلمانانو! تاسو هم په هغه باندې صلوة او سلام ولیږئ!))خوپوره مضمون کې د درود شریف ذکر چیرته نه دی کړی چې کوم په موږ باندې فرض شوی دی؛ نو موږ درود شریف وایو؛ نو څنګه به وایو او په کومو الفاظو سره به وایو؟ که چیرې درود شریف دې ته وایي: ((اللهم صلی علی محمد وعلی آل محمد وبارک وسلم علیه))؛ نو د دې معنا به دا وي چې: اې الله! ته په محمد (ﷺ) او په آل محمد باندې صلوة و سلام ولیږه، ګویا چې موږ د الله تعالی حکم په الله تعالی باندې لګوو، که یو عالم دین جواب وکړي چې دا کوم یو آیت دی؟او ایا نبي کریم (ﷺ) موږ ته څنګه ښودلی دي؟ حالانکې الله تعالی په سورة احزاب په آیت نمبر (۴۲) کې ارشاد فرمایلی چې: ،، هغه ذات دی چې په ټولو مؤمنانو باندې صلوة او سلام لیږي او ټولې فرښتې هم ددې له پاره چې تاسو د تیارو نه رڼا (نور) طرف ته بوځي او هغه په مسلمانانو باندې مهربان دی، دلته زه عرض کوم چې په کومو مسجدونو کې د جمعې د لمانځه نه وروسته سلام ویل کیږي، هلته یو لوی تعداد په سلام کې د شریک کیدو په ځای فورا ودریږي او تښتي او سلام ویونکي پاتې شي او عام ډول په مسجدونو کې سلام، خو بلکل ذکرکیږي نه او عالمان دې ته بدعت وایي او د یوې ډلې وینا ده چې هغوی د درود او د فاتحې قایله هم نه

[1] عن عبدالله بن عباس رضی الله عنه قال:قال رسول الله صلی الله علیه وسلم :ماالمیت فی القبرالا کالغریق المتغوث ینتظر دعوة تلحقه من اب او ام او اخ اوصدیق ،فاذا لحقته کان احب الیه من الدنیا وما فیها وان الله تعالی لیدخل علی اهل القبورمن دعاء اهل الارض امثال وان هدیة الاحیاء الی الاموات الاستغفارلهم ،رواه البیهقی فی شعب الایمان (مشکوة ص:۲۰۶) (صرح علماؤنا فی باب الحج عن الغیر بان للانسان ان یجعل ثواب عمله لغیره صلاة اوصومًااوصدقة اوغیرها کذافی ا لهدایة (ردالمحتار:ج۲ص:۲۴۳،مطلب فی القراءة للمیت واهداء ثوابهاله)

دي او که چیرې د دوی نه پوښتنه وشي؛ نو چې قرآن خو پرته د سورة نه شروع کیږي هم نه او هیڅ یو لمونځ داسې نه شته چې په هغه کې سورة فاتحه نه ویل کیږي،اوس که چیرې مورړ د مرحومو والدینو او د خپلو خپلوانو د روحونو د ایصال ثواب له پاره درود او فاتحه وایو؛ نو دا د دوی په نزد بدعت دی او که چیرې مورړ په فاتحه کې شریکیدونکو باندې په دې باني څه وخورو؛نوهغه هم ددوی په نزدبدعت دي؛ نو ایا مورړ دوی ورړي رخصت کړو؟ چې ورور به خپل کورته ځي او روټۍ به خوري دا مو ومنله چې بدعت دي، یعنې د رسول الله(ﷺ)نه وروسته پیداواردی، خومیلمستیا خو د اسلام د اخلاقو یو اهم جز دی، ددې نه پرته مورړ ټول مسلمانان په دې فاتحه کې شریک شو؛ نو دا فاتحه به کیږي او په نبی کریم ﷺ باندې درود او سلام به هم د الله تعالی د حکم مطابق وي، دا بدعت ضروري دی، خوګناه نه ده بلکې نیکي ده.

جواب: الله تعالی چې کوم حکم فرمایلی دی چې په نبي کریم ﷺباندې درود ولیږئ ددې تفسیر په خپله نبي کریم صلی الله علیه وسم فرمایلی دی چې داسې وایئ : اللهم صل علی محمد وعلی آل محمد ... الخ له دې وجې دا درود د الله تعالی د حکم تعمیل دی.[1]

په مسجدونو کې چې کوم په لوړ سپیکرو باندې په زوره زوره صلوة او سلام لوستل کیږي ددې حکم نه نبي کریم ﷺ کړی دی او نه صحابه کرامو (رضي الله عنهم) داسې کړي دي او نه امام ابوحنیفه (رحمه الله) ددې تعلیم ورکړی دی، دې ته دین ګڼل غلط کاردی، فاتحه خو هر مسلمان په لمونځ کې وایي او د دې هره ورځ تلاوت هم کوي له دې وجې هیڅ یو مسلمان نه د فاتحې منکر دی او نه د درود شریف، خوکه د یو ځان نه جوړشوی شي نوم چا فاتحه کیښوده او درود یې ورته کیښود؛ نو ددې هیڅ یو مسلمان هم نه شي قائل کیدای.

کوم خلک چې د قرآن خواني له پاره جمع شي د دوی دعوت کولوته داحنافو فقهاوو مکروه او بدعت ویلي دي[2] که چیرې ستا مسلک د مسلک حنفي نه پرته څه بل مسلک دی؛ نو بیا بحث کول بې فائدې دي، خوکه چیرې ته هم په فقه حنفي باندې عمل کوې؛ نو د فقه حنفي حواله ورکول پکار دي دخپل ځان نه یوه خبره جوړول او دې ته په دین کې داخلول نه ستا له پاره جائز دي او نه زما له پاره.

یادونه: په دې مسئلوباندې زما دکتاب ''**اختلاف امت اوصراط مستقیم**،، مطالعه وکړئ، والسلام

---

[1] عن کعب بن عجرة قال :قال رجل یارسول الله ! اماالسلام علیک فقد علمناه فکیف الصلاة علیک؟قال:قل :اللهم صل علی محمد وعلی آل محمد کما صلیت علی ابراهیم وعلی آل ابراهیم انک حمید مجید......الخ (روح المعانی ج:۲۲ص:۷۷،مشکوة ص:۸۶باب الصلاة علی النبی صلی الله علیه وسلم وفضلها ،الفصل الاول)

[2] وفی البزازیة :ویکره اتخاذ الطعام فی الیوم الاول والثالث وبعد الاسبوع ونقل الطعام الی القبر فی المواسم؛ واتخاذ الدعوة لقراءة القرآن وجمع الصلحاء والقراء للختم او لقراءة سورة الانعام او الاخلاص. والحاصل ان اتخاذ الطعام عندقراءة القرآن لاجل الاکل یکره(شامی ج:۲ص:۲٤۰مطلب فی کراهة الضیافة من اهل المیت)

د ايصال ثواب مرحوم ته پته لګيږي او هغه ته د تحفې په ډول ملاويږي

سوال: د ايصال ثواب له پاره فاتحه ولوستل شي يا قرآن خواني وکړل شي يا په صدقه جاريه کې پيسې ورکړل شي؛ نو آيا د مرحوم روح ته د دې پته لګيږي؟

جواب: هو! پته لګيږي، د ايصال ثواب له پاره چې تاسو کومه صدقه خيرات کوئ يا لمونځ روژه، دعا، تسبيح، د تلاوت ثواب وربښئ؛ نو د دې ثواب مړي ته ستا د تحفې په حيثيت سره پيش کيږي، په دې باندې د احاديثو ليکل به د طوالت سبب جوړشي.[1]

مسلمان که هرڅومره ګناهګاروي، هغه ته د خيرات نفع رسيږي

سوال: د ځينې عالمانو نه مې اوريدلي دي چې د يو کس د وفات نه پس که هغه انسان په خپله نيک تيرشوی نه وي او نيک عمله نه وي، د قرآن شريف ختم، يا د هغه د اولاد دعا، څه فائده نه شي ورسولی؟ د اتر کومې پورې صحيح ده؟

جواب: مسلمان که هرڅومره ګناهګاروي هغه ته نفع رسيږي[2] کافر ته نه رسيږي[3] تاسو چې څه اوريدلي دي (په دې شرط چې تاسو ته صحيح ياد وي) د دې مطلب به داوی چې بنده ته د نيکي اهتمام په خپله کول پکار دي، کوم کس چې ټول عمر نه لمونځ اونه روژه ونيوله، نه د حج

۱] وفى البحر من صام اوصلى اوتصدق وجعل ثوابه لغيره من الاموات والاحياء جازويصل ثوابها اليهم عند اهل السنة والجماعة كذافى البدائع(شامى ،مطلب فى القراء ة للميت ج:٢ص:٢٤٣)٠ايضًا:عن ابن عباس رضى الله عنهما قال:قال رسول الله صلى الله عليه وسلم :ماالميت فى قبره الا شبه الغريق المتغوث ينتظر دعوة تلحقه من اب او ام او ولد اوصديق ثقة، فاذا لحقته كانت احب اليه من الدنيا ومافيها ،وان الله ليدخل على اهل القبور من دعاء اهل الارض امثال الجبال وان هدية الاحياء الى الاموات الاستغفارلهم ......واخرج عن عمروبن جريرقال:اذا دعاء العبد لاخيه الميت اتاه بها الى قبره ملک فقال :ياصاحب القبر الغريب ! هذه هدية من اخ عليک شفيق (شرح الصدورص:٣٠٥،باب ماينفع الميت فى قبره)٠ايضا:وعن انس رضى الله عنه ان سعدًا اتى النبى صلى الله عليه وسلم فقال:يارسول الله صلى الله عليه وسلم! أن امى توفيت ،ولم توص فهل ينفعها ان اتصدق عنها؟ قال: نعم، وعليك بالماء واخرج الطبرانى فى البزار بسندحسن عن انس رضى الله عنه قال: جاء رجل الى نبى (ص) فقال: ان ابى قدمات ولم يحج حجة الاسلام فقال:ارايت لوكان على ابيک دين اكنت تقضيه عنه ؟ قال:نعم ! قال:فانه دين الله فاقضه عنه (شرح الصدور ص:٣٠٧،٣٠٨)٠ دتفصيل له پاره وګورئ شرح الصدور ص:٣٠١نه تر ٣١٥پوري ،طبع دارالكتب العلمية بيروت)۔

٢]ايضًا)۔

٣]الثالث المراد بالانسان الكافر فله ماسعى ٠فقط ......فلا يبقى له فى الآخرة شيء ......الخ (طحطاوى على مراقى الفلاح ص:٣٤١)٠ايضًا:وان ليس للانسان الاماسعى ......الثالث :ان المراد بالانسان هنا الكافر، فاما المومن فله ماسعى ،وماسعى له،قاله الربيع بن انس؛(شرح الصدورص:٣١٠طبع دارالكتب العلمية)

زکات یې څه پرواه کوه، نه ورته د قرآن پاک د تلاوت توفیق ملاو شو، بلکې د کلمې د صحیح زده کولو ضرورت نه ګڼي، د داسې کس په وفات باندې د خلکو قرآن خواني، دریمې، څلویښتې چې کوم رسم دی، د دې نه به هغه ته څه فایده ورسیږي؟ خلک د فرائضو او واجباتو داسې اهتمام نه کوي څنګه چې د دې رسمونو اهتمام کول ضروري ګڼي.

د ورک شوي کس له پاره ایصال ثواب جائز دی

سوال: زما خاوند د دولسو کالو راهیسې ورک دی، دور کیدو په وخت کې د هغه عمر کم و بیش دوه څلویښت کاله و، مونږ ته هیڅ پته نشته، چې هغه ژوندی دی یا هغه وفات شوی دی؟ مونږ خلکو د فالنامو او نورو ډیرو طریقو سره معلومات حاصل کړل؛ نو هم دغه پته لګیږي چې هغه ژوندی دی، ستاسو نه پوښتنه دا کوم چې که هغهٔ وفات شوی وي؛ نو د هغه د روح ایصال ثواب له پاره قرآن خواني وغیره کیدای شي او که نه؟ څکه چې مونږ تول ډیر زیات پریشانه یو، چې که د هغه انتقال شوی وي نو د هغه له پاره مونږ خلکو تر اوسه پورې بالکل څه کړي نه دي، تاسو راته ووایئ چې د دې مسئلې په شریعت کې څه حل دی. ستاسو به ډیره مهرباني وي.

جواب: تر څو پورې چې د خاصو شرائطو سره عدالت فیصله ونکړي، تر هغه وخت پورې د هغه د وفات حکم خوجاري کیدای نه شي[۱] البته په ایصال ثواب کې څه نقصان نه شته. ایصال ثواب خو د ژوندي له پاره هم کیدای شي[۲] او دا د فالنامو په ذریعه پته لګول غلط دي او په دې باندې یقین کول هم جائز نه دي.[۳]

د مرحومینو له پاره د ایصال ثواب طریقه

سوال: زمونږ کوم مشران چې وفات شوي دي، د هغوی روح ته د ثواب بښلو له پاره خوراک وغیره ویشل څنګه دي؟ او د ثواب بښلو طریقه څه ده؟ مهرباني وکړئ او په دې مسئله باندې پوره رڼا واچوئ!

جواب: مرحومینو ته د ایصال ثواب په مسئله کې څه امور ستاسو په خدمت کې پیش کوم، تاسو به دې باندې ځان ښه پوه کړئ:

۱: د مرحومینو له پاره، څوک چې د دې دنیانه رخصت شوي دي د ژوندیو بس هم دغه یوه تحفه ده چې هغوی ته دې ثواب ورو بښي، په حدیث کې دي چې یو کس د حضور ﷺ په خدمت کې

۱] تفصیل دپاره اوګورئ: حیله ناجزه ص:۵۹، د مفقود احکام۔

۲] ایضاً تیره شوی حاشیه (وفی البحر من صام اوصلی اوتصدق وجعل ثوابه لغیره من الاموات والاحیاء جاز...الخ) اوګورئ!۔

۳] عن حفصة رضی الله عنها قالت: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: من اتی عرافاً فساله عن شیء لم یقبل له صلوة اربعین لیلة. رواه مسلم (مشکوة ص:۳۹۳ باب الکهانة، الفصل الاول)۔

حاضرشواو عرض يې وکړ چې يارسول الله ﷺ ازما د مور پلار د وفات نه وروسته هم د هغوی سره دحسن سلوک څه صورت شته؟ کوم چې زه اختيار کړم، حضور ﷺ ورته وفرمايل: هو اد هغوی له پاره دعا او استغفار کول، د هغوی نه وروسته د هغوی وصيت نافذول، او د هغوی متعلقينو سره صله رحمي کول، او د هغوی دوستانو سره په عزت ملاويدل. (ابوداود، ابن ماجه، مشکوة ص: ۴۲۰)[۱]

په يو بل حديث کې دي ديوکس د والدين مړه شول او دی په ژوند باندې د هغوی نافرمانه و، مگر د هغوی د مرګ نه وروسته د هغوی له پاره دعا، استغفار کوي، تردې پورې چې الله تعالى دی دخپل مور پلار فرمانبرداره وليکي. (بيهقی شعب الايمان، مشکوة ص: ۴۲۱)[۲]

په يو بل حديث کې دی چې: يوکس عرض وکړ يارسول الله ﷺ ازما مور وفات شوې ده، که زه د هغې د طرف نه صدقه وکړم؛ نو د هغې له پاره به مفيده وي؟ حضور ﷺ ورته وفرمايل ضرور! هغه عرض وکړ چې: زما سره باغ دی زه تاسو گواه جوړوم چې ما خپل هغه باغ د مور د طرف نه صدقه کړ. (ترمذی ص: ۱۴۵)[۳]

۲: د ايصال ثواب حقيقت دادی چې کوم نيک عمل تاسو وکړئ د هغه د کولو نه مخکې نيت وکړئ چې د دې کوم ثواب حاصل شي هغه دې الله تعالى مړي ته ورکړي، همدغه شان د يو نيک عمل د کيدو نه وروسته هم دا نيت کيدای شي او که په ژبې سره دعا وکړل شي؛ نو ښه ده.

غرض دا چې د نيک عمل کوم ثواب تاسو ته ملاويدونکی و، تاسو هغه ثواب مړي ته هبه کړئ، دا د ايصال ثواب حقيقت دی.

۳: د امام شافعي رحمه الله په نزد باندې مړي ته يوازې دعا او د صدقاتو ثواب رسيږي، د قرآن پاک د تلاوت او نورو بدني عبادتونو ثواب نه ور رسيږي، خو د جمهورو مذهب دادی چې د هر نفلي عبادت ثواب مړي ته ببښل کيدای شي، مثلاً: نفلي لمونځ، روژه، صدقه، حج، قرباني، دعا او استغفار، ذکر، تسبيح، درود شريف تلاوت د قرآن پاک وغيره. حافظ سيوطي رحمه الله ليکلي دي چې د شافعي مذهب تحقيق کونکو هم دا مسلک اختيار کړی دی،[۴] د دې وجې نه کوشش کول

۱] عن ابی اسيد الساعدی رضی الله عنه قال: بينانحن عندرسول الله صلى الله عليه وسلم اذا جاءه رجل من بنی سلمة فقال: يارسول الله (ص)! هل بقی من بر ابوی شیء ابرهما به بعدموتهما ؟قال نعم! الصلاة عليهما ،والاستغفار لهما ،وانفاذ عهدهما من بعدهما وصلة الرحم التی لاتوصل الابهما ،واكرام صديقهما (مشکوة ص: ۴۲۰ باب البر والصلة)_

۲] عن انس قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم :ان العبدليموت والداه اواحدهما وانه لهما لعاق فلايزال يدعو لهما ويستغفرلهما حتی يكتبه الله بارًا (مشکوة ص: ۴۲۱ باب البر والصلة ،طبع قديمی)_

۳] ان سعد بن عبادة توفيت امه وهو عنها غائب فقال: يارسول الله ! ان امی توفيت واناغائب عنها ،اينفعها شیء ان تصدق به عنها؟ قال: نعم !قال: فانی اشهدک ان حائطی المخراف صدقة عليها (صحيح البخاری ج: ۱ص: ۳۸۶، باب اذا قال ارضی اوبستانی صدقة عن امی فهوجائز، ايضًا :شرح الصدور ص: ۳۰۷)_

۴]صرح علمائنا فی باب الحج عن الغير بان للانسان ان يجعل ثواب عمله لغيره صلاة اوصومًا اوصدقة اوغيرهاكذافی الهداية...... هومذهب اهل السنة والجماعة لكن استثنی ....[بقيه جاشيه په راروانه صفحه....

پکاردي چې د هرقسمه عبادت ثواب دې مړوته وبښل شي،مثلاً: دقرباني په ورځو کې که تاسوسره ګنجائش وي؛ نودوفات شويو مورپلار يانورو مشرانوله طرف نه قرباني کوئ. ډېرو بزرګانو دامعمول دی چې هغوی دحضور ﷺ دطرف نه قرباني کوي،همدغه شان دنفلي لمونځ، اوروژې ثواب وربښل پکاردي.که ګنجائش وي: نودمورپلار اونورو بزرګانو له طرف نه دې نفلي حج اوعمره وکړل شي،موږ خلک څوورځې په مړي وژاړو اوډېر زربې هيرکړو. دا ډېر د بې مروتۍ خبره ده، په يوحديث کې دي چې په قبرکې دمړي مثال داسې دی، لکه چې يو کس په درياب کې ډوبيږي،هغه څلورو واړو طرفونوته ګوري،چې اياڅوک دهغه مددته راروان دی؟همدا په قبرکې مړی هم د ژونديو لهطرف نه ايصال ثواب ته په انتظارکې وي اوکله چې هغه ته دصدقې، خيرات وغيره ثواب وررسيږ نوهغه داسې خوشحاليږي، ګوياهغه ته دټولې دنيادولت ورکړل شو.[1]

۴: په صدقاتوکې دټولونه افضله صدقه چې دهغې ثواب مړي ته وبښل شي صدقه جاريه ده، مثلاً: دمړي دايصال ثواب له پاره دڅه ضرورت په ځای کې يې کوهی وکنستلو،چېرته يې جومات جوړکړ،چېرته يې په ديني مدرسه کې دحديثو،فقې کتابونه وقف کړل،دقرآن کريم نسخې يې واخيستلې اووقف يې کړې،ترڅو پورې چې دد دې شيانو څخه استفاده کيږي، مړي ته به يې پوره ثواب رسيږي،حديث کې دي چې: حضرت سعد رضي الله عنه دحضور ﷺ په خدمت کې

...بقيه د تير مخ].. مالک والشافعي العبادات البدنية المحضة كالصلاة والتلاوة فلايصل ثوابها الى الميت عندهما......الخ (شامي ج:۲ص:۲۴۳،وايضًا فى فتح القديرج:۲ ص:۳۰۸) اختلف فى وصول ثواب القراءة للميت ،فجمهور السلف والائمة الثلاثة على الوصول ،وخالف فى ذلک امامنا الشافعي مستدلاً بقوله تعالى :وان ليس للانسان الاماسعى ،واجاب الاولون عن الاية باوجه ،احدها:انها منسوخة بقوله تعالى والذين امنوا واتبعتهم ذريتهم الآية ادخل الابناء الجنة بصلاح الآباء...... الثالث ان المراد بالانسان هنا الكافر ،فاما المومن فله ماسعى وما سعى له قاله الربيع بن انس ...... واستدلواعلى الوصول بالقياس على تقدم من الدعاء والصدقة والصوم والحج والعتق فانه لافرق فى نقل الثواب بين ان يكون عن حج اوصدقة او وقف، او دعاء اوقراءة وبالاحاديث الاتى ذكرها وهى وان كانت ضعيفة فمجموعها يدل على ان لذالک اصلاً وبان المسلمين مازالوا فى كل عصر يجتمعون ويقرءون لموتاهم من غير نكير فكان ذلك اجماعاً قال القرطبي رحمه الله ...... واما القراءة على القبر، فجزم بمشروعيتها اصحابنا وغيرهم ......وقال النووى رحمه الله فى شرح المهذب : يستحب لزائر القبور ان يقرأ ماتيسر من ا لقرآن ويدعوا لهم عقبها نص عليه الشافعي واتفق عليه الاصحاب وزاد فى موضع آخر:وان ختمواالقرآن على القبركان افضل (شرح الصدور ص: ۳۱۰،۳۱۱ باب فى قراءة القرآن للميت اوعلى القبر)ـ

[1] واخرج البيهقى فى شعب الايمان والديلمى ،عن ابن عباس رضى الله عنهما قال :قال رسول الله صلى الله عليه وسلم :ماالميت فى قبره الاشبه الغريق المتغوث ينتظر دعوة تلحقه من اب اوام او ولد اوصديق ثقة ،فاذا لحقته كانت احب اليه من الدنيا وما فيها وان الله ليدخل على اهل القبور من دعاء اهل الارض امثال الجبال (شرح الصدور للسيوطى رحمه الله ص:۳۰۵ باب: ماينفع الميت فى قبره ،طبع دارالكتب العلمية بيروت)ـ

حاضرشو او عرض یې وکړ: یارسول الله ﷺ! زمامور وفات شوې ده، هغې د وفات نه مخکې وصیت ونکړې شو، زماخیال دی که هغې ته موقعه ملاوشوې وی: نوهغې به ضروروصیت کړې و، ایاکه زه د هغې له طرف نه صدقه وکړم نوهغې ته به ورسیږي؟[۱] حضور ﷺ ورته وفرمایل: ضرور، عرض یې وکړ: څه صدقه کړم؟ ویې فرمایل: اوبه بهترې دي، حضرت سعد رضی الله عنه یو کوهی ووبست او ویې ویل چې: دا د سعد د مور له پاره دی. (صحیح بخاری)[۲]

۵: د ایصال ثواب په سلسله کې داخبره هم یادساتل پکار دي چې مړي ته به هم د هغه شي ثواب رسیږي چې خالص د الله تعالی له پاره ورکړل شوي وي، په هغو کې مقصد نمود اونمائش نه وي. نه د هغو اجرت اومعاوضه اخیستل شوې وي، دلته زموږ په ځایونوکې ډیرخلک ایصال ثواب کوي مگرپه هغو کې د نمود اونمائش ملاوټ وکړي.

مثلاً: د مرحومینو د ایصال ثواب له پاره دیگونه پاخه کړي، که هغوی ته وویل شي چې: داڅومره خرچه چې ته په دې باندې کوې، همدومره غله یاپیسې یتیم مسکین ته ورکړه! نوپه دې باندې د هغوی زړه نه راضي کیږي، ځکه چې په پټه یو مسکین یتیم ته په ورکولوکې هغه نمائش نه کیږي کوم چې په دیگونوپخولوکې وي، ددې عرض کولومقصد دانه دی چې دخوراک ایصال ثواب نه رسیږي، بلکې مقصد دا دی چې کوم حضرت د ایصال ثوآب له پاره خوراک وېشي، هغوی دې د نمود اونمائش نه احتیاط وکړي. گنی هغوی ته به د ایصال ثواب مقصد حاصل نه شي.

په دې سلسله کې یوه داخبره هم یادساتل پکار دي چې ثواب به هم د هغه خوراک ملاویږي کوم چې چاغریب مسکین خوړلی وي، دلته زموږ په ځایونوکې داوي چې د مړي د ایصال ثوب له پاره کوم خوراک پوخ کړل شي، هغه د برآدرۍ خلک وخوري اوروان شي، فقیرانو او مسکینانو حصه په هغه کې ډیره کمه وي، مالدارانو خلکوته د ایصال ثواب والا خوراک خوړل پکارنه دي، ځینې عالمانو لیکلي دي چې: کوم کس د داسې خوراک په انتظارکې وي، د هغهٔ زړه تورشي، الغرض چې کوم خوراک یې په خپله په کورکې وخوړ یا دوستانورشته دارانو وخوړ، د هغې سره ایصال ثوآب نه کیږي، مړو ته به د هغه خوراک ثواب رسیږي کوم چې فقیرانوآومسکینانو

۱] عن عائشة رضی الله عنها ان رجلاً (وفی روایة سعدبن عبادة)قال للنبی صلی الله علسه وسلم :ان امی افتلتت نفسها واراها لوتکلمت تصدقت افا تصدق عنها ؟قال :نعم تصدق عنها (صحیح البخاری ج:۱ ص:۱۶۹،۳۸۶،باب مایستحب لمن توفی فجاءة ان یتصدقوا عنه) (وفی روایة ابن عباس رضی الله عنهما) ان سعد بن عبادة رضی الله عنه اخابنی ساعدة توفیت امه وهوعنها غائب فاتی النبی صلی الله علیه وسلم فقال :یارسول الله! ان امی توفیت وانا غائب عنها فهل ینفعها شیء ان تصدقت به عنها ؟ قال :نعم ! (صحیح البخاری ج:۱ ص۳۸۷، مشکوٰة ص:۱۶۹)_

۲] واخرج احمد والاربعة ،عن سعدبن عبادة قال : یارسول الله ! ان امی ماتت فای الصدقة افضل ؟قال : الماء :فحفر بئرًا وقال هذه لام سعد_ (شرح الصدور للسیوطی رحمه الله ص:۳۰۷،باب ماینفع المیت فی قبره)

خوړلیْ وي او په څه باندې چې خیرات کونکي څه قسمه معاوضه نه وي اخیستې او نه رڅخه مطلوب نمود او نمائش وي.

آیا د ثواب ببنلو نه وروسته هغه سره څه پاتې کیږي؟

سوال: زه د قرآن کریم ختم کوم او ثواب یې حضور ﷺ او د خپل خاندان مړو او مسلمان امت ته وربښم، نو آیا په دې ثواب کې زما برخه نشته؟ یو صاحب فرمایي چې کوم څه تا ولوستل او نورو ته دې ورکړل او س ستاله پاره په کې څه دي؟

جواب: د ضابطې معامله هماغسې کیدل پکاردي څنګه چې دا صاحب فرمایي، خو د الله تعالی سره یوازې د ضابطی معامله نه کیږي، بلکې د فضل او کرم او انعام او احسان معامله کیږي، له دې وجې ثواب بښونکي ته هم پوره پوره اجراو ثواب ملاویږي، بلکې د هغه نه هم زیات.[1]

ایصال ثواب ثابت دی او بښونکي ته هم ثواب ملاویږي

سوال: د تلاوت کلام پاک نه وروسته ثواب د حضور ﷺ نه واخله ترټولو مسلمانانو سړیو او ښځوته بښم، هره ورځ او د هر تلاوت نه وروسته هم د غه شان ثواب بښل د خپل ذخیره آخرت او سبب رحمت خداوندي د حاصلولو له پاره مناسب دي او که نه؟ ځکه چې ما اوریدلي دي چې د غه شان خپله لمن خالي پاتې کیږي او چاته چې یې ثواب وروبانښه هغه ته هم ورسیږي.

جواب: اول زه هم د دې قائل وم، چې د ایصال ثواب کولو نه وروسته بښونکي ته هیڅ نه ملاویږي، خو دوه حدیثونه او یو فقهي عبارت چادوست راولیږه چې د هغه نه معلومه شوه چې د ایصال ثواب سره اجر ملاویږي او هغه دا دی: **,,من مر على المقابر فقرا فيها احدى عشرة مرة قل هوالله احد ثم وهب اجره للاموات اعطى من اجر بعدد الاموات،،** (الرافعی، عن علی، کنز العمال ج:۱۵ ص:۶۵۵ حدیث:۴۲۵۹۵، اتحاف ج:۱۰ ص:۳۷۱)

ترجمه: کوم کس چې په قبرستان تیرشو او په قبرستان کې یې یولس ځله قل هوالله شریف ولوسته او د هغې ثواب یې مړوته وبانښه؛ نو هغه ته به د مړو د تعداد برابر ثواب ورکړل شي.،،

,,من حج عن ابيه او امه فقد قضى عنه حجته وكان له فضل عشر حجج.،،
(دارقطنی، عن جابر، فیض القدیر ج:۶ ص:۱۱۶)

---

۱ [1] الافضل لمن يتصدق نفلا ان ينوى لجميع المومنين والمومنات لانها تصل اليهم ولاينقص من اجره شیء .....الخ (شامی ج:۲ ص:۲٤۳) ۰ ایضًا :واخرج ایضا عن ابن عمر رضی الله عنهما قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: اذا تصدق احدکم بصدقة تطوعًا فلیجعلها عن ابویه ، فیکون لها اجرها ولاینتقص من اجره شیئًا ۰ ایضًا :واخرج فی الاوسط عن ابی هریرة رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم :من حج عن میت فللذی حج عنه مثل اجره (شرح الصدور ض:۳۰۸، ۳۰۹)_

ترجمه: کوم کس چې د خپل پلار یا مور له طرف نه حج وکړ، هغه د مرحوم حج ادا کړ، هغه ته به د لسو حجو ثواب ورکول کیږي.

(دا دواړه حدیثونه ضعیف دي او په دویم حدیث کې یو راوی ډیر زیات ضعیف دی)

,,وقدمنا فی الزکوة عن التاترخانية عن المحيط الافضل لمن يتصدق نفلا ان ينوى لجميع المومنين والمومنات لانها تصل اليهم ولاينقص من اجره شيئا.،،(شامی ج:۲ ص:۵۹۵)

ترجمه: اومونږ په کتاب الزکوة کې د (تاتارخانیه) په حوالې سره د محیط نه نقل کړي دي چې کوم کس نفلي صدقه وکړي د هغه له پاره افضل دادي چې د ټولو مومنانو سړو او ښځو د طرف نه د صدقې نیت وکړي، دا صدقه به ټولو ته ورسیږي او د هغه په اجر کې به هیڅ کمی نه کیږي.،،

د فرض لمونځ ثواب چاته ورکول

سوال: زما والد وفات شو د ډیر مخکې نه زه تقریباً دوه دونیم کالو نه څلور وخته لمونځگذار یم خو د سحر لمونځ زه کله کله کوم اوس یوې نیمې میاشتې نه د سحر لمونځ د جماعت سره کوم، د الله کرم دی، مسئله دا ده چې کله زه مور د لمونځ د پاره پاڅوم نو هغه پاځي لیکن بیا خوب ورځي چې د هغې په وجه کله د هغې لمونځ قضاء کیږي او زه د جماعت سره لمونځ کوم، کله چې کور ته راشم نو معلومه شي چې مور مې ویده ده، داسې کله کله کیږي، آیا زه خپل ثواب مور ته او باقي نور کور والو ته ورکولی شم؟ او د دې لمونځونو د نه کولو گناه د خپل ځان د پاسه اخیستلی شم؟ که چیرې داسې ممکن وي نو آیا کیدای شی؟ باقي زمونږه په کور کې ټول څلور وخته لمونځ گذار دي.

جواب: د فرض لمونځ ثواب چاته نه شئ ورکولی[1] او نه د چا گناه په خپله ذمه اخستلی شئ[2]

د نفلي اعمالو ثوابونه

سوال: دا معلومه ده چې د الله تعالي خزانې ډکې دي، په هغو کې هیڅ کمی نه راځي او جنت د ټولو جنتیانو د داخلیدو نه وروسته بیا هم خالي پاتې کیږي، او بل دا چې یو بنده په یو غم او مصیبت باندې (انا لله وانا الیه راجعون) وایي کوم ثواب چې هغه ته په اول ځل ویلو ورکول کیږي، که چیرې هغه زر ځله دا غم یاد کړي او دا کلمات ووایي؛ نو د غه اجر به ده ته په هر ځل ملاویږي.

حضرت جي (رحمه الله علیه) په فرمایل چې د انسان په عملونو باندې بیا بیا انعامونه او مزید انعامونه په جنت کې ملاویږي که چیرې یو عمل یې د الله په نزد مقبول شو نو په دې به همیشه

[1] (وعلى القول الاول) لايصح اهداء الواجبات لان العامل ينوى القربة بها عن نفسه(ردالمحتارج:۲ص:۲۴۳)
[2] ولاتزر وازرة وزر اخرى (الانعام ۱۶۴)

د پاره جنتونه او نعمتونه ملاویږي او بل دا چې زمونږه په مشائخو کې غالباً د حضرت تهانوي (رحمه الله) ارشاد و چې.که چیرې یو سړی د یو قرآن پاک ثواب د پوره امت افرادو ته وبښي؛ نو هر هر کس ته به د پوره پوره قرآن ثواب ملاویږي.لهذا یو سړی که چیرې په الله تعالي باندې نیک گمان وکړي، د بالغ کیدو نه وروسته مستحب عملونه تلاوت صدقې چې ده کړې وي ددې ټولو مجموعه ثواب ټولو پیغمبرانو، ټولو صدیقینو، اولیاوو او ټولو مسلمانانو سړیو او ښځو ته او مؤمنانو سړیو او ښځو ته رسوي؛ نو روزانه دې ددې ټولو مجموعي اجر او ثواب بیا بیا ددوی روحونو ته رسوي؛ نو آیا دا ممکن دي او څه بعیده خبره خو نه ده؟

جواب: د نفلي عملونو ثواب ښنلی شي، په دې کې هیڅ اشکال نشته.[1]

ټول امت ته دایصال ثواب طریقه

سوال: د حضور ﷺ له پاره دایصال ثواب الفاظ تاسولیکلي دي، نوروحضراتوته دایصال ثواب کولومناسب الفاظ ولیکئ!

جواب: یاالله! ددې ثواب زماحضرت محمد ﷺ ته،اودهغوی په طفیل سره زمامورااوپلارته، استاذانو او بزرگانوته ،خپلو خپلوانوته، عزیزانو او اقرباوو ته، یارانو دوستانو ته، زما ټولو محسنینو او متعلقینو ته اودحضور ﷺ تمام امت ته عطاکړه».[2]

دایصال ثواب طریقه ، او داچې درود شریف په ملاسته ویل هم جائزدي

سوال: زما روزانه معمول کې دقرآن پاک په تلاوت کې سورت یاسین هم شامل دی .که زه روزانه سورت یاسین ولولم او حضور ﷺ ته یې وروبښم نوداکار څنگه دی؟ ځکه چې ماته دا خبره معلومه نه ده چې څه څه عملونه ایصال ثواب کیدای شي؟ نورداچې که درودشریف ولوستل شي ؛نوهماغه شان پریښودل شي اوکه حضور ﷺ ته یې ښنل ضروري دي؟اوپه ملاسته درودشریف لوستلی شواوکه نه؟ دایصال ثواب په باره کې یوسوال دادی چې نفلي لمونځ، روژه،حج وغیره څنگه ښنل کیږي؟ ما دچانه اوریدلي دي چې نیت یې وکړاونفلي لمونځ یې اداکړ اوروسته یې وویل چې ددې نفلوثواب دې فلانې ته ورسیږي،خو که طریقه راته تاسووښایئ نوزۀ به ستاسو ډیر زیات شکرگزاریم.

---

[1] وفي البحر :من صام اوصلى اوتصدق وجعل ثوابه لغيره من الاموات والاحياء جاز ويصل ثوابها اليهم.عند اهل السنة والجماعة كذافي البدائع (ردالمحتار.ج:۲ص:۲۴۳،مطلب في القراءة للميت واهداء ثوابها له)

[2] ولهذا اختاروا في الدعاء اللهم اوصل مثل ثواب ماقرأته الى فلان ......الخ (شامي ج:۲ص:۲۴۳)،ايضاً وقوله علمائنا له ان يجعل ثواب عمله لغيره يدخل فيه النبي.صلى الله عليه وسلم فانه احق بذلك ......الخ (شامي ج:۲ص:۲۴۴)_

جواب: دلمونځ اونفلي عبادتونو ایصال ثواب جائزدی[۱] اوحضور ﷺ ته هم ثواب بښل کیدای شي. دایصال ثواب طریقه تاسوصحیح لیکلې ده، یعنې دنیک عمل نه وروسته دې دعاوکړل شي چې یاالله! زمادا عمل قبول کړه اوددې ثواب فلاني ته ورکړه[۲] درودشریف په ادب اواحترام سره لوستل پکاردي که څوک ملاست وي اودهغه وخت نه فائده اخلي اوپه ملاسته درودشریف لولي نوداهم جائزدي.[۳]

ژوندیوته هم ایصال ثواب کول جائزدي

سوال: ایاځنګه چې مړي ته قرآن مجیدلوستلوسره ثواب بښل کیږي، همدغه شان که یوکس خپلو ژوندیوموریلارته دقرآن پاک دختم ثواب وبښي؛ نوهغوی ته به ددې ثواب ورکول کیږي؟اوآیاهغه داسې کولی شي؟

جواب: ژوندیوخلکوته ایصال ثواب کیدای شي،مړوته دایصال ثواب اهتمام ددې وجې نه کیږي چې هغوی په خپله دعمل کولونه قاصردي،ددې مثال داسې دی چې ته برسرروزګارته څه هدیه ورولیږې، هغه ته هم رسیږي،مګرزیاتر هغوخلکوته دورکولواهتمام کیږی چې په خپله دګټې کولو نه معذوره وي.[۴]

د خښولو نه مخکې ایصال ثواب صحیح دی

سوال: یوکس چې زمونږ رشته دار و،په مدینه شریفه کې وفات شو،دهغه لاش حکومت په هسپتال کې ستهورکړ،چې کله ددې کس وارث راشي نووربه یې کړو،ددې کس وارث دلته په سعودي عرب کې هیڅوک نشته.دکفیل په ذریعه که لاش پاکستان ته اولیږي نوهم پکې تقریبایوه میاشت به ولګیږي،دهغه دمرګ نه تقریبا پنځه ورځې پس مونږ خلکودهغه فاتحه ولوستله، مګر زمونږ دجومات یوامام چې حافظ قرآن هم دی هغه وویل چې فاتحه لوستل پکارنه دي،څکه چې ترڅوپورې جنازه شوې نه وي فاتحه لوستل پکارنه دي، په دې باره کې موږوه کړئ چې ایا داصحیح دي؟

جواب: ایصال ثواب چې له مرګ نه وورسته کله هم وکړل شي صحیح دی، ددې مړیوپاکستان

---

۱ [صرح علمائنا فی باب الحج عن الغیر بان للانسان ان یجعل ثواب عمله لغیره صلاة اوصومًا اوصدقة اوغیرها کذافی الهدایة (شامی ج:۲ص:۲۴۳)۔

۲ [ایضًا)۔

۳ [ولاباس بالتسبیح والتهلیل مضطجعًا وکذا بالصلاة علی النبی علیه الصلاة والسلام (قاضی خان علی هامش الهندیة ج:۱ص:۱۶۲،مسائل کیفیة القراءة ومایکره فیها ویستحب ،طبع رشیدیه)۔

۴ [تیره شوی حاشیه (ولی البحر من صام اوصلی اوتصدق وجعل ثوابه لغیره من الاموات والاحیاء جاز ویصل ثوابها الیهم عند اهل السنة والجماعة....الخ) اوګوری)۔

ته رالیږلو تکلیف ولې کیږي؟ د غسل، کفن او جنازې دلمونځ نه وروسته یې همله ته خښول پکار دي[۱]. ستاسو حافظ صاحب چې څه ویلي دي چې ترڅو پورې مړی دفن شوی نه وي، د هغه له پاره دې ایصال ثواب نه کیږي، غلطه ده.[۲]

د ایصال ثواب له پاره د څه خاص شي صدقه کول ضروري نه دي

سوال: ستاسونه مې دیوې مسئلې پوښتنه کوله چې زما خاوند وفات شوی دی،نن سباعام طورسره دخوراک نه علاوه دمرحوم له پاره جامې، بستره،جای نماز،لوټه او داسې نور ... ټول دضرورت شیان چا ضرورت مندته ورکول کیږي، تاسوراته ووایئ چې آیا دا صحیح دي؟ اوایا واقعي ددې ټولو شیانوثواب هغوی ته رسیږي؟ددې نه علاوه څه بله طریقه هم راته وښایئ چې زما خاوند ته زیات نه زیات ثواب ورسیږي،که ددې شیانو په ځای هم دومره قیمت پیسې ورکړل شي؛ نو آیا اجربه ورته ملاویږي؟ اوایا دسړي په ځای ښځې ته ورکول کیدای شي؟جواب راته زرترزره راکړئ!

جواب: دایصال ثواب له پاره دڅه خاص شي(جامې، بسترې، جانماز،لوټه وغیره) صدقه کولو هیڅ ضرورت نشته،بلکې که ددې شیانو مالیت صدقه کړل شي؛نوهم به ورته هغومره ثواب رسیږي، هم دغه شان په ښځه سړي کې تخصیص نشته،بلکه کوم محتاج ته چې هم ورکړل شي په ثواب کې به یې څه کمی زیاتی نه کیږي[۳]هو! نیک او دیندارته ورکولو کې زیات ثواب دی.[۴]

د نیا ته د ښودنې له پاره دخوراک ورکولو مړي ته هیڅ ثواب نه رسیږي

سوال: په ضلع مانسهره اودصوبه سرحدپه کلي واله علاقه کې کله چې څوک بنده وفات شي؛ نو دهغه دوفات په ورځ لس دولس زره روپۍ داسې خیرات کیږي چې وریژې،خالص (کورني) غوړي ، چیني (بوره) اوغوښه واخیستل شي اوبه عامو خلکوباندې وخوړل شي،ځینې کسان خپل جائدادونه ګانه کړي اوددې خیرات اهتمام کوي اودهغه ځای عالمان یې هم په باقاعدګۍ سره خوري، منع کونکي ته ډیردنفرت په نظرسره کتل کیږي.

۱]قوله ولاباس بنقله قبل دفنه قیل مطلقًا وقیل الی مادون مدة السفر وقیده محمد بقدر میل اومیلین ....فیکره فیما زاد ......الخ (شامی ج:۲ ص:۲۳۹ ،مطلب فی دفن المیت ،طبع ایچ ایم سعید)۔

۲] وفی البحر :من صام اوصلی اوتصدق وجعل ثوابه لغیره من الاموات والاحیاء جاز ویصل ثوابها الیهم عنداهل السنة والجماعة کذافی البدائع ثم قال وبهذا علم انه لافرق بین ان یکون المجعول له میتا اوحیا......الخ (شامی ج:۲ص:۲۴۳)۔

۳]ایضًا)۔

۴] التصدق علی الفقیر العالم افضل من التصدق علی الجاهل ......الخ (هندیة ،باب المصارف ص:۱۸۷)۔

جواب: د مرحوم له پاره ایصال ثواب خو ډیره ښه خبره ده، خو د دې طریقه داده چې څومره روپۍ په ایصال ثواب باندې خرچ کیږي، هغه دې په پټه چامحتاج ته ورکړل شي یا په یوه دیني مدرسه کې دې ورکړل شي[1]، په برادرۍ باندې خوراک خوړل بطور رسم دنیا ته د ښودنې له پاره وي، له دې وجې د دې ثواب مړي ته نه رسیږي.[2]

د قرباني په ذریعه ایصال ثواب

سوال: د خپل طرف نه نفلي قرباني کول او ایصال ثواب کیږي یا د مړي د طرف نه قرباني کول او ایصال ثواب وکړل شي؟

جواب: که چیرې په خپله پرې قرباني واجب وي؛ نو په هر حال کې دې وکړي، که نور ګنجائش ورسره وي؛ نو د مړي د طرف نه دې هم وکړي. والله اعلم![3]

دایصال ثواب له پاره کېناستل او خوراک ورکول

سوال: څلور زیارته جدا جدا، د ښځو او سړیو ناسته دایصال ثواب له پاره کیږي، بیا خوراک هم خوړل
کیږي، بیا په څلویښتې کې صاحب مال شرکت کوي.

جواب: دایصال ثواب له پاره ناسته فقهاو مکروه لیکلې ده، د دې وجې نه دې هر کس د خپل خپل طرف نه ایصال ثواب وکړي، د دې مقصد له پاره راغونډیدل پکار نه دي[4] دایصال ثواب له پاره په فقیرانو او مسکینانو باندې خوراک خوړلو کې هیڅ نقصان نشته، مګر د دې له پاره شرط دادی چې د مړي بالغ وارثان خپل مال پرې وخوري.[5]

آیا چې تر څو پورې خوراک و نه خوړل شي د مړي خوله خلاصه پاتې وي؟

سوال: اوریدلې او لوستلې مې دي چې دانسان د مرګ نه وروسته د دنیا سره تعلق ختم شي، نو

۱]وفی التطوعات الافضل هوالاخفاء والاسرار ......الخ (عالمگیریة ج:۱ص:۱۷۱)۔

۲] ویکره اتخاذ الضیافة من الطعام من اهل المیت لانه شرع فی السرور لاف الشرور وهی بدعة مستقبحة ......وبعد اسطر ......وهذه الافعال کلهاللسمعة والریاء فیحترز عنها ،لانهم لایریدون بها وجه الله تعالی ......الخ (شامی ج:۲ص:۲۴۰،۲۴۱،مطلب فی کراهة الضیافة من اهل المیت ،طبع ایچ ایم سعید)۔

۳] وفی البحر :من صام اوصلی اوتصدق وجعل ثوابه لغیره من الاموات والاحیاء جاز (ردالمحتار ج:۲ص:۲۴۳، مطلب فی القراءة للمیت واهداء ثوابها له)

۴]ویکره اتخاذ الطعام فی الیوم الاول والثالث وبعد الاسبوع ......واتخاذ الدعوة لقراءة القرآن وجمع الصلحاء ......الخ (شامی ج:۲ ص:۲۴۰ مطلب فی کراهة الضیافة من اهل المیت)۔

۵] وان اتخذ طعاما للفقراء کان حسنا اذا کانت الورثة بالغین فان کان فی الورثة صغیر لم یتخذوا ذلک من الترکة کذا فی التتارخانیة (هندیة ج:۵ص:۳۴۴)۔

دهغه له پاره ددعا ضرورت دی،مګرځینې خلک وايي چې په حدیث کې راغلي دي چې ترخوپورې په خلکو خوراک ونه خوړل شي دمړي خوله په قبرکې خلاصه وي.

جواب: دمړودايصال ثواب له پاره صدقه اوخيرات کول ډيره ښه خبره ده،يوازې خوراک خوړل څه ضروري نه دي[1]اودمړي خوله خلاصه پاتې کيدوخبره مې په لومړي ځل ستاپه خط کې اولوستله، ددې مخکې مې نه په څه کتاب کې ليدلې ده اونه مې اوريدلې ده.

ختم کول بدعت دي خو فقيرانو با ندې خوراک خوړل د ثواب کار دی

سوال: .دختم شريف شرعي حيثيت څه دی؟ځينې حضرات ختم خيرات کوي،خو په خوراک کې اکثر مالداران وي چرته چې په زيات تعدادکې اميران وي، هلته دخيرات طريقه کارڅه پکار دی؟ چونکې ځينې حضرات يې له دې وجې نه جائزنه ګڼي چې خيرات خوړل د مسکينانو حق دی، خو اکثرخلک ددې سره اتفاق نه کوي.

جواب: دختم رواج بدعت دی،کوم خوراک چې په فقيرانو وخوړل شي دهغه به ورته ثواب ملاوېږي اوکومه يې چې په خپله باندې وخوړله هغه يې وخوړله،کومه يې چې په يارانو دوستانو باندې وخوړله هغه دعوت شو.[2]

تلاوت قرآن پاک سره ايصال ثواب کول

سوال: دايصال ثواب په سلسله کې چې کومې عامې طريقې رائج دي مثلاً قرآن کريم لوستل او ايصال ثواب کول، وغيره په کتاب الله کې چرته هم ددې حکم نه دی ورکړل شوی، داعقلي خبره نه ده بلکې نقلي ده.

جواب: دجناب داخبره بالکل رښتياده،چې دايصال ثواب خبره عقلي نه ، بلکې نقلي ده، په قرآن کريم کې دمومنانوسرېيو اومومنانو ښځو له پاره ددعااواستغفارذکريه ډيرځايونوکې راغلی دی،چې دهغې نه داواضح کيږي چې ديومومن دبل مومن له پاره دعااواستغفارکول مفيددي،ګڼي په قرآن کريم کې به ددې درغبت ذکرنه کيده [3]اوپه صحيح احاديثوکې

۱]الافضل لمن يتصدق نفلا ان ينوى لجميع المومنين والمومنات لانها تصل اليهم ولاينقص من اجره شيء ......الخ (شامى ج:۲ص:۲٤۳،مطلب فى القراءة للميت واهداء ثوابها له)_

۲]ويكره......واتخاذ الدعوة لقراءة القرآن وجمع الصلحاء والقراء للختم .....الخ (شامى ج:۲ص:۲٤۰)

۳]اختلف فى وصول ثواب القراءة للميت، فجمهور السلف والائمة _والثلاثة _على الوصول ،وخالف فى ذلک امامنا الشافعى مستدلاً بقوله تعالى :وان ليس للانسان الاماسعى ،واجاب الاولون عن الاية باوجه، احدها: انها منسوخة بقوله تعالى :والذين امنوا واتبعتهم ذريتهم الاية ادخل الابناء الجنة بصلاح الاباء ...... الثالث ان المراد بالانسان هنا الكافر ،فاماالموٴمن فله ماسعى وماسعى له قاله الربيع بن انس (شرح الصدورص:۳۱۰) قال تعالى:رب اغفرلى ولوالدىّ ولمن دخل بيتى مؤمنا....[بقيه حاشيه په راروانه صفحه....

دحضور ﷺ نه د نورو اعمالوسره ایصال ثواب هم نقل دی[1] اودقرآن کریم دایصال ثواب بطورخاص ذکر شوی دی. موږ هم ددې ایصال ثواب قایل یو، کوم چې دقرآن حدیث اودامت دبزرګانونه ثابت دی[2] اوکومې نوې طریقې چې خلکوایجادکړې دي، دهغو ماپه خپله هم تردید کړی دی.

مړي ته د قرآن خواني د ثواب رسولوصحیح طریقه

سوال: دچادمرګ نه وروسته مرحوم ته دثواب رسولوله پاره قرآن خواني کول درست دي؟

جواب: حافظ سیوطي رحمه الله په ,,شرح الصدور،، کې لیکلي دي چې: دجمهوروسلف اوائمه ثلاثه وو (امام ابوحنیفه رحمه الله، امام مالک رحمه الله، اوامام احمد) په نزدمړي ته دتلات قرآن پاک ثواب رسیږي، خو په دې مسئله کې زموږ دامام شافعي رحمه الله سره اختلاف دی.[3]

هغه دامام قرطبي رحمه الله په حوالې سره لیکلي دي چې: شیخ عزالدین بن عبدالسلام به فتوی ورکوله چې مړي ته دقرآن پاک دتلاوت ثواب نه رسیږي، کله چې هغه وفات شو؛ نو یو شاګرد هغه په خوب کې ولیده، اودهغه نه یې پوښتنه وکړه چې تاسو به ژوندکې دافتوی ورکوله. اوس خوبه دې مشاهده شوې وي اوس دې څه رایه ده؟ ویې فرمایل چې: ما به په دنیاکې فتوی ورکوله ؛خو دلته چې راغلم اودالله تعالی دکرم مشاهده مې وکړه، نوددې فتوی نه مې رجوع وکړه، مړي ته دقرآن پاک دتلاوت ثواب رسیږي[4].، امام محي الدین نووي شافعي رحمه الله په (شرح المهذب ،، (ج: ۵ ص: ۳۱۱) کې لیکلي دي چې: دقبر زیارت کونکوله پاره مستحب ده چې ځومره کیدای شي دقرآن کریم تلاوت دې وکړي، ددې نه وروسته دې داهل قبوروله پاره دعا

...بقیه د تیر مخ]..وللمؤمنین والمؤمنٰت، ولا تزد الظّلمین الا تباراً.(نوح:۲۸) وقال تعالی: ربنا اغفرلنا ولاخواننا الذین سبقونا بالایمان (الحشر ۱۰)۔

۱]عن عطاء وزیدبن اسلم قالا:جاء رجل الی النبی صلیٰ الله علیه وسلم فقال :یارسول الله !اعتق عن ابی وقد مات؟قال نعم !(شرح الصدور ص:۳۰۹) (واخرج احمدوالاربعة عن سعدبن عبادة انه قال :یارسول الله !ان امی ماتت ،فای الصدقة افضل ؟قال :الماء ! فحفر بئراً وقال :هذه لام سعد (شرح الصدور ص:۳۰۷)۔

۲] عن معقل بن یسار رضی الله عنه قال:قال رسول الله صلی الله علیه وسلم :اقروا سورة یس علی موتاکم ۰رواه احمد وابوداود وابن ماجة (مشکوة ج:۱ص:۱۴۱)۰وایضًا قوله ویقرأ یس لماورد من دخل المقابرفقراء یس خفف الله عنهم یومئذ فکان له بعددمن فیها حسنات بحز ......الخ (شامی :۲ص:۲۴۳)۔

۳] فجمهور السلف والائمة الثلاثة علی الوصول وخالف فی ذلک امامنا الشافعی (شرح الصدور ص:۳۱۰، طبع دارالکتب العلمیة بیروت ،باب فی قراءة القرآن للمیت اوعلی القبر)۔

٤] قال القرطبی :وقد کان الشیخ عزالدین بن عبدالسلام یفتی بانه لایصل الی المیت ثواب مایقرأ له فلما توفی رآه بعض اصحابه فقال له :انک کنت تقول انه لایصل الی المیت ثواب مایقرأ ویهدی الیه فکیف الامر ؟قال :لاکنت اقول ذلک فی دار الدنیا والان فقد رجعت عنه لما رایت من کرم الله فی ذلک (شرح الصدور ص:۳۱۱طبع دارالکتب العلمیة بیروت ،باب فی قراءة القرآن للمیت اوعلی القبر)۔

وکړي،امام شافعي رحمه الله د دې تصريح کړې ده اوزمونږ اصحاب متفق دي[۱] ، ،دحنفيه ، مالکيه او حنابله وو په کتابونوکې دايصال ثواب تصريحات موجود دي،دد ې وجې نه دمړي دايصال ثواب له پاره قرآن خواني کول خوبيشکه درست دي،خو په دې کې دڅوکارونوخيال ساتل ضروري دي:

اول.....داچې کوم خلک هم په قرآن خواني کې شريک وي، دهغوی مقصديوازې دالله تعالی رضا وي، هغوی دمړي والودشرم نه يا د ښودنې نه مجبوره نه وي اوپه نه شريکيدونکودې ملامتيا نه کوي، بلکې انفرادي تلاوت تهدې په اجتماعي قرآن خواني باندې ترجيح ورکړي ،ځکه چې په دې کې اخلاص زيات وي.

دوم.....داچې دقرآن کريم تلاوت دې صحيح وکړل شي،غلط دې نه لوستل کيږي،ګني دد ې حديث په شان به وي چې ډيردقرآن لوستونکي داسې دي چې قرآن په هغوی باندې لعنت کوي، ،

دريم.....داچې قرآن خواني دې په څه معاوضه باندې نه وي،ګني دقرآن لوستونکوته به هم څه ملاونه شي؛ نومړي ته به څه ثواب ورسيږي، زمونږ فقهاوو وضاحت کړی دی چې دقرآن خواني له پاره دعوت کول اودصالحانواوقاريانوته دختم له پاره يادسورت انعام اوسوره اخلاص دتلاوت له پاره راجمع کول مکروه دي.[۲]

د قرآن خوانۍ په دوران کې غلط کارونه او وبال يې

سوال: په قرآن خواني کې څه کسان داسې وي چې هغوی لوستل نه شي کولی،هغوی دشرم له وجې سيپاره واخلي اوکښېني اوکله چې خلک پارې کيږدي؛ نوهغه خلک هم خپلې سيپارې په هغه لوستلو شويوسيپاروکې کيږدي ياڅه کسان صحيح لوستلی نه شي اوپه بيړه کې صحيح تلفظ نه شي کولی يا څه لولي اوڅه پريږدي، نوددې ګناه به په قرآن خواني کونکو وي ياپه لوستونکي ياپه دواړو؟

۱]ويستحب للزائر ان يسلم على المقابر......ويستحب ان يقرأ القرآن ماتيسر ويدعوا لهم عقبهانص عليه الشافعي واتفق عليه الاصحاب (شرح المهذب ج:۵ص:۳۱۱طبع بيروت)_

۲] ويكره اتخاذ الطعام فى اليوم الاول ....و اتخاذ الدعوة بقراءة القرآن و جمع الصلحاء و القراء للختم او لقراءة سورة الانعام او الاخلاص (فتاوى بزازية على هامش الهندية ج:٤ ص:٨١، ايضًا شامى ج:۲ص:۲٤۰)_

جواب: څوک چې دنه لوستلو باوجود دا ظاهروي چې هغوی ولوست هغه ګناهګار دی، همدغه شان څوک چې غلط لولي هغوی هم ګناه ګاردي اوقرآن خواني کونکی، د دې ګناه سبب جوړشوی دی د دې وجی نه هغه هم په دې ګناه کې شریک دی.

د چا په مرګ باندې د رشتدارا نو قرآن خواني کول

سوال: د هفتې په ورځ په اخبار جهان کې یو سوال شائع شوی و؛ س: د یو سړي د وفات نه وروسته مختلف خلق رابلل کیږي چې هغوي قرآن خواني کوي آیا ددې اجر او ثواب وفات شوي سړي ته رسیږي؟ او آیا داسې رسم او رواج د اسلام مطابق دی؟ د هغه جواب ورکړل شوی و، ، ج: د قرآن شریف د تلاوت ثواب هغه سړي ته ملاویږي چا چې تلاوت کړی دی، هغه که چیرې په خپله خوشحالي سره بل چاته ثواب رسول غواړي نو رسولې یې شي.
مختلف خلک رابلل او د قرآن خواني کولو په ځای بهتره طریقه دا ده چې څومره قرآن په خپله لوستلی شي؛ نو ددې ثواب دې مرحوم عزیز ته ورسوي او د رسم او د رواج په چکر کې دې نه پریوځي، په دې سلسله کې عرض دادی چې د وفات شوي عزیز ډیر نژدې رشته دار مثلاً تره، ماما، د ترور، دترور خاوند او دوست وغیره چې کوم په مختلفو ځایونو کې وي اوپه دې ځای باندې یوځای کیږي او د جنازې نه وروسته خپل کور ته واپس ځي، دا ټول سړي د وفات شوي سړي ته قرآن خواني کول غواړي، که چیرې دا ټول سړي د وفات شوي سړي کور ته راځي او قرآن خواني کوي او څه قسمه خوږ شی تقسیم نه کړي او د عاء نه وروسته رخصت شي نو آیا دا طریقه اختیارول صحیح ده؟

جواب: دلته دوه مسئلې دي: اول دا چې قرآن کریم ولوستل شي او ددې ثواب چاته وبښل شي نو دا جائز دي اوکه نه؟ او دا رسیږي او که نه؟ په دې کې د امامانو اختلاف دی، زمونږ د امام ابوحنیفه رحمه الله په نزد د ټولو عبادتونو ثواب رسیږي په دې شرط چې په اخلاص باندې وشي اودامام شافعي رحمه الله په نزدعبادات قولیه ثواب مثلاً تلاوت وغیره ددې ثواب نه رسیږي.[1]
دویمه مسئله دا ده چې د خپل طرف نه سړی خپلو مشرانو، متعلقینو او دوستانو ته د ثواب رسولو اهتمام کوي، او نور حضرات که دغه وخت جمع شي نو بغیر د اهتمام نه هغوي هم لولي خود قرآن خواني له پاره هیڅ وخت مقرر نه دی او په دې باندې خلک رابلل، شریعت

[1] صرح علماؤنا فی باب الحج عن الغیر بان للانسان ان یجعل ثواب عمله لغیره صلاة او صوما اوصدقة او غیرها کذا فی الهدایة ...لکن استثنی مالک والشافعی العبادات البدنیة المحضة کالصلاة والتلاوة فلایصل ثوابها الی المیت عندهما بخلاف غیرها کالصدقة والحج (شامی ج:۲ص:۲۴۳ مطلب فی القراءة للمیت واهداء ثوابها له)

ددې اجازت نه دی ورکړی او کوم شی چې د شریعت نه ثابت نه وي، هغه د خپل طرف نه شروع کول صحیح نه دي، والله اعلم بالصواب[۱].

د عباداتو ایصال ثواب

سوال: قرآن پاک یا نعتونه وغیره ویل ددې ایصال ثواب د مړي له پاره دحدیثونونه ثابت دي؟

جواب: عبادات مالیه او دعا او استغفار سره ایصال ثواب متفق علیه دی، دقرآن د تلاوت په باره کې د امام شافعي رحمه الله اختلاف منقول دی، د حافظ سیوطي رحمه الله د ،،شرح صدور ،، نه نقل کړي دي چې د شوافعو په نزد هم راجح دادی چې د تلاوت ثواب رسیږي او بل دا چې په دې باندې د امام نووي رحمه الله شرح مهذب (جلد ۵ صفحه : ۳۱۱) نه نقل کړي دي چې : د قبر د زیارت کونکو ته مستحب دادي چې څومره هم کیدلی شي: نو د قرآن تلاوت دې وکړي، ددې نه وروسته دې د قبرونو والو له پاره دعا وکړي، امام شافعي رحمه الله ددې تصریح کړې ده او په دې باندې زموږ اصحاب متفق دي[۲].

د څلورو مذهبونو د اتفاق کولو نه وروسته نورو دلیلونو ضرورت نه پاتې کیږي، ابوداود صفحه:۵۹۲ کې د (باب في ذکر البصرة) لاندې د حضرت ابوهریرة رضي الله عنه ارشاد نقل کړی دی چې په تاسو کې څوک دې ماته ددې ضمانت راکړي چې هغه زما له پاره په مسجد عشاء کې دوه یا څلور رکعته لمونځ وکړي چې دا د ابوهریره له پاره دي[۳] په دې سره د نفلونو په ایصال ثواب باندې استدلال کیدلی شي، هسې خو جمهور امامان ددې په صحیح کیدو باندې قایل دي.

په قرآن خواني کې نالوسته سپارې لوستل شو یو سپارو سره د کیښودو کفاره

سوال: یوه ښخه اکثر په محله کې د سورت یسین وغیره د ختم له پاره په قرآن خواني کې ځي، ددې د قرآن د لوستلو رفتار ډیر زیات سست دی، یعنې په ډیر ساعت کې هغه سپارې ختموي

---

[۱] وفي البزازية :ويكره ...... اتخاذ الدعوة لقراءة القرآن وجمع الصلحاء والقراء للختم اولقراءة سورة الانعام او الاخلاص (شامي ج:۲ص:۲٤۰،مطلب في كراهة الضيافة من اهل الميت)

[۲] اختلف في وصول ثواب القراءة للميت فجمهور السلف والائمة _الثلاثة _على الوصول ،وخالف في ذالک امامنا الشافعي ...... واما القراءة على القبر، فجزم بمشروعيتها اصحابنا وغيرهم ،قال الزعفراني سالت الشافعي رحمه الله تعالى عن القراءة عندالقبرفقال :لاباس به وقال النووي رحمه الله في شرح المهذب (ج:۵ص:۳۱۱) يستحب لزائر القبور ان يقرأ ماتيسر من القرآن ويدعولهم عقبها نص عليه الشافعي ،واتفق عليه الاصحاب (شرح الصدور ص:۳۱۰،۳۱۱)

[۳] محمد بن المثنى ......قال سمعت ابي يقول: انطلقت حاجين......قال :من يضمن لي منكم ان يصلي لي في مسجد العشاء ركعتين او اربعًا ويقول :هذا لابي هريرة (ابوداود،كتاب الملاحم ،باب في ذكر البصرة ج:۲ص:۲۳۶)

او نورې ښځې دوه درې سپارې ختموي؛ نو ددې يوه سپاره ختمه شي له دې وجې دا په محفل کې خپل ددې عيب د پټولو له پاره نه لوستلونکي سپارې په لوستونکو سپارو کې ږدي، دغه شان يو خل سورت يسين لولي او دوه درې لوستونکو سورتونو کې يې ږدي، اوس دې ښځې ته د خپلې دې غلطۍ او د ګناه احساس شوی دی، هغه شرمنده ده او د خپلې غلطۍ او د ګناه کفاره اداء کول غواړي، د قرآن او د سنت په رڼا کې ددې ګناه کفاره او تلافي څنګه ممکنه ده؟

جواب: بس د الله تعالي نه دې معافي وغواړي او څومره قرآن مجيد چې لوستل وي په خپل کور کې دې لولي د خلکو کورنو ته تلل او قرآن مجيد لوستل دې نه کوي، دا په ښځو کې د قرآن خواني رواج دی، اکثر داسې کيږي چې دوی غلط قرآن وايي، بهتره به دا وي چې په خپلو خپلو کورو کې دې قرآن کريم لولي او ددې ثواب دې مرحومينو ته وبښي.

په دريمه، لسمه، او قرآن خواني کې شرکت کول

سوال: زموږ د مسلمانانو په معاشره (جامعه) کې د خپل ځان نه په جوړو شويو رسمونو باندې عمل کيږي، هيڅ بنياد او حقيقت يې نه شته، مثلاً: دريمه، لسمه او داسې نور....خو بيا هم احناف (رحمهم الله) څه فرمايي؟ قرآن خواني څنګه ده؟ يعنې په چيني (بوره) وغيره باندې (قل هو) شريف وغيره لوستل، حنفي مسئلک ددې په باره کې څه وايي؟

جواب: د مرګ په وخت کې چې کوم رسمونه دلته رائج دي هغه زياتره بدعت دي او داغلط ګڼل پکار دي او د خپل وس ترحده پورې په دې کې شريکيدل هم پکار نه دي، قرآن خواني خو يو رسم جوړ شوی دی او اکثر خلک يوازې د ځان ښودو له پاره په دې کې شرکت کوي، ډير کم کسان به وي چې د هغوی مقصد به واقعي ثواب رسول وي، په داسې موقعو باندې زه وايم چې د ومره سيپارې ووايم او د خپل طرف نه به ثواب ورو بښم.

خو که يو مجلس کې شرکت وشو: نو د اخلاص سره يوازې د ايصال ثواب نيت کول پکار دي، په باقي رسمونو کې دې حتى الوسع شرکت ونه کړل شي او که کله وشي: نو د الله تعالى نه دې معافي وغوښتل شي.[1]

د مړي قبر ته وړلو او ايصال ثواب صحيح طريقه

سوال: فرض کړئ چې زه مړشوم، د مرګ نه تر قبر پورې څه حکم دی؟ ددې نه وروسته د قبر واله موده کې د هغه له پاره د ايصال ثواب رسولو صحيح طريقه څه ده؟ يعنې له مرګ نه وروسته په اوچت آواز سره کلمه طيبه لوستل، د جنازې نه وروسته دعا کول، ميوه او نور شيان له ځان سره وړل، (توښه) د جمعې شپه کول، څلويښتې کول، د جومات له پاره پيسې ورکول کوم ته چې

---

[1] وهذه الافعال كلها للسمعة والرياء فيحترز عنها ،لانهم لايريدها وجه الله تعالى ......الخ (شامى ج:٢ص:٢٤١)۔

د زکات نوم ورکول کیږي، ایا هغه روپۍ چې د جومات په نامه ورکول کیږي، هغه د جومات وي یا د امام د مسجد؟ او هغه د مړشوي د ښښنې له پاره کارامد دی او که نه؟

جواب: د حضرت ډاکټر عبدالحي عارفي صاحب کتاب ,,احکام میت،، په دې مسایلو کې ډیر مفید او جامع کتاب دی، د دې مطالعه کول هر مسلمان ته پکار دی. ستاد سوال مختصر نکات په لاندې ډول دي

۱:...... له مرګ نه وروسته د سنت مطابق تدفین پکار دی او په دې کې چې ترکوم حده پورې ممکن وي بیړه (تندي) کول پکار دي.[۱]

۲:......د جنازې سره دې په کم اوازسره ذکروکړل شي، په اوچت اوازسره ذکرکول مکروه دي.[۲]

۳:......د ایصال ثواب له پاره شریعت هیڅ وخت او ورځ نه ده مقررکړې. بلکې د مالي او بدني عبادتونو ایصال ثواب چې کله وغواړئ کولی يې شئ.[۳]

۴:......له مرګ نه وروسته د مرحوم مال د هغه وارثانو ته فورا منتقل شي، که ټول وارثان بالغ او موجود وي او په هغوی کې څوک نابالغه او غیرحاضر نه وي؛ نو وراثان په خوشالي سره د مړي له پاره صدقه او خیرات کولی شي، خو که څه وارثان نابالغه وي؛ نو د هغوی د برخې نه صدقه او خیرات کول جائز نه دي او د هغې خوړل هم جائز نه دي، بلکې د یتیمانو مال خوړلو، باندې چې کوم وعیدرا غلی دی د هغه وبال به پرې لازمیږي، هو! که بالغ وارث د خپلې برخې نه د ایصال ثواب له پاره صدقه خیرات وکړي؛ نو ډیره ښه ده،[۴] یا که مړي وصیت کړی وي؛ نو د مال د دریمې برخې څخه د هغه د وصیت مطابق د خیر په کارونو کې خرچ کیدای شي.[۵]

د نویو او مخکې ټولو ثواب ښښل کیږي

سوال: اکثر په محفل قرآن کې ځینې سړي یا ښځې وايي چې هغوی تراوسه پورې په کور کې مثلاً: ۱۰ یا ۵ سیپارې مخکې چې ویلي دي، هغه په دې کې شامل کړئ، یا اکثر د قارئنو د کمي له وجې نه سیپارې کورونو ته ولیږل شي دا ترکوم حده پورې صحیح دي؟

۱] ویبادر الی تجهیزه ولایوخر ......الخ (هندیة ج:۱ص:۱۵۷،کتاب الصلاة ،طبع رشیدیه)_

۲] وعلی متبعی الجنازة الصمت ویکره لهم رفع الصوت بالذکر وقراءة القرآن ...... فان اراد ان یذکر الله یذکره فی نفسه ......الخ (هندیة ج:۱ص:۱۶۲، وایضًا فی الشامی ج:۲ص:۲۳۳،باب صلاة الجنازة)_

۳] صرح علماؤنا فی باب الحج عن الغیربان للانسان ان یجعل ثواب عمله لغیره صلاة اوصومًا اوصدقة اوغیرها کذا فی الهدایة ......الخ (شامی ج:۲ص:۲۴۳،مطلب فی القراءة للمیت واهداء ثوابها له)_

٤]وان اتخذ طعامًا للفقراء کان حسنا اذاکانت الورثة بالغین فان کان فی الورثة صغیر لم یتخذو ذلک من الترکة کذافی التتارخانیة (هندیة ج:۵ص:۳٤٤،کتاب الکراهیة)_

۵] والوصیة تصرف فی ثلث المال فی آخر العمر زیادة فی العمل فکانت مشروعة ......الخ (البدائع الصنائع ج:۷ص:۳۳۰)_

جواب: دلته یو څو مسئلې دي:

۱:...په شریکه قرآن خواني ته فقهاوو مکروه ویلي دي او که وکړل شي: نو ټول دې په کم آوازسره وایي چې آوازونه یې په خپلو کې ونه جنګیږي.[۱]

۲:...بنده چې څه ویلي وي د هغو ثواب ببښلی شي، که نوي یې لوستلي وي او که زاړه.[۲]

۳:...د ایصال ثواب له پاره ټول قرآن شریف ختمول ضروري نه دي چې څومره مو وویلو د هغه ثواب وربښل صحیح دي.[۳]

۴:...بل ته دلوستلوله پاره ویل صحیح دي، په شرط د دې چې څه بوج پرې نه وي، ګنې صحیح نه دي.[۴]

دپښخواني تلاوت ایصال ثواب

سوال: ځینې وخت خلک وایي چې زمونږه فلانکی عزیز وفات شوی دی تاسو چې کوم قرآن پاک ختم کړی دی په دې کې یو څو سپارې مونږ ته راکړې، دغه شان د مختلفو خلکو نه مختلفې سیپارې اخلي د قرآن پاک سپارې یوځای کوي او د خپل رشته دار روح ته یې ببښي، آیا داسې کول صحیح دي؟

جواب: هر سړي چې کوم څه لوستلي وي، هغه ایصال ثواب کولی شي.[۵]

په خپله ثواب حاصلولو له پاره دصدقه جاریه مثالونه

سوال: که څوک دخپلو وارثانو نه ناامیده شي او داخرت دثواب سامان په خپله وکړي، مثلاً: دقرآن شریف سیپارې جومات ته ولیږي یا کوهی وکني، یا په جومات کې پنکې وغیره ولګوي؛ نو آیا دا جائزده؟

جواب: دا نه یوازې جائزده، بلکې بهتراوافضل هم ده، چې بنده په خپل ژوند کې دخپل آخرت له پاره دذخیرې جوړولو اهتمام وکړي.[۶]

۱] یکره للقوم ان یقرؤا القرآن جملة لتضمنها ترک الاستماع والانصات المامور بها کذافی القنیة (هندیة ج:۵ص:۳۱۷کتاب الکرهیة)_

۲] والظاهر ان لافرق بین ان ینوی به عند الفعل للغیر اویفعله لنفسه ثم بعد ذلک یجعل ثوابه لغیره ......الخ (شامی ج:۲ص:۲٤۳،مطلب فی القراءة للمیت واهداء ثوابها له)_

۳] ویصح اهداء نصف الثواب او ربعه کما نص علیه احمد ولامانع منه ......الخ (شامی ج:۲ص:۲٤۳)_

٤] لتفصیل دپاره اوګورئ: شامی ج:۲ص:۲٤۳، مطلب فی القراءة للمیت)_

۵] ایضاً_

٦] عن ابی هریرة رضی الله قال:قال رسول الله صلی الله علیه وسلم :اذا مات الانسان انقطع عنه عمله الا من ثلاثة الامن صدقة جاریة اوعلم ینتفع به او ولد صالح یدعوا له، رواه مسلم (مشکوة ج:۱ص:۳۲)_

دوفات شوي دتعزيت له پاره جلسې د صحيحو مقاصدو لا ندې جائزدي

سوال: متوفی باندې تعزتي جلسې کول، اودخينو خومستقلاسالانه جلسې کول، داعرس خونه دی؟ جائزدي اوکه بدعت ؟ په قرآن، حديث او خيرالقرون کې د دې څه مثال شته؟

جواب: دتعزيت مفهوم دمړي وارثانوته تسلي ورکول دي اودهغوی په غم کې دشرکت اظهارکولو سره دهغوی غم کمول دي، چې ماموربه دی[1] نورداچې: ,,اذكروا موتاكم بخير،، کې دمرحومينو له باره کې دښې يادونې حکم هم دی، که تعزيتی جلسه دهمدې دوو مقصدونو له پاره وي اود مرحوم په تعريف کې غيرواقعي مبالغه ونکړل شي؛ نوجائزده[2] سالانه جلسې خوظاهره ده فضول حرکت دی اودچامرحوم غيرواقعي تعريف هم غلط دی، په هرحال که تعزيتي جلسه دپورته ذکر شويو مقاصدوله پاره و نوهغې ته به بدعت نه ويل کيږي؛ځکه چې دا جلسې په خپله مقصدنه تصورکيږي اونه عبادت ګڼل کيږي.

د عذاب قبر د کموالي او د ځنکدن داساني وظيفه

سوال: هغه وظيفه وښايئ چې په کولو سره يې عذاب کميږي او دځنکدن په وخت تکليف کميږي؟

جواب: د عذاب قبر له پاره د ويده کيدو نه مخکې سورة (تبارک الذي) لوستل پکار دي اود ځنکدن داساني له پاره دا دعا لوستل پکاردي:

(اللهم اعنى على سكرات الموت وغمرات الموت). [۳]

په قبرستان کې د ايصال ثواب له پاره د کومو خبرو خيال ساتل پکار دي؟

سوال: قبرستان ته تلل د مړي له پاره د ايصال ثواب د پاره د کومو کومو خبرو خيال ساتل پکار دي؟ او د مرحوم د ايصال ثواب د پاره کوم آياتونه او کوم سورتونه تلاوت کړل شي؟

جواب: څومره سورتونه چې ياد وي ودې لوستل شي او دعا دې وکړل شي چې الله جل شانه دې مړي ته دې ثواب ورکړي او قبر ته د رسيدو نه وروسته مړي ته سلام کول هم پکار دي کم از کم دا الفاظ ويل پکار دي : السلام عليكم يااهل القبور. [۴]

۱]وتستحب التعزية للرجال والنساء اللاتى لا يفتن لقوله عليه السلام من عزى اخاه بمصيبة كساه الله من حلل الكرامة يوم القيامة ،رواه ابن ماجة (شامي ج:۲ص:۲۴۰)_

۲]لكن يكره الافراط فى مدحه لاسيماعندجنازته...الخ (درمختار مع الشامي ج:۲ص:۲۳۹،باب صلاة الجنازة)

۳] عن عائشة انهاقالت:رايت رسول الله صلى الله عليه وسلم وعنده قدح فيه ماء وهو يدخل يده فى القدح ثم يمسح وجهه بالماء ثم يقول اللهم اعنى على غمرات الموت وسكرات الموت (سنن الترمذى ج:۱ص:۱۱۷)

۴] ومن آدابها ان يسلم بلفظ السلام عليكم على الصحيح....[بقيه حاشيه په راروانه صفحه....

که د مور قبر معلوم نه وي نو د مغفرت دعا څنګه وکړم؟

سوال: زما مور مرحومه په کراچۍ کې دفن ده، زه اکثره ددې د مغفرت له پاره دعا کوم، اوس دا زما بدنصیبي ده، زه کله ددې قبر خواته نه یم تللی،پوښتنه داده چې قبر ته تلل ضروري دي اوکه نه؟ اوقبر ته د نه تللو په وجه په کور کې دعا ګانې کول بې کاره خو نه دي؟ دویم دا چې قبرستان ته که لاړم نو هم د والدې قبر راته نه دی معلوم نو قبرستان ته تلل او د والدې له پاره کوم ځای ودریږم چې دعا وکړم او څه دعا وکړم؟ آیا هلته به څه لوستل وي یا هسې د مغفرت له پاره دعا ګانې وکړم؟

جواب: که چیرې تاته د والدې د قبر پته نه وي؛ نو تا ته د تللو مشوره څنګه درکړم؟خو تاته نشانه کیښودل پکار دي یا که یو کس ته معلوم وي نو تاته د هغه نه پته لګول پکار دي، قبر ته په تللو سره مړي دومره خوشحالیږي څومره چې مور د خپل زوی په ملاقات خوشحالیږي[1] په هرحال دې ته دلوستل شوي سبق بښل هم بې کاره نه دي[2]

د کوهي یا سړک ایصال ثواب

سوال: تاسو فرمایلي و ، ،بس دا بحث ختم، ، په دې وجه بنده خو حکم عدولي نه کوي، بیا هم ددې جواب ستاسو په ذمه به وي،چې صرف په غریبانانو باندې خوړل ایصال ثواب وي ګڼي نو نه به وی،نو خلق چې دایصال ثواب د پاره کوم سړک جوړوي، کوهې کني،ونه یا د سورې ځیز لګوي نو آیا دادې د غریبانانوپه نوم کړي نو هله به ایصال ثواب وي یاڅومره چې فقیر د مالدار نه فائده اخلي نو ایصال ثواب به وي؟

جواب: دا د رفاه عام کاردې اوصدقه جاریه ده، اودصدقې جاریې ثواب په نص سره ثابت دې[3]

...بقیه د تیر مخ].. ثم یدعو قائما طویلا وان جلس یجلس ......ویقرأ یس ......الخ (وفی شرح اللباب ویقرأ من القرآن ماتیسر له من الفاتحة واول البقرة الی المفلحون وآیة الکرسی ...... ثم یقول اللهم اوصل ثواب ماقراناه الی فلان او الیهم (شامی ج:۲ص:۲۴۳)

[1] الاحادیث والآثار تدل علی الزائر متی جاء علم به المیت وسمع سلامه وانس به وردعلیه وهذا عام فی حق الشهداء وغیر هم فانه لا یوقت (شرح الصدور ص:۳۵۸ طبع دارالکتب العلمیة بیروت)

[2] من دخل المقابر فقرأ سورة یس خفف الله عنهم یومئذ وکان له بعدد من فیها حسنات ،بحر :من صام اوصلی اوتصدق وجعل ثوابه لغیره من الاموات والاحیاء جاز ویصل ثوابها الیهم عند اهل السنة والجماعة (ردالمحتار ج:۲ص:۲۴۳)

[3] عن سعد بن عبادة قال :قال رسول الله ! ان ام سعد ماتت فای الصدقة افضل ؟ قال :الماء ! فحفر بئرًا وقال :هذه لام سعد ،رواه ابوداود والنسائی (مشکوة ص:۱۶۹،فضل الصدقة ،طبع قدیمی)

ښځه هم ایصال ثواب کولې شي

سوال: آیا ښځه هم صدقه ورکولې شي یا نه؟

جواب: ښځه هم ایصال ثواب ورکولې شي لیکن د خپل مال نه دې اوکړي د مړي د میراث نه دې نه ورکوي[1]

د مرحومینو په قبر باندې د ایصال ثواب د پاره قرآن خواني

سوال: که چیرې د چاپه وفات باندې دده په قبر دایصال ثواب د پاره قرآن خواني اوکړې شي نو آیا دې مرحوم ته به اجر او ثواب ملاو شي؟

جواب: قبر ته تلل او د قرآن مجید ختم کولو په ځائې باندې په کور کې د قرآن تلاوت اوکړې شي لیکن زمونږه په علاقه کې دا وي چې یوه دوه ورځې قرآن خواني کولې شي ددینه پس مړې هیر کړي او دا د نافرمان او د ګناهګار سره په یو لحاظ سره صحیح هم کوي، ځکه چې مړي هم ټول عمر نه د الله تعالي عبادت کړي وي، نه یې د قرآن مجید تلاوت کړې وي، نه ئې لمونځ کړې وي،نه ئې روژه نیولې وي، د داسې سړي انجام داسې کول پکار وي ګني نو د الله تعالي مقبول بندګان د هر لمونځ نه پس ایصال ثواب کوي.

د ایصال ثواب په مجلس کې د قادیانی شریکت او ددوی ایصال ثواب صحیح دی؟

سوال: دخپل وطن په سرکاري او نیمه سرکاري دفترونو کې ټول اسلامي او غیر اسلامي (قادیاني ،عیسائې وغیره) افراد منصبي فرائض اداء کوي،ځینې وخت لیدل کیږي چې یو مسلمان ملازم / آفیسر نژدې رشتدار وفات شي، څه وخت وروسته دده د ایصال ثواب له پاره دقرآن خواني او طعام بدوبست وشي،د ډیرو کسانو د شرکت په غرض یوه ټائپ شوې دعوت نامه د ایصال ثواب د پاره د قرآن خواني په شکل په ملازمینو او آفسرانو باندې تقسیم کړل شوه،په دعوت نامه کې یې فرداً فرداً دعوت نه وو ورکړی ،ددې عمومي دعوت نه د فائدې د اخستلو او د مصلحت په وجه که چیرته قادیاني یانور غیر مسلمه په دې ایصال ثواب کې شرکت وکړي؛ نو د داسې قسمه شرکت متعلق د لاندې سوالونو جوابونه مطلوب دي.

(۱) آیا د قادیاني شرکت د ایصال ثواب د قرآن خواني یا د نورو خالصو مذهبي اجتماعاتو کې شرعاً جائز دی؟

---

[1] وفی البحر :من صام اوصلی اوتصدق وجعل ثوابه لغیره من الاموات والاحیاء جاز ویصل ثوابها الیهم عند اهل السنة والجماعة کذا فی البدائع (شامی ج:۲ص:۲٤۳،مطلب فی القراءة للمیت واهداء ثوابها له)

جواب: د ایصال ثواب په مجلس کې غیر مسلم قادیانې شریکول جائز نه دي[1] په دې وجه دې قادیانی بالکل راونه غوښتل شي، که په خپله راشي نو دده د شرکت نه دې معذرت وغوښتل شي.

(۲)آیا د قادیاني د قرآن مجید په تلاوت سره مړي ته ثواب ملاویږي؟

جواب: مړي ته ثواب ملاویدل په خپله دویونکي دثواب فرع ده او د غیر مسلم قادیاني عملونه باطل دي[2] نو کله چې ده ته په خپله ثواب نه ملاویږي؛ نو مړي ته به څه ثواب ملاو شي؟!

(۳)د قادیاني په شرکت سره آیا په ایصال ثواب باندې څه قسمه غیر اسلامي اثر مرتب کیږي اوکه نه؟ او په څه صورت کې کوم یو صورت کې؟

جواب: د قادیانانو او د غیر مسلمو په شرکت سره د اسلام او د کفر په مینځ کې او د مسلمان او د کافر په مینځ کې فرق به ختم شي دا لوی نقصان دی، څه عجیبه نه ده چې د دې مجلس ټول شریکان په عذاب کې مبتلاء شي.

(۴)په دنیاوي مصلحتونو کې او داسې قسمه سلوکو کې شرعاً څه طریقه خپله کړل شي؟

جواب: دنیاوي مصلحتونه د دین تابع دي، که چیرې څه دنیاوي مصلحت او سلوک سره د دین اصول ماتیږي؛نو داسې مصلحت اوسلوک دې بره په تاخ کې کینښودل شي او لعنت دې پرې ولیږل شي.[3]

❖د قرآن کریم عظمت او تلاوت❖

د وړو ماشوما نو له پاره د عمّ پارې ترتیب بدلول جائزدي

سوال: په لمونځ کې قرآن بې ترتیبه لوستل (لومړی سورت په پای کې اودویم په اول کې ویل) صحیح نه دي، مګرپه قرآن شریف کې په دیرشمه سیپاره کې دسورت (الناس) نه شروع وشي اوعم باندې خلاص شي، یعنې بې ترتیبه قرآن شریف لیکل شوی دی، چې په اکثرمدرسوکې طالب علمانوته ښودل کیږي، آیا داسې لوستل جائزدي؟

جواب: دوړوماشومانودتعلیم له پاره دې چې هغوی دوړوسورتونونه شروع اوکړی.[4]

---

[1] لَا تَجِدُ قَوْمًا يُؤْمِنُوْنَ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ يُوَادُّوْنَ مَنْ حَآدَّ اللهَ وَرَسُوْلَهُ(المجادلة :۲۲)وقال تعالی :یایهاالذین امنوا لاتتخذوا عدوی وعدوکم اولیاء تلقون الیهم بالمودة وقد کفروا بما جاءکم من الحق ،،(الممتحنة:۱)

[2] مقتضی کون حبط العمل فی الدنیا والاخرة جزاء الردة وان لم یمت علیها عندنا (شامی ج:۲ص:۷۶)

[3] عن نواس بن سمعان رضی الله عنه قال:قال رسول الله صلی الله علیه وسلم :لاطاعة لمخلوق فی معصیة الخالق (مشکوة ص:۳۲۱کتاب الامارة والقضاء)

[4] وفی الدرالمختار :الفصل بسورة قصیرة وان یقرأ منکوسا ٭وفی الشرح....[بقیه حاشیه په راروانه صفحه...

په قرآن مجيد کې د نسخ على الاطلاق انکارکول ګمراهي ده

سوال: جنګ روز نامه راولپنډۍ کې مولانا صاحب دخپلو تاثراتو او مشاهداتو په کالم کې ليکلي دي چې: زه دقرآن حکيم هيڅ يوايت منسوخ نه منم.. زما په خيال کې داعقيده صحيح نه ده، په دې باره کې ستاسو څه رايه ده؟

جواب: زمارايه ستاپه شان ده، په قرآن مجيد کې دنسخ على الطلاق انکارکول ګمراهي ده.[۱]

د قرآن کريم ترټولو اوږد آيت د سورت بقرې (۲۸۲) ايت دی

سوال: په (معلومات قرآن) کې چې عثمان غني ظاهر ليکلی دی، ما لوستي دي چې دقرآن کريم د ټولو نه اوږد آيت، آيت کرسي ده، ايت کرسي کم وبيش په پنځولانونو کې ده، هرکله چې ماقرآن کريم کې يوبل آيت ددی نه هم اوږدليدلی دی، چې په اوولاينونو کې دی، اودا ايت دسورت الحج پنځم آيت دی، تاسوراته ضرور ووايئ چې دقرآن کريم دټولونه اوږ دايت کوم يودی؟ آيا هغه آيت کوم چې ماپه کتاب کې لوستی دی ياهغه کوم چې ماپه قرآن کريم کې ليدلی دی؟

جواب: دقرآن کريم دټولونه اوږدايت دسوره بقرې (۲۸۲) ايت دی، چې آيت مداينه ورته ويل کيږي آيت کرسی ډيراوږدنه دی، مګرپه شرف اومرتبه کې دټولونه اوچت دی، اوسيدالايات ورته ويل کيږي.[۲]

په دعا کې قرآني الفاظ بدلول

سوال: په قرآن او حديث کې چې کومې دعاګانې مقرر شوې دي آيا د موقعې په مناسبت سره په دې دعاګانو کې د واحد متکلم په ځای دجمعې متکلم او د جمع متکلم په ځای د واحد متکلم صيغې لوستل صحيح دي؟ آيا قرآني دعاګانو کې له دې ډول بدلون څخه خو تحريف قرآن نه لازميږي؟

...بقيه د تير مخ].. بان يقرأ فى الثانية سورة اعلى مماقرأ فى الاولى،لان ترتيب السور فى القراءة واجبات التلاوة وانماجوز للصغار تسهيلا لضرورة التعليم (الدرالمختارمع الردالمحتار،قبيل باب الامامة ج:۱ص:۵٤۷طبع ايچ ايم سعيد)۔

۱] واتفقت اهل الشرائع على جوازالنسخ ووقوعه وخالفت اليهود......الخ (روح المعانى ج:۱ص:۳۵۲، طبع بيروت) (النسخ مماخص الله به هذه الامامة لحكم منها التيسير وقد اجمع المسلمون على جوازه وانكره اليهود ظنامنهم انه بداء كالذى يرى الراى ثم يبدوله وهو باطل (الاتقان فى علوم القرآن ج:۲ص:۲۱طبع مصر ،الفوز الكبير ص:٤٠طبع قديمى)۔

۲] عن ابى هريرة رضى الله عنه قال:فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم لكل شى ء سنام وان سنام القرآن سورة البقرة وفيها آية هى سيدة آى القرآن هى آية الكرسى (ترمذى شريف ،ابواب فضل القرآن، ج:۲ ص:۱۱۱،طبع قديمى كتب خانه)۔

جواب: مناسبه خو داده چې کومې دعاګانې په کومو الفاظو سره منقولې دي، هغه دې دغه شان پرېښودل شي، بیاهم که چیرې د واحد او د جمعې صیغې بدلې کړي نو هیڅ ګناه نشته، که قرآن کریم د دعا په نیت باندې ولوستل شي؛ نو د دینه مقصود د قرآن کریم د الفاظو حکایت نه دی.[۱]

همدغه وجه ده چې جنب او حائضې ته د قرآني دعاګانو د لوستلو اجازت شته،[۲] په دې وجه په دعا کې قرآني الفاظو کې په تبدیلي کولو سره تحریف نه لازمیږي،خو د قرآن کریم مبارک الفاظ زیات بهتر دي په دې کې د تبدیلي کولو هیڅ وجه نشته.

د لوح محفوظ نه څه مراد دي؟

سوال: ام الکتاب او لوح محفوظ دواړه جدا جدا کتابونه دي یا د یو کتاب دوه نومونه دي؟

جواب: په ظاهره دواړه له یو شي نه عبارت دي، ددې علم الله تعالی ته دی ،کاتب هم د قدرت قلم دی.[۳]

قرآن کریم مجهول لوستل صحیح نه دي

سوال: په موجوده وخت کې اکثر خلک یاخو قرآن مجهول لولي یایې دتجوید نه پرته یې لولي ددوی د لمونځونو او د قرآن د تلاوت معامله به څه وي؟

جواب: قرآن کریم د امکان تر حده پورې صحیح لوستل واجب دي او غلط لوستل ناجائز دي[۴] او که چیرې د کوشش باوجوددچا تلفظ صحیح نه وي؛ نو هغه معذور دی او که چیرې د صحیح لوستلو کوشش هم نه کوي نو ګناهګار به وي،باقي لمونځ او تلاوت د فقهي حکم مطابق نه قبلیږي، نور که الله تعالي رحمت وکړي نو دهغه مغفرت وسیع دی[۵]

---

[۱] حتی لوقصد بالفاتحة الثناء فی الجنازة لم یکره الا اذا قرأ المصلی قاصدًا الثناء فانها تجزیة لانها فی محلّها ،فلا یتغیر حکمها بقصده....الخ،وفی الشامیة:ان القرآن یخرج عن القرانیة بقصدغیره(ردالمحتار علی الدر المختار ج:۱ص:۱۷۳)

[۲] ویحرم به تلاوة القرآن ولو دون آیة علی المختار ،وفی الشامیة :قراء الفاتحة علی وجه الدعاء اوشیئًا من الآیات التی فیها معنی الدعاء ولم یرد لقراءة لاباس به (شامی ج:۱ص:۱۷۲،ارکان الوضوء مطلب یوم عرفة افضل من یوم الجمعة)

[۳] وتفسیر ام الکتاب بعلم الله تعالی مما رواه عبدالرزاق وابن جریر عن کعب رضی الله عنه ،والمشهورانها اللوح المحفوظ قالوا:وهو اصل الکتاب اذا مامن شیء من الذاهب والثابت الا وهو مکتوب فیه کماهو (روح المعانی ج:۱٤ص:۱۷۰،سورة الرعد الآیة :۳۹)

[۴] ورتل القران ترتیلاً (المزمل:٤)

[۵] وکذا من لایقدر علی التلفظ بحرف من الحروف ......وذلک کالرهمن الرهیم والشیتان الرجیم ......فکل ذلک حکمه مامرمن بذل الجهد دائما والا فلا تصح الصلاة....[بقیه حاشیه په راروانه صفحه..

جامع القرآن څوک دی؟

سوال: جامع القرآن څوک دی،حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) یا حضرت عثمان (رضي الله عنه)؟

جواب: قرآن کریم دحضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) په زمانه کې پوره لیکل شوی او حضرت ابو بکر رضي الله عنه په یو ځای باندې جمع کړی دی او حضرت عثمان (رضي الله عنه) خلکو ته په یو قرات باندې جمع کړی دی.[۱]

د قرآن د تلاوت په دوران کې خبرې کول

سوال: د یوڅو دوستانو په محفل کې په مختلفو موضوګانو باندې بحث کیږي او په دې وخت کې څوک د قرآن کریم تلاوت په اوچت آواز سره کوي او بیا خبرې شروع کړي او په محفل کې شور شروع جاري وي اوبیا یو سړی یو آیت تلاوت کړي، دغه شان دا سلسله جاري وي: نو په داسې صورت کې تلاوت جائز دی؟

جواب: د داسې ملګرو په مجلس کې شرکت نه دی پکار، دسړي سره لږ وخت وي، فضول ضائع کول یې نه دي پکار.[۲]

د قرآن پاک د لوستلو طریقه

سوال: زه د اتم ټولګي (کلاس) طالب العلم یم، ما د قرآن پاک د لوستلو بار بار کوشش وکړ، خو د ننه پورې د (یسرنا القرآن) نه مخکې نه شم لوستلی، زما بدنصیبي دا ده چې ما قرآن پاک نه دی ویلی څو ځله مې شروع کړ،خو یو څو ورځې پس یې پریږدم په دې وجه مې قرآن نه دی ویلې، تاسو ته درخواست دادې چې ما ته د قرآن پاک د لوستلو طریقه وښایئ!

جواب: قرآن پاک په مسجد کې د قاري صاحب نه شروع کړه تر څو پورې چې پوره شوی نه وي تر هغه وخته پورې یې وایه!

...بقیه د تیر مخ].. به (شامی ج:۱ص:۵۸۲،باب الامامة مطلب فی الالثغ ،شامی ج:۱ص:۶۳۰،باب الامامة ،مطلب فی زلة القاری)

[۱] وقدکان القرآن کتب کله فی عهدرسول الله صلی الله علیه وسلم لکن غیر مجموع فی موضع واحد ولا مرتب السور_قال الحاکم فی المستدرک جمع القرآن ثلاث مرات احداها بحضرة النبی صلی الله علیه وسلم ......الثانیة بحضرة ابی بکر...... قال الحاکم والجمع الثالث هو ترتیب السورفی زمن عثمان ......الخ (الاتقان فی علوم القرآن ص:۵۷،۵۹)

[۲] عن عمرو بن میمون الاودی قال:قال رسول الله صلی الله علیه وسلم لرجل وهویعظه: اغتنم خمسا قبل خمس شبابک قبل هرمک ،وصحتک قبل سقمک ،وغناک قبل فقرک ، وفراغک قبل شغلک ،وحیاتک قبل موتک .رواه الترمذی مرسلاً (مشکوۃ ص:۴۴۱،کتاب الرقاق الفصل الثانی)

دقرآن مجید لوستل فرض دي اوکه سنت

سوال: مولانا صاحب! پوښتنه دا ده چې د قرآن لوستل فرض دي او که سنت؟

جواب: په لمانځه کې يې لوستل فرض دي او دلمانځه نه بهر تلاوت کول فضيلت،برکت او نور دی[۱]

آيا په قرآن مجيد کې په اعراب لګولو سره تحريف وشو؟

سوال: دحجاج بن يوسف په زمانه کې په قرآن باندې اعراب لګول شوی دی؛ نو آيا دا په قرآن کې تحريف نه دی؟

جواب: اعراب خو د مخکې نه هم ويل کېده.خو د عوامو د صحيح لوستلو د پاره اعراب لګول مثلاً: الحمد خو اول هم صحيح ويل کيده ،مګرد عوامو د سهولت د پاره په دې باندې زبر زير ولګول شو.[۲]

د قرآن مجيد اووه منزله څنګه لوستل پکار دي؟

سوال: د قرآن مجيد اووه منزله دي، ددې څنګه لوستل پکار دي؟

(۱) يو منزل د سحر نه تر ماښام څلورو بجو پورې ختمول پکار دي. (۲)کله چې منزل شروع کړي، نو په يو ځای په ناسته باندې ولوستل شي، د پاڅيدو اجازت نشته؟

جواب: قرآن مجيد چې څومره په سهولت سره وي لوستلی شی،په يو ځای باندې د لوستلو هيڅ پابندي نشته.[۳]

قرآن مجيد ښکلول

سوال: د قرآن مجيد ښکلول څنګه دي؟ ځينې خلک ديته بدعت وايي.

جواب: هيڅ ګناه نشته.[۴]

---

[۱] فاعلم ان حفظ ماتجوزبه الصلاة فرض عين على كل مكلف وحفظ فاتحة الكتاب وسورة واجب وحفظ سائرالقرآن فرض كفاية (حلبى كبيرص:٤٩٥،تتمات فيمايكره من القرآن فى الصلاة ومالايكره فى القراءة ..الخ)

[۲] وجاز تحلية المصحف ......وتعشيره ونقطه اى اظهار اعرابه وبه يحصل الرفق جدًا خصوصًا للعجم فيستحسن وعلى هذا لاباس بكتابة اسامى السور وعد الآى وعلامات الوقف ونحوها فهى بدعة حسنة (الدرالمختار مع الرد ج:٦ص:٣٨٦،باب الاستبراء وغيره فصل فى البيع)

[۳] افضل القراءة ان يتدبرفى معناه حتى قيل يكره ان يختم القرآن فى يوم واحد ولايختم فى اقل من ثلاثة ايام تعظيمًا له ......وندب لحافظ القرآن ان يختم فى كل اربعين يومًا ......من ختم القرآن فى السنة مرة لايكون هاجرًا كذافى القنية . (عالمگيرى ج:٥ص:٣١٧،الباب الرابع فى الصلاة والتسبيح وقراءة القرآن والذكر والدعاء......الخ)

[۴] وفى القنية فى باب مايتعلق بالمقابر تقبيل المصحف قيل بدعة لكن....[بقيه حاشيه په راروانه صفحه....

د قرآن مجيد ښکلول جائزدي

سوال: زمونږ دكورمخكې جومات كې يوه ورځ زمونږ يوګاونډي دقرآن شريف تلاوت كولو، كله يې چې تلاوت وكړ، نوقرآن شريف يې ښكل كړ، دجومات خزانچي دداسې كولونه منع كړاوويې ويل چې:قرآن شريف ښكلول پكارنه دي، وضاحت وكړئ چې آيا داسړى صحيح وايي كه غلط؟زه هم چې قرآن شريف ولولم نوښكلوم يې اوزمونږ دكورواله هم

جواب: دقرآن مجيدښكلول جائزدي.[1]

د قرآني حروفو ګوتمه موچې په ګوته وي بيت الخلاء ته مه ځئ

سوال: ګزارش دادى چې اكثرخلک قرآني ايات وغيره په ګوتمو باندې كنده كوي، مهرباني وكړئ اومونږ ته دا ووايئ چې داګوتمې څنګه په لاس كړل شي چې بيت الخلاء ته تګ وكړل شي؟ ياهغه وويستل شي اوبيت الخلاء ته لاړشي، مونږ په ګوتمو باندې حروف مقطعات (ص، ن، وغيره) كنده كړي، ددې په باره كې راته ووايئ چې څه مسئله ده؟

جواب: په ګوتمه باندې كه آيت ياقرآني كلمات كنده وي، نوبيت الخلاء ته يې اوړل مكروه دي ويستل يې پكاردي.[2]

په تخته چاک سره ليكل شوي قرآني اياتونه څنګه وران كړو؟

سوال: كله چې په ټولګي (كلاس) كې په توره تخته(بلک بورډ) باندې قرآني ايات وليكل شي، وروسته هغه وران كړل شي اودهغوالفاظو چاک په ځمكه باندې خپورشي اوهغه زمونږ دپښولاندې كيږي ددې وجې نه څه كول پكاردي؟ددې جواب مونږ داوركړ چې كله وران شي؛ نوچاک دقرآني آيتونوالفاظ نه وي، هغه خويوازې چاک وي.خو يوكس مونږ ته يومثال راكړ اومونږ يې بې جوابه كړوچې ځينى كسان تعويذپه اوبه كې ويلي كړي اوويې څښي، په كاغذباندې خوڅه ليكل شوي وي، خو كله چې هغه اوبه شي؛ نوهغه الفاظ پاتې نه شي بياخلک هغه ولې څښي؟

...بقيه د تير مخ].. روى عن عمر رضى الله عنه ان كان ياخذ المصحف كل غداة ويقبله ويقول:عهد ربى ومنشور ربى عزوجل ـ وكان عثمان رضى الله عنه يقبل المصحف ويمسحه على وجهه (الدرالمختارمع الرد ج:٦ص:٣٨٤،باب الاستبراء وغيره ،فصل فى البيع)

١] روى عن عمررضى الله عنه انه كان ياخذ المصحف كل غداة ويقبله....وكان عثمان رضى الله عنه يقبل المصحف ويمسحه على وجهه..الخ (الدرالمختارمع الردالمحتارج:٦ص:٣٨٤،باب الاستبراء وغيره،فصل فى البيع)

٢] ويكره ان يدخل فى الخلاء ومعه خاتم عليه اسم الله تعالى اوشىء من القرآن كذافى السراج الوهاج(هندية ج:١ص:٥٠،الباب السابع فى النجاسة واحكامها)ـ

جواب: داخو ظاهره ده چې دورانولو نه وروسته هغه دقرآن کريم الفاظ نه پاتې کيږي، خو بهتر د داده چې هغه چاک دې په لمده کپړه باندې صفا کړل شي.[۱]

زړو مقدسو پاڼو سره څه وکړل شي؟

سوال: دقرآن پاک زړو پاڼو باندې څه وکړل شي؟ زمونږ په لطيف اباد کې يوه داسې واقعه وشوه چې ديوجومات موذن دقرآن شريف زړې پاڼې په يوکنسترکې راغونډې کړې اووېې سيزلې، موذن په خپل فالتووخت کې چولې خرڅوي. اوپه خپل محنت سره مزدوري کوي. حج يې هم کړی دی اوعمره يې هم اداکړې ده اودجومات کارهم په ښه طريقې سره کوي. مګردقرآن پاک پاڼو سيزولوسره دهغه خلاف خطرناکه هنګامه راپورته شوه اوهغه فوري طورسره د جومات نه وويستل شو، روسته بيا پوليسو هم ګرفتار کړ، تاسو راته دشريعت له مخې ووايئ چې واقعي دموذن نه ګناه شوې ده؟ دقرآن پاک زړې پاڼې دشريعت له مخې په کوموکومو طريقوسره ضائع کولی شو؟ په دې باندې په تفصيل سره رڼاواچوئ!

جواب: دمقدسو پاڼو له پاره بهتره داده چې په درياب ياغيرابادکوهي کې واچول شي. ياپه ځمکه کې خښې کړل شي[۲] اودمجبوري په حالت کې دې هغه وسوځول شي اوايره دې په اوبوکې ملاوکړل شي اوهلته دې واچول شي چې څوک پرې پښې کښنږدي. ستا موذن ښه نه دي کړي، خودهغهٔ نه دومره ګناه هم نه ده شوې، چې دومره لويه سزاورکړل شوه. خلک په جذباتوکې دحدودوخيال نه ساتي.

په اخبارونو او رسالوکې شائع شويو مقدسو پاڼو سره څه وکړل شي؟

سوال: عرض اودرخواست مې دادې چې مادجناب صدرپاکستان په خدمت کې هم ددې مفهوم يوه عريضه ليږلې وه چې نن سباپه نشرواشاعت کې ددين کومه ذخيره چې په اخبارونو او رسالو کې راروانه ده، هغه په هرحال ښه اودوخت دضرورت مطابق ده، خو په دې سلسله کې دا اړخ هم دغور وړ دی چې داسې ټول اخبارات چې کله ردي شي اوبازارونوته راشي: نوبيادې منسرکو مضامينو ډيره زياته بې حرمتي کيږي اول به په جوماتونوکې دڅه اهل

۱] لومحا لوحًا كتب فيه :لقرآن واستعمله فى امر الدنيايجوز......الخ (عالمگيرية ج:۵ص:۳۲۲،الباب الخامس) وايضاولوكتب القرآن على الحيطان والجدران بعضهم قالوا يرجى ان يجوز وبعضهم كرهوا ذلك مخافة السقوط تحت اقدام الناس ......الخ (هندية ج:۵ص:۳۲۳،الباب الخامس فى آداب المسجد والقبلة والمصحف......الخ)_

۲] المصحف اذا صار خلقًا لايقرأ منه ويخاف ان يضيع يجعل فى خرقة طاهرة ويدفن ودفنه اولى...... المصحف اذاصار خلقًا وتعذرت القراءة منه لايحرق بالناراشارالشيبانى الى هذا فى السير الكبير وبه ناخذ كذاف الذخيرة (هندية ج:۵ ص:۳۲۳، الباب الخامس فى آداب المسجد والقبلة ......الخ ، وايضًا فى الشامية ج:٦ص:۴۲۲ ،باب الاستبراء)_

خير د طرف نه داهدايات اويزان ووچې داسې ردي كاغذونه دې په جومات كې محفوظ كړل شي او دابه په احترام سره ضائع كړل شي، بياسابقه وزارت مذهبي امورو هم ددې له پاره ځاى په ځاى كنسترونه اينبي وو، مګراوس داانتظامات په نظرنه راځي. زماپه ناقصه كې اخباراتووغيره ته داهدايات وركول پكاردي چې هغوى دقرآني آيتونواوحديثونوسره داهدايات هم ليكي چې دابرخه په ردي كې وركول ګناه ده. دادې ترې كټ كړل شي اوپه احترام سره دې ختم كړل شي

زما د درخواست په جواب كې ماته دااطلاع راكړل شوه چې خط دضروري كاروايي له پاره دنشر واشاعت وزارت اسلام ابادته ورليږل شوى دى، په همدې وخت كې دالفاظودبې حرمتي په باره كې ستاسونه هم سوال وكړل شو اوتاسوجواب وركړوچې دابې ادبي يومستقل وبال دى. او ددې حل موپه پوهه كې نه راځي. د حكومت اودټولوخلكودتعاون نه پرته ددې سيلاب نه بچ كيدل ممكن نه دي، ماداخبارنه هغه برخه وشلوله اودغوركولوله پاره مې په خپل خط كې شامله كړه اووزارت نشرواشاعت ته مې وليږله، جنګ اخباركراچۍ كې دهداياتواوكومه فيصله چې شامل شوې ده دهغې تراشي ددې درخواست سره ستاسوپه خدمت كې درليږم. زماپه خيال په دې مرحله كې چې دعوامونه څه وغوښتل شوچې هغوى دې داسې عبارتونه داسلامي اوشرعي احكامومطابق تلف كوي. په دې كې دعواموله پاره داسلامي اوشرعي احكامووضاحت هم وشي؛ نودعواموكاربه آسان شي اودداسې وضاحت انتظام ستاسوپه شان محترم په مناسب اوصحيح طريقې سره كولى شي چې دثواب دارين نه به خالي نه وي.

جواب: په دې سلسله كې څو امورقابل ذكردي:

اول......د اخبارونو او رسالويه ذريعه دمباركو نومونو بې حرمتي يو وبايي شكل اختياركړى دى. له دې وجې حكومت ته هم، اخبار والاووته هم اوعامو مسلمانانو ته هم ددې سنګيني پوره پوره احساس كول پكاردي، عواموته داحساس وركولوله پاره ضروري دي چې كوم عبارت په سركاري مراسلوكې وركړل شوى دى. اخبارونه هغه په مسلسل طورسره شائع كړي.

دويم...... په سركاري طورسره ددې اهتمام كول پكاردي چې داسې منتشرپاڼې چې په كې قابل احترام شيان ليكل شوي وي دهغو دحفاظت له پاره په جوماتونو، رفاهي ادارو او عامو لارو باندې دې كنسترې كيښودل شي اوعواموته دې هدايت وكړل شي چې چاته هم دغه شان قابل احترام كاغذ په لاس ورشي : نوهغه دې په دې ډبوكې محفوظ كړي.

دريم...... دداسې كاغذونودتلف كولوبهترصورت دادى چې دادې په سمندريادرياب ياپه څه غير ابادځاى كې واچول شي يادې په داسې ځاى كې خښ كړل شي، چې دپښولاندې كيږي نه. اوپه آخري درجه كې دې دا وسوزول شي اوايره دې اوبوسره ملاوكړل شي اوپه داسې ځاى

کې دې واچول شي چې دېښولاندې نه شي.[1]

په اخبارونوکې د قرآني اياتونواشاعت بې حرمتي ده

سوال: په روزنامه جنګ کوئټه کې دیوزوړنادرقلمي قرآن مجيدعکس شائع شوی و،په ليدو بې ډير زيات خفه شوم چې په کې په سوره قريش کې يولفظ پريښودل شوی دی،داخبارټکړه درليږم، لهذا تاسوته درخواست دی چې راته ووايئ چې موږ په غلطي باندې يو؟ داقرآني نسخه څوڅو ځله چاپ شوې ده اوډيره پخواني هم ده:نو آيا ترننه پورې دادچادنظرنه هم تيره شوې نه ده چې دايې صحيح کړې وای،لهذاتاسوته درخواست دې چې ددې په باره کې په تفصيل سره جواب راکړئ اوداراته وښايئ چې په اخبارکې قرآني اياتونه چاپ کول دومره ضروري دي چې دهغو ادب اواحترام دې په نظرکې ونه ساتل شي اوچاپ دې کړل شي؟په قلات کې اکثريت دهندوانو کورونه دي،له دې وجې دهرهندوپه لاس کې اخباروي اودهغوی له پاره عامې خبرې اوقرآني آيتونه يوبرابردي.اوموږ مسلمانان وروڼه اخبارونه ترکوم حدپورې سنبالولی شو؟

جواب: تاسوچې کومه اخباري تراشه(ټکړه) راليږلې ده، په دې کې آيت واقعي غلط چاپ شوی دی چې دافسوس خبره ده،زه دقرآن مجيددايتونه اوسورتونه په اخبارکې چاپ کول بې ادبي ګڼم.[2]

په اخبارونوکې دقران ترجمه چاپ کول

سوال: په اکثر اخبارونو او رسالو کې مثلاً ،،جنګ،، اخبار کې روزانه په يو دوو صفحو باندې د قرآني آياتونو ترجمې شائع کيږي،د تاسو په علم کې دي چې د قرآن پاک آياتونه يا ترجمې بغيرد اودس نه مسحه کول جائزنه دي، حالانکې ددې اخبارونو د چاپ کيدو نه تر تقسيمولو پورې او د لوستلو نه تراستعمالولو پورې په ټولو مرحلو کې شايد چې د يو بې اودسه لاس ته نه وي لګېدلی،حدخو دادی چې دا واخلي اوپه سړکونو باندې يې خواره کړي او بې اودسه يې ونغاړي، او کور والايې بې اودسه لولي،او څنګه چې يې خوښه وي نو ايږدي يې، په کباړي باندې يې خرڅوي او بيا پکې د خوراک څښاک وغيره شيان ترل کيږي او استعمالوي يې،او په آخر کې په سړکونو باندې په قدمونو کې. بلکې تر دې پورې چې د

---

[1] قال العلامة الحصكفي رحمه الله الكتب التى لاينتفع بها يمحى عنها اسم الله وملائكته ورسله ويحرق الباقي ولاباس بان تلقى فى ماء جار كما هى اوتدفن وهو احسن كما ف الانبياء (درمختارمع الشامي ج:٦ص:٤٢٣فصل فى البيع)

[2] لوكتب القرآن على الحيطان والجدران بعضهم قالوا يرجى ان يجوز وبعضهم كرهوا ذلك مخافة السقوط تحت اقدام الناس (هندية ج:٥ص:٣٢٣،كتاب الكراهية ،الباب الخامس ف آداب المسجدوالقبلة)_

ګندګي په ځایونو کې په نظر راځي، عرض دا چې دومره قباحتونه دي چې په دومره لویه پیمانې باندې احتیاط کول ډېر مشکل دي، آیا په داسې صورت کې د دې قرآني آیاتونو یا د دې ترجمې شائع کول به څنګه ګټور او جائز وي؟ آیا په دې طریقې سره د تبلیغ د ثواب نه زیاته د بې حرمتي ګناه نه لازمیږي؟

جواب: په اخبارونو کې د قرآني کریم د آیاتونو متن چاپ کول واقعي چې بې حرمتي ده[1] که چیرې د دې د حوالې ضرورت وي نو ترجمه دې ورکړل شي،اګر چې ترجمه هم د ادب لائق ده،خو د دې حکمونه د قرآن کریم د متن په شان نه دي او څومره چې ممکنه وي د دې پاڼو د ادب لحاظ ضروري دی.[2]

قرآن مجید د الماري په پورتنۍ برخه کې ږدئ

سوال: عرض دادی چې ماته یوه کشاله راپیښنه شوې ده، زه قرآن مجید دخپلو کتابونو په الماري کې په لاندیني درازکې ږدمو ناګهانه زما په ذهن کې خیال راغی چې دصوفې سطح ددراز نه اوچته ده،او نعوذبالله چرته دقرآن مجیدبې حرمتي شوې نه وي؟ دراز بندول، مهرباني وکړئ اوماته صحیح ووایئ؛ زه به ستاسو ډېر منندوی یم.

جواب: قرآن مجیدچونکې په الماري کې بنددی، ددې وجې نه بې حرمتي خونه ده،مګربهتره داده چې دادې اوچت کیښودل شي.[3]

قرآن مجید په لاندیني منزل کې کیښودل جائزدي

سوال: قرآن مجیدپه اوچت ځای باندې کیښودل کیږي،خو که کوردیومنزل نه په زیاتو منزلونوباندې مشتمل وي؛ نو ایاپه لاندیني منزل کې دقرآن مجید کیښودوسره ددې بې ادبي نه کیږي؟هرکله چې په پورتنومنزلونوکې خلک ګرځي راګرځي، څملی غرض داچې هرکارکوي.

جواب: په لاندیني منزل کې قرآن مجید کیښودوکې هیڅ حرج نشته.[4]

---

[1] فتح القدير :وتكره كتابة القرآن واسماء الله تعالى على الدراهم والمحاريب والجدران ومايفرش (شامى ج:١ص:١٧٩،قبيل باب ا لمياه) ايضًا ولو كتب القرآن على الحيطان والجدران بعضهم قالوا يرجى ان يجوز وبعضهم كرهوا ذلك مخافة السقوط تحت اقدام الناس كذافى فتاوى قاضى خان (عالمگيرى ج:٥ص:٣٢٣)

[2] وكذا ورق الكتابة لصقالته وتقومه ،وله احترام ايضا لكونه آلة لكتابة العلم ولذا علله فى التاتارخانية بان تعظيمه من ادب الدين (شامى ج:١ص:٣٤٠،فصل الاستنجاء ،مطلب اذا دخل المستنجى فى ماءقليل)

[3] حانوت اوتابوت فيه كتب فلادب ان لايضع الثياب فوقه ......الخ (هندية ج:٥ص:٣٢٤)_

[4] وقال الاترى انه لووضع فى البيت (القرآن) لاباس بالنوم على سطحه كذا ههنا (الهندية ج:٥ص:٣٢٢)_

قرآن مجید باندې کتابچه کیښودل او لیکل کول سخته بې ادبي ده

سوال: آیا په قرآن مجید باندې څه کتابچه وغیره کیښودل او په هغې کې لیکل پکار دي؟

جواب: ایا یو مسلمان چې په زړه کې یې د قرآن مجید ادب وي په قرآن مجید باندې کتابچه کیښودی شي او په هغې کې لیکل کولی شي؟![1]

د قرآن پاک په باره کې د ګستاخانه خیال راتلو شرعي حکم

سوال: یوه ورځ ناڅاپه زما په زړه کې د قرآن پاک په باره کې ګستاخانه خیال پیدا شو. ما دا خیال رد کړ، بیا د اسلامي عقیدو او د اسلام د شعائرو خلاف عجیبه قسمه د خیالونو او د ګمراهې والا سلسله شروع شوه، دا شیطاني خیالونه ولې راځي ؟او ددې علاج څه دی؟ خدای دې نه کړي په دې سره زه کافر یا مرتد شوې خو نه یم؟ د توبې به څه طریقه وي ؟

جواب: ددې خیالونو راتلل، ستا له لوري بد ګڼل او رد کول د ایمان د کاملوالي نښنه ده. شیطان ډاکو دی او ډاکو په دولتمن کور باندې ډاکه غورځوي. ددې خیالونو هیڅ کله هم پرواه مه کوه! داسې ګڼه لکه سپي چې غپیږي او د،، لاحول ،، په ډنډې سره یې دفع کوه، ان شاء الله هیڅ هم نه شي خرابولی.[2]

ټي وي کې د قرآن مجید د تلاوت په وخت هغه طرف ته پښې غځول

سوال: اکثر مور په ملاسته باندې په ټي وي څه پروګرامونه ګورو او په دې دوران کې موپښې هم د ټي وي طرف ته وي او تخت د ټي وي نه اوچت وي او د قرآن مجید ایاتونه په ټي وي باندې ښودل کیږي نو څه ګناه یې شته او کهنه؟ اوګناهګار به څوک وي کتونکي، که د ټي وي پروګرام ښودونکي؟

جواب: دا دیوې نه، بلکې دریو ګناهونو مجموعه ده: ۱..... ټي وي کتل بذات خود حرام دي.[3]
۲..... ددې حرام شي د قرآن کریم له پاره استعمال حرام دی.[4]

۱] ویوضع ......المواعظ ثم التفسیر(درمختار) قوله ثم التفسیر......والمصحف فوق الجمیع (درمختارمع الشامی ج:۱ص:۱۷۷، ۱۷۸ ،مطلب یطلق الدعاء علی مایشمل الثناء)_

۲] عن ابی هریرة رضی الله عنه قال:قال رسول الله صلی الله علیه وسلم:ان الله تجاوز عن امتی ماوسوست به صدرها مالم تعمل به اوتتکلم _متفق علیه _وعنه قال :جاء ناس من اصحاب رسول الله صلی الله علیه وسلم الی النبی صلی الله علیه و سلم فسالوه :انا نجد فی انفسنا مایتعاظم احدنا ان یتکلم به قال :اوقد وجدتموه؟قالوا :نعم !قال :ذلک صریح الایمان رواه مسلم (مشکوة ص:۱۸،کتاب الایمان، باب الوسوسة ،طبع قدیمی)

۳] وکره کل لهو لقوله علیه السلام کل لهو المسلم حرام الاثلاثة ملاعبته اهله وتادیبه لفرسه ومناضلته بقوسه (درمختارمع الشامی ج:٦ص:۳۹۵وایضًا عالمگیریة ج:۵ص:۳۵۲)_

٤] ومن حرمة القرآن ان لایقرأ فی الاسواق ولی موضع اللغو....[بقیه حاشیه په راروانه صفحه....

۳ .... د قرآن کريم د نقوشو طرف ته پښې غځول بې ادبي ده.[۱]

پروګرام کتونکي او ښودونکي ټول په دې عذاب کې شريک دي.[۲]

په ژبې سره د قرآن پاک الفاظ اداکول ضروري دي

سوال: اکثر په قرآن خواني کې خلک او خاصکر ښځې تلاوت داسې کوي لکه څنګه چې مطالعه کيږي آواز خو پرېږده شونډې يې هم نه خوځيږي، په زړه کې يې وايي، که هغوی ته وويل شي؛ نو جواب ملاوشي چې موږ په زړه کې وويلو، که سړيو مو د تلاوت آواز واوريده نو ګناه به وي.

جواب: د قرآن مجيد د تلاوت له پاره په ژبې سره الفاظ اداکول شرط دي، په زړه کې ويلو سره تلاوت نه کيږي.[۳]

په ژبه د ويلو نه پرته د تلاوت ثواب نه وي، خو د کتو او تصور ثواب به ورکول کيږي

سوال: ځينې خلک د قرآن مجيد تلاوت کوي خو شونډې نه خوځوي، په زړه کې خيال کوي او لولي.

جواب: تلاوت په ژبې سره د قرآن مجيد د الفاظو د اداکولو نوم دی؛ نو څوک که په ژبې سره ونه وايي او صرف په زړه کې خيال وکړي؛ نو د تلاوت ثواب به ورته نه ملاويږي، يوازې په سترګو سره د کتو او په زړۀ کې د تصورکولو ثواب به ورته ملاويږي.[۴]

آيا د ماسخوتن په لمانځه کې لوستلو سره به د شپې د سورتونو فضيلت حاصل شي؟

سوال: د ماسخوتن د لمونځ نه وروسته لوستلو والا سورتونه، تبارک الذي، الم سجده که

...بقيه د تېر مخ].. كذاف القنية (هندية ج:٥ ص:٣١٦، الباب الرابع فى الصلاة والتسبيح..الخ، وايضًا فى كفاية المفتى، شپاړسم باب، ريډيو او لاوډ سپيکر، ج:٩ ص:٢١٨ طبع دارالاشاعت)

١] ويكره ....مد رجليه ......الى مصحف ......الخ (درمختارمع الشامى ج:١ص: ٦٥٥طبع ايچ ايم سعيد)

٢] عن جرير قال: كنافى صدر النهارعند رسول الله صلى الله عليه وسلم ......فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم ......ومن سن فى الاسلام سنة سيئة كان عليه وزرها و وزرمن عمل بها من بعد من غير ان ينقص من اوزارهم شيء، رواه مسلم (مشكوة ص:٣٣، كتاب العلم، الفصل الاول طبع قديمى)_

٣] وكذا لاتجب بالكتابة او النظر من غير تلفظ لانه لم يقرأ ......الخ (كبيرى ص: ٥٠٠طبع سهيل اكيدمى لاهور، وايضًا فى الهندية ج:١ص:٦٩)_

٤] لان القراءة فعل اللسان (مراقى الفلاح شرح نورالايضاح ص:١٢٢)، وقراءة القرآن فى المصحف اولى من قراءة عن ظهر القلب لما روى عبادة بن صامت رضى الله عنه عن النبى صلى الله عليه وسلم انه قال: افضل عبادة امتى قراءة القرآن نظرًا ولان فيه جمعًا بين العبادتين وهوالنظر فى المصحف وقراءة القرآن (فتاوى خانية على هامش الهندية ج:١ص:١٦٢، الباب الحادى والعشرون فى الجنائز)_

چیرې د لمونځ په دوران کې ولوستل شي نو آیا هغه فضیلت چې کوم د لمونځ نه علاوه په ویلو سره ملاویږي حاصل به شي؟
جواب: حاصل به شي.

تبارک الذي او سورت یس په آواز سره لوستل

سوال: زما د لور عمر (۲۴) کاله دی. د (۱۱) کالو د عمر نه پنځه وخته لمونځ، سورت یس، سورت تبارک الذي روزانه وایي، د (۱۷) کالو په عمر کې د دې په غوږونو کې آواز راځي چې د هغې په وجه ورته ډیر تکلیف وي، ځینې خلک وایي چې دا د داسې لوستلو اثرات دي. مهرباني وکړئ او ووایئ چې ماشومه دا دوه سورتونه وایي او که نه؟
جواب: ماشومه دې دا دوه سورتونه په آواز سره نه وایي، بلکې داسې دې وایي چې په لوستلو کې آواز نه راځي.

د تلاوت له پاره هر وخت صحیح دی

سوال: دلته په سعودي عرب کې د اذان نه وروسته او دهرې جمعې لمانځه نه مخکې اکثر خلک دقرآن پاک تلاوت کوي، دجمعې په ورځ همدغه شان وي، ایا دورځې دڅه خاص وخت خیال ساتلو نه بغیر داسې عمل کول صحیح دي؟
جواب: دقرآن کریم تلاوت دورځی شپې په هیڅ وخت کې منع نه دی، هر وخت تلاوت کیدای شي.

د لمر راختلو په وخت کې تلاوت جائز دی

سوال: کله چې دلمر د راختلو وخت وي، نو هغه وخت کې لمونځ کولو نه منع شوې ده، آیا په دې وخت کې دقرآن مجید تلاوت کولی شو او که نه؟
جواب: دغه وخت کې دقرآن مجید تلاوت جائز دی.[1]

د زوال په وخت کې دقرآن پاک تلاوت او ذکر کول جائز دي

سوال: دقرآن خواني په باره سوال دا و چې دیو کس دمرګ نه وروسته په دویمه ورځ یا په بله څه ورځ قرآن خواني کیږي، یو صاحب وویل چې اوس دقرآن خواني وخت نه دی، دزوال وخت کیدونکی دی. آیا په دې وخت کې قرآن خواني کیدای شي؟
جواب: دزوال په وخت کې دقرآن کریم دتلاوت او نورذکر اذکار جائز دي، له دې وجې داویل غلط دي چې اوس دقرآن خواني وخت نه دی[2]، بلکې دا جدا بحث دی چې نن سبا دقرآن خواني

---

[1] وتستحب القراءة عندالطلوع اوالغروب...... الخ_(درمختارمع الشامی ج:٦ص:٤٢٣)_
[2] وتستحب القراءة عندالطلوع اوالغروب ......الخ (درمختارمع الشامی ج:٦ص:٤٢٣)_

رواج دی په هغه کې خلکو ډیر غلط شیان شامل کړي دي.

له مازدیګره ترماښامه دتلاوت او تسبیح له پاره بهترین وخت دی

سوال: دمازدیګر نه واخله ترماښام پورې قرآن پاک لوستل پکار دي او که نه؟ ویل کیږي چې دادزوال وخت وي.؟

جواب: دمازدیګرنه واخله ترماښام پورې وخت خوډیرمبارک دی،په دې وخت کې ذکراوتسبیح اوتلاوت قرآن پاک کې مشغولیدل ډیر خوښ عمل دی.[۱]

دقرآن پاک دتلاوت غوره وخت

سوال: دقرآن پاک دتلاوت غوره وخت کوم یودی؟ تقریبا دیوکال مخکینی خبره ده، زماپه زړه کې دقرآن دتلاوت اولمونځ کولوډیر زیات شوق راپورته شو،د ژمي ورځې وې،ورځ،ټول وخت به په کارکې مشغول وم،دلمونځ وخت خوبه راته ملاویده خوقرآن به مې عموماً دشپې یولسو دولسو بجوپه وخت کې تلاوت کولو،دترجمې سره به یې ماته ډیرخوندراکولو،ځکه چې دشپې وخت ډیر پرسکون وي،په پوهې سره لوستل ډیره مزه کوي،خوچې په دې یوه شوم نو ډیر زیاته خفه شوم چې یوه ورځ زماخاوندوویل بلکې ډیرزیات ناراضه شوچې داکوم وخت دی؟ خدامې کړه دې وخت کې کونډې ښځې تلاوت کوي؟ ته ماسپښنین یاسحروختی تلاوت کوه. زما خاوند په خپله دقرآن حافظ اوددیني علومونه خبردی،دهغه دخولې نه چې مې دا واوریدل نوډیره زیاته خفه شوم چې زماخاوندزما دقرآن پاک دلوستلوغلط مقصد باسي. هرکله چې زماپه زړه کې هیڅ داسې خیال نه و،نه ماته پته وه چې زه په دې وخت کې تلاوت وکړم؛ نوخلک به په موږ ښځه خاوندکې بې اتفاقي وګڼي.نه مې دامقصدو چې زما آواز دې ګاونډیان واوري اومادې ډیره نیکه وګڼي،زه خوځان په خپله ډیرزیات ګناه ګاره ګڼم،په هرحال دهغې ورځې نه داسې وشوچې د لمونځ. روژې طرف ته مې زړه نه راغب کیږي،ددنیاپه کارونوکې لګیایم،خوخپل ضمیرمې ډیره ملامته کوي، دمرګ تصورمې هیڅ وخت کې نه کمیږي.

جواب: ستا دخاوند دا وینا خویوه لطیفه ده چې په دې وخت کې کونډې ښځې تلاوت کوي، هسې داخیال ساتل ضروري دي چې زمونږ دطرز عمل نه بل ته تکلیف ونه رسیږي، دیولسو بجو وخت عموماً دارام وخت وي اوپه دغه وخت کې ستاتلاوت کولوسره دنوروپه ارام کې خلل راتلی شي. ستاسوله پاره مناسب دادي چې دکارختمولو اوماسخوتن لمونځ کولونه وروسته زر ویدۀ کیږه، په آخری شپه کې راپاځه او تهجد کولونه وروسته دقرآن کریم تلاوت کوه

۱] تستحب القراءة عندالطلوع او الغروب (درمختار)واقتصرعليه في ا لقنية حيث قال الصلوة على النبي صلى الله عليه وسلم والدعاء والتسبيح.افضل من قراءة القرآن في الاوقات التي نهي عن الصلاة فيها (شامي ج:٦ص:٤٢٣)_

(اوبنځوته پکاردي چې آوازکم ساتي په دومره لوړ آوازسره نه چې دنامحرمو تر غوږو پورې ورسیږي) په ژمي کې به درته ان شاء الله ډیروخت ملاویږي اوپه ګرمي(دوبې) کې که درته په دغه وخت کې دتلاوت وخت ملاونه شي؛ نود سحر دلمونځ نه وروسته یې کوه.داموزون ترین وخت دی اوتاچې کوم څه لیکلي دي چې یوه ورځ ستاخاوند ستا دبې وخته تلاوت په وجه تاته خبرې کړې وې دهغې ورځې نه پس دې لمونځ اوتلاوت طرف ته زړه نه راغب کیږي، ددې نه ستادنفس غلامعلومیږي .ځکه که تالمونځ او تلاوت دالله تعالی درضا له پاره کولو :نواوس ته دومره بې رغبته ولې شوې؟معلومیږي چې په دغه وخت کې تلاوت کولو کې ستادنفس څه مکرپټ و،ددې نه توبه وکړه ، که څه هم رغبت دې وي اوکه نه وي دلمونځ اوتلاوت اهتمام کوه،مګربې وخته نه.[1]

قرآني آیتونو والا کتاب ته بې اودسه لاس وروړل

سوال: په اقراء ډائجسټ کې قرآني آیتونه اودهغو ترجمه لیکل شوې وي،مهرباني وکړئ او دا وضاحت وکړئ چې ددې مطالعه له اوداسه پرته کیدای شي؟ همدغه شان څه نورکتابونه اویا اخبار په کوم کې چې دقرآني آیتونوترجمه یااحادیث نبوي ﷺ اودهغو ترجمه لیکل شوې وي، بې اودسه لوستل کیدای شي اوکه نه؟

جواب: دینی کتابونه چې په هغو کې آیتونه درج وي، بې اودسه ورسره لګولی شئ ،مګر دآیتونوپه ځای لاس مه لګوئ![2]

بې اودسه قرآن شریف لوستل جائز دي خو لاس ورسره لګول جائز نه دي

سوال: دقرآن شریف دنیولوله پاره یاپه لاس کې داخیستلوله پاره یادځه دایت کتلوله پاره اودس کول ضروري دي اوکه نه؟ ځکه چې انسان بغیر داودس نه هم پاک وي،شایدچې دقرآن شریف دپاسه کوم آیت درج وي، دهغه مفهوم همدغه شان دی چې پاک خلق دې کتاب سره لاس لګوي ، امید لروچې زمونږ رهنمایي به وکړئ!

جواب: بې اودسه قرآن شریف لوستل جائزدي[3] ،خولاس لګول ورسره جائزنه دي.[4]

---

[1] وفی الفتح عن الخلاصة:رجل یکتب الفقه وبجنبه رجل یقرأ القرآن فلایمکنه استماع القرآن فالاثم علی القاری وعلی هذا لوقرأ علی السطح والناس قیام یأثم اه_ای لانه یکون سببًا لاعراضهم عن استماعه او لا نه یوذیهم بایقاظهم تامل (ردالمحتار ج:۱ص:۵٤٦ باب صفة الصلاة فروع فی القراءة خارج الصلاة ،طبع ایچ ایم سعید)

[2] وفی السراج عن الایضاح ان کتب التفسیرلایجوز مس موضع القرآن منها وله ان یمس غیره وکذا کتب الفقه اذاکان فیها شیء من القرآن..الخ (شامی ج:۱ص:۱۷٦،وایضًا حاشیة طحطاوی علی مراقی الفلاح ص:۷۷)

[3]]ویباح له قراءة القرآن لما روی ان رسول الله صلی الله علیه وسلم کان لایحجزه عن قراءة القرآن شیء الا الجنابة (البدائع الصنائع ج:۱ ص:۳٤کتاب الطهارة ،مطلب مس المصحف)_

[4]] لایجوز للمحدث....مس المصحف من غیر غلاف.....الخ ....[بقیه حاشیه په راروانه صفحه....

د استاذ له ويرې د ناپاکي باوجود د قرآن د لوستلو کفاره

سوال: زه به يوې مدرسې ته د حفظ له پاره تلم، يوه ورځ چې زه ناپاکه ومه د استاذ د ويرې نه مې د ناپاکي په حالت کې قرآن مجيد هم لوستلو. ددې ورځې نه وروسته په بيماري کې مبتلا شوم، يو کال وشو، علاج جاري دی، خو هيڅ فرق نه کيږي ،ددې کفاره څه ده؟

جواب: د الله تعالی ته په ريښتوني زړه توبه اوباسه، د الله تعالي نه د صحت دعا وغواړه، درې ځله سورة فاتحه ووايه او خپل ځان پرې دم کړه، الله تعالي به صحت در کړي، د ناپاکي په حالت کې په ژبې سره تلاوت مه کوه بلکه په زړه کې يې وايه.يعنې د ژبې د خوځولو نه پرته او قرآن مجيد په کپړې سره نيسه او په څه شي سره پاڼه اړوه ![1]

قرآن مجيد بې اودسه مسحه کول

سوال: په کراچۍ کې يو صاحب د قرآن پاک درس کوي دقرآن متعلق دده معلومات هم ډير دي، دده وينا ده چې د قرآن پاک د ويلو د پاره اودس ضروري نه دی. کله چې ستا زړه غواړي، کله چې تاته وخت ملاو شي،لوستلی يې شي اصل احترام خو په زړه کې وي،دده وينا ده چې قرآن پاک په کاغذ باندې ليکل شوی دی،اخبار هم په کاغذ باندې ليکل کيږي،دايوازې دملايانو خلکو ته د قرآن نه د لرې کولو خبرې دي،د قرآن او دحديث په رڼا کې جواب راکړئ"

جواب: په قرآن کې دي : ((لَا يَمَسُّهُ إِلَّا الْمُطَهَّرُونَ)) په دې وجه دا سړی غلط وايي [2]

د ناپاکې په حالت کې دقرآن په لاس کې اخيستلو کفاره

سوال: قرآن مجيد په داسې حالت کې په لاس کې اخيستل يا پورته کول چې کله غسل فرض وي دا ګناه به د توبې سره معاف شي که کفاره به هم اداء کول وي؟

جواب: د ناپاکي په حالت کې قرآن مجيد ته له جامې پرته نه لاس لګول کبيره ګناه ده، که چيرې داسې ضرورت راپيښ شي؛نو په يوې پاکې کپړې سره قرآن پاک اوچتول پکار دي[3] ددې کفاره توبه او استغفار دی، د الله تعالي نه معافي غواړه او آئنده دا ناجائز کار مه کوه.

...بقيه د تير مخ] .. (بدائع الصنائع ج:١ص:٣٣. كتاب الطهارة. مطلب مس المصحف .وايضًا فى الشامية ج:١ص:٧٣، وفى الهندية ج:١ص:٣٨،الباب السادس فى الدماء المختصة بالنساء)

[1] ولايجوز للحائض ولا جنب قراءة القرآن ......ولايجوز لمحدث مس المصحف ......الا ان ياخذه بغلافه او بعلاقته ......الخ (الجوهرة النيرة ج:١ص:٣٠،باب المسح على الخفين)

[2] الواقعة :٧٩_

[3] ومنها حرمة مس المصحف لايجوز لهما وللجنب والمحدث مس المصحف الا بغلاف متجاف عنه كالخريطة (عالمگيري ج:١ص:٣٩ ،الباب السادس فى الدماء المختصة بالنساء)

نابالغه ماشومان بې اودسه قرآن شريف سره لاس لګولی شي

سوال: واړه ماشومان هلکان جينکۍ په جومات کې سبق وايي.د متيازو کولونه وروسته اودس نه کوي،بې اودسه قرآن سره لاس لګوي،دمعلم وينا ده چې ترڅوپورې په ماشوم باندې لمونځ فرض شوی نه وي، هغه بې اودسه قرآن شريف سره لاس لګولی شي.د څلورو پنځو کالو ماشومان بار بار متيازوته ځي اوهوايي خارجيږي، دهغوی له پاره هرپنځه شپږ مينټه پس اودس کول ګران کار دی،پوښتنه داده چې ترکوم عمرپورې ماشومان بې اوسه قرآن سره لاس لګولی شي؟

جواب: په وړوماشومانوباندې اودس فرض نه دی،دهغوی اودسه قرآن مجيدسره لاس لګول صحيح دي.[1]

قرآن مجيد دې که مخکې نه وی ويلی اوس يې ويلې شې

سوال: قرآن مجيد يوازې په عربۍ ژبه کې ويلوسره ثواب حاصليدای شي اوکه په اردو ژبه کې ترجمه وويل شي، بياهم ثواب حاصليږي ؟ ځکه چې ماته عربي نه راځي.

جواب: قرآن په عربي کې دی،[2]اردوکې به خوددې ترجمه وي او دهغې ثواب دقرآن پاک دتلاوت ثواب نه دی،تاکه قرآن مجيدويلی نه وي؛ نواوس يې هم ويلی شې.

که زړه لګيږي يا نه قرآن شريف ويل پکاردي

سوال: زه دقرآن شريف تعليم حاصلوم دالله تعالی شکردی چې ما تر اوسه پورې ۱۹ سيپارې ويلي ديي اواوس مې په ويلوکې زړه نه لګيږي تاسوراته يوه وظيفه وښايئ ستاسوبه ډيره مهرباني وي چې په هغې زه عمل وکړم اوتعليم حاصلولوکې مې زړه ولګيږ.دلمونځ نه وروسته دعاکوم چې اې زماربه!زمايه علم کې اضافه وکړه!

جواب: ځينې کارونه داسې وي چې که زړه دې غواړي يانه غواړي هغه به ضرورکوې، مثلاً دواء (درمل) خوړل زړه نه غواړي، مګردصحت دخيال له وجې خوړل کيږي،همدغه شان قرآن مجيدهم دباطني صحت له پاره دی، که زړه دې ورسره لګيږي يانه، لګيااوسه وايه ان شاءالله زړه به دې هم ورسره ولګيږي.[3]

۱] قوله ولايکره مس صبي .....الخ. فيه ان الصبي غيرمکلف.....الخ (شامي ج:۱ص:۱۷٦ طبع ايچ ايم سعيد)

۲] د زيات تفصيل اوحوالو دپاره اوګورئ: په راتلونکو صفحو کی عنوان ''د امريکايانو د قرآن مجيد په تلاوت باندی اشکالات او جوابات،، سره د حاشيې)۔

۳] وقوله ان الذی ليس فی جوفه شیء من القرآن کالبيت الخرب يعنی عمارة القلوب بالايمان والقرآن وذکرالله فمن خلا قلبه من هذه الاشياء فقلبه خرب لاخير فيه ....[بقيه حاشيه په راروانه صفحه....

قرآن مجید په غلاف کې کېښودل او ډېر وخت نه ویل موجب وبال دی

سوال: نن سبا داعامه خبره ده چې دقرآن مجید تلاوت نه کیږي. قرآن مجید په کورونو ، هوټلونو او دکانونوکې په اوچت ځای په نظرراځي، په غلاف یې ښې ډیرې خاورې دوړې پرتې وي، ایا قرآن مجید په داسې ځایونوکې کېښودل جائزدي ؟

جواب: قرآن مجید په اوچت ځای کې کېښودل پکاردي باقي ترمودو مودو پورې دتلاوت نه کول دشرم وړ او موجب وبال ده.[۱]

د قرآن مجید تلاوت نه کوونکی د دلوی نعمت نه محروم دی

سوال: که کوم کس دقرآن مجید تلاوت نه کوي؛ نو هغه دګناه مرتکب کیږي خونه؟

جواب: دقرآن مجید تلاوت نه کولو واله ګناه ګارخونه دی، مګردیوعظیم الشان نعمت نه محروم دی.

د سګريټ څکلو سره د قرآن مجید مطالعه کول یا ترجمه لوستل خلاف ادب دي

سوال: یوکس دقرآن حکیم مطالعه په معنا دپوهیدوله پاره کوي، داردو په مددسره هغه الفاظ او عبارت باندې دپوهیدوکوشش کوي او په دې دوران کې سګريټ څکي، دهغه دافعل ترکومې پورې صحیح دی؟ آیا هغه دسګریټ څکلودګناه مرتکب کیږي هرکله چې چلیم څکلو سره اودس نه ماتیږي؟

جواب: سګريټ یاچیلم څکلوسره اودس نه ماتیږي، خو کوم کس چې دقرآن حکیم ددومره احترام کولونه هم خالي دی هغه ته به قرآن فهمي خاورې نصیب شي؟ بیابه هغه بې چاره په ترجمه څه پوهه شي؟ ,, انالله وانااليه راجعون ،،

د ویده کیدو په وخت کې آیت الکرسی ویلو کې بی ادبي نشته

سوال: ایت کرسی زه دشپې وایم اوویده کیږم، خو په ځینې وختونوکې داسې وشي چې کله څملم نوراته رایاده شي، په ملاسته ویلوکې بې ادبي خونشته؟ ضرور راته ووایئ!

جواب: په ملاسته ویل جائزدي، بې ادبي نه ده.[۲]

...بقیه د تیر مخ]. (التعلیق الصبیح علی المشکوة المصابیح ،باب فضل القرآن الفصل الثانی ج:۳ص:۱۵)_

۱] ایضاً بورتنی حاشیه اوګوری)_

۲] ولوقرأ مضطجعًا فلاباس ......الخ (فتح القدیرج:۱ص:۲۴۲)_

تلاوت کونکي ته دې نه څوک سلام کوي او نه دې هغه جواب ورکوي

سوال: کله چې یو کس د قرآن پاک تلاوت کوي په داسې حالت کې په هغه سلام اچول کیدای شي یا نه؟ او که سلام وکړل شي؛ نو آیا په هغه باندې د سلام جواب ورکول واجبیږي؟

جواب: په هغه دې سلام نه اچول کیږي[۱] او د هغه په ذمه د سلام جواب ورکول هم ضروري نه دي.[۲]

د هر تلاوت کونکي له پاره پوهیدل ضروري دي چې چیرته ودریږي؟ او چیرته نه؟

سوال: د قرآن پاک رموز اوقاف اداکول آیا په هر مسلمان باندې فرض دي او یوازې د قاریانو له پاره ضروري دي.

جواب: په کوم لفظ باندې، څنګه وقف وکړل شي؟ او چیرته وقف ضروري دی او چیرته نه؟ په دې خبره باندې پوهیدل د هر تلاوت کونکي له پاره ضروري دي او دا ډیر ګران نه دي؛ ځکه چې په قرآن پاک کې د دې علامات لګیدلي وي، باقي د فن په باریکیو پوهیدل د ماهرینو کار دی.[۳]

په جوماتونو کې د قران پاک د تلاوت اداب

سوال: په جوماتونو کې چې خلک په لمونځ او ذکر کې مشغول وي؛ نو آیا تلاوت په لوړ آواز سره کول جائز دي؟

جواب: په دومره لوړ آواز سره تلاوت کول جائز نه دي چې د چا په لمونځ کې خلل پریوځي.[۴]

که یو کس قرآن پاک لولي نو آیا اوریدل یې ضروري دي؟

سوال: مولانا صاحب! زه په خپله په دې میاشت کې لمونځ او تلاوت کوم، د کور ټول کسان موبه دې باندې عمل کوي، سوال دادی چې په کور کې هرکله چې تقریباً ټول کسان په لوړ آواز سره

۱]یکره السلام علی العاجزعن الجواب حقیقة کالمشغول بالاکل او الاستفراغ ،اوشرعًا کالمشغول بالصلاة وقراءة القرآن،ولوسلم لایستحق الجواب ...الخ (شامی ج:۱ص:۶۱۷،مطلب المواضع التی یکره فیها السلام)

۲] وفی شرح الشرعة :صرح الفقهاء بعدم وجوب الرد فی بعض المواضع ......وسلام السائل ،والمشتغل بقراءة القرآن ،والدعاء حال شغله......الخ (باب مایفسد الصلاة ومایکره فیها ،مطلب المواضع التی لایجب فیها ردالسلام)

۳] ورتل القرآن ترتیلاً (المزمل :۴) _ای اقراه علی تمهل فانه یکره عونا علی فهم القرآن وتدبره (تفسیرابن کثیرج:۶ص:۳۲۹،ایضًا احسن الفتاوی ج:۱ص:۸۶)_

۴] لایقرأ جهراً عندالمشتغلین بالاعمال ......الخ (هندیة ج:۵ص:۳۱۶،کتاب الکراهیة ،الباب الرابع فی الصلاة والتسبیح وقراءة القرآن والذکر والدعاء ورفع الصوت عندقراءة القرآن)_

قرآن پاک لولي؛ نو آیا مونږ هغه واوروياخه ذاتي اودنیاوی کارونه هم هغه وخت کولی شو؟ زه په ډیرشش وپنج کې مبتلاکیږم چې آخردقرآن حکیم دتلاوت په دوران کې ترکومې پورې کارونه ونه کړم...؟ امیدلرم چې تاسوبه مې مدد وکړئ اوماته به جواب راکړئ،زمادقرآن پاک سره ډیرزیات محبت دی ،زه په خپله هم وایم ،مګرمایوحدیث لوستلی دی چې داترهغې پورې لولئ پرکومې پورې چې زړۀ غواړي.

جواب: کوم کس چې ځانته قرآن پاک وایي دهغې اوریدل واجب نه دي اوکوروالوله پاره دابهتره ده چې په کم آوازسره وایي.[۱]

په سورت توبه کې بسم الله الرحمن الرحیم لوستل

سوال: .دقرآن مجیدپه سورتونوکې یوازې دیوه سورت توبه په شروع کې بسم الله الرحمن الرحيم نشته،که یوکس بغیردبسم الله نه دسورت توبه تلاوت وکړي اوپه مینځ کې ودرېږي اوپه دویمه ورځ هم دهغه ځای نه تلاوت شروع کړي؛ نوبسم الله ویلی شي اوکه نه؟

جواب: سوره برات(توبه)په شروع کې دبسم الله نه لیکلووجه دحضرت عثمان رضي الله عنه نه منقوله ده چې: ددې سورت مضامین چونکې ددې نه مخکې سوره انفال په شان دي ددې وجې نه زمونږ خیال راغی چې دا دسورت انفال برخه نه وي، احتمال جزئیت په وجه سره بسم الله ونه لیکل شوه اود مستقل سورت کیدوداحتمال په وجه دې د مخکینی سورت نه ممتازکړل شو، ګویا د جز کیدو یانه کیدو دواړو طرفونورعایت وساتل شو[۲]ددې سورت په شروع کې دبسم الله ویلو حکم دادی چې که دپورتنه تلاوت راروان وي؛ نوبیابغیردبسم الله ویلونه سوره توبه شروع کړئ. اوکه ددې سورت نه موشروع وکړه نودعام معمول مطابق اعوذبالله،اوبسم الله ویلونه شروع وکړئ.همدغه شان که سورت موپه مینځ کې درولی و،نومخکې چې کله تلاوت شروع کړئ نوبیاهم داعوذبالله نه وروسته بسم الله ویلونه شروع کوئ.[۳]

۱] ایضاً پورتنۍ حاشیه)۔

۲]وفی وجه ترک البسملة عنها روی البغوی بسنده واحمده وابوداود والنسائی وابن حبان والحاکم وصححه والترمذی وحسنه عن ابن عباس رضی الله عنهما:قال :قلت لعثمان رضی الله عنه :ماحملکم علی ان عمدتم الی الانفال وهی من المثانی والی براءة وهی من المـئین فقرنتم بینهما ولم تکتبوا سطر بسم الله الرحمن الرحیم ووضعتموها فی السبع الطوال ،فقال عثمان رضی الله عنه :ان رسول الله صلی الله علیه وسلم کان ممایاتی علیه الزمان وهویترل علیه السورذوات العدد فاذا نزل علیه الشیء یدعوا بعض من کان یکتب عنده فیقول ضعوا هذه الآیة فی السورة التی یذکرفیها کذاوکانت الانفال ممانزلت بالمدینة وکانت براءة من آخرمانزلت وفی لفظ وکانت البراءة من آخرالقرآن نزولاً وکانت قصتها شبیهة بقصتها وقبض رسول الله صلی الله علیه وسلم ولم یبین لها انها منها فمن ثم قرنت بینهما ولم أکتب سطر بسم الله الرحمن الرحیم ووضعتها فی السبع الطوال (التفسیر المظهری ج:٤ص:١٣٢، ایضًا معارف القرآن ج:٤ص:٣٠٦)۔

۳] فان استعاذ بسورة الانفال وسمی ومرفی قراءته الی سورة التوبة ....[بقیه حاشیه په راروانه صفحه....

دقرآن شریف په هره کربنه کوته کیښودل او ، ،بسم الله الرحمن الرحیم، ، لوستل

سوال: ...ما اوریدلي اولیدلي مې هم دي چې اکثرخلک دقرآن پاک په هره کربنه کوته کیږدي او ،،بسم الله الرحمن الرحیم، ، لولي، وایي چې داسې دوه ځله قرآن پاک ختمولوثواب دیوختم برابر ملاویږي، ددې خلکودافعل ترکوم حدپورې صحیح دی؟

جواب: دې سره دقرآن پاک دتلاوت ثواب نه ملاویږي اوپه قرآن پاک باندې کوته کرځول فضول حرکت دی ،یوازې دبسم الله ویلوثواب به ورته ملاوشي.[۱]

قرآن کریم کوته کیښودو سره یا بغیر د کوتې کیښودو نه ویل

سوال: دا ووایئ چې دقرآن کریم په لوستلو کې کوته کیښودل پکار دي یا بغیر د کوتې د کیښودو نه ویل کیږي؟ څه فرق خو نه پرېوځي؟

جواب: دواړه صحیح دي هیڅ فرق نشته.

له پوهې پرته دقرآن پاک اوریدل بهتردي اوکه اردو ترجمه لوستل؟

سوال: په رمضان المبارک کې تراویح لوستل کیږي،زه تراویح کولو له پاره ډیرکم ځم،زه ویریږم چې چیرته ګناه خونه کوم؟ موږ ته عربي نه راځي،ددې وجې نه قرآن پاک خولوستلی شو، خو پوهیدای پرې نه شو اوپه تراویح کې دپوره قرآن پاک ختم کیږي.مګرکوم شیزچې موږ په پوهه کې رانشي هغې ته عبادت څنګه ویل کېدای شي؟ که زه په مبارکه میاشت کې د ماسخوتن دمونځ نه پس دقرآن شریف داردوترجمه لولم نوماته به څه سبق حاصلیږي او خپلو یارانو دوستانوته به په خپله ژبه کې څه قرآني واقعات واورولی شم،نو آیا دتراویحو نه کولو سره به زه ګناهګار یم؟ هرکله چې په تراویحو کې راتلونکي قسماقسم خیالات دحافظ صاحب تیزي،اودقرآن پاک باندې ناپوهي په وجه زماپه ذهن کې ننوځی اوسوادګناه نه نورهیڅ نه دي.

جواب: ستاسوتحریرپه څومسایلوباندې مشتمل دی،کوم چې ډیرپه اختصارسره ذکرکوم:

۱:.....په تراویح کې پوره قرآن پاک اوریدل سنت موکده دي اوددې نه محروم پاتې کیدل ډیره لویه محرومي ده،بل هیڅ یوعبادت ددې په شان کیدای نه شي.[۲]

..بقیه دتیرمخ]..وقرأها کفاه ماتقدم(الی ان قال)وکذلک سائرالسور_کذافی المحیط (هندیة ج:۵ص:۳۱۶)_

۱] لان التسمیة آیة من القرآن انزلت للفصل وللتبرک فی الابتداء بها بین السورعندنا (تفسیرنسفی ج:۱ص:۲۶طبع دارابن کثیربیروت)_

۲] قوله والختم سنة ای قراءة الختم فی صلاة التراویح سنة ......الخ (شامی ج:۲ص:۴۶،باب الوتروالنوافل)

۲.....قرآن مجيد لوستل مستقل عبادت دی، که په معنا پوه شي یا پوه نه شي، او په قرآن مجيد باندې پوهيدل جدا عبادت دی، که ستا په قرآن مجيد باندې د پوهيدو شوق وي؛ نو دا ډير لوی سعادت دی، ستا د الفاظ قرآن تلاوت ..نعوذبالله...بې کاره ګڼل غلط دی. د آيتونو تلاوت الله تعالی په مستقل طور سره د نبوت په مقاصدو کې شمار کړی دی او د تلاوت تعریف یې کړی دی، حضور ﷺ د تلاوت قرآن ډیر زیات فضائل بیان کړي دي د دې وجې نه تلاوت فضول ګڼل د خدای او رسول تکذیب او د قرآن مجید د توهین په معنا دی، زموږ شیخ حضرت اقدس مولانا محمد زکریا رحمه الله رساله ,,فضائل قرآن ،، دې وکتل شي [۱]

۳.....د قرآن مجيد د زده کولو طريقه دا نه ده چې تاسو ترجمه په خپله د ځان نه ولوستله، ځکه چې اول خو دا معلومه نه ده چې کومه ترجمه ستاسو زیر مطالعه ده، هغه د چا د ینداركس ده یا د بې دینه، د مومن ده یا د کافر؟ او دا چې هغه د الله تعالی په منشا باندې په سمه طریقه پوه شوی هم دی او که نه؟ او که پرې پوه شوی دی؛ نو چې په سمې طريقې سره تعبير شوی دی او که نه؟ او بیا دا چې ترجمه کتلونه وروسته ته په صحیح خبره پوه شوې او که نه؟ چېرته په فهم کې درنه لغزش خونه دی شوی؟ د دې د اطمينان کولو ستاسره هیڅ ذريعه به نه وي او خدای مکړه که غلط مفهوم دې نورو ته بیان کړ؛ نو د افتراء علی الله ويره ده، د شاهی فرامينو د ترجماني له پاره څنګه څنګه ماهران ساتل کیږي، لوی ظلم به وي چې موږ د قرآن فهمي له پاره د څه استعداد او مهارت ضرورت هیڅ ونه ګڼو، او یوازې د ترجمه خوانی نوم قرآن فهمي کیږدو، غرض مې دا دی چې د قرآن فهمي دا طریقه نه ده، چې یوازې اردو ترجمه لوستل کافي وګڼل شي، بلکې که دا شوق وي نو د چا عالم په صحبت کې دې قرآن مجید ولوستل شي او د دې له پاره دې ضروري استعداد پيدا کړل شي.

۴.....بیا تاسو د تراویحو وخت ولې د ترجمه خوانی له پاره تجویز کړ؟ کوم عبادتونه چې شريعت مقرر کړي دي هغه حذف کول او په خپل خيال په قرآن فهمي کې مشغوليدل ګويا صاحب شريعت ته مشوره ورکول دي، چې هغه ته د فلاني عبادت په ځای دا مقررول پکار و، او دا خبره د بندګۍ د آدابو نه خلاف ده، د بنده فرض خو دا پکار دي چې کوم وخت کې د هغه کومه وظیفه (دنده) ولګول شي هغه دې پوره کړي که د ترجمه خواني شوق وي؛ نو د هغې له پاره تاسو د سیر وسیاحت او ارام وطعام مشاغل حذف کړئ نو بیا هم وخت ويستلی شئ!

۵.....ستاسو د ارشاد هم زما په نزد د اصلاح محتاج دی چې: ,,خپلو یارانو دوستانو ته د هغوی په ژبه کې قرآني واقعات بیان کړم،، بنده چې د هدایت الهي مطالعه کوي نو د دانيت ورته کول پکار دي چې کوم هدايت ماته ملاوشي په هغې به په خپله عمل کوم او هم د دې عمل يوه شعبه دا هم ده چې کومه صحیح مسئله را ته معلومه شي هغه دې نورو مسلمانانو ورونو ته اوښودل

[۱] فضائل القرآن ص۸ تا ۷۲)_

شي،خو موږ ته دخپل ځان داصلاح فکر اول کول پکاردي اودقرآن کریم اوحدیث نبوی مطالعه یوازې په دې نیت سره کول پکاردي.

۶.....په تراویحو کې دې حافظ صاحب داسې مقررکړل شي چې دقرآن پاک الفاظ په صحیح طریقې سره اداکوي اوپه تیزي کې الفاظ خراب نه کړي.

۷.....په لمونځ کې چې کوم خیالات بغیرد قصد او ارادې نه راشي هغه ګناه نه ده،نه په دې باندې مواخذه شته،په دې خیالات باندې پریشانه کیدل غلط دي،خو داضروري ده چې بنده دې دلمونځ طرف ته دمتوجه کیدوکوشش باربارکوي،که خیالات یې ګډوډ یږي نوهیڅ خبره نه ده،ددې طرف ته خیال مه کوئ بلکې باربارلمونځ طرف ته خیال ساتئ ،ان شاءالله دکامل لمونځ ثواب به درته ملاویږي.[۱]

په اردو تلاوت کول

سوال: جناب مسئله داده چې که قرآن کریم په اردوکې وویل شي نوهم هغومره ثواب به ملاویږي څومره چې په عربي کې دلوستلو وي اوکه په عربي کې لوستل بهتردي؟ځکه چې په عربي کې قرآن خو ولولو،خو ظاهره خبره ده چې پوهیږو پرې نه،هرکله چې ترڅوپورې په قرآن پاک باندې پوه نه شي او عمل پرې ونه شي، ددې لوستل بیکاره دي.

جواب: داردوترجمه لوستلوسره به درته دتلاوت ثواب نه ملاویږي،د تلاوت ثواب یوازې دقرآن پاک دالفاظوسره خاص دی،دپوهیدوله پاره دتلاوت کولونه وروسته ددې ترجمه اوتفسیر ولوله.!

اودقرآن پاک تلاوت چې ناپوهي سره وکړل شي دې ته بیکاره ویل دحضور ﷺ تکذیب دی،ځکه چې حضور ﷺ دقرآن پاک دتلاوت بې شمیره فضایل بیان کړي دي،دافضائل دقرآن پاک دالفاظودتلاوت دي، که په معنا اومفهوم یې پوه شې یانه.[۲]

---

[۱] عن ابی هریرة رضی الله عنه قال:قال رسول الله صلی الله علیه وسلم :ان الله تجاوز عن امتی ماوسوست به صدرها مالم تعمل به او تتکلم. متفق علیه (مشکوة ص:۱۸، باب فی الوسوسة ،الفصل الاول)، وعن القاسم بن محمد ان رجلاً ساله فقال : انی اهم فی صلوتی فیکثرذلک علی فقال له :امضی فی صلوتک فانه لن یذهب ذلک عنک حتی تنصرف وانت تقول ماااتممت صلوتی ،رواه مالک (مشکوة ص:۱۹،باب فی الوسوسة ،الفصل الثالث)_

[۲] قال رسول الله صلی الله علیه وسلم :من قرأ حرفًا من کتاب الله فله به حسنة والحسنة بعشرامثالها، لا اقول آلم حرف بل الف حرف ولام حرف ومیم حرف رواه الترمذی (مشکوة المصابیح ج:۱ص:۱۸۶) (عن ابی سعیدقال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم :یقول الرب تبارک وتعالی :من شغله القرآن عن ذکری ومسئلتی اعطیته افضل ما اعطی السائلین، وفضل کلام الله علی سائرالکلام کفضل الله علی خلقه (مشکوة ج:۱ص:۱۸۶ ،باب فضائل القرآن)

د اردو په ترجمې د قرآن مجید ثواب

سوال: د قرآن مجید د تلاوت په ځای باندې که چیرې د قرآن کریم د اردو ترجمه په ترتیب سره ولوستل شي؛ نو ثواب به ملاو شي؟ ځکه چې که چیرې د اردو ترجمه په عربۍ کې وکړل شي نو قرآن کریم ترې جوړیږي؟

جواب: قرآن مجید په عربي کې نازل شوې دی[1] او ددې د هر لفظ په تلاوت باندې د لسو نیکو وعده ده[2] ظاهره ده چې ددې په ترجمې باندې اجر اوثواب نشته دی، په دې وجه د قرآن مجید د تلاوت ثواب به صرف د عربۍ الفاظو په تلاوت باندې ملاویږي،د ترجمې په ذریعه باندې د مفهوم د پوهیدو ثواب ملاویږي، د قرآن کریم د تلاوت ثواب نه ملاویږي.

یوازې په ترجمه لوستلو د تلاوت ثواب نه ملاویږي

سوال: دترجمې واله قرآن پاک ترجمه لولم،آیا داسې قرآن پاک لوستلو به راته هم هغومره ثواب ملاویږي څومره چې په عربي (کوم چې ددې اصلي شکل دی)لوستلوسره ملاویږي ؟

جواب: دقرآن پاک دالفاظودتلاوت کولونه پرته یوازې ترجمه لوستلو سره دقرآن پاک دلوستلو ثواب به درته نه ملاویږي.

د قرآن پاک الفاظ په معنی له پوهې پرته لوستل هم عظیم مقصددی

سوال: یوکس په عربي کې دقرآن پاک تلاوت کوي اولکه دطوطي په شان لګیادی،مګرهغه ته پته نشته چې هغۀ څه ولوستل ددې مطلب څه دی؟ یوازې هغه ته پته ده چې دالله تبارک وتعالی کتاب لولم اوس ددې څه مقصدشو؟ددې کس دې طریقې سره قرآن پاک دده له پاره داسې شولکه محض انګریزي یایوناني لوستل،که ده ته ددې معنې نه ورځي؛ نو آیادې کس ته به بغیر دمعنی په قرآن پاک لوستلو باندې ثواب ملاوشي؟ حالانکې دقرآن پاک دلوستلو مقصد اومطلب دادی چې دامقدس کتاب دی په خوبصورتي سره وویل شي اوپه دې دې عمل وکړل شي،که مقصدصرف لوستلو پورې محدودوي نوڅه فائده؟

جواب: دقرآن پاک د الفاظو تلاوت یومستقله وظیفه ده،دکوم چې په قرآن پاک اواحادیث نبوی ﷺ کې ترغیب ورکړل شوی دی،اودایې د مقاصد نبوت محمدیه ﷺ نه یومستقل

[1] انا انزلنه قرانًا عربيًا لعلكم تعقلون (يوسف :٢)

[2] عن ا بن مسعود قال:قال رسول الله صلى الله عليه وسلم :من قرا حرفًا من كتاب الله فله به حسنة ،والحسنة بعشر امثالها، لا اقول الم حرف ، بل الف حرف ،ولام حرف ،وميم حرف (مشكوة ص:١٨٦،رواه الترمذى، كتاب فضائل القرآن الفصل الثانى ،طبع قديمى كتب خانه كراچى)

مقصد ګرځولی دی[1] او دقرآن پاک الفاظ لکه دطوطي په شان زده کول، حفظ کول، او ددې دتلاوت کولو اجراوثواب بیان شوی دی اوددې په معنا اومفهوم پوهه یومستقله وظیفه ده اودهغې جدااجراوثواب دی اوپه پوهه سره په احکاموباندې عمل کول دټولونه اهم ترین مقصددی اوهرمسلمان ته دخپل وس مطابق دالله تعالی دکلام تلاوت کول پکاردي اوددې الفاظ هم یادول پکاردي اوددې په معنا اومفهوم باندې هم ضرور پوهیدل پکاردي اودالله تعالی په ارشاداتوباندې عمل کول پکاردي مګربې پوهې لوستلوته بې فائدې و یل صحیح نه دي، بلکې ګستاخي اوبې ادبي ده، او توبه کول ترې واجب دي.[2]

په معنا باندې د پوهیدو نه پرته هم د قرآن پاک تلاوت مستقل عبادت دی

سوال: زماسوال دادی چې قرآن پاک دپوهې نه پرته دلوستلوهیڅ فائده نشته، ترڅوپورې چې ددې معنا ونه لوستل شي، خو آیا داجائزده چې موږ رکوع لوستل غواړواویوازې ددې معنا ولولو (دتلاوت نه پرته)؟

جواب: دقرآن پاک تلاوت یومستقل اواعلی ترین عبادت دی او ددې مفهوم اومعنا باندې پوهیدل یومستقل عبادت دی، او بیاپه دې باندې عمل کول یوجداعبادت دی، په قرآن کې دحضور ﷺ ددرېو وظائفو ذکرفرمایل شوی دی:

۱: دایاتونو تلاوت. ۲: دکتاب وحکمت تعلیم. ۳: تزکیه.[3]

دا دهمدې درېوعبادتونوطرف ته اشاره ده، کوم چې پورته ذکر شوي دي، له دې وجې په معنا باندې دپوهیدونه پرته دقرآن کریم تلاوت بېکاره ګڼل غلط دي، آیا داګټه څه کمه ده چې دقرآن پاک په یوحرف باندې لس نیکۍ ورکول کیږي[4].

۱]ربنا وابعث فیهم رسولاً منهم یتلوا علیهم ایتک ویعلمهم الکتب والحکمة ویزکیهم ......الآیة (البقرة :۱۲۹) قال الامام الرازی فی تفسیره : (قوله ویعلمهم الکتب) والمراد انه یامرهم بتلاوة الکتاب ،ویعلمهم معانی الکتاب وحقائقه وذالک لان التلاوة مطلوبة لوجوده منها بقاء لفظها علی السنة اهل التواتر فیبقی مصونًا عن التحریف والتصحیف ،ومنها ان یکون لفظه ونظمه معجزًا لمحمد صلی الله علیه وسلم ومنها ان یکون فی تلاوته نوع تلاوة وطاعة ومنها ان تکون قراءته فی صلوات وسائرالعبادات نوع عبادة فهذا حکم التلاوة الا ان الحکمة العظمی والمقصودالاشراف تعلیم مافیه من الدلائل والاحکام ،فان الله تعالی وصف القرآن بکونه هدی ونوراً لمافیه من المعانی والحکم والاسرار فلما ذکرالله تعالی اولا امر التلاوة ،وذکر بعده تعلیم حقائقه واسراره ،فقال ویعلمهم الکتب (تفسیر کبیر ج:٤ص:٦٦طبع بیروت)۔

۲] تیره شوی صفحی حاشیه (ربنا وابعث فیهم رسولاً منهم...الخ)اوګورئ: ایضًا :وعن معاذ الجهنی قال :قال رسول الله صلی الله علیه وسلم :من قرأ القرآن وعمل بما فیه البس والداه تاجًا یوم القیامة ضوءه احسن من ضوء الشمس فی بیوت الدنیالوکانت فیکم فما ظنکم بالذی عمل بهذا (مشکوة ج:۱ص:۱۸٦)۔

۳] ایضاً تیره شوی حاشیه (ربنا وابعث فیهم رسولاً منهم...الخ)اوګورئ:

٤]عن ا بن مسعود قال:قال رسول الله صلی الله علیه وسلم : ....[بقیه حاشیه په راروانه صفحه....

په هرحال دقرآن پاک تلاوت خودهرمسلمان وظيفه كيدل پكاردي، كه معنا باندې پوهيږي اوكه نه پوهيږي،ددې نه وروسته كه الله تعالى توفيق اوهمت وركړي؛ نومعنا باندې دپوهيدوكوشش دې هم وكړي،مګريوازې دقرآن پاک ترجمه لوستلوسره دې دقرآن پاک دايت مفهوم په ذهن كې پيدانه كړل شي، بلكې چرته چې شک وي هلته دې څان داهل علم نه پوه كړل شي.[1]

قرآن پاک كه موبه پوهه ولوست يا بې پوهې صحيح دى خوله ځانه مطلب جوړول غلط دي

سوال: جنګ ورځ پاڼه تاريخ ۱۵ دسمبر ۱۹۸۲كې صفحه نمبر:۳ باندې يوحديث دمسلم په حوالې سره نقل شوى دى،عنوان يې ,,دطلب علم بدله،،په دې حديث كې دحضور ﷺ فرمان ذكر شوى چې:كوم كسان چې دالله تعالى له كورونوكې په كوم كور(جومات) كې راجمع شي اودالله تعالى كتاب لولي، بحث اوخبرې اترې پرې كوي،په هغوى باندې دالله تعالى دطرف نه ايماني سكون نازليږي، رحمت دهغوى نه ګيرچاپيره شي،فرښتې ددوى راچاپيره شي،الله تعالى ددې خلكو ذكر دفرشتوپه مجلسوكې كوي، په دې حديث شريف كې دقرآن مجيد دلوستلو او ددې په معناوو اوحكمت باندې دخبرواتروكولودبركاتوذكردى.اواشاره پكې ده چې خلک دې دقرآن پاک معنا، مطالب اوحكمت فلسفه دخبرو موضوع جوړه كړي او دغه شان دې په دې باندې دپوهيدو او پوهولو كوشش وكړي، خو په موجوده زمانه كې ليدل شوي دي چې دقرآن كريم يوازې په تلاوت باندې اكتفاكيږي اودالله تعالى نه داجر اوثواب له پاره كافي ګڼل كيږي،دارويه نه يوازې دكم علمه عواموده، بلكې ډيرپوهه اوتعليم يافته خلک هم دقرآن كريم دمطالبو او حكمت باندې دخبرواترونه مسلمانان منع كوي او صرف تلاوت دثواب ذريعه ګڼي او په همدې باندې زور وركوي، تاسوته درخواست دادى چې تاسوپه دې خبره باندې رڼاواچوئ چې ددې حديث په رڼاكې مسلمانانوته كومه عملي لاره اختيارول پكاردي؟

نورداچې داخبره تركومه حده پورې صحيح ده چې كه دقرآن كريم بغيردپوهې نه تلاوت وكړل شي؛نوهم پرې اجراوثواب ملاويږي؟ عموماًمونږ كه يوكتاب لولو؛نوپه هغه پوهيږوهم،ګني نه يې لولو،له پوهېدوپرته ديوكتاب لوستل يوه عجيبه شان خبره ده،بيا قرآن پاک چې دانسانانوله پاره يومستقله اوحقيقي دهدايت سرچشمه ده، په دې باندې دپوهيدونه

...بقيه د تېر مخ]..من قرا حرفًا من كتاب الله فله به حسنة، والحسنة بعشرامثالها، لا اقول آلم حرف ،الف حرف ،ولام حرف ،وميم حرف (مشكوة ص:۱۸٦،رواه الترمذى ،كتاب فضائل القرآن الفصل الثانى ،طبع قديمى كتب خانه كراچى)۔

۱] ايضًا)۔

پرته، یعنې دې معلومیدونه بغیرچې په دې کې زمونږ له پاره کوم یوهدایت اورهنمایي ده نود لوستلو دثواب څه معنا ده؟اوثواب خوپه هغه هدایت دپوهیدواوپرې دعمل کولونه حاصلیدای شي، دیومسلمان له پاره دایمان اوعمل شرطونه هم په دې صورت کې پوره کیدای شي چې قرآن کریم باندې پوه شي اوویې لولي،په دې سوال هم رڼاواچوئ چې مسلمانانوله پاره دفلاح لاره پرانستل شي.

جواب: دقرآن پاک دتلاوت ثواب جدادی، چې په صحیحو احادیثو کې راغلی دی اودقرآن پاک دمعنا اومطالبودزده کولوثواب جدا دی،ترڅوپورې چې ماته معلوم دي چې هیڅ یوعالم دین څوک دقرآن کریم دمعنا اومفهوم باندې دپوهیدونه منع کړی نه دی،مګرهغوی دخپل طرف نه یوایت مطلب راوباسي اوبحث شروع کړي دداسي بحث نه عالمان منع کول کوي؛څکه چې یوخوددې بحث منشاء جهل مرکب ده،بیادداسې بحث په حدیث شریف کې مذمت هم راغلی دی،چنانچې په جامع صغیر(ج:۱ ص:۱۴۴)کې دمستدرک حاکم په حوالې سره چې کوم حدیث نقل شوی دی ''الجدال في القرآن کفر''، یعنې په قرآن پاک کې کج بحثي کول کفردی،غرض داچې دقرآن پاک تلاوت بیکاره ګڼل هم صحیح نه دي دقرآن کریم دمطالبو زده کولواولوستلوکوشش نه کول هم غلط دي اودقرآن کریم صحیح علم حاصلولونه بغیربحث شروع کول هم غلط دي.[1]

دقرآن پاک ترجمه لوستلونه پس د عالم نه تصدیق کول ضروري دي

سوال: هغه خلک چاته چې دڅه وجې نه دقرآن پاک دلوستلوموقعه ملاونه شوه، خواوس دهغوی تجسس ددې مقدس پاک په باره سوا کیږي اواوس هغوی داسې عمرته رسیدلي دي چې عربۍ ژبه ورته ویل مشکل شوي دي،هغوی ترجمه لوستلوسره خپل علم ته وسعت ورکول غواړي. اوپه دې باندې عمل کول هم غواړي که یوصاحب ستاخبره په غورسره لوستې وي؛ نوهغه به دداسې کولونه څان ساتي:څکه چې هغه ته به پته لګیدلې وي چې یوازې دترجمې لوستلوڅه فائده؟ اوس چې هغه ته دڅه لږشان ثواب ملاویدوامکان و،دهغه نه به هم محروم شي، ددې ګناه موجب به څوک وي؟

---

[1] قوله ويعلمهم الكتب والمرادانه يامرهم بتلاوة الكتاب ،ويعلمهم معانى الكتاب وحقائقه وذالک لان التلاوة مطلوبة لوجوده منهما بقاء لفظهاعلى السنة اهل التواتر فيبقى مصونًا عن التحريف والتصحيف ،ومنها ان يكون لفظه ونظمه معجزًا لمحمدصلى الله عليه وسلم ،ومنهاان يكون فى تلاوته نوع تلاوة وطاعة ،ومنها ان تكون قراءته فى صلوات وسائر العبادات نوع عبادة فهذا حكم التلاوة الا ان الحكمة العظمى والمقصود الاشراف تعليم مافيه من الدلائل والاحكام فان الله تعالى وصف القرآن بكونه هدًى ونورًا لمافيه من المعانى والحكام والاسرار فلماذكرالله تعالى اولا امر التلاوة ،وذكر بعده تعليم حقائقه واسراره ،فقال ويعلمهم الكتب (تفسير كبير ج: ٤ص:٦٦)_

جواب: داسې کس چې دعربي ژبې دالفاظو لوستلو نه قاصر دی که هغه ,,اردو قرآن،، ولولي نو هغه ته به دقرآن پاک دتلاوت ثواب نه ملاویږي،پاتې شوه د,,اردوقرآن،،لوستل او احکام خداوندي باندې څان پوهول اوپرې عمل کول،داجذبه ډیره قابل قدرده،مګرتجربه داده چې بغیر داستادنه نه خوبه دقرآن پاک په مفهوم باندې صحیح پوه شي اونه به دالله تعالی دمنشا مطابق پرې عمل وکړای شي، داسې حضراتو ته که واقعي په قرآن پاک باندې دپوهیدو شوق وي؛ نو دهغوی له پاره مناسب تدبیردادی چې هغوی دې دیوحقاني عالم نه لږ لږ ووایي اوکه دومره فرصت هم ورسره نه وي؛ نوکم ازکم دومره دې وکړي چې اردوترجمه کتوسره کوم مفهوم چې دده په ذهن کې راشي په هغه دې باور نه کوي،بلکې دچاعالم دین نه دې ددې تصدیق کوي،چې مونږ دفلاني آیت کوم مفهوم ګڼلی دی آیاهغه صحیح دی؟ اوددې نه ښه صورت دادی چې دچاحقاني عالم په مشوره سره دې دتفسیرمطالعه کوي اوپه دې کې چې په کومه خبره پوه نه شي، دهغې دې پوښتنه کوي.

د ترجمې لوستلو نه ولې منع کیږي حالانکې په قرآن باندې د چا اجاره داري نشته؟

سوال: په تاریخ (۱۲)د جولایي په ایډیشن کې ستاسو نه سوال شوی و، چې په هغه کې د قرآن مجید د پوهې له پاره د (۱۴) ژبو علم کیدل، او د دینه پرته دقرآن اوحدیث او ددیني علومو مطالعه ګمراهي ده،ددې جواب تاسو مدلل نه دی ورکړی او حالانکې الله تعالی د سورةالقمر په څو ځایونو کې په تکرار سره بني آدم ته د چیلنج دعوت ورکوي چې مونږه قرآن د نصیحت له پاره آسانه ذریعه جوړه کړې ده، بیا فرمایي آیاڅوک نصیحت قبلونکی شته؟ د قرآن دمذکوره آیت په رڼا کې جواب راکړی چې:

الف: د قرآن مالک خو دادنصیحت له پاره آسانه ذریعه جوړه کړې،نصیحت قبلونکي ته عام نصیحت ورکوي، خودیوڅو انساني ذهنونونه داګمراهي ګرځوي، آیا دا په خپله بهتان او ګمراهي نه ده؟

ب: د عربې ناخبره کسان که چیرې ترجمه لوستل غواړي؛ نو په دوی باندې دومره بندش ولې دی ؟ آخر د عربي خط په ترجمې کونکي باندې خو یوازې د لیږونکي د تحریر د مفهوم پته لګیږي.

ج: دقرآني مفهوم له پاره دترجمې لوستلونه منع کونکي خوبه له دې خبرې نه ویریږي،چې خلک د قرآن په پوهیدو باندې چرته د عمل کولو نه د دوی په اجاره باندې د وهلو باعث ثابت نه شي؟

ه:... یهودیان، نصرانیان او هندوان آله کار و، د ترجمې بې نقابه کولو باعث به ثابت شي آیا دا

آیا کار مسلمانان امداد کونکي دي یا دشمنان دي؟

جواب: ۱: قرآن کریم په عربي ژبه کې دی،دصحابه کرامو (رضي الله عنهم) خوعربي ژبه مورنۍ ژبه وه، هغوی خو به د قرآن کریم په آوریدو سره نصیحت حاصلولو او کولو به یې،خو دکوم سړي چې په عربۍ ژبه باندې عبور نه وي که چیرې هغه دپوهې نه پرته د قرآن کریم معنا جوړه کړي؛ نو په خپله به هم ګمراه شي او نوربه هم ګمراه کړي،قرآن کریم له شک پرته آسان دی،خودهغه چا له پاره چې هغه د علومو نه واقف وي.

۲: بندش خو نه دی یوازې دومره ده چې فکر یې هم صحیح وي او د ده پوهه هم صحیح وي، ددې د یو ماهر نه تصحیح کول لازم دي.

۳: هو ! د قرآن کریم په پوهه باندې الحمد لله د چا اجاره نشته ده،دهر ملک، هر قوم اوهر خاندان د شخص ته د قرآن کریم په علومو باندې مهارت حاصلول پکار دي،دده د پاره څلور واړه دروازې خلاصې دي، لکه څنګه چې هر چاته ددې علم شته ،بیااجاره داري څنګه شوه؟ یوازې دومره درخواست دی چې کوم سړی چې د قرآن د علومو ماهر نه وي، هغه دې د خپل ذهن په ځای ماهرینو باندې اعتماد وکړي،مثلاً زه د موجوده قانون ماهر نه یم، بلکې په کومه ژبه کې چې قانون لیکل کیږي، په هغې هم نه پوهیږم، ما د قانون د کتاب ترجمه ولوستله، ددې نوم او مفهوم مې په خپل ذهن کې جوړ کړ،نو ضروري نه ده چې پرې صحیح پوه شوی یم،اوس که چیرې زه اصرار وکړم چې چونکې په قانون باندې د چا اجاره نشته ،په دې وجه زه کوم مفهوم ددې قانون بیانوم نو هغه صحیح دی، او ،بارایټ لا ،، قسمه خلک چې کوم مفهوم بیانوي، یا په عدالتونو چې کومه ددې قانون تشریح شوې ده،هغه غلطه ده، زه دانه منم، ځکه چې په قانون باندې د چا اجاره نشته ،ظاهره ده چې تاسو ماته وفرمایئ مولانا صاحب! تا د اجارې مطلب نه دی پیژندلی.

یا فرض کړه! ما د شیخ ابن سینا د کتاب د ،،قانون،،دترجمې مطالعه وکړه او دچانه مې دمعلومولو تکلیف ونه کړ، زه د کتاب په مفهوم باندې صحیح پوه شوی یم اوکه نه؟ نه مې دیو استاذ نه دا ووایه، نه مې په یو طبي کالج کې ددې امتحان ورکړی دی،بس د خپلې ترجمې په کتاب باندې مې اعتماد وکړ او درملتون (دواخانه) مې خلاص کړ او د خلکو علاج او معالجه مې شروع کړه، نو آیا د خلکو د جانونو سره لوبې کول به جائز وي؟

که چیرې ما ته څوک زورنه راکوي د استاذ نه د ویلو او باقاعده د امتحان د ورکولو مشوره راکوي او زه دده په جواب کې دا وایم چې په طب باندې د چا اجاره نشته ، ماته د چا نه د ویلو ضرورت نشته، نه د امتحان د ورکولو حاجت شته ؛ ظاهر ده چې ته به زما دا منطق قبول نه کړې، دغه خبره زه د قرآن کریم په باره کې کوم،چې په قرآن کریم باندې الحمدلله د چا اجاره نشته ، د هر مسلمان په کور کې دا مقدس کتاب موجود دی،یوازې مسلمان نه، بلکې غیر مسلم هم ددې مطالعه کوي، کله هم چا د دې ویلو نه منع نه ده کړې او نه یې چا ته د خپلې

اجازې پروانه بنودلې ده، بس دومره درخواست دی چې د قرآن کریم د یو ماهر نه مشوره واخله چې دا ترجمه صحیح اومستنده هم ده یا نه ده؟ او بیا د یو آیت په مفهوم چې ته په ترجمه کې پوه شوې یې داحرف آخر شمیر نه کړل شي، بلکې د قرآن کریم د علومو ماهرین که چیرې ددې آیت مفهوم څه نور څه بیانوي؛ نو هغه دې په خپل فهم باندې اعتمادسره د خلکو ایمان سره لوبې نه کوي، د خپلې ناپوهي اعتراف دې وکړي د فهم د ماهرینو تابعداري دې وکړي.

که چیرې ته ددې نوم اجازه داري ایږدې؛ نو بیا ستا خوښه ده..! خو څنګه چې مې پورته ذکر کړي دي، عقل مند دیته اجازه داري نه وایي،بلکې په هریو فن کې ددې ماهرینو ته رجوع کول ضروري وګڼه!

۴: ددې فقرې په مطلب پوه نه شوم، د خپل فهم د کم والي اقرار کوم ...!

په امریکه کې د مسلمانانو له پاره د قرآن پاک په تلاوت د شکونو جواب

سوال: ددین عالمان اومفتیان ددې لاندینو مسایلوپه باره کې څه فرمایي:

موږ قرآن پاک په عربي کې ولې لولو،هرکله چې موږ په عربي باندې نه پوهیږو،ددې به ضرورڅه نا څه وجه وي،داسلام په معروفو اومشهورکتابونوکې که ددې وجه نه وي؛ نوبیاپه عقلي و جې سره داسې کول په پوهه کې نه راځي،دادې وښودل شي چې کومه یوه طریقه بهتره ده؟په عربي کې دقرآن پاک دتلاوت کول، یاانګریزي کې ترجمه لوستل،دلته په امریکه کې ژوند ډیر زیات مصروف دی اوخلکوسره دډیرکارونوکولووخت هم نه وي،لهذاددې ځای مسلمانانو سړي اوښځې وایي چې موږ قرآن پاک نه شول وستلی،ځکه چې هغوی اودس نه شي کولی چې چېرته کونج کې کیني اودا ولولي، چې دهغوی په پوهه کې نه راځي.کافر راپورې تو کې کوي چې صرف د یو قرآن لوستلوله پاره څومره کارونه کول وي،دامنوچې دایومقدس کتاب دی،خو بایبل هم یو مقدس کتاب دی،اوموږ هغه کتاب هر وخت لوسلی شو،موږ زیاتردشپې دویده کیدوپه وخت کې په بستره کې لولو، ایاقرآن پاک په دې طریقې سره لوستلی شو؟ اوکه نه شو؛نو څه وجه ده؟

جواب: ستادسوال که تجزیه وکړل شي نودابه څو برخوباندې مشتمل دی،ددې وجې نه مناسب داده چې په دې جداجداخبره وکړل شي اوچونکې ستاذاتي مسئله نه ده، بلکې تادامریکې دمسلمانانو نمائندګي کړې ده، ددې وجې نه مناسب به وي چې په دې باندې څه قدرې په تفصیل سره لیکل وشي.

۱:.....تامعلومول غوښتي دي چې موږ قرآن پاک په عربي کې ولې لولو؟ددې څه وجه ده؟

په شروع کې په دوومسئلوځان پوه کړه،یوداچې دقرآن پاک تلاوت په لمونځ کې فرض دی او ددې نه پرته لمونځ نه کیږي[1]په دې کې داتفصیل دلته نه ذکرکوم چې دقرات څومره مقدار

۱] فرائض الصلوة ......القراءة لقوله تعالی فاقروءا ماتیسر من القرآن....[بقیه حاشیه په راروانه صفحه....

فرض دی؟ څومره مسنون دی؟ اوداپه څومره رکعتونوکې فرض دی؟ اودچاپه ذمه فرض دی؟خو دلمونځ نه بهردقرآن پاک تلاوت فرض او واجب نه دی،خو یوعمده ترین عبادت دی،ددې وجې نه که یوکس په ټول عمرکې دلمونځ نه بهرتلاوت ونه کړ اودهيڅ فريضې پرېښودونکې اوګناهګاربه نه وي،خو ديوعمده ترين عبادت نه به محرومه وي،داسې عبادت چې دده روح اوزړه دنورنه ډکولی شي او لمر ترې جوړولی شي،داسې عبادت چې دده له پاره په قبرکې رڼا ده،او داسې عبادت چې دالله تعالی سره دتعلق اومحبت طاقتورترينه ذريعه ده.

دويمه مسئله داده چې کوم کس دقرآن پاک تلاوت کول غواړي، که هغه دلمونځ دننه تلاوت وکړي يادلمونځ نه بهر،دهغه له پاره دقرآن پاک داصل عربی متن تلاوت کول لازم دي،[۱] دقرآن پاک دتلاوت فضيلت به صرف عربي متن باندې ورته حاصليږي اوددې اردويا انګريزي ياپه څه بله ژبه کې تلاوت کولوسره به ورته نه حاصليږي،له دې وجې نه مسلمانان يوازې دعربي متن تلاوت لازم ګڼي اوترجمه دتلاوت بدل نه ګڼي اوددې څو وجې دي:

لومړی وجه......قرآن پاک دهغه مقدس الفاظونوم دی چې دکلام الهي په حيثيت سره په حضور ﷺ باندې نازل شوی دی،ګوياقرآن پاک په حقيقت کې هغه خاص عربي الفاظ دي کوم ته چې قرآن ويل کيږي[۲]چنانچې په ګڼو آيتونوکې دقرآن پاک تعارف قرآن عربي يالسان عربی په حيثيت سره کړی دی چنانچې ارشاد دی:

،،وکذلک انزلنه قرآنا عربيا،،(۲۰:۱۱۳)

،،قرآنا عربيا غيرذی عوج لعلهم يتقون،،(۳۹:۲۸)

،،انا انزلنه قرآنا عربيا لعلکم تعقلون،،(۱۲:۲:۳)

...بقيه د تیر مخ].. (هداية ج:۱ص:۹۸،طبع مکتبة شرکت علميه ملتان) (وفی الجوهرة النيرة (ج:۱ص:۵۸) باب صفة الصلوة :قال رحمه الله فرائض الصلاة ستة ای فرائض نفس الصلاة ......قوله :والقراءة لقوله تعالی: فاقرؤا ماتيسرمن القرآن ،والامر للوجوب ،والقرآن لاتجب فی غيرالصلاة بالاجماع فثبت انها فی الصلاة)_

۱]القرآن الذی تجوز به الصلاة بالاتفاق هو المضبوط فی مصاحف الائمة التي بعث بها عثمان رضی الله عنه الی الامصار ،وهوالذی اجمع عليه الائمة العشرة وهذا هو المتواتر جملة وتفصيلاً (ردالمحتار ج:۱ص:۴۸۶، طبع ايچ ايم سعيد) ۰ان الفارسی ليس قرآنا اصلاً لانصرافه فی عرف الشرع الی العربی (ردالمحتار ج:۱ص:۴۸۵)_

۲]فالقرآن المنزل علی الرسول عليه السلام ......المکتوب فی المصاحف ......المنقول عنه نقلاً متواتراً بلاشبهة......وهو اسم للنظم والمعنی جميعًا ......يعنی ان القرآن اسم للنظم والمعنی جميعًا لا انه اسم للنظم فقط ......ولا انه اسم للمعنی فقط (نورالانوار ص:۷تا۹،طبع مکتبه حقانيه پشاور)،فان تغيير سورة او آية بالفاظ عربية مرادفة لالفاظ القرآن لا يعد قرآناً مهما کان مطابقًا للمفسر فی دلالته لان القرآن عربی خاص نزل من عندالله سبحانه وترجمة القرآن لاتعد قرآنا مهما کانت الترجمة دقيقة فلايصح الاعتماد عليها فی استنباط الاحکام الشرعية (اصول الفقه الاسلامی ،لدکتور وهبة الزحيلی ج:۱ص:۴۲۳طبع رشيديه کوئته)

,,کتب فصلت ایته قرآنا عربیا،،(۴۱:۷۸)

,,وکذلک اوحینا الیک قرآنا عربیا،،(۴۲:۴۲۴۲:۳)

,,انا جعلنه قرآنا عربیا لعلکم تعقلون،،(۴۳:۴۲۴۳:۳)

,,وکذلک انزلنه حکما عربیا،،(۱۳:۱۴۱۳:۳۷۳۷)

,,وهذا کتب مصدق لسانا عربیا،،(۴۶:۱۲۱۲)

,,وهذا لسان عربی مبین،،(۱۶:۱۱۰۳:۱۶۱۶)

,,بلسان عربی مبین،،(۲۶:۱۹۵۱۹۵)

اوکله چې دامعلوم شوچې قرآن پاک دعربي دهغو خاصوالفاظونوم دی چې په حضور ﷺ باندې نازل شو،نوددې نه داخبره په خپله واضحه شوه چې که دقرآن پاک دیولفظ تشریح متبادل عربي لفظ سره هم وکړل شي؛ نوهغه متبادل لفظ ته به قرآن نه ویل کیږي؛ ځکه چې هغه متبادل لفظ منزل من الله نه دی،هرکله چې قرآن پاک هغه کلام الهي دی چې دحضرت جبرئل امین علیه السلام په ذریعه په حضور ﷺ باندې نازل شو، مثلاً: د سورت بقرې په لومړي آیت کې ,,لاریب فیه،په ځای که ,,لاشک فیه،،الفاظ کینبودل شي؛ نودابه دقرآن پاک آیت پاتې نه شي. الغرض چې کوم متبادل الفاظ دقرآن کریم دتشریح یا ترجماني له پاره شوي دي هغه چونکې دوحي الهي الفاظ نه دي، ددې وجې نه هغو ته به قرآن نه ویل کیږي،خو دقرآن کریم ترجمه یاتشریح یاتفسیردې ته ویلی شيځ اوداهم ظاهره ده چې هرکس دخپل فهم مطابق ترجمه اوتشریح کوي پس څنګه چې دغالب دشعرونومفهوم یوکس په خپلوالفاظوکې بیان کړي؛ نوهغه دغالب کلام نه دی،بلکې دغالب دکلام ترجماني ده،همدغه شان دقرآن کریم ترجمه که په هره ژبه کې وي هغه کلام الهي نه دی،بلکې دکلام الهي تشریح اوترجماني ده اوس که یو کس ددې ترجمې اوتشریح مطالعه کوي؛ نودابه نه ویل کیږي چې هغه کلام الهي وویلو، بلکې دابه ویل کیږي چې هغهٔ دقرآن پاک ترجمه ولوسته،اوداهم ظاهره ده چې دالله تعالی اود مخلوق ترمینځه چې کوم فرق دی ،هغه فرق دهغه په کلام کې اودمخلوق دطرف نه شوې ترجماني په مینځ کې دی اوکوم کس چې دالله تعالی سره براه راست هم کلامي کول غواړي دهغه له پاره به براه راست دکلام الهي تلاوت لازم وي. هرمسلمان ته داکوشش کول پکاردي چې هغه دقرآن کریم دمفهوم په خپله دهغه په الفاظوباندې دپوهیدوصلاحیت اوداستعداد پیدا کړيځ،خو که په هغه کې داصلاحیت پیدانه شي؛ نوهم به دقرآن کریم دتلاوت د انوار او تجلیات هغه ته حاصلیږي اودتلاوت دثواب اوبرکاتونه به محروم نه وي، که په معنا اومفهوم باندې پوهیږي اوکه نه پوهیږي،ددې مثال بالکل داسې دی چې تاسویوه میوه یامتبایي راوړئ، ماته نه دهغې نوم معلوم دی اونه دهغې دخواص اوتاثیراتونه واقف یم،ددې لاعلمي

باوجود که زه هغه میوه یا شیریني خورم نو د هغې د خوږوالی او شیریني او د هغې د ظاهري او باطني فوائدونه به محروم پاتې نه شم.

دویمه وجه......ځینې خلک چې د کلام الهي د خوندنه ناخبره دي او په چاکې چې د کلام الهي او د مخلوق د کلام په مینځ کې د فرق حس موجودنه دی، د هغوی وینا ده چې د قرآن کریم نه مقصود د دې معنا او مفهوم باندې پوهیدل او د دې احکامو او فرامینو معلومول دي او دا مقصود چونکې د ترجمې یا تفسیرنه حاصلیدای شي، لهذا ولې نه یوازې په ترجمه یا تفسیر باندې اکتفا وکړل شي؟ د قرآن پاک الفاظ زده کولو، ښودلو، اولوستلو او بل ته ښودلو باندې ولې وخت ضائع کړل شي؟ مګر دا یوه ډیره سنګینه غلطي ده، ځکه چې څنګه د قرآن کریم معاني او مطالب مقصود دي ټیک همدغه شان د دې د الفاظو تعلیم او تلاوت هم یو اهم مقصد دی او دا یو داسې عظیم الشان مقصد دی چې قرآن کریم دا د حضور ﷺ فرائض نبوت نه اولین مقصد ګرځول دي، چنانچې ارشاد دی:

"ربنا وابعث فیهم رسولا منهم یتلوا علیهم ایاتک ویعلمهم الکتب والحکمة ویزکیهم انك انت العزیز الحکیم. (۲:۱۲۹)

ترجمه: اې زموږ پروردګاره! او د دې ډلې د دننه نه هم په دوی کې یو پیغمبر مقرر کړه، چې دې خلکو ته ستا ایتونه اوروي، او دوی ته د آسماني کتاب او د خوش فهمي تعلیم ورکړي او دوی پاک کړي، بیشکه هم ته یې د غالب قدرت او کامل انتظام والا. (ترجمه حضرت تهانوي رحمه الله)

"کما ارسلنا فیکم رسولا منکم یتلوا علیکم آیاتنا ویزکیکم ویعلمکم الکتب والحکمة ویعلمکم ما لم تکونوا تعلمون..." (۲:۱۵۱)

ترجمه: څنګه چې په تاسو خلکو ته موږ یو عظیم الشان رسول له تاسو د رولیږه، زموږ ایتونه (احکام) اوروي. او د جهالت نه تاسو پاکوي او تاسو ته د کتاب (الهي) د فهم خبرې ښیي او تاسو ته داسې د کتې خبرې ښیي د کوم وچې تاسو خبرنه وی. (ترجمه: حضرت تهاوی)

"لقد من الله علی المومنین اذ بعث فیهم رسولا من انفسهم یتلوا علیهم ایاته ویزکیهم ویعلمهم الکتب والحکمة وان کانوا من قبل لفی ضلال مبین. (۳:۱۶۴)

ترجمه: په حقیقت کې الله تعالی په مسلمانانو باندې احسان وکړ، کله چې په هغوی کې یې هم د هغوی د جنس نه یو پیغمبر راولیږه چې هغه دوی د الله تعالی آیتونه اوروي، او د دې خلکو صفا یې کوي او دوی د کتاب او فهم خبرې ښیي. او په یقین سره دا خلک په صریحه غلطي باندې وو. (ترجمه حضرت تهانوی)

"والذی بعث فی الامیین رسولا منهم یتلوا علیهم ایاته ویزکیهم ویعلمهم الکتب والحکمة وان کانوا من قبل لفی ضلال مبین. (۶۲:۲)

ترجمه: الله هغه ذات دی چې (دعربو)ناخوانده خلکوهم دهغوی (دقوم)نه (عربونه) یو پیغمبر راولیږه، چې دوی ته دالله تعالی آیتونه اوروي اودوی (دعقائدوباطله اواخلاق ذمیمه وو نه) نه پاکوي اودوی ته دکتاب اوحکمت (خبرې) ښیي اوداخلک (دهغوی دبعثت نه) مخکې په ښکاره ګمراهي کې وو . ،(ترجمه حضرت تهانوي)

کوم شی چې دحضور ﷺ دفرائض نبوت نه لومړی فریضه ګرځول شوې ده، دامت په دې باره کې داخیال کول چې داغیرضروري ده،څومره لوی جسارت اوڅومره لویه بې ادبي ده....

دریمه وجه:....په قرآن کریم کې ارشاد دی:,,**انا نحن نزلنا الذکروانا له لحفظون**،،(الحجر:۹)

موږ قرآن نازل کړی دی اوموږ ددې حفاظت کونکې یو . ،دقرآن کریم دحفاظت په وعده کې دالفاظوحفاظتدمعنی حفاظت،اودزبان اولغت حفاظت ټول شامل دي. اوپه عالم اسباب کې ددې دحفاظت وعده داسې پوره شوه چې دحضور ﷺ ددورنه واخله تراوسه پورې ډلې ډلې دقرآن کریم په حفاظت کې مشغول دي اوان شاء الله دقیامت پورې به داسلسله جاري وي، ګویا دحفاظت قرآن په ضمن کې دهغو ټولو خلکودحفاظت وعده هم ده چې دقرآن کریم دخدمت په څه نا څه شعبې سره منسلک دي په دې خادمانوکې سرفهرست دهغه حضراتو نومونه دي چې دقرآن کریم دالفاظوپه حفاظت کې مشغول دي اود قرآن کریم دالفاظوپه تعلیم اوتعلم لګیادي، که حفظ کوي یاپه ناظره باندې ښیي اودهمدې وعده حفاظت کارفرمایي ده چې نن سباپه دګډ وډ دوروکې (ستاسوپه وینا چې دقرآن دلوستلووخت چا سره شته؟) په لکونوحافظان موجود دي چې په هغوی کې دشپږو اووکالوماشومان هم شامل دي،اوس اګر که دقرآن پاک تلاوت غیر ضروري وګرځول شي اوامت دلوستلوښودلوشغل پریږدي؛ نوګویادقرآنکریم د حفاظت وعده (نعوذبالله)غلطه شوه،مګرددې محکمې وعدې غلطې ګرځیدل خوممکن نه دي اوداکیدای شي چې بالفرض امت دقرآن کریم دالفاظودتلاوت اوددې ښودنه اولوستنه پریږدي؛ نوالله تعالی به ددوی په ځای داسې کسانونه کارواخلي چې ددې وعده الهي په تکمیل کې خپل ځانونه خاورې کړي، ګویا امت دامت په حیثیت سره پاتې کیدل، دقرآن کریم په تلاوت اوتعلیم اوتعلم باندې موقوف دی،که امت ددې فریضې نه مخ وګرځوي؛ نوسرونه به ترې ووهل شي اوددې دنیانه به ختم کړل شي،څنګه چې په قرآن کریم کې ارشاددی: ،،**وان تتولوا یستبدل قوما غیر کم ثم لایکونوا امثالکم**.(**محمد:۳۸**)

ترجمه:که تاسومخ وګرځوئ؛ نوالله تعالی به ستاسوپه ځای دویم قوم پیداکړي، بیابه هغوی ستاسوپه شان نه وي. ،(**ترجمه حضرت تهانوي**)

دلته دانکته هم په ذهن کې ساتل پکاردي چې الله تعالی چېرته دقرآن کریم دحفاظت وعده فرمایلې ده هلته دحفاظت قرآن په ضمن کې دهغه ټولوعلمونودحفاظت وعده هم ده، چې دقرآن کریم خادم دي،ددې علوم قرآن په فهرست باندې که یونظرواچوئ نوپه دې کې به

درته ډير داسې علمونه په نظرراشي دكومو تعلق چې دالفاظ قرآن سره دی،ددې علمونو اجمالي تعارف حافظ سيوطي رحمه الله په ,,الاتقان فی علوم القرآن،،كې پيش كړی دی،موصوف علوم قرآن په (۸۰) انواعو تقسيم كړی دی اودهرې نوع لاندې ئې شميرانواع درج دي مثلاً: ديوې نوع عنوان دی: ,,بدائع القرآن،،ددې لاندې حافظ سيوطي رحمه الله ليكي:

په اته پنځوسمه نوع(۵۸)،بدائع القرآن،،كې په دې موضوع باندې دابن ابی الاصبع (عبدالعظيم بن عبدالواحدبن ظافرالمعروف بابن ابی الاصبع المصري (المتوفی ۶۵۴) هجري) يومستقل كتاب ليكلی دی اوپه هغه كې تقريباًدسلوانواعو ذكردی،،(الاتقان:ج:۲ ص:۸۳)[1]

الغرض دقرآن كريم مقدس الفاظ هم ددې ټولوعلمونو سرچشمه ده،دقرآن كريم معنا اومفهوم سمندرهم په دې الفاظو كې موجونه وهي،كه خدای مه كړه دامت دلاسه دالفاظ قرآن دا رشته پريوځي؛ نوددې ټولوعلمونوچشمې به وچې شي اوامت به نه يوازې دكلام الهي يدلذت او حلاوت نه محرومه شي، بلكې دقرآن كريم دعلومو اومعارفو نه به هم تش لاس پاتې شي.

څلورمه وجه:....دكلام الهي دتلاوت سره چې كوم انوارواوتجليات اهل ايمان ته نصيب كيږي دهغو بيان په تحريركې راوستل ناممكن دي، داحديث به تاسواوريدلی وي چې دقرآن كريم دهرحرف په تلاوت باندې لس نيكۍ ملاويږي،دحضور صلی الله عليه وسلم ارشادمبارك دی:

,,چاچې دكتاب الله يوحرف ولوست دهغه له پاره ددې په بدله كې لس نيكۍ دي اوهره نيكۍ لس چنده ملاويږي.(په هرحرف باندې لس نيكۍ شوې)اوزه دانه وايم چې الم يوحرف دی. نه!بلكې الف يوحرف دی،لام يوحرف دی،اوميم يوحرف دی،(په الم لوستلوباندې ديرش نيكۍ ملاويږي.)،،(مشكوة ص:۱۸۶)[2]

دقرآن كريم دتلاوت بې شميره فضائل دي اوكوم كس چې دتلاوت قرآن د فضائلو او بركاتو اندزه لګول غواړي، هغوی دې دحضرت شيخ الحديث مولانامحمدزكرياماهاجرمكي مدني (نورالله مرقده)،،رساله ,,فضائل قرآن،،مطالعه وكړي اوس ظاهره ده چې قرآن كريم په يو حرف باندې دلسو نيكو وعده ده داټول اجراوثواب اوفضيلت او بركت دقرآن كريم د الفاظوپه تلاوت باندې دی،يوازې انګريزي، اردوترجمه لوستلوسره دا اجراوثواب نه حاصليږي، كوم كس چې دا اجر او ثواب او بركت وفضيلت اوددې نورحاصلول غواړي دهغه له پاره ددې نه پرته هيڅ بله لارنشته چې هغه دې د قرآن كريم دالفاظوتلاوت وكړي،دځه سره چې داټولې وعدې ترلاس شوې دي.(**والله الموفق لكل خير وسعادة**)

---

[1] النوع الثامن والخمسون فی بدائع القرآن افرده بالتصنيف ابن ابی الاصبع فاورد فيه نحومائة نوع_(الاتقان فی علوم القرآن ج:۲ص:۸۳ طبع مصر)_

[2] وعن ابن مسعودرضی الله عنه قال:قال رسول الله صلی الله عليه وسلم :من قرأ حرفًا من كتاب الله فله حسنة والحسنة بعشر امثالها ،لا اقول آلم حرف، الف حرف ولام حرف وميم حرف ، رواه الترمذی ،والدارمی _ (مشكوة ص:۱۸۶،كتاب فضائل القرآن ،طبع قديمی كتب خانه)_

ترکومې پورې چې دقرآن کریم دترجمې اوتفسیردمطالعې تعلق دی، دقرآن کریم په مفهوم باندې دپوهیدوله پاره دترجمې اوتفسیرمطالعه ډیره ښه خبره ده، که ترجمه په اردوکې وی یا په انګریزي کې یاپه بله ژبه کې،خو په دې سلسله کې دڅو کارونوخیال ساتل ضروري دي:

اول:.....هغه ترجمه اوتفسیربه مستند وي،اودچامحقق عالم رباني دقلم څخه به وي،څنګه چې دشاهي فرامینودترجماني له پاره دلائق اوبااعتماد ترجمان کیدل ضروري شرط دی،که نه، هغه دترجماني اهل نه ګڼل کیږي، همدغه شان داحکم الحاکمین دترجماني له پاره هم شرط دی چې ترجمه کونکی ددیني علمونوماهر،مستنداولائق اعتماد وي،نن سبا دډیرغیرمسلمو،بې دینو، او اخوا دیخوا خلکو ترجمې په بازار کې پرتې دي،خصوصاپه انګریزی ژبه کې دداسې ترجموڅخه بازار ډک دی چې په هغو کې دالله تعالی دکلام دترجماني په ځای دقرآن کریم په نوم سره دخپلو خیالاتو او افکارو ترجماني شوې ده، ظاهره ده چې دکوم کس په دین اودیانت باندې موږ ته اعتمادنه وي، دهغه په ترجمه باندې اعتمادڅنګه کیدای شي؟ددې وجې نه کوم حضرات چې دترجمې اوتفسیر شوقین وي دهغوی فرض دي چې هغوی دې دچالائق عالم په مشورې سره دترجمې اوتفسیرانتخاب وکړي اوهره غلطه ترجمه دې لوستل نه شروع کوي.

دویم:.....دترجمې اوتفسیربه مددسره چې بنده څه زده کړي وي، هغه دې په قطعیت سره دقرآن کریم طرف ته نه منسوبوي،بلکې دادې ووېل شي چې مادفلانی ترجمې اوتفسیرنه دامفهوم زده کړی دی، داسې نه وي چې دغلطي له وجې نه یوه غلطه خبره دقرآن کریم طرف ته منسوبولو وبال دده په سر راشي، ځکه چې د منشاء الهي نه خلاف څه خبره دقرآن کریم طرف ته منسوبول په الله تعالی باندې بهتان تړل دي، چې سخته ګناه ده.[1]

دریم:.....تاسومعلومول غوښتي دي چې:کومه طریقه بهتره ده، په عربي کې دقرآن شریف دتلاوت کولو یاپه انګریزي کې دترجمې لوستلو؟

د ترجمې لوستلوشرائط خوما اوس ذکرکړي دي اوداهم ښکاره ده چې دترجمې لوستل، دقرآن کریم دتلاوت بدل کیدای نه شي، که دوه شیان متبادل وي، یعنې یو شی دبل بدل جوړیدای شي؛ نو هلته خوداسوال کیدای شي چې په دې کې کوم شی بهتردی؟ هرکله چې دترجمې لوستل دتلاوت بدل نه دي اونه ددې ځای نیولی شي؛ نوهم داعرض کیدای شي چې

---

[1] عن ابن عباس رضی الله عنهما قال:قال رسول الله صلی الله علیه وسلم :من قال فی القرآن برایه فلیتبوا مقعده من النار_ وفی روایة :من قال فی القرآن بغیر علم فلیتبوا مقعده من النار_ رواه الترمذی _ وعن جندب رضی الله عنه قال :قال رسول الله صلی الله علیه وسلم :من قال فی القرآن برایه فاصاب فقداخطأ _رواه الترمذی ،وابوداود _وعن ابی هریرة رضی الله عنه قال:قال رسول الله صلی ا لله علیه وسلم :المراء فی القرآن کفر_رواه احمد وابوداود (مشکوة ص:۳۵ طبع قدیمی)_

دقرآن کریم اجر اوثواب اوانوار او تجلیات له پاره مسلمانانوته دقرآن پاک تلاوت کول پکار دي،که په معنا او مفهوم باندې پوهیدوشوق مو وي؛ نوددې له پاره دترجمې اوتفسیرنه هم مدد اخیستل کیدای شي اوکه ددواړو جمع کولوفرصت نه وي؛ نوبهترصورت دادی چې ته د ترجمې په ځای دقرآن کریم تلاوت کوه اوددین مسایل داهل علم نه معلوم اوعمل پرې کوه، په دې صورت کې به درته د قرآن کریم دتلاوت ثواب هم ملاویږي، خوکه تلاوت دې پرېښودو او ترجمه خواني دې شروع کړه؛ نودتلاوت قرآن نه خوپه لومړۍ ورځ داکس محروم شو اوظاهره ده چې ترجمه لوستلو سره داکس دقرآن کریم ماهر نه شي جوړیدای اونه ترې ددیني مسایلو اخذکولی شي اوهمدغه شان داکس په دین دعمل کولو دتوفیق نه هم محروم شو اوداتاواني سوداده!

تاسوداعذر لیکلی دی چې: ,,دلته په امریکه کې ژوندډیرزیات مصروف دی اوخلکو سره ډیرکارونوکولوهم وخت نه شته، لهذا دلته مسلمانان سړي او ښځې وایي چې موږ قرآن نه شو لوستلی ، ځکه چې هغوی اودس نه شي کولی اونه په یوکونج(ګوټ) کې کېناستی شي چې قرآن ولولي، کوم چې دهغوی په پوهه کې نه راځي،،

تاسوچې ددې جدید دور د ښځو سړیو دبې پناه مصروفیاتوکوم ذکرکړی دی، هغه بالکل صحیح دی اودا یوازې دامریکې مسئله نه ده، بلکې تقریبادټولې دنیامسئله ده، دنن انسان دمصروفیت په زنځیرونوکې داسې تړل شوی دی چې ددې نه مخکې کله هم داسې پابند سلاسل شوی نه و.

تاسوچې غور وکړئ! نودې نتیجې ته به ورسیږئ چې زموږ ددې بې پناه مصروفیاتو دوه اسباب دي، یوداچې دنن په مشیني دورکې په خپله انسان نه یوخودکاره مشین جوړشوی دی، د مشینونوایجادخوددې له پاره شوی و چې ددې له وجې به انسان ته دفرصت څوګړۍ ملاو شي،خو دمشین برق رفتاري سره مقابله کولوله پاره انسان په خپله هم دمشین کردار ادا کوي.

دویم داچې موږ په خپل ځان باندې ډیرو غیرضروري شیانو بوج اچولی دی، دانسان بنیادي ضرورت یوازې دومره و چې دلوږې ختمولوله پاره دې هغه ته په مړه خیټه ډوډۍ ملاوشي، دتن دپټولوله پاره دې هغه ته جامه ملاوشي، دګرمي یخني نه دبچ کیدو له پاره دې دهغه له پاره جونګړه وي، خو زموږ هریوکس دقیصراوکسری په شان دبدبه کې داوسیدو خواهش مند دی اوهغه په هرشي کې دنورونه مخکې کیدل غواړي.

هغه بې دینه اوبې خدایه قومونه دچاپه وړاندې چې داخرت تصورنه شته،دچاپه نزد چې بس همداد دنیاژوندی اوچاپه باره کې چې په قرآن کریم فرمایل شوي دي:

,,,ان الذین لایرجون لقائنا ورضوا بالحیوة الدنیا واطمانوابها والذین هم عن ایاتنا غافلون،اولئک ماواهم النار بما کانوا یکسبون،،،(۱۰:۷،۸)

ترجمه: بې شکه هغه خلک چې زموږ سره دملاویدو امیدنه لري او ددنیا په ژوندباندې

خوشاله او مطمئن شول او کوم خلک چې زموږ د نبنونه بې خبره دي د داسې کسانو استوګنځای (ټیکانه) اوور دی، د هغه څه په بدله کې چې هغوی کسب کول.، (ترجمه حضرت شیخ الهند)

هغوی که د دنیاوي مقابلې او مسابقې په مرض کې اخته شوي دي او د دنیاوي زیب و زینت او شان وشوکت معراج یې کمال ګڼلی دی؛ نو هیڅ حیرانتیا نه وه، خو امت محمدیه ﷺ د چا په زړه کې چې د عقیده اخرت او د محاسبې یقین دی، د هغه ځای د جزا او سزا او هلته د کامیابي او ناکامي توره یې هروخت په سر له پاسه اویزان وي، د هغوی دا د اخرت هیرول ډیر زیات افسوسناک دي او د حیرانتیا خبره هم ده.

موږ د غیرو په تقلید او نقالي کې د خپل ژوند معیار اوچتول شروع کړل، زموږ په وړاندې زموږ د محبوب ﷺ د ژوند نقش موجود و، د صحابه کرامو (رضوان الله علیهم اجمعین) نمونې موجودې وې او د بزرګانو او اولیاءالله مثالونه موجود وو، مګر موږ د هغو طرف کتل هم خوښ نه کړل، بلکې دا دعوت ورکونکي مو نادان او احمق وګڼل او د ژوند معیار اوچتولو په شوق کې مو د ژوند په موټر باندې دومره نمایشي سامان بار کړ، چې اوس د هغه راښکته کول ګران شوي دي، د کورټول خلک، نراو ښځې، لوی او واړه، د دې بوج په راښکلو کې شپه ورځ لګیا دي، د شپې خوب او د ورځې سکون یې برباد شو، زموږ اعصاب نور د کارقابل نه دي، په نفسیاتي ناروغیو کې اضافه وشوه، په دارو درملو کې کې (۷۵%) د مسکن دوایانو استعمال کیږي، د خوب ګولۍ لکه د خوراک په شان خوړل کیږي، د ناځاپه مرګونو شرح د حیرانتیا تر حده پورې زیاته شوې ده، خو دالله تعالی په هیڅ یو بنده کې داعقل نه راځي چې موږ دا د نمود او نمائش بوج په خپل ځان د څه له پاره بار کړی دی؟نه دا خیال راځي چې که مرګ او د مرګ نه وروسته ژوند ون حق دی او د قبر سوال او جواب او ثواب او عذاب برحق دی، موږ خو د نمود او نمایش بوج په سر کړی دی او کرځو او د دې له وجې نن سباله خیره موږ ته د تلاوت کولو موقعه هم نه ملاویږي، دا به په قبر او حشر کې زموږ په څه کار راشي؟

((هرڅه به درنه پاتې شي چې روان بلې دنیاته شې!))

دا تماشه شپه ورځ زموږ د سترګو په وړاندې ده، د نمود او نمایش او اوچت معیار زندګي په مرض کې اخته مریضان خالي لاس بلې دنیاته په تلو موږ شپه ورځ وینو، خو زموږ د عبرت سترګې و نه غړیدې.

دیو حدیث شریف مضمون دی چې بنده کله مري؛ نو فرښتې پوښتنه کوي چې: ده مخکې څه ولیږل او خلک وایي چې: ده وروسته څه پریښودل.؟(مشکوة ص:۴۴۵)[۱]

اوس هر کله چې موږ مړه شو، کله چې موږ د قبر په تیاره خلوت خانه کې کېښودل شو او فرښتې رانه پوښتنه وکړي چې: د دې ځای د تیارې رڼا د قرآن مجید تلاوت دی، د دې ځای تیاره

۱] عن ابی هریرة رضی الله عنه یبلغ به قال:اذا مات المیت قالت الملائکة :ماتقدم ؟ وقال بنوا آدم :ماخلف _رواه البیهقی فی شعب الایمان _ (مشکوة ص:۴۴۵،کتاب الرقاق ،طبع قدیمی)_

لږې کولوله پاره تادځان سره څه راوړي دي؟؛ نوهلته به ووايې چې زموږ ژوندډيرزيات مصروفه و دومره وخت راسره چيرته و چې اودس موکړی وای اوچيرته په يوکونج کې ناست وای قرآن مولوستلی وای.

اوکله چې په ميدان حشرکې دالله تعالی په دربارکې درنه پوښتنه وشي چې دجنت قيمت اداکولوله پاره دې له ځان سره څه راوړي دي؟؛ نوهلته ووايې چې مالويې لويې ډگري حاصلې کړې وې، دامريکې په شان ترقي يافته ملک کې په دومره لويه عهده باندې فائز وم، ماپه فلاني فلاني شي کې نوم پيداکړی و، بهترينې جامې مې اغوستې وې، په شانداره بنگله کې اوسيدوم ،موټرې راسره وې، بينک بيلنس راسره و، زماسره دومره وخت چيرته و چې دومره تياری وکړم، پنځه وخته جوماټ ته لاړشم، هميشه کم نه کم د يوې سپارې تلاوت وکړم، تسبيحات ولولم،درودشريف ولولم، په خپله ددين په محنت کې لگياشم اوپه خپل اولادباندې دقرآن مجيدحفظ وکړم.....؟ماته ووايئ چې له مرگ نه وروسته هلته په حشرکې به هم موږ اوتاسوداجواب ورکوو چې: جناب! په امريکه کې دښځو اوسړيوسره دومره وخت چيرته و، چې اودس يې کړی وای اوچيرته په يوکونج کې ناست وای دقرآن پاک تلاوت يې کړی وای؟ نه!.... هلته به دا جواب نه وي، هلته به هغه جواب وي کوم چې قرآن کريم نقل کړی دی:

،، اَنْ تَقُوْلَ نَفْسٌ يّٰحَسْرَتٰى عَلٰى مَا فَرَّطْتُّ فِيْ جَنْۢبِ اللّٰهِ وَاِنْ كُنْتُ لَمِنَ السّٰخِرِيْنَ ،،(الزمر:۵۶)

ترجمه: کله چې (دقيامت په ورځ) څوک ووايي چې: افسوس زما په دې کوتاهي باندې چې مادخدای په جناب کې کړې ده اوماخوبه دخدای احکاموپورې خندل.،،(ترجمه حضرت تهانوي)

اوکله چې له مرگ نه وروسته زموږ جواب هغه وي کوم چې قرآن کريم نقل کړی دی چې دلته داعذرکول چې فرصت نه شته ، دنفس فريب نه دی؛ نو نورڅه دي...؟

په حديث شريف کې دي: ،،**الکيس من دان نفسه وعمل لما بعدالموت،والعاجزمن اتبع نفسه هواها وتمنی علی الله**.،،(مشکوة ص:۴۵۱)

ترجمه: دانشمن هغه دی چاچې خپل نفس کابوکړ اوله مرگ نه وروسته ژوندله پاره يې محنت وکړ اوهغه کس احمق دی چې خپلو نفسي خواهشاتوپسې لگيا و اوپه الله تعالی پورې يې اميدونوتړل.،،

دې ټولوخبرو ته يوازې نظر وکړئ! زموږ په مصروف ژوند کې زموږ سره د ډيرو کارونو له پاره وخت شته، موږ اخبارگورو، ريډيو اوتلويزون گورو، ديارانودوستانوسره دگپ شپ اوسيل له پاره بهرته ځو، په تقريباتوکې شرکت کوو،ددې ټولو شيانو له پاره زموږ سره فالتو وخت شته او په داسې موقعوباندې موږ کله هم دوخت نه ملاويدوعذر نه وړاندې کوو، خوکله چې د لمونځ، روژې، ذکر، اذکار اوتلاوت قرآن سوال مخې ته راشي؛ نوفورا دوخت نه

ملاويدو د ګیلو دفتر راخلاص کړو.

امریکه او نورو ډیرو ملکونوکې په هفته کې دوه ورځې چوټې (رخصتي) وي، د هفتې ددې دوو ورځو دمشاغلو نظام موږ له مخکې نه جوړکړی وي اوکه څه کارنه وي: نوبیاهم دوخت پاس کولوله پاره څه نا څه مشغله ضرورتجویزکیږي، خودتلاوت قرآن له پاره وزګار وخت، موږ سره دچوټي په دې دوو ورځوکې هم نه وي.

ددې نه معلومه شوه چې دفرصت نه ملاویدوعذردنفس یوه دوکه ده، ددې اصلي سبب دادی چې دنیا زموږ دسترګوپه وړاندې ده، ددې له وجې موږ ددې په مشغلوکې اخته یو، مرګ اواخرت ته مو خیال نه دی، ددې له وجې دمرګ نه وروسته اوږد ژوندنه غفلت دی، نه دهغه له پاره تیاری شته اونه دتیاري فکر او اهتمام، ددې له وجې ددې خبرې ضرورت دی چې دعذر وړاندې کولوپه ځای ددې غفلت دمرض علاج وشي، دقیامت په ورځ به دا عذرنه چلیږي چې په پاکستان یاامریکه کې ښځې سړي ډیرزیات مصروفه وي، هغوی سره دذکر او تلاوت وخت چیرته و.

۳.....تاسولیکلي دي چې:

کافر راپورې توکې کوي، یوازې دیوقرآن ویلوله پاره څومره کارونه کول دي، دا مني چې هغه یومقدس کتاب دی، خوبائبل هم یومقدس کتاب دی اوموږ هغه کتا ب هر وخت کله لوستی شو، موږ زیاتردویده کیدوپه وخت کې په بستره کې لوستلی شو، ایا قرآن کریم په دې طریقې سره لوستل کیدای شي؟ که نه شي: نوڅه وجه ده؟

تاچې دکافرانو دټوکو کولوکوم ذکرکړی دی، په دې اړه درته یولطیفه کوم..... وایي چې یو د پوزه لرونکی کس دپوزپریکړوملک ته لاړ، هغوی،، پوزې والا راغی، پوزې والا راغی، ویل او ټوکې یې ورپورې کولې، داټول ملک دپوزپریکړو و، ددې وجې نه دهغه غریب ژوند ډیر ګران شو اودخپلې پوزې نه ورته شرم راته، همدې ځای نه دپوزپریکړودمحاورې شروع وشوه، ستامشکل دادی چې ته دپوزپریکړو په ملک کې اوسیږې، ددې له وجې تاته دخپلې پوزې نه شرم درځي، که په تاکې دا احساس وي چې عیب ستاپه پوزه کې نه دی، بلکې دهغه پوزه پریکړو په پوزې په غابیدوکې دی؛ نودهغوی په ټوکوکولوبه ته نه خفه کیدې.

کوم بائبل ته چې هغوی مقدس کلام وایي هغه دالله تعالی کلام نه دی، بلکې دانساني لاسونو لیکل شوی دی، مثلاً عهدنامه جدید، کې ،،دمتی انجیل ،دمرقس انجیل، دلوقا انجیل، دیوحنا انجیل، ،په نامو سره چې کوم کتابونه شامل دي دادالله تعالی کلام نه دی، چې په حضرت عیسی علیه السلام باندې د حضرت جبرائیل علیه السلام په ذریعې سره نازل شوی و، بلکې د حضرت عیسی علیه السلام څلورسوانح عمري دي چې په مختلفووختونوکې څلوروحضراتو لیکلي دي، دمزې خبره داده چې په دې څلوروارو کتابونو اصلي نسخه اوس په دنیا کې نه شته، ددې بې چاره ګانوپه لاسوکې چې څه دي هغه یوازې ترجمه ده، اصل متن غائب دی، همدغه وجه ده چې

روزانه په دې ترجموکې تبديلي راځي، په (۱۸۸۰) کې چې کومه نسخه شائع شوې وه دهغې مقايسه د (۱۹۸۰) نسخې سره وکړئ! نوفرق به مو په په خپله مخې ته راشي.

ددې ځلورو واړو انجيلونو په مجموعه کې ,,د رسولانو اعمال،، کتاب هم شامل دی دا دحضرت عيسیٰ عليه السلام د حوارينو په حالت باندې مشتمل کتاب دی او ددې وروسته چې کوم څوارلس خطونه د پولوس دي چې هغه د مختلفو ښارونو خلکو ته ليکلي وي، له دې نه وروسته يعقوب، پطرس، يوحنا او د يهودا خطونه دي او په اخرکې ديوحنا عارف مکاشفه ده. اوس غوروکړئ، چې په دې مجموعه کې هغه کوم يوشی دی چې دهغه يويوحرف ته کلام الهي وويل شي؟ او هغه ټيک په هغه ژبه کې محفوظ وي، په کومه ژبه کې چې نازل شوی و. دې خلکو دانسانانو ليکل شويو کتابونو ته دمقدس کلام نوم ورکړی دی، مګر دا الهي کلام نه دی ددې له وجې واقعي ددې لائق دی چې پرته د طهارت نه دې په ملاسته ولوستل شي. خوستا په لاس کې هغه الهي کلام دی چې دهغه په هيڅ يوحرف کې څه تبديلي نه ده راغلې اونن هم هغه شان په تروتازه حالت کې موجوددی ځنګه چې په حضرت خاتم النبين محمد ﷺ باندې نازل شوی و، په دې نکته باندې ددنيا تمام اهل عقل متفق دي چې دا هغه کلام دی کوم چې حضرت محمد ﷺ ددنيا په وړاندې دکلام په حيثيت سره وړاندې کړی و او په دې کې ديوحرف هم تغير يا تبدل نه دی شوی، دانګريزي دوردصوبې متحده لفټننټ ګورنرسر وليم ميور ،په خپل کتاب ,,لائف اف محمد (ﷺ) کې ليکلي:

,,دا بالکل صحيح او کامل قرآن دی او په دې کې ديوحرف هم تحريف نه دی شوی، موږ په يوه مضبوطه وجه باندې دعوه کولی شو، چې دقرآن هر ايت خالص او غيرمتغيرصورت کې دی او آخرکار موږ خپل بحث ,,ون هيم،، صاحب په فيصلې باندې ختموو، دهغه فيصله داده چې زموږ سره کوم قرآن دی موږ په کامل ډول ددې هرلفظ دمحمد (ﷺ) ګڼو، ځنګه چې د مسلمانانو دهرلفظ د خدای له طرف نه خيال کوي،،

(ماخوذازتنبيه الحائرين ص: ٤١ ازمولاناعبدالشکورلکهنوی)

غرض داچې دمسلمانانو سره الحمدلله کلام الهي عين په اصلي حالت کې او هم په هغو الفاظوکې موجود دی چې په حضور ﷺ باندې نازل شوی و. ددې له وجې مسلمانانو چې په کوم ادب او تعظيم سره دکلام الله تلاوت کوي، بالکل برحق دی، يوبزرګ د مسلمانانو د جذباتو ترجماني کوي اوليکي:

هزارباربشويم دهن به مشک وګلاب :: هنوز نام تو ګفتن کمال بې ادبی ست

ترجمه: که زه زرځله خوله په مشک او ګلاب سره ووينځم: نوبيا هم ستا نوم اخيستل بې ادبي ده.

ددې له وجې که کافرتاته پيغوردرکوي: نو دهغوی دپيغورهيڅ پرواه مه کوه، په هغوی کې خودطهارت تصورهم نه شته، هغوي د ظاهري ټيپ ټاپ اوصفايي ډيراهتمام کوي، مګرنه هغوی په اوبو سره استنجاکوي اونه دګندګي دځای دپاکولو ورته توفيق کيږي اونه کله هغوی

چیرته غسل جنابت کړی دی، کله چې طهارت، اودس اوغسل دهغوی په مذهب کې شته نه؛ نوبیاهغوی په اودس کې خپل کتاب څنګه ولولي؟دا دامت محمدیه (علی صاحبهاالصلوة والسلام) خصوصیت دی چې هغوی ته قدم په قدم باندې دپاکي اواودس تعلیم ورکړل شوی دی اودا ددې امت امتیازي وصف دی چې دهغه سره به دقیامت په ورځ ددې امت شناخت کیږي اوکوم اندامونه چې په اودس کې وینځل کیږي هغه به دقیامت په ورځ پړکیږي[۱] دالله کتاب نوردی اواودس هم نوردی اود الله تعالی دکتاب همدغه ادب دی چې دادې په اودس اوپه ادب سره ولوستل شي، که چاته دقرآن پاک څه سورتونه زباني یادوي؛ نودهغو بې اودسه لوستل هم جائزدي[۲] اوپه بستر کې یې هم لوستلی شی[۳]،خوکه غسل فرض وي: نوبیرته دغسل کولونه دقرآن پاک زباني ویل جائزنه دي، همدغه شان دحیض اونفاس په حالت کې ښځې تلاوت نه شي کولی [۴]اوکه بنده ته دغسل حاجت نه وي خوداودس موقعه نه وي؛ نوداهم جایزدي چې دقرآن پاک پاڼې دې په څه جامه باندې اړوي اوکتوسره دې تلاوت کوي[۵]غرض داچې دلویې ناپاکي په حالت کې دقرآن پاک تلاوت کول جائزنه دي، خو دبې اودسي په حالت کې تلاوت جائزدی،البته قرآن پاک ته بې پردې لاس لګول بې اودسه ته جائزنه دي.[۶]

۱]عن ابی هریرة رضی الله عنه قال:قال رسول الله صلی الله علیه وسلم :ان امتی یدعون یوم القیامة غرا محجلین من آثارالوضوء فمن استطاع منکم ان یطیل غرته فلیفعل _متفق علیه _ (مشکوة ص:۳۹طبع قدیمی) (وعن ابی الدرداء رضی الله عنه قال:قال رسو الله صلی الله علیه وسلم :انا اول من یوذن له بالسجود یوم القیامة ،وانا اول من یوذن له ان یرفع راسه فانظر الی مابین یدی فاعرف امتی من بین الامم ومن خلفی مثل ذلک وعن یمینی مثل ذلک وعن شمالی مثل ذلک ،فقال رجل :یارسول الله !کیف تعرف امتک من بین الامم فیما بین نوح الی امتک؟ قال:هم غرمحجلون من اثر الوضوء لیس احد کذلک غیرهم ......الخ (مشکوة ص:۴۰ کتاب الطهارة ،طبع قدیمی)_

۲]ویباح له قراءة القرآن لماروی ان رسول الله صلی الله علیه وسلم کان لا یحجزه عن قراءة القرآن شیء الا الجنابة (البدائع الصنائع ج:۱ص:۳۳کتاب الطهارة ،آداب الوضوء طبع ایچ ایم سعید)_

۳]ولو قرأ مضطجعًا فلاباس ......الخ (فتح القدیر ج:۱ص:۲۴۲)_

۴]ومنها حرمة قراءة القرآن لا تقرأ الحائض والنفساء والجنب شیئًا من القرآن والآیة و سواء فی التحریم علی الاصح (فتاوی هندیة ج:۱ص:۳۸،کتاب الطهارة ،الباب السادس ،الفصل الرابع ،طبع کوئته)

۵]قوله وحل قلبه بعود ای تقلیب اوراق المصحف بعود ونحوه لعدم صدق المس علیه (ردالمحتار علی الدرالمختار ج:۱ص:۱۷۴،کتاب الطهارة ،مطلب یطلق الدعاء علی مایشمل الثناء ،طبع ایچ ایم سعید)۔ ایضًا یجوز للمحدث الذی یقرأ القرآن من المصحف تقلیب الاوراق بقلم او عود اوسکین (البحر الرائق ج:۱ص:۲۱۲،طبع بیروت)_

۶] ومنها حرمة مس المصحف لایجوز لهما وللجنب والمحدث مس المصحف الا بغلاف متجاف عنه کالخریطة والجلدالغیر المشرز لابما هو متصل به هو الصحیح هکذا فی الهدایة وعلیه الفتوی کذا فی الجوهرة النیرة (فتاوی هندیة ج:۱ص:۳۹،۳۷، کتاب الطهارة ،الباب السادس ،طبع رشیدیه کوئته)_

د تفهیم القرآن تفسیر مطالعه کول

سوال: آیا د مولانا مودودي ،،تفهیم القرآن،، غلط دی او ددې لوستل جائز نه دي؟ ایا هغه ګستاخ رسول او ګستاخ صحابه دی؟ لکه څنګه چې مولانا اشرف علي تهانوي (رحمه الله) د ډپټي نذیراحمد د ترجمه قرآن غلطي واضحه کړې ده او یوه رساله یې لیکلې ده، ایا تاسو حضراتو هم د مولانا مودودي د تصانیفو د ټولو غلطو نه د امت د خبرولو له پاره یوه رساله لیکلې ده؟

جواب: د مولانا مودودي په (تفهیم القرآن) کې د غلطیو نشاندهي دوخت عالمانو وخت په وخت کوي ددې مطالعه دعامو مسلمانانو له پاه ډیره ضرري ده.

د ډپټي نذیراحمد د ترجمې لوستل څنګه دي؟

سوال: ایا د ډپټي نذیر احمد ترجمې او تفسیر کې اختلاف شته ؟

جواب: دده ترجمه دې نه لوستل کیږي، په دې کې غلطیانې دي، هغه ډپټي و، مفسر نه و.

دتدبر القرآن مطالعه څنګه ده؟

سوال: زه د حیواناتو ډاکټر یم، زموږ استاذ (چا چې ابتدایې تعلیم د مولانا منظور احمد چنیوټي صاحب د مدرسې نه حاصل کړی دی) د وینا مطابق د مولانا امین احسن اصلاحي ،،تدبر القرآن ، مطالعه شروع کړې ده، تدبر القرآن د رجم د رویت د مسئلې پرته صحیح دی؟ ایا ددې نه ویل بهتره دي؟

جواب: د تدبر القرآن مطالعه کول نه دي پکار.

د ګرځیدو په حالت کې د قرآن پاک تلاوت او درود شریف لوستل څنګه دي؟

سوال: زه روزانه په بازارکې دتګ په حال دقرآن پاک کوم سورتونه چې ماته یاددي دهغو تلاوت کوم اویویوسورت دوه دوه درې درې څله وایم اوله دې نه وروسته درودشریف هم په بازار کې دتلوپه حال وایم.په دې سلسله کې راته دوه خبرې ووایئ چې یوداچې زماداعمل سهي دی؟ اوپه دې کې دبې ادبي څه احتمال خونه شته؟ دویم داچې زماداسې ویل په وظیفو کې خونه شماریږي، ځکه چې مااوریدلي دي چې اکثروظیفې لوستلوسره وظیفې راواپس کیږي هم، چې دهغه له وجې انسان ته نقصان هم رسیدای شي.؟

جواب: بازارکې دتلوراتلوپه وخت کې دقرآن پاک سورتونه، درود شریف، یا نور ذکر اذکار

لوستلو څه نقصان نه شته[1]، بلکې په حدیث کې په بازارکې دکرخیدو په وخت کې دڅلورمې کلمې لوستلوفضیلت راغلی دی[2] اوتاسوته چاغلط ویلي دي چې دې سره نقصان هم کیدای شي دالله تعالی په نوم کې نقصان له کومې؟ هو! خو دڅه خاص مقصدله پاره وظیفې کول دپوښتنې نه پرته کول پکارنه دي.

د تلاوت په وخت کې د(رسول الله) لفظ په راتلو څه ویل کیږي؟

سوال: د الله تعالي په فضل او کرم سره زه هره ورځ دقرآن کریم تلاوت کوم، د تلاوت د کولو په وخت کوم ځای چې لفظ رسول یا رسول الله راځي هلته (صلی الله علیه وسلم) ویل جائز دي اوکه نه؟

جواب: ایت چې ختم شي؛ نو ودې ویل شي.[3]

ختم قرآن کې دعوت بدعت نه دی

سوال: ایادختم قرآن په خوشالي کې دعوت بدعت دی؟

جواب: بدعت نه دی، بلکه جائزدی.[4]

په ختم قرآن کې شیریني تقسیمول

سوال: درمضان المبارک د(۲۳) په شپه په جومات کې دتراویحو وروسته دامام مسجد سورت عنکبوت اوسورة روم لوستل، مقتدیانو اوریدل اودمقتدیانوراوړې شوې شیریني په ماشومانو باندې اوپه لویانو دتقسیمولو څه ثبوت شته؟

جواب: دختم قرآن په خوشالي کې دعوت، ضیافت اوشیریني اوداسې نور... تقسیمول جائز

۱] ولا باس بالقراءة راكبًا وماشيًا اذا لم يكن ذلک المواضع معد للنجاسة فان كان يكره كذافى القنية (عالمگیری ج:۵ص:۳۱٦،کتاب الكراهية ،الباب الثالث فى الرجل راى رجلاً يقتل اباه ومايتصل به)۔

۲]وعن عمر رضى الله عنه ان رسول الله صلى الله عليه وسلم قال:من دخل السوق فقال:لا اله الا الله وحده لاشريک له ......كتب الله له الف الف حسنة ،ومحاعنه الف الف سيئة ، ورفع له الف الف درجة ،وبنى له بيتًا فى الجنة (مشكوة المصابيح ج:۱ص:۲۱٤)۔

۳] ولوقرا القرآن فمر على اسم النبى صلى الله عليه وسلم وآله واصحابه فقراءة القرآن على تاليفه ونظمه افضل من الصلاة على النبى صلى الله عليه وسلم وآله واصحابه فى ذلک الوقت .فان فرغ ففعل فهو افضل وان لم يفعل فلاشيء عليه كذا فى الملتقط (عالمگیری ج:۵ص:۳۱٦،کتاب الكراهية ،الباب الثالث فى الرجل راى رجلاً يقتل اباه ومايتصل به)

٤] ويستحب له ان يجمع اهله وولده عندالختم ويدعو لهم كذافى الينابيع (عالمگیری ج:۵ص:۳۱۷،کتاب الكراهية ،الباب الثالث)، ايضًا مالک عن نافع عن ابن عمر رضى الله عنهماقال:تعلم عمر رضى الله عنه البقرة فى اثنى عشرة سنة فلما ختمها نحر جزورًا ۔(الجامع لاحكام القرآن للقرطبى ج:۱ص:۳۰طبع بيروت)۔

دي، په دې شرط چې څه خرابي په کې نه وي[۱] خونن سبا چې ختم قرآن باندې د څنګه شیریني تقسیمولو رواج دی داجائزنه دی، باقي سورة عنکبوت اوسورة روم لوستل نقل نه دي.

ختم قرآن باندې دعوت ورکول جائزدي او په تحفه کې څه ورکول هم جائزدي

سوال: زموږ په معاشره (جامعه) کې چې کله ماشوم قرآن پاک ختم کړي؛ نوامین کول کیږي، چې په هغه کې خپلوانو باندې خوراک خوړل کیږي اوختم کونکي ته تحفې ورکول کیږي، ایا دا په اسلام کې جائزدي؟ځکه چې په دې کې ریا هم راځي.

جواب: دختم قرآن په خوشالي کې په خوراک ورکولو کې هیڅ نقصان نه شته، حضرت عمر رضی الله عنه چې کله سوره بقره ختمه کړې وه؛ نواوښ یې ذبح کړی و[۲]، همدغه شان که دمحبت له وجې څوک ماشوم ته هدیه یاتحفه ورکړي؛ نوپه هغه کې هم څه نقصان نه شته، خوزموږ طرفونوته اکثرخلاف شرع تکلفات کیږي اوپه دې کې داخلاص اومحبت په ځای ریاکاري اورسم پرستي هم ښکاره کیږي.

په یوه ورځ کې قرآن ختمول

سوال: یوه ښځه دلته تبلیغ کوي او وایي چې تاسوخلک چې ښځې رایوځای شئ اوپه شریکه ختم کوئ هغه ناجائزه دی، ځکه چې په یوه ورځ کې پوره قرآن پاک ختمول منع دي، یوقرآن کم نه کم په دریو ورځوکې ختمول پکاردي، په دې باندې ماترې پوښتنه وکړه چې په خالق دیناهال اونورو د تراویح په ځایونوکې چې په یوه شپه کې پوره ختم کیږي ددې په باره کې ستاسو څه خیال دی؟؛ نوهغې وویل چې: داخلک سخت ګناهګاردي، مهرباني وکړئ اوصحیح صورت حال نه مو خبر کړئ!

جواب: په حدیث شریف کې ددریو ورځونه په کم وخت کې دقرآن ختمولونه ممانعت راغلی دی، ځکه چې په دې صورت کې تدبر اوتفکرنه شي کیدای، مطلقاممنوع نه دی،ځکه چې د ډیر بزرګانو په یوه شپه کې ختم کول هم منقول دي، ښځې چې چیرته په شریکه د قرآن کریم ختم کوي په دې کې نورې خرابیانې کیدای شي، مثلاً: د ښځوسازسنګارسره راتلل، صحیح تلاوت نه کول،د تلاوت په دوران کې دنیاوي خبرې کول او داسې نور... ، بیاهم که څوکسان په شریکه ختم وکړئ؛ نود حدیث په ممانعت نه راځي، ځکه چې په حدیث کې دیوکس د دریو

۱] ایضاً۔

۲]مالک عن نافع عن ابن عمر رضی الله عنهماقال:تعلم عمر رضی الله عنه البقرة فی اثنی عشرة سنة فلما ختمهانحر جزورًا (الجامع الاحکام القرآن للقرطبی ج: ۱ص: ۴۰ بیروت)۔

ورځونه مخکې ختم کولو باندې ممانعت راغلې دی، نه چې د کښو کسانو په ختم کولو باندې[1] او تاسو چې د کوم خالق دیناهال د تراویحو حواله ورکړې ده دا هم صحیح نه دی، په تراویحو کې چې په یوه شپه کې کوم قرآن پاک ختمول کیږي هغه دومره په تیزي سره ویل کیږي چې الفاظ په صحیح طریقې سره په پوهه کې نه راځي، داسې ویل ممنوع او مکروه دي.[2]

په رمضان کې قرآن تیز ویل څنګه دي؟

سوال: په رمضان المبارک کې عموماً حافظ صاحب چې کوم قرآن اوروي ددې د ویلو رفتار دومره تیز وي چې د یعلمون او د تعلمون نه پرته نور په هیڅ نه پوهیږو، که چیرې ده ته وویل شي چې لږ رفتار کم کړه؛ نو په جواب کې وایې چې ددوی مجبوري ده، په کم رفتار سره نه یې شي ویلی، په دې صورت کې ویونکي او اوریدونکي د ثواب مستحق به وي؟

جواب: د قرآن کریم ادب دادی چې دا په ډیر ارام او وقار سره په صحیح الفاظو سره وویل شي[3] دومره تیز ویل لکه څنګه تاسو ذکر کړي دي، جائز نه دي او د لوستلو او د اوریدلو والو ته ثواب نه ملاویږي، بلکې دا ویره ده چې ګناه نه وي.[4]

شبینه قرآن جائز ده که ناجائز؟

سوال: زموږ په شا وخوا کې څوقاریان صاحبان راجمع شوي دي او دا پروګرام یې جوړ کړی دی چې په هره میاشت کې به یوه شبینه کوي او ددې وجه دا ښایي چې ټول کال د قرآن سره د تعلق ساتلو له پاره هغوی داسې کوي، چې د قرآن سره یې ضبط او محبت باقي پاتې شي، په دې کې څه غیرحافظان کسان هم په ډیر ذوق او شوق سره شرکت کوي، واضحه دې وي چې ددې له پاره هیڅ چنده وغیره نه کیږي. او نه څوک زبردستي سره په قرآن اوریدلو باندې مجبور وي، هم دغه اعلان کیږي چې کوم صاحب غواړي او څومره غواړي په شبینه کې شرکت کولی شي، په داسې محفل کې د قرآن پاک د اورولو یا اوریدلو له پاره شرکت کول د قرآن او سنت په رڼا کې څه حکم لري؟

۱] افضل القراءة ان یتدبر فی معناه حتی قیل یکره ان یختم القرآن فی یوم واحد ولا یختم فی اقل من ثلاثة ایام تعظیمًا له ویقرأ بقراءة مجمع علیها کذافی القنیة (عالمگیری ج:۵ص:۳۱۷،کتاب الکراهیة ،الباب الثالث......الخ) وایضًا ویکره ان یقراه فی اقل من ثلاث لماروی عبدالله بن عمرقال:قال رسول الله صلی الله علیه وسلم :لایفقه من قراءه فی اقل من ثلاث ......الخ (الفقه الاسلامی وادلته ج:۲ص:۸۲ تتمة الصلاة ختم القرآن)۔

۲] ویکره الاسراع فی القراءة وفی اداء الارکان کذا فی السراجیة (فتاوی هندیة ج:۱ص:۱۱۸)۔

۳](ورتل القرآن ترتیلاً (المزمل : ٤)

۴] وفی الحجة : یقرأ فی الفرض بالترسل حرفًا حرفًا،وفی التراویح بین بین ،وفی النفل لیلا له ان یسرع بعد ان یقرأ کما یفهم وفی الشامیة:ای بعد ان یمد اقل مدقال به القراء والا حرم لترک الترتیل الماموربه شرعًا (شامی ج:۱ص:۵٤۱)

جواب: حضراتو فقهاو کرامو د درېو کسانو د زياتو په جماعت سره نفل لوستل مکروه ګرځولي دي، که امام تراويح وركوي؛ نوداشبينه صحيح ده اوكه امام دنفلوجماعت كوي؛ نوشبينه جائزنه ده.[1]

په (۲۷) رمضان باندې شبينه كول څنګه دي؟

سوال: په ۲۷ رمضان باندې شبينه كول اوږنا كول څنګه دي؟

جواب: شبينه جائز ده، په دې شرط سره چې مفاسدو نه خالي وي،ګني صحيح نه ده، بې ضرورته رڼاكول څه مستحسنه خبره نه ده.[2]

د ريډيو ديني پروګرام پرېښودل او ګانې اورېدل

سوال: زماپه كوركې ريډيو ده، زمادګانواورېدوسره ډېرشوق دی، ځينې وختونوكې داسې كيږي چې ديوسټېشن نه تلاوت كلام پاک ياڅه مذهبي پروګرام نشركيږي؛ نوپه دويم سټېشن باندې زما دخوښې ګانې نشركيږي، زه په اخره كې ټول مذهبي پروګرامونه پرېږدم اوګانې اورېدل شروع كړم، ايا داجائزدي؟

جواب: ايا په خپله ستاضميردې ته جائز وايي؟ ګانې اورېدل په خپله حرام دي، تلاوت بندول اوګانې اورېدل څنګه جائزكيدای شي؟[3]

د ټيپ ريكارډ نه د ګانې اورېدو ګناه ملاوېږي د تلاوت د اورېدو ثواب ولې نه ملاوېږي؟

سوال: زه د قرآن حافظ يم، خوعالم نه يم، خلک زما نه دا سوال كوي چې ايا ګانه اورېدل ګناه ده؟ نو زه ورته وايم چې هو! ګناه ده؛ نو هغوی دا سوال كوي چې د ټيپ ريكارډ نه د تلاوت په اورېدو باندې ثواب ملاوېږي؟؛ نو زه وايم چې نه، هغوی وايي چې نه تلاوت والا موجود دی او ګانه ويونكی موجود دي، دا څه وجه ده چې په ټيپ ريكارډ باندې ګانه اورېدو باندې ګناه ولې ملاوېږي؟ او په تلاوت باندې ثواب ولې نه ملاوېږي؟؛ نو مهرباني وكړئ ددې سوال حل تلاش كړئ او ويې وايئ!

۱] ولايصلى الوتر والتطوع بجماعة خارج رمضان) اى.يكره ذلک على سبيل التداعى بان يقتدى اربعة بواحد، درمختار،وفى الشامية :قوله اربعة بواحد او اثنين بواحدفلايكره وثلاثة بواحد فيه خلاف......الخ (شامى ج:۲ص:۴۸ كتاب الصلاة ،مبحث صلاة التراويح)۔

۲] امدادالفتاوى ج:۱ص:۲۳۷،فصل فى التراويح ،طبع كتب خانه امداديه ،انديا)۔

۳] وفى البزازية استماع صوت الملاهى كضرب قصب ونحوه حرام لقوله عليه الصلاة والسلام استماع الملاهى معصية والجلوس عليها فسق والتلذذبها كفر(درمختارمع الشامى ج:۶ص:۳۴۹،وايضًا فى الهندية ج:۵ص:۳۵۱)

جواب: د ټیپ ریکارډ نه د قرآن کریم د تلاوت د اواز د اوریدلو ثواب ملاویږي، خود تلاوت ثواب نه ملاویږي[۱] او د ګانې د کیسټ په اوریدو باندې ګناه ملاویږي او ګانې اواز آوریدل هم حرام دي[۲]

د ټیپ ریکارډ د تلاوت ثواب وي

سوال: که د ټیپ ریکارډ نه د قرآن د تلاوت آواز واوریدلې شي نو د دې ثواب به وي.که ګناه به وي او که ثواب او ګناه هیڅ هم نه؟

جواب: د ټیپ ریکارډ اواز د تلاوت آواز خو په هر حال نه وي[۳] په دې وجه په دې باندې نه د تلاوت احکام مرتب کیږي او نه د تلاوت دآوریدو، البته د تلاوت آواز ضرور دی، په دې باندې الله تعالي ثواب ورکوي دا به څه بعیده نه وي.

په کیسټ باندې د تلاوت ثواب نه ملاویږي نو بیا د ګانې د آوریدو ګناه ولې ملاویږي؟

سوال: ما په کیسټ باندې د تلاوت او د سجدې د عنوان لاندې فتوٰی ولوستله چې په هغې کې تاسو د کیسټ په تلاوت باندې د سجده تلاوت د عدم وجوب فتوا ورکړې وه او د کیسټ آواز مو د تلاوت آواز نه و شمیر کړی، نو په دې باندې اشکال دا واردیږي چې آیا په کیسټ باندې د تلاوت کلام پاک ثواب د اصلي تلاوت برابر دی او که نه؟ بل اشکال دادی چې که چیرې څوک په کیسټ کې بنده موسیقي آوري؛ نو ددې ګناه به ملاویږي او که نه؟ یا د موسیقۍ آواز آواز نه ګڼلو؛ نو دګناه کار به نه شي ګڼلی؟

جواب: تلاوت خو هغه وي چې قاري صاحب کړی وي په دې باندې ثواب په شرط د اخلاص ضرور وي،په کیسټ کې دده د تلاوت آواز محفوظ شوی دی، ددې آواز حکم د تلاوت نه دی[۴] مثلاً: که چیرې د آذان کیسټ د آذان په وخت ولګول شي؛ نو ددې حکم به د آذان نه

---

[۱] لان القراءة فعل اللسان (حلبى كبير ص:۲۷۵ سهيل اكيدمى لاهور)

[۲] وفى البزازية استماع صوت الملاهى كضرب قصب ونحوه حرام لقوله عليه الصلاة والسلام :استماع الملاهى معصية والجلوس عليها فسق والتلذذ بها كفر (الدرالمختارج:٦ص:٣٤٩)_ وكره كل لهو اى كل لعب وعبث ......واستماعه كالرقص والسخرية والتصفيق وضرب الاوتار......واستماع ضرب الدف والمزمار وغير ذلک حرام وان سمع بغتة يكون معذورًا ويجب عن يجتهد ان لايسمع (شامى ج:٦ص:٣٩٥،باب مايفسدالصوم ومالايفسده)

[۳] لان القراءة فعل اللسان (حلبى كبير ص:۲۷۵ سهيل اكيدمى لاهور)

[۴] والسماع شرط عمل التلاوة(حاشيه طحطاوى على مراقى الفلاح ص:۲٦٠) ايضا :بخلاف السماع من البغاء والصدى فان ذلک ليس بتلاوة وكذا اذا سمع من المجنون لان ذلک ليس ....[بقيه حاشيه په راروانه صفحه.

وي، تاسو چې د سندرو د کیسټ کوم اشکال کړی دی هغه صحیح نه دی، ګانه، دا هم شرعاً حرامه ده او یو دې د ګانې د آواز آوریدل دا هم شرعاً حرام دی، دګانې په کیسټ د ګانې آواز آوریدل کیږي، ددې په حرام کیدوکې څه شبه ده؟[1]

د کیسټ د آواز نه سجده

سوال: مسئله دا ده چې یوه ورځ ما د منی په بازار کې سفر کولو، د مني په بس کې کیسټ لګیدلې وه چې په هغې کې د قرآن پاک تلاوت کیده، ماهم تلاوت آوریدو چې په دې دوران کې قاري صاحب کوم چې تلاوت کولو یو ځای کې ده وویلو چې د سجده تلاوت،، نو کله چې ما دا واوریده؛ نو زما سره برابر په سیټ باندې سړي وویل چې اوس په مونږه باندې سجده واجبه شوه،آیا ددې سړي دا خبره صحیح ده؟ ځکه چې د منی بس خو ډک شوی و.

جواب: د کیسټ د تلاوت نه سجده تلاوت نه واجبیږي د سړي د خولې د تلاوت نه واجبیږي[2]

د ټیپ ریکارډ نه د تلاوت آوریدل خلاف ادب دي؟

سوال: زمایه ذهن کې دا مسئله راځي چې د بسونو ډرایوران او اکثر د مني ډرایور د سفر په دوران کې د ګانو(سندرو) کیستې لګوي چې په هغې کې فحش او عریانه ګاني وي د سحر په وخت کې ډرایوران د قرآن پاک کیسټ هم لګوي او ددینه لږ ساعت پس عریان او فحش ګانې شروع کیږي، زما د منع کولو باوجود چې په دې کې فحش ګانې لګیدلې وي، د قرآن پاک کیسټ مه لګوئ هغه خلق وایي چې آواز خو دی، لکه څنګه چې سړې دروغ او رښتیا وایي، آیا ددوی وینا صحیح ده؟

جواب: ټیپ ریکارډ د آواز محفوظ کولو آله ده، ددې صحیح استعمال صحیح دی او غلط استعمال یې غلط دی،[3] دا د ډرایورانو (موټروانانو) بد مذاقي ده چې دا دسندرو له پاره

...بقیه د تیر مخ]..بتلاوة صحيحة لعدم اهليته لانعدام التميز (البدائع الصنائع ج:۱ص:۱۸۶كتاب الصلاة فصل واما بيان تجب عليه السجدة ،طبع ايچ ايم سعيد).

[1] اختلفوا في التغني المجرد قال بعضهم انه حرام مطلقاوالاستماع اليه معصية وهو اختيارشيخ الاسلام ولو سمع بغتة فلااثم عليه(عالمگيرى ج:۵ص: ۳۵۱،كتاب الكراهية،الباب ،السابع عشرفى الغناء واللهو وسائرالمعاصى...الخ

[2] ولاتجب بكتابة ولانظرمن غيرتلفظ لانه لم يقرأ ولم يسمع وكذا التهجى فلاتجب عليه ولا على من سمعه لانه تعداد الحروف وليس بقراءة (حاشية طحطاوى ص: ۲۶۱،باب سجودالتلاوة) (التلاوة هى مصدر تلا بمعنى قرأ...... وانما لم يذكر السماع لان المختاران سبب التلاوة فقط ولان التلاوة سبب للسماع ايضًا فكان ذكر مشتملاً على السماع من وجه فاكتفى به كذا فى العناية وفى ذكر التلاوة ايماء الى انه لو كتبها او هجاها لم يجب قاله السيد(حاشية طحطاوى ص: ۲۶۰،باب سجود التلاوة ،ايضًا بدائع ج:۱ص:۱۸۶، كتاب الصلاة)

[3] الامور بمقاصدها كما علمته فى التروك وذكر قاضيخان فى فتاواه ان بيع العصيرممن يتخذه خمرًا ان قصد به التجارة فلايحرم وان قصدبه لاجل التخميرحرم (الاشباه والنظائر ج:۱ص:۴۳،الفن الاول ،القاعدة الثانية)

استعمالوي... د دينه باوجود په بسونو او د منی په بسونو کې ګانې لګول هم ممنوع دي،خودا خلاف قانون حرکت دی، قانون د محافظانو د پوزې د لاندې کيږي، په هر حال کومه آله چې د ګانې د پاره استعماليږي د دينه تلاوت آوريدل خلاف ادب دي.[1]

تلاوت کلام پاک او ګانې په ريډيو يا د کيسټ نه اوريدل

سوال: که تلاوت کلام پاک کيسټ ياريډيونه اوريدل کيږي؛ نوپه دې ثواب نه ملاويږي، نو د دې اصولو مطابق که موسيقي په ريډيو ياکيسټ نه واوريدل شي؛ نوپه هغو هم ګناهګاريدل پکارنه دي؟

جواب: دګانې آوازاوريدل حرام دي،د دې ګناه شته،دتلاوت آوازتلاوت نه دی،د دې وجې نه دتلاوت اوريدلوباندې به ثواب نه ملاويږي،خو که تاسوقرآن کريم دصحيح تلفظ زده کولو پاره اوری نو په دې به درته ضروراجر ملاويږي.[2]

ايا په ټيپ ريکارډ باندې تلاوت ناجائزدی؟

سوال: تاسوليکلي وچې په ټيپ ريکارډ باندې تلاوت کولوسره دتلاوت ثواب نه ملاويږي اونه د دې اوريدوسره سجده تلاوت واجبيږي،نوګزارش دادی چې په هغه زمانه کې خوټيپ ريکارډ نه و،د دې وجې نه په قرآن اوسنت کې د دې څه دليل نه ملاويږي،خو دنن سبا په دورکې خو دا يوه اله ده،کومه چې استعماليږي څنګه چې په جهادکې هوايي جهاز او ټينک وغيره، دقرآن اوسنت په رڼاکې د دې وجوهات درج کړئ!

جواب: په ټيپ ريکارډباندې تلاوت ته خوماکله هم ناجائزنه دي ويلي،مګردسجده تلاوت د واجب کيدوله پاره تلاوت صحيحه شرط دی،اودټيپ نه چې کوم آوازراوځي هغه عقلا او شرعا صحيح نه دی،د دې وجې نه په دې باندې به دتلاوت احکام هم نه جاری کيږي.[3]

---

[1] تفصيل دپاره اوګوری: آلات جديده،، ص: ۱۶۱)۔

۲] لان القراءة فعل اللسان (حلبی کبير ص:۲۷۵ سهيل اکيدمی لاهور) وفی البزازية استماع صوت الملاهی کضرب قصب ونحوه حرام لقوله عليه الصلاة والسلام :استماع الملاهی معصية والجلوس عليها فسق والتلذذ بها کفر (الدرالمختار:ج٦ص:٣٤٩) وکره کل لهو ای کل لعب وعبث ......واستماعه کالرقص والسخرية والتصفيق وضرب الاوتار......واستماع ضرب الدف والمزمار وغير ذلک حرام وان سمع بغتة يکون معذورا ويجب عن يجتهد ان لايسمع (شامی ج:٦ص:٣٩٥،باب مايفسدالصوم ومالايفسده)۔

۳] فينظر الی اهلية التالی واهليته بالتميز...... بخلاف السماع من البغاء والصدی فان ذلک ليس بتلاوة وکذا اذا سمع من المجنون لان ذلک ليس بتلاوة صحيحة لعدم اهليته لانعدام التميز (بدائع الصنائع ج:۱ص:۱۸۶،کتاب الصلاة فصل بيان من تجب عليه السجدة ،وايضا جديدفقهی مسائل ج:۱ص:٦٥، آلات جديده ،ص:۲۰۷)۔

په ټيپ ريکارډ باندې صحيح تلاوت او ترجمه اوريدل موجب برکت دي

سوال: زه د قرآن کريم مکمل کيسټ اخيستل غواړم، چې د ترجمې سره وي، پوښتنه داده چې په ټيپ ريکارډ باندې تلاوت او ترجمه اوريدل څنګه دي؟ ثواب ملاويږي او که نه؟ ستاسو نه مشوره اخيستل دي؟ چې د قرآن د کيسټو سيټ واخلم او که نه؟

جواب: اوس تاسو خود اليکلي نه دي چې په کيسټ کې د چا تلاوت او ترجمه ده؟ تلاوت او ترجمه که صحيح وي، نو د دې په اخيستلو کې هيڅ نقصان نشته، د تلاوت اوريدلو ثواب به نه وي، په هرحال د قرآن کريم آواز اوريدل موجب برکت دي.[1]

د تلاوت کيسټ اوريدل کافي دي که په خپله هم تلاوت کول پکار دي؟

سوال: زما يو دوست دی، چې په خپله قرآن پاک نه لولي، بلکې د ټيپ ريکارډ د کيسټ په ذريعه روزانه قرآن پاک اوري، حالانکې زما د هغه سره بحث وشو: نو ويې ويل چې قرآن پاک لوستل څه ضروري نه دي، مسلمان يوازې اوريدو سره پرې هم عمل کولی شي، دا خبره زما په ذهن کې تاويږي د دې دلرې کولو له پاره د يو مولوي صاحب سره ملاوشوم، هغوی هم دغه جواب راکړ چې په خپله د ويلو يا اوريدلو ثواب يو شان دی، اوس زما په ذهن کې دا خبره نه راځي، هرکله چې يو مسلمان په خپله قرآن شريف لوستی وي؛ نو هغه په خپله ولې تلاوت نه کوي؟ تاسو راته ووايئ او زما دا شک لرې کړئ چې قرآن پاک يوازې د نورو د ژبې نه اوريدل پکار دي او په خپله دې تلاوت نه کيږي؟ هرکله چې هغه په خپله تعليم يافته وي آخر ولې؟

جواب: د قرآن پاک ډيرزيات حقونه دي، يو حق يې تلاوت هم دی، او د هغه احکام اوريدل او عمل پرې کول يې هم حق دی، او هم د غه شان د خپل وس مطابق يې حفظ کول هم حق دی او دا ټول حقونه ادا کول پکار دي، خو قرآن مجيد لوستل، د قرآن مجيد د اوريدلو نه زيات افضل دي[2] او د ټيپ ريکارډ تلاوت اوريدل خو اکثر عالمان په تلاوت کې بيخي شمار کوي هم نه.[3]

۱] تفصيل د پاره اوګورئ: جديد فقهي مسائل ص: ٦٥ دغه شان آلات جديده ص: ١٦٠)_

۲]عن عبيدة المليكى وكانت له صحبة قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: يا اهل القرآن لا تتوسدوا القرآن واتلوه حق تلاوته من آناء الليل وآنا النهار وافشوه وتغنوه وتدبروا مافيه لعلكم تفلحون ولاتعجلوا ثوابه فان له ثوابًا، رواه البيهقى فى شعب الايمان (مشكوة ص: ١٩٢، ايضًا: الفقه الاسلامى وادلته ج: ٢ص: ٨١ و٨٢، هندية ج: ٥ص: ٣١٧)_

۳] فينظر الى اهلية التالى واهليته بالتميز وقد وجد فوجد سماع تلاوة صحيحة فتجب السجدة بخلاف السماع من البغاء والصدى فان ذلك ليس بتلاوة وكذا اذا سمع من المجنون لان ذالک ليس بتلاوة صحيحة لعدم اهليته لانعدام التميز (البدائع الصنائع ج: ١ص: ١٨٦، كتاب الصلاة) ، ايضاً: آلات جديده ص: ٢٠٧)_

د ټیپ ریکارډ د تلاوت ثواب چې نشته نو بیا یې په ګانو باندې ګناه ولې ده؟

سوال: جنګ ورځپاڼه کې هره هفته ستاسو کالم په باقاعدګي سره لولم،په دې کې کله ستاسو ځینې متعلقه جوابونه دنور الجهاو باعث جوړشي او کله کله جواب وضاحت طلب پاتې شي چې په وجه یې یوازې زما نه، بلکې دنورو لوستونکو الجهن هم نه لرې کیږي.دمثال په طور سره تاسوفرمایلي دي چې دټیپ ریکارډ تلاوت واقعتاً تلاوت نه دی،نوبیابه په ریډیو او ټلیویژن باندې د تلاوت جوازختم شي،یوازې دا نه، بلکې هرکله چې ددې ثواب نه شته نو بیابه په ټیپ ریکارډباندې دفحش ګانواوریدل باعث عذاب هم نه وي اوبیاپه فلمونوکتوکې څه بدی پیدا کیدای شي؟دویمه خبره دسجده تلاوت ده،نودا ناچیز داګڼي چې دقرآن کریم متعلقه آیت که هرې حوالې دمسلمان ترغوږوپورې ورسیږي یاپه خپله تلاوت کړي په هغه باندې به سجده تلاوت واجبیږي،که ستاسوداخبره ومنئ؛نوبیاپه اخترونوکې اودجمعې په لمونځونوکې دلرې لرې پورې چې کومو صفونوکې لمونځ ګزارلمونځ اداکوي یاپه رکوع اوسجده کې دپیش امام سره شاملیږي هغه به هم بې معنا پاتې شي،ځکه چې په دې لمونځونو کې په عام طورسره دلاوډ سپیکر استعمال کیږي،اوالبته په ټیپ ریکارډباندې تلاوت سره دلمونځ نه اداکیدو جواز خو شته،ځکه چې دباجماعت لمونځ له پاره پیش امام موجودګي ضروري ده،خو دتلاوت سجده نه واجبیدل اوددې اوریدل دڅه ثواب وجه نه جوړیدل دعقل اوفهم نه لرې خبرې دي.

جواب: دجناب نصیحتونه خوډیرقیمتی دي، زه دزړه له کومې ددې قدرکوم،اوپه دې باندې دجناب شکرګزارهم یم ،زه دخپل محدود علم مطابق مسائل په حزم اواحتیاط سره دلیکلو کوشش کوم،مګر دکم علمي یاکم فهمي په وجه په یوجواب کې غلطي یالغزش راتلل غیر متوقع نه دي،ددې وجې نه اهل علم ته باربارسوال کوم چې که زمانه په څه مسئله کې لغزش راشي نوضرور مې آګاه کوئ چې دهغې اصلاح وکړل شي.

۱:....ددې تمهیدنه وروسته ګزارش دی چې ددې جناب دنصیحت مطابق مې نورواهل علموته رجوع وکړه، او دهغوی هم دغه رایه ده چې په ټیپ ریکارډ باندې تلاوت اوریدوسره سجده نه لازمیږي، دپاکستان مفتي اعظم مولانامفتي محمدشفیع صاحب رحمة الله علیه ،،آلات جدیده،، باندې په تحریرکې فرمایي: ،،دټیپ رکارډ په ذریعه چې کوم آیت سجده واوریدل شي، دهغه هم هغه حکم دی چې دګراموفون ریکارډ دی.چې ددې په اوریدوسره سجده تلاوت نه واجبیږي.ځکه چې دسجده تلاوت د واجبیدو له پاره تلاوت صحیحه شرط دی.او آله بې زبانه اوبې شعوره تلاوت متصورنه دی.،،(ص:۲۰۷)

۲:....دجناب داشک صحیح نه دی چې،،که داتلاوت نه وي نود ریډیواوټلیویژن نه به د تلاوت جوازختم شي،،په ریډیوباندې چې کوم تلاوت نشرکیږي. هغه عموماًمخکې ریکارډ کیږي بیا وروسته نشرکیږي.ددې وجې نه ددې هم هغه حکم دی چې دټیپ ریکارډ د آواز دی. یعنې هغه تلاوت صحیح نه دی مګرریکارډکول جائزدي.حضرت مفتي صاحب,,آلات جدیده،، کې لیکي :،،په دې مشین باندې تلاوت قرآن پاک اونورمضامین لوستل اوپه دې کې محفوظ کول صحیح دي.،،پورتنۍحواله) ددې تلاوت صحیحه نه کیدو څخه دانه لازمیږي چې په دې ریډیواوټلویزون باندې تلاوت کول به ناجائزشي.خو که بل سبب سره ممانعت وي نودویمه خبره ده.مثلاً په تلویزون باندې تصویرراځي.اوداشرعاحرام دی اوکوم شی چې حرام اوملعون وي، هغه دقرآن کریم له پاره استعمالول هم حرام دي.دریډیواستعمال اکثر دګانې بجانې له پاره کیږي.له دې وجې ځینې عالمانو په دې باندې تلاوت بې ادبي ګرځولې ده اوددې مثال داسې دی چې کوم لوښی دنجاست له پاره استعمالیږي په هغه خوراک خوړلوسره به یوسلیم الفطرت کس ته خامخاکرکه ورځي.لکه حضرت مفتي صاحب رحمه الله چې لیکي:

,,اګرچې ریډیواستعمالونکودبدمذاقي له وجې دازیاتره په ګانو بجانوکې لګولې وي،نوځکه ځینې اهل علم په دې باندې دقرآن پاک تلاوت درست نه ګڼي،خو دنورو مفیدو مضامینوهم په دې کې ډیراهمیت موندل کیږي.له دې وجې داصحیح ده چې داپه الات لهولعب کې داخل کیدای نه شي اوله ریډیوڅخه چې په کوم مجلس کې چې تلاوت کیږي هغه مجلس هم د لهو لعب اولغوخبرو نه جدا دی.،،(ص:۱۶۲)

۳:...دجناب دا شک مې هم په پوهه کې رانغی چې که دټیپ ریکارډ تلاوت،صحیح تلاوت نه دی، نه په دې کې دتلاوت داوریدلوثواب شته نودګانواوریدوګناه هم پکارنه ده؛ځکه چې دتلاوت خاص شرعي احکام دي چې په تلاوت صحیحه باندې مرتب کیږي،دټیپ ریکارډآواز صحیځ تلاوت نه دی،محض دتلاوت آوازد،چنانچې که اذان ټیپ کړل شي نودموذن په ځای پنځه وخته ټیپ غږولوسره که څه هم داذان آوازخوبه راشي خو دې ته به اذان نه ویل کیږي،او نه به دې سره داذان سنت اداشي،همدغه شان دټیپ ریکارډتلاوت هم دتلاوت قائم مقام نه دی،خو شریعت دګانې آوازاوریدل مطلقاً حرام ګرځولي دي، لکه چې په یوحدیث کې دي:

,,دوه آوازونه داسې دي چې په دنیااواخرت کې ملعون دي:یودخوشحالۍ په موقعه باندې دساز او باجوآواز،اودویم د مصیبت په وخت کې دنوحې آواز.،،(جامع صغیر)[1]

۱] عن انس بن مالک رضی الله عنه قال:قال رسول الله صلی الله علیه وسلم صوتان ملعونان فی الدنیا والاخرة :مزمارعندنعمة ورنة عند مصیبة _رواه البزار ورواته ثقات _(الترغیب والترهیب ج:٤ص:۳۵۰ ،جامع الصغیرص:۳۱۱ طبع درالکتب العلمیة بیروت)_

ددې وجې نه دګاني آواز (که په هرې ذريعې سره واوريدل شي) اورېدل حرام دي. لهذا تلاوت باندې دګاني آواز قياس کول صحيح نه دي.

۴:....او د جناب دا ارشاد چې: د قرآن مجيد آيت سجده که هرې ذريعې سره د مسلمان تر غوږو پورې ورسيږي يا هغه په خپله تلاوت وکړي، په هغه باندې به سجده تلاوت واجبيږي،. د تلاوت صحيحه ترحده پورې خو صحيح ده، مطلقاً صحيح نه ده. مثلاً يو ويده کس آيت سجده تلاوت کړ، نه په هغهٔ باندې سجده واجب ده او نه په اوريدونکي، ځکه چې دويده کس تلاوت. تلاوت صحيحه نه دی، همدغه شان که يو مرغه ته آيت سجده وښودل شو، نو دهغه په ويلو سره سجده تلاوت نه واجبيږي، ځکه د مرغه لوستل تلاوت صحيحه نه دی، همدغه شان که يو کس آيت سجده تلاوت کړاو يو کس په خپله دهغهٔ تلاوت وانه وريد، مګر دهغهٔ آواز دغرونو سره يا ګنبد سره وجنګيده او دهغه تر غوږو شو، نو په دې انعکاسي اوازاوريدو سره سجده تلاوت نه واجبيږي، غرض دا چې اصل دا دی چې د تلاوت صحيحه اوريدلو سره سجده تلاوت واجبيږي، د ټيپ ريکارډ آواز تلاوت صحيحه نه دی، ځکه ددې اوريدلو سره سجده تلاوت نه واجبيږي.[1]

۵:....تاسو چې کوم د لاوډ سپيکر حواله ورکړې ده، هغه هم دلته بې موقعې ده، ځکه چې لاوډ سپيکر آواز ترلرې پورې رسوي، او مقتديانو پورې چې کوم آواز رسيږي هغه بعينه د امام د تلاوت او تکبير آواز وي، ټيپ ريکارډ دا آواز محفوظوي، اوس چې کله ټيپ ريکارډ وغږول شي؛ نو هغه به ددې تلاوت عکس وي، کوم چې په دې باندې شوی دی، هغه بذات خود تلاوت نه دی، ددې وجې نه يو په بل باندې قياس کول صحيح نه دي.

کومې خبرې چې ما تاسو ته عرض کړلې که اهل علم او اهل فتوی دا غلطې وګرځوي؛ نو ما ته به هغوی ته په رجوع کولو کې هيڅ عار (شرم) نه وي او که اهل علم حضرات او اهل فتوی دا صحيح ګرځوي نو زما په ډيرادب سره دا مشوره ده چې مونږ عاميانو ته دهغوی خبره منل پکاردي، د فقهې مسائل داسې باريک دي چې دهرچا په پوهه کې په اساني سره نه شي راتلی. والله الموفق.

د پی ائی اې په فلائټ کې د موسيقي پر ځای تلاوت اورول پکاردي

سوال: ما ډيره موده مخکې يو تجويز (پی ائی اے) والو ته وړاندې کړی و، چې داندرون ملک د هرپرواز په شروع کې څو منټه (د کم نه کم) پنځلس منټه او د پرواز په آخري وخت کې څو منټه (کم نه کم) پنځلس منټه له پاره دقرآن کريم د تلاوت ټيپ دی مسافروته اورول کيږي، ځکه چې تراوسه پورې په دې وختونو کې دموسيقي فرسوده سازونه غږول کيږي، هرکله که په دې وخت کې مسافروته دقرآن پاک د تلاوت ټيپ واورول شي نو ددې سره به يې ايمان ته تقويت حاصل شيي

[1] فينظر الى اهلية التالى واهليته بالتميز وقدوجد فوجد سماع تلاوة صحيحة فتجب السجدة بخلاف السماع من البغاء والصدى فان ذلک ليس بتلاوة وكذا اذا سمع من المجنون لان ذالک ليس بتلاوة صحيحة لعدم اهليته لانعدام التميز (البدائع الصنائع ج:۱ص:۱۸٦، كتاب الصلاة، واما بيان من تجب عليه السجدة، طبع سعيد)۔

اوسفربه هم په خيراوعافيت سره تيرشي اودالله تعالى فضل به هم ورسره په سفرکې شامل وي زماداتجويزو چې ديواسلامي ملک فضايي سروس په باره کې متعلقه ادارې ته پيش شوی و. چې داسلامي شعائرو په ترويج کې يوښه کوشش ثابتيدای شو. خو ددې جواب (پی ائی اے) چې راکړی دی له هغه څخه په ښې طريقې سره اندازه لګيدای شي چې په دې اداره باندې دڅه قسمه ذهنونه مسلط دي،چې دا خو غواړي چې دموسيقي سازونه دې غږيږي،خو دانه غواړي چې دالله تعالى کلام دې مسافرو ته واورول شي،بلکې دا عذر وړاندې کوي چې په دې کې د بې حرمتي ويره ده،ځکه چې په مسافرو کې ټول مسلمانان سفرنه کوي،ديوڅو غيرمذهبو خلکو د سفرپه وجه باقي ټول مسلمانان ددې نيک عمل نه محرومول،داموپه پوهه کې نه راځي، که دغه طريقه وي داسلامی نظام اواسلامي سوچ رائج کولو :نوپه دې ټول پاکستان کې هم غيرمذهبه خلک اوسيږي، دهغوی له وجې نه به اسلامي نظام نه رائج کيږي،ځکه کيدای شي چې دې سره دبې حرمتي ويره وي،داکمزوری دليل مې په پوهه کې رانغې،براه کرام زما د تجويز مطالعه وکړئ اوکه صحيح وي: نوددې درائج کولوله پاره تاسوهم کوشش وکړئ،ځکه چې ستاسو تحرير زما د تحريرنه ډيرزيات مضبوط دی، په نيک کار کې ضرور برخه واخلئ الله تعالى دې دخير بدله درکړي(امين)

جواب: ستاسو تجويز ډيرښه دی اودبې حرمتي عذرخوبالکل لغو او مهمل دی،البته دا عذر کيدای شي چې کيدای شي چې غيرمسلم دا خوښ نه کړي،مګرداعذرهم کچه دی،دقرآن کريم دحلاوت و شيريني داحال دی چې که څوک په صحيح اندازې سره تلاوت کونکی وي: نو غيرمسلمه برادري نه يوازې دا خوښوي، بلکې له دښه خوندهم اخلي،دپی ائی اے اعلی حکامو له پاره دې طرف ته ضرورتوجه کول پکاردي او موسيقي شرعا ناجائزه اوګناه ده[1]، دا سلسله بندول پکاردي.

د قرآن په تعليم باندې اجرت

سوال: زه دجمعيت تعليم القرآن دطرف نه خلکوته دقرآن پاک تعليم ورکوم،خلکوته مفت تعليم ورکول کيږي،اوقاعدې هم مفت تقسيميږي،خو ماته تنخواه دجمعيت له طرف نه ملاويږي، هرکله چې زه دقرآن په تعليم باندې پيسې اخيستل حرام ګڼم، زمابله ذريعه معاش نشته،ماته خلکو وويل چې ته ماشومانوته دقرآن تعليم ورکوه.اوهرماشوم نه لس لس روپۍ اخله،ستاګزاره به پرې کيږي. خو زماضميروايي چې زه به نهره تيره کړم،خو کله به په پيسو باندې دقرآن تعليم ونه ښايم،اوس هرکله چې زه ديوې اسلامي ادارې له طرف نه خلکوته دقرآن تعليم ورکوم؛ نوزما په دې طريقې سره دقرآن په تعليم باندې تنخواه اخستل جائزدي

---

[1] وفي البزازية استماع صوت الملاهي معصية والجلوس عليها فسق والتلذذ بها كفر (درمختارمع الشامي ج:٦ ص:٣٤٩،كتاب الحظر والاباحة ،وايضًا في الهندية ج:٥ص:٣٥١،كتاب الكراهية ،الباب السابع عشر...الخ)

او که نه؟ ځکه چې زمازړه په دې تنخواه مطمئن نه دی، زه الله تعالی ته سوالونه کوم چې اې الله!
ته په خپل رحمت سره ماته بل ځای کې نوکري راکړه او چې څومره موده ماپه تنخواه باندې
د قرآن تعلیم ورکړې دی، هم دومره موده به بغیر د تنخواه تعلیم ورکوم، تاسو ماته دا ووایئ چې
د قرآن په تعلیم باندې پیسې اخیستل جائز دي او که نه؟

جواب: د قرآن مجید په تعلیم باندې تنخواه اخیستل جائز دي، د دې وجې نه چې تاته د جمعیت القرآن د طرف نه کومه تنخواه ملاویږی هغه وظیفه وګڼه او قبوله یې کړه او قرآن مجید د الله تعالی د رضا له پاره ښائیه.[1]

د سړي استاذ ښځوته د قرآن مجيد د ښودلو عملي تربيت ورکول

سوال: زنانه استاذانو ته د ناظره قرآن مجید د ښودنې عملي تربیت د سړو استاذانو په ذریعه ورکول کیدای شي او که نه؟ هر کله چې د استاذ او شاګرد په مینځ کې څه پرده هم حائل نه وي، نو د اچې آیا په دې سلسله کې دا عذر کافي دی چې د زنانه استاذانو د تربیت له پاره زنانه استاذانې موجود نه دي. د دې وجې نه د سړیو استاذانو په ذریعه تعلیم ورکړل شي ؟

جواب: که په ناظره تعلیم ورکول دومره ضروري دي ایا د پردې خیال ساتل د دې نه زیات ضروري نه دي؟ دیو ضروري کار کولو له پاره د شریعت د دومره اهمو اصولو خلاف ورزي مې په پوهه نه راځي[2]، که په ناظره تعلیم دومره اهم دی او یقیناً دی؛ نو د پردې او نورو اسلامي امور خیال ساتلو سره دې څوک دیندار او لوی عمر بزرګ په ذریعه دې څوزنانه وو ته د ناظرې د تعلیم او تربیت داسې ورکړل شي چې بیا مخکې هغه زنانه د نورو میرمنو تعلیم او تربیت وکړای شي.

د نامحرمه حافظ نه قرآن کریم څنګه ولوستل شي؟

سوال: مولانا صاحب! قاری صاحب چې نامحرم وي، که یوه انجیلۍ د هغۀ نه قرآن پاک حفظ کول وغواړي؛ نو تاسو د قرآن او سنت په رڼا کې ووایئ چې ګناه خو به نه وي؟ ځکه چې زما دتره لور د قاري صاحب نه قرآن پاک حفظ کوي.

جواب: د نامحرمه نه قرآن پاک حفظ کول چې د پردې سره وي؛ نو ګنجائش یې شته، په دې

١] قوله ويفتى اليوم بصحتها لتعليم القرآن قال فى الهداية وبعض مشائخنارحمهم الله تعالى استحسنوا الاستئجارعلى تعليم القرآن اليوم لظهور التوانى فى الامورالدينية ففى الامتناع تضييع حفظ القرآن وعليه الفتوى (شامى ج:٦ص:٥٥)_

٢]وفى الدر المختار :وتمنع المراة الشابة من كشف الوجه بين رجال لا لانه عورة بل لخوف الفتنة _وفى الرد:والمعنى تمنع من الكشف لخوف ان يرى الرجال وجهها فتقع الفتنة لانه مع الكشف قديقع النظر اليها بشهوة (الدرالمختارمع الردالمحتار ج:١ص:٤٠٦،كتاب الصلاة ،باب شروط الصلاة ،مطلب فى سترالعورة)_

شرط سره چې د څه فتنې اندېښنه نه وي،مثلاً ددوارو ترمينځه يواځې والى نه وي،اوكه دفتنې احتمال وي نوجائزنه دي.[1]

مراهقې انجيلۍ ته له پردې پرته سبق ښودل درست نه دي

سوال: دمراهقې انجيلۍ قرآن پاک لوستل څنګه دي؟نن سباچې کوم قاريان صاحبان اوملايان صاحبان په جومات کې مراهقه جينکو ته سبق ښيي ددو ی له پاره څه حکم دی؟

جواب: دقريب البلوغ انجيلۍ حکم هم دځواني په شان دی،له پردې پرته ورته ښودنه دفتنې موجب دی.

په بدځای کې دقرآن خواني هرشريک ګناهګاردی

سوال: ديوسوال په جواب کې تاسويوازې دګناه دکارکولوله پاره د قرآن خواني کونکي په باره کې ليکلي و،زه دامعلومول غواړم چې داسې ملا يانورخلک چې داسې ځايونوته دختم قرآن له پاره ځي هغوی دکومې ګناه ارتکاب کوي؟نورداچې په مدرسووغيره کې ملايان چې پيسې واخلي اوماشومان دختم له پاره بوځي؛ نو آيا داجائزدي اوددې ثوا ب مرحوم ته رسيږي اوکه نه؟

جواب: دلومړۍ مسئلې جواب خودادی چې دقرآن خواني کونکي او کولو والا دواړو يوحکم دی اودواړه ګناهګاردي.الله تعالی مودې معاف کړي،اودايصال ثواب له پاره په معاوضې سره قرآن خواني کول صحيح نه دي ،داسې قرآن خواني سره نه ويونکي ته څه ثواب رسيږي اونه مړي ته.[2]

د ناجائزه کاروبارله پاره قرآ نی ايات اويزا نول ناجائزدي

سوال: دوږ يوګيم په دکان کې،تيزميوزک،نيم برَبنډ تصويرونه په ديوال باندې لګيدلي،دنوې دورهلکان جينکۍ په لوبوکولوکې مشغول دياوپه دکان کې دقرآن پاک يوفريم لګيدلی و، ددکان مالک هلک ته مې وويل چې دادقرآن پاک بې حرمتي ده،سره ددې کارونوتاپکې په فريم هم لګولی دی، ويې ويل چې دادتړولوشيانونه پورته دی،پوښتنه مې ترې وکړه چې څه له پاره دې لګولی دی؟ويې ويل دبرکت له پاره،ددې نه مخکې چې زه څه قدم اوچت کړم تاسوته مې عرض دادی چې آيا په داسې مقامات باندې قرآن يادد ې آيتونه لګول جائزدي؟ که دابې

---

[1] اوګورئ:كفاية المفتي ج:٢ص:٥١،کتاب العلم ،دريم باب دزنانو تعليم)ـ

[2] فمن جملة كلامه قال تاج الشريعة فى شرح الهداية ان القرآن بالاجرة لايستحق الثواب لا للميت ولا للقارى وقال العينى فى شرح الهداية ويمنع القارى للدنياوالآخذ والمعطى آثمان فالحاصل ان ماشاع فى زماننا من قراءة الا جزاء بالاجرة لايجوز لان فيه الامربالقراءة واعطاء الثواب ......فاذا لم يكن للقارى الثواب ......فاين يصل الثواب الى المستاجر (شامى ج:٦ص:٥٦،باب الاجارة الفاسدة)ـ

حرمتي ده؛ نو د مسلمان په حیثیت سره به زمونږ څه ذمه واري وي؟ځکه چې داشیان اوس په اکثرځایونوکې لیدل کیږي.

جواب: ناجائزه کاروبارکې د برکت له پاره دقرآن پاک آیتونه لګول بې شکه دقرآن حکیم بې حرمتي ده،دمسلمان په حیثیت سره خوبه مونږ فرض دي چې داقسمه بې حیاکاروبارېږې نږدو،په کومه ګلۍ محله کې داسې دکان وي برداشت یې نه کړو،دقرآن کریم داسې بې حرمتي برداشت کول،دپوره معاشرې له پاره دالله تعالی قهرته دعوت ورکول دي.

په سنیما کې قرآن خواني دسیرت پاک جلسه کول خدای او د هغه رسول سره ټوکې دي

سوال: آیا په سنیماګانوکې قرآن شریف کېښودل کیدای شي؟ اوایا هلته دسیرت پاک څه جلسه منعقد کیدای شي؟ اوایاهلته قرآن خواني کیدای شي؟

جواب: په سنیماګانوکې قرآن خواني کول،دسیرت جلسې کول، خدای اودهغه رسول ﷺ پورې د ټوکو کولو په شان دي.[1]

میوزک او د قرآن تلاوت

سوال: مسئله دا طلب کول دي چې زموږه د وړورولې یوه انتظامي کمیټۍ ده چې هغه هر کال په طالبانو او په طالباتو باندې انعامات تقسیموي او دا تقسیم انعامات پروګرام تلاوت، حمد، نعت، میوزک، قومي نغمې او تقریرونو وغیره باندې مبني وي، آیا دا پروګرام د قرآن پاک دتلاوت نه شروع کول جائز دي؟ که چیرې جائز نه وي نو ددې ناجائز امر ګناه به یوازې په انتظامیه کمیټۍ باندې وي یا په پروګرام کې شرکت کونکي ټول به په ګناه کې شریک وي؟ مهرباني وکړئ د قرآن او حدیث په رڼا کې د مسئلې حل بیان کړئ!

جواب: دا نن سبا یو نوی فیشن جوړ شوی دی چې هر قسم خرافاتو او لغویاتو نه مخکې د قرآن کریم تلاوت کیږي،په حقیقت کې دا د الله تعالي د کلام توهین او د مقدس کتاب استهزاء ده چې د یو مسلمان د شان نه ډیره بعیده ده[2] حالانکې مسلمانانو ته خپل تقریبات او نور پروګرامونه په شرعي حدودو کې کول پکار دي، د غیر شرعي تقریباتو نه مخکې د قرآن تلاوت کول موجب توهین دی او داسې کونکي به ګناهګار وي، په غیر شرعي تقریباتو کې

---

[1] ومن حرمة القرآن ان لایقرأ فی الا سواق ،وفی موضع اللغو ،کذا فی القنیة (فتاوی عالمگیری ج:۵ص:۳۱٦)_

[2] ومن حرمة القرآن ان لایقرأ فی الا سواق ،وفی موضع اللغو ،کذا فی القنیة (فتاوی عالمگیری ج:۵ص:۳۱٦)

شریک حضرات هم سره د پوهې په دې ګناه کې شامل دي.

د ګناه کار د قرآن د تلاوت نه شروع کول

سوال: څنګه چې د معاشرې قدر بدلیږي، هماغه شان عجیبه خبرې په نظر راځي چې په هغو باندې ځینې وخت غوسه هم راځي او افسوس هم راځي، مثلاً نن سبا په نظر راځي چې کله سحر د ریډیو او د کیسټو دکانونه کلاویږي؛ نو دټولو نه مخکې دکاندار حضرات د یو خوش آواز قاري دتلاوت کیسټ لګوي او بیا د دینه پس د نعتونو نمبر راځي او بیا د قوالیانو او بیا آو جي ... بیاهغه څه غږوي چې هغه هیڅ یو غیرت مند سړی دخپلې مور او خویندنو په مینځ کې نه شي آوریدلی، بیا په ډیر یقین سره وایي چې کاروبار کې برکت راځي، آیا واقعي داسې وي؟ زما خیال دادی چې په یو داسې کاروبار کې چې هغه سراسر د الله تعالی دخوښې خلاف وي، په دې طریقې سره د برکت توقع کول سراسر جاهلیت دی، ستاسو څه خیال دی؟

جواب: دګناه کار د قرآن کریم د تلاوت نه شروع کول ګستاخي ده[1] او دګناه په کار کې د برکت تصور هم عجیبه دی.!

دفتري وخت کې د قرآن مجید تلاوت او نفل کول

سوال: سرکاري نوکري کې په دفتري وختونو کې قرآن شریف لوستل یانفل لمونځ کول ترکوم حدپورې جائزدي؟

جواب: که دفتري کارکې رکاوټ راځي، نوجائزنه دي اوکه کاریې ختم کړی وي او وزګار وي نوجائز، بلکې مستحسن دي.[2]

قرآن پاک یادولونه پس هیرول لویه ګناه ده

سوال: که یوکس په وړوکوالي کې قرآن شریف ولولي اوبیاڅه ناګزیرو وجو په بنا پابندي سره دنه لوستلوپه صورت کې قرآن پاک ترې هیرشي؛ نودهغه له پاره دخلکوویناده چې که یوکس قرآن پاک یادکړي اوبیا ترې هیرشي اوهغه دوباره یادنه کړي نوهغه به دحشرپه ورځ ړوند راپورته کیږي اودا ډیره لویه ګناه ده؟ که دابالکل صحیح وي؛ نو ددې ګناه کفاره څنګه أدا کیدای شي؟ اوددې شرعي حل څه دی؟ جواب لږ وضاحت سره راکړئ!

جواب: قرآن پاک یادولونه پس هیرول ډیره لویه ګناه ده اوپه احادیثو کې ددې ډیرلویه ګناه راغلې ده، ددې تدارک همدغه دی چې همت دې وکړي اودویم ځل دې یادکړي اوهمیشه دې وایي اوکله چې دهیرولونه پس یې په دویم ځل ووایي اوبیایې همیشه لوستلو ترمرګه پورې یې

---

[1] اومن حرمة القرآن ان لایقرا فی الا سواق،وفی موضع اللغو،کذا فی القنیة (فتاوی عالمگیری ج:۵ص:۳۱۶)

[2] تفصیل دپاره اوګوره:معارف القرآن ج:۸ ص:۲۹۴،لمفتی محمدشفیع رحمه الله،طبع ادارة المعارف کراچی)

هیرنه کړ؛ نو د قرآن پاک د هیرولو وبال به پرې نه وي[1]

قرآن مجید حفظ کول پکار دي

سوال: زما د اوو کالو لور ده چې په ،،اقرأ روضة الاطفال ،،کې حفظ کوي او زه په خپله هم دې ادارې سره وابسته یم، لور مې ماشاء الله نهه سپارې لس سپارې یادې کړې دي او لسمه سپاره حفظ کوي په ځینې ځایونو کې مې آوریدلې دي چې د انجیلۍ له پاره حفظ کول بهتره نه دي، ځکه چې د واده نه پس هغه دومره مصروفه وي، د دور وخت ورته نه ملاویږي د غه شان د قرآن د هیریدو ویره وي، داخبره تر کوم حده پورې درسته ده؟ دویم نن سبا ددې لور زړه نه لګیږي، تاسو یو شی راته وښایئ چې زړه یې د قرآن په رڼا سره منور شي.

جواب: د ماشومې حفظ کول ډیر لوی نعمت دی، خو دا ضروري ده چې د حفظ کولو نه پس دې د یاد ساتلو اهتمام هم وکړی شي ،ګني نو ددې وبال به ډیر سخت وي[2]

د یادلو نه پس دکوشش باوجود هیریږي نو ګناه نشته

سوال: ما تقریباً اووه کاله مخکې دوه سپارې یادې کړې وې، خو اوس مې هیرې شوې دي اوس په تبلیغ کې د وخت لګولو نه پس پته ولګیده چې قرآن پاک د یادولو نه پس هیرول ډیره سخته ګناه ده اوس زه کوشش کوم خو یادولی یې نه شم، ذهن مې کمزوری دی اودا هم غواړم چې سورت یسین او تبارک الذي یاد کړم.

جواب: که چیرې دماغ کمزورې وي؛ نو معذوره به وي[3] ان شاء الله ددې ګناه به نه وي، خو همت کوه او یادوه یې.

په حرم کې د قرآن کریم تلاوت کول او شا کړې یې هم وي

سوال: په حرم شریف / مسجد نبوي کې څلور طرف ته خلق د قرآن شریف تلاوت کوي، سره لدې چې شا کړې یې هم وي؟

جواب: مجبوري ده الله تعالي دې معافي اوکړي.

---

[1] اذاحفظ الانسان القرآن ثم نسیه فانه یاثم وتفسیرالنسیان ان لا یمکنه القراءة من المصحف ......الخ (هندیة ج:۵ص:۳۱۷ کتاب الکراهیة ،الباب الثالث فی الرجل رای رجلاً یقتل اباه ومایتصل به)۔

[2] ومن تعلم القرآن ثم نسیه یاثم لقوله علیه السلام عرضت علی اجور امتی حتی القذاة یخرجها الرجل من المسجد وعرضت علی ذنوب امتی فلم ارذنباعظم من سورة من القرآن او آیة اوتیها رجل ثم نسیها (رواه ابوداؤد (حلبی کبیر ص: ۴۹۷،ایضًا :مشکوة المصابیح ،کتاب الصلاة ،باب المساجد ومواضع الصلاة ،الفصل الثانی ،طبع قدیمی کتب خانه کراچی)

[3] لَایُکَلِّفُ اللهُ نَفسًاالا وسعها (البقرة :۲۸۶)

قرآن پاک چې دلاس نه پریوځي نوځه کول پکاردي

سوال: که قرآن پاک دلاس نه پریوځي ددې برابر غنم خیرات کول پکاردي اویودیني کتاب مثلاً حدیث،فقه،وغیره دلاس نه پریوځي؛ نو دهغه له پاره څه حکم دی؟

جواب: قرآن پاک دلاس نه غورځیدوباندې دهغې برابر غنم خیرات کولو کومه مسئله چې په عوامو کې مشهوره ده داپه یوکتاب کې هم نشته،په دې کوتاهي باندې توبه اواستغفارکول پکاردي اوپه صدقه اوخیرات ورکولوکې هیڅ نقصان نشته.

قبرکې قرآن پاک کیښودل بې ادبي ده

سوال: ایادمړي سره په قبرکې قرآن پاک،یادقرآن پاک څه برخه،یا څه دعایاکلمه طیبه کیښودل جائزدي اوکه نه؟دقرآن اوحدیث اوفقه حنفي اوبزرګانودعمل په رڼاکې په تفصیل سره وضاحت وکړئ مهرباني به مووي.

جواب: قبرکې دمړي سره دقرآن پاک یایې څه برخه ه خښول ناجائزدي،ځکه چې مړې په قبرکې ویږسیږي اوخراب شي،قرآن پاک په داسې ځای کې کیښودل بې ادبي ده،هم دغه حکم دمقدسو کلماتوهم دی،بزرګانوپه دې باندې عمل نه دی کړی.[1]

ډېر تلاوت مبارک دی او د سورتونو موکل کیدوعقیده غلطه ده

سوال: زه دقرآن پاک دتلاوت سره سره سحرماښام دځوسورتونو، یاسین، رحمان، مزمل، النساء ، او فجر او دالله تعالی دمبارکو نومونو تلاوت کوم،ماښام کې سورت یاسین،سجده، او ملک، او ماسخوتن کې سوره واقعه اوسوره مزمل،مورمې مااکثرمنع کوي چې په دومره عمرکې دومره تلاوت کول پکارنه دي،ځکه چې زمامشرې خور دموږپه ذهن کې مې داخبره اچولې ده چې کله پیغلې جینکۍ دومره عبادت کوي؛ نودهغوی ودونه زرنه کیږي،ځکه چې الله تعالی وایي چې دې وخت کې خوددې پوره خیال زماطرف ته دی،دوادۀ نه پس به ددې خیال بل خواشي،یودویم صاحب دا وویل چې دهرسورت یوموکل وي اودسورت یاسین موکل د زمري په شکل کې وي دا موکل په لوستونکي،یادهغۀ سره خواوشاکې اوسیږي چې له وجې یې په نوروخلکوباندې هیبت طاري کیږي اودهغه په کارونو کې رکاوټ پیداکیږي،یعنی رشتې والا دراتلونه مخکې وتښتي.

ددې قسمه خبروله وجې نه ماتلاوت یوازې دقرآن پاک پورې محدودکړی دی،خو زما زړه مطمئن نه دی،ځکه چې کوم شیان زموږ دین اوایمان اوهرڅه دي، هغه څنګه زموږ په

---

[1] وقد افتى ابن الصلاح بانه لايجوز ان يكتب على الكفن يٰس والكهف ونحوهما خوفًا من صديد الميت ....الخ (شامى ج:٢ص:٢٤٦،مطلب فيمايكتب على كفن الميت قبيل باب الشهيد)_

کارونو کې رکاوټ جوړیدای شي؟ خو دې سوچ سره مې خپل تلاوت محدود کړی دی چې د مور دناراضګۍ په وجه پته نه لګیږي دې ته شرف قبولیت به حاصلیږي اوکه نه؟مهرباني وکړئ اوزما دامشکل حل کړئ. څومره چې زرکیدای شي ستاسوبه مهرباني وي،چې زما د مور غلط فهمی لرې شي اومادتلاوت کولونه نه منع کوي،ستاسوبه ټول عمرشکرګزاره یم.

جواب: ستاد خوراومورخیال صحیح نه دی،خو په تلاوت اوعبادت کې دخپل صحت اوتحمل لحاظ ساتل ډیرضروري دي، دومره کار دې ونه کړل شي چې په صحت باندې بد اثر وغورځوي، او باقي کوم صاحب چې داویلي دي چې دهرسورت یوموکل وي اودسوره یاسین موکل زمری دی دا بالکل لغواوغلطه خبره ده اوددې چې کوم خاصیت ذکرکړل شوی دی دا بالکل دخان نه خبرې دي.

ګجراتي رسم الخط کې دقرآن کریم طباعت جائز نه دی

سوال: زمونږ په برادري کې دګجراتئ ژبې رواج عام دی،یعنې خلک زیاتره په ګجراتي ژبه کې لیکل اولوستل کوي،حتیٰ چې قرآني سورتونه مثلاً:سوره یاسین وغیره په ګجراتي ژبه کې لیکي او د هغې تلاوت کوي، یوصاحب ټول قرآن پاک په ګجراتي ژبه کې چاپ کول غواړي،یعنې دهغې ژبه خوبه عربی وي،مګرحروف تهجي به ګجراتی وي؛نوداسې قسم قرآن پاک چاپ کول اودهغه تلاوت کول په شرعي نقطه نظرسره څنګه دي؟ځکه چې څه خلکواعتراض کړی دی چې داسې دقرآن پاک په تلفظ کې دفرق راتلوامکان دی،لهذاتاسوته مویه ډیرادب سره دادرخواست دی چې ددې مسئلې واضحه جواب دقرآن اوسنت په رڼاکې راکړئ؛چې داسې کول جائزوي نوچې موږیې چاپ کړو،ډیرخلک عربي لوستلی نه شي،خو که همدغه متن په ګجراتي ژبه کې وي؛ نویه اساني سره تلاوت کولی شي،واضحه دې وي چې سورت یاسین،سورت رحمان، اونورې دعاګانې همدغه شان شائع کیږي، یعنې حروف ګجراتي اومتن عربي.

جواب: دقرآن کریم رسم الخط متعین دی،دارسم الخط پریښودل اوپه بل رسم الخط کې قرآن پاک چاپ کول جائزنه دي اوداعذرچې خلک عربی لوستلی نه شي فضول دی.که لږ محنت وکړل شي نوسړی قرآن کریم زده کولی شي.[1]

مونوګرام کې قرآني آیتونه لیکل جائز نه دي

سوال: انسټیټیوټ اف کاسټ اینډمنجمنټ(سولجربازار)انسټیټیوټ اف چارټرډاکاتنټ

---

[1] وينبغى لمن اراد كتابة القرآن ان يكتبه باحسن خط ......كما هو مصحف الامام عثمان بن عفان رضى الله عنه كذافى القنية (هندية ج:٥ص:٣٢٣،الباب الخامس فى آداب المسجد......الخ.) (تفصيل دپاره اوګورئ: جواهرالفقه ج:١ص:٧٤)_

اف پاکستان (کفتن) اوپته نه لګیږي چې په څومره تعلیمي اداروپه مونوګرامونوکې قرآني ایاتونه اوپه ځینو مونوګرامو باندې احادیث لیکل شوي وي.دامونوګرام کم وبیش هر ستاویزات باندې خطونو باندې،چسپان کیږي یاپرې چاپ شوی وي.کوم سره چې بې اودسه لاس لګیږي. ډیرکاغذونه دردي په شان غورځول کیږي، تاسونه پوښتنه داوه چې آیا په اسلامي تاریخ کې په مونوګرام کې قرآني آیتونه لیکل کیدل؟ ایا ددې داسې استعمال بې ادبي نه ده،ایاددې ذمه وارکونسل ممبر انستیټیوټ وغیره نه دي؟ ایاحکومت پاکستان نه دی؟ایاددې بې ادبي عذاب به په دوی باندې نه نازلیږي؟

جواب: مونوګرام باندې قرآنی آیتونه لیکل،هرکله چې ددې دبې ادبي اندیښنه غالبه وي، صحیح نه دي[1]کومه اداره چې ددې بې ادبي مرتکب شي، وبال به هم دهغې په ذمه وي.

د قرآن پاک په خطاطي کې تصویر جوړول حرام دي

سوال: زموږ دیونیورسټي(جامع کراچي) په مرکزي کتابتون(لائبریري) کې ښوورځې مخکې د خطاطي دوه نمونې اویزان کړل شوې دي،دواړه نمومې ډیرښکلی دی اوخطاط په دې باندې کافي محنت هم کړی دی،خو په دې کې په یوه نمونه باندې دسوره العادیات ایات نمبریونه داخله ترپنځم پورې داسې پنټ کړل شوې دی چې په هغې باندې داسونودمکمل شکلونو اظهار کیږي،کوم چې په منډې وهي.فنکارغالباً ددې مفهوم ته ددتصویري شکل ورکولو کوشش کړی دی،ستاسونه زماسوال دادی چې ایاقرآني آیتونه په حیوانی شکل اوصورت کې تحریر کیدای شي؟ ایاددې احکامویه روی سره غلط نه دی دکومومطابق چې دساه لرونکو ځیزونو شکل جوړول حرام ګرځول شوي دي اوکه داسې دی؛ نودداقسمه تصویردیونیورسټي په مرکزی لائبریري کې اویزانول به مناسب وي؟ددې سوال جواب په وضاحت سره راکړئ!

جواب: دقرآن پاک دآیتونوتصویري خطاطی حرامه ده اودقرآن پاک بې ادبي هم ده.لکه چې په یو ناپاکه څیزباندې آیتونه لیکل خلاف ادب اوناجائزدي[2] د یونیورسټي انتظامیې ته پکار دي چې دا وران کړي.

دقرآني آیتونوپه کتابت کې مبهم رسم الخط صحیح نه دی

سوال: اکثرپه ټیلي ویژن ،اخبارونو،اورسالوکې دقرآن پاک آیتونه مصوری اوفن خطاطي

---

[1] اوقدمناقبیل باب المیاه عن الفتح انه تکره کتابة القرآن واسماء الله تعالی علی الدراهم والمحاریب والجدران ومایفرش وماذاک الا لا حترامه وخشیة وطئه ونحوه ممافیه اهانة فالمنع هنابالاولی ......الخ (شامی ج:۲ص:۲٤٦،۲٤۷)۔

[2] اولی الهندیة عن الحسن عن ابی حنیفة رحمه الله انه یکره ان یصغرالمصحف وان یکتب بقلم دقیق ......الخ (هندیة ج:۵ص:۳۲۳ الباب الخامس فی آداب المسجد......الخ) دغه شان پاسنئ حواله اوګورئ۔

کې په مختلفو ډيزائنونوکې تحريرکيږي، ددې په وجه اکثرلوستونکي قرآني آيتونه غلط لوستلو مرتکب کيږي اوهغه قرآني آيتونه په مشکل سره په پوهه کې راځي اکثر زما سره هم داسې شوي دي چې آيتونه پوشان وي اوبل شان لوستل کيږي. په داسې صورت کې څه کول پکاردي؟

جواب: ايات کريمه په داسې اندازکې ليکل چې غلط ولوستل شي جائزنه دي.[١]

د جومات قرآن مجيد کورته وړل جائز نه دي

سوال: څنګه چې ستاسو په علم کې دي چې په جوماتوکې دقرآن پاک بې شميره نسخې په المار يوکې پرتې وي،خو په دې کې تلاوت کم کيږي،که يوکس دخپل ځان له پاره يادخپلو بچيو له پاره د جومات نه قرآن مجيدراوړي؛ نوپه داسې صورت کې دهغه له پاره څه حکم دی؟ قرآن پاک د جومات نه کورته راوړلو له پاره د متولي نه اجازت اخيستل ضروري دي اوکه نه؟ ايا دقرآن پاک هديه چې په بازار کې ملاويږي هغه هديه به په جومات کې ورکول کيږي اوکه نه؟

جواب: په جومات کې پرتې دقرآن پاک نسخې که دجومات دضرورت نه زياتې وي؛ نوبل جومات يامدرسې ته دې نقل شي،کورته وړل يې صحيح نه دي.[٢]

د مسجد نه دقرآن کريم کورته وړلو حکم

سوال: زمونږ په مسجد کې (٧٠٠) قرآنونه دي، لوستلونکي د ورځې يوازې(١٣) سړي وي په رمضان کې خلک نوي قرآنونه راوړي په الماريو کې ځای نه وي، لهذا د تير شوي کال قرآنونه په بورو کې اچوي چې سمندر ته يې وغورځوي په هر مسجد کې کم بيش دغه حال دی، قرآنونه د ضرورت نه زيات وي، هغه په بورو کې داچولو او سمندر ته د وړلو په ځای که خلک په کورونو باندې تقسيم کړي نو خلک منع کوي چې د مسجد مال تاسو په کورونو کې ولې تقسيموئ؟ سوال دادی چې آيا د مسجد نه قرآن اوچتولی او په خلکو يې تقسيمولی شو؟ چې بوجې ته د ويشتلو او د ضائع کولو نه بچ شي، ددې له پاره چې دا قرآن مکمل محفوظ شي.

جواب: که قرآن مجيد د مسجد دضرورت نه زيات وي، بهر وړو کليو ته دې ولیږل شي، کوم ځای کې چې د قرآن مجيد کمی وي.[٣]

١] تيره شوی حاشيه (وفی الهندية عن الحسن عن ابی حنيفة رحمه الله انه يکره......الخ او وړپسی حاشيه (وقدمناقبيل باب المياه عن الفتح انه تکره کتابة القرآن...الخ) اوګوری)۔

٢] وان وقف علی المسجد جازويقرأ فيه ولايکون محصورًا علی هذا المسجد وبه عرف حکم نقل کتب الاوقاف.....الخ (درمختارمع الشامی ج:٤ص:٣٦٥،کتاب الوقف مطلب متی ذکر للوقف مصرفًا.....الخ)۔

٣] وفی الدرر وقف مصحفا علی اهل مسجد ان يحصون جاز وان وقف....[بقيه حاشيه په راروانه صفحه.

د کټر د ډهکن لاندې اخبار لګول

سوال: کارخانې والا د لیټرین د کندې (کټر) سر د سیمټو نه جوړ وي او حالانکې د سیمټو د سر لاندې اخبار لګیدلی وي او دې لره لرې کول هم ممکن نه وي په دې اخبارونو کې اکثر د الله نوم او آیاتونه هم وي، آیا دا د آیاتونو بې ادبې نه ده؟ ددې سرونو د پاسه ځپلې کیښودل او تلل جائز دي؟

جواب: داسې اخبارونه چې په هغو دالله او د هغه د رسول الله صلي الله علیه وسلم نومونه لیکل شوي وي د لیټرین د سر له پاره استعمالول جائز نه دي[1]

د حاجیانو پریښودل شوی قرآن پاک که ځان سره کیښودل غواړئ نو د هغه قیمت صدقه کړئ

سوال: نن سبا حاجیان صاحبان حج کولونه واپس راروان دي،په سعودي عرب کې دې حاجیانو ته دقرآن پاک یوه نادرتحفه ملاویږي.کوم چې حاجیان صاحبان ځان سره پاکستان ته راوړي، ځینې حاجیانو نه داقرآن پاک په هوایي جهازکې هیرشي یایې پریږدي،چونکې زه په جهاز کې کارکوم،ددې وجې نه داقرآن پاک ماته ملاوشو،دپی ائی اے سکیورټې هم دانه اخلي، ځکه چې په هغې باندې نوم خولیکل شوی نه وي،ددې وجې نه داقرآن حاجیانوته واپس کول ممکن نه دي. اوبیاقرآن شریف په جهازکې پریښودل هم مناسب نه دي،ځکه چې بې حرمتي یې کیږي لهذاددې قرآن شریفونونه یو ما کورته راوړی دی،اوس پوښتنه داده چې ما سره کوم کسان کارکوي هغوی راته وویل چې داقرآن پاک کورته وړل جائزنه دي،بلکې چېرته په جومات کې یې کیږده.زماهغه قرآن شریف چې سعودي کې عرب چاپ شوی دی ډیرزیات خوښ دی،ددې وجې نه دلوستلوپه غرض سره ماکورته وړی دی.اوس زماملګروزماپه زړه کې داشک اچولی دی چې ثواب به درته نه ملاویږي اوناجائزه هم دی،تاسوماته دقرآن اوحدیث په رڼاکې دا ووایئ چې داجائزدی اوکه نه؟اوکه ناجائز وی ماته څه کول پکاردي؟

جواب: غالب خیال دادی چې ځینې حاجیان صاحبان دقرآن پاک دا نسخې قصداًپریږدي، یا خو ددې وجې نه چې هغوی یې لوستلې نه شي یا ددې وجې نه چې هغوی دې رسم الخط سره بلد نه وي،په دې صورت کې چې دقرآن پاک دانسخې څوک هم راوچتې کړی دهغۀ له پاره جائزدي،مګرچونکې دا احتمال هم شته چې دچانه به هیرشوی ویې؛ نوپه دې صورت کې

...بقیه د تیر مخ]..علی المسجدجاز ویقرأ فیه ولایکون محصورًا علی هذا المسجد وبه عرف حکم نقل کتب الاوقاف من محالها للانتفاع بها (شامی ج:٤ص:٣٦٥)

[1] ویکره ان یجعل شیئا فی کاغذة فیها اسم الله تعالی کانت الکتابة علی ظاهرها اوباطنها (عالمگیری ج:٥ص:٣٢٢ الباب الخامس فی آداب المسجد والقبلة والمصحف وماکتب فیه شیء من القرآن ......الخ)

دهغه مالک دطرف نه صدقه کول ضروري دي ددې وجې نه احتیاط خبره داده چې که تاسو دا قرآن پاک خان سره ساتل غواړئ؛ نو ددې قیمت صدقه کړئ[1]

❖ د روژې نیولو فضائل ❖

درمضان اداب

(لاندې تحریریو مستقل اوجامع مضمون دی چې په کې دروژې ضروري فضائل اومسائل دي اودروژې په باره کې دخینو کوتاهیو نشاندهي هم شوې ده، مناسب راته معلومه شوه چې دا "اپ کے مسائل"، کې شامل کړل شي)

د رمضان د میاشتې فضیلت

دالله تعالی ارشاد دی: **شَهْرُ رَمَضَانَ الَّذِيْٓ اُنْزِلَ فِيْهِ الْقُرْاٰنُ هُدًى لِّلنَّاسِ وَ بَيِّنٰتٍ مِّنَ الْهُدٰى وَ الْفُرْقَانِ ۚ فَمَنْ شَهِدَ مِنْكُمُ الشَّهْرَ فَلْيَصُمْهُ ؕ وَ مَنْ كَانَ مَرِيْضًا اَوْ عَلٰى سَفَرٍ فَعِدَّةٌ مِّنْ اَيَّامٍ اُخَرَ ؕ يُرِيْدُ اللّٰهُ بِكُمُ الْيُسْرَ وَ لَا يُرِيْدُ بِكُمُ الْعُسْرَ ۫ وَ لِتُكْمِلُوا الْعِدَّةَ وَ لِتُكَبِّرُوا اللّٰهَ عَلٰى مَا هَدٰىكُمْ وَ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ**.(البقرہ:۱۸۵)

ترجمه: رمضان داسې میاشت ده چې په کې قرآن پاک نازل شوی، چې دخلکوله پاره د هدایت ذریعه دی اوواضح دلائل پکې دي، سره دهغه کتابونو چې (ذریعه) هدایت (هم) دی. (په حق اوباطل) کې فیصله کونکی دی، نوچې کوم کس په دې میاشت درمضان کې موجودوي هغه ته ضرور ددې میاشتې روژې نیولي اوکوم کس چې بیمار وي یاپه سفرکې وي؛ نودنورو ورځو (هم دومره) شمارکولو سره روژې نیول پرې په هغه باندې واجب دي الله تعالی ته تاسو سره په احکاموکې اساني کول منظوردي او تاسو سره په احکام او قوانین مقررولوکې ګران والی منظورنه دی اوچې تاسوخلک دقضا شویو ورځوشمارپوره کړئ، (چې په ثواب کې مو کمی پاتې نه شي) لهذا تاسوخلک دالله تعالی لويي اوثناء بیانوئ. په دې باندې ئې تاسوته یوه طریقه وښودله چې هغې سره به تاسودرمضان د برکاتو اوثمراتونه محروم پاتې نه شئ، او د عذر دوجې نه خاص درمضان دروژونه نیولواجازت یې ځکه درکړی دی چې تاسو په دې نعمت باندې په اساني سره دالله تعالی شکراداکړئ. (ترجمه حضرت تهانوي رحمه الله)

---

[1] فان كانت اللقطة شيئا يعلم ان صاحبها لا يطلبها كالنواة وقشرالرمان يكون القاؤه اباحة حتى جازالانتفاع به من غير تعريف ولكنه يبقى على ملك مالكه لان التمليك من المجهول لا يصح وفى البزازية لو وجدها مالكها فى يده له اخذها (البحرالرائق ج:٥ص:١٦٥،طبع دارالمعرفة بيروت ،شامى ،كتاب اللقطة ج:٤ص:٢٨٠)_

احاديث مباركه

حديث: دحضرت ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: کله چې رمضان داخل شي ؛نود آسمان دروازې پرانیستل شي، (اوپه یوروایت کې دي چې دجنت دروازې اوپه یوروایت کې دي چې:درحمت دروازې پرانیستل شي) اودجهنم دروازې بندې کړل شي اوشیطانان په قیدکې واچول شي. (بخاري اومسلم)[1]

په یوبل روایت کې دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل: په تاسوباندې درمضان مبارکه میاشت راغلې ده، الله تعالی په تاسوباندې ددې روژه فرض کړې ده، په دې میاشت کې د آسمان دروازې پرانیستل شي. اوددوزخ دروازې بندې کړل شي اوسرکش شیطانان قیدکړل شي اوپه دې کې دالله تعالی دطرف نه داسې شپه ده چې دزرومیاشتونه بهتره ده، کوم کس چې ددې دخیرنه محروم پاتې شو، هغه محروم شو. (احمد،نسائی،مشکوة)[2]

په یوبل روایت کې دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل: کله چې درمضان لومړۍ شپه وي نوشیطانان اوسرکش پیریان قیدکړل شي اوددوزخ دروازې بندې کړل شي اوددوزخ هیڅ دروازه خلاصه نه پاتې کیږي او د جنت دروازې پرانیستل شی، هیڅ دروازه یې بنده پاتې کیږي او یو اعلان کونکې (فرښته) اعلان کوي چې: اې دخیرتلاش کونکو! مخکې راشئ، او د شر تلاش کونکو، ودریږئ! اوالله تعالی دطرف نه ډیرخلک ددوزخ نه آزادکړل شي او دا د رمضان په هره شپه کې کیږي. (احمد،ترمذی،ابن ماجه،مشکوة)[3]

حديث: حضرت سلمان فارسي رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله ﷺ دشعبان په آخري ورځ موږ ته خطبه واوروله په هغې کې یې وفرمایل: اې خلکو! په تاسوباندې دیوډیرلوې عظمت والامیاشت راروانه ده، په دې کې یوه شپه داسې ده چې دزرومیاشتونه بهتره ده، الله تعالی په تاسوباندې ددې روژې فرض کړې دي اوپه دې کې قیام (تراویح) یې نفل (سنت موکده) جوړکړي دي، کوم

---

[1] عن ابی هريرة رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله عليه وسلم :اذا دخل رمضان فتحت ابواب السماء ،وفی رواية :فتحت ابواب الجنة وغلقت ابواب جهنم وسلسلت الشياطين ،وفی رواية :فتحت ابواب الرحمة _متفق عليه (مشکوة المصابيح ،کتاب الصوم ،الفصل الاول ص:۱۷۳)_

[2] عن ابی هريرة رضی الله عنه قال :قال رسول الله صلی الله عليه وسلم :اتاکم رمضان شهر مبارک فرض الله عليکم صيامه تفتح فيه ابواب السماء وتغلق فيه ابواب الجحيم وتغل فيه مردة الشياطين لله فيه ليلة خيرمن الف شهرمن حرم خيرهافقدحرم _رواه احمد والنسائی _(مشکوة المصابيح ،کتاب الصوم ،الفصل الثالث ص:۱۷۳،طبع قديمی کتب خانه)_

[3] عن ابی هريرة رضی الله عنه قال:قال رسول الله صلی الله عليه وسلم:اذاکان اول ليلة من شهر رمضان صفدت الشياطين ومردة الجن وغلقت ابواب النارفلم يفتح منها باب وفتحت ابواب الجنة فلم يغلق منها باب وينادی مناد يا باغی الخير اقبل ويا باغی الشر اقصر ولله عتقاء من النار وذلک کل ليلة ٠رواه الترمذی وابن ماجة (مشکوة المصابيح ،کتاب الصوم ،الفصل الثانی ص:۱۷۳طبع قديمی کتب خانه)_

کس چې په دې کې دخه ښیګڼې (نفلي)کارپه ذریعې سره دالله تعالی تقرب حاصل کړي هغه داسې دې چاچې په غیررمضان کې فرض اداکړل اوچاچې په دې کې فرض اداکړل هغه داسې دې چې هغه په غیررمضان کې اویا فرض اداکړل،دادصبرمیاشت ده اودصبرثواب جنت دې اودا د همدردۍ اوغمخوارۍ میاشت ده،په دې کې دمومن رزق پراخ کړل شی اوچاچې په دې میاشت کې په چاروژه ماتی وکړه،نو دا دهغه له پاره دګناهونو ښښنه اوددوزخ څخه دخلاصي ذریعه ده اوهغه ته به هم دروژه داربرابرثواب ملاویږي،مګردروژه دارپه ثواب کې هیڅ کمی نه کیږي، موږ عرض وکړ:یارسول الله ﷺ په موږ کې هریوکس ته هغه څیزمیسرنه دی چې په هغه روژه ماتی وکړای شو؟رسول الله ﷺ وفرمایل:الله تعالی به داثواب هغه کس ته هم ورکوي چا چې اوبه ملاوکړل شویو شیدو یوغړپ،یاپه یوه کجوره،یاداوبوپه غړپ(ګوټ) باندې روژه ماتی وکړ او چا چې په روژه دارباندې په مړه خیټه باندې ډوډۍ وخوړله په هغه به الله تعالی زما دحوض (کوثر) اوبه وڅښي چې ترهغه پورې به هیڅ کله نه تږی کیږي،تردې پورې چې جنت کې داخل شي (اوپه جنت کې دلوږې تندې هیڅ سوال نشته)داداسې میاشت ده چې ددې لومړی برخه رحمت، مینځنی برخه ښښنه اوداخري برخه ددوزخ نه دازادۍ ده اوچاچې په دې میاشت کې دخپل غلام(نوکر) کار سپک کړ، الله تعالی به دهغه ښښنه وکړي اوهغه به ددوزخ نه آزادکړي.(بیهقی شعب الایمان،مشکوة)[۱]

حدیث: دحضرت ابن عمر رضی الله عنهما نه روایت دی چې نبي کریم ﷺ وفرمایل: ،دکال دشروع نه تراخره پورې درمضان له پاره جنت ښائسته کیږي ،کله چې درمضان لومړی تاریخ وي؛ نودعرش لاندې نه یوه هوا وچلیږي چې دجنت په پاڼواوحورو باندې ورشي،هغوی ووایي:اې زموږ ربه!دخپلوبندګانونه زموږ له پاره خاوندان جوړکړه چې هغو سره زموږ سترګې یخې شي اوموږ سره دهغوی سترګې یخې شي.(رواه الطبرانی فی شعب الایمان کمافی مشکوة ورواه الطبرانی فی الکبیروالاوسط کمافی المجمع ج:۳ ص:۱۴۲)[۲]

۱] وعن سلمان الفارسی رضی الله عنه رقال:خطبنا رسول الله صلی الله علیه وسلم فقال:یاایها الناس !قداظلکم شهر عظیم شهرمبارک شهرفیه لیلة خیرمن الف شهر جعل الله صیامه فریضة وقیام لیله تطوعا من تقرب فیه بخصلة من الخیر کان کمن ادی فریضة فیما سواه ومن ادی فریضة فیه کان کمن ادی سبعین فریضة فیماسواه وهوشهر الصبروالصبرثوابه الجنة وشهر المواساة وشهریزادفیه رزق المومن من فطر فیه صائماً کان له مغفرة لذنوبه وعتق رقبته من النار وکان له مثل اجره من غیر ان ینتقص من اجره شیء _قلنا:یارسول الله صلی الله علیه وسلم! لیس کلنا نجد مانفطر به الصائم _فقال رسول الله صلی الله علیه وسلم یعطی الله هذا الثواب من فطر صائما علی فرقة لبن اوتمرة اوشربة من ماء ومن اشبع صائما سقاه الله من حوضی شربة لا یظماحتی یدخل الجنة وهو شهر اوله رحمة واوسطه مغفرة وآخره عتق من النار،ومن خفف عن مملوکه فیه غفرالله له واعتقه من النار_(مشکوة المصابیح ،کتاب الصوم ،الفصل الثالث ،ص:۱۷۳،۱۷۴،قدیمی کتب خانه)_

۲] وعن ابن عمر رضی الله عنهما ان النبی صلی الله علیه وسلم قال:ان الجنة تزخرف لرمضان من راس الحول الی حول قابل ،قال :فاذاکان اول یوم من رمضان هبت ریح ....[بقیه حاشیه په راروانه صفحه.

حدیث: حضرت انس رضی اللہ عنہ فرمايي چې مادرسول اللهﷺ نه په خپله داحديث واريده چې: رمضان راشي،په دې کې دجنت دروازې پرانيستل شي،ددوزخ دروازې بندې کړل شي،اوشيطانانوته طوق په غاړه کړل شي،هلاکت دی هغه کس له پاره چې دامياشت بياموميي اوبياهم هغه ته ببنبه ونه شي،،چې په دې مياشت کې ببنبنه ونشوه ،نوکله به کيږي؟(رواه الطبرانی فی الاوسط،وفيه الفضل بن عيسى الرقاشي وهواضعيف کمافی مجمع الزائد ج:۱ ص:۱۴۳)

د روژې فضيلت

حدیث: دحضرت ابوهريره رضی اللہ عنہ نه روايت دی چې رسول اللهﷺوفرمايل:چاچې دايمان په جذبې سره ثواب حاصلولوپه نيت سره د رمضان روژه ونيوله،دهغه دتيرشويوگناهونوبښنه وشوه.(بخاری ومسلم،مشکوة)[1]

حدیث: دحضرت ابوهريره رضی اللہ عنہ نه روايت دی چې رسول اللهﷺ وفرمايل:(نيک) عمل چې انسان کوي نو (عام قانون دا دی چې) نيکي دلسونه واخله تراووسوه چنده پورې زياتيږي، مگر روژه ددې (قانون) نه مستثنی ده،(ددې ثواب اندازو سره نه ورکول کيږي) ځکه چې هغه زما له پاره ده او زه به په خپله ددې (بې حده او بې حسابه) بدله ورکوم (او د روژې زما له پاره د کيدو سبب دا دی) چې هغه خپل خواهش او خوراک (څښاک) يوازې زما د رضا له پاره پريږدي او د روژه دار له پاره دوه خوشحالۍ دي: يوه خوشحالي د روژه ماتي په وخت کې وي او دويمه خوشحالي به ذرب سره دملاقات په وخت کې وي.اودروژه داردخولې بوی(چې د معدې دتش والي له وجې راځي) دالله تعالی په نزد دمشک اوعنبرنه زياته خوشبوداره ده .....الخ،(بخاری ومسلم ،مشکوة)[2]

حدیث: دحضرت عبدالله بن عمر(رضی الله عنهما) نه روايت دی چې رسول اللهﷺ وفرمايل: روژه او قرآن(دقيامت په ورځ) دبندگانوشفاعت کوي،روژه وايي: اې زماربه!مادی تېوله ورځ د خوراک څښاک او نورو خواهشاتونه منع کړی و، لهذادده په حق کې زماشفاعت قبول کړه!

...بقيه د تير مخ]..تحت العرش من ورق ا لجنة على الحور العين فيقلن :يا رب! اجعل لنا من عبادک ازواجًا تقرهم اعيننا وتقر اعينهم بنا_رواه البيهقى الاحاديث الثلاثة فى شعب الايمان _(مشکوة المصابيح ،کتاب الصوم ،الفصل الثالث ص:۱۷۴، طبع قديمى کتب خانه)_

۱] وعن ابی هريرة رضى الله عنه :قال:قال رسول الله صلى الله عليه وسلم :من صام رمضان ايمانًا واحتسابًا غفرله ماتقدم من ذنبه (مشکوة المصابيح ،کتاب الصوم ،الفصل الاول ص:۱۷۳قديمى کتب خانه)_

۲] وعن ابی هريرة رضى الله عنه قال:قال رسول الله صلى الله عليه وسلم :کل عمل ابن آدم يضاعف الحسنة بعشرامثالهاالى سبع مائة ضعف قال الله تعالى :الا الصوم فانه لى وانا اجزى به ،يدع شهوته وطعامه من اجلى_ للصائم فرحتان ،فرحة عندفطره وفرحة عند لقاء ربه ،ولخلوف فم الصائم اطيب عندالله من ريح المسک ......الخ (مشکوة المصابيح ،کتاب الصوم الفصل الاول ص:۱۷۳طبع قديمى کتب خانه)_

اوقرآن وايي چې: ما دی دشپې له خوب نه محرومه کړی و(چې دشپې په لمونځ کې به يې دقرآن تلاوت کولو) لهذا دده په حق کې زما شفاعت قبول کړئ ،چنانچې ددواړو شفاعت قبليږي. ،،
(بيهقى شعب الايمان،مشكوة)[١]

رؤيت هلال

حديث: دحضرت عائشې رضی الله عنها نه روايت دی چې رسول الله ﷺ به دشعبان (دتاريخونو) چې څومره نګهداشت فرمائيلو هغومره به ئې نورو مياشتونه فرمائيلو،(ځکه چې دشعبان په اختتام باندې درمضان د آغاز دارومدار دی) بيا رمضان په مياشت ليدو باندې به ئې روژه نيوله،اودمطلع ابرالود کيدو وجه سره به ئې(په ٢٩ شعبان باندې مياشت)که په نظر رانغله نو(شعبان) ديرش ورځې به ئې پوره کولې اوروژه به نيوله.(ابوداود،مشكوة)[٢]

دحضرت ابوهريره رضی الله عنه نه روايت دې چې رسول الله ﷺ اوفرمائيل:درمضان په خاطر دشعبان دمياشتې اهتمام کوئ.(ترمذی،مشكوة)[٣]

پيشمنې کول

حديث:دحضرت انس رضی الله عنه نه روايت دې چې رسول الله ﷺ اوفرمائيل: پيشمنې کوئ،ځکه چې په پيشمنی کولو کې برکت دې.(بخاری ومسلم،مشكوة)[٤]

حديث: حضرت عمروبن عاص رضی الله عنه نه روايت دې چې رسول الله ﷺ اوفرمائيل:زمونږ اوداهل کتاب په مينځ کې دپيشمنی دخوراک فرق دې،(چې داهل کتاب داوده کيدونه پس خوراک څکاک منع وو،اومونږ ته دصبح صادق دطلوع کيدونه مخکې پورې اجازت شته.(مسلم،مشكوة)[٥]

١] وعن عبدالله بن عمر رضى الله عنهما أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال:الصيام والقرآن يشفعان للعبديقول الصيام اى رب انى منعته الطعام والشهوات بالنهارفشفعنى فيه ،ويقول القرآن :منعته بالليل فشفعنى فيه فيشفعان، رواه البيهقى فى شعب الايمان (مشكوة المصابيح ،كتاب الصوم ،الفصل الثالث ص:١٧٣طبع قديمى كتب خانه)۔

٢] وعن عائشة رضى الله عنها قالت: كان رسول الله صلى الله عليه وسلم يتحفظ من شعبان مالا يتحفظ من غيره ثم يصوم لرؤية رمضان فان غم عليه عدثلاثين يومًا ثم صام (مشكوة المصابيح ،كتاب الصوم ،باب روية الهلال الفصل الثالث ص:١٧٤،طبع قديمى كتاب خانه)۔

٣]وعن ابى هريرة رضى الله عنه قال:قال رسول الله صلى الله عليه وسلم :احصوا! هلال شعبان لرمضان ،رواه الترمذى(مشكوة المصابيح ،كتاب الصوم ،باب رؤية الهلال ، الفصل الثانى ، ص:١٧٤طبع قديمى كتب خانه)

٤] عن انس رضى الله عنه قال :قال رسول الله صلى الله عليه وسلم :تسحروا فان فى السحور بركة، متفق عليه (مشكوة المصابيح ،كتاب الصوم ،با ب الفصل الاول ،ص:١٧٤طبع قديمى كتب خانه)۔

٥] وعن عمرو بن العاص رضى الله عنه قال :قال رسول الله صلى الله عليه وسلم :فصل مابين صيامنا وصيام اهل الكتاب اكلة السحر(رواه مسلم (مشكوة المصابيح ،كتاب الصوم ،باب الفصل الاول ص:١٧٤)۔

د نمر پريوتو نه پس په افطارکې جلدي کول

حديث: دحضرت سهل بن سعد رضي الله عنه نه روايت دې چې رسول الله ﷺ اوفرمائيل :خلق به هميشه په خير باندې وى ترڅوپورې چې(دنمر پريوتلو) نه پس په افطارکولوکې جلدي کوى.(بخارى اومسلم مشکوٰة)[1]

حديث: دحضرت ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دى چې رسول الله ﷺ وفرمايل: دين به غالب وي ترڅو پورې چې خلک په افطار(روژه ماتې) کولو کې بيړه کوي، ځکه يهود او نصارٰى تاخير کوي. (ابوداود،ابن ماجه،مشکوٰة)[2]

حديث: دحضرت ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دى چې رسول الله ﷺ دالله تعالى داارشادنقل کړى دى چې:ماته هغه بندګان له ټولونه زيات محبوب دي چې په روژه ماتي کې جلدي(بيړه) کوي.(ترمذى مشکوٰة)[3]

روژه په څه شي ماته کړل شي؟

حديث: دسلمان بن عامر رضي الله عنه روايت دى چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کله چې په تاسوکې يو کس روژه ماتى کوي؛ نوکجورې سره دې روژه ماتى کوي،ځکه چې هغه برکت والا ده،اوکه کجوره پيدا نه شي نواوبوسره دې روژه ماتى کوي،ځکه چې هغه پاکوونکې دي.(احمد، ترمذى. ابوداود، ابن ماجه،دارمى،مشکوٰة)[4]

حديث: حضرت انس رضي الله عنه نه روايت دى چې رسول الله ﷺ به د(ماښام) لمانځه نه مخکې تازه کجوروسره روژه ماتوله،اوکه تازه کجورې به نه وې؛نود وچې خرما ځودانوسره به يې افطار کولو اوکه هغه به هم ميسرنه وې؛ نوڅوغړپه اوبه به يې څښلې.(ابوداود،ترمذى،مشکوٰة)[5]

١] وعن سهل رضى الله عنه قال:قال رسول الله صلى الله عليه وسلم :لايزال الناس بخير ماعجلوا الفطر، متفق عليه (مشكوٰة المصابيح ،كتاب الصوم ،باب الفصل الاول ص:١٧٥)۔

٢] عن ابى هريرة رضى الله عنه قال:قال رسول الله صلى الله عليه وسلم :لايزال الدين ظاهرًا ماعجل الناس الفطر لان اليهودوالنصارى يوخرون،رواه ابوداؤدوابن ماجة(مشكوٰة المصابيح،كتاب الصوم،باب الفصل الثالث ص:١٧٥)

٣] وعن ابى هريرة رضى الله عنه قال:قال رسول الله صلى الله عليه وسلم :قال الله تعالىٰ:احب عبادى الى اعجلهم فطرًا. رواه الترمذى (مشكوٰة المصابيح ،كتاب الصوم ،باب الفصل الثانى ص:١٧٥،طبع قديمى)۔

٤] وعن سلمان بن عامر رضى الله عنه قال:قال رسول الله صلى الله عليه وسلم :اذا فطر احدكم فليفطرعلى تمرفانه بركة فان لم يجد فليفطر على ماء فانه طهور۔رواه احمد والترمذى وابوداؤد وابن ماجة والدارمى ۔(مشكوٰة المصابيح ،كتاب الصوم ،باب الفصل الثانى ص:١٧٥)۔

٥] وعن انس رضى الله عنه قال: كان النبى صلى الله عليه وسلم يفطر.... [بقيه حاشيه په راروانه صفحه.

د افطار (روژه ماتي) دُعا

حديث: دابن عمر رضي الله عنهما نه روايت دى چې حضور ﷺ به كله روژه ماتى كولو، نوفرمايل به يې:
،،ذهب الظمأ وابتلّت العروق وثبت الاجران شاءالله...،،[1]

ترجمه: تنده ماته شوه، كولمې لمدې شوې، اواجران شاءالله ثابت شو...

حديث: حضرت معاذبن زهره رضي الله عنه فرمايي چې: كله چې به نبى كريم ﷺ روژه ماتى كولو؛ نو دا دعابه يې ئيې لوستله: ،،**اللهم لک صمت وعلى رزقک افطرت**،،(ابوداودمرسلاً مشكوة)[2]

ترجمه: اې الله! ماستاله پاره روژه ونيوله اوستاپه رزق مې ماته كړه!

حديث: دحضرت عمربن خطاب رضي الله عنه نه دحضور ﷺ دا ارشادنقل شوى دى چې په رمضان كې د الله تعالى ذكركونكي ببنل كيږي اوپه دې مياشت كې دالله تعالى نه غوښتونكي نامراد نه وي،، (رواه الطبرانى فى اوسط،وفيه هلال بن عبدالرحمان وهوضعيف كمافي المجمع ج:٣ ص:١٤٣)

حديث: ابوسعيدخدري رضي الله عنه نه روايت دى چې رسول الله ﷺ وفرمايل: ،،بيشكه درمضان په هره ورځ دالله تعالى دطرف نه ډير خلک (ددوزخ) نه ازاديږي اودهرمسلمان په شپه ورځ كې يوه دعا قبليږي.(رواه البزازوفيه ابان بن عياش وهوضعيف،مجمع الزوائد:ج:٣ ص:١٣٤)

حديث: دحضرت ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دى چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د دريو كسانو دعا نه ردكيږي:دروژه دار،تردې پورې چې روژه ماته كړي،د عادل حاكم اودمظلوم،الله تعالى هغه دوريځونه پورته كړي اودهغې له پاره دآسمان دروازې پرانيستل شي اورب تعالى فرمايي: زما دې په خپل عزت قسم وي،زه به ضرورستا مدد كوم،اګركه څه موده پس يې وكړم. (احمد،ترمذى،ابن حبان،مشكوة،ترغيب)[3]

حديث: عبدالله بن ابى مليكه رحمه الله دحضرت عبدالله بن عمروبن عاص (رضى الله عنهما) نه روايت كوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل:دروژه دار دعا دروژه ماتى په وخت كې نه ردكيږي او

...بقيه د تير مخ]..قبل ان يصلى على رطبات فان لم تكن رطبات فتميرات فان لم تكن تميرات حساحسوات من ماء. رواه الترمذى ،وابوداؤد (مشكوة المصابيح ،كتاب الصوم ،باب الفصل الثانى ص:١٧٥)_

١] وعن ابن عمررضى الله عنه قال:كان النبى صلى الله عليه وسلم اذا افطرقال:ذهب الظماء وابتلت العروق وثبت الاجران شاء الله _رواه ابوداؤد –(مشكوة المصابيح ،كتاب الصوم ،باب الفصل الثانى ص:١٧٥)_

٢] وعن معاذ بن زهرة رضى الله عنه قال:ان النبى صلى الله عليه وسلم كان اذا افطرقال:لک صمت وعلى رزقک افطرت ، رواه ابوداؤد مرسلاً (مشكوة المصابيح ،كتاب الصوم ،باب الفصل الثانى ص:١٧٥)_

٣] وعن ابى هريرة رضى الله عنه قال:قال رسول الله صلى الله عليه وسلم :ثلاثة لا ترد دعوقم :الصائم حين يفطر والامام العادل ودعوة المظلوم يرفعها الله فوق الغمام وتفتح لها ابواب السماء ويقول الرب :وعزتى و جلالى! لانصرنک ولو بعد حين –رواه الترمذى (مشكوة المصابيح،كتاب الدعوات،الفصل الثانى ص:١٩٥)

حضرت عبدالله رضی الله عنه به د روژه ماتي په وخت کې دا دعا کوله:

اللهم انی اسئلک برحمتک التی وسعت کل شیء ان تغفرلی. (بیهقی، ترغیب)[1]

ترجمه: اې الله! زه تاته سوال کوم ته ما د هغه رحمت په طفیل چې په هرشي باندې حاوي دی، زما بښنه وکړه!،،

د رمضان آخري عشره

حدیث: حضرت عائشې رضی الله عنها نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم به د رمضان په آخري عشره کې داسې عبادت او محنت کولو چې په نورو وختونو کې به نه و. (صحیح مسلم، مشکوة)[2]

حدیث: د حضرت عائشې رضی الله عنها نه روایت دی چې کله به د رمضان آخري عشره راغله؛ نو حضور صلی الله علیه وسلم به لنګ ښه مضبوط وتړلو (د همت ملا به یې کلکه وتړله) په خپله به هم ټول شپه بیدار و او کور والا به یې هم بیدار ساتل. (بخاری ومسلم، مشکوة)[3]

لیلة القدر

حدیث: د حضرت انس رضی الله عنه نه روایت دی چې رمضان المبارک راغی؛ نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل ،،بیشکه دا میاشت په تاسو باندې راغلې ده او په دې کې یوه شپه داسې ده چې د زرو میاشتو نه بهتره ده، کوم کس چې د دې شپې نه محرومه شو، هغه د هر خیرنه محرومه شو، او د دې د خیرنه به هیڅ یو کس محروم نه پاتې کیږي، له بدقسمته او بې برخې شخه پرته. (ابن ماجه، واسناده حسن ان شاءالله، ترغیب)[4]

حدیث: د حضرت عائشې رضی الله عنها نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: لیلة القدر د رمضان په آخري عشره کې په طاقو شپو کې ولټوئ! (صحیح بخاری مشکوة)[5]

١] عن عبدالله یعنی ابن ملیکة عن عبدالله یعنی ابن عمرو ابن العاص رضی الله عنهماقال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: ان للصائم عندفطره لدعوة ماترد قال: وسمعت عبدالله یقول عندفطره: اللهم انی اسئالک برحمتک التی وسعت کل شیء ان تغفرلی ـ رواه البیهقی (الترغیب والترهیب ج:٢ ص:٨٩ طبع داراحیاء التراث العربی بیروت)ـ

٢] عن عائشة رضی الله عنها قالت: کان رسول الله صلی الله علیه وسلم یجتهد فی العشرالاواخرمالایجتهد فی غیره. رواه مسلم (مشکوة المصابیح، باب لیلة القدر، الفصل الاول ص:١٨٢)ـ

٣] وعن عائشة رضی الله عنهاقالت: کان رسول الله صلی الله علیه وسلم اذا دخل العشرشد میزره واحیی لیله وایقظ اهله متفق علیه ـ (مشکوة المصابیح، کتاب الصوم، باب لیلة القدر، الفصل الاول ص:١٨٢)ـ

٤] وعن انس بن مالک رضی الله عنه قال: دخل رمضان فقال: رسول الله صلی الله علیه وسلم: ان هذا الشهرقد حضرکم وفیه لیلة خیرمن الف شهر، من حرمها فقدحرم الخیر کله، ولا یحرم خیرها الامحروم. رواه ابن ماجة واسناده حسن ان شاء الله (الترغیب والترهیب ج:٢ ص:٩٩ طبع داراحیاء التراث العربی بیروت)ـ

٥] عن عائشة رضی الله عنها قالت: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم.... [بقیه حاشیه په راروانه صفحه.

حديث: دحضرت انس رضي الله عنه روايت دى چې رسول الله ﷺ وفرمايل: ,,كله چې ليلة القدر راشي جبرائيل عليه السلام دفرښتو ديوې ډلې سره نازليږي اوهربنده چې په ولاړه ياپه ناسته دالله تعالى ذكركوي(په دې كې تلاوت،تسبيح وتهليل اونوافل وغيره ټول شامل دي،غرض داچې په هرې طريقې سره عبادت كې مشغول وي)دهغه له پاره درحمت دعاګانې كوي.،،(بيهقى شعب الايمان،مشكوة)[1]

دليلة القدردعا

حديث:دحضرت عائشې رضي الله عنها روايت دى چې ماعرض وكړ:يارسول الله ﷺ،داراته وفرمايئ چې كه ماته معلومه شي چې دا ليلة القدرده نوڅه ولولم؟ويې فرمايل،دادعا ولوله:

,,**اللهم انک عفوتحب العفوفاعف عنى**.،،(احمد،ترمذى،ابن ماجه،مشكوة)[2]

ترجمه:اې الله!ته ډېرمعاف كونكى يې،معاف كول خوښوې مامعاف كړې!،،

له عذرپرته د رمضان روژه نه نيول

حديث: دحضرت ابوهريره رضي الله عنه روايت دى چې رسول الله ﷺ وفرمايل:چاچې له عذر او ناروغۍ پرته د رمضان يوه روژه پرېښوده، نوكه ټول عمرروژې ونيسي هغه ددې تلافي نه شي كولى. (دويم وخت كې روژه نيولوسره به اګرچې فرض اداشي خودرمضان المبارك بركت او فضيلت حاصلول ناممكن دي)(احمد،ترمذى،ابوداود،ابن ماجه،دارمى،بخارى فى ترجمة الباب،مشكوة)[3]

...بقيه د تير مخ]..تحروا ليلة القدرفى الوترمن العشرالاواخر من رمضان —رواه البخارى (مشكوة المصابيح ،كتاب الصوم ،باب ليلة القدر ،الفصل الاول ص:۱۸۱)۔

۱] وعن انس رضى الله عنه قال:قال رسول الله صلى الله عليه وسلم :اذا كان ليلة القدر نزل جبريل عليه السلام فى كبكبة من الملائكة يصلون على كل عبدقائم اوقاعد يذكرالله عزوجل ......الخ،رواه البيهقى فى شعب الايمان (مشكوة المصابيح ،كتاب الصوم ،باب ليلة القدر،الفصل الثالث ص:۱۸۲)۔

۲] عن عائشة رضى الله عنها قالت:قال رسول الله صلى الله عليه وسلم ! ارءيت ان علمت اى ليلة ليلة القدر ماأقول فيها؟ قال:قولى :اللهم انک عفوٌ تحب العفوفاعف عنى، رواه احمدوابن ماجة والترمذى وصححه (مشكوة المصابيح ،كتاب الصوم ،باب ليلة القدر الفصل الثانى ص:۱۸۲،طبع قديمى كتب خانه)۔

۳] وعن ابى هريرة رضى الله عنه قال:قال رسول الله صلى الله عليه وسلم:من افطريومًامن رمضان من غير رخصة ولا مرض لم يقض عنه الصوم الدهر كله وان صامه. رواه احمد والترمذى وابوداؤد وابن ماجة والدارمى والبخارى فى ترجمة الباب (مشكوة المصابيح ،كتاب الصوم ،باب تنزيه الصوم ،الفصل الثانى ص:۱۷۷،طبع قديمى)۔

د رمضان څلور عملونه

حدیث: حضرت سلمان فارسي رضي الله عنه د حضور صلی الله علیه وسلم دا ارشادمبارک نقل کوي چې په رمضان المبارک کې دڅلوروشیانو کثرت کوئ،دوه خوداسې دی چې تاسوبه یې په ذریعه خپل رب راضي کړئ، او دوه داسې دي چې تاسودهغو نه بې نیازه کیدای نه شئ،لومړنی دوه خبرې چې په ذریعه یې تاسو خپل رب راضی کړئ دادي: لااله الاالله،،ګواهي ورکول او استغفار کول، او دوه نور شیان چې تاسو ترې بې نیازه کیدای نه شئ دادي چې: تاسو د الله تعالی نه د جنت سوال کوئ او د جهنم نه پناه غواړئ.(ابن خزیمه،ترغیب)[1]

تراویح

حدیث: دحضرت ابوهریره رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:چاچې دایمان په جذبې اوثواب په نیت سره درمضان روژه ونیوله،دهغه مخکیني ګناهونه وبښل شو،اوچاچې د رمضان په شپوکې قیام وکړدایمان په جذبې اوثواب په نیت سره، دهغه تیرشوي ګناهونه وبښل شو،اوچاچې دلیلة القدرقیام وکړدایمان په جذبې اودثواب په نیت سره، دهغه مخکني ګناهونه وبښل شو.،،(بخاري ومسلم،مشکوة)[2]

اوپه یوبل روایت کې دي چې دهغه مخکښني اوروستني ګناهونه وبښل شو.،،(نسائی،ترغیب)[3]

اعتکاف

حدیث: دحضرت حسین رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې چادرمضان داخري لسو ورځو اعتکاف وکړ،هغه ته به ددوه حجونواودوو عمرو ثواب ملاویږي.(بیهقی،ترغیبب)[4]

١] وعن سلمان رضی الله عنه قال:خطبنا رسول الله صلی الله علیه وسلم فی آخر یوم من شعبان قال.... واستکثروا فیه من اربع خصال خصلتین ترضون بهما ربکم، وخصلتین لا غناء بکم عنهما، فاما الخصلتان اللتان ترضون بهما ربکم: فشهادة ان لااله الا الله وتستغفرونه ،واماالخصلتان اللتان لا غناءبکم عنهما فتسالون الله الجنة ،وتعوذون به من النار......الخ۰رواه ابن خزیمة فی صحیحه (الترغیب والترهیب ج:٢ص:٩٥،طبع داراحیاء التراث العربی بیروت)۔

٢] وعن ابی هریرة رضی الله عنه قال:قال ر سول الله صلی الله علیه وسلم :من صام رمضان ایمانًا واحتسابًاغفرله ماتقدم من ذنبه ،ومن قام رمضان ایمانًا واحتسابًا غفرله ماتقدم من ذنبه ،ومن قام لیلة القدر ایمانًا واحتسابًا غفرله ماتقدم من ذنبه –متفق علیه (مشکوة المصابیح ،کتاب الصوم ،الفصل الاول ص:١٧٣، طبع قدیمی کتب خانه)۔

٣] وفی روایة النسائی ......قال :وفی حدیث قتیبة :وما تاخر (الترغیب والترهیب ج:٢ص:٩٠)۔

٤] روی عن علی بن حسین عن ابیه رضی الله عنهم قال:قال رسول الله صلی الله علیه وسلم :من اعتکف عشرًا فی رمضان کان کحجتین وعمرتین. رواه البیهقی (الترغیب والترهیب ج:٢ص:١٤٩،طبع بیروت)۔

حديث: دحضرت ابن عباس رضي الله عنهما نه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل:چاچې دالله تعالى ذرضا له پاره ديوې ورځې اعتكاف هم وكړ،الله تعالى به دهغه اوددوزخ په مينځ كې داسې درې خندقونه جوړكړي چې دهرخندق فاصله به دمشرق اومغرب نه زياته وي.، (طبرانى، اوسط، بيهقى، حاكم، ترغيب)[١]

روژه ماتی كول

حديث: حضرت زيدبن خالد رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: چاچې په روژه دار روژه ماته كړه ياچا غازي ته يې د جهاد سامان وركړ هغه ته به هم دومره اجر ملاويږي. (بيهقى،شعب الايمان،بغوى،شرح السنة،مشكوة)[٢]

په رمضان المبارك كې د قرآن پاك دور ، جود وسخاوت

حديث: دحضرت ابن عباس رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله ﷺ په جوداوسخاكې دټولو انسانانونه زيات و،اوپه رمضان المبارك چې حضرت جبرائيل عليه السلام به حضور ﷺ ته راتلو؛ نو د حضور ﷺ جود او سخا به نوره هم زياته شوه،حضرت جبرائيل عليه السلام به درمضان په هره شپه كې حضور ﷺ ته راته، دحضور ﷺ سره به يې دقرآن پاك دوركولو،په دغه وخت كې به دحضور ﷺ فياضي،سخاوت،او نفع رساني درحمت دباد نه هم زيات و.(صحيح بخارى)[٣]

د روژه دار له پاره پرهيز

حديث: دحضرت ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي چې:كوم كس چې د (روژې په حالت كې)بيهوده خبرې (مثلاً، غيبت،بهتان،كنځل،لعن طعن، غلط بياني وغيره) اود ګناه كارونه پرې نه ښودل؛نوالله تعالى ته هيڅ حاجت نشته چې دی دې خپل خوراك

١] وعن ابن عباس رضى الله عنهما ....ومن اعتكف يومًا ابتغاء وجه الله تعالى جعل الله بينه وبين النارثلاث خنادق ابعد ممابين الخافقين –رواه الطبرانى فى الاوسط والبيهقى واللفظ له والحاكم مختصرًا (الترغيب والترهيب ج:٢ص:١٥٠،طبع داراحياء التراث العربى بيروت)۔

٢] وعن زيدبن خالدرضى الله عنه قال:قال رسول الله صلى الله عليه وسلم :من فطرصائمًااوجهز غازيا فله مثل اجره. رواه البيهقى فى شعب الايمان ومحى السنة فى شرح السنة وقال صحيح (مشكوة المصابيح ،كتاب الصوم ،باب الفصل الثانى ص:١٧٥،طبع قديمى كتب خانه)۔

٣] عن ابن عباس رضى ا لله عنه قال:كان النبى صلى الله عليه وسلم اجودالناس واجود مايكون فى رمضان حين يلقاه جبريل كان جبريل يلقاه فى كل ليلة من رمضان فيدارسه القرآن فلرسول الله صلى الله عليه وسلم اجود بالخير من الريح المرسلة (صحيح البخارى ،كتاب المناقب ،باب صفة النبى صلى الله عليه وسلم ج:١ص:٥٠٢،طبع نورمحمد كراچى)۔

ځنباک پرېږدي.(بخاری مشکوة)[1]

حدیث: دحضرت ابوهریره رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي چې: ډېر روژه دار داسې دي چې هغوی ته دخپلې لوږې اوتندې پرته نور هیڅ حاصل نه شي،(ځکه چې هغوی په روژه کې هم بدګویي، بدنظري،اوبدعملي نه پرېږدي.)اوډېر دشپې قیام کونکي دي چې هغوی ته په قیام کې دویښې پاتې کیدونه پرته نور هیڅ حاصل نه شي (دارمی،مشکوة)[2]

حدیث: دحضرت ابوهریره رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي چې:روژه ډال دی (دنفس اوشیطان دحملې نه بچ کول کوي، اودګناهونو نه هم بچ کول کوي،اودقیامت په ورځ به مودجهنم داور نه هم بچ کوي) کله چې په تاسوکې دچا روژه وي؛ نوبې کاره خبره دې نه کوي، نه دې شورجوړوي، که یوکس دهغه سره جنګ جګړه کوي (نوپه زړه کې د ووایي یا هغه ته دې په ژبې سره ووایي)چې زۀ روژه داریم،(ددې وجې نه تاته جواب درکولی نه شم چې روژه په دې کې مانع ده.)(بخاری ومسلم،مشکوة)[3]

حدیث: دحضرت ابوعبیده رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي چې:روژه ډال دی ترڅوپورې چې هغه ونه شلول شي.،(نسائی،ابن خزیمه،بیهقی،ترغیب)[4]

اوپه یوبل روایت کې دي چې:عرض وکړل شو:یارسول الله!داډال څه شي سره شلیږي؟ ویې فرمایل،دروغ اوغیبت سره،.(طبرانی فی الاوسط عن ابی هریره رضي الله عنه ترغیب)[5]

حدیث: حضرت ابوسعیدخدري رضي الله عنه نه روایت دی چې نبی کریم ﷺ فرمایلي دي :چاچې د رمضان روژه ونیوله،اوددې حدونه یې وپیژندل،اوکوموشیانونه چې پرهیزکول غوارې دهغو

١] عن ابی هریرة رضی الله عنه قال:قال رسول الله صلی الله علیه وسلم :من لم یدع قول الزور والعمل به فلیس لله حاجة فی ان یدع طعامه وشرابه. رواه البخاری (مشکوة المصابیح ،باب تنزیه الصوم ،الفصل الاول ص:١٧٦)۔

٢] وعن ابی هریرة رضی الله عنه قال:قال رسول الله صلی الله علیه و سلم :کم من صائم لیس له من صیامه الا الظماوکم من قائم لیس له من قیامه الا السهر ٠رواه الدارمی (مشکوة المصابیح ،باب تنزیه الصوم ،الفصل الثانی ص:١٧٧)۔

٣] وعن ابی هریرة رضی الله عنه قال:قال رسول الله صلی الله علیه وسلم ...... والصیام جنة واذا کان یوم صوم احدکم فلایرفث ولایصغب فان سابه احداوقاتله فلیقل :انی امرؤ صائم ٠متفق علیه (مشکوة المصابیح ،کتاب الصوم ،الفصل الاول ص:١٧٣،ایضًا :الترغیب والترهیب ج:٢ص:١٤٧)۔

٤] عن ابی عبیدة قال :سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم یقول:الصیام جنة مالم یخرقها٠رواه النسائی باسنادحسن وابن خزیمة فی صحیحه ورواه الطبرانی فی الاوسط من حدیث ابی هریرة (الترغیب والترهیب ج:٢ص:١٤٧)۔

٥] ورواه الطبرانی فی الاوسط من حدیث ابی هریرة ،وزاد :قیل وبم یخرقها؟قال:بکذب اوغیبة (الترغیب والترهیب ج:٢ص:١٤٧،طبع داراحیاء التراث العربی بیروت)۔

نه یې پرهیز وکړ،نو داروژه به دهغه له پاره دتیرشوو ګناهونو کفاره وي.[۱] (صحیح ابن حبان،بیهقی،ترغیب)

د دوو ښځو کیسه

حدیث: حضرت عبید ﷺ درسول الله ﷺ ازادکړل شوی غلام وایي چې: یوکس حضور ﷺ ته عرض وکړ چې: دلته دوو ښځو روژه نیولې ده او دتندې له وجې دمرګ ترحدپورې رسیدلې دي حضور ﷺ خاموشي اواعراض وفرمایل، هغه په دویم ځل عرض وکړ (غالبا دغرمې وخت و) چې یا رسول الله ﷺ، والله یاخوبه هغه مړې شوې وي یابه مرګ ته نزدې وي، حضور ﷺ یوه لویه پیاله راوغوښته اویوې ته یې وفرمایل چې په دې کې قی وکړه، هغې دوینې، پیپ اوتازه غوښې وغیره قی وکړ، چې په هغه نیمه پیاله ډکه شوه، بیایې دویمې ته دقی کولوحکم ورکړلو،اودهغې په قی کې هم وینا،پیپ،اوغوښه راوتله،چې هغې سره پیاله ډکه شوله، حضور ﷺ اوفرمائیل چې:دوی دالله تعالی حلال کړې شوې څیزونو باندې روژه اونیوله اوحرام کړې شوې څیزسره ئې روژه خرابه کړله، چې یوبل سره کېیناستلې اودخلقوغوښې ئې خوړلې. (یعنی غیبت ئې شروع کړلو) (مسنداحمد ج:۵ ص:٤٣٠ مجمع الزوائد ج:۳ ص:۱۷۱)[۲]

د روژې درجې

حجة الاسلام امام غزالی قدس سره فرمائي چې:دروژې درې درجې دي. ۱: عام، ۲: خاص، ۳:خاص الخاص.عام روژه خوهم دغه ده چې دخیټې اوشرمګاه دتقاضونه پرهیز اوکړی. دکوم تفصیل چې دفقې په کتابونوکې درج دې.اوخاص روژه داده چې سترګې، غوږونه، ژبه، لاس، خپې، او نور اندمونه دګناه نه بچ کړی.دا د صالحینو روژه ده.اوپه دې د شپږو خبرو اهتمام لازم دی.

اول:...دسترګوحفاظت،چې سترګې دهرمذموم اومکروه اودالله تعالی دیادنه غافل کونکی څیزنه بچ اوساتی.دحضور ﷺ ارشاددې چې: نظردشیطان دغشونه په زهروکې ککړشوې

۱] وعن ابی سعیدالخدری رضی الله عنه عن النبی صلی الله علیه وسلم قال:من صام رمضان وعرف حدوده وتحفظ ممایبنغی له ان یتحفظ کفرماقبله ،رواه ابن حبان فی صحیحه والبیهقی (الترغیب والترهیب ج:۲ص:۹۱طبع بیروت)_

۲] عن عبیدمولی رسول الله صلی الله علیه وسلم قال:ان امراتین صامتا وان رجلاً قال :یارسول الله !ان ههنا امرتین قدصامتا وانهما قدکادتاان تموتا من العطش. قال:فجیء بقدح اوعس فقال لاحداهما: قیی إفقاءت قیحًا او دمًا وصدیدًا ولحمًا حتی ملات نصف القدح، ثم قال للاخری :قیی إفقاءت من قیح ودم وصدیدولحم عبیط وغیره حتی ملات القدح ثم قال:ان هاتین صامتا عما احل الله لهما وافطرتا علی ماحرم الله عزوجل علیهما، جلست احداهما الی الاخری فجعلتا کلان لحوم الناس (مسنداحمد ج:۵ص:٤٣٠،مجمع الزوائد ج:۳ص:۱۷۱)_

بوغشې دې پس چاچې دالله تعالى دويرې نه بدنظرپريښودلو ،الله تعالى به هغهٔ داسې ايمان نصيب کړی چې دهغې خوږوالې به په خپل زړهٔ کې محسوسوی.(رواه الحاکم،ج:٤ص:٣١٤٥،وصححه من حديث حذيفة رضي الله عنه وتعقبه الذهبی فقال اسحاق رواه وعبدالرحمان هوالوسطی ضعفوه،ورواه الطبرانی من حديث عبدالله بن مسعود رضي الله عنه، قال الهيثمی وفيه عبدالله بن اسحاق الواسطی وهوضعيف،مجمع الزوائد ج:٣ ص:٦٣)

دويم:....دژبې حفاظت،چې بيهوده خبرې،دورغ، غيبت، د دروغو قسم،جنګ جهګړونه ئې محفوظ اوساتی.دادژبې روژه ده.دسفيان ثوری رحمه الله قول دې چې غيبت کولوسره روژه ماتيږی، مجاهد رحمه الله فرمائی چې:غيبت اودروغوسره روژه ماتيږی،اودحضور ﷺ ارشاد مبارک دې چې: روژه ډهال دې پس کله چې په تاسوکې دچاروژه وی نونه دې بيهوده خبرې کوی اونه دې څه دجهالت کارکوی،او دهٔ سره څوک جنګ جګهړه ياکنځل ورته اوکړی نوورته دې اووائی چې زماروژه ده. ،(صحاح)

دريم:....د غوږونو حفاظت، چې دحرام اومکروه څيزونو د اوريدلو نه پرهيزاوکړی،ځکه چې کومه خبره په ژبې سره کول حرام دی دهغې اوريدل هم حرام دی.

څلورم:....دباقی اندامونوحفاظت،دلاسوخپواونوروواندامونه دحرام اومکروه کارونونه منع محفوظ ساتل،اودروژه ماتی په وخت کې څه مشتبه څيزپه خيټه کې وانچوی،ځکه چې ددې هيڅ معنی نشته چې ټوله ورځ خودې تهٔ په حلال روژه اونيسې اومابنام دې په حراموماته کړې.

پنځم:....دروژه ماتی په وخت کې حلال خوراک هم دومره اونه خوړلې شی چې تريوزې پورې راشی،دحضور ﷺ ارشادمبارک دې چې:دخيټې نه بدتره بل څه لوښې نشته،کوم چې بنده ډک کړی، ،(رواه احمدوالترمذی وابن ماجه والحاکم من حديث مقدام بن معديکرب رضي الله عنه)اوکله چې په مابنام کې دټولې ورځې کسرپوره کړی نوبياروژې سره شيطان مغلوب کول اونفس شهوانی طاقت ماتولومقصد څنګه حاصليدې شی؟

شپږم:....اوروژه ماتی په وخت کې دهغهٔ حالت دخوف اورجاپه مينځ کې مضطرب وی،چې نه ده معلومه دهغهٔ داروژه دالله تعالى په دربار کې منظورشوه يانه،په اولنی صورت کې داکس مقرب بارګاه جوړشو،اوپه دويم صورت کې مطرودمردودشولو،هم دغه کيفيت دهرعبادت نه پس کيدل پکاردی.

اودخاص الخاص روژه داده چې ددنياوي افکارونه دزړه روژه وي،اوله الله تعالى پرته له نورو شيانو بالکل منع کړل شي،البته هغه دنيا چې ددين له پاره مقصودوي،هغه دنيانه ده،بلکې د اخرت توښه ده، په هرحال دالله تعالى ذکر او د اخرت فکر پريښودل او نورو امورو کې زړه مشغولولو سره داروژه ماته شي،دارباب قلوب قول دی چې د ورځې کاروبارکې دا فکرکول چې د مابنام له پاره روژه ماتی مهيا شي داهم ديوې درجې خطاده،ګوياداالله تعالى په فضل

اودهغه په رزق موعودباندې ددې کس کلک اعتماد نشته،دادانبیاء(علیهم السلام)، صدیقینو اومقربینو روژه ده.(احیاءالعلوم ج:٢ ص:١٦٨، ١٦٩،ملخصًا)

په روژه کې نقصانونه

حضرت حکیم الامت مولانااشرف علی تهانوي(قدس سره) په ,,اصلاح انقلاب..کې په تفصیل سره دهغو نقصانونوذکرکړی دی ،چې دروژې په باره کې کیږي،ددې کتاب مطالعه کول پکاردي چې ددې ټولو نقصانونوازاله وکړل شي، دلته ترې یودوه اقتباسه نقل کیږي،زماپه وړاندې دمولاناعبدالباري ندوي کتاب,,جامع المجددین،،دی دالاندیني اقتباسات هم دهغه نه منتخب شوي دي:

ډیرخلک له څه قوی عذرپرته روژه نه نیسي،په دوی کې ډیرخویې دکم همتۍ له وجې نه نیسي،هم دغه شان یوصاحب چاچې په ټول عمرکې یوه روژه هم نیولې نه وه اودایې ګڼله چې پوره به یې نه کړل شي هغه ته وویل شوچې ته بطورامتحان اونیسه،ویې نیوله او پوره یې کړه،بیادهغه همت جوړشواو دروژونیول یې شروع کړل،څومره د افسوس خبره ده چې هیڅ دنیولوکوشش یې نه و کړی ،داپوخ یقین یې جوړشوی وچې نیوی یې نشي،داخلک دې لږشان سوچ وکړي اوودې ګوري چې که ډاکټر ورته وویل چې نن ټوله ورځ مه څه خوره مه څه څکنبه،که نه، په فلاني مرض کې به راګیرشې، نوهغه دیوې ورځې له پاره ویلې وي اودی به دوه ورځې څه نه خوري،احتیاط هم په دې کې دی.

افسوس!خدای پاک یوازې داغواړی چې دورځې ډوډۍ مه خورئ اودخوراک څښاک په باره کې یې مهلک وعیدونه اورولي دي اودهغه دقول دطبیب دقول برابرهم وقعت نشته.اناللہ وانا الیه راجعون!،،

دځینو دابې وقعتي تربدعقیدګۍ پورې ورسیږي چې دروژې دضرورت نه قسم انکارونه کوي،مثلاً:روژه دقوت بهیمیه دماتولوله پاره یادتهذیب نفس له پاره ده،اوموږ دعلم په ذریعه دا تهذیب حاصل کړی دی.....

اوځینې دتهذیب نه مخکې تیرشي اودګستاخي اوټوکو کلمات وایي مثلاً:روژه دې هغه کس نیسي چاکره چې څه دخوراک نه وي،یا ورورره! موږ خوځان له لوږې نه شو وژلی ، نودا دواړه فریقه دروژې دفرضیت نهدانکار په وجه دکافرو په زمره کې داخل دي،دلومړي فریق قول محض ایمان ماتوونکی دی،اوددویم ایمان ماتوونکی هم اوزړه ماتوونکی هم دی.....

اوځینې له عذر پرته روژه نه ترک کوي مګرددې تمیزنه کوي چې دا عذر شرعاً معتبر دی اوکه نه ؟ په معمولي بانه باندې روژه ماته کړي،مثلاً: که دیومنزل سفروي روژه ماته کړي، که څه د محنت مزدوري کار وي؛نوروژه پریږدي،په یوې طریقې سره دابغیر دعذرنه روژه ماتولو والانه هم زیات قابل مذمت دی،ځکه چې دا خلک خپل ځانونه معذور اوبې ګناه ګڼي ،حالانکې هغوی شرعاً معذورنه وي ددې وجې نه ګناهګاربه وي....

د ځينو خلکو روژه نه نيول خود شرعي عذر له وجې وي، مګر د هغوی نه دا کوتاهي کيږي چې په ځينو وختونو کې د دې عذر د رفع کيدو څه وخت دورځې باقي پاتې وي، شرعاً په باقي ورځ کې د خوراک څښاک نه بنديدل واجب وي، مګر هغوی د دې پرواه نه کوي مثلاً: د شرعي سفر نه ماسپښين واپس راغی، يا زنانه ماسپښين وخت کې د حيض نه پاکه شوه، نو هغې ته تر ماښام پورې خوراک څښاک کول پکار نه دي، د دې مسائلو او احکامو علاج تعليم او تعلم دی...

ځينې خلک په خپله خو روژه نيسي، خو په بچيو باندې (باوجود د دې چې هغوی د روژې نيولو قابل وي) روژې نه نيسي، ښه پوهيدل پکار دي چې د بالغيدو نه مخکې په ماشومانو باندې روژې نيول واجب نه دي، خو د دې سره دا نه لازميږي چې د هغوی مشران د دې هم په دوی نه نيسي، څنګه چې د لمانځه له پاره د عدم بلوغ باوجود هغوی ته تاکيد کول، بلکې په نه کولو يې وهل ضروري دي؛ نو همدغه شان د روژې له پاره هم دي، فرق يوازې دومره دی چې په لمونځ کې د عمر قيد دی، او په روژه کې دارومدار په برداشت باندې دی، (چې ماشوم د روژې نيولو طاقت لري) په دې کې راز دادی چې د يو کار ناڅاپه پابنده کيدل ګران وي؛ نو که د بالغيدونه وروسته تمام احکام شروع شي؛ نو په يو ځای پرې زيات بوج راپريوځي، د شريعت رحمت دادی چې د مخکې نه په مزه مزه د ټولو کارونو عادت جوړولو قانون يې مقرر کړی دی.

ځينې خلک په نفس روژه کې خو کمی زياتی نه کوي، خو روژه يوازې د صورت نوم ګڼي او د سهار نه واخله تر ماښام پورې (د خېټې او شرمګاه) بندساتلو باندې اکتفا کوي، حالانکې د روژې نفس صورت په مقصود کيدو سره څه نور حکمتونه هم دي، د کومو په باره کې چې په قرآن پاک اشاره، بلکې صراحت شوی دی چې: **لعلكم تتقون**...، دا ټول نظرانداز کوي او خپله روژه، محض جسد بې روح، جوړ کړي، خلاصه د دې حکمتونو د ګناهونو او منهياتو نه منع کيدل دي؛ نو ظاهره ده چې اکثر خلک په روژه کې د ګناهونو نه بچ کيږي، که د غيبت عادت پکې و؛ نو هغه بد دستور په کې وي، که د بدنګاهۍ عادي و، نو نه يې پريږدي، که د حقوق العباد په کوتاهيو کې راګير و، نو د هغې صفايي نه کوي، بلکې د ځينو ګناهونه خو پکې زيات شي، چېرته په دوستانو کې کښني چې روژه به لنډه کړو، او خبرې شروع کړي چې په هغې کې زياته برخه د غيبت وي، يا چوسر، ګنجفه، تاش، هارمونيم، ګراموفون را واخلي او ورځ پرې تېره کړي، نو د دې روژې نه څه فائده حاصله شوه؟ دومره خبره يې په عقل کې نه راځي چې خوراک څښاک چې فی نفسه مباح دي، کله چې هغه په روژه کې حرام شو؛ نو غيبت او نور ګناهونه چې په خپله هم حرام دي په روژه کې به څومره سخت حرام وي؟ په حديث شريف کې دي چې: کوم کس چې بدګفتاري او بدکرداری پرې نږدي، د الله تعالی په دې هيڅ پرواه نشته چې هغه خپل خوراک څښاک پريږدي..، د دې نه څوک دا ګڼي چې روژه بالکل ونه شوه لهذا د نيولو يې څه فائده؟ روژه خو به وشي، خو دا دنی درجې به وي.

لکه څنګه چې شل، ګوډ، ګنجی، کوڼ بنده، بنده خووي، مګر ناقص وي، لهذا روژه نه نیول ددې نه هم سخت دي، څکه چې دذات سلب کول دصفاتو دسلب کولو نه زیات سخت دي.

بیا حضور ﷺ دروژې د خرابولو ګناهونو (غیبت وغیره) نه ډېچ کیدوتدبیرهم ښودلی دی چې یوازې په درې خبروباندې مشتمل دی، اوپه دې باندې عمل کول هم ډیراسان دي.

,,دخلکونه بغیردضرورت نه تنهااوخائنته اوسیدل، په څه ښه شغل مثلا تلاوت وغیره کې مشغولیدل، اونفس پوهول، یعنې وخت په وخت ددې خیال ساتل چې په لږ شان خوندکې دسهارنه واخله ترماښام پورې خپل مشقت ولې برباد کړم؟ اوتجربه ده چې نفس په غلولوباندې ډیرپه کار راځي، نونفس دې داسې وغولوي چې تریوې میاشتې پورې ددې خبروپابندي وکړه بیابه ګورو، بیا داهم تجربه ده چې په کوم اندازباندې بنده څومره پاتې وي، هغه ورته آسان شي، خاص کراهل باطن ته درمضان په میاشت کې داحالت زیات آسان وي چې په میاشت کې یې کوم نیک عملونه کړي وي نوټول کال هم ورته دهغو توفیق ملاویږي...،

د رمضان المبارک تر ټولو غوره عبادت

سوال: په رمضان المبارک کې ترټولو غوره عبادت کوم یو دی؟

جواب: په رمضان المبارک کې روژه خوفرض ده، او رمضان کې په اعمالوکې تر ټولو افضل عمل تلاوت دی، چونکې دقرآن پاک نزول په رمضان کې شوی دی، ددې وجې نه ددې تلاوت دټولونه اهم عبادت دې، ددې نه علاوه دالله تعالی د ذکر او استغفارکثرت کول پکار دي، د صلواة التسبیح اوتهجدودلمونځ هم اهتمام کول پکاردي.

د رمضان المبارک مسنون عبادتونه

سوال: درمضان په میاشت کې دورځې اوشپې کوم داسې عبادتونه دي چې حضور ﷺ کړي دي اوپه کوموچې موږ ته دعمل کولوتاکید شوی دی.؟

جواب: تراویح، تلاوت کلام پاک، تهجداوصدقه خیرات، ددې اهتمام کولو ترغیب ورکړل شوی دی.

په رمضان المبارک کې د سرکشه شیطانانو قید کیدل

سوال: دروژې په میاشت کې دالله تعالی په حکم سره شیطانان قید کړل شي اواوریدلي مودي چې بیادرمضان نه وروسته ازادیږي اوپه دنیا کې نازلیږي، خو سوال دادی چې: مثلاپه ځینو ملکونو کې رمضان مخکې ختم شي (لکه څنګه چې اکثردپاکستان نه مخکې په عرب ملکونوکې) نو آیاهلته بیادهغه ځای د شیطانانوله پاره سرحدونه خلاص شي، اوپه پاکستان کې شیطانان دهغه ملکونونه دوه ورځې وروسته داخلیږي؟ یا دشیطانانو د پریښودو او قیدولو څه سستیم دی؟

جواب: چېرته چې رمضان المبارک وي، هلته به سرکشه شیطانان په قید کې وي اوچېرته چې ختم شي؛ نوهلته به پابندي هم ختمه شی،په دې کې شک څه دی؟

❖ رویت هلال ❖

په خپله میاشت لیدوسره روژه و نیسو، اختر وکړو که په رویت هلال کمیټی اعتماد وکړو

سوال: په موجوده دورکې چې سائنس ته فوقیت حاصل دی،درویت هلال کمیټی په اعلان باندې عموماً درمضان المبارک روژې نیول کیږي اواخترکیږي.ددې شرعي حیثیت څه دی؟روژه دې ونیول شي اوکه نه؟ اخترو‌کړل شي او که نه؟هرکله چې په صحیح حدیث کې راغلي دي چې:دمیاشت لیدوسره روژه ونیسه او میاشت لیدوسره اخترو‌کړه،پوښتنه داده چې ایاد‌کمیټی په اعلان باندې روژه نیول اواخترکول واجب دي؟

جواب: ظاهره ده چې دحدیث مطلب خودانه دی چې هرکس دې میاشت وګوري اوروژه دې ونیسي اودمیاشت په لیدوسره دې اخترو‌کړي، بلکې دحدیث نه مراددادي چې درویت په ثبوت سره به رمضان او اختروي،[1] رویت هلال کمیټی که شرعي قواعدومطابق دسپوږمۍ درویت اعلان وکړي ،عوامو ته به ددوی په اعلان باندې روژه یا اخترکول وي،باقي رویت هلال کمیټی په اهل علم باندې مشتمله ده، دوی دثبوت رویت مسایلوباندې زموږ نه زیات ښه پوهیږي، ددې وجې نه موږ ته په دوی باندې اعتمادکول پکار دي.[2]

د رویت هلال کمیټی فیصله

سوال: دموجوده رویت هلال کمیټی فیصله دمیاشت په باره کې خاص کرپه رمضان اواخترونوپه باره کې چې په ریډیواوټیلي ویژن باندې نشرکیږي دپوره ملک پاکستان له پاره واجب العمل ده، یاڅه برخه ددې خارج ده،اودموجوده رویت هلال کمیټی ارکان دجناب په نزدمعتبردي او که نه؟

---

[1] اویثبت رمضان برؤیة هلاله اوبعد شعبان ثلاثین یومًا لحدیث الصحیحین صومو لرؤیته وافطروا لرؤیته فان غم علیکم فاکملوا عدة شعبان ثلاثین یومًا (البحر المرائق ج:۲ص:۲۸۳ ،کتاب الصوم)۔

[2] واما فی السواد اذا رای احدهم هلال رمضان یشهد فی مسجد قریته وعلی الناس ان یصوموا بقوله بعد ان یکون عدلاً اذا لم یکن هناک حاکم یشهد عنده کذافی المحیط –(هندیة ج:۱ص:۱۹۷)۰وفی البحرالرائق :لواخبر رجل عدل القاضی بمجیی رمضان یقبل ویامرالناس بالصوم یعنی فی یوم الغیم ولا یشترط لفظ الشهادة وشرائط القضاء اما فی العید فیشترط لفظ الشهادة –(البحر الرائق ج:۲ص:۲۸۳،کتاب الصوم)۔

جواب: ترڅو پورې چې ماته معلومه ده چې د رویت هلال فیصله د شرعي قواعدو مطابق کیږي، او دا د پوره ملک له پاره واجب العمل ده او ترڅو پورې چې دا کار لائق لاسونو کې وي او هغوی د شرعي قواعدو مطابق فیصلې کوي؛ نو د هغوی په اعلان باندې عمل کول لازم دي.[1]

د رویت هلال مسئله

سوال: .موږ هم دا لوستلي او اوریدلي دي چې میاشت لیدو سره روژه شروع کړئ او میاشت لیدو سره بنده کړئ او دیو بزرګ صاحب شریعت نه مو اوریدلي دي چې کوم خلک صائم الدهر وي، یعنی همیشه روژې نیسي، په هغوی هم په کال کې پنځه ورځې روژې حرامې دي: د عیدالفطر روژه، او دذی الحجې د ۱۰، ۱۱، ۱۲، ۱۳تاریخ روژې،او دعامو خلکو له پاره دا هدایت دی چې د شعبان په ۲۹ ، ۳۰دې روژه نه نیسي،چې د رمضان د روژو سره د دې اتصال و نه شي، خو همیشه په مردان او پیښور صوبه سرحد کې په اکثر اضلاع کې یوه ورځ مخکې روژه شروع کیږي،حالانکې هلته هم رویت هلال کمیټۍ قائمې دي او دهیڅ یو ځائې نه تصدیق نه وي شوی ،چې میاشت لیدل شوې ده او کله چې دهغوی سره خبره کوې نو دا جاهلانه جواب ملاویږي چې تاسو(۲۹)روژې ونیولې اوزموږ (۳۰)روژې پوره شوې.

جواب: په مردان وغیره علاقو کې یوه ورځ مخکې څنګه رویت کیږي دا معما زموږ په پوهه کې رانغله، په هرحال کله چې په ملک کې رویت هلال کمیټۍ مقرر ده او په سرکاري طور سره مرکزي رویت هلال کمیټۍ ته د میاشت د ښکاره کیدو یا نه کیدو د فیصلې اختیار ورکړل شوی دی؛ نو د مرکزي رویت هلال کمیټۍ د فیصلې خلاف د هیڅ یو عالم فیصله شرعي حجت نه دی،د دې وجې نه د دې علاقو د خلکو فرض دي چې د مرکزي رویت هلال کمیټۍ د فیصلې پابندي وکړي او که په دغه علاقو میاشت په نظر راشي نو باضابطه شهادت دې مرکزي رویت هلال کمیټۍ یا د هغهٔ نامزد کړل شوې نمائندګۍ په وړاندې پیش کړي او د هغوی د فیصلې پابندي دې کوي.

د سپوږمۍ په رویت کې د مطلع فرق

سوال: د درس په وخت کې استاد محترم (مرحوم) د سپوږمۍ په باره کې مسایلو وضاحت په حواله د معتبرو کتابو نو لاندې ذکر شوی بیان کړی دی، هغه وفرمایل:

۱:.......وشرط مع غيم للفطر نصاب الشهادة لا الدعوى (ولا عبرة لاختلاف في المطالع)

۲:.......ويلزم حكم اهل احدى البلدتين لاهل بلدة آخرى.

۱] فيلزم اهل المشرق برؤية اهل المغرب اذا ثبت عندهم بطريق موجب كما مردرمختار، وفي الشامية :قوله بطريق موجب كان يتحمل اثنان الشهادة اويشهد على حكم القاضى اويستفيض الخبر.....الخ (شامي ج:۲ص:۳۹٤)۔

٣:.. وجه قول المعتبرين ان سبب الوجوب وهو شهود الشهر لم يوجد فى حقهم .فلا يوجب وجود فى حق غيرهم.

٤:.....فقد ثبت عن النبى صلى الله عيله وسلم اجازة شهادة الواحد فى رمضان.اخرجه اصحاب السنن.وفى سنن الدارقطنى بسند ضعيف ان رسول الله صلى الله عليه وسلم كان لايجزى فى الافطار الا شهادة الرجلين.

ترجمه:١...كه مطلع ابرالود وي،نو دعيد الفطر دمياشت له پاره نصاب شرط دى،مګر دعوى شرط نه ده.او داختلاف مطالع هيڅ اعتبار نشته.

٢:....او ديو ښار د فيصلې پابندي د دويم ښار والو باندې هم لازم ده.

٣...كوم حضرات چې د اختلاف مطالع اعتبار كوي،د هغوى دليل دا دى چې دروژې دواجبيدو سبب درمضان راتګ دى،او هغه (د اختلاف مطالع دوجې نه) دنورو خلكو په حق كې نه دى موندل شوى،لهذا ديو مطلع مياشت په نظر راتلل،د دويم مطلع د هلال رمضان وجود نه ثابتوي.،

۴:....چنانچې دا ثابته ده چې نبى كريم ﷺ په هلال رمضان كې ديو كس شهادت قبول كړ، دا حديث په سنن كې دي،او په سنن دارقطنى كې په ضعيف سند مروي دى،چې حضور ﷺ به په عيد الفطر كې يوازې د دوو كسانو شهادت قبول مانه..،

،پورتني بيانات صحيح دي كه غلط؟ دمياشت دمتعلقه اعلان معتبر او غير معتبر كيدو په باره كې په حواله دبياناتو دكتب معتبره او مستندو وضاحت وفرمايئ؟ستاسو فتوى زمونږ له پاره دسند حيثيت لري.او ددې نه مخكې هم غير معترضانه او غير معروف طريقې باندې ډير متنازع فيه مسايلو په حل كې ستاسو نه استفاده شوې ده او ستا فتوي په هرلحاظ سره قابل عمل ګرځول شوې ده.

جواب: تاسو چې كوم عبارتونه ليكلي دي، هغه صحيح دي،خو ډير زيات مجمل مونقل كړي دي، زۀ ددې متعلقه مسايلو په آسان الفاظو كې وضاحت كوم:

١:....كه مطلع صفاوي،او په مياشت ليدو كې څه شى مانع نه وي، نو درمضان او اختر دواړو مياشت ليدو له پاره دګڼو كسانو شهادت ضروري دى،چې دهغوى خبر سره قريب قريب يقين وشي چې مياشت ليدل شوې ده[1]خو كه يوثقه مسلمان دبهرنه راغلى وي او چېرته داوچت ځاى نه راغلى وي نو درمضان دمياشت په باره كې به دهغه شهادت قبليږي.[2]

١]وان لم يكن بالسماء علة لم تقبل الاشهادة جمع كثير يقع العلم بخبر هم وهو مفوض الى راى الامام من غيرتقدير وهو الصحيح كذافى الاختيار شرح المختار (هندية ج:١ص:١٩٨، الباب الثانى فى روية الهلال)__

٢] وذكر الطحاوى انه تقبل شهادة الواحد اذاجاء من خارج المصروكذا اذا كان على مكان مرتفع كذا فى الهداية (هندية ج:١ص:١٩٨،الباب الثانى فى روية الهلال،وايضًا فى الدرالمختارمع ردالمحتارج:٢ص:٣٨٥ تا ٣٨٧)

۲:.....که مطلع ابرآلود یا غبار آلود وي؛ نودرمضان دمیاشت له پاره یوازې دیومسلمان خبرکافي دی، چې هغه میاشت لیدلې ده، خو داخترد میاشت له پاره شرط دادی چې دوه سړي یایوسړی او دوه ښځې ګواهي ورکړي چې هغوی په خپله میاشت لیدلې ده اوداهم په کې شرط دی چې دا ګواهان به د ,,اشهد،،لفظ سره ګواهي ورکوي،یعنې څنګه چې په عدالت کې ګواهي ورکول کیږي هماغه شان دې دلته هم داالفاظ ووایي چې: زه ګواهی ورکوم چې مامیاشت لیدلې ده،،کله پورې چې نصاب شهادت(دوه عادل ثقه مسلمانان سړي،یا یوسړی اودوه ښځې ګواهي ورکړي) اوپه لفظ شهادت سره ګواهی ورنکړي؛ نوداخترمیاشت به نه ثابتیږي.[۱]

۳:....کله چې په یوښارکې دشرعي شهادت سره رویت ثابت شي،نود نورو ښارونوپه حق کې به دارؤیت واجب العمل وي اوکه نه؟

په دې ضمن کې په دریواصولوباندې پوهیدل ضروري دي:

۱: شهادت علی الشهادت:یعنې په دویم ښارکې دوه عاقل اوبالغ عادل مسلمانان ددې ګواهي ورکړي چې په فلاني ښارکې زموږ په وړاندې دوعاقلواوبالغوعادل ګواهانودرؤیت ګواهي ورکړه.

۲: شهادت علی القضاء:یعنې په دویم ښارکې دوه عاقل عادل مسلمانان داګواهی ورکړي چې زموږ په وړاندې په فلاني ښارکې قاضي درؤیت کیدوفیصله وکړه.

۳: تواتر او استفاضه:یعنې په دویم ښارکې متفرق ډلې راشي اوبیان وکړي چې په فلاني ښار کې رؤیت شوی دی اوداډلې دومره زیاتې وي چې دهغه ښاردحاکم بالکل یقین وشي چې واقعي په فلاني ښارکې میاشت لیدل شوې ده.

که په دې دریوطریقوکې په یوه طریقه هم دیوښار رؤیت په دویم ښارکې ثابت شي: نوددویم ښاروالوپه حق کې به دارویت حجت وي.[۲]

دویم اصل دادی چې دیوقاضي فیصله یوازې دهغه دزیر ولایت علاقواوښارونوپه حق کې حجت دی،کومې علاقې اوښارونه چې دهغه زیرولایت نه دي په هغو کې به ددې قاضی

۱] لواخبر رجل عدل القاضی بمجیی رمضان یقبل ویامرالناس بالصوم یعنیٰ فی یوم الغیم ولا یشترط لفظ الشهادة وشرائط القضاء امافی العید فیشترط لفظ الشهادة (البحرالرائق ج:۲ص:۲۸۳) ایضًاوان کانت السماء متغیمة تقبل شهادة الواحد بلاخلاف بین اصحابنا ......الخ (وبعد اسطر) واما هلال شوال.....وان کان بالسماء علة فلا تقبل فیه الاشهادة رجلین اورجل وامراتین ......الخ (البدائع الصنائع ج:۲ص:۸۱ وایضًافی الهندیة ج:۱ص:۱۹۸)

۲] فیلزم اهل المشرق برؤیة اهل المغرب اذا ثبت عندهم بطریق موجب کان یتحمل اثنان الشهادة اویشهد علی حکم القاضی اویستفیض الخبر...الخ (شامی ج:۲ص:۳۹٤،اختلاف المطالع ،وایضًافی الهندیة ج:۱ص:۱۹۹)

فیصله نافذ العمل نه وي،خو که د درست ثبوت نه مطمئن کیدو سره د بل ښار یا علاقې قاضي هم درؤیت فیصله وکړي؛ نو دهغه په زیرحکم علاقوکې به هم رؤیت ثابت شي.[۱]

دریم اصل دادی چې په کومو علاقوکې د مطالعو د اختلاف فرق نشته،په هغو کې دیوښار رویت دبل ښاروالوپه حق کې لازم العمل کیدل،دپورتنودواړواصولومطابق که به بل ښار کې رؤیت ثبوت ته رسیدلی وي،دټولوپه نزدمتفق علیه دی،په دې کې دهیڅ اختلاف نشته،خو کوم ښارونه چې دیوبل نه دومره لرې پراته وي چې ددواړوپه مطالعوکې اختلاف شته، په داسې ښارونوکې به دیورویت دبل په حق کې لازم وي اوکه نه؟

په دې کې ظاهرمذهب دادی چې داختلاف مطالع هیڅ اعتبارنشته.ځکه که د دوه ښارونو په مینځ کې دمشرق اومغرب فاصله وي؛ نوبیاهم دیوښاررؤیت دبل په حق کې حجت لازمه دی،په شرط ددې چې ثبوت شرعي طریقې سره وشي،همدغه دمالکیه،او حنابله مذهب دی، خو ځینومتاخرینودا اختیارکړی دی چې چېرته دمطالع داختلاف فرق واقعي دی، هلته شرعاً هم اعتبارکیدل پکاردي،دحضراتوشافعیه ووهمدغه قول دی،خو فتوی په ظاهرمذهب باندې ده چې داختلاف مطالعوقطعاً اعتبارنشته، نه په بلادقریبه کې اونه په بلادبعیده کې.[۲]

د رویت هلال کمیټې ناوخته د میاشتې لیدو اعلان کول

سوال: تاسوته پته ده چې داخل رویت هلال کمیټې تقریباً دشپې یولس نیمې بجې درمضان مبارک دمیاشتې دلیدواعلان وکړ،هرکله چې د ابادي زیاته برخه دماسخوتن دلمانځه نه وروسته په اطمینان سره ویده شوي وو چې میاشت ونه لیدل شوه،یادساتئ چې په کراچۍ د میاشت دلیدو هیڅ اطلاع نه وه راغلې،دغه شان په زرګونوکسانو نه خو دتراویحولمونځ ادا کړای شواونه یې سهار روژه ونیولای شوه،په دې سلسله کې ستاسونه دلاندینو سوالاتو شرعي جوابات معلومول غواړم:

۱] ولوشهدوا ان قاضی بلدة کذا شهد عنده اثنان برؤیة الهلال فی لیلة کذا وقضی بشهادتهما جازلهذا القاضی ان یحکم بشهادتهما لان قضاء القاضی حجة وقدشهدوا به ......الخ (هندیة ج:۱ص:۱۹۹،الباب الثانی فی رؤیة الهلال)

۲] قال فی التنویر:واختلاف المطالع غیرمعتبرعلی المذهب وقال فی العلائیة :وعلیه اکثرالمشائخ وعلیه الفتوی بحرعن الخلاصة وفی الشامیة:وانما الخلاف فی اعتباراختلاف المطالع بمعنی انه هل یجب علی کل قوم اعتبارمطلعهم ولا یلزم احدالعمل بمطلع غیره ام لا یعتبر اختلافها بل یجب العمل بالاسبق رؤیة حتی لو رؤی فی المشرق لیلة الجمعة وفی المغرب لیلة السبت وجب علی اهل المغرب العمل بما رآه اهل المشرق فقیل بالاول... واعتمده الزیلعی وصاحب الفیض وهوالصحیح عندالشافعیة لان کل قوم مخاطبون بما عندهم ......وظاهر الروایة الثانی وهوالمعتمدعندنا وعندالمالکیة والحنابلة......الخ، شامی ج:۲ص:۳۹۳،کتاب الصوم ،مطلب فی اختلاف المطالع، ایضاًفی الهندیة ج:۱ص:۱۹۹)۔

سوال: ...دومره ناوخته دشپې دمیاشت دلیدو د اطلاع څه شرعي حیثیت دی؟

جواب: رویت هلال کمیټې ته دمخکې شهادتونه ملاویږي، بیا هغوی په دې باندې غورکوي چې دا شهادتونه داعتماد لائق دي او که نه؟ دغور او فکرنه وروسته چې هغوی په څه نتیجه باندې ورسیږي نو ددې اعلان وکړي، په دې کې کله ناکله دزیات وخت لګیدل بعید نه دي. کار ګران دی په دې باندې تنقید کول آسان وي.

سوال: ....آیا په دې صورت کې په عوامو باندې قضا روژه نیول لازم وي، هرکله چې هغوی دا روژه قصداً نه وه پریښې ،یا په حکومت وقت باندې ددې روژې کفاره اداکول واجبیږي؟

جواب: ....کله چې خلکو ته درویت هلال دفیصلې پته ولګیږي نو په هغوی باندې روژه نیول لازم دي او کوم خلکو ته چې پته ونه لګیږي هغوی دې دروژې قضا راوړي، کومه روژه چې پاتې شي دهغې کفاره نه وي، یوازې قضاوي، حکومت باندې قضا نه شته.[۱]

د قمري میاشتې په تعین کې رؤیت شرط دی

سوال: مختلف مذهبي اوغیرمذهبي تنظیمونه دروژه ماتي او پیشمني نظام الاوقات په سائنسي طریقې سره حاصل کړل شوي وختونه شائع کوي او ثواب ګټي، دې حساب سره پیشمني او روژه ماتي کیږي، ایا په سائنسي طریقې سره دنوې میاشت دراختلو وخت تسلیمول شرعا منع دي؟ اوکه نه دي؛ نو بیا دسائنس په حساب سره دهرې میاشتې شروع ولې نه کیږي؟ اوکه کېدلی؛ نو تیر کال به په سعودي عرب کې د۲۸ ورځو میاشت نه وه.

جواب: دقمري میاشت شروع کیدل په میاشت لیدو باندې موقوف دي، دفلکیاتو دفن نه په دې کې دومره مدد خواخیستل کیدای شي چې نن دمیاشت راختو امکان شته اوکه نه؟ مګر ترڅو پورې چې د رؤیت په ذریعه دمیاشت دراختو ثبوت ملاونه شي، یوازې دفلکیاتو په حساب سره دمیاشتې دراختو فیصله نه شي کېدای، مختصر دا چې د میاشتې راختو اعتبار په رؤیت سره دی دفلکیاتو دحساب اعتبار پرته درؤیت نه نه دی.[۲]

ایا رؤیت هلال کمیټې د سپوږمۍ صحیح فیصله نه شي کولی؟

سوال: په یوه انګریزي اخبار کې دیو صاحب یو خط شائع شو چې په هغه کې دوی لیکلي و چې ۲۹ شوال ۱۴۱۸ هـ د مطلع د خرابیدو له وجې د ذوالعقدې میاشت په نظر رانه غله، خو بله

۱] واذاصام اهل مصرشهررمضان علی غیر رؤیة ثمانیةً وعشرین یومًاثم راو هلا ل شوال ان عدو شعبان برؤیته ثلاثین یومًاولم یرو هلا ل رمضان قضوا یومًاواحدًا (هندیة ج:۱ص:۱۹۹،الباب الثانی فی رؤیة الهلال)

۲] قوله ولاعبرة بقول الموقتین ای فی وجوب الصوم علی الناس بل فی المعراج لایعتبرقولهم بالاجماع ولایجوز للمنجم ان یعمل بحساب نفسه...الخ (شامی ج:۲ص:۳۸۷،کتاب الصوم ،مطلب لاعبرة بقول الموقتین فی الصوم)

ورځ په ۳۰ شوال باندې د لمر د غروب نه ۳۵ منټ مخکې میاشت صفا په نظر راتله ددې مطلب دا شو چې تېره ورځ د ذوالقعدې لومړی تاریخ و، دا خبره زما په ذهن کې ډېره اهمه ده، رؤیت هلال کمیټی په بله ورځ ۲۹ باندې میاشت په نظر د نه راتلو په صورت کې ۳۰ باندې هم نښت کول پکار دي دا حل مناسب په نظر راځي، د کوم شي له طرف نه چې دې صاحب خپل خط ته نشاندهي کړې ده ددې څه حل پکار دی؟ زما تاسو ته درخواست دی چې تاسو د یو عالم په حیثیت باندې د رؤیت هلال کمیټی چیئرمین ته خط ولیکئ، ځکه چې د یو عام سړي په مقابله کې تاسو په عالمانه ډول ده ته خط لیکلی شئ.

جواب: د قمري میاشتو اعتبار د سپوږمۍ په لیدو سره ده، په ټول ملک کې سپوږمۍ په نظر رانغله له دې وجې یوازې په خپل قیاس او اندازې سره نوې میاشت نه شي شروع کیدای، باقي رؤیت هلال کې د هرمکتب فکر علماء شامل دي او هغه حضرات د علم او د فهم په اعتبار سره زموږ نه فائق دي، له دې وجې دوی ته مشوره ورکولی شم؟ ګني: نو د «حکمت بلقماني اموختني» مضمون به صادق راځي.

ایا په رؤیت هلال کې په فلکیاتو باندې اعتماد کیدای شي؟

سوال: رویت هلال کامسئله، په عنوان سره د مولانا محمد جعفر پهلواري یو مضمون په اپریل ۱۹۲۷ کې په ماهنامه، ثقافت، لاهور کې چاپ شوی و، چې اوس دابتدایي تعارفي نوټ داضافې سره اداره ثقافت اسلامیه، کلب روډ لاهور، ذکتابچې په شکل کې د، رویت هلال، په نوم سره شائع کړی دی، ایاستاسو په نزدباندې دجناب پهلواري صاحب تحقیق داعتماد وړدی؟ نوردا چې درؤیت هلال به باره کې تاسو د هغوی دموقف سره اتفاق کوئ؟ او که نه؛ نو ولې؟ مدلل یې تحریر کړئ!

جواب: دموصوف مولانا درؤیت هلال موقف اودهغوی داستدلال وړاندې نظر ستاسو د سوالونو مدلل جواب درکولو کوشش کوم:

موصوف ددې کتابچې موضوع دابنودلې ده چې: درؤیت هلال حکم په فن فلکیات باندې اعتماد کولو سره هم پوره کیدای شي.،

موصوف دخپل بحث اغاز دحضور ﷺ ددې ارشاد پاک نه کړی دی:

صوموا لرؤيته وافطروا لرؤيته فان غم عليكم فاقدروا له... (رواه الستة الاالترمذی)

ترجمه: دسپوږمۍ په لیدو سره روژه نیسئ او دسپوږمۍ په لیدو سره افطار (اختر) کوئ او که مطلع غبارالود وي؛ نو اندازه کوئ.،

دموصوف خیال دی چې دلته که درؤیت دمعنا وضاحت وشي؛ نو مسئله ترډېره حده پورې صفا کیدای شي.، هغه د«المنجد، اقرب الموارد، البستان، القاموس، لسان العرب، منتهي الارب اومفردات» وغیره حوالو سره دې نتیجې ته رسیدلی دی چې:

په دې کې شک نه شته چې درؤیت حقیقي معنا دسرپه ستر ګو باندې لیدل دي، خو په نورو مجازي معناووکې هم ددې استعمال په کثرت سره شوی دی..... ددې له وجې ګویادرؤیت معنا ،،علم کیدل،، دي، څه دیرش ځلوېښت ځایه په قرآن پاک کې هم دلفظ رؤیت استعمال دحقیقي معنا نه پرته په مجازي معناکې شوی دی.

ددې له وجې دفاضل مؤلف په نزد ،،رؤیت هلال دسرپه ستر ګوسره لیدل مخصوص کولوڅه خاص معقوله وجه نه معلومیږي،، بلکې دهغه په رایه: په فن فلکیات باندې اعتمادکولوسره هم هغه خپل ایمان محفوظ ساتل کیږي،،

دلته داسوال پیداکیږي که رؤیت هلال ته دسرپه ستر ګوسره مخصوص کول دموصوف په نزد ،،غیرمعقول،،دي؛ نو ایا دې طرز فکر ته به معقول وویل شي، چې کوم کس دلغت کتابونه را واخلي اودادعوه وکړي چې دفلاني لفظ دحقیقي معنا نه پرته ګڼ شمیرمجازي معناګانوله پاره هم راځي، ددې له وجې عرفا اوشرعا ددې نه چې کومه حقیقيْ معنا اخیستل کیږي، هغه صحیح نه ده، بلکې ،،غیرمعقوله ده،، مثلاً د(ضرب)لفظ دلغت مطابق د پنځوسو شپیتو معناګانو له پاره راځي، ددې له وجې نه (ضرب زید عمروا) دجملې په عرف عام کې چې کومه معنا اخیستل کیږي (یعنې زید عمر ووهلو) هغه غیرمعقول اوغلط دی، ایادې ته صحت مندانه استدلال ویل کیدای شي؟ اوایا دااندازفکراو طرزاستدلال داهم ترین مسایلودصحیح حل طرف ته راهنمایي کولی شي؟له دې خبرې نه چاته انکاردی چې درؤیت دلفظ دحقیقي معنا نه پرته دمختلفو قرائنو په مددسره، په نورومجازی معناګانوکې هم استعمالیږي، مګردرؤیت هلال په حدیث کې دالفظ په کومه معنا کې استعمال شوی دی، ددې له پاره دلغت دکتابوبوج راوچتلوپه ځای له ټولونه مخکې په دې سلسله کې تمام احادیث مخې ته کېښودل اوداکتل پکاردي چې حضور ﷺ دا لفظ په کوم سیاق اوسباق اودڅه معنا له پاره استعمال کړی دی؟ بیاداکتل و چې صحابه وو(رضي الله عنهم)، تابعینو اوائمه مجتهدینو (رحمهم الله، له دې نه کومه معنا مراداخیستې ده؟ امت اسلامیه دقرن بعدقرن نه څه مراد اخیستي دي اوپه عرف عام کې دمیاشتې لیدو څخه څه معنا اخیستل کیږي؟

دلغت نه فایده اخیستل څه ممنوع کارنه دی، بلکې ډیره ښه خبره ده، دیوې ژبې په مشکلاتو کې هم دلغت نه مدد اخیستل کیږي اودیوغیرمعروف لفظ دتحقیق له پاره هرکس ته هروخت دډکشنري دخلاصولوحق حاصل دی، خوکوم الفاظ چې دخاص اوعام په ژبه وي، معنایې دعام نه عام کس پیژني اوروزمره په خبرواتروکې خلک په سوونوځله هغه استعمالوي اوددې له پاره دډکشنري دحوالې لټول څه فائده بخش کارنه دی، بلکې کیدای شي چې داهل علم په نزد، دابې معنا مشغله، بې سوده کوشش اوډبې کاره حرکت نوم ورکړل شي، که یو دانشمن دلغت کتوپه شوق کې دلغت دمجازي معناګانوپه منطق کې شرعي اوعرفي معناګانې غیرمعقولې وګرځوي؛ نو دداسې کس له پاره په ډکشنري کې چې کوم لفظ جوړ

شوی دی له هغه نه ټول خلک خبر دي.

داهم که د روایت په شان معروف او عام لفظ له پاره، د کتاب د خلاصولو، ضرورت او افادیت ومنل شي؛ نو ددې څه توجیه کیدای شي چې د رؤیت د، اووه، معنا ویستلو په وخت کې فاضل مولف د لغت نه هم صحیح استفاده کړې نه ده او نه یې هغه قواعد ضروري ګڼلي دي، چې ائمه لغت د، رؤیت، د مواقع د استعمال په سلسله کې ذکر کړي دي.

ځکه چې موصوف د لغت په مددسره د رؤیت اووه معناوې راویستلې دي چې ګویا د رؤیت معنا ده پته لګیدل، ګویا اهل لغت چې ددې معنا اوددې د موقع استعمال د کوم تفصیلي بیان سردردي اخیستې ده، هغه ټول فضول ده، ددې ټولې سردردي یوازې دومره فائده را او وته چې د رویت معنا ده، علم کیدل، هرکله چې هغه هم په دې کتابونوکې موجود دي، د کوموحواله چې موصوف ورکړې ده. مثلاً لفظ رؤیت، مفعول واحد له طرف نه متعدي وي؛ نو هلته ترې عیني رؤیت یعنې د سرپه سترګو لیدل مراد اخیستل کیږي او کله چې د دوو فعلونو طرف ته متعدي وي؛ نو ددې معنا به وي، پوهیدل، معلومول، په صحاح جوهري، تاج العروس او لسان العرب کې دي:

الروية بالعين تتعدى الى مفعول واحد وبمعنى العلم تتعدى الى مفعولين. (الصحاح للجوهري :٦ ص:٢٣٤٨، تاج العروس للزبيدي ج:١٠ ص:١٣٩ لسان العرب لابن منظور الافريقي مادة:راى)

ترجمه: که د رؤیت نه مراد رویت بالعین وي؛ نو رؤیت دیو مفعول طرف ته متعدي وي او که د رؤیت معنا د علم وي؛ نو هغه به د دو مفعولو له طرف نه متعدي وي.،

همدغه شان په منتهی الارب کې دي:

،، رؤیت: دیدن بچشم، واین متعدي بیک مفعول است، ودانستن، واین متعدي بدو مفعول.، (منتهی الارب ص: ٦٢٤، عبدالرحیم بن عبدالکریم صفی پوری)

صراح کې دي: **راى روية: دیدن بچشم متعد الی مفعول ودانستن متعد الی مفعولین.** (الصراح من الصحاح ص:٥٥٩)

یاداچې د رؤیت په باره کې څه محسوس او مشاهد شی وي، هلته ترې حسي رؤیت مراد وي، یعنې د سرپه سترګو سره لیدل او کله چې ددې باره کې څه شی نه وي؛ نو هلته وهمي، خیالي، یاعقلي رؤیت ترمراد وي، د امام راغب اصفهاني رحمه الله په **المفردات فی غریب القرآن** :کې دي:

ذٰلک الضرب بحسب قوی النفس الاولی بالحاسة ومایجری مجراها....الخ.

عجیبه اتفاق دی چې د اعبارت فاضل مولف هم نقل کړی دی، مګر کیدای شي چې په بېړه کې په دې باندې پوهیدو کې یا ددې تفصیل ملحوظ ساتل یې ضروري نه وي ګڼلي

یا دا چې رای: د مادې نه چې کله مصدر، روية، راشي: نو ددې معنا به وي، سترګو سره لیدل، او که ،رای، راشي؛ نو ددې معنا به وي ، په زړه سره لیدل او پوهیدل.،

او که ، ،رویا، ، راشي؛ نوعموما ددې معنا وي: په خوب کې لیدل، ، او کله کله په بیداري کې په سترګوسره لیدل، په اساس البالغه کې دي

رای رایته یعنی رویة، ورایته فی المنام رؤیا، ورایته رای العین، فأرایته اراءة ورایت الهلال، فترائنا الهلال....ومن المجاز فلان یری الفلان رایا...(اساس البلاغه ص:۳۱۱ لجارالله ابوالقاسم محمودبن عمرالزمخشری)

ترجمه رای، رایته، دلیدوپه معنا راځي، څنګه چې (ورایته في المنام رویا) کې هغه په خوب کې ولیدو او (رایته رای العین) کې هغه په سترګوسره ولیدو او (فارایته اراءة) کې یې هغه ته وښود (ورایت الهلال) او ماسپوږمۍ ولیده (فتراینا الهلال) موږبل ته سپوږمۍ وښوده او مجازا ویل کیږي چې: فلاني فلاني په خوب کې لیده.

ممکنه ده چې دمواقع استعمال له پاره داکلیه نه وي، خودعربیت صحیح ذوق په دې باندې ګواه دی چې په دې کې اکثرصحیح دي، هسې هم فني قواعدعموما یوازې نه، اکثري وي، ددې دریوواړودقواعدومطابق درؤیت هلال، ،معنا دسرپه سترګوسره دسپوږمئ لیدل جوړیږي، همدغه وجه ده چې کوم ائمه لغت دحقیقي اومجازي معناګانوکې د جدا جدا استعمالولو انتظام کړی دی هغوی رؤیت هلال په حقیقي معنا، یعنې په سترګوسره دلیدو لاندې ذکرکړی دی.

همدغه شان چې کومو حضراتو، فروق الفاظ، ، اهتمام کړی دی هغوی وضاحت کړی دی چې: رؤیت هلال، ، اوتبصر، ، معنا ده دسپوږمئ لیدوله پاره افق ته په نظرسره کتل لکه څنګه چې په فقه اللغه کې دي: **فأن نظرالی افق الهلال للیلة لیراه قیل مبصر**، ،(فقه اللغة: ص:۱۰۴ ،للامام ابومنصورعبدالملک بن محمدالثعالبی)

ترجمه: که یوسړی دشپې دافق هلال طرف ته دسپوږمۍ لیدوله پاره نظراوچت کړي؛ نو هم ویل کیږي چې هغه کس سپوږمۍ لیدو والا دی.

دفاضل مولف دعلم اوتفقه پیش نظردهغوی په باره کې دبدګماني نه شي کیدای چې دا ټول اموربه دهغوی دنظرنه تیرشوي نه وي، یاداچې هغوی دائمه لغت صحیح مرادباندې پوهیدونه قاصرپاتې شوي دي، مګرحیرانیتاده چې موصوف ددې ټولوشیانونه سترګې پټې کړې دي اودې نیم ګړي خبرې پسې شوی د یچې: درؤیت لفظ دګڼ شمیرمعناګانو له پاره راځي. لهذارؤیت هلال دسرپه سترګوسره مخصوص کول غیرمعقول دي، ،کوم حضرات چې په څه موضوع باندې تحقیق له پاره قلم را واخلي اوددومره لوی پندارسره چې: موږ دچار ایې ته که هغه دهغه خپله وي یاداهل علم حرف اخرنه ګڼو، دهغوی له طرف نه کم نظري،تساهل پسندي، یادمطلب پرستي مظاهره ډیره افسوس ناکه اوتکلیف ورکونکې ده، کله چې درؤیت په شان عام اوچشم دید امورو کې زموږ دمحققینوداحال وي: نودعملي، نظري اوپیچیده

مباحثو کې د دوی نه د دقیقه رسیږي، بالغ نظري او اصابت رايې توقع فضول ده.
داخو خیر دائمه لغت تصریحات دي، دلچسپه خبره داده چې په خپله ماهرین فلکیات د چا په قول باندې چې اعتماد کول د فاضل مولف په نزد د حفاظت ایمان ذریعه ده، د هغوی په نزد هم د رؤیت هلال معنا د سر په سترګو سره لیدل مراد راځي، نور دا چې د هغوی په نزد د دې رؤیت دوه درجې دي: ١: طبیعي ٢: ارادي

که هلال دافق نه په دومره اوچت والي باندې وي چې هغه پرته د تکلیف نه ولیدل شي؛ نو هغه طبیعي رؤیت ګرځول کیږي او که په دومره اوچت والي باندې نه وي، بلکه دومره لاندې او باریک وي چې د اعلی قسم دوربین نه پرته د هغې لیدل ممکن نه وي؛ نو هغه ته د رؤیت ارادي نوم ور کول کیږي، د فلکیاتو د تصریح مطابق قابل اعتبار طبیعي رؤیت دی، نه ارادي، په مجله اسلامیه بهاول پور کې دي:

،،مراد از رؤیت طبیعي است، نه اراده که بتوسط منظارهائې جیده به بیند چې درین حالت هلال قبل ازانکه بحد رؤیت رسیده باشد ،دیده مے شود.(زیج بهادرخاني باب هفتم دررؤیت هلال ص: ٥٥٢ طبع بنارس ١٨٥٨ بحواله سه ماهي مجله جامعه اسلامیه بهاول پوري،اپریل ١٩٢٨ ص: ٥١ مقاله مولاناعبدالرشید نعماني، وماهنامه،،معارف،، اعظم ګره مارچ ١٩٢٣ص:١٨٨)

ترجمه: د رؤیت هلال نه مراد طبعي رؤیت دی، نه رویت ارادي، چې د اعلی قسمه په دوربینونو دې هلال ولیدل شي؛ ځکه چې په دې حالت کې خو هلال د حد رؤیت پورې رسیدو نه مخکې هم لیدل کیدای شي.،،

او فقهاءکرام چې د شریعت اسلامي حقیقي ترجمانان دي، هغوی هم په دې باندې متفق دي چې د حضور ﷺ د ارشاد: **صوموا الرویته وافطروا الرویته.** کې د کوم رؤیت حسي یعنې د سر د سترګو نه لیدل مراد دي.،،په بدایة المجتهد،،کې دي:

فأن النبي صلى الله عليه وسلم قد اوجب الصوم والفطر لرؤية، والرؤية انما يكون بالحس، ولولا الا جماع على الصيام بالخبر على الرؤية لبعد وجوب الصوم بالخبر بظاهر هذا الحديث.،(بداية المجتهد لابن رشد ص:٢٨٥)

ترجمه: حضوراکرم ﷺ روژه او فطر د رؤیت سره خاص کړي دي او رؤیت یوازې په سترګو سره کیدای شي او که د روژو له پاره په رؤیت باندې حدیث پاک سره سره دا مت اجماع ثابته شوې نه وي؛ نو یوازې خبر سره روژه واجب کول (د دې حدیث د ظاهر په بنیاد باندې) به مشکل وي.
او په دې باندې د ټولو مسلمانانو اجماع او اتفاق دی څنګه چې په ،،احکام القرآن،،کې دي:

قال ابوبكر: قول رسول الله صلى الله عليه وسلم :صوموا الرؤيته؛ موافق لقوله تعالى: يسئلونك عن الاهلة، قل هي مواقيت للناس والحج. واتفق المسلمون على ان معنى الاية والخبر في اعتبار

رویة الهلال فی صوم رمضان، فدل ذلک علی ان رویة الهلال هی شهود الشهر..(احکام القرآن لابی بکر الجصاص ج:۱ ص:۲۰۱ طبع ۱۳۳۵هجری)

ترجمه: ابوبکروایي چې: دحضوراکرم ﷺ ارشاد دی: صوموالرؤیته..داالله تعالی ددې قول: یسئلونک عن الاهلة قل هی مواقیت للناس والحج..موافق دی اودمسلمانانو په دې خبره باندې اتفاق دی چې ایت اوحدیث درمضان دروژوسره رؤیت هلال متعلق دی؛ نوداقول هم دې خبره باندې دلالت کوي چې رؤیت هلال نه مراددمیاشتې موجودکیدل دي،،

له دې تفصیل نه معلومه شوه چې،،رؤیت هلال،،معنا دسرپه سترګوسره لیدل قطعي ډول متعین دي اوپه دې کې دهیڅ قسمه شک اوشبهې ګنجائش نه شته اوهمدغه معنا دحضور ﷺ دزماني نه واخله تراوسه پورې اخیستل کیږي داائمه لغت تصریحاتوسره یوشان ده، همدغه دفلکیات داصطلاح مطابق ده، همدغه معنا مزاج شناسان نبوت، فقهاء کرامو له حدیث نه زده کړې ده اودڅوارلسو پیړیو امت مسلمه هم په دې باندې متفق دیی مګردفاضل مولف دې کمال ته داد ورکړئ چې هغه دډکشنرې په ورړوکي شان پوکي سره داسمان اوځمکې هرڅه الوزول غواړي ارمان چې فاضل مولف ته دادرخواست کیدای شوای دطنز او تشنیع په ډول نه، بلکې دیوازې ددیني خیرخواهي، اسلامي اخوت اواخلاص په ډول، چې تاسوپه دې مقام باندې کومه اسانه لار اختیار کړې ده، یعنې دلغت خلاصولوسره په ګڼوشمیرومعناګانې راویستل او بیا پرته له څه ویرې دهغه لفظ شرعي معنا مشکوکه کړه، دالاره چې څومره اسانه اومختصره ده له هغه نه څوچنده زیاته دخطرهم ده، ځکه چې دادتحقیق او اجتهاد طرف ته نه بلکې،ګستاخي معاف، نیغه دتلبیس اوالحادطرف ته ځي، خدای مکړه چې امت مسلمه هم دې چال روانه شوه؛ نود ملاحده ډله په دې غلط منطق سره د صوم اوصلاة، حج، زکاة اوتمام اصطلاحات شرعیه مسخ کولی شي، ویل کیدای شي چې د صلاة معنا په لغت کې داسې راځي، لهذا ارکان خصوصه سره دې ته خاص کول غیرمعقول دي، وعلی هذالقیاس ددې نه ظاهره ده چې ددې انجام په دنیاکې امن اواصلاح نه ده، بلکې انتشاراوفسادبه وي اوپه اخرت کې دارالقرار نه شته، دارالبواربه وي، الله تعالی که اهلیت درکړی وي؛ نواجتهاد ضرور کوئ، مګر دخدای له پاره اول په اجتهاداوالحادپه مینځ کې بنه فرق کوئ،! تحقیق نوی وي یازوړ، ددې حق مسلم دی، خوخدای له پاره،دتحقیق اوتلبیس دواړوحدونه جداجداکړئ.

درؤیت هلال احادیث حضرات: عمر، علي، ابن مسعود، عائشه، ابوهریره، جابربن عبدالله، عبدالله بن عمر، رافع بن خدیج اوداسې نورو... صحابه کرامو(رضوان الله اجمعین) په روایاتوسره دحدیثو په مستندو مجموعوکې موجوددي،کوم چې په دې مسئله کې دڅه صحیح نتیجې پورې درسیدو له پاره پیش نظرساتل ضروري دي، مګرموصوف دخپل خاص مقصد پټ ساتلو له پاره ددې نه د استفادې ضرورت ونه ګڼلو، یوازې دیو روایت دکوم په اخر

کې چې په جمله لږ شان اجمال بیاموندای شي، نقل کړې ده او فورا یې د لغت طرف ته مخ کړې دی، راځئ په څوروایاتو باندې نظر واچوو او بیا وګورو چې صحابه وو، تابعینو او فقهاء مجتهدینو ددې نه په څه پوه شوي دي، په صحیحینو کې دي:

۱: عن عبدالله بن عمر رضی الله عنهما! ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قال: الشهر تسع و عشرون لیلة، فلاتصوموا حتی تروه، فان غم علیکم فاکملوا العدة ثلاثین. (متفق علیه. مشکوة. ص: ۱۷٤)

ترجمه: دحضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه روایت دی چې: رسول الله ﷺ وفرمایل: میاشت دیوکم دیرشوهم وي، مګرتاسو، ،دمیاشت لیدونه پرته،، روژه مه نیسئ اوکه (یوکم دیرشمه باندې) میاشت دوریځې یا غبارله وجې په نظررانه شي؛ نود دیرشو شمار پوره کوئ،،

۲: عن عبدالله بن عمر رضی الله عنهما ان رسول الله صلی الله علیه وسلم ذکر رمضان، فقال: لا تصوموا حتی تروا الهلال، ولاتفطروا حتی تروه، فان غم علیکم فاقدرواله.،. (متفق علیه، مشکوة ص: ۱۷٤) ترجمه: دحضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه روایت دی چې: حضور ﷺ د رمضان تذکره کولوکې وفرمایل: (یوکم دیرشمه باندې) میاشت لیدونه پرته روژې نیول مه شروع کوئ او مه دمیاشت دلیدونه پرته روژې بندوئ او که دوریځې او غبارله وجې په نظررانشي؛ نو ددې له پاره (ددیرشو ورځو) اندازه ساتئ.،،

۳: کتب عمر بن عبدالعزیز رحمه الله الی اهل البصرة بلغنا عن رسول الله ﷺ... نحو حدیث ابن عمر رضی الله عنهما عن النبی صلی الله علیه وسلم زاد: وان احسن مایقدرله اذ راینا هلال شعبان لکذا وکذ فالصوم ان شاء الله لکذا وکذا الا ان یروا الهلال قبل ذلک.،. (ابوداود ص: ۳۱۸)

ترجمه: خلیفه راشد عمربن عبدالعزیز رحمه الله دبصرې والاوو ته په خط کې ولیکل چې: موږ ته دحضور ﷺ نه داحدیث رارسیدلی دی، دلته هم ددې مذکوره حدیث ابن عمر رضي الله عنهما مضمون ذکرکړ او په دې کې یې دومره اضافه وکړه اوبهترین اندازدادی چې موږ دشعبان میاشت په فلانۍ ورځ لیدلې وه؛ نوځکه (ددیرشو ورځو په حساب سره) روژه به ان شاء الله په فلاني تاریخ وي، میاشت که ددې نه مخکې په یوکم دیرشم په نظرراشي؛ نوبیله خبره ده.،،

۴: حدثنا حسین بن الحارث الجدلی......ان امیر مکة خطب ثم قال: عهد الینا رسول الله صلی الله علیه وسلم ان ننسک للرؤیة فان لم نره وشهد شاهدا عدل نسکنا بشهادتهما......ان فیکم من هواعلم بالله ورسوله منی، وشهدهذا من رسول الله صلی الله علیه وسلم واوما بیده الی رجل قال الحسین: فقلت لشیخ الی جنبی: من هذاالذی اومااليه الامیر؟ قال: هذا عبدالله بن عمر وصدق کان اعلم بالله منه، فقال: بذلک امرنا رسول الله صلی الله علیه وسلم.،،

(ابوداود ج: ۱ ص: ۳۱۹)

ترجمه: حسين بن حارث جدلي فرمايي: اميرمکه خطبه ورکړه، بيا يې وفرمايل چې: رسول الله ﷺ موږ ته تاکيدا داحکم کړی و چې موږ اختر لوی عيد يوازې مياشت ليدوسره کوو اوکه (دوريځې ياغبارله وجې) موږ ونه ليدای شو (يعنې عام رؤيت ونه شي) مګردوه معتبراوعادل ګواهان درؤيت شهادت ورکړي؛ نوموږ دهغه په شهادت باندې اختروکړو اويوبل صاحب کوم چې په مجلس کې حاضرو، دهغه طرف ته يې په لاس سره اشاره وکړه اوويې فرمايل: ستاسو په دې مجلس کې هغه صاحب موجود دی، چې دالله تعالی اودهغه درسول ﷺ احکام زما نه ښه پيژني اودحضور ﷺ کوم حکم الهي چې ما ذکرکړ دی دهغه ګواه دی، حارث وايي: ما دڅان سره نژدې ناست يوبزرګ نه پوښتنه وکړه چې: داصاحب څوک دی دچاطرف ته چې اميراشاره وکړه؟ هغه وويل چې داعبدالله بن عمر (رضي الله عنهما) دی او اميرصاحب ويلي و، دی په رښتيا دالله اود رسول ﷺ داحکامو لوی عالم و، عبدالله بن عمر (رضي الله عنهما) وفرمايل: رسول الله ﷺ موږ ته همددې حکم فرمايلی و.

۵: عن ابن عمر رضی الله عنهما قال:قال رسول الله صلی الله عليه وسلم :جعل الله الاهلة مواقيت للناس، فصوموا لرؤيته وافطروالرؤيته فإن غم عليکم فعدوا ثلاثين يوماً.(رواه الطبرانی کما فی تفسيرابن کثيرج:١ ص:٣٢٥،داراحياء الکتب العربية مصر،واخرجه الحاکم فی المستدرک بمعناه وقال:صحيح الاسناد،واقره عليه الذهبی.)

ترجمه: حضرت عبدالله بن عمر (رضي الله عنهما) نه روايت دی چې حضور ﷺ وفرمايل: الله تعالی هلال (نوې مياشت) دخلکوله پاره دوختونومتعين کولوذريعه جوړه کړې ده؛ نودمياشت ليدوسره روژه نيسئ اودمياشت ليدوسره روژه ماتوئ اوکه مطلع ابرالود وي؛ نوديرش ورځې شمارئ.،،

۶: عن ابن عباس رضی الله عنهما قال:قال رسول الله صلی الله عليه وسلم :صوموالرؤيته وافطروالرؤيته فان حال بينکم وبين منظرة سحاب اوقترة فعدوا ثلاثين.

(احکام القرآن للجصاص ج:١ ص:٢٠١)

ترجمه: دحضرت دابن عباس (رضي الله عنهما) نه روايت دی چې حضور ﷺ وفرمايل: دمياشت ليدوسره روژه ونيسئ اودمياشت ليدوسره افطارکوئ اوکه ستاسو او دهغې دنظرراتلوپه مينځ کې وريځ ياسياهي حائل شي؛ نوديرش ورځې شمارئ!،،

۷:عن ابن عباس (رضی الله عنهما) ان رسول الله ﷺ قال:صوموا رمضاناً لرؤيته فان حال بينکم غمامة او ضبابة فاکملوا عدة شهرشعبان ثلاثين ولاتستقبلوا رمضان بصوم يوم من شعبان.(احکام القرآن ج:١ ص:٢٠٢)

ترجمه: دحضرت ابن عباس (رضي الله عنهما) نه روايت دى چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د رمضان روژه مياشت ليدوسره نيسئ، بياكه ستاسو ترمينځه وريځ ياګرد راشي؛ نودشعبان د مياشتې ديرش ورځې پوره کړئ اودرمضان په استقبال کې دشعبان دورځې نه روژه مه شروع کوئ.،.

۸: **عن ابن عباس رضى الله عنهما قال: قال رسول الله ﷺ: لاتصوموا قبل رمضان، صوموا لرؤيته وافطروا الرؤيته، فان حالت دونه غياية فاكملوا ثلاثين يوما.،.** (ترمذى ج:۱ ص:۸۷)

ترجمه: دحضرت ابن عباس رضي الله عنهما نه روايت دى چې رسول الله ﷺ وفرمايل: درمضان نه مخکې روژې نيول مه شروع کوئ، بلکې مياشت ليدوسره روژه نيسئ اومياشت ليدوسره افطارکوئ اوکه دهغې په ليدوکې وريځ حائل شي؛ نوديرش ورځې پوره کوئ.،.

۹: **عن ابى البخترى قال: خرجنا للعمرة فلما نزلنا ببطن نخلة ترائينا الهلال فقال بعض القوم: هوابن ثلاث، وقال بعض القوم: هوابن ليلتين، فلقينا ابن عباس رضى الله عنهما فقلنا: انا رأيتنا الهلال فقال بعض القوم: هوابن ثلاث، وقال بعض القوم، هوابن ليلتين، فقال: اى ليلة رايتموه؟ قلنا: ليلة كذا وكذا، فقال: ان رسول الله صلى الله عليه وسلم مده للروية فهولليلة رأيتموه. وفى رواية عنه: قال: اهل لنا رمضان ونحن بذات عرق فارسلنا رجلا الى ابن عباس رضى الله عنهما يساله، فقال ابن عباس رضى الله عنهما: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: ان الله تعالى قد امده لرؤيته فان اغمى عليكم فاكملوا العدة.** (مسلم ج:۱ ص:۳٤۸ مشكوة ص: ۱۷٤، ۱۷۵)

ترجمه: ابوالبختري وايي چې موږ دعمرې له پاره ووتو، بطن نخله ته ورسيدو؛ نومياشت مو وليده، چا وويل ددريمې شپې ده اوچا وويل ددويمې شپې ده، بيا چې کله زموږ ملاقات دحضرت ابن عباس رضي الله عنهما سره وشو؛ نوموږ هغه ته عرض وکړ، چې موږ مياشت ليدلې وه، مګر د ځينو رايه وه چې ددويمې شپې ده اوځينورايه وه چې ددريمې شپې ده، هغه وفرمايل، تاسوپه کومه شپه ليدلې وه؟ موږ ورته عرض وکړ، په فلانۍ شپه، ويې فرمايل: حضور ﷺ دمياشت دمودې دارومدارپه رويت باندې ايښى دى، لهذادامياشت دهمدغې شپې وه، په کومه شپه چې تاسوليدلې وه.

اوپه يوبل روايت کې دي چې موږ درمضان مياشت په عراق کې ليدلې وه، (او زموږ ترمينځه اختلاف وشو چې دادکوم تاريخ ده) موږ يوکس حضرت ابن عباس رضي الله عنهما ته دتحقيق له پاره ورولېږه، ابن عباس رضي الله عنهما وفرمايل: رسول الله ﷺ ددې مداريه رؤيت باندې ايښى دى، که په نظررانه شي؛ نوشميره پوره کوئ.،.

۱۰: **عن ابى هريرة رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: صوموالرؤيته وافطروا الرؤيته فان غم عليكم فاكلموا العدة ثلاثين.،.** (متفق عليه، مشكوة ص: ۱۷٤)

ترجمه: حضرت ابوهريره رضي الله عنه فرمايي چې: رسول الله ﷺ وفرمايل: دمياشتې په ليدوسره روژه نيسئ اودمياشتې په ليدوسره افطاركوئ اوكه بياهغه دوريځې له وجې په نظررانه شي؛ نوددېرشوورځوشميره پوره كوئ،،

۱۱: عن ابن عمر رضي الله عنهما قال: قال رسول الله ﷺ: انا امة امية لانكتب ولانحسب. الشهر هكذا وعقد الابهام في الثالثة. ثم قال: الشهر هكذا وهكذا وهكذا يعني تمام الثلاثين. يعني مرة تسعًا وعشرين ومرة ثلاثين.،، (متفق عليه. مشكوة ص: ۱۷٤)

ترجمه: حضرت ابن عمر رضي الله عنهما فرمايي چې: رسول الله ﷺ وفرمايل: مونږ اميه امت يو، مونږ ته دوختونودتعين له پاره دحساب كتاب ضرورت نه شته، (بس دومره پوه شئ)چې مياشت كله دومره، دومره وي اودواړولاسونوسره يې اشاره وكړه اوپه دريم ځل يې يوه ګوته بنده كړه (يعني يوكم ديرشو) اوكله دومره،دومره دومره وي،يعني دپوره ديرشو،كله ديوكم ديرشواوكله دديرشو،،

۱۲: عن جابر بن عبدالله رضى الله عنهما قال: قال رسول الله ﷺ: اذا رايتم الهلال فصوموا واذا رايتموه فافطروا فان غم عليكم فعدوا ثلاثين يوما. (الفتح الرباني تبويب مسنداحمدج:۹ ص:۲٤۸)

ترجمه: حضرت جابر رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: كله چې تاسومياشت ووينئ؛ نوروژه ونيسئ اوكله چې مياشت ووينئ؛ نواخترکوئ، بياكه مطلع ابرالود وي؛ نو د ديرشو شمار پوره كوئ.،،

۱۳: عن قيس بن طلق عن ابيه رضي الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ: ان الله عزوجل جعل هذه الاهلة مواقيت للناس،صوموا لرؤيته وافطروا لرؤيته فان غم عليكم فاتموا العدة.. (الفتح الرباني ج:۹ ص:۲٤۷)

ترجمه: طلق بن علي رضي الله عنه فرمايي چې: رسول الله ﷺ وفرمايل: الله تبارك وتعالى مياشتې دخلكو له پاره د وخت دتعين كولوذريعه جوړه كړې ده، كله چې مياشت ووينئ؛ نوروژه نيسئ اولكه چې مياشت ووينئ؛ نواختركوئ اوكه دمطلع ابرالود كيدوله وجې په نظررانه شي؛ نو(د ديرشو ورځو)شميره پوره كوئ؛

۱۴: عن عائشة رضي الله عنها تقول: كان رسول الله صلى الله عليه وسلم يتحفظ من شعبان ما لايتحفظ من غيره ثم يصوم لرؤية رمضان، فان غم عليه عد ثلاثين يوما ثم صام.،، (ابوداود ص:۳۱۸)

ترجمه: ام المومنين حضرت عائشه رضي الله عنها فرمايي: نبي كريم ﷺ به چې څومره دشعبان د مياشت اهتمام كاو، دومره به يې دبلې مياشتې اهتمام نه كاو، بيامياشت ليدوسره به يې درمضان روژې نيولې، خوكه مطلع به ابرالود و (اودچيرته به هم دمياشت دليدوخبرنه ملاويدو په) صورت كې دشعبان ديرش ورځې پوره كولې.،،

۱۵: عن ابي هريرة رضي الله عنه قال: قال النبي صلى الله عليه وسلم: لاتقدموا الشهر بيوم ولا بيومين الا ان يوافق ذلک صوما كان يصوم احدكم. صوموا لرؤيته وافطروا لرؤيته فان غم عليكم فعدوا ثلاثين ثم افطروا. ، ، (رواه الترمذی وقال حديث ابی هريرة حسن صحيح والعمل على هذا عنداهل العلم. ترمذی ج:۱ ص:۱۴۷)

ترجمه: حضرت ابوهريره رضي الله عنه فرمايي: نبي كريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل: دمياشتې دراتلونه يوه دوه ورځې مخكې روژې نيول مه شروع كوئ، البته كه ددغې ورځې دروژې نيولوځه عادت مووي: نوهغه بيله خبره ده، بلكې دمياشت په ليدوسره روژه ونيسئ اودمياشتې په ليدوسره اختر وكړئ اوكه دمطلع ابرالود كيدوله وجې هغه په نظررانه شي؛ نوديرش ورځې پوره كوئ او بيا اختر كوئ. ، ،

۱۶: عن حذيفة رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: لاتقدموا الشهر حتى تروا الهلال اوتكملوا العدة، ثم صوموا حتى تروا الهلال او تكملوا العدة. . (ابوداود ص:۳۱۸)

ترجمه: حضرت حذيفه رضي الله عنه فرمايي: نبي كريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل: دمياشتې دراتلونه مخكې روژې نيول مه شروع كوئ، ترڅوپورې چې مياشت ونه وينئ ياشميره پوره نه كړئ، بيامسلسل روژې نيسئ ترڅوپورې چې مياشت ونه وينئ ياشميره پوره نه كړئ. ، ،

۱۷: عن ابن عباس رضي الله عنهما قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: لاتقدموا الشهر بصيام يوم ولا يومين الا ان يكون شيء يصومه احدكم، ولا تصوموا حتى تروه ثم صوموا حتى تروه، فان حال دونه غمامة فاتموا العدة ثلاثين ثم افطروا، والشهر تسع وعشرون. (ابوداود ص:۳۱۸)

ترجمه: د حضرت ابن عباس (رضي الله عنهما) نه روايت دی چې حضور صلى الله عليه وسلم وفرمايل: د رمضان نه يوه دوه ورځې مخكې روژې نيول مه شروع كوئ، ياداچې ددغو ورځو د روژو نيولو عادت مو وي، (مثلا: دپيريازيارت ورځ وي) په هرحال دمياشتې دليدونه پرته روژه مه نيسئ، بيامياشت نظر راتلوپورې برابرې روژې نيسئ اوكه ددې ترمينځه وريځې راشي؛ نودديرشوشميره پوره كوئ، بيا اختركوئ، كله مياشت ديوكم ديرشوهم وي.

۱۸: عن عبدالرحمن بن زيدبن الخطاب يقول: انا صحبنا اصحاب النبی صلى الله عليه وسلم و تعلمنا منهم وانهم حدثونا ان رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: صوموالرؤيته و افطرو الرؤيته، فان اغمی عليكم فعدوا ثلاثين، فان شهدذوا عدل فصوموا وافطروا وانسكوا. . ،

(سنن دارقطني، ج:۲ ص:۱۶۸)

ترجمه: حضرت عبدالرحمان بن زيدبن خطاب رحمه الله فرمايي: موږ دحضور صلى الله عليه وسلم صحابه كرام رضوان الله اجمعين په صحبت كې پاتې شوي يو اوله هغوی نه موعلم زده كړی دی، هغوی

موږته وويل چې: رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي:دمياشت په ليدوسره روژه ونيسئ اود مياشت په ليدوسره اختروكړئ اوكه دوريځ اوغبارله وجې په نظر رانه شي: نوديرش ورځې شميره پوره كوئ، خوكه په دې حالت كې دوه معتبراوعادل كسان درويت شهادت وركړي؛ نوبياهم روژه، اختر اوقرباني كوئ،،.

ددې ټولواحاديثومضمون مشترک دى، مګرهريوحديث په يوه نوې افادې باندې مشتمل دى، ددې له وجې دټولومخې ته كيښودل ضروري دي اوددې احاديثونه حسب معمول اموريه اول نظركې په ښكاره ډول ښكاره كيږي:

١: په اسلامي احكاموكې به دقمري مياشتو او كلونواعتبار وي

٢: قمري مياشت كله ديوكم ديرشو وي اوكله دديرشو.

٣: په رويت هلال كې دسرپه ستركوسره دمياشتې دليدومفهوم په قطعي ډول متعين دى اوپه دې احاديثوكې دڅه بلې معنا داحتمال هيڅ ګنجائش نه شته په (بداية المجتهد) لابن رشدالقرطبى،،كې دي:

فأن العلماء اجمعوا ان الشهر العربي يكون تسعاو عشرين، ويكون ثلاثين ،وعلى ان الاعتبار فى تحديد شهررمضان انما هوالرؤية،لقوله عليه الصلوة والسلام:صوموا لرؤيته وافطروا لرؤيته،، وعنى بالروية اول ظهورالقمر بعدالسوال.،،(بداية المجتهد لابن الرشدالقرطبى ج:١ ص:٢٠)

ترجمه: دعالمانوپه دې باندې اجماع ده چې عربي مياشت ديوكم ديرشوهم وي اود ديرشو هم اوپه دې باندې هم اجماع ده چې درمضان دمياشتې تحديديوازې درؤيت سره كيږي، له دې وجې حضوراكرم ﷺ ارشاد دى چې: تاسودمياشتې په ليدوسره روژه نيسئ اودمياشتې په ليدوسره اختر كوئ،،، اوددې (سائل په) سوال باندې درؤيت نه مراد دلومړى مياشتې ظهور دى.،،

۴: دقمري مياشتې دتبديلي دارومداردمياشتې په نظرراتلوباندې ياديرش ورځې پوره كيدو باندې دى،كه ديوكم ديرشومياشت په نظرراشي؛ نونوې مياشت به شروع شي،ګني دسابقه مياشت ديرش ورځې به شماركول لازم وي.،،

په احكام القرآن كې ابوبكرجصاص رازي رحمه الله فرمايي:

وقوله صلى الله عليه وسلم :صوموا لرؤيته وافطروا لرؤيته، فأن غم عليكم فاكملوا العدة ثلاثين، هو اصل فى اعتبارالشهر ثلاثين،الا ان يرى قبل ذلک الهلال،فأن كان شهرغم علينا هلاله فعلينا ان نعده ثلاثين هذا فى سائرالشهورالتى تتعلق بها الاحكام،وانما يصيرالى اقل من ثلاثين برؤية الهلال.،،(ج:١ ص:٢٠٢)

ترجمه: دحضورﷺ دا ارشاد دی چې:دمیاشتې په لیدوسره روژه نیسئ اودمیاشتې په لیدوسره اختر کوئ اوکه دوریځوله وجې میاشت په نظررانه شي؛ نودديرشوورځوشمیره پوره کوئ،،داحدیث ددې خبرې دلیل دی چې میاشت دديرشوورځو وي،یاداچې میاشت مخکې په نظراشي اوکه یوه میاشت داسې وي چې په هغه کې دوریځوله وجې میاشت په نظررانه شي؛ نوپه موږ باندې لازمه ده چې دديرشوشمیره پوره کړو اودا اصول دهغه ټولو میاشتوپه باره کې دي دکوموسره چې احکام متعلق دي اودمیاشتې دديرشونه کمیدواعتباریوازې دمیاشت په لیدوسره به وي.،،

۵. که په افق باندې وریځ، غبار، یاتوروالی یانورڅه شی درؤیت مانع نه وي؛ نوديوکم دیرشم دمیاشتې ثبوت،، رؤیت عامه، سره به کیږي،کله چې دپوره علاقې یاملک خلک دمیاشت دلیدو کوششونه کوي اوددې باوجودعام رؤیت ونه شي؛ نودعلاقې یاملک یوازې دوه څلورو کسانو دعوې سره به،،رؤیت،،نه ثبوت کیږي، په دې حدیثونوکې دانفرادي شهادت دقبلولوحکم د مطلع دابرالودکیدوپه صورت کې ورکړل شوی دی اودمطلع صفا کیدو په صورت کې د انفرادي شهادت په ځای،،اذا رایتم،،(کله چې تاسو ووینئ) فرمایلو سره رؤیت عامه،،باندې د میاشتې دثبوت مدارکینبودل شوی دی اوعقلا هم داخبره صحیح ده چې مطلع صفا وي اوخلک ډیر په شوق سره میاشتې ته ګوري څه شی هم په کې مانع نه وي اوددې باوجودهم رؤیت عام ونه شي؛ نو په داسې صورت کې ددوکسانودادعوه چې: موږ میاشت لیدلې ده.،،دپوره قوم په سترګوپه د خاورو اچولوبرابرده اوظاهره ده چې پوره قوم ړوند یا ضعیف البصرګرځول کیدای نه شي، بلکې ددې په ځای به دغه انفرادي بیان غلط ګرځول کیږي، خاصکرکله چې داوچتو اوچتوځایونونه د دوربین په مددسره هم میاشت په نظررانه شي؛ نوددې خلکوغلطي، یاغلط بیاني به نوره هم واضحه شي، په احکام القرآن کې ابوبکرجصاص رازي رحمه الله فرمایي:

قال ابوبکر:انما اعتبرا صحابنا اذالم یکن بالسماء علة شهادة الجمع الکثیر الذین یقع العلم بخبرهم .لان ذلک فرض قد عمت الحاجة الیه.والناس مامورون بطلب الهلال فغیرجائزان یطلبه الجمع الکثیرولاعلة بالسماء مع توافی هممهم وحرصهم علی رویته ثم یراه النفر الیسیر منهم دون کافتهم علمنا انهم غالطون غیر مصیبین.فاما ان یکونوا راوا خیالا فظنوه هلالا، اوتعمدوا الکذب، وجواز ذلک غیر ممتنع.وهذا اصل صحیح تقضی العقول بصحته.وعلیه مبنی امر الشریعة، والخطاء فیه یعظم ضرره ویتوصل الملحدون الی ادخال الشبهة علی الاغمار والحشو وعلی من لم یتیقن ماذکرنا من الاصل.(احکام القرآن ج:١ ص:٢٠٢ طبع ١٣٤٥هـ)

ترجمه: امام ابوبکرجصاص رحمه الله فرمایي:کله چې په اسمان باندې څه وریځې وغیره نه وي؛ نو د

رمضان دمیاشت درویت له پاره دیوداسې ګڼ شمیرکسانوشهادت ضروري دی چې دهغوی په خبرسره دا یقین حاصل شي چې هغوی میاشت لیدلې ده، ځکه چې دروژودفرضیت له وجې میاشتې ته کتل فرض دي اودټولوخلکوضرورت ددې سره متعلق دی اوکوم خلک چې دمیاشتې لیدو له پاره مقرردي، دا ممکن نه ده چې ټول خلک خپل مکمل کوشش وکړي اودمیاشتې دلیدو د حرص اوکوشش باوجودمیاشت ونه لیدای شي، خوپه هغوی کې څه لږوکسانوته میاشت په نظر راشي، ددې نه معلومه شوه چې دالږ شان جماعت په غلطي باندې دی اوډیره ممکنه ده چې دې لږ شان جماعت څه خیالي شی لیدلی وي اوهغه هغوی میاشت تصورکړې وي، یاقصدا دروغ وایي اودا اصول هم په خپل ځای باندې صحیح دي اودکوم دصحت چې عقل سلیم هم تقاضا کوي اوپه دې باندې دشریعت اصول وضع شوي دي اوپه دې کې غلطي کول دډیرلوی نقصان سبب جوړیدای شي اودې سره ملحدین اسلام، کې شک شبه پیداکیدای شي.

۲: که مطلع غبارالود وي څنګه چې په پورتنواحادیثوکې وضاحت موجود دی، د اختر دمیاشتې ثبوت کم نه کم د دوه معتبر اوعادل اودیانت دارګواهانوچشم دیدشهادت سره به وي اود دوه عیني ګواهانوپه ګواهي باندې ددومعتبرکسانوګواهي کوم ته ، ،شهادت علی الشهادت،، وایي همدغه شان دقاضي په فیصله باندې د دوو عادلانو ګواهي (شهادت علی قضاء القاضي) حکم به همدغه شان وي ځکه چې دادواړه هم ، ،حجت ملزمه،، دي کماصرح به القوم) یوازې دیوکس دشهادت یامحض په افواګانوبه اعتبارنه کیږي، کوم حضرات چې داختلاف مطالعو قایل نه دي (اوزمونږ فاضل مولف هم ددې مویددی)ددوی په نزددلاندې ذکرشوي حدیث محمل همدغه دي:

عن كريب ان ام الفضل بنت الحارث بعثته الى معاوية بالشام قال: فقدمت الشام قضيت حاجتها واستهل على هلال رمضان وانا بالشام فراينا الهلال ليلة الجمعة. ثم قدمت المدينة فى آخر الشهر فسالنى ابن عباس رضى الله عنهما ثم ذكرالهلال .فقال: متى رأيتم الهلال؟ فقلت: رأيناه ليلة الجمعة. فقال: انت رايته ليلة الجمعة؟ فقلت: راه الناس وصاموا وصام معاوية رضي الله عنه. فقال: لكن رأيناه ليلة السبت. فلا نزال نصوم حتى نكمل ثلاثين يوما اونراه. فقلت: الاتكتفى برؤية معاوية وصيامه؟ قال: لا! هكذا امرنا رسول الله صلى الله عليه وسلم ... (ابوداود ص:۳۱۹ ترمذی ج:۱ ص:۸۷)

ترجمه: حضرت کریب فرمایي: ام الفضل بنت حارث رضي الله عنها (دحضرت ابن عباس رضي الله عنهما موربې بې) هغه حضرت معاویه رضي الله عنه ته شام ته دځه کارله پاره لیږلی و اوهغه دخپل کارنه فارغ شو؛ نودرمضان میاشت ماته په شام کې په نظرراغله، موږ دجمعې په شپه میاشت

وليده، بيا د رمضان المبارک په اخره کې زه مديني طيبې ته واپس راغلم، حضرت ابن عباس رضي الله عنهما زما د حال احوال پوښتنه وکړه، بيا د مياشتې ذکر راغی؛ نو پوښتنه يې وکړه چې تاسو مياشت کله ليدلې وه؟ ما ورته وويل: مونږ د جمعې په شپه مياشت ليدلې وه، ويې فرمايل: تا د جمعې په شپه په خپله مياشت ليدلې وه؟ ما ورته وويل: خلکو مياشت وليده او روژه يې ونيوله او حضرت معاويه هم روژه ونيوله، ويې فرمايل: خو مونږ د هفتې په شپه مياشت ليدلې وه، ددې له وجې مونږ خو به خپل حساب سره ديرش روژې پوره کوو، يا داچې په يو کم ديرشم باندې په خپله مياشت ووينو، ما ورته وويل: ايا تاسو د حضرت معاويه رضي الله عنه رؤيت او د روژې نيولو (فيصله) کافي نه ګڼئ، ويې فرمايل نه، (ځکه چې مونږ د هغه ځای ثبوت د دووثقه ګواهانو شهادت سره ملاونه شو، يوازې يو ستا اطلاع زمونږ له پاره د افطار حجت کيدای نه شي) مونږ ته حضور صلی الله علیه وسلم همدغه شان حکم فرمايلی دی،،

او د کومو حضراتو په نزد چې د مطالعو اختلاف معتبر دی، هغوی به ددې دا توجيه وکړي چې د هرې علاقې مطلع جدا ده، د يوې مطلع رؤيت د بلې علاقې والاوو له پاره کافي نه دی، اګر که ددې ثبوت په صحيح شهادت سره وشي،،

او مطلع غبارالوده کيدو په صورت کې د رمضان د مياشتې له پاره د دويم حديث مطابق د يو عادل مسلمان يا مستور الحال خبر به کافي وي، څنګه چې په ابوداود کې دي:

۱:: عن ابن عباس رضي الله عنهما قال: جاء اعرابي الى النبي صلى الله عليه وسلم فقال: اني رايت الهلال يعني هلال رمضان، فقال: اتشهد ان لااله الاالله؟ قال: نعم! قال: اتشهد ان محمداً رسول الله؟ قال: نعم! قال: يابلال! اذن في الناس ان يصوموا غدًا. (رواه ابوداود والترمذي والنسائي وابن ماجة والدارمي، مشكوة ص: ١٧٤)

ترجمه: د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما نه روايت دی چې: يو بانډه چی د حضور صلی الله علیه وسلم خدمت ته راغی او ويې ويل: ما د رمضان مياشت ليدلې ده. (عام رؤيت نه و شوی) حضور صلی الله علیه وسلم وفرمايل: ايا ته د الله تعالی د توحيد قائل يې؟ هغه وويل هو! ويې فرمايل: ايا ته زما رسالت منې؟ هغه وويل هو! رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل: بلال! خلکو ته اعلان وکړه چې سبا روژه ونيسئ!...،

۲:: وعن ابن عمر رضي الله عنهما قال: تراء الناس الهلال، فاخبرت رسول الله صلى الله عليه وسلم اني رايته، فصام وامر الناس بصيامه.،، (رواه ابوداودوالدارمي والروايتان في المشكوة ص: ١٧٤)

ترجمه: حضرت ابن عمر رضي الله عنهما فرمايي: خلکو مياشتې ته کتل (مګر دوريځې له وجې عامو خلکو ته په نظر رانغله) ما حضور صلی الله علیه وسلم ته خبر ورکړ، چې ما مياشت وليده، حضور صلی الله علیه وسلم زما په خبر په خپله هم روژه ونيوله او خلکو ته يې هم د روژې نيولو حکم ورکړ،،

۷: په دې احاديثوكې چې دحضور ﷺ په فرموداتواوهداياتوباندې نظرواچوئ؛ نوواضحه به شي چې حضور ﷺ دمياشتې دثبوت له پاره يوقطعي اصل اوضابطه مقرره كړه، يعنې په يوكم ديرشم باندې دمطلع دصفاكيدو په صورت كې درؤيت عامه اعتبار وي اودمطلع غبارالوده كيدوپه صورت كې به دشهادت اعتباركيږي اوكه دواړه نه وي؛ نوديرش ورځې به پوره كيږي ، د حضور ﷺ په خپله په دې ضابطه باندې عمل و اوصحابه وتابعين (رضوان الله اجمعين) هم ددې اصل پابندو اوامت مسلمه ته ددې قاعدې دپابندي باربار تاكيدشوى دى او الحمدلله! امت مسلمه دخپل نبي ﷺ ددې هدايت په موجب ددې بنه التزام كړى دى، خوپه هيڅ يوحديث كې حضور ﷺ دوړوكي نه وړوكې اشاره هم دې طرف ته نه ده كړې چې دا اصل دې پريښنودل شي اوامت مسلمه دې په څه مرحله باندې په بل طريقه هم اعتماد كولى شي، دڅه حسابي فن نه هم په دې سلسله كې مدد اخيستل كيداى شي يا د روژې اواختر داوقاتوپه تعين كولوكې دځو نورو اصولو طرف ته هم رجوع كيداى شي، اوس دحضور ﷺ وضع شوې فرموده اصل رؤيت پريښودوسره په څه فن باندې اعتمادكولوسره اوددې دماهرينوطرف ته رجوع كول سره هم منشاء نبوت پوره كيداى شوه څنګه چې فاضل مولف دحضور ﷺ په سرتپل غواړي؛ نودحضور ﷺ له طرف موږ ته دهغه معمولي شان اشاره خوملاويدل پكار و؟ياكم نه كم دصحابه وو اوتابعينو اوائمه هدى له طرف ددې اصل نبوي نه پرته څه بلې لارې اختيارولوګنجائش خوچيرته پته لګيدله.

دموجوده دوردكم علمي او ستم ظريفي دټولونه يولوى مظهردادى چې كوم شى ستاسو په ذهن كې راشي هغه راكاږه اويو لوى كس سره يې منسوب كړه اوكوم شى چې دمشرانونه صراحتا ثابت وي دهغه منكرشه اوكه داسې هم نه جوړيږي او تاو راتاو يې كړه اوخراد ته يې پورته كړه، دخانداني منصوبه بندي نه واخله ترسوشليزم، پورې كومه خبره چې دچاپه ذهن بنه ولګيده؛ نوفورا يې حضور ﷺ طرف منسوب كړه، دصحابه كراموداحال و، چې دحضور ﷺ نه كوم ارشادات هغوى يوځل دوه نه، بلكې په ځوځوځله په خپلو غوږونو اوريدلي و، دهغه په روايت كولوكې هم دحددرجې پورې محتاط و، مګردلته دخپل ذهن وساوس دحضور ﷺ سره منسوب كول ضروري ګڼل كيږي.

خوموږ داوينوچې حضور ﷺ داصل رؤيت په خپلولو او اختيارولو ترغيب وركولو كې چيرته **لانكتب ولانحسب**.(موږ حساب كتاب نه كوو) ويلوسره داوقاتودتعين په باره كې دحسابي تخمينوحوصله شكني كړې ده اوچيرته ددواړولاسونوپه اشارې سره :**الشهر هكذا وهكذا وهكذا** (مياشت دومره،دومره اودومره وي) ويلوسره دمياشتواودكلونوپه سلسله كې په حساب باندې بالكل دبې اعتمادي اظهارفرمايلى دى، ګني ظاهره ده چې دې مضمون باندې د پوهولو له پاره چې مياشت كله د ۲۹ وي اوكله ۳۰ ،دواړه لاسونه شپږ ځله اوچتول اوهكذا ، لفظ شپږ ځله ويلوپه نسبت ۲۹ ، ۳۰ مختصرعددهم وو اوواضح هم اودحضور ﷺ مخاطب د دواړو هندسو

سره نا اشناهم نه وو.

دصحیح مسلم شرح،، اکمال اکمال المعلم.. المعروف:: شرح ابی،، کې دي:

وفی احادیث الاشارة هذا الارشاد الی تقریب الاشیاء بالتمثیل وهوالذی قصده صلی الله علیه وسلم ولم یصنع ذلک لاجل ماوصفهم به من الامیة:،،لایحسبون لایکتبون،،لانهم لایجهلون الثلاثین والتسع وعشرین مع ان التعبیر عنهما باللفظ اخف من الاشارة المکررة والما وصفهم بذلک سدا لباب الاعتداد بحساب المنجمین الذی تعتمده العجم فی صومها،وفطرها،وفصولها،،(ج:٣ ص:٢٢٣ طبع مصر ١٣٣٧ه)

ترجمه: اوپه کومواحادیثوکې چې په اشاروسره دمیاشتې د دیرشو او یوکم دیرشو کیدو مقدار ښودل شوی دی ددې نه داښودل مقصود و چې دمثالونوپه ذریعه په خبره باندې پوهیدل اسان وي، ددې له وجې حضور ﷺ دلاس په اشارې سره داخبره وښوده اودحضور ﷺ ددې اشارودښودې طریقه ددې له پاره خپله نه کړه چې ګنې هغه خلک بالکل ان پړه وو اوحساب کتاب یې کولی نه شو،ځکه چې هغه خلک د٢٩ او٣٠ دلفظ سره نابلده نه وو، حالانکې باربار اشاره کولوپه ځای د٣٠ او٢٩ په لفظ سره تعبیرکول اسان و، خوددې باوجود حضور ﷺ اشارې سره په خبره باندې پوه کړل، ددې له وجې چې عجم خلکوکې دحساب کتاب عادت پریوتی و اوپه دې باندې عجمي خلکو دخپلو روژو او افطار کولو اود کلونو دشمیرې اعتماد کولو، دې سره دحساب کتاب وغیره دروازه بندول مقصود و،،،

همدغه شان چیرته:**فلاتصوموا حتی تروه ولاتفطروا حتی تروه**،،(روژه مه نیسئ ترڅوپورې چې مومیاشت لیدلې نه وي اواخترمه کوئ ترڅوپورې چې میاشت ونه وینئ) فرمایل درؤیت نه پرته په هرقسمه حساب تخمیني باندې اعتمادکول اودروژې له پاره اوداخترله پاره امت صفامنع وفرمایل اوچیرته دمیاشت په لیدوسره: ددویمې ورځې ده،، نعره لګول یې دقرب قیامت علامت ګرځولې ده اودحسابي طریقوباندې اعتمادنه یې نفرت ورکړی دی اودایې دذهني انحطاط اوديني تنزل مظهرګرځولی دی اوځنګه چې په کنزالعمال کې دي:

عن ابن مسعود رضی الله عنه عن النبی صلی الله علیه وسلم :من اقتراب الساعة ان یری الهلال قبلا فیقال: للیلتین،وان تتخذالمساجدطرقا،وان یظهرموت الفجاءة.(رواه الطبرانی فی الاوسط کنز العمال:ج ک٧ ص:١٧٦)

ترجمه: ابن مسعود رضی الله عنه دحضور ﷺ دارروایت نقل کوي چې:دعلامات قیامت نه داهم دي چې دمیاشتې په لیدوسره به ویل کیږي چې:داخوددویمې شپې ده،، اوجوماتونوڅخه به لارې جوړې کړل شي اوناګهانه مرګونه به زیات شي،،،

او چیرته یې بلا استثناء داهل نجوم تصدیق ،،کفر،، تعبیرفرمایلی دی، مګرپه یوه موقع یې

دا وضاحت هم کړی دی چې داهل نجوم تقویم (کلینډر) باندې اعتبارکولو سره دمیاشتې فیصله کیدای شي... دابوداود په شرح، ،المنهل العذاب المورود.. کې دي:

وحسبک فی ابطال العمل بالحساب والتنجیم قوله تعالیٰ:قل لایعلم من فی السموات والارض الغیب الاالله، ،وقوله صلی الله علیه وسلم :من اتی عرافاً اوکاهناً فصدقه بمایقول،فقدکفربما انزل علی محمدصلی الله علیه وسلم، ،(احمدوحاکم)ومن احادیث المصابیح:من اقتبس علماً من النجوم اقتبس شعبة من السحر...(ج:١٠ ص:٣٧)

ترجمه: ستاله پاره دعلم اعداد اوعلم نجوم باطل کیدوله پاره دالله تعالی دغه قول کافي دی چې: تاسوورته وفرمایئ چې داسمان اوځمکې علم سوادالله تعالی نه هیڅاسره نه شته، ،
اودحضوراکرم ﷺ ارشاددی چې:کوم کس چې دعلم نجوم والاکاهن ته لاړ اوهغه چې ورته څه وویل ده یې تصدیق وکړ؛ نوده کفروکړدهغه دین کوم چې په حضور ﷺ باندې نازل شوی دی.
دمصابیح په حدیث کې دي چې:چا علم نجوم زده کړ، هغه دجادوځه برخه حاصله کړه، ،
دې خوا یې دقرآن کریم شرعي اصول اوقات پرېښودل اوخود ساخته اصطلاح سره د میاشتو او کلونو ادل بدل کوم چې دجاهلیت اولی شعارو،**زیادة فی الکفر**، ،اودګمراهي زینه ګرځولې ده.(التوبه :٢)

دا ټول امور مخې ته کېښودوسره هرکس دچادانصاف سترګې چې بندې شوې نه وي په اسانۍ سره فیصله کولی شي چې دثبوت هلال شرعي اصل اونبوي ضابطې پرېښودل اویوازې د جنترې (کلینډر) په بروسه باندې روژه افطارکول مزاج نبوت سره ترکومه حده پورې یوشان ده اومنشاء نبوت ترکومه حده پورې پوره کوي اودفاضل مولف دقول مطابق دې ته، ،درؤیت ترقي یافته تعبیر، ، ویل اودې بدعت ته ، ،دحفاظت ایمان، ،ذریعه ښودل اوددې پرچارکول ترکومې پورې صحیح دي؟

علامه ابن عربي په شرح ترمذي کې په اصول رؤیت پرېښودو اودحسابي طریقوسره رؤیت ثابتولو په مذمت کې لیکي:

اوه یا ابن شریح! این مسالتک الشریحیة؟ واین صوارمک السریحیة؟ تسلک هذا المضیق فی غیرالطریق، وتخرج الی الجهل عن العلم والتحقیق،ما لمحمدوالنجوم؟....وکانک لم تقرا قوله:امانحن امة امیة لانحسب ولانکتب،الشهرهکذا وهکذا وهکذا ، ،واشاربیدیه الکریمتین ثلاث اشارات وخنس بابهامه فی الثالثة،فاذا کان یتبرا من الحساب الاقل بالعقدالمصطلح علیه مبینا بالیدین تنبیها علی التبری عن اکثر منه فما ظنک بمن یدعی علیه بعدذلک ان یحیل علی حساب النیرین،وینزلهما علی درجات فی افلاک غائبا ویقرنهما باجتماع واستقبال حتی یعلم

بذلک استهلال...(ج:۳ ص:۲۰۸)

ترجمه: اې ابن شريح! چيرته داستاشرعي مسئله؟ ته فراخه لاره پرېږدې اوپه دې تنګو لارو باندې ځې اوته دعلم اوتحقيق نه وځې اودجهالت طرف ته ځې.....دحضرت محمد ﷺ د ارشاد او د نجوم په خپل مينځ کې څه نسبت دى؟ ګويا تادحضور ﷺدا ارشاداوريدلى نه دى چې موږ امي امت يو، موږ په حساب کتاب باندې نه پوهيږو، مياشت ددومره،دومره اودومره وي او حضور ﷺ په خپلومبارکولاسونودرې ځله اشاره وکړه اوحضور ﷺ په دريم ځل خپله ګوته بنده کړه اوکله چې حضور ﷺ اصطلاحي شميره اودحساب مختصرطريقه پريښوده اود لاسونو په اشارې سره يې داخبره وکړه؛ نوپه دې کې په دې خبره باندې خبرداری دی چې ددې نه زيات دې پريښودل شي، ستاڅه ګمان دی دهغه بنده په باره کې چې ددې وروسته هم دعوه کوي چې داشی دې علم نجوم ته حواله شي اوهغه دادواړه داسمان په پټودرجاتوباندې راولي اودا دواړه يوکوي داجتماع اواستقبال سره چې په دې طريقې سره په سپوږمۍ باندې پوه شي.

په دې احاديثوکې دصحابه وو اوتابعينو(رضى الله عنهم اجمعين)دطرزعمل وضاحت هم موجود دی چې هغوی دحضور ﷺ قائم کړل شوي ،اصل رؤيت، په سختۍ سره پابند وو اوهغوی بارباربه خطبو ، خطونو اوذاتي مجلسونوکې، :**عهداليناً رسول الله صلى الله عليه وسلم ،،هكذاامرنا رسول الله صلى الله عليه وسلم** ،،ويلوسره امت ته په دې اصولوباندې په سختي سره دپابندپاتې کيدوتاکيدکړی دی، دحديثو ياسيرت پوره ذخيره ولټوئ مګرتاسوته به چېرته هم ديوصحابي په باره کې داملاونه شي چې هغه اصل رؤيت پريښی دی اوپه حسابي تخمينه باندې يې اعتمادکړی اوفتوا يې ورکړې ده، همدغه وجه ده چې دامت په اتفاق ، اسلامي‌شريعت دثبوت هلال په باب کې داهل حساب اوفلکياتو درايې اعتبارنه دی کړی، بلکې ددوی تحقيق يې له سره لغوه اوکالعدم ګرځولی دی،مثلاً: دفلکياتودماهرينو رايهي چې په فلاني تاريخ به مياشت ښکاره کيږي،خوکه شرعي رؤيت ونه شي، نودامت په اجماع دې رويت باندې احکام هلال نه جاری کيږي اود فلکياتو دماهرينو رايه به لغوه وي.

چنانچې حافظ ابن حجرعسقلانی رحمه الله ،،فتح البارى ،،ج:۴ ص:۹۸ ،،عمدة القارى،، للعينى، ج:۵ ص:۱۸۲،ج:۵ ص:۱۹۹ ،،زرقانى على الموطا ،،ج:۲ ص:۱۵۴ ،،ردالمحتار لابن عابدين الشامى،ج:۲ ص: ۱۰۰ ،احكام القرآن للجصاص او داسې نورو... مشرانوموقف هم دغه دی، ددې په ځای چې دهغوی وضاحتونه نقل کړل شي، دلته دهغوی ټولونومونوليکل هم ممکن نه دي، ،البته امام جصاص رازي رحمه الله تصريح خولږ شان واورئ ،هغوی فرمايي:

فالقائل باعتبار منازل القمر وحساب المنجمين خارج حكم الشريعة وليس هذا القول مما يسوغ الاجتهاد فيه، لدلالته الكتاب ونص السنة واجماع الفقهاء بخلافه...(ج:۱ ص:۲۰۲)

ترجمه: منازل قمراودفلکياتوپه حساب باندې اعتمادکول حکم دشريعت نه خارج دي اودا

داسې قول نه دی چې په دې کې داجتهاد گنجائش وي، ځکه چې دالله د کتاب، سنت نبوي، او د فقهاوو داجماع د دلائلو خلاف دی..

پاتې شو داسوال چې شریعت داحکام هلال مدارپه رؤیت باندې ولې کینبوده؟په فلکیاتي تحقیقاتو باندې یې ولې کینښوده؟ زموږ په نزد داسوال بې موقعې دی، دمسلمان په حیثیت سره زموږ کار دادی چې موږ په ډیرې ښې طریقې سره داتحقیق وکړوچې په فلاني باب کې شارع څه حکم کړی دی، ددې معلومیدونه وروسته موږ ته دشارع نه ددې پوښتنې حق نشته چې داحکم تاولې کړی و؟ ځکه چې زموږ دمسلمان کیدولو مړی نتیجه ددې خبرې قطعي یقین دی چې دشارع د طرف نه هرڅنګه حکم ورکړل شي دهغه سره دشارع هیڅ څه غرض نشته بلکه هغه خو سراسرد بندګانو دمصلحت له پاره ورکړل شوی دی، کله کله ددې مصلحت اظهارمناسب وي اوکله نه وي، خو هغه مصلحت به په هرحال په دې حکم باندې مرتب وي، که څه هم که بندګانوته دهغه پته وي یانه وي، له دې وجې نه که هغه په خپله دڅه مصلحت اظهار وکړي نودهغوی مهرباني ده، ګنی بنده ته داحق کله حاصل دی؟چې هغه په دې خبرې اصرار وکړي چې اول دحکم مصلحت ووایئ نوهلته به یې منم. (اوتاسوته پته ده چې که یومصلحت له وجې وي؛ نوبیاهم دداسې ذهنیت کس ته ویل کیدای نه شي)

په هرحال موږ ته ددې تحقیق کولوحق شته چې شریعت دهلال مدارپه فلکیاتوباندې اېښی دی اوکه نه؟ اودایې په کومه درجه کې قابل اعتبارګرځولی دی، یابالکل ناقابل اعتبار؟ خو موږ داسوال نه شو کولی چې شریعت دهلال مدارپه رؤیت باندې ولې کینښوده، په فلکیاتو وغیره باندې یې کینښوده؟کیدای شي چې په دې کې دشارع پیش نظر د بندګانو ډیر مصلحتونه وي اوهغه صرف په رؤیت باندې مرتب کیدای شي، په فلکیاتوباندې نه، مثلاً: د نورو قومونو دمیاشتوکلونومدارپه تقویمي (کلینډر) حسابونو باندې و، شارع ددې امت دانفرادیت محفوظ ساتلوله پاره څنګه چې په نورو ډیرشیانوکې مشابهت نه امت بچ کول غوښتي دي، همدغه راز یې دتقویمی مشابهت څخه هم امت محفوظ غوښت، ځکه یې دوی ته مستقل نظام تقویم ورکړ.

علامه ابی (رحمه الله) په شرح مسلم کې لیکي: **سدا لباب الاعتداد بحساب المنجمین الذی تعتمده العجم فی صومها وفطرها وفصولها.** (اکمال اکمال المعلم شرح مسلم للابی ص:٢٢٧)

ترجمه: دعجمو خلکو د خپلو روژو او افطار او د کلونو د شمارله پاره د نجومیانو په حساب باندې اعتماد کولو، او عادت یې جوړکړی و، ددې عادت د ختمولوله پاره حضورصلی الله علیه وسلم داسې وکړل.

یا کیدای شي چې چونکې نوروحسابي طریقوسره دمیاشتې او کال تعین فطري اوتحقیقي نه و، بلکې اختراعي اوتقریبي و، چنانچې هغوی ددې کم اوزیات دبرابرولوله پاره د..لیپ..

اصطلاح ایجاد کړل. ددې برعکس اسلام دین فطرت و،ده غوښتل چې دامت اسلامیه د میاشتو او کلونو دتعین له پاره درؤیت اومشاهدې فطري طریقه ،تاکل شي،ځکه چې دا اختراعي اوتقریبي طریقې ددې دفطرت سره سمون نه خوري،یاممکنه ده چې ددې امررعایت په کې اینبودل شوی وي چې د اسلام دپوره نظام بنیادپه تکلف اوتعمق باندې نهٔ دی،بلکې په سادګۍ اوسهولت باندې کیښودل شوی دی ،ددې وجې نه داسلام نظام تقویم هم دمشاهدې اورؤیت په شان آسان او ساده اصولو باندې جوړکړل شوچې په دې نظام په جزء اوکل کې مناسبت وي،اوپه دې باب کې امت په تکلف اومشقت کې ونه غورځیږي،شاه ولي الله محدث دهلوي رحمه الله ددې حکمت طرف ته اشاره کوي اولیکي:

اقول:لما کان اوقات الصوم مضبوطاً بالشهر القمری باعتبار رؤیة الهلال وهو تارة ثلاثون یوما وتارة تسعة وعشرون وجب فی صورة الاشتباه ان یرجع الی هذا الاصل.وایضاً مبنی الشرائع علی الامور الظاهرات ،عندالامیین دون التعمق والحسابات النجومیة بل الشریعة واردة باخمال ذکرها وهوقوله صلی الله علیه وسلم :انا امة امیة لانکتب ولانحسب..

(حجة الله البالغه للشیخ المحدث الدهلوی ج:۲ ص:۵۱)

ترجمه: زهٔ وایم چې: کله دروژودوختونو انضباط دقمري میاشتو درؤیت په اعتبارسره دی اودا میاشت کله ددیرشو وي اوکله دیوکم دیرشو، نود شک په صورت کې هم دې اصولو ته واپس کیدل واجب دي اونورداچې دامیین په نزددشریعت بنیادپه امورظاهره باندې وي،نه چې په ژوروالي اودعلم نجوم پهٔ حساب باندې،بلکې شریعت خوددې ذکرکولونه هم دمنع حکم ورکوي ځنګه چې دحضور صلی الله علیه وسلم فرمان دې :موږ امي امت یوموږ په حساب کتاب باندې نه پوهیږو. ، ،

یاممکن وي چې ددې ځیزلحاظ ساتل شوی وي چې نظام تقویم په هرحال دوختونودتعین یوه ذریعه ده،اوکوم قوم چې په ذرائعو کې مشغول شي؛ نواکثرمقاصددهغوی د نظرونونه پټ پاتې شي اوفطري طورسره دهغوی صلاحیتونه دذرائعوپه لټون کې ضائع شي،ددې وجې نه دا وغوښتل شو چې امت مسلمه ته داسې نظام تقویم ورکړل شي چې په هغه کې مشغولیدو سره دهغوی دمقصدي صلاحیتونه دورکیدو ویره نه وي،بس سترګې یې پرانستې میاشت یې ولیده تقویم درست شو،اوټول په خپلوخپلوکارونوکې مشغول شول،نه دضرب ضرورت اونه دتقسیم ضرورت،نه دمحکمه موسمیات قائمولوضرورت اونه پرې دریسرچ ضرورت. . ،

یاممکنه ده چې دا امرپیش نظر وي چې په دې امت کې به مالدارهم وي ،عالم هم، او جاهل هم، ښځې هم اوسړي هم،اواکثروعباداتواومعاملاتومدارپه نظام تقویم باندې دی،ددې وجې نه وغوښتل شو چې ځنګه دنظام تقویم متعلقه احکام مکلف دامت ټول طبقات دي همدغه شان دوی ته داسې تقویم ورکړل شي چې په هغه باندې هریوکس دخپلې مشاهدې په رڼاکې په

پوره شرح صدر سره يقين وکړای شي.
يا ممکنه ده چې شارع ته ديقين هلال په باب څه مطلوب دي هغه په رؤيت او مشاهدې باندې مرتب کېدای شي، د هغه په نظرکې حسابي جنتري ددې يقين په پيدا کولو کې ناکافي وي، يا کېدای شي چې شارع ته دا امر ناخوښه وي چې روژه او افطار خودې تهول کوي؛ مګر د هغوی د ختونو تعين دې ديوې خاصې ډلې په لاس کې وي، ددې وجې نه يې نظام تقويم داسې مقرر کړ چې يو اُمي کس هم دخپل وخت تعين ټيک هماغه شان کولی شي، لکه ماهر فلکيات. او يو کليوال هم دخپلو او قاتو حساب هماغه شان لګولی شي څنګه چې يو ښاري، بلکې بعيد نه ده چې د ماهر فلکيات يا عالم نظر کمزوری وي او ديو عامي کليوال نظر تيز وي، په دې صورت کې په خپله ماهر فلکيات يا عالم هم د مسکين انړه طرف ته رجوع کوي.
الغرض! د شارع پيش نظر بېشميره حکمتونه کېدای شي ددې وجې نه زمونږ کاردانه دی چې داګر مګر سوالونه وکړو او د شارع سره په بحث کې مشغول شو او د فرصت او وخت سره دين او ايمان هم ضائع کړو، زمونږ کار خو دادی چې د شارع په حکمت او شفقت باندې يوځل ايمان راوړو، بيا د هغه د طرف نه چې هر څنګه حکم وشي هغه په خپل حق کې سراسر د خير و برکت موجب او عين د حکمت مظهر وګڼو او فوراً پرې عمل وکړو.

زبان تازه کردن باقرار تو نيا نګيختن علت ازکار تو

په پای کې مناسب معلومېږي چې د راقم الحروف هغه تبصره کومه چې موصوف جعفرشاه پهلواري په دې کتاب باندې ماهنامه ،،بينات شعبان ۱۳۸۸ھ کې ،،نقد و نظر،،کې شائع شوې ده درج کړل شي:

رويت هلال

مولانا محمد جعفرشاه پهلواري زمونږ د ملک يو مشهور صاحب قلم او د اداره ثقافت اسلاميه ملګری دی. په زيرنظر کتابچې کې هغوی ،،رؤيت هلال اور فلکيات،،په موضوع باندې خبرې اترې کړې دي د کتاب په مندرجاتو باندې د نظر کولو نه مخکې د دې شان نزول باندې پوهېدل ضروري دي، د موصوف تعلق ددې ځای حشويه فرقې سره دی د کومو نعره چې د موصوف په الفاظو کې داسې ده:

حضرات! زمونږ په خيال کې زمونږ پاکستانيانو دې وخت کې څه معين شريعت نشته، تيرشويو وختونو په شريعت باندې چليږو، کله چې مونږ ددې .خامو موادو..نه استفاده وکړو او يوه خبره مقرر کړو او حکومت هغه نافذ کړي نو زمونږ له پاره به هماغه شريعت وي، او بيا به هغه هميشه له پاره نه وي، د ضرورت په وخت کې مجالس قانون سازي يا بلبه ټاکل شوې کميټي هم په دې کې ترميم کولی شي.[1]

۱] د مولانا جعفرشاه مقاله ،،تعقل و تدبر کے لئے قرآن کريم کی تاکيد.... [بقيه حاشيه په راروانه صفحه.

ددې حضراتو په نزد حضرت محمد (صلى الله عليه وسلم) راوړل شوې ``دين ،، او ``شريعت،، دوه جدا جدا شيانو نومونه دي چنانچې:

دين خو روح اوجذبه ده ،كوم چې بدليداى نه شي اوشريعت ددې روح دتشكيل نوم دى مقصد دسپرټ باقي ساتل دي اوشكل بدليدوسره سپرټ نه بدليږي (حواله مذكوره ص:٨٤٣)

قرآن كريم اوسنت نبويه ﷺ عباداتو اومعاملاتوكې حلال اوحرام ،جائزاوناجائز،فرض او واجب،سنت اومستحب، اوصحيح اوفاسد چې كوم احكام نافذكړي دي، د عامو مسلمانانو په نزدهغه واجب التسليم دي،مګر د ،،حشويه،،خيال دى چې دايوازې دهغه دور شريعت و،په كوم كې چې ددين د روح اودجذبې دهغه دوردتقاضومطابق خيال ساتل شوى و.اوموږ لره هم ددې روح او جذبې باقي ساتلوسره دخپل دوردغوښتنو مطابق ددې بدلول په ځاى يې ،،نوې شريعت،، جوړول پكاردي اودوقتي تقاضومطابق شريعت محمديه ﷺ، كې دكټ كوټ ،ترميم اوتنسيخ او رد وبدل ،،نوم اجتهاددى.

دموصوف په الفاظوكې:

ناقابل ترميم يوازې دين(په معنا دروح اوسپرټ) دى اوشريعت په هردوركې ترميم قبلوي،اوهمدغه داجتهادضرورت وي،دترميم دامطلب نه دى چې دشروع نه واخله تراخره پورې هرڅه دې بدل كړل شي،بلكې(الف)په شريعتونوكې چې كوم شى دخپل عصري تقاضومطابق وي هغه دې باقي وساتل شي .(ب)اودكوموچې ضرورت نه وي هغه دې ترک کړل شي.(ج)دكوم نوي شي چې ضرورت وي دهغه دې په كې اضافه وكړل شي اودغه وخت كې په صرف عالمي مصالح امت لره په نظركې ساتل وي.،،(حواله مذكوره بالا ص:٨٤٤)

مطلب داچې دشريعت خداوندي احكام،،دپوخ عقل خاوندانوله پاره،،دخام مال حيثيت لري، (دشريعت له پاره ،،خام مواد،،اصطلاح موصوف په خپله مقاله كې ځاى په ځاى استعمال كړې ده،ناقل)ددوى سلوک به دشريعت سره هماغه شان وي چې ديواجنبي تهذيب درسمونواوقانون سره كيږي،هغوى چې څومره شريعت فائده وركونكى بيامومي هغه به باقي ساتي اوڅومره چې وغواړي هغه به ترک کړي.اوڅومره چې وغواړي په هغې كې به اضافه وكړي،په عباداتوكې هم اوپه معاملاتوكې هم.

اوس داسوال باقي پاتې كيږى چې د ،،عالمي مصالحو،،دتعين حق چاته حاصل دى،ددې جواب دحشويه سره دادى چې په دين كې په اجتهادباندې دهيڅ يوې ډلې اجاره داري نشته، بلكې دا دپوره قوم حق دى، چې هغوى يې خپلومنتخبو نمائندګانو(مركزي حكومت اود پارليمنټ وكيلانو) ته وركوي،همدوى ته داحق دى چې هغوى دخپل صوابديد

...بقيه د تير مخ]..بشمول ماهنامه، فكرونظر، راولپنډى.(ازص:٨٣٢ تا ٨٤٠)ماه مئ ١٩٦٨،دامقاله دراولپنډۍ دبين الاقوامى كانفرنس دپاره ليكلې شوې وه مګروركيدوپه وجه باندې هلته اونه لوستلې شوله)_

مطابق دوقتي تقاضواومصالح امت تشخيص وکړي اوکه په هيره کې شپې ته ورځ ووايي نودتمام قوم دافرض دي چې هغوی هم،، اینک ماه پروین،، اقراروکړي.
ددې تشریح نه به معلومه شوې وي چې مولاناجعفرشاه صاحب دکوم اجتهادي شریعت یا نوي شریعت داعي دی هغه د مسټر پرویز د نظریه،، مرکزملت،، او د مغربي نقالانو د نظریې ،،تعمیراسلام،، معجون مرکب دی،دکوم مقصدچې په پوره اسلام باندې نظرثاني کول دي.
مګر في الحال چې کوم شرعی مسائل چې داجتهادي ترمیم له پاره زیرغوردی دهغو مختصرشان فهرست موصوف داپیش کوي:
مثلاً: دانشورنس جواري،دبینکونوسود،خانداني منصوبه بندي،انتقال خون مسئله. د انساني اندامونو دبل انسان ته دلګولو مسئله، د ذرائع پیداوار قوميانې کولو جواز،دجنتري مطابق د میاشت اعلان،دبنځودپردې نوې حد بندي، تعدد ازواج، واده، طلاق، دعوت، ذبیحه، او سفرحج په شان جائز شیانو باندې دپابندي جواز، دجهیز اصلیت،دحضانت موده، د مفقود الخبر میعاد، د یتیم لمسي وراثت،فوټو،ګانې،اودتصویروړستلو مسئلهاو داسې نور...(حواله بالا ص:۸۴۶)
مولاناصاحب دخپلوملګروسره په دې خدمت باندې مقرردی چې قومي مشرانوته دشریعت محمدي دکومواصولواوفروعودمنسوخ کولواودهغو په ځای د،،وقتي تقاضو،،عین مطابق نوی شریعت جوړولوالهام وشي دهغوی له پاره راه عامه هواره کړي اوبه عالمي سطح باندې خلک په دې باندې قائل کړي ، په دې سلسله کې موصوف چې کوم اجتهادي صلاحیتونه په کار راولي اوکوم قسمه دلائل پیش کوي اوکوم قسم تخنیک استعمالوي زیرنظرکتابچه دهغو ډیربنه مثال دی.
اسلامي اصول دادي چې دقمري میاشتواوکلونوحساب په رؤیت باندې دی،دحضور ﷺ د دورنه راواخله تراوسه پورې امت هم په دې اصول باندې کاربند دی اوروژه،اختر،اعتکاف ، زکات ،حج، قرباني.عدت او داسې نور...ډیراحکام هم په دې باندې مقرریږي،ددې برعکس مولانا موصوف موقوف دادی چې ددې شیانو له پاره دمیاشتې کتلو په دې ترقي یافته دورکې هیڅ ضرورت نه شته،ددې له پاره نه درؤیت ضرورت شته اونه دعالمانواونه دکمیټو،اونه د ګواهانو، اونه په ټیلي فون باندې دتصدیقونوکولو.(ص:۴۱)
دادحکومت کاردی چې هغه جنتري ته وګوري او دډیرمخکې نه د اخترونو وغیره اعلان وکړي اوموږ به پټوسترګوبه دې باندې (آمنا و صدقنا) وایو. دموصوف په خیال کې ،،په دې کې هیڅ قسمه شرعي نقصان نشته،،بلکې شرعی نقصان خوپه اختلاف کې دی،،(ص:۴۸)
اوس وګورئ چې په دې شرعي اصولو کې دترمیم له پاره دکوم دوجې نه چې بې شمیره احکام شرعیه مسخ کیږي ،موصوف دهغې څه اجتهادي اصول وضع کړي دي،،
دادې واضحه وي چې موږ دچا رایې ته،که د هغه خپله وي یاداهل علم حرف آخرنه ګڼو.(ص:۵)

خپل ذکرخوموصوف دتبرک په طورسره کړې دی وینا یې داده چې دشریعت هره مسئله که څه هم هرڅومره صریحي اوقطعي وي اواهل علم په هغې باندې متفق نه وي ،په هغې کې څه نا څه نوې خبره راویستل کیداي شي لکه په زیرنظرمسئله کې دامت عالمان په دې باندې متفق دي چې درؤیت هلال معنا دسرپه سترګوسره مياشت ليدل دي ـ

مګر د مولانا موصوف په اجتهادکې: ،،دلته درؤیت معنا هغه علم دی چې تاریخي یافني شواهدونه حاصليږي یادخوب په شان دزړۀ اوخیال نه..... رؤیت هلال یوازې دسرپه سترګوسره مخصوص کول څه معقوله وجه کیدای نه شي.،،

همدغه شان دټولوعالمانوقانون په نزددشهادت معنا ده:

دیوکس عدالت ته حاضریدل اوګواهي ورکول،،

مګردمولاناموصوف په نزد داصحیح نه ده ،بصیرت هم کافي دی چې غالب ګمان پیداکړي.(ص: ٣٤)

اودمسلمانانوشریعت ددې اعتبار کوي اوکه نه اوهغه مني یانه مني مګردموصوف په خیال کې: صرف دګواهانوپه شرعي ګواهي سره چې کوم غلبه ظن پیداکیدای شي.دهغې نه زیات په موجوده دورکې دفلکیاتودعلم سره حاصليږي.،(ص: ٣٤)

الغرض! کله چې دا اصول یوځل مقررشي چې: لومړی قرآن اوسنت اودین اوشریعت کوم مفهوم ګڼلی و، یاخوهغه دسرنه غلط دی،یادهغه دور په لحاظ سره صحیح و،مګرکم از کم زموږ له پاره صحیح نه دی اوددې نه وروسته په شریعت الهیه کې ردوبدل کولو ډیر ګنجائش راتلی شي اودې سره اسلامي قطعیات ډیر په اساني سره دحشوي اجتهاد،،په زد کې راوستل کیدای شي،ددې دهرې مسئلې په باره کې ویل کیدای شي ،دزړې زمانې د مسلمانانو په دورکې دهغوی په خیال کې به داسې وه خو اوس داسې نه ده،،.

موصوف فلکیاتوباندې اعتمادسره همدغه منطق ثابتول غوښتي دي.(ص:٢٣)

۲::ددې ،،حشوي اجتهاد،،دویم اصل دادی چې ددې امت په کروړونو عالمانو، او فقهاوو خلاف که دچاقول ملاوشي نوکه دهغې نقل هرڅومره ناقابل اعتباراوغلط وي لیکن هغه آسماني وحي وګڼه اودهغې اعلان وکړه،چې دامسئله دمخکې نه اختلافي راروانه ده او موږ د فلاني قول اختیاروو،چنانچې په زیرنظرمسئله کې مولاناموصوف دمطرف بن عبدالله، علامه سبکي رحمه الله، قاضي عبدالجبار رحمه الله ،ابن مقاتل رحمه الله ،اومصنف جمع العلوم نومونه ورکړي دي. چې هغوی په دې فن باندې مکمل یاغیرمکمل اعتمادکولو.(ص:١١تا ١٣) حالانکې داول الذکر طرف ته ددوی نسبت غلط دی.(فتح الباري ج:٤ ص:٩٤)دعلامه سبکي رحمه الله قول مردود دی.(شامي ج:٢ ص:١٠٠) د باقي بزرګانوپه باره کې خواول موصوف دالیکلي نه دي چې هغوی څوک وو؟ (حد دادی چې دمصنف جمع العلوم دنامې هم څه پته معلومه نه ده.)ددې نه علاوه ددوی داقول بحواله شامي. د زاهدي ،**قنیه**،نه نقل کړي دي دکوم په باره کې چې علامه شامي رحمه الله

وضاحت موجود دی چې هغه ناقابل اعتبار دی.(شامي ج:۱ ص:۵۲)

وګورئ دڅو بزرګانو غلط،مردود ،اوناقابل اعتباراقوالو سره اجتهادي کلا جوړه شوه او څوارلسو پېړيو ته دغلط فهمي ښکار ويلوجوازپيدا شو.

۳::د حشويت دريم اصل دادی چې په موقع راتلوباندې دمکر ،دوکې اوغلط بياني نه مخ ګرځول پکارنه دي،چنانچې ټولوته معلومه شوه چې امام شافعي رحمه الله په دې مسئله کې دټول امت سره متفق دی،خو موصوف امام شافعي رحمه الله هم راضی کړ چې درؤيت هلال په ځای دجنتري کتوسره دمخکې نه اعلان کيدای شي.(ص:۲۵)

دموصوف ددې دوکې مقصد دادی چې ، ،يوم شک ، ،کې روژه نيول پکاردي اوکه نه؟ په دې باره کې دامام شافعي رحمه الله نه، بلکې بيا وروسته دشافعيه وو دمشايخوګڼ شمير اقوال دي چې دامام نووي رحمه الله په ، ،شرح مهذب ، ،اوحافظ ابن حجر رحمه الله په ، ،فتح الباری ، ،کې کتل کيدای شي،هم په دې کې يوقول دبعضومحتاط شافعيه وو دادی چې که حسابي تخمينه ددې تائيدکوي نوکوم کس ته چې ددې په صحت باندې باور وي دهغه له پاره پرې روژه نيولو کې څه نقصان نشته.هم دغه موصوف دغلط فهمي ياجعل سازي دوجې نه،داسې مسخ کړی دی چې امام شافعي رحمه الله ياتمام شافعيه په فن فلکيات باندې داعتماد قائل وو.(ص:۱۲)

۴:: دحشويت څلورم اصل دادی چې مختلف قسمه غلطيانواوګپ شپ ته د ، ،قياس ، ، نوم ورکړل شي اومولاناموصوف هم ددې اصل نه دپوره استفادې ډيره تجربه لري مثلاً:

۱:: که دټيلي فون په اطلاع باندې دنني ماښامي دعوت قبليدايي نودرؤيت شهادت پرې ولې نه شي قبليدای ؟ (ص:۲۸)

۲:: که کرنسي نوټونودنقدي قائم مقام دی؛ نودفلکياتوفن درؤيت قائم مقام ولې نه شي کېدای؟(ص:۵)

۳:: که ټينک چلول شهسواري ګڼل کيږي؛ نو د رؤيت تعبيردجنتري سره ولې نه شي کېدای؟(ص:۵)

۴:: که د ميراث په تقسيم کې په حساب کتاب باندې اعتمادکيدای شي؛ نوبه مياشت کې ولې نه شي کېدای؟

۵:: که دمشکيزې په ځای پمپنګ سره داودس له پاره اوبه اخيستل کېدای شي، نو دهوايي جهازنه ولې مياشت لېدل کېدای نه شي؟

۶:: که دغوښې په معامله کې په قصاب باندې اعتبارکيدای شي؛ نودمياشتې په معامله کې حکومت باندې ولې نه شي کيدای؟ (ص:۴۲)

ددې خبرو په نقل کولوکې قلم ته هم اولتيی(قی) ورځي مګرددې حضراتوصبراوحوصله ده چې داسې شرعي مسائل په دې بچګانه سوالونوسره حل کول غواړي،دکوم له پاره چې نه دعلم

ضرورت شته او نه د عقل او نه د فهم اوبوهې.
که اداره ثقافت اسلامیه نه په اسلامي موضوعاتو باندې داسې معیاري کتابونه را وتل نو یقین کول پکار دي چې هغه به په خپله نیک نامي کې د ،اداره طلوع اسلام،، او ،،اداره تحقیقات اسلامي،، نه مخکې لاړه شي.

په انګلستان کې د اختر لمونځ

سوال: په انګلستان کې مسلمانانو ته د اختر مسئله د ټولو نه اهمه ده، مسلمانان په دې سلسله کې همیشه د اختلافاتو ښکار کیږي، په هر ښار کې څوځو اخترې کیږي، په دې سلسله کې تاسو څه وفرمایئ مسلمانان څنګه یو شان اختر وکړي؟

جواب: په اصل کې د رمضان المبارک او د اختر تعلق د رؤیت هلال سره دی، نبي اکرم (صلی الله علیه وسلم) وفرمایل چې سپوږمۍ وویني نو روژه کوئ او چې سپوږمۍ وویني نو اختر کوئ[1] عیسوي کال متعین دی او تاریخونه یې مقرر دي، خو د قمري تاریخونو تعیین هره میاشت وي، کله ۲۹ تاریخ باندې کله ۳۰ تاریخ باندې د سپوږمۍ په تاریخ باندې د روژې یا د اختر فیصله کیږي، د یورپ د موسمي حالاتو په وجه په عام طور باندې د سپوږمۍ لیدل یوه ناممکنه خبره ده، په دې وجه عام طور باندې په دې سلسله کې اختلاف پیداکیږي او د فقهي مسئلو په لحاظ سره دداسې ملکونو د پاره مسئلې موجودې دي، که چیرې ددې مسئلو مطابق حکمونه بیان کړل شي ؛نو د اختلاف په وجه به نه وي د فقهي په اعتبار سره به وي په کومو ملکونو کې چې سپوږمۍ په نظر نه راځي؛ نو هلته چې کوم قریب ترین ملک وي ددې په رؤیت (سپوږمۍ دلیدلو) اعتبار دی او د دوی د سپوږمې په لیدلو باندې به د اختر یا د رمضان المبارک اعلان کیږي، په دې اعتبار سره د انګلینډ قریب ترین ملک مراکش دی، په دې وجه د مراکش په سپوږمۍ باندې د انګلینډ خلک روژې نیسي او اختر کوي[2] زموږه په رایه په انګلینډ کې د مختلفو ملکونو په فقهي احکاماتو باندې د نظر ساتلو په وجه اختلاف وي، علماء کرامو ته په متفقه ضابطې سره په پوره انګلینډ کې په یوه ورځ باندې اختر کول پکار دي ددې له پاره چې د مسلمانانو اجتماعیت په نظر راشي او خلک د دین خلاف پروپیګنډه و نه کړي.

---

[1] عن ابن عمرقال:قال رسول الله صلی الله علیه وسلم :الشهرتسع وعشرون فلاتصوموا حتی تروه ،ولاتفطروا حتی تروه (سنن ابی داؤد ج:١ص:٣١٧،کتاب الصوم ،باب الشهریکون تسعًاوعشرین) (ایضًا: ویثبت رمضان برؤیة هلاله اوبعد شعبان ثلاثین یومًاالحدیث الصحیحین :صوموا لرؤیته وافطروا لرؤیته ،فان غم علیکم فاکملوا عدة شعبان ثلاثین یومًا(البحرالرائق ج:٢ص:٢٨٣،کتاب الصوم)

[2] تفصیل دپاره اوګوره:شامی ج:١ص:٣٦٢مطلب فی فاقد وقت العشاء کاهل بلغار ، ایضًا اوګورئ:نظام الفتاوی ،ازمولانا مفتی نظام الدین اعظمی رحمه الله ج:١ ص:١٢٨ مکتبه رحمانیه لاهور)

د چاپه نزد چې په شرعي شهادت سره سپوږمۍ ثابته شوه هغوی ته د يوې روژې قضا نيول پکار دي

سوال: په اخبار کې خبر شائع شو چې د رمضان المبارک سپوږمۍ (۲۸) مارچ باندې په نظر راغله او حالانکې شهادتونه هم موجود وو لکه څنګه چې سپوږمۍ د شپې د مابنام نه ظاهره وه چې سپوږمۍ د يوې ورځې د مخکې نه وه او هلال کميټۍ د سپوږمۍ ليدو اعلان ونه کړ، چونکې سپوږمۍ د اولې غلطۍ د پټولو له پاره عالمانو د ښځو په سربراهي کې دحکومت د خوشحالولو له پاره د دين غلا و کړه او حق خبره يې پټه کړه، که چيرې (۲۹) روژې شوې وي نو آيا لومړۍ روژه چې کومه د هلال کميټۍ د وجې نه پاتې شوې وه آيا هغه روژه به نيول کيږي؟ جواب راکړئ.

جواب: زما خو په اهل علم باندې داسې بدګماني نشته چې فرض شرعي يوازې د حکومت د خوشحالولو له پاره پريږدي او بيا په دې کې د حکومت څه مفاد دي چې رمضان يوه ورځ پس شروع شي، په هر حال د کومو خلکو په نزد چې په شرعي شهادت سره رمضان ثابت شوی وي، دوی ته د روژې قضاء نيول ضرور پکار دي.[1]

❖ د روژې نيت ❖

د روژې نيت کله پکار دی؟

سوال: درمضان المبارک روژې نيت کوم وخت کې کول پکار دي؟

جواب: ۱: بهتر دادی چې درمضان المبارک دروژې نيت دصبح صادق نه مخکې وکړل شي.[2]

۲: که دصبح صادق نه مخکې درمضان المبارک دروژې دنيولو اراده نه وه اودصبح صادق نه پس يې اراده وکړه نورروژه نيول پکار دي، که دصبح صادق نه پس يې څه خوړلي څښلي نه وي؛ نونيت صحيح دی.[3]

۳: که څه يې خوړلي څښلي نه وي نودغرمې نه يوه ګنټه مخکې (يعنې شرعي نصف النهارنه

[1] رجل رای هلال رمضان وحده فشهدولم تقبل شهادته کان علیه ان یصوم وان افطرفی ذلک الیوم کان علیه القضاء دون الکفارة .عالمگیری ج:۱ص:۱۹۸، الباب الثانی فی رؤیة الهلال)

۲] ووقتها بعدالغروب ولایجوزقبله والتسحرنیة کذافی الظهیریة (البحرالرائق ج:۲ ص:۲۷۹)۔

۳] وانما تجوز النیة قبل الزوال اذالم یوجدقبل ذلک بعدطلوع الفجرماینافی الصوم ...... الخ (هندیة ج:۱ص:۱۹۶،کتاب الصوم ،الباب الاول فی تعریفه وتقسیمه وسببه ووقته وشرطه)۔

مخکې، د رمضان المبارک د روژې نیت کول شي.[۱]

۴: د رمضان شریف د روژې بس صرف دومره نیت کول کافي دي چې نن زما روژه ده، یا د شپې نه دې اراده وکړي چې سهار به روژه نیسم.[۲]

شرعي نصف النهار نه مخکې د روژې نیت کول پکار دي

سوال: ایا د نصف النهار شرعي په وخت کې د روژې نیت کولی شو او لمونځ کولی شو؟

جواب: اول خوبه دې پوهیدل پکار دي چې ,,نصف النهار شرعي ،، څه شی دی؟ نصف النهار دورځې نیمای ته وایي، او د روژه دار له پاره ورځ د صبح صادق نه شروع کیږي، د صبح صادق نه واخله تر غروب آفتاب پورې پوره ورځ شوه، او د دې نیمای ته ,,نصف النهار شرعي ،، وایي، او د لمر راختو نه واخله تر پریوتو پورې ته په عرف عام کې ورځ وایي، د دې نمیای ته,,نصف النهار عرفي،، وایي، نصف النهار شرعي د نصف النهار عرفي نه کم و بیش څلویښت منټه مخکې وي.[۳]

کله چې دا معلومه شوه نو پوهیدل پکار دي چې د روژې په نیت کې د ,,نصف النهار شرعي،، اعتبار دی، له دې وجې نه د رمضان المبارک د روژې او د نفلي روژې نیت د نصف النهار شرعي نه مخکې کول صحیح دي، (هر کله چې څه یې خوړلي او څښلي نه وي) د دې نه پس صحیح نه دی او په لمونځ کې نصف النهار عرفي ته اِعتبار دی، او په هغه وخت کې لمونځ جائز نه دی، نصف النهار شرعي (کوم ته چې ضحوی کبری، هم وایي) د غه وخت کې لمونځ کول درست دي.[۴]

۱] ایضاً پورتنۍ حاشیه)۔

۲] وعرفهافى المحيط بان يعرف بقلبه انه صوم ......الخ (البحرالرائق ج:۲ ص:۲۷۹)۰ وايضًااماالقسم الذى لايشترط هذا تعين النية لمايصومه ......فهو اداء رمضان ......وحقيقة النية قصده عازمًا بقلبه صوم غد ولايخلو مسلم عن هذا فى ليالى شهررمضان (مراقى الفلاح على هامش الطحطاوى ،فصل فيمايشترط ثبت النية ص:۳۵۲ طبع نورمحمد)۔

۳] (فيصح اداء صوم رمضان... والنفل سنة من الليل الى الضحوة الكبرى لاعندها تنوير الابصار،وفى الشامية: (قوله الى الضحوة الكبرى)المراد بهانصف النهارالشرعى والنهارالشرعى من استطارة الضوء فى افق المشرق الى غروب الشمس والغاية غيرداخلة فى المغياكمااشاراليه المصنف بقوله لاعندها......وفى الجامع الصغيرقبل النصف النهاروهو الاصح لانه لابد من وجود النية فى اكثرالنهارونصفه من وقت طلوع الفجرالى وقت الضحوة الكبرى لا وقت الزوال فتشترط النية قبلها لتحقق فى الاكثر اه (شامى ج:۲ص:۳۷۷،كتاب الصوم)

٤] (فيصح اداء صوم رمضان ......والنفل سنة من الليل الى الضحوة الكبرى لا عندها تنوير الابصار۰وفى الشامية :قوله الى الضحوة الكبرى المراد بهانصف النهارالشرعى والنهارالشرعى من استطارة الضوء فى افق المشرق الى غروب الشمس والغاية غيرداخلة فى المغياكمااشاراليه المصنف بقوله لا عندها......وفى الجامع الصغيرقبل النصف النهاروهوالاصح لانه لابدمن وجود النية فى اكثرالنهار....[بقيه حاشيه په راروانه صفحه.

د روژې نیولو او روژه ماتي دعاګانې

سوال: دنفلی روژې نیولو نیت او د روژه ماتي دعاګانې څه دي؟

جواب: دنفلی روژې له پاره دمطلق روژې نیت کول کافي دی، او هغه دا دی:[۱]

،،**وبصوم غدنويت**.. **ترجمه**: زه دسبانۍ روژې نیت کوم،،

او د روژه ماتي دعا دا ده: ،،**اللهم لک صمت وعلی رزقک افطرت**،،[۲]

ترجمه: اې الله! ماستاله پاره روژه ونیوله او ستا په رزق باندې روژه ماتی کوم،،

او د رمضان د روژې نیت دې داسې وایي:

،،**وبصوم غد نويت من شهر رمضان**،،[۳]

ترجمه: زه دسبانۍ رمضان روژې نیت کوم،،

د افطار دعا د کوم حدیث نه ثابته ده؟

سوال: په جنګ اخبار (۱۵) مارچ (۱۹۹۱ء) کې ستاسو مضمون د رمضان المبارک دفضیلت او اهمیت باندې ډیر معلوماتي مضمون و، په دې کې یوه خبره معلومول غواړم د افطار په دعا کې تاسو دوه دعا ګانې لیکلې وې:

(۱) لوږه ختمه شوه، کولمې لمدې شوې او اجر ان شاء الله ثابت شو. (۲) اې الله ما ستاد پاره روژه ونیوله او ستا په رزق مې افطار وکړ.

پوښتنه داده چې په دواړو دعا ګانو کې کومه یوه د صحیح حدیث نه ثابته ده؟ او بل دا چې

...بقيه د تير مخ]..ونصفه من وقت طلوع الفجرالى وقت الضحوة الكبرى لا وقت الزوال فتشترط النية قبلها لتحقق فى الاكثر اه (شامى ج:۲ ص:۳۷۷) ايضًا: امااالقسم الذى لايشترط فيه نيته فهو اداء رمضان ......واداء النفل ......فتصح النية ولو نهارًا الى ماقبل نصف النهارلان الشرط وجودالنية فى اكثرالنهار احتياطًا وبه توجدفى كله حكمًا لاكثروخص هذا بالصوم فخرج الحج والصلاة لانهما اركان......ونصف النهار من ابتداء طلوع الفجر الى قبيل وقت الضحوة الكبرى لاعندهالان النهار قديطلق على ماعند طلوع الشمس الى غروبهالغة وعندالزوال نصفه فيفوت شرط صحة النية بوجودهاقبيل الزوال (مراقى الفلاح مع حاشية الطحطاوية ص:۳۵۲،۳۵۳،طبع ميرمحمد)۔

۱] ويصح ايضًا...... النفل بمطلق النية من غيرتقييد......وبنية النفل ايضًا (مراقى الفلاح على هامش الطحطاوى،فصل فيمالايشترط تبيت النية ص:۳۵۳طبع ميرمحمدكتب خانه)۔

۲] وعن معاذ بن زهرة قال:ان النبى صلى الله عليه وسلم كان اذا افطرقال: اللهم لک صمت وعلى رزقک افطرت رواه ابوداؤد مرسلاً (مشكوة ص:۱۷۵،كتاب الصوم ،وايضًافى الهندية ج:۱ص:۲۰۰كتاب الصوم ،الباب الثالث)

۳]هندية ج:۱ص:۲۰۰كتاب الصوم ،الباب الثالث فيمايكره للصائم ومالايكره)۔

نورې دعا ګانې مونږه همیشه آورو او وایو یې چې اې الله! ما ستا د پاره روژه ونیوله او په تا باندې مو ایمان راوړی دی او په تاباندې مو توکل کړی دی او ستا په رزق مو افطار وکړ، ستاسونه دا معلومول غواړم چې کومه دعا لوستل پکاردي چې هغه د صحیح حدیث نه ثابته وي؟

جواب: ما په خپل مضمون کې چې کومې دوه دعا ګانې نقل کړې دي، هغه خود مشکواة (ص: ۱۷۵) کې د ابوداؤد شریف په حوالې سره ذکر شوې دي، او کوم الفاظ چې تاسو آورئ او وایئ دا ماته په هیڅ حدیث کې نه دي معلومه، اګر چې مضمون صحیح دی.[۱]

د روژې نیت کوم وخت وشي؟

سوال: ماته د بې خوبي شکایت دی او بل دا چې زما په ذمه باندې قضاء روژې دي، که چیرې زه د پیشمني په وخت پاځم نو د بې خوبي د مرض په وجه د خوب په وخت کې نوره کمې کیدو ویره ده، په دې صورت حال کې داسې کولی شم چې د شپې ۱۱ بجو پورې نیت وکړم او کله چې سهار پاځم نو زما به روژه وي؟

جواب: که چیرې ته د خوب نه مخکې نیت وکړئ چې زما روژه نیول دي نو نیت به صحیح شي.[۲]

د شپې د روژې د نیت کولو نه څه مراد دي؟

سوال: ما په یو کتاب کې لوستلي و چې د قضاء او نفل روژو نیت د شپې نه کول پکار دي، که چیرې داسې یې ونه کړ؛ نو روژه به دوباره نیسي، د شپې د نیت کولو نه څه مراد دي؟ آیا د شپې د نیت کولو نه پس سهار د فجر د آذان نه مخکې پیشمنی نه شي کولی؟ او که هیڅ هم نه شي کولی؟

جواب: د شپې نه د نیت کولو نه مطلب دادی چې د صبح صادق نه مخکې د روژې نیت وکړي.[۳]

---

[۱] عن ابن عمررضی الله عنه قال:کان النبی صلی الله علیه وسلم اذا افطرقال:ذهب الظماء وابتلت العروق وثبت الاجر انشاء الله .رواه ابوداؤد .وعن معاذبن زهرة رضی الله عنه قال:ان النبی صلی الله علیه وسلم کان اذا افطرقال: اللهم لک صمت وعلی رزقک افطرت.رواه ابوداؤد مرسلاً .(مشکوة ص:۱۷۵،کتاب الصوم ،باب ،الفصل الثانی)

[۲] ولو نوی من اللیل ثم رجع عن نیته قبل طلوع الفجرصح رجوعه فی الصیامات کلهاکذا فی السراج الوهاج ولوقال نویت ان اصوم غدًا انشاء الله تعالی صحت نیته هو الصحیح کذا فی الظهیریة .ووقت النیة کل یوم بعدغروب الشمس ولا یجوز قبله کذا فی محیط السرخسی .(عالمگیری ج:۱ص:۱۹۵،کتاب الصوم)۔ فیصح کل من هذه الثلاثة (ای اداء رمضان والنفل والنذر)بنیة معینة من اللیل .(مراقی الفلاح ص:۳۵۲،کتاب الصوم ،فصل فیمالایشترط تثبیت النیة)

[۳] اماالقسم الذی لایشترط فیه تعیین النیة لمایصومه ولاتبییتها ای ....[بقیه حاشیه په راروانه صفحه.

د نفلي روژې نیت

سوال: دنفلي روژې نیولواوماتولو نیت څه دی؟که دنفلوپه طورسره روژې منل شوې وي چې که زمافلانی کار وشو؛ نودومره روژې به نیسم، دروژې نیت او دروژه ماتي څه نیت دی؟

جواب: نیت دزړه ارادې ته وايي،نفلي روژه کې دمطلق روژې نیت کول هم صحیح دي اود نفلي نیت هم،یعنې په زړه کې دې اراده وکړي چې زه روژه نیسم،مګردنذردروژې له پاره د نذر نیت کول ضروري دي،یعنې په زړه کې دا اراده وکړئ چې زه دنذرروژه نیسم[1].

غالباً ستاسو مراددنیت نه هغه دعاګانې دي چې دروژې نیولو په وخت کې اوروژه ماتي په وخت کې لوستل کیږي،ددې دعاګانو لوستل مستحب دي، ضروري نه دي،روژه ددې نه پرته هم صحیح ده.البته ددې دعاګانوپه ژبه سره ویل مستحب دي[2].

د پیشمني کولو نه پرته د روژې نیت کول صحیح دي

سوال: زه دامعلومول غواړم چې د روژې له پاره پیشمنی کول ضروري دی اوکه نه؟ زه ډیره پریشانه یم، څوک څه وايي اوڅوک څه؟ ددې له وجې تاسو زموږ اصلاح وکړئ!

جواب: دروژې له پاره پیشمنی کول دبرکت نه ډک دی، چې دې سره دټولې ورځې له پاره طاقت ملاویږي[3]، مګردا دروژې له پاره دصحیح کیدوشرط نه دی، که دپیشمني کولو موقعه پیدا نه شي اوپرته د پیشمني کولونه یې روژه ونیوله؛ نوهم روژه صحیح ده.[4]

د قضا روژې نیت

سوال: په رمضان کې چې کله روژه نیسو؛ نودروژې نیت به وایو او روژه به نیسو؛ نوستاسونه

...بقیه د تیر مخ]..النیة فیه فهو اداء رمضان ......فیصح بنیة معینة مبینة من اللیل وهو الفضل (مراقی الفلاح ص:٣٥٢،کتاب الصوم ،فصل فیما لایشترط تثبیت النیة)

١] واما القسم الثانی وهومایشترط له تعیین النیة وتبیینهایتادی به ویسقط عن المکلف ......والنذر المطلق عن تقیده بزمان......لانها لیس لها وقت معین فلم تتادی الا بنیة مخصوصة مبینة. (مراقی الفلاح علی هامش الطحطاوی ص:٣٥٤،کتاب الصوم طبع میرمحمدکتبخانه)_

٢] فیصح اداء صوم رمضان والنذر المعین والنفل بنیة من اللیل ...... وبمطلق النیة ای نیة الصوم ...... وبنیة نفل درمختار —وفی الشامیة :النیة شرط فی الصوم وهی ان یعلم بقلبه انه یصوم ......الخ (شامی ج:٢ص:٣٧٧)_

٣]عن انس بن مالک رضی الله عنه قال:قال رسول الله صلی الله علیه وسلم :تسحروا فان فی السحوربرکة (سنن ابن ماجة باب ماجاء فی السحورص:١٢١طبع نورمحمد)_

٤] ولوقال نویت ان اصوم غدا ان شاء الله تعالی صحت نیته هوالصحیح ......جازصوم رمضان والنذرالمعین والنفل بنیة ذلک الیوم اوبنیة مطلق الصوم اوبینة النفل من اللیل الی ماقبل نصف النهار (فتاوی هندیة ،کتاب الصوم الباب الاول ج:١ص:١٩٥،طبع رشیدیه)_

مې پوښتنه داده چې که زموږ د رمضان روژې پاتې شي او بیا وروسته موږ قضا روژې نیسو، همدغه نیت به کوو؟

جواب: نیت د زړه ارادې ته وايي، هرکله چې تاسو د صبح صادق نه مخکې د قضا روژې نیت وکړ او روژه مو ونیوله؛ نو روژه صحیح ده که په ژبه موهم ،،وبصوم غدٍ نویت من قضاء رمضان، (سهار د رمضان د قضا روژې نیولو نیت کوم) وویل؛ نو هم ښه ده، مګر د روژې نیت د هغه الفاظ په ژبه سره ویلو نه پرته هم کیږي.[۱]

د رمضان روژه نیولو نه وروسته مو ماته کړه؛ نو قضا او کفاره به لازم وي

سوال: ایا قضا روژې د پیشمني نه پرته داسې نیول کیدای شي چې د شپې دویده کیدو نه مخکې نیت وشي چې سبا به زما روژه وي، ځکه چې ما اوریدلي دي چې نفلي او قضا روژې پرته د پیشمني نه هم نیول کیږي، که سهار د پورته کیدو فورا د سهار په وخت کې نیت وشي؛ نو ایا روژه به اداشي؟ ځکه چې د روژې نیت د زوال نه مخکې کیږي او که سهار د پورته کېدو وروسته اراده بدله شي یا د څه مجبوري له وجې د روژې نیولو همت ونکړای شي؛ نو د داسې روژې له پاره به قضا لازمه وي یا کفاره؟ مهرباني وکړئ او د دې مسئلې په تفصیل سره وضاحت وکړئ ځکه چې زه به نفلي او قضا داوړه روژې نیسم او زه د صبح صادق نه مخکې پورته نه شم د دې له وجې نه تراوسه پورې مې خپل د افرض ادا نه کړای شو.

جواب: دلته څو مسائلې دي:

۱:.......د رمضان د قضایي روژې نیت پرته د پیشمني کولو هم کولی شئ، مګر شرط دادی چې د قضا روژې نیت د صبح صادق نه مخکې وشي.[۲]

۲:.....که سهار شو؛ نو د نفلي روژې نیت (او همدغه شان د رمضان المبارک د ادا روژو نیت) د نصف النهار شرعي نه مخکې کول صحیح دي،[۳] مګر د قضا روژې نیت صحیح نه دی، همدغه شان د نذر د روژې نیت هم د صبح صادق نه وروسته صحیح نه دی، ځکه چې د قضا او د نذر د روژو نیت د صبح صادق نه مخکې کول شرط دي.[۴]

۱] والنية معرفته بقلبه ان يصوم كذا فى الخلاصة ومحيط السرخسى والسنة ان يتلفظ بها كذا فى النهر الفائق (هندية ج:۱ص:۱۹۵،وايضًا فى الدرمع الشامى ج:۲ص:۳۸۰)۔

۲] وشرط القضاء والكفارات ان يبيت ويعين كذافى النقاية (عالمگيرى ج:۱ص:۱۹۶،كتاب الصوم ،الباب الاؤل فى تعريفه وتقسيمه وسببه ووقته وشرطه ،طبع رشيديه ،وايضًا فى الشامية ج:۲ص۳۸۵،كتاب الصوم)۔

۳]فيصح اداء صوم رمضان والنذرالمعين والنفل بنية من الليل الى الضحوة الكبرى (درمختار)وفى الشامية :قوله الى الضحوة الكبرىٰ المراد بها نصف النهارالشرعى ......الخ (شامى ج:۲ص:۳۷۷،كتاب الصوم)۔

٤] والشرط للباقى من الصيام قرآن النية للفجر ولوحكمًا وهوتبيت النية للضرورة وتعيينها (درمختار)وفى الشامية : (قوله :والشرط للباقى من الصيام) اى من انواعه اى الباقى....[بقيه حاشيه په راروانه صفحه.

۳...... که دشپې نه مو د روژې نیت وکړ اوویده شوئ، که دصبح صادق نه مخکې سترګې وغړیدې؛ نودنیت بدلولو اختیار شته[1]،که روژه نیسې اوکه یې نه نیسې، خوکه دشپې نیت کولونه وروسته هغه وخت موسترګې وغړیدې چې صبح صادق شوی و؛ نواوس دنیت بدلولو اختیار نه شته، ځکه چې دشپې دنیت له وجې روژه شروع شوې ده اواوس دنیت بدلولومعنا به دروژې ماتول وي، په دې صورت کې که مودصبح صادق نه وروسته څه وخوړل؛ نوروژه به موماته شي.

اوکه بیادا د رمضان روژه وه؛ نوقضا او کفاره به دواړه لازم وي[2]اوکه دنفلورژوه وه: نودهغې قضابه لازمیږي.[3]

❖ پیشمنی او روژه ماتی ❖

پیشمني کې خوراک کول مستحب دي

اوکه یې ونه خواړه؛ نوبیا هم روژه کیږي

سوال: سوال دادی چې ایا دروژې نیولوله پاره پیشمنی ضروري دی؟ اوکه څوک بشمني کې خوراک ونه خوري؛ نو ایادهغه روژه نه کیږي؟ دروژې نیت هم وښیئ دکوم ویلوسره چې روژه نیول کیږي؟

جواب: دروژې له پاره پیشمنی کول مستحب اودبرکت باعث دی، دې سره په روژه کې طاقت پیداکیږي[4] اوپیشمني کولونه وروسته دادعاکول پکاردي:,,**وبصوم غدنویت من شهر رمضان**[5]

...بقیه د تیر مخ].. منها بعد الثلاثة المتقدمة فی المتن وهو قضاء رمضان والنذر المطلق ......الخ (شامی ج:۲ص:۳۸۰ کتاب الصوم)۔

۱]ولو نوٰی من اللیل ثم رجع عن نیته قبل طلوع الفجرصح رجوعه فی الصیامات کلها......الخ (هندیة ج:۱ ص:۱۹۵،کتاب الصوم ،الباب الاول فی تعریفه وتقسیمه)۔

۲]وفی التنویر :وان جامع فی رمضان اداء ......عمدًا فظن فطره به فاکل عمدًا قضی وکفر (درمختارمع الشامی ج:۲ص:۴۱۱،۴۰۹ ،باب مایفسدالصوم ومالایفسده ،وایضًا فی العالمگیریة ج:۱ص:۱۹۵)۔

۳] قوله لمامرای من ان الکفارة انماوجبت لهتک حرمة شهر رمضان فلاتجب بافساد قضائه ولا بافساد صوم غیره (شامی ج:۲ص:۴۰۹ ،باب مایفسدالصوم ومالا یفسده ،مطلب فی جواز الافطاربالتحری)۔

۴]التسحرمستحب ......الخ (عالمگیری ج:۱ص:۲۰۰) وعن انس رضی الله عنه قال:قال رسول الله صلی الله علیه وسلم :تسحروافان فی السحوربرکة (ابن ماجة ص:۱۲۱ ،باب ماجاء فی السحور،طبع نورمحمد)۔

۵] قوله ان یتلفظ بها فیقول نویت اصوم غدًا ......من فرض رمضان ......الخ (شامی ج:۲ ص:۳۸۰،کتاب الصوم ،والهندیة ،کتاب الصوم ج:۱ص:۲۰۰، الباب الثالث فیمایکره للصائم وما لایکره،طبع رشیدیه)۔

څو که چاته داد عا یاده نه وي؛ نو بیا هم دروژې په زړه کې نیت کول کافي دي.[1]
که تاسو دصبح صادق نه واخله ترلمرپریوتوپورې څه ونه خوړل او یولس بجې(یعنې شرعي نصف النهار)نه مخکې مود روژې نیت وکړ نو ستاسو روژه صحیح ده، دقضاضرورت نه شته.[2]

پیشمنی ناوخته او روژه ماتي کې بیړه کول پکار دي

سوال: زموږ ځای کې ځینې خلک پیشمنی ډیروخته کوي او د روژه ماتي په وخت روژه ماتی ناوخته کوي، ایا ددوی داعمل صحیح دی؟

جواب: دلمرپریوتلو وروسته په روژه ماتولو کې تاخیرکول پکارنه دی، دحضورﷺ ارشاد مبارک دی چې: زماامت به په خیریاندې وي ترڅو پورې چې د پیشمنې په خوراک کې تاخیراو (لمر پریوتو نه وروسته) په روژه ماتي کې بیړه کوي.، (مسنداحمد ج:۵ ص:۱۷۲)[3]

په یوبل حدیث کې دي چې: خلک به همیشه په خیرپاندې وي ترڅوپورې چې په روژه ماتي کې بیړه کوي.، (صحیح بخاری،مسلم ومشکوة ص:۱۷۵)[4]

په یوبل حدیث کې دي چې: الله تعالی فرمایي چې: ماته په خپلوبندګانوکې محبوب هغه خلک دي چې په روژه ماتي کې بیړه(تندي) کوي.(ترمذی،مشکوة،ص:۱۷۵)[5]

په یوبل حدیث کې دي چې:دین به همیشه غالب وي ترڅو پورې چې خلک په روژه ماتي کې جلدي(بیړه) کوي ځکه چې یهود او نصارا تاخیرکوي، (ابوداود،ابن ماجه،مشکوة ص:۱۷۵)[6]

مګرداضروري ده چې دلمردپریوتویقین وشي؛ نوهله روژه ماتول پکاردي.[7]

۱] قوله والشرط فیها......یکفیه ان یعلم بقلبه ان یصوم ......الخ (شامی ج:۲ص: ۳۷۰ ،کتاب الصوم ،والهندیة ج: ۱ص: ۱۹۵ ،کتاب الصوم ،الباب الاول فی تعریفه وتقسیمه وسببه و وقته وشرطه)۔

۲] فیصح اداء صوم رمضان والنفل بنیة من اللیل الی الضحوة الکبری (درمختار)وفی الشامیة قوله الی الضحوة الکبری المرادبها نصف النهارالشرعی.....الخ (شامی ج: ۲ص: ۳۷۷،کتاب الصوم ،والهندیة ج: ۱ص: ۱۹۶)

۳] عن ابی ذر رضی الله عنه ان النبی صلی الله علیه وسلم قال...... لاتزال امتی بخیر مااخروا السحور وعجلوا الفطر (مسنداحمد بن حنبل ج:۵ص: ۱۷۲طبع بیروت)۔

٤] وعن سهل رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم :لایزال الناس بخیر ماعجلوا الفطر ۰ متفق علیه (مشکوة ،کتاب الصوم ج: ۱ص: ۱۷۵،باب الفصل الثانی ،طبع قدیمی)۔

٥] وعنه (ای ابوهریرة)قال:قال رسول الله صلی الله علیه وسلم، قال الله تعالی: احب عبادی الی اعجلهم فطراً، متفق علیه، (مشکوة، کتاب الصوم ج ۱، ص۱۷۵، طبع قدیمی)۔

٦] عن ابی هریرة رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم:لایزال الدین ظاهرًا ماعجل الناس الفطرلان الیهودوالنصاری یوخرون رواه ابوداؤد وابن ماجة (مشکوة ،کتاب الصوم ج: ۱ص: ۱۷۵ طبع قدیمی)

۷] ولایفطر مالم یغلب علی ظنه غروب الشمس وان اذن الموذن بحرعن البزازیة (ردالمحتار،کتاب الصوم ج: ۲ص: ٤۲۰)۔

که چادصبح صادق نه وروسته خوراک څښاک وکړ؛ نو روژه و نه شوه

سوال: روژه څومره وخت پورې وي؟ ایا دصبح صادق نه وروسته خوراک څښاک کولی شو؟

جواب: روژه دصبح صادق نه واخله ترلمرپریوتلوپورې وي، دصبح صادق نه مخکې دخوراک څښاک اجازه شته او که دصبح صادق نه وروسته یې څه خوراک څښاک وکړ نو روژه ونه شوه.[1]

که پیشمني ته راپورته نه شي؛ نو څه وکړي؟

سوال: که څوک پیشمني ته راپورته نه شي؛ نو هغه ته څه کول پکار دي؟

جواب: پرته دڅه خوړلو، څښلو دې دروژې نیت وکړي.[2]

د اوده کیدو نه مخکې یې د روژې نیت وکړ او د صبح صادق نه وروسته راپورته شو؛ نو روژه شروع شوه، اوس ددې د ماتولو اختیار نه شته

سوال: یوکس دروژې نیت وکړ او ویده شو، مګر پیشمني کې راپورته نه شو؛ نوسهارایا په خپلې خوښې سره فیصله کولی شي، چې روژه ونیسي او که نه ؟

جواب: کله چې هغه دویده کیدونه مخکې دروژې نیت کړی و: نودصبح صادق نه وروسته دهغه روژه (دویده پاتې کیدو په حالت) شروع شوه اودروژې شروع کیدونه وروسته هغه ته ددې فیصلې کولو اختیار نه شته چې هغه روژه ونیسي اوکه نه؟ ځکه چې د روژې نیولو فیصله، خوهغه کړې ده او اوس دهغه په دې فیصله باندې روژه شروع شوې ده اواوس دروژې شروع کیدونه وروسته دماتولو اختیارنه شته[3]، که درمضان روژه ماته کړي؛ نوپه هغه به قضا او کفاره دواړه لازم وي.[4]

١] فهوعبارة عن ترک الاکل والشرب والجماع من الصبح الی غروب الشمس......الخ (هندية ج:١ ص:١٩٤، کتاب الصوم ،الباب الاول فی تعريفه ......الخ (والشامی ج:٢ص:٣٧١،کتاب الصوم)_

٢] ولونوی قبل ان تغيب الشمس ان يکون صائمًا غدًا ثم نام ......لم يجزوان نوی بعد غروب الشمس جازکذا فی الخلاصة (هندية ج:١ص:١٩٥،کتاب الصوم ،الباب الاول ،وايضافی الشامی ج:٢ص:٣٧٧، کتاب الصوم)_

٣]وقت النية فالافضل فی الصيامات کلها ان ينوی وقت طلوع الفجر ان ا مکنه ذالک او من الليل لان النية عندطلوع الفجر تقارن اول جزء من العبادة حقيقة ومن الليل تقارنه تقديرًا وان نوی بعدطلوع الفجر فان کان الصوم دينا لايجوز بالاجماع وان کان عينا وهو صوم رمضان وصوم التطوع خارج رمضان والنذر المعين يجوز (بدائع الصنائع ج:٢ص:٨٥ ،کتاب الصوم ،فصل واماشرائطها فنوعان ،طبع ايچ ايم سعيد)_

٤] اذاکل متعمدًا مايتغذی به'اويتداوی به يلزمه الکفارة وهذا اذاکان ممايوکل للغذاء او للدواء فاما اذالم يقصدلهما فلاکفارة وعليه القضاء کذافی خزانة المفتين فالصائم اذا أکل الخبزاو الاطعمة او الاشربة ......عليه القضاء والکفارة عندناهکذا فی فتاوی قاضيخان عالمگيری ج:١ص:٢٠٥،الباب الرابع فيمايفسدومالايفسد)

د شپې د روژې نیت کولو والا پیمشنی وکړي؛ نو هم به د هغه روژه وشي

سوال: که یوکس له شپې د روژې نیت وکړي او ویده شي، څکه چې هغه سره ویره ده چې دپیشمني په وخت کې به د هغه سترګې ونه غړیږي؛ نو ایا د هغه روژه به وشي؟

جواب: وبه شي.[۱]

سوال: اوکه سترګې یې وغړیدې؛ نو ایا له سرنه پیشمنی کولی شي؟

جواب: کولی یې شي.[۲]

ایا نفلي روژې نیولو له پاره د اذان پورې خوراک کولی شو؟

سوال: چې کله نفلي روژه نیسو؛ نو دسهار داذان په وخت کې (یعنې کله چې دسهارلمونځ کیږي) روژه بنده کړل شي ، که روژه داذان نه لس دولس منټه مخکې بندول پکاردي، کوم مسلمانان وروڼه چې داذان په وخت کې روژه بندوي؛ نو ایا دهغوی روژه کیږي اوکه نه؟

جواب: که دصبح صادق نه وروسته یې څه وخوړل یا وڅښل؛ نوروژه ونه شوه، که اذان شوی وي اوکه نه اواذانونه عموما دصبح صادق نه وروسته وي، ددې له وجې داذان په وخت کې خوراک، څښاک والاوو روژه نه کیږي، په جوماتونوکې عموما نقشې لګیدلې وي دابتدائي فجروخت وګورئ اوله هغه نه څلورینځه منټه مخکې دپیشمني خوراک دې بند شي.[۳]

د اذان په وخت کې پیشمنی کول

سوال: که یوکس سهار داذان په وخت کې بیدار شي؛ نوهغه روژه څنګه ونیسي؟

جواب: که اذان دصبح صادق نه وروسته شوی وي (څنګه چې عموما دصبح صادق نه وروسته کیږي) ؛ نو دې کس ته خوراک، څښاک کول پکارنه دي، ګني د هغه روژه به ونه شي، پرته له څه خوراک، څښاک نه دې دروژې نیت وکړي[۴]، خوکه اذان مخکې شوی وي: نوبیا بیله خبره ده.

د پیشمني وخت په سائرن (ټالی) بانډې ختمیږي یا په اذان؟

سوال: په رمضان المبارک کې دپیشمني اخري وخت ترکله وي؟ یعنې سائرن پورې وي یا اذان پورې؟ دلته زموږ په ځای کې ځینې خلک ناوخته راپورته کېدو له وجې اویا په بله څه وجه

۱] فیصح صوم رمضان.....بینة من اللیل الی الضحوة الکبری .....الخ (درمختارمع الشامی ج:۲ص:۳۷۷)

۲] ایضا)_

۳] ولوتسحرعلی ظن ان الفجرلم یطلع فاذا هوطالع....فعلیه القضاء ولاکفارة علیه .....الخ (البدائع الصنائع ،کتاب الصوم ج:۲ص:۱۰۰،طبع ایچ ایم سعید،وایضافی الهندیة وکتاب الصوم ج:۱ص:۱۹٤طبع رشیدیه)

٤]ایضا)_

داذان پورې پيشمنی کوي، دهغوی دا طرز عمل څنګه دی؟

جواب: دپيشمني وخت ختميدل متعين دي، سائرن اواذان دهغه له پاره يوعلامه ده، تاسوساعت ته وګورئ که سائرن په وخت باندې غږيدلی وي؛ نووخت ختم شوی دی، اوس خوراک، څښاک نه شئ کولی.[1]

د سائرن غږيدو په وخت اوبه څښل

سوال: زموږ په ځای کې عموماخلک له سائرن څه وخت مخکې دپيشمني نه فارغ شي اود سائرن دغږيدو انتظار کوي، کله چې سائرن شروع شي؛ نويو يوګلاس اوبه وڅښي اوروژه بنده کړي، ايا داسې کول صحيح دي، زمامطلب دادی چې چيرته دسائرن دغږيدومطلب خودانه وي چې دپيشمني وخت ختم شوی دی.

جواب: سائرن يومنټ مخکې شروع کيږي، ددې له وجې ددې په دوران کې اوبه څښلی شئ، په هرحال داحتياط غوښتنه داده چې د سائرن غږيدونه مخکې دې اوبه وڅښل شي.[2]

د پيشمني وخت ختميدو نه لس منټه وروسته خوراک څښاک کولو سره روژه نه کيږي

سوال: په کراچۍ کې دپيشمني اخري وخت تقريبا پاو باندې څلور بجې دی، که موږ څه وخت لس منټه وروسته پنځه ويشت منټه له پاسه څلور بجې) پيشمنی وکړو؛ نو اياله دې سره روژه مکروه کيږي اوکه نه؟

جواب: په نقشوکې چې دصبح صادق کوم وخت ليکل شوی وي له هغه نه دوه څلورمنټه مخکې روژه بندول پکاردي، که يومنټ دوه مخکې وروسته شي؛ نوروژه به وشي، خولس منټه وروسته خوراک کولوپه صورت کې روژه نه کيږي.[3]

د روژه ماتي له پاره نيت شرط نه دی

سوال: ماپه اول رمضان لوموړۍ روژه نيولې وه اوپه پيشمني کې مې يوازې دوه ګلاسه اوبه

---

١ [وان اراد ان يتسحر بصوت الطبل السحری فان کثرذلک الصوت من کل جانب وفی جميع اطراف البلدة فلاباس به وان کان يسمع صوتاواحدًا فان علم عدالته يعتمد عليه وان لم يعرف حاله يحتاط ولاياکل......الخ (هندية ،کتاب الصوم الباب الاول ج:١ص:١٩٥،طبع رشيديه)_

٢ [اذا شک فی الفجر فالافضل ان يدع الاکل ولواکل فصومه تام مالم يتيقن انه أکل بعد الفجرفيقضی حينئذ کذا فی فتح القدير (هندية ،کتاب الصوم ،الباب الاول ج:١ص:١٩٤،طبع رشيديه کونته)_

٣ [تسحرعلی ظن ان الفجرلم يطلع وهوطالع ......قضاه ولا کفارة عليه ......الخ (هندية ،کتاب الصوم ،الباب الاول ج:١ص:١٩٤،طبع رشيديه)_

څښلې وې، چې دهغه له وجې روژه په ماسخته شوې وه، دروژه ماتي په وخت کې مازر يوه کجوره په خوله کې کيښوده، خو هغه مې په غاښونو ماته کړې نه وه، چې ناڅاپه ماته راياد شو چې مانيت نه دی کړی، ددې له وجې کجوره مې په خولې کې وه او مانيت وکړ او روژه مې ماته کړه، ايا زما روژه په دې صورت کې وشوه، يا مکروه شوه.

جواب: د روژه ماتي له پاره نيت کول شرط نه دي، غالبا، دروژه ماتي نيت،، نه ستاسو مراد هغه دعاده کومه چې دروژه ماتي په وخت لوستل کيږي، دروژه ماتي په وخت کې دعاکول مستحب دي مګر شرط نه دي،که دعادې ونکړه؛ او روژه دې ماته کړه؛ نوروژه پرته د کراهت نه صحيح ده، خودورژه ماتي په وخت دعاقبليږي ددې له وجې نه ددعااهتمام کول پکار دي، بلکې دروژه ماتي نه مخکې ښه په توجه سره دعاګانې کول پکاردي.[1]

پيشمني او روژه ماتي کې د کوم ځای دوخت اعتبار دی

سوال: زماورور په عربي اماراتوکې روژه نيولې وه اوراغی،دلته دکراچۍ دوخت مطابق يې روژه ماته کړه، حالانکې هغه علاقه دکراچۍ نه يوه ګنټه وروسته ده، ايا په داسې صورت کې هغه يوه ګنټه مخکې روژه ماته کړه؟روژه ماتی صحيح شواوکه غلط؟که غلط شو؛ نو ايا د روژې قضابه وي؟

جواب: اصول دادي چې په روژې نيولواوماتولوکې دهغه ځای دوخت اعتباردی چيرته چې بنده روژې نيولواوماتولوپه وخت کې موجود وي، کوم کس چې په عرب اماراتوکې روژه ونيسي اوکراچۍ ته راشي؛ نوهغه به دکراچۍ دوخت مطابق روژه ماتی کوي اوکوم کس چې د پاکستان دوخت مطابق روژه نيولې وي اومثلا:سعودي عرب ته تللی وي؛ نوهم هلته دلمر پريوتلونه وروسته به روژه ماتی کوي، ځکه چې دکراچۍ دغروب اعتبارنه شته.[2]

د ريډيو په اذان روژه ماتی صحيح دی

سوال: زمونږ کورسره نژدې جومات نه شته چې دهغه له وجې مونږ په اساني سره اذان اوريدای نه شو؛ نوايا په رمضان شريف کې مونږ روژه ماتی ريډيو باندې داذان اوريدوسره کولی شو؟ ځنګه چې تاسوته معلومه ده چې ريډيو والا اعلان کوي چې: دکراچۍ او خواوشا علاقوکې دروژه ماتي وخت هم ښيي او له دې نه فورا وروسته اذان شروع کوي، په تيررمضان کې چې

١] ومن السنة ان يقول عندالافطار:اللهم لک صمت وبک آمنت وعليک توکلت وعلى رزقک افطرت ......الخ (هندية ج:١ص:٢٠٠کتاب الصوم ،الباب الثالث فيمايکره للصائم ومالايکره،طبع رشيديه)۔

٢] قال ا لشامي قبيل فصل فى العوارض (تنبيه)قال فى الفيض :ومن کان على مکان مرتفع کمنارة اسکندرية لايفطر مالم تغرب الشمس عنده ولا هل البلدة الفطر ان غربت عندهم قبله ......الخ (شامي ج:٢ص:٤٢٠)۔

موړ به څنګه په ريډيوباندې الله اکبر واوريده؛نوروژه ماتی به مو وکړ، مهرباني وکړئ اود کتاب اوسنت په رڼاکې موږ ته ووايئ چې زموږ روژه ماتی به صحيح وي او که نه؟

جواب: په ريډيوباندې په صحيح وخت باندې اطلاع اواذان ورکول کيږي ددې له وجې پرې روژه ماتی کول صحيح دي.[1]

په مسجد کې سائرن(ټالی) غږول او په دې سره د روژه ماتی کول

سوال: درمضان په مياشت کې روزانه د افطار سره داذان نه مخکې سائرن(ټالی)وهل کيږي، ايا سائرن وهل په مسجد کې صحيح دي؟ روزانه دټالی سره روژه ماتول پکار دي که له اذان سره؟

جواب: بهتره خو دا ده چې اذان وشي او که ټالی وهل کيږي؛ نو د مسجد نه دې بهر ووهي.

ايا لمانځه کولو نه وروسته روژه ماتول پکاردي؟

سوال: زما مسئله داده چې زما والد دانډيا هتهيار شريف نه مريد دی او ټول وخت صحيح تيريږي خود رمضان په مياشت کې ډير مشکلات وي، هغه داسې چې والد صاحب وايي په رمضان کې چې لمونځ وکړئ؛ نو بيا به افطار کوئ هغه قرآن هم خلاص کړي او وايي يې، ماته په دې خبرو باندې يقين نه راځي، اخر په دنيا کې دومره لوی لوی عالمان تيرشوي دي، په خانه کعبه کې هم خلک د اذان نه فورا وروسته افطار کوي، مولانا صاحب! ايا زما د والد صاحب دا طريقه صحيح ده؟ که چيرې صحيح وي؛ نو د ټولې دنيا خلک ولې داسې نه کوي؟

جواب: ستاسو والد صاحب ته غلطه مسئله بيان شوې ده، د شريعت حکم دادی چې د غروب نه فورا وروسته دې روژه ماته شي.[2]

هوايي جازکې روژه ماتی دکوم وخت په لحاظ سره کول پکاردي؟

سوال: په جازکې دروژه ماتي څه حکم دی؟ هرکله چې جاز (٣٥٠٠٠)(پنځه ديرش زره فټه) لوړ والي باندې پروازکوي اود ځمکې په اعتبارسره دغروب افتاب وخت شوی وي مګر د بلندي له وجې لمرمخامخ په نظرراځي؛نوپه داسې حالت کې به دځمکې غروب معتبروي يادجاز؟

١] وان اراد ان يتسحر بصوت الطبل السحرى فان كثر ذلک الصوت من كل جانب وفى جميع اطراف البلدة فلابآس به وان كان يسمع صوتاً واحدًا فان علم عدالته يعتمدعليه وان لم يعرف حاله احتاط ولاياكل (هندية ج:١ص:١٩٥،كتاب الصوم ،الباب الاول)٠ولايفطر مالم يغلب على ظنه غروب الشمس وان اذن الموذن ،بحرعن البزازية (ردالمحتار كتاب الصوم ج:٢ص:٤٢٠، طبع سعيد)_

٢] وتعجيل الافطار افضل فيستحب ان يفطرقبل الصلاة (عالمگيرى ج:١ص:٢٠٠)٠عن ابى هريرة رضى الله عنه قال:قال رسول الله صلى الله عليه وسلم :قال الله تعالى :احب عبادى الى اعجلهم فطرًا (مشكوة ج:١ص:١٧٥، كتاب الصوم ،باب الفصل الثانى قديمى كتب خانه كراچى)

جواب: روژه دارته چې کله لمریه نظر راځي؛ نودروژه ماتي اجازه نه شته دجازاعلان هم مهمل او غلط دی اوروژه دارچې چیرته موجودوي هم دهغه ځای غروب معتبردی، که هغه په لس زره فټه لوړوالي باندې وي؛ نوددې لوړوالي نه لمریه نظر راځي؛ نوروژه ماتی کول پکاردی، دکوم ځای په لوړوالي باندې چې جاز پروازکوي دهغه ځای په ځمکه باندې لمرپریوځي؛ نودجاز مسافربه روژه ماتی نه کوي.

دهوايي جازد عملې د پیشمني اوروژه ماتي احکام

سوال: دهوايي جازدعملې له پاره درمضان دمیاشت دروژوپه باره کې څه سوالونه دي، د کومو وضاحت چې پکاردی، څنګه چې دیومضبوط عمارت له پاره مضبوط بنیادضروري دی همدغه شان دایمان له پاره صحیح عقیده اوپه هغه باندې عمل ضروري دی، په دې باره کې علماء راسخ صحیح نمائندګي کولی شي، تاسوته ګزارش دی چې ددې سوالونوتفصیلې جوابونه په شریعت کې دفقه حنفي دعلم په رڼاکې راکړئ ډیره مهرباني به مووي.
دهوايي جازدعملې مختلف قسمه ډیوټي وي،دیو قسم ډیوټي نوعیت داسې دی چې هغه هم په کورباندې، ،stand by Duty،، ،اوسیږي اوبه دې صورت باندې ډیوټي ته ځي هرکله چې دویمه عمله کومه چې ډیوټي ته روانه وه د، ،Operating Gew، ،په عین وخت باندې ناروغ شي، یادبل څه له وجې ډیوټي ته حاضریدای نه شي، خوداسې کله کله کیږي اوزیاترداسې قسم ډیوټي والا Stand by Duty، ، په کورباندې وي، په دې شکل کې که عمله روژه نیول وغواړي؛ نوترڅومره حده ناوخته دروژې نیت کولی شي؟

جواب: درمضان دروژې نیت چې دنصف النهارشرعي نه مخکې وشي؛ نوصحیح دی،ګني صحیح نه دی، دابتدائي صبح صادق نه دغروب افتاب پورې که وخت په دوو برابربرخوکې تقسیم شي؛ نودهغه ، ،عین وسط، ،یعني درمیاني برخې ته ، ،نصف النهار، ،شرعي وايي او دا د زوال نه تقریبا درې پاوه مخکې شروع کیږي اوکه روژه نیول وي؛ نودروژې نیت ددې نه مخکې کول ضروري دي، که عین دنصف النهارپه وخت کې یادنصف النهارنه وروسته دروژې نیت وشي؛ نو روژه به ونه شي.[1]

سوال: که دنیت کولونه وروسته په فلائیټ باندې تلل وي اوعملې روژه ماته کړه؛ نوددې به څه کفاره اداکول وي؟

١] فیصح اداء صوم رمضان والنذر المعین والنفل بنیة من اللیل ،فلاتصح قبل الغروب ولا عنده الی الضحوة الکبری لا بعدها ولاعندهااعتبارًا لاکثراليوم (قوله الی الضحوة الکبری)المراد بها نصف النهارالشرعی ،والنهارالشرعی من استطارة الضوء فی افق المشرق الی غروب الشمس والغاية غیرداخلة فی المغیاکمااشارالیه المصنف بقوله لاعندها......الخ (ردالمحتارمع الدرالمختار:٢ص:٣٧٧کتاب الصوم ،طبع ایچ ایم سعیدکراچی)_

جواب: کفاره یوازې په دې صورت کې لازمیږي، کله چې دروژې نیت دشپې نه یعنې صبح صادق نه مخکې کړی وي اوکه دصبح صادق نه وروسته اونصف النهارنه مخکې یې دروژې نیت کړی و اوبیایې روژه ماته کړه؛ نوکفاره به پرې لازمه نه وي (درمختار،شامی)[۱]

سوال: دوه قسمه فلائټس وي، یووړوکی فلائټ وي مثلاً دکراچۍ نه لاهور،یااسلام اباد وغیره او واپس کراچۍ، سهارچې لاړشي غرمه واپسي وي یاغرمه چې لاړشي؛ نودشپې واپس شي اودویم فلائټ داوږده وخت وي،کوم چې دملک نه بهرته ځي، په دې صورت کې دعملې روژه نیول مستحب دي یانه نیول؟زیاترعمله په وړوکي فلائټ کې روژې نیول غواړي.

جواب: که دسفرپه دوران کې په روژې نیولوکې څه مشقت نه وي؛ نودمسافرله پاره روژه نیول افضل دي، خوکه دخپل ځان یادملګري په مشقت کې داچولې کیدو ویره ورسره وي؛ نونه نیول یې افضل دي.[۲]

سوال: دهوایي جازعمله په دوه قسمه مسافروکې راځي، ددواړوقسمه عمله په ډیوټي کې شماریږي دیوقسم عمله هغه ده په چاباندې چې دجازیادمسافروڅه ذمه واري نه وي، هغه ددې له وجې سفرکوي چې هغه ته په نیمه لاره کې، یادرې برخې لاره وهلونه وروسته کوزیدل دي او ورځ دوه ارام کولونه وروسته جاز مخکې منزل طرف ته بوتلل دي، ددویم قسم عمله هغه وي په چاباندې چې دجاز اودمسافرودواړوذمه واري وي، په دې دواړه قسمه عمله باندې د روژې احکام څه دي؟

جواب: په کومه عمله چې دجازاودمسافروذمه واري ده که هغه سره ویره وي چې دروژې نیولوپه صورت کې دوی ته په ذمه واري پوره کې خلل به راشي؛ نوهغه ته روژه نیول پکارنه

١] اولم ینوفی رمضان کله صومًاولافطرًامع الامساک لشبهة خلاف زفراواصبح غیرناو للصوم فاکل عمدًا،ولوبعدالنیة قبل الزوال لشبهة خلاف الشافعی ،وفی الشامیة : (قوله لشبهة قول زفر)...... واما عندنا فلابد من النیة لان الواجب الامساک بجهة العبادة ،ولاعبادة بدون النیة ......وّیلزمه القضاء دون الکفارة ......(قوله قبل الزوال) هذا عندابی حنیفة ......ثم المرادبالزوال نصف النهارالشرعی وهوالضحوة الکبری (قوله لشبهة خلاف الشافعی) فان الصوم لایصح عنده بنیة النهارکمالا یصح بمطلق النیة ،وهذا تعلیل لوجوب القضاء دون الکفاراذا کلَ بعد النیة (ردالمحتارمع الدرالمختار ج:۲ص:۴۰۳،کتاب الصوم ،مطلب فی حکم الاستمناء بالکف)_

٢] فمن کان منکم مریضًااوعلی سفرفعدة من ایام آخر......وان تصوموا خیرلکم ان کنتم تعلمون (البقرة ۱۸٤) وللمسافرالذی انشاء السفرقبل طلوع الفجر......الفطرلقوله تعالی فمن کان منکم مریضًااوعلی سفرفعدة من ایام آخرولمارویناه وصومه ای المسافراحب ان لم یضرلقوله تعالی: وان تصوموا خیرلکم وهذا اذالم تکن عامة رفقته مفطرین ولامشترکین فی النفقة ،فان کانوا مشترکین اومفطرین فالافضل فطره ای المسافر،موافقة للجماعة کمافی الجوهرة (مراقی الفلاح علی هامش الطحطاوی ص:۳۷٤،۳۷۵ ،کتاب الصوم ،فصل فی العوارض ،طبع میرمحمد)

دي، بلکې په بل وخت کې قضائيول پکار دي، خصوصاکه دروژې له دوجې مسافرو يا د جاز سلامتي ته خطره وي؛ نو دهغه له پاره روژه نيول به منع وي مثلاً دجاز کپتان روژه ونيوله چې دهغه له وجې ورته جاز کنټرول کول ګران شي.[1]

سوال: سفردوه قسمه وي، يوسفر دمغرب نه مشرق طرف ته وي، په کوم کې چې ورځ ډيره وړه وي هر کله چې دويم سفرکوم چې دمشرق نه مغرب طرف ته وي په هغه کې ورځ ډيره اوږده وي. لمر تقريبا دجازسره سره وي اوروژه تقريبا ددويشتوګنټوشي په دې صورت کې اکثرکتل شوي دي چې خلک روژه دګنټوپه حساب سره ماتوي مثلاً: دپاکستان په حساب سره يې روژه نيولې وه اوپه پاکستان کې چې کوم وخت روژه ماتې وي هغه وخت کې دوی هم روژه ماته کړي، په دې صورت کې ځينې ځل لمربالکل پورته وي اوله کوم ځای نه چې جازتيريږي هلته د ماسپښين وخت وي؛ نو ايا داسې روژه ماتول به صحيح وي؟

جواب: دګنټوپه حساب سره دروژې ماتولوکوم صورت چې تاسوليکلی دی داصحيح نه دی د افطار په وخت کې چې روژه دار چيرته موجودوي دهغه ځای غروب به معتبروي کوم کسان چې په پاکستان کې روژه ونيسي اوروان شي هغوی ته دپاکستان دغروب مطابق دروژې ماتولو اجازه نه شته، کومو کسانوچې داسې کړي دي دهغوی روژه ماته شوه اودهغوی په ذمه ددې قضالازم ده.

سوال: پورتني استواء(Higher Latitudes)چيرته چې لمرد ۲۰_۲۲ ګنټو پورې رسيږي ياپورته تلو سره شپږو مياشتوپورې لمرنه پريوځي اوبياراتلونکي شپږومياشتوپورې تياره وي؛ نودهغه ځای له پاره دلمانځه اوروژې په باره کې څه احکامات دي؟ اکثرپه دغه ځايونوکې دمدينې منورې يامکې معظمې داوقات په اعتبارسره لمونځ اوروژې اختياروي، ايادهغوی داسې کول صحيح وي؟

جواب: دمدينې منورې يامکې معظمې دوختونواعتبارکول بالکل غلط دي په کومو مقاماتو باندې چې طلوع اوغروب کيږي، خوهلته ورځې اوږدې اوشپې وړې وي؛ نوهغوی ته دخپل ملک د صبح صادق نه غروب افتاب پورې روژه نيول لازم دي[2] البته په دوی کې چې کوم

١] وللمسافرالذی انشاء السفرقبل طلوع الفجر...... الفطر لقوله تعالی:فمن کان منکم مريضًا اوعلی سفرفعدة من ايام آخر ولمارويناه ،وصومه ای المسافراحب ان لم يضره ،وفی حاشية الطحاوی: (فعده من ايام آخر)ای فافطرفعليه عدة الايام التی افطرهامن ايام آخر (ولمارويناه)ای من قوله صلی الله عليه وسلم ان الله وضع عن المسافرين الصوم (وان لم يضره)ای ارادبالضرر،الضررالذی ليس فيه خوف الهلاک ،لان مافيه خوف الهلاک بسبب الصوم فالافطارفی مثله واجب لا انه افضل،بحر(حاشية الطحطاوی مع مراقی الفلاح ص:٣٧٤)

٢]کتاب الصوم......هولغة امساک عن المفطرات الاتية حقيقة اوحکمًاوفی وقت مخصوص وهو اليوم .....الخ (قوله وهو اليوم) ای اليوم الشرعی من طلوع الفجرالی الغروب(ردالمحتارعلی الدرالمختار ج:٢ص: ٣٧١کتاب الصوم)

کسان د کمزوري له وجې دومره اوږدې روژې نه شي نيولی؛ نوهغوی په معتدل موسم کې قضانیولی شي[۱] په دې علاقوکې به دلمونځونواوقات هم دمعمول مطابق وي اوپه کومو علاقوکې چې هډو طلوع اوغروب نه کيږي؛ نوهلته دوه صورته کيدای شي يوداچې دساعت (ګړی) دځليرويشتوګنټوپه حساب سره دلمونځونو وختونه مقررشي اوددې مطابق دې دپه روژوکې دپيشمني اوروژه ماتي تعين کوي[۲] دويم صورت دادی چې دهلته نه نزديک ترين کوم ښارکې طلوع اوغروب په کوم معمول سره کيږي؛ نودهغه داوقاتومطابق دې د لمونځونو او پيشمني او افطارباندې عمل کوي.[۳]

سوال: ځينې حضرات په درمياني استواء(Mid Letitudes)کې هم خپل لمونځونه اوروژې د مدينې منورې دلمونځونواوروژې اوقاتوسره اداکوي داترکومې صحيح ده؟

جواب: پورته معلوم شوي دي چې دهرښارله پاره دهغه دطلوع اوغروب اعتباردی، دلمانځه په وختونو کې هم اودروژې په وختونوکې هم، دمدينې منورې په وختونوکې لمونځ روژه کول بالکل غلط دي اوداټول لمونځونه اوروژې نه دي ادا شوې.

سوال: دکراچۍ نه لاهوریااسلام اباد ته دتلوپه وخت کې اګرچې په لاهوراسلام ابادکې لمر پريوتی وي اوروژه ماتی کيږي، مګرپه جازکې دلوړوالي له وجې لمرپه نظرراځي، په دې صورت کې روژه دځمکې دوخت مطابق ماته شي ياترڅوپورې چې لمردجازنه پريوتی په نظر رانه شي دهغه پورې ملتوي شي؟

جواب: دپرواز په دوران کې دطلوع اوغروب دنظرراتلوبه اعتباروي، که په ځمکه باندې لمر پريوتلی وي، مګردجاز په افق باندې لاپريوتلی نه وي؛ نوجهازوالاوو ته به ددروژې ماتولو يا د ماښام دلمانځه کولواجازه نه وي، بلکې کله چې لمردجازدافق نه پريوځي؛ نوهلته به ورته اجازه وي.[۴]

۱]المريض اذاخاف على نفسه التلف اوذهاب عضو يفطربالاجماع وان خاف زيادة العلة وامتداده فكذالك عندنا وعليه القضاء اذا افطر كذافى المحيط (هندية ج۱ ص۲۰۷،الباب الخامس فى الاعذار التى تبيح الافطار)

۲]عن النواس ابن سمعان قال:ذكر رسول الله صلى الله عليه وسلم الدجال ذات غداة ......قال :اربعون يومًا،يوم كسنة،ويوم كشهر،ويوم كجمعة ،وسائرايامه كايامكم، قلنا:يارسول الله !فذالك اليوم الذى كسنة اتكفينا فيه صلوة يوم؟ قال:لا،اقدرواله قدره (مسلم ج:۲ص:۴۰۰،۴۰۱، باب ذكر الدجال)۔

۳] فان قلنابوجوب الصوم يلزم القول بالتقدير ،وهل يقدرليلهم باقرب البلاد اليهم كماقاله الشافعية هناايضًا،ام يقدرلهم بمايسع الاكل والشرب، ام يجب عليهم القضاء فقط دون الاداء ؟كل محتمل فليتامل .(شامى ج:۱ ص:۳۶۶طبع ايچ ايم سعيد)۔

٤] والمراد بالغروب زمان غيبوبة جرم الشمس بحيث تظهرالظلمة حسافى جهة المشرق قال صلى الله عليه وسلم اذا اقبل الليل من ههنافقدافطرالصائم ،اى اذا وجدت الظلمة حسًافى جهة المشرق فقدظهروقت الفطر اوصارمفطرًافى الحكم لان الليل ليس ظرفاللصوم (شامى ج:۲ص:۳۷۱،كتاب الصوم ،طبع ايچ ايم سعيد)

سوال: په دويم صورت کې کله چې عين دروژه ماتي په وخت کې که سفرشروع شي: نود جاز ترڅه حدپورې اوچتيدونه وروسته بيالمرپه نظرراشي اوپه مسافروکې بې چيني پيداشي، چې په روژه کې موګړبړ راغي، يامکروه شوه؟ددې متعلق څه احکام دي؟

جواب: که په ځمکه باندې دروژې ماتيدونه وروسته سفرشروع شو اواوچت تلونه وروسته لمرپه نظرراغي؛ نوروژه مکمل شوه دروژې مکمل کيدونه وروسته دلمرپه نظرراتلل هيڅ اعتبارنه لري، ددې مثال داسې دی چې يوکس ديرش روژې پوره کړې اوداخترلمونځ وکړې اوپاکستان ته راشي؛ نووويني چې دلته لارمضان ختم شوی نه دی؛ نودهغه په ذمه دلته روژې نيول به فرض نه وي.

سوال: که عمله دسفرپه دوران کې دامحسوس کړي دروژې نيولوله وجې نه موپه ډيوټي کې خلل راځي اوروژه يې ماته کړه؛ نو اياددې کفاره به اداکول وي؟

جواب: که روژې سره صحت متاثره کيږي اوپه ډيوټي کې دخلل راتلواوجازيامسافرومتاثره کيدو ويره وي؛نوروژه دې ماته شي اوددې به يوازې قضالازم وي،کفاره به لازمه نه وي. والله اعلم!

❖ کومو وجوهاتو سره روژه ماتول جائزدي؟ او کومو سره نه؟ ❖

....

د ناروغي د زياتيدو يا خپل ماشوم د هلاکت ويره وي؛ نوروژه ماتول جائز دي

سوال: مسئله دامعلومول دی چې يوکس ته قی ورشی اوس دهغه روژه پاتې شوه يانه؟ يا د يوسړي ياښځې روژه نيولوسره دناروغۍ دزياتيدو ويره محسوسه کړي؛ نو آياهغه روژه ماتولی شي؟

جواب: که په خپله ورته قی راشي نوروژه ماته نه شوه، که لږ وي يازيات اوکه په خپل اختيار سره يې قی وکړاوپه ډکه خوله يې وکړ؛نوروژه ماته شوه ګني نه.[1]

که روژه دارناځاپه ناروغ شي اوويره وي چې که روژه يې ماته نه کړه ؛ نو د سر خطره يې ده يا د

١] اذا قاء او استقاء مل الفم او دونه عاد بنفسه اوعاد اوخرج فلافطرعلى الاصح الا فى الاعادة والاستقاء بشرط ملء الفم....الخ (هندية ج:١ص:٢٠٤:،كتاب الصوم الباب الرابع ،وفى الشامية ج:٢ ص:٤١٤، مطلب فى الكفارة)

ناروغۍ د زياتيدو ويره ده، په داسې صورت کې روژه ماتول جائزدي.
همدغه شان که دحاملې ښځې سرته يادماشوم جان ته څه خطره شي؛ نوروژه ماتول جائزدي.[1]

که د ناروغي له وجې روژه و نه نيسي؛ نوقضادې راوړي

سوال: مابه دشروع نه درمضان روژې نيولې،خودنن نه پنځه کاله مخکې مې يرقان (زيړی) شو، چې دهغې دوجې نه مې اوواته مياشتې په کټ پرېوتم،هسې تقريباً دلس دولسوکالوراهيسې په معده کې دخرابي اوګيس مريضه يم ،خو ديرقان دوجې ماته تنده دومره لګيږي چې روژه نيول راته ګران دي،چې دهغې په وجه ډيره زياته پريشانه يم.تيرکال مادرمضان لومړۍ روژه ونيوله،خو سهاردنهو بجو نه تندې بدحاله کړم،چې له وجې مې روژه ماته کړه، تاسو مهرباني وکړئ اوماته ووايئ
چې دروژې ماتولو کفاره څه ده؟ اوکومې روژې چې مې ونه نيولې دهغې کفاره څه ده؟

جواب: تاچې درمضان کومه روژه ماته کړه، دعذردوجې نه دې ماته کړه، ددې وجې نه ددې کفاره ستاپه ذمه نشته،بلکې يوازې قضالازم ده اوکومې روژې چې تادناروغۍ له وجې ونه نيولای شوې دهغو په ځای هم قضاروژې ونيسه[2]،آينده هم که ته دناروغۍ په وجه د رمضان روژې نه شې نيولی ؛نوديخنۍ په موسم کې قضانيسه[3].اوکه په وړووړځوکې دې هم دروژونيولوطاقت نه وي؛ نوددې نه علاوه بله چاره نشته چې ددې روژوفديه ورکړې،اوديوې ورځې دروژې فديه دصدقه فطربرابرده.[4]

که چاروژه د ناروغۍ له وجې ماته کړه نويوازې قضاء ده کفاره نشته

سوال: ما په تېر رمضان کې يوه رژه دمجبوري په حالت کې ماته کړې وه، وجه دا وه چې په معده کې تکليف وو،دا درد د پيشمني په وخت تقريباً پاوباندې شپږ بجې را اوچت شوې وو چې تيزيده تيزيده او ناقابل برداشت شو (داسې قسمه اکثر درد زما په معده کې راځي چې

١] ومنهاالمرض :المريض اذاخاف على نفسه التلف اوذهاب عضو يفطر بالاجماع ....الخ،ومنه حبل المرأة وارضاعها الحامل والمراضع اذا خافتا على انفسهمااو ولدهماافطرتاوقضاء ولاكفارة عليهماكذا فى الخلاصة .(هندية كتاب الصوم ،الباب الخامس فى الاعذارالتى تبيح الافطار ج:١ص:٢٠٧والشامى ج:٢ ص:٤٢٢،كتاب الصوم)_

٢]المريض اذاخاف على نفسه التلف اوذهاب عضويفطربالاجماع وان خاف زيادة العلة وامتداده فكذلك عندناوعليه القضاء ....الخ (هندية ج:١ص:٢٠٧،كتاب الصوم ،الباب الخامس فى الاعذارالتى تبيح الافطار)

٣]ولولم يقدرلشدة الزمان كالحرفله ان يفطروينتظرالشتاء فيقضى كذافى فتح القدير .(هندية ج:١ص:٢٠٩)_

٤] فالشيخ الفانى الذى لايقدرعلى الصيام يفطرويطعم لكل يوم مسكينًاكمايطعم فى الكفارة .(هندية ،كتاب الصوم، الباب الخامس فى الاعذارالتى تبيح الافطار ج:١ ص:٢٠٧،ايضًا: ردالمحتار ج:٢ ص:٤٢٤،٤٢٢ فصل فى العوارض)

هغه په يوې دوا باندې صحيح كيږي، په آخركې چې كله د درد په شدت كې كمې رانغى: نو مجبوراً پاؤ باندې اووه بجو ته نژدې ما روژه ماته كړه او هغه دوا مې واخيسته ددينه پس مې توله ورځ هيڅ نه وو خوړلي، په هر حال اوس دا ووايئ چې د روژې د ماتولو به په مابانديې ګناه وي او كه نه؟ ما په يو ځاى كې د روژې د ماتولو كفاره مسلسل دوه مياشتې روژې نيول كتلي و، آيا واقعي دا صحيح ده؟ خو ما روژه په ډيرې مجبورې سره ماته كړې وه په خپله خوښه سره نه،آيا د كفارې څه بل صورت نه جوړيږي؟

جواب: په داسې مجبورې كې كومه روژه چې ماته كړل شي په دې باندې يوازې قضاء لازميږي، كفاره نه شته .[1]

د بې هوشې په حالت كې كه چا اوبه وڅښلې نو كفاره نشته صرف قضاء ده

سوال: د نن نه يو دوه درې كاله مخكې په رمضان كې زما طبيعت ناڅاپه خراب شو د نيمې بې هوشې په شان كيفيت و، خو ماته ياد دي چې مور ما باندې اوبه څښلې وې، مايو دوه درې ګوټه (غړپه) څښلې وې حالانكې زه د روژې په حالت كې وم،دا واقعه د سحر د لمونځ وغيره نه چې فارغ شوم د ويده كيدلو او بيا تقريباً سحر د اتو بجو د راپاسيدو د وخت ده،اوس ماته دا معلومول دي چې آيا په داسې صورت كې به ماته كفاره وركول وي يا قضاء روژه به نيسم؟حالانكې زما حالت داسې هم نه و چې خداى دې نه كړي چې ساه مې ختلې وې،البته په طبعيت كې مې ويره ډيره وه، نو په دې وجه مې اوبه د خولې سره ولګولې اوس ماته ووايئ چې آيا په داسې صورت كې د روژې په ماتولو باندې به قضاء لازم وي يا كفاره؟

جواب: ستا مور په تا باندې په دې وجه اوبه وڅښلې چې ستا طبيعت زيات خراب نه شي، په دې وجه د ستا په ذمه باندې صرف قضاء واجب ده كفاره واجب نه ده.[2]

---

[1] ايضًا تيره شوى حاشية: المريض اذاخاف على نفسه التلف اوذهاب .... فى الاعذار التى تبيح الافطار)

[2] ايضًا تيره شوى حاشية: المريض اذاخاف على نفسه التلف اوذهاب........ فى الاعذار التى تبيح الافطار)

❖ کومو وجوهاتو سره روژه نه نیول جائز دي ❖

کومو عذرونو سره روژه نه نیول جائز دي

سوال: د کومو عذرونو په وجې سره روژه نه نیول جائز دي؟

جواب: ۱: د رمضان روژې په هر عاقل اوبالغ باندې فرض دي اوبغیر د څه صحیح عذر نه روژه نه نیول حرام دي.[۱]

۲: که نابالغه هلک، انجیلۍ چې د روژې نیولو طاقت لري؛ نو په مورپلار باندې لازم دي چې روژې پرې ونیسي.[۲]

۳: کوم بیمار چې د روژې نیولو طاقت لري، او د روژې نیولو سره د بیمارۍ د زیاتیدو ویره نه وي په هغهٔ هم روژه نیول لازم دي.[۳]

۴: که بیمارۍ داسې وي چې د هغو له وجې روژې نه شي نیولی یا روژې سره د بیمارۍ د زیاتیدو ویره وي؛ هغه ته د روژې نه نیولو اجازت دی، مګر کله چې روغ شي؛ نو د دې روژو قضاء د هغه په ذمه فرض ده.[۴]

۵: کوم کس چې دومره ضعیف العمر وي چې د روژې طاقت نه لري، یا داسې بیمار وي چې نه روژه نیولی شي او نه یې د صحت امید وي؛ نو هغه دې د روژې فدیه ورکوي، یعنی د هرې روژې په بدله کې د صدقه فطر په مقدار کې غله یا د هغې برابر قیمت دې څه مسکین ته ورکړي یا سهار ماښام دې یو مسکین ته خوراک ورکړي.[۵]

۶: که یو کس په سفر کې وي او په روژه نیولو سره په مشقت کې د راګیریدو ویره وي؛ نو هغه هم روژه ماتولی شي، په دویم وخت کې په هغه روژه نیول لازم دي، که په سفر کې څه مشقت نشته نو روژه نیول افضل دي اګرچې د روژې نه نیولو او بیا وروسته د قضا نیولو هم هغهٔ ته

۱] یایها الذین امنوا کتب علیکم الصیام کما کتب علی الذین من قبلکم ......الآیة سورة البقرة .وایضًا شرط وجوبه(ای الصوم)الاسلام والعقل والبلوغ...الخ (هندیة ج:۱ص:۱۹۵،کتاب الصوم الباب الاول فی تعریفه)

۲] ویومر الصبی بالصوم اذا اطاقه ......الخ (درمختارمع الشامی ج:۲ص:۴۰۹،کتاب الصوم ،طبع سعید)۔

۳] واطلق الخوف ابن الملک فی شرح المجمع واراد الوهم حیث قال لوخاف من المرض لایفطر ......الخ (البحرالرائق ،فصل فی العوارض ص:۳۰۳طبع بیروت)۔

۴] المریض اذا خاف علی نفسه اوذهاب عضو یفطر بالاجماع وان خاف زیادة العلة وامتداده فکذلک عندنا وعلیه القضاء اذا افطر کذافی المحیط (هندیة ج:۱ص:۲۰۷،کتاب الصوم ،الباب الخامس فی الاعذارالتی تبیح الافطار)۔

۵] قال فی التنویر :وللشیخ الفانی العاجز عن الصوم الفطر ویفدی .وفی الشامیة :المریض اذا تحقق الیاس من الصحة فعلیه الفدیة لکل یوم من المرض...الخ (شامی ج:۲ص:۴۲۷،ایضًا:عالمگیری ج:۱ص:۱۹۱،کتاب الصوم)

اجازت شته.[۱]

۷: دښځې دحیض اونفاس په حالت کې روژه نیول جائزنه دي،مګردرمضان شریف نه پس دهغومره ورځوقضاپه هغې باندې لازمه ده.[۲]

۸: ځینې خلک له عذر پرته روژه نه نیسي اودبیماري یاسفر د وجې نه روژه پرېږدي اوبیا وروسته قضاهم نه کوي،خاصکرپه ښځو کې کومې روژې چې دماهواري په ورځوکې پاتې شي،دهغو په قضانیولوکې سستي کوي داډېره لویه ګناه ده.[۳]

دکارله وجې د روژې د پرېښودو اجازه نشته

سوال: موږ په ګلف کې اوسېدونکي پاکستانیان درمضان المبارک روژې یوازې ددې وجې نه پوره نه شو نیولی چې دلته په رمضان کې ډېره سخته ګرمي وي،اوکارهم دمحنت والا وي،ځکه چې په عام حالت کې هم دکارپه دوران کې په دوه ګنټې کې لس دولس ګلاسه اوبه څښل کیږي،که موږ روژې ونه نیسونه څه حکم دی؟

جواب: دکارله وجې نه دروژې پرېښودوحکم نشته[۴].البته مالکانوته حکم ورکړل شوی دی چې په رمضان المبارک کې په مزدورانوباندې دکاربوج کم کړئ[۵]. تاسوخلک چې په کومه کمپنۍ کې نوکران یئ دهغوی نه ددې مطالبه کول پکاردي.

د سخت کارله وجې روژه پرېښودل

سوال: .زموږ څومسلمانان ورونه په ابوظهبی،متحده عرب امارات په صحراکې دننه د تیلو

۱] (قوله وللمسافروصومه احب ان لم يضره)ای جازللمسافرالفطرلان السفرلايخلو عن المشقة فجعل نفسه عذرا بخلاف المريض فانه قديخف بالصوم ......الخ (البحرالرائق ج:۲ص:۳۰٤،كتاب ا لصوم فصل فى العوارض ،طبع بيروت ،وايضًا الشامی ج:۲ص:٤۲۱ ،فصل فى العوارض ،هندية ج:۱ص:۲۰٦،كتاب الصوم ،الباب الخامس)۔

۲] ويمنع صلاة مطلقًا ولوسجدة شكروصومًاوجماعًا وتقضيه لزومًادونها للحرج (قوله يمنع) ای الحيض وكذا النفاس ......(قوله وتقضيه)ای الصوم على التراخی فى الاصح (ردالمحتارمع الدرالمختار،باب الحيض والنفاس والاستحاضة ج:۱ص:۲۹۰،۲۹۱) ،فتقضی الحائض والنفساءالصوم دون الصلاة لحديث عائشة رضی الله عنهاكان يصيبنا ذلک فنومربقضاء الصوم ولانومربقضاء الصلاة وعليه الاجماع (مراقی الفلاح على هامش الطحطاوی ص:۷۹)۔

۳] فالاثم اذا افسدبغيرعذرلانه ابطل عمله من غير عذروابطال العمل من غير عذر حرام لقوله تعالى:ولاتبطلوا اعمالكم ......الخ (البدائع الصنائع ج:۲ص:۹٤،فصل :واماحكم فساد الصوم)۔

٤]المحترف المحتاج الى نفقته علم انه لواشتغل بحرفته يلحقه ضرر مبيح للفطريحرم عليه الفطرقبل ان يمرض كذافى القنية (هندية ج:۲ص:۲۰۸ كتاب الصوم ،الباب الخامس فى الاعذارالتى تبيح الافطار)۔

۵] عن سلمان الفارسی (رض)......ومن خفف عن مملوكه فيه غفرالله له واعتقه من النار (مشكوة المصابيح ص۱۷۴، كتاب الصوم، الفصل الثالث).

راوینستلو په کمپنۍ کې کارکوي او د کمپنۍ کارخلیرویشت ګنټې چلیږي، اوسپنه، مشینونه، او د سختې ګرمې شګې د ګرمۍ له وجې دروژه دار ژبه راوځي، اومرۍ یې وچه شي، اوخبرې کول ورته ګران وي او د کمپنۍ مالکان مسلمانان او غیرمسلم دي او کارکوونکي هم اکثر غیرمسلم دي چې د رمضان المبارک د بابرکت میاشتې رعایت هم نو کرانو ته نه ورکوي، یعنې د کار اوقات نه کموي؛ نو په دې حالت کې د شریعت مطهره څه حکم دی؟

جواب: د کار له وجې د روژې پریښودو اجازه خو نشته، د دې وجې نه روژه دې ونیول شي، خو کله چې په روژه کې حالت خراب شي نو روژه دې ماته کړي، په دې صورت کې به قضا لازمه وي. فتاوی عالمګیریه (ج: ۱ ص: ۲۰۸) کې دي:

"المحترف المحتاج الی نفقة علم انه لو اشتغل بحرفته یلحقه ضرر مبیح للفطر یحرم علیه الفطر قبل ان یمرض، کذا فی القنیة..."

د امتحان له وجې روژه پریښودل او په بل باندې نیول

سوال: که یو کس طالب علم وي او د رمضان له وجې د امتحان تیاری نه شي کولی؛ نو د هغه مور پلار، ورونه خویندې او دوستان هغه ته هدایت وکړي چې روژه مه نیسه، او د دې په بدله کې د دیرشو په ځای څلویښت روژې په بل چانیسو، نو آیا داسې طالبعلم ته روژې پریښودل پکار دي؟ ایا کومې روژې چې د ده څوک رشته دار ده ته ورکړي هغه به د الله تعالی په دربار کې قبولې شي؟ په دې باره کې څه حکم دی؟

جواب: د امتحان د عذر د وجې نه روژې پریښودل جائز نه دي[1]. او د یو کس په ځای د بل کس روژې نیول صحیح نه دي، لمونځ او روژه خالص بدني عبادتونه دي، په دې کې د بل نیابت جائز نه دی، څنګه چې د یو کس په ډوډۍ خوړلو سره د بل خیټه نه ډکیږي. همدغه شان د یو کس لمونځ یا روژې نیولو سره د بل په ذمه فرض نه اداکیږي.[2]

د امتحان او کمزورۍ له وجې روژې قضا کول ګناه ده

سوال: تیرو ورځو کې ماانټرسائنس امتحان ورکړ او هغه ورځو کې ما سخت محنت وکړ، فوراً وروسته رمضان شروع شو، اوس څوورځې پس پریټیکلې شروع کیدونکې دي، خو زما نه

---

[1] فلااثم اذا افسدبغیرعذرلانه ابطل عمله من غیر عذروابطال العمل من غیر عذرحرام لقوله تعالی: ولاتبطلوا اعمالکم ......الخ (البدائع الصنائع ج: ۲ ص: ۹۴، فصل: واماحکم فساد الصوم)۔

[2] وان صام اوصلی عنه ولی لا لحدیث النسائی لایصوم احد عن احد ولایصلی احد عن احدولکن یطعم عنه ولیه (درمختار) وفی الشامی وقال مالک: لم اسمع عن احدمن الصحابة ولامن التابعین بالمدینة ان احدًامنهم امراحدًایصوم عن احد وهذا ممایویدالنسخ وانه الامرالذی استقرالشرع علیه وتمامه فی الفتح وشرح النقایه للقاری. (ردالمحتارمع الدرالمختار، فصل فی العوارض ج: ۲ ص: ۴۲۵)۔

تیاری نه کیږي،ځکه چې دروژې نیولوپه وجه زه خوبولی خوبولی شان یم اوهروخت سخت خوب راځي،اوکه څه لوستل وغواړم نوهم دخوب دوجې نه ممکن نه وي اصل که په ماکې اوس دومره طاقت اوقوت نشته چې زه دروژوسره سره ذهني طورسره څه ولوستل شم.آیا په دې حالت کې زه روژې نیولې شم؟ که نیسم یې: نو لوستل رانه نه کیږي، ځکه چې کمزوري مې ډیره زیاته شي اوپه ما کې طاقت ډیرکم دی.

جواب: آیا لوستل د روژې نه زیات لوی فرض دي؟[1]

سوال: آیا په دې حالت (دکمزورۍ په حالت) روژه فرض ده؟

جواب: که روژې نیولوطاقت درکې وی نوفرض ده.[2]

سوال: که روژې ونه نیسم؛ نو ددې به څه کفاره ورکول وي؟

جواب: دقضاروژه به هم نیول وي[3] او د روژې قضا کولوسزابه هم برداشت کول وي.[4]

آیا د امتحان په وجه روژه ماتول روا دي؟

سوال: د یوپروفیسر صاحبې نه سوال وکړل شو چې موږه د بي ایس سي طالبات یو امتحان ډیر سخت وي،ډیر محنت کول پکار وي آیا مونږه د رمضان په دروان کې روژه پریښودلی شو؟ نو پروفیسر صاحبې جواب ورکړو چې ،،لایکلف الله نفساً الا وسعها،،تاسو روژه پریښودلی شئ،تاسو د مسئلې وضاحت وکړئ ! ډیرو خلکو ته به مسئله معلومه شي، آیا طالبان د امتحان په دوران کې روژه پریښودلی شي اوکه نه؟

جواب: دا مسئله هم غلطه ده، د رمضان روژه فرض ده[5] او بي ایس سي امتحان څه فرض او واجب نه دی چې د دې له پاره د رمضان روژې پریښودل شي، او بیا پروفیسرې صاحبې دا هم

---

[1] قال فی الایضاح :اعلم ان ا لصوم من اعظم ارکان الدین واوثق قوانین الشرع المتین ......الخ (شامی ،کتاب الصوم ج:۲ص:۳۶۹،طبع سعید)۔

[2] وشرط وجوبه الاداء الصحة والاقامة .(هندیة ج:۱ص:۱۹۵ ،کتاب الصوم الباب الاول)۔

[3] وقضوا لزوما ماقدروابلا فدیة وبلا ولاء ......الخ (درمختارمع الشامی ج:۲ص:۴۲۳)۰وفی شرح مختصر الطحاوی (ج:۲ص: ٤٦٤) قال ابوجعفر:ومن اصبح فی یوم من شهررمضان ولم یکن نوی الصوم ثم اکل او شرب اوجامع متعمدًا ،فان اباحنیفة کان یقول:علیه القضاء بلاکفارة ایضًا:مراقی الفلاح ص:۲۳۷طبع نورمحمد)

[4] عن ابی هریرة رضی الله عنه ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قال:من افطریومًا من رمضان من غیر رخصة ولامرض لم یقضه صوم الدهر کله وان صامه .رواه الترمذی واللفظ له .(الترغیب والترهیب ج:۲ص:۱۰۸)۔

[5] اعلم ان صوم رمضان فریضة ،لقوله تعالی :کتب علیکم الصیام وعلی فرضیة انعقدالاجماع ،ولهذا یکفرجاحده (وفی البنایة) لقوله تعالی :کتب علیکم الصیام ای فرض علیکم الصوم کما کتب علی الذین من قبلکم یعنی علی الانبیاء علیهم ا لسلام والامم من لدن آدم علیه السلام الی عهدکم ......الخ (البنایة فی شرح الهدایة ،کتاب الصوم ج:٤ص:۲٤۸ طبع حقانیة)

نه ویل چې که چیرې روژې پریښودل شي: نو بیا ددې په ځای څه کول پکار دي؟ آیا قضاء روژې به نیسي یا فدیه به ورکوي؟ یا د بي ایس سي په برکت سره د رمضان روژې به دغه شان معاف شي ...؟! او پروفیسرې صاحبې چې د آیت کومه حواله ورکړې ده هغه هم بې موقعې ده،په روژه کې خو مشقت ضرور وي؛خو روژه د سړي له وس نه بهر نه وي،په آیت شریفه کې خو دا فرمایل شوي دي چې الله تعالي چاته د داسې کار حکم نه ورکوي چې هغه د ده د طاقت نه بهر وي، دا یې نه دي فرمایلي چې په یو کار کې معمولي مشقت وي نو هغه هم معاف دی،په ریډیو او ټي وي باندې چې داسې قسمه غلطې فتوا جاري شي نو د دې نتیجه به دا وي چې عوام به په دې مسئلو باندې اعتماد نه کوي.

په سفر یا ناروغۍ کې روژه پریښودل

سوال: په سفر یا ناروغۍ کې روژه تر کوم حده پورې پریښودل جائز دي؟ ځکه چې انسان سفر د دونیاوي کارونو د پاره کوي که چیرې هغه د دې له پاره روژه پرېږدي نو ګویا چې ده دنیاوي کار له په دیني کار باندې فوقیت ورکړ؟

جواب: الله تعالي انسان کمزوری پیدا کړی دی او دده د کمزوري لحاظ یې ساتلی دی، په دې وجه په دونیاوي ضرورتونو د پاره هم که چیرې سفر وکړل شي: نو هم رخصت شته .[1]

د لمونځ او د قرآن نه لوستونکې ښځې له پاره فرض روژې نیول څنګه دي؟

سوال: زما مشکل دادي چې قرآن پاک او لمونځ مې نه دې یاد کړی، باقي د اردو تعلیم مې حاصل کړی دی، زه په رمضان المبارک کې روژې نیسم چې د هغې په وجه کور والا خفه کیږي چې دا جائز نه دي چې ته لمونځ او د قرآن تلاوت نه کوې . ستا روژې نه قبلیږي،خو زه بیاهم روژې نیسم،زه دا وایم چې ما د زړه نه روژه نیولې ده،خو کور والا په ضد دي چې داثواب نه دی ګناه ده،تاسو ووایئ چې څومره ګناه او څومره ثواب دی؟

جواب: ستا روژې نیول خو ګناه نه ده، بلکې ثواب دی او د دې اجر به تا ته ضرور ملاویږي، خو تاته لمونځ پرېښودل نه دي پکار، د لمونځ پرېښودل لویه ګناه ده،که چیرې تا ته لمونځ نه در خي نو ددې زده کول څه ګران نه دي تر څوپورې چې دې د لمونځ سورتونه نه وې زده کړي تر هغې پورې په لمونځ کې سبحان الله سبحان الله وایه[2]

---

[1] فمن کان منکم مریضًا اوعلی سفرفعدة من ایام اخر (البقرة :۱۸٤)

[2] عن عبدالله بن ابي اوفی رضی الله عنه قال:جاء رجل الی النبی صلی الله علیه وسلم فقال:انی لا استطیع ان آخذ من القرآن شیئًا فعلمنی مایجزئنی اقال:قل سبحان الله والحمدلله ولااله الا الله والله اکبر... الخ (مشکوة ص:۸۱)

حامله ښځه د خپل بچي د نقصان له ويرې روژه پرېښودلی شي

سوال: کومې ښځې چې حاملې دي يعني وختونو په لحاظ سره نژدې يا په مېنځ کې وي که چېرې روژه نيسي نو د کمزورۍ ډېره ويره ده؛ ځکه چې وينه کمه وي يا بعضو ته کمزوري هم کېدلې شي چې په هغې سره بچي ته يا د ولادت نه پس مور ته کمزوري راځي په دې موقعه کې په دې ښځو باندې روژه نيول ضروري وي يا نه؟

جواب: کومه حامله چې د روژې طاقت نه لري په دې وجه چې بچي ته به د نقصان د رسيدلو ويره وي هغه دې روژې نه نيسي په بل وخت کې دې قضاء اوکړي[1]

که د روژې نيولو سره پی کمې راځي يا يې د بنديدو خطره وي نو آيا روژه پرېښودل روا دي؟

سوال: کومې ښځې چې د ولادت نه وروسته بچيو ته پی ورکوي په دې کې هغه ښځې چې د چا پی کم راځي که چېرې روژه ونيسي او د پيو د کميدلو ګمان وشي: نو په داسې صورت کې روژه ونيسي او که څه حکم دی؟

جواب: که چېرې ماشوم نورې پی ځښلی شي يا د يوې بلې ښځې پی ځښلې شي نو بيا دده مور ته د روژې د پرېښودو اجازت نشته، خو که د ماشوم د پاره څه بل څه انتظام نه شي کيدای؛ نو هغه روژه ماتولی شي او بل وخت دې قضا راوړي[2]

د پيو ورکونکې ښځې روژه قضا کول

سوال: يوه داسې مور چې د هغې ماشوم د پيونه پرته بل خوراک نه شي خوړلی د هغې له پاره د رمضان په مياشت کې د روژې نيولو په باره کې څه حکم دی؟ ځکه چې د مورد روژې د وجې نه

---

[1] اوحامل اومرضع اما كانت اوظئرًا على الظاهر خافت بغلبة الظن على نفسها او ولدها ......الخ (الدرالمختارمع الردج:٢ص: ٤٢٢،كتاب الصوم ،فصل فى العوارض)• ايضًا :الحامل والمرضع اذاخافتا على انفسهما او ولدهما افطرتا وقضتا ولاكفارة عليهما (فتاوى عالمگيرى ج:١ ص:٢٠٧،ايضاً خلاصة الفتاوى ج:١ ص:٢٦٥، كتاب الصوم ،طبع رشيدية)• ايضًا :قال ومن خاف ان تزاد عينه وجعًا،اويزدادحمّاه شدة، افطر وقضى ،وذلک لقول الله تعالى:ومن كان منكم مريضًا اوعلى سفرفعدة من ايام اخر• تقضى ظاهره اباحة الافطار لكل مريض ،الا انه قداتفق اهل العلم على ان المرض الذى لايضرمعه الصوم لايبيح الافطار،فخصصناه من الظاهر وبقى حكم اللفظ فيما عداه ،واباح النبى صلى الله عليه وسلم الافطارللحامل والمرضع ،لمايخافان على الولدمن الضرر فضررلفسه اولى باباحة الافطار من اجله (شرح مختصرالطحاوى ج:٢ ص:٤٤٦،٤٤٧، كتاب الصوم)

[2] ايضاً حاشيه گذشته: اوحامل اومرضع اما كانت اوظئرًا .... الخ (شرح مختصر الطحاوى ج:٢ ص:٤٤٧، ٤٤٦، كتاب الصوم)

دماشوم له پاره دپیوکمی راځي او ورې پاتې کیږي.

جواب: که موریاپې خوړونکي ماشوم دروژې متحمل کیدای نه شي؛ نوبنځه روژه پرېښودی شي، وروسته دې قضا ونیسي.[1]

د سختې ناروغۍ له وجې د خوړل شویو روژو قضا او فدیه

سوال: زمامسئله داده چې زماپوزه اکثربنده وي،ددې تقریبادوه ځله اپریشن هم شوی دی، خو هیڅ فائده راته ونه شوه،ډاکټري او حکیمي علاج مې کافي کړی دی، دهغه سره هم څه فائده ونه شوه،ګرم شي خوړولوسره مې یوطرف ته پوزه خلاصه شي اوساه مې ننبتې راځي. مګر دملاستې په صورت کې هغه هم بنده شي،اوساه مې ننبتې راځي،چې دهغې د وجې نه خوب نه راځي،دوايي اچولوسره مې پوزه صرف دپنځومنټوله پاره خلاصه شي، بنکاره ده چې دوايي په پوزه کې اچولوسره اکثر حلق ته هم راځي،مهرباني وکړئ اوتاسو راته دا ولیکئ چې د روژې په حالت کې زه په پوزه کې دوايي اچولی شم؟یادساتئ که زه هغه په پوزه کې وانچوم نو یو منټ هم ویده کیدای نه شم،مهرباني وکړئ ددې وظیفه هم راته ولیکئ چې دا تکلیف مې لرې شي اوزمادزړه بې اختیاره ستاسوله پاره دعاګانې ووځي.

جواب: دروژې په حالت کې په پوزه کې دوايي اچول صحیح نه دي،دې سره روژه ماتیږي،[2] که ته دناروغۍ له وجې روژه پوره کولی نه شې نودروژې دپرېښودواجازت شته[3].که ته په وړو ورځو کې روژه نیولی شې نوددې روژوقضالازم ده[4].اوکه په یوموسم کې هم دروژو نیولو

۱] اوحامل اومرضع اما کانت اوظئرًا علی الظاهر خافت بغلبة الظن علی نفسها او ولدها ....الخ (الدرالمختارمع الردج:۲ص: ۴۲۲،کتاب الصوم ،فصل فی العوارض)۰ ایضًا :الحامل والمرضع اذا خافتا علی انفسهما او ولدهما افطرتا وقضتا ولاکفارة علیهما (فتاوی عالمگیری ج:۱ ص:۲۰۷،ایضاً خلاصة الفتاوی ج:۱ص:۲۶۵،کتاب الصوم ،طبع رشیدیة)۰ ایضًا :قال ومن خاف ان تزاد عینه وجعًا،اویزدادحمّاه شدة، افطر وقضی ،وذلک لقول الله تعالی:ومن کان مریضًااوعلی سفرفعدة من ایام آخر۰تقضی ظاهره اباحة الافطارلکل مریض ،الا انه قداتفق اهل العلم علی ان المرض الذی لایضرمعه الصوم لایبیح الافطار، فخصصناه من الظاهر وبقی حکم اللفظ فیما عداه ،واباح النبی صلی الله علیه وسلم الافطار للحامل والمرضع ،لما یخافان علی الولد من الضرر فضررنفسه اولی باباحة الافطارمن اجله(شرح مختصرالطحاوی ج:۲ص:۴۴۶،۴۴۷،کتاب الصوم)

۲]وماوصل الی الجوف او الی الدماغ من المخارق الاصلیة کالانف والاذن والدبربان استعط او احتقن او اقطرفی اذنه فوصل الی الجوف اوالی الدماغ فسدصومه...الخ (البدائع الصنائع ج:۲ص:۹۳(فصل) وامارکنه)

۳]المریض اذا خاف علی نفسه التلف اوذهاب عضو یفطربالاجماع وان خاف زیادة العلة وامتداده فکذلک عندنا وعلیه القضاء اذا افطر کذافی المحیط(هندیة ج:۱ص:۲۰۷،درمختارمع الشامی ج:۲ص:۴۲۲،فصل فی العوارض)

۴]ولولم یقدرلشدة الزمان کالحرفله ان یفطروینتظرالشتاء فیقضی کذافی فتح القدیر (هندیة ج:۱ ص:۲۰۹،وفی الشامیة ج:۲ص:۴۲۷،فصل فی العوارض)۔

امکان نه وي؛ نود روژو فدیه لازم ده[1]، البته د کوم روژو فدیه چې اداکړل شوه، که په پوره ژوند کله هم د روژو نیولو طاقت درکې پیداشو نو دا فدیه به غیرمعتبره وي او د روژو قضا به لازم وي.[2]

د متیازو ناوغي په روژه کې مانع نه ده

سوال: زما مسئله داده چې زه ډېرې مودې راهیسې د متیازو په ناروغۍ کې مبتلا یم او په دې کې ځلیرویشت ګنټې پاک پاتې کیدل ممکن نه دي، په داسې صورت کې کله چې پورتنی صورت حال سر هوي نو آیا بنده لمونځ روژه کولی شي اونه؟ اکثرخلق وایي چې پاکي ناپاکي سره هیڅ نه کیږي نیت صفاپکاردی، قبلوونکی الله دی او هم دغه وجه ده چې زه لمونځ وغیره بالکل نه پریږدم ایا تاسو ماته په دې سلسله کې څه مفید مشوره راکولی شئ؟

جواب: دا ناروغۍ په روژه کې رکاوټ (مانع) نه دی، خو اودس ورسره ماتیږي، مګرچونکې ته معذور یې د دې وجې د هر لمانځه له پاره نوی اودس کوه، ترڅوپورې چې د هغه لمونځ وخت وی ستا اودس بغیر د څه عذرنه به نه ماتیږي. کله چې د لمانځه وخت تېرشي نو بیا اودس اوکړه[3]، لمونځ روژه پرېښودل جائزنه دي.

د مرض دوباره راتلو د ویرې نه د روژې فدیه ورکول

سوال: زما د تیرو پنځو کالو راهیسې په ګرده کې تکلیف دی، تیرکال زه پاکستان ته لاړم او اپریشن مې وکړ، اوکانی راووت، د اپریشن نه څلور میاشتې پس بیاکانی پیداشو، دلته په (بحرین) کې مې دیوقابل ډاکټرنه علاج شروع کړو ډاکټرصاحب ماته دصفااوبو څښلو وویل او ما په ورځ کې تقریبا څلویښت ګلاسه اوبه وڅښلې، دالله تعالی په مهرباني سره هغه کانی په خپله د متیازو سره خارج شو.

ډاکټرصاحب ماته وویل چې ډېرکسانو ګرده پوډرشان جوړوي چې دکانې په شان شي، که تا روزانه همدغه شان اوبه څښلې نوکانی به نه جوړیږي او که اوبه کمې کړې نوکانی به دوباره جوړشي. ډاکټرمسلمان دی او ډېرښه انسان دی، هغه زه منع کړې یم چې ماته معلومه ده چې تاسو پاکستانیان روژه نه پریږدئ مګرته بالکل روژه مه نیسه، که تااوبه څښل پرېښودل

[1] المريض اذا تحقق الياس من الصحة فعليه الفدية لكل يوم من المرض ......الخ (شامي ج:٢ص:٤٢٧)_

[2] ولوقدرعلى الصيام بعدمافدى بطل حكم الفداء الذى فداه حتى يجب عليه الصوم هكذا فى النهاية .(هندية ج:١ص:٢٠٧، والشامية ج:٢ص:٤٢٧،فصل فى العوارض)_

[3] المستحاضة ومن به سلس البول ......يتوضون لوقت كل صلاة ويصلون بذلك الوضوء فى الوقت ماشاؤا من الفروض والنوافل هكذا فى البحرالرائق .(هندية ج:١ص:٤١،كتاب الطهارة ،وممايتصل بذلك احكام المعذور)_

نوکانې به دوباره پیدا شي او س سخت پریشان یم چې څه وکړم؟

جواب: که ویره وي چې که روژه دې ونیوله نو مرض به سردوباره شي؛ نو ته د ډاکټر په مشوره باندې عمل کولی شې[1]، او کومې روژې چې ستا پاتې شي که دیخنئ په ورځوکې د هغو قضا ممکن وي نو دا روژې پوره کړه[2]، ګنې د روژو فدیه ورکړه. [3]

❖ رمضان کې د ښځو د خاصو ورځو مسائل ❖

....

د حیض په ورځوکې د ښځو روژې نیول جائز نه دي

سوال: په رمضان کې ښځې چې څومره ورځې په ناوغی (حیض) کې وي، په دې حالت کې روژې نیول پکار دي او که نه؟ او که یې وخوري؛ نو وروسته نیول پکار دي او که نه؟

جواب: د ناوغی (حیض او نفاس) په ورځوکې ښځوته روژې نیول پکار نه دي، وروسته قضا نیول فرض دي.[4]

دوا خوړلو سره د ناوغی (حیض) ودرولو نکو ښځو روژې نیول

سوال: په رمضان کې ځینې ښځې دوایي (درمل) وخوري او خپلې ورځې وروسته کړي، د غه شان د رمضان پوره روژې ونیسي او په فخر سره وایي چې مونږ خو د رمضان پوره روژې نیولې دي آیا داسې کول شرعاً درست دي؟

جواب: دا خو واضحه ده چې ترڅو پورې ورځې شروع شوې نه وي نو ښځه پاکه شمېرل کیږي او د هغې د رمضان روژې نیول صحیح وي، پاتې شو داچې د حیض ایسارول صحیح دي او که نه؟ نو شرعاً په ایسارولو باندې څه پابندي نه شته، مګر شرط دادی چې داکار که د ښځې د صحت له پاره نقصاني وي؛ نو جائزنه دی.

١] تیره شوی حاشیه (اوحامل اومرضع اما کانت اوظئرًا علی الظاهر خافت بغلبة الظن...الخ) اوګورئ)۔

٢] ولوقدرعلی الصیام بعدمافدی بطل حکم الفداء الذی فداه حتی یجب علیه الصوم هکذا فی النهایة .(هندیة ج:١ص:٢٠٧، والشامیة ج:٢ص:٤٢٧،فصل فی العوارض)۔

٣]المریض اذا تحقق الیاس من الصحة فعلیه الفدیة لکل یوم من المرض ......الخ (شامی ج:٢ص:٤٢٧)۔

٤] ومنها الحیض والنفاس واذا حاضت المراءة اونفست افطرت (هندیة ج:١ص:٢٠٧)۰وتشترط لوجوب الاداء الصحة....والطهارة عن الحیض والنفاس (مجمع البحرین وملتقی النیرین ،کتاب الصوم ص:٢٠٣،طبع مکتبة اسلامیه کوئته)، وتقضی الحائض والنفساء الصوم دون الصلاة لحدیث عائشة رضی الله عنها،کان یصیبنا ذالک فنومر بقضاء الصوم ولا نومربقضاء الصلاة وعلیه الاجماع...الخ.(مراقی الفلاح باب الحیض والنفاس ص:٧٩،طبع نورمحمدکتاب خانه)

د روژې په دوران کې که بیماري (ماهواري) شروع شي نو روژه ختمه شوه

سوال: د رمضان په میاشت کې که د روژې نیولو نه پس دورځې څه وخت کې بیماري (حیض) شروع شوه؛ نو آیا په دغه وخت کې روژه ماتول پکار دي او که نه؟

جواب: د ماهواري (حیض) شروع کیدو سره روژه په خپله ماته کیږي.[1]

غیر رمضان کې د روژو قضا شته د تراویح نشته

سوال: د رمضان په میاشت کې د مجبوري نه چې کومې روژې پاتې شي؛ نو د هغو د قضا نیولو په وخت کې تراویح کول پکار دي او که نه؟

جواب: تراویح یوازې په رمضان کې کیږي[2] د رمضان په قضایي روژو کې تراویح نه وي.[3]

قضا روژې که پرلپسې یا وقفې سره نیول

سوال: کومې روژې چې پاتې شي، د هغې قضا لازم ده، ترننه پورې مور په دې د پوهیدو نه محرومه وو، اوس راته الله تعالی په زړه کې واچول نو داپته راته ولګیده چې مسلسل روژې نیول منع دي، آیا زه یوه ورځ پس یا په هفته کې یوه ورځ یا دوه ورځې روژې نیولې شم او خپلې قضا روژې پوره کولی شم؟ ځکه چې د ژوند څه باور نشته څومره زر چې اداکړل شي؛ نو بهتر ده.

جواب: کومې روژې چې پاتې شوې وي، د هغو قضا فرض ده، که صحت او قوت اجازت ورکوي؛ نو د هغې په مسلسل نیولو کې نقصان نشته، بلکه تر کومې پورې چې ممکن وی نو زر تر زره قضا نیول بهتر دي، ګني چې څنګه درته سهولت وي هغسې یې ونیسئ![4]

که په ټول عمر کې که هم قضا روژې پوره نه شي نو د خپل مال نه دې وصیت وکړي

سوال: په رمضان المبارک کې چې کومې روژې د مجبورۍ نه پاتې شي هغه ماتر اوسه پورې ونه نیولې، ان شاء الله داخل به یې نیسم اوتیرې شوې کومې روژې چې پاتې وې د هغې له پاره

۱] الحیض والنفاس یفسدان الصوم فیوجب القضاء دون الکفارة. (عالمگیری ج:۱ص:۲۰۹، کتاب الصوم)

۲] فصلاة التراویح فی لیالی رمضان ....الخ (البدائع الصنائع ج:۱ص:۲۸۸ (فصل) وامابیان ان السنة)۔

۳] (فصل) وامابیان ادائها اذا فاتت عن وقتها هل تقضی ام لا.......والصحیح انها لاتقضی لانهالیست باکد من سنة المغرب والعشاء وتلک لاتقضی فکذلک هذه (البدائع الصنائع ج:۱ص:۲۹۰(فصل) وامابیان ادائها)

۴] تتابع القضاء :اتفق اکثرالفقهاء علی انه یستحب موالاة القضاء اوتتابعه لکن لایشترط التتابع والفورفی قضاء رمضان فان شاء فرقه وان شاء تابعه لاطلاق النص القرآنی الموجب للقضاء......الخ (الفقه الاسلامی وادلته ج:۲ص:۶۸۰ کذافی فتح القدیر ج:۲ص:۸۱)۔

د الله تعالی نه معافي غواړم، پوښتنه مې داوه چې تيرشوې روژې کومې چې پاتې شوې دي دهغو له پاره يوازې توبه کول کافي دي ياکفاره به هم اداکول وی؟يابيابه هغه روژې نيول وي؟ماته داهم ياد نه دي چې څومره دي؟

جواب: الله تعالی دې تاسوته دخير بدله درکړي تاسوديوې داسې مسئلې پوښتنه کړې ده چې دهغې ضرورت ټولومسلمانو ښځوته دی اوپه کومه کې چې عموماً زموږ ميندې خويندې دغفلت نه کار اخلي اود ښځو کومې روژې چې دخاص عذرله وجې نه پاتې شي دهغو قضاواجب ده اوکه دسستي اوکوتاهي له وجې نه يې قضا ونه نيولې؛ نوترمرګه پورې به دهغې په ذمه وي، په توبې او استغفار سره په روژو کې دتاخيرګناه خوبه معاف شي؛خو روژې به درته معاف نه شي، هغه به موبه ذمه وي. اداکول يې فرض دي، البته په دې کې تاخيراوکوتاهي دوجې نه به کفاره نه لازميږي[1]. دکله نه چې په تاباندې لمونځ او روژه فرض شوي دي دهغه وخت نه چې درمضان څومر روژې پاتې شوې دي، دهغو حساب ولګوئ اوبيادهغې قضانيول شروع کړئ،ضروري نه ده چې پرله پسې يې ونيسئ، بلکې کله چې هم موقعه درته ملاوشي قضاروژې نيسئ اونيت کوئ چې دټولونه دلومړي رمضان کومه قضاروژه چې زماپه ذمه وه دهغې قضانيسم اوکه خدای مه کړه په ټول عمرکې هم هغه روژې پوره نه شي؛ نووصيت کول فرض دي چې زماپه ذمه دومره روژې باقي دي دهغو فديه دې زمادمال نه ورکړل شي[2]اوکه تاته يادنه دي چې دکله نه ستاپه ذمه روژې فرض شوي دي؛ نودخپل عمردلسم کال نه د روژو حساب ولګوئ اوپه هرمياشت کې چې څومره ورځې ستانه پاتې کيږي دهغومره ورځو د ټولو کالونو حساب ولګوئ!

که د ناوغې په دوران کې څوک د روژې پوښتنه وکړئ خبره په بله اړوئ

سوال: په خاصو ورځو(حيض)کې کله زه اوزماخويندې روژې نه نيسي؛ نو پلار،ورورياب ل څوک پوښتنه کوي ،مونږ ورته وايوچې روژه مو ده، موږ باقاعده دټولوسره پيشمنی کوو اوکه دورځې څه خوراک څښاک کول وي؛ نوپه پټه يې کوو.ياکله يې خورو هم نه،نو آيازموږ داسې کولو سره به موږ ته دروغوسزاملاويږي،هرکله چې موږ داسې دشرم له وجې کوو.

جواب: په داسې خبروکې شرم اوحياخوښه خبره ده،مګرپه ددې ويلوپه ځای چې زموږ روژه ده، څه داسې فقره دې وويل شي چې دروغ نه وي،مثلاً: داسې دې وويل شي چې:موږ خو دټولو سره يوځای پيشمنی کړی.

۱]والحيض والنفاس يفسدان الصوم فيوجب القضاء دون الكفارة(قاضی خان علی هامش الهندية ج:۱ص:۲۰۹)

۲]وقضوا لزومًا ماقدروا بلافدية وبلا ولاء ......الخ ...... ولوماتوا بعد زوال العذر وجبت الوصية بقدر ادراكهم عدة من ايام آخر.....الخ (درمختارمع الشامی ج:۲ ص:۴۲۳،۴۲۴،ايضاًمراقی الفلاح ،فصل ف اسقاط الصلاة والصوم ص:۲۳۷)_

د ښځو ته د کفارې د روژو وخت کې بیمارې(حیض) راتلل

سوال: یو ښځې په رمضان کې قصداً روژه ماته کړه او س کفاره ورکول غواړي.د کفارې روژې یې شروع کړې نو په مینځ کې یې حیض شروع شو ایا هغې ته به بیا روژې له سره شروع کول وي؟

جواب: د کفارې شپیته روژې متواتر(پرلپسې)نیول ضروري دي،که په مینځ کې یوه ورځ هم ناغه وشوه نو تیرې ټولې روژې به ختمې شي او دنوې سرنه به بیا شپیتهٔ روژې پوره کول ضروري وي،خو د ښځو د حیض په ورځو کې چې کومه جبري ناغه وشي هغه معاف دهٔ،د حیض په ورځو کې دې روژې پریږدي او د پاکیدو نه وروسته دې بغیر د وقفې نه روژې نیول شروع کړي.تر دې پورې چې شپیته روژې پوره شي.[۱]

❖ کوم شیانو سره روژه ماتیږي یا مکروه کیږي ❖

په هیره خوراک کوونکی یا قی کوونکی

که قصداً څه وخوري نو یوازې قضا به راوړي

سوال: فرض کړئ چې زید په هیره ډوډۍ وخوړه او روسته ورته یاد شو چې د هغه روژه وه،اوس هغه دا او ګڼله چې روژه خو یاتې نه شوه نو نور څه خوراک یې وکړ؛نو آیا د قضا سره کفاره به هم وي؟همدغه شان که چا قي(ولتې) کولو نه وروسته قصداً څه خوراک څښاک وکړ؛نو څه حکم دی؟

جواب: چا په هیره څه او خوړل او دا یې او ګڼل چې روژه مې ماته شوله، قصداً یې څه وخوړل نو قضا واجبیږي،همدغه شان که چاقی وکړ، او بیا یې دا خیال راغی چې روژه خو ماته شوه څه یې وخوړل، نو په دې صورت کې به قضا واجبیږي او کفاره به نه واجبیږي،خو که هغه ته دا مسئله معلومه وه چې قي سره روژه نه ماتیږي او د دې با وجود یې خوراک وکړاو په دې صورت کې د هغه په ذمه قضا او کفاره دواړه لازمیږي.[۲]

۱] قوله ككفارة المظاهرمرتبط بقوله وكفر......فان لم يجدصام شهرين متتابعين ......فلو افطر ولولعذر استانف الا لعذر الحيض .(شامى ،مطلب فى الكفارة ج:۲ص:۴۱۲)۰ صام شهرين متتابعين ......فان افطرولوبعذرغيرالحيض استانف ويلزمها الوصل بعد طهرهامن الحيض حتى لولم تصل استانف ذكره السيد (حاشية الطحطاوى فصل فى الكفارة ومايسقطها ص:۳۶۶)۔

۲] او اكل.....ناسيًااوذرعه القيى فظن انه افطرفاكل عمدًا للشبهة ولوعلم عدم فطره لزمته الكفارة ... الخ (درمختارمع الشامى ج:۲ص۴۰۱،۴۰۲)،لو اكل اوشرب اوجامع ناسيًا وظن ان ذلك فطره فاكل متعمدًا لاكفارة عليه وان علم ان صومه لاتفسدبالنسيان عندابى حنيفة رحمه الله لاتلزمه وهوالصحيح .ولوذرعه القىء فظن انه يفطره فافطر لاكفارة عليه ،وان علم ان ذلك لايفطره فعليه الكفارة كذافى البحرالرائق .(فتاوى عالمگيرى ج:۱ص:۲۰۶كتاب الصوم،الباب الرابع فيمايفسدومالايفسدوممايتصل بذلك مسائل،طبع رشيديه)

که په غلطۍ سره يې روژه ماته کړه نو بيا يې قضا واجب ده کفاره نشته

سوال: يوځل په رمضان المبارک زماسره يوه حادثه وشوه،چې زما روژه وه چې دمازيګر لمونځ مې وکړ؛نوراغلم اوتلاوت ته کېيناستم، پنځه بجې مې تلاوت ختم کړ،اوذروژه ماتي په سلسله کې په کار کې لګياشوم،واضحه دې وی چې زه په کورکې يواځې اوسيږم. سالن وغيره مې تيار کړ، حسب معمول څه لږ شان پې اوشربت مې جوړ کړ،اودباورچې خانې(پخلنځای) نه واپس راغلم،نوپه ګړۍ کې پنځه نيمې بجې وې،اوس زمايه خيال کې راغلل چې چونکې روژه ماتې په لس منټه کم شپږ بجې باندې وي په څلويښت منټه کې څه پکوړې پخې کړم.خيردخيال مطابق څلويښت منټه باندې باورچې خانې ته لاړم،اوپکوړې پخول مې شروع کړلې،په لس منټه شپږ بجې مې ټول سامان دروژه ماتي په ميزباندې کېښودواوکېيناستلم، مګراذان مې وانوريد، ائرکنډيشنډ مې بند کړ بيا هم څه آواز رانه غې. بيا په ټليفون باندې وخت معلوم کړ ۵:۵۵ شوې وې،ماوګڼله چې اذان اوريدل شوی نه دی، ممکنه ده چې مائک خراب وي يابل څه عذروي،اوروژه مې ماته کړه بيا د ماښام لمونځ مې وکړ،دلته کويت اردوسروس اووبجې شروع کيږي،دروژه ماتي نه پس مې هغه ولګولومګرهغه هم اونه لګيدو،په دې دروان کې بي بي سي اولګيده،اوزماخيال راغې چې روژه خو په لس منټه کم اووبجې باندې ماتيږي،پس دافسوس اوپښيماني نه پرته څه کولی شم، بيامې خوله کنګال کړه څومنټه باقي وو،دوباره مې روژه ماته کړه اودماښام لمونځ مې وکړ.
مهرباني وکړئ اوماته ددې غلطۍ په باره کې ووايئ،چې زماروژه ماته شوې ده نو قضا واجب ده ياکفاره هم؟اوکه کفاره واجب وي نوزه اګرچې صحت منديم بياهم شپيتو مسکينانو باندې خوراک کولی شم؟ په تفصيل سره جواب راکړئ مولاناصاحب!زه په دې نه پوهيږم چې د ۶:۵۰ په ځای ۵:۵۰ د روژه ماتی ټايم وګڼلواو خپل خيال مطابق مې روژه ماته کړه.

جواب: ستاروژه ماته شوه،مګرچونکې په غلط فهمي کې دې ماته کړې ده، له دې وجې ستاپه ذمه صرف دقضاروژه واجب ده کفاره نه ده.[1]

که حلق ته وينه لاړه نو روژه ماته شوه

سوال: که څوک د روژې په حالت کې وواود ووريونه يې وينه راشي اود حلق نه تيره شي؛ نوپه داسې حالت کې په روژه څوڅه خراب اثرنه پريوځي؟خاص کردنيت په حالت کې.

---

[1] اوتسحر اوافطريظن اليوم اى الوقت الذى اكل فيه ليلاوالحال ان الفجرطالع والشمس لم تغرب (درمختار) وفى الشامية :اى يجب عليه القضاء دون الكفارة لان الجناية قاصرة ......الخ (درمختارمع الشامى ج:۲ص:۴۰۵،باب مايفسد الصوم ومالايفسده،وايضاً:عالمګيرى ج:۱ص:۲۰۶،کتاب الصوم ،طبع رشيديه)

جواب: که یقین وي چې وینه حلق ته تللې ده؛ نو روژه فاسده شوه دوباره نیول به یې ضروري وي.[1]

روژه کې په مخصوص ځای دوايي کیښودو سره روژه ماتیږي

سوال: ځینې دوایانې چې په مخصوصو ځایونو کې دپاکي نه وروسته کیښودل کیږي، کومې ته چې دطب په اصطلاح کې (شیاف) وایي، ددې مسئلې معلومات غواړم چې ددې په استعمال سره په روژه څه اثر پریوځي؟ آیا روژه کیږي؟

جواب: دروژې په حالت کې داعمل درست نه دی، دې سره روژه ماتیږي.[2]

د لامبو په وخت کې په خوله کې اوبه تلو سره روژه ماتیږي

سوال: آیا د لامبلو په وخت کې اوبه خوله کې تلو سره روژه ماتیږي؟ که غلطي سره وي یا قصداً وي؟

جواب: اودسیا غسل کولو په وخت کې که په غلطي سره اوبه حلق ته لاندې لاړې شي؛ نو روژه ماتیږي مګر په دې صورت کې یوازې قضالازمه ده، کفاره نشته.[3]

په روژه کې په هیره باندې خوراک څښاک کول

سوال: که څوک په روژه کې په هیره سره اوبه وڅښي یا بل څه شی وخوري او ده ته خیال نه وي راغلی چې دده روژه ده، نو د دې به څه کفاره اداء کول وي؟

جواب: که په هیره سره خوراک څښاک وکړل شي ؛نو دده روژه نه ماتیږي[4] آو که چیرې په خوراک کې یاد شي نو د یاد راتلو نه فوراً پس دې پریږدي، خو که چیرې روژه خو یاده وي لیکن په غلطي سره اوبه د تالو نه کښته لاړې شي؛ نو روژه به یې فاسده شي.[5]

---

[1] اوخرج الدم من بين اسنانه ودخل حلقه يعنى ولم يصل الى جوفه اماااذاوصل فان غلب الدم اوتساويا فسددوالا لا......الخ (درمختارمع الشامي ج:٢ص:٣٩٤،باب مايفسدالصوم ومالايفسده)_

[2] ومن احتقن او استعط او اقطر فى اذنه دهنا افطر ولا كفارة عليه هكذا فى الهداية .(هندية ج:١ص:٢٠٤)_

[3] لواكل مكرهااومخطئاعليه القضاء دون الكفارة كذافى قاضى خان...... وان تمضمض واستنشق فدخل الماء جوفه ان كان ذاكرًا لصومه فسدصومه وعليه القضاء ......وكذا اذا اغتسل فدخل الماء حلقه كذافى السراج الوهاج .(هندية ج:١ص:٢٠٢،كتاب الصوم ،الباب الرابع فيمايفسدومالايفسد)_

[4] اذا اكل الصائم اوشرب اوجامع ناسيًا لم يفطر (عالمگيرى ج:١ص:٢٠٢،كتاب الصوم ،الباب الرابع)

[5] وان تمضمض او استنشق فدخل الماء جوفه ان كان ذاكرًا لصومه فسدصومه وعليه القضاء.....الخ (عالمگيرى ج:١ص:٢٠٢،كتاب الصوم ،الباب الرابع فيمايفسدومالايفسد)

په روژه کې فرض غسل سره په نوم یا غوږ کې اوبه اچول

سوال: په روژه کې د فرض غسل کولو په وخت په نوم او یا غوږ کې دننه اوبه اچولو سره روژه خو ماتیږي نه؟

جواب: په نوم کې په اوبو اچولو سره هیڅ نه کیږي او که چیرې اوبه په غوږ کې دننه شوې او دماغو ته ورسیدې نو روژه یې ماتیږي[1]

په روژه کې غرغرې کول اوپه پوزه کې پورته اوبه راښکل منع دي

سوال: د روژې په حالت کې غرغرې کول اوپه پوزه کې اوبه پورته راښکل منع دي ،اوس پوښتنه داده چې هغه بالکل معاف دی یابل وخت کول پکار دي؟

جواب: دروژې په حالت کې غرغرې کول اوپه پوزه کې اوبه پورته راښکل منع دي،دې سره دروژې د ماتیدو قوی ویره ده.که غسل فرض وي، نوکلی دې وکړی په پوزه دې اوبه هم واچوی مګر د روژې په حالت کې دې غرغرې نه کوي،نه دې په پوزه کې پورته پورې اوبه کش کوي.[2]

د روژې په حالت کې سګریټ یا چلم څښلوسره روژه ماتیږي

سوال: روژه دارکه سګریټ یاچلم وڅښي نو آیادې سره روژه ماتیږي؟

جواب: دروژې په حالت کې سګریټ یاچلم څښلوسره روژه ماتیږي.که داکاریې قصداً وکړ؛ نو قضا اوکفاره دواړه لازمیږي.[3]

که داسې شی تیرشي چې غذا یا دوا نه وي نوصرف قضابه واجب وي

سوال: دزید روژه وه.د هغه سکه تیره شوه،اوس پوښتنه داده چې ایا روژه ماته شوه؟اوصرف قضا واجبیږي؟

---

[1] فی الدرالمختار:اودخل الماء فی اذنه وان کان بفعله علی المختار ٠وفی الشرح:اختاره فی الهدایة والتبیین وصححه فی المحیط وفی الولوالجیة انه المختاروفصل فی الخانیة بانه ان دخل لایفسدوان ادخله یفسدفی الصحیح لانه وصل الی الجوف بفعله فلایعتبرفیه صلاح البدن ،ومثله فی البزازیة واستظهره فی الفتح والبرهان شرنبلالیة ملخصا٠والحاصل الاتفاق علی الفطربصب الدهن وعلی عدمه بدخول الماء واختلف الصحیح فی ادخاله نوح (شامی ج:۲ص:۳۹۶)

[2] وکذاتکره المبالغة فی المضمضة والاستنشاق....الخ (هندیة ج:۱ص:۱۹۹.الباب الثالث فیمایکره للصائم)

[3] ویفطر بتناول الدخان المعروف ونحوه کالتمباک والنشرق......الخ (الفقه الاسلامی وادلته ج:۲ص:۶۶۵، کتاب الصوم وفی الشامیة ج:۲ص:۳۹۵،کتاب الصوم ،باب مایفسدالصوم ومالایفسده)_

جواب: څه داسې شی یې تیر کړچې بطورغذا یادوا نه استعمالیږي؛ نو روژه ماته شوه اوصرف قضالازمیږی، کفاره واجب نه ده.[۱]

د پیشمنی نه مخکې که څه شی په خوله کې کیښودل شواو ویده شو نود روژې څه حکم دی؟

سوال: درمضان شریف په میاشت کې چهالیه مې په خوله کې کیښودله اوپه بستره څملاستم، دامې خیال ووچې دابه دخولې لرې کړم اوروژه به اونیسم،ناګهانه سترګې مې ورغلې،اوخوب راباندې غالب شو،کله چې دپیشمنې وخت تیرشوی و؛نوهغه وخت کې بیدارشوم،اوچهالیه مې دخولې نه لرې کړه اوخوله مې صفاکړه، اوکلی مې اوکړله.ایازماروژه وشوه؟

جواب: روژه ونه شوه،قضا راوړه![۲]

د چنې د دانې برابر د غوښې ریشې که په غاښونو کې وینښتې اوتیرې شوې نو روژه ماته شوه

سوال: یوه ورځ ماپه پیشمنې کې غوښه وخوړه اودهغې څه ریشې مې په غاښونوکې پاتې شوې،سحرڅه ریشې خومادغاښونونه راویستلې اوتیرې مې کړلې.اوس تاسوراته اووایئ چې روژه مې ماته شوه؟

جواب: په غاښونوکې دغوښې ریشې یاڅه شی پاتې شوي وو.اوپه خپله تیرشو،نوکه دچنې د دانې برابریاددې نه زیات وي؛ نو روژه ماته شوه،اوکه ددې نه کم وي؛ نوروژه نه ماتیږي[۳]. او که دبهرنه څه شی یې په خوله کې واچولواوتیریې کړ،که کم وي یازیات وي ،روژه ماته شوه[۴]

د روژې په حالت کې په اوبو کې کیښاستل او تازه مسواک وهل

سوال: ایادروژې په حالت کې باربارترډیره وخته پورې په اوبوکې کیناستل یا باربارکلي کول، یا تازه مسواک مثلاً:نیم، کیکریا پیلووغیره کول،یامنجن کولوسره روژې ته څه نقصان خونه رسیږي؟

۱] اوابتلع مالایتغذی به ولایتداوی به عادة فسده صومه ولزمه القضاءولاکفارة علیه ......الخ (البحرالرائق ج:۲ص:۲۹۵،وکذا فی الهندیة ج:۲ص:۲۰۲الباب الرابع فیمایفسدالصوم ومالایفسد،کتاب الصوم)۔

۲] اذابقیت لقمة السحورفی فیه فطلع الفجر...... وان آخرجها......لاکفارة علیه ......الخ (هندیة ج:۱ ص:۲۰۳، کتاب الصوم الباب الرابع)۔

۳] وان اکل مابین اسنانه لم یفسدان کان قلیلاً وان کان کثیرًا یفسدوالحمصة وما فوقها کثیر وما دونها قلیل ......الخ (هندیة ج:۱ص:۲۰۲،کتاب الصوم ،الباب الرابع)۔

٤] وان ابتلع من الخارج یفسد...الخ (هندیة ج:۱ص:۲۰۳،کتاب الصوم ،وکذا فی الشامیة ج:۲ص:٤۱۵)

جواب: دامام ابوحنیفه رحمه الله په نزد مسواک مکروه خونه دی[۱]،مګر باربار کلي کول، او ډیر ساعت پورې په اوبو کې کیناستل مکروه دي.[۲]

که د چا ښځې لیدو یا ښکلولو سره انزال وشي نو د روژې څه حکم دی؟

سوال: بغیر د جماع نه که انزال وشي؛ نو آیا روژه ماتیږي؟

جواب: که یوازې لیدو سره انزال وشي نو روژه نه فاسدیږي[۳]خو لمس، مصافحه، او تقبیل (بوسه اخیستو سره) که انزال وشي، نو روژه فاسدیږي او صرف قضا واجبیږي کفاره نه لازمیږي[۴]

روژه دار که استمنا بالید (جلق) وکړي نو آیا کفاره به وي؟

سوال: په رمضان المبارک کې کفاره یوازې قصداً جماع کولو سره وي؟ او که یو کس د خپل لاس په ذریعه د روژې په حالت کې خپل مني وباسي؛ نو یوازې قضا لازمیږي که کفاره هم؟

جواب: کفاره صرف د خوراک، څښاک شیانو یا جماع سره لازمیږي[۵]، د لاس استعمال سره یې که روژه خرابه کړه؛ نو په دې صورت کې یوازې قضا لازمیږي.[۶]

❖ کومو څیزونو سره روژه نه ماتیږي ❖

انجکشن سره روژه نه ماتیږي

سوال: تیر شوي رمضان کې شیشې سره زما لاس زخمي شوی و، زخم ډیر زیات و، ډاکټر تانکې لړولونه پس ماته انجکشن هم ولګوله اوڅه دوایي را بوی کړه، دا و بوڅښلوله پاره راته ډاکټر صاحب اصرار اوکړلو مګر ما د روژې له وجې نه اوبه ونه څښلې د هلته نه چې اوزګار شوم نو یو مولوي صاحب ته ورغلم هغوی ته مې ذکر وکړچې ماته ستن لګول شوې ده، او بیا ټانکې

۱]ولاباس بالسواک الرطب والیابس فی الغداة والعشی عندنا.....الخ (هندیة ج:۱ص:۱۹۹، الباب الثالث)

۲] عن ابی حنیفة رحمه الله تعالی انه یکره للصائم المضمضة والاستنشاق بغیروضوء وکره الاغتسال وصب الماء علی الراس ......الخ (هندیة ج:۱ص:۱۹۹،الباب الثالث فیمایکره للصائم ،کتاب الصوم)۔

۳]واذا نظرالی امراءة بشهوة فی وجههااو فرجها کررالنظراولا لایفطراذا انزل کذافی فتح القدیر (هندیة ج:۱ص:۲۰۴،الباب الرابع فیمایفسدومالایفسد)۔

۴] واذاقبل امراته وانزل فسدصومه من غیرکفارة کذافی ا لمحیط ......والمس المباشرة والمصافحة والمعانقة کالقبلة کذافی البحرالرائق (هندیة ج:۱ ص:۲۰۴ ،الباب الرابع فیمایفسدومالایفسد،کتاب الصوم)۔

۵] من جامع عمدًافی احدالسبیلین فعلیه القضاء والکفارة ......اذاکل متعمدًا مایتغذی به اویتداوی به یلزمه الکفارة.....الخ (هندیة ج:۱ص:۲۰۵،ایضًا:فتاوی شامی ج:۲ص:۳۹۴،باب مایفسدالصوم ومالایفسد)۔

۶] الصائم اذاعالج ذکره حتی امنی فعلیه القضاء وهوالمختار وبه قال عامة المشائخ کذافی البحرالرائق (هندیة ج:۱ص:۲۰۵،الباب الرابع فیمایفسدومالایفسد،کتاب الصوم)۔

ولګول شوې، نوهغه راته وويل چې ستاروژه ماته شوې ده،په خپله يې زماله پاره پې اوډبل روټۍ راوړه اوويې ويل چې اوخوره،او ما وخوړله؛نو آيا ددې روژې په بدله کې به صرف قضا وي؟او زما دا عمل صحيح شواوکه نه؟

جواب: دانجکشن سره روژه نه ماتيږي[۱]،خو تاچونکې دمولوی صاحب په فتوا باندې عمل کړی دی، له دې وجې نه ستاپه ذمه قضاشته کفاره نشته.[۲]

روژه دارکه په ژبه څه شی وڅاکه اوتوبې کړ نوروژه نه ماتيږي

سوال: .که چاروژه داردروژې په حالت کې څه شی وڅاکه نودهغۀ دروژې څه حکم دی؟

جواب: که په ژبه يې دڅه شي ذائقه وڅکله او توبې کړ؛ نوروژه نه ماتيږي مګربې ضرورته داسې کول مکروه دي.[۳]

د خولې نه راوتلې وينه که د لاړو نه کمه وي نو روژه نه ماتيږی

سوال: .يوځل په رمضان کې زمادخولې نه ويناراووتله،اوماهغه تيره کړه،ماته چاوويل چې ستاروژه ماته شوه،اياواقعي زماروژه ماته شوه؟

جواب: که وينه راوتله اوهغه دې دلاړوسره تيره کړه نوروژه ماته شوه، البته که دويني مقدار د لاړونه کم وي او په ژبه دې دهغې ذائقه محسوس نه کړه، نوروژه ماته نه شوه.[۴]

په روژه کې د لاړو تيرولوحکم

سوال: دروژې په حالت کې اکثروختونوکې مې په خوله کې ډيرې لاړې راځي،آيا په داسې حالت کې لاړې تيرولې شم؟ځکه چې دلمونځ کولوپه دوران کې په داسې حالت کې ډيرمشکل سره مخ کيږم؟

جواب: لاړې تيرولوسره روژه نه ماتيږی،مګرلاړې جمع کول اوتيرول مکروه دي.[۵]

که بلغم خيټې ته لاړشي نوروژه نه ماتيږی

سوال: ديوکس نزله وي،اوهغه روژه نيولې وي،اولازمي ده چې په نزله کې بلغم به هم راځی،

۱] ومايدخل من مسام البدن من الدهن لايفطرهكذا فى شرح المجمع(هندية ج:۱ص:۲۰۳،كتاب الصوم،الباب الرابع)

۲] واذا اكتحل اودهن نفسه اوشاربه ثم اكل متعمدًا فعليه الكفارة الا اذا كان جاهلاً فافتى له بالفطر فلاتلزمه الكفارة هكذا فى فتاوى قاضيخان .(هندية ج:۱ص:۲۰۶، كتاب الصوم)۔

۳] وكره ذوق شيء ومضغه بلاعذركذافى الكنز (فتاوى هندية ج:۱ص:۱۹۹كتاب الصوم ،الباب الثالث)

۴] الدم اذا خرج من الاسنان ودخل حلقه ان كانت الغلبة للبزاق لايضره وان كانت الغلبة للدم يفسد صومه......الخ (هندية ج:۱ص:۲۰۳،كتاب الصوم ،الباب الرابع فيمايفسده ومالايفسد)۔

۵] ويكره للصائم ان يجمع ريقه فى فمه ثم يبتلعه كذافى الظهيرية (هندية ج:۱ص:۱۹۹، كتاب الصوم)۔

که اتفاق سره بلغم د هغه خیټې ته لاړشي؛ نو آیا په دې صورت کې د هغه روژه ماتیږي؟
جواب: نه![۱]

بې ارادې که د حلق د ننه مچې، دوړه، ګرد وغبار وغیره ننوتل نو روژه نه ماتیږي

سوال: که د چا حلق کې مچې ننوځي نو روژه ماته شوه؟
جواب: که حلق ته د دننه مچې ورغله یا دوړه په خپله ورغله یا ګرد وغبار لاړشي نو روژه نه ماتیږي او که قصداً یې داسې وکړل نو روژه ماتیږي.[۲]

پوزه او غوږ کې دوایي اچولو سره روژه ماتیږي

سوال: ستر که، پوزه او غوږ کې دوایي اچولو سره په روژه باندې څه اثر پریوځي، زخم باندې دوایي لګولو سره روژه ماتیږي یا نه؟ دوایي که وچه یا د مرهم په شکل کې وي؟
جواب: په سترګو کې دوایي اچولو سره[۳] یا په زخم باندې مرهم لګولو سره یا دوایي لګولو سره په روژې هیڅ فرق نه پریوځي، خو پوزه او غوږ کې دوایي اچولو سره روژه فاسدیږي[۴]، او که زخم په خیټه کې یا په سر کې وي، په هغه باندې دوایي لګولو سره دماغ یا خیټې ته د ننه دوایي ورننوځي نو روژه ماتیږي.[۵]

د روژې په حالت کې په غوږ کې دوایي اچولو سره قضاء لازمیږي

سوال: ما د پیشمنې د وخت ختمیدو نه تقریباً نیمه ګنټه وروسته د سهار د لمونځ نه مخکې د مسئلې د معلومولو په سبب په غوږ کې دوایي واچوله په دې باندې قضاء لازمیږي او که کفاره؟
جواب: صرف قضاء لازمیږي کفاره نه؟

۱] ولو دخل مخاط انفه من راسه ثم استشمه فادخل حلقه عمدًا لم یفطره لانه بمنزلة ریقه کذافی محیط السرخسی .(هندية ج:۱ص:۲۰۳، کتاب الصوم الباب الرابع)_

۲] اودخل حلقه غبار اوذباب اودخان ولو ذاكرًا استحسانا لعدم امکان التحرز عنه، ومفاده انه لو ادخل حلقه الدخان افطر ای دخان کان ......الخ (درمختار مع الشامی ج:۲ص:۳۹۵، کتاب الصوم ،وکذافی الهندية ج:۱ص:۲۰۳)_

۳] ولواقطرشیئًامن الدواء فی عینه لایفطر صومه عندنا وان وجد طعمه فی حلقه.....الخ (هندية ج:۱ص:۲۰۳)_

٤]ومن احتقن اواستعط او اقطر فی اذنه دهنا افطر ولا کفارة علیه کذافی الهداية .(هندية ج:۱ص:۲۰٤)_

٥] وفی دواء الجائفة والآمة اکثر المشائخ علی ان العبرة للوصول الی الجوف والدماغ ......الخ (هندية ج:۱ص:۲۰٤، کتاب الصوم ،الباب الرابع فیما یفسد ومالا یفسد)_

د روژې په حالت کې په خلاصو سترګو او ودس کول

سوال: آیا د روژې په حالت کې سترګې خلاصول او اودس کول جائز او درست دي؟

جواب: جائز دي.

سترګو کې دوايي اچولو سره روژه ولې نه ماتیږي؟

سوال: ...تاسو د یوسائل په جواب کې فرمایلي وچې: په سترګوکې دوایي اچولو سره روژه نه ماتیږي، هرکله چې په غوږکې دوا اچولو سره روژه ماتیږي، په دې سلسله کې عرض دی چې په سترګوکې دوا اچولوسره دهغې بوی اودوا حلق پورې رسیږي هرکله چې په غوږکې اچولوسره حلق نه متاثرکیږي، لهذادرخواست دی چې په دې مسئله باندې نظرثاني وکړئ اوجواب راته راکړئ!

جواب: د دوباره کتلو نه پس هم مسئله هماغه ده دفقهې په کتابونوکې لیکل شوي دي چې په سترګو کې دوا واچول شي؛ نودوا مخامخ دماغ یاحلق ته نه رسیږي، له دې وجې دې سره روژه نه ماتیږي[۱] اوپه غوږکې دوا اچولوسره روژه ماتیږي.[۲]

په روژه کې په هیره سره خوراک څښاک کولو سره روژه نه ماتیږي

سوال: که څوک په هیره سره په روژه کې اوبه وڅښي یاڅه بل څه شی وخوري اودهغه خیال نه وي چې روژه یې ده، خو وروسته هغه ته رایادشي چې دهغهٔ روژه ده، نو ووایئ چې ددې به څه کفاره اداکول وي؟

جواب: که په هیره سره یې څه خوراک څښاک وکړ؛ نوروژه ورسره نه ماتیږي که خوراک کولوکې ورته وریادشونودیادراتلوسره دې فوراً پریږدي[۳] خوکه روژه یې یاده وي اوپه غلطي سره یې اوبه دحلق نه دننه لاړلې نوروژه یې فاسدشوه.[۴]

که روژه دار په هیره سره کوروالی وکړي نو د روژې څه حکم دی؟

سوال: د یو مولانا صاحب یومضمون ,,فضائل ومسائل رمضان المبارک،، شائع شوی دی، چې په هغه کې دنوروخبرونه پرته مولاناصاحب ددې شیانوپه باره کې لیکلي چې روژه ورسره نه فاسدیږي اونه مکروه کیږي، هلته یې فرمایلي دي چې په هیره کوروالي کولو سره روژه نه

۱]ولواقطرشیًامن ا لدواء فی عینه لایفطرصومه عندناوان وجدطعمه فی حلقه....الخ (هندیة ج:۱ص:۲۰۳)

۲]ومن احتقن اواستعط او اقطرفی اذنه دهناافطرولاکفارة علیه کذافی الهدایة .(هندیة ج:۱ص:۲۰٤)_

۳]اذا اکل الصائم اوشرب اوجامع ناسیًا لم یفطر......کذافی الهدایة .(هندیة ج:۱ص:۲۰۲)_

٤] وکذا اذا اغتسل فدخل الماء حلقه (فسدصومه) .کذافی السراج الوهاج .(هندیة ج:۱ص:۲۰۲،کتاب الصوم الباب الرابع فیمایفسدومالایفسد،وکذافی الدرمع الردج:۲ ص:۳۹٤،باب مایفسدومالایفسده)_

فاسدیږي اونه مکروه کیږي، زماپه خیال کې هم بستری دیوکس هیره نه شي کیدای په دې کې دوه کسان شریکیږي اوچېرته چې دیوکس نه زیات افرادشریک شي او ددې قسمه عمل دروژې په حالت کې کړل شي هغې ته ګناه ضرور ویل کیدای شي.هیره نه،په دې سلسله ستاسورایه داسلامی قوانینو په رڼا کې خلکوته اطمینان ورکولای شي،شکریه.

جواب: دهیرې معنی داده چې داورته یادنه وي چې زماروژه ده،په هیره هم بستری په دې صورت کې کیدای شي چې دواړوته یادنه وي، ګنی یوبل ته وریادولی شي.او د یاد راتلو نه پس،، د هیریدو، څه معنا پاتې نه شوه،ددې وجې نه دمولاناصاحب مسئله خوصحیح ده،مګرداسې کار کله ناکله کیږی.ددې وجې نه ته حیرانیږې.[۱]

په غوښه اورګ کې دانجکشن لګولوحکم

سوال: کوم انجکشن چې ډاکټرپه لاسونوکې لګوي ایادهغه سره روژه ماتیږي؟ اوداچې دغوښې والاانجکشن اورګ والاانجکشن ددې دواړو یوحکم دی او که جداجدا؟

جواب: یوانجکشن لګولوسره هم روژه نه ماتیږي اودرګ اوغوښې دواړو انجکشن یوحکم دی.[۲]

دروژې په حالت کې انجکشن لګول او د ساه په ذریعه دوایي راښکل

سوال: .زه دساه دعلاج له پاره یوه دوایي استعمالوم.چې دپوډروپه شکل کې وي،اوهغه دورځې دریونه واخله تر څلورو څلو پورې دساه په ذریعه راښکل وي،دې عمل سره زیا تره دوایي دساه په ذریعه پیهټرو(سګو)ته داخلیږي،خوڅه مقداردحلق پورې اینښلي،اوظاهره ده چې وروسته بیاخیټې ته لاړه شي، مهرباني وکړئ اودا ووایئ چې دروژې په حالت کې ددې دوایي استعمال جائزدی اوکه نه؟

نورداچې که دروژې په حالت کې دساه دبیمارۍ حمله راشي نودهغې له پاره انجکشن لګول کیدای شي اوکه نه؟(دې انجکشن سره به روژه برقرارپاتې شي یا به ماته شي)

جواب: دادوایي دپیشمنی بندیدونه مخکې استعمالولی شئ،دوایي چې وخورئ نوښه خوله صفاکړئ،بیاکه څه په حلق کې پاتې شي نوڅه نقصان پکې نشته[۳]،خو که څه دوائی دحلق بیروني برخې پورې لګیدلې وي؛ نوهغه حلق ته مه بوځئ،دروژې په حالت کې ددې دوایي

۱] اذا اکل الصائم اوشرب اوجامع ناسیًا لم یفطر......کذافی الهدایة .(هندیة ج:۱ص:۲۰۲)۔

۲] ومایدخل من مسام البدن من الدهن لایفطرهکذا فی شرح المجمع .(هندیة ج:۱ص:۲۰۳)۔

۳](قوله ونطعم ادویة) ای لوذاق دواء فوجدطعمه فی حلقه زیلعی وغیره فی القهستانی طعم الادویة وریح العطراذا وجدفی حلقه لم یفطر کذا فی المحیط (شامی ج:۲ص:۹۶،باب مایفسدالصوم ومالایفسده)۔

استعمال صحیح نه دی،دې سره روژه فاسدیږي[۱].د انجکشن دوایي که براه راست معدې ته یاحلق ته ونه رسیږي نودې سره روژه نه ماتیږي،ددې وجې نه ساه دتکلیف له پاره تاسوانجکشن لګولی شئ[۲]

د روژه دار ګلوکوز(ډراپ) یا انجکشن لګول

سوال: ګلوکوزچې دیوې لوېې تهیلۍ (کڅوړې) په شکل کې وي هغه ډاکټران صاحبان انساني رګ کې لګوي،ایاددې په لګولوسره روژه ماتیږي؟ که لګلووالا مریض وي یادبدن دطاقت له پاره لګوي؟

جواب: ګلوکوزلګولوسره روژه نه ماتیږي په شرط ددې چې دا ګلوکوز دڅه عذرله وجې ولګول شي له عذر پرته ګلوکوزلګول مکروه دي.[۳]

سوال: په رګ کې نورقسمه انجکشن لګول کیږي ایادهغو سره روژه ماتیږي اوکه نه؟ که دا طاقت له پاره ولګول شي یادمرض له پاره؟

جواب: دعذردوجې نه په رګ کې انجکشن لګولوسره روژه نه ماتیږي، صرف دطاقت انجکشن لګولوسره روژه مکروه کیږي، دګلوکوزو د انجکشن همدغه حکم دی.[۴]

په خپله قی(اولټۍ) راتلوسره روژه نه ماتیږي

سوال: که اولټۍ راشي؛ نوروژه ورسره ماتیږي؟ اوډرکي(تبغ) سره که اوبه حلق پورې راشي یااولټۍ راشي اوبیا واپس تلوسره روژه ماتیږي؟ ماته څوک وایي چې روژه وشوه،اوڅوک راته روژه دوباره نیولو مشوره راکوي.

جواب: قی که په خپله راشي نوروژه نه ماتیږي،البته که قی قصدا واپس کړل ي نوروژه ورسره ماتیږي اوکه بلاقصدواپس شی نوروژه نه ماتیږي.[۵]

۱]ولوابتلع حصاة اونواة اوحجرا اومدرا اوقطنااوحشیشااوکاغذة فعلیه القضاء ولا کفارة علیه کذافی الخلاصة (هندیة ج:۱ص: ۲۰۳،کتاب الصوم ،الباب الرابع فیما یفسد وما لایفسد)۔

۲] ومایدخل من مسام البدن من الدهن لایفطر (عالمگیری ج:۱ص:۲۰۳،کتاب الصوم ،الباب الرابع)۔

۳] ایضاً)۔

٤] ایضاً)۔

٥] اذا قاء اواستقاء مل ء الفم اودونه عادبنفسه اواعاداوخرج فلافطر علی الاصح الا فی الاعادة والاستقاء بشرط ملء الفم هکذا فی النهرالفائق (هندیة ج:۱ص:۲۰۳،۲۰٤،کتاب الصوم ،وایضاًفی الدرمع الردج:۲ص:٤١٤)۔

په لمونځ او روژه کې قې راتلل

سوال: د لمونځ او د روژې په وخت کې د ډرکو (تېغونو) د راتللو په وجه چې د هغې په وجه د غذا څه برخه د تالو نه بره راشي او واپس شي یا قصداً واپس کړل شي په دې سره په لمونځ یا په روژه باندې اثر پریوځي؟

جواب: د لمونځ حکم دا دې که چیرې راشي او خپله واپس شي نو لمونځ نه فاسدیږي او که چیرې قصداً ئې واپس کړي نو د امام ابو یوسف رحمه الله د قول مطابق نه فاسدیږي او د امام محمد رحمه الله د قول مطابق فاسدیږي، په عالمګیري کې د قاضیخان په حوالې سره د امام محمدرحمه الله قول ته یې احوط (زیات احتیاطي) لیکلی دی[1] دا حکم په هغه صورت کې دې چې کله قی په ډکه خوله باندې نه وي (او دا صورت ستا په سوال کې ذکر شوی دی) ی که چیرې په ډکه خوله قې راغی او راووت نو اودس به مات شي دوباره به اودس کول او لمونځ کول وي[2] او د روژې حکم دادی چې که چیرې قې بغیر د قصد نه واپس شي نو روژه به نه فاسدیږي او که چیرې قصداً یې واپس کړي؛ نو د امام محمد رحمه الله په نزد که خوله ډکه وي یانه وي په دواړه صورتونو کې به روژه ماتیږي او د امام ابویوسف رحمه الله په نزد د قصداً د واپس کولو په صورت کې به که چیرې قې په ډکه خوله وي نو روژه به فاسده شي، ګني نو نه، په بحرالرائق کې یې دغه ته اصح (زیات صحیح) ویلي دي.[3]

وینه ورکولو سره روژه نه ماتیږي

سوال: که چادروژې په حالت کې په خپله خوبنه وینه ورکړه نو دهغهٔ روژه به صحیح پاتې شي او که نه؟ او که نه وي نو په هغه باندې قضا لازمیږي یا کفاره؟

جواب: وینې ورکولو سره روژه نه ماتیږي.[4]

---

[1] وان قاء ملء الفم وابتلعه وهويقدرعلى ان يمجه تفسدصلاته وان لم يكن ملء الفم لاتفسدصلاته فى قول ابى يوسف رحمه الله تعالى وتفسدفى قول محمدرحمه الله تعالى والاحوط قوله كذا فى فتاوى قاضى خان (عالمگيرى ج:١ص:١٠٣ كتاب الصلاة ،الباب السابع فيمايفسدصلاة).

[2] وينقضه قيء ملأ فاه بان يضبط بتكلف من مرة...الخ (الدرالمختارمع الردج:١ص:١٣٧،نواقض الوضوء)

[3] (قوله وان اعاده او استقاء اوابتلع حصاة اوحديدقضى فقط) اى اعادالقيء ......فسد صومه ولزمه القضاء ولاكفارة عليه واطلق فى الاعادة فشمل مااذالم يملاء الفم وهوقول محمدلوجود الصنع وقال ابويوسف لايفسدلعدم الخروج شرعاوهوالمختارفلابدمن التقييدبملء الفم ......وان صومه لايفسد على الاصح (البحرالرائق ج:٢ ص:٢٩٥).

٤] (قوله وكذا لاتكره حجامة)اى الحجامة التى لاتضعفه عن الصوم......الخ (شامى ج:٢ص:٤١٩،كتاب الصوم ،باب مايفسدالصوم ومالايفسده ،والهندية ج:١ص:١٩٩،كتاب الصوم الباب الثالث)_

وينه وتلوسره روژه نه ماتيږي

سوال: اياوينه وتلوسره روژه ماتيږي؟زماروژه وه تقريباً دوه بجې زمالاس زخمي کيدوسره ترې ډيره وينه لاړه،ايازماروژه شوې ده؟

جواب: وينه وتلوسره روژه نه ماتيږي.[۱]

په روژه کې د غاښ نه د وينې وتلوحکم

سوال: غاښونونه له څه وجې وينه راځي نو آياروژه ورسره ماتيږي؟

جواب: اودس خوېې وينه وتوسره ماتيږي[۲]،اوپه روژه کې تفصيل دادی چې که وينادحلق نه لاندې لاړه شي؛ نوروژه ورسره ماتيږي، ګني نه.[۳]

که د غاښونونه وينه راځي نو آيا بيا دې هم روژې نيسي؟

سوال: که دغاښونونه وينه راځي اودهغې علاج هم دخپل وس مطابق شوی وي اوبياهم د غاښونو وينه بنده نه شي؛ نو آيا په دې حالت کې روژه ونيول شي اوکه نه؟دوينې مقدارپه لاړوکې برابروي.

جواب: وينه که دننه لاړه نه شي؛ نوروژه صحيح ده.[۴]

غاښ ويستلوسره روژه نه ماتيږي

سوال: که دروژې نيت ترې هيرشي نوروژه وشوه؟که په غاښ کې دتکليف له وجې نه غاښ وويستل شي؛ نو آيا داروژه به بيانيول وي اوکه وشوه؟

جواب: نيت دزړه ارادې ته وايي کله چې يې دروژې نيولواراده وکړه نونيت وشو،په ژبې سره دنيت الفاظ ويل ضروري نه دي[۵].غاښ ويستلوسره روژه نه ماتيږي،په شرط چې وينه حلق ته لاړه نه شي.[۶]

۱] تيره شوی حاشيه ((قوله وكذا لاتكره حجامة)اى الحجامة...الخ) اوګورئ!)۔

۲]ومنها(اى من نواقض الوضوء) مايخرج من غيرالسبيلين ويسيل الى ما يظهرمن الدم ......الخ (هندية ج:۱ص:۱۰)۔

۳] الدم اذاخرج من الاسنان ودخل حلقه ان كانت الغلبة للبزاق ولايضره وان كانت الغلبة للدم يفسدصومه ......الخ (هندية ج:۱ص:۲۰۳،كتاب الصوم ،الباب الرابع فيمايفسدومالايفسد)۔

۴] ايضًا)۔

۵]النية قصده عازما بقلبه صوم غد......وليس النطق باللسان شرطًا (مراقى الفلاح على هامش الطحطاوى ص:۳۵۲)والنية معرفته بقلبه ان يصوم كذافى الخلاصة ومحيط السرخسى(هندية ج:۱ص:۱۹۵،كتاب الصوم)

۶] الدم اذا خرج من الاسنان ودخل حلقه ان كانت الغلبة للبزاق لايضره وان كانت الغلبة للدم يفسد صومه، ......الخ (عالمگيرى ج:۱ص:۲۰۳كتاب الصوم ،الباب الرابع فيما يفسد ومالايفسد،طبع رشيديه)

را نجه لګولو سره او په آئینه کې کتلو سره روژه نه ماتیږي

سوال: په رمضان المبارک کې سرمه لګولو سره او شیشه کې کتلو سره روژه مکروه کیږي؟

جواب: نه![1]

د روژې په صورت کې نوکونه کټ کول

سوال: د ځینې خلکو وینا ده چې د روژې په حالت کې نوکونه کټ کول جائز نه دي، ځکه چې د نوکونو هم روژه وي، خما یوه ملګرې ده هغه د روژې په حالت کې نوکونه بلکل نه کټ کوي؟

جواب: دا مسئله شرعي نه ده، دوی خپله جوړه کړې ده، په روژه کې د نوکونو په کټ کولو کې هیڅ کراهت نشته.

په سر یا پوره بدن باندې تیل لګولو سره روژه نه ماتیږي

سوال: په سر یا ټول بدن باندې تیل لګولو سره روژه ماتیږي او که نه؟

جواب: په سر یا ټول بدن باندې تیل لګولو سره په روژه باندې هیڅ اثر نه پریوځي.[2]

په احتلام سره روژه نه ماتیږي

سوال: د روژې په حالت کې په سترګو کې سرمه لګولو سره، په سر تیل لګولو سره یا په خوب کې احتلام سره روژه ماتیږي او که نه؟

جواب: دې شیانو سره روژه نه ماتیږي.[3]

روژه دار په ورځ کې د غسل ضرورت څنګه پوره کړي؟

سوال: که چا باندې د ورځې غسل واجب شي؛ نو د هغه روژه ماتیږي او که نه؟ او که نه ماتیږي؛ نو غسل څنګه وکړي؟

جواب: که د روژې په حالت کې احتلام وشي نو دې سره روژه نه ماتیږي[4] د غسل کولو په

۱] ولایکره کحل ......الخ (هندیة ج:۱ص:۱۹۹،کتاب الصوم ،الباب الثالث فیمایکره للصائم ومالایکره)۔

۲] ومایدخل من مسام البدن من الدهن لایفطرهکذا فی شرح المجمع .(هندیة ج:۱ص:۲۰۳،کتاب الصوم)۔

۳] الغیبة لاتفسدصومه وکذا الاحتلام ......الخ (قاضی خان علی هامش الهندیة ج:۱ص:۲۰۸) دغه شان اوګورئ تیری شوی دوه حاشیې)۔

٤]وان نام فاحتلم اونظرالی امراءة...فانزل...لم یفطرلعم یفطرلعم المنافی صورة ومعنیً (اللباب فی شرح الکتاب مالایفطربه الصائم ج:۱ص:۱۵۷طبع قدیمی کتب خانه) (قوله فان نام فاحتلم) لم یفطرلقوله علیه السلام ثلاث لایفطرن الصائم القیءوالحجامة والاحتلام(الجوهرالنیرة کتاب الصوم،ج:۱ص:۱۷۰،طبع حقانیه ملتان)

وخت کې ددې خبرې خيال ساتل پکاردي چې اوبه ئيې دحلق نه تيرې نه شي اونه دماغو ته ورسيږي،ددې وجې نه په خوله کې داوبوا چولوپه وخت کې دې غرغرې نه کوي،اونه دې په پوزه اوبه راکاږي.[۱]

د روژې په حالت کې ټوت پيسټ استعمالول

سوال: ټوت پيسټ سره غاښونه صفاکولوسره روژه ماتيږي اوکه نه؟

جواب: دټوت پيسټ استعمال دروژې په حالت کې مکروه دی، بياهم که حلق ته لاړنه شي: نوروژه ورسره نه ماتيږي.[۲]

ماشوم سره مينه کولوسره روژه نه ماتيږي

سوال: .يوه خبره زه معلومول غواړم چې دروژې په حالت کې دماشوم سره مينه کولوسره (بوسې اخيستوسره) آيا روژه ماتيږي؟

جواب: دې سره روژه نه ماتيږي.[۳]

په روژه کې تروشو اوبو سره اودس کول

سوال: آيا د روژې په حالت کې دسمندر اوبوسره اودس کولی شو؟

جواب: کولی يې شئ ،هيڅ نقصان پکې نشته.

په روژه کې د ترخو اوبو استعمال

سوال: زه په يو مسجد کې امام يم او داجومات د کچي آبادي کوټګي په علاقه کې واقع دی، هلته ترخې اوبه په اودس کې استعماليږي، د خوږو اوبو بندوبست نشته ،خلک پوښتنه کوي ددې ترخو اوبو په خوله کې د اچولو سره روژه خو نه مکروه کيږي؟ په دې وجه چې مجبوري ده بل څه صورت نشته ، د ستاسو ته عرض دادی چې ددې مسئلې جواب د جمعې په ورځ اخبار کې ورکړئ چې ټولو خلکو ته ددې مسئلې پته ولګيږي،څکه چې ډيرې نورې آبادۍ هم په دې کې ملوثې دي.

جواب: د ترخو اوبو په خوله کې اچولو سره روژه نه مکروه کيږي.

۱]وکذا (تکره) المبالغة فی المضمضة والاستنشاق...الخ (هندية ج:۱ص:۱۹۹،کتاب ا لصوم ،الباب الثالث)

۲] اوذاق شيئًا بفمه وان کره لم يفطر.....الخ (درمختارمع الشامی ج:۲ص:۴۰۰،باب مايفسدالصوم ومالايفسده)

۳] ولاباس بالقبلة ......الخ((هندية ج:۱ص:۲۰۱)۰ولاباس بالقبلة اذا أمن علی نفسه ای من الجماع اوالانزال .(الجوهرالنيرة ج:۱ص:۱۷۰،کتاب الصوم ،طبع حقانيه ملتان)۔

روژه کې او دس کولو کې احتياط کوئ وهم مه کوئ

سوال: زه ډیره شکي او وهمي انجيلۍ يم، هروخت په يو اذيت او ذهني غم کې اخته يم، لمونځ کوم، نو دا ویره راسره وی چې او دس مې سم کړی و او که نه؟ څه غلطي خو په کې شوې نه ده؟ نو تقريباً نيمه نيمه ګنټه اودس کوم او يو لمونځ څو څو څله کوم، اوس هم سجده سهوه کوم، چې چېرته غلطي په کې رانه شي، نو چې الله تعالى مې معاف کړي په رمضان المبارک کې د لمونځ له پاره اودس کوم؛ نو په خوله کې او به اچولو نه وروسته څو څو څله تو توکوم، تردې پورې چې زما مرۍ وچې شي او عجيبه حالت مې شي، په توکلو توکلو سره کرکه شان راشي، مهرباني وکړئ او تاسو دا مسئله حل کړئ چې د روژې په حالت کې اودس څنګه کول پکار دي؟ په پوزه کې او به اچولو وخت کې ويريږم چې حلق پورې مې لاړې نه شي، او که لږ شان هم شک مې راشي چې او بو مې د حلق نه لاندې تللي دي؛ نو آيا روژه ماته شوه؟ ددې ويرې دوجې نه د سحر د لمونځ له پاره اودس د پيشمني ختميدو نه مخکې کوم.

جواب: غرغره کولو کې او بو غورځول کافي دي، بار بار توکل فضول حرکت دی، همدغه شان د پوزې نرمې برخې پورې او به رسولو سره او به د دماغ ته نه رسيږي، په دې سلسله کې هم وهم کول فضول دي. ستاد وهم علاج دادی چې په خپل وهم باندې عمل مه کوه، که طبيعت دې هرڅومره تقاضا کوي، دغه شان به په مزه مزه ستاد وهم بيماري هم ختمه شي.

زهريله شي خوړولو سره روژه نه ماتيږي

سوال: که يو کس زهريله شی وخوري؛ نو آيا د هغه روژه ماته شوه؟ يا مکروه شوه؟

جواب: نه روژه ماته شوه او نه مکروه شوه.[۱]

د ميرګي دورې سره روژه نه ماتيږي

سوال: که د ميرګي مريض روژه نيولې وي او په هغه دوره راشي: نو آيا روژه ماته شوه؟ د ميرګي دوره يو څو منټه وي او په مريض باندې بی هوشي راځي.

جواب: دې سره روژه نه ماتيږي.[۲]

روژه دار نوکر که په خپل افسربا ندې او به وڅښي نو د هغه د روژې څه حکم دی؟

سوال: زهٔ په يو پرائيويټ فرم کې چپړاسي يم، زمونږ منيجر صاحب روژې نه نيسي، او په رمضان شريف کې په ما باندې او به او چای راغواړي، هرکله چې زما روژه وي، مولاناصاحب! زه

۱] ومايدخل من مسام البدن من الدهن لايفطر هكذا فى شرح المجمع .(هندية ج:۱ص:۲۰۳،كتاب الصوم)

۲] قال فى الدروامااالبلوغ والافاقة فليسامن شرط الصحة لصحة صوم الصبى ومن جن او اغمى عليه بعدالنية ......الخ (درمختارمع الشامى ج:۱ص:۳۷۱،كتاب الصوم ،وايضاًفى الهندية ج:۱ص:۱۹۶،كتاب الصوم)_

ډیرزیات پریشان یم،دالله تعالی نه ډیرزیات ویریږم.هروخت مې په زړه کې دغه پریشاني وي،چونکې اوس بیا رمضان راروان دی، ددې وجې نه تاسو ته دمخکې نه ګزارش وکړ چې دې سره ایازماروژه ماتیږي یانه؟ زهٔ ګناه ګاریم یامنیجرصاحب ګناهګاردی؟ ځکه چې دنوکري معامله ده، ایا نوکري پریږدم؟ ځکه چې مجبوری ده،ډیرپریشانه یم،مهرباني وکړئ اوزمادامسئله حل کړئ چې ماته څه کول پکاردي؟ زه به ستاسو ډیراحسان مندیم.دالله تعالی نه ډیرزیات ویریږم چې دقیامت په ورځ به زماڅه حشروي،دقیامت په ورځ به زمانه پوښتنه کیږي اوکه نه؟

جواب: ستاروژه نه ماتیږي،مګرپه ګناه فی الجملة ستاهم شرکت به وي[۱]،ستامنیجرصاحب که مسلمان دی، نوهغه ته دومره لحاظ ساتل پکاردي چې په روژه داربانديې اوبه نه راغواړي،په هرحال که هغه خپل طرزعمل نه پریږدي؛ نوهلته نوکري پریږده،په دې شرط که څه ذریعه معاش ملاوشي ګنی نوکری کوه اودالله تعالی نه معافي غواړه چې دخیتې دوجې نه زه هم په دې ګناه کې شریک شوم.

په رمضان کې روژه نه نیونکي افسر له پاره اوبه وغیره راوړل

سوال: نن سبا په دفترونو کې عام طور لیدل کیږي چې زیاتر افسران روژه نه نیسي او لاندې عمله خاص کر چپړاسي تولـه میاشت روژه نیسي، د ډیوټي په دوران کې لوی افسر ټالی وهي د چپړاسي نه اوبه غواړي او حالانکې دده روژه وي او دې افسرانو ته معلومه هم وي چې ددې چپړاسي روژه ده او د اوبو کولر یا منګی هم دده په کمره کې ایږدي، سیګرټ وغیره هم دبازار نه راغواړي، که چیرې د کار کرلو نه انکار وکړي؛ نو افسر رُعب داب ورکوي، دا ووایئ چې چپړاسي ته څه کول پکار دي؟ او د افسرانو له پاره دالله تعالي څه حکم دی؟

جواب: داسې افسران ددې لائق دي چې دوی ته عبرت ناکه سزا ورکړل شي (په قبر کې خو به ورته ملاویږي) او چپړاسي بې چاره معذوره دی، که چیرې په ژبه باندې په انکار کولو قادره نه وي؛ نو دا کار دې په زړه کې بد وګڼي.[۲]

---

[۱] وتعاونوا علی البروالتقوی ولاتعاونوا علی الاثم والعدوان (المائدة :۲) وایضًا فی الدرالمختار ج:۲ص:۴۲۳)

[۲] عن ابی سعیدالخدری رضی الله عنه عن رسول الله صلی الله علیه وسلم قال:من رای منکم منکرًا فلیغیره بیده فان لم یستطع فبلسانه، فان لم یستطع فبقلبه وذلك اضعف الایمان. (مشکوة ص:۴۳٦) ولواکل عمدًا شهرة بلاعذرویقتل (الدرالمختارمع الرد ج:۲ص:۴۱۳)

روژه داره ښځه د روژې چاته ډوډۍ پخولی شي؟

سوال: که چیرې د ښځې روژه وي او د کور نور افراد مثلاً خاوند، لیور او اندرور وغیره روژه نه نیسي؛ نو آیا د روژې په حالت کې ښځه د کور نورو افرادو ته یعني لیور وغیره ته ډوډۍ پخولی شي، حالانکې په کور کې یوه ډوډۍ پخونکې پیغله اندرور هم شته؟

جواب: د مسلمان په کور کې دناروغ، معذور او ماشومانو نه پرته د ورځې په وخت کې ډوډۍ پخول او ورکول صحیح نه دي، خو که چیرې د کور خلک بې دینه وي او د الله او دهغه درسول نه حیا نه ورځي؛ نو ښځه بې چاره مجبوره ده.

د روژو او لمونځونو قضاء کونکي آیا آینده نفل وکړي او که قضاء وکړي؟

سوال: یو سړی چې دهغه لس کاله لمونځونه او روژې پاتې شوي وي او س هغه توبه اوباسي او لمونځونه او روژې په پابندۍ سره اداء کوي او قضاء لمونځونه او روژې هم اداء کوي ددینه پرته هغه د تهجد لمونځ هم کوي آیا دده لمونځونه به قبول شي او که نه؟ او نفل روژې کومې چې د رجب او شعبان په میاشتو کې نیسي، هغه به قبولې شي او که نه؟ آوریدلي مو دي چې د چا فرض لمونځونه او روژې قضاء پاتې شوي وي، د دوی نفل عبادت نه قبلیږي داخبره صحیح ده او که نه؟

جواب: دتیرشویو لمونځو او روژو قضاء دې راوړي او آینده به قبولې شي.

آیا په رمضان کې د شوي خرچ حساب نه کیږي؟

سوال: ما د چانه دا آوریدلي دي چې په رمضان کې د شوې خرچې به هیڅ حساب نه کیږي، په دې وجه ډیر خلک په دې میاشت کې د ډیرو نویو شیانو استعمال کوي، ددې له پاره چې د حساب نه بچ شم، آیا دا صحیح ده؟

جواب: ما دا نه دي آوریدلي.

❖ د قضا روژو بیان ❖

د بالغیدو نه وروسته که روژې پاتې شي نو څه وکړل شي؟

سوال: په ماشوم والي کې به زما مور پلار ما ته روژې نیولو اجازت نه راکولو. چې په تاباندې روژې لا فرض نه دي، زه دا محسوسوم چې زه بالغ وم، او زما د خیال مطابق ما پنځه شپږ کاله وروسته روژې نیول شروع کړل.

جواب: د بالغیدو نه وروسته چې تا څومره روژې نه دي نیولي، د هغو قضا لازمه ده[۱]، که د بالغیدو کال درته صحیح معلوم نه وي؛ نو خپل ځان د (۱۳) کالو د عمر نه بالغ حساب کړه او د دیارلسم کال نه د روژو قضا راوړه.[۲]

د څو کلنو قضا روژې څنګه ونیول شي؟

سوال: که د څو کلونو قضا روژې نیول وغواړو؛ نو څه وکړو؟

جواب: که درته یاد نه وي چې په کوم رمضان کې درنه څومره روژې قضا شوي دي؛ نو داسې نیت کوئ چې د ټولو نه د اول رمضان قضا روژه کومه چې زما په ذمه وه هغه نیسم.[۳]

قضا روژې که په ذمه وي؛ نو ایا نفلي روژې نیول کیدای شي؟

سوال: ما اوریدلي دي چې د فرضي روژو قضا تر څو پورې پوره نه کړل شي تر هغه پورې نفلي روژې نه شي نیول کیدای، ایا دا خبره صحیح ده؟ مهرباني وکړه او ددې جواب راکړه!

جواب: صحیح ده، ځکه چې د هغه په حق کې قضا روژې نیول زیاتې اهمې او ضروري دي، بیا هم که فرض قضا روژه پریږدي او د نفلي روژې نیت وکړي؛ نو نفلي روژه به وشي.[۴]

(درمختارمع الشامی ج:۲ص:۴۲۳)۔
۱]وقضوا لزومًاماقدروا بلافدية وبلا ولاء لانه على التراخى ۰
(الدرالمختار ج:۲ ص:۱۵۴)
۲] وادنى مدته له اثنتا عشرة سنة ولهاتسع سنين هوالمختار كمافى احكام الصغار ، ان كان الميت ذكر،اوتسع سنين ان كانت انثى ،لان ثم يحسب سن الميت فيطرح منه اثناعشرسنة لمدة بلوغه
اقل مدة بلوغ الرجل اثناعشرسنة ومدة بلوغ المراة تسع سنين (منحة الخالق على البحرالرائق ج:۲ص:۹۸)۔
۳] اذاوجب عليه قضاء يومين من رمضان واحد ينبغى ان ينوى اول يوم وجب عليه قضاوه من هذا الرمضان وان لم يعين الاول يجوز وكذالوكان عليه قضاء يومين من رمضانين هو المختار ولو نوى القضاء لاغير يجوز وان لم يعين كذا فى الخلاصة. (عالمگیری ج:۱ص:۱۹۶) ايضًا:واذاكثرت الفوائت يحتاج لتعيين كل صلاة يقضيها لتزاحم الفروض والاوقات....فاذا ارادتسهيل الامرعليه نوى اول ظهر... وكذا الصوم الذى عليه من رمضان اذا ارادقضاءه يفعل مثل هذا...الخ (مراقى الفلاح على هامش الطحطاوى،باب قضاء الفوائت ص:۲۴۲)
۴] ولايكره صوم التطوع لمن عليه قضاء رمضان (عالمگیری ج:۱ص:۲۰۱،كتاب الصوم ،الباب الثالث)۔

ایا قضا روژې د مشهورو نفلي روژو په ورځوکې نیولی شو؟

سوال: په رمضان شریف کې کومې روژې چې دمجبوري له وجې پاتې شي هغه مونږ وشمارو او په نورو ورځوکې يې ونيسو، که مونږ دا روژې په لويو ورځو په کوموورځوکې روژې غوره شمیرل کیږي يعني (۱۴)شعبان، (۷) رجب وغيره روژې، په دغه ورځ که دخپلې قضاروژې نیت وکړي؛ نو ایا دا طریقه صحیح ده، یاهغه روژې جدا ونیسو اودا پاتې شوې روژې چیرته په نوروورځوکې ونیسو، مهرباني وکړئ اوددې حل راته وښیئ، ځکه چې ماپه (۲۷)رجب دعبادت اوروژې په وخت کې دخپلې قضاروژې نیت کړی و.

جواب: قضاروژې چې دکال په کوموورځوکې هم نیول وغواړئ؛ نو نیولی يې شئ[۱] یوازې پنځه ورځې داسې دي چې په هغوکې دروژو نیولو اجازه نه شته، دوه داخترونو او درې دایام تشریق ورځې یعنې د ذوالحجې یولسم، دولسم اودیارلسم تاریخ.[۲]

د پاتې شویو روژو قضاء دې راوړي، که نه د مرګ په وخت کې دې دفدیې وصیت وکړي

سوال: زماطبیعت کمزوری شان دی، کله ټولې روژې ونیسم اوکله لس پریږدم، اوسه پورې اویا(۷۰) روژې فرض ماته پاتې شوې دي، ماحساب لګولی دی، الله تعالی دې ماته همت راکړي چې داپه ښه طریقې سره ونیسم، امین! خوکه خدای مه کړه دومره روژې ونه نیولی شم؛ نوددې له پاره ماته څه کول پکاردي؟چې په ماڅه ګناه نه وي؟ تیره هفته همدغه دیوې خوردسوال جواب مې چې واوریده؛ نوډیره فکرمنده شوم، چې ربښتیامونږ څومره ناخبره یو.

جواب: کومې روژې دې چې په ذمه دي دهغو قضاء راوړه[۳]، که څه هم په وړو ورځوکې قضاوشي، خوکه خدای مه کړه قضا ونه نیسې؛ نودمرګ په وخت کې وصیت کول پکاردي چې ددې فدیه ورکړل شي.[۴]

(دحیض دورځو) دروژو قضا شته او د لمانځه نه شته

سوال: دخاصو ورځو(دحیض اونفاس) دروژو او لمونځونو قضا لازمه ده اوکه نه؟

---

۱ [وقضوا لزومًا ما قدروا بلا فدية وبلا ولاء لانه على التراخي ولذا جازالتطوع قبله ......الخ (الدرالمختارمع الردج:۲ص:۴۲۳، كتاب الصوم فصل فى العوارض المبيحة لعدم الصوم)۔

۲ [ويكره صوم يوم العيدين وايام التشريق وان صام فيهاكان صائمًاعندنا (عالمگيرى ج:۱ص:۲۰۱)۔

۳ [ايضاً تيره شوى حاشيه (وقضوا لزومًا ماقدروا بلافدية وبلا ولاء لانه التراخي...الخ) اوګورئ!)۔

٤ [فان برى المريض ......فان لم يصم حتى ادركه الموت فعليه ان يوصى بالفدية كذافى البدائع .(عالمگيرى ج:۱ص:۲۰۷، كتاب الصوم ،الباب الخامس فى الاعذارالتى تبيح الافطار)۔

جواب: دښځو دخاصو ورځو د لمونځونو قضا لازمه نه ده، د روژو قضا لازمه ده.[۱]

دحيض د ورځو د روژو يوازې قضاشته کفاره نه شته

سوال: دحيض په ورځوکې چې کومې روژې پاتې شي، ايا دهغو قضااوکفاره به دواړه وي؟

جواب: نه! بلکې يوازې قضالازمه ده.[۲]

د(نفاس)د ختميدو نه وروسته قضاروژې و نيسئ

سوال: زمابښځې درمضان په لومړۍ هفته کې دوه ماشومان وزيږول، هغې به په څلويښتئ لامبل، ظاهره ده چې روژې يې ونه نيولې ، اوس ووايئ که هغه وروسته قضاروژې ونه نيسي سستي وکړي يانيول ونه غواړي،ماشومانوته دپيوورکولوپه سلسله کې دمعذوري اظهار وکړي؛ نوایاهغه ددې روژو فديه ورکولی شي؟

جواب: دفديې ورکولواجازه يوازې هغه کس ته شته چې دناروغي او بوډاوالي له وجې روژې نه شي نيولی اونه په اينده ژوندکې دا طمع وي چې هغه به په روژونيولوقادرشي[۳]، ستا کور والاپه دې معيارباندې نه پوره کيږي، ددې له وجې په هغې باندې دروژو قضا لازمه ده[۴]،که څه هم ديخنې په موسم کې يې ونيسي فديه ورکول دهغې له پاره جائزنه ده.

د نفلي روژې د ماتولو قضا شته کفاره نه شته

سوال: ماپه نهم محرم الحرام باندې روژه نيولې وه، خودماسپښين نه وروسته په ماباندې قی ولګيده اوحالت مې ډيرزيات خراب شو، قي سره څه خوراک نه ووت يوازې اوبه وتې، په داسې حالت کې مې موږپه باندې دګليکوز اوبه وڅښلې اود مجبوري له وجې ماروژه ماته

۱] الفصل الرابع فى احكام الحيض والنفاس......ومنها ان يسقط عن الحائض والنفساء الصلاة فلاتقضى ......منها ان يحرم عليهماالصوم فتقضيانه (عالمگيرى ج:۱ص:۳۸ ،كتاب الطهارة)٠ايضًا:وتقضى الحائض والنفساء الصوم دون الصلاة لحديث عائشة رضى الله عنهاكان يصيبناذالك فنومر بقضاء الصوم ،ولا نومر بقضاء الصلاة وعليه الاجماع٠وفى الحاشيه:(ولانومربقضاء الصلاة)للحرج فى قضائـــهالتكرار الحيض كل شهرغالبًابخلاف الصوم (حاشية الطحطاوى مع مراقى الفلاح ص:۷۹كتاب الطهارة ،طبع نورمحمدآرام باغ، ايضًافى ردالمحتارج:۱ص:۲۹۰)۔

۲] الحيض والنفاس يفسدان الصوم فيوجب القضاء دون الكفارة .(فتاوى قاضيخان على هامش الهندية ،الفصل السادس ج:۱ص:۲۰۹)۔

۳]فالشيخ الفانى الذى لايقدرعلى الصيام يفطرويطعم لكل يوم مسكينًاكمايطعم فى الكفارة كذا فى الهندية (عالمگيرى ج:۱ص: ۲۰۷)، ايضًاالمريض اذاتحقق الياس من الصحة فعليه الفدية لكل يوم من المرض (شامى ج:۲ص:۴۲۷)۔

۴] ايضاً پورتنى حواله)۔

کړه؛ نواوس سوال دادی چې په داسې صورت کې ایاقضا واجبیږي یاکفاره هم؟ اوزه خو به ګناهګارنه یم؟

جواب: یوازې قضاواجب ده، کفاره نه، کفاره یوازې په رمضان کې روژه ماتولوسره لازمیږي[۱] اوکه دناروغي دزیادت له وجې روژه ماته کړې وه؛ نودرمضان دروژو هم کفاره نه شته یوازې قضاده.[۲]

له عذرپرته نفلي روژې ماتولو کې ګناه شته؟

سوال: که څوک له څه عذر پرته نفلي روژه ماته کړي؛ نو د هغې ګناه به وي اوکه نه؟ او د هغې قضاء به وي اوکه نه؟

جواب: له عذر پرته نه روژه ماتول ګناه ده،[۳] او دهغې قضاء لازمه ده.[۴]

تندرست بنده د قضا روژوفدیه نه شي ورکولی

سوال: دزیدښځې درمضان شریف روژې د ناروغۍ اوحامله کیدو له وجې ونه نیولې، زما د معلوماتومطابق دداسې روژو قضا وي، دیورمضان نه واخله تربل رمضان پورې داقضاروژې پوره کیږي، هرکله چې دزیدښځه وایي چې کله په رمضان کې مې روژې ونه نیولې؛ نوپه عامو ورځو کې څنګه نیول کیدای شي؟ ددې روژو په بدله په مسکینانوباندې ډوډۍ خوره، دغه شان هغوی تقریبا (۷۵) روپۍ یوې غریبې ښځې ته ورکړې، ایا داجائزدي؟ ایا د روژو بدله کیدای شي؟ ایاددې ورکولوسره دروژوقضامعاف شوه، کوم خلک دروژوپه بدله کې په مسکینانوباندې ډوډۍ خوړلی شي؟

جواب: دروژوفدیه یوازې هغه کس ورکولی شي چې په روژونیولوباندې نه خوفي الحال قادروي اونه اینده څه طمع وي، مثلا: څوک دومره بوډا وي چې دروژونیولومتحمل کیدای نه

۱] اوافسدغیرصوم رمضان اداء لاختصاصها هتک رمضان......الخ۰ای الکفارة وفی الشرح :هتک رمضان ای بخرق حرمة شهررمضان فلاتجب (ای الکفارة) بافساد قضائه اوافسادصوم غیره لان الافطارفی رمضان ابلغ فی الجنایة فلایلحق به غیره لورودهافیه علی خلاف القیاس .(شامی ج:۲ص:۴۰۵،کتاب الصوم)۔

۲] المریض اذاخاف علی نفسه التلف اوذهاب عضویفطربالاجماع وان خاف زیادة العلة وامتداده فکذلک عندناوعلیه القضاء اذا الفطرکذافی المحیط (عالمگیری ج:۱ص:۲۰۷،کتاب الصوم ،الباب الخامس فی الاعذار....الخ)

۳] ذکر الرازی عن اصحابناان الافطار بغیر عذر فی صوم التطوع لایحل هکذا فی الکافی .(عالمگیری ج:۱ص:۲۰۷، کتاب الصوم ،الباب الخامس فی الاعذارالتی تبیح الافطار،طبع رشیدیه)

۴] اذا نوی الصوم للقضاء بعدطلوع الفجرحتی لاتصح نیته عن القضاء یصیرشارعًا فی التطوع فان افطریلزمه القضاء کذافی الذخیرة .(عالمگیری ج:۱ص:۱۹۷)،ومن دخل فی صلوة التطوع اوفی صوم التطوع ثم افسده قضاه (هدایة ج:۱ص:۲۲۳،کتاب الصوم ،باب مایوجب القضاء والکفارة)

شي اوداسې ناروغ چې دهغه درغیدوطمع نه شته[۱]،دزیدښځه روژې نیولی شي، یوازې دغفلت اوسستي له وجې یې نه نیسي، دهغې دروژوپه بدله کې فدیه ورکول صحیح نه دي، بلکې د روژو قضا پرې لازمه ده[۲]،هغې چې کومې پیسې چا محتاج ته ورکړي دي هغه به دخیرات په مدکې شمارېږي اوڅومره روژې چې دهغې په ذمه دي دهغو قضادې ونیسي.

د بل له طرف نه قضا روژې او لمونځ نه شي ادا کیدای

سوال: ایا ښځه دخپل خاوند قضاروژې، یا خاوند دخپلې ښځې قضا روژې، یا مورو پلار دخپل اولاد قضا روژې یااولاد خپل مورو پلار قضا روژې نیولی شي؟

جواب: هیڅ یوکس دبل له طرفه، نه قضالمونځ اداکولی شي اونه روژې.[۳]

د غروب نه مخکې په غلطي روژې ماتولو باندې یوازې قضا لازمیږي

سوال: له نن نه تقریبا شل کاله مخکې خبره ده چې موږ په یوداسې ځای کې اوسیدوچیرته چې بجلي نه وه اوداذان اوازبه زموږ تر غوږوپورې نه رارسیده، په رمضان شریف کې به داسې کیدل چې دمحلې ټول ماشومان به دجومات خواته لاړل اوداذان کیدوسره به یې شورجوړکړ چې اذان وشو روژه ماته کړئ، زماعمربه هغه وخت کې لس کاله و، چې زماروژه وه اوددروازې نه بهرولاړه وم اود اذان انتظارمې کاو، مادډرې څلورو ماشومانو اواز واورید چې ,,روژه ماته کړئ اذان وشو،، زه کورته راغلم اومورته مې وویل چې اذان وشو.
مورمې کجوره په لاس راکړه او ویې ویل چې دومره زر اذان وشو؟ماورته وویل هو! ماشومان شورکوي اومورمې روژه ماته کړه،دهغې نه درې څلورمنټه وروسته بیاماشومانو شور جوړ کړ چې معلومات مو وکړل؛ نوپته ولګیده چې اذان اوس وشو، هغه خوشرارتي ماشومان وو چې شوریې جوړکړی و، دا ابادي بالکل نوې وه اوخلک هم غریبان و، نه چاسره ریډیو وه او نه ساعت(ګړی)، په ابادي کې بجلي نه وه ددې له وجې موږ پورې داذان اوازنه رارسیده.
ماقصدا روژه ماته نکړه دالله تعالی ته پته ده، خوماپه خپله کم عقلي باندې افسوس کاو چې ارمان مالږ شان انتظارکړی وای یاداذان کیدومې دخلکونه تصدیق کړی وای، ددې خبرې احساس ماته دماشومانوپه دویم ځل دشورجوړولوسره وشو، چې داماڅه وکړل؟ددې خبرې ذکرماخپلې مورته ونه کړ، زه ویریدم چې هغه به ما وړتي، خوزه په زړه کې دالله تعالی په وړاندې ډیره شرمنده شوم، مادالله تعالی نه معافي وغوښته، داهرڅه کولونه وروسته ماته

۱]ومتى قدرقضى لان الاستمرارالعجز شرط الخلفية ....الخ،قوله ومتى قدر اى الفانى الذى افطروفدى (شامى ج:۲ص:۴۲۷،فصل فى العوارض المبيحة لعدم الصوم ،كتاب الصوم)۔
۲]وقضوا لزومًا ماقدروا بلافدية وبلا ولاء لانه على التراخى..الخ (الدرالمختار ج:۲ص:۴۲۳،كتاب الصوم)
۳] وان صام اوصلى عنه الولى لا،لحديث النسائى :لايصوم احد عن احدولايصلى احد عن احدولكن يطعم عنه وليه (الدرالمختارمع الردج:۲ص:۴۲۵،فصل فى العوارض المبيحة لعدم الصوم)۔

محسوسیږي چې ترڅوپورې ددې کفاره اداکړای شي ماته به سکون ملاونه شي، تاسو راته ووایئ چې کفاره څنګه اداکړل شي اودروژې قضاکیدای شي اوکه نه؟ددې ګناه سزازما له پاره ده یازماموړته به هم ددې ناکرده ګناه سزاملاویږي؟

جواب: که غلطي سره دغروب افتاب نه مخکې روژه ماته شوه؛ نوقضاواجبیږي، کفاره نه[1] اوکه په تاباندې هغه وخت کې روژه فرض شوې وه؛ نوته په خپله هم قضاروژه ونیسه اوپه خپلې مورهم ونیسه اوکه هغه وفات شوې وي؛ نودهغې دروژې فدیه ورکړه[2] او فدیه داده چې چا محتاج باندې ددووختو ډوډۍ وخوره، یادپاوکم دووکیلوغنموقیمت نغد ورکړه![3]

په غلطي د وخت نه مخکې روژه ماتولوباندې قضا ده، کفاره نه شته

سوال: مسئله داده چې په څوارلسمه روژه باندې زموږ د محلې په مسجدکې پنځه منټه مخکې د ماښام اذان وشو، تفصیل دادی چې په څوارلسمه روژه باندې په مسجد کې نیم اذان د موذن په غلطي سره وشو، حال دا چې په روژه ماتې کې پنځه منټه باقي و، پنځه منټه مخکې ټول خلک دسترخوان ته کیني، چې څنګه د اذان اواز راغی خلکو روژه ماته کړه، چې په هغوی کې زه هم شامل یم، د نیم اذان نه وروسته مولوي صاحب وویل چې: په غلطي سره اذان شوی دی، تاسو روژه مه ماتوئ، چا چې ماته کړې ده هغه دې ایسار شي، د ماښام د لمانځه نه وروسته مولوي صاحب وفرمایل: چا چې روژه ماته کړې ده هغه به د اختر نه وروسته روژه نیسي، یا به مسکیناتو ته ډوډۍ ورکوي او د خلکو دا وینا وه چې دا غلطي خو د مؤذن نه شوې ده، هماغه به یې کفاره ادا کوي، تاسو په تفصیل سره جواب راکړئ!

جواب: کومو خلکو چې له وخت نه مخکې روژه ماته کړه، د هغوی دا روژه نه ده شوې، وروسته دې د هغې قضاء راوړي، دوی داسې ګڼل چې وخت شوی دی په غلطي سره یې روژه ماته کړه، له دې وجې ددې هیڅ فدیه یا کفاره نه شته.[4]

۱]اوتسحراوافطریظن الیوم ای الوقت الذی اکل فیه لیلا الحال ان الفجرطالع والشمس لم تغرب....قضی فقط (الدرالمختارمع الردج:۲ص:۴۰۵،باب مایفسدالصوم ومالایفسده)

۲]وان لم یوص وتبرع ولیه به جازان شاء الله ،وفی الشامیة:وان لم یوص لایجب علی الورثة الاطعام لانها عبادة ......وان فعلواذلک جاز ویکون له ثواب ......لان الوصی انماتصدق عن المیت لاعن نفسه فیکون الثواب للمیت (ردالمختارمع الدرالمختارج:۲ص:۴۲۵،فصل فی العوارض المبیحة لعدم الصوم)۔

۳] یعطی لکل صلاة نصف صاع من برکالفطروکذا حکم الوتر والصوم (قوله نصف صاع من بر) ای اومن دقیق اوسویق اوصاع تمراو زبیب اوشعیر اوقیمته وهی افضل عندنالاسراعهابسدحاجة الفقیر (ردالمختارمع الدرالمختار، مطلب فی اسقاط الصلاة عن المیت ج:۲ص:۷۲،۷۳)۔

۴] اذاشهد اثنان ان الشمس غابت وشهدان آخران انهالم تغب فافطرثم ظهرانهالم تغب فعلیه القضاء دون الکفارة کذا فی فتاوی قاضیخان .(عالمگیری ج:۱ص:۱۹۵،کتاب الصوم ....[بقیه حاشیه په راروانه صفحه.

د ساه بندي دوايي د روژې په حالت کې استعمالولو سره روژه ماتيږي، قضاء لازمه ده

سوال: ماته د ساه تکليف دی، کومې ته چې په عام عرف کې دمه (ساه بندي) وايي، لهذا يو ورځ د روژې په حالت کې په ما باندې د دمې دوره راغله، ډير سخت تکليف و راته، لهذا ما په دې وخت کې ددې مرض علاج چې د هغه په استعمال سره فورا ارام راځي، استعمال کړ، د هغه دوايي نوم "وينتهولين انهيلر" دی چې هغه د اکسيجن نه ډک وي هغه ګيس د خولې په ذريعه استعماليږي، لهذا ددې په استعمال سره روژه ماته شوه اوکه نه؟ او د روژې د ماتيدو په صورت کې قضاء واجب ده اوکه کفاره؟ او د کفارې په صورت کې د کفارې پيسې يو مسکين ته ورکول جائز دي اوکه نه؟ او د پيسو به څومره مقدار وي؟

جواب: ددې دوايي په حلق کې پمپ کولو سره روژه ماتيږي، په تاسو باندې قضاء واجب ده، کفاره نه شته.[1]

د ماشومتوب دماتې کړې روژې قضاء نه شته، بلکه دا چې ترڅو پورې د دوه مياشتو د روژو نيولو طاقت وي، فديه ورکول جائز نه دي

سوال: زما د مخکې کلونو د رمضان څه روژې پاتې دي، کومې چې ماهغه وخت کې د خاصو ورځو له وجې ونه نيولې، زما د حسابه د ټولو کلونو روژې چې يو ځای شي؛ نو دوه مياشتې جوړيږي او د دوه مياشتو نه پرته د رمضان هغه روژې دي چې کله زه وړه وم او روژې نيولو سره به مې د مالګې غړغړې کولې، زما والد صاحب وايي چې داسې روژه نه ماتيږي؛ نو اوس ماته معلومه شوه چې په مالګې سره خو روژه ماتيږي؛ نو اوس که زه د دې څلورو مياشتو د روژو نيولو په ځای که فديه ورکړم؛ ايا دا په اسلام کې جائز ده؟ او په ما باندې به په دويم ځل نيول خو نه لازميږي؟ ځکه چې د ژوند هيڅ پته نه لګيږي او زه روژه هم نه شم نيولی، ځکه چې حامله يم، بل بچي ته به د پيدا کيدو نه وروسته دوه کاله پی ورکول وي او د ريمه خبره دا چې زما مخکې اپريشن شوی و يو ماشوم مخکې ضائع شوی و؛ نو اوس ډاکټر وايي چې کيدای شي د هغه اپريشن له وجې، اوس هم اپريشن ته ضرورت راشي؛ نو که په اپريشن سره ماشوم وشو؛ نو مکمل صحت ياب کيدو کې او د زخم په جوړيدو کې ډيره موده لګيږي او په داسې اپريشن

...بقيه د تير مخ]..الباب الاول فى تعريفه) (٤) ومن اوجراواحتقن اواستعط اواقطراذنيه الفطرلوجود صب الماء اواللبن او الدواء فى الفم......اوجرمكرهااونائمًا الفطرولاكفارةعليه .(الجوهرة النيرة ج:١ص:١٤٥)

[1] ومن اوجز او احتقن او استعط او اقطر فى اذنيه الفطر لوجود صب الماء او اللبن او الدواء فى الفم........ اوجر مكرها او نائماً افطر ولاكفارة عليه.(الجوهرة النيرة ج:١ ص:١٤٥)_

کې وینه ډیره ضائع کیږي، معلومه نه ده چې په څومره موده کې به طاقت بحال شي، په داسې صورت حال کې که زه فدیه ورکړم؛ نو ایا څومره کاله وروسته چې طاقت بحال شي او زه د څلورومیاشتو د روژوقابله شم؛ نوایا هغه به په دویم ځل نیول غواړي دفدیه ورکولونه وروسته؟

جواب: ترڅو پورې چې ته د دوه میاشتو روژو نیولو قابله یې، فدیه ورکول جائز نه دي، روژې نیول ضروري دي، په ماشومتوب کې چې تا کومې روژې ماتې کړې دي، د هغو قضاء ضروري نه ده.[۱]

❖ د قضا روژو فدیه ❖

کمزوری یا ناروغ کس د روژو فدیه ورکولی شي

سوال: که یوکس کمزوری یاناروغ وي چې روژې نیولوسره کمزوري محسوسه کړي؛ نوایاهغه چابل چاته دمابنامي یاپیشمني سامان ورکولوسره پرې روژه نیولی شي اوایادغه شان به دهغه له سرنه د روژې کفاره کوزه شي؟ څه ګناه خوبه نه وي؟

جواب: که دومره بوډا یاناروغ وي چې روژې نه شي نیولی، نه داتوقع وي چې اینده به یې ونیولای شي، دهغه له پاره فدیه ورکول جائزدي[۲]اودهرې روژې دفدیې له پاره دې په چامسکین باندې ددوه وختونو ډوډۍ وخوري یادې ددوسیروغلې قیمت ورکړي[۳]باقي په بل چاباندې دځان له پاره روژه نه شي نیولی.[۴]په شریعت کې دکمزروي کس له پاره د فدیې ورکولوحکم دی.

د ډیرې زیاتې ناروغې ښځې دروژو له پاره فدیه ورکول جائزدي

سوال: زما موربې بې دناروغی له وجې شپږ روژې پریښې وې،اوس هم ناروغه ده اود روژو

---

[۱] مريض خاف بالاجتهاد اوالطبيب زيادة مرضه الكائن او امتداده او وجع العين او جراحة اوصداع اوغيره ......الفطروا ......وقضوا ماالفطروا قبل رمضان آخراوبعده بلاالفدية ......الخ (جامع الرموز،فصل موجب الافساد ج:۲ص:۳۶۸ طبع مكتبة الاسلامية ايران)

۲]فالشيخ الفانى الذى لايقدرعلى الصيام يفطرويطعم لكل يوم مسكيناكمايطعم فى الكفارة كذافى الهداية (عالمگيرى ج:۱ص:۲۰۷،وايضًا جوهرة النيرة ج:۱ص:۱۴۷)،المريض اذا تحقق الياس من الصحة فعليه الفدية لكل يوم من المرض (شامى ج:۲ص:۴۲۷،وايضًا الجوهرة النيرة ج:۱ص:۱۴۷)ـ

۳]والفدية لكل يوم مدحنطة كمافى البدائع .(شامى ج:۲ص:۴۲۳) وجازدفع القيمة فى زكاة ......وفطرة الخ (الدرالمختارج:۲ص:۲۸۶، وايضًا الجوهرالنيرة ج:۱ص:۱۴۷)ـ

۴]وان صام اوصلى عنه الولى لا،لحديث النسائى: لايصوم احدعن احد ولايصلى احد عن احدولكن يطعم عنه وليه (الدرالمختار ج:۲ص:۴۲۵،فصل فى العوارض المبيحة)ـ

نيولو قابله نه ده، هغې درې وارې د رسولۍ اپريشن کړې دی، هغې سره دا فکر دی چې د هغې روژې څنګه اداکړل شي؟ تاسو ته درخواست دی چې ددې حل راته وښيئ او ددې د اداکولو طريقه هم راته وښيئ! څه شي سره اداکيدای شي؟ الله تعالی دې تاسو ته جزا خير درکړي. امين!

جواب: ستامور بي بي د روژو نيولو طاقت نه لري، ددې له وجې څومره روژې چې د هغې په ذمه دي د هغو فديه اداکړئ او د يوې روژې فديه د صدقه فطر برابر ده، يعني دوه سيره غنم يا د هغو د قيمت حساب سره د قضاشويو روژو فديه ورکړئ او اينده چې څومره روژې د هغې په ژوند کې راشي همدې حساب سره فديه ورکوئ![1]

که د قضا اوړلو طاقت نه لري؛ نو څه وکړي؟

سوال: زما د مور څخه په وړوکوالي کې ډيرې روژې پاتې شوې دي، (يعني له کله چې روژې فرض شوي دي) چې لږ شان به يې هم طبيعت خراب و؛ نو د هغې د کور مشرانو به د روژو نيولو نه منع کوله او هغې ته داسې ماحول ملاونه شو چې هغې ته معلومه شوې وای چې روژې نيول ضروري دي.

اوس مې مورته د ټول حقيقت پته لګيدلې ده او هغه ډيره پريشانه ده، اوس هغه د تيرو روژو قضا نيول غواړي، خو څنګه چې روژې نيول شروع کړي؛ نو درې څلور ګنټې وروسته پرې داسې سخته يخني راشي چې د هيڅ کار قابل پاتې نه شي، ډير علاج مو ورته وکړ، خو هيڅ ګزاره يې ونه شوه، اوس تاسو نه دا پوښتنه ده چې مور بي بي مې خپلې قضا روژې څنګه ونيسي؟ يا بيا د هغو فديه ورکړي؟ او که فديه ورکړو؛ نو د يوې روژې په سر څومره ورکړو؟

جواب: که هغه د خپل ضعف او مرض له وجې نه قضا روژې نه شي نيولی؛ نو فديه اداکړئ، د هرې روژې په بدله کې د صدقه فطر برابر مقدار کې نغدې يا غله ورکړئ![2]

که چاته قی ورځي، روژو سره څه وکړي؟

سوال: د حمل په دوران کې پوره نهه مياشتې په ما ته قی راځي او د کوشش باوجود هم هيڅ قسم نه کميږي، اوس زه ډير کوشش کوم چې خدای زما روژې پوره کړي را پاڅم او پيشمنی کوم او که

١] والشيخ الفانى الذى لايقدرعلى الصوم يفطرويطعم لكل يوم مسكينًا نصف صاع من بر....... الفانى الذى قرب الى الفناء او فنيت قوته وكذا العجوزمثله......ان الاباحة فى التغذية والتعشية والقيمة فى ذلك جائز (الجوهرالنيرة ،كتاب الصوم ،ج:١ص:١٤٧،طبع مجتبائى دهلى)۔

٢] فان الشيخ الفانى الذى يعجزعنه فى الحال بسبب الهرم ويزاد كل يوم.....وفى حكمه....كل من يعجز عن الصوم فى الحال وينس عنه فى الاستقبال الفطرواطعم تمليكاً او اباحة......لكل يوم الفطر فيه مسكيناً اى مصرفاً من المصارف كما اشرنا اليه، كالفطر نصف صاع من ا لبر (جامع الرموز الرواية فى شرح المختصرالوقاية ،فصل موجب الافساد،ج:٢ص:٣٦٧،٣٦٦طبع مكتبة الاسلامية ايران،ايضًا جوهرة النيرة ج:١ص:١٤٧)۔

ونکړم؛ نوبه لاسوپښوکې مې زورنه وي اودماشومانوله پاره کار روزګارکول هم ضروري دي مګرچې سهارشي؛ نوبنه په ډکه خوله قې راځي اوبياراکې دومره طاقت نه وي چې روژه ونيسم؛ نواوس مولاناصاحب! اجازه داکولی شم چې يومسکين ته خوراک روزانه ورکوم چې هغې سره زما د روژو کفاره پوره شي؟

جواب: دحمل حالت عارضي دی[1]، په دې حالت کې که ته روژې نه شي نيولی؛ نودصحت په حالت کې ددې روژوقضالازمه ده، دفديې ورکولوحکم دهغه کس له پاره دی چې نه خوفي الحال روژې نيولی شي اونه اينده په پوره ژوندکې داتوقع وي چې هغه به داقضاروژې ونيسي، تاسو بل وخت کې داقضاروژې نيولی شئ ددې له وجې ستاله طرف نه دروژوفديه ورکول صحيح نه دي.[2]

د روژې فديه څومره، چاته او کله ورکړل شي ؟

سوال: زه دناروغی له وجې روژې نه شم نيولی، اوس فديه ورکول غواړم، فديه په کوم حساب سره ورکول کيږي؟ تاسوراته دا ووايئ که روزانه په مسکين باندې خوراک خوړل ضروري وي؛ نودا سهولت ماته حاصل نه دی، ددې له وجې دفديې پوره رقم راته وښيئ چې زه دپوره روژو پوره قيمت مسکين ته ورکړم اوکه څوک حقدارپيدا نه شو؛ نو ايادفديې دارقم يتيم خانې يافلاحي اداري ته ورکول کيدای شي؟ فديه په رمضان شريف کې ورکول ضروري دي ياکه مجبوري وي ؛نودرمضان دتيريدونه وروسته هم ورکول کيدای شي؟

جواب: دهرې روژې فديه دصدقه فطربرابرده، يعنې پاوکم دوه کيلوغله يادې قيمت[3]، د فديې رقم چيرته په ديني مدرسه کې دې جمع شي فديه په رمضان المبارک کې اداکول بهتر دي اوکه په رمضان کې مواد انه کړه ؛ نووروسته هم ورکول کيدای شي.[4]

د روژو فديه خپل اولاد يا لمسيو ته ورکول جائز نه دي

سوال: د روژوفديه خپلې لور، لمسي، لمسی اوزوم ته ورکول پکاردي اوکه نه؟

١]وقضوا لزومًا ماقدروا بلافدية وبلا ولاء ......الخ (الدرالمختارج:٢ص:٤٢٣)،ويقضى مافطر واطعم ان قدرعلى الصوم لانه يشترط لجوازالخلف دواء العجز (جامع الرموزج:٢ ص:٣٦٧طبع ايران)_

٢] ومتى قدرقضى لان الاستمرارالعجزشرط الخليفة ......الخ (الدرالمختار ج:٢ ص:٤٢٧، كتاب الصوم)_

٣]وان عجز عن الصوم اطعم ستين مسكينًا كالفطرة قوله: كالفطرة اى نصف صاع من براوصاع من تمراوشعير (ردالمحتار ج:٢ ص:٤٧٨، وايضاً فى جامع الرموز ج:٢ص٣٦٦،٣٦٧ والجوهرة النيرة ج:١ص:١٤٧)_

٤] ثم ان شاء اعطى الفدية فى اول رمضان بمرة وان شاء آخره ا الى آخره كذا فى النهرالفائق .(عالمگيرى ج:١ص:٢٠٧،كتاب الصوم ،الباب الخامس فى الاعذارالتى تبيح الافطار،طبع رشيديه)_

جواب: د روژو فدیه خپل اولاد یا لمسیو ته ورکول جائز نه دي.[1]

د مدرسې غریبو طالبانو ته د روژو فدیه ورکړئ

سوال: زما موربې بې ضعیف العمره ده او ډېره زیاته کمزورې ده چې د روژو نیولو طاقت په کې نه شته، هغه دا زاد کشمیر راولاکوټ په یو کلي کې اوسیږي، زه د هغې د روژو په بدله کې کفاره اداکول غواړم، زمونږ په کلي کې څوک داسې مسکین نه شته چې په هغه باندې د دوو وختونو خوراک وخوړل شي، زمونږ په مرکزکې یو جومات او یو دیني مدرسه ده، زه هغې مدرسې ته رقم لیږل غواړم، مهرباني وکړئ اوتفصیل سره جواب راکړئ چې زه د شپیتو روژو د پاکستاني حساب سره څومره رقم ولیږم.؟

جواب: د دیني مدرسې غریبو طالبانو ته د فدیې پیسې ورکول کیدای شي[2] د مدرسې په څه بل څه مد کې د دې پیسو استعمال جائز نه دی[3] او د هرې روژې فدیه د صدقه فطر برابره ده.

د شپیتو روژو فدیه د شپیتو صدقه فطر برابر شوه، په کومه ورځ چې ته فدیه اداکوې د هغې ورځې د قیمت په لحاظ سره یې ورکړه.[4]

د قضا روژو فدیه یو مسکین ته په یو وخت ورکول جائز دي

سوال: د رمضان المبارک د څو قضا شویو روژو فدیه یو غریب یا مسکین ته په یو وخت کې ورکولی شو؟

جواب: د څو روژو فدیه یو مسکین ته په یو وخت ورکول جائز دي، مګر په دې کې اختلاف دی

١] ولا الى من بينهما ولاد......الخ،وفی الشرح ......وفرعه وان سفل ......كاولاد الاولاد وشمل الولاد بالنكاح والسفاح ......الخ (شامي ج:٢ص:٣٤٦،باب المصرف ،طبع ايچ ايم سعيد)۔

٢] مصرف الزكاة والعشر.....هوفقير......ومسكين ......وعامل ......ولوغنيالا هاشميًالانه فرع نفسه لهذا العمل فيحتاج الى الكفاية والغنى لايمنع من تناولها عندالحاجة ......وبهذا التعليل يقوى مانسب للواقعات من ان طالب العلم يجوزله اخذالزكاة ولوغنيًا اذا فرع نفسه لافادة العلم واستفادته لعجزه عن الكسب والحاجة داعية الى مالابدمنه ......وفی سبيل الله (الدرالمختار)وفی الشامية (قوله ای مصرف الزكاة) وهو مصرف ايضًا لصدقة الفطروالكفارة والنذر وغير ذلک من الصدقات الواجبة ......(قوله وقيل طلبة العلم)كذا فی الظهيرية قد قال فی البدائع :فی سبيل الله جميع القرب فيدخل فيه كل من سعى فی طاعة الله وسبيل الخيرات اذاكان محتاجًا (ردالمحتارمع الدرالمختار،كتاب الزكاة ،باب المصرف ،ج:٢ص:٣٣٩تا٣٤٣،وايضًافی البحر، كتاب الزكوة ،باب المصرف ج:٢ص:٤٢٤)۔

٣]ويشترط ان يكون الصرف تمليكًا لا اباحة كمامرلايصرف الى بناء ......الخ،وفی الشرح :نحومسجدكبناء القناطر والسقيات واصلاح الطرقات وكرى الانهار...الخ (شامي ج:٢ص:٣٤٤،كتاب الزكاة ،باب المصرف)

٤]وان عجز عن الصوم اطعم ستين مسكينًا كالفطرة ای نصف صاع من براوصاع من تمراوشعير (ردالمحتار ج:٢ص:٤٧٨، وايضًا فی جامع الرموز ج:٢ص٣٦٧،٣٦٦ والجوهرة النيرة ج:١ص:١٤٧)۔

ددې له وجې احتياط خودادی چې دګڼو روژو فديه دې يوته ورنکړل شي، خو د ورکولو ګنجائش هم شته.[۱]

د مرحومينو د قضا شويو روژو فديه ورکول ډير زيات ضروري دي

سوال: مسلمانان اکثريت بيلمازه اوروژه خواره دي، کله چې هغوی مړه شي: نودهغوی دريمه، لسمه، څلويښتي اوکال په عام ډول سره کيږي، قرآن خواني هم کيږي چې په هغه خلک په خوشالۍ سره شريکيږي، دګاونډ دجومات مدرسې طالبان هم ډيرپه بيړه قرآن پاک ختموي، دکجوروپه هډوکو باندې دکلمې طيبې وردهم کيږي، خوراکونه خوړل کيږي، څه خير خيرات هم ورکول کيږي، خو مرحوم چې کوم بې شميره روژې اولمونځونه قضاکړي دي دهغو دکفارې اداکولو ذکر چيرته هم نه وي، ماليدلي دي چې مرحوم په لکونو جائدادپريږدي اودمرحوم وارثان يعنې لوڼه زامن اوښځه وغيرو ته خپلې خپلې برخې ملاوشي، خودمرحوم پلار د قضا روژو اوقضا لمونځونو بقاياڅوک هم نه اداکوي، زه په ډيرشوق سره ,,اپ کے مسائل اور ان کاحل،، د(۱۹۷۴ء)کال څخه لولم، هم ددې نه راته معلومه شوه چې د قضا روژو فديه ورکول پکاردي، خو تاسوديوسوال په جواب کې داهم ليکلي دي چې مړکيدونکی دې وصيت وکړي چې دقضا شويو لمونځونو او روژو فديه دې وارثان اداکړي اوتاسوچيرته هم په دې زور نه دی ورکړی چې نالائقه وارثان دې په خپله دخپل موروپلار دقضا شويو لمونځونو او روژو فديه اداکړي، ماوس اوس يوکتاب فتاوا قادريه لوستې ده چې ديو فرنګي محلي عالم ليکلي ده، په هغه کې ديرش څلويښت کاله مخکې چاسعادت مند وارث دخپل يومرحوم دژوند دټولولمونځونوفديه معلومه کړې وه عالم صاحب ورته دوه څلورلکه رقم ښودلی و؛ نوداخوډيره اهمه مسئله شوه، اوس تاسووايئ چې دمرحوم دقضا شويو لمونځونو او روژو دفديې کارنه کيږي؛ نو ايافوت شوي لمونځونه اوروژې به په ورځ حشرکې معاف شي؟

جواب: دمرحوم له طرف نه دفديې څومسائل ذکرکوم ټولومسلمانانوته ددې علم پکاردی:

اول:......کوم کس چې په داسې حال کې وفات شي چې دهغه په ذمه روژې وي يالمونځونه وي؛ نو په هغه باندې فرض دي چې هغه وصيت کولونه وروسته مړشي چې دهغه د روژو او لمونځونو فديه دې ورکړل شي، که هغه وصيت ونه کړ؛ نوګناهګاربه وي.[۲]

۱] وللشيخ الفانى العاجزعن الصوم الفطرويفدى وجوبًا ......بلاتعدد فقيركالفطر(قوله وبلا تعدد فقير) اى بخلاف نحوكفارة اليمين للنص فيهاعلى التعدد،فلواعطى هنا مسكينًا صائمًا عن يومين جازلكن فى البحرعن القنية ان عن ابى يوسف فيه روايتين وعندابى حنيفة لايجزيه......الخ (ردالمحتارج:۲ص:۴۲۷) ويجوزاعطاء فدية صلوت وصيام ايام ولحوها لواحد من الفقراء جملة (مراقى الفلاح مع الطحطاوى، فصل فى اسقاط الصلاة والصوم ص:۲۳۹، طبع ميرمحمد، وايضاً فى مراقى الفلاح، فصل فى الكفارة ص:۳۶۷)۔

۲] وللشيخ الفانى العاجزعن الصوم الفطرويفدى وجوبًا ......الخ....[بقيه حاشيه په راروانه صفحه....

دويم:....كه مړی د فديې اداكولووصيت وكړي؛ نو دمړي په وارثانو باندې به فرض دي چې دمړي دكفن دفن اوقرض اداكولونه وروسته چې څومره جائدادپاتې شي دهغو په دريمه برخه كې دهغه د وصيت مطابق دهغه دلمونځونواوروژوفديه اداكړي.[۱]

دريم:...كه مرحوم وصيت ونه كړي، ياهغه مال پرې نښود، خووارث له خپل طرف نه دمرحوم د لمونځونو، روژو، فديه اداكړي؛نوداالله تعالى درحمت نه طمع ده چې دافديه به قبوله كړي.[۲]

څلورم:....ديوې روژې فديه دصدقه فطربرابرده، يعنې تقريباً پاوكم دوه كيلوغله، د يو رمضان د روژو فديه دوه پنځوس نيم كولوشوه اوددريورمضانو(۹۰) روژوفديه (۱۵۷.۵) كيلو غله شوه، ددې مطابق دې نورحساب ولګول شي.[۳]

همدغه شان دهرلمونځ فديه هم دصدقه فطربرابرده اوسره دوتريه شپه ورځ كې شپږ لمونځونه دي (پنځه فرض اويوواجب)[۴] ديوې ورځې دلمونځونو فديه لس نيم كيلو شوه او د يوې مياشتې د لمونځونو فديه (۳۱۵) كيلوشوه اوديوكال دلمونځونو فديه (۳۷۸۰)كيلوغله شوه، د مرحوم په ذمه چې څومره لمونځونه اوروژې پاتې كيږي دې حساب سره دې فديه وركړل شي.

پنځم:....كوم حكم چې درمضان دفرضي روژودی هغه دنذر(منل شويو) روژوهم دی:[۵] كه چاځه دمنبنتې روژې منلې وي اوهغه يې ادانه شوې چې وفات شو؛ نودهرې روژې فديه به

...بقيه د تير مخ]...وشرحه :لان عذره ليس بعرضى للزوال حتى يصيرالى القضاء فوجبت الفدية ......وعند العجز بالموت تجب الوصية بالفدية.(شامى ج:۲ص:۴۲۷)۔

۱] وفدى لزومًا عنه اى الميت وليه الذى يصرف فى ماله كالفطر قدرا بعدقدرته عليه اى على قضاء الصوم ...... بوصيته من الثلث......الخ ((قوله من الثلث)اى ثلث ماله بعد تجهيزه وتكفينه وايفاء ديون العباد (ردالمحتارعلى الدرالمختار ج:۲ ص:۴۲۴،فصل فى العوارض المبيحة لعدم الصوم ،كتا ب الصوم)۔

۲] وان لم يوص وتبرع وليه به جازان شاء الله ويكون الثواب للولى (الدرالمختارمع الردج:۲ص:۴۲۵)۔

۳] وان عجز عن الصوم اطعم ستين مسكينًا كالفطرة قوله: كالفطرة اى نصف صاع من براوصاع من تمر او شعير (ردالمحتار ج:۲ ص:۴۷۸، وايضًا فى جامع الرموز ج:۲ص۳۶۷،۳۶۶ والجوهرة النيرة ج:۱ص:۱۴۷) (قوله نصف صاع من بر) اى من دقيقه اوسويقه ......اوقيمته وهى افضل عندنا لاسراع سدحاجة الفقير (ردالمحتار، باب قضاء الفوائت ج:۲ص:۷۳،مراقى الفلاح ص:۳۶۷)۔

۴] وفدية كل صلاة ولو وترا كماقى قضاء الفوائت كصوم يوم على المذهب ...... الخ (الدرالمختارمع الردج:۲ص:۴۲۶)يعطى لكل صلاة نصف صاع من بركالفطروكذا حكم الوتروالصوم (درمختار،باب قضاء الفوائت ج:۲ص:۷۲،وكذا فى البحر،باب قضاء الفوائت ج:۲ص:۱۰۶،وكذافى رشيديه ج:۱ص:۱۲۵)۔

۵] الصوم ضربان واجب ونفل والواجب ضربان مايتعلق بزمان بعينه كصوم رمضان والنذر المعين (هداية ج:۱ص:۲۱۱كتاب الصوم)۔

د پورتنۍ شرحې مطابق وي.[1]

شپږم:.....که د وارث سره دومره مال نه وي چې د مرحوم له طرف نه د لمونځونو او روژو فدیه پرې په یو ځای اداکړل شي؛ نو لږ لږ اداکول یې هم جائز دي.

بې وزله مریض د روژې فدیه څنګه اداکړي؟

سوال: زما د زیابیطس (شوګر) مرض دی، چې د هغه له وجې زه د رمضان فرض روژې نه شم نیولی ما کوشش وکړ؛ نو په ماچکرراشي او زه ډېره زیاته ناروغه شم، زما د کور خرچ هم ډېره مشکل سره پوره کیږي، لهذا کفاره اداکولی نه شم، مهرباني وکړئ او زما رهنمایي وفرمایئ.

جواب: څنګه توره سپوره چې په خپله خوري هما غه شان چامحتاج ته دورځې دوه وخته ورکوه[2]،

او کوم کس چې روژه نه شي نیولی او د هغه سره د فدیې ورکولو له پاره هم څه نه وي، هغه دې یوازې استغفار کوي او دا نیت دې وکړي چې کله هم څه ګنجائش ملاوشي؛ نو هغه به د دې روژو فدیه ورکوي[3]

ایا د مړي له طرف نه د هغه ولي روژه نیولی شي؟

سوال: ایا د مړي له طرف نه د هغه ولي روژه نیولی شي؟

جواب: د مړي له طرف نه لمونځ او روژه بل څوک نه شي کولی،[4] بلکې د لمونځونو او روژو فدیه ورکول ضروري دي، د یوې روژې فدیه د صدقه فطر برابر ده،[5] همدغه شان د هر لمانځه فدیه د صدقه فطر برابر ده، په ورځ کې شپږ لمونځونه (د وترو سره) وي، د یوې ورځې

۱] اذا نذران یصوم کل خمیس یاتی علیه فافطرخمیسًاواحدًا فعلیه قضاؤه ،کذافی المحیط .ولو آخرالقضاء حتی صارشیخافانیًا اوکان النذربصیام الابدفعجز لذالک اوباشتغاله بالمعیشة لکون صناعة شاقة فله ان ینفطر ویطعم لکل یوم مسکینًا علی ماتقدم .(عالمگیری ج:۱ص:۲۰۹،کتاب الصوم ،الباب السادس فی النذر)_

۲]والشرط اذا اباح الطعام ان یشبعهم ولوبخبزالبرمن غیرادم (مراقی الفلاح ،فصل فی الکفارة ص۳۶۷،طبع میرمحمد)_

۳] کذا لونذرصوم الابدفضعف عن الصوم لاشتغاله بالمعیشة له ان یفطرویطعم لانه استیقن ان لایقدرعلی قضائه فان لم یقدرعلی الاطعام لعسرته یستغفرالله ویستقیلة......الخ (فتح القدیر ج:۲ص:۸۳) فان لم یقدرمن تجوز له الفدیة علی الفدیة لعسرته یستغفرالله سبحانه ویستقیله ای یطلب منه العفو عن تقصیره فی حقه .(مراقی الفلاح علی هامش الطحطاوی ،باب مایفسدالصوم ویوجب القضاءص:۳۷۶)_

۴] عن مالک بلغه ان ابن عمرکان یسال هل یصوم احدعن احداویصلی احدعن احد؟فقال:لایصوم احدعن احدولایصلی احدعن احد .(مشکوة ،کتاب الصوم ص:۱۷۸)

۵] من مات علیه قضاء رمضان فاوصی به اطعم عنه ولیه لکل یوم مسکینًا نصف صاع من براوصاعا من تمراوشعیر (هدایة ج:۱ص:۲۲۲،باب مایوجب القضاء والکفارة)

د لمونځونو شپږ فديې شوې.[1]

ايا د وفات شوي له طرف نه د کفارې روژې نيول کېدای شي؟

سوال: په يو سړي باندې د روژو کفاره وه، ايا د هغه اولاد دا کفاره ادا کولی شي او که نه؟ يا که د هغه اولاد روژې ونيسي؛ نو کفاره به يې ادا شي.

جواب: د چا په ځای لمونځ نه شي کيدای، نه د هغه په ځای روژې نيول کيدای شي،[2] خو اولاد که د مور وپلار د روژو فديه ادا کړي؛ نو توقع ده چې قبوله به شي.[3]

ايا د بل چا له طرف نه روژه نيول جائز دي؟

سوال: د ريډيو پاکستان نه ديني مسائلو باندې مبني پروګرام "آپ نے پوچھا ھے" نشر کيږي، په هغه کې يو ډاکټر صاحب د سائل د سوال جواب ورکولو کې وفرمايل چې: د رمضان فرض روژې يو سړی د بل سړي له طرفه نيولې شي او مور ستاسو په شان جيد علماء کرامو نه اوريدلي دي چې څوک هم د يو بل له طرفه نه لمونځ کولی شي او نه روژه نيولی شي؛ نو ايا څوک د بل چا له طرفه روژه نيولی شي يا لمونځ کولی شي؟

جواب: بدني، عبادت، لمونځ روژه د بل چا له طرفه نه شي ادا کولی، کوم سړی چې خپله روژه نه شي نيولی شريعت د هغه له پاره د فديې حکم تجويز کړی دی، تاسو چې د ريډيو پاکستان د کومې مسئلې ذکر کړی دی، هغه غلطه ده.[4]

روژې نيولو سره که د ګيس تکليف پيدا شي؛ نو ايا روژه ماتول روا دي؟

سوال: عرض دی چې زما تقريبا درې څلويښت کاله عمر دی او د ماشوم والي نه تراوسه پورې ما د رمضان شريف روژې نيولې دي، خو يو خاص خبره دلته ذکر کوم چې د رمضان په مياشت کې پوره تکليف کې اخته شم، ځکه چې د روژې نيولو له وجې معده ګيس ونيسي، چې د هغه له وجې په دماغو باندې ګيس راوخيژي، دماغ شليدو ته نژدې شي، سر راباندې ګرځي، د خولې خوند مې خراب شي، مختصر الفاظو کې دا چې ځينې وخت خو قی محسوسوم، حال دا

---

[1] ولومات وعليه صلوات فائته واوصى بالكفارة يعطى لكل صلاة نصف صاع من بر كالفطروكذا حكم الوتروالصوم _(الدرالمختارمع الردج:۲ص:۷۲،باب قضاء الفوائت)

[2] لايصوم عنه الولى ولايصلى لقوله عليه السلام :لايصوم احدعن احدولايصلى احدعن احد (هندية ج:۱ ص:۲۲۳،باب مايوجب القضاء والكفارة ،وايضامشكوة ج:۱ص:۱۷۸كتاب الصو م، طبع رشيديه)

[3] فان لم يوص وتبرع عنه الورثة جاز_ (عالمگيرى ج:۱ ص:۲۰۷، كتاب الصوم، طبع رشيديه)

[4] من مات وعليه قضاء رمضان فاوصى به اطعم عنه وليه لكل يوم مسكيناًنصف صاع من براوصاع من تمراوشعير......ولايصوم عنه الولى ولايصلى لقوله صلى الله عليه وسلم لايصوم احدعن احدولايصلى احدعن احد (هداية مع فتح القدير ج:۲ص:۸۳ تا۸۵ طبع مصر)

چې کاروبار باقاعده کوم، صحت مند يم، خو په رمضان شريف کې د خولې د بنديدو له وجې راته پوره تکليف وي.

جواب: که د روژې له وجې سخت تکليف وي چې د هغو برداشت کول ګران وي؛ نو تاسو د روژې په بدل کې د صدقه فطر مقدار يو محتاج ته ورکړئ، تاسو ته د روژې د نه نيولو رخصت دی، د صدقه فطر قيمت نن سبا اته روپۍ دی.[1]

د ګردو د ناروغ که روژه نه شي نيولی؛ نو څه وکړي؟

سوال: زما مور بي بي چې د هغې عمر پنځه څلويښت کاله دی، د رمضان روژې هميشه نيسي، خو د تيرو درې کلونو نه د ګردو د ناروغي له وجې روژې نه شي نيولی، اراده يې وه چې په صحت موندلو باندې به قضاء روژې ونيسي، خو صحت يې برابر نه شو، د دې روژو قضا يا کفاره څنګه ادا کيږي؟

جواب: ستاسو مور چې د کوم کال څومره روژې ونه نيولې ، د هغې حساب کولو سره دې د يوې روژې فديه د صدقه فطر مطابق ادا کړي، الله پاک دې قبول کړي، د معذوري او دناروغي له وجې چې کومې روژې نه شي نيولی د هغو فديه ورکول پکار دي.[2]

په کټ باندې پرته ښځه د هغې نه پاتې شويو روژو سره به څه کيږي څکه چې هغه وفات شوې ده

سوال: زما مور په دې کال دومره ناروغه وه چې تقريبا شپږ مياشتې په کټ باندې وه او بيا له دې دنيا نه رخصت شوه، په دې دوران کې هغې د رمضان روژې ونه نيولې ، تاسو بيان کړئ چې زه د هغې د روژو څومره فديه ورکړم او که زه فديه ورنکړم؛ نوايا په هغې باندې به د روژو بوج وي؟ د فديې شرح راته هم بيان کړئ!

جواب: د خپلې مور له طرفه د هرې روژې په بدل کې دوه سيره غنم يا د هغو قيمت چا محتاج ته ورکړئ، انشاء الله د هغې د ذمې فرض به ادا شي.[3]

---

[1] وعلى الذين يطيقونه فدية طعام مسكين .(البقرة :١٨٤) فصل فى العوارض المبيحة لعدم الصوم ...... اومريض خاف الزيادة لمرضه وصحيح خاف المرض ......الخ٠وفى الشرح :قوله خاف الزيادة او ابطاء البرء اوفساد عضو بحراو وجع العين اوجراحة اوصداعااوغيره ......الخ (الدرالمختارمع الردج:٢ص:٤٢٢)

[2] والشيخ الفاني الذى لايقدرعلى الصيام يفطر ويطعم لكل يوم مسكيناً كما يطعم فى الكفارات، والاصل فيه قوله تعالى وعلى الذين يطيقونه فدية طعام مسكين قيل معناه :لايطيقونه .(هداية مع فتح القدر ج:٢ص:٨٢، كتاب ا لصوم طبع دارصادربيروت)

[3] ولوفات صوم رمضان بعذرالمرض ....حتى مات لاقضاء عليه لكنه اوصى بان يطعم عنه صحت وصيته ...... فان لم يوص وتبرع عنه الورثة جاز (عالمگيرى فى الاعذارالتى تبيح الافطارج:١ص:٢٠٧)

که په روژه نیولو سره د ګردې تکلیف زیاتیږي؛ نو ایا پرېښودل یې جائز دي؟

سوال: ماته د (۱۹۷۸ء) کال نه د ګردې د درد تکلیف دی، د سختې پریشانۍ نه وروسته په مارچ (۱۹۷۱ء) کې ما ددې له وجې اپریشن وکړ، له دې وروسته به مې چې په رمضان کې روژې نیولې؛ نو متیازې به مې د ماسپښین نه وروسته بالکل سور رنګ کې راتلې او ډېره کمزوري به راته محسوسیده، خو په هر حال د روژو پابندي به مې کوله، بیا له دې وروسته معلومه نه ده چې څنګه مې په ښۍ ګرده کې هم غټ کاڼی و او هغه داسې وکړل چې د ګردې په کارکردګۍ کې یې هم فرق پیدا کړ، د هغې اپریشن مې په ایمرجنسي کې په (۱۹۸۰ء) کې وکړ، دا دواړه اپریشنونه د واده نه مخکې وشول او له دې وروسته به هم کله په ښۍ اوکله په ګسه(چپه) ګرده کې درد اوکله به تکلیف راته کیده، په هرحال دا تکلیف به ټول کال کله کله راته، بیا زما واده وشو، له دې نه وروسته به د حمل په دوران کې مستقل په ګرده کې تکلیف کیده، د دویم بچي د پیدائښ نه وروسته هم په ګرده کې مستقل تکلیف وي، یا خو درد او یا انفکشن، اوس جناب بیا روژې راروانې دي، د دې ټول تفصیل د بیانولو مقصد دادی چې زه تاسو نه دا معلومول غواړم چې زه روژې په پابندي سره نیولی شم اوکه نه؟ اوس که دا په دې تکلیف کې هم په ما باندې فرض وي؛ نو که هر څه وي زه به په هر حال روژې نیسم، خو که بل څه صورت وي؛ نو تاسو یې راته په تفصیل سره بیان کړئ، چې بیا د دې بدل څه دی؟

جواب: که تاسو د روژې طاقت نه لرئ یا ډاکټر مو د روژې نیولو نه منع کوي؛ نو د روژې په ځای فدیه ادا کوئ! یعنې د هرې روژې په بدل کې یو محتاج ته دوه وخته ډوډۍ ورکوئ، یا یو محتاج ته نغدې اووه روپۍ روزانه ورکوئ![1]

که د روژې نیولو نه وروسته یې دوايي وخوړه؛ نو ایا کفاره به هم وي؟

سوال: زما عمر اولس کاله دی، زما مسئله داده چې زما په زړه کې پیدائشي سوری دی، زما اپریشن نه دی شوی، څکه چې په استخاره کې منع راغلې وه، زه د خپلې ناروغۍ له وجې یوه دوايي خورم، کومه چې د اکسیجن له پاره ده او زه هغه نه شم پرېښودلی، چې د هغه له وجې زه روژې نه شم نیولی، یو کرت ما ضد کولو سره نیولې وې؛ نو په مینځ کې مې دوايي وخوړله او په ورځ کې څلور کرته خوړل ضروري دي، معلومات دا کول دي چې د دولسو نه اولس کلنو پورې د روژې نه نیولو به څومره کفاره ادا کول وي؟ یا که دومره روژې به نیول غواړي؟ ایا زه د

---

[1]] کل من یعجزعن الصوم فی الحال وینس عنه فی الاستقبال افطر واطعم ......لکل یوم افطرفیه مسکیناای مصرفامن المصارف کمااشرنا الیه ،کالفطرنصف صاع من بر (جامع الرموز ج:۲ ص:۳۶۶،۳۶۷، وایضاً فی الجوهرة النیرة ج:۱ص:۱۴۷،کتاب الصوم ،هدایة مع الفتح)

روژې د نه نیولو په وجه ګناهګاره یم؟ هغه روژې چې د هغې په مینځ کې ما دوایي خوړلې وه، ایا هغه ماتې شوې؟ که هغه ماتې شوې وي؛ نو د هغو کفاره څه ده؟ یو کرت ما روژې نیولې وې او په مینځ کې مې دوایي نه وه خوړلې؛ نو زه سخته بیماره شوې وم او تر یوې میاشتې پورې مې هسپتال کې ته تلو سره اکسیجن لګاو.

جواب: د روژې په دوران کې په دوایي خوړلو سره روژه ماتیږي،[۱] او د هغې کفاره داده چې روژه دې قضا هم وکړل شي او شپیته روژې دې متواتر پرته له عذر نه ونیول شي او ته یوه روژه هم په ګرانه نیولی شي؛ نو شپیته روژې به څنګه نیسې، ددې په ځای شپیتو مسکینانو ته خوراک ورکړه[۲] اولس روپۍ د یو محتاج خوراک جوړیږي ته اولس روپیو ته په شپیتو کې ضرب ورکولو سره چې څومره پیسې جوړیږي هغه په یو دیني اداره کې جمع کړه.

۲: ستا له پاره روژه نیول مشکل دي، له دې وجې که په رمضان کې کومه روژه نیولی شې؛ نو وې نیسه، د باقي روژو فدیه ادا کړه او فدیه د یوې روژې هم هغه د صدقه فطر برابر اولس روپۍ ده. والله اعلم!

له چت نه د ماشوم په غورځیدو سره د مور حالت خطرناک شو، هغې روژه ماته کړه؛ نو یوازې قضا واجب ده

سوال: مادخیل زوی له پاره چې د دولسو کلونو وو په چت باندې د پتنګ بازي په شوق کې راپریوتی و، هغه د رمضان میاشت وه او زما روژه وه، د سهار څه د نهه نیمو بجو وخت و، چې زما حال خراب شو؛ نو د کور خلکو زما روژه ماته کړه او کله چې زما حال څه ګزاره وکړه؛ نو ما د منبنتې په ډول لس روژې ومنلې، په دې لسو روژو کې مې شپږ روژې دوه دوه نیولې دي د اوس نه درې کلونو مخکې پورې، خو اوس ماته د دمې ناروغي هم ده، بلډ پریشر هم دی او ددې نه پرته نورې ناروغیانې هم دي او د دوایانو نه پرته څو ګنټې هم نه شم پاتې کیدای، ایا زما زوی چې اوس ځوان دی هغه دا روژې نیولی شي؟ یا که کفاره به ادا کول غواړي، زه د رمضان فرض روژې هم نه شم نیولی دومره زما حالت خراب دی.

جواب: کومه روژه چې یې تاسو ماته کړې وه که ستاسو حالت خراب شوی و؛ نو د هغې

---

[۱] اکل او شرب غذاء......او دواء......عمداً.........قضی........ وکفر.....الخ. (الدرالمختار ج:۲ ص۴۰۹، ۴۱۱، کتاب الصوم، باب مایفسد الصوم وما لا یفسده، طبع سعید)

[۲] فیعتق اولاً فان لم یجد صام شهرین متتابعین فان لم یستطع اطعم ستین مسکیناً. (حاشیة ردالمحتار ج۲ ص۴۱۲) اذا اکل متعمداً ما یتغذی به او یتداوٰی یلزمه الکفارة. (فتاوی هندیة، کتاب الصوم، النوع الثانی ما یوجب القضاء والکفارة ج۱ ص۲۰۵، طبع رشیدیة کوئته)

یوازې قضاء واجب ده، کفاره نه[1] خو که ستاسو حالت صحیح و اوبرته له ضرورت نه یې درته روژه ماته کړې وي؛ نو د هغې کفاره هم واجب ده[2] او د کفارې په ډول د دوه میاشتو مسلسل روژې واجب دي او که د هغې طاقت نه وي؛ نو شپېتو مسکینانو ته دې دوه وخته ډوډی ورکړل شي. [3]

د کومو روژو چې تاسو منبنته کړې وه او اوس مو د روژو د نیولو طاقت پاتې نه شو، د هغو فدیه ادا کړئ، د یوې روژې فدیه د صدقة الفطر برابر ده، همدغه شان کومه روژه چې تاسو ماته کړې وه، که تر اوسه پورې مو هغه نه وي نیولې، د هغې فدیه هم ادا کړئ؛[4]

د بلډ پریشر او شوګر مریض که روژې نه شي نیولی؛ نو څه به کوي؟

سوال: زما عمر دا وخت تقریبا د (۷۲) کلونو څخه زیات دی، زه د بلډ پریشر او شوګر مریض یم، خودرمضان روژې به مې برابرې نیولې، کله به د زیات تکلیف له وجې روژې قضاء شوې، د هغو فدیه به مې ورکوله، خو اوس ډیر زیات کمزوری شوی یم، ایا زه د قضا روژو فدیه ورکولی شم؟

جواب: په ظاهر په دومره عمر کې روژې نیول ګرانې دي، له دې وجې تاسو حساب کولو سره چې درنه په ژوند کې څومره روژې پاتې شوې دي د هغو فدیه ادا کړئ او نیت دا ساتئ چې که الله پاک توفیق راکړ؛ نو ان شاء الله دا روژې به نیسم. [5]

---

[1] وفى الظهيرية رضيع مبطون يخاف موته من هذا الدواء وزعم الاطباء ان الظئر اذا شربت دواء كذا برئ الصغير وتماثل وتحتاج الظئر الى ان تشرب ذلك نهاراً فى رمضان قيل لها ذلك اذا قال الاطباء الحذاق وكذلك الرجل اذا لدغته حية فافطربشرب الدواء قالوا ان كان ذلك ينفعه فلا باس به.(البحر الرائق ج۲ ص۳۰۳، فصل فى العوارض)

[2] ومن جامع.........او اكل او شرب ما يتغذى به او يتداوى به فعليه القضاء والكفارة لكمال الجناية بقضاء شهوة الفرج او البطن مثل كفارة الظهار.....الخ. (اللباب فى شرح الكتاب، كتاب الصوم، باب ما يفسد الصوم ج۱ ص۱۵۷، طبع قديمى كتب خانه)

[3] فمن لم يجدفصيام شهرين متتابعين من قبل ان يتمآسّا،فمن لم يستطع فاطعام ستين مسكيناً..الآية (المجادلة:۴)

[4] اذا نذران يصوم كل خميس ياتى عليه فافطرخميسًاواحدًا فعليه قضاؤه ،كذافى المحيط .ولو آخرالقضاء حتى صارشيخافانيًا اوكان النذربصيام الابدفعجز لذالک اوباشتغاله بالمعيشة لكون صناعة شاقة فله ان ينفطر ويطعم لكل يوم مسكينًا على ماتقدم .(الفتاوى الهندية، كتاب الصوم،كتاب الصوم ،الباب السادس فى النذر ج:۱ص:۲۰۹)

[5] ويجوز الفطر لشيخ فان وعجوز فانية سمى فانيا لانه قرب الى الفناء او فنيت قوته وعجز عن الاداء و تلزمها الفدية...لكل يوم نصف صاع من بر او قيمته بشرط دوام عجز الفانى والفانية الى الموت. (مراقى الفلاح على هامش الطحطاوى، كتاب الصوم، فصل فيما يكره للصائم ص:۳۷۶)

❖ د روژې ماتولو کفاره ❖

د روژې ماتونکي په باره کې د کفارې مسائل

سوال: مولاناصاحب! داراته ووایئ چې دقضاروژه په بدله کې یوازې دیوې روژې نیولوحکم دی خودکفارې په صورت کې په شپیتو مسکینانوباندې چې کوم دډوډۍ خوړلوحکم دی ددې په باره کې وضاحت وکړئ چې په شپیتومسکینانوباندې په یوځای دډوډۍ خوړلوحکم دی. یا دیووخت د ډوډۍ حساب لګولوسره هماغومره رقم په شپیتومسکینانوباندې تقسیم کړل شي یابیا د خوراک ورکولوحکم دی مثلا: پنځه روپۍ في کس په حساب سره په شپیتو مسکینانو باندې رقم تقسیم کړل شي؟

جواب: دکفارې مسائل په لاندې ډول دي:

۱ :.....کوم کس چې دروژې نیولوطاقت لري دهغه له پاره دروژې کفاره دوه میاشتې پرله پسې روژې نیول دي، که په مینځ کې ترې یوه روژه پاتې شوه؛ نوپه دویم ځل دنوي سرنه به روژې نیسي.[1]

۲ :.....که دسپوږمۍ دمیاشتې دلومړي تاریخ نه یې روژې نیول شروع کړي وي؛ نودمیاشتې حساب سره دې دوه میاشتې روژې ونیسي، که میاشت د۲۹، ۲۹ وي، یاد ۳۰، ۳۰وي، خوکه دمیاشتې په مینځ کې یې شروع کړې؛ نوشپیته روژې پوره کول ضروري دي.[2]

۳ :.....کوم کس چې په روژو نیولوباندې قدرت نه لري هغه دې په شپیتو مسکینانو باندې د دوو وختوډوډۍ وخوري، یاهرمسکین ته دې دصدقه فطربرابره غله یادهغې قیمت ورکړي.[3]

---

[1] ومن جامع فی احدالسبیلین عامدًا فعلیه القضاء ......والکفارة ......ولواکل اوشرب مایتغذی به او ما یتداوی به فعلیه القضاء والکفارة ..... والکفارة مثل کفارة الظهار لمارویناولحدیث الاعرابی رضی الله عنه وفی البنایة :(ثم قال والکفارة مثل کفارة الظهار)......وهی عتق رقبة فان لم یجدفصیام شهرین متتابعین ،فان لم یستطع فاطعام ستین مسکینًالکل مسکین نصف صاع من براوصاع من تمر......الخ(البنایة فی شرح الهدایة ،کتاب الصوم ج:٤ص:٣٠٠ تا٣٠٨ طبع حقانیة) (ککفارة المظاهرمرتبط بقوله وکفرای مثلهافی الترتیب فیعتق اولا فان لم یجدصام شهرین متتابعین فان لم یستطع اطعم ستین مسکینًا لحدیث الاعرابی المعروف فی الکتب الستة فلوافطرولولعذراستانف الا لعذرالحیض (شامی ج:٢ص:٤١٢،باب مایفسدالصوم ومالایفسده)

[2] اذاصام المظاهر شهرین متتابعین بالاهلة اجزاه وان کان کل شهرتسعة وعشرین یومًا،وان صام بغیرالاهلة ثم الفطرلتمام تسعة وخمسین یومًا فعلیه الاستقبال (عالمگیری ج:١ص:٥١٢،الباب العاشرفی الکفارة)۔

[3] وللشیخ الفانی ......ومثله ......المریض اذاتحقق الیاس من الصحة فعلیه الفدیة لکل یوم من المرض (ج٢ ص٤٢٧) کل من یعجز عن الصوم فی الحال وییئس عنه فی الاستقبال افطر واطعم.......لکل یوم افطرفیه مسکینًا ای مصرفا من المصارف ......کالفطرنصف صاع من بر (جامع الرموزج:٢ص:٣٦٧)۔

۴:.....که دیو رمضان روژې یې څوځله ماتې کړې؛ نوهم یوه کفاره لازمیږي اوکه دجدا جدا رمضانونو روژې یې ماتې کړې وي؛ نودهرې روژې له پاره مستقل کفاره به اداکول کوي.[1]

۵:.....که ښځه خاوند درمضان دمیاشتې دروژې په مینځ کې صحبت وکړي؛ نوپه دواړو باندې جدا جدا کفاره لازمیږي.[2]

د رمضان د روژې په ماتولو باندې کفاره ده، له مسئلې ناخبري هیڅ عذر نه دی

سوال: که موږ ته د یوې مسئلې علم نه وي او مسئله موږ د شریعت خلاف وکړو، کله موږ ته د هغه مسئلې د خلاف شرع کیدو علم وشي؛ نو ایا ماته به د هغه مسئلې (کله چې ماته د مسئلې د خلاف شرع کیدو علم نه و) د خلاف شرع کیدو ګناه وي اوکه نه؟ د مثال په ډول ما د رمضان په روژو کې یوه روژه قصدا ماته کړه او ماته یوازې دومره علم و چې د روژې د ماتولو نه وروسته به په یوه ورځ دا ونیسم، یا دا چې قصدا روژه ماتولو باندې به قضاء روژه نیول وي؛ نو زه به یې وروسته ونیسم، خو ماته دا علم نه شته چې په قصدا روژه ماتولو باندې کفاره ادا کول وي چې هغه شپیته روژې یا ۶۰ مسکینانو ته خوراک ورکول دي، اوس ماته قصدا د روژې د ماتولو نه وروسته د مسئلې علم وشو؛ نو ایا کفاره به ورکوم یا که یوازې د الله پاک نه معافي غوښتل کافي دي؟ اوس ماته د دې مسئلې علم وشو، لهذا اوس به زه کله هم قصدا روژه نه ماتوم.

جواب: د رمضان المبارک روژه قصدا ماتولو سره کفاره لازمه ده او هغه دې شپیته ورځې مسلسل روژې نیول او څوک چې په روژو نیولو باندې قادر نه وي، هغه دې شپیتو مسکینانو ته ډوډۍ ورکړي او چاته د مسئلې علم نه کیدل عذر نه دی،[3] له دې وجې ستاسو په ذمه شپیته روژې مسلسل نیول لازمي دي، اګر که په یخنې کې یې نیسئ![4]

۱] فان الطرفی رمضان مرارًا ان کان فی یوم واحدکفته کفارة واحدة بالاجماع وان کان فی رمضانین لزمه لکل یوم کفارة بالاجماع وان لم یکفرللاول فی الصحیح وان کان فی رمضان واحدفافطرفی یوم ثم فی یوم آخرفان کفرللاول لزمه کفارة للثانی بالاجماع وآن لم یکفرللاول کفته کفارة واحدة عندنا (الجوهرالنیرة ،کتاب الصوم ج:۱ص:۱۴۵،وکذا فی ردالمحتارج:۲ص:۴۱۳،باب مایفسدالصوم ومالایفسده)_

۲] من جامع عمداً فی احدالسبیلین فعلیه القضاء والکفارة ولایشترط الانزال فی المحلین کذافی الهدایة وعلی المراة مثل ماعلی الرجل ان کانت مطاوعة...الخ (عالمگیری ج:۱ص: ۲۰۵،وکذافی الجوهرة ج:۱ص:۱۴۴)

۳] ومن جامع عامدًا فی احدالسبیلین اواکل اوشرب ...... فعلیه القضاء والکفارة لان الجنایة متکاملة لقضاء الشهوة ......والکفارة مثل کفارة الظهار (الجوهرة النیرة ،کتاب الصوم ج:۱ ص:۱۴۳،طبع بمبئ)

۴](والکفارة مثل کفارة الظهار)....... وهی عتق رقبة فان لم یجدفصیام شهرین متتابعین فان لم یجدفاطعام ستین مسکینًا،لکل مسکین لصف صاع من تمر...الخ (البنایة فی شرح الهدایة ج:۴ص:۳۰۸،کتاب الصوم طبع حقانیة)

که چا قصدا درمضان روژه ماته کړه؛ نوقضاوکفاره لازم ده

سوال: مولاناصاحب!که چاقصدا روژه ماته کړه؛ نودهغې کفاره څه ده؟ کفاره به څنګه ادا کيږي؟ مسلسل روژې نيول ضروري دي؟

جواب: درمضان شريف روژې ماتولوباندې قضا لازمه ده اوکفاره هم، د رمضان شريف دروژې ماتولو کفاره داده چې پرلپسې دې دوه مياشتې روژې ونيسي، په مينځ کې وقفه کول درست نه دي، که له څه وجې ديوې ورځې روژه هم پاتې شوه؛ نوپه دويم ځل دې له سرنه شروع وکړي، تردې پورې چې دوه مياشتې پرته له وقفې نه پوره شي اوځوک چې دبوډاوالي ياناروغۍ له وجې په روژونيولوباندې قادرنه وي هغه دې په شپيتومسکينانوباندې ډوډۍ وخوري.[۱]

قصدا خوراک څښاک کولوسره قضاوکفاره دواړه لازميږي

سوال: کوم کس چې درمضان دروژې په دوران کې قصدا څه وخوري وڅښي، ايادهغه روژه ماتيږي؟ اوکه ماتيږي؛ نوپوازې قضابه وي ياکفاره هم؟

جواب: که چادرمضان شريف روژه قصدا ماته کړه، مثلا: قصداخوراک څښاک يې وکړ، يا وظيفه زوجيت يې اداکړ؛ نوپه هغه باندې قضاوکفاره دواړه لازم دي.[۲]

درانجواوتيل لګونکي په دې ګمان چې روژه يې ماته شوه خوراک اوڅښاک کول

سوال: زماروژه وه،اوپه سرمې تيل ولګول،چاراته وويل چې په سر کې تيل لګولوسره روژه ماتيږي،ماخوراک څښاک وکړ،اوس په ماباندې صرف قضاده ياکفاره هم؟

جواب: که چاپه روژه کې سرمه ولګوله يايې سَر غوړ کړ او په دې ګمان چې روژه يې ماته شوه اوڅه خوراک څښاک يې وکړ؛ نوپه دې صورت کې قضاوکفاره دواړه واجبيږي.[۳]

۱] ومن جامع عامدًا فى احدالسبيلين اواكل اوشرب ...... فعليه القضاء والكفارة لان الجناية متكاملة لقضاء الشهوة ......والكفارة مثل كفارة الظهار (الجوهرة النيرة ،كتاب الصوم ج:۱ ص:۱۴۳،طبع بمبئ) (والكفارة مثل كفارة الظهار)..... وهى عتق رقبة فان لم يجدفصيام شهرين متتابعين فان لم يجدفاطعام ستين مسكينًا،لكل مسكين نصف صاع من تمر..الخ (البناية فى شرح الهداية ج:۴ص:۳۰۸،كتاب الصوم طبع حقانية)

۲] من جامع عمدًا فى احدالسبيلين فعليه القضاء والكفارة ......اذا اكل متعمدًا مايتغذى به اويتداوى به يلزمه الكفارة ......الخ (عالمگيرى ج:۱ص:۲۰۵) وايضًا ومن جامع عامدًا فى احدالسبيلين او اكل اوشرب ......فعليه القضاء والكفارة لان الجناية متكاملة لقضاء الشهوة ......الخ (الجوهرة النيرة ج:۱ص:۱۴۳)_

۳] اذا اكتحل او ادهن نفسه اوشاربه ثم اكل متعمدًا فعليه الكفارة الا ....[بقيه حاشيه په راروانه صفحه..

روژه ماتونکی کس به څومره کفاره اداکوي؟

سوال: په ماباندې ددوو روژو ماتولو کفاره وه، چې ماد يوې روژې کفاره اداکړې ده. کومه چې شپیتو مسکینانوته ددوو وختوډوډۍ يافي کس دوه سيره غله ده. اوس پوښتنه داکوم چې ایاد دويمې کفاره به هم دغه شان اداکول وي، هرکله چې ماکفاره تقريباً دیرش کاله پس اداکړې ده اودا غله ماد اوړوپه شکل کې تقسيم کړې ده اوبه دې تقسيم کې راته ډیرمشکلات راپيښ شوي وو، ځکه چې په خيرغوښوتونکي اومسکين کې فرق کول ډیرګران و، ایادغلې په بدله کې ددې قيمت اداکولی شو؟

جواب: درمضان المبارک روژه ماتولوباندې چې کومه کفاره لازمه ده هغه داده چې دوه میاشتې پرله پسې روژې ونیسي، کوم کس چې دروژې طاقت لری دهغه له پاره شپیتو مسکینانو باندې ډوډۍ خوړل کافي نه دي[1]. هو! کوم کس چې دروژې نیولوطاقت نه لري، هغه دې په شپیتو مسکینانوباندې ډوډۍ وخوري، که دواړه روژې دې په يورمضان کې ماتې کړې وي نوددواړوکفاره داشوه اوکه په بيل بيل رمضان کې دې ماتې کړې وي نوددوهمې کفاره لازمه ده[2]. د مسکینانو د لټولو دې خامخا کوشش کولو په ځای ديني مدرسې ته به دې هغومره پيسې ورليږلې وې چې په طالبانوباندې خوړلې شوې وای.

روژه کې په کوروالي کفاره لازميږي

سوال: دیوکس واده وشو او رمضان راغی، د ورځی ښځې خاوندته تخليه ملاوشوه، هغوی کور والی وکړ، اوهمدغه شان يې تقريباً څلور ورځې کوروالی وکړ، صورت مسئوله کې به قضاء او کفاره دواړه وي يا جدا جدا کيدې شي؟ اوس دکفارې په صورت کې هغوی لره ۴x۶۰=۲۴۰ مسکینانوباندې ډوډۍ خوړل وی یاهمدغه شان دروژې په صورت کې به (۲۴۰) روژې نيول وي.؟

جواب: الف:.....قضاروژې چې کله وغواړئ نونیولی یې شئ[3]، مګردکفارې روژې چې کله

...بقيه د تېر مخ]..اذاكان جاهلاً فافتى له بالفطر فلاتلزمه الكفارة هكذا فى فتاوى قاضيخان (الفتاوى الهندية ج:١ص:٢٠٦، وكذالک فى فتح القدير مع الهداية ج:٢ص:٩٦)_

١] ولوقدر على الصوم يبطل حكم الفداء لان شرط الخليفة استمرارالعجز (فتح القدير ج:٢ص:٨٣)_

٢] فان الفطر فى رمضان مرراً ان كان فى يوم واحد كفته كفارة واحدة بالاجماع وان كان فى رمضانين لزمه لكل يوم كفارة بالاجماع وان لم يكفرللاول فى الصحيح (الجوهرة النيرة ج:١ص:١٤٥ شامي ج:٢ص:٤١٣)

٣] ثم اذا كان مخيرًا فى قضاء رمضان فالمتابعة مستحقة مسارعة الى اسقاطه عن ذمته كذا فى السراج الوهاج (عالمگيرى ج:١ص:٢١٥ ،الباب السابع فى الاعتكاف)_

شروع کړئ نوچې مسلسل وي، او که په مینځ کې ئې وقفه راغله نو بیا دنوي سرنه شروع کړئ؛ البته ښځې ته چې دحیض دوجې نه کومه وقفه کول وي، هغه معاف ده.[۱]

ب:.....که دالومړۍ روژې کفاره دې ورکړې نه وي؛ نود ټولوله پاره یوه کفاره کافي ده، مګر شپېټو مسکینانو ته دخوراک ورکولواجازت په دې صورت کې شته چې بنده په روژه نیولوباندې قادرنه وي.[۲]

د روژې په دوران کې که ښځې خاوند صحبت وکړ، نوکفاره په دواړولازمیږي

سوال: دنن نه تقریباً پنځلس کاله وړاندې مونږ ښځه خاوند دروژې په حالت کې وو، چې شیطان راباندې غالب شواومونږ صحبت وکړ، مولاناصاحب! الله تعالی دې زمونږ ګناهونه معاف کړي داسې یوځل نه بلکې درې ځل وشو، دویم ځل د ۹ بجونه مخکې شوي و، مونږ پیشمنی نه پس نیت کړی و، مګرد کوروالي نه مخکې مودانیت وکړچې نن زمونږ روژه نشته، بلکې ماخپلې ښځې ته دې پورې وویل چې ددې نیت کولوباوجودکه ګناه وشي، نودهغې کفاره به زه ورکوم اویوځل دغرمي په وخت کې داسې وشو، هغه دځوانۍ ورځې وې اوزمونږ تنهایي هم وه، اوس داخیال زما او زما دښځې له پاره سوهان روح جوړشوی دی، زه داهم واضحه کوم چې مونږ تراوسه پورې کفاره نه ده ورکړې اوس زۀ ګناهګاراوعاجزبنده تاسونه داپوښتنه کوم چې ددې ګناه کفاره څه ده؟ آیا د دواړو دطرف نه به وی یادیو طرف نه؟ اوڅومره؟ اوددې کفاره څنګه چې مالوستلي دي مسکینانو باندې ډوډۍ خوړل دي؛ نودمسکینانو دنه موندلو په صورت کې ایاهم دومره رقم یاخوراک یتیم خانې ته ورلیږل کیدای شي؟

جواب: په تاسودواړوددې روژوقضاهم لازمه ده اوقصداً روژه ماتولو باندې کفاره هم لازمه ده،[۳] که تاسودواړه دروژونیولوطاقت لرئ نود دواړوپه ذمه پرله پسې شپیته روژې نیول لازم دي.اوکه دروژې طاقت مونه وي نوتاسودواړه په شپېټوشپېټومسکینانوباندې ډوډۍ وخوروئ[۴]، اوکه مسکینان نه وي نومدرسه یایتیم خانه کې رقم جمع کړئ، اوهغوی باندې واضحه کړئ چې دادروژې کفاره ده.

۱] فان لم يجدصام شهرين متتابعين فان لم يستطع اطعم ستين مسكينًا لحديث الاعرابى المعروف فى الكتب الستة فلوافطرولولعذراستانف الا لعذرالحيض (ردالمحتارج:۲ص:۴۱۲،باب مايفسدالصوم ومالايفسده)_

۲] ایضاً تیره شوی حاشیه (ولوقدر على الصوم يبطل حكم الفداء...الخ) او وروسته حاشیه (فان الفطر فى رمضان مرراً ان كان فى يوم واحد...الخ) او ګوری)_

۳] من جامع عمدًا فى احدالسبيلين فعليه القضاء والكفارة ......وعلى المراة مثل ماعلى الرجل ان كانت مطاوعة ......الخ (عالمگیری ص:۲۰۵،النوع الثانى مايوجب القضاء والكفارة)_

۴]وللشيخ الفانى ......ومثله ......المريض اذاتحقق الياس من الصحة ....[بقیه حاشیه په راروانه صفحه.

قصداً روژه ماتونکي با ندې کفاره لازميږي

سوال: که ښځه په پوهه سره (دلوږې تندې له وجې) روژه ماته کړل شي، ددې کفاره څنګه اداکيږي؟

جواب: که يوکس کمزروی وي اودلوږې تندې له وجې دهغه ژوندته خطره لاحق شي؛ نوروژه ماتول ورته جائزدي[1] اوکه داسې حالت نه و اوروژه يې ماته کړه ؛نودهغه په ذمه قضااوکفاره دواړه لازميږي، کفاره داده چې دوه مياشتې پرله پسې روژې ونيسي،اوکه ددې طاقت نه وي؛ نوپه شپيتو مسکينانو باندې دې ددوو وختوډوډۍ وخوري.[2]

د ناروغۍ له وجې که د کفارې روژې په مينځ کې پاتې شي نو پوره روژې به بيا نيول وي

سوال: دچاپه ذمه دکفارې روژې وې، هغه دکفارې روژې شروع کړې، په مينځ کې ناروغ شو، اوس سوال دادی چې بيابه دنوې سرنه دوه مياشتې روژې پوره کول وي؟

جواب: که دناروغۍ له وجې نه دکفارې څه روژې په مينځ کې پاتې شوې؛ نودرغيدونه پس به دنوې سرنه دوه مياشتې روژې پوره کوي، همدغه شان که دښځې دنفاس دوجې نه څه روژې په مينځ کې پاتې شوې نوهغه دې هم دنوې سرنه روژې پوره کړي.[3]

ښځه به د کفارې روژې مسلسلې څنګه نيسي؟

سوال: ما يوه روژه نيولو سره ماته کړه، چې د هغې کفاره په ما باندې مسلسل شپيته روژې نيول دي، پوښتنه داده چې زه دا روژې څنګه ونيسم؟ ځکه چې په مينځ کې د روژو د ماتيدو ويره ده؟

جواب: که روژه مو د رمضان ماته کړې وي؛ نو شپيته روژې مسلسل نيول ضروري دي، که

...بقيه د تير مخ]..فعليه الفدية لكل يوم من المرض (شامی ج:۲ص:۴۲۷،فصل فی العوارض المبيحة)۔

۱] اومريض خاف الزيادة لمرضه وصحيح خاف المرض ......الخ، وفی الشرح :فی القهستانی عن الخزانة مانصه ان الحرالخادم.... وخاف الهلاک فله الافطارکحرة او امة ......الخ (شامی ج:۲ص:۴۲۲،طبع سعيد)

۲] ومن جامع عامدًا فی احدالسبيلين او اكل او شرب ......فعليه القضاء والكفارة لان الجناية متكاملة لقضاء الشهوة (الجوهرة النيرة ج:۱ص:۱۴۳)وفی البناية :(ثم قال والكفارة مثل كفارة الظهار)......وهی عتق رقبة فان لم يجد،فصيام شهرين متتابعين فان لم يستطع فاطعام ستين مسكينًا ،لكل مسكين نصف صاع من براوصاع من تمر......الخ(البناية فی شرح الهداية ،كتاب الصوم ج:۴ص:۳۰۰تا ۳۰۸ طبع حقانية)۔

۳] فان لم يجدصام شهرين متتابعين ......فلو افطر ولولعذراستانف الا لعذرالحيض...... الخ (شامی ج:۲ص:۴۱۲باب مايفسدالصوم ومالايفسده)۔

په مینځ کې یوه هم پاتې شوه نو دوباره یې د نوی سر نه شروع کړئ، تردې چې شپیته روژې پوره شي، او یوه روژه د قضاء هم ونیسئ، خوکه د حیض ورځې په مینځ کې راشي:نو مجبوری ده، دا مسئله خو د رمضان د روژې د ماتولو ده.[۱] او که په عام روژو کې یې یوه روژه ماته کړه نو یوه روژه نیول کافي دي.[۲]

❖ نفل او نذر روژې ❖

د نفلي روژې نیت یې د شپې نه وکړ، خود عذر له وجې یې ونه شوه نیولی

سوال: دنفلی روژې له پاره یې که دشپې نه نیت وکړ،چې زه به سبا روژه نیسموخو دپیشمني له پاره راپورته نه شو یا راپورته شو خو طبیعت یې خراب شو،نوهغه روژه به وروسته نیول وي یانه؟ مطلب دادی که پریږدي نه نوڅه نقصان خونشته؟

جواب: که دشپې یې دانیت کړی و اوویده شوی و چې سهاربه نفلي روژه نیسم؛ نودصبح نه مخکې هغه ته دنیت بدلولو اختیارشته، که دصبح صادق نه یې مخکې سترګې وغړیدې اود روژې نه نیولو اراده یې وکړه ؛نودهغه په ذمه هیڅ نه شته[۳]،خوکه دشپې نه یې دروژې نیت وکړاو ویده شو، بیا دصبح صادق نه پس یې سترګې وغړیدې؛نواوس دهغه روژه شروع شوې ده[۴]،که داماته کړي ،قضاء پرې لازمیږي.[۵]

د نذرد روژو شرعي څه حیثیت دی؟

سوال: دنذر(منښتې) روژې که ونه نیول شي نوڅه نقصان خونشته؟ یا کله چې هغه کار وشي؛

---

[۱] وکفرای مثلها فی الترتیب فیعتق اولا فان لم یجدصام شهرین متتابعین فان لم یستطع اطعم ستین مسکینًا لحدیث الاعرابی المعروف فی الکتب الستة فلو الفطر ولو لعذراستانف الا لعذرالحیض (شامی ج:۲ص:۴۱۲،باب مایفسدالصوم ومالایفسده)

[۲] او افسدصوم غیراداء رمضان بجماع اوغیره لعدم هتک حرمة الشهر......الخ (مراقی الفلاح مع حاشیة الطحطاوی ص:۳۷۰،کتاب الصوم ،طبع میرمحمدکتب خانه)

۳] ولونوی من اللیل ثم رجع عن نیته قبل طلوع الفجرصح رجوعه فی الصیامات کلها کذافی السراج الوهاج (عالمگیری ج:۱ص:۱۹۵،کتاب الصوم ،الباب الاول فی تعریفه)_

۴]ولوقال نویت ان اصوم غدًا ان شاءالله تعالی صحت نیته هو الصحیح کذافی الظهیریة (عالمگیر ج:۱ص:۱۹۵)،ولاتبطل بالمشیئة بل الرجوع عنهابان یعزم لیلاً علی الفطرونیة الصائم الفطرلغو (الدرالمختار مع الردج:۲ص:۳۸۰کتاب الصوم)_

۵] او افسد غیرصوم رمضان ...... قضی ..... فقط ......الخ (الدرالمختارمع الردج:۲ص:۴۰۴)_

نو روژه نیول پکاردي؟ یاچې کله یې هم ونیسي؟

جواب: دنذر(منبنتې) روژې واجب وي،دهغو اداکول لازم وي[۱] اونه اداکول یې ګناه ده،که دمشخصوورځو د روژو نذر یې کړی و، نوبیاخوبېرې هغه معینې ورځې روژې نیول واجب دي، په تاخیر کولو باندې به ګناهګاروي. هغه له په تاخیرکولوباندې استغفارکول پکار دي،مګر تاخیر کولوسره هغه روژې معاف کیږي نه ،بلکې هغومره روژې په نورو ورځوکې نیول واجب دي اوکه ورځې یې مقررې کړې نه وې، مطلقاً داسې یې ویلي و چې: دومره ورځې روژې به نیسم ؛نوچې کله هم یې اداکړي ادابه شي،خو څومره چې بیړه وکړي غوره ده.[۲]

نفلي روژه ماتولوسره یوازې قضا لازمیږي

سوال: که چانفلي روژه ماته کړه نو آیاکفاره به هم لازمیږي؟

جواب: کفاره یوازې درمضان شریف فرض روژه ماتولوباندې لازمیږي، که بله روژه یې ماته کړه نوصرف قضابه واجب شي، کفاره نه لازمیږي .[۳]

که څوک د نذرروژې نه شي نیولی نوڅه وکړي؟

سوال: که چادنذر روژې منلي وي چې فلانی کارمې وشي: نودومره روژې به نیسم، بیاهغه کاروشي،مګرهغه دضعیف العمري له وجې یادسختې ګرمي له وجې هغه روژې ونه نیولی شي نوددې په بدله کې په مسکینانوباندې دوډۍ خوړلی شي؟

جواب: که دګرمي له وجې یې نه شي نیولی نوبه یخنې کې دې ونیسي، دهغه له پاره روژې نیول لازمي دي[۴] اوکه بوډاوالی داسې دی چې په یخنۍ کې هم روژې نه شي نیولی نودهرې روژې په بدله کې دې چامحتاج ته دصدقه فطرپه مقدارکې غله یاقیمت ورکړي.[۵]

۱] وواجب وهو نوعان :معين كالنذرالمعين وغيرمعين كالنذرالمطلق ......الخ (الدر المختار مع الرد ج:۲ص:۳۷۳كتاب الصوم)ـ

۲] وفى الشرح :قوله متتابعًا افاد لزوم التتابع آن صرح به وكذا اذا نواه ما اذا لم يذكره ولم ينوه ان شاء تابع وان شاء فرق وهذا فى المطلق اماصوم شهربعينه اوايام بعينها فيلزمه التابع(شامي ج:۲ص:۴۴۵،فصل فى العوارض المبيحة)

۳] اوافسدغيرصوم رمضان ....قضى فقط(الدرالمختارج: ۲ص:۴۰۴) ،وايضًا :اوافسدصوم غيراداء رمضان بجماع اوغيره لعدم هتک حرمة الشهر(مراقى الفلاح على هامش الطحطاوى ص:۳۷۰،كتاب الصوم)

۴] اذا نذرشيئًا من القربات لزمه الوفاء به لقوله تعالى:وليوفوانذورهم ،وقوله صلى الله عليه وسلم :من نذران يطيع الله فليطعه.....الخ (مراقى الفلاح على هامش الطحطاوى ،باب مايلزم الوفاء به ص:۳۷۸) ولولم يقدرلشدة الزمان كالحرفله ان يفطر وينتظر الشتاء فيقضى كذا فى فتح القدير (فتاوى هندية الباب السادس فى النذر ج۱ ص۲۰۹)ـ

۵] ولو آخر القضاء حتى صار شيخاً فانياً اوكان النذر بصيام الابد....[بقيه حاشيه په راروانه صفحه.

د مجبوري له وجې د نذر روژې پریښودل

سوال: ما د څه کار له پاره نذر منلی و، چې که زما فلانی کار وشو؛ نو شپږ روژې به نیسم، اوس زه هغه روژې نه شم نیولی، ځکه چې زه یوه نوکرپیشه اینجلۍ یم او ډیر د محنت کار کوم، لهٰذا تاسو ماته ووایئ چې د دې به څه کفاره وي؟

جواب: که بنده د بوډاوالي له وجې بې وسه شي او د روژې د نیولو طاقت په کې پاتې نه شي؛ نو بیا د روژې فدیه ورکولی شي، تاسو سره خوځه داسې بې وسي نشته د دې وجې نه ستاپه ذمه شپږ روژې نیول واجب دي، د دومره ورځو رخصتي واخله! ستاله پاره فدیه ورکول کافي نه دي.[۱]

د نذر روژې په بل چا نیول جائز نه دي

سوال: یوکس نذر وکړ چې که زما فلانی کار وشو؛ نو زه به پنځلس روژې نیسم، کله چې هغه کار وشو، هغه کس هغه روژې په خپل کور والو باندې تقسیموي، هر کله چې د نذر منلو په وخت کې هیڅ چا ته د دې ذکر کړې نه و، چې که کار وشو؛ نو ټول کوروالا به روژې نیسو، تاسو د قرآن او حدیث په رڼا کې دا وښایئ چې هغه دا روژې په نورو باندې نیولی شي، که یو ازې دی به یې نیسي؟ هر کله چې نور هم نیولو ته تیار دي.

جواب: دا روژې به په خپله باندې نیسي[۲]، په نورو باندې یې نه شي نیولی، ځکه چې لمونځ روژه خالص بدني عبادتونه دي او کومه وظیفه چې د کوم بدن له پاره تجویز کړل شي، د هغې نفع به خاص د هغې په کولو سره وي، بل باندې کولو سره به هغه خاص نفع هغه بدن ته حاصله نه شي، د دې وجې نه خالص بدني عبادتونه (مثلاً: روژه، لمونځ) کې نیابت جائز نه دی، یعنې دیو په ځای بل کس دا نه شي ادا کولی[۳] او که یو کس د دې بدني عبادتونو له کولو نه عاجز شي؛ نو د دې په بدله کې شریعت فدیه تجویز کړې ده، یعنې د هر لمونځ او روژې په بدله کې د دې د صدقه فطر برابر مقدار چا محتاج ته غله ورکړل شي (واضحه دې وي چې د لمونځ نه

...بقیه د تیر مخ]... فعجز لذلك او باشتغاله بالمعيشة لكون ضاعته شاقة فله ان يفطر ويطعم لكل يوم مسكينًا على ماتقدم ......الخ (الفتاوى العالمگيرية ،الباب السادس فى النذرج: ۱ ص: ۲۰۹ ،وكذا فى الحاشية للطحطاوى على الدرالمختارج: ۱ص: ۴۶۵ ،كتاب الصوم ،طبع مكتبة رشيدية كوئته)_

۱] تیره شوی حاشیه (ومن جامع عامدًا فى احدالسبيلين او اكل او شرب .....الخ) او وروسته حاشیه (اذاصام المظاهر شهرين متتابعين بالاهلة اجزاه....الخ) او ګوری)_

۲] اذا نذرشيئًا من القربات لزمه الوفاء به لقوله تعالى :وليوفوا نذورهم ،ولقوله صلى الله عليه وسلم من نذران يطيع الله فليطعه (مراقى الفلاح ،باب ما يلزمه الوفاء به ص: ۳۷۸)_

۳] وان صام اوصلى عنه الولى لا، لحديث النسائى لايصوم احدعن احد ولايصلى احدعن احدولكن يطعم عنه وليه (الدرالمختارمع الرد ج: ۲ص: ۴۲۵ فصل فى العوارض المبيحة)_

داعاجزکیدوصورت یوازې مرګ سره کیدای شي او د روژې نه عاجز کیدل د بوډا والي له وجې نه هم کیدای شي اوداسې بیماری چې دهغې نه درغیدوامیدنه وي[١]

د نذر روژې نه نیول ګناه ده

سوال: زما یوه خور ده، چې د هغې د واده ډیره موده تیریدو سره هم څه اولاد نه و شوی، په دې وجه هغې نذر کړی و چې زه جوړه هم شم او زما اولاد هم وشي؛ نو زه به د هرې جمعې روژه نیسم، د الله پاک په مهرباني سره هغه جوړه هم شوه او اولاد یې هم وشو، اوس زما د خور درې زامن او دوه لونړه دي، په کور کې د کارونو د ډیر والي له وجې د جمعې د ورځې روژه نه شي نیولی، په دې وجه تاسو ته درخواست دی چې د دې منل شوي نذر څه آسانه کفاره چې زما خور هغه ادا کولو سره د ګناه نه خلاصه شي، زما د خور مالي حالت هم کمزوری دی.

جواب: داسې کول نذر بالکل نه دی پکار چې هغه وروسته پوره کولی نه شي، د کور کارونه خو عذر نه دي چې د هغې د وجې نه روژه و نه نیول شي، په دې وجه د هغې په ذمه روژې نیول لازم دي، خو که داسې کمزورې شي چې د روژې نیولو طاقت یې نه وي؛ نو څنګه چې معذور انسان د رمضان د روژې فدیه ورکوي، هغه دې هم فدیه ورکوي، که د طاقت باوجود هغې د جمعې د ورځې روژې او نه نیولې نو د هغې قضاء د هغې په ذمه واجب ده، او د نه نیولو په وجه به یې چې کومه ګناه وي د هغې له پاره دې د الله پاک نه معافي هم غواړي. [٢]

د جمعې ورځ د روژې له پاره خاص کول

سوال: یو صاحب زموږ ورور ته وویل چې: رسول الله ﷺ به د جمعې په ورځ باندې نفلی روژه نه نیوله او منع یې فرمایله، ما ورسره بحث وکړ چې د عاشورې یا پنځلسم شعبان یا ایام بیض د قمری میاشتې په دیارلسم، څوارلسم او پنځلسم تاریخ باندې یا د عرفې روژه نیسي؛

١] وللشیخ الفاني العاجز عن الصوم الفطر ویفدي وجوباً، (قوله وللشیخ الفاني) وهو الذي کل یوم في نقص الي ان یموت......وانما ابیح له الفطر لأجل الحرج وعذره لیس بعرض الزوال حتي یصار الي القضاء فوجبت الفدیة لکل یوم نصف صاع من بر......کصدقة الفطر، بحر، وافاد القهستاني عن الکرماني ان المریض اذا تحقق الیأس من الصحة فعلیه الفدیة لکل یوم من المرض. (حاشیة الطحطاوي علي الدر المختار/١/ ٤٦٥/ طبع رشیدیه کوئته)_

٢] اذا نذر ان یصوم کل خمیس یأتي علیه فافطر خمیساً واحداً فعلیه قضاؤه کذا في المحیط ولو اخر القضاء حتي صار شیخاً فانیاً او کان النذر بصیام الابد فعجز لذلک او باشتغاله بلمعیشة لکون صناعته شاقة فله ان یفطر ویطعم لکل یوم مسکیناً. (عالمگیري/١/٢٠٩). ومتي قدر قضي لان استمرار العجز شرط الخلفیة (قوله ومتي قدر) اي الفاني ومن في حکمه علي الصوم (قوله لان استمرار لعجز) اي الي الموت....الخ. (حاشیة الطحطاوي علي الدر المختار/١ /٤٦٥/طبع رشیدیه کوئته)

نو آيا چې جمعه راشي؛ نو روژه نه دي نيول پکار؟

جواب: دا صحيح ده چې د جمعې ورځ د روژې له پاره د خاص کولو نه منع راغلې ده،[١] هم په دې وجه فقهاء کرامو د روژې له پاره د جمعې د ورځې مخصوص کولو ته مکروه ويلي دي، خو که د چا له پاره په نورو ورځو کې د مشغولتيا د وجې نه روژه نيول ګران وي؛ نو د اختر نه پس شپږ روژې د جمعې په ورځ هم نيولی شي.

آيا د جمعة المبارک روژه نيول يوازې په رمضان کې جائز ده؟

سوال: د ځينو خلکو وينا ده چې په جمعة المبارک کې روژې يوازې په رمضان کې نيول جائز دي او په عامو حالاتو کې د جمعې په ورځ باندې روژه نيول جائز نه دي، ځکه چې جمعة المبارک د اختر ورځ ده، او د اختر په ورځ روژه نيول حرام دي، دا خبره صحيح ده يا غلطه؟

جواب: د جمعې په ورځ روژه نيول بغير د کراهت نه جائز دي[٢] د جمعې د ورځې د اختر د ورځې کيدو دا معنا نه ده چې په دې باندې د اختر ټول احکام نافذ شو.

آيا يوازې د جُمعې په ورځ روژه نيول صحيح دي؟

سوال: زما يو دوست چې په مذهب کې خاص معلومات لري، هغه ديوې مسئلې په باره کې ويلي و چې کهٔ مونږ دجمعې په ورځ باندې روژه نيول وغواړو؛نوورسره يوه ورځ مخکې يا وروسته يعنې زيارت ياهفتې په ورځ باندې روژه نيول ضروري دي آيا داخبره صحيح ده؟

جواب: په حديث کې دجمعې ورځ دروژې له پاره خاص کولوځخه ممانعت راغلې دی[٣]ددې وجې نه صرف دجمعې دورځې روژه نيول پکارنه دي،البته که يې ونيسي؛ نومخکې وروسته ترې روژې نيول ضروري نه دي.

خاص دجُمعې په ورځ روژه نيول موجب فضيلت نه دی

سوال: نبی اکرمﷺ يوازې دجُمعې دورځې دروژې نه منع فرمايلې ده ،مګرماته په نورو ورځو کې فرصت نه ملاوېږي، ځکه چې په نورو ورځوکې زه دالله تعالی دکارله پاره ځم، نو

---

[١] عن ابي هريرة رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلي الله عليه وسلم : لايصم احدكم يوم الجمعة الا ان يصوم قبله بيوم اوبعده. (سنن ابي داؤد/١/٣٢٩). عن ابي هريرة رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلي الله عليه وسلم: لا تختصوا ليلة الجمعة بقيام من بين الليالي ولا تختصوا يوم الجمعة بصيام من بين الأيام الا ان يكون في صوم يصومه احدكم. رواه مسلم (مشكوٰة/١٧٩)

[٢] وصوم يوم الجمعة بانفراده مستحب عند العامة كالاثنين والخميس. (البحر الرائق/٢/٢٧٨)

[٣] عن ابي هريرة رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: لايصم احدكم يوم الجمعة الا ان يصوم قبله او يصوم بعده. (ترمذي/١/٩٣/طبع دهلي). ومنها: تخصيص ليلة الجمعة دون غيرها وقد ورد النهي عن تخصيص يوم الجمعة بصيام وليلة بقيام. (حلبي كبير/٤٣٣/تتمات من النوافل)۔

روژې سره کمزوری کیږم؛ نوزه یوازې دجُمعې ورځ روژه نیولی شم؟
جواب: یوازې دجمعې روژه نیول مکروه دي،خو تاسوسره بله ورځ د نیولو گنجائش نشته نوځه نقصان یکې شته،روژه نیسئ،مگر خاص داورځ دې دفضیلت والانه گڼل کیږي.[1]

دجُمعة الوداع د روژو ثواب

سوال: درمضان المبارک داخري جُمعې دروژې نیولوثواب زیات ملاویږي یادباقی ورځوپه شان ثواب ملاویږي،ځکه چې په دغه ورځ د روژې نیولوپه خاص طورسره اهتمام کیږي، په دغه ورځ په خصوصیت سره په ماشومانوباندې روژه نیول کیږي، ددې شرعي حیثیت څه دی؟
جواب: درمضان المبارک داخري جُمعې دروژې خصوصي فضیلت ماته معلوم نه دی، کیدای شي چې په دې کې داغلطه نظریه هم کارامد وي چې داخري جُمعې روژه دټول عمردروژوقائم مقام وي مگردامحض جاهلانه تصوردی.[2]

آیا دجُمعة الوداع روژه نیولو سره تیرې روژې معاف کیږي؟

سوال: ځینې خلک وایي چې دجُمعة الوداع روژه نیولوسره تیرې شوې ټولې روژې معاف کیږي،آیا داصحیح ده؟
جواب: بالکل غلطه اودروغ دي،دپوره رمضان روژې نیولوسره هم تیرې روژې نه معاف کیږي بلکه دهغو قضاواجب ده[3].شیطان دا قسمه خیالات دخلکوپه زړونوکې ځکه پیدا کوي چې دوی په فرض پوره کولوکې کوتاهي وکړي، دې خلکوته خودومره سوچ کول پکاردي چې صرف دجُمعة الوداع روژې نیولوسره دټول عمر روژې معاف کیږي؛ نوهرکال درمضان دروژوفرضیت خو.. نعوذبالله....یوه فضول شان خبره شوه.

د جمعة الوداع د روژې حکم هم د نورو روژوپه شان دی

سوال: که یوکس دجُمعة الوداع روژه ونیسي اوسخت ناروغ شي او دهغه له پاره روژه ماتول ضروري شي نوهغه څه وکړي؟ آیا روژه ماته کړي؟ اوکه روژه ماته کړي؛ نودهغې دکفارې له

۱] ایضا، نیز وایضاً وفي الخانیة ولا باس بصوم یوم الجمعة عند ابي حنیفة ومحمد لما روي عن ابن عباس رضی الله عنهما انه کان یصومه ولایفطره. وظاهر الاستشهاد بالاثر ان المراد بلا بأس الاستحباب....الخ. (شامي/۲/۳۷۵)۔

۲] ولاینبغي ان یتکلف لالتزام مالم یکن في الصدر الأول: کل هذا التکلیف لاقامة امر مکروه. (غنیة المتملي شرح منیة المصلي/۴۳۳/طبع سهیل اکیدمي لاهور). وهو......فرض وهو نوعان: معین کصوم رمضان اداء وغیر معین کصومه قضاءً. (الدرالمختار/۲/۳۸۳/ طبع ایچ ایم سعید)۔

۳] المریض اذا خاف علي نفسه التلف او ذهاب عضو یفطر بالاجماع وان خاف زیادة العلة وامتداده فکذالک عندنا وعلیه القضاء اذا افطر کذا في المحیط. (عالمگیري/۱/ ۲۰۷/الباب الثاني في الاعذار التي تبیح الافطار)۔

پاره به څه کول وي؟ که يو کس يوازې دکرمې له وجې قصداً روژه ماته کړي؛ نو دهغې کفاره به دنورو روژو څخه زياته وي؟ يا دهغې برابربه وي؟ صحيح صورت حال نه موخبر کړئ!

جواب: په داسې حالت کې چې روژه ماتول ضروري شي؛ نوروژه دې ماته کړي وروسته دې دهغې قضا ونيسي، دهغې هيڅ کفاره نشته، يوازې قضاواجب ده.[١]

که يو کس قصداً درمضان المبارک روژه ماته کړي؛ نوپه هغه باندې قضااوکفاره دواړه لازم دي[٢] کفاره داده چې پرله پسې دوه مياشتې روژې ونيسي[٣] دجُمعة الوداع دروژې هماغسې حکم دی څنګه چې دنورو ورځو د روژو دی.

د رجب، شعبان او رمضان د روژو نيولو عهد کول

سوال: د رجب، شعبان او رمضان درې واړو مياشتو روژې نيسم نو ماته د چا نه معلومه شوه چې دا روژې حرامې دي، اوس روژې خو نيسم خو په زړه کې مې ويره ده، او عهد مې کړی و چې درې مياشتې به نيسم، او اوريدلې مې دي چې زموږ خوږ نبي ﷺ به هم درې مياشتې روژې نيولې، الله پاک ماته دا طاقت راکړی دی چې زه درې مياشتې روژې ونيولې شم، د روژو د نيولو خاص وجه يو خو دا ده چې زه په هر حال کې ځان تهجد سره عادتوم، که زه د درې مياشتو روژې ونيسم ؛نو د تهجد د لمانځه عادت به مې هم کلک شي، او دغه شان به مې بيا هميشه د تهجد د مانځه له پاره سترګې غړيږي، که دا روژې نيولې کيدای شي، نو څومره ګنتې مخکې روژه بندول پکار دي، هسې خو يې موږ نيمه ګنټه مخکې بندوو.

جواب: که تاسو د رجب، شعبان او د رمضان د روژو نذر کړی وي (لکه چې ستاسو د "عهد کړيو" الفاظو نه معلوميږي) نو ستاسو په ذمه د دې دوه مياشتو مسلسل روژې نيول واجب دي.[٤] د رجب او شعبان د روژو په فضيلت کې هيڅ صحيح حديث نه دی راغلی.[٥] د شعبان

١] وفي الظهيرية رضيع مبطون يخاف موته من هٰذا الدواء وزعم الاطباء ان الظئر اذا شربت دواء كذا يبرئ الصغير وتماثل وتحتاج الظئر الي ان يتشرب ذالک نهاراً في رمضان قيل لها ذالک اذا قال الاطباء الحذاق وكذالک الرجل اذا لدغته حية فافطر بشرب الدواء قالوا ان كان ذالک ينفعه فلا باس به. (البحرالرائق/٢/٣٠٣/فصل في العوارض)۔

٢]ومن جامع عامداً في احد السبيلين او اكل او شرب......فعليه القضاء والكفارة لان الجناية متكاملة......الخ. (الجوهرة النيرة/١/١٤٣/كتاب الصوم/ طبع بمبئ)۔

٣](والكفارة مثل كفارة الظهار)......وهي عتق رقبة، فان لم يجد فصيام شهرين متتابعين فان لم يجد فاطعام ستين مسكينا، لكل مسكين نصف صاع من بر اوصاع من تمر..الخ(البناية في شرح الهداية/٤/٣٠٨/ طبع حقانيه)

٤]اذاقال لله علي صوم شهر لزمه ثلاثون يوماً وتعيين الشهر اليه(عالمگيري/١/٢٠٩/الباب السادس في النذر)

٥] تفصيل دپاره اوګورئ: اللآليئ المصنوعة في الأحاديث الموضوعة. (٢/١١٤ تا ١١٧ طبع دارالفكر بيروت. ايضاً: تنزيه الشريعة المرفوعة/٢/١٥١/ طبع دارالكتب العلمية/بيروت.

د پنځلسم تاریخ د روژې فضیلت راغلی دی،[۱] خو هغه روایت هم کمزوری دی، او د کوم مضمون چې تاسو حواله ورکړې ده په دې کې لیکل شوي اکثر روایات موضوع یا سخت ضعیف دي، د رجب او شعبان روژو سره که د خصوصي فضیلت اعتقاد و نه ساتل شي؛ نو د روژو د نیولو اجازت دی. خو په یو حدیث کې دي چې د شعبان د نیمای نه وروسته روژه نه دي نیول پکار،[۲] (مشکاة)

د دې حدیث په بناء باندې بعض اهل علم د شعبان د نصف نه پس روژو نیولو ته مطلقا ممنوع ویلي دي، او ځینو دا ممانعت په شفقت او مهرباني باندې محمول کړی دی، چې د رمضان المبارک له پاره یې طاقت په خپل حال وي.[۳]

د رجب او د شعبان د روژو شرعي حیثیت

سوال: زه ستاسو کالم "ستاسو مسائل" هره جمعه مطالعه کوم د جمعې په ورځ (۸) فروري باندې یو مسئله راغلې وه، د روژې فضیلت، دا داسې شروع کړل شوه : د رجب، شعبان او رمضان درې میاشتو روژې نیسم نو د چا نه معلومه شوه چې داسې روژې نبول حرام دي، نه خو تاسو دا وضاحت وکړ چې محترم رمضان المبارک سره یوځای لیکلو باندې غلطې کړې ده، ځکه چې د حرام لفظ خو ډیره لویه ګناه ده،دهغه میاشتې له پاره چې دهغې فضیلت او زینت پخپله د هغې روژې دی،په هرحال کیدای شي چې د غلطي له وجې نه داسې لیکل شوې وي،زما اصل مسئله بله ده، تاسو په جواب کې لیکلي دی چې د رجب او شعبان په روژو کې هیڅ حدیث نه دی راغلې، او د دې د فضیلت اعتقاد که و نه ساتل شي؛نودروژې نیولو اجازت دې، په (۱۸) جنوری په جنګ اخبار کې ستاسو د کالم سره سره د جناب اقبال احمد اختري قادري صاحب مضمون هم و، چې په هغه کې هغوی د مختلفو احادیثو په حوالې سره د رجب المرجب فضیلت بیان کړی و، خاص طور د روژې د نیولو،تاسوپه وضاحت سره جواب ولیکئ چې زموږ په شان خلک چې یوازې د علماء کرامو مضامین لوستلوسره استفاده کوي. هغوی به ستاسوپه جواباتوسره په ذهني اضطراب کې اخته کیږي. ما روژې نیول خو پریښي دي،تاسوبلې جمعې ته جواب ولیکئ چې څه صحیح دي او څه غلط؟

---

[۱] عن علي رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم؛ ان كانت ليلة النصف من شعبان فقوموا ليلها وصوموا يومها.....الخ. (مشكوٰة/ ۱۱۵/ابن ماجة/۱۰۰/باب ماجاء في صلاة التسبيح/طبع مير محمد كتب خانه).

[۲] عن ابي هريرة رضى الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: اذا انتصف شعبان فلا تصوموا. (مشكوٰة/۱/ ۱۷۴). وفي المرقاة شرح المشكوٰة: (فلاتصوموا) اي بلا انضمام شيء من النصف الاول........وفي رواية: فلا يصام......والنهي للتنزيه رحمة علي الأمة ان يضعفوا عن حق القيام بصيام رمضان علي وجه النشاط......الخ. (مرقاة شرح مشكوٰة/۲/۵۰۵/طبع بمبئي)

[۳] ايضاً_

جواب: د رمضان المبارک په روژو باندې خو هر مسلمان پوهيږي، د سائل مقصد د رمضان نه مخکې د رجب او د شعبان د روژو په باره کې پوښتنه کول و.

۲: تاسو چې کوم سوال اوچت کړی دی، که تاسو په غور سره لوستلې وې نو د هغې جواب زما په ذکر کړې مسئله کې مخکې راغلی و، ما ليکلي وو:

" د کوم مضمون چې تاسو حواله ورکړې ده، په هغې کې ليکل شوي اکثر روايات ډير سخت ضعيف دی." دا فقره راقم الحروف د هغو احاديثو د مفصل جانچ پړتال نه وروسته ليکلې وه. ستاسو دا خبره ډيره صحيح ده چې د اهل علم مختلف جوابات لوستلو سره ذهني اضطراب پيدا کيږي، د دې اضطراب حل دا دی چې تاسو ته د کوم عالم په تحقيق باندې اعتماد وی، هم د هغه مطابق دې عمل وکړل شي. د فضائلو په باب کې خلکو د ترغيب او ترهيب په غرض باندې ډير روايات وضع کړي دي، د هغو نه ډير دځينو بزرګانو په کتابونو کې هم نقل شوي دي، په اهل علم فرض ده چې يو څيز رسول الله ﷺ ته په منسوب کولو کې د احتياط نه کار واخلي، که يو روايت د ځانه جوړ شوی وي، يا سخت کمزوری وي، هغه دې ذکر نه کړل شي، ځکه چې د رسول الله ﷺ طرف ته داسې خبره منسوبول کومه چې رسول الله ﷺ نه وي فرمايلې، ډيره سخته ګناه ده.[1]

د رمضان د روژو قضاء د نهم لسم محرم د نفلي روژو سره يوځای نيول

سوال: آيا د رمضان د روژې قضاء د نهم اولسم محرم د نفلي روژوسره په يونيت باندې کيدای شي؟

جواب: د رمضان د قضاء نيت وکړئ، دوه نيتونه جمع کول صحيح نه دي.[2]

رسول الله ﷺ له وحي پرته د عاشورا روژه ولې و نيوه؟

سوال: محترم (مولوی صاحب) چونکې زه هم د مطالعې ډير شوق لرم په دې وجه زما په ذهن کې څو سوالات پيدا شوي دی، چې د هغو جوابات ستاسو نه غواړم.

اول سوال: دا دی چې په قرآن کريم کې الله پاک فرمايي چې زما نبي زما د وحې نه پرته خبره نه

---

[1] عن عبدالله بن عمرو رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلي الله عليه وسلم: بلغوا عني ولو آية، وحدثوا عن بني اسرائيل ولا حرج، ومن كذب علي متعمداً فليتبوأ مقعده من النار. رواه البخاري. (مشكوٰة /۳۲/كتاب العلم/الفصل الاول).

[2] ومتي نوی شيئين مكتلفين متساويين في الوكادة والفريضة ولا رجحان لاحدهما علي الآخر بطلا ومتي ترجح احدهما علي الآخر ثبت الراجح كذا في محيط السرخسي. واذا نوي قضاء بعض رمضان والتطوع يقع عن رمضان في قول ابي يوسف رحمه الله تعالي وهو رواية عن ابي حنيفة رحمه الله تعالي كذا في الذخيرة. (عالمگيري/۱/۱۹٦، ۱۹۷)

کوي، تاسو بیان کړئ چې رسالة "یوم عاشورا د تاریخ په آینه کې" شائع کرده صدیقی ټرسټ کراچی په صفحه ۲ او ۳ باندې لیکل شوي دي چې: سیدنا ابن عباس رضي الله عنهما فرمايي چې رسول الله ﷺ چې کله مدینې منورې ته تشریف راوړ؛ نو یهودو به د عاشورا د ورځې روژه نیوله، رسول الله ﷺ د هغوی نه تپوس وکړ چې: تاسو روژه ولې نیسئ؟ نو هغوی وویل چې زموږ له پاره ډیره د خوشحالۍ ورځ ده، سیدنا موسی علیه السلام او د هغوی قوم ته خلاصی ملاؤ شو، او فرعون غرق شوی و، نو سیدنا موسی علیه السلام د شکرانې روژه نیولې وه په دې وجه مونږ خلک هم روژه نیسو، نو په دې اوریدو باندې رسول الله ﷺ وفرمایل چې بیا خو مونږ ستاسو په نسبت د سیدنا موسی علیه السلام د قرب زیات مستحق یو. لهذا رسول الله ﷺ روژه نیول شروع کړل او نورو ته یې هم د روژې د نیولو حکم وکړ. زه تاسو نه تپوس کوم چې رسول الله ﷺ چې د هغه له پاره دنیا جوړه وه د سیدنا موسی علیه السلام د واقعې نه (الله پاک دې معافي وکړي) بې خبر و چې یهودو هغه خبر کړ او دویمه دا چې آیا په رسول الله ﷺ باندې هغه وخت وحی نازل شوې وه چې ته هم روژه ونیسه او نورو ته هم حکم وکړه، چې هر کله رسول الله ﷺ بغیر د وحی نه خبرې نه کولې، قرآن ګواه دی؛ نو بیا رسول الله ﷺ داسې ولې وکړل؟ تاسو بیان کړئ بلکه ثبوت راکړئ چې وحی راغلې وه او که نه وه نازل شوې نو رسول الله ﷺ دا واقعه د کوم ځای نه رانقل کړه؟ یا خو د قرآن کریم نه جواب راکړئ او یا د حدیث قدسی نه، ستاسو به ډیره مهرباني وي.

جواب: په دې کې دوه اشکالات ذکر شوي دي، یو دا چې د سیدنا موسی علیه السلام د واقعې رسول الله ﷺ ته مخکې نه علم ولې نه و؟ ماته نه ده معلومه چې دا څه اشکال دی؟ په قرآن کریم کې دي: تاسو نه پوهیدلئ چې کتاب څه دې او ایمان څه دی؟[1] که د کتاب او ایمان تفصیلات د وحی نه مخکې نه معلومیدل څه عیب نه دي، نو د یوې تاریخي واقعې د خبر ورکولو نه مخکې نه معلومیدل ولې عیب شو؟ او که دا عیب دی؛ نو هغه ولې عیب نه دی؟

دویم اشکال دا دی چې بغیر د وحي نه رسول الله ﷺ روژه څنګه شروع کړه؟ د دې جواب دا دی چې په قرآن کریم کې رسول الله ﷺ ته د مخکې انبیاء کرامو علیهم السلام د امور خیر د اقتداء حکم ورکړل شوی دی.[2] تر هغه وخته پورې چې د الله پاک په وحی کولو سره د هغې نه منع نه وکړل شي، په دې وجه د رسول الله ﷺ د موسی علیه السلام په موافقت کې د عاشورا روژه اختیارول د هغه آیت کریمه د لاندې وو او د دې له پاره د نوې وحي ضرورت نه و، نه د دې د ثبوت پیش کولو حاجت. او که دا کار د الله پاک په نزد غوره نه وي، نو رسول الله ﷺ به یې د دې نه منع کړی و.

والله اعلم!

---

[1] وکذالک او حینا الیک روحا من امرنا ماکنت تدري ماالکتب ولا الایمان ولکن جعلنه نورا نهدي به من ناء من عبدنا. (الشوري/۵۲)

[2] اولئک الذین هدي الله فبهدهم اقتده. (الانعام/۹۰)

❖ داعتكاف مسائل ❖

....

داعتكاف مختلف مسائل

سوال: اعتكاف ولې كيږي؟ او طريقه يې څه ده؟

جواب: درمضان په آخري لسوورځوكې په جوماتونوكې اعتكاف كول ډيرلوى عبادت دى.ام المومنين حضرت عائشه رضي الله عنها فرمايي چې: حضور ﷺ به هركال درمضان په آخري لسوورځوكې اعتكاف كولو (بخارى ومسلم)[1]

ددې وجې نه كه الله تعالى توفيق وركړى نوهرمسلمان ته ددې سنت دبركتونونه فائده اوچتول پكاردي،جوماتونه دالله تعالى كورونه دي اودكريم مالک په دركې دسوال په شان كېناستل ډيرلوى سعادت دى،دلته داعتكاف څومسائل ليكلې كيږي مزيد مسائل دعلماء كرامو نه معلوميداى شي:

۱:.....درمضان المبارک د آخري عشرې اعتكاف كول سنت كفايه ده،كه دمحلې څه كسان داسنت اداكړي؛ نودجومات حق چې په محله والوباندې لازم دى به ادا شي اوكه جومات خالي وي او هيڅ يوكس اعتكاف ونه كړي؛ نوټول محلى والا به لائق عتاب وي،او دجومات د اعتكاف نه پرته پاتې كيدو وبال به پوره محله باندې وي.[2]

۲:.....په كوم جومات كې پنځه وخته دجمعې لمونځ اداكيږي په هغه كې داعتكاف له پاره كېناستل پكاردي اوكه جومات داسې وي چې په هغه كې پنځه وخته دجمعې لمونځ نه ادا كيږي نوپه هغې كې دپنځه وخته جمعې سره دمونځ كولوانتظام كول په محله والوباندې لازم دى[3]

۱] عن عائشة ان النبي صلى الله عليه وسلم كان يعتكف العشر الآواخر من رمضان حتي توفاه الله ثم اعتكف ازواجه من بعده. متفق عليه. (مشكوة/۱/ ۱۸۳/باب الاعتكاف/الفصل الاول/طبع قديمي)۔

۲] وسنة مؤكدة في العشر الأخير من رمضان اي سنة كفاية كما في البرهان وغيره.....الخ. وفي الشرح: نظيرها اقامة التراويح بالجماعة فاذا قام بها البعض سقط الطلب عن الباقين.....الخ. (شامي/۲/۴۴۲/باب الاعتكاف/وايضاً في الفتاوي الهندية/كتاب الصوم/الباب السابع في الاعتكاف/۱/۲۱۱/طبع رشيديه/كوئته)۔

۳] هو...لبث...ذكر ولومميزا في مسجدجماعة هو ماله امام ومؤذن اديت فيه الخمس او لا وعن الامام اشتراط اداء الخمس فيه وصححه بعضهم....الخ. (قوله في مسجد جماعة) انما شرط لقول حذيفة لا اعتكاف الا في مسجد جماعة...الخ. وينبغي ان لايصح مسجد الحياض ومسجد قوارع الطريق وينبغي ان يضح في مصلي العيد والجنازة.......الخ. (حاشية الطحطاوي مع الدرالمختار/باب الاعتكاف/۱/۴۷۲، ۴۷۳/ وايضاً هداية مع فتح القدير/۲/ ۱۰۹/ باب الاعتكاف/وايضاً في العالمگيري/۱/ ۲۱۱/كتاب الصوم/ الباب السابع في الاعتكاف)

۳:.....ښځه دې په کورکې دلمونځ له پاره يوځای مقررکړي اوهلته دې په اعتکاف کې کېني، نوهغې ته به په جومات کې اعتکاف کې د ناستې ثواب ملاوشي.[۱]

۴:.....په اعتکاف کې دقرآن پاک تلاوت،درودشريف، ذکر او تسبيح، ديني علم زده کول او نورو ته ښودل،دانبياء کرام عليهم السلام ،صحابه کرامو او بزرګانو دين حالات لوستل او اوريدل خپل معمول جوړول پکاردي،بې ضرورته خبرو نه دې ځان ساتي.[۲]

۵:.....اعتکاف کې بې ضرورته داعتکاف دځای نه ووتل جائزنه دي،ګني اعتکاف به يې مات شي[۳]،واضحه دې وي چې داعتکاف دځای نه مراد پوره جومات دی په کوم کې اعتکاف وکړل شی خاص ځای ترې مراد نه دی چې په جومات کې د اعتکاف د پاره خاص کيږي.

۶:.....متيازواوغسل جنابت له پاره دجومات نه بهرتګ جائزدی،همدغه شان که دکورنه څوک ډوډۍ راوړلووالا نه وي؛ نو ډوډۍ خوړلوله پاره کورته تګ هم جائزدی.[۴]

۷:...په کوم جومات کې چې اعتکاف کوي که هلته دجمعې لمونځ نه کيږي؛ نودجُمعې دلمونځ له پاره جامع مسجدته تلل هم درست دي، مګرپه داسې وخت کې لاړشي چې هلته تحية المسجد او سنت وکړل شي اودجمعې دمانځه نه فارغ شی نوفوراً دخپل اعتکاف واله جومات ته واپس راشي.[۵]

۸:......که په هيره سره دخپل اعتکاف دجومات نه ووت ؛نواعتکاف مات شو.[۶]

۹:.....په اعتکاف کې بې ضرورته په دنياوی کارکې مشغوليدل مکروه تحريمي دي.مثلاً: بې ضرورته خريدوفروخت کول،اوکه څوک غريب سړی دې چې په کورکې يې دخوراک څه نشته

۱] والمرأة تعتكف في مسجد بيتها اذا اعتكفت في مسجد بيتها فتلك البقعة في حقها كمسجد الجماعة في حق الرجل لاتخرج منه الا لحاجة الانسان كذا في شرح المبسوط للامام السرخسي. (عالمگيري/١/٢١١/كتاب الصوم/ الباب السابع في الاعتكاف. وايضاً حاشية الطحطاوي علي الدرالمختار/١/٤٧٣/باب الاعتكاف)۔

٢] ويلازم التلاوة والحديث والعلم وتدريسه وسير النبي صلى الله عليه وسلم والانبياء عليهم السلام واخبار الصالحين وكتابة امور الدين كذا في فتح القدير. (عالمگيري/١/٢١٢. ايضاً فتح القدير/٢/١١٢)۔

٣]فلو خرج ولو ناسياً ساعة.......بلا عذر فسد.......الخ. (الدرالمختار مع الرد/٢/٤٤٧). وايضاً: ولو خرج من المسجد ساعة بغير عذر فسد اعتكافه عند ابي حنيفة لوجود المنافي. (هداية مع فتح القدير/٢/١١٠)

٤] وحرم عليه اي علي المعتكف.......الخروج الا لحاجة الانسان طبيعية كبول وغائط وغسل لواحتلم ولا يمكنه الاغتسال في المسجد. (الدرالمختار مع الرد/٢/٤٤٥/ باب الاعتكاف/وايضاً حاشية طحطاوي علي الدرالمختار /١/٤٧٤/باب الاعتكاف/طبع رشيديه)۔

٥] ويخرج للجمعة حين تزول الشمس......يخرج في وقت يمكنه ان يأتي الجامع فيصلي اربع ركعات قبل الاذان عند المنبر وبعد الجمعة يمكث بقدر مايصلي اربع ركعات اوستا علي حسب اختلافهم في سنة الجمعة كذا في الكافي. (عالمگيري/١/٢١٢. وايضاً فتح القدير/٢/١١٠، حاشية لطحطاوي علي الدر/١/ ٤٧٥)۔

٦]فلو خرج ولو ناسياً ساعة.......بلا عذر فسد.......الخ. (الدرالمختار مع الرد/٢/٤٤٧). وايضاً: ولو خرج من المسجد ساعة بغير عذر فسد اعتكافه عند ابي حنيفة لوجود المنافي. (هداية مع فتح القدير/٢/١١٠)

نوهغه په اعتکاف کې هم اخيستل خرڅول کولی شي ، مګر داخيستلو خرڅولو سامان جومات ته راوړل جائزنه دي.[۱]

۱۰ :.....داعتكاف په حالت کې بالکل چپ کېناستل درست نه دي.هو!که ذکراوتلاوت کولو باندې ستړى شي؛ نود آرام په نيت سره چپ کېناستل جائزدي.[۲]

ځينې خلک داعتكاف په حالت کې بالکل خبرې نه کوي،بلکې مخ سر راونغاړي اودې چپ پاتې کيدوته عبادت وايي داغلطه ده،دښو خبرو کولواجازت شته،هو!بدې خبرې دې دخولې نه نه اباسي،همدغه شان بې ضرورته اوفضول خبرې دې نه کوي،بلکې په ذکراو عبادت اوتلاوت کې دې خپل وخت تيروي،خلاصه داده چې چپ کېناستل عبادت نه دی.

۱۱ :.....درمضان المبارک لس ورځې اعتکاف پوره کول ضروري دي. چې دشلم تاريخ دلمر پريوتلونه مخکې جومات ته دې اعتکاف په نيت سره داخل شي ځکه چې دشلم تاريخ لمر پريوتو سره آخري عشره شروع شي، که دلمرپريوتلونه وروسته يې يوڅولمحې هم اعتكاف دنيت نه بغيرتيرې شوې نواعتكاف به مسنون نه وي.[۳]

۱۲ :.....داعتكاف له پاره روژه شرط ده،پس که خدای مه کړه دچا روژه ماته شوه، نواعتكاف مسنون يې مات شو.[۴]

۱۳ :.....دمعتکف دچابيمارپرسي(عيادت) له پاره دجومات نه وتل درست نه دي[۵].هو! که دخپل څه ضرورت له پاره دجومات نه وتلې و اوپه تلوتلو کې يې بيمارپرسي هم وکړه ؛نوصحيح ده مګرهلته دې ايساريږي نه.[۶]

۱] وخص المعتكف......عقد احتاج اليه لنفسه اوعياله فلو لتجارة كره كبيع......فلو خرج لاجلها فسد لعدم الضرورة وكره اي تحريماً........احضار مبيع فيه كما كره فيه مبايعة غير المعتكف.......الخ. (الدر المختار مع الرد/۲/۴۴۸، ۴۴۹/باب الاعتكاف، وايضاً حاشية طحطاوي علي الدر/۱/۴۷۶/طبع رشيديه)_

۲] قال ولا يتكلم الا بخير ويكره له الصمت لان صوم الصمت ليس بقربة في شريعتنا لكنه يتجانب مايكون مأثما (قوله ويكره له الصمت) اي الصمت بالكلية تعبداً فانه ليس في شريعتنا.....الخ. (فتح القدير مع الهداية/۲/۱۱۲، وايضاً (فتاوي شامي/۲/۴۴۹/باب الاعتكاف)_

۳] واعلم ان الليالي تابعة للايام اي كل ليلة تتبع اليوم الذي بعدها.......فعلي هذا اذا ذكر المثني اوالمجموع يدخل المسجد قبل الغروب، ويخرج بعد الغروب من آخر يوم. (شامي/۲/۴۵۲/باب الاعتكاف)_

۴] (واما شروطه)........ومنها الصوم وهو شرط الواجب منه رواية واحدة. (فتاوي عالمگيري/الباب السابع في الاعتكاف/۱/۲۱۱/ طبع رشيديه كولته)_

۵]عنها اي عائشة قالت: السنة علي المعتكف ان لا يعود مريضاً. (مشكوٰة/۱/۱۸۳). وايضاً ولا يخرج لعيادة المريض كذا في البحرالرائق. (عالمگيري/ باب الاعتكاف واما مفسداته/۱/۲۱۲)_

۶] لو خرج لحاجة الانسان ثم ذهب لعيادة المريض او لصلاة الجنازة من غير ان يكون لذلک قصد فانه جائز......الخ. (البحرالرائق/۲/۳۲۶/ باب الاعتكاف/طبع بيروت)_

۱۴:......درمضان المبارک آخری عشرې اعتکاف کول خوسنت دی، هسې مستحب دادی چې بنده جومات ته لاړشي نوچې څومره وخت پورې په جومات کې وي؛ نوداعتکاف نیت دې وکړي.[۱]

۱۵:......داعتکاف نیت په زړه کې کول کافي دی خوکه په ژبې سره یې هم ووایي نوبهتره ده.[۲]

داعتکاف درې قسمه دی او د نیت الفاظ په ژبې ویل ضروري نه دی

سوال: اوس درمضان میاشت ده،زه به آخري لس ورځی په اعتکاف کې کېنم،پوښتنه داده چې: ۱:داعتکاف نیت څنګه کول پکار دي؟ ۲:داعتکاف څوقسمونه وي؟
۳: که داعتکاف نیت وکړي او جومات ته لاړشي اوکه دمتیازو ضرورت وي نودحاجت پوره کیدونه پس دوباره نیت کول پکاردي یانه؟

جواب: ۱:داعتکاف نیت دادی چې بنده داعتکاف په نیت سره جومات ته داخل شي،اوکه په ژبې سره هم ووایي مثلاً:زهٔ دلسو ورځو د اعتکاف نیت کوم نوبهتره ده.
۲: درمضان المبارک داخری عشرې اعتکاف کول سنت دي،دباقی ورځواعتکاف نفل دی، اوکه دځو ورځو د اعتکاف نذر یې کړی و؛ نوهغه اعتکاف واجب دی.
نو د اعتکاف درې قسمونه دي: واجب ، سنت اونفل.[۳]
۳:که درمضان المبارک دآخري لسوورځواعتکاف یې کړی وي؛ نویوځل نیت کول کافي دي اودخپل ضروري حاجات نه فارغ شي او جومات ته راشي؛ نودوباره نیت کول ضروري نه دي.

دآخري عشرې نه پرته اعتکاف مستحب دې

سوال: رمضان مبارک کې داعتکاف له پاره آخری عشره خاص ده،آیادلسم رمضان هم اعتکاف کیدای شي، حضورﷺغالباًپه لسم هجري کې دلسم رمضان نه اعتکاف کړی و.

جواب: درمضان المبارک د آخري عشرې اعتکاف کول سنت موکده علی الکفایه دي[۴].او

۱] وسنة مؤكدة في العشر الأخير من رمضان........واقله نفلا ساعة من ليل او نهار عند محمد وهو ظاهر الرواية. (الدرالمختار مع الرد/۲/۴۴۲، ۴۴۳/باب الاعتكاف/طبع سعيد)_

۲] والنية معرفته بقلبه ان يصوم........والسنة ان يتلفظ بها كذا في النهر الفائق. (عالمگيري/۱/ ۱۹۵)_

۳] وينقسم الي واجب وهو المنذور تنجيزاً او تعليقاً والي سنة مؤكدة وهو في العشر الاخير من رمضان والي مستحب وهو ماسواهما هكذا في فتح القدير.(عالمگيري/۱/۲۱۱/ كتاب الصوم/ الباب السابع في الاعتكاف)

۴]وسنة مؤكدة في العشر الاخير من رمضان اي سنة كفاية كما في البرهان وغيره لاقترانها بعدم الانكار علي من لم يفعله من الصحابة، (قوله اي سنة كفاية) اذا قام بها البعض ولو فرد اسقطت عن الباقين ولم يتركه صلي الله عليه وسلم الا لعذر. (حاشية الطحطاوي مع الدرالمختار/ باب الاعتكاف/۱/۴۷۳، وايضاً في الشامية/۲/۴۴۲/ والهندية/۱/۲۱۱/ كتاب الصوم/الباب السابع في الاعتكاف/طبع رشيديه)

حضور ﷺ ددې فضائل بيان کړي دي[1] البته که يو کس د ټول رمضان المبارک اعتکاف وکړي؛ نو دا اعتکاف مستحب دی،[2] بلکې په غير رمضان کې هم دروژې سره نفلي اعتکاف کيدای شي[3] حضور ﷺ په نهمه هجري کې داخري عشرې اعتکاف نه وکړی، لهٰذي وجې يې په لسمه هجري کې دشلو ورځو اعتکاف وکړ.[4]

اعتکاف له پاره هر مسلمان کېناستی شي

سوال: داعتکاف له پاره هر کس په جومات کې کېناستی شي يا يوازې بزرګ؟

جواب: اعتکاف ته هر مسلمان کېناستی شي[5] خو که نيک او عبادت ګزار خلک اعتکاف وکړي نو د اعتکاف حق زيات اداکيږي.

د کوم عمر خلکو له اعتکاف کول پکار دي؟

سوال: عام تاثر دادی چې پوخ عمري او بوډاګانو کېناستل پکار دي په دې خيال کې تر کوم حده پورې صداقت دی؟

جواب: اعتکاف ته بوډاګان او ځوانان دواړه کېناستلی شي،چونکې بوډاګانو ته دعبادت ضرورت زيات محسوسيږي، ددې وجې نه مشران ددې زيات اهتمام کوي او کول يې هم پکار دي.[6]

١]وعن ابن عباس رضى الله عنهما ان رسول الله صلى الله عليه وسلم قال في المعتكف هو يعتكف الذنوب ويجزي له من الحسنات كعامل الحسنات كلها.رواه ابن ماجة.(مشكوٰة/ باب الاعتكاف/١٨٣/١/الفصل الاول/طبع قديمي)

٢]الحق ان يقال: الاعتكاف ينقسم الي واجب.......والي مستحب وهو ماسواهما......الخ. (فتح القدير/باب الاعتكاف/١٠٦/٢، وايضاً في الهندية/باب الاعتكاف/٢١١/١). وايضاً ومستحب في غيره من الأزمنة (قوله في غيره) اي غير المذكور من الواجب والمسنون. (حاشية طحطاوي مع الدر المختار/٤٧٣/١)۔

٣]قال رحمه الله: الاعتكاف مستحب يعني في سائرالزمان.........وهو اللبث في المسجد.........مع الصوم ونية الاعتكاف واما الصوم فشرط والصوم شرط لصحة الواجب رواية واحدة لصحة التطوع فيما روي الحسن عن ابي حنيفة لقوله عليه السلام لا اعتكاف الا بصوم فعلي هٰذه الرواية لايكون اقل من يوم. (الجوهرة النيرة/باب الاعتكاف/١٤٩/١، ١٥٠)۔

٤] عن انس رضي الله عنه قال: كان النبي صلى الله عليه وسلم يعتكف في العشر الأواخر من رمضان فلم يعتكف عاماً فلما كان العام المقبل اعتكف عشرين.رواه الترمذي (مشكوٰة/١٨٣/باب الاعتكاف/الفصل الاول/ طبع قديمي)

٥]وشرعاً اللبث في المسجد مع نيته فالركن هواللبث والكون في المسجد والنية......ومنها الاسلام والعقل ....واما البلوغ فليس بشرط حتي يصح اعتكاف الصبي العاقل........الخ. (البحر الرائق/٣٢٢/٢)۔

٦] ايضاً۔

معتکف د تقریر له پاره بل مسجد ته تلل

سوال: آیا معتکف د یو مسجد نه بل مسجد ته د تقریر له پاره تلی شي، حال دا چې هغه په خپل دلیل کې وایي چې دا تقریر کول د اعتکاف نه افضل دي؟

جواب: که خپل مسجد پرېږدي او بل مسجد ته لاړ شي؛ نو اعتکاف به یې ختم شي.[۱]

که معتکفه ښځه د مجبوري له وجې په نهمه ورځ پاڅي؛ نو قضاء به څنګه راوړي؟

سوال: زما مور د نن نه څلور پنځه کاله مخکې په خپل کور کې په اعتکاف کې ناسته وه، د مجبوري له وجې په نهمه ورځ پاڅیده، د هغې قضاء به څنګه کوي؟

جواب: د قضاء کولو ضرورت نشته، که کول یې غواړي؛ نو د روژې سره دې د یوې شپې او ورځې اعتکاف وکړي.[۲]

د اعتکاف په دوران د ښځو د حیض ورځې شروع کېدل

سوال: که د اعتکاف په دوران کې د ښځو خاصې(دحیض) ورځې شروع شي؛ نو په دې صورت کې هغوی ته څه کول پکار دي؟

جواب: اعتکاف به یې ختم شي، ی بهر دې راشي.[۳]

واده او ناواده دواړه قسمه ښځې اعتکاف ته کیناستلی شي

سوال: آیا واده کړې زنانه اعتکاف کې کیناستلی شي؟

جواب: واده کړې ښځه د خپل خاوند په اجازه اعتکاف ته کیناستلی شي.[۴]

---

[۱] فلو خرج ساعةً بلا عذر فسد. (الدرالمختار مع الرد المحتار/ ۱/ ۴۴۷). وایضاً: ولایخرج الکمعتکف من المسجد الا لحاجة لازمة شرعیة کالجمعة او لحاجة طبیعیة کالبول والغائط......ولایعود مریضاً ولا یشهد جنازة فلو خرج المعتکف عن المسجد بغیر عذر ساعة بطل اعتکافه في قول ابي حنیفة. (فتاویٰ قاضي خان علي هامش الهندیة/باب الاعتکاف/۱/۲۲۱، ۲۲۲). واما مفسداته: فمنها الخروج من المسجد، فلا یخرج المعتکف من معتکفه لیلاً ونهاراً الا بعذر وان خرج من غیر عذر ساعة فسد اعتکافه. (فتاویٰ عالمگیري/باب الاعتکاف/۱/۲۱۲)

[۲] واذا فسد الاعتکاف الواجب وجب قضاؤه فان کان اعتکاف شهر بعینه اذا افطر یوماً یقضي ذلک الیوم. (فتاویٰ عالمگیري/۱/۲۱۳/ الباب السابع في الاعتکاف/طبع رشیدیه).

[۳] واما شروطه........الخ. منها الاسلام والعقل والطهارة من الجنابة والحیض والنفاس. (عالمگیري/۱/۲۱۱)

[۴] فیصح من المراة والعبد باذن المولي والزوج ان کان لها زوج. (عالمگیري/۱/۲۱۱/ طبع رشیدیه).

سوال: آیا ناواده ښځه په اعتکاف کې کیناستلی شي؟

جواب: ناواده کړې زنانه د خپل مور پلار په اجازه اعتکاف ته کیناستلی شي.

سوال: د پورته دواړه قسم ښځو اعتکاف کې د کیناستلو څه طریقې دي؟

جواب: صرف یوه طریقه ده چې د خپل کور څه برخه د خپل اعتکاف له پاره تجویز کړي، او له ضرورت پرته د هغه ځای څخه ونه وځي. [۱]

سوال: آیا دا پورته دواړه قسم ښځې په خپل کور کې اعتکاف ته کیناستلی شي؟

جواب: ښځه به په کور کې اعتکاف ته کیني. [۲]

آیا سړی په کور کې اعتکاف ته کیناستلی شي؟

سوال: آیا نارینه حضرات د مسجد په ځای کور کې اعتکاف ته کیناستلی شي؟

جواب: د سړیو له پاره په کور کې اعتکاف جائز نه دی. [۳]

د ښځو اعتکاف هم جائز دی

سوال: زه دزړه په صدق سره داغواړم چې په رمضان کې په اعتکاف کې کېنم مهرباني وکړئ او دښځو د اعتکاف شرطونه او طریقې نه مو خبر کړئ!

جواب: ښځې هم اعتکاف کولی شي، ددې طریقه داده چې په کور کې په کوم ځای کې لمونځ کوي، په هغه ځای کې یا په بل مناسب ځای وي؛ نو هغه دې مخصوص کړي اودلسو ورځو سنت اعتکاف نیت دې وکړي او په عبادت کې دې مشغوله شي، دشرعي حاجت نه پرته دې د هغه ځای څخه نه راپاځي[۴]، که د اعتکاف په دوران کې دښځې خاص ورځې شروع شي؛ نو اعتکاف به یې ختم شي ځکه چې په اعتکاف کې روژه شرط ده. [۵]

---

[۱] والمرأة تعتكف في مسجد بيتها اذا اعتكفت في مسجد بيتها فتلك البقعة في حقها كمسجد الجماعة في حق الرجل لاتخرج منه الا لحاجة الانسان. (عالمگيري/۱/۲۱۱/ الباب السابع في الاعتكاف).

[۲] ولو لم يكن في بيتها مسجد تجعل موضعا منه مسجداً لتعتكف فيه. (عالمگيري/۱/۲۱۱).

[۳] واما شروطه........منها مسجد الجماعة فيصح في كل مسجد له اذان واقامة هوالصحيح كذا في الخلاصة. (عالمگيري/۱/۲۱۱). ومقتضاه انه يندب للرجل ايضاً........اما الفريضة والاعتكاف فهو في المسجد كما لايخفي. (ردالمختار/كتاب الصوم/باب الاعتكاف/۲/ ٤٤۱)

٤ [والمرأة تعتكف في مسجد بيتها اذا اعتكفت في مسجد بيتها فتلك البقعة في حقها كمسجد الجماعة في حق الرجل لاتخرج منه الا لحاجة الانسان كذا في شرح المبسوط للامام السرخسي. (فتاوي عالمگيري/۱/۲۱۱/الباب السابع في الاعتكاف، وايضاً حاشية الطحطاوي علي الدرالمختار/۱/٤٧۳)ـ

٥ [واذا فسد الاعتكاف الواجب وجب قضاء ه......سواء افسده بصنعه.......او بغير صنعه كالحيض ....الخ. (عالمگيري/۱/ ۲۱۳/الباب السابع في الاعتكاف)ـ

کوم جومات کې چې د جُمعې لمونځ نه کيږي هلته هم اعتکاف جائز دی

سوال: په کوم جومات کې چې د جُمعې لمونځ نه اداکيږي هلته اعتکاف کيدای شي او که نه؟

جواب: په جامع مسجد کې اعتکاف کول بهتردي، چې د جُمعې دلمونځ له پاره بهرتلل نه وي[۱]، که په دويم جومات کې اعتکاف وکړي؛ نو جامع مسجد ته دومره مخکې لاړشي چې دخطبې نه مخکې تحية المسجد او سنت وکړل شي، او د جُمعې نه فارغ شي نو فوراً دې دخپل اعتکاف والا جومات ته راشي، په جامع مسجد کې دې زيات نه ايساريږي، خو که هلته زيات ايسار شو نو هم ورسره اعتکاف نه فاسديږي.[۲]

قرآن شريف نه مکمل کولو والا هم اعتکاف کولی شي

سوال: يو کس چاچې د قرآن پاک ختم مکمل کړی نه دی، يو څوسپاري يې ويلي دي او يرېښې يې دي د څه مجبوري دوجې نه، آيا هغه کس په اعتکاف کې کښيناستی شي؟

جواب: ضرور کښيناستی شي، او هغه ته قرآن پاک هم مکمل کول پکار دي، په اعتکاف کې به ورته د دې موقعه هم ملاوشي.

په يوجومات کې چې څومره کسان وغواړي اعتکاف کولی شي

سوال: آيا په يوجومات کې يو اعتکاف کيدای شي، يا ديو نه زيات هم؟

جواب: په يوجومات کې چې څومره کسان وغواړي اعتکاف ته دې کښيني که ټول محلې والا وغواړي نو هم کښيناستی شي.

معتکف په پوره جومات کې کښيناستی او څملاستی شي

سوال: داعتکاف په حالت کې په کوم خاص ځای چېرته چې په کونج کې پرده لګول شوې وي کښناستل پکاردي، ايا د شپې يا ورځې که دهلته نه راووځي؛ نو د جومات د پکی لاندې

۱]والاعتكاف في المسجد الحرام الفضل.......ثم المسجد الجامع. (فتاوي قاضي خان علي هامش الهندية، فصل في الاعتكاف/۱/۲۲۱/وايضاً: ردالمختار/۲/٤۱۱/باب الاعتكاف/طبع ايچ ايم سعيد)۔

۲] ولا يخرج المعتكف من المسجد الا لحاجة لازمة شرعية كالجمعة......ويأتي الجمعة حين تزول الشمس فيصلي قبلها اربعاً وبعدها اربعاً او ستاً ولايمكث اكثر من ذلک اما بعدها اربعاً او ستاً لان الآثار قد اختلفت بالسنة بعد الجمعة فكان هٰذا مبلغ سننها وقال ابوالحسن الكرخي رحمه الله تعالي ويأتي الجمعة في مقدار ما يصلي....وركعتان تحية المسجد وعن محمد رحمه الله تعالي اذا كان منزله بعيداً من الجامع....وان قام في المسجد الجامع يوما وليلةً لاتفسد اعتكافه ويكره ذلک(فتاوي قاضي خان علي الهندية/۱/۲۲۱، ۲۲۲/طبع رشيديه)

څملاستی شي یانه؟ معتکف څه ته وایي هغه خاص ګوټ ته په کومه کې چې ناسته کیږي پاپوره جومات ته معتکف ویل کیږي؟دځینې عالمانونه مواوریدلي دي چې داعتکاف په دوران کې بغیر دضرورت نه دګرمې لرې کولوله پاره غسل کول هم درست نه دي،ایا داصحیح دي؟اوکه دمجبورې په حالت کې دجومات نه ووځي اوچاکس سره په خبروشي؛ نو آیا په داسې حالت کې به اعتکاف مات شي یانه؟

جواب: په جومات کې خاص ځای کوم چې دناستې له پاره مخصوص شوی په هغه کې ناسته څه ضروري نه ده،بلکې په پوره جومات کې دشپې یاورځې چېرته چې کیناستل اوویده کیدای شي،دیخ والي حاصلولوله پاره دغسل په نیت سره دجومات نه وتل جائزنه دي[۱] البته ددې ګنجائش شته چې که چېرته داستنجا وغیره تقاضې له پاره دجومات نه بهرلاړشي نوداودس په ځای دې په بدن باندې دوه څلورلوټې اوبه هم واچوي،معتکف دضروري تقاضو نه پرته د جومات نه وتل پکارنه دي[۲]بغیردضرورت نه که یوساعت هم دجومات نه بهرپاتې شو: نو د امام صاحب رحمه الله په نزداعتکاف به یې مات شي اودصاحبینوپه نزدنه ماتیږي،دحضرت امام صاحب رحمه الله په قول کې احتیاط دی اودصاحبینوپه قول کې وسعت اوګنجائش دی.[۳]

داعتکاف له پاره څادرونه لګول ضروری نه دي

سوال: ایا اعتکاف کې ناستې له پاره د څادرونو حجره شان چې جوړول ضروري دي یادهغې نه بغیرهم اعتکاف کیږي؟

جواب: څادرونه دمعتکف دتنهایي او آرام وغیره له پاره لګول کیږي ګني اعتکاف ددې نه پرته هم کیدای شي.[۴]

۱]باب الاعتكاف......فهواللبث في المسجد مع نية الاعتكاف كذا في النهاية.(الفتاوي الهندية/۱/۲۱۱/ طبع رشيديه، وايضاً: اللباب في شرح الكتاب، باب الاعتكاف/۱/۱۶۲/ طبع قديمي كتب خانه)۔

۲](وحرم عليه) اي علي المعتكف اعتكافاً واجباً......الخروج الا لحاجة الانسان كبول وغائط وغسل لو احتلم ولايمكنه الاغتسال في المسجد كذا في النهر. (قوله الا لحاجة الانسان) ولايمكث بعد فراغه من الطهور.......وليس كالمكث بعد ما لوخرج لها ثم ذهب لعيادة المريض او صلاة جنازة من غير ان يكون خرج لذلک قصداً فانه جائز كما في البحر عن البدائع. (الدرالمختار مع الردالمحتار/۲/۴۴۵/باب الاعتكاف، وايضا في الحاشية الطحطاوي علي الدرالمختار/باب الاعتكاف/۱/۴۷۴، ۴۷۵/طبع رشيديه كوئته)۔

۳] فان خرج ساعة بلا عذر فسد لوجود المنافي اطلقه فشمل القليل والكثير وهذا عند ابي حنيفة وقالا لايفسد الا باكثر من نصف يوم وهو الاستحسان لان في القليل ضرورة كذا في الهداية. (البحرالرائق/۲/۳۲۶/باب الاعتكاف، وايضاً في الحاشية الطحطاوي علي الدر/باب الاعتكاف/طبع رشيديه)

۴] عن عائشة قالت: كان رسول الله صلى الله عليه وسلم اذا اراد ان يعتكف اي اذا نوي من اول الليل ان يعتكف وبات في المسجد صلي الفجر ثم دخل في معتكفه.....وتاولوا الحديث بانه صلى الله عليه وسلم دخل المعتكف وانقطع وتخلي بنفسه فانه كان في المسجد يتخلي عن الناس ....[بقيه حاشيه په راروانه صفحه.

د اعتکاف په دوران کې خبرې کول

سوال: د اعتکاف په دوران کې خبرې کول سهي دي او که نه؟ که سهي وي نو د خبرو نوعیت وښییٔ!

جواب: اعتکاف کې دیني او دضرورت په اندازه دنیوي خبرې کول سهي دي.[1]

د اعتکاف په دوران کې مطالعه کول

سوال: د اعتکاف په دوران کې د تلاوت کلام پاک نه پرته د سیرت او فقه سره متعلق د کتابونو مطالعه کیدلی شيَ؟

جواب: د ټولو دیني علومو مطالعه کیدای شي.[2]

د اعتکاف په دوران کې قوالي اوریدل، تلویزون کتل او دفتری کارکول

سوال: مسئله داده چې زمونږ دخلکوجومات کوم چې په مهربان شوګر ملزټنډوواله یارضلع حیدرآباد کې واقع دی په دې جومات کې هرکال په رمضان المبارک کې زمونږدمل ریزیډنټ ډائریکټر صاحب (چې ظاهري طورسره ډیردیندارسړی دی)اعتکاف ته کښني،خو دهغوی د اعتکاف طریقه داده چې په کوم ګوټ کې کښیني هلته ګاوتکیوسره قالین اوټلیفون هم لګوي،چې داعتکاف دمکمل کیدوپورې هلته پروت وي.اوموصوف داعتکاف په دوران کې دټیلیفون په ذریعه تمام کاروباراودمل معاملات کنټرول کوي.ددې نه علاوه تمام دفتري کاروایي فائلونه وغیره جومات ته راغواړي اوپه هغې باندې نوټ وغیره لیکي،ددې نه علاوه موصوف ټیپ ریکارډ راووغواړي اوپه جومات کې پرې قوالي وغیره اوري،هرکله چې په قوالیانوکې سازونه وغیره هم شامل وي آیا په جومات کې ددې اجازت شته،چې قوالی واوریدل شي؟ددې نه علاوه موصوف جومات ته تلویزون سیټ هم راوغواړي چې په هغې ټیلی کاسټ کیدونکي تمام دینی پروګرامونه په ډیرشوق اوذوق سره ګوري.اوزمونږ ددې موصوف

...بقیه د تیر مخ]..في موضع یستتربه عن اعین الناس کما ورد انه اتخذ في المسجد حجرة من حصیر. (مرقاة المفاتیح/۲/۵۷۰/باب الاعتکاف/الفصل الثاني)۔

[1] لایتکلم الا بخیر.....واما التکلم بغیر خیر فانه یکره لغیره المعتکف فما ظنک للمعتکف اه. وظاهره ان المراد بالخیر هنا مالا اثم فیه فیشمل المباح.....الخ. (البحرالرائق/۲/۳۲۷/باب الاعتکاف). ولا بأس ان یتحدث بما لا اثم فیه کذا في شرح الطحاوي. (فتاوي عالمگیري/۱/۲۱۲/الباب السابع في الاعتکاف)۔

[2] التلاوة والحدیث والعلم وتدریسه وسیر النبي صلی الله علیه وسلم والأنبیاء علیهم السلام واخبار الصالحین وکتابة امور الدین کذا في فتح القدیر. (عالمگیري/۱/۲۱۲/الباب السابع في الاعتکاف).

سره ټول نوکران هم په خدمت کې موجودوي. زموږ د کالونۍ ډیرمونځ ګزارد موصوف ددې حرکتونو دوجې نه جومات ته مانځه له پاره هم نه راځي، ایاددې لمونځ ګزارو دافعل صحیح دی؟

جواب: داعتکاف اصل روح دادې چې دومره ورځې خاص دالله تعالی له پاره تیرې کړي. او ترځېل وس پورې تمام دنیاو یکارونه بند کړل شي، بیاهم دکوموکارونه نه بغیرچې ګزاره ګرانه وي دهغو کول جائزدي، خو جومات ته ددومره ورځوله پاره دفترجوړول بې ځایه خبره ده[۱] اوبه جومات کې د ګانو بجانو آلات تلویزون وغیره کتل حرام دي چې نیکی برباد اوګناه لازم په شان دی، ستاسو ډائرکټر صاحب ته پکاردي چې اعتکاف کوي نوشاهانه نه بلکې فقیرانه دې کوي. او د محرماتونه دې ځان ساتي. ګنی داعتکاف دهغهٔ له پاره هیڅ فرض نه دی، دخدای کور دې معاف کړي، ددې تقدس دې نه پایمالوي.

مُعتکف د جومات په کونج کې کېناستل اوبوازې دسُستي لرې کولوله پاره غسل کول

سوال: ایا اداعتکاف په حالت کې معتکف (صرف دسستئ او بدن ددروندوالي لرې کولو له پاره دجومات په کونج دپاکي په حالت کې غسل کولی شي؟ اوایا ددې سره سنت اعتکاف ماتیږي؟ هرکله چې داغسل دجومات په حدودوکې دننه وي اوایادې دسره دجومات بې ادبی خونه کیږي؟

جواب: د غسل او اودس له پاره جومات ملوث کول جائزنه دي، که صحن پوخ وي او د هغهٔ ځای نه اوبه بهر ته وځي ؛ نو ګنجائش شته، چې په کونج کې کېني او غسل وکړي او بیا ځای صفا کړي.[۲]

آیا په اعتکاف کې غسل کولی شو؟

سوال: په اعتکاف کې د غسل په باره کې څه احکامات دي؟ مهرباني وکړئ ټول معلومات په ثبوت سره واضح کړئ د کتابونو حوالې هم ضرور ورکړئ!

۱](واما محاسنه فظاهرة) فان فيه تسليم المعتكف كلية الي عبادة الله تعالي في طلب الزلفي وتبعيد النفس من شغل الدنيا التي هي مالعة عما يستوجب العبد من القربي واستغراق المعتكف او قاته في الصلاة اما حقيقة او حكماً لان المقصد الاصلي من شرعية انتظار الصلاة بالجماعات وتشبيه المعتكف نفسه بمن لا يعصون الله ما امرهم ويفعلون مايؤمرون وبالذين يسبحون الليل والنهار وهم لايسأمون. (فتاویٰ عالمگيري/١/٢١٢/الباب السابع في الاعتكاف)_

٢] فلو امكنه من غير ان يتلوث المسجد فلا بأس به بدائع اي بان كان فيه بركة ماء او موضع معد للطهارة او اغتسل في اناء بحيث لايصيب المسجد الماء المستعمل، قال في البدائع: فان كان بحيث يتلوث بالماء المستعمل يمنع منه، لان تنظيف المسجد واجب. (شامي/٢/٤٤٥/باب الاعتكاف/طبع ايچ ايم سعيد)_

٢: بیت الخلاء او د اودس ځای د مسجد په حدود کې راځي او که نه؟ او موږ ته څومره حده پورې احتیاط کول پکار دي؟ په تفصیل سره بیان کړئ!

جواب: په اعتکاف کې واجب غسل کولی شئ، د یخ والی له پاره یا د سنت غسل له پاره د مسجد نه بهر وتل جائز نه دي.

٢: بیت الخلاء او د اودس ځایونه د مسجد په حدود کې داخل نه دي، دې ځآیونو ته یوازې د حاجت له پاره تلل جائز دي.[1]

د اعتکاف په دوران کې د علماء کرامو غیبت کول

سوال: په دې رمضان کې د روژې او اعتکاف په حالت کې رانه یو ګناه شوې ده، اصل کې په خبرو خبرو کې د خوراک څښاک ذکر راغی؛ نو زما د خولې نه ووتل چې دا لوی لوی ملایان څه ډیر زیات خوراک کوي، او د هغوی لویې لویې خیټې وي دا خو وه عام خبره، په دې کې د چا نوم شامل نه و چې خاص طور سره ستاسو نوم په ژبه باندې راغی چې تاسو هم په هغوی کې شامل یئ. د هغه وخت نه تر اوسه پورې زړه بې قرار دی چې تاسو نه معافي وغواړم، تاسو نه د معافئي درخواست دی، او د کومو نورو علماء کرامو له پاره چې دا الفاظ استعمال شو د هغوی په باره کې د الله پاک نه د معافي طلب ګار یم.

جواب: دا عاجز بنده خو دومره ګناهګار دی چې تاسو کومې خبرې کړې دي د هغو نه شرم راځي، او کیدای شي چې تاسو ته معلومه نه وي چې زه خو د خپل عذر د وجې نه یو ډوډۍ هم نه شم خوړلی، په هر حال الله پاک دې ما هم معاف کړي او تاسو دې هم معاف کړي، تاسو اطمینان ساتئ چې زما د وجې نه به انشاء الله ستاسو مواخذه نه کیږي، خو دا خبره بیانول ضروري دي چې تاسو د علماء کرامو غیبت کولو سره خپل اعتکاف خراب کړ، په مسجد کې اعتکاف او د علماء کرامو غیبت !! ﴿انا لله وانا الیه راجعون﴾ الله پاک دې ما او تاسو او ټول لمونځ کونکي او معتکفین معاف کړي. والسلام

آیا د جومات په خاص کونج کې اعتکاف کونکی بل ځای کیناستلی یا څملاستلی شي؟

سوال: زه د خپل کلي په مسجد کې اعتکاف کول غواړم، که زه د اعتکاف له پاره په مسجد کې یوځای مخصوص کړم؛ نو آیا یوازې په هغه کونج کې کیناستل ضروري دي؟ او که د ضرورت په وخت په بل ځای کې هم کیناستلی یا څملاستلی شم؟ بله دا چې که بغیر د حاجت

---

[1] ولا يمكنه الاغتسال في المسجد.......فلو امكنه من غير ان يتلوث المسجد فلا باس به. (حاشية ردالمحتار/٢/٤٤٥). وان خرج من غير عذر ساعة فسد اعتكافه في قول ابي حنيفة. (عالمگيري/١/٢١٢).

ضروريه نه د غسل په نيت د مسجد نه بهر لاړ شم؛ نو آيا اعتكاف به فاسد شي؟

جواب: د مسجد خاص ځاى كوم چې د اعتكاف له پاره تجويز شوى وي، په هغې كې مقيد كيدل څه ضروري نه دي، بلكې په پوره مسجد كې چې چرته غواړئ د ورځې يا د شپې كيناستلى او څملاستلى شئ. د يخوالي له پاره د غسل كولو په نيت د مسجد نه بهر وتل جائز نه دي،ى خو په دې كې ګنجائش شته چې كله د استنجاء وغيره د تقاضې له پاره بهر وتل وي؛ نو د اودس په ځاى كې دوه څلور لوټې اوبه په بدن واړوه. معتكف ته د ضروري تقاضو نه پرته د مسجد نه بهر ايساريدل نه دي پكار.[1]

په مسنون اعتكاف كې په مسجد كې د ننه حجامت

سوال: په مسنون اعتكاف كې په مسجد كې دننه حجامت جوړول سهي دي او كه نه؟ بله دا چې د نامه نه لاندې ويښته اخيستل (استنجاء خانې ته تلو سره) جائز دي او كه نه؟

جواب: د غير ضروري ويښتو صفايي د اعتكاف نه مخكې كول پكار دي، په هر حال خط جوړول جائز دي، كېږه دې خوره كړې شي چې مسجد ګنده نه شي.[2]

د معتكف له پاره د غسل حكم

سوال: زمونږ د محلې په مسجد كې دوه سړي اعتكاف ته ناست وو، د زياتې ګرمي د وجې نه به هغوى د مسجد په غسل خانه كې غسل كولو، يو صاحب دا وويل چې داسې غسل كولو سره اعتكاف ماتيږي؟

جواب: د يخيدو له پاره د غسل په نيت تلل د معتكف له پاره جائز نه دي، خو دا كيداى شي چې كله يې د متيازو تقاضه وي؛ نو د متيازو نه چې فارغ شي، دوه څلور لوټې دې په بدن باندې واړوي، په څومره وخت كې چې اودس كيږي د هغې نه دې هم په كم وخت كې په بدن باندې اوبه اچولو سره راشي، الغرض د غسل په نيت د مسجد نه بهر تلل جائز نه دي، د طبعي ضرورت له پاره كه ځي؛ نو په بدن باندې اوبه اچولى شي، او جامې دې هم په مسجد كې

[1] (وحرم عليه) اي علي المعتكف اعتكافاً واجباً.......الخروج الا لحاجة الإنسان كبول وغائط وغسل لو احتلم ولا يمكنه الاغتسال في المسجد كذا في النهر. (قوله الا لحاجة الانسان) ولا يمكث بعد فراغه من الطهور.......وليس كالمكث بعد ما لو خرج لها ثم ذهب لعيادة المريض او صلاة جنازة من غير ان يكون خرج لذلك قصداً فانه جائز كما في البحر عن البدائع. (الدرالمختار مع الردالمحتار/٢/٤٤٥، وايضاً في الحاشية الطحطاوي علي الدر/باب الاعتكاف/١/٤٧٤/طبع رشيديه/كوئته)

[2] سئل ابوحنيفة رحمه الله تعالي عن المعتكف اذا احتاج الي القصد او الحجامة هل يخرج فقال: لا. (عالمگيري/٥/٣٢٠/ الباب الخامس في آداب المسجد والقبلة والمصحف وما كتب فيه شيء من القرآن.....الخ).

ويستلو سره ځي چې په غسل خانه کې د جامو ويستلو په مقدار هم ايسار نه شي.[1]

له عذر پرته اعتکاف ماتونکې د عظيم دولت نه محروم شو مګر قضا نشته

سوال: که يوکس درمضان په آخري عشره کې اعتکاف له پاره کښني، مګربغيرد څه عذرنه يا د عذر د وجې نه پاڅي نوقضاپرې لازمه ده اوکه نه؟

جواب: درمضان شريف داخري عشرې اعتکاف شروع کولونه پس که په مينځ کې پاڅي نوپه دې باره کې دې قولونه دي.

اول:.....دا چې د رمضان د آخرى عشرې اعتکاف کول سنت دي،که يوکس د امات کړي نو ددې قضا نشته. خو دا کمه ده چې ديو عظيم دولت نه محرومه پاتې شو؟ په عام کتابونوکې د اخيتارکړل شوى دى.

دويم:.....داچې نفل عبادت شروع کولوسره لازميږي اوچونکې دهرې ورځې اعتکاف کول يو مستقل عبادت دى ددې وجې نه دکومې ورځې اعتکاف يې چې مات کړ،يوازې دهغې ورځې قضالازمه ده، ډيرو برزګانوداختيارفرمائيلې ده.

دريم:.....داچې هغه د آخري عشرې داعتکاف التزام کړى و،چونکې هغه يې پوره نه کړ،ددې وجې نه دټولوورځوقضالازمه ده،دادشيخ ابن الهمام رايه ده.[2]

---

[1]](وحرم عليه) اي علي المعتكف اعتكافاً واجباً......الخروج الا لحاجة الانسان كبول وغائط وغسل لو احتلم ولايمكنه الاغتسال في المسجد كذا في النهر. (قوله الا لحاجة الانسان) ولايمكث بعد فراغه من الطهور.......وليس كالمكث بعد ما لوخرج لها ثم ذهب لعيادة المريض او صلاة جنازة من غير ان يكون خرج لذٰلک قصداً فانه جائز كما في البحر عن البدائع. (الدرالمختار مع الردالمحتار/٢/٤٤٥/باب الاعتكاف، وايضا في الحاشية الطحطاوي علي الدرالمختار/باب الاعتكاف/١/٤٧٤، ٤٧٥/طبع رشيديه كوئته)۔

[2]] ثم رأيت المحقق ابن الهمام قال: ومقتضي النظر لو شرع في المسنون: أعني العشر الاواخر بنيته ثم أفسده أن يجب قضاؤه تخريجا علي قول أبي يوسف في الشروع في نفل الصلاة ناويا أربعا لا علي قولهما اه: أي يلزمه قضاء العشر كله لو أفسد بعضه كما يلزمه قضاء أربع لو شرع في نفل ثم أفسد الشفع الاول عند أبي يوسف، لكن صحح في الخلاصة أنه لا يقضي إلا ركعتين كقولهما، نعم اختار في شرح المنية قضاء الاربع اتفاقا في الراتبة كالاربع قبل الظهر والجمعة، وهو اختيار الفضلي، وصححه في النصاب، وتقدم تمامه في النوافل، وظاهر الرواية خلافه، وعلي كل فيظهر من بحث ابن الهمام لزوم الاعتكاف المسنون بالشروع، وإن لزم قضاء جميعه أو باقيه مخرج علي قول أبي يوسف، أما علي قول غيره فيقضي اليوم الذي أفسده لاستقلال كل يوم بنفسه، وإنما قلنا: أي باقية بناء علي أن الشروع ملزم كالنذر وهو لو نذر العشر يلزمه كله متتابعا، ولو أفسد بعضه قضي باقيه علي ما مر في نذر صوم شهر معين. والحاصل أن الوجه يقتضي لزوم كل يوم شرع فيما عندهما بناء علي لزوم صومه، بخلاف الباقي لان كل يوم بمنزلة شفع من النافلة الرباعية وإن كان المسنون هو اعتكاف العشر بتمامه تأمل. (فتاويٰ شامي/باب الاعتكاف/٢/٤٤٤/طبع ايچ ايم سعيد)۔

د نذر اعتکاف که پوره نه شي نوځه کول پکار دي؟

سوال: ما يوه منښته(نذر) کړې وه چې که زمامراد پوره شو نوزه به اعتکاف ته کېنم، مګر ما داسې ونه شو کړای ،ماته داووايئ چې زه ددې په بدله کې څه وکړم چې زمانذر پوره شي؟ باقي د دوو روژو نه نيولو په باره کې وفرمايئ چې په څومره فقيرانوباندې به ډوډۍ خوړل وي؟

جواب: تاچې دڅومره ورځوداعتکاف نذر کړی و هماغومره ورځې په اعتکاف کېناستل په تاباندې واجب دي[1].اواعتکاف دروژې نه بغيرنه کيږي،ددې وجې سره ورسره روژې نيول هم واجب دي[2].ترڅو پورې چې ته داواجب پوره نه کړې ستا په ذمه به وي اوهمدغه شان که بغيردکولونه يې مړشوې نودقدرت باوجوددروژونه اداکولوسزابه هم تيروې.اوستاپه ذمه دروژوفديه اداکول به هم لازم وي.[3]

۲:.....دڅومره ورځود روژو نذر چې دې کړې وه دهغومره ورځو روژې نيول ضروري دي،ددې فديه اداکيدای نه شي،خو که تهٔ دومره بوډاشوی يې چې روژه نه شې نيولی ياداسې دائمي مريض يې چې دشفاامیددې ختم شوی وي؛ نوته دهرې روژې په بدله کې په چا محتاج باندې دوه وخته ډوډۍ وخوره،ياصدقه فطربرابر مقدار کې غله يانغدې روپۍ ورکړه.[4]

۱] ومن اوجب علي نفسه اعتكاف ايام بان قال بلسانه عشرة ايام مثلاً لزمه اعتكافها بلياليها وكانت متتابعة..... الخ. (فتح القدير/۲/۱۱٤/باب الاعتكاف/طبع بيروت)_

۲]والصوم من شرطه عندنا.......ولنا قوله عليه الصلاة والسلام لا اعتكاف الا بالصوم. (فتح القدير /۲/۱۰۷/باب الاعتكاف)

۳] لان نحو المرض والسفر في عرضة الزوال فيجب القضاء وعند العجز بالموت تجب الوصية بالفدية. (شامي/۲/٤۲۷/باب مايفسد الصوم ومالا يفسده/طبع سعيد، فتح القدير/۲/۱۱٥/طبع بيروت)_

٤] المريض اذا تحقق اليأس من الصحة فعليه الفدية لكل يوم من المرض. (شامي/۲/٤۲۷)_

❖ د روژې متفرق مسائل ❖

په رمضان کې د شپې د جماع د اجازې آیت نازلیدل

سوال: زمونږ په دفترکې یوصاحب وویل چې کله روژې فرض شوې وې نوورسره داشرط هم و چې په پوره رمضان شریف کې به ښځه خاوندصحبت نه کوي.مګر وروسته څه خلکودې حکم خلاف ورزي وکړه،چې دهغې په وجه په حضور ﷺ باندې وحی نازله شوه اودماسخوتن نه پس پیشمنی پورې اجازت ورکړل شو،ددې صاحب وینا ده چې داغلطي دحضرت عمرفاروق رضي الله عنه نه شوې وه،اوپه دې باندې وحی نازله شوه،ایاواقعي داغلطي دحضرت عمر رضي الله عنه نه شوې وه.

جواب: پوره رمضان کې دښځې خاوندپه اختلاط باندې دپابندي حکم خوکله هم نه و شوی، البته داحکم و چې دویده کیدونه مخکې خوراک څښاک کول اوصحبت کول جائزدي اویده کیدو سره روژه به شروع شي.اودبلې ورځې دروژه ماتي پورې به ددې پابندي لازم وي، ستاسو اشاره غالباً دې طرف ته ده.[١]

تاسوچې دحضرت عمر رضي الله عنه دکومې واقعې حواله ورکړې ده هغه صحیح ده.اوپه صحیح بخاری شریف کې ده[٢].چې ددې قسمه واقعه دګڼو کسانوسره پیښه شوې وه،لیکن ددې واقعې سره د حضرت سیدناعمرفاروق رضي الله عنه یادنوروصحابه کرامو رضي الله عنهم باندې څه اعتراض کیدای نه شي، بلکې ددې حضراتویوعظیم فضیلت اوبزرګی ثابتیږي، ځکه چې دې حضراتو ته الله تعالی قوت قدسیه ورکړی و او د الله تعالی په توفیق سره دضبط نفس نه یې کار

١] هذه رُخصة من الله تعالي للمسلمين، ورَفْع لما كان عليه الأمر في ابتداء الإسلام، فإنه كان إذا أفطر أحدهم إنما يحل له الأكل والشرب والجماع إلي صلاة العشاء أو ينام قبل ذلك، فمتي نام أو صلي العشاء حرم عليه الطعام والشراب والجماع إلي الليلة القابلة. فوجدوا من ذلك مَشقة كبيرة......فنزلت هٰذه الآية. (تفسير ابن كثير /٤٤٩/١/ سورة البقره: ١٨٧)، وفيه ايضاً عن عبد الرحمن بن أبي ليلي، قال: قام عمر بن الخطاب، رضي الله عنه، فقال: يا رسول الله! إني أردت أهلي البارحة علي ما يريد الرجلُ أهلهُ فقالت: إنها قد نامت، فظننتها تعْتلّ، فواقعتها، فنزل في عمر: (أُحِلَّ لَكُمْ لَيْلَةَ الصِّيَامِ الرَّفَثُ إِلَي نِسَائِكُمْ......الخ). (تفسير ابن كثير/٥٤١/١/طبع رشيديه كونته/ تفسير قرطبي/٣١٤/١)۔

٢]عن البراء رضي الله عنه قال: كان أصحاب محمد صلي الله عليه وسلم إذا كان الرجل صائما فحضر الإفطار فنام قبل أن يفطر لم يأكل ليلته ولا يومه حتي يمسي وإن قيس بن صرمة الأنصاري كان صائما فلما حضر الإفطار أتي امرأته فقال لها أعندک طعام؟ قالت: لا ولکن أنطلق فأطلب لک وكان يومه يعمل فغلبته عيناه فجاء ته امرأته فلما رأته قالت:خيبة لک،فلما انتصف النهار غشي عليه فذكر ذلک للنبي صلي الله عليه وسلم فنزلت هذه الآية: أحل لكم ليلة الصيام الرفث إلي نسائكم ، ففرحوا بها فرحا شديدا ونزلت: وكلوا واشربوا حتي يتبين لكم الخيط الأبيض من الخيط الأسود من الفجر. (بخاري/٢٥٦/١/باب قول الله: احل لكم ليلة الصيام الرفث.....الخ. الآية/ طبع نور محمد كراچي)۔

اخیستی شو،خوتاسولږ شان سوچ وکړئ چې دحضور ﷺ په زمانه کې دداسې څه واقعې نه راپیښیدل اوهم دغه قانون پاتې کیدل چې دماسخوتن د مانځه نه پس خوراک څښاک اوښځې خواته تلل ممنوع دي،نو وروسته امت ته به څومره تنګي لاحقه شوې وه؟ داداللّٰه تعالی عنایت اورحمت و چې دحضور ﷺ په مبارک دورکې داسې واقعات راپیښ شول، چې دهغې په وجه دټول امت له پاره اسانۍ پیداشوې، ددې وجې نه داحضرات لائق ملامت نه دي، بلکې دپوره امت محسنان دي.

دکوم آیت چې تاسوحواله ورکړې ده هغه دسوره بقرې آیت نمبر(١٨٧)دی،په دې کې اللّٰه تعالی فرمايي:[١]

،، تاسوخلکوله پاره دروژې په شپه کې دخپلوښځوسره ملاویدل حلال کړل شوي دي،هغوی ستاسوجامې دي اوتاسو دهغوی، اللّٰه ته علم دی چې تاسودخپل ذات سره خیانت کولو،نواللّٰه تعالی په تاسوباندې عنایت وکړ اوتاسوته یې ستاسوغلطی معاف کړه.،،

دقرآن پاک اصل الفاظ تاسوپه قرآن پاک کې ولولئ، ستاسو توجه صرف دې طرف ته کول غواړم چې اللّٰه تعالی دصحابه کرامودا غلطي،،دخپل ذات سره خیانت،،سره تعبیرکړه او د هغوی توبه قبولول،اودهغوی معاف کول،اوپه هغوی باندې نظرعنایت کولواعلان کول یې وفرمایل چې ددې نه پس داغلطي لائق ملامت نه ده.،بلکې ددوی دبزرګي اومقبولیت قطعي پروانه ده، امیددی چې دا مختصرشان اشاره به کافي وي،ګنی په دې مسئلې باندې دیو مستقل مضمون لیکلو ګنجائش شته،چې دهغې له پاره افسوس کوم چې وخت راته نه ملاویږي.

روژه دار دې فضولیات پریږدي

سوال: هسې خوپه رمضان المبارک کې دمسلمانانولوې اکثریت روژې نیسي،خو څه خلک د روژې نیولونه پس غلط حرکتونه کوي.مثلاً:چاروژه ونیوله اوغرمه دیولسوبجونه واخله تردوو بجو پورې یادرې بجونه واخله ترپنځوبجوپورې سینماهال ته فلم کتو له پاره ولاړ،چاروژه اونیوله اوټوله ورځ ویده و،اوچاروژه نیولونه پس ټوله ورځ تاش،کیرم،یاڅه نوره لوبه کوه، یایې ټوله ورځ جاسوسي یا رومانوي ناول لوست اوددې ټولوخبرودوجې نه هرکس بغیردڅه شرم الهي نه دا وواییې چې ورورره څه اوکړ؟اخرټایم هم پاس کول دي، درې ګنټې فلم کتلو سره،ټوله ورځ تاش کولویا ویده کیدو وغیره سره وخت تیریږي اودروژې پته نه لګیږي.

محترم: دروژې نیولونه پس دروژې دوجې نه ګناه کولونه دابهتربه نه وي چې بالکل روژه ونه نیول شي؟

١] احل لكم ليلة الصيام الرفث الي نسائكم هن لباس لكم وانتم لباس لهن، علم الله انكم كنتم تختانون انفسكم فتاب عليكم وعفا عنكم......الخ. (البقرة: ١٨٧)۔

جواب: ستاسو دا نظریه خو صحیح نه ده چې روژه نیولو سره ګناه کولو نه دا بهتر دي چې روژه دې و نه نیول شي، ى... دا خبره د شریعت د حکمت خلاف ده. شریعت د روژه نیونکو نه دا مطالبه کوی چې هغوی دې د خپلې روژې حفاظت کوي. او کله چې هغوی د الله تعالی د رضا له پاره خپل خوراک څښاک پرېښې دی؛ نو د بې لذت ګناهونو نه دې هم ځان وساتي او د خپلې روژې ثواب دې نه ضائع کوي، مګر شریعت دا نه وایي چې کوم خلک د ګناهونو ارتکاب کوي، هغوی دې هډو روژه نه نیسي، تاسو چې د کومو امورو ذکر کړې دی دا د روژې د روح نه خلاف دي، روژه دار ته قطعي د دې پرهیز کول پکار دي، البته واقعه داده چې د رمضان المبارک معمولات او د روژې دا دا بود پابندي سره دا میاشت مبارکه تیره کړل شي، نو د بنده په ژوند کې انقلاب راتلی شي، د کوم طرف ته چې قرآن پاک د ,,**لعلکم تتقون**،، په وړوشان الفاظو سره اشاره کړې ده.

حضور ﷺ روژه دار ته د پرهیز ډېر تاکید فرمایلی دی، په یو حدیث کې دي چې ډېر په شپه کې د ریدونکي داسې دي چاته چې د شوګیرې نه پرته نور هیڅ نه ملاویږي، او ډېر روژه دار داسې دي چاته چې یوازې د لوږې تندې نه پرته نور څه نه ملاویږي،،[1]

په یو بل حدیث کې دی چې: کوم کس چې د دروغ ویلو نه او غلط کار نه نه منع کیږي؛ نو الله تعالی ته د هغه د خوراک څښاک پرېښودو هیڅ ضرورت نشته[2]،، دامت بزرګانو د روژې ډېر زیات اداب بیان کړي دي د کومو خلاصه چې د حضرت شیخ مولانا محمد زکریا کاندهلوي رحمه الله په رساله ,,فضائل رمضان،، کې کتلی شئ، په رمضان المبارک که دا رساله او د دې حصه ,,اکابر کا رمضان،، ضرور مطالعه کول پکار دي.

یادونه:..... تاسو د لغویاتو په ضمن کې د ویده کیدو ذکر کړی دی، خو د روژې په حالت کې ویده کیدل مکروه نه دي، د دې وجې نه ستاسو د سوال دا الفاظ لائق د اصلاح دي.

په روژه کې تلویزون کتل

سوال: په رمضان المبارک د روژه ماتې سره نژدې چې کوم خلک په تلویزون باندې مختلف پروګرامونه ګوري مثلاً: انګریزي فلمونه، د موسیقۍ پروګرامونه، وغیره نو آیا دې سره په روژه باندې څه فرق نه پریوځي؟ هر کله چې زموږ په ځای اناونسران اکثر زنانه وي او په هر پروګرام زنانه هم ضروروي، په دې ضمن کې دا خبره چې مولانا صاحب د روژه ماتي په وخت کې په تلویزون باندې تقریر کوي او د مسلمانانو خویندې لوبه چې کله هغه ته ګوري؛ نو آیا د هغوی روژه به برقرار پاتې شي؟ او به څه طریقې سره قابل ګرفت نه وي؟

١] عن ابي هريرة رضى الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: كم من صائم ليس له من صيامه الا الظمأ، وكم من قائم ليس له من قيامه الا السهر. (مشكوٰة/١٧٧/باب تنزيه الصوم/الفصل الثاني)۔

٢]عن ابي هريرة رضى الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: من لميدع قول الزور والعمل به فليس لله حاجة في ان يدع طعامه وشرابه. رواه البخاري. (مشكوٰة/١٧٦/باب تنزيه الصوم/الفصل الاول)۔

جواب: روژه نیولوسره دګناه کارکول،دروژې ثواب او فائدوې باطلوي[۱].دتلویزون اصلاح خودعام خلکوپه وس کې نه ده،دکومو مسلمانانوپه زړونوکې چې دالله تعالی ویره ده هغوی دې په خپله ددې ګناه نه ځان بچ کړي.

ایا د ماشوما نو روژه نیول ضروري دي؟

سوال: اکثر مور پلار ددولسوکالونه کم عمروالا بچی دروژې نیولونه منع کوي، ځکه که هغوی روژه ونیسي نوپه خاص طورسره لوږه تنده برداشت کولی نه شي. هر کله چې ماشومان شوقیه طور روژې نیولو باندې اصرارکوي، نوردا چې روژه په کوم عمرکې نیول پکاردي؟

جواب: لمونځ اوروژه دواړه په بالغانوباندې فرض دي[۲].که دبلوغ علامات ظاهرشوي نه وي؛ نو پنځلس کاله پوره کیدوباندې بنده بالغ ګڼل کیږي[۳].نابالغه ماشوم که دروژې برداشت کولی شي نوپه هغه باندې روژه نیول پکاردي.اوکه برداشت یې نه شي کولی منع کول درست دي.[۴]

د مازیګر او ماښام ترمینځه روژه نیول څنګه دي؟

سوال: زمایوه ملګرې دچاپه ویناباندې دمازیګراوماښام په مینځ کې په مختصرشان وخت کې روژه نیسي،چې دهغې وجه هغې دا وښودله چې مرګ نه پس کله فرښتې په مړي باندې څه داسې شی وخوروی چې دمړي له پاره باعث عذاب وي،کوم کس چې په دې دوران کې روژه نیسي هغه به دخوړولونه انکار وکړي ایا دا مختصر روژه دشریعت مطابق ده؟

جواب: شرعي روژه خودسهارنه واخله ترماښام پورې وي[۵]،دمازیګر او ماښام ترمینځه روژه دشریعت نه ثابته نه ده.کومه وجه یې چې ښودل شوې ده داچاځانه نه وییلي دي داسې عقیده ساتل ګناه ده.[۶]

۱]قال الطيبي: كل صوم لا يكون خالصاً لله تعالي ولا مجتنبا عن قول الزور والكذب والبهتان والغيبة ونحوهما من المناهي يحصل له الجوع والعطش له الثواب......الخ. (شرح الطيبي علي مشكوٰة المصابيح/٤/١٦٤)_

٢]اما شروطه فثلاثة انواع: شرط وجوبه الاسلام والعقل والبلوغ. (فتاويٰ عالمگيري/كتاب الصوم/١/١٩٥)

٣]فان لم يوجد فيهما شيء فحتي يتم لكل منهما خمس عشرة سنة به يفتي.....الخ.(درمختار مع الشامي/ ٦/١٥٣/ كتاب الحجر/فصل بلوغ الغلام بالاحتلام/طبع سعيد)_

٤] ويؤمر الصبي بالصوم اذا اطاقه (درمختار) وفي الشامية: قوله اذا اطاقه....قلت يختلف ذلك باختلاف الجسم واختلاف الوقت صيفا وشتاء والظاهرا نه يؤمر بقدر الاطاقة اذالم يطق جميع الشهر. (ردالمحتار علي الدر المختار/٢/٤٠٩)_

٥] هو.....امساك عن المفطرات........في وقت مخصوص وهو اليوم (درمختار) وفي الشامية: قوله وهو اليوم اي اليوم الشرعي من طلوع الفجر الي الغروب......الخ. (ردالمحتار علي الدرالمختار/٢/٣٧١/كتاب الصوم)_

٦].عن عائشة رضي الله عنها قالت: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم....[بقيه حاشيه په راروانه صفحه.

د مازيګر نه تر ماښام پورې د روژې نيولو شرعي حيثيت

سوال: ځيني ښځې او سړي د مازيګر نه ماښام پورې روژه نيسي، او په دې دوران کې د خوراک څښاک دشيانوڅخه نه ځان ساتي، ددې فعل د شرعي حيثيت نه مو خبر کړئ چې د دې حقيقت څه دی؟

جواب: د مازيګر نه ماښام پورې د روژې هيڅ شرعي حيثيت نشته، شرعا دا روژه نه ده.[۱]

د مازيګر او ماښام ترمينځه روژه او د لسم محرم روژه نيول څنګه دي؟

سوال: يوځل يوې صاحبې وفرمايل چې ماروژه نيولې ده،موږ ترې ته دتفصيل تپوس وکړ، نوهغې وويل چې روژه دمازيګرداذان نه واخله ترماښام اذان پورې ده،کله چې موږ دداسې روژې دوجودنه انکاروکړ،نوهغې ډيرزيات ورټلو اوويې ويل چې تاسوتعليم يافته ځنګليانې يئ،تاته داهم معلومه نه وه.

جواب: په شريعت محمديه کې خوهيڅ روژه دمازيګراوماښام تر مينځه نشته[۲]،ددې صاحبې چرته خپل شريعت دی زه خودې نه بې خبره يم.

سوال: بياهغې مزيد وفرمايل چې دلسم محرم الحرام روژه نيول جائز نه دي،ځکه چې د شمر مور منبنته کړې وه چې شمرامام حسين رضي الله عنه شهيد کړي نوزۀ به دلسم محرم روژه نيسم، اوهغې دلسم محرم روژه نيولې وه.

جواب: عاشورا دمحرم دلسم تاريخ نوم دی،د تيرو شويو انبياء دزمانې نه دا ورځ متبرکه راروانه ده. د اسلام په شروع کې ددې ورځې روژه فرض وه،بياوروسته ددې په ځای درمضان روژې فرض شوې،اود عاشورا روژه مستحب شوه[۳]،په هرحال ددې ورځې دروژې اودنورو

...بقيه د تير مخ]..من احدث في امرنا هذا ماليس منه فهو رد. متفق عليه. (مشكوٰة/باب العتصام بالكتاب والسنة/۱/۲۷). وعن جابر رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: اما بعد.......وشرالأمور محدثاتها وكل بدعة ضلالة. (مشكوٰة/كتاب الايمان/باب الاعتصام/بالكتاب والسنة/۱/۲۷/ طبع قديمي)ــ

۱]عن عائشة رضي الله عنها قالت: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: من احدث في امرنا هذا ماليس منه فهو رد. (مشكوٰة/۱/۲۷/باب الاعتصام والسنة/الفصل الاول).

۲]عن عائشة رضي الله عنها قالت: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: من احدث في امرنا هذا ماليس منه فهو رد. (مشكوٰة/۱/۲۷/باب الاعتصام والسنة/الفصل الاول)ــ

۳]عن عائشة رضي الله عنها قالت: كان يوم عاشوراء تصومه قريش في الجاهلية وكان رسول الله صلي الله عليه وسلم يصومه فلما قدم المدينة صامه وأمر بصيامه،فلما فرض رمضان ترک يوم عاشوراء فمن شاء صامه ومن شاء تركه(صحيح بخاري/باب صيام يوم عاشوراى/۱/۲٦۸/طبع قديمي/مختصرسنن ابي داؤد/۳/۳۲۲/طبع المكتبة الاثرية)

اعمالو د حضرت امام حسین رضی الله عنه سره هیڅ تعلق نشته، او د دې خاتون چې د شمرد مور کومه واقعه بیان کړې ده هغه دځان نه ده.

پنځه ورځې روژې نیول حرام دي

سوال: زموږ په حلقه کې نن سبا ډیرې پټې پټې خبرې کیږي چې پنځه روژې حرامې دي. (په کال کې) (۱) د وړوکي اختر لومړۍ ورځ، (۲) دوړوکي اختر دویمه ورځ، (۳) دلوی اختر دورځې، (۴) دلوي اختر په دریمه ورځ، حالانکه ترڅو پورې چې ماته پته ده دوړوکي اختر ددویمې ورځ روژه جائز ده. اصل خبره واضحه کړئ!

جواب: دوړوکي اختر ددویمې ورځې روژه جائزده اولوې اختر ددریو وارو ورځو (ایام تشریق) روژه جائزنه ده، ګویا د پنځو ورځو روژه جائزنه ده. وړوکي اختر، لوی اختر، او دد ې نه وروسته دایام تشریق.[1]

ایا امیر غریب او رشته دار باندې د روژه ماتي کولو ثواب برابر دی؟

سوال: امیر، غریب، رشته دار په دې دریوواړوکې دتولونه زیات فضیلت (ثواب) دچا د روژه ماتی دی؟

جواب: د روژه ماتي کولو ثواب خو یو شان دی[2] د غریب د خدمت او رشته دار سره د احسان کولو ثواب جدا دی.

د حضور صلی الله علیه وسلم د روژه ماتي معمول

سوال: په رمضان المبارک کې به حضور صلی الله علیه وسلم په څه شي باندې روژه ماتی کولو؟

جواب: عموماً کجورې سره.[3]

۱] عن ابي سعيد الخدري رضى الله عنه قال: نهي رسول الله صلى الله عليه وسلم عن صوم يوم الفطر والنحر. متفق عليه. وعن نبشة الهذلي رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: ايام التشريق ايام اكل وشرب وذكرالله. رواه مسلم. (مشكوٰة/باب صيام التطوع /۱۷۹/۱). والمكروه تحريماً كالعيدين (درمختار) قوله كالعيدين اي وايام التشريق نهر. (درمختار مع الشامي /۲/۳۷۵/كتاب الصوم)_

۲]عن زيد بن خالد رضى الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: من فطر صائماً او جهز غازياً فله مثل اجره. (مشكوٰة/۱/۱۷۵/باب الفصل الثاني)_

۳] عن انس رضي الله عنه قال: كان رسول الله صلى الله عليه وسلم يفطر قبل ان يصلي علي رطبات فان لم رطبات فتميرات فان لم تكن تميرات حسا حسوات من ماء. رواه الترمذي وابوداؤد. (مشكوٰة/۱/۱۷۵)_

د تماکو د کاروکونکي د روژې حکم

سوال: زۀ دبیړیه (یوقسم سګریټ)کاریګریم،دبیړۍ په کارکې تماکو استعمالیږي. څو کسانو ماته وویل چې ته په روژه کې داکار کوې،چونکې تماکونشې والا شی دی، لهذستاسوروژه ورسره مکروه کیږي،آیا داصحیح ده؟

جواب: دتماکوکارکولوسره روژه نه مکره کیږي ترڅوپورې چې دتماکو دوړه حلق ته دننه لاړه نه شي.[1]

د روژه دارپه جومات کې ویده کیدل

سوال: ایادروژه دارد سهاردلمانځه نه وروسته په جومات کې ویده کیدل جائزدي؟

جواب: دغیرمتعکف په جومات کې ویده کیدل مکروه دي،کوم حضرات چې جوماتونوته ځي هغوی دې داعتکاف نیت کوي، ددې نه پس دویده کیدوګنجائش شته.[2]

د روژې په حالت کې باربار غُسل کول

سوال: ایادروژې په حالت کې په کورکې څوځله لامبل اوددې نه پرته په نهرکې لامبل ،خودنوروبدونه ځان ساتي،نو آیادروژې ثواب به پوره پوره ملاوشي؟

جواب: په روژه کې لامبلوسره څه نقصان نشته.،خو داسې انداز اختیارول چې دهغې سره دویرې اوپریشانی اظهارکیږي دحضرت امام رحمه الله په نزدباندې مکروه دي.[3]

ناپاک کس که پیشمنی وکړي نو آیا روژه به وشي؟

سوال: که په چاباندې دشپې په دوران کې غسل واجب شي،نوهغه دجنابت په حالت کې پیشمنی کولی شي اوکه نه؟

جواب: دجنابت په حالت کې یې که پیشمنې وکړ؛نوروژه به یې اوشی.اوپه دې کې څه تردد نشته، خو بنده چې څومره زرکیدای شي پاکي دې حاصله کړي.[4]

۱] ولو دخل حلقه غبار الطاحونة او طعم الادوية او غبار الهرس واشباههم اوالدخان او ماسطع من غبار التراب بالريح او بجوالهرالاواب واشباه ذلک لم يفطره(عالمگيري/۱/۲۰۳/الباب الرابع فيما يفسدوما لايفسد)

۲] يكره النوم والأكل في المسجد لغير المعتكف واذا اراد ذلک ينبغي ان ينوي الاعتكاف فيدخل.......الخ.
(شامي/۲/۴۴۸/باب الاعتكاف/طبع سعيد)۔

۳] وكذا لاتكره......اغتسال للتبرد......الخ. (درمختار) وفي الشمامية (تحت قوله وبه يفتي) وكرهها ابو حنيفة لما فيها من اظهار الظجر في العبادة.....الخ. (شامي/۲/۴۱۹/ كتاب الصوم، وايضاً في فتاوي قاضي خان علي هامش الهندية/۱/۲۰۵/الباب الرابع فيما يفسد وما لا يفسد/كتاب الصوم)۔

۴] ومن اصبح جنبا او احتلم في النهار لم يضره كذا في محيط السرخسي. (هندية/۱/۲۰۰/كتاب الصوم)۔

د ناپاکي په حالت کې روژه نیول

سوال: زه ناروغ یم،چې دهغې په وجه په میاشت کې درې څلورځله ناپاکه پاتې کیږم.اوس تاسوته ګزارش دی چې ایازه دناپاکي په حالت کې روژه نیولی شم؟هرکله چې ما دیولمانځه په کتاب کې لوستلي و چې که ناپاکي دبیماري له وجې وي؛ نواودس کولوسره لرې کیږي؟ تاسوراته داوفرمایئ چې ایا اودس کولوسره روژه نیولی شم؟ هسې خوزه روزانه غسل کوم،خو دروژې نیولوپه وخت کې دسهارمانځه نه مخکې غسل کولی نه شم،امیدلرم چې تاسوبه تسلي بخش جواب راکړئ!

جواب: دناپاکي په حالت کې مخ لاس وینځل سره روژه نیول جائزدي، غسل دې وروسته وکړل شي.هیڅ نقصان په کې نشته.[۱]

سوال: که په چاباندې دشپې غسل واجب شو،-خو هغه نه سحر غسل وکړ اونه یې تولړه ورځ وکړ،اوروژه ماتی یې په دغه حالت کې وکړ،نو داسې کس دروژې څه حکم دی؟

جواب: دروژې فرض خوبه اداشي[۲]،خو بنده به دناپاکي دوجې نه ګناهګاروی،په غسل کې دومره تاخیرکول چې لمونځ ورسره فوت شي سخته ګناه ده.[۳]

د شوال شپږ روژو سره به د رمضان قضاروژې ادا نه شي

سوال: ایادشوال شپږ روژې دویمې ورځې نه نیول پکاردي؟ (داختر شپږ روژې)روژه په هرحال کې په دویم تاریخ باندې نیول پکاردي؟ باقی روژې په پوره میاشت کې په څه ورځ هم نیول کیږي؟ ددې وضاحت هم وکړئ چې داروژې نیولوسره به رمضان کې قضا شوې روژې اداشي؟

جواب: دامسئله چې په عواموکې مشهوره ده چې: دشش عیدله پاره د دویمې ورځې نه روژه نیول ضروري دي,,بالکل غلطه ده،،داختر د دومې ورځې نه روژه نیول ضروری نه دي،بلکې داخترپه میاشت کې،کله چې هم شپږ روژې ونیول شي، که پرله پسې ونیسئ یا په متفرق طور سره، پوره ثواب به درته ملاوشي،بلکې بعضې اهل علم خوداختردویمې ورځې نه روژه

۱] ولا بأس للجنب ان ينام......وان اراد ان يأكل او يشرب فينبغي ان يتمضمض ويغسل يديه......الخ. (هندية/كتاب الطهارة/۱/۱٦/طبع رشيديه)_

۲]ولا بأس للجنب ان ينام......وان اراد ان يأكل او يشرب فينبغي ان يتمضمض ويغسل يديه......الخ. (هندية/كتاب الطهارة/۱/۱٦/طبع رشيديه)_

۳] وعن على رضى الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: لاتدخل الملائكة بيتاً فيه صورة ولا كلب، ولاجنب. رواه ابو داؤد والنسائي (مشكوٰة/۱/۵۰، كتاب الطهارة/باب مخالطة الجنب/الفصل الثاني).
وفي المرقاة: (ولا جنب) اي الذي اعتاد ترك الغسل تهاوناً حتي يمر عليه وقت صلاة فانه مستخف بالشرع، لا اي جنب كان. (مرقاة المفاتيح شرح مشكوٰة المصابيح/۱/۳۳۵/طبع بمبئ هند)_

نیولوته مکروه ویلي دي، مګر صحیح دادی چې ددویمې ورځې نه هم شروع کولی شئ[1]. دشوال شپږ روژې نیولوسره به درمضان قضاشوې روژې ادانه شي، بلکې هغه به ځانته نیول وي، ځکه چې دا دنفلی روژې دی اودرمضان فرض روژې دي، ترڅوپورې چې درمضان دقضاروژونیت ونکړلشي هغه به ادانه شي.[2]

ښځې خپلې قضاء روژې په شوال کې نیولی شي خو د شوال د روژو ثواب به ورته نه ملاویږي

سوال: د رمضان په میاشت کې چې زموږ کومې روژې قضاء شي، هغه د شوال په شپږو روژو کې نیولې شو؟ یا که د شوال به بیلې نیسو او قضاء روژې وروسته؟

جواب: د ښځوچې کومې روژې قضاء شی، هغه په شوال کې هم نیولی شي، خو د شوال د شپږو روژو نیولو چې کوم فضیلت دی، هغه به په هغه صورت کې حاصلیږی چې کله د فرض روژو نه پرته د شوال شپږ نفلی روژې ونیسي.[3]

داسې علاقه چې شپږ میاشتې ورځ او شپږ میاشتې شپه وي روژه څنګه و نیول شي؟

سوال: په دنیاکې یوځای داسې دی چې شپږ میاشتې شپه وی او شپږ میاشتې ورځ، نو هلته به مسلمانان پوره روژې څنګه نیسي؟

جواب: هغوی به دخپل قریب ترین ملک چېرته چې دشپې ورځې نظام دمعمول مطابق وي دهغې دطلوع اوغروب په اعتبارسره روژې نیسي.[4]

١] وعن ابي يوسف كراهته متتابعاً لا متفرقا لكن عامة المتأخرين لم يرو به بأسا هكذا في البحر الرائق والاصح انه لا باس به كذا في محيط السرخسي. (عالمگيري/١/٢٠١/كتاب الصوم/كذا في الشامي/٢/٤٣٥)۔

٢] وفي التنوير والشرط للباقي تثبيت النية وتعيينها (درمختار) وفي الشامية: والشرط للباقي من الصيام......وهو قضاء رمضان والنذر المطلق......الخ. (شامي/٢/٣٨٠/ كتاب الصوم)۔

٣] واذا نوي قضاء بعض رمضان ولاتطوع يقع عن رمضان في قول ابي يوسف رحمه الله تعالي وهو رواية عن ابي حنيفة رحمه الله تعالي كذا في الذخيرة. (عالمگيري/١/١٩٧/كتاب الصوم/الباب الاول في تعريفه وتقسيمه....الخ).

٤] قال الرملي في شرح المنهاج: ويجر ذلك فيما لومكثت الشمس عند قوم مدة...الخ. قال في امداد الفتاح قلت: وكذلك يقدر لجميع الآجال كالصوم والزكوٰة والحج والعدة وآجال البيع والسم والاجارة. وينظر ابتداء اليوم فيقدر كل فصل من الفصول الاربعة بحسب مايكون كل يوم من الزيادة والنقص كذا في كتاب الائمة الشافعية ونحن نقول بمثله اذا ضل التقدير مقول به اجماعا في الصلوات. (شامي/قبيل مطلب في طلوع الشمس من مغربها/١/٣٦٥)۔

پیشمنۍ نه وروسته ویده کېدل

سوال: دپیشمنی کولونه وروسته ویده کیدل مکروه دي اوکه نه؟مااوریدلي دي چې د پیشمني نه وروسته ویده کیدل مکروه دي.

جواب: دپیشمني په آخري وخت کې خوراک کول مستحب دي[1] اود پیشمنی نه پس ویده کېدل که دسهار دجمعې لمونځ دفوت کیدوویره وي نومکروه دي، ګنی نه دي.

د لاوډ سپیکر په ذریعه د پیشمنۍ او روژه ماتي اطلاع ورکول صحیح دي

سوال: زمونږ په ښارکې درمضان په میاشت کې عمومًا دپیشمنې په وخت کې په لاوډ سپیکرو باندې اعلان کیږي اوپه دې سلسله کې کله دقرآن پاک تلاوت هم کیږي چې خلک په صحیح وخت باندې د پیشمنی انتظام وکړای شي شرعاً ددې جوازشته؟

جواب: دپیشمنې اوروژه ماتي په وخت کې اطلاع ورکولوکې هیڅ نقصان نشته،لیکن په لاوډ سپیکر باندې دومره شورکول چې دعامو خلکو سکون ورسره بربادشي اوهغې سره یوکس په اطمینان سره لمونځ هم ونه کړای شي ناجائزدي.[2]

مؤذن دې روژه ماته کړي او اذان دې وکړي

سوال: موذن ته روژه ماتول او بیا اذان کول پکار دي ، که د اذان نه وروسته روژه ماتول پکاردي؟

جواب: روژه دې ماته کړی اواذان دې اوکړی.[3]

د عرب ملکونو نه په راتلو باندې د دیرشو نه زیاتې روژې نیول

سوال: که یوکس چې په عرب ملکونوکې کارکوي،اودرمضان روژې دعرب ملکونوپه حساب سره نیسي،یعنې دپاکستان نه دوه ورځې وړاندې روژې شروع شي،لهذاداکس درمضان په آخره کې په په رخصتې باندې پاکستان ته راځي،نوددغه کس اختربه زمونږ نه دوه ورځې مخکې وي؛ نودا کس داختردلمونځ په سلسله کې څه وکړي ایادې دپاکستانی وخت مطابق اختر وکړي، یادوه ورځې انتظار وکړي ځکه چې په پاکستان کې اختردوه ورځې پس دی؟

۱] ثم تأخير السحور مستحب كذا في النهاية. (هندية/۱/۲۰۰/كتاب الصوم/الباب الثالث)۔

۲] لايقرأ جهراً عندا المشتغلين بالأعمال......الخ. (عالمگيري/۵/۳۱۶/طبع رشيديه)۔

۳] هو لغة امساك عن المفطرات.......في وقت مخصوص وهو اليوم (درمختار) وفي الشامية: قوله وهو اليوم اي اليوم الشرعي من طلوع الفجر الي الغروب.......والمراد بالغروب زمان غيبوبة جرم الشمس........الخ. (ردالمهتار علي الدرالمكتار/۲/۳۷۱/كتاب الصوم/طبع ايچ ايم سعيد)۔

جواب: داکس خو به اختر د پاکستان مطابق کوي او ترڅو پورې چې په پاکستان کې رمضان دی داکس دې روژې هم ونیسي، د دې دیرشو نه زیاتې روژې به په نفلو کې شمارېږي.[۱]

آیا پاکستان والا به هم د سعودی عرب په حساب روژې نیسي؟

سوال: د سعودی عرب او د پاکستان ترمینځه همیشه د یوې روژې فرق راځي، زمونږ دلته د یو عالم وینا ده چې چا د سعودی سره روژه و نه نیوله په هغه باندې کفاره واجب شوه او د نورو علماء کرامو وینا ده چې چونکه مونږ پاکستانیان یو، زمونږ رؤیت هلال کمیټی شته لهذا د هغوی د اعلان مطابق مونږ ته روژه نیول پکار دي. په دې حالت کې مونږ د سعودی عرب په لحاظ سره روژې ونیسو یا د پاکستان په لحاظ سره؟

جواب: زمونږ په ذمه زمونږ د حساب مطابق روژې لازم دي، د هغه مولوی صاحب په ذمه به د سعودي عرب په حساب سره روژې لازمې وی، آیا هغه مولوي صاحب لمونځونه هم د سعودي عرب په لحاظ سره کوي؟![۲]

چې په سعودی عرب کې روژه شروع کړي او اختر په کراچۍ کې ولمانځي نو آیا زیاته روژه به نیسي؟

سوال: د زید دفتر په ظهران سعودي عرب کې دی، او مستقل رهائش یې په کراچۍ کې دی، هغوی روژه په سعودی عرب کې شروع کوي او اختر په کراچۍ کې کوي، په دې حساب سره کله یو دیرش او کله دوه دیرش روژې راشی، آیا هغوی په کراچۍ کې د دیرشو روژو په حساب سره افطار کولی شي حال دا چې میاشت ورځ دوه پس په نظر راځي؟ یا هغه ته تر هغه وخته پورې روژې نیول پکار دي ترڅو چې میاشت ښکاره شوې نه وی، د قرآن او حدیث په حوالې سره وضاحت وفرمایئ!

جواب: چونکې په کراچۍ کې رمضان وي، په دې وجه هغوی ته روژه خو نیول پکار دي، خو د هغوی زیاتي روژې به نفل شي.[۱]

۱] (تنبیه) لو صام رائي هلال رمضان واکمل العدة لم یفطر الا مع الامام لقوله علیه الصلاة والسلام: صومکم یوم تصومون، وفطرکم یوم تفطرون. رواه الترمذي. والناس لم یفطروا في مثل هٰذا الیوم فوجب ان لا یفطر. (ردالمحتار علي الدر المختار/مبحث في صوم یوم الشک/۲/۳۸٤/طبع سعید)۔

۲] (تنبیه) لو صام رائي هلال رمضان واکمل العدة لم یفطر الا مع الامام لقوله علیه الصلاة والسلام: صومکم یوم تصومون، وفطرکم یوم تفطرون. رواه الترمذي. والناس لم یفطروا في مثل هٰذا الیوم فوجب ان لا یفطر. (ردالمحتار علي الدر المختار/مبحث في صوم یوم الشک/۲/۳۸٤/طبع سعید)۔

د رمضان په ختميدو باندې چې کوم ملک ته ورسيږئ د هغه ځای پيروي کوئ

سوال: موږ په بحري جازکې نوکران يو، تيرشوی رمضان زموږ په جده کې شروع شوې وه ، مختلف ملکونوته دتلونه پس موږ په ديرشمه ورځ داندړيابنار،وزاګاپتم، ،ته ورسيدو، هلته زموږ يوکم ديرشمه روژه وه،زموږ په ملګروکې يودوکسانودصباروژه ونيوله او اکثر ملګروپه جهازکې بله ورځ اخترلمونځ وکړ،هرکله چې په دغه ښارکې په دغه ورځ ديرشمه روژه وه. دا راته ووايئ چې په موږ کې دچاموقف صحيح دی؟موږ ددغې ورځې روژه نيول پکار وو ياد اختر لمونځ، لمونځ کول پکار و؟

جواب: داصورت حال بې شميره خلکوته راپيښيږي چې پاکستان يا سعودي عرب وغيره کې ملکونو کې رمضان شروع کړي اود اخترنه مخکې پاکستان ياهندوستان ته راشي،ددې له پاره حکم دادی چې هغوی پاکستان ياهندوستان ته راشي نوددې ځای د رمضان شميردې پوره کړي او يو ديرشمه روژه دې هم ونيسي دا زياته روژه به ددوی په حق کې نفل وي،خو دپاکستان يا هندوستان دديرشمې روژې په ورځ ددوی له پاره اخترکول جائزنه دي.[1]

يوصورت ددې برعکس داراپيښيږي چې ځينې خلق په پاکستان ياهندوستان کې د رمضان دشروع کيدونه پس سعودي يا نوروملکونوته لاړشي.دهغوی اته ويشتمه روژه وی اوهلته اختروي هغوی له پکاردی چې سعودي دمطلع مطابق اختر وکړي اوکومه روژه چې پاتې شوې ده داقضادې وکړي.[2]

د وړوکي اختر خوشحالي ولې لمانځل کيږي؟

سوال: درمضان ختميدوسره اخترولې لمانځل کيږي؟

جواب: رمضان المبارک يوډيرلوی نعمت دی.اويونعمت نه دی، بلکې د ډير نعمتونويوه مجموعه ده، دالله تعالی نيک بندګان په دې مياشت کې شپه ورځ عبادت کوي.دورځې روژه نيسی اوشپې قيام کوي او ذکروتسبيح اوکلمه درودشريف لولي،ددې وجې نه روژه دارته په روژې پوره کولو باندې ډيره زياته خوشحالي ملاويږي په حديث شريف کې فرمايل شوي دي چې روژه دارته دوه خوشحالۍ ملاويږي،يوه خوشحالي چې هغه ته دروژه ماتي په وخت کې

---

[1] (تنبيه) لو صام رائي هلال رمضان واکمل العدة لم يفطر الا مع الامام لقوله عليه الصلاة والسلام: صومکم يوم تصومون، وفطرکم يوم تفطرون. رواه الترمذي. والناس لم يفطروا في مثل هذا اليوم فوجب ان لا يفطر. (فتاوي شامي/مبحث في صوم يوم الشک/۲/۳۸۴).

[2] (تنبية) لو صام رائي هلال رمضان واکمل العدة لم يفطر الا مع الامام لقوله عليه الصلاة والسلام: صومکم يوم تصومون، وفطرکم يوم تفطرون. رواه الترمذي. والناس لم يفطروا في مثل هذا اليوم فوجب ان لا يفطر. (فتاوي شامي/مبحث في صوم يوم الشک/۲/۳۸۴)_

ملاويږي اودويمه خوشحالي چې هغه ته په دخپل رب سره دملاويدو په وخت کې ملاويږي [۱]

همدغه وجه ده چې رمضان شريف ختم شي: نودهغې دويمه ورځ دوړوکي اختر ورځ شوه،هره ورځ خوبه يويوروژه ماتى کيده،او په هغې به خوشحالى وه،مګرعيدالفطردټولې مياشتې روژه ماتى شو،اوټولې مياشتې روژه ماتي په يوځاى شو

نورقومونه خپل تهوارونه په لوبوټوکواوفضول کارونوکې تيروي. مګرپه اهل اسلام باندې خو الله تعالى خاص انعام دى چې دهغوى دخوشحالى ورځ هم دعبادت جوړه کړه. چنانچې د رمضان شريف په خيراوعافيت سره ختميدوباندې اوډيرپه شوق سره عبادات کولوله پاره الله تعالى درې عبادتونه مقرر وفرمايل: يواخترلمونځ،دويم صدقه فطر،اودريم حج بيت الله.(حج اګرچې په ذى الحجه کې اداکيږي مګردرمضان ختيمدوسره يکم شوال نه دحج موسم شروع شي.)

که روژه ماته شي نوبيا دې هم ټوله ورځ د روژه دارپه شان اوسيږي

سوال: ...ديوکس روژه ماته شوه،اياخوراک څښناک کولى شي؟

جواب: که په رمضان المبارک کې دچاروژه ماته شوه،نوبياهم دهغه له پاره دورځې څه خوراک څښناک کول پکارنه دي،ټوله ورځ دروژه داريه شان اوسيدل واجب دي. [۲]

د ناروغ تراويح او روژه

سوال: که يوکس دناروغۍ له وجې نه درمضان المبارک روژې ونه نيولې شي نوهغه څه وکړي؟ اوداهم وفرمايئ چې دداسې کس د دتراويح به څه کيږي؟ هغه به تراويح کوي اوکه نه؟

جواب: کوم کس چې دناوغۍ له وجې دروژې نيولوطاقت نه لري؛ نوهغه ته دروژې نه نيولو اجازت شته،دتندرست کيدونه وروسته دې دغه قضاروژې ونيسي [۳] اوکه بيماري داسې وي چې دهغې نه د رغيدو اميد نه وي؛ نودهرې روژې په بدله کې دصدقه فطر برابر صدقه ورکړي [۴] اوکه دتراويح کولوطاقت لري نوضرورکول پکاردي. تراويح مستقل عبادت دى.دانه ده چې څوک روژې نيسي هغه دې تراويح کوي. ....[څلورم جلد ختم شو]............

۱] وعنه (اي ابي هريرة رضى الله عنه).......للصائم فرحتان فرحة عند فطره وفرحة عند لقاء ربه.....الخ. (مشكوٰة/۱۷۳/كتاب الصوم/الفصل الاول)_

۲] وكذا كل من وجب عليه الصوم لوجود سبب الوجوب والأهلية ثم تعذر عليه المضي بان افطر متعمداً.......فانه يجب عليه الامساک.(شامي/مطلب في جواز الافطار بالتحري /۲/۴۰۸)_

۳]"فمن كان منكم مريضاً او علي سفر فعدة من ايام آخر". (البقرة: ۱۸۴).(ومنها المرض) المريض اذا خاف علي نفسه التلف او ذهاب عضو يفطر بالاجماع وان خاف زيادة العلة وامتداده فكذٰلک عندنا وعليه القضاء اذا افطر كذا في المحيط. (عالمگيري/۱/۲۰۷/ الباب الخامس في الاعذار التي تبيع الافطار)_

۴]"وعلي الذين يطيقونه فدية طعام مسكين". (البقرة: ۱۸۴). ومنها كبرالسن فالشيخ الفاني الذي لايقدر علي الصيام فيفطر ويطعم لكل يوم مسكيناً كما يطعم في الكفارة كذا في الهداية(عالمگيري/۱/۲۰۷/الباب الخامس)

د اول جلد اجمالي فهرست

ایمانیات او عقائد، دتقدیر مسائل، محاسن اسلام، نبي کریم ﷺ نور دې که بشر، عقیده حیات النبي، انبیاء کرام سره ملاقات، دمعراج مسائل، په خوب کې نبي کریم لیدل، صحابه او صحابیات، حضرت حسین او یزید، داجماع او تقلید مسائل، د سنت او بدعت تعریف، مروجه میلاد، اصلاح مفاهیم، د دارون نظریه اعتقاد او اسلام

د دويم جلد اجمالي فهرست

دکفر، شرک او د ارتداد تعریف او احکام، قادیاني فتنه، کافرانو سره تعلقات، دختم نبوت عقیده او دعیسی علیه السلام نزول، دقیامت نښې، دګناهونو نه توبه، دبرزخ حالات، دجنت بحث، تعویذ کوډې او جادو، پیریان، رسومات او رواجونه، په اسلام کې دفال مسائل، متفرق مسائل، داودس مسائل دغسل مسائل، د اوبو احکام، دتیمم مسائل، دموزو مسائل، دحیض او نفاس مسائل، دنوکانو د رنګ کولو مسائل، بغیر د اوداسه نه دعا او اذکار کول، دنجاست مسائل، دمانځه مسائل، دجماعت مسائل.

د دريم جلد اجمالي فهرست

دجماعت متعلق باقي مسائل، دآذان او اقامت مسائل، دمانځه شرطونه، دمونځ ادا کولو طریقه، دلاؤډ سپیکر مسائل، دصف جوړولو مسائل، د امام مسائل، دمقتدي مسائل، په کورکې مونځ کول، دمانځه نه پس دعا او اذکار، دمسبوق او لاحق مسائل، دبڼځو دمانځه مسائل، دمعذور احکام، د وترو مونځ، دسنت مونځ ادا کول، دمسافر مونځ، دجمعې مونځ

د څلورم جلد اجمالي فهرست

دخطبو متعلق باقي مسئلې، داخترونود مونځ مسائل، دتراویحو مسائل، نفلي مونځونه دسجده تلاوت مسائل، دمانځه متفرق مسائل، اوراد او وظائف، دمرې حکمونه، د اندامونو پیوندکاري، دجنازې مونځ، دقبرونو زیارت، ایصاب ثواب کول، دقرآن کریم فضائل او مسائل، دروژې فضائل او مسائل، د رویت هلال مسائل، داعتکاف مسائل، دتکبیرات تشریق مسائل

د پنځم جلد اجمالي فهرست

دزکاة مسائل، دعشر مسائل، دصدقه فطر مسائل، دنظر مسائل، نفلي صدقه، دفقیرانو متعلق مسئلې، دحج او عمرې فضیلت او فرضیت، په حرامو پیسو حج کول، دعمرې مسائل، دحج بدل مسائل، دمحرم نه پرته حج کول، دقرباني مسائل، دحاجی دقرباني مسائل، مدینې منوره ته حاضرې، دعقیقې مسائل، دښکار مسائل، دترخي، لرې او د هګو حکم، دسپي ساتلو مسائل

د شپږم جلد اجمالي فهرست

دکوژدن مسائل، دنکاح طریقه، شرعي مهر، دطلاق مسائل، دواده نه مخکې طلاق، د طلاق اقسام، خلعه کول، دحاملې طلاق، دظهار مسائل، دنکاح دتنسیخ مسائل، طلاق نه انکار کول، دعدت مسائل، داولاد تربیتي حق، غیرمسلمو سره کاروبار کول، معاملاتو کښې دهوکه کول، ذخیره کول، بیانه ورکول، دحصو کاروبار کول، دمضاربت مسائل، کور، زمکه او دکان په کرایه ورکول

د اووم جلد اجمالي فهرست

دکور او ځمکې په کرایه ورکولو باقی مسئلې، دقسطونو کاروبار، دقرض مسئلې، امانت، رشوت، داخستلو او خرڅولو متفرق مسئلې، معاملات، دسود حکم، دبینک نه سود اخستل، دسود دې پیسو مصرف، دبینک نوکري، دبیمه کمپنی مسئلې، جواري (قمار) کول، د باڼډ حکم، کمیشن، دمیراث مسائل، لوڼه له میراث محرومول، دوصیت مسائل، دجهاد او شهید حکمونه، دسیاست مسائل.

د اتم جلد اجمالي فهرست

دپردې مسائل، اخلاقیات، سلام او مصافحه، د تعلیم مسائل، ددین تبلیغ مسئلې، د تصوف مسائل، دخوب حقیقت او تعبیر، دنومونو سره متعلق مسائل، دږیرې مسائل، جسماني وضع قطع، دجامو متعلق مسائل، دخوراک او څکاک شرعي احکام، لوبې کول، موسیقي او ګډا، فلم کتل، د تصویر حکم، خانداني منصوبه بندي، د نعتونو متعلق مسائل، دمور پلار او خپلوانو سره تعلقات